تفسیر


حکمۃ القرآن

تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری
حفظہ اللہ تعالی

جمع و ترتیب: ابو زھیر سیف اللہ

المکتبۃ المحمدیۃ
مینگل مارکیٹ گنج - پشاور
Mob: 0301-8828402



حکمۃ القرآن



تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری

حفظہ اللہ تعالی

جمع وترتیب : ابوزهیر سیف اللہ

المکتبۃ المحمدیۃ

مینگل مارکیٹ گنج - پشاور Mob: 0301-8828402

د تالیف او طباعت حقوق محفوظ دی

د کتاب نوم ———— تفسیر حکمة القرآن (جلد اُوم)

صاحب افادات ———— الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله

جمعه وترتیب ———— ابوزهیر سیف الله (غفر له)

سنۀ طباعت ———— (۱٤۳۷) هجری محرم الحرام ۲۰/موافق (۱/۱۱/۲۰۱۵)

د نسخو تعداد ———— ۱۱۰۰

فن ———— تفسیر

ناشر ———— مکتبه محمدیه گنج پیښور

کمپوزنګ ———— الراقم ابوزهیر

د ملاویدو پته

۱- **مکتبه محمدیه** بیرون گنج گیټ پهندو روډ منګل مارکیټ پیښور پاکستان

ولی الله : 03018828402 ابوسلمان : 03025953513 ابوزهیر : 03075924001

۲- ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز، عقب قصه خوانی پیښور.

۳- معراج کتب خانه قصه خوانی بازار محله جنګی پیښور.

٤- نوروز کتب خانه صوابی اډه پاکستان.

۵- دار الکتاب والسنة، نیو حاجی کیمپ سلطان آباد کراچی : 03002615402

٦- دینی کتب خانه تیمرګره پاکستان.

۷- مکتبه محمدیه، جلال آباد تالاشئ چوك کمرك مسجد ترڅنګ دکان نمبر ۲

۹- مکتبه اسلامیه اردو بازار لاهور.

بسم الله الرحمن الرحيم

آياتها (٤٣)	(١٣) سورة الرعد مكية (٩٦)	ركوعاتها (٦)

سورة الرعد مكي دے، په دے كښې درے څلويښت آيتونه او شپږ ركوع دي۔

تفسير سورة الرعد

نوم : ددے نوم د آيت (١٣) ﴿وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ وَالْمَلَآئِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِ﴾ نه اخستے شويدے چه په دے كښې د الله تعالىٰ د قدرت او معرفت ذكر دے۔

دا سورت مدني دے كه مكي ؟

په دے كښې درے اقوال دي۔ (١) نحاسؒ په خپل كتاب «الناسخ» كښې د ابن عباس ﷺ نه روايت كړيدے چه دا سورت په مكه كښې نازل شوے وو د سعيد بن جبيرؒ، حسنؒ، عكرمهؒ او عطاءؒ وغيره همدا رائے ده۔ (٢) او د عبد الله بن زبيرؓ، كلبيؒ او مقاتلؒ رائے دا ده چه دا سورت په مدينه كښې نازل شوے وو۔ (٣) دريم قول دا دے چه دا سورت مدني دے، صرف آيت (٣١) مكه كښې نازل شوے وو۔ (فتح البيان وابن عاشور) راجح دا ده چه دا سورت مكي دے ځكه چه انداز او موضوع ئے د مكي سورتونو په شان ده۔

فضيلت

ددے سورت په فضيلت كښې ابن ابي شيبهؒ او مروزيؒ په «كتاب الجنائز» كښې د جابر بن زيدؒ (تابعي) نه روايت كړيدے چه هغه به د يو شخص د مړ كيدو په وخت كښې د سورة الرعد لوستل غوره ګڼړل او وئيل به ئے چه دا سورت د مړ كيدونكي تكليف كموي او د روح قبض كول آسانوي۔ (مصنف ابن ابي شيبة (١٠٩٩٧) وسنده صحيح- روضة المحدثين ١٠/٢٦٦ رقم : ٤٦٩١)

مناسبتونه

۱- مخکښ سورت کښ الله تعالیٰ د علم غیب خبره بیان کړه چه انبیاء علیهم السلام په غیبو نۀ پوهیږی نو دلته وائی چه غیر الله ته آواز نۀ دے پکار.
﴿وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ﴾
۲- موضوعاتی مناسبت دا دے چه مخکښ شان د رسالت وو نو دلته بیان د عظمة الوحی ده یعنی د وحی تعظیم.

موضوع او مقصد

ددے سورت د موضوع په باره کښ بعض اهل علمو حیرانتیا ښکاره کړیده لکه صاحب د «فی ظلال القرآن» وئیلی دی چه دا ډیر عجیب سورت دے چه د نورو ټولو سورتونو نه ئے نسق او ترتیب او د حروفو او کلماتو او ایقاعاتو انداز جدا دے، پدے کښ د مکی سورتونو روح روان دے چه هغه د توحید الوهیت، توحید ربوبیة، او بیا د وحی او بعث بعد الموت او ددے په شان نورے خبرے ذکر دی لیکن دا ټولے په بیل انداز سره ذکر دی چه بندګان د هغے د کامل تعبیر نه ناقص دی.
۲- زمونږ بعض مشائخ وائی چه پدے سورت کښ نفی د شرك فی الدعاء ده لکه په (لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ) آیت (۱٤) کښ راغلے ده.
۳- ځینی مشائخ فرمائی چه ددے سورت دوه موضوعات دی، (۱) اثبات د توحید په پنځو طریقو سره، اول په رد د څلورو اقسامو د شرك سره چه هغه شرك په علم کښ، په تصرف کښ او په عبادت او په دعاء کښ دے.
دویمه طریقه: دیارلس تفصیلی عقلی دلیلونه ئے ذکر کړیدی. دریمه طریقه: پنځه د [illegible] ده.
څلورمه طریقه: مقابله ده په مابین د صفاتو د موحد او د مشرك کښ، چه لس صفات د موحد او درے صفات د مشرك ئے ذکر کړیدی، دا هم دیارلس دی.
(۲) دویمه دعوه: اثبات د رسالت د رسول الله ﷺ دے. په جواب د شپږو شبهاتو او په شهادت د الله تعالیٰ او د اهل کتابو سره. (احسن الکلام)
٤- ظاهر دا ده چه په دے سورت کښ د سورة الشوریٰ په شان موضوع ده یعنی: بَيَانُ عَظَمَةِ الْوَحْيِ (چه وحی ډیر لوی شے دے) چه دا په عام سورت کښ ذکر ده، اول نه ئے ﴿وَالَّذِیْ اُنْزِلَ اِلَیْكَ مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ﴾ بیان کړیدے، بیا ئے بَيَانُ عَظَمَةِ الْمُوحِيْ کړیدے چه وحی

ځکه عظیم شے دے چه ددے رالیږونکے لوی ذات دے، نو د مُوحِی د عظمت دپاره ئے ډیر دلائل عقلیه ذکر کړیدی، بیا د قرآن طریقه دا وی چه یوه خبره شروع کړی نو په هغے کښ دننه نورے خبرے راوباسی نو وبه وائی چه دا وحی د څه دپاره راغلے ده ؟

نو ﴿ لَعَلَّكُمْ بِلِقَاءِ رَبِّكُمْ تُوْقِنُوْنَ﴾ دا ددے دپاره راغلے ده چه بندګان د آخرت دپاره تیارے وکړی. دا د وحی مقصد او فائده شوه. ددے وجه نه روستو به په منکرینو د آخرت رد وکړی. بیا به د الله تعالیٰ د معرفت دلیلونه بیان کړیدی.

او بیا د قرآن بل عادت دا دے چه کله د الله تعالیٰ تعارف بیانوی نو د هغے سره په شرك رد کوی چه هرکله الله تعالیٰ دومره لوی ذات دے نو د هغه سره شریکان جوړول ډیر لوی ظلم دے، نو په مشرکانو به رد وکړی. بیا الله تعالیٰ د خپل وحی مثال راوړیدے په ډیر ښه انداز سره په ﴿ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً﴾ سره.

بیا (۱۸) آیت نه روستو دا خبره بیانوی چه وحی په انسان کښ څومره فرق راولی، یو تن دے چه په وحی ئے ایمان راوړو او د هغے نه ئے اثر واخستو، او بل یو تن دے چه په وحی ئے ایمان رانهٔ وړو د دواړو فرق وپیژنئ، چا چه د وحی نه اثر واخستو نو د هغه فائدو او خیرونو او میوو ته وګوره چه په دهٔ کښ به لس صفات پیدا شی او څوك چه د وحی منکر شو نو هغه کښ به درے بد صفات پیدا شی.

نو د وحی په مقابله کښ بعض خلك دنیا غوره کوی نو الله سبحانه به د هغے تردید وکړی په ﴿ اَللهُ یَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ یَّشَاءُ وَیَقْدِرُ﴾ سره.

بیا ئے د کافرانو اعتراض ذکر کړیدے چه وائی : بله معجزه راوړه دا وحی مونږ نهٔ منو.

نو د هغے جواب ﴿ قُلْ اِنَّ اللهَ یُضِلُّ مَنْ یَّشَاءُ﴾ سره ذکر دے، او ﴿ تَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ بِذِکْرِ اللهِ﴾ ددے نه مراد وحی ده او ﴿ لِتَتْلُوَا عَلَیْهِمُ الَّذِیْ اَوْحَیْنَا اِلَیْكَ ﴾ او بیا روستو په آخر د سورت کښ راځی. ﴿ وَالَّذِیْنَ آتَیْنَاهُمُ الْکِتَابَ یَفْرَحُوْنَ بِمَا اُنْزِلَ اِلَیْكَ﴾ او بیا په آخری آیت کښ فرمائی : ﴿ وَمَنْ عِنْدَهٗ عِلْمُ الْکِتَابِ﴾ چه پدے وحی باندے الله او پخوانی اهل کتاب ګواه دی.

حاصل دا شو چه وحی عظیم شے وګنړه ځکه چه دا یو عام بادشاه نهٔ ده رالیږلے بلکه عظیم رب العالمین رالیږلے ده، هغه الله وپیژنه، دا ئے صفات دی، هغه سره شریکان مهٔ جوړوه، دا وحی ئے څه دپاره رالیږلے ؟ دے دپاره چه د بندګانو رهنمائی وشی، رهنمائی چه وشی څه به وشی؟ ځکه چه د قیامت ورځ راروانه ده، بندګانو سره به حساب کیږی. دا ددے سورت د دعوت طرز دے.

الٓمّٓرٰ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ وَالَّذِيٓ
ددې حروفو په مطلب الله پوهیږي، دا آیتونه د کامل کتاب دي، او هغه شے
أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱﴾
چه نازل کړے شوېدے تا ته د طرف د رب ستا نه حق دے لیکن اکثر خلق ایمان نهٔ راوړي۔

تفسیر : الٓمّٓرٰ : دلته د حروفو زیادت دلالت کوي چه دلته د وحی متعلق خبره زیاته ده۔ لکه څنګه ئے چه په سورة الشوریٰ کښې هم (حٰمٓ عٓسٓقٓ) زیات حروف راوړیدي۔

تِلْكَ : سره اشاره ددې سورت آیتونو ته ده۔ او د «کتاب» نه مراد قرآن کریم دے۔ او د کتاب لفظ کښې هم یو عظمت پروت دے چه دا کامل کتاب دے۔

او د «اَلَّذِيٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ» نه مراد هم قرآن کریم دے۔ او رسول الله ﷺ ئے مخاطب کړو پدے کښې زیات تاکید ته اشاره ده چه تا ته کومه وحی د خپل رب د طرفنه نازلیږي نو دا یقیني او رشتینی ده، پدے کښې هیڅ له شك نهٔ دی کول پکار۔

نو هرکله چه دا وحی حقه ده نو څه کول پکار دي؟ نو د روستو نه معلومیږي چه دا وحی به مني، او پدے به ایمان راوړے او پدے کښې چه کوم اوامر او نواهي راغلي دي هغه به منلے شي او عمل به پرے کولے شي دے دپاره چه بنده خپل دنیا او آخرت ښائسته کړي لیکن اکثر خلك د کفر او نفاق او ضد په وجه سره پدے حق کتاب باندے ایمان نهٔ راوړي۔

اَللّٰهُ الَّذِيْ رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ
الله هغه ذات دے چه پورته کړي ئے دي آسمانونه بے د ستنو نه چه تاسو ئے وینئ بیا
اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَّجْرِيْ
برابر شویدے په عرش باندے او تابع کړي ئے دي نمر او سپوږمۍ ټول روان دي
لِأَجَلٍ مُّسَمًّى يُدَبِّرُ الْأَمْرَ يُفَصِّلُ الْآيَاتِ
دپاره د نیټے مقررے، تدبیر کوي د ټولو کارونو، په ډیر وضاحت سره بیانوي دلیلونه
لَعَلَّكُمْ بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوْقِنُوْنَ ﴿۲﴾ وَهُوَ الَّذِيْ
دے دپاره چه تاسو په ملاقات د رب خپل یقین اُوکړئ۔ او الله هغه ذات دے

مَدَّ الْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْهٰرًا وَمِنْ
چه خوره کړے ئے ده زمکه او ګرځولی ئے دی پدے کښې مضبوط غرونه او نهرونه او د
كُلِّ الثَّمَرَاتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ إِنَّ
هر قسم میوو نه پیدا کړے ئے دی پدے کښې جوړئ دوه، وراغوندوی شپه ورځے ته یقیناً
فِيْ ذٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٣﴾
پدے کښې خامخا دلیلونه دی دپاره د هغه قوم چه فکر کوی۔

تفسیر: مناسبت:

۱- كَيْفَ لَايُؤْمِنُوْنَ مَعَ وُجُوْدِ هٰذِهِ الدَّلَائِلِ۔ دا خلك به څنګه ایمان نۀ راوړی سره ددے نه چه د الله تعالیٰ د قدرت او د هغۀ د خالقیت ځو مره ډیر دلائل موجود دی۔

۲- دارنګه دا وئیل هم مقصود دی چه کوم الله تعالیٰ د ستنو نه بغیر په آسمانونو ودرولو قادر دے او چه هغه نمر او سپوږمۍ او نور ستوری د خپل علم او قدرت مطابق تابع کړیدی، هغه ذات دا قرآن کریم په خپل بنده او رسول محمد ﷺ باندے نازل کړیدے۔

۳- پدے آیت کښې عِظْمَةُ الْمُوْحِيْ بِهٰذَا الْكِتَاب دے۔ (یعنی د الله تعالیٰ د عظمت بیان دے چه پدے کتاب سره ئے وحی کړیده)۔ نو پدے سره د وحی عظمت هم ثابتیږی۔

بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا : دے کښې دوه تفسیره دی (۱) تَرَوْنَهَا ضمیر آسمانونو ته راجع دے او معنیٰ دا ده : آسمان ئے اُوچت کړیدے بغیر د ستنو نه، وینئ تاسو آسمانونه چه ستنے ورته نشته۔ یا ضمیر عَمَد ته راجع دے یعنی نۀ ستنے شته او نۀ د ستنو لیدل۔

(۲) دویم تفسیر دا دے چه تَرَوْنَهَا جمله صفت دے د عَمَد دپاره او هَا ضمیر عَمَد ته راجع دے۔ معنیٰ دا ده : اوچت کړی ئے دی آسمانونه بغیر د داسے ستنو نه چه تاسو ئے وینئ یعنی ستنے شته لیکن تاسو ئے نۀ وینئ۔ دا تفسیر د مجاهدؒ او عکرمهؒ او صاحب د فتح البیان ابن عباسؓ ته منسوب کړیدے۔ لیکن اول قول غوره دے۔

ایاس بن معاویهؒ وائی چه آسمان په زمکه باندے د قبے (ګنبد) په شان دے، زمکه او ددے تمام څیزونه ئے په خپله احاطه کښې نیولی دی۔

ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ : د استواء علی العرش تفسیر په سورة الاعراف کښې تیر شویدے۔ او پدے باره کښې د سلف صالحینو عقیده دا ده چه کله الله تعالیٰ په قرآن کریم

کښې ځان دپاره استواء علی العرش ثابت کړیدے، نو په هغے باندے ایمان به ایمان لرلے شی، نۀ به د هغے کوم کیفیت بیانولے شی او نۀ به دچا سره ددے تشبیه ورکولے شی او نۀ به پدے کښې تاویل کولے شی۔
کُلٌّ يَجْرِىْ لِأَجَلٍ مُّسَمًّى : ددے نه مراد د دنیا د ختمیدو او د قیامت د راتللونیته ده۔
يُدَبِّرُ الْأَمْرَ : الامر کښې الف لام استغراقی دی۔ یعنی الله تعالیٰ دآسمانونو او زمکے په ټولو کارونو کښې د خپلے خوښے او منشاء مطابق تصرف کوی۔ هغه د خپل کامل قدرت او ربوبیت او خالقیت نخے په قرآن کریم کښې په تفصیل سره بیان کړیدی، دے دپاره چه خلك د خپل رب په ملاقات یقین ولری چه هغه به ئے محشر ته راجمع کوی او بیا به د هغوی سره د هغوی د اعمالو حساب کتاب کوی۔
بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوْقِنُوْنَ : یعنی قرآن دے دپاره الله تعالیٰ رالیږلے دے چه خلك د الله تعالیٰ په ملاقات او قیامت باندے یقین ولری ځکه چه ایمان په آخرت ټول نظام جوړوی او کفر په آخرت ټول نظام خرابوی، کله چه بنده آخرت ته متوجه شی نو د الله تعالیٰ بندګی به کوی او آخرت له به تیاری کوی نو د عالَم د پیدائش مقصد به حاصلیږی۔ او کله چه بنده آخرت نۀ منی نو بندګی به څه وکړی نو د عالَم د پیدائش مقصد ضائع کیږی۔
وَهُوَ الَّذِىْ: دا انعامات هم دی او دلیلونه هم۔ مخکښې د الله تعالیٰ د قدرت او خالقیت او علم او حکمت آسمانی دلیلونه بیان شو اُوس پدے آیت کریمه کښې پدے حقائقو باندے د زمکے او پدے کښې د موجوده څیزونو په ذریعه ئے دلیل نیولے دے۔
الله تعالیٰ زمکه په طول او عرض (په اږدوالی او پلنوالی) کښې دومره خوره کړیده چه د سړی نظر ددے انتهاء ته نشی رسیدلے، دے دپاره چه د انسانانو قدم پدے باندے مضبوط شی او حیوانات پدے باندے په آسانئ سره مزل وکړے شی۔
او دا د زمکے د کُرَوِیْ کیدو سره منافی نۀ ده ځکه چه زمکه لویه ده او اطراف ئے د یو بل نه وړاندے دی، نو کُرَوِی شکل والا هم ده او مینځ کښې ئے خوره کړیده۔
وَجَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِىَ : په زمکه بانده ئے لوی غرونه ودرولی دی دے دپاره چه زمکه په خپل ځای ثابته (کلکه) پاتے شی۔ او پدے کښې ئے نهرونه روان کړی چه په هغے کښې د مخلوق قسماقسم فائدے دی، او څومره میوے چه په زمکه موجودیږی، الله تعالیٰ ددے ټولو دوه دوه قسمه جوړ کړیدی، د رنګ او د مزے په اعتبار سره، یا د حجم یا د کیفیت په اعتبار سره۔ په هر قسم کښې جدا جدا فائدے وی۔ دغه شان هر قسم یو مستقل نعمت

وی۔ او چونکه د انسانانو طبیعتونه مختلف وو نو الله تعالیٰ ورله میوه جات هم مختلف پیدا کړل۔ د فراءؒ وینا ده چه ددے نه مراد د هرے میوے مذکر او مؤنث دے۔ آه۔ یا خوږه او ترخه، گرمه او یخه، لمده او وچه، سرۀ او شنه، توره او سپینه، وړه او غټه، باغ والا او غرونو والا۔

وَأَنْهٰرًا : فائده : امام رازیؒ لیکی چه د غرونو په احوالو ئے دلیل ونیولو ځکه چه د غرونو په وجه د زمکے په مخ باندے نهرونه راپیدا کیږی، او دا ځکه چه کاڼړے یو سخت جسم لری نو کله چه د زمکے د بیخ نه بخارات راپورته شی او غرۀ ته راورسی نو هلته ایسار شی نو همداسے رفته رفته پوره کیږی تردے چه د غرونو نه لاندے ډیرے اُوبه جمع شی بیا هغه د ډیر والی او د قوت په وجه سورے وکړی او راوځی او د زمکے په مخ وبهیږی نو د غرونو فائده د نهرونو په راپیدا کیدو کښ په همدے طریقه ده او ددے وجه نه اکثر اوقاتو کښ چه الله تعالیٰ غرونه ذکر کوی نو نهرونه ورسره پیوست ذکر کوی لکه پدے آیت کښ واخله۔ (مفاتیح الغیب والقاسمی)

يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ : اِغْشَاء پرده اغوستول او پټولو ته وئیلے شی۔

یعنی الله تعالیٰ د ورځے نه روستو شپه راولی، او د ورځے رنړا او د سپینوالی نه روستو د شپے سختے تیارے راځی۔ او کله چه شپه اُوږدیږی نو د یخنئ زمانه وی او چه کله ورځ اُوږدیږی نو د گرمئ زمانه راځی۔ او د ورځے او د شپے دواړو نه د یو په معتدل کیدو سره د خزان (منی) موسم راځی او د بل په معتدل کیدو سره د سپرلی موسم راځی۔ بیشکه د زمکے فراخی او پدے باندے په موجود ذکر شوی څیزونو کښ فکر او سوچ کونکو دپاره ښکاره نخے دی چه یقیناً ددے پیدا کونکے د الله ذات دے چه د قدرت او عظمت او علم او حکمت والا دے، او د بندگانو د طرف نه د محبت او بندگئ مستحق دے۔

او په آیتِ کریمه کښ دے طرف ته هم اشاره ده چه کوم یو ذات چه د خپل مخلوق دپاره دومره گڼ نعمتونه پیدا کړیدی د هغه یو عظیم نعمت دا هم دے چه هغه د خپلو بندگانو د دنیاوی او اُخروی سعادت او نیک بختئ دپاره انبیاء او رسولان علیهم السلام رالیږلی او کتابونه ئے نازل کړی۔ (القاسمیؒ)

لَاٰيٰتٍ : عَلٰى وُجُوْدِهٖ وَكَمَالِهٖ وَعَظَمَتِهٖ وَحِكْمَتِهٖ وَرَحْمَتِهٖ ۔ د الله تعالیٰ په وجود، او د هغه په کمال او عظمت او حکمت او رحمت باندے دلیلونه دی۔

يَّتَفَكَّرُوْنَ : دلته ئے تفکر راوړو ځکه چه زوجیت د ثمراتو او انقلابات د شپے او د ورځو

فکر ته محتاج دی، او فکر هم دے ته وائی چه د محسوساتو نه معقولات راوِیستلے شی۔

وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجَاوِرَاتٌ وَجَنَّاتٌ مِّنْ أَعْنَابٍ وَزَرْعٌ
او په زمکه کښې ټکړے دی یو بل ته نزدے او باغونه دی د انګورو نه او فصلونه
وَّنَخِيلٌ صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ يُسْقَى بِمَاءٍ وَاحِدٍ وَنُفَضِّلُ
او کجورے ځانګو والا او بے ځانګو، خړوبه کولے شی په یو اُوبو سره او غوره کوو
بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ فِي الْأُكُلِ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ
بعضو لره په بعضو باندے په خوند کښې یقیناً پدے کښې خامخا نخے دی (په قدرت د الله)
لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٤﴾
هغه قوم لره چه عقل نه کار اخلی۔

تفسیر : دا دریم دلیل عقلی دے او پدے کښې هم د الله تعالیٰ د قدرت او حکمت پنځه امور ذکر دی۔

قِطَعٌ مُّتَجَاوِرَاتٌ : اَیْ بِقَاعٌ مُخْتَلِفَةٌ ۔ یعنی په زمکه کښې ډیرے ټکړے دی چه یو بل ته نزدے دی لیکن د دوی په طبیعتونو کښې اختلاف وی لکه آبادے زمکے چه زرخیزے وی او څه خوره ناکے۔ څه مزیدارے خوږے او نرمے او څه بیکاره سختے او شاړے زمکے، چه د یو بل سره انبنتی وی۔

یا مطلب دا دے چه د زمکے ټکړے یو بل ته نزدے وی۔ خاوره یوه وی، اُوبه یو وی، لیکن پدے کښې پیدا کیدونکے دانے او میوے مختلفے وی، څه خوږے وی نو څه ترخے، څه غوره او خوندورے وی نو څه بد مزه۔ او په بعض زمکو کښې یوه میوه کیږی، بله پکښې نۀ کیږی۔ (فتح البیان)

وَزَرْعٌ : دائے مفرد راوړو ځکه چه زرع (یعنی فصل) په اصل کښې مصدر دے چه د ډیر او لږ ټولو دپاره استعمالیږی۔

صِنْوَانٌ : دا جمع د صِنْوٌ ده په وزن د تشنیه دے۔ دا هغه کجورو ونو ته وائی چه بیخ ئے یو وی او د هغے نه ځانګے خورے شوی وی۔ او غیر صنوان هغه دی چه د بیخ نه یوه تنه یے ځانګو وی۔ او صنو کله مثل او مشابه ته هم وائی لکه حدیث کښې دی [عَمُّ الرَّجُلِ صِنْوُ

أَبِيهِ] (مسلم فی الزکاة حدیث : ۱۱)

نو معنیٰ د آیت دا ده چه د کجورو ونے کله د یو بل سره مشابه او مماثلے وی او کله نهٔ وی۔ (یعنی د کجورو ونے هم د یو بل سره کله یو شان وی او کله د یو بل نه په تنو او څانګو او قدونو کښې مختلفے وی)۔ (فتح)

یا صنوان د مخکښو تولو څیزونو سره لګی لکه باغونه، فصلونه، او کجورے۔

دا ټولے نخے د الله تعالیٰ د وحدانیت او د هغه په کامل قدرت دلالت کوی چه کوم عقلمند هم پدے کښې سوچ او فکر وکړی نو ایمان به راوړی چه کوم یو ذات چه پدے تولو باندے قادر دے هغه یقیناً انسانانو لره په دوباره راژوندی کولو قادر دے بلکه دوباره پیدا کول د هغه دپاره زیات آسان دی۔ (القاسمیؒ)

وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلٰى بَعْضٍ :اُكُل په اصل کښې ماکول (خوړلے شوی څیز) ته وئیلے شی دلته ترے مراد خوند او مزه ده۔ یعنی زمکه یوه ده او اُوبه هم یو قسم دی او حال دا دے چه میوے مختلفے او فصلونه مختلف راوځی چه د هر یو خوند او رنګ او طاقت او فائدے جدا جدا دی، دا فرقونه چا پیدا کړل؟ آیا ماده او طبیعت به داسے وکړی؟ هیڅ کله نهٔ، بلکه دا کار صرف د رب العالمین دے۔

او د حسن بصریؒ نه نقل دی چه دا مثال دے چه الله تعالیٰ د آسمان نه د باران اُوبه راولیږی او مختلفے میوے پیدا شی نو دغه شان الله تعالیٰ قرآن کریم راولیږلو نو د هغے په وجه [فَتَكُوْنُ الْقُلُوْبُ مُتَفَاوِتَةً] زړونو کښې تفاوت او فرق راغلو چا ډیر قبول کړو او چا ډیر او چا ترے انکار وکړو، او چا کښې ډیره خوشبوئی پیدا شی او چا کښې لږه۔ لکه روستو دا مثال ښکاره الفاظو سره راغلے دے۔

يَّعْقِلُوْنَ : دا مخکښې کارونه معقولی وو چه عقل ته ئے ضرورت لرلو نو ځکه ئے دلته يَعْقِلُوْنَ وویل۔

وَإِنْ تَعْجَبْ فَعَجَبٌ
او که تعجب کوے ته (حیرانیږے د دوی د انکار نه) نو ډیره ناشنا ده (حیرانتیا والا ده)
قَوْلُهُمْ ءَ اِذَا كُنَّا تُرَابًا ءَ اِنَّا لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ اُولٰٓئِكَ
دا وینا د دوی چه آیا کله چه شو مونږ خاورے آیا مونږ به شو په پیدائش نوی کښې، دا

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ وَأُولٰٓئِكَ الْأَغْلَالُ فِيْ
هغه کسان دي چه کفرئے کړیدے په رب خپل او دا کسان طوقونه به وي په
أَعْنَاقِهِمْ وَأُولٰٓئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خَالِدُوْنَ ﴿٥﴾
څټونو د دوی کښې، او دا کسان اُور والا دي دوی به په هغې کښې همیشه وي.

تفسیر : پدے آیت کښې زجر دے منکرینو د بعث بعد الموت ته او هغوی باندے درے قسمونه ردونه ذکر کیږی.

ربط

دا متعلق دے د ﴿لَعَلَّكُمْ بِلِقَاءِ رَبِّكُمْ تُوْقِنُوْنَ﴾ چه قرآن او دلائل ددے دپاره راغلی دی چه خلك قیامت ومنی، نو بعض خلك وائی چه قیامت نشی راتلے نو پدے خبره الله تعالیٰ سخت ناراضه کیږی او داسے بندګانو ته سزا ورکوی.

وَاِنْ تَعْجَبْ اَیْ مِنْ اِنْکَارِهِمْ : نبی کریم ﷺ ته خطاب دے چه که ته پدے خبره تعجب کوے او حیرانیږے چه د مکے کافران ستا تکذیب کوی حال دا چه د وړوکوالی نه دوی تا ته د صادق او امین په نوم سره آوازونه کول، او که دوی دا قرآن نهٔ منی او ته پدے خبره تعجب کوے، نو ددے نه هم زیاته د تعجب خبره د دوی دا ده چه دوی د مرګ نه روستو د دویم ځلی ژوندی کیدو نه انکار کوی. او دا خبره د تعجب ځکه ده چه د قیامت په راتللو انتهائی ډیر دلیلونه موجود دی کوم چه مخکښې بیان شو نو کوم یو ذات چه ددغه عظیم قدرتونو مالك دے، د هغه دپاره د انسان دویم ځلی پیدا کول ډیر آسان دی، او دوی هغه نهٔ منی پدے وجه د بعث بعد الموت نه انکار ډیره عجیبه خبره ده. که د قرآن نه انکار وکړی نو دا دومره د تعجب خبره نهٔ ده ځکه چه دا د دوی د حال نه لرِه بعیده ده، او قیامت خو ضروری او مهمه خبره ده، ددے نه څنګه انکار وکړے شی، آیا دا دنیا الله تعالیٰ عبث پیدا کړیده، هیڅ حساب کتاب به نهٔ وی؟!.

فَعَجَبٌ: اَیْ فَذُوْ عَجَبٍ. یعنی تعجب والا دے.

ءَاِذَا كُنَّا تُرَابًا : دا استفهام انکاری د دوی په قرآن کریم کښې یولس کرته ذکر دے. بار بار ئے د قیامت نه انکار کړیدے. نو الله تعالیٰ پرے درے ردونه کوی.

كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ : دا اول رد دے. یعنی دا خلك پدے کار سره د خپل رب نه منکر دی ځکه

چه رب العالمین وائی چه زهٔ به قیامت راولم او دوی ئے نهٔ مني، نو د دوی د رب نه منکر دی د هغه قدرت نهٔ مني۔ معلومه شوه چه څوك آخرت راتلل نهٔ مني نو اګر که هغه د الله تعالیٰ د وجود اقرار کوی مګر هغه به د الله تعالیٰ نه منکر حسابیږی۔
وَأُولَٰئِكَ الْأَغْلَالُ: دا دویم رد دے چه دوی ته به د قیامت په ورځ په څټونو کښ رسئ او طوقونه واچولے شي۔ اغلال: جمع د غُلّ ده د وسپنے طوق (کړئ، پَل) ته وئیلے شي چه په څټ کښ اچولے شي، یا پرے لاسونه د څټ سره تړلے کیږی۔ یعنی دوی به ذلیله وتړلے شي لکه څنګه چه قیدی ذلیله راښکلے شي۔ څینی وائی: د اغلال نه مراد د دوی بد عملونه دی چه دوی سره به انښتی وی لکه چه طوق د څټ سره انښتے وی۔
وَأُولَٰئِكَ: دا دریمه سزا ده۔ چه دوی به په اُور کښ همیشه پراتهٔ وی۔

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ وَقَدْ
او په جلتی سره غواړی دوی ستا نه عذاب مخکښ د نیکئ (ایمان راوړو) نه او حال دا چه
خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ الْمَثُلَاتُ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو
تیر شویدی مخکښ د دوی نه عذابونه شرمونکی او یقیناً رب ستا خامخا خاوند
مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلْمِهِمْ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٦﴾
د بخنے دے خلقو ته سره د ظلم د دوی نه او یقیناً رب ستا خامخا سخت عذاب والا دے۔

تفسیر: پدے آیت کښ د ایمان راوړو نه مخکښ عذاب په جلتئ سره غوښتو باندے زجر ورکوی۔ د نبی کریم ﷺ او د قرآن کریم تکذیب کونکو به د هغهٔ پورے توقے کولے او وئیل به ئے چه که ته رشتینی ئے نو د کوم عذاب خبره چه کوے هغه ولے نهٔ راځی، یعنی په ځای ددے چه دوی د الله تعالیٰ نه د عافیت او د سلامتیا سوال کړے وے، د عذاب مطالبه کوی، حال دا چه د دوی نه مخکښ داسے قومونه تیر شویدی چه هغوی رسولان دروغجن کړل نو الله تعالیٰ په هغوی عذاب نازل کړو، نو بیا دا خلق د هغوی د انجام نه عبرت ولے نهٔ حاصلوی او یریږی ولے نهٔ چه چرته دوی هم د الله په عذاب کښ راګیر نشی۔
قَبْلَ الْحَسَنَةِ: د حسنے نه مراد ایمان راوړل او د شرك نه توبه کول دی۔
الْمَثُلَاتُ: اَیِ الْعُقُوبَاتُ الْفَاضِحَةُ فِي الْاَقْوَامِ الْمُكَذِّبَةِ۔ (یعنی شرمونکے سزاګانے په تیر

شوی قومونو کښې). جمع د مَثُلَةٌ ده، یا د مُثْلَةٌ، شرمونکے سزا ته وائی او دے ته مثله ځکه وائی چه ددے سزا او د دغه جرم (ګناه) ترمینځ په ناکاره کیدو کښې مماثلت (یو شان والے) دے۔ ابن الانباریؒ وائی : مثله هغه سزا ته وئیلے شی چه په هغے کښې د سزا ورکړے شوی شخص شکل بدل شی لکه پوزه او لاسونه وغیره پریکړے شی او خیټه څیری کړے شی۔

ځینی وائی : مثله هغه سزا ته وائی چه په انسان نازله شی نو هغه د خلکو دپاره مثال وګرځی چه نور خلك په هغے سره منع شی۔ (فتح البیان وابن عاشورؒ)

لَذُوْ مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلٰى ظُلْمِهِمْ: دلته مفسرینو دا اشکال لیکلے دے چه الله تعالیٰ مشرکانو ته څنګه بخنه وکړی سره د شرك او کفر نه ؟ حال دا چه دا خو د اصولو د اسلام خلاف ده؟ ۱- نو بیا ئے جواب دا کړیدے چه دلته ورسره توبه مراد ده۔ (اَیْ بِشَرْطِ التَّوْبَةِ) یعنی اګرکه مخکښې ئے کفر او شرك کړے وی لیکن کله ئے چه توبه ویستله نو الله تعالیٰ ورته تیر شوے کفر او شرك معاف کوی۔ (۲) لیکن ظاهر دا ده چه مغفرت دوه قسمه دے۔ ❁ یو ګناه ختمول او په هغے سزا نهٔ ورکول دی۔ ❁ او دویم : تاخیر العذاب (د عذاب روستو کولو) او مهلت ته وائی۔ نو هر کافر ددے لائق دے چه الله تعالیٰ ورله سمدست عذاب ورکړی او ختم ئے کړی لیکن رب العالمین بندګانو ته تاخیر کوی او دا د الله تعالیٰ احسان دے بندګانو سره او په دوی باندے ډیر شفقت دے۔ (ابن عاشورؒ)

نو یو تفسیر دا شو چه د مغفرت نه مراد عذاب روستو کول دی او د ظلم نه مراد شرك دے۔ ❁ یا د ظلم نه مراد د شرك او کفر نه ماسوئ نور ګناهونه دی او د «الناس» نه مراد مؤمنان دی، معنیٰ دا ده : چه یقیناً رب ستا بخنه کوی مؤمنانو ته سره د ګناهونو د هغوی نه کله چه وغواړی او که وغواړی نو عذاب به څه وخته پورے ورکړی۔

وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَا اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ
او وائی هغه کسان چه کفرئے کړیدے ولے نهٔ شی نازلیدے په دهٔ باندے معجزه د طرف
رَّبِّهٖ اِنَّمَا اَنْتَ مُنْذِرٌ وَّلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ﴿۷﴾
د رب دهٔ نه یقیناً تهٔ خو یره ورکونکے ئے، او د هر قوم دپاره دعوت ورکونکے ئے۔

تفسیر : پدے آیت کښې زجر دے منکرینو ته په طلب کولو د معجزاتو۔ د مکے کافرانو په سترګو باندے د کفر او عناد داسے پټئ تړلے شوے وے چه د الله تعالیٰ د وحدانیت او د

هغهٔ د قدرت او خالقیت تولے نخے لیدلو سره سره په هغوی کښې هیڅ تبدیلي نهٔ راتله او په هغه نخو سره دوی ته هیڅ ایماني فائده نهٔ رسیدله، او وئیل به ئے چه که محمد (ﷺ) د الله پیغمبر وی نو د موسیٰ او عیسیٰ (علیهما السلام) په شان نخے ولے نهٔ پیش کوی، یا مونږ چه د کومو نخو مطالبه کوو، هغه ولے نهٔ راوړی؟۔

مشرکانو به کله وئیل چه اے محمد! که تهٔ د الله نبي ئے نو د صفا غونډئ نه سرهٔ زر جوړ کړه، یا غرونه لرے کړه او ددے په ځای نهرونه روان کړه۔ الله تعالیٰ نبي کریم ﷺ ته وفرمایل چه ستا کار صرف پیغام رَسَول دی، د کافرانو د خوښے مطابق نخے پیش کول نهٔ دی۔ او دا کار نبي ﷺ په پوره طریقه سره کړے، خپل تول ژوند ئے لګولے او هیڅ نقصان ئے نهٔ دے پریخے۔ الله تعالیٰ دِے هغه ته د امتِ اسلامیه د طرف نه جزائے خیر ورکړی۔

وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ: (۱) اَیْ اَنْتَ لِکُلِّ قَوْمٍ هَادٍ۔ یعني تهٔ د هر قوم دپاره هدایت کونکے ئے۔

(۲) یا لِکُلِّ قَوْمٍ خبر مقدم او (هَادٍ) مبتداء موخره ده۔

معنیٰ دا ده چه د هر قوم دپاره یو هدایت کونکے وی، دا د الله تعالیٰ طریقه ده چه هر قوم ته خامخا هدایت کونکے نبي رالیږی لکه څنګه نے چه تهٔ رالیږلے ئے نو مخکښي امتونه ئے هم همداسے نهٔ دی پریښي بلکه هغوی ته ئے هم انبیاء علیهم السلام رالیږلی دی۔ او هغوی ته ئے د حالاتو او د زمانے مطابق مختلفے نخے ورکړی چه د هغوی په نبي کیدو باندے دلیل وو۔ (ابن عاشورؒ)

(۳) ځینو دا تفسیر بیان کړیدے چه (لِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ هُوَ اللّٰهُ سُبْحَانَهٗ) ستا کار خو صرف یرول دی او قومونو ته هدایت کول او هغوی نیغے لارے ته راوستل د الله تعالیٰ کار دے۔

هَادٍ: د ابن عباسؓ نه نقل دی چه د هادي نه مراد داعي دے۔ (فتح البیان)

اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى وَمَا
الله پوهیږی په هغه څه چه پورته کوی ئے هره زنانه (په خیټه کښې) او په هغه څه
تَغِيْضُ الْاَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهٗ بِمِقْدَارٍ ﴿۸﴾
چه کموی ئے رَحِمونه او هغه چه زیاتوی ئے، او هر شے د الله سره په خاص اندازه سره دے۔
عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيْرُ الْمُتَعَالِ ﴿۹﴾ سَوَآءٌ
پوهه دے په هر پټ او ښکاره، ډیر لوئی دے، پورته دے۔ برابر دی (د الله په علم کښې)

مِّنكُم مَّنْ أَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَن جَهَرَ بِهِ وَمَنْ
ستاسو نه هغه څوك په پټوي خبره او هغه څوك چه ښکاره هغې لره او هغه څوك
هُوَ مُسْتَخْفٍ بِاللَّيْلِ وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ ﴿١٠﴾
چه هغه پټيدونکے وي د شپے او ګرځيدونکے وي د ورځے۔

تفسير: ربط:

١- مخکښ د الله تعالیٰ تعارف وو په قدرتونو ذکر کولو سره، اُوس تعارف دے په علم د الله تعالیٰ سره۔

٢-دا متعلق دے د (لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ) سره يعنى د مکے د مشرکانو د خوښے مطابق پدے وجه نځے نۀ دی رالیږلے شوی چه د تولو کارونو حکمتونه صرف الله ته معلوم دی، د هغۀ په علم کښ دی چه کوم شے په دنيا کښ کله واقع کيدل پکار دی، هغه د کافرانو د جاهلانه افکارو او خيالاتو پابند نۀ دے۔ (ابن عاشورؒ)

اللّٰهُ يَعْلَمُ : يعنى صرف هغه الله پو هيږی چه د هرے مادے په خيټه کښ څه شے دے، مذکر دے که مؤنث، ښائسته دے که بد رنګ، نيك بخت دے که بدبخت، او په هغه کښ د کوم اندام کمے دے که زياتے۔ يا به ماشوم نهه مياشتے روستو پيدا کيږی او که ددے نه مخکښ يا ددے نه روستو۔

وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ : رَحِمونه چه څه کموی يا ئے زياتوی په هغې هم الله تعالیٰ پو هه دے، ١- د کمولو او زياتولو نه مراد دا دے چه کله وينه د حيض وځی نو کمه شی او کله چه بنده شی نو زياته شی۔ ٢- يا د ماشوم بعض اندامونه کم پيدا شی او د بعضو زيات۔ ٣- يا د يوے نطفے نه يو بچے پيدا شی او کله ترے دوه او درے پيدا شی۔

٤- او کله يو ماشوم د مودے نه مخکښ پيدا شی او کله روستو شی۔

٥- ابن عاشورؒ وائی: چه ظاهر دا ده چه د رحم کمول کنايه ده د حمل اخستو نه څکه چه کله حمل واخستے شی نو وينه د حيض بنده شی، او د رَحِم نه وينه بهيدل د رحم زياتوالے دے۔

وَكُلُّ شَيْءٍ عِندَهُ بِمِقْدَارٍ : ١- يعنى هر شے د الله تعالیٰ سره په اندازه دے، يعنى الله تعالیٰ چه هر شے پيدا کړيدے نو په اندازے سره۔ د زنانه په رَحِم کښ بچے نهه مياشتے

ساتی نۀ لس کاله، څکه چه پدے کښ زنانه ته ضرر وی، دغه شان اُوبه، هواګانے، خوراکونه الله تعالیٰ په اندازه سره نازلوی۔ نو د مقدار نه مراد تقدیر دے۔ یعنی ټول څیزونه د الله په نیز د اندازے مطابق روان دی۔

۲- یا د عِندَهٗ نه مراد د الله تعالیٰ علم دے یعنی الله تعالیٰ د هرشی کیفیت او کمیت په تفصیلی طریقه سره پیژنی چه هیڅ ابهام پکښ نۀ وی۔ او پدے کښ رد دے په هغه فلاسفو چه وائی چه الله تعالیٰ په کلیاتو پوهیږی نۀ په جزئیاتو (العیاذ بالله) دے دپاره چه تعلق د علم په حوادثو پورے لازم نشی۔ (ابن عاشورؒ)

۳- یا ددے عِندَهٗ نه مراد دا دے چه الله تعالیٰ د هر شی د واقع کیدو دپاره یو معین وقت او خاص حالت مقرر کړیدے په خپل ازلی مشیئت سره۔ (فتح البیان)

دے نه روستو ئے وفرمایل چه هغه د هر شی یو معین حد مقرر کړیدے چه د هغے نه هغه نشی وتلے۔

عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيرُ الْمُتَعَالِ: هغه په هر غائب او حاضر او هر نشت او موجود شی خبر لری، هغه عظیم ذات دے، هر شے د هغۀ په لاس کښ دے، او هغه د خپل قدرت او عظمت په ذریعه په هر شی باندے غالب دے۔

الْمُتَعَالِ: ۱- اَلْمُتَعَالِیْ عَمَّا يَقُولُهُ الْمُشْرِكُونَ۔ الله تعالیٰ پورته دے د هغه خبرونه چه مشرکان ئے وریسے وائی۔ ۲- اَلْمُسْتَعْلِيْ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ بِقُدْرَتِهٖ وَعَظْمَتِهٖ وَقَهْرِهٖ۔ یعنی د خپل قدرت او عظمت او غلبے په وجه په هر شی باندے غالب دے۔

۳- اَلْمُتَعَالِيْ عَنِ الْخَلْقِ بِاسْتِوَائِهٖ عَلٰى عَرْشِهٖ وَمُبَايَنَتِهٖ عَنْ خَلْقِهٖ ۔ پورته دے د مخلوقاتو نه څکه چه په عرش باندے برابر دے او د مخلوق نه جدا دے۔ او همدا قول غوره دے۔

سَوَآءٌ مِّنْكُمْ: اَیْ فِیْ عِلْمِهٖ ۔ یعنی د الله په علم کښ برابر دی ښکاره او پټه خبره او برابره ده چه څوك د شپے په تیاره کښ پټیدو سره یو کار وکړی یا د ورځے په رڼړا کښ ئے خلکو ته وربنائی۔

وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ: ۱- ګرځیدونکے۔ ۲- ښکاره کیدونکے۔ دویمه معنیٰ ظاهره ده۔

لَهٗ مُعَقِّبَاتٌ مِّنْ بَيْنِ يَدَيْهِ
د الله په اختیار کښ دی وار په وار راتلونکی ملائك مخکښ د انسان نه

وَمِنْ خَلْفِهٖ يَحْفَظُوْنَهٗ مِنْ أَمْرِ اللّٰهِ إِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا
او روستو د هغه نه، چه حفاظت کوی ددهٔ په حکم د الله یقیناً الله نهٔ بدلوی هغه نعمت
بِقَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِأَنْفُسِهِمْ
چه کړے وی په یو قوم تردے چه دوی بدل کړی هغه نعمت چه د دوی په ځانونو شوے وی
وَإِذَا أَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ سُوْءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ
او کله چه اراده اُوکړی الله په یو قوم باندے د تکلیف نو نشته واپس کونکے د هغے
وَمَا لَهُمْ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَالٍ ﴿۱۱﴾
او نشته د دوی دپاره سویٰ د الله نه څوك بچ کونکے۔

تفسیر: دا هم د الله تعالیٰ په تصرف او علم باندے عقلی دلیل دے۔

لَهٗ: دا ضمیر یا الله ته راجع دے یعنی د الله په اختیار کښې دی۔

(۲) یا ضمیر انسان ته راجع دے۔

مُعَقِّبَاتٌ: نه مراد هغه ملائك دی چه نمبر په نمبر د انسانانو د حفاظت دپاره راځی، او دا غیر دی د کراما کاتبین نه لکه الله تعالیٰ په سورة الانعام آیت (۶۱) کښې فرمائی: ﴿وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً﴾ (چه الله تعالیٰ په تاسو باندے رالیږی حفاظت کونکی ملائك)۔ چه دا مخکښې روستو او ښی او ګس طرفته وی او د هر طرفنه ئے احاطه کړی وی او ددے بندګانو حفاظت کوی ځکه چه انسانانو ته ډیر دشمنان متوجه دی، پیریان، شیطانان، ماران لړمانان، نور حشرات او حیوانات د زمکے۔ نو په انسان باندے ډیره خواری کیږی، تو له بادشاهی ددهٔ دپاره روانه ده ځکه چه د انسان عمل الله تعالیٰ ته ډیر محبوب دے چه هغه ته سجده ولګوی، او د هغهٔ سره تعلق جوړ کړی۔ او کله چه بنده دا مقصد نهٔ پوره کوی نو الله تعالیٰ پرے دغه مخلوق مسلط کړی او د الله تعالیٰ مدد ترے کټ شی۔

مِنْ أَمْرِ اللّٰهِ: مِنْ په معنیٰ د باء سره دے۔ اَیْ بِأَمْرِ اللّٰهِ یعنی د الله په حکم سره ئے حفاظت کوی۔ یا مِنْ اجلیه دے یعنی د وجه د حکم د الله تعالیٰ نه دوی ته۔

بخاریؒ او مسلمؒ د ابو هریره ﷛ نه روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل:

((د الله ملائك تاسو سره وی، څه ملائك د شپے وی او څه د ورځے، او د سهار او د مازیګر

په مانځه کښ جمع کیږی، د شپې ملائك چه کله بره لاړ شي نو الله د دوی نه تپوس کوی چه تاسو زما بندګان په کوم حال کښ وموندل (حال دا چه هغه ته بهتره معلومه وی) نو ملائك وائی چه مونږ چه کله د هغوی خوا ته ورغلی وو نو هغوی مونځونه کول او کله چه د هغوی نه رخصت شو نو هم مونځ ئې کولو))۔

(بخاری: ٥٥٥ ومسلم: ١٤٦)

إِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ : دا جواب د سوال دے چه هر کله الله تعالیٰ د ملائکو په ذریعه ددے بندګانو حفاظت کوی نو بیا په دوی باندے مصیبتونه او عذابونه ولے راځی؟ نو جواب کوی چه بنده چه کله ګناه وکړی، شرك او کفر وکړی نو ملائك ددۀ نه جدا شی، نو مصیبت او عذاب پرے راشی۔ لکه حدیث کښ دی چه کله بنده دروغ ووائی نو د هغه نه ملائك یو میل وړاندے لاړ شی ځکه چه د هغه د خولے نه سخته بدبوئی لاړه شی، آهـ دغه شان نور ګناهونه واخله۔ (الترمذی (١٩٧٢) وحسنه ولکن اسناده ضعیف جدا سلیمان النهدی متروك وعبد الرحیم بن هارون کذبه الدارقطنی(البانی)

یعنی الله تعالیٰ د هیڅ یو قوم نه خپل نعمتونه تر هغه وخت پورے نۀ زائل کوی ترڅو چه هغوی خپل حالت بدل کړے نۀ وی، یعنی د خیر او صلاح او د توحید او د ایمان د لارے نه منحرف او جدا شی او معاصی او ګناهونه شروع کړی۔ او بنده کله د نورو خلقو د ګناهونو په وجه سره په عذاب او مصیبت کښ اخته کیږی، لکه چه بخاریؒ او مسلمؒ د زینب بنت جحش رضی الله عنها نه روایت کړیدے چه یو شخص د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو چه [أَنَهْلَكُ وَفِيْنَا الصَّالِحُوْنَ ؟] آیا په مونږ کښ د نیکانو خلقو د موجودیدو سره به هم مونږ هلاك کړے شو؟۔ نبی ﷺ وفرمایل [نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ] آؤ، کله چه ګناهونه زیات شی۔ (بخاری: ٣٣٤٦ ومسلم: ٧٤١٦)

حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِأَنْفُسِهِمْ : یعنی تردے چه دوی بدل کړی هغه حالت چه د دوی په نفسونو باندے وی۔ یعنی د دوی ګناهونه د حالت د بدلولو سبب جوړ شی۔

وَإِذَا أَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ : (١) دا هم جواب د سوال دے چه کله یو انسان یو عمل نۀ وی کړے او حال دا چه په هغه باندے مصائب راځی نو ملائك څنګه حفاظت کوی؟

حاصل د جواب دا دے چه هر مصیبت د الله تعالیٰ په اراده سره راځی، نو اراده د الله تعالیٰ لره ملائك نشی واپس کولے او نور مخلوق هم مدد نشی کولے۔

سیدنا علی رضی الله عنه فرمائی کله چه تقدیر راشی نو بیا ملائك هم حفاظت پریدی۔ (فتح البیان)

(۲) یا دا د مخکښ ﴿ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ﴾ سره متعلق دے او پدے کښ تاکید دے په یره ورکولو کښ. او مطلب دا دے چه کله الله تعالیٰ اراده وکړی چه د یو قوم نه نعمت واخلی کله چه هغوی په ځان باندے د دغه نعمت حالت بدل کړی په گناهونو سره نو د هغه اراده هیڅوك نشی واپس کولے. (ابن عاشورؒ)

فَلَا مَرَدَّلَهٗ : مَرَدٌّ مصدر میمی دے، یعنی نشته واپس کیدل د هغے. یا مصدر په معنیٰ د اسم فاعل دے اَیْ فَلَا رَادَّ لَهٗ. نشته هیڅوك واپس کونکے د هغے.

وَّالٍ: اَیْ وَالٍ يَلِیْ اَمْرَهُمْ وَيَلْتَجِئُوْنَ اِلَيْهِ فَيَدْفَعُ عَنْهُمُ الْعُقُوْبَةَ. یعنی داسے تصرف کونکے به نۀ وی چه د دوی د کار واکداری وکړی او دوی هغه ته توجه وکړی او هغه ترے عذاب لرے کړی. (فتح البیان) او حاصل معنیٰ د والی ده: بچ کونکے.

هُوَ الَّذِیْ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا وَّيُنْشِئُ
الله هغه ذات دے چه درښائی تاسو ته بریښنا دپاره د یرے او دپاره د طمع او پیدا کوی هغه
السَّحَابَ الثِّقَالَ﴿۱۲﴾ وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ
وریځو درنو لره. او پاکی بیانوی رعد ملائك سره د صفتونو د الله نه او ملائك هم
مِنْ خِيْفَتِهٖ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيْبُ بِهَا مَنْ يَّشَآءُ
د وجے د یرے د الله تعالیٰ نه او رالیږی تندرونه نو رسوی هغے لره هغه چا ته چه اوغواړی
وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِی اللّٰهِ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ﴿۱۳﴾
او دوی جګړه کوی په باره د الله کښ او هغه سخت نیونکے دے.

تفسیر : دا بل عقلی دلیل دے چه پدے کښ د الله تعالیٰ نور تصرفات ذکر دی. د خپل کامل قدرت او عظمت او جلال او جبروت ښکاره کولو دپاره ئے د بریخنا او د تندر یعنی د آسمان نه راپریوتونکی اُور تفصیلات بیان کړیدی.

خَوْفًا وَّطَمَعًا ۱- بعض بندگان ویریږی چه باران به وشی، تکلیف به جوړ شی، یا د تندر نه ویریږی، او بعض طمع لری چه باران به وشی، فصلونه به تازه شی، او فائدے او اُوبه به حاصلے شی. ۲- خَوْفًا مِنَ اللّٰهِ وَطَمَعًا مِنَ اللّٰهِ. یعنی کله چه وریځے او د بریخنا پرق راشی نو بعض بندگان ویریږی چه چرته د الله عذاب رانشی لکه رسول الله ﷺ به دا احساس

زيات كولو او كامل مؤمنان ئے هم كوي، رسول الله ﷺ به چه كله وريځ وليدله نو فرمايل به ئے: [اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا اُرْسِلَ بِهٖ]

اے الله ! زۀ په تا پورے ددے وريځے د شر نه پناه غواړم)۔

(ابن ماجه : ۳۸۸۹ واسناده صحيح، الصحيحه رقم : ۲۷۵۷)

او چه كله باران شروع شي نو بندګان د الله نه د خير طمع لري۔

وَيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ : يعنى الله تعالىٰ راپيدا كوى درنے وريځے چه په تهنونو اُوبه پكښې پرتے وى۔

رعد څه شے دے؟

وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ : ۱- په حديث د احمدؒ او ترمذيؒ كښې دى چه رعد يو ملائك دے چه په وريځو مقرر دے او د هغه سره د اُور ډبلئ وى چه په هغے سره وريځے شړى كوم ځاى ته چه الله تعالىٰ وغواړي او هغه چه كله وريځے شړي نو د هغے نه يو آواز پيدا كيږى۔

(ترمذى۳۱۱۷ واحمد : ۲٤۸۳) وسندهما حسن)۔

او دا ملائك هر وخت تسبيح او حمد لولي خاصكر په وخت د باران وريدلو كښې۔ او كله الله تعالىٰ انسانانو ته د هغه آواز واوروى او كله نۀ۔ او دا ئے د نورو ملائكو نه جدا ذكر كړو ځكه چه پدے تسبيح وئيلو باندے ددۀ زيات خصوصيت او زيات اهتمام دے۔ مونږ ته صرف د هغه آواز رارسيږى نۀ تسبيحات۔ (فتح البيان)

۲- دويم قول دا دے چه د رعد نه مراد آواز د دغه ملائك دے او دے ته ئے نسبت د تسبيح وئيلو كړيدے پدے كښې څه استبعاد نشته ځكه چه الله تعالىٰ قادر دے چه د دغه ګړه زارى نه هم د تسبيح آواز راوباسى۔ ﴿وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ﴾ (اسراء : ٤٤) (هر شے د الله تسبيحات وائى ليكن تاسو پرے نۀ پو هيږئ)

۳- ځينى وائى : دلته مضاف پټ دے [اَىْ وَيُسَبِّحُ سَامِعُوا الرَّعْدِ] پاكى بيانوى هغه خلك چه ګړه زارے واورى۔ مګر اولنى قول نه غوره دى۔

ابن عاشورؒ ليكى : دا جمله ئے د نصيحتونو په مينځ كښې په مشركانو باندے د تعريض دپاره ذكر كړه۔ يعنى د الله تعالىٰ تسبيحات او پاكيانے ملائك بيانوى نو الله تعالىٰ ستاسو د پاكى بيانولو نه مستغنِى دے، د هغه نور مخلوق شته چه صحيح عبادت ئے كوى او د هغه پاكى بيانوى۔ (التحرير)

الصَّوَاعِقَ : تندرونه. جمع د صَاعِقَةٌ ده، هغه عذاب ته وئيلے شي چه د بريخنا نه نازليږي، ځينى وائى : دا هغه سخت آواز ته وائى چه د فضاء نه خكته راشي بيا پدے كښې كله اُور وي او كله عذاب او كله مرگ.

كرخيّ وائى : د صاعقے حال ډير ناشنا دے ځكه چه دا يو اُور وي چه په وريځو كښې پيدا شي او كله چه د وريځے نه راپريوزي نو ډير كرته په درياب كښې ننوزي او مهيان وسيزي.

امام محمد بن على الباقرؒ ته منسوب دى چه صاعقه مسلمان او غير مسلم تولو ته رسيږي مگر ذاكر (ذكر كونكى) ته نهٔ رسيږي. (فتح البيان)

وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ : يعنى سره ددے طاقتونو نه بيا هم كافران د الله په باره كښې د رسول الله ﷺ سره جگړے كوى، د بعث بعد الموت نه انكار كوى، د كبر او عناد په وجه سره د عذاب په راتللو جلتى كوى، د قرآن كريم او رسول پورے توقے كوى، او د خپلے خوښے مطابق د نخو مطالبه كوى، او ددے خبرے نه قطعاً غافل وى چه د الله تعالىٰ تدبير او د هغهٔ رانيول ډير سخت وى. كله چه د هغهٔ په نيولو كښې راشي نو هيڅ طاقت هغوى ته نجات نشي وركولے.

فِي اللهِ : اَىْ فِىْ ذَاتِهٖ وَتَوْحِيْدِهٖ وَفِىْ اَمْرِهٖ. يعنى دوى جگړے كوى په باره د ذات د الله تعالىٰ كښې چه هغه نهٔ منى، او د هغهٔ په توحيد كښې او د هغهٔ د امر په باره كښې چه هغه وائى قيامت به راځى دوى ئے نهٔ منى.

الْمِحَالِ: ١- محال يوه معنىٰ د قوّت ده (مجاهدؒ) ٢- شَدِيْدُ الْاَخْذِ. سخت رانيونكے دے. (على بن ابى طالبؓ) ٣- شَدِيْدُ الْغَضَبِ. (وهب بن منبهؒ) سخت غضب والا دے.

٤-شَدِيْدُ الْهَلَاكِ بِالْمَحْلِ وَهُوَ الْقَحْطُ. (حسن بصريؒ) سخت هلاكونكے په قحط سره.

٥- شَدِيْدُ الْعُقُوْبَةِ وَالْمَكْرُوْهِ. سختے سزا او مصيبت والا. (ابوعبيدهؒ) (القرطبيؒ وفتح البيان)

ابن عاشورؒ ليكى : كه ميم اصلى وى نو بيا دا د مَحْلٌ نه دے په معنىٰ د كيد او مكر جوړولو سره. او كه ميم پكښې زائد وى نو بيا د حَوْلٌ نه دے په معنىٰ د قوت او طاقت سره، آه. نو اولنى دوه تفسيرونه پكښې غوره شو. او دا باقى تفسير باللوازم دے.

لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ
خاص د الله بلنه حقه ده او هغه كسان چه دوى رابلى سوئ د الله نه، نشي قبلولے دوى لره

بِشَيْءٍ إِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى الْمَآءِ
هیڅ شے (نۀ دے د دوی مثال) مگر په شان د اُوږده ونکی د ورغوو دے اُوبو ته
لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهِ وَمَا دُعَآءُ الْكَافِرِينَ
دے دپاره چه اُورسی خولے ددۀ ته او نۀ دی هغه رسیدونکی دۀ ته او نۀ ده دعا د کافرانو
إِلَّا فِيْ ضَلَالٍ ﴿١٤﴾
مگر په بربادئ کښں ده۔

تفسیر : دا آیت نتیجه ده د مخکنو دلیلونو۔

لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ ١- اَیِ الَّتِیْ لَهَا اسْتِجَابَةٌ ۔ خاص د الله دپاره ده دعاء (بلنه)حقه چه د هغے قبلیدل کیدے شی او که د نور چا نه دعا وغوښتے شی نو د هغے قبولوالے نشی کیدے۔ لکه د روستو نه معلومیږی۔ نو پدے کښں دعوت دے بندگانو ته چه الله تعالیٰ هغه ذات دے چه ستاسو دعاگانے قبلوی او بتان او باطل آلهه دِے ستاسو دعاگانے قبولی کړی؟! هیڅکله ئے نشی نو بس صرف د الله تعالیٰ نه دعا غواړئ۔

٢- یا مطلب دا دے چه (لَهٗ) خبر مقدم او (دَعْوَةُ الْحَقِّ) کښں اضافت د موصوف دے صفت ته دا مبتداء موخره ده۔ معنیٰ دا ده چه حقه بلنه خاص الله تعالیٰ لره ده او د غیر الله بلنه باطله ده۔ ٣- د دعوة الحق نه مراد کلمه د توحید او اخلاص ده۔

[اَیْ لِلّٰهِ مِنْ خَلْقِهٖ اَنْ یُّوَحِّدُوْهُ وَیُخْلِصُوْا لَهٗ] د الله دپاره د هغۀ په مخلوق دا لازمه ده چه د هغۀ توحید به منی او د هغۀ دپاره به په عبادت کښں اخلاص کوی۔

٤- یا د دعوة نه مراد عبادت دے، یعنی د الله تعالیٰ عبادت همدغه حق او رشتینی دے۔ او که د بل چا عبادت وکړے شی نو هغه به باطل او دروغجن وی۔

اولنے او دویم تفسیر غوره دے د روستو سره ښه لگی۔ داسے نور تفسیرونه هم صاحب د فتح البیان وغیره ذکر کړیدی۔

وَالَّذِيْنَ : ددے نه مراد باطل معبودان دی۔ **یَدْعُوْنَ** په اصل کښں **یَدْعُوْنَهُمْ** دے یعنی چه دا مشرکان ئے رابللی او رامدد شه ورته وائی۔ هغوی ورله هیڅ حاجت نشی پوره کولے۔

اِلَّا كَبَاسِطِ : اَیْ لَیْسَ حَالُ مَنْ یَّدْعُوْ غَیْرَ اللّٰهِ اِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّیْهِ ۔ یعنی څوك چه غیر الله رابلی د هغۀ حال نۀ دے مگر د هغه چا په شان دے چه هغه اُوبو ته دواړه لاسونه اُوږده کړی

وي پدے مقصد چه اُوبه ددۀ خولے ته راورسي او اُوبو ته آواز كوي چه زما خولے ته راشئ، ليكن هغه اُوبه ددۀ خولے ته هيڅكله نشي رسيدے، نو دغه شان كه څوك باباگانو او غير الله ته آواز كوي چه يا علي مدد، يا رسول الله ! اے پيره بابا ! رامدد شه نو هغه ددۀ آواز نۀ آوري، او نۀ ترے خبر وي او ددۀ حاجت نشي معلومولے، ددۀ نه لرې وي، يا مړ وي نو ددۀ حاجت هيڅكله نشي پوره كولے، نو د باطلو معبودانو تشبيه ئے وركړيده د اُوبو سره چه نۀ ويني او نۀ آوري او نۀ چا ته پخپله رسيدلے شي۔

كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ : بل مطلب دا دے چه اُوبو كښې ئے دننه لاسونه كولاؤ كړي وي نو بيا هم ددۀ خولے ته اُوبه نشي راتللے ترڅو پورے ئے چه لاس ترے ډك كړے نۀ وي۔ ليكن دا مطلب دومره غوره نۀ دے۔ ځكه چه (اِلَى الْمَاءِ) ورسره صحيح نۀ لگي۔

وَمَا دُعَآءُ الْكَافِرِيْنَ : اَىْ غَيْرَ اللّٰهِ۔ يعني دعا د كافرانو د غير الله نه نۀ ده مگر په بربادئ كښې۔

فِيْ ضَلَالٍ : اَىْ فِيْ ضِيَاعٍ وَبُطْلَانٍ۔ يعني په ضائع كيدو او بربادېدو كښې۔

سورة المؤمن (٥٠) آيت كښې دي چه جهنميان به جهنم كښې الله تعالىٰ نه دعا غواړي ليكن هغه به هم بربادۀ وي ﴿وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلَالٍ﴾ اَىْ فِي الآخِرَةِ۔

يعني د كافرانو دعا په آخرت كښې كه د الله تعالىٰ نه كوي هم برباده ده، هيڅ فائده نۀ وركوي او هرچه په دنيا كښې د الله تعالىٰ نه دعا غواړي نو هغه صحيح ده۔

او دلته د غير الله نه د دعا غوښتلو بربادي ذكر ده۔ يا دعاء الكافرين عام دے نو مطلب دا دے چه په دنيا كښې كافران د الله تعالىٰ نه دعا غواړي نو هغه هم برباده ده، يعني په هغے اجر او ثواب نشته اگركه كله نا كله به ئے پرے حاجت پوره شي۔

وَ لِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ
او خاص الله لره سجده كوي هغه څوك چه په آسمانونو او زمكه كښې دي
طَوْعًا وَّ كَرْهًا وَظِلَالُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ﴿١٥﴾ (س)
(څوك) په خوښه او (څوك) په زوره او سورې د دوی په صبا او بيگاه۔

تفسير : بيا د الله تعالىٰ عظمت بيانيږي۔ ١ - د سجدے نه تذلل، عاجزي او تابع كيدل مراد دي۔ يعني په آسمانونو او زمكه كښې چه څومره څيزونه دي، ټول د الله تعالىٰ د ارادے

او مشیت او د هغهٔ د حکم تابع دی۔ هیڅ شے هم د هغهٔ د حکم نه د یوے ذرے برابر سر نشی تاوولے۔

۲- ځینی وائی چه دلته د سجدے نه مراد حقیقی سجده ده، یعنی د الله د تعظیم دپاره په زمکه باندے تندے لګول۔ نو ایمان والا انسانان او پیریان او ملائك په واقع کښ صبا او بیګاه یعنی همیشه الله تعالیٰ ته سجدے لګوی، او کافران په حالت د اضطرار او مجبورتیا کښ الله تعالیٰ ته سجده کوی، لکه چه الله په سورة عنکبوت آیت (٦٥) کښ فرمایلی دی :﴿ فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ﴾ چه (کله دوی په کشتیٔ کښ سوریږی نو الله لره په پوره اخلاص سره رابلی)۔ دغه شان د انسانانو او د نورو تمامو مخلوقاتو سوری هم الله تعالیٰ ته سجدے کوی۔ کله چه څوك الله تعالیٰ ته سجده کوی، نو د هغه سورے هم د هغه سره د الله مخے ته خکته کیږی۔

ابن الانباریؒ وائی : دا بعیده نهٔ ده چه الله تعالیٰ سورو لره فهم ورکړی لکه غرونو له ئے ورکړیدے چه هغوی د الله تعالیٰ په تسبیحاتو مشغول کیږی نو سورے د مؤمن الله تعالیٰ ته په خوشحالئ سره سجده کوی او سورے د کافر الله تعالیٰ ته په زوره سجده کوی۔

الله تعالیٰ په سورة النحل آیت (٤٨) کښ فرمائیلی دی :

﴿ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ يَّتَفَيَّؤُا ظِلٰلُهُ عَنِ الْيَمِيْنِ وَالشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِلّٰهِ وَهُمْ دَاخِرُوْنَ ﴾ یعنی (آیا دوی لیدلی نهٔ دی چه الله تعالیٰ څو مره څیزونه پیدا کړیدی، د دوی سوری ښی او ګس طرف نه الله تعالیٰ ته سجده کولو سره خکته کیږی، او هغوی د الله دپاره عاجزی او انکساری اختیاروی)۔

یا مطلب دادے چه ایمان والا د الله تعالیٰ مخے ته په مینه او رضا سره سر خکته کوی او کافران د الله تعالیٰ په اوامرو قبلولو باندے مجبوره دی۔ یعنی د الله حق دے په دوی باندے چه دوی به هغه ته سجده لګوی نو اُوس که هغوی سجده نهٔ لګوی نو دا به د هغوی د الله تعالیٰ حق ضائع کول وی۔ (فتح البیان)

وَظِلٰلُهُمْ : ددے نه معلومه شوه چه ذوات او اعراض ټول د الله تعالیٰ د حکم تابع دی۔

بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ : ددے نه صرف صبا او بیګاه مراد دی، یا ټول اوقات دی ځکه چه غدو د زوال نه مخکښ وخت دے او اصال د زوال نه روستو دے، نو ټول اوقات پکښ داخل شو۔

ددے آیت د لوستلو نه روستو سجده کول مسنون دی۔ او دا ضروری سجده ده۔

قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ قُلِ اللهُ قُلْ
اُووایه څوك دے پالونکے د آسمانونو او د زمکے، اُووایه الله دے، اُووایه
أَفَاتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ أَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُوْنَ لِأَنْفُسِهِمْ نَفْعًا
آیا نو نیولی دی تاسو سویٰ د الله نه نور دوستان، اختیار نهٔ لری د ځانونو دپاره د فائدے
وَّلَا ضَرًّا قُلْ هَلْ يَسْتَوِی الْأَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِی الظُّلُمَاتُ
او نهٔ د ضرر دفع کولو اُووایه آیا برابر دے ړوند او لیدونکے یا آیا برابر دی تیارے
وَالنُّوْرُ أَمْ جَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوْا
او رڼړا یا گرځولی دی دوی الله لره برخه داران (په بندگئ کښې) چه پیدائش کړیدے هغوی
كَخَلْقِهٖ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ قُلِ اللهُ خَالِقُ
په شان د پیدائش د الله نو گډوډ شویدے پدائش په دوی باندے اُووایه الله پیدا کونکے
كُلِّ شَیْءٍ وَّهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿١٦﴾
د هر شی دے او هغه یو دے، بے زوروَر دے۔

تفسیر: پدے آیت کښې لسم دلیل عقلی دے او بیان د فرقونو دے۔

قُلِ اللهُ: یعنی هرکله چه مشرکان چپ شول ځکه چه هغوی د الله تعالیٰ نه سویٰ د آسمانونو او زمکے بل رب نهٔ گنړلو نو نبی ﷺ ته حکم وشو چه ته ٔ جواب ورکړه۔

قُلْ أَفَاتَّخَذْتُمْ: یعنی هرکله چه تاسو منئ چه الله تعالیٰ د آسمانونو او د زمکے خالق او مالك دے، نو بیا د هغه نه سویٰ نور خلق خپل حاجت روا او مشکل کشا او د عبادت مستحق ولے منئ، حال دا چه هغوی خپله خپل ځانونو ته نهٔ نفع رسولے شی او نهٔ څه نقصان زائله کولے شی، هغه به ستاسو حاجت روا او مشکل کشا څنگه جوړ شی؟۔

(فتح البیان)

قُلْ هَلْ يَسْتَوِی: اُوس د یو مثال په ذریعه د موحد مسلمان او د کافر ترمینځ فرق ښکاره کوی چه کافر د خپل دین په معامله کښې د ړوند په شان دے، او موحد مسلمان د سترگو والا په شان۔ کافر د خپل کفر په تیاره کښې پریشانه وسیږی، او موحد د ایمان او د

توحید مشعل اخستے خپل منزل طرف تـه روان دے۔ پدے وجه الله تعالیٰ مخکښ وفرمایل چه د کفر تیارے او د ایمان رنړا دواړه برابریدے نشي۔

او دا د ابن عباسؓ تفسیر دے چه هغه وائی چه اعمیٰ او بصیر مثال د مشرك او مؤمن دے۔ او ځینی وائي : اعمیٰ نه مراد معبودِ باطل دے او بصیر نه معبودِ حق دے۔

الـظُّلُمَاتُ وَالنُّوْرُ : تیارے د شرك او كفر او نور د توحید او ایمان۔ او نور ئے مفرد راوړو ځکه چه د حق یوه لاره ده او د باطل ډیرے لارے وی۔

أَمْ جَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ : ام منقطعه دے په معنیٰ د "بَلْ" سره۔ پدے کښ د کافرانو او مشرکانو د کم عقلئ او ناپوهئ زیات راښکاره کولو دپاره فرمائی چه کوم باطل معبودان دوی د الله تعالیٰ سره شریکان گنړی، آیا دوی د الله پـه شان آسمان او زمکه او نمر او سپوږمئ او غرونه او دریابونه او پیریان او انسانان پیدا کړیدی، چه د هغے په لیدلو سره مشرکانو تـه شبهه شویده چه هغه شرکاء هم معبودان دی۔ ځکه چه بعض څیزونه خو دوی هم پیدا کړیدی نو پته نۀ لگی چه دا مخلوق د الله تعالیٰ دے او که ددے معبودانو دے، اشاره ده دے تـه چه دوی به د خپلو معبودانو طاقت معلوم کړی چه دومره طاقت خو لری چه غرونه ئے پیدا کړی، یا ئے بعض انسانان پیدا کړیدی، که داسے وی نو بیا خو به دوی معذوره وی، نو پدے تپوس کښ مقصد د دوی غلی کول دی چه اے مشرکه ! تۀ ښۀ پدے پوهه ئے چه د الله نه سوئ بل خالق نشته نو بیا ولے د الله تعالیٰ سره نور برخه داران جوړوے، پیدا کونکے الله تعالیٰ منے او عبادت د غیر الله کوے، تا به عبادت د غیر الله هله کولے چه بل خالق هم موجود وے، او هغه هم د الله تعالیٰ په شان پیدا کول کولے شوے او تا بانـدے اشتباه راتللے چه دا څیزونه به الله تعالیٰ پیدا کړی وی او که فلانی بابا۔ اُوس خو اشتباه نشته نو بیا ولے د غیر الله عبادت کوے۔

معلومه شوه چه دوی د خپل جهالت او ناپوهئ په وجه دا څیزونه خپل معبودان جوړ کړیدی۔ دا په شرك او مشركانو باندے ډیر بلیغ (کامل) رد دے۔

فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ : اَیْ خَلْقُ الشُّرَكَاءِ بِخَلْقِ اللّٰهِ عِنْدَهُمْ ۔ یعنی گډوډ شویدے پیدائش د معبودانو د پیدائش د الله تعالیٰ سره د دوی په نیز۔

خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ: الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم وکړو چه حق خبره بیان کړی، او اُووائی چه د هر شی خالق الله دے، پدے وجه د عبادت هم مستحق صرف د هغۀ ذات دے۔

أَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ م بِقَدَرِهَا فَاحْتَمَلَ
نازل کړے ئے دی د آسمان نه اُوبه نو اُوبهیږی کندے په اندازه خپله نو راپورته کړی
السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا وَمِمَّا يُوْقِدُوْنَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ
سیلاب زګونه اُوچت او د هغے نه چه بلوی دوی په هغے باندے په اُور کښ
ابْتِغَآءَ حِلْيَةٍ أَوْمَتَاعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهُ ط كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ
دپاره دطلب کولو د ګاڼړے یا د سامان زګونه دی په شان ددے، دغه شان بیانوی الله تعالیٰ
الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ، فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَآءً وَأَمَّا مَا
حق او باطل لره پس هرچه زګ دے نو لاړ شی بیکاره او هرچه هغه شے
يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ ط كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْأَمْثَالَ ﴿۱۷﴾
چه فائده ورکوی خلقو ته نو باقی پاتے شی په زمکه کښ، دغه شان بیانوی الله مثالونه۔

تفسیر : ددے آیت تعلق د اول د سورت سره دے چه پدے کښ د وحی مثال بیانیږی کومه چه د آسمان نه نازله شویده او بیائے د وحی اهل او نا اهله بیان کړیدی ﴿ لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ ﴾ دا اهل د وحی دی چه استجابت (قبولوالے) ئے کړیدے، د دوی جزاء ئے بیان کړیده او ﴿ وَالَّذِيْنَ لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا ﴾ سره د نا اهلو بیان دے او د دوی سزا ئے بیان کړیده۔ تر رکوع پورے دوه غټے بیانیږی۔

ددے مثال مصداق څه دے او د آیت اشارات څه دی؟ دلته بیانیږی۔

پدے آیت کښ دوه مثالونه یو ځای کړے شویدی، یو د باران او بل د اُور۔ د سیلاب دپاسه زګ وی او دغه شان د سرو زرو د ویلی کولو په وخت د زرو دپاسه هم زګ وی۔

نو دا دوه مثالونه دی۔ اُوبه او سرۂ زر مثال د حق او د اهل حقو دے او دواړه ځای کښ زګونه مثال د باطل او باطل پرستو دے۔ زګ بیکاره وی چه څوك ترے فائده نۀ اخلی او زر ختمیږی نو دغه شان به دا باطل او باطل والا هم بیکاره وی او زر به ختم شی۔

دا د څه مثال دے؟

۱ – مِثَالٌ لِبَقَاءِ الْحَقِّ وَاضْمِحْلَالِ الْبَاطِلِ۔ نو دا مثال دے د حق د باقی پاتے کیدو او د باطل د

زر ختمیدو۔ اګرکه باطل په اول کښې هرڅو مره قوی او تیز وی۔ او دا د الله تعالیٰ اصول دی چه اول کښې حق کمزورے وی او بیا آخری غلبه حق لره وی، تاریخ د اسلام همداسے راروان دے۔ نو د زګ نه یریدل نۀ دی پکار۔

بیا د حق او د باطل نه څه مراد دے ؟ ۱- حق اسلام او باطل کفر ته وائی۔ د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د اسلام او د کفر مقابله وه نو اسلام غالب او باقی پاتے شو او کفر ختم شو۔

۲- د حق نه مراد قرآن دے او د قرآن په مقابله کښې صد عن سبیل الله (خلك د نیغے لارے نه منع کول، غلط دعوت کول) باطل دے۔

۳- دریم مصداق : حق دعوت او باطل دعوت۔ حق دعوت هغه دے چه الله تعالیٰ طرفته وی او باطل دعوت هغه دے چه غیر الله ته وی۔

٤- حق احکامو او مسائلو د اسلام ته وئیلے شی او باطل د هغے مخالفت دے۔ یو تن به یو ځای کښې د اسلام یو حکم بیان کړی څه خلك به د هغے مخالفت وکړی، باطل کښې به واقع شی۔ او دا ټولے خبرے د یوبل سره منافات نۀ لری، نو دا مثال ددے ټولو خبرو دے۔ چه حاصل ئے دا دے چه یو ځای کښې قرآن بیان شو او اسلام بیان شو او د دین صحیح دعوت وشو او چا د هغے مخالفت وکړو نو دا قرآن او حق به باقی پاتے کیږی او ددے مخالفین به ختمیږی، سنت طریقے به باقی پاتے شی او د مخالفینو زګونه او شبهات او بدنامے به ختمے شی۔ اول کښې به داعی یریږی ځکه چه دا زګ به د اُوبو دپاسه وی لیکن لږه زمانه روستو به یو یو غاړے پورے انښلی، آخر به صفا اُوبه پاتے شی او زګ به ختم شی، ځکه چه دا قانون دے چه هر هغه شے چه د الله تعالیٰ دپاره نۀ وی هغه ضرور ختمیږی۔ او په هره زمانه کښې دا قانون جاری دے او جاری به وی۔ د مکے مشرکان زګونو والا او رسول الله ﷺ او د هغه ملګری پاکو اُوبو والا وو او په مدینه کښې یهود زګونو والا وو او رسول الله ﷺ او د هغۀ ملګری پاکو اُوبو والا وو نو زګونه رفته رفته ختم شو او صفا اُوبه پاتے شوے۔

د اول مثال (۱) تطبیق

د اول مثال تطبیق په تفصیلی تعبیر سره دا دے چه چه دا مثال د حق او د باطل د مقابلے دے، یعنی باران ووریږی نو په کندو کښې سیلابونه راشی په اندازه د هرے کندے، او ددے سیلاب دپاسه زګونه وی بیا څه موده روستو زګ اُوچ شی او صفا اُوبه د خلکو د فائدے دپاره پاتے شی، نو دغه شان الله تعالیٰ قرآن کریم د بره نه نازل کړو په هغے کښې ئے توحید او

تهول دين بيان کړو. بعض خلك د قرآن او د سنت او د توحيد صفا علم حاصل کړي او هر يو تن د خپل محنت او د خپل استعداد او اهليت مطابق عالم شي، بيا دوی د سيلاب په شان د دعوت دپاره په مختلفو اطرافو کښې خوارهٔ شي نو د دوی په مقابله کښې باطل پرست خلك راوچت شي چه هغوی د حق والو په دعوت کښې د عوامو په زړونو کښې شبهات پيدا کوي او په اول کښې دوی غالب ښکاره کيږي، بيا څه وخت روستو دغه باطل پرست مغلوب او بيکاره شي او حق دين په دنيا کښې پاتې شي او خلك د هغې نه فائدې اخلي. (احسن الكلام)

(۲) دويمه طريقه :

د آسمان نه اُوبه نازلې شوې چه په هغې کښې نفع او حياة (ژوند) دے نو دغه شان قرآن کريم د آسمان نه نازل شو چه پدے کښې هدايت دے د خلکو دپاره، بيا باران په اُوچتو ډيرکو او غرونو باندے او دارنګه په ښکته ځايونو کيږي ليکن سيلاب په کندو او ښکته زمکو کښې راځي نو هره کنده د خپلې فراخئ په اندازه اُوبه ځای کوي، او دغه سيلاب په وخت د نازليدو د باران کښې ځان سره زګونه راپورته کړي نو لږ وخت روستو زګ بے فائدے لاړ شي او خالصې صفا اُوبه پاتې شي چه خلك ترے د څکلو او خروبه ولو فائده واخلي. نو دغه شان قرآن کريم په ټولو انسانانو نازل شو د خلکو غوږونه ئې وټنګول او ددے د وعيدونو او مقاصدو نه ئې خبر کړل مګر فائده ترے هغه زړونو واخسته چه هغوی کښې عاجزي او انابت وو، چا ډيره فائده واخسته او چا کمه، په اندازه د خپلې خوارئ او محنت سره، او دا قرآن او ددے آيتونه په داسے خلکو هم راتير شو چه هغوی پرے هيڅ پوهه نشو چه هغوی منکرين او معرضين دی، او بعض داسے زړونو سره يو ځای شو چه هغوی په کښې سوچ وکړونو هغوی ترے هغه خبرے راواخستے چه د هغوی په زړونو کښې ئې شبهات پيدا کړل او په قرآن ئې اعتراضونه وکړل لکه داسے ئې وويل ﴿ هَلۡ نَدُلُّكُمۡ عَلٰى رَجُلٍ يُّنَبِّئُكُمۡ اِذَا مُزِّقۡتُمۡ كُلَّ مُمَزَّقٍ اِنَّكُمۡ لَفِىۡ خَلۡقٍ جَدِيۡدٍ﴾ (آيا نهٔ ښايم تاسو ته داسے سړے چه تاسو ته دا خبر درکوي چه کله تاسو پوره ذره ذره شئ نو تاسو به دوباره په نوی ژوند سره ژوندی کيږئ) او ﴿ فَاَمَّا الَّذِيۡنَ فِىۡ قُلُوۡبِهِمۡ زَيۡغٌ فَيَتَّبِعُوۡنَ مَا تَشَابَهَ مِنۡهُ ابۡتِغَآءَ الۡفِتۡنَةِ وَابۡتِغَآءَ تَاۡوِيۡلِهٖ﴾ (ال عمران : ۷) (هرچه هغه کسان دی چه په زړونو کښې ئې کوږوالے دے، نو دوی روانيږي د هغې آيتونو پسے چه متشابه دی د قرآن نه دپاره د لټولو د فتنې او دپاره د لټولو د حقيقت د هغې) نو دا خلك د زګ

والا وو۔ ليکن دغه زګونو والا خلك به سيلاب او صفا اُوبو ته هيڅ ضرر ورنکړي بلکه خپله به ختم شي۔ (التحرير لابن عاشورؒ بتصرف منا)

فوائد الآية

١- الله تعالیٰ تشبيه د قرآن د نازليدو د باران سره ورکړه چه دواړه د بره نه نازليږي، د باران اُوبه د خِيرو او ګندونو نه صفا وي نو دغه شان قرآن د افراط او تفريط د ګندونو نه صفا دے، باران کښې عموم وي، بُخل پکښې نۀ وي نو دغه شان قرآن د عامو انسانانو کتاب دے، د عرب او عجم، مالدار او غريب فرق پکښې نشته۔ د باران اُوبه ډيرے وي، د هر چا حاجت پرے پوره کيږي نو دغه شان قرآن په خپله معنیٰ کښې پوره دے، عقيده او عمل هرڅه پکښې شته۔ ٢- فَسَالَتْ اَوْدِيَةٌ : ددے کندو نه مراد د بندګانو زړونه دي، بعض کندے ژورے وي ډيرے فائدے د اُوبو نه واخلي او خلکو ته ئے هم ورکړي نو دغه شان بعض زړونه ژور وي چه د الله د کتاب نه ډيرے فائدے واخلي، او بعض کمے فائدے والا وي۔

٣- باران ته چه چا لوښے اپوته (التـه) ايښے وي نو هيڅ پکښې نۀ راګيريږي نو دغه شان قرآن ته چه چا خپل زړه اپوته کړے وي او ضد کښې راغلے وي او اعراض ئے کړے وي نو هغه د قرآن نه هيڅ فائده نشي اخستے۔ ﴿وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا﴾ (الاسراء:٨٢)

(او ظالمانو لره قرآن نۀ زياتوی مګر تاوان)

او چا چه باران ته لوښے صحيح ايښے وي نو هغے کښې به صفا اُوبه جمع کيږي نو دغه شان د مؤمن زړه چه صفا وي او قرآن ته کيني نو ډير خيرونه پکښې راجمع شي۔

٤- فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ : اشاره ده چه قرآن د سيلاب په شان دے، او د چا په زړونو کښې چه کوم شبهات او شهوات دي هغه د زګونو په شان دي۔ (د شبهاتو نه مراد د عقيدے خرابوالے دے او د شهواتو نه مراد دنياوي خواهشات دي) نو دغه شان قرآن کريم د انسان د نفس نه دغه ګندونه صفا کوي۔ قرآن چه نۀ وي بيان شوے نو د خلکو پته نۀ لګي خو چه کله قرآن صحيح بيان شي نو په دغه وخت کښې د زګونو والا پته ولګي، نو دغه شان د نفس د انسان نه ګندونه نۀ وځي مګر په کتاب د الله تعالیٰ سره۔

دا د آيت اشارات دي تطبيق نۀ دے۔

د دوه مثالونو راړو ناشنا حکمتونه

وَمِمَّا يُوْقِدُوْنَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ : دا دويم مثال دے چه دا ناري مثال دے او قرآن کښې مائي او

نارې مثالونه جمع كيږي ځكه چه اُوبه سبب د ژوند دے او اُور سبب د نُور دے، او حياتِ قلبي او د وحي نُور راجمع كيدل كمال دے نو په مثالونو د قرآن باندے انسان ته الله تعالىٰ ته دغه دوه مقصدونه وركوي۔ دا د دوه مثالونو د بيانولو حكمة شو۔

❁ بل حكمة دا دے چه دُعاة الى الله (يعني الله تعالىٰ ته دعوت وركونكي مؤمنان) په دوه قسمه دي، يو هغه دي چه سرۂ او سپين تياروي په ځاى ناست وي لكه زرگران چه د هغے په ذريعه خلك ښائسته كيږي، زنانه ډولي كيږي۔ نو دا مثال د هغه علماؤ دے چه دعاة الى الله وي، د قرآن او حديث په ذريعه طالب العلمان تيروي، چه بيا داعي دلته ناست وي او د دين دغه طالبان په علاقو كښ خوارۂ شي چه ملك پرے ښائسته ښكاره كيږي۔

❁ علماء فرمائي : ستوري د آسمان ښائست دے او علماء د زمكے ښائست دے۔ مجالس پرے ښائسته ښكاره كيږي۔ او سيلاب د هغه دُعاتو مثال دے چه گرځيدو والا وي، يو ځاى بل ځاى وعظ او نصيحت او بيانونه كوي چه د عوامو اصلاح پرے كيږي، او هغوي د خلكو زگونه يعني شبهات او شكوك ختموي۔ پدے كښ اشاره ده چه مؤمن به هر ځاى دعوت كوي چه د خلكو پرے اصلاح وشي۔ او ناست دعوت (درس او تدريس) به هم كوي۔ نو كوم خلك چه د اهل عِلمو پورے توقے كوي چه دوي الله تعالىٰ ته دعوت نهٔ كوي او دا وائي چه دوي كو هي كښ ناست دي، نو دوي د الله تعالىٰ د كتاب بې ادبه دي۔ آؤ، د آيت نه معلومه شوه چه بغير د وحي د علم نه دعوت نشي كيدے۔

زَبَدًا رَّابِيًا : أَيْ عَالِيًا مُرْتَفِعًا۔ پورته، اُوچت۔

د دويم مثال تطبيق

(۱) زرگران سرۂ زر او سپين زر تانبه او قلعي وغيره په اُور سره ويلې كوي نو د بعضو نه كالي جوړ كړي صرف د زينت دپاره، او د بعضو نه نور سامانونه جوړ كړي چه د هغے نه څه فائده اخستے كيږي ليكن د دغے څيزونو د ويلې كولو په وخت كښ په هغے باندے هم زگ او زنگ راځي بيا څه وخت هغه زگ او زنگ ختم شي او سو چه زَر پاتے شي چه د هغے نه دوي د زينت دپاره كالي او نور سامان جوړوي لكه لوخي وغيره، او خلك ترينه فائده اخلي، نو دا مثال د هغه علماؤ او حق پرستو دے چه د قرآن او د سنت علم ئے د خپل استعداد او قابليت مطابق حاصل كړو او بيا د هغے په دعوت كښ په درس او تدريس او وعظ او نصيحت سره محنت كوي، او غلط مسائل د شرك او د بدعاتو د حق نه جدا كوي،

او پدے ذریعے سره نور اهل علم پیدا کوی چه هغه دوه قسمه خلك وی، اول هغه خلك چه د کار او فائدے والا وی چه نورو ته فائده ورکوی او خلك بنائسته کوی، او دویم داسے خلك چه په خپله د علم او د دین نه ځان دپاره فائده اخلی لیکن د دوی په مقابله کښ باطل پرست ملیان او عوام وی، هغوی راپورته شی چه څه وخت پس هغه باطل پرست کمزوری شی او حق پرستو ته فائدے رسی۔

(۲) تطبیق :

حافظ ابن کثیرؒ د ابن عباس ﷺ نه نقل کړیدی چه دا مثال د عمل صالح دے چه د خپل اهل دپاره باقی پاتے کیږی او بد عمل به ختمیږی لکه د زګ په شان، نو دغه شان حق او هدایت دواړه د الله تعالیٰ د طرفنه راغلل نو چا چه په حق عمل وکړو نو هغه ته به فائده ورکړی او داسے به باقی پاتے شی لکه هغه شے چه خلکو ته په زمکه کښ فائده ورکړی او دغه شان د وسپنے نه چاړه او توره نۀ جوړیږی تردے چه په اُور کښ واچولے شی، او ددے زنګ زائله شی او کره شے ئے باقی پاتے شی، نو خلك د هغے نه فائده اخلی، نو دغه شان به باطل د قیامت په ورځ ختم شی او اهل حق به د حق نه فائدے واخلی (او جنت ته به پریے داخل شی)۔ (ابن کثیرؒ)

مَا يَنفَعُ النَّاسَ : ددیے نه مراد اُوبه، سرۀ او سپین او نور دَهاتونه دی۔

كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْأَمْثَالَ : ۱- یا دا ترغیب دے مثال طرفته او د مثال حکمة او ددیے نه د عبرت او نصیحت اخستو طرفته۔ اَیْ كَمَا بَيَّنَ هٰذَا الْمِثَالَ الْبَدِيْعَ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لَعَلَّهُمْ يَنْتَفِعُوْنَ وَيَتَذَكَّرُوْنَ ۔ یعنی لکه څنګه ئے چه دا ناشنا مثال بیان کړو، نو دغه شان الله تعالیٰ مثالونه بیانوی دے دپاره چه خلك ترے فائده او نصیحت واخلی۔

لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنٰى وَالَّذِيْنَ
دپاره د هغه کسانو چه قبول والے ئے وکړو د رب خپل ښه حالت دے او هغه کسان
لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهٗ لَوْاَنَّ لَهُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا
چه قبول والے ئے ونکړو د هغۀ، که چرته شی دوی لره هغه څه چه په زمکه کښ دی ټول
وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ لَافْتَدَوْا بِهٖ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ
او په مثل د هغے نور هم نو خامخا بدله کښ به ورکوی هغے لره، دا کسان دوی لره

سُوْءُ الْحِسَابِ وَمَأْوٰهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۸﴾

بد حساب دے او ځائے د دوی جهنم دے او بد ځائے تیار کړے شوید ے (دا جهنم).

تفسیر: پدے آیت کښ د مخکنو دواړو ډلو انجام خودلے شویدے یعنی کومو اهل حقو چه د الله تعالیٰ دعوت قبول کړو، هغه ئے یو وګنړلو، د انبیاء کرامو علیهم السلام تصدیق ئے وکړو او د هغه په نازل کړی شریعت باندے ئے عمل وکړو د هغوی ځای به جنت وی، او کومو خلقو چه د هغه دعوت قبول نکړو، د قیامت په ورځ به په هیڅ طریقه ځان خلاص نکړے شی او جهنم ته به دیکه کړے شی.

ابن عاشورؒ وائی چه (لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا) دا استیناف بیانی دے یعنی جواب د سوال دے چه هغه راپیدا شویدے د (كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ) نه یعنی ددے مثالونه بیانولو څه فائده ده؟ نو جواب وشو چه فائده ئے دا ده چه دپاره د هغه کسانو چه د خپل رب خبره ئے منلے ده کله چه ورته هغه مثالونه بیانوی د هغوی دپاره جنت دے. نو ددے مناسبت د مخکنو دواړو مثالونو سره دے چه پدے کښ د مسلمانانو او د مشرکانو احوال بیانیږی.

او پدے جمله ذکر کولو کښ زیاته تنبیه ده په مثال بیانولو او په غرض د هغے. او پدے کښ د دواړو ډلو جزاء ذکر ده، مؤمنانو ددے مثالونو نه فائده واخسته، خبره ئے ومنله نو الله تعالیٰ ورته بدله په حسنیٰ سره ورکړه او مشرکانو اعراض وکړو او مثالونو کښ ئے سوچ ونکړو نو د دوی سزا لوی عذاب جوړ شو چه هغه بد حساب دے چه په انجام کښ جهنم ته تلل دی. نو د (اِسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ) معنیٰ ده اِسْتَجَابُوْا لِدَعْوَتِهٖ.

یعنی د الله تعالیٰ د هغه دعوت قبولوالے ئے کړیدے کوم چه په مخکنی مثال کښ ذکر دے. (التحریر والتنویر ۱۷۰/۱۲)

اَلْحُسْنٰی: یوه جامعه کلمه ده چه ډیر مطلبونه لری: ۱- اول جنت ته شامل دے.

۲- مَعِيْشَةً حُسْنیٰ. یعنی ښائسته ژوند لکه روستو سورة النحل کښ ورته حیاتِ طیّبه وئیلے شویدے. او دا یوه نکته ده چه د قرآن سره الله تعالیٰ د ښائسته ژوند تذکره کړیده لکه روستو به سورة النحل آیت (۹۷) کښ د قرآن سره د حیاتِ طیبه تذکره کړیده او په سورة طه آیت (۱۲۶) کښ دی: ﴿ وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِیْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا﴾ (څوك چه زما د ذکر (قرآن) نه اعراض وکړی نو د هغه دپاره به تنگ ژوند وی).

او پدے سورة کښ روستو آیت (۲۸) راځی ﴿اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ﴾ (خاص د الله په

ذکر سره مطمئن کیږی زړونه) ددې نه معلومه شوه چه د قرآن والو (عمل کونکو او لوستونکو) ډیر ښائسته ژوند دې، چه ددې نه بله مزیداره زندګی نشته.

لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا : دا مبتداء ده او خبرئې روستو جمله شرطیه ده (لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَا فِي الْاَرْضِ) او دویم خبرئې (اُولٰئِكَ لَهُمْ سُوْءُ الْحِسَابِ) دې. یعنی چاچه استجابت ونکړو نو دغه کسانو دپاره بد حساب دې. او پدې کښې اشاره ده چه دې دواړو ډلو ته نیکه او بده بدله د دوی د استجابت او نۀ استجابت په وجه ملاؤ شوه. (ابن عاشور وفتح البیان)

لَافْتَدَوْا بِهٖ : په سورة المائده (۳۶) آیت کښې ذکر شوی وو چه ﴿مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ﴾ د دوی نه به نۀ قبلیږی. او د روستو بد حساب نه هم معلومیږی چه فدیه ترې نۀ قبلیږی.

سُوْءُ الْحِسَابِ : حساب مناقشې ته وئیلې شی چه د هرې ذرې ذرې تپوس ترې وشی چه دا کار دې ولې کړې او څنګه دې کړې، او هیڅ جرم به ورته نۀ معاف کوی. او هر چا سره به د هغوی د اعمالو مطابق حساب کیږی.

الْمِهَادُ: ۱- یعنی بد ځای د وسیدو دې چه دوی به پکښې وسیږی.

۲- یا بده بستره ده چه دوی ته به په جهنم کښې خورولې شی. (فتح البیان)

أَفَمَنْ يَعْلَمُ أَنَّمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ
آیا پس هغه څوك چه پوهیږی چه بیشکه هغه کتاب چه نازل کړې شویدې تا ته
مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ أَعْمٰى
د رب ستا نه حق دې په شان د هغه چا (کیدې شی) چه هغه ړوند دې،
إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَابِ ﴿١٩﴾
یقیناً نصیحت اخلی عقلونو والا.

تفسیر : دا د مخکښې مثالونو بله نتیجه ده او د وحی عظمت پکښې ذکر دې، او د وحی د منلو او نۀ منلو اثر بیانیږی چه وحی دومره عظیم شې دې چه څوك ئې ومنی، داسې ښکلې صفات پکښې پیدا کیږی، او چه څوك ئې ونۀ منی نو دومره بد صفات پکښې پیدا کیږی.

او دا د (لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا) پورې هم متعلق دې چه استجابت والا څوك دی؟ هسې منل نۀ دی مراد بلکه استجابت دادې چه بنده کښې دا ښائسته صفات پیدا شی. او عدم

استجابت سره بد صفات پیدا کیږي۔
نو پدے رکوع کښ هم عِظْمَةُ الْوَحی دے، چه د وحی د منلو په وجه بنده کښ ځومره ښائسته صفات پیدا کیږي، د صحابه کرامؓ حال ته وګورئ چه کله ئے وحی ومنله، نو ځومره ښائسته صفات پکښ پیدا شول، او د الله تعالیٰ اولیاء ترے جوړ شول۔ نو قرآن ورله ځومره فائده ورکړه۔
نو کوم شخص چه قرآن مني او پدے یقین کوي او بیا ددے تابعداري کوي، آیا دا د هغه چا پشان کیدے شي چه د الله تعالیٰ وحی نهٔ مني، او د هغے مخالفت کوي، آیا دا دواړه برابر کیدے شي؟ هیڅکله نهٔ، او بیا د دوی دواړو دپاره جدا جدا بدلے بیانیږي۔
اشاره ده چه دا خبره مهٔ کوه چه که چا کښ ښه یا بد صفات پیدا شو نو څه به وشي؟ نو الله فرمائي چه په ښه صفاتو سره جنت ملاویږي او په بدو صفاتو سره بد انجام او جهنم ملاویږي۔ نو انسانانو کښ د الله تعالیٰ په نیز فرق چه راځي نو دا پدے صفاتو سره۔
أَفَمَنْ يَعْلَمُ : همزه د انکار دپاره ده او پدے کښ انکار دے په هغه چا چه د دواړو کسانو په مینځ کښ د مساوات ګمان کوي۔ (فتح البیان)
يَعْلَمُ : علم په معنیٰ د یقین سره دے۔ د (مَنْ يَّعْلَمُ) او اعمیٰ نه ځینو مفسرینو حمزه ﷺ او ابوجهل مراد کړیدي مګر غوره دا ده چه آیت په عموم حمل شي اګرکه سبب به ئے خاص وي۔
أَعْمٰى : ځوك چه پدے خبره نهٔ پوهیږي چه قرآن حق دے نو دهٔ ته ئے ړوند ووېلو ځکه چه ددے شخص په ښکاره شي باندے علم نشته نو د ړوند سره مشابه شو۔ (ابن عاشورؒ)

الَّذِيْنَ يُوْفُوْنَ بِعَهْدِ اللهِ وَلَايَنْقُضُوْنَ الْمِيْثَاقَ ﴿۲۰﴾
(دا) هغه کسان دي چه پوره کوي لوظ د الله تعالیٰ او نهٔ ماتوي دوی لوظ لره۔
وَالَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ مَا أَمَرَ اللهُ بِهٖ أَنْ يُّوْصَلَ
او هغه کسان چه یوځائے کوي هغه څه چه حکم کړیدے الله په هغے چه یوځائے دِے کړیشي
وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُوْنَ سُوْءَ الْحِسَابِ ﴿۲۱﴾ وَالَّذِيْنَ صَبَرُوْا
او یریږي د رب خپل نه او یریږي د بد حساب نه۔ او هغه کسان دي چه صبر کوي

ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلاةَ وَأَنْفَقُوْا مِمَّا
دپاره د طلب کولو د مخ د رب خپل او پابندی کوی د مانځه او خرچ کوی د هغې مال نه
رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً وَّيَدْرَؤُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ
چه ورکړيدي مونږ دوی ته په پټه او په ښکاره او دفعه کوی په نیکئ سره بدئ لره
أُولٰئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿۲۲﴾ جَنَّاتُ عَدْنٍ
دا کسان دوی لره ښهٔ انجام د کور د آخرت دے۔ چه جنتونه د همیشوالي دي،
يَّدْخُلُوْنَهَا وَمَنْ صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ
داخليږي به هغې ته او هغه څوك چه ملګرتیا ئے کړیوی د دوی د پلارانو نه او د بيبيانو نه
وَذُرِّيَّاتِهِمْ وَالْمَلٰئِكَةُ يَدْخُلُوْنَ عَلَيْهِمْ مِّنْ كُلِّ بَابٍ ﴿۲۳﴾
او د بچو د دوی نه او ملائك به داخليږي په دوی باندے د هرے دروازے نه۔ (وائی به)
سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴿۲٤﴾
سلام دِے وی په تاسو په سبب د هغې چه صبر کړے تاسو پس ښه دے انجام د کور روستنی۔

تفسیر : اُوس د قرآن والو او استجابت والو لس صفات راوړی يو (اولو الالباب) شو۔ او بیا د هغوی انجام بیانیږی۔

۳/۲- عهد الله : ددے نه مراد د الله تعالیٰ سره کړے وعدے دی په توحید او ایمان سره۔ او ټول اوامر او نواهی ترے مراد دی۔ او دا په عقلی او نقلی دلیلونو مضبوط کړے شویدے پدے وجه ورته میثاق هم وائی نو عهد او میثاق یو شے دے خو یو ثبوتی صفت شو او بل سلبی۔ یا د عهد الله نه مراد عهودِ الٰهیه دی او د اَلْمِیْثَاق نه مراد د بندګانو عُهود دی۔ او ددے آیت تشریح په سورة البقره (۲۷) آیت لاندے تیره شویده۔

٤- يَصِلُوْنَ مَا اَمَرَ اللّٰهُ : پدے کښې تمام حقوق الله او حقوق العباد داخل دی چه دوی هغې حفاظت کوی۔ په تمامو انبیاءِ کرامو علیهم السلام او په آسمانی کتابونو باندے ایمان لری، صله رحمی کوی، او د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو سره ئے د ایمان په سبب چه کوم تعلق قائم دے د هغې هم لحاظ ساتی لکه چه الله تعالیٰ فرمایلی دی : ﴿اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ﴾ چه

(مسلمانان خپل مينځ کښې ورونه دي). او د خپلو دوستانو، خادمانو، ګاونډيانو او د سفر ملګرو دلجوي کوي.
٥- وَيَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ : يعني په دين باندې عمل د خپل سرې توب دپاره نۀ کوي بلکه د الله خشيت په دوى باندې غالب وي، پدې وجه د الله تعالىٰ اوامرو باندې عمل کوي او د محرماتو او نواهيو نه ځان ساتي.
که څوك په دې عمل کوي هسې د مُرُوّت (سړيتوب) په وجه نو هغې له اعتبار نشته. ځکه چه خشية هغه خوف دې چه د تعظيم او معرفت سره وي.
٦- د قيامت په ورځ د حساب نه يريږي، پدې وجه د خپل نفس سره محاسبه او حساب کوي. ځکه چه څوك د بد حساب نه يريږي هغه ډير احتياط کوي.
٧- وَالَّذِينَ صَبَرُوا : د الله تعالىٰ په دين باندې عمل کولو کښې چه دوى ته کوم تکليف رسيږي په هغې باندې صبر کوي، په دردونو او مصيبتونو باندې هم صبر کوي.
صَبَرُوا : دا ماضي ده په معنىٰ د مضارع ده ځکه چه الذين موصول دې متضمن دې معنىٰ د شرط لره او شرط که په ماضي هم داخل شي معنىٰ ئې د مضارع وي.
ابۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِمۡ : دا په عرف کښې استعماليږي چه ((ما ستا د مخ د خاطره دا کار وکړو)) مراد ترې نه رضا وي. او وجه د الله تعالىٰ حقيقي صفت دې. او دا که په ظاهر پريخودې شي هم اشکال نشته، وجه دا ده چه دوى صبر کړيدې دپاره د طلب د مخ د الله تعالىٰ چه د الله تعالىٰ مخ دوى ته حاصل شي او د هغه ديدار وکړي او هغه ويني. او د الله تعالىٰ مخ هغه چا ته حاصليږي چه الله تعالىٰ ترې راضي شي. او (اِبۡتِغَاءَ وَجۡهِ رَبِّهِمۡ) ئې ولې ووئيلو؟ وجه دا ده چه صبر ډاکوان او غلۀ هم کوي ليکن د دنيا د حاصلولو دپاره، او د دنيا کاروکسب والائې هم کوي ليکن د مال د ګټلو دپاره، بعض خلك صبر د خپل سړيتوب دپاره کوي، يا د خلکو نه يريږي. ډير انسانان خپل وقار نۀ خرابوي غلط کار نکوي، يريږي چه خلك راپسې خبرې ونکړي. يا دشمنان راباندې خوشحاله نشي، يا خلك ئې صفت وکړي، نو دې کښې هم اجر نشته، نو په صبر کښې هم اخلاص ضروري دې.
٨- وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ: پنځه وخته د مانځه په خپل وخت کښې د خشوع او خضوع سره او د سنت مطابق ادا کوي.
٩ - وَأَنفَقُوا: د الله تعالىٰ د ورکړې مال نه د هغه په لاره کښې په پټه او په ښکاره خرچ کوي، کله چه پټې ته ضرورت وي نو په پټه ئې ورکوي او که ښکاره ورکولو کښې فائده وي

بیائے ښکاره ورکوی، او نفلی او فرضی دواړه ورکوی۔
۱۰- وَيَدْرَؤُونَ بِالْحَسَنَةِ: د بدیٔ جواب په نیکیٔ سره ورکوی، د جاهلانو بد اخلاق په نیکو اخلاقو دفع کوی۔ ❁ د ګناه نه روستو نیکی کوی۔ ❁ څوك چه ورسره ظلم کوی نو معاف کوی ئے۔ ❁ څوك چه تعلق کټ کوی، د هغهٔ سره تعلق قائموی۔ ❁ د حسنه نه مراد توبه ده او د سیئه نه مراد ګناه ده۔
او پدے جمله کښ اشاره ده چه د الله تعالیٰ اولیاء دے ته نهٔ وائی چه د هغوی نه به هیڅ ګناه نهٔ کیږی بلکه دوی نه به ګناه هم کیږی خو کمال ئے دا وی چه په دغه ګناه باندے همیشوالے نهٔ کوی بلکه دا په نیکیٔ باندے بدله کړی۔
رسول الله ﷺ به چه چا ته یوه تیزه خبره وکړه نو بیا به ئے د هغهٔ سره احسان کولو۔ دوه صحابه کرامؓ ته یو کرت غصه شو بیائے ورله هدیه ورکړه۔ اګرکه د رسول الله ﷺ غصه هم د دین د خاطره وو۔ او د رسول الله ﷺ حدیث هم ددے نه اخستے شویدے چه هغه فرمائی: [اِتَّقِ اللّٰهَ حَيْثُمَا كُنْتَ وَاَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا] د الله نه هر ځای یره کوه او د بدیٔ پسے روستو نیکی کوه نو هغه به ختموی۔
عُقْبَى الدَّار: یعنی نیك انجام د کور دے چه هغه جنتونه دی۔ (جَنَّاتُ عَدْنٍ) بدل دے د عُقْبَى الدَّار نه۔
وَمَنْ: یعنی (يُدْخِلُ مَنْ صَلَحَ): یعنی د دوی سره به د دوی پلاران نیکونه، ښځے او اولادو جنت ته داخلیږی کومو چه په دنیا کښ د دوی موافقت کړیدے په نیکیٔ او تقویٰ او صحیح عقیده کښ۔ یعنی دا خبره ورسره ښځے او بچو منلے ده۔
ددے جملے دوه فائدے دی (۱) اوله فائده دا ده چه پدے کښ بشارت دے په اجتماعیت سره یعنی ته به یو اځے نهٔ ځے بلکه تا سره به پلاران او بچی هم جنت ته داخلیږی لکه انسان په دے خلکو باندے زیات خوشحالیږی۔
(۲) فائده: که یو پلار یا ښځه یا بچے د نیك عمل په لحاظ کمزورے دے او توحید او ایمان پکښ شته نو الله تعالیٰ به ددهٔ د نیك عملیٔ او د اکرام د وجه نه هغه هم ددهٔ سره په جنت کښ یو ځای کوی۔ لکه دا معنیٰ د سورة الطور آیت (۲۱) نه معلومیږی
﴿اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا اَلَتْنَاهُمْ مِنْ عَمَلِهِمْ مِنْ شَيْءٍ﴾۔
(پیوسته به کړو د دوی سره بچی د دوی او کم به نکړو د دوی د عملونو نه هیڅ شے)۔
او دا تفسیر د ابن عباس ؓ نه نقل دے۔ او واحدیؒ هم همدے رائے ته ترجیح ورکړیده۔

مِنۡ آبَائِهِمۡ : ددې درې قسمه کسانو تخصیص ئې ولې وکړو؟ نو وجه دا ده چه انسان ته پدې حسد ورځي چه نور کسان ددهٔ سره په یو نعمت کښې شریك شي، مګر پلار او ځوی او ښځه یا خاوند ته حسد نهٔ ورځي۔

وَالۡمَلٰئِكَةُ : یعنې کله چه جنت ته داخل شي نو ملائك به د دوی خوا ته راځي او دوی ته به سلام کوي او وائي به چه دا همیشه سلامتي الله تعالیٰ تاسو ته پدې بدله کښې درکړیده چه تاسو په دنیا کښې د صبر او استقامت سره د هغه په دین باندې عمل کولو۔

صَبَرۡتُمۡ : دا ټول مخکښې کارونه ډیر صبر ته ضرورت لري نو صبر د هر عمل دپاره پنډئ ده چه هیڅ عمل بغیر د صبر نه نهٔ شي حاصلیدې۔ او صبر نیمائي ایمان دې، او ایمان د هرې خبرې بنیاد دې۔

او دې خلکو کښې دا کمالات د الله تعالیٰ کتاب راپیدا کړل۔

وَالَّذِيۡنَ يَنۡقُضُوۡنَ عَهۡدَ اللّٰهِ مِنۡۢ بَعۡدِ مِيۡثَاقِهٖ وَيَقۡطَعُوۡنَ
او هغه کسان چه ماتوي لوظ د الله تعالیٰ روستو د مضبوط والي د هغې نه او پریکوي
مَاۤ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖۤ اَنۡ يُّوۡصَلَ وَيُفۡسِدُوۡنَ فِي
هغه چه حکم کړیدې الله په هغې سره چه پیوسته دې کړې شي او فساد کوي په
الۡاَرۡضِ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوۡٓءُ الدَّارِ ﴿۲۵﴾ اَللّٰهُ يَبۡسُطُ الرِّزۡقَ لِمَنۡ
زمکه کښې، دا کسان دوی لره لعنت دې او دوی لره بد کور دې۔ الله فراخوي رزق چا لره
يَّشَآءُ وَيَقۡدِرُ وَفَرِحُوۡا بِالۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا وَمَا الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا
چه اُوغواړي او کموي ئې، او خوشحاله دي دوی په ژوند دنیوي او نهٔ دې ژوند دنیوي
فِي الۡاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ ﴿۲۶﴾
په مقابله د آخرت کښې مګر لږه فائده۔

تفسیر : اُوس د (كَمَنۡ هُوَ اَعۡمٰى) تفصیل دې او دا هغه زګ والا خلك دې، یعنې پدې آیت کښې د بې ایمانه خلکو صفات او د هغوی انجام بیانیږي چه کوم خلق د الله سره د کړو وعدو او لوظو نو خیال نهٔ ساتي، او د کومو اوامرو او نواهیو چه دوی ته حکم شویدې په هغې باندې عمل نهٔ کوي، او د کومو تعلقاتو او رشتو او د قرابتونو د یوځای والي چه دوی

ته نصیحت شویدے د هغے خیال نهٔ ساتی، او د کفر او گناهونو په ذریعه په زمکه کښې فساد خوروی داسے خلق د الله تعالیٰ د لعنت مستحق گرځی، او د قیامت په ورځ به د دوی ځای جهنم وی۔

وَالَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ : پدے کښې هغه خلك داخل دی چه په عالَم الذرّ کښې د کړے وعدے خلاف ئے کړیدے، او یهود پکښې داخل دی چه وعده ئے ماته کړے وه او هر کافر پکښې داخل دے چه میثاق الفطرة ئے مات کړیدے۔

او د قرآن نازلول د الله تعالیٰ وعده ده چه د دوی نه اخستے شویده لیکن ډیرو ماته کړیده۔ او ددے آیت تفصیل په سورة البقره آیت (۲۷) کښې وګوره۔

اَنْ يُّوْصَلَ : دے کښې ټول حقوق الله او حقوق العباد داخل دی، د الله بندګی، صله رحمی قطع کول او د مور او پلار حق پریکول۔

وَيُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ: ۱- یعنی فساد کوی په زمکه کښې په دعوت سره غیر الله ته ۲- او په ګناهونو کولو سره۔

اللَّعْنَةُ : دا لعنت په دنیا او آخرت دواړو کښې مراد دے۔

اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ : پدے آیت کښې د دنیا بی رغبتی او د دنیا په محبت زجر ورکوی۔

مناسبت ئے واضح دے چه الله تعالیٰ قرآن راولیږلو مؤمنانو وومنو نو کافرانو وویل چه تاسو څنګه مونږ نه غوره یئ حال دا چه مونږ ته دنیا راکړے شویده۔ ﴿ اَىُّ الْفَرِيْقَيْنِ اَحْسَنُ مَقَامًا وَّاَحْسَنُ نَدِيًّا﴾ (مریم :۷۳) دے خلکو معنویاتو لره اعتبار نهٔ ورکولو بلکه ظاهربین وو د دنیا مزو په دهوکه کښې راوستی وو، نو الله تعالیٰ پدے آیت کښې په هغوی باندے رد کوی، چه دنیاوی رزق تقسیم دے، الله تعالیٰ د کافر په رزق کښې فراخی پیدا کوی، ګویا که د هغه رسیٔ سستولے شی دے دپاره چه په کفر او ګناهونو کښې نور هم مخکښې لاړ شی او د مؤمن بنده په رزق کښې تنګی پیدا کوی، او مقصد پدے سره د هغهٔ ازمینښت وی، په رزق کښې فراخی د الله د طرف نه د کافر د اعزاز او اکرام دلیل نهٔ وی، او نهٔ تنګی د رزق د مؤمن د تذلیل او اهانت دلیل دے۔

او پدے کښې دا خبره هم په ذهن کښې کینول مقصد دے چه که کافرانو ته ټوله دنیا ورکړے شوه څه به وشی؟ هغه خو فانی کیدونکے ده، (او رزق هم د الله په مشیت سره حاصلیږی که د چا رزق فراخه شی یا تنګ شی د تاوان او د کامیابیٔ خبره نهٔ ده، او د انسان کمال او نقصان ته پکښې څه دخل نشته بلکه دا د الله د طرفنه ورکړے کیږی، غیر اختیاری

شے دے، د الله په حکمت بناء دے) او یو مومن ته د ایمان او ښائسته صفاتو په وجه چه کوم جنت ورکړے شو نو دا همیشه کامیاب شو۔

نو پدے آیت کښ فرق بیانوی د قرآن او د دنیا ترمینځ۔

وَفَرِحُوا بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا : دلته د خوشحالئ نه مراد د تکبر او ناز په طریقه خوشحالی ده چه دا ناروا ده، او هسے طبعی طور سره په دنیا باندے بغیر د تکبر کولو نه خوشحالی ناروا نۀ ده۔

وَفَرِحُوا اَیْ وَجَهِلُوا مَا عِنْدَ اللّٰهِ ۔ یعنی دوی په دنیا خوشحاله دی او د الله تعالیٰ سره چه په آخرت کښ کوم نعمتونه دی د هغے نه ناخبره دی۔ حال دا چه د آخرت کامیابی او د جنت د حاصلولو په مقابله کښ د دنیا د خوندونو هیڅ حیثیت نشته دے۔

مفسرینو ددے نه دلیل نیولے دے چه په دنیاوی کامیابو باندے تکبر او مستی کول حرام دی۔ ترمذیؒ د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روایت کړیدے چه یوه ورځ رسول الله ﷺ په چټائی (بزګی) باندے اُوده شو نو د هغۀ په اړخ باندے د هغے نخه پریوته۔ صحابه کرامؓ عرض وکړو، مونږ ستا دپاره نرمه بستره خورول غواړو۔ نبی ﷺ وفرمایل :

[مَا لِيَ وَلِلدُّنْيَا، مَا اَنَا وَالدُّنْيَا، اِنَّمَا مَثَلِيْ وَمَثَلُ الدُّنْيَا كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا] (الترمذی واحمد۳۷۰۹ واسناده صحیح)

((زما د دنیا سره څه مطلب، په دنیا کښ زما مثال د هغه سور مسافر دے چه یو ساعت د یوے ونے سوری لاندے ایساریږی بیا روانیږی))۔

او مسلمؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ او ابن ماجهؒ د مستورد ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : [وَاللّٰهِ مَا الدُّنْيَا فِي الآخِرَةِ اِلَّا مِثْلُ مَا يَجْعَلُ اَحَدُكُمْ اُصْبُعَهُ هٰذِهِ -وَاَشَارَ يَحْيٰى بِالسَّبَّابَةِ- فِي الْيَمِّ فَلْيَنْظُرْ بِمَ يَرْجِعُ]

((د دنیا مثال د آخرت په مقابله کښ داسے دے لکه څوک چه خپله ګوته په دریاب کښ دوبه کړی بیا ئے راوباسی، د هغه په ګوته پورے به څومره حصه اُوبه راشی او نبی ﷺ په خپله مسواکئ ګوتے سره اشاره وکړه))۔ (مسلم : ۷۳۷۶)

وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَا اُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ
او وائی هغه کسان چه کفرئے کړیدے ولے نشی نازلیدے په دۀ باندے معجزه

مِّنۡ رَّبِّهٖ قُلۡ اِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنۡ يَّشَآءُ
د رب د طرف نه، اُووایه یقیناً الله گمراه کوی چا لره چه اُوغواړی
وَيَهۡدِىۡۤ اِلَيۡهِ مَنۡ اَنَابَ ﴿۲۷﴾
او هدایت کوی ځان طرفته د هغه چا چه ورګرځی الله ته۔

تفسیر : د وحی خبره شروع ده نو اُوس بیا د مکے کافرانو خبره رانقل کیږی او هغوی ته د معجزاتو په طلب کولو زجر ورکوی۔ دوی به وئیل چه که تهٔ د الله نبی ئے نو د موسیٰ او عیسیٰ (علیهما السلام) په شان معجزات ولے نهٔ راوړے، یا هغه څیزونه ولے نهٔ راوړے کوم چه مونږ غواړو۔ (د حکمة خلاف معجزات ئے غوښتل) او د دوی مقصد خالص تکبر او عناد وو، د دوی نیت دا نهٔ وو چه د هغے په لیدو سره به دوی ایمان راوړی۔
بلکه مقصد ئے دا وو چه قرآن مهٔ بیانوه۔
الله تعالیٰ دوی ته جواب ورکوی چه د قرآن په شان معجزه موجوده ده نو بلے معجزے طلب کولو ته څه ضرورت دے، که تاسو کښې انابت وی نو دا یو دلیل هم کافی دے، او که ضد درکښې وی نو ډیر دلیلونه به راشی خو وبه ئے نهٔ منئ، او مقصد دا دے چه تاسو ځان کښې انابت پیدا کړئ نو پدے قرآن درته هدایت کیږی، دا کافی معجزه ده او تاسو چه کله ضد کوئ نو ضدیان الله تعالیٰ گمراه کوی اګرکه هرڅومره معجزات ئے مخے ته راشی، یعنی ضدی ته په نخو راوړو هدایت نهٔ کیږی او انابت والا دپاره دا قرآن کافی دے۔
مَنۡ اَنَابَ : یعنی څوك چه الله ته راګرځی هغه ته الله تعالیٰ هدایت کوی نو ددے برعکس دا دے چه ضدی انسان ته هدایت نهٔ کوی۔ معلومیږی چه د دوی دا اعتراض په عناد باندے بناء دے، ورنه دوی به دا قرآن منلے وے او ددے په ځای به ئے د نورو نښو مطالبه نهٔ کولے۔

منیب چا ته وائی؟

منیب : ۱- اَلَّذِیۡ یَدُوۡرُ مَعَ الۡحَقِّ حَیۡثُ دَارَ۔ د حق سره ګرځی چرته چه حق وی۔
۲- انابة : کَیۡفِیَّةٌ قَلۡبِیَّةٌ فِیۡهَا الرُّجُوۡعُ اِلَی اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالۡعُکُوۡفُ عَلَیۡهِ۔
انابت د زړه یو کیفیت دے چه په هغے کښې الله تعالیٰ ته رجوع وی او په الله باندے زړه راجمع شی۔ لکه سورة الروم آیت (۳۳) کښې به راشی۔ ﴿وَاِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوۡا رَبَّهُمۡ

مُنِيبِيْنَ اِلَيْهِ﴾

(او كله چه ورسيږي انسانانو ته تكليف، رابلي رب خپل انابت كونكي وي هغۀ ته).
لكه په تكليف كښ د انسان زړۀ الله تعالىٰ ته څنګه متوجه وي دغه د انابت حالت دے.
دلته د منيب نه مراد د حق طلبګار دے.

اَلَّذِيْنَ آمَنُوْا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ
(دا) هغه كسان دي چه ايمان ئے راوړيدے او اطمينان نيسي (تسلي اخلي) زړونه د دوي
بِذِكْرِ اللهِ أَلَا بِذِكْرِ اللهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ﴿٢٨﴾ اَلَّذِيْنَ
په ذكر د الله تعالىٰ خبردار په ذكر د الله سره اطمينان نيسي زړونه. هغه كسان
آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ طُوْبىٰ
چه ايمان ئے راوړيدے او عملونه كوي نيك، خوشحالي ده (ښائسته حالت دے)
لَهُمْ وَحُسْنُ مَآبٍ ﴿٢٩﴾
دوي لره او ښائسته ځاى د واپسئ دے.

تفسير: دے ځاى نه د منيبينو (الله طرفته رجوع كونكو) صفات راوړي.
اَلَّذِيْنَ آمَنُوْا : ١- دا بدل دے د (مَنْ اَنَابَ) نه نو د يَهْدِيْ د لاندے دے. يعني الله تعالىٰ هدايت كوي منيبينو ته يعني هغه خلكو ته چه ايمان راوړي او تصديق كوي. او دا ظاهر تركيب دے. ٢- ځيني وائي چه اَلَّذِيْنَ آمَنُوْا خبر د مبتداء محذوف دے اَىْ هُمُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا. دا منيبين هغه خلك دي چه ايمان راوړي.
تَطْمَئِنُّ : اطمينان د زړۀ يقين او سكون ته وائي چه د پريشانئ نه په آرام شي.
تَطْمَئِنُّ ئے مضارع راوړه اشاره ده استمرار تجددي ته يعني د ايمان نه روستو وخت په وخت د دوي په زړونو كښ اطمينان راځي.
كرخيؒ وئيلي دي چه په مضارع كښ كله د يوے مُعيّنے زمانے لحاظ نۀ وي لكه د حال يا د استقبال، نو په دغه وخت كښ به په استمرار باندے دلالت كوي لكه پدے آيت كښ شو.
سيوطيؒ وائي چه دا خبره په ډيرو ځايونو كښ فائده وركوي. (فتح البيان)

د ذکر الله مطلبونه

۱- بعید مطلب دا دے چه د ذکر الله نه مراد قسم دے۔ یعنی کله چه یو مؤمن ته قسم وشی چه قسم په الله ما دا کار نهٔ دے کړے نو د هغهٔ اطمینان راشی۔ او دا به د مؤمن صفت وی چه د الله په نوم به یقین لری اگر که ددهٔ مخالف قسم خور به دروغجن وی، دے به د الله نوم ته گوری، نهٔ دنیا او مال وغیره ته۔ عیسیٰ ﷺ یو تن ولیدو چه غلا ئے کوله نو هغهٔ ورته وویل چه اے فلانیه غلا دِے وکړه۔ نو هغهٔ وویل: [وَاللّٰهِ الَّذِیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ مَا سَرَقْتُ] قسم په هغه الله چه د هغهٔ نه سویٰ بل حقدار د عبادت نشته، ما غلا نهٔ ده کړے۔ عیسیٰ ﷺ وفرمایل: [آمَنْتُ بِاللّٰهِ وَكَذَّبْتُ بَصَرِیْ] ما د الله نوم ومنلو او خپلے سترگے مے دروغجنے کړے۔ (احمد: ۸۹٦۱) والنسائی (۵٤۲۷ وسنده صحیح- البانی) او دغه شان واقعه د رسول الله ﷺ سره هم راغلے وه۔ (المطالب العالیه: ۱۷۷٦) او په حدیث د ابن ماجه کښ دی:

[وَمَنْ حُلِفَ لَهٗ بِاللّٰهِ فَلْیَرْضَ وَمَنْ لَمْ یَرْضَ بِاللّٰهِ فَلَیْسَ مِنَ اللّٰهِ]

او چا ته چه په الله باندے قسم وکړے شو نو هغه دِے راضی شی او څوك چه په الله باندے راضی نشی نو هغه د الله (د صحیح بندگانو) نه نهٔ دے۔ (ابن ماجه: ۲۱۰۱ وسنده صحیح)

۲- اَیْ ذِکْرُ رَحْمَتِهٖ۔ ذکر نه مراد د الله تعالیٰ رحمتونه یادول دی، د الله تعالیٰ د رحمتونو تذکرے چه کله کیږی نو مؤمن بنده طمع پیدا شی چه الله تعالیٰ به په مونږ باندے رحم کوی او بخنه به کوی۔ او پدے طریقه ئے زړهٔ ته اطمینان راشی۔ یعنی که څوك ورته د الله تعالیٰ نعمتونه یاد کړی یا ئے خپل ځان ته رایاد کړی۔ دا مطلب د مخکښ نه غوره دے۔

۳- د ذکر نه مراد تسبیحات او شرعی اذکار دی چه مؤمن کله دا وائی نو پدے ئے یقین وی چه دغه شان به کیږی او زړهٔ ئے پدے مطمئن وی چه الله تعالیٰ به مو ددے اذکارو په وجه د مصیبتونو نه ساتی۔

٤- یا د ژبے او د زړه او د عباداتو ټولے طریقے مراد دی چه پدے سره انسان ته سکون حاصلیږی۔ چونکه الله تعالیٰ انسان لره د خپل عبادت دپاره پیدا کړیدے، پدے وجه د هغهٔ زړهٔ ته صرف د هغهٔ په یاد سره سکون ملاویدے شی۔

۵- اعلیٰ دا ده چه د ذکر نه مراد قرآن کریم دے۔ لکه الله تعالیٰ قرآن کریم ته په ډیرو ځایونو کښ ذکر وئیلے دے۔ ﴿وَهٰذَا ذِکْرٌ مُّبٰرَكٌ اَنْزَلْنٰهُ﴾ (انبیاء: ۵۰) ﴿اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّکْرَ﴾ (الحجر: ۹) نو مؤمن بنده ته چه کله په یوه مسئله کښ وویل شی چه دا خبره فلانی کړیده

نو دومره اطمينان ئې نۀ کيږي خو کله چه ورته وويل شي چه دا خبره په قرآن کريم کښې راغلې ده نو بس د هغۀ زړه اطمينان وکړي۔

او دا دليل دے چه څوك د الله تعالىٰ په کتاب او سنتِ رسول باندے اطمينان کوي هغه به مؤمن وي، او ددے په خلاف که د چا په قرآن او سنت باندے تسلي نۀ کيږي، او د بعض علماؤ په بې دليله خبره ئې تسلي کيږي نو ددۀ په ايمان کښې نقصان دے۔

پدے وجه علماؤ ليکلي دي چه د قرآن کريم تلاوت، د هغے آوريدل، او په هغے کښې سوچ او فکر کول، دا د ذکر الهي ډيرے مفيدے طريقے دي۔

أَلَا: دا حرف د زيات متوجه کولو دپاره په اول د کلام کښې راځي يعني اے خلکو ! ويښ شئ او خبرے ته متوجه شئ۔

بِذِكْرِ اللهِ: دا جار مجرور ئې مخکښې راوړو پدے کښې اشاره ده حصر ته۔ يعني صرف او صرف د الله په ذکر زړونو ته اطمينان رسي نۀ په بل شي سره۔

د ذکر دپاره ئې اطمينان ذکر کړو ځکه چه زړۀ الله تعالىٰ محتاج اندام پيدا کړيدے ظاهراً او باطناً، ظاهراً احتياج ئې دا دے چه زړۀ ته دوه پنکهے لګيدلي دي يو ورته يخه هوا دننه ننباسي او بله ګرمه هوا راوياسي۔ که دا بند شي نو دوه درے مينټه کښې انسان مري۔ او زړۀ کښې باطني احتياج دادے چه زړه هميشه بې چينه، بې اطمينانه، پريشانه وي مګر هله چه دا څه ته تکيه ولګوي نو د انسانانو طريقه دا ده چه زړۀ ته د مال په ذريعه تکيه طلب کوي، حال دا چه په هغے سره اطمينان نۀ راځي اګرکه هسے پرے نشه شي۔ ځوان وائي چه په ښځے سره به اطمينان راشي، اګرکه پدے سره معمولي غوندے سکون حاصليږي مګر پوره نۀ حاصليږي۔ بعض خلك اطمينان په حکومتونو او بادشاهيانو کښې ګوري، او بعض ئې په چکرو او سيالونو کښې، ليکن د هغے سره پريشانئ ملګري دي، د زړۀ د سکون صرف يوه ذريعه ده چه هغه د الله تعالىٰ ذکر دے۔ يعني د چا چه د دين سره تعلق وي د هغه زړۀ کښې اطمينان وي او په هغے کښې چه بيا څوك څومره زيات تعلق د ذکر او عباداتو سره لري اطمينان به ئې زيات وي۔

حافظ ابن القيمؒ هم دا معنىٰ ادا کړيده ۔

نَقِّلْ فُؤَادَكَ حَيْثُ شِئْتَ مِنَ الْهَوٰى	❁	وَاخْتَـرْ لِنَـفْسِكَ أَحْسَنَ الْإِنْسَـانِ
فَالْقَلْبُ مُضْطَرٌّ إِلٰى مَحْبُوْبِهِ الْأَ	❁	عَـلٰـى فَلَا يُغْنِيْـهِ حُبٌّ ثَـانِ

وَصَلَاحُهٗ وَفَلَاحُهٗ وَنَعِيْمُهٗ	❁	تَجْرِيْدُ هٰذَا الْحُبِّ لِلرَّحْمٰنِ
فَاِذَا تَخَلّٰى مِنْهُ اَصْبَحَ حَائِرًا	❁	وَيَعُوْدُ فِيْ ذَا الْكَوْنِ ذَا هَيْمَانِ

زړه دے چه کوم ځای خوښ وی هلته نقل کړه، او ځان دپاره ښکلے انسان منتخب کړه، ❁ ځکه چه زړه اعلیٰ محبوب طلب کولو ته محتاج دے، هغهٔ له بل محبت فائده نشی ورکولے۔
❁ او د انسان جوړوالے (نیکی) او کامیابی او نعمتونه دا دی چه دا محبت د رحمٰن دپاره خالص کړی۔ ❁ نو کله چه ددهٔ زړهٔ د الله د مینے نه خالی شی نو حیران به وګرځی او پدے عالَم کښ به پریشانه وی۔
اَلَّذِيْنَ آمَنُوْا : یعنی کله چه زړونو ته اطمینان ورسیږی نو بیا نیك عملونو ته متوجه شی او په هغے کښ مصروف شی او د الله بندګیانے ورله خوند ورکوی او ددے نه بغیرئے هیڅ وخت نهٔ تیریږی او دا به څه ایمان وی چه د ډانګی په زور عباداتو ته راځی۔
طُوْبٰى لَهُمْ : ۱- دا په جنت کښ یوه ونه ده چه الله تعالیٰ په خپل لاس ناله کړیده نو ددے وجه نه ددے مبتداء جوړیدل صحیح دی، علمیت پکښ دے۔ بیائے حاصل معنیٰ د جنت ده لکه حُسْنُ مَآبٍ ئے تفسیر دے۔ ۲- ظاهر دا ده چه دوه جزاګانے دی په دنیا کښ طوبیٰ او په آخرت کښ حُسْنُ مَآب دے۔ نو د طوبیٰ نه مراد (عَيْشَةٌ طَيِّبَةٌ وَحَالَةٌ مُسْتَطَابَةٌ) دے، (ابن الانباری) یعنی مزیدار ژوند او ښه حالت۔ لکه سورة النحل کښ فرمائی :
﴿ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً ﴾ (النحل:۹۷) او طوبیٰ ټولو نعمتونو ته شامل دے۔
ځینی مفسرینو ئے لاندینۍ معانی کړیدی : ❁ (خَيْرٌ لَّهُمْ) (غوره والے دے دوی لره)
❁ او ځینو په (كَرَامَةٌ لَّهُمْ) (عزتونه به وی دوی لره) ❁ او ځینو په [غِبْطَةٌ لَّهُمْ] (دوی ته پسخیدل کیږی) سره معنیٰ کړیده۔ ❁ ابن عباسؓ ئے معنیٰ کوی : [فَرَحٌ لَّهُمْ وَقُرَّةُ أَعْيُنٍ] (خوشحالی ده دوی لره او د سترګو یخوالے دے)۔ (فتح البیان)
مَآبٍ : (اَیْ مَرْجِعٌ) ښائسته ځای د واپس کیدو۔

كَذٰلِكَ اَرْسَلْنٰكَ فِيْۤ اُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَاۤ اُمَمٌ
دغه شان لیږلے ئے مونږ تهٔ پداسے امت کښ چه تیر شویدی مخکښ ددے نه امتونه
لِّتَتْلُوَا۟ عَلَيْهِمُ الَّذِيْۤ اَوْحَيْنَاۤ اِلَيْكَ وَهُمْ
دے دپاره چه تهٔ اُولولے په دوی باندے هغه کتاب چه وحی کړیده مونږ تا ته او دوی

يَكۡفُرُونَ بِالرَّحۡمٰنِ قُلۡ هُوَ رَبِّىۡ لَا إِلٰهَ إِلَّا
انکار کوی د رحمٰن (د بندګئ) نه، اُووایه الله رب زما دے نشته حقدار د بندګئ سوی
هُوَ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ مَتَابِ ﴿۳۰﴾
د هغهٔ نه خاص په هغه باندے ما ځان سپارلے دے او خاص هغهٔ ته واپس کيدل دی زما۔

تفسیر : كَذٰلِكَ أَرۡسَلۡنَاكَ: ۱- دا تشبیه ده، مشبه ئے پټه ده، [اَیۡ كَمَا اَنَّ اللّٰهَ يَهۡدِیۡ وَيُضِلُّ كَذٰلِكَ اَرۡسَلۡنَاكَ نَهۡدِیۡ بِكَ مَنۡ نَشَاءُ وَنُضِلُّ بِكَ مَنۡ نَشَاءُ] لکه څنګه چه الله تعالیٰ هدایت کوی او څوك ګمراه کوی نو تهٔ ئے هم راولیږلے ستا په وجه به چا ته هدایت وکړی او څوك به ګمراه کړی۔ ۲- صاحب د فتح البیان لیکی چه کله تشبیه د تعظیم او کمال دپاره وی، [اَیۡ مِثۡلَ ذٰلِكَ الۡاِرۡسَالِ الۡعَظِیۡمِ الشَّاۡنِ الۡمُشۡتَمِلِ عَلَى الۡمُعۡجِزَةِ الۡبَاهِرَةِ اَرۡسَلۡنَاكَ اِرۡسَالًا لَهٗ شَاۡنٌ] یعنی د دغه لوی شان او مرتبے والا رالیږلو په شان چه په قوی معجزه باندے مشتمل دے مونږ تهٔ راولیږلے په داسے رالیږلو سره چه ډیر لوی شان لری۔

۳- یا مطلب دا دے چه لکه څنګه چه پخوانو خلکو باندے انعام شوے وو په رالیږلو د رسولانو نو دغه شان مونږ په موجوده خلکو انعام وکړو په رالیږلو ستا سره۔

(القرطبیؒ وفتح البیان)

٤- یا کاف اجلیه دے او معنیٰ دا ده چه هرکله چه د زړونو د اطمینان ذریعه د الله تعالیٰ ذکر یعنی وحی ده نو مونږ ته د وحی د بیانولو دپاره راولیږلے۔ (احسن الکلام)

نو پدے آیت کښ د رسول الله ﷺ صدق او د هغه د رالیږلو حکمت ذکر دے، او د وحی خلاصه پکښ ذکر ده چه هغه توحید دے۔ مطلب د آیت دا دے : لکه څنګه چه مونږ مخکښ ډیر انبیاء لیږلی دی، اُوس مونږ تهٔ رالیږلے ئے، دے دپاره چه تهٔ قریش کافرانو او نورو خلقو ته هغه قرآن ولولے چه ستا دپاره د الله تعالیٰ د ټولو نه لویه معجزه او د انسانانو دپاره د الله رحمت دے۔ لیکن کافران د هغه ذات باری تعالیٰ نه انکار کوی چه د هغه یو صفت ((رحمٰن)) هم دے او هغه ذات چه د خپل دے صفت د رحمت د تقاضے مطابق ئے د انسانانو د هدایت دپاره قرآن کریم نازل کړیدے، او نبی ﷺ ئے رحمة للعالمین جوړولو سره رالیږلے دے۔ لکه چه الله تعالیٰ په سورة الانبیاء آیت (۱۰۷) کښ فرمایلی دی : ﴿وَمَا اَرۡسَلۡنَاكَ اِلَّا رَحۡمَةً لِلۡعَالَمِیۡنَ﴾ چه (مونږ تا لره د ټول جهان دپاره رحمت رالیږلے دے)۔ په آیت

کښې دے ته اشاره ده چه د قریشو کافرانو د وحې نعمت شکر ادا نکړو۔
قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَا : یعني مخکښو امتونو د پیغمبرانو تکذیب کړے وو او ستا دے قوم د هغوی نه ستا زیات تکذیب وکړو نو هغوی ته مونږ سزا ورکړه نو ستا قوم ته به هم سزا ورکړو۔ (ابن کثیرؒ)
وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمٰنِ : مشرکانو د رحمٰن نه درے قسمه انکار کولو (۱) یو ئے د رحمٰن د نوم نه انکار کولو او دا به ئے ویل چه [لَا نَعْرِفُ الرَّحْمٰنَ اِلَّا رَحْمٰنَ الْيَمَامَةِ] مونږ د یمامے د رحمٰن نه علاوه بل رحمٰن نۀ پیژنو۔ (یعني مسیلمة الکذاب ته به ئے رحمٰن وئیلو) او مشرکانو ته به وویل شو : ﴿وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ﴾ (الفرقان : ٦٠) (کله چه وویل شی دوی ته چه سجده وکړئ رحمٰن ته نو دوی وائی چه رحمٰن څوک دے؟) د رحمٰن د نوم نه به ئے نفرت کولو او حال دا چه رحمٰن د الله تعالیٰ ډیر خوږ نوم او عظیم صفت دے، پدے وجه ددے نه انکار کول په الله تعالیٰ باندے ډیر بد لګی نو ځکه ئے په قرآن کریم کښې بار بار په مشرکانو ردونه کړیدی۔
او دا معلومه شوه چه د الله تعالیٰ د یو صفت نه هم انکار کفر دے۔ الله تعالیٰ ورته کافر وویل۔ اګرکه دے خلکو الله تعالیٰ منلو مګر ددے یو صفت نه ئے منکر وو۔
د صلح حُدیبیه په موقع ئې وئیلی وو چه مونږ ((رحمٰن)) نۀ پیژنو، نو رسول الله ﷺ د هغې په ځای ((الله)) لیکلو باندے اکتفاء وکړه۔ (بخاری) ۔ په صحیح مسلم کښې د ابن عمر ﷛ نه روایت شویدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ((د الله په نیز د ټولو نه ښۀ نوم عبد الله او عبد الرحمٰن دی))۔ (ابن کثیرؒ والقرطبیؒ والبغویؒ وابن عاشورؒ) (مسلم : ٥٧٠٩)
نو پدے کښې رد دے په هغه خلکو باندے چه د الله تعالیٰ ددے صفت نه انکار کوی قصداً یا په طریقه د تاویل سره۔
(۲) دویم کفر د دوی په طریقه د شرك کولو سره وو چه د الله تعالیٰ سره به ئے برخه داران جوړول او شرك هم کفر دے۔ نو دوی د الله تعالیٰ حقیقت ونۀ منلو۔
(۳) دریم کفر : (اَلْاِنْكَارُ مِنْ آيَاتِ اللهِ) په طریقه د انکار د آیتونو د الله تعالیٰ نه کول، نو د الله تعالیٰ د یو آیت نه انکار کول کفر دے، لکه عادیانو صرف د هود ﷺ نه انکار کړے وو الله تعالیٰ وفرمایل: ﴿اَلَا اِنَّ عَادًا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ﴾ عادیانو د خپل رب نه انکار کړے وو۔ اګرکه دوی الله تعالیٰ منلو لیکن د هغۀ رسول ئے نۀ منلو، نو دوی په الله باندے کفر کونکی حساب شو۔

قُلْ هُوَ : یعنی دغه رحمٰن چه تاسو ترے انکار کوئ دغه زما رب دے نو د انکار هیڅ وجه نشته۔

لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ : دا ورپسے ځکه ووئیل چه رسول الله ﷺ به کله الله او رحمٰن ته آواز کولو نـو دوی به ویل چه دا خو دوه آلهه شول او دے وائی چه الله یو ذات دے، نو الله تعالیٰ جواب وکړو چه رحمٰن او الله یو ذات دے، د هغهٔ نه سوئ بل لائق د عبادت نشته۔ نو په کثرت د صفاتو سره تعدد په آلهو کښې نهٔ راځي۔

عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ: تـوکـل تـه پـدے مقام کښې ځکه ضرورت دے چه دا متعلق دے د (لِتَتْلُوَا) سره، یعـنـی ځـوك چـه قـرآن بیـانـوی نـو د هغهٔ توکل ته سخت ضرورت وی۔ بله دا چه مـخـالـفـیـن مـنـکـرین وو او د منکر په مقابله کښې هم توکل کول پکار وی ځکه چه منکر مقابله کوی او بنده ته لارے نیسی۔

وَإِلَيْهِ مَتَابِ : متاب مـصـدر دے په معنیٰ د توبه سره۔ دلته ئے هم د توکل سره توبه ذکر کـړه ځـکـه چـه تـوکـل بغیر د عمل نه نهٔ کیږی۔ او پدے کښې کافرانو باندے تعریض دے او هغـوی تـه تیـزی ورکـول دی چه د کفر نه توبه وباسئ او اسلام ته راداخل شئ، د توکل او توبے مستحق صرف همدغه یو الله دے۔ (فتح البیان)

وَلَوْ أَنَّ قُرْآنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ أَوْ قُطِّعَتْ
او که چرے وے یو قرآن چه روانیدے شوے په هغے سره غرونه یا پریکیدے شوے
بِهِ الْأَرْضُ أَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى
په هغے سره زمکه یا خبرے کیدے شوے د هغے په سبب د مړو سره (نو دا قرآن به هم
بَلْ لِّلّٰهِ الْأَمْرُ جَمِيعًا ط أَفَلَمْ يَيْئَسِ الَّذِيْنَ
دغسے وی) بلکه الله لره اختیار دے ټول، آیا پس نهٔ پو هیږی هغه کسان
آمَنُوْا أَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَهَدَى النَّاسَ
چه ایمان ئے راوړیدے که چرے غوختلے الله تعالیٰ خامخا هدایت به ئے کړے وے خلقو
جَمِيعًا وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا تُصِيْبُهُمْ بِمَا صَنَعُوْا
ټولو ته او همیشه به وی کافران چه رسیږی به دوی ته په وجه د هغے چه کړیدی دوی

قَارِعَةٌ أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا مِّنْ دَارِهِمْ حَتّٰى يَأْتِيَ وَعْدُ اللهِ
مصيبت، يا به نازل شي (مصيبت) نزدې د دوى كورونو ته ترډې چه راشي وعده د الله،
إِنَّ اللهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿٣١﴾
يقيناً الله خلاف نۀ كوى د وعدې خپلې نه۔

تفسير : پدې آيت كښ زجر دې په اعراض كولو د الله تعالىٰ د كتاب نه، او جواب د سوال دې چه دوى وئيلي وو چه مونږ به دا قرآن هله منو چه د مكې نه غرونه لرې كړې، يا زمكه سورئ كړې او چينې ترې راوباسې، يا مړي راژوندي كړې (قصي بن كلاب دې راژوندې كړې شي چه هغه ووائي چه آؤ دا قرآن حق دې) مونږ به ئې هله منو۔

نو پدې كښ د بعض مؤمنانو په زړونو كښ راغلل چه الله تعالىٰ دې دا كار وكړي (هغه ته دا هيڅ يو كار گران نۀ دې) كيدې شي چه دا خلك به ايمان راوړي، مونږ به هم د لانجو نه خلاص شو او دوى به هم حق ته راشي لكه د هر مؤمن دا تمنا وى چه يو ناشنا كار وشي چه دا خلك ايمان ته مجبوره شي۔

نو الله تعالىٰ مؤمنانو ته تعليم وركوى په (اَفَلَمْ يَيْئَسِ الَّذِيْنَ آمَنُوْا) كښ چه داسې سوالونه مۀ كوئ او د الله تعالىٰ نه ځانونه مۀ مخكښ كوئ، تاسو داسې د مجبورتيا معجزې مۀ غواړئ چه دوى مجبوره كړي۔ نو پدې صورت كښ به معنىٰ داسې وى چه :

(۱) د قرآن نه به دا قرآن مراد واخستې شي، نكره به په معنىٰ د معرفې سره وى، ځكه چه دا عَلَم دې، ظاهره كښ نكره ده مگر حقيقت كښ معرفه ده۔ او ددې جزاء به محذوف وى [لَمَا آمَنُوْا] يعني كه دا كارونه وكړې شي هم دا خلك ايمان نۀ راوړي، ضديان دي۔ او دا ظاهر تفسير دې لكه داسې آيت په سورة الانعام (۱۱۱) آيت كښ تير شويدې : ﴿وَلَوْ اَنَّنَا نَزَّلْنَا اِلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتٰى وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا اِلَّا اَنْ يَّشَاءَ اللّٰهُ﴾ ۔ (كه مونږ دوى ته ملائك راوليږو، يا مړي دوى سره خبرې وكړي او دوى باندې هر شے مخامخ راجمع كړو نو بيا هم دوى ايمان نۀ راوړي مگر كه الله تعالىٰ وغواړي)

بَلْ لِّلّٰهِ الْاَمْرُ جَمِيْعًا : سورتِ انعام كښ ئې (اِلَّا اَنْ يَّشَاءَ اللّٰهُ) ووئيل او دلته ئې (بَلْ لِلّٰهِ الْاَمْرُ) ووئيل، د دواړو حاصل يو دې، او دا ورسره ددې دپاره وائي چه څوك به دا گمان وكړي چه الله تعالىٰ به ګنې د دوى په ايمان قادر نۀ وى؟ نو وې فرمايل : چه واك ټول د الله تعالىٰ دې هغه

کولے شي چه دے ټولو ته د ایمان توفیق ورکړي، لیکن د هغهٔ طریقه دا ده چه هغه په زوره په چا ایمان نهٔ راوړي بلکه بندګانو ته اختیار ورکوي۔

۲- دویم تفسیر: د قرآن نه مراد لوستلے شوے کتاب دے چه ددے اطلاق په هر کتاب کیږي، لکه د داود علیه السلام په زبور باندے ئے اطلاق شویدے [خُفِّفَ عَلٰى دَاوٗدَ الْقُرْآنُ] په داود علیه السلام باندے زبور کتاب آسان کړے شوے وو۔ (بخاري: ۳٤۱۷) ورقم (۳۲۳۵) واحمد: ۸۱٤۵)

او مطلب د آیت دا دے چه که په پخوا زمانه کښ په یو کتاب باندے دا کارونه کړے شوي وی نو ددے جزا پټه ده [لَكَانَ هٰذَا الْقُرْآنُ] نو پدے قرآن به هم دغه شان کارونه کیدلے۔ لیکن په پخوانو کتابونو الله تعالیٰ دا کارونه نهٔ دی کړي نو پدے قرآن ئے هم نهٔ کوی ځکه چه دا کتابونه ددے دپاره نهٔ دی راغلی دی چه د الله تعالیٰ نظام به خرابوی او دا سوالونه خو د الله تعالیٰ نظام خرابول دي۔

سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ: ۱- ددے یوه معنیٰ دا ده چه غرونه پرے د مکے نه لرے کړے شی دے دپاره چه مکه فراخه شی، او دوی پکښ کرونده وکړي، (قاله عطیة العوفیؒ)

او د زمکے قطع کولو نه مراد دا چه د زمکے نه چینے او نهرونه راوځی لکه په سورة اسراء (۹۱) آیت کښ راغلی دی۔

۲- او ځینی مفسرین وائی چه سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ کښ د داود علیه السلام معجزے ته اشاره ده چه د هغهٔ سره به غرونه روان وو او د هغهٔ تابع وو، او په (قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ) کښ د سلیمان علیه السلام معجزے ته اشاره ده چه په لږ وخت کښ به ئے ډیره مسافه وهله، او تخت به ئے په هوا باندے الوتلو۔ (اَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى) کښ د عیسی علیه السلام معجزے ته اشاره ده چه مړی به ئے راژوندي کول۔ (القرطبی ۳۱۹/۹ وفتح البیان)

أَفَلَمْ يَيْأَسِ: اُوس د مؤمنانو په تمنا باندے رد کیږي او د هغوی اصلاح کولے شي۔

زجاجؒ وائی: يَيْئَس (یأس) نا امیدیٔ ته وئیلے شی او کله چه یو انسان د یو شی نه نا امیده شی نو هغه ته علم راشی چه دا کار نهٔ کیدونکے دے۔ نو پدے وجه يَيْئَسُ په معنیٰ د يَعْلَمُ سره دے۔ (یعنی آیا نهٔ پو هیږی مؤمنان)۔

او کلبیؒ وئیلی دی چه دا لغت د نخع قبیلے دے او جو هریؒ په «الصحاح» کښ لیکی چه دا لغت د هوازن دے چه يَأْس په معنیٰ د عِلم سره استعمالوی۔ او دا د سلفو د یوے ډلے وینا ده۔ او د صحابه کرامؓ او د تابعینوؒ یوے ډلے ددے تفسیر په (اَفَلَمْ يَتَبَيَّنْ) سره کړیدے۔ (فتح البیان) یعنی آیا نهٔ دے ښکاره شوے مؤمنانو ته دا خبره الخ۔

أَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَهَدَى النَّاسَ جَمِيْعًا : مِنْ غَيْرِ اَنْ يُّشَاهِدُوا الآيَاتِ :
آيا مؤمنانو ته ددے خبرے علم نشته چه که الله تعالیٰ وغواړی نو ټولو خلکو ته هدایت کولے شی په غیر ددے نه چه هغوی معجزات او نښے ووینی لیکن الله تعالیٰ دا کار نهٔ کوی ځکه چه الله تعالیٰ د دوی د هدایت اراده نهٔ ده کړے۔ (فتح)
د الله تعالیٰ طریقه دا ده چه هغه په چا باندے په ایمان کښ زور نکوی نو تاسو هم داسے معجزات مهٔ غواړئ چه هغه د زور سره مشابه وی چه د هغے نه روستو خلك مجبوراً ایمان ته راځي۔
وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا : اُوس الله تعالیٰ کافرانو ته وائی چه زهٔ به دوی ته وخت په وخت سزا ورکوم دے دپاره چه دوی ایمان ته متوجه شی، بیا ئے خوښه ده چه ایمان راوړی او که نهٔ۔
په بل تعبیر سره پدے جمله کښ کافرانو دپاره بالعموم او د مکے کافرانو دپاره بالخصوص ډیر غټ وعید دے چه د دوی د کفر او د رسولانو د تکذیب په نتیجه کښ به دوی ته همیشه یو نه یو مصیبت رسیږی۔ قتلیږی به، یا به قید کولے شی، یا به قحط سالی کښ اخته کیږی، یا به ئے بل کوم عذاب رانیسی۔
اَوْ تَحُلُّ قَرِيْبًا مِّنْ دَارِهِمْ : ۱- تَحُلُّ صیغه د مؤنث ده ضمیر پکښ قارعه ته راجع دے یعنی دا قارعه (عذاب) به د دوی کورونو ته نزدے نازلیږی یعنی یا به ډوی ته نزدے وسیدونکو باندے یو عذاب نازلیږی چه د هغے په لیدلو سره به د دوی زړونه خوزیږی او د دوی سکون به اخستے کیږی۔ مطلب دا دے چه که په دوی عذاب نازل نهٔ شی نو دوی ته نزدے قوم باندے به عذاب راشی چه د دوی سکون به پرے ختم شی۔ لکه مشرکانو باندے به وخت په وخت عذاب راتللو، په مکه کښ به یریدل۔
۲- یا تَحُلُّ صیغه د مخاطب ده، نبی کریم ﷺ ته خطاب دے، یعنی یا به تهٔ نازل شے نزدے د دوی کورونو ته یعنی د دوی په خواؤ شا باندے به غلبه وکړے لکه چه رسول الله ﷺ د مکے سره نزدے نورو کلو باندے غلبه حاصله کړه چه مکے والا هم ترے ویریدل۔او طائف والا رسول الله ﷺ محاصره کړل او د هغوی همدغه کیفیت جوړ شو۔ (فتح)
حَتّٰى يَاْتِيَ وَعْدُ اللّٰهِ : ۱- یعنی په دنیا کښ د فتح وعده ده چه رشتینی شوه چه مکه فتح شوه۔ ۲- یا د مرګ۔ ۳- یا د آخرت د راتللو وعده ده۔

وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَأَمْلَيْتُ

او یقیناً توقے کړے شویدی په رسولانو پورے مخکښې ستا نه نو مهلت مے ورکړو

لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿۳۲﴾

هغه کسانو ته چه کافران وو بیا مے اُونیول دوی نو څنګه وو عذاب زما دوی لره۔

أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلٰى كُلِّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ

آیا پس هغه ذات چه ولاړ دے په هر نفس باندے په هغه عمل چه کړے ئے دے

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ قُلْ سَمُّوْهُمْ أَمْ

او جوړ کړیدی دوی الله لره برخه داران اُووایه ! صفتونه د دوی بیان کړئ بلکه

تُنَبِّئُوْنَهٗ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي الْأَرْضِ أَمْ بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ

خبر ورکوئ تاسو الله ته دهغه څه چه نۀ ئے پیژنی هغه په زمکه کښې بلکه په سرسری وینا سره

بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مَكْرُهُمْ وَصُدُّوْا عَنِ السَّبِيْلِ

بلکه ښائسته کړے شویدی کافرانو ته مکرونه د دوی او اړولے شویدی د سمے لارے نه

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۳۳﴾

او هغه څوك چه الله ئے ګمراه کړی نو نشته هغه لره هیڅوك لارخودونکے۔

تفسیر : نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکړے شویده او پدے تسلئ کښې تهدید (دهمکی) هم ده چه ستا نه مخکښې هم زما د ډیرو رسولانو پورے توقے شویدی، نو ما هغه کافرانو ته څه ورځے مهلت ورکړو، ښه په آرام او سکون سره وسیدل، بیا ناڅاپی ما هغوی راونیول او زما عذاب ډیر سخت وو۔

فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ: (اَیْ اَلَمْ یَکُنْ وَقَعَ مَوْقِعَهٗ / اَلَمْ یَکُنْ شَدِیْدًا)۔

یعنی څنګه شو زما عذاب هغوی لره آیا هغه په ځای واقع نشو څه ؟ آیا هغه ګنے سخت نۀ وو؟۔ نو دغه شان به دا خلك هم رانیسم۔

أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ : پدے آیت کښې د الله سبحانه وتعالیٰ د علم او د قدرت بیان دے۔

مناسبت

کافرو ته چه الله تعالیٰ مهلت ورکړیدے نو د دوی عملونو نه ښهٔ خبردار دے، داسے نه نهٔ ده چه ګنے الله تعالیٰ پرے خبر نهٔ دے بلکه په خپل تیم به ورله عذاب ورکوی ځکه چه الله تعالیٰ په هر نفس باندے قادر او عالم دے۔ نو هرکله چه الله تعالیٰ په هر شی قادر او عالِم دے، بیا هم مشرکان ظالمان رالګیږی او د داسے لوی ذات سره نور شریکان جوړوی۔

(۲) دویم تفسیر : اَفَمَنْ : ددے استفهام نه مقصود د کافرانو زجر او توبیخ دے چه آیا هغه حق معبود چه د یو یو انسان نګرانی کوی چه د هغهٔ نه د دوی هیڅ عمل پټ نهٔ دے، آیا د هغه بتانو په شان دے د کومو چه دوی عبادت کوی، کوم چه نهٔ آوری او نهٔ ګوری او نهٔ پوهیږی او نهٔ چا ته د نفع او نقصان ورکولو قدرت لری؟۔

قَائِمٌ : نه مراد عالم دے، ۲- او مُراقِب (نګهبان) هم دے۔

۳-اَیِ الْحَفِیْظُ الْمُتَوَلِّیْ لِلْاُمُوْرِ۔ (د هر نفس ساتونکے او د هغوی د کارونو سنبالونکے)۔

(اَفَمَنْ) ددے جزا پټه ده اَیْ کَمَنْ هُوَ لَیْسَ کَذٰلِكَ ۔ دا په شان د هغه چا کیدے شی چه داسے حالت ئے نهٔ وی یعنی مخلوق عاجز دے، نهٔ عالم دے، نهٔ قادر دے او نهٔ مراقب دے او الله تعالیٰ کښې دا درے واړه صفات شته نو اُوس یوائے د هغه بندګی پکار ده لیکن بیا هم مشرکان د الله سره برخه داران جوړوی۔

عَلٰی کُلِّ نَفْسٍ بِمَا کَسَبَتْ: یعنی د نفس په ذات او د هغه په کسب دواړو باندے عالم دے۔

قُلْ سَمُّوْهُمْ : اَیْ صِفُوْهُمْ وَبَیِّنُوْا اَوْصَافَهُمْ بِمَا یَسْتَحِقُّوْنَ۔ یعنی ددے خپلو معبودانو صفات راوښایئ چه دوی مخلوق پیدا کړیدے او کوم کمال ئے کړیدے چه د هغے په وجه دوی د عبادت مستحق شی؟۔ او لږ سوچ خو وکړئ چه آیا دوی ستاسو د عبادت مستحق دی، او آیا دوی لائق دی ددے چه دوی د الله شریکان جوړ شی؟!۔ (فتح)

❁ یا د سَمُّوْهُمْ معنیٰ دا ده چه دوی ته د شریکانو نومونه ورکړئ ځکه چه د دوی هیڅ برخه نشته سِویٰ د نوم نه، یعنی په حقیقت کښې خو د الله تعالیٰ شریك نشته خو هسے تاسو ورله نومونه ورکړیدی چه دا بابا د فلانی مرض ذمه وار دے، او فلانے بابا د اولادو ورکولو ذمه وار دے، نو دے له هیڅ اعتبار نشته، نو دا امر مستعمل دے په معنیٰ د اباحت کښې نو دا کنایه ده ددے نه چه دوی چه دا دعوه کوی چه دا شریکان دی نو ددے هیڅ پرواه نشته، بی حقیقته خبره ده۔ او دا داسے دے لکه ﴿اِنْ هِیَ اِلَّا اَسْمَاءٌ سَمَّیْتُمُوْهَا﴾ (النجم : ۲۳)

یعنی دا تش نومونه دي چه هیڅ مسمیات (حقیقت) ئې نشته چه په هغې کښې صفت د الوهیت راشي. نو پدې کښې د دوی د عقلونو بې وقوفتیا ته اشاره ده چه دوی هغه څیزونه ته آلهه وائي چه د هغې هیڅ حقیقت نشته. (ابن عاشور ۱۲/۱۹۲)

أَمْ تُنَبِّئُونَهُ بِمَا لَا يَعْلَمُ : ام منقطعه دې په معنیٰ د بَلْ سره. یعنی بلکه تاسو الله تعالیٰ ته خبر ورکوئ په هغه څه چه الله تعالیٰ ته نۀ دي معلوم په زمکه کښې. یعنی موجود نۀ دې ځکه که دا موجود وې نو ضرور به الله تعالیٰ ته معلوم وې. نو نفي د علم نه مراد نفي د وجود دې.

فِي الْأَرْضِ : د زمکې تخصیص ئې وکړو ځکه چه دلته په هغه چا رد کول مقصود دې چه په زمکه کښې الله تعالیٰ لره شریك جوړوي او په سورة یونس (۱۸) آیت کښې د عامو مشرکانو رد دې نو ځکه ئې هلته د آسمانونو او د زمکې دواړو ذکر کړیدې. (احسن الکلام)

أَمْ بِظَاهِرٍ مِنَ الْقَوْلِ : بلکه دا سرسري خبره ده چه هیڅ حقیقت ئې نشته، او ظاهري خبرې دا دي چه خلکو ویلی دي چه فلانې بابا ددې بیمارئ ذمه وار دې، او فلانې حاجت پوره کونکې دې، هیڅ دلیل پرې نشته.

علامه قاسميؒ ددې مثال داسې ورکړیدې كَتَسْمِيَةِ الزِّنْجِيِّ كَافُورًا. لکه یو تن حبشي ته د کافور نوم کیږدي. نو پدې نوم سره خو هغه نۀ سپینیږي. نو پدې خبرې سره خو دغه بابا په رشتیا حاجتونه پوره کونکې نشو، هسې هوائي ډکوسلې دي.

أَمْ بِظَاهِرٍ : تقدیر داسې دې : (بَلْ أَتُنَبِّئُونَهُ بِظَاهِرٍ مِنَ الْقَوْلِ) بلکه تاسو خبر ورکوئ الله ته په سرسري خبره). (ابن عاشورؒ)

ابن عاشورؒ دا هم وائي چه ظاهر د ظهور نه دې په معنیٰ د زوال سره، نۀ د ظهور نه په معنیٰ د ښکاره والي سره. او ددې دپاره ئې د عربو د لغت نه دلیلونه پیش کړیدي. او معنیٰ دا ده چه تاسو الله ته په پریوتې خبرې سره خبر ورکوئ.

بَلْ زُيِّنَ : یعنی دلیل نشته خو کافرانو ته د دوی مکر یعنی کفر ښائسته کړې شویدې، دلته ئې کفر ته مکر وویلو ځکه چه د دوی کفر کښې مقصد دا دې چه د حق په خلاف تدبیرونه جوړ کړي او د حق او د توحید نه انکار وکړي نو د دوی دلیل او کفر د مکر په درجه کښې دې.

وَصُدُّوا : یعنی ددې مکرونو په وجه الله تعالیٰ د حق نه واړول ځکه چه دا قانون دې چه څوك د حق په مقابله کښې ودریدو او غلط دعوت ئې شروع کړو نو بیا ورته الله تعالیٰ

هدايت نکوی۔ ﴿فَضَلُّوا فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا﴾۔ (الاسراء : ٤٨)

(نو گمراه شو چه طاقت نهٔ لری د نیغے لارے)

السَّبِيْلِ : اَیْ سَبِيْلِ الْهِدَايَةِ۔ یعنی د لارے د هدایت نه منع کړے شو۔

لَهُمْ عَذَابٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَشَقُّ
دوی لره عذاب دے په ژوند دنیوی کښې او خامخا عذاب د آخرت ډیر سخت دے
وَمَا لَهُمْ مِّنَ اللهِ مِنْ وَّاقٍ﴿٣٤﴾ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي
او نشته دوی لره د الله تعالیٰ نه هیڅوك بچ کونکے۔ صفت د هغه جنت
وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ أُكُلُهَا
چه وعده ئے کړے شویده د متقیانو سره، بهیږی به لاندے د هغے نه نهرونه میوے د هغے
دَآئِمٌ وَظِلُّهَا تِلْكَ عُقْبَى الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّعُقْبَى الْكَافِرِيْنَ النَّارُ﴿٣٥﴾
همیشه دی او سوری د هغے (هم)۔ دا انجام د متقیانو دے او انجام د کافرانو اُور دے۔

تفسير : د کومو کافرانو حال چه پورته بیان شویدے، هغوی ته تخویف دنیوی او اُخروی بیانیږی۔ ١- چه دوی ته به په دنیا کښې د مسلمانانو په لاس عذاب ورکولے شی، په قتل او قید وغیره سره۔

٢- یا به پرے قحطونه او طوفانونه او مرضونه وغیره نازلیږی۔

٣- یا مطلب دا دے چه کافر ته به د کفر په وجه سره هیڅ کله سکون نهٔ حاصلیږی، ځکه چه د سکون ذریعه صرف ایمان دے۔ (لکه چه مخکښې ذکر شو۔ او الله فرمائی :

﴿بَلِ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْآخِرَةِ فِي الْعَذَابِ وَالضَّلَالِ الْبَعِيْدِ﴾ (سبأ :٨)

(کافران به همیشه په عذاب او په گمراهئ لرے کښې وی)

(محاسن التاویل وتفسیر مقاتل والقرطبی وغیره)

أَشَقُّ : اشق هغه عذاب ته وائی چه انسان ډیر په مشقت کښې اچوی او دا عذاب د (اَکْبَر او اَغْلَظ) نه په معنیٰ کښې زیات دے۔ یعنی پدے کښې به د غټوالی او لوی والی سره سره سختی هم زیاته وی۔ ځکه اشق د شق نه دے په معنیٰ د صدع (چاودلو) سره دے چه د انسان زړهٔ چوی۔ (فتح)

مِّنَ اللهِ : یعنی د عذاب د الله تعالیٰ نه۔ یا د جانبه د الله نه۔
وَاقٍ : د وقایة نه دے حفاظت ته وائی، یعنی ساتونکے او حفاظت کونکے۔
او پدے کښ مِنْ د تاکید دپاره زیات شویدے۔ یعنی هیڅ ساتونکے۔
مَثَلُ الْجَنَّةِ : د قرآن عادت دے چه بشارت د تخویف سره ملګرے کوی۔
د کافرانو انجام بیان شو اُوس د مومنانو په باره کښ وئیلی کیږی چه الله تعالیٰ به دوی ته جنت ورکوی چه د هغے نه لاندے به نهرونه روان وی، په هغے کښ به د خوراك څکاك بیشماره نعمتونه او د ونو همیشه سوری وی۔
مَثَلُ: مثال نه مراد صفت دے، نۀ مثال بیانول۔ او مَثَل عجیبه شان والا صفت ته وائی چه هغه په ناشنا والی کښ د مثال په شان دے۔
او (تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا) داسے دے لکه تفسیر د مَثَل۔ یعنی د هغه جنت صفت دا دے چه لاندے به ترے نهرونه روان وی۔ (فتح البیان)
اُكُلُهَا : اُکل په معنیٰ د خوراکونو او میوه جاتو سره دے۔

وَالَّذِیْنَ آتَیْنَاهُمُ الْكِتَابَ یَفْرَحُوْنَ بِمَا
او هغه کسان چه ورکړیدے مونږ هغوی ته کتاب خوشحالیږی په هغه څه
أُنْزِلَ إِلَیْكَ وَمِنَ الْأَحْزَابِ مَنْ یُّنْكِرُ
چه نازل کړے شویدے تا ته او بعض د ډلو نه هغه څوك دی چه انکار کوی
بَعْضَهٗ قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ
د بعضے حصے د قرآن نه، اُووایه یقیناً حکم کړے شویدے ما ته چه بندګی اُوکړم
اللهَ وَلَا أُشْرِكَ بِهٖ إِلَیْهِ أَدْعُوْ وَإِلَیْهِ
د الله تعالیٰ او شرك اُونکړم د هغۀ سره، خاص هغۀ ته رابلم خلق او خاص هغۀ ته
مَآبِ ﴿٣٦﴾ وَكَذٰلِكَ أَنْزَلْنَاهُ حُكْمًا عَرَبِیًّا
ورګرځیدل دی زما۔ او دغسے نازل کړیدے مونږ دا قرآن فیصله په واضحه ژبه
وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ بَعْدَ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ
او که تابعداری اُوکړه تا د خواهشاتو د دوی روستو د هغے نه چه راغله تا ته پوهه،

مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا وَاقٍ ﴿۳۷﴾

نهٔ به وی تالره د الله نه خوك دوست او نهٔ بچ کونکے۔

تفسیر : پدے آیت کښ دلیل نقلی د اهل کتابونه پیش کوی په حقانیت د وحی رسول الله ﷺ ته۔ ځکه چه پخوانی اهل کتاب ئے تصدیق کوی او هغوی پرے خوشحاله دی۔

(۱) ددے آیت په تفسیر کښ یو قول دا دے چه د کتاب نه مراد تورات او انجیل، او د خوشحالیدونکو نه مراد هغه یهود او نصاریٰ دی چه مسلمانان شوی وو۔ ددے قول مطابق به د «احزاب» نه مراد هغه یهود او نصاریٰ وی چه هغوی اسلام قبول کړے نهٔ وو۔

(۲) دویم قول دا دے چه عام یهود او نصاریٰ مراد دی چه د قرآن کریم د هغهٔ آیتونو په آوریدو سره به خوشحالیدل چه په هغے سره به د تورات او انجیل د احکامو تائید کیدو۔ ددے قول مطابق به د «احزاب» نه مراد د مکے مشرکان او نور کافران وی چه دوی د بعض قرآن نه انکار کولو کوم کښ چه مسئله د توحید او د آخرت اثبات وو او نورو نه به ئے انکار نهٔ کولو کوم کښ چه به اخلاق بیان شوی وو۔ یا بعض یهود او نصاریٰ چه د قرآن انکار به ئے پدے وجه کولو چه ددے په ذریعه د هغوی شریعتونه منسوخ شوی وو۔

(۳) ځینی وائی چه د کتاب نه مراد قرآن کریم دے یعنی مسلمانان ددے قرآن په نازلیدو خوشحالیږی او د «احزاب» نه مراد هغه خلك دی چه د رسول الله ﷺ په مخالفت کښ ئے ډله بازی کوله چه هغه مشرکان، یهود او نصاریٰ وو، او په دوی کښ د بعضو انکار کولو نه مطلب دا دے چه د کومے ډلے د عقیدے خلاف خبره به قرآن کریم کښ نازلیده نو هغوی به انکار کولو او د نورو نه به ئے انکار نکولو۔

سوال : مسلمانان خو هسے هم د قرآن په نازلیدو خوشحاله وو نو بیا ددے په ذکر کولو کښ څه فائده ده؟ **جواب** دا دے چه مقصد پدے کښ زیاته خوشحالی ده چه دوی ته د احکامو او د توحید او نبوت او د حشر په بیان سره حاصلیږی۔

او ډیرو مفسرینو لیکلی دی چه عبد الله بن سلام ﷺ او د هغه نور ملګری اهل کتاب پدے خفه وو چه په تورات کښ د رحمٰن نوم زیات استعمال دے او په قرآن کریم کښ کم نو الله تعالیٰ دا آیت ﴿قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ﴾ (الاسراء : ۱۱۰) نازل کړو نو دوی په هغے سره خوشحاله شو۔ (فتح البیان)۔

دارنګه پدے اهل کتابو کښ مؤمنان اهل کتاب مراد دی چه څه د حبشو نه مکے ته

راغلی وو او څه د یهودو نه وو او څه د نجران نه راغلی وو، مکے والو ته ئے خبر ورکړے وو لکه سورة القصص کښې د هغے تفصیل راځی ان شاء الله تعالیٰ۔

قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ : دا د (يُنكِرُ بَعْضَهُ) تشریح ده چه دوی به د توحید او د الله تعالیٰ د یواځے بندګی کولو نه منکر وو نو ځکه ورته د توحید اهمیت بیانوی چه پدے باندے ما ته حکم کړے شویدے۔ او دا بنیادی عقیده ده چه پدے باندے د ټولو آسمانی دینونو اتفاق دے۔

إِلَيْهِ أَدْعُوا : یعنی زما کار دا دے چه زهٔ به یواځے الله تعالیٰ او د هغهٔ توحید او عبادت ته دعوت ورکوم ځکه چه خاص په قیامت کښې زما رجوع صرف الله تعالیٰ ته ده، هغه به راسره بیا حساب کوی۔

مَآبِ : یاء پټه ده یعنی مَآبِیْ۔ اَیْ مَرْجِعِیْ ۔ زما رجوع ده۔ قتادةؒ وائی چه (اِلَیْهِ مَصِیْرُ کُلِّ عَبْدٍ) خاص دے الله تعالیٰ ته ورګرځیدل د هر بنده دی۔ (فتح)

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَاهُ : ترغیب دے قرآن کریم ته او ددے نه په اعراض باندے دهمکی ورکړے کیږی۔او منع ده د اتباع د خواهشاتو (بی دلیله خبرو) د کافرانو نه۔

مناسبت

مخکښې د اهل کتابو حال بیان شو چه قرآن په ښائسته شان قبلوی او پدے خوشحالی کوی، نو اُوس د عربو حال بیانوی په طریقه د تعریض سره چه دوی ته قرآن راغلو لیکن دوی هغه په ښهٔ شان قبول نکړو سره ددے نه چه دوی د نورو خلکو نه ددے په قبلولو ډیر لائق وو ځکه چه قرآن د دوی په ژبه نازل شویدے او د دوی په کښې فائده ده او د دوی عقلونه پرے روښانه کیږی۔ (ابن عاشورؒ)

وَكَذَٰلِكَ : یعنی پدے ناشنا نازلولو سره مونږ دا کتاب نازل کړو۔ یا لکه پخوانی کتابونه مے رالیږلی وو نو دغه شان مے دا کتاب هم راولیږلو۔

حُكْمًا : ١- فیصله۔ قرآن ټوله فیصله ده چه هر شی ئے فیصله کړیدے، او ددے حکم نه مراد هغه مخکښے حکم دے چه (اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللهَ) کښې ذکر شو۔

٢- حکم کله په معنیٰ د حکمة سره هم راځی، یعنی ما دا کتاب حکمة راولیږلو په عربیٔ ژبه کښې چه عربو ته ددے پوهه او یادول آسان شی او بیا پرے هغوی د خلکو ترمینځ فیصله وکړی۔ (فتح)

وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ : نبی کریم ﷺ ته خطاب دے اولًا بیا خطاب دے هر مخاطب ته چه که تا

ته د قرآن په شان کتاب راتللو نه روستو (چه د علمونو او معارفو خزانه ده) بیا هم ته د یهود او نصاراؤ د خواهشاتو تابعداری کوے نو د الله تعالیٰ نه سوئ به ستا څوك مددګار نهٔ وي او د هغهٔ د رانیولو نه به تا هیڅوك نشي بچ کولے۔

أَهْوَاءَهُمْ : د خواهشاتو نه مراد د هغوی بې دلیله خبرے دی، یا هغه خواهشات چه دوی پکښې ستا موافقت غواړی لکه د توحید عقیده او بیان پریخودل، یا د قرآن بیان پریخودل، یا د دوی د قبلې پسے روانیدل او د دوی د عقیدے خلاف نهٔ کول۔ (فتح البیان)

مِنَ الْعِلْمِ : د علم نه مراد علم د وحی (قرآن او حدیث) دے۔

وَلِيٍّ وَّلَا وَاقٍ : ولی هغه دوست ته وائی چه عذاب د راتللو نه مخکښې لرے کړی او واقی هغه ته وائی چه عذاب د راتللو نه روستو لرے کړی۔

او مقصد په آیت کښې د رسول الله ﷺ نه ماسوئ نور خلك دی ځکه چه د رسول الله ﷺ شان ددے نه ډیر اُوچت دے چه هغه د مشرکانو د خواهشاتو ادنیٰ تابعداری وکړی۔

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ
او یقیناً رالیږلی دی مونږ رسولان مخکښې ستا نه او ګرځولی وو مونږ هغوی لره
أَزْوَاجًا وَّذُرِّيَّةً وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ أَنْ يَّأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ
بیبیانے او اولاد او نشي کیدے یو رسول لره چه راوړی یوه معجزه مګر په حکم
اللهِ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴿۳۸﴾
د الله تعالیٰ سره، هرے نیتے لره لیکل دی۔

تفسیر : پدے آیت کښې د درے سوالونو جوابونه دی (۱) اول سوال : دا څنګه رسول دے چه بشر دے او ددهٔ ښځه او اولاد شته، او رسول خو دے ته وائی چه هغه به د الله تعالیٰ په مینه پائی، خوراك، څکاك او خواهشاتو ته به ئے ضرورت نهٔ وی؟ نو جواب وشو چه داسے مخکنی رسولان هم وو۔ نو ښځه او اولاد د نبوت منافی نهٔ دی۔

د سلیمان علیه السلام درے سوه بیبیانے او اوه سوه وینځے وے، او دا کار د هغهٔ په نبوت کښې هیڅ عیب نهٔ وو او د هغه د پلار داود علیه السلام سل بیبیانے وے نو دغه شان ودونه کول ستا په نبوت کښې هم څه عیب نهٔ راولی۔ (فتح البیان)

او پدے کښې ضمناً رد دے چه تاسو بیا څنګه ځان ته د ابراهیم ﷺ اولاد وایئ، هغه هم رسول وو او ښځه او اولاد ئے لرل۔ که هغه بشر نهٔ وے نو تاسو ترینه څنګه پیدا شوئ۔

وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ: دویم سوال: هرکله چه دا رسول رشتینی دے نو مونږ له دِے معجزے راوړی؟۔ جواب وشو: چه معجزات د پیغمبرانو په اختیار کښې نهٔ دی، هغه د الله تعالیٰ په اجازت سره راځی۔ او الله تعالیٰ حکیم او علیم دے د خپل حکمة مطابق معجزے نازلوی۔

لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ: دریم سوال: که دا رسول حق وی او مونږ انکار کوو نو په مونږ عذاب ولے نهٔ راځی؟

جواب دا دے: د هرے نیتے دپاره لیکل وی۔ نو پدے جمله کښې ترغیب او دهمکی دواړه پراتهٔ دی، رسول الله ﷺ ته فرمائی چه د هرشی دپاره یوه نیټه وی یو وخت راروان دے چه الله تعالیٰ به تا ته فتح او غلبه درکوی، هغه لیکلی دی۔

او کافرانو ته دهمکی ده چه ستاسو د هلاکت وخت هم الله تعالیٰ لیکلے دے په خپل وخت به راځی، نو مخکښې غوښتلو ته ئے ضرورت نشته۔ که فی الحال عذاب نهٔ راځی نو دا ستاسو د حقانیت دلیل نهٔ دے۔

لِكُلِّ أَجَلٍ: یعنی د هر کار دپاره چه الله تعالیٰ ئے په یوه نیټه کښې کوی لیکل دی۔

يَمْحُو اللهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ
محوه کوی (ورانوی) الله هغه څه چه اُوغواړی او باقی پریږدی (څه چه اُوغواړی)
وَعِنْدَهٗ أُمُّ الْكِتَابِ ﴿٣٩﴾
او د هغهٔ سره اصل کتاب دے۔

تفسیر: دا جواب د بل سوال دے په دوه طریقو: ۱- دا څنګه پیغمبر دے چه نن یوه خبره کوی صبا بله کوی، معلومیږی چه دا د ځان نه جوړوی۔ لکه سورة النحل آیت (۱۰۱) کښې هم ذکر دی ﴿وَإِذَا بَدَّلْنَا آيَةً مَّكَانَ آيَةٍ وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوْا إِنَّمَا أَنْتَ مُفْتَرٍ﴾ نو الله تعالیٰ ورته جواب کوی چه الله تعالیٰ چه کومه وحی وغواړی محوه کوی (منسوخ کوی) او بعض ثابته پریدی، پدے کښې د هیڅ اشکال خبره نشته، بلکه دا په حکمة بناء دے۔ دویمه طریقه د سوال دا ده چه که تهٔ د الله رسول ځان ته وائے نو مونږ له هغه معجزے راوړه چه موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام راوړیدی؟

نو د هغې جواب ورکوی چه الله تعالیٰ محوه کوی هغه معجزې چه کومې غواړی، هغه معجزې د هغې زمانې سره متعلق وې نو اُوس ئې منسوخ کړې او اُوسنئ معجزې ددې زمانې سره برابرې دی نو ځکه هغه باقي پریدی۔ ددې زمانې سره قرآن مناسب دې نو ځکه دا باقي پریدی، کـه رسول الله ﷺ د یَدِ بَیْضَاء (سپین لاس) او د امسا او د مړی ژوندی کولو، یا مرزادی بنه کولو معجزه ورکړې شوې وې نو دا به صرف د هغه د زمانې خلکو ته فائده ورکولې روستو امت دپاره به پکښې هیڅ فائده نهٔ وې، نو پدې وجه الله تعالیٰ قرآن عالَمی کتاب راولیږلو چه د هر چا فائده پکښې شته۔

د محو او اثبات مطلبونه

پدې آیت کښې د عموم د الفاظو د وجه نه ډیر مصداقات او مطلبونه کیدې شی

۱- اول مطلب دا چه دا د نسخ سره لګی۔ ۲- دویم د معجزو سره لګی۔

۳- دریم: د ارواحو سره۔ ٤- د شقاوت او سعادت سره۔

۵- د ګـنـاهـونـو او د نیکو سره۔ یعنی الله تعالیٰ منسوخ کوی هغه شریعت چه وغواړی یعني د وحی نه څه حصه لرې کړی

وَيُثْبِتُ: او بـاقـي پـریـدی کـوم چـه الله وغواړی۔ کومه کښې چه فائده وی۔ دا معنیٰ ددې سورت د موضوع سره ښه لګی۔

۲- مـحـوه کـوی الله تـعـالیٰ هـغـه معجزات کوم چه غواړی لکه د پخوانو انبیاء علیهم السلام معجزې شوې او وَيُثْبِتُ: بعض باقي پریدی لکه قرآن ئې پریخې دې۔

۳- مـحـوه کـوی الله تـعـالیٰ بعض روحونه په خوب کښې (یعنی وفات ئې کړی) او بعض بـاقـی پـریدی، بیرته ئې راواپس کړی۔ لکه د ﴿اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ﴾ (الزمر: ٤٢) آیت په شان آیت دې۔

٤- الله تـعـالیٰ بـعض کسان د بد بختئ نه محوه کوی او په نیك بختو کښې ئې لیکی او بـعض په بد بختئ کښې ثابت پریدی خو دا په تقدیر مُعَلَّق کښې نهٔ په تقدیر مُبْرَم کښې۔ لکه دا د عـمر فاروق رضی الله عنه نـه نـقـل دی چه هغه به داسې دعا کوله: اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ كَتَبْتَنِيْ فِي الْاَشْقِيَاءِ فَامْحُنِيْ مِنْهَا وَاكْتُبْنِيْ فِي السُّعَدَاءِ فَاِنَّكَ تَمْحُوْ مَا تَشَاءُ وَتُثْبِتُ وَعِنْدَكَ اُمُّ الْكِتَابِ)

(اللالكائی فی السنة والتاريخ الكبير للبخاری ٤/٦٣) فی ترجمة ابی عصمة وقد قال فيه ابن ابی حاتم (٣/٢/٢٠) عن ابيه محله الصدق وذكره ابن حبان فی الثقات)

او داسې دعاء د ابن مسعودؓ نه طبرانيؒ په معجم کبیر (۸۸٤۷) کښې او ابن جریرؒ په تفسیر کښې نقل کړیده شیخ البانيؒ وائي : (اسناد ئې صحیح دے) (الضعیفة ۱۱/٤۷۷) رقم (٥٤٤۸)

اے الله ! که تا زما نوم په بد بختانو کښې لیکلے وی نو ما ترے وران کړه او ما په نیك بختو کښې ولیکه ځکه ته چه څه وغواړے محوه کوی او څه چه وغواړے باقي پریدے او تاسره اصل د کتاب (یعني لوح محفوظ) دے۔

ددے نه معلومه شوه چه تقدیر په دوه قسمه دے (۱) تقدیر مُبْرَم چه دا د الله تعالیٰ عِلم ته وائي دا نۀ بدلیږی چه الله تعالیٰ په کوم شي باندے عالم دے نو د هغه په علم کښې تبدیلي نۀ راځي۔ (۲) او دویم تقدیر مُعَلّق دے چه الله تعالیٰ زورند لیکل کوی په اسبابو سره چه که دے شخص فلانئ لاره اختیار کړه هدایت ورته کوم، او دغه ئې اختیار نکړه نو هدایت ورته نۀ کوم۔ که د مور او پلار خدمت ئې وکړو نو پنځوس کاله عمر به ئې وی او که وے نکړو نو څلویښت کاله به وی، بیا الله تعالیٰ ته پته وی چه دا به کوم یو کوی۔

دا هم الله تعالیٰ په تقدیر کښې لیکلی وی، که دوائي ئې وخوړه نو لس ورځے به ناجوړه وی او که وے نۀ خوړه نو شل ورځے به ناجوړه وی۔ نو ددے وجه نه شریعت د اسبابو په استعمالولو امر کړیدے ځکه چه دا اسباب هم الله تعالیٰ په تقدیر کښې لیکلی دی۔

٤- یَمْحُو اللّٰهُ مَا یَشَاءُ مِنَ الذُّنُوبِ وَیُثْبِتُ مَوْضِعَهَا الْحَسَنَاتِ) الله تعالیٰ محوه کوی کوم گناهونه چه وغواړی او د هغے په ځای نیکئ ولیکي۔

٥- پدے کښې د چا ذلیله کول او عزت ورکول هم داخل دی۔ ٦- رزقونو ورکولو او اخستو سره هم لگی۔ ۷- بعض گناهونه بغیر د توبے نه معاف کوی او بعض باقي پریدی یعني بغیر د توبي نه ئې نۀ معاف کوی۔ (فتح البیان وغیره)

لیکن د سیاق سره زیات مناسب اولنی دوه مطلبونه دی۔

اُمُّ الْكِتَابِ : اصل د کتاب نه مراد لوح محفوظ دے۔ او کعبؒ وائي چه دا د الله تعالیٰ علم ته وائي۔ خو دغه علم لیکلے شویدے نو ځکه ورته ام الکتاب وائي۔

او حاکمؒ د ابن عباس ﷺ نه روایت کړیدے او دے ته ئې صحیح وئیلے دے۔ (ووافقه الذهبيؒ والالبانيؒ) [لَا يَنْفَعُ الْحَذَرُ مِنَ الْقَدَرِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَمْحُو بِالدُّعَاءِ مَا يَشَاءُ مِنَ الْقَدَرِ]

چه احتیاط د تقدیر په مقابله کښې نفع نشي رسولے لیکن الله تعالیٰ د دعا په ذریعه د تقدیر کومه خبره چه غواړی ختموی۔ (حاکم۲/۳٥۰)

وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ
او كه چرې اُوښايو مونږ تا ته بعض هغه عذاب چه مونږه ئې وعده كوو د دوى سره
أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلاغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ﴿٤٠﴾
يا وفات كړو تا لره نو يقيناً په تا باندے رَسَول دى او په مونږ باندے حساب كول دى۔
أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا وَاللهُ
آيا دوى نهٔ گورى چه بيشكه مونږه راځو زمكے ته، كموو دے لره د اطرافو نه او الله
يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ وَهُوَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿٤١﴾
فيصله كوى، نشته روستو كونكے د فيصلے د هغهٔ، او هغه زر حساب كونكے دے۔
وَقَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلِلّٰهِ
او يقيناً مكرونه كړى وو هغه كسانو چه مخكښ وو د دوى نه نو د الله په اختيار كښ دى
الْمَكْرُ جَمِيْعًا يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ وَّسَيَعْلَمُ
مكرونه د دوى ټول، پوهيږى الله په هغه څه چه كوى ئې هر نفس او زر دے چه پوهه به شى
الْكُفَّارُ لِمَنْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿٤٢﴾ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
كافران چه د چا دپاره دے انجام د كور (آخرى)۔ او وائى هغه كسان چه كفر ئې كړيدے
لَسْتَ مُرْسَلًا ط قُلْ كَفٰى بِاللهِ شَهِيْدًا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ
نهٔ ئې ته رسول، اُووايه كافى دے الله گواه په مينځ زما او په مينځ ستاسو كښ
وَمَنْ عِنْدَهٗ عِلْمُ الْكِتَابِ ﴿٤٣﴾
او هغه څوك چه د هغهٔ سره پوهه د كتاب ده۔

تفسیر : مخكښ ئے شبهات دفع كړل نو اُوس پدے آيت كښ نبى كريم ﷺ ته تسلى وركړے كيږى چه تا خپله ذمه وارى پوره كړه، اُوس كه څوك ستا دعوت نهٔ قبلوى نو الله تعالىٰ به د هغهٔ سره حساب كوى۔ او په دنيا كښ ستا دشمنان كيدے شى چه الله تعالىٰ ستا په ژوند كښ ذليله او رسوا كړى، يا كيدے شى چه ستا د وفات نه روستو دوى سره

داسې وشي۔ يعنې عذابونه به په خپل وخت راځي، د هغې پرواه مۀ کوه، او د هغې په انتظار مۀ کېنه، هغه د الله تعالیٰ خوښه ده چه څه وخت ئې پرې راولي۔ خو تۀ خپله ذمه واري جاري ساته۔

أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ : اَیْ قَبْلَ اَنْ نُرِيَكَ۔ يعنې يا به تا وفات کړو مخکښې د دوی د عذاب درخودلو نه۔ او د اما جزاء پټه ده۔ [فَسَتَرَاهُ فِي الآخِرَةِ] نو تۀ به ئې په آخرت کښې وينې۔

يا جزاء داسې ده : [فَلَا تَقْصِيرَ عَلَيْكَ وَلَا لَوْمَ عَلَيْكَ] ستا هيڅ کوتاهي نشته، او نۀ په تا باندې ملامتيا شته۔ (فتح البيان)

او دا دليل دې چه رسول الله ﷺ د وفات نه روستو د دنيا حالات نشي ليدلې۔

أَوَلَمْ يَرَوْا : دا بله دهمکي ده، يعنې د مکې کافرانو ته پدې باره کښې ولې شبهه ده چه دوی وائي چه الله تعالیٰ مونږ ته عذاب ولې نۀ راکوی او په ذلت او رسوائي کښې مو نۀ اخته کوی، آيا دوی نۀ ګوری چه دوی د مکې د زمکې څلور واړو طرفونو نه تنګولې شي او هر کال مسلمانان څه علاقې فتح کوی او مکې طرف ته په مخه روان دی، او د مکې کافرانو دپاره زمکه تنګيږی۔ الله تعالیٰ چه څه غواړی فيصله کوی، څوک پورته کوی او څوک غورزوی، څوک وژنې نو څوک ژوندی کوی۔ د هغۀ په فيصلو کښې هيڅوک مداخلت نشي کولې۔ او هغه خو ډير په جلتئ سره انتقام اخستونکې دې۔ په دنيا کښې خو په قيد او بند او د قتل په سخت امتحان کښې ګرفتار دی، نزدې ده چه په آخرت کښې هم الله تعالیٰ د دوی نه حساب واخلي او د دوی د بدو عملونو دوی ته بدله اُوشکوی۔

د الله تعالیٰ زمکې ته راتلل او د زمکې د کموالي څه مطلب دې؟

۱- نو ددې آسان مطلب دا دې چه ددې نه مراد د مؤمنانو ډير والې او د کافرانو کموالې دې **نَأْتِي الْأَرْضَ** : اَیْ بِزِيَادَةِ اَهْلِ الْإِيْمَان۔ يعنې زمکې ته راځو په زياتوالي د مؤمنانو سره۔ اَو **نَنْقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا** : اَیْ بِتَقْلِيْلِ الْكَافِرِيْنَ ۔ او زمکه کموو د اطرافونه، يعنې په کمولو د کافرانو سره۔ نو د کافرانو زمکه کميدله او د مؤمنانو ډيريدله۔ او مطلب دا دې چه د حق غلبه به خامخا راځي نو راشئ زر ايمان راوړئ ګنې ذليله به شئ۔ ﴿فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَاءً وَأَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ﴾۔ (الرعد :۱۷) دا هله چه دا آيت مکي شي۔

۲- او که دا آيت مدني شي نو بيا به ئې اول مصداق وی کوم چه مخکښې تشريح کښې

ذکر شو۔ چه رسول الله ﷺ او د هغه ملګری وخت په وخت علاقے نیولے، عُسفان ته راورسیدل بیا طائف ته بیا مکے ته۔ لکه دا تفسیر د قتادهٌ او د یو جماعة د مفسرینو دے۔

٣- یا مراد دا دے چه د زمکے نه برکات او میوے وغیره کموو او عذابونه، سیلابونه او طوفانونه راولو په سبب د شرك او د ګناهونو د خلکو سره۔ (ابن عباسٌ)

٤- پدے کښې یو مجازی تفسیر د ابن عباسٌ او مجاهدٌ نه دا هم نقل دے چه د نقصان الارض نه (مَوْتُ عُلَمَائِهَا وَفُقَهَائِهَا وَذَهَابِ خِيَارِ اَهْلِهَا) مراد دے۔ یعنی د زمکے کموالے دا دے چه علماء او د دین ماهرین او نیکان خلك وفات شی۔ او دا هم په عموم د آیت کښې داخلیدلے شی۔ (فتح البیان) لکه اُوس همدا زمانه شروع ده۔

وَاللّٰهُ يَحْكُمُ : که څوك ووائی چه مونږ به سره ددے طاقتونو نه څنګه مغلوبه شو؟ نو الله تعالیٰ فرمائی چه الله تعالیٰ فیصله کړیده او د هغهٔ فیصله هیڅوك نشی روستو کولے چه کافران به مغلوبه کیږی۔

لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهٖ : مُعَقِّب هغه شی ته وائی چه د یو شی پسے روستو نه راشی او هغه باطل کړی او ختم ئے کړی۔ اَیْ لَا رَادَّ لِحُكْمِهٖ وَقَضَائِهٖ۔ (فراءٌ)

نشته واپس کونکے د فیصلے او د تقدیر د الله تعالیٰ۔

وَقَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ : دا د (لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهٖ) تشریح ده۔

پدے آیت کښې هم نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکړے کیږی چه د مکے کافرانو نه مخکښې هم چه کوم کافران په دنیا کښې تیر شویدی هغوی د خپلو انبیاؤ (علیهم السلام) او د حق په مخالفت کښې سازشونه وکړل، لیکن هغه سازشونه د هغوی په کار رانغلل بلکه د هغوی دپاره وبال وګرځیدل، ځکه چه کامیاب تدبیر خو صرف د الله تعالیٰ تدبیر وی۔ او د دوی تدبیرونه ټول د الله په اختیار کښې دی نو کله چه د یو دشمن واك د الله په اختیار کښې شو نو د هغهٔ مکر بیا هیڅ کار نشی ورکولے۔

يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ : پدے کښې ددے مکر تشریح کوی چه الله تعالیٰ خپل سرکش او نافرمانه بندګان کله چه هغوی د غفلت په خوب اُوده وی ناڅاپی رانیسی، هغه د هر فرد د ښهٔ او بدو اعمالو نه خبردار دے، او د کافرانو د هغهٔ چلونو نه هم خبردار دے کوم چه د انبیاؤ مخالف روان وی۔ نو د دوی چلونه د هغه په لاس کښې دی۔

وَسَيَعْلَمُ الْكُفّٰرُ : پدے کښې کافرانو ته دهمکی ورکړے شویده چه نزدے ده چه دوی ته به پته ولګی چه په دنیا یا آخرت کښې یا دواړو ځایونو کښې به ښهٔ انجام چا ته نصیب

کیږي۔

نو پدې آیتونو کښې اول مشرکانو ته او بیا ټولو کافرانو ته دهمکي ورکړې شوه چه ستاسو که هرڅو مره چلونه او مکرونه راشي خو تاسو به ضرور مغلوبه کیږئ او حق له به الله تعالیٰ غلبه ورکوي۔

وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا : پدې کښې بیا په مشرکانو رد دے چه دوی سَره ددے دومره ډیرو دلیلونو او معجزونه بیا هم د رسول الله ﷺ رسالت نهٔ مني۔ او دا د ابتداء د سورت سره لګي یعنی د ﴿ وَالَّذِي أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ الْحَقُّ﴾ سره۔ نو الله تعالیٰ د نبی په ژبه جواب کوی : زما او ستاسو ترمینځ الله تعالیٰ کافی ګواه دے، هغه زما د نبی کیدو رښتینوالے او ستاسو دروغ ښهٔ پیژني او هغه یهود او نصاریٰ ئے هم ښهٔ پیژني چه هغوی ته مخکښې آسماني کتابونه ورکړے شویدي۔

د عربو مشرکانو به د یهودو او نصاراؤ نه د رسول الله ﷺ په باره کښې تپوس کولو، پدے وجه ذلته د هغوی حواله هم ورکړے شویده چه هغوی هم د خپلو کتابونو په ذریعه پوهیږي چه محمد (ﷺ) د الله رسول دے۔ لکه چه عبد الله بن سلام، سلمان فارسی او تمیم داری (رضی الله عنهم) او کعب الاحبارؒ وغیره د اسلام راوړو نه روستو به ددے شهادت ورکولو چه په تورات او انجیل کښې د رسول الله ﷺ د خاتم النبیین کیدو صراحت موجود دے۔ لکه چه په سورة الاعراف آیت (۱۵۷) کښې راغلي دي : ﴿الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ﴾ چه (دوی د نبی کریم ﷺ ښائسته ذکر په تورات او انجیل کښې په صراحت سره مونده کوی)۔ او په سورة الشعراء آیت (۱۹۷) کښې دي : ﴿ أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ آيَةً أَن يَعْلَمَهُ عُلَمَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴾ یعنی آیا دوی دپاره دا نخه کافی نهٔ ده چه د بنی اسرائیلو علماء ښه پوهیږي چه محمد (ﷺ) د الله نبی دے۔

او سعید بن جبیرؒ وائي چه دا سورت مکی دے نو د ﴿ مَنْ عِندَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ ﴾ نه مراد جبریل ؑ دے۔ لیکن اول قول ظاهر دے چه عام اهل کتاب چه د هغوی سره د تورات او انجیل علم وو، یعنی شام او نجران او حبشو کښې اهل کتاب وو، او عرب به د هغوی علاقو ته د تجارتونو دپاره ورتلل، نو د هغوی نه تپوس وکړئ هغوی به درته خبر درکړی چه په مکه کښې یو رسول پیدا کیدو والا دے۔ او که خپله جاهل ئے نو بیا د الله تعالیٰ قدرت ته وګوره چه ددے رسول تائید او نصرت کوی۔

او که خپله نهٔ پوهیږے د پخوانو علماؤ نه تپوس وکړه۔ د الله تعالیٰ د شهادت بیان په

سورة النساء کښې ذکر شویدې چه دا شهادت په بیان سره دے او دلیلونو قائمولو سره په صدق د رسول الله ﷺ باندے، او په تائید او په نصرت سره چه الله تعالیٰ وخت په غلبه ورکوی۔

او دا تفسیر اَبۡعَد (ډیر بعید) دے چه واوئی چه واو قسمیه دے او ﴿ مَنۡ عِنۡدَهٗ عِلۡمُ الۡكِتَاب ﴾ نه مراد الله تعالیٰ دے۔ وبالله التوفیق، والله اعلم بدقائق کتابه الحکیم۔

امتیازات اوخصوصیات د سورت رعد

۱- پدے سورت کښې عظمة الوحی په ناشنا انداز کښې ذکر دے۔

۲- پدے کښې کثرة الامثله (ډیر مثالونه) دی۔

۳- او فرقونه د څیزونو ترمینځ زیات دی لکه د مؤمن او مشرك، د معبود حق او معبود باطل۔ د مؤمن د صفاتو او د کافر د صفاتو فرقونه۔

٤- د مشرکانو په رسالت باندے د زیاتو اعتراضونو جوابونه شویدی۔

ختم شو تفسیر د سورة الرعد بحمد الله وحسن توفیقه په تاریخ ۱۰ جمادی الاولیٰ یوم الاثنین الموافق ۲/۳/۲۰۱۵ وقت : ۱۲:۵۰ ظهر۔ فی یوم مطیر۔

بسم الله الرحمن الرحيم

رکوعاتها (۷)	(۱٤) سورة ابراهيم مكية (۷۲)	آیاتها (٥٢)

سورة ابراهیم مکی دہ، پدے کښې دوه پنځوس آيتونه او اُوه رکوع دی۔

تفسير د سورة ابراهيم

نوم : ابراهیم ﷺ د خانه کعبے جوړولو نه روستو د خپل رب نه څه دعاګانے کړے وے چه د امت اسلامیه د راښکاره کیدو نه روستو پوره شوے، لکه د بیت الله حج او د کعبے د مسلمانانو دپاره قبله جوړیدل۔ د ابراهیم ﷺ او د هغهٔ د دغه دعاګانو په مناسبت سره ددے سورت نوم ((ابراهیم)) کیخودلے شویدے، او پدے کښې رددے په مشرکانو۔

د نزول زمانه : د ابن عباسؓ، عکرمهٌ، حسنٌ، جابر بن زیدٌ او قتادهٌ وغیره په نیز د دوه یا درے آیتونو (۲۸/۲۹/۳۰) نه سوئ ټول سورت مکی دے۔

مناسبت

۱- مخکښې سورت کښې رد د شرك وشو چه غیر الله ته آواز کول ضائع دی (كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ) نو دلته بَيَانُ الْعُقُوبَةِ عَلٰى مَنْ يَفْعَلُ ذٰلِكَ ۔ د هغه چا سزا بیانوی چه څوك دا کار کوی لکه پخوانی قومونه ئے په شرك سره هلاك كړل۔ ﴿وَذَكِّرْهُمْ بِأَيَّامِ اللهِ﴾۔

۲- مناسبتِ لفظی : مخکښې ذکر شو چه مشرکانو وویل : لَسْتَ مُرْسَلًا ۔ تهٔ د الله رسول نهٔ ئے نو دلته وائی چه ﴿لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ﴾ یعنی تهٔ زما رسول ئے او ما دیو لوی مقصد دپاره رالیږلے ئے چه خلك به د تیارو نه رڼا ته راوباسے۔

۳- موضوعاتی مناسبت : مخکښې عظمة الوحی بیان شوه، نو پدے سورت کښې اَلشُّكْرُ عَلٰى نِعْمَةِ الرِّسَالَةِ بیانیږی۔ یعنی هرکله چه وحی عظیم شے دے نو پدے نعمت به شکر کوئ۔

٤- مخکښې سورت کښې د قرآن کریم او د رسول الله ﷺ رشتینوالے بیان شو نو پدے سورت کښې ددے دواړو مقصد ذکر کوی چه هغه ﴿لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَى النُّوْرِ﴾

دي۔ (احسن الکلام)

موضوع د سورت

۱- زمونږ مشائخ وائی : چه ددے سورت موضوع ده اَلتَّذْكِيْرُ بِاَيَّامِ اللّٰه۔
یعنی خلك راویستل د تیارو نه رنړا ته په کتاب الله سره، او په تَذْكِيْر بِاَيَّامِ الله سره یعنی په دنیوی او اخروی واقعاتو ذکر کولو سره۔ لیکن دے موضوع سره ټول سورت په ډیر ښهٔ شان سره نهٔ لګی۔

❁ ظاهر دا ده چه پدے سورت کښې دوه موضوع دی (۱) اَلرِّسَالَةُ نِعْمَةٌ ۔ پیغمبر رالیږل د الله د طرفنه لوی نعمت دے۔ نو پدے سورت کښې به په رسالت ډیر بحث کیږی۔
(۲) دویم شُكْرُ النِّعَمِ كُلِّهَا خُصُوْصًا نِعْمَةُ الرِّسَالَةِ ۔ د ټولو نعمتونو شکر پکار دے خاصکر د رسالت نعمت چه الله تعالیٰ محمد رسول الله ﷺ رالیږلو (اے قریشو! او بیا عام امت ته وائی) ددهٔ خو شکر پکار وو چه دا ومنلے شی، او تابعداری ئے وکړے شی، او تاسو دے نعمت له دیکه ورکویٔ ﴿اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ كُفْرًا وَّاَحَلُّوْا﴾ د الله تعالیٰ نعمة ئے په ناشکریٔ بدل کړو۔ (په یو قوم کښې چه نبی یا یو عالِم راشی پکار ده چه دا ټول قوم پرے فخر وکړی او د هغه شکر ادا کړی چه دوی جنت ته راکاږی)
لیکن بعض خلك خپل خیرخواهان نهٔ پیژنی، بلکه نعمت له دیکے ورکوی۔
د ابراهیم علیه السلام په واقعه کښې هم راځی۔ (لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُوْنَ) (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ) د ابراهیم علیه السلام شکرګزاری به بیانیږی، د هغه اقتداء وکړیٔ۔
نو د رسالت متعلق خبره به زیاته بیانیږی چه رسولان چه راځی نو دا لوی نعمت دے ځکه چه دوی خلك د تیارو نه رنړا ته راوباسی، د رسولانو په وجه انسانانو ته الله تعالیٰ هدایت کوی او د عذابونو نه ئے بچ کوی، بیا د رسولانو په خلاف کښې چه څوك ودریدلی دی هغه هلاك شویدی، هغوی د زمکے نه شړلے شویدی، جهنم ئے ځای دے۔
ورسره دا خبره به ملګرے کوی (لکه دا د قرآن طریقه ده) چه څوك رسول نهٔ منی بیا به د بل لیډر پسے روانیږے چه هغه شیطان دے۔ (وَقَالَ الشَّيْطَانُ) (۲۲ آیت) بعض خلك د نورو لیډرانو پسے روان شو چه یو په هغے کښې شیطان دے۔ ﴿فَقَالَ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا﴾ (آیت : ۲۱) کښې به د نورو لیډرانو تذکره کیږی۔ چه غلط مشران به د کشرانو نه بیزاری کوی، او بیا به د ټولو مشر لیډر (شیطان) له ورشی، هغه به ورته وائی چه ما مهٔ ملامته

کوئ خپل ځانونه ملامته کړئ، دا موضوع ئې هم پدې سورت کښې پدې وجه راوړيده چه يا به د رسول تابعداري کوې، يا به د بل ګمراه پسې روانيږې. نو آيا دا ښه نۀ ده چه يو تن د رسول الله ﷺ پسې روان شي.

نو دا ډير عجيب دعوت دے. ددے وجه نه چه چا د رسول الله ﷺ طاعت او اتباع پريښے ده، الله تعالىٰ د شيطان په لاره روان کړيدے. اګرکه هغه به ګمان کوی چه زۀ د پير يا ملا پسے روان يم مګر هغه به په حقيقت کښې د شيطان تابع وی ځکه چه د رسول الله مخالفت د شيطان دعوت دے.

د سورت اجمالي خلاصه

د سورت د ابتداء نه قرآن ته ترغيب دے او د رسول الله ﷺ شان ئې پکښې بيان کړيدے، پداسے طريقه چه د رسول الله ﷺ عزت پکښې راځي. بيا ئې کافرانو ته تخويف ورکړيدے (۳) آيت کښې، بيا ئې د رسالت بيان کړيدے چه الله تعالىٰ هر رسول په ژبه د خپل قوم راليږلے دے د بيان دپاره، او د رسالت نه بعد خلك دوه ډله شويدی ګمراهان او هدايت والا، د هغے مثال ئې د موسىٰ عليه السلام په واقعه راوړيدے تر (۸) آيت پورے، بيا تخويف دنيوی ذکر دے چه قوم نوح وغيره هلاك شو د دوی نه عبرت واخلئ.

د هغه اقوام مکذبه ؤ کار څه وو؟ د پيغمبرانو مقابله کښې ودريدل او په هغوی باندے درے قسمه اعتراضات کول او د انبياء عليهم السلام د هغوی په مقابله کښې صبر او توکل کول، بيا ئې ورسره د آخرت عذاب ملګرے کړيدے تر (۱۸) آيت پورے، بيا ئې د غلطو مشرانو او کشرانو بيزاری ذکر کړيده، ورسره د شيطان بيزاری تر (۲۲) آيت پورے، بيا ئې د هغوی په مقابله کښې بشارت ذکر کړيدے او دوه مثالونه د مؤمن د ايمان او د مشرك د شرك مثال، او دا مثال په اتباع د رسول الله ﷺ کښې دے، او د هغۀ د مخالف په باره کښې. او بيا زجر دے په ناشکرئ د نعمت باندے، چه په هغه آيت کښې به دوه قسمه نعمتونه بيان کړی دينی او دنيوی،

بيا ئې په يوه رکوع کښې د ابراهيم عليه السلام واقعه د شکر او ناشکرئ دپاره ذکر کړيده، او په آخری رکوع کښې تول تخويف دے مجرمانو ته او نبی کريم ﷺ ته زيرے ورکوی چه پيغمبرانو ته به الله تعالىٰ غلبه ورکوی او آخر کښې ئې د قرآن کريم د نازلولو حکمة ذکر کړيدے. او په اول کښې هم حکمة ذکر دے. (لِتُخرِجَ النَّاسَ).

حاصل دا چه پدے سورت کښې هم د عامو مکی سورتونو په شان د نبی کریم ﷺ په نبوت باندے دلیل نیولے شویدے۔ او قریش کافرانو ته په قرآن او د رسول الله ﷺ په نبوت باندے د ایمان راوړو دعوت ورکړے شویدے، او د دوی د کفر او عناد په نتیجه کښې د مختلف قسم دنیوی او اُخروی سزاګانو د همکی ورکړے شویده۔

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

الٓرٰ كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ
الله تعالیٰ پوهه دے په مطلب ددے۔ دا کتاب دے چه نازل کړیدے مونږ تا ته
لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّوْرِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلٰى صِرَاطِ
دے دپاره چه ته اُوباسے خلقو لره د تیارو نه رڼرا ته په حکم د رب د دوی لارے
الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ﴿١﴾
د هغه ذات ته چه زورور ستائیلے شویدے۔

تفسیر: الٓرٰ، دا حروف مقطعات دی، ددے په معنیٰ الله پوهیږی۔ پدے کښې د قرآن کریم شان او حکمتونو ته اشاره ده۔

كِتَابٌ: دا خبر د مبتداء دے (اَیْ هٰذَا كِتَابٌ) دا لوی کتاب دے، تنوین د تعظیم دپاره دے، نو پدے کښې د قرآن کریم تعظیم کول مقصد دے۔

اَنْزَلْنَاهُ: (مونږ نازل کړیدے) الله تعالیٰ ځان ته نسبت وکړو اشاره ده چه دا د لوی الله خبرے دی، د انسان خبرے نهٔ دی، نو ډیر عظمت ته اشاره ده۔ او اشاره ده چه دغه عظیم ذات به ددے په باره کښې د بندګانو نه تپوس کوی۔

إِلَيْكَ او **تُخْرِجَ** کښې (انت) ضمیر ډیر مقصود دے چه اے نبی! تا ته مے دا کتاب راولیږلو نو ته د الله رسول ئے، ځکه چه چا ته د الله کتاب راځی هغه رسول وی۔

لِتُخْرِجَ النَّاسَ: دا د قرآن کریم د نازلیدو حکمة بیانیږی چه خلك پرے د تیارو نه راوباسے۔ او تُخْرِجَ ځکه وائی چه کله قرآن خپله په طاقچه کښې پروت وی نو هغه راویستل نشی کولے، او خلك د منکراتو نه نشی منع کولے بلکه محمد رسول الله ﷺ به هغه بیانوی نو د هغے په وجه به بندګان د تیارو نه راوځی۔ پدے وجه الله تعالیٰ کتاب الله او

رسول الله ﷺ دواړه راليږلي دي. نو پدې وجه داعي له هم ددې بيان ضروري دې.
د ((ظلمات)) او ((نور)) ډير مصداقات او مطلبونه په سورة البقره کښې ذکر شويدي.
١- مِنْ ظُلُمَاتِ الْكُفْرِ اِلَى نُوْرِ الْإِيْمَانِ. ٢- مِنْ ظُلُمَاتِ الشِّرْكِ اِلَى نُوْرِ التَّوْحِيْدِ.
٣- مِنْ ظُلُمَاتِ الْبِدْعَةِ اِلَى نُوْرِ السُّنَّةِ ٤- مِنْ ظُلُمَاتِ الْمَعْصِيَةِ اِلَى نُوْرِ الطَّاعَةِ.
٥- مِنْ ظُلُمَاتِ الشَّكِّ اِلَى نُوْرِ الْيَقِيْنِ ٦- مِنْ ظُلُمَاتِ الْجَهْلِ اِلَى نُوْرِ الْعِلْمِ.

قرطبيؒ وغيره دا ټول مصداقات وئيلي دي. يعنې د کفر او شرك او بدعت او ګناهونو او د شك او د جهالت د تيارو نه راوباسې رڼا د ايمان، توحيد، سنت، طاعت، يقين او علم ته. نو قرآن هم نعمت شو او رسول الله ﷺ هم نعمت. او ددې نعمت شکريه دا ده چه د هغوی سره محبت وساتي او د هغهٔ اتباع وکړي.

امام رازيؒ ليکي چه ظلمات په لفظ د جمع او نور په لفظ د مفرد ذکر شو پدې کښې اشاره ده چه دکفر او بدعت لارې ډيرې دي او د حق لاره صرف يو ده. انتهیٰ. (فتح)

بِإِذْنِ رَبِّهِمْ : يعنې رسول الله ﷺ صرف داعي او لارخودونکې دې نور واك د الله تعالیٰ دې، توفيق د هدايت د هغهٔ په لاس کښې دې نو هغهٔ ته متوجه کيدل پکار دي.

إِلَى صِرَاطِ : دا بدل دې د (النّور) نه، يعنې نور او د الله لاره يو شې دې، دغه رڼا د الله لاره ده.

الْعَزِيْزِ : پدې کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ زوره ور دې، څوك چه تيارو کښې پاتې شو او د رسول الله ﷺ خبره ئې ونهٔ منله نو الله به عذاب ورکړي. او دې دواړو صفتونو کښې اشاره ده چه دغه لاره سبب د عزت او حمد دې د الله تعالیٰ د طرفنه.

الْحَمِيْدِ: کښې د الله تعالیٰ شکر ته اشاره ده چه د هغهٔ شکر پکار دې ځکه چه هغه نعمت ورکونکې احسان کونکې دې. حميد هغه ذات ته وائي چه که څوك ئې صفت کوي او که نهٔ خو هغه ئې لائق دې.

اللهِ الَّذِىْ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ
الله هغه ذات دې چه د هغهٔ په اختيار کښې دي هغه څه چه په آسمانونو کښې دي
وَمَا فِى الْاَرْضِ وَوَيْلٌ لِّلْكٰفِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ ﴿٢﴾
او هغه څه چه په زمکه کښې دي او هلاکت دې کافرانو لره د عذاب سخت نه.

الَّذِيْنَ يَسْتَحِبُّوْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا عَلَى الْآخِرَةِ وَيَصُدُّوْنَ
هغه کسان دی چه خوښوی ژوند دنیوی په آخرت باندے او منع کوی (خلقو لره)
عَنْ سَبِيْلِ اللهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا أُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلَالٍ بَعِيْدٍ ﴿۳﴾
د لارے د الله تعالیٰ نه او لټوی په هغے کښې کږلیچ، دا کسان په ګمراهئ لرے کښې دی۔

تفسیر : اللهِ : دا عطف بیان دے د (العزیز الحمید)۔ یعنی دغه لاره (دین اسلام) د هغه الله لاره ده چه هغه د آسمانونو او د زمکے ترمینځ د هر شی مالك دے۔ نو که څوك د هغهٔ هدایت ته رانغی، د هغهٔ په بادشاهی کښې هیڅ نقصان نهٔ راځی۔

وَوَيْلٌ : پدے وجه په دنیا کښې هلاکت او بربادی او د قیامت په ورځ د اُور عذاب دے هغه کافرانو دپاره چه د نبی کریم ﷺ دعوت نهٔ قبلوی، او د کفر د تیارو نه وتلو سره د ایمان او اسلام رڼرا کښې نهٔ داخلیږی۔ یعنی دے خلکو ځان تباه کړو۔

الَّذِيْنَ يَسْتَحِبُّوْنَ : د دغه کافرو صفات بیان شویدی چه دوی د آخرت ژوند هیروی، او د دنیا د ژوند په کامیابولو کښې ورننوتی دی، او د الله بندګان په حقه لاره باندے روانیدو نه منع کوی او وائی چه دا لاره صحیح نهٔ ده، یا غواړی چه خلق د اسلام نه واوړی، یا د الله دین د دوی د نفس د خواهش مطابق شی۔ الله تعالیٰ د دوی په باره کښې فرمائی چه دوی د ګمراهئ په لاره ډیر لرے تلی دی۔ او د ﴿ أُولٰٓئِكَ ضَالُّوْنَ ﴾ په ځای ﴿ أُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلَالٍ ﴾ وئیلو سره دے طرف ته اشاره ده چه ګمراهی د دوی دویم فطرت جوړ شویدے۔

عَلَى الْآخِرَةِ : ددے نه د دنیا د محبت معنیٰ ښکاره کیږی چه د دنیا محبت هغه ممنوع دے چه انسان د آخرت کارونه پریدی او دنیا واخلی۔ یعنی د آخرت په مقابله کښې دنیا غوره کړے شی۔ او نفس دنیا سره محبت ساتل مذموم نهٔ دی۔

وَيَصُدُّوْنَ : قرآن کښې دا جمله هم ډیره راځی ځکه چه صد عن سبیل الله په هر دور کښې د داعی په خلاف کیږی۔

سَبِيْلِ اللهِ : د الله لاره د رسول الله ﷺ لاره، او دین اسلام دے۔

فِيْ ضَلَالٍ بَعِيْدٍ : اَیْ عَنِ الْحَقِّ۔ یعنی د حق نه ډیر لرے والی کښې دی ځکه چه څوك د نبی په خلاف کښې ودریږی نو هغه ته هدایت کیدل زر ممکن نهٔ وی ځکه چه د هدایت یوه لاره ده او هغهٔ یو تن پریخوسته نو بل په کومه لاره کښې به دهٔ ته هدایت کیږی۔ او عام

ناپوهه خلك د هدايت په خوا وشا كښې روان وي نږدې ده چه ورته راواوړي، خو چه كله د نبي په خلاف يو تنظيم او پارټي او مذهب جوړ كړي نو هغه د هدايت نه لرې شو. لكه دا خبره بار بار تيره شويده.

وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهٖ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ
او نهٔ دے ليږلے مونږ هيڅ رسول مگر په ژبه د قوم د هغهٔ دے دپاره چه بيان كړي دوى ته
فَيُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ
(احكام د الله) نو گمراه كوى الله تعالىٰ چا له چه اُوغواړي او هدايت كوى
مَنْ يَّشَآءُ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٤﴾
چا له چه اُوغواړي او هغه زورور حكمتونو والا دے.

تفسير : پدے آيت كښې د عامو پيغمبرانو اجمالي واقعه بيانوى چه الله تعالىٰ هر رسول د هغهٔ د قوم په ژبه راليږلے دے دپاره چه هغوى ته خبره ښهٔ واضحه شي، بيا د پيغمبرانو نه روستو به څه كار پيدا كيدو نو پدے كښې طبيعت د رسالت بيانوى.

نو دغه شان الله تعالىٰ قرآن كريم نازل كړو او نبي كريم ﷺ ئے پيغمبر كړو، په عربو باندے ئے خپل احسان داسے پوره كړو چه رسول الله ﷺ عربي وو، د هغهٔ ژبه عربي وه، دے دپاره چه د شريعت كارونه هغوى ته د هغوى په ژبه د هغوى مخے ته بيان كړي، لكه چه الله تعالىٰ سورة فصلت آيت (٤٤) كښې فرمايلي دى : ﴿ وَلَوْ جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا اَعْجَمِيًّا لَقَالُوْا لَوْلَا فُصِّلَتْ آيٰتُهٗ ﴾ (كه مونږ قرآن په عجمي ژبه كښې نازل كړے وے نو دوى به وئيلے چه ددے آيتونه ولے نهٔ دى واضحه كړے شوى) ځكه چه عربي ژبه كښې هغه كمالات دى او فراخي او ژوروالے دے چه په نورو ژبو كښې نشته.

قَوْمِهٖ: داسے ئے ونهٔ ويل چه (بِلِسَانِ اُمَّتِهٖ) (په ژبه د امت د هغهٔ) ځكه چه په امت كښې خو مختلفے ژبے دى، بلكه اول مخاطبين د رسول الله ﷺ د هغهٔ قوم وو او هغوى دهٔ ته ډير نزدے وو، بيا به هغوى نورو ژبو والو ته وضاحت كوى په طريقه د ترجمے سره. او كه هر قوم ته په مختلفو ژبو قرآن كريم نازل شوے وے نو دا سبب د اختلاف جوړيدو او د جگړو دروازه كولاويده ځكه چه د هرے ژبے والا داسے معانى په خپله ژبه كښې لري چه هغه د دوى

نه علاوه خلك نۀ پیژني، او ډیر کرته به پدې کار سره تحریف او غلطي واقع کیدلې او د متعصبینو خلکو باطلې دعوې به ثابتیدلې.

دارنګه هر انسان د خپلې ژبې کمالات ښۀ پیژني نو وضاحت ښۀ کولې شي. نو الله تعالیٰ په یوه ژبه راولیږلو چه ټول خلك په مراد اخستو کښې برابر شي، ټول به دې یو لغت ته رجوع کوي او مقاصد به معلوموي. (فتح البیان بتصرف)

لِيُبَيِّنَ لَهُمْ : اَیْ شَرْعَ اللّٰهِ. دې دپاره چه بیان کړي دوی ته د الله تعالیٰ شرع او د هغه د دین احکام.

فَيُضِلُّ اللّٰهُ : پدې کښې د رسالت نه روستو پیدا کیدونکې حال بیانوي چه د رسول د رالیږلو نه روستو الله تعالیٰ ځینې خلك په خپل مشیت او حکمة سره ګمراه کړي ځکه چه هغوی ضد کښې راشي، او ځینو ته هدایت وکړي ځکه چه هغوی انابت والا وي.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِآيَاتِنَا أَنْ أَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ الظُّلُمَاتِ
او یقیناً لیږلې وو مونږ موسیٰ (علیه السلام) په آیتونو خپلو سره چه اُوباسه قوم خپل د تیارو نه
إِلَى النُّوْرِ وَذَكِّرْهُمْ بِأَيَّامِ اللّٰهِ إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَآيَاتٍ
رڼا ته او وریاد کړه دوی ته عبرتناك واقعات د الله تعالیٰ، یقیناً په دې کښې خامخا نخښې دي
لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿٥﴾ وَإِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهِ
دپاره د هر ډیر صبرناك او ډیر شکر ګذار. او کله چه اُووئیل موسیٰ (علیه السلام) قوم خپل ته
اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ إِذْ أَنجَاكُمْ مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ
یاد کړئ احسان د الله تعالیٰ په تاسو کله ئې چه خلاص کړئ تاسو د فرعونیانو نه
يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْءَ الْعَذَابِ وَيُذَبِّحُوْنَ أَبْنَاءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ
رَسَول به ئې تاسو ته بد عذاب او حلالول به ئې ځامن ستاسو او ژوندئ ئې پریخودلې
نِسَآءَكُمْ وَفِيْ ذٰلِكُم بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ﴿٦﴾
ښځې ستاسو او پدې کښې امتحان وو د طرف د رب ستاسو نه لوئې.

تفسیر : د تمامو انبیاؤ د بعثت مقصد دا وو چه دوی خپل امتونو ته په نیغه لاره

روانيدو دعوت ورکړي۔ نو اُوس يوه خاص واقعه د موسیٰ علیه السلام راوړي چه مقصد پکښې ترغيب الى الشكر دے، چه هغه خپل قوم ته د شكر كولو دعوت وركړے وو۔ نو رسالت يو نعمت شو۔ او لکه څنګه چه رسول الله ﷺ خلك د تيارو نه راويستل نو دغه شان موسیٰ علیه السلام هم راويستل۔

وَذَكِّرْهُمْ بِأَيَّامِ اللّٰهِ: تذكير نصيحت وركولو ته وائي او خبره ورته رايادولو.

ايام جمع د يوم ده ورځ ته وائي، بيا د عربو عادت دا دے چه د ايام نه مراد واقعات اخلي لكه ايام العرب يعني هغه ورځے چه په هغے كښې واقعات راغلي وي لكه يوم بدر، يوم احد يعني واقعه د بدر او واقعه د اُحد۔ نو دلته مراد: (وَقَائِعُ اللّٰهِ الَّتِيْ اَوْجَدَهَا عَلَى الْمُنَعَّمِيْنَ وَعَلَى الْمُعَذَّبِيْنَ) (زجاج) (فتح البيان) د الله تعالیٰ هغه واقعات دي چه بعض خلكو باندے ئے پكښې انعامات كړيدي او بعضو له ئے پكښې عذابونه وركړيدي۔ نو د الله واقعات دوه قسمه شو، نعمتونه او عذابونه۔ يعني دوی ته ترغيب او ترهيب وركړه۔

او په حديث د مسند احمد (۱۲۲/۵) رقم (۲۱۱۵۸) كښې ابي بن كعب رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت كړيدے [يُذَكِّرُهُمْ بِاَيَّامِ اللّٰهِ، نِعَمَهٗ وَبَلَاؤُهٗ] موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته د الله تعالیٰ ايام يعني نعمتونه او عذابونه بيانول۔ (حديث صحيح وهذا اسناد حسن فى المتابعات والشواهد من اجل محمد بن يعقوب ابى الهيثم الربالي – شعيب الارنووط)

يوه بله رائے داده چه د ((ايام الله)) نه مراد هغه نعمتونه دي چه الله تعالیٰ قوم د موسیٰ علیه السلام ته وركړي وو، او د ټولو نه اولنے دا نعمت چه دوی ته ئے د فرعون دظلم او زياتي نه نجات وركړے وو۔

لِكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ: د ((صبار شكور)) نه مراد هغه مؤمنان دي چه په مصيبتونو باندے صبر كوي او په نعمتونو شكر ادا كوي، او كله چه د تير شوي قومونو هلاكت يا په هغوی باندے د الله تعالیٰ د نعمتونو د باران واقعات آوري نو فوراً ويښ شي، خپله محاسبه كوي، او د صبر او شكر ژوند اختياروي۔

د صبر او شكر تخصيص ئے ولے وكړو؟ وجه دا ده چه صبر او شكر ايمان دے او مؤمن عبرت اخلي نۀ كافران۔

دويم دا چه چا ته چه د پخوانو قومونو واقعات بيان شي نو نيك بنده وائي چه زۀ به داسے كار نكوم لكه هغه خلكو چه كړے وو څكه په ما باندے به د هغوی په شان عذاب راشي نو بنده به د كافرانو د اعمالو نه صبر كوي او د هغه بندګانو په شان به شي چه

هغوی د پیغمبرانو ملګرتیا کړیده او شکر ئے کړیدے۔ نو پدے جمله کښې ترغیب دے چه ځان کښې صبر او شکر پیدا کړئ نو د پخوانو قومونو د واقعاتو نه به فائده واخلئ۔ (فتح) صبرئے مقدم کړو ځکه چه شکر د صبر نه راپیدا کیږی۔

وَإِذْ قَالَ مُوسٰى : دا تشریح د (اَيَّامِ اللهِ) ده۔ پدے وجه ئے پدے مقام کښې ﴿وَيُذَبِّحُوْنَ﴾ سره واو راوړو ځکه چه هر يو جدا جدا انعام وو۔

وَفِيْ ذٰلِكُم : يعنى د فرعون د موسىٰ عليه السلام د قوم سره دغه ظالمانه سلوك د الله د طرفنه لوی ازمیښت وو۔ ۲ – يا ذلك اشاره ده نجات ته، ځکه چه الله تعالىٰ په نعمت ورکولو سره امتحان کوی او دا ازمیښت زيات سخت وی۔

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيْدَنَّكُمْ
او کله چه اعلان اُوکړو رب ستاسو که تاسو شکر اُوکړو نو خامخا زيات به کړو تاسو لره
وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِيْ لَشَدِيْدٌ ﴿۷﴾ وَقَالَ مُوسٰى
او که تاسو ناشکرى اُوکړه يقيناً عذاب زما ډير سخت دے۔ او اُووئيل موسىٰ (عليه السلام)
إِنْ تَكْفُرُوْا أَنْتُمْ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيْعًا فَإِنَّ اللهَ
که ناشکر کوئ تاسو او هغه خوك چه په زمکه کښې دى ټول نو يقيناً الله
لَغَنِيٌّ حَمِيْدٌ ﴿۸﴾
بے حاجته ستائيلے شويدے۔

تفسير : دا هم د موسىٰ عليه السلام وينا ده يعنى موسىٰ عليه السلام خپل قوم ته دا هم ووئيل چه ستاسو رب دا اعلان کړيدے او ما ته ئے دا خبر راکړيدے چه که تاسو د هغهٔ د نعمتونو په خالص ايمان او عمل صالح سره شکر ادا کوئ نو هغه به تاسو ته نور زيات رزق درکړى او په دنيا کښې به مو معزز او مکرم کړى۔ او دا اعلان د الله تعالىٰ ټول انسانيت ته دے پدے وجه خو الله تعالىٰ دا اعلان په قرآن کريم کښې هم نازل کړو۔

وَإِذْ تَأَذَّنَ : دا په معنىٰ د اَذِنَ سره دے اَىْ اَعْلَمَ۔ يعنى خبر ورکړو۔ (قرطبىؒ)

لَأَزِيْدَنَّكُمْ : ۱ –اَىْ مِنْ نِعَمِىْ-يعنى خپل نعمتونه به درته زيات درکړم۔

۲ – اَىْ مِنْ طَاعَتِىْ۔ سفيان ثورىؒ او حسنؒ ددے تفسير دا بيانوى چه هغه به تاسو ته د زيات

طاعت او د بندګئ توفیق درکړي. او که ناشکري کوئ نو هغه نعمتونه به تاسو نه واخستے شي او په سخت عذاب کښې به اخته شئ. (تفسیر ابن ابی حاتم والطبری وفتح البیان)

وَقَالَ مُوسَىٰ إِنْ تَكْفُرُوْا : موسیٰ علیه السلام دا هم وویل چه که تاسو او زمکه کښې اُوسیدونکي ټول خلق د الله ناشکره شي نو ددے نقصان به همدا تاسو ته رسیږي، هغه ستاسو د شکر محتاج نهٔ دے، ستاسو په ناشکرئ سره د هغهٔ په ذات او صفاتو کښې هیڅ کمے نهٔ راځي. نو پدے کښې دا ذهن جوړول مقصود دے چه د شکر فائده انسان ته خپله راجع کیږي، الله تعالیٰ ته هیڅ فائده نهٔ حاصلیږي، صرف الله تعالیٰ پرے خوشحالیږي.

غالباً هغهٔ به دا خبره په هغه وخت کښې کړي وي چه کله ئے ولیدل چه د هغهٔ قوم په کفر او عناد باندے کلك دے، او د ترغیب او ترهیب هیڅ اسلوب او طرز په دوی باندے اثر نهٔ کوي.

امام مسلمؒ د ابوذر رضی الله عنه نه حدیث قدسي روایت کړیدے چه الله تعالیٰ فرمائي : ((اے زما بندګانو ! که ستاسو اول او آخر او انسانان او پیریان ستاسو نه د یو ډیر نیك انسان په شان شي، نو پدے سره زما په بادشاهئ کښې هیڅ زیاتے نهٔ کیږي. اے زما بندګانو ! که ستاسو اول او آخر او انسانان او پیریان ستاسو نه د یو ډیر بد کار انسان په شان شي نو پدے سره زما په بادشاهئ کښې هیڅ کمے نهٔ راځي، اے زما بندګانو ! که ستاسو ټول اول او آخر او انسانان او پیریان په یو ځای راجمع شي او ما نه غواړئ او زهٔ هر یو ته د هغهٔ مراد پوره کړم نو پدے سره زما په خزانو کښې هیڅ کمے نهٔ راځي، داسے هم لکه یوه ستنه چه دریاب ته داخله کړے شي بیرته رابهر کړے شي)). (مسلم :٦٧٣٧)

بیا شکر دے ته وائي چه نعمت د مُنعِم په خدمت کښې استعمال کړي،

شکر باره کښې علماء فرمائي : صَيْدُ الْمَفْقُوْدِ وَقَيْدُ الْمَوْجُوْدِ. موجوده نعمت درله باقي پریدي او ورك شوے نعمت درله راپیدا کوي. په صحت چه شکر وکړے شي نو نور زیاتیږي او که په علم شکر وکړے شي نو زیاتیږي، د علم شکر دا دے چه عمل پرے وکړه او خلکو ته ئے بیان کړه. د مال شکر دا دے چه صدقه ترے ورکړه او حقوق د خلکو پرے ادا کړه. او دغه شان نور څیزونه واخله، د هر شي خپل خپل شکر وي.

أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوْحٍ
آیا نهٔ دے راغلے تاسو ته خبر د هغه کسانو چه مخکښې وو ستاسو نه قوم د نوح

وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ وَالَّذِيْنَ مِنْ بَعْدِهِمْ لَا يَعْلَمُهُمْ
او عادیان او ثمودیان او هغه کسان چه روستو دی د دوی نه، نهٔ دی پو هه په دوی باندے
إِلَّا اللهُ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَرَدُّوْا
مګر الله، راغلی وو دوی ته رسولان د دوی په ښکاره دلیلونو سره نو واپس کړل دوی
أَيْدِيَهُمْ فِيْ أَفْوَاهِهِمْ وَقَالُوْا إِنَّا كَفَرْنَا بِمَا
لاسونه خپل په خولو د هغوی کښ او اُووئیل دوی یقیناً انکار کوو مونږ د هغے نه
أُرْسِلْتُمْ بِهٖ وَإِنَّا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا
چه رالیږلے شوی یئ تاسو په هغے او یقیناً مونږه خامخا په شك کښ یو د هغے نه
تَدْعُوْنَنَا إِلَيْهِ مُرِيْبٍ ﴿٩﴾
چه رابلئ تاسو مونږه هغے ته سخت شك.

تفسیر: د ابن جریرؒ په نیز دا هم د موسیٰ علیه السلام د وینا حصه ده۔
حافظ ابن کثیرؒ او قاسمیؒ وائی چه چونکه د عاد او ثمود قصے په تورات کښ نهٔ دی ذکر شوی پدے وجه په ظاهره کښ دا د الله تعالیٰ د امت محمدیّه سره خطاب دے۔ الله تعالیٰ د قوم نوح او عادیانو او ثمودیانو او نورو قومونو واقعات بیان کړیدی کومو چه انبیاء علیهم السلام دروغجن کړی وو۔
او داسے قومونه په دنیا کښ تیر شویدی چه د هغوی شمار صرف الله تعالیٰ ته معلوم دے۔ دے رسولانو چه کله د دلائلو په رنړا کښ د الله تعالیٰ دین د هغوی مخے ته پیش کړو نو هغوی په درے طریقو د دوی دعوت رد کړو، یو دا چه هغوی ئے د خبرو کولو نه منع کړل، او وے وئیل چه مونږ تاسو نه زیاتی یوه کلمه هم آوریدل نهٔ غواړو، خپله خبره په خپله خوله کښ وساتئ۔ دویم دا چه مونږ ستاسو د دعوت نه انکار کوو۔ او دریم دا چه د کومے خبرے (توحید) طرف ته چه تاسو مونږ رابلئ زمونږ په زړهٔ کښ ددے په رشتینوالی کښ ژور شك او شبهه ده۔

مناسبت

مخکښ مقدمه وه نو اُوس د هغے تفصیل ذکر کوی او دا تشریح ده د تَذْكِيْر بِأَيَّامِ اللهِ دپاره۔

یعنی د پیغمبرانو راتلل او بیا د اقوام مکذبه ؤ تکذیب او د هغوی هلاکت په دنیا او په آخرت کښ ذکر کیږی.
لَایَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللّٰهُ : ۱- یعنی ددے په تفصیلاتو سوئ د الله تعالیٰ نه بل هیڅوك خبردار نشته. او اجمالی علم انسانانو ته شته. بلکه ددے امت هم ډیر تفصیل دے چه ټول نۀ دے لیکلے شوے، صرف اجمالی او یوه نقشه پیش کړے شویده.
۲- بعض سلفو به دا خبره مطلقاً اخستله لکه چه عبد الله بن مسعود ﷛ به فرمایل :کَذَبَ النَّسَّابُوْنَ . د نسبونو بیانونکی (چه تر آدم ﷺ پورے نسب بیانوی) دروغجن دی ځکه چه ددے پیړو او اقوامو علم صرف الله تعالیٰ ته دے. او بعض مفسرین وائی چه څه ناڅه تاریخ خو د قرآن او حدیث نه معلوم دے نو اجمالًا معلومات شته.
فَرَدُّوْا اَیْدِیَهُمْ فِیْ اَفْوَاهِهِمْ : ددے ډیر مصداقات او ډیر مطلبونه دی. رَدُّ الْاَیْدِیْ کله په حقیقت بناء دے او کله کنایه وی.
۱- عبد الله بن مسعود ﷛ فرمائی : دا رَدُّ الْاَیْدِیْ د تعجب د وجه نه وو. یعنی واپس کړو کافرانو لاسونه خپل په خولو خپلو کښ تعجباً لکه یو تن چه تعجب کوی نو څوك تندی له تې ورکوی او څوك په خوله باندے لاس اړدی چه دا څنګه ناشنا مسئلے کوی.
۲- کافرانو د غصے د وجه نه په خپلو خولو کښ خپل لاسونه ورکړل، یا ئے په رسولانو باندے سترګے راویستلے او په خوله باندے ئے لاسونه کیخودل چه غلی شئ ګنے سزا به درکړو. لکه څوك چه چا ته د غلی کولو دپاره اشاره کوی نو په خپله خوله باندے یوه ګوته یا ټول لاس کیږدی.
۳- یا کافرانو خپل لاسونه د پیغمبرانو په خولو کښ ورکړل چه چپ شئ.
٤- قاسمیؒ وائی چه اَیْدِیْ کنایه ده د معجزو نه او دواړه ضمیرونه پیغمبرانو ته راجع دی یعنی واپس کړل کافرانو معجزات د پیغمبرانو د هغوی په خولو کښ چه مونږ درله دا نۀ منو دا ځان سره وساتئ. (محاسن التاویل وفتح البیان)
بِمَا اُرْسِلْتُمْ بِهٖ : یعنی ستاسو دین او ستاسو وحی او معجزات نۀ منو.
وَإِنَّا لَفِیْ شَكٍّ: یعنی تاسو چه مونږ الله تعالیٰ ته او په هغه باندے یواځے ایمان راوړو ته رابلئ نو د هغے په باره کښ مونږ شك لرو نو دوی دوه خبرے وکړے، یو د معجزاتو او د دین نه انکار، او بل د الله تعالیٰ د توحید په باره کښ شك کول.

قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِي اللّٰهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ
اُووئیل رسولانو د دوی آیا په توحید د الله کښ شك دے چه اول پیدا کونکے د آسمانونو
وَالْأَرْضِ يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُمْ مِنْ ذُنُوبِكُمْ
او د زمکے دے، رابلی تاسو (داسے خبرے ته) چه اُوبخی تاسو ته گناهونه ستاسو
وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى قَالُوا إِنْ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ
او روستو کړی تاسو نیتے مقررے پورے اُووئیل دوی نهٔ یئ تاسو مگر انسانان یئ
مِّثْلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ
زمونږ په شان غواړئ تاسو چه منع کړئ مونږ لره د هغے نه چه بندگی ئے کوله
آبَاؤُنَا فَأْتُونَا بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿١٠﴾
پلارانو زمونږ نو راوړئ مونږ ته دلیل ښکاره۔

تفسیر : پدے کښ پیغمبران د خپلو قومونو په دویمه خبره باندے اول رد ذکر کوی او د هغوی په آسمانی رسالت او دعوت په انکار باندے انتهائی درجه حیرانتیا ښکاره کوی چه آیا ستاسو د الله تعالیٰ د وجود او د هغهٔ د وحدانیت او د هغهٔ په حقیقی معبود کیدو کښ شك دے حال دا چه هغه ناشنا پیدا کونکے د آسمانونو او د زمکے دے، نو د آسمان او د زمکے وجود پدے خبره یقینی گواه دے چه دا د هیڅ شك گنجائش نهٔ پریدی چه د هغه نه سوئ هیڅوك لائق د عبادت نشته، هغه د هر شی خالق او مالك او معبود دے، نو د داسے یقینی ذات په باره کښ شك خو ډیره عجیبه خبره ده۔

يَدْعُوكُمْ : یعنی هغه ذات تاسو ته په مونږ باندے د ایمان راوړو حکم کوی، مونږ د خپل ځان نه تاسو لره دے طرف ته نهٔ رابلو۔

اَیْ يَدْعُوكُمْ اِلَى الْاِيْمَانِ بِهٖ وَتَوْحِيْدِهٖ۔ الله تعالیٰ تاسو ایمان ته او د هغهٔ توحید ته رابلی۔

لِيَغْفِرَ لَكُمْ : که تاسو زمونږ په تصدیق کولو سره په الله تعالیٰ باندے ایمان راوړئ نو هغه به ستاسو گناهونه معاف کړی، او د یو معین وخت پورے به د دنیا د ژوند نه د فائدے اخستو موقعه درکړی۔

مِنْ ذُنُوبِكُمْ : مِنْ ئے پکښ راوړو ځکه چه هغه گناهونه معاف کیږی چه د کوم نه توبه

ویستلي شي. او د کوم نه چه توبه نهٔ وي ویستلي شوي نو د هغې معافي نشته.
وَيُؤَخِّرَكُمْ : اَیْ بِلَا عَذَابٍ. یعنی په غیر د عذاب راوستو نه، یعني که ایمان مو راوړو نو عذاب به درباندې نهٔ راولي او د تاخیر الاجل نه مراد دا نهٔ دې چه د انسان موده د عمر به روستو کیږي. هغه خو حتمي د هر چا دپاره مقرر ده، که مؤمن دې او که کافر. خو په مؤمن عذاب نهٔ راولي.
قَالُوا إِنْ أَنْتُمْ : اُوس د اقوام مُکذبه ؤ اعتراضات ذکر کوي پس ددې نه چه دوي پدې خبره غلي شو او دا خبره ئې ومنله چه آسمان او زمکه الله تعالیٰ پیدا کړیدي، او مونږ مغفرت ته محتاج یو. لیکن نور درې اعتراضونه پرې کوي، یو د بشریت اعتراض، دویم د پلار نیکه د لارې نه د اړولو، او دریم معجزات غوښتل لکه ټولو اقوامِ مکذبه ؤ دغه شان اعتراضونه کړیدي.
بَشَرٌ مِّثْلُنَا : یعني تاسو زمونږ په شان انسانان یئ، خوراك څکاك کوئ، تاسو ته په مونږ باندې هیڅ فضیلت حاصل نهٔ دې، او بشر خو رسول نشي کیدې. نو د دوي دا باطله عقیده جوړه شوې وه چه رسول بشر نشي کیدې رسول خو به چرته ملائك وي.
تُرِيْدُوْنَ : دویم اعتراض: ستاسو مقصد دا دې چه مونږ د خپلو پلارانو او نیکونو د معبودانو د عبادت نه منع کړئ.
(دریم) پدې وجه مونږ به ستاسو خبره هله منو چه کله یو واضحه او ښکاره نخه راوړئ چه واقعي تاسو د الله تعالیٰ پیغمبران یئ.
دا د دوي خالص عناد او ضد وو، ځکه چه هر نبي داسې معجزات او نخې پیش کړیدي چه قومونو ته د یقین ورکولو دپاره کافي وو چه دوي د الله تعالیٰ رالیږلې شوي پیغمبران دي.
بِسُلْطَانٍ مُّبِيْنٍ: اَیْ حُجَّةٍ ظَاهِرَةٍ وَاضِحَةٍ تَدُلُّ عَلٰى صِحَّةِ مَا تَدْعُوْنَهٗ مِنَ الْمَزِيَّةِ اَوِ النُّبُوَّةِ.
یعني داسې ښکاره او واضح دلیل راوړئ چه هغه ستاسو په زیاتي فضیلت او نبوت باندې دلیل وګرځي. کافرانو همیشه د پیغمبرانو ښکاره دلیلونو ته صریح نهٔ دي وئیلي، او خپلې باطلې نخې غوښتل ئې ښکاره ګڼړلي دي.

قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِنْ نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلٰـكِنَّ
اُووئیل دوي ته رسولانو د دوي نهٔ یو مونږ مګر انسانان یو ستاسو په شان لیکن

اللّٰهَ يَمُنُّ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَمَا كَانَ لَنَا
الله تعالیٰ احسان کوی په چا چه اُوغواړی د بندګانو خپلو نه او نشته مونږ لره طاقت
أَنْ نَّأْتِيَكُمْ بِسُلْطَانٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللّٰهِ وَعَلَى اللّٰهِ
چه راوړو تاسو ته دلیل مګر په حکم د الله تعالیٰ سره او خاص په الله تعالیٰ
فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَمَا لَنَا أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى اللّٰهِ
دِے ځان اُوسپاری مؤمنان۔ او څه عذر دے مونږ لره چه ځان به نهٔ سپارو مونږ په الله
وَقَدْ هَدَانَا سُبُلَنَا وَلَنَصْبِرَنَّ
او حال دا چه هغهٔ خودلی دی مونږ ته لارے زمونږ او خامخا صبر به کوو مونږ
عَلٰى مَا آذَيْتُمُوْنَا وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۱۲﴾
په هغے تکلیفونه چه راکوئ تاسو مونږ ته او په الله دِے توکل اُوکړی توکل کونکی۔

تفسیر : رسولانو د اِرْخَاءُ الْعِنَان (واړے سستولو) په طریقه قومونو ته وویل چه آؤ مونږ دا خبره منو چه مونږ ستاسو په شان انسانان یو، لیکن دا خبره ستاسو خطاء ده چه بشر او رسول دواړه نشی جمع کیدے بلکه الله تعالیٰ کولے شی چه په بعض بندګانو باندے چا له چه غواړی احسان وکړی او نبی ئے وګرځوی۔ پدے منافات باندے هیڅ دلیل نشته۔

فائده : مخکښې آیت کښې ئے (قَالَتْ رُسُلُهُمْ) وویل او دلته ئے (قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ) وویل، لَهُمْ ئے پکښې زیات کړو۔ (۱) فرق دا دے چه دا وینا د مکذبینو دپاره خاص وه او مخکنۍ وینا عامه وه مُصَدِّقِیْن او مُکَذِّبِیْن دواړو دپاره۔ (۲) دویم دا چه د الله تعالیٰ وجود نظری شے دے نو د رسولانو کلام د الله تعالیٰ د وجود په باره کښې خطاب وو عامو قومونو خپلو ته او هرچه د رسولانو رالیږل دی نو هغه ضروری او بدیهی (ظاهر) امر وو، هیڅ نظر او فکر ته ئے حاجت نهٔ وو نو ګویا که وے فرمایل : چه رسولانو دا خبره خاص خپلو مکذبینو ته وویل نهٔ بل چا ته ځکه چه دوی غبیان او جاهلان وو۔

(۳) یا مخکښې صورت کښې خطاب وو معاندینو ته په یو ضروری امر کښې نو ګویا که هغوی رسولانو ته متوجه نهٔ وو نو رسولانو هم عامه جمله ورته ذکر کړه، او په دویم ځای کښې هغوی رسولانو ته متوجه شو (اِنْ اَنْتُمْ) نو رسولانو هم خپل جواب هغو ته متوجه

کړو یعني رسولانو دا خبره د هغوی د وجه نه وکړه۔ لام اجلیه دے۔ (ابن عاشورؒ)
وَمَا كَانَ لَنَا : د کافرانو خیال دا وو چه معجزے راوړل به د نبي په اختیار کښې وي نو دوي چه څه غواړي هغه شان معجزے به رسولان پیش کوي، نو ځکه ورله رسولان ذهن سازي کوي چه مونږ یوه نخه هم په خپلے خوښے سره نشو راوړے، الله چه کله غواړي رالیږي، او هغه پدے وخت کښې نهٔ دي غوختي۔
وَمَا كَانَ لَنَا : اَیُ مَا صَحَّ لَنَا وَلَا اسْتَقَامَ۔ مونږ دپاره دا صحیح (ممکن) او برابره نهٔ ده۔
او د دریمے خبرے جواب ورته نهٔ کوي، ځکه دا خبره صحیح وه واقعي رسولان د همدے دپاره راغلي دي چه خلك د پلار نیکه د غلطے طریقے نه د الله تعالیٰ لارے او عبادت ته راواړوي۔
وَعَلَى اللهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ : یعني د رسولانو د دعوت نه به بعض خلك متأثر شو، هغوی به ایمان راوړو نو رسولانو به ورته وویل چه خاص په الله ډِے ایمان والا ځان وسپاري۔ او پدے کښې د دوی مقصد د تولو نه مخکښې خپل ځان ته نصیحت کول وو چه مونږ ته د قومونو د طرف نه کوم تکلیف د دعوت په لاره کښې رارسیږي پدے باندے صبر کولو دپاره په الله تعالیٰ باندے بهروسه کول پکار دي، او د هغهٔ نه مدد غوختل پکار دي۔
پدے وجه روستو ورپسے خپل ځان یادوي (وَمَا لَنَا) او چونکه د انبیاء علیهم السلام او د هغوی د قومونو ډیره سخته جګړه تیره شویده نو په هغے کښې توکل ته سخت ضرورت وي۔
وَمَا لَنَا : یعني په الله تعالیٰ باندے بهروسه کولو دپاره زمونږ سره بیا کوم عذر باقي پاتے شویدے، کله چه هغه زمونږ نه هر یو په نیغه لاره روان کړیدے؟۔
هَدَانَا سُبُلَنَا : یعني مونږ ته ئے راخودلي دي لارے زمونږ یعني د کامیابۍ لارے۔ او کوم ذات چه د کامیابۍ لاره وښائي نو په هغهٔ باندے خو توکل پکار دے۔
سُبُلَنَا : سُبل ئے جمع راوړه ځکه چه په هره لاره کښې الله تعالیٰ مؤمنانو ته بیل بیل هدایت کوي۔ یعني په هره موقعه کښې ئے زمونږ رهنمائي کړیده۔
وَلَنَصْبِرَنَّ : او چونکه د کافرانو په ضرر رسولو سره د انسان د استقلال په خپه کښې د حرکت راتللو خطره وي پدے وجه هغوی خپل قوتِ ارادي او کلك عزم ښکاره کړو او وے وئیل چه اے خلقو ! مونږ به د دعوت په لاره کښې ستاسو په مصیبتونو باندے صبر کوو۔ یعني ستاسو په تکذیب کولو او په ضد او عناد او په باطلو مطالبو کولو۔ (فتح البیان)

وَعَلَى اللهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ : مخکښې هم توکل ذکر شو او دلته هم، په دواړو توکلونو کښې يو فرق دا دے چه (۱) اول کښې توکل راپيدا کول مقصود دی، او د دويم توکل نه مراد کوشش کول دی د هغے په باقی پاتے کيدو او هميشوالی کښې۔

(۲) يا د اول توکل معنیٰ دا ده چه کوم خلك معجزات طلب کوی هغوی باندے لازم دی چه د معجزاتو په باره کښې په الله تعالیٰ باندے ځان وسپاری نۀ په مونږ، که د الله تعالیٰ خوښه وی ورته راښکاره به ئے کړی او که خوښه ئے شی نۀ به ئے راښکاره کوی۔ او د دويم توکل معنیٰ دا ده چه انبياء عليهم السلام دا خبره راښکاره کوی چه د کافرانو د شر او بی وقوفتيا د دفع کولو په باره کښې په الله تعالیٰ باندے توکل لازم دے۔ (فتح البيان)

ابن عاشورؒ وائی : مقصد پدے کښې د مخکښې توکل تاکيد دے، او د متوکلينو لوی شان ښکاره کول دی، چه توکل خو به صرف او صرف په الله تعالیٰ باندے کولے شی۔ او معنیٰ دا ده چه څوك په خپلو کارونو کښې په بل چا توکل کوی نو هغه لره پکار دی چه خاص په الله تعالیٰ باندے توکل وکړی۔

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُمْ
او اُووئيل هغه کسانو چه کافران دی رسولانو خپلو ته خامخا اُوباسو به مونږ تاسو
مِّنْ أَرْضِنَا أَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا فَأَوْحٰى
د زمکے زمونږ نه يا به خامخا واپس کيږئ تاسو په دين زمونږ کښې نو وحی به اُوکړه
إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظَّالِمِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ
دوی ته رب د دوی چه خامخا هلاکوو به مونږ ظالمان۔ او خامخا اُوسه وو به تاسو
الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِهِمْ ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِيْ
په زمکه کښې روستو د دوی نه دا (وعده) د هغه چا دپاره ده چه يريږی د پيشئ زما نه
وَخَافَ وَعِيْدِ ﴿۱٤﴾
او يريږی د عذاب زما نه۔

تفسير : دا عمومی اعتراض د کافرانو په پيغمبرانو دے۔ کافرانو چه کله وليدل چه

انبیاء (علیهم السلام) د صبر غرونه جوړ شو او مصیبتونه برداشت کوی او په الله تعالیٰ باندې د دوی داسې مضبوط بهروسه ده چه د دعوت په لاره کښې د دوی په هیڅ خبره پرواه نشته، نو هغوی په ښکاره توګه سره دهمکی ورکړه چه یا خو به تاسو زمونږ دین ته بیرته واپس راځئ، یا به تاسو خپل کور او وطن پریږدئ او مونږ به مو وباسو۔

لَتَعُوْدُنَّ : د عَوْد معنیٰ په سورة الاعراف آیت (۸۸) کښې تفصیلًا ذکر شویده۔ مراد ترې داخلیدل دی۔

ځینی مفسرینو اَوْلَتَعُوْدُنَّ کښې اَوْ په معنیٰ د (اِلٰی اَنْ) سره دې یعنی مونږ به مو د زمکې نه تر هغه وخته پورې وباسو تردې چه تاسو زمونږ دین ته راواپس شوئ او که نهٔ راواپس کیږئ نو ستاسو ویستل به یقینی وی۔ لیکن دې ته ضرورت نشته بلکه اَوْ په خپله معنیٰ دې۔ یعنی اختیار دې په دوه کارونو کښې۔ (فتح البیان)

امام رازیؒ لیکلی دی چه اهل حق په هره زمانه کښې کم وی، او اهل باطل ډیر وی، او د حق د ډیوې مړهٔ کولو دپاره همیشه خپل مینځ کښې تعاون او مرسته کوی، پدې وجه دوی په کبر او غرور کښې انبیاؤ ته داسې دهمکی ورکړه نو الله تعالیٰ انبیاء کرامو ته اطمینان ورکړو او وې وئیل چه تاسو مهٔ پریشانه کیږئ، مونږ به ظالمان هلاکوو، او د زمکې مالکان به تاسو جوړه وو لکه چه الله تعالیٰ په سورة الصافات آیات (۱۷۳/۱۷۲/۱۷۱) کښې فرمایلی دی : ﴿ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ۞ اِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ ۞ وَاِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغَالِبُوْنَ ﴾ یعنی زمونږ وعده د مخکښې نه د خپلو رسولانو دپاره صادره شویده چه دوی به کامیاب او مدد کړې شوی وی او زمونږ لښکر به غالب او پورته وی)۔

فَاَوْحٰى اِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ : دا د الله تعالیٰ د طرفنه تسلی او بشارت بالفتح دې (د فتح راتللو زیرې دې) سره د تهدید (دهمکی) نه کافرانو ته۔

وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ : دغه شان کار الله تعالیٰ د ټولو انبیاء علیهم السلام او د حق داعیانو سره کړې او زمونږ د رسول ﷺ دشمنان ئې هم هلاك کړل او زمکه د مکې ئې بیرته خپل نبی ته ورکړه۔

ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ : دا وعده د نصرت د هغه چا دپاره ده چه زما د پیشئ او زما د عذاب نه یریږی۔

د نصرت اسباب

ددے آیتونو نه د نصرت اسباب ښکاره کیږی (۱) اَلتَّوَكُّلُ عَلَى اللّٰهِ ۔ په الله باندے توکل کول۔ (۲) اَلصَّبْرُ لِلّٰهِ ۔ (د الله دپاره صبر کول)۔ (۳) خَوْفُ مَقَامِ اللّٰهِ ۔ (د الله د پیشیٔ نه یریدل)۔ (٤) خَوْفُ وَعِيْدِ اللّٰهِ ۔ (د الله تعالیٰ دعذابونو نه یریدل)۔

(۵) او نورو ځایونو کښې تقویٰ ذکر شویده۔ که دا کارونه تا کښې راغلل نو الله تعالیٰ به ستا دشمن خامخا وهی، انتظارئے کوه۔ او کله چه یو مؤمن کښې دا صفات نشته نو د الله مدد به څنګه راشی۔

مَقَامِیْ : ددے دوه معانی دی (۱) قِيَامُهٗ بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ ۔ د الله مخے ته ودریدل۔ یعنی پیشی۔
(۲) مقام مصدر مضاف دے فاعل ته۔ یعنی ودریدل د الله تعالیٰ په بنده باندے او د ودریدو نه مراد علم د الله تعالیٰ دے په بنده باندے۔ لکه په سورة الرعد (۳۳) آیت ﴿ اَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلٰى كُلِّ نَفْسٍ﴾ کښې تیر شو۔ یعنی مؤمن ددے نه یریږی چه ما ته بره الله تعالیٰ ګوری او زما د هر حالت نه خبردار دے۔

د دواړو مطلبونو حاصل یو دے۔ اوله معنیٰ غوره ده۔
مقام په فتح د میم سره په اصل کښې ځای د ودریدو ته وائی او په ضمه د میم سره اقامة (ودریدو) ته وائی۔ (فتح)

وَاسْتَفْتَحُوْا وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۱۵﴾ مِنْ وَّرَآئِهٖ
او طلب د فتح وکړو دوی (پیغمبرانو) او نا اُمیده شو هر سرکش ضدی۔ روستو د هغه نه
جَهَنَّمُ وَيُسْقٰى مِنْ مَّآءٍ صَدِيْدٍ ﴿۱۶﴾ يَتَجَرَّعُهٗ
جهنم دے او څکولے به شی په هغه د اُوبو نه چه وینے زوی دی۔ ګوټ ګوټ به ئے څکی
وَلَا يَكَادُ يُسِيْغُهٗ وَيَاْتِيْهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ
او نزدے به نهٔ وی چه په آسانه ئے تیر کړی او راځی به دهٔ ته مرګ د هر ځائے نه
وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ وَّمِنْ وَّرَآئِهٖ عَذَابٌ غَلِيْظٌ ﴿۱۷﴾ مَثَلُ الَّذِيْنَ
او نهٔ به وی دے مړ کیدونکے او روستو ددهٔ نه عذاب سخت دے۔ مثال د هغه کسانو
كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ اَعْمَالُهُمْ كَرَمَادِ نِ اشْتَدَّتْ
چه کفرئے کړیدے په رب خپل عملونه د دوی په شان د ایرے دی چه سخته راوالوزی

بِهِ الرِّيۡحُ فِيۡ يَوۡمٍ عَاصِفٍ لَّا يَقۡدِرُوۡنَ
په هغې باندې هوا په هغه ورځ کښې چه تیزې هوا والا وی، قادر به نۀ وی دوی
مِمَّا كَسَبُوۡا عَلٰى شَىۡءٍ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الۡبَعِيۡدُ ﴿۱۸﴾
د هغې عمل نه چه کړې وی په هیڅ شی دا ګمراهي لرې ده (د حق نه).

تفسیر : یعنی انبیاءِ کرامو علیهم السلام د الله تعالیٰ نه مدد طلب کړو چه اے الله ! مونږ ته زمونږ په دشمنانو غلبه رانصیب کړه، یا زمونږ او د دوی ترمینځ آخری فیصله وکړه، نو الله تعالیٰ د دوی مدد وکړو او دوی ئې د دوی په دشمنانو غالب کړل، او سرکشان او نافرمان ئې ذلیله کړل.

وَاسۡتَفۡتَحُوۡا : ۱- اَیۡ اِسۡتَنۡصَرُوۡا بِاللّٰهِ عَلٰی اَعۡدَائِهِمۡ . د الله تعالیٰ ئې نه مدد طلب کړو په مقابله د دشمنانو کښې. ۲- یا دا د فُتَاحة نه دے په معنیٰ د فیصلې سره اَیۡ سَاَلُوا اللّٰهَ الۡقَضَاءَ بَيۡنَهُمۡ. یعنی د الله تعالیٰ نه ئې د دوی او د خپل ځان ترمینځ فیصله وغوښتله.

ځینې داسې معنیٰ کوی چه کافرانو فیصله طلب کړه لیکن اول قول غوره او ظاهر دے.

وَخَابَ : اَیۡ خَسِرَ وَهَلَكَ. تاوانی او هلاك شو.

یعنی مقصد ته ونۀ رسیدل څکه چه د جبار او عنید مقصد دا وو چه د دنیا مشری دِې زمونږه وی نو الله ورله دا مقصد خراب کړو.

جَبَّارٍ : جباریة : ۱- اِدِّعَاءُ مَنۡزِلَةٍ عَالِيَةٍ لَايَسۡتَحِقُّهَا . داسې مرتبه غوښتل چه د هغې مستحق نۀ وی. ۲-اَلَّذِیۡ لَایَرٰی فَوۡقَهٗ اَحَدًا . د ځان نه پورته هیڅوك نۀ ګنړی.

۳- اَلۡمُتَكَبِّرُ الَّذِیۡ لَایَرٰی لِاَحَدٍ عَلَيۡهِ حَقًّا . هغه متکبر چه د هیچا په خپل ځان باندې حق نۀ ګنړی. ٤- اَلۡمُتَعَظِّمُ فِیۡ نَفۡسِهٖ اَلۡمُتَكَبِّرُ عَلٰی اَقۡرَانِهٖ . ځان لوی ګنړونکے او په خپلو همزولو کبر کونکے. او دا ټول تعبیرونه یو بل ته نژدې دی. (فتح البیان)

عَنِيۡدٍ: اَلۡمُعَانِدُ لِلۡحَقِّ وَالۡمُجَانِبُ لَهٗ (مجاهد).

د حق سره ضد کونکے او هغه یو طرفته کونکے. دا د عِنۡدَ نه اخستے شویدے چه طرف ته وائی. یعنی په طریقه د اعراض یو طرفته کیدونکے.

۲- زجاجؒ وائی : اَلَّذِیۡ يَعۡدِلُ عَنِ الۡقَصۡدِ. عنید هغه شخص دے چه د نیغې لارې نه اوړی.

۳-هُوَ الَّذِیۡ عَنَدَ وَبَغٰی. دا هغه شخص دے چه ضد کوی او زیاتے کوی. (ابوعبیدؒ).

٤- اَلْمُعْرِضُ عَنِ الْحَقِّ۔ (ابن عباسؓ) هغه شخص چه د حق نه مخ اړونکے دے۔
٥- اَلَّذِیْ یُعَانِدُ وَیُخَالِفُ۔ دا هغه شخص دے چه ضد کوی او مخالفت کوی۔
٦- اَلْمُکَابِرُ الْمُعَارِضُ لِلْحُجَّةِ) لوئی کونکے، د هر شی نه ځان لوئی ګنړونکے او د دلیل مقابله کونکے (فتح البیان والقرطبی والتحریر وغیره)

مِنْ وَّرَآئِهٖ جَهَنَّمُ : وراء مخے او روستو دواړو ته وائی د اضدادو نه دے۔ یعنی جهنم به هم د دوی پسے وی چه هلته به د دوی د سکلو دپاره د جهنمیانو پیپ ملاویږی چه د هغے د سکلو په وخت به د دوی نفس په لوئی مصیبت کښ اخته وی، او مرګ به د هر طرف نه راګیر کړے وی، لیکن دوی به نهٔ مری، او سخت او نهٔ ختمیدونکے عذاب به د دوی پسے روستو لګیدلے وی۔

صَدِیْدٍ : دا هغه ګند ته وائی چه د اُور والو د څرمنو او غوښو نه رابهیږی، یعنی هغه وینه چه د زوو سره یوځای شوی وی او د کافر د څرمنے او غوښے نه رابهیږی۔ دا مشتق دے د صَدٌّ نه منع کولو ته وائی او دا هم کتونکے دے ته د کتلو نه منع کوی۔
٢- محمدبن کعب القرظیؒ وائی : (هُوَ مَا یَسِیْلُ مِنْ فُرُوْجِ الزُّنَاةِ) دا هغه ګند ته وائی چه د زناکارو د عورتونو نه رابهیږی دا به په کافرانو څکولے شی۔ (قرطبیؒ)

یَتَجَرَّعُهٗ : یعنی دا به د ډیرے بد بوئی او ګندګیٔ او تریخ والی د وجه نه په یو ځل تیرولے نشی بلکه ګوټ ګوټ به ئے څکی۔ همیشه به د زنکدن په حالت کښ وی، مرګ به پرے نهٔ راځی، هر رګ او هر هډوکے به ئے همیشه دردونه کوی، دا ډیر لوی عذاب دے۔

عَذَابٌ غَلِیْظٌ: نور سخت عذابونه یا په اُور کښ همیشوالے دے۔ (ابراهیم التیمیؒ)
یا نور قسم عذابونه دی۔ یا ساه ګانو بندیدل۔ (فُضیل بن عیاضؒ)

مَثَلُ الَّذِیْنَ : سوال پیدا شو چه کافرانو خو ډیر نیک عملونه هم کړیدی، بشر دوستی ئے کړیده، حاجیانو ته ئے خوراکونه او څکاکونه ورکړیدی او د مور او پلار خدمت او ډیر میلمه دوست او سخیان خلك هم پکښ شته، نو الله تعالیٰ د هغے د بربادیٔ مثال بیانوی چه دا عملونه ئے د ایرو په شان برباد دی چه تیزه هوا پرے راوالوزی او هغه ختمه کړی نو د دوی دغه اعمال به هم په آخرت کښ برباد شی چه هیڅ فائده به دوی ته ورنکړی۔
یا ددے اعمالو نه شرکی او غلط عملونه دی، یعنی دوی چه د بتانو د رضا دپاره کوم اعمال کړیدی یا هغه اعمال چه په هغے کښ مقصد ریاکاری وه لکه د شهرت او نوم دپاره به ئے مال خرچ کولو، یا میلمنو دپاره به ئے ډیر اُوښان ذبح کول دے دپاره چه خلك ووائی

چه فلانے شخص ډیر سخي او لوی میلمه دوست دے، نو داسے اعمال ئے هم د اِیرو په شان برباد دی. لکه الله تعالیٰ په سورة الفرقان آیت (۲۳) کښې فرمایلي دي: ﴿وَقَدِمْنَا اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَّنْثُوْرًا﴾ یعنی دوی چه کوم اعمال کول مونږ به هغے ته متوجه شو نو هغه به وګرځوو دوړه خوره وره). یعني الله به ورسره حساب وکړي نو د بې اخلاصئ د وجه نه به ئے برباد کړي. او په سورة آل عمران آیت (۱۱۷) کښې فرمائي: ﴿مَثَلُ مَا يُنْفِقُوْنَ فِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيْحٍ فِيْهَا صِرٌّ اَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوْا اَنْفُسَهُمْ فَاَهْلَكَتْهُ﴾ چه (دا کافران چه څه خرچ کوي ددے مثال دا دے چه یوه تیزه هوا راشي چه په هغے کښې اُور وي چه د ظالمانو په فصلونو پریوزي او هغه تس نس کړي).

مَثَلُ الَّذِيْنَ: اَیْ مَثَلُ اَعْمَالِ الْكُفَّارِ فِي الْحَبْطِ وَالضِّيَاعِ كَرَمَادٍ. یعنی د کافرانو د عملونو مثال په بربادئ کښې د اِیرے په شان دے. او دلته ئے دا خبره ددے دپاره راوړیده چه د دوی په عملونو کښې اخلاص د الله دپاره نشته او د رسول الله ﷺ تابعداری پکښې نشته نو ځکه برباد شو.

د کافرانو د عملونو تشبیه ئے د ایرو سره ولے ورکړه؟.

كَرَمَادٍ: تشبیه ئے د ایرے سره ورکړه: ۱- ځکه چه ایره توره وي نو د کافرانو اعمال هم تور وي چه هیڅ رڼرا او کمال پکښې نهٔ وي. ۲- ایره چه کله الوزي نو په هغے کښې ضرر وي، د خلکو سترګے او جامے خرابے کړي، نو اشاره ده چه د دوی دا عمل به یواځے بربادیږي نهٔ بلکه د دوی د ضرر سبب به هم جوړیږي چه په دغه اعمالو به د حساب په وجه جهنم ته هم ګوزار کړے شي چه پدے کښې دِے اخلاص او اتباع د رسول الله ﷺ ولے نهٔ وه کړے. آه. ۳- دارنګه د ایرے نه هیڅ فائده نهٔ اخستلے کیږي نو دغه شان د مشرك عملونه بې فائدے دي. ٤- دارنګه ایره راپیدا کیږي د سوزیدو د لرګو او سکارو نه نو دغه شان د دوي عملونه به روستو وسوزیږي. (احسن الکلام)

اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيْحُ: په هوا او یوم عاصف کښې اشاره ده د الله تعالیٰ حساب ته چه سخت دے.

يَوْمٍ عَاصِفٍ: اَیْ عَاصِفُ الرِّيْحِ: تیزے سیلئ والا ورځ وي.

الضَّلَالُ الْبَعِيْدُ: ددے نه لویه د دوی ګمراهي څه کیدے شي چه د قیامت په ورځ به د دوی اعمال برباد شي او دوی ته به د هغے اجر او ثواب نهٔ ملاویږي. ځکه چه د رسول په

مخالفت کبں وو۔

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللهَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ إِنْ

آیا تۀ نۀ گورې چه یقیناً الله تعالیٰ پیدا کړیدی آسمانونه او زمکه په حق سره که

يَّشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٩﴾ وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللهِ

اُوغواړي نو بوبه څي تاسو او رابه ولي مخلوق نوې۔ او نۀ دے دا کار په الله باندے

بِعَزِيزٍ ﴿٢٠﴾ وَبَرَزُوا لِلّٰهِ جَمِيعًا فَقَالَ الضُّعَفَآءُ لِلَّذِينَ

څه گران۔ او میدان ته به شي دوی الله ته ټول نو وبه وائی کمزوري کسان هغه کسانو ته

اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنْتُمْ مُّغْنُونَ عَنَّا

چه لوئی ئے کوله یقیناً مونږ ستاسو تابع وو نو آیا تاسو دفعه کولے شئ زمونږ نه

مِنْ عَذَابِ اللهِ مِنْ شَيْءٍ قَالُوا لَوْ هَدَانَا اللهُ

د عذاب د الله نه څه شے، هغوی به ووائی که هدایت کړے وے مونږ ته الله تعالیٰ

لَهَدَيْنَاكُمْ سَوَآءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا أَمْ صَبَرْنَا

خامخا هدایت به کړے وے مونږ تاسو ته، برابره ده په مونږ که بے صبری کوو یا صبر کوو،

مَا لَنَا مِنْ مَّحِيصٍ ﴿٢١﴾

نشته مونږ لره ځائے د خلاصئ۔

تفسیر : ❁ ددے ځای نه اُوس عقلی دلیل ذکر کیږی، دپاره د اثبات د توحید او د آخرت۔

مناسبت :

اے بنده! تا چه غلط عملونه وکړل نو دا خو تۀ د عالَم د نظام د مقصد نه خلاف چلیږے ځکه چه الله تعالیٰ کائنات د حق دپاره پیدا کړی او هغه حق د الله تعالیٰ دپاره عمل کول دی په طریقه د رسول الله ﷺ۔ نو ځکه الله تعالیٰ تا سره دا معامله وکړه چه عملونه ئے درله برباد کړل۔

أَلَمْ تَرَ : دا خطاب نبی کریم ﷺ ته دے، او مراد د هغه امت دے، یا د کافرانو هر فرد ته خطاب دے۔

بِالْحَقِّ : یعنی هرکله چه الله تعالیٰ آسمان او زمکه په حق سره پیدا کړل چه هغه د الله تعالیٰ یواځې بندګی کول دی نو اے بنده ! اُوس به د الله تعالیٰ بندګی کوے۔

❁ دارنګه علامه قاسمیؒ لیکی چه پدے کښ دا مقصد هم بیانول دی چه کوم ذات باری تعالیٰ چه آسمانونه او زمکه او ددے ترمینځ تمام څیزونه پیدا کړیدی، هغه یقیناً پدے خبره باندے قادر دے چه د قیامت په ورځ انسانان دویم ځلی راژوندی کړی۔

الله تعالیٰ په سورة یٰس آیت (۸۱) کښ فرمایلی دی : ﴿ اَوَلَیْسَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِقٰدِرٍ عَلٰی اَنْ یَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ بَلٰی وَهُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِیْمُ ﴾ یعنی کوم ذات چه آسمانونه او زمکه پیدا کړیدی، آیا هغه د دوی په شان په پیدا کولو باندے قادر نهٔ دے، بیشکه قادر دے، او هغه خو پیدا کونکے پو هه دے۔

❁ دارنګه مشرکانو ته دا هم خودل مقصود دی چه دوی الله تعالیٰ نشی عاجز کولے، که دوی د هغهٔ د اوامرو دغسے خلاف ورزی کوی، نو کیدے شی چه دوی هلاك کړی او د دوی نه بنهٔ خلق پیدا کړی چه هغه به د الله مطیع او فرمانبردار وی ځکه چه د قادرمطلق دپاره هیڅ خبره مشکله نهٔ ده۔ الله تعالیٰ په سورة النساء آیت (۱۳۳) کښ فرمایلی دی :

﴿ اِنْ یَّشَاْ یُذْهِبْكُمْ اَیُّهَا النَّاسُ وَیَاْتِ بِآخَرِیْنَ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰی ذٰلِكَ قَدِیْرًا ﴾

یعنی (که د الله خوښه شی نو اے خلقو ! هغه به تاسو ټول فناء کړی او نور خلق به راولی، او الله تعالیٰ پدے باندے پوره قدرت لری)۔ (محاسن التاویل للقاسمی)

بِالْحَقِّ: حافظ ابن القیمؒ معنیٰ کوی : اَیْ لِلْحَقِّ اَیْ لِلْحِکْمَةِ وَهُوَ مَعْرِفَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی وَتَوْحِیْدِهٖ وَعِبَادَتِهٖ۔ یعنی د حق دپاره یعنی د یو حکمة دپاره چه هغه د الله تعالیٰ پیژندګلی او د هغه توحید او د هغه بندګی کول دی۔

وَیَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِیْدٍ : یعنی نور مخلوق به پیدا کړی : [هُمْ اَطْوَعُ لِلّٰهِ مِنْكُمْ] چه هغوی به ستاسو په نسبت د الله تعالیٰ ډیر تابعدار وی۔

بِعَزِیْزٍ : یعنی ګران او ممتنع۔ دا دلیل دے چه الله تعالیٰ لائق دے چه د هغه نه د ثواب امید وکړے شی او د هغه د عذاب نه یره وکړے شی۔ پدے وجه ئے روستو ورپسے د آخرت احوال بیان کړل۔

وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ : پدے آیت کښ تخویف اُخروی دے، او برائت د اَتباعو او مَتبوعینو دے د یو بل نه۔ او بیان د عجز د هغوی دے د دفع کولو د عذاب نه۔

وَبَرَزُوْا: یعنی د قبرونو نه به خلك الله تعالیٰ ته د قیامت په ورځ رابښکاره شی۔

يعني د قيامت په ورځ كله چه مجرمان د محشر په ميدان كښ راجمع شي نو خپل مينځ كښ به ښې جګړې كوي، او يو بل نه به اعلان د براء ت كوي۔ په دنيا كښ چه كوم مجرمان كمزوري وو او د خپلو سردارانو او مالدارو پيروي كولو سره ئې د الله تعالىٰ د دين نه انكار كړې وو، دوى به هغه سردارانو ته ووائي چه مونږ په دنيا كښ ستاسو خبره منلې وه نو آيا نن ورځ زمونږ د عذاب نه څه برخه آسانولې شئ؟ نو هغوى به وائي چه كه الله تعالىٰ مونږ ته هدايت كړې وې نو مونږ به هم پدې لاره تلي وې۔

مطلب دا چه هر يو به د خپلې بې وسئ اظهار كوي او د اُور د عذاب مزه به اُوڅكي چه د هغې نه د خلاصيدو هيڅ اميد به ئې نۀ وي۔ (العياذ بالله)

او دا جګړې به بيا په جهنم كښ هم كوي لكه د سورة غافر په آيت (٤٧) كښ ذكر دى۔

اَلضُّعَفٰٓؤُا : ددې ضعيفانو او مستكبرينو په مصداق كښ درې قسمه خلك داخليږي۔ (١) ضعفاء : عوام الناس او (اِسْتَكْبَرُوْا) د ملك او علاقې غلط مشران، ليډران دى۔ لكه ابوجهل او د هغوى كشران۔ (٢) شاګردان او علماء لكه يهود او د هغوى عوام۔ (٣) پيران او مريدان لكه نصارىٰ شو چه د نصاراؤ پاپانو د هغوى عوام په لاس كښ نيولى دى۔

مُّغْنُوْنَ عَنَّا : يعني تاسو خو به په دنيا كښ مونږ سره د جنت وعدې كولې اُوس خو صرف مونږ د عذاب نه بچ كړئ۔

لَوْ هَدٰىنَا اللّٰهُ لَهَدَيْنٰكُمْ : يعني كه الله تعالىٰ مونږ ته ايمان طرفته هدايت كړې وې نو مونږ به تاسو ته هدايت كړې وې ايمان طرفته ليكن مونږ خپله ګمراه وو نو تاسو مو ځان سره ګمراه كړئ۔ نو اُوس د الله تعالىٰ د عذاب نه د خلاصيدو هيڅ ځاى نشته۔

او پدې آيت كښ مونږ ته دا دعوت دې چه خپل داسې مشرونيسه چه صبا له د هغه نه براء ت او بيزاري نۀ كوې او د هغه په تابعدارئ ځان نۀ ملامته كوې، رسول الله ﷺ پسې روان شه چه پدې تابعدارئ به هميشه خوشحاله ئې۔

وَقَالَ الشَّيْطٰنُ لَمَّا قُضِيَ الْاَمْرُ اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ
او وبه وائي شيطان هركله چه فيصله اُوشي د كار يقيناً الله تعالىٰ وعده كړې وه تاسو سره
وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُّكُمْ فَاَخْلَفْتُكُمْ وَمَا كَانَ لِيَ
وعده رشتيني او وعده كړې وه ما تاسو سره نو خلاف مې اُوكړو تاسو سره او نۀ وو زما

عَلَيْكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ إِلَّا أَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ
په تاسو باندے زور (دلیل) مګر دا چه دعوت مے درکړو تاسو ته نو خبره اُومنله تاسو
لِيْ فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ وَلُوْمُوْا أَنْفُسَكُمْ مَّا أَنَا
زما نو مهٔ ملامته کوئ ما لره او ملامته کړئ ځانونه خپل، نهٔ یم زهٔ
بِمُصْرِخِكُمْ وَمَا أَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ إِنِّيْ كَفَرْتُ
فریادرسی (مددګار) ستاسو او نهٔ تاسو فریادرسی کولے شئ زما یقیناً ما انکار اُوکړو
بِمَا أَشْرَكْتُمُوْنِ مِنْ قَبْلُ إِنَّ الظَّالِمِيْنَ لَهُمْ عَذَابٌ
د هغه څه نه چه شریك کولو تاسو ما لره (د الله سره) پخوا یقیناً ظالمان دوی لره عذاب
أَلِيْمٌ ﴿۲۲﴾ وَأُدْخِلَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوْا
دردناك دے۔ او داخل به کړے شی هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه ئے کړیدی
الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خَالِدِيْنَ فِيْهَا
نیك، جنتونو ته چه بهیږی به لاندے د هغے نه نهرونه همیشه به وی په هغے کښ
بِإِذْنِ رَبِّهِمْ تَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلَامٌ ﴿۲۳﴾
په حکم د رب خپل، ډالیٔ د دوی به په هغے کښ سلام وی۔

تفسیر : هر کله چه کشران او مشران د یو بل سره بنهٔ بحث او جګړه وکړی نو بیا به ووائی چه زمونږ د ټولو د ګمراه کولو سردار شیطان وو راځئ چه د هغهٔ خوا ته ورشو۔ نو هغه ته به ووائی چه تا مونږ ولے ګمراه کړو؟ اُوس مونږ د الله تعالیٰ د عذاب نه خلاص کړه، تا به مونږ ته دا وعدے راکولے ؟

نو هغه به ئے نور هم په خپلو کړو پښیمانه او ملامته کړی۔ چه الله تعالیٰ تاسو سره د خپلو انبیاؤ (علیهم السلام) په ژبه وعده کړے وه چه که تاسو د هغه تابعداری وکړه او په هغه مو ایمان راوړو نو الله تعالیٰ به مو د عذاب نه بچ کړی او که نهٔ وی نو جهنم ته به داخلیږئ، (یا ټولے وعدے د الله تعالیٰ مراد دی، د قیامت راوستل او د هغه په طاعت کښ د ټولو خیرونو وعدے)۔

نو نن ورځ هغه خپله وعده پوره کړه، او ما تاسو سره وعدے کړے وه چه د مرګ نه روستو دوباره راپورته کیدل او د جزا او سزا عقیده غلطه ده، او که بالفرض دا صحیح ومنلے شی نو ستاسو بتان به ستاسو دپاره سفارش کوی۔

او ما بغیر د دلیل او حجت نه تاسو ته د خپلے تابعدارئ دعوت درکړے وو نو تاسو قبول کړے وو او رسولانو په خپلو ځانونو او د خپل دعوت په رشتینوالی باندے دلائل پیش کړی وو، لیکن تاسو د هغوی خبره رد کړے وه، پدے وجه نن ورځ چه تاسو سره څه کیږی پدے باندے ما نهٔ بلکه خپل ځانونه ملامته کړئ، زهٔ تاسو ته نجات نشم درکولے، او نهٔ تاسو زما په کار راتلے شئ، نن ورځ زهٔ ددے خبرے نه قطعی انکار کوم چه په هیڅ حیثیت سره زهٔ د الله تعالیٰ شریك یم، او تاسو نه په هره طریقه د بیزارئ اعلان کوم۔ دے نه روستو الله تعالیٰ فرمائی چه ظالمانو ته به په دغه ورځ لوئی دردناك عذاب ورکولے شی۔

زمخشری لیکلی دی: د قیامت په ورځ به شیطان چه څه وائی، هغه وینا الله تعالیٰ ددے دپاره رانقل کړیده چه آوریدونکی د قیامت په ورځ د خپل انجام په باره کښ فکر وکړی او د اُوس نه د خپل نجات دپاره تیاری وکړی، کله چه به شیطان د خپلو ټولو تابعدارو نه د بیزارئ اعلان کوی۔

لَمَّا قُضِيَ الْأَمْرُ: یعنی کله چه فیصله د کار وشی د خلکو چه دوی جهنم ته بوځی نو په دغه وخت کښ به د شیطان سره مُکالَمه (خبرے اترے) وشی۔

سُلْطَانٍ: دلیل ته هم وائی او زُور ته هم۔

فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ: ما مهٔ ملامته کوئ بلکه ځانونه ملامته کړئ ځکه چه تاسو هغه خلك یئ چه خالص باطل مو قبول کړے وو چه د هغے بطلان په ادنیٰ عقل لرونکی باندے هم پټ نهٔ پاتی کیږی۔

بِمُصْرِخِكُمْ: اَیْ بِمُسْتَغِيْثِكُمْ۔ یعنی زهٔ ستاسو مددګار او فریادرست نهٔ یم۔

اِنِّيْ كَفَرْتُ: یعنی تاسو په ما ولے دهوکه کیدلئ زهٔ خو څه بنه شے نهٔ وم، زهٔ خو د مخکښ نه ورانکارے وم او تاسو ته زما حالات معلوم وو۔

۱- **بِمَا**: د مَا نه مراد الله تعالیٰ دے۔ **اَشْرَكْتُمُوْنِيْ**: اَیْ فِي الطَّاعَةِ۔

یعنی ما ستاسو نه مخکښ په هغه الله کفر کړیدے چه تاسو ورسره زهٔ په طاعت کښ شریك کړے یم، او زما خبره مو د الله په شان منلے ده۔ نو چه یو تن زوړ کافر وی د هغهٔ خبره خلك ولے ومنی، تاسو زهٔ ولے د الله سره شریك جوړولم؟۔

۲- د کفر نه مراد انکار دے او د مَا نه مراد طاعت او تابعداری ده. یعنې زهٔ انکار کوم د هغه طاعت او خبرے منلو نه چه تاسو پکښ زهٔ د الله سره شریك کړے یم په دنیا کښ.
یعنی تاسو زما تابعداری نهٔ ده کړے بلکه تاسو د خپلو خواهشاتو تابعداری کړیده. ستاسو طاعت نهٔ منم.
۳- کَفَرْتُ : ای تَبَّتُّ عَلَی الْکُفْرِ بِسَبَبِ اِشْرَاکِکُمْ .یعنی زهٔ په کفر باندے کلك شوم پدے وجه چه تاسو زهٔ د الله تعالیٰ سره شریك کړم په دنیا کښ.
یعنی ستاسو په وجه زهٔ په کفر کلك شوے یم، که تاسو زما تابعداری نهٔ کولے نو کیدے شی چه ما به توبه ویستلے وے لیکن ستاسو تابعداری زما دپاره په کفر باندے د کلکوالی سبب وګرځیدو. پدے کښ اول تفسیر ظاهر د قرآن دے.
إِنَّ الظَّالِمِينَ : یعنی ټولو ظالمانو له به دردناك عذاب وی، شیطان له په دعوت او د هغه تابعدارو له په اِجابت (یعنی خبره منلو) باندے، دواړه ظالمان دی.
وَأُدْخِلَ الَّذِينَ : د جهنمیانو په مقابله کښ د جنتیانو انجام بیانیږی.
تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ : ۱- یعنی هدیه د هغوی به په جنت کښ سلامونه وی یو بل ته، نهٔ ظاهری میوے وغیره.
۲- دعا د ژوند د هغوی به سلام وی، لکه د عربو به عادت وو چه یو بل باندے به ئے د ژوند دعا داسے کوله (اَنْعِمْ صَبَاحًا). (صبا دِے ښهٔ شه). (حَيَّاكَ اللهُ). (الله دِے ژوندے لره)
یا ملائك به د جنتیانو تعظیم کوی او هغوی ته به سلامونه کوی. الله تعالیٰ په سورة الزمر آیت (۷۳) کښ فرمایلی دی : ﴿ وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَامٌ عَلَيْكُمْ ﴾ چه د جنت خزانچیان ملائك به جنتیانو ته سلام کوی.
او په سورة الرعد آیتونو (۲۴/۲۳) کښ فرمایلی دی : ﴿وَالْمَلَآئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ، سَلَامٌ عَلَيْكُمْ ﴾ چه ملائك به د هرے دروازے نه ددوی خوا ته راتلو سره سلام کوی.

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ
آیا نهٔ ګورے ته چه څنګه بیان کړیدے الله تعالیٰ مثال د کلمے پاکے په شان د ونے
طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَآءِ ﴿۲۴﴾
پاکے (فائده منے) چه جرړے د هغے مضبوطے دی او څانګے ئے په بره طرف کښ دی.

تُؤْتِيْ أُكُلَهَا كُلَّ حِيْنٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا وَيَضْرِبُ اللهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ
ورکوی میوے خپلے هر وخت په حکم د رب خپل او بیانوی الله تعالیٰ مثالونه خلقو لره
لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٥﴾ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيْثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيْثَةٍ
دے دپاره چه دوی نصیحت واخلي۔ او مثال د کلمے پلیتے (ناپاکے) په شان د ونے پلیتے دے
اِجْتُثَّتْ مِنْ فَوْقِ الْأَرْضِ مَا لَهَا مِنْ قَرَارٍ ﴿٢٦﴾ يُثَبِّتُ اللهُ
چه راختلے وی دپاسه د زمکے نه، نۀ وی هغے لره مضبوطوالے۔ مضبوطوی الله تعالیٰ
الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ
ایمان والو لره په وینا مضبوطه په ژوند دنیوی کښ او په آخرت (قبر) کښ
وَيُضِلُّ اللهُ الظَّالِمِيْنَ وَيَفْعَلُ اللهُ مَا يَشَاءُ ﴿٢٧﴾
او گمراه کوی الله تعالیٰ ظالمانو لره او کوی الله تعالیٰ څه چه اُوغواړی۔

تفسیر: ۱- پدے آیتونو کښ الله تعالیٰ د مثال په ذریعه د کفر او شرك او د حق او باطل ترمینځ فرق ښکاره کړیدے۔ ۲- یا دا مثال د مؤمن او مشرك دے، یا د ایمان او د شرك مثال دے۔ د اسلام کلمے «لا اله الا الله» تـه ئے کلمه طیّبه او د شرك کلمے ته ئے کلمه خبیثه وئیلے ده۔ ځینی اهل علم وائی چه د کلمه طیّبه نه هره د خیر کلمه او د کلمه خبیثه نه هره د شر کلمه مراد ده۔ لکه تسبیح، تحمید، استغفار، توبه، دعوت۔ (زمخشری) (فتح البیان)

د مثال تطبیقونه

(۱) د کلمے طیبے مثال د هرے شنے تازه ښائسته ونے دے چه د هغے نه مزیداره خوشبوئی راپورته کیږی چه د هغے میوے ډیرے خوندورے او مفیدے وی، او چه د هغے جرړے په زمکه کښ دومره ژورے وی چه د هغے د بیخ نه د راوتلو هیڅ خطره نۀ وی۔

داسے ونے تـه په کتلو سره د هغے مالك ته ډیره خوشحالی حاصلیږی، او د هغے څانگے د آسمان سره خبرے کوی۔ گویا که هغه په هره طریقه یو مکمل او فائده منه ونه وی، د هغے میوه غوره او مفیده وی، او په هر موسم کښ تیاره وی، کله هم نۀ ختمیږی۔ نو دغه شان د مؤمن ایمان دے۔

فوائد د مثال او تطبیق :

(۱) د کلمې طیبې مثال ئې د ونې سره ولې ورکړو؟ (۱) نو وجه دا ده چه ونه یو اُوبو ته حاجت لری که هغې ته اُوبه نهٔ اچولې کیږی هغه وچیږی، نو دغه شان د مؤمن ایمان هر وخت علم نافع او وعظ او نصیحت ته ضرورت لری، که د وحی دا اُوبه ورته وخت په وخت وانچوی نو ایمان ئې خرابیږی۔

(۲)- دویم د ونې دپاره دا ضروری ده چه د هغې نه به خواؤ شا فضول گیاه گانې لرې کوې، دې دپاره چه ونه ترقی وکړی او طاقت ئې خراب نکړی نو دغه شان د ایمان نه به گناهونه، خرافات او بدعات لرې کوی، ورنه ایمان به ئې ترقی نکوی، بلکه خرابیږی به۔

(۳) هره ونه چه کمال ته رسیږی نو د هغې دپاره یو څو خبرې ضروری دی :

۱- عِرۡقٌ رَاسِخٌ۔ جرړه به ئې مضبوطه وی۔ ۲- اَصۡلٌ ثَابِتٌ۔ (تنه به لری)۔

۳- وَفُرُوۡعٌ نَابِتَةٌ عَالِيَةٌ ۔ اُوچتې څانگې به لری۔ که څانگې نهٔ لری نو هغه هسې لرگې دې ونه ورته نهٔ وئیل کیږی۔ بیا پدې څانگو کښې به څه ورې وی څه غټې۔

٤- ثِمَارٌ نَضِجَةٌ۔ میوې به وی پخې، تازه تازه۔ ۵- بعض ونو کښې خوشبوئی هم وی۔

نو دغه شان په ایمان کښې هم دغه پنځه څیزونه ضروری دی هله به کمال ته رسیږی، نو جرړه د ایمان یقین جوړول دی، یعنی د الله او د رسول په خبرو به یقین وی، د چا چه یقین کمزورې وی د هغه د ایمان جرړه به کمزوری وی۔ او اصل ثابت (تنه) په ژبه اقرار او اخلاص دې، څوك چه اَشۡهَدُ اَنۡ لَّا اِلٰهَ اِلَّا الله ووائی نو دهٔ د ونې تنه ودروله۔ او فروع عالیه اعمال صالحه دی، چه دا بعض واړه وی او بعض غټ، مستحبات د ورو څانگو په شان دی او فرائض د غټو څانگو په شان دی، په ورو څانگو وهلو سره ونه نهٔ خرابیږی لیکن بې رونقه کیږی ضرور۔ او غټې څانگې وهلو سره خلك وائی چه "ونه ئې ختمه کړه"۔

نو پدې وجه رسول الله ﷺ فرمائی : چا چه په قصد سره مونځ پریخودو نو دهٔ کفر وکړو۔ ځکه چه په عرف او محاوره کښې دغه شان حکم کیږی۔

بیا ددې حدیث دا مطلب نهٔ دې چه تارك الصلاة یقینی کافر دې بلکه دا په محاوره بناء دې لکه خلك وائی چه ((د ونې نه ئې غټه څانگه وهلې ده دا خو ئې توله ختمه کړیده))۔

نو ددې وجه نه راجح قول دا دې چه څوك همیشه دپاره مونځ پریدی نو بیا به یقینی کافر کیږی او که کله کله ئې پریدی نو کافر نهٔ دې)۔ او دغه شان د ونې نه چه ټولې څانگې

وو هلے شي نو بیا ورته ونه نهٔ بلکه هسے لرگے وائي۔

نو ددے وجه نه د محققینو علماؤ په نیز د تهولو اعمالو پریخودونکے کافر دے، او تارك د بعض اعمالو کافر نهٔ دے۔ او پدے خبرو باندے د مرجئه او خوارجو او معتزلو ذهن نهٔ وو کولاؤ شوے پدے وجه به ئے د ایمان په مسئلو کښ گډے وډے وئیلے، چا به په ایمان کښ اعمالو لره اعتبار نهٔ ورکولو او چا به په گناه باندے خلك کافر کول)۔

او میوے په ایمان کښ اخلاق حمیده دی، یعنی ښائسته اخلاق چه دا د نیك اعمالو نه راپیدا کیږی لکه په مانځه، روژه وغیره سره په بنده کښ تواضع، صبر، انابت الله ته، د مخلوق سره احسان او همدردی کول پیدا کیږی۔ چا کښ چه اخلاق نهٔ وی نو شنډه ونه ده، چه خلك ترے فائده نشی اخستے۔

(۲) سیدنا ابن عباس ﷺ فرمائی: کلمه طیبه د (لا اله الا الله) گواهی ورکول دی، او شجره طیبه مؤمن دے او ددے اصل ثابت (مضبوط بیخ) د لا اله الا الله وینا ده چه دا مضبوطه ده په زړه کښ، او ددے څانگے پورته دی یعنی ددے په وجه د مؤمن اعمال آسمان طرفته پورته کیږی۔ (فتح البیان)

(۳) تطبیق

(۳) یا تطبیق داسے دے: لکه چه د کجورے ونه ډیرو فائدو والا ده او بیخ د هغے مضبوط دے او څانگے د هغے د زمکے نه اُوچتے دی او میوے د هغے هر وخت کښ موجودی وی په مختلفو قسمونو سره، نو دغسے د موحد عقیده ده چه بیخ د هغه د عقیدے کلك دے، په شکونو او شبهاتو سره نهٔ زائله کیږی او دا عقیده په زړه کښ ده او هغه عملونه چه ددے عقیدے نه پیدا کیږی آسمان ته پورته خیژی دپاره د قبولیت، او فائدے او برکات ددے عقیدے په هر وخت کښ ملاویږی هم په دنیا کښ او هم په قبر او هم په آخرت کښ۔ (احسن الکلام)

كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ : په حدیث د بخاری او مسلم کښ دی چه ددے ونے نه مراد د کجورے ونه ده چه پدے کښ دا کمالات شته چه جرړه ئے مضبوطه وی او څانگے ئے پورته وی۔ (بخاری فی العلم باب ٤، ٥، ٥٠) ومسلم فی المنافقین حدیث: ٦١، ٦٢، ٦٤)

تُؤْتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ : د کجورے ونے په میوه کښ د درے سوو نه زیات قسمونه دی چه په هر یو کښ جدا جدا فائده شته، نو دغه شان د مؤمن د بدن نه هم د ایمان په وجه

قسماقسم عملونه راوځی چه د هر یو جدا جدا اثر وی.

کجورے په ټول کال کښې په هر وخت کښې ملاویږی نو دغه شان د مؤمن د بدن نه هم هر وخت نیك عملونه د شپے او د ورځے راوځی، برابره ده چه په سفر کښې وی او که په حضر کښې، ځانله وی که د خلکو ترمینځ وی. ددے وجه نه د مؤمن بدن هیڅکله بی عمله نهٔ وی، ددهٔ ناسته، ودریدل، ګرځیدل، خوب او بیداری هر حالت ئے د عمل دے. (پدے کښې مؤمن ته دعوت دے چه ځان داسے جوړ کړه).

بِإِذْنِ رَبِّهَا: پدے کښې اشاره ده چه لکه کجوره خپله میوه نهٔ ورکوی بلکه د الله په اراده سره نو دغه شان د مؤمن د بدن نه چه نیك عمل راوځی نو دا هم د الله تعالیٰ په اراده سره، نو که هغه ذات توفیق درنکړی تهٔ عمل نشے کولے نو فخر مهٔ کوه.

وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ: ددے نه مراد کلمه د کفر او شرك ده چه د کافر په خوله کښې وی.

اجْتُثَّتْ: اَیْ اُسْتُوْصِلَتْ، وَاقْتُلِعَتْ مِنْ اَصْلِهَا. چه د بیخ نه راویستلے شوی وی. دلته ئے معنیٰ دا ده چه د زمکے په سر باندے راختلے وی، یعنی جرړه ئے نهٔ وی او تنه ئے هم نهٔ وی.

كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ: ددے نه د مرغونی ونه مراد ده چه ((اندرائن))، ((ترخه هندوانه))، ((تمه)) ورته هم وائی.

مَا لَهَا مِنْ قَرَارٍ: چه هغے لـه څه قرارے او مضبوطوالے نهٔ وی بلکه په ګوتے سره هم د بیخ نه راخیژی.

تطبیق د مثال

لکه څنګه چه د مرغونی ونه د زمکے په سر باندے راختلی وی چه څه پخه جرړه نهٔ لری، او په زمکه باندے نشی ایساریدے داسے ښکاره کیږی لکه چه د زمکے د بیخ نه راویستلے شوی وی، او د هغے میوه هم ډیره ترخه وی چه په خوراك سره خیټه خرابوی او په انسان باندے دستونه لګوی، نو دغه شان کافر او د هغه کفری کلمه ده چه د هغه سره هیڅ دلیل نشته، او نهٔ د هغے څه مضبوطوالے شته بلکه د قیامت په ورځ به هغه زائله شی او د بیخ نه به راویستلے شی او په کافر کښې هیڅ خیر نهٔ وی، نهٔ ددهٔ کوم مزیداره وینا وی، او نهٔ نیك عمل وی چه پورته وخیژی. نو لکه څنګه چه دغه ونه کښې فائدے او خیر نشته نو دغه شان کافر کښې هم فائده او خیر نشته.

او (مَالَهَا مِنْ قَرَارٍ) کښې اشاره ده چه د کافر کفر دومره قوی نهٔ وی بلکه په معمولی دلیل

سره هم هغه د کفر او شرك نه راړولے شي، ددے وجه نه مشرك او کافر کله یو طرفته اوړي او کله بل طرفته، کله ئے په یو بابا عقیده جوړه شي، او کله په بل، کله په مال او دولت اوړي. او مؤمن څوك په شبهاتو او مال او دولت باندے د ایمان نه نشي اړولے. او اشاره ده چه شرك تولہ بی چینی او پریشانی ده او ایمان سراسر سکون او اطمینان دے.

(۲) تطبیق :

ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : کلمه خبیثه شرك دے او خبیثه ونه کافر دے یعنی د شرك هیڅ بنیاد او جرړه نهٔ وی چه کافر هغه راونیسی او ځان پرے بچ کړی، او نهٔ ورسره څه دلیل وی، پدے وجه الله تعالیٰ د شرك سره هیڅ عمل نهٔ قبلوی. (فتح البیان)

يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ : د ایمان د فوائدو نه دا ده چه الله تعالیٰ بنده ته تثبّت (کلك والے) ورکوی.

بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ : ددے درے مطلبونه دی (۱) ددے نه مراد همدغه کلمه طیبه «لا اله الا الله محمد رسول الله» ده. اَیْ یُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِیْنَ آمَنُوْا عِنْدَ الشَّدَائِدِ بِکَلِمَةِ التَّوْحِیْدِ. الله تعالیٰ مضبوطوی ایمان والا په سبب د کلمه د توحید سره په وخت د شدائدو او تکلیفونو کښ. نو توحید داسے مزیدار شے دے چه په وخت د مصیبتونو کښ د انسان پکار راځی.

(۲) بِالْقَوْلِ کښ باء په معنیٰ د علیٰ سره ده. اَیْ عَلَی الْقَوْلِ الثَّابِتِ. الله تعالیٰ ایمان والا مضبوطوی په دغه کلمه د حق او دین اسلام باندے. یعنی چه د چا په زړهٔ کښ ایمان ننوزی نو د ازمیښتونو په وخت کښ به هم الله تعالیٰ هغهٔ له ددے توحید او صحیح عقیدے نه نهٔ اړوی، بلکه په همدے کلمه باندے مضبوط ولاړ وی. او د قیامت په ورځ هم کله چه د هغهٔ نه د هغهٔ د دین او عقیدے په باره کښ تپوس کیږی نو د محشر د میدان نه متأثر کیدو سره به د هغه ژبه نهٔ خطاء کیږی.

لکه بخاریؒ او مسلمؒ او اهل سنن د براء بن عازب رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : «مسلمان نه چه کله په قبر کښ تپوس کیږی نو هغه گواهی ورکوی چه د الله تعالیٰ نه سویٰ هیڅوك حقدار د عبادت نشته او محمد (ﷺ) د الله رسول دے.

دا خبره الله تعالیٰ پدے آیت کښ داسے وئیلے ده : ﴿يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ﴾. نو ددے حدیث نه ثابته شوه چه د آخرت نه مراد قبر دے.

(بخاری : ۱۳۶۹ مسلم : ۷۳۹۸)

(۳) اَلْقَوْلِ الثَّابِت : قرآن تـه وائـی، یعنی الله تعالیٰ ایمان والا د قرآن کریم په ذریعه سره په دنیا کښې هم مضبوط طوی او ایمان ته ئے وخت په وخت ترقی ملاویږی، او په آخرت کښې هم چه اوله مرحله د آخرت قبر دے چه په قبر کښې به هم مؤمن صحیح سوال اوجواب ورکوی۔ او بیا به ئے روستو په آخرت کښې هم د حساب په وخت مضبوطوی چه په غیر د رپ ریی نه به د شهادت کلمه په خپله ژبه باندے راوړی، او مضبوطه خبره به کوی، د توحید او سنت ګواهی به ورکوی۔

وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ : یعنی چا چه په کفر او شرك کولو سره په خپل ځان باندے ظلم کړے وی، کلمه د شهادت به د هغه په ژبه باندے نۀ په قبر کښې راځی او نۀ به د قیامت په ورځ د حساب په وخت، بلکه الله به ئے خطاء کوی، په قبر کښې به وائی : (هاه هاه لَا اَدْرِیْ) (ابوداود:٤٧٥٥) زۀ په هیڅ نۀ پوهیږم۔

بعض مفسرینو د ﴿وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ﴾ په ضمن کښې لیکلی دی چه هر شخص چه د دلائلو او براهینو باوجود د حق نه اعراض کوی، هغه به د ازمیښتونو په وخت په حق دین باندے ثابت قدم نۀ پاتے کیږی۔ (فتح البیان)

وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَاءُ : یعنی الله چه څه غواړی هغه کوی، چا ته په حق باندے د ثابت قدمئ توفیق ورکوی نو چا لره ددے نعمت نه محروموی۔ د هغه په اراده اومشیت کښې د هیچا هیڅ دخل نشته۔

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ كُفْرًا
آیا تۀ نۀ ګورے هغه کسانو ته چه بدل کړے ئے دے نعمت د الله تعالیٰ په ناشکرئ سره
وَّأَحَلُّوْا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ﴿۲۸﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا وَبِئْسَ
او نازل ئے کړو قوم خپل کور د هلاکت ته۔ چه جهنم دے داخلیږی به هغے ته او بد دے
الْقَرَارُ﴿۲۹﴾ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ أَنْدَادًا لِّيُضِلُّوْا
ځائے د اوسیدو۔ او ګرځولی دی دوی الله لره شریکان دے دپاره چه ګمراه کړی (خلق)
عَنْ سَبِيْلِهٖ قُلْ تَمَتَّعُوْا فَإِنَّ مَصِيْرَكُمْ إِلَى النَّارِ﴿۳۰﴾ قُلْ
د لارے د الله نه اُووایه مزے واخلئ (لږے) یقیناً ورګرځیدل ستاسو اُور ته دی۔ اُووایه

لِّعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا يُقِيمُوا الصَّلَاةَ
بندګانو زما ته هغه کسان چه ایمان ئې راوړیدے چه پابندي دِے کوي د مانځه
وَيُنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً مِّن قَبْلِ أَن
او خرچ کوي دِے د هغے مال نه چه ورکړیدے مونږ دوی ته په پټه او ښکاره مخکې ددے نه
يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَالٌ ﴿۳۱﴾
چه را به شي یوه ورځ چه نۀ به وي هیڅ اخستل خرڅول په هغے کښې او نۀ دوستانه۔

تفسیر : پدے رکوع کښې الله تعالیٰ دنیاوي او دیني نعمتونه ذکر کوي، او بیا د هغے د شکر او کفر بیان کوي۔ لوی نعمت اسلام او محمد رسول الله ﷺ دے، او دا آیتونه په اول کښې د قریشو په شان کښې نازل وو لکه د عبد الله بن عباس ؓ نه نقل دي چه ددے نعمتونو بدلونکو نه مراد قریش دي۔ اول دوی مراد دي بیا هر هغه څوك پکښې داخل دے چه دغه شان مرض پکښې راشي۔

أَلَمْ تَرَ : پدے کښې رسول الله ﷺ ته خطاب کوي او د مکے د کافرانو په حالت باندے تعجب ښکاره کول دي چه الله تعالیٰ د دوی په بد حالت باندے رحم وکړو او دوی ته ئې محمد ﷺ نبي راولیږلو نو په دے نعمت باندے دوی له د الله تعالیٰ شکر ادا کول پکار وو، لیکن دوی ناشکري وکړه او د هغۀ د رسالت او دین اسلام نه ئې انکار وکړو، او د قریشو سرداران خو هلاك شو، او ټول قوم ئې هم ځان سره هلاك کړو۔ همیشه ئې د عوامو په نظر کښې کفر او شرك ښائسته ښکاره کولو سره پیش کړو او هغوی ئې اسلام قبلولو ته پرے نخودل، او پدے طریقه ئې جهنم ته ورسول چه د هغے نه لوی بل د هلاکت ځای کوم کیدے شي۔

نِعْمَةَ اللهِ : اول مصداق ددے نعمت محمد رسول الله ﷺ دے او دغه شان دین اسلام۔ بیا پدے کښې عموم کیدے شي چه یو تن ته الله تعالیٰ مشري او بادشاهي او طاقت ورکړي نو هغه راولګي په ملك او عوامو کښې کفر او شرك او بې دیني عامه کړي، نو خپل ځان هم د هلاکت کندے ته ګوزار کړي او نور خلك هم۔ او پدے کښې د کور مشر هم داخل دے چه کور ته ټي وي، وي سي آر، کیبل او نور د فساد څیزونه راننباسي، ځان هم هلاك کړي او کور والا هم۔ بچو ته د مانځه حکم نکوي، دین ورته نۀ ښائي، صرف دنیا ترے غواړي۔

هر قسم نعمت چه چا ته ورکړې شي او هغه ناشکري وکړي نو دا آیت ورته شامل دے۔ یو مُلا ته چه الله تعالیٰ د علم نعمت ورکړو او هغه خپل قوم ته د شرك دعوت ورکوي نو دهٔ هم دد ے نعمت ناشکري وکړه۔

وَجَعَلُوْا : دا تشریح ده د (بَدَّلُوْا)۔ یعني دغه نعمت ئے پدے طریقه بدل کړو چه د الله سره ئے برخه داران جوړ کړل۔

قُلْ تَمَتَّعُوْا : پدے کښې کافرانو ته دهمکي ده چه د دنیا د خوندونو نه ښے مزے واخلئ، او خلك گمراه کوئ، لیکن پو هه شئ چه ستاسو ځای به جهنم وي۔

قُلْ لِّعِبَادِيَ الَّذِيْنَ : د ناشکري کونکو په مقابله کښې مؤمنانو ته زیرے او تعلیم ذکر کوي۔ چه تاسو مونځونه قائم کړئ او الله چه کومه روزي درکړې د هغې نه په پټه او په ښکاره د الله تعالیٰ په لاره کښې خرچ کړئ یعني زکاة ادا کړئ، په خپلوانو رشته دارو خرچ کړئ او د نورو هم مدد وکړئ، د هغه ورځے د راتلو نه مخکښې چه هلته به د هیچا د طرف نه هیڅ فدیه نهٔ قبلیږي چه عوض ورکړي او د الله د عذاب نه خلاص شي، او نهٔ به کومه دوستانه په کار راځي چه یو دوست د خپل دوست دپاره د الله په دربار کښې سفارش وکړي او هغه د عذاب نه خلاص کړي۔ او دغه کارونه کول د الله تعالیٰ شکر گزاري ده۔

امام شوکانيؒ لیکلي دي چه الله تعالیٰ په دنیاوي ژوند کښې د خیر په لاره کښې د خرچ کولو حکم کړیدے کله چه یو انسان په خرچ کولو باندے قادر وي۔ مخکښې د هغه ورځے د قیامت نه چه بیا به هغه پدے قادر نهٔ وي بلکه هلته به هیڅ مال نهٔ وي۔ او د آیت په آخري حصه :﴿ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ ﴾ کښې د تیر شوي حکم تاکید دے۔

(فتح القدیر)

صاحب د ((فتح البیان)) لیکلي دي چه پدے آیت کښې د قیامت په ورځ د دوستئ نفي شویده، او په سورة الزخرف آیت (٦٧) ﴿ اَلْاَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ ﴾ کښې په هغه ورځ دوستي ثابته شویده۔ نو دد ے جواب دا دے چه پدے آیت کښې د الله دپاره دوستي ثابته شویده، یعني صرف د متقیانو دپاره ثابته شویده او نورو نه دد ے نفي شویده۔ یعني د کافرانو به د یو بل سره مینه او دوستي نهٔ وي او د متقیانو به یو بل سره مینه وي۔

بعض خلکو وئیلي دي چه د قیامت په ورځ به مختلف حالات وي۔ په بعض حالاتو کښې هر دوست به د خپل دوست د پیژندلو نه انکار کوي، او په بعض حالاتو کښې به

مؤمنـان صالحین د خپل ځان په شان مؤمنانو صالحینو دوستانو سره د همدردئ اظهار کوی۔ (فتح البیان ۵٤٨/٣)

اللّٰهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِ
الله هغه ذات دے چه پیدا کړی ئے دی آسمانونه او زمکه او نازل کړی ئے دی د آسمان نه
مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقاً لَّكُمْ وَسَخَّرَ لَكُمُ
اُوبه نو راویستلے ئے دی په هغے سره میوے دپاره د خوراك ستاسو او تابع کړے ئے دی تاسو لره
الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَسَخَّرَ لَكُمُ
کشتئ دے دپاره چه روانے وی په دریاب کښں په حکم د الله او تابع کړی ئے دی تاسو لره
الْأَنْهَارَ ﴿٣٢﴾ وَسَخَّر لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآئِبَيْنَ
نهرونه۔ (په خپل حکم سره) او تابع کړی ئے دی تاسو لره نمر او سپوږمئ همیشه روان
وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ﴿٣٣﴾ وَآتَاكُم مِّنْ كُلِّ مَا
او تابع کړے ئے ده تاسو لره شپه او ورځ۔ او درکړی ئے دی تاسو ته د هر هغه څیز نه
سَأَلْتُمُوهُ وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللهِ
چه تاسو ورته حاجت لرئ، او که شمار شروع کړئ تاسو د نعمتونو د الله تعالیٰ
لَا تُحْصُوهَا إِنَّ الْإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾
نو نهٔ شئ راګیرولے هغه په شمار کښں، یقیناً انسان خامخا ظالم ناشکره دے۔

تفسیر: په دے ذکر شوو درے آیتونو کښں الله تعالیٰ د مخلوق دپاره خپل بعض نعمتونه ذکر کړیدی، چه د هغهٔ په وحدانیت او د هغهٔ په علم او قدرت باندے دلیل دے۔ آسمانونه او زمکه ئے بغیر د مخکنئ نمونے لیدلو نه پیدا کړی، او پدے کښں ئے ډیر څیزونه پیدا کړی۔ آسمان ئے د مخلوقاتو دپاره د اطمینان والا چت جوړ کړے او زمکه ئے د دوی دپاره خوره کړیده دے دپاره چه د آسمان نه لاندے په سکون او اطمینان سره په زمکه باندے ژوند تیر کړی۔ او ددے دواړو ترمینځ ئے داسے مخلوق پیدا کړے چه د انسانانو دپاره د قسماقسم فوائدو او منافعو سبب دے۔ دا ټول پدے خبره دلیل دے چه الله تعالیٰ خالق او

مالك دے، او په هره خبره قادر دے۔ آسمان نه ئے باران نازل کړے چه د هغے په ذریعه ئے قِسم قسم میوے او غلے پیدا کړی چه د انسانانو دپاره د رزق کار ورکوی۔

او کشتیانے ئے داسے تابع کړی چه هغه د هغوی د خوښے مطابق د الله په حکم سره د اُوبو په سر باندے چلیږی او دوی او د دوی د تجارت سامان د یو ښار نه بل ښار ته منتقل کوی، او نهرونه ئے روان کړی چه زمکه ځیرلو سره د یوے علاقے نه بلے علاقے ته رسیږی، چه د هغے اُوبه خلك خپله څکی، څاروی خړوبه کوی، او د هغے نه خپلے زمکے سیرابه وی۔ دا نهرونه د الله تعالیٰ لوی نعمتونه دی۔

او نمر او سپوږمئ ئے په کار اچولی دی چه د هغے د رڼړا نه انسانان فائده اخلی، او ددے دواړو په رڼړا او د دوی په رفتار او د یو بل نه په روستو تلو راتلو کښې عظیم فوائد دی چه د هغے احاطه صرف الله تعالیٰ کولے شی۔ ددے نه په زمکه باندے راختونکی تمام بوټی او پدے باندے وسیدونکی تمام حیوانات فائده اخلی، تیارهٔ لرے کیږی۔ د نمر په ذریعه د کال مختلف موسمونه معلومیږی، او د سپوږمئ په مزل سره د میاشتو ابتداء او انتهاء معلومیږی۔ ددے دواړو دا معلوم رفتار تر قیامته پورے باقی پاتے کیږی، په هیڅ حال کښې نهٔ منقطع کیږی او شپه او ورځ ئے په کار لګولی دی، شپه ئے د آرام دپاره او ورځ ئے د روزی حاصلولو په لاره کښې د کوشش دپاره ګرځولے ده۔

په سورة القصص آیت (۷۳) کښې فرمائی: ﴿وَمِنْ رَحْمَتِهِ جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ﴾ چه (هغهٔ په خپل پوره رحمت سره شپه او ورځ مقرر کړی دے دپاره چه پدے کښې آرام وکړئ او د الله فضل (روزی) تلاش کړئ)۔

او د بندګانو چه هر ضرورت راشی، هغه الله تعالیٰ دوی ته ورکړے، ګویا که دوی په زبانِ حال سره دا څیزونه د خپل ځان دپاره د الله نه غوختلی دی۔

وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَارَ: یعنی تاسو له ئے نهرونه تابع کړیدی چه تاسو په هغے سورلی هم کوئ، او هغه د خپلے ارادے مطابق روانه وئ او دا د الله تعالیٰ لوی نعمت دے۔

دَآئِبَيْنَ: دَؤُوب یو کار همیشه کولو او جاری ساتلو ته وائی۔ اَیْ مُسْتَمِرَّيْنِ عَلٰى عَادَتِهِمَا۔ یعنی همیشه روان په خپل عادت باندے، هر سهار نمر راخیژی او ماښام پریوزی، هیڅکله ئے ددے عادت خلاف ونکړو، ځکه چه بیا پدے سره نظام خرابیږی۔

مَا سَأَلْتُمُوهُ: دا اجتمال بعد التفصیل دے۔ سؤال په دوه قسمه دے، په ژبه او بل په حال سره، دلته سوال په حال سره مراد دے۔ اَیْ مِنْ كُلِّ مَا احْتَجْتُمُوهُ ۔ یعنی درکړی ئے دی تاسو

ته هر هغه شے چه تاسو ورته ضرورت لرئ او ستاسو بدن ئے غواړی اګرکه بنده به د الله تعالیٰ نه په ژبه نۀ وی غوښتی لکه انسان کتو ته، آوریدو ته، بوئی کولو، څکلو، سوچ کولو ته، خیال کولو ته محتاج دے ددے طاقتونه ورله الله تعالیٰ ورکړیدی. بلکه داسے شے نشته چه انسان ورته د زندګئ په تیرولو کښ ضرورت لری او الله ورله په بدن کښ نۀ وی اچولے. برابره ده که هغه پنځه حواس ظاهریه دی او که پنځه حواس باطنیه دی.

لَا تُحۡصُوۡهَا: اِحصاء دے ته وائی چه په شمارلو کښ ئے راګیر کړی، یعنی په کیلکولیټر باندے د هغے حاصل راوباسی.

اِنَّ الۡاِنۡسَانَ لَظَلُوۡمٌ كَفَّارٌ: یعنی که څوك ددے دلائلو او نعمتونو نه روستو هم د ایمان او د یقین او د الله تعالیٰ د هدایت نه محرومه شی نو هغه به د الله تعالیٰ لوی ناشکره او لوی ظالم وی. ظلوم او کفار اول کښ صفتونه د کافر دی بیا پکښ ګناهګار مسلمان هم داخلیږی، او دلیل پرے د عمر بن الخطاب ﷺ واقعه ده چه هغه یو ځل داسے دعا وکړه: اَللّٰهُمَّ اغۡفِرۡ لِيۡ ظُلۡمِيۡ وَكُفۡرِيۡ. (اے الله ما ته زما ظلم او کفر معاف کړه) نو چا ورته وویل چه ظلم خو راتلے شی نو تا کښ کفر څنګه راشی (ته خو اُوچت مؤمن ئے)؟ هغه وفرمایل: الله فرمائیلی دی: (اِنَّ الۡاِنۡسَانَ لَظَلُوۡمٌ كَفَّارٌ) (انسان لوی ظالم او کافر دے) نو پدے آیت کښ الله تعالیٰ د انسان تعریف بیان کړیدے چه دا ظلوم او کفار دے، او دغه شان فرمائی: ﴿خُلِقَ الۡاِنۡسَانُ مِنۡ عَجَلٍ﴾ ﴿اِنَّهٗ كَانَ ظَلُوۡمًا جَهُوۡلًا﴾ ﴿اِنَّ الۡاِنۡسَانَ لِرَبِّهٖ لَكَنُوۡدٌ﴾ ﴿اِنَّ الۡاِنۡسَانَ خُلِقَ هَلُوۡعًا اِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوۡعًا﴾ الآیة. یعنی انسان بی صبره او حرص کونکے بخیل دے. ﴿اِنَّ النَّفۡسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوۡٓءِ﴾ د بدئ امر هم کوی. انسان کښ دا بد صفات راتللے شی لیکن دا بد صفات به د انسان نه په ریاضت او خوارئ او کوشش باندے وځی نو اصحابو د رسول الله ﷺ دا صفات د ځان نه ویستلی، بیا په عامو مؤمنانو کښ چا کښ لږ وی او چا کښ ډیر.

د شکر په باره کښ د سلفو صالحینو اقوال

۱- سلیمان التیمیؒ وائی: الله تعالیٰ په بندګانو باندے په خپله اندازه انعامات کړیدی او د هغوی نه ئے شکر د هغوی د اندازے او وس مطابق غوښتے دے.

۲- بکر بن عبد الله المزنیؒ وائی: [یَا ابۡنَ آدَمَ! اِنۡ اَرَدۡتَّ اَنۡ تَعۡلَمَ قَدۡرَ مَا اَنۡعَمَ اللّٰهُ عَلَيۡكَ فَغَمِّضۡ عَيۡنَيۡكَ]. اے د آدم ځویه! که تۀ غواړے چه د الله تعالیٰ د هغه نعمت اندازه معلومه کړے چه په تا باندے ئے کړیدے نو خپلے دواړه سترګے پټے کړه.

۳- ابوالدرداء ﷺ فرمائی: چا چه د الله تعالیٰ نعمت صرف په خوراك او څكاك کښې وپیژندو نو یقیناً چه ددهٔ علم کم دے او عذاب ورته رانزدے دے۔

٤- ابو ایوب القرشیؒ وائی: داود ؑ وفرمایل: اے ربه! ما ته خبر راکړه چه ستا په ما باندے ادنیٰ نعمت کوم یو دے؟ نو الله تعالیٰ ورته وحی وکړه چه اے داوده! ساه واخله، نو هغه ساه واخسته، الله وفرمایل: دا زما ادنیٰ نعمت دے په تا باندے۔ (فتح البیان)

ظلوم او كفار كښې فرقونه

۱- ظَلُوْمٌ بِنَفْسِهٖ كَفَّارٌ لِنِعْمَةِ رَبِّهٖ۔ د خپل ځان سره ظلم کوتکے دے په ګناه سره، او د خپل رب د نعمتونو ناشکره دے۔

۲- ظَلُوْمٌ بِشُكْرِ الْغَيْرِ، كَفَّارٌ: شَدِيْدُ الْكُفْرَانِ وَجَحُوْدٌ لِنِعَمِ اللّٰهِ عَلَيْهِ۔ ظالم دے پدے طريقه چه احسان ورسره الله تعالیٰ کړے وی او هغه شکر د بل چا کوی، یعنی بل څوك زیات یادوی چه فلانی راسره دا نعمت وکړو۔ او کفار دے یعنی سخت ناشکری کونکے دے، او د الله تعالیٰ د نعمتونو نه انکار کونکے دے۔ حال دا چه الله تعالیٰ ورته بیشماره نعمتونه ورکړی وی چه ددهٔ مخے ته مخے ته کیږی او دے پرے سترګے پټوی۔

۳- ظَلُوْمٌ بِاِغْفَالِ الشُّكْرِ۔ ظالم دے په شکر نهٔ کولو۔ كَفَّارٌ: شَدِيْدُ الْكُفْرَانِ۔ سخت ناشکری کونکے دے۔

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا الْبَلَدَ آمِنًا وَاجْنُبْنِي
او كله چه اُووئیل ابراهیم (ؑ) اے ربه زما! وګرځوه دا ښار امن والا او جدا کړه ما
وَبَنِيَّ أَنْ نَّعْبُدَ الْأَصْنَامَ ﴿۳۵﴾ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ
او ځامن زما ددے نه چه بندګی وکړو د بتانو۔ اے ربه زما! یقیناً دوی ګمراه کړیدی ډیر د
النَّاسِ فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي وَمَنْ عَصَانِي
خلقو نه نو چا چه تابعداری وکړه زما نو یقیناً هغه زما نه دے او چا چه نافرمانی وکړه زما
فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۳۶﴾ رَبَّنَا إِنِّي أَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِي
نو یقیناً تهٔ بخونکے رحم کونکے ئے۔ اے ربه زمونږ! یقیناً ما ووسه ول بعض اولاد خپل

بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا
په داسے کنده کښې چه نۀ ده فصل والا، خو اته د کور ستا چه عزتمند دے، اے ربه زمونږ!
لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ
دے دپاره چه پابندي وکړي د مانځه نو اُوګرځوه زړونه د خلقو چه مائله کيږي دوی ته
وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ ﴿٣٧﴾
او روزي ورکړه دوی ته د قسماقسم غلو نه دے دپاره چه دوی شکر اُوکړي۔

تفسیر: پدے رکوع کښې د ابراهیم علیه السلام واقعه ذکر کيږي۔

مناسبت:

۱- مخکښې د نعمت د تبدیل یو قسم ذکر شو چه هغه د رسول الله ﷺ نه انکار وو نو اُوس دا بـل قسم تبدیل د نعمت دے، هغه دا چه دے خلکو ته الله تعالیٰ نعمت د حرم ورکړو نو دوی پکښې شرك شروع کړو، او ددے لوی نعمت شکرئے پریخودو، حال دا چه دوی ته الله تعالیٰ بیت الله الحرام ددے دپاره ورکړے وو چه دوی به د الله تعالیٰ شکر کوی۔

۲- په دے سورت کښې ترغیب وو شکر ته نو پدے واقعه کښې هم شکر کولو ته ترغیب ورکړے کيږي چه د ابراهیم علیه السلام تابعداري وکړئ چه هغه شکر کړے وو او حرم ئے ددے دپاره جوړ کړے وو او الله تعالیٰ ورله بچے ورکړو نو د الله تعالیٰ حمد او شکرئے ادا کړو۔

الْأَصْنَام: دا لفظ په قرآن کریم کښې پنځه ځای راغلے دے۔

اصنام جمع د صَنَم ده، بتانو ته وائی۔

ددے آیت نه معلومه شوه چه بت پرستی ډیر بد شے دے پدے وجه ترے ابراهیم علیه السلام پناهي غواړي۔ او بله فائده دا چه انبیاء علیهم السلام هغه خلك دے چه په ځان اعتماد نۀ کوی بلکه ټول اعتماد په الله تعالیٰ کوی، د خاتمے د خرابوالی نه يريږي چه زۀ او زما بچي چرته بت پرست نشو، وګوره دا امام الْحُنَفَاء (د موحدينو سردار) دے، او بيا هم د شرك نه د بيزارئ دعا کوی۔ او سلفو به د ابراهیم علیه السلام دا خبره مخے ته وه نو د شرك نه به ډیر يريدل او د مرګ دعاګانے به ئے غوښتلے، دے دپاره چه په ایمان کښې ورله مرګ راشي او چرته شرك کښې واقع نشي لکه دا خبره د سفيان ثوريؒ نه نقل ده۔ نو موحدين به د شرك نه يره کوی، ډیر کرته په مؤمن کښې شرك راغلے وی او هغه به پرے خبر نۀ وی۔

رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ : یعنی دا بتان سبب د گمراهئ د ډیرو خلکو گرځیدلی دی، لکه د پخوا زمانے نه اکثر انسانیت د بتانو په بندګئ کښ مصروف دے، اُوس هم ټول عالَم کښ اکثر امت د بتانو په عبادت او پوجا کښ مشغول دی۔
فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ : سوال دا دے چه نافرمانو ته څنګه غفور رحیم لفظ استعمالوی چه اے الله ! دوی معاف کړه، او رحم پرے وکړه او حال دا چه نافرمانو کښ مشرکان هم داخل دی او مشرکانو ته د الله تعالیٰ بخښنه نهٔ ده فراخه ؟ نو مفسرینو ددے ضعیف جوابونه داسے ورکړیدی (۱) امام قرطبیؒ دلته دا قید لګولے دے (وَمَنْ عَصَانِيْ فِيْمَا دُوْنَ الشِّرْكِ) (نقله عن مقاتل) چا چه زما نافرمانی وکړه سویٰ د شرك نه په نورو ګناهونو سره۔
(۲) خازنؒ داسے جواب کوی چه (وَمَنْ عَصَانِيْ فِيْ غَيْرِ الدِّيْنِ) څوك چه زما نافرمانی وکړی په غیر د دینی کارونو کښ۔ نو پدے باندے دا سوال دے چه ابراهیم علیه السلام سره خو څه مزدورانو په پټو او دکانونو کښ کار نهٔ کولو چه د هغه نافرمانی وکړی بلکه د هغه ټول کارونه د دین وو۔ (۳) چا دا قید لګولے دے (وَمَنْ عَصَانِيْ بَعْدَ التَّوْبَةِ) (سدیؒ)
چا چه زما نافرمانی وکړه پس د توبے ویستلو نه نو بخښنه ورته وکړه۔
(٤) ځینی وائی چه دا دعائے په هغه وخت کښ غوښتے وه چه الله تعالیٰ ورته دا خبر نهٔ وو ورکړے چه الله تعالیٰ شرك نهٔ معاف کوی۔ لکه څنګه ئے چه د مشرك پلار دپاره اول بخښنه غوښتے وه بیا الله تعالیٰ منع کړو۔ (ابن الانباریؒ) لیکن دا ټولے خبرے ضعیفے دی۔
(۵) حقه دا ده چه پدے کښ مقصد تفویض دے الله ته۔ او دا مطلب نهٔ دے چه اے الله ! څوك زما نافرمان وی نو هغه وبخښه۔ بلکه پدے کښ خپله نرمی بیانوی او الله تعالیٰ ته خبره سپاری چه که څوك زما نافرمانی وکړی نو ستا خوښه ده، که معاف کوے ئے او که عذاب ورکوے او تهٔ د هغوی په بخښنه او رحم باندے قادرئے۔ چونکه د ابراهیم علیه السلام په مزاج کښ ډیره نرمی وه نو د خپل مزاج مطابق داسے خبره کوی، او داسے نهٔ وائی چه [وَمَنْ عَصَانِيْ فَإِنَّكَ جَبَّارٌ قَهَّارٌ]۔ (څوك چه زما نافرمانی وکړی نو تهٔ زورور او غلبه کونکے ئے)۔
رَبَّنَا إِنِّيْ أَسْكَنْتُ : ابراهیم علیه السلام دا دعاګانے په هغه وخت کښ وکړے چه کله د خپلے بی بی (هاجرے رضی الله عنها) نه جدا شو او هغه ئے یوائے د خپل ځوی (اسماعیل علیه السلام) سره په مکه کښ پریخوده چه هیڅ انسان ورسره خوا کښ نهٔ وو۔ په شاړ میدان کښ ئے پریخوستل، او چه لرِ جدا شو نو بیا مکے ته متوجه شو او دا دعائے وکړه۔

تفصیل د واقعے

دا بل امتحان وو چه په ابراهیم عليه السلام باندے راغلے وو، صحیح حدیث کښ ئے تفصیل راغلے دے چه هاجره رضی الله عنها د ساره رضی الله عنها بنه وه نو د هغے سره به ئے اختلافات راتلل، (هاجره ورته د مصر د بادشاه د طرفنه ملاؤ شوے وه) نو الله تعالیٰ ابراهیم عليه السلام ته دا حکم وکړو چه دا ښځه جدا ووسوه، یو خو پدے وجه چه اختلافات ختم شی ځکه چه دوه بنے په یو ځای وسیدو سره اختلافات زیات رامینځ ته کیږی، او بل د الله تعالیٰ د طرفنه امتحان وو چه پدے مقام کښ کعبه جوړیږی نو هغه ته ئے حکم وکړو چه هاجره سره د خپل بچی (اسماعیل) نه د شام نه مکے ته بوځه (او پدے وخت کښ ئے همدا یو مشر بچے وو او نور لا نۀ دی پیدا شوی) او دا ئے د مکے مکرمے دے ناؤ ته راوستل (ځکه چه کعبه د غرونو مینځ کښ خوړونو کښ واقع ده) پدے وخت کښ دلته هیڅ انسان نشته، نۀ اُوبه شته بلکه یو شاړ ځای دے،

هاجره رضی الله عنها او اسماعیل عليه السلام دواړه ئے دلته پریخودل او د دوی سره ئے په بتکی (مشك) کښ لږے اُوبه او په توشه دان کښ ئے لږے کجورے پریخودے، او بیرته ترے شام ته روان شو، نو هاجرے ورته آواز وکړو : [اِلٰى مَنْ تَكِلُنَا يَا اِبْرَاهِيْمُ !؟ بِوَادٍ لَيْسَ بِهَا اَنِيْسٌ]۔

تۀ مونږ چا ته پریدے اے ابراهیمه ! په داسے کنده کښ چه هیڅ انسان اُنس والا نشته چه خبرے ورسره وکړو) هغه ورته نۀ کتل، بیا ئے ورته آواز وکړو هغه بیا هم نۀ کتل، په دریم ځل ئے ورته آواز وکړو، [آللّٰهُ اَمَرَكَ بِهٰذَا؟] ۔ آیا الله تا ته ددے کار حکم کړیدے؟ نو هغه ورته مخ راواړولو چه آؤ، نو دے وویل : [اِذًا لَايُضَيِّعُنَا اللّٰهُ]۔ په دغه وخت به مونږ الله تعالیٰ نۀ ضائع کوی۔ (وګوره ددے زنانه لوی همت او اخلاص او عاجزئ ته چه دا تکبر نکوی چه تا زۀ د بنے د کور نه راجدا کړم، هغه دِے کور کښ پریخوسته او زۀ دِے داسے شاړ ځای ته راوستم، خوراك څکاك هم نشته بلکه په الله باندے ځان سپاری) دا په ابراهیم عليه السلام باندے بی شانه غټ امتحان دے چه پداسے دشته کښ د خپل جګر ټکړه وړوکے بچے او محبوبه ښځه یواځے پریدی، ځان ته فکر وکړه ستا به په داسے وخت کښ څه حال وی؟۔

کله چه د هغوی نه پناه شو نو د کعبے مقام طرفته متوجه شو او دا دعاګانے ئے وکړے چه اے الله ! ددے ځای نه بلد (ښار) جوړ کړه او امن پکښ واچوه او ددے ځای وسیدونکو ته قِسم قسم میوے ورکړه او د مکے د ښار محبت د خلکو په زړونو کښ واچوه دے دپاره چه

دے طرفته د هر ځای نه خلك راشي۔ نو الله تعالیٰ د هغهٔ دعا قبوله کړه او مکے والو ته ئے تهول نعمتونه ورکړل، لیکن دوی د الله تعالیٰ ناشکری وکړه او عزتمند ښار ئے د کفر ښار وګرځولو او د الله تعالیٰ سره ئے نور شریکان کړل۔

او الله تعالیٰ دا دعاګانے په ډیره اُوچته پیمانه باندے قبولے کړے چه قیامته پورے ددے اثر شته او وی به۔ ابراهیم ﷺ روان شو، شام ته ئے مخه کړه، دلته ددے د بی بی (هاجره) سره اُوبه او کجورے ختمے شوے، په زنانه کښ د ماشوم دپاره پئ ختم شو نو بچی ژړل نو دے د غر په شان لوی همت والا زنانه د صفا غونډئ طرفته منډه کړه چه څوك به وینی او د بچی ګوزاره به ئے روانه شی، بیا ئے مروه ته منډه کړه بیا صفا ته بیا مروه ته اُوه ځل ئے منډه ووهله۔ او پدے مینځ کښ د خپل بچی خوا ته راغله چه وګوری چه د هغهٔ به څه حال وی؟ نو وے کتل چه د پریشانئ په حالت کښ لتے وهی نو بیرته واپس صفا ته لاړه اُوه ځله ئے دا حالت وکړو تردے چه جبریل ﷺ راغے او د زمزم د کوهی په مقام باندے ودریدو او دے ته ئے آواز وکړو او دا په مروه کښ ولاړه وه نو ځان ته ئے وویل: [صَهُ] چپ شه۔ (یعنی دا څوك دے) بیا هغه آواز وکړو نو دے ورته وویل: [قَدْ اَسْمَعْتَ اِنْ کَانَ عِنْدَكَ غَوَاثٌ]۔

آواز دِے ما ته راورسیدو خو که څه مدد درسره وی نو راشه۔ پدے کښ چه کله راغله نو جبریل ﷺ په خپل وزر باندے زمکه ووهله نو د زمزم اُوبه راوختلے نو دے ورته زر زر ګټے او شړے راغونډے کړے چه دا خورے نشی ختمے نشی۔ (نبی کریم ﷺ فرمایل:

[رَحِمَ اللّٰهُ اُمَّ اِسْمَاعِیْلَ لَوْ تَرَکَتْ زَمْزَمَ لَکَانَتْ زَمْزَمُ عَیْنًا مَعِیْنًا] ۔ (که چرته دے ورته دا دیوال نهٔ وهلے نو زمزم به بهیدونکے چینه وے)۔ (مسند احمد: ۳۳۹۰ بسند صحیح)

نو دے به د زمزم اُوبه څکلے او د هغے نه ئے پئ پیدا کیدل او ماشوم ته به ئے ورکول۔ نو پدے مینځ کښ د بنو جُرهم یوه قبیله د یمن نه راروانه وه په لاره تیریدله نو وے کتل چه علاقه کښ مارغان دی، وے وئیل چه مارغان خو د اُوبو خوا کښ وی نو کسان ئے راولیږل وے کتل چه چینه ده او زنانه ورسره خوا کښ ناسته ده، نو هغوی قافلے ته حال ووبلو نو هغوی تهول راغلل، حدیث کښ دی چه [وَکَانُوْا اَصْحَابَ خُلُقٍ] د جرهم قبیلے خلك د اخلاقو والا وو نو دوی ددے زنانه نه دلته د راتللو او د اُوبو څکلو اجازه واخسته۔ نو هغے ورته اجازه ورکړه لیکن دا ئے ورته وویل چه ستاسو به په اُوبو کښ حق نهٔ وی صرف د څکلو حق به وی یعنی تصرف به نهٔ کوئ۔ نو هغوی دلته ډیره شو۔

بیا لږه زمانه روستو هاجره رضی الله عنها وفات شوه او اسماعیل ﷺ رالوی شو، په دغه

قوم کښې ئے واده وکړو، ابراهیم علیه السلام ته الله تعالیٰ په شام فلسطين کښې وحی وکړه چه مکے ته لاړ شه نو هغه رارowan شو دلته اسماعیل علیه السلام به ښکار کولو، د کور نه وتلے وو، ابراهیم علیه السلام د هغهٔ د کور پوښتنه وکړه نو ورته وخودے شو، ښځے نه ئے ورله تپوس وکړو، خاوند دِ ے څه شو؟ هغے وویل: مونږ له خوراك طلب كوی، ستاسو څه خوراك دے؟ هغے وویل: غوښه او اُوبه. نو ابراهیم علیه السلام د هغے دپاره دعا وکړه چه الله دِ ے پدے غوښه او اُوبو کښې برکت واچوی. حدیث کښې دی چه په مکه کښې څوك دا دواړه خوری نو نهٔ خرابیږی او په بل ځای کښې خرابیږی. نو هغے نه ئے د نورو احوالو تپوس وکړو نو هغے ورته بد حالی او فقر ذکر کړو نو ابراهیم علیه السلام ورته وویل چه خاوند ته به زما سلام ووائے او ورته ووایه چه د دروازے دا درشل دِ ے بدله کړه.

او ددے نه پس ابراهیم علیه السلام رخصت شو، د انبیاء علیهم السلام کار ډیر ناشنا وی، د شام نه راغلے دے، او سمدست روانیږی د خپل ځوی ملاقات ئے هم ونکړو ځکه چه هغوی د الله تعالیٰ د امر تابع وی. کله چه اسماعیل علیه السلام کور ته راغلو نو د احوالو نه ئے معلومه کړه نو کوروالو نه ئے تپوس وکړو؟ هغے وویل چه یو سپین ګیرے سړے وو او داسے خبره ئے وکړه. هغه ورته وویل چه دا زما پلار وو او درشل تهٔ ئے، ما ته ئے حکم کړے چه تا ته طلاق درکړم. نو هغه ئے طلاقه کړه، او د هغه قوم نه ئے بله ښځه وکړه.

بیا ابراهیم علیه السلام په بل وخت کښې راغلو. اسماعیل علیه السلام بیا بهر وتلے دے، ملاقات ونشو، د ښځے نه ئے د احوالو تپوس وکړو نو هغے د الله تعالیٰ شکر ادا کړو چه الحمد لله ښه حال دے، (نو دا د شکر واقعه ده) نو ورته ئے وویل چه خاوند ته سلام وکړه او ورته ووایه چه (ثَبِّتُ عَتَبَةَ بَابِكَ) د دروازے درشل دِ ے مضبوط وساته. اسماعیل علیه السلام ته ئے حال ووېلو، هغه وویل چه درشل تهٔ ئے، او دا زما پلار دے ما ته ئے امر کړیدے چه زهٔ تا ځان سره وساتم.

(ددے نه دا معلومیږی چه ناشکره ښځه طلاقول پکار دی او شکر ګزاره ساتل پکار دی، ناشکره انسان د الله تعالیٰ خوښ نهٔ دے) او بیا چه دریم ځل راغلو نو اسماعیل علیه السلام د یوے ونے لاندے ناست وو، غشی ئے جوړول نو یو بل سره ډیر په مینه محبت ملاؤ شو، بیا ئے ورته وویل: چه ما ته الله تعالیٰ حکم کړیدے چه زهٔ د هغهٔ دپاره یو کور جوړوم، تهٔ به زما موافقت کوے؟ هغهٔ ورته وویل: آؤ، د خپل رب خبره ومنه. نو دواړه شروع شو کعبه ئے جوړوله لکه باقی تفصیل ددے خوږے واقعے زمونږ په کتاب (سیرت الرسول صلی الله علیه وسلم) کښې وګوره.

بعض مفسرينو ليكلي دي چه دلته د ابراهيم ﷵ واقعه د كلمې طيبې د مثال په توګه ذكر شويده. او بعضو وئيلي دي چه پدې سره مقصود خلقو ته د توحيد دعوت وركول او د بتانو د عبادت نه منع كول دي. صاحب د «فتح البيان» وائي چه دا واقعه د ابراهيم ﷵ د اُورته د غورزيدو نه روستو راغلې ده. هلته دوی د خپل رب نه هيڅ سوال نۀ دے كړے، او نۀ ئے كومه دعا كړې او دلته د الله په حضور كښې په خشوع او خضوع سره ئې دعا كړيده. او مقام د دعا د مقام د سكوت او د ترك د دعا (دعا پريخودلو) نه اعلیٰ او ارفع دے. نو معلومه شوه چه ابراهيم ﷵ كله دا دعا كړے وه په هغه وخت كښې دا په درجه د كمالاتو كښې عروج (بَره سر) ته رسيدلے وو. (فتح البيان۳/۵۵۱)

بعض مفسرينو ليكلي دي چه د ابراهيم ﷵ اته ځامن وو، د دوی نه هيڅچا هم د بتانو عبادت نۀ دے كړے.

مِنۡ ذُرِّيَّتِيۡ : د ذريت نه مراد صرف اسماعيل ﷵ دے.

بِوَادٍ غَيۡرِ ذِيۡ زَرۡعٍ : د مكې په زمكه كښې داسې طاقت نشته چه هغه فصلونه راوخيژوی، اُوس ورله د بهر نه خلكو خاورې راوړيدي، نو بعض بوټي پكښې موجود دي.

حكمة : الله تعالیٰ خپل كور په داسې شاړه كښې جوړ كړو دے دپاره چه مُحبّين او غير محبّين معلوم شي، ولے كه مكه داسې علاقه وے چه ګيا هګانې او بوټي او چمنونه وے نو خلك به چكر له تللے، نو دا صحراوونه او مزلے او تكليفونه دي، دا ددے دپاره چه محبت والا خلك د الله تعالیٰ كعبې ته لاړ شي، پدې سره د محبت والا بندګان ښكاره كيږي.

عِنۡدَ بَيۡتِكَ الۡمُحَرَّمِ : يعنې دلته به ستا كور جوړيږي. او مسجد حرام ته پدې وجه بيت حرام او حرم وئيل كيږي چه هغې ته الله تعالیٰ عزت وركړيدے، د هغې بيعزتي كول ئے حرام كړيدي، او دلته ئے ښكار حرام ګرځولے دے.

لِيُقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ : مونځ ئے ذكر كړو، ددے اهميت ته اشاره ده او بل دے ته چه مونځ كول د شكريو قِسم دے. ځينې خلك د صلاة معنیٰ په دين سره كوي. دا دومره غوره نۀ ده ځكه چه مونځ په اسلام كښې ډير لوی اهميت لري پدے وجه ابراهيم ﷵ په داسې مقام كښې ذكر كړيدے. او رَبَّنَا ئے دوباره راوړو پدے كښې د مانځه ډير اهميت ته اشاره ده چه د مونځ په وجه د بنده تربيت كيږي.

مِّنَ النَّاسِ : مِنۡ ئے راوړو اشاره ده چه د حج او عمرے سره به بعض انسانان (چه هغه مؤمنان دي) مينه كوي، نۀ يهود او نصاریٰ او نور كفار. ابن عباس ﷺ فرمائي : كه داسې ئے

وئیلی وے (اَفۡـِٕدَةً النَّاسِ) نـو تـولـو انسـانـانـو بـه پـه مکه باندے تیل کړے وے، فارس والا، رومیان، ترکیان، هندوان، یهود او نصارئ.

تَهۡوِیۡ اِلَیۡهِمۡ: اَیۡ تَحِنُّ اِلَیۡهِمۡ وَتَطِیۡرُ وَتَشۡتَاقُ اِلَیۡهِمۡ -یـعـنـی چه مینه او شوق ئے کیږی مکے والـو تـه، دپاره د زیارت د کور ستا. اهل لغت ئے داسے معنیٰ کوی : [تَنۡحَطُّ اِلَیۡهِمۡ وَتَنۡحَدِرُ وَتَنۡزِلُ]. دوی ته راښکته کیږی او دوی طرفته نازلیږی.

وَارۡزُقۡهُمۡ مِّنَ الثَّمَرَاتِ: او د قسـم قسم میوو دعائے چه کومه وکړه نو پدے کښ د هغه اولاد او هغه تمام خلق شامل دی چه مکے ته راځی او وسیږی.

لَعَلَّهُمۡ یَشۡکُرُوۡنَ: اَیۡ یُوَحِّدُوۡنَكَ وَیُعَظِّمُوۡنَكَ) چه یوائے ستا بندګی وکړی او ستا تعظیم وکړی.

رَبَّنَا اِنَّكَ تَعۡلَمُ مَا نُخۡفِیۡ وَمَا
اے ربه زمونږ ! یقیناً ته پو هیږے په هغه څه چه پټوی ئے مونږ او هغه څه
نُعۡلِنُ وَمَا یَخۡفٰی عَلَی اللّٰهِ مِنۡ شَیۡءٍ فِی الۡاَرۡضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ ﴿۳۸﴾
چه ښکاره کووئے مونږ او نۀ پټیږی په الله باندے هیڅ شے په زمکه کښ او نۀ په آسمان کښ
اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ وَهَبَ لِیۡ عَلَی الۡکِبَرِ اِسۡمَاعِیۡلَ وَاِسۡحٰقَ
شکر دے الله لره هغه ذات چه وے بخلو ما ته سره د بوډاوالی نه اسماعیل او اسحاق
اِنَّ رَبِّیۡ لَسَمِیۡعُ الدُّعَآءِ ﴿۳۹﴾ رَبِّ اجۡعَلۡنِیۡ مُقِیۡمَ الصَّلٰوةِ
یقیناً رب زما خامخا قبلونکے د دعا دے. اے ربه زما ! اُوګرځوه ما پابندی کونکے د مانځه
وَمِنۡ ذُرِّیَّتِیۡ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ ﴿۴۰﴾ رَبَّنَا اغۡفِرۡ لِیۡ
او د اولادو زما نه اے ربه زمونږ ! او قبوله کړه دعا زما. اے ربه زمونږ ! بخنه اُوکړه ما ته
وَلِوَالِدَیَّ وَلِلۡمُؤۡمِنِیۡنَ یَوۡمَ یَقُوۡمُ الۡحِسَابُ ﴿۴۱﴾
او مور او پلار زما ته او مؤمنانو ته په هغه ورځ چه اُودرولے به شی حساب.

تفسیر : زمخشری ددے آیت تفسیر دا کړیدے (کوم چه د ابن جریرؒ رائے ته نزدے دے) چه اے زمـونږه ربه ! ته زمونږ د حالاتو او زمونږ د ضرورتونه ښه خبردار ئے، چه کوم شے زمونږ

دپاره مفيد دے او كوم شے نقصان ده دے، هغه تا ته ښه معلوم دے، ته زمونږ نه زيات په مونږ باندے رحم كونكے ئے، پدے وجه دعا او طلب ته ضرورت نشته دے۔ مونږ خو ستا په دربار كښې اظهار د بندگى او ستا په جناب كښې د خشوع او خضوع د اظهار دپاره تا ته آواز كوو، مونږ پدے وجه دعا كوو چه ستا د كرم محتاج يو، او ستا د فضل او كرم دپاره زمونږ په زړونو كښې جلتى ده۔ زمونږ حال ددے غلام دے چه د خپل مالك په حضور كښې ښه چاپلوسى وكړى دے دپاره چه هغه خپل زيات نعمتونه هغهٔ ته وركړى، او مالك هم داسے دے چه د خپلو غلامانو به ادنىٰ طلب باندے د نعمتونو باران كوى۔ (محاسن التاويل)

يا د (مَا نُخْفِيْ) نه مراد هغه خفگان دے چه په اسمٰعيلؑ او د هغه د مور پسے ئے په زړه كښې كړے وو چه په شاړه زمكه كښې ئے پريخودل۔ او د (مَا نُعْلِنُ) نه مراد هغه جفاء ده چه مونږه ئے ددے دواړو سره ښكاره كوو۔

وَمَا يَخْفٰى : دا يا قول د ابراهيم عليه السلام دے يا جواب د الله تعالىٰ دے، د اول په اعتبار سره به مطلب دا وى چه اے الله! تا ته زما نيت معلوم دے چه زما ددے ښځے او بچى دلته وسوه ولو مقصد ستا شكر كول دى۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ وَهَبَ لِیْ عَلَى الْكِبَرِ : ابراهيم عليه السلام د الله شكر ادا كړو چه هغه له ئے په بوډا والى كښې دوه ځامن وركړل، دے دپاره چه د هغه نه روستو د دعوت الى الله كار كوى، خلق توحيد طرف ته راوبلى، او مونځونه قائم كړى۔ وائى چه د اسماعيل عليه السلام د پيدائش په وخت د هغوى عمر نهه نوى (۹۹) كاله وو او د اسحاق عليه السلام د پيدائش په وخت د هغه عمر يوسل دولس (۱۱۲) كاله وو او د سعيد بن جبيرؒ په قول يو سل اولس (۱۱۷) كاله وو۔ ديارلس كاله اسحاق عليه السلام د اسماعيل عليه السلام نه كشر دے۔ او پداسے زمانه كښې اولاد پيدا كيدل د الله تعالىٰ ډير لوى نعمت وى ځكه چه دا زمانه د نا اميدئ وى نو ځكه پدے باندے شكر كوى۔ او دا (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ) ابراهيم عليه السلام پدے وخت كښې نهٔ ده وئيلے بلكه دا د بل وخت شكريه ادا كول دى خو الله تعالىٰ د هغه د شكر راښكاره كولو دپاره پدے مقام كښې ددے واقعے سره جمع كړل۔ (فتح البيان والقاسمیؒ)

رَبِّ اجْعَلْنِیْ : هغهٔ د خپل رب نه دا دعا هم وكړه چه اے ربه زما! ما او زما اولاد د مانځه پابند كړه، او زمونږ ټولے دعاگانے عموماً او دا دعاگانے خصوصاً قبولے كړه۔

بعض مفسرينو دلته د دعا نه مراد عبادت اخستے دے۔ او د الله تعالىٰ نه ئے دا هم طلب كړل چه هغه ما او زما مور او پلار او نور ټولو مسلمانانو ته د قيامت په ورځ معافى

وکړی. مفسرین لیکی چه د والدینو دپاره دوی دا دعا په هغه وخت کړے وه چه کله دهٔ ته دا معلومه نهٔ وه چه دوی دواړه د الله تعالیٰ دشمنان دی. یو قول دا هم دے چه ددهٔ مور مسلمانه شوے وه. په یو قراءت کښې «وَالِدِیْ» راغلے دے. یعنی په دعا کښې ئے صرف خپل والد مراد کړے وو. په یو بل شاذ قراءت کښې «وَلَدَیَّ» راغلے دے، یعنی زما دواړه ځامن اسماعیل او اسحاق هم معاف کړه. لیکن دا غوره نهٔ ده.

او ظاهر دا ده چه ابراهیم ﷷ د خپل پلار سره د بخښنے غوښتو وعده کړے وه نو هغه ئے دلته پوره کړه. بیا الله تعالیٰ منع کړو چه مشرك له به بخښنه نهٔ غواړے لکه چه تفصیل ئے مخکښې په سورة التوبه کښې تیر شوید ے.

یَقُوْمُ الْحِسَابُ : د هر شی خپل خپل ودریدل وی نو مراد ترے هغه ورځ ده چه حساب پکښې ودریږی یعنی ثابت شی او شروع شی. او تعبیرئے ترے په قیام سره وکړو اشاره ده د هغے یقینی والی ته چه دا به په ډیر استقامت او تاکید سره کیږی.

او تاویلی معنیٰ پکښې دا ده چه (یَوْمَ یَقُوْمُ النَّاسُ لِلْحِسَابِ) په کومه ورځ چه خلك به د حساب دپاره ودریږی. اول قول غوره دے. (فتح البیان)

وَلِلْمُؤْمِنِیْنَ : د ایمان د فوائدو نه یوه فائده دا ده چه اصحاب الاستجابة به تا ته دعا کوی، نو چه ایمان در پکښې راغلو، د ابراهیم ﷷ دعا به تا ته کیږی ځکه چه هغه ټولو مومنانو ته د بخښنے دعا کړیده او د هغه دا دعا قبوله ده ځکه چه قرآن کښې الله تعالیٰ کومه دعا ذکر کړی نو هغه قبوله شوی وی، نو دا د ډیر زیری والا آیت دے ولله الحمد. بیا ئے زنانه (وَلِلْمُؤْمِنَاتِ) ذکر نکړے، زنانه ئے د سړو تابع کړیدی ځکه چه ددهٔ ټول اولاد زامن وو او لونړه ئے نهٔ وے نو د هغوی سره ئے تعلق نهٔ وو.

وَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا عَمَّا یَعْمَلُ الظّٰلِمُوْنَ
او گمان مهٔ کوه په الله باندے د ناخبره د هغے نه چه کوی ئے ظالمان،
اِنَّمَا یُؤَخِّرُهُمْ لِیَوْمٍ تَشْخَصُ فِیْهِ الْاَبْصَارُ ﴿۴۲﴾
یقیناً روستو کوی دوی لره هغه ورځے ته چه کړوغے به راوځی په هغے کښې سترگے. (چه کولاؤ به پاتے شی په هغے کښې نظرونه).

تفسیر : پدے آخری رکوع کښې تخویفات دی چه خلك ناشکری کوی او اے زما نبی !

ستا خلاف كوي نو دا خلك ما نه نشي بچ كيدے، نو پدے آيت كښ ظالمانو دپاره دهمكي ده، او وعده ده دپاره د مظلوم۔

يعني نبي كريم ﷺ ته تسلي وركړے شويده او د مدد او كاميابئ وعده ورسره كړے شويده او د مكے كافرانو ظالمانو ته دهمكي وركړے شويده چه كه دوي خپل حالت برابر نكړو نو د بد انجام انتظار دِے وكړي۔

او مناسبت ئے د مضمون د سورت سره دا دے چه څوك شكر نهٔ كوي او اتباع د رسول ﷺ نكوي هغه ظالم دے۔

وَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ : دلته مخاطب اگركه نبي كريم ﷺ دے، ليكن مقصود د هغهٔ امت دے۔ او د ((ظالمون)) نه مراد د مكے مشركان دي۔

يعني كه الله تعالىٰ دوي ته مهلت وركړيدے او عذاب ئے د دوي نه روستو كړيدے نو ددے نه دِے دوي پدے غلط فهمئ كښ نهٔ پريوزي چه گنے د دوي نه الله تعالىٰ ناخبره دے، يا ئے دوي ته معافي كړيده، بلكه هغه د دوي ټول اعمال بيل بيل د دوي په عمل نامه كښ راجمع كوي، او كله چه هغه ورځ راشي كله چه به د يرے په وجه د خلقو سترگے ايغے نيغے پاتے شي، نو هغه ټول بد اعمال به د دوي مخے ته راپيش كړے شي۔

تَشْخَصُ: شُخُوصُ الْبَصَر : تيز نظر كول او په يو ځاى باندے نظر نهٔ پاتے كيدلو ته وئيلے شي۔ يعني كولاو به پاتے شي نظرونه د دوي۔

مُهْطِعِيْنَ مُقْنِعِيْ رُءُ وْسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ
منډے وهونكي به وي، اُوچت كړي به ئے وي سرونه خپل، نهٔ به واپس كيږي دوي ته
طَرْفُهُمْ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَآءٌ ﴿٤٣﴾
نظرونه د دوي او زړونه د دوي به خالي وي (د هر خير نه او د پوهے نه)۔

تفسير : كله چه قيامت راشي نو مړي به د خپلو قبرونو نه راوتو سره ميدان محشر طرف ته په ډيره تيزئ سره منډے وهي لكه چه الله تعالىٰ په سورة المعارج آيت (٤٣) كښ فرمايلي دي : ﴿يَوْمَ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْاَجْدَاثِ سِرَاعًا﴾

چه (په هغه ورځ به خلق د خپلو قبرونو نه راوتو سره ډير په تيزئ سره منډے هي)۔ خپل سرونه به ئے پورته طرف ته اُوچت كړي وي، او سترگے به ئے كولاوے وي، په بنړو كښ به ئے

حرکت هم نۀ وي، او د ډيرے يرے او گبراهټ په وجه به ئے زړونه فناء او ختم شوي وي۔
مُهْطِعِيْنَ : ١ - (اَیْ مُسْرِعِيْنَ) زغليدونكي به وي۔ (قتادۃ)
٢- مُدِيْمِي النَّظَرِ) (مجاهد) نيغ او متواتر كتونكي به وي۔
ثعلبؒ وائي : اَلْمُهْطِعُ الَّذِیْ يَنْظُرُ فِیْ ذُلٍّ وَخُضُوْعٍ)
مهطع هغه شخص دے چه په ذلت او عاجزئ سره كتل كوي۔
ابن عباسؓ فرمائي : د اِهطاع معنیٰ دا ده چه په كتو كښ به نظر نۀ ربه وي۔
(فتح، الدر المنثور)
مُقْنِعِيْ رُءُوْسِهِمْ : يعني سرونه به ئے پورته كړي وي آسمان طرفته، هغے ته به د يرے او د ذلت په نظر سره گوري او بعضے به بعضو ته نۀ گوري او نۀ به ځان ته كتلے شي ځكه چه ځان او بل ته كتونكے هغه څوك وي چه بيغمه وي او چه كله انسان په سخت هيبت كښ وي نو بيائے خپل ځان ته هم فكر نۀ وي۔
وَاَفْئِدَتُهُمْ هَوَآءٌ : ١ -خَالِيَةٌ عَنِ الْخَيْرِ) يعني زړونه به ئے د هر خير نه خالي وي۔
٢- اَیْ لَاتَعْقِلُ شَيْئًا وَلَاتَعِيْهِ مِنَ الْخَوْفِ) يعني د زياتے يرے په وجه به په هيڅ نۀ پو هيږي او نۀ به يوه خبره يادولے شي۔ ځكه چه كله د انسان هيبت زيات شي نو بيا په يوه خبره هم نۀ پو هيږي۔
٣- هَوَاءٌ : اَیْ جَوْفٌ لَاعُقُوْلَ لَهَا (قرطبي) زړونه به ئے ډډ وي چه هيڅ عقلونه به پكښ نۀ وي۔ ٤ - خَاوِيَةٌ۔ (ابن كثيرؒ) (زړونه به ئے د خپل ځاى نه پريوتونكي وي)، لكه چه الله تعالیٰ فرمائي : ﴿اِذِ الْقُلُوْبُ لَدَی الْحَنَاجِرِ﴾ (حم المؤمن : ١٨)
په هغه ورځ به زړونه د خپلو ځايونو نه وتلي وي او مرئ ته به رارسيدلي وي۔ (د سخت هيبت د وجه نه ځكه چه دوي كله اُورويني نو يو تيزه چغه به كړي چه د هغے په وجه به ئے زړونه د خپلو ځايونو نه جدا شي)

وَاَنْذِرِ النَّاسَ يَوْمَ يَاْتِيْهِمُ الْعَذَابُ فَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا
او اُويروه خلقو لره د هغے ورځے نه چه رابه شي دوي ته عذاب نو وائي به ظالمان
رَبَّنَا اَخِّرْنَا اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ نُّجِبْ
اے ربه زمونږ! روستو كړه مونږ (مهلت راكړه) تر نيتے نزدے پورے چه قبول كړو

دَعۡوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ أَوَلَمۡ تَكُونُوٓا۟ أَقۡسَمۡتُم
دعوت ستا او تابعداری اُوکړو د رسولانو، آیا نهٔ وئ تاسو چه قسمونه مو کړی وو
مِّن قَبۡلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴿٤٤﴾ وَسَكَنتُمۡ فِي مَسَٰكِنِ
مخکښې ددې نه چه نشته تاسو لره زائله کیدل (فنا). او اُوسیدلئ یئ تاسو په ځایونو
ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمۡ وَتَبَيَّنَ لَكُمۡ
د هغه کسانو کښې چه ظلم ئے کړے وو په ځانونو خپلو او ښکاره شویده تاسو ته
كَيۡفَ فَعَلۡنَا بِهِمۡ وَضَرَبۡنَا لَكُمُ ٱلۡأَمۡثَالَ ﴿٤٥﴾
چه څنګه کار کړے وو مونږ د دوی سره او بیان کړیدی مونږ تاسو ته مثالونه (قصے او
وَقَدۡ مَكَرُوا۟ مَكۡرَهُمۡ وَعِندَ ٱللَّهِ
واقعات). او یقیناً مکرونه کړی وو دوی مکرونه خپل او د الله په اختیار کښې دے
مَكۡرُهُمۡ وَإِن كَانَ مَكۡرُهُمۡ لِتَزُولَ مِنۡهُ ٱلۡجِبَالُ ﴿٤٦﴾
مکر د دوی، او اګرکه وو مکرونه د دوی (دومره غټ) چه ختم شی د هغے په وجه غرونه.

تفسیر : دلتـه هم خطاب نبی کریم ﷺ سره دے. او د ((الناس)) نـه مراد یا خوعام خلك دی، یا مکے والا دی. اولنے قول راجح دے. ځکه چه د رسول الله ﷺ د قیامت د ورځے نه یرول مسلمان او کافر ټولو ته شامل دی.

اَلۡعَذَابُ : ددے نه دنیاوی او اُخروی دواړه قسمه عذاب مراد کیدل صحیح دی.

فَيَقُولُ الَّذِينَ ظَلَمُوا : لیـکن کـله چه عذاب راشی نو بیا به ظالمان د تیر شوی وخت ارمان کوی چه مـونږ تـه دِے دوباره موقعه راکړے شی چه ستا دعوت قبول کړو او ستا د رسولانو خبره ومنو.

نُجِبۡ دَعۡوَتَكَ : د الله تـعـالیٰ دعـوت د هـغـهٔ یـواځے بندګی کـول دی. نو دوی بـه د دوه ځیزونـو پسے ارمان کوی، د الله تعالیٰ یواځے بندګی او د رسولانو اتباع. ځکه چه دوی ته پته ولګیده چه صرف دا دوه ځیزونه په کار راځی.

أَوَلَمۡ تَكُونُوٓا أَقۡسَمۡتُم : کـفارو بـه د مـرګ نه روستو د دویم ځلی ژوندی کیدو نه انکار

کولو، او کله چه به داعی الی الله داسے خبرے کولے نو دوی به قسمونه خوړل چه د دویم ژوند عقیده باطله ده۔ په سورة النحل آیت (۳۸) کښ الله تعالیٰ فرمایلی دی:
﴿ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ مَنْ يَّمُوْتُ ﴾ چه (دوی به په الله ډیر غټ قسمونه کول وئیل به ئے چه څوك مړ شي نو الله به هغه دویم ځلی نهٔ راژوندے کوی)۔
مِّنْ زَوَالٍ : اَیْ مِنْ زَوَالٍ مِنَ الدُّنْیَا۔ یعنی د دنیا نه زائله کیدل نشته بلکه خلك په دنیا کښ مري او ژوندی کیږی او دوباره ژوند نشته۔
وَسَكَنْتُمْ : یعنی تاسو وسیدلی وئ۔ یعنی تاسو هغه کلی لیدلی دی چه د هغے وسیدونکو په ځانونو ظلم کړے وو لکه د عادیانو او ثمودیانو کلی۔ الله تعالیٰ په هغوی باندے چه کوم عذاب نازل کړے وو د هغے آثار اُوسه پورے باقی دی۔
او د هغوی خبرونه په تواتر سره مونږ ته رارسیدلی دی۔ او څه چه هغوی کړی وو چه د هغے په وجه سره هغوی دغه بد انجام ته ورسیدل هغه ټولے خبرے تاسو ته معلومے دی، بیا هم په تاسو کښ څوك داسے پیدا نهٔ شو چه عبرت ئے حاصل کړے وے او خپله اصلاح ئے کړے وے۔
۲- حسنؒ معنی کوی: اَیْ عَمِلْتُمْ بِمِثْلِ اَعْمَالِهِمْ : تاسو د هغوی د عملونو په شان عملونه وکړل۔
كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ : دا فاعل دے د (تَبَيَّنَ) دپاره۔ اَیْ تَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفِيَّةُ فِعْلِنَا بِهِمْ مِنَ الْعُقُوْبَةِ وَالْعَذَابِ الشَّدِيْدِ) یعنی تاسو ته ښکاره شویده طریقه د کار زمونږ چه دوی سره مو وکړو چه هغه سزا او سخت عذاب ورکول وو په سبب د ګناهونو د هغوی۔ یعنی ډیر عجیبه کار مو د هغوی سره وکړو۔
وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْاَمْثَالَ : یعنی که تاسو په خپلو سترګو نهٔ وی لیدلی نو بیا مونږ تاسو ته د هغوی واقعات بیان کړیدی په کتابونو زمونږ او په ژبه د رسولانو زمونږ سره۔ دے دپاره چه په تاسو باندے حجت پوره شی۔ (فتح البیان) د اَمْثَال نه مراد قصے او واقعات دی۔
وَقَدْ مَكَرُوْا مَكْرَهُمْ : که څوك ووائی چه هغوی به کمزوری وو او مونږ خو ډیر طاقتور یو؟ نو الله جواب کوی وَقَدْ مَكَرُوْا : یعنی دغه کافرانو د حق او د انبیاؤ په خلاف باندے ډیر سازشونه کړی وو لیکن د هغے ټولو سازشونو واك او اختیار د الله تعالیٰ په لاس کښ وو چه هغوی ته ئے هیڅ فائده ورنکړه او هغوی حق مغلوبه نکړے شو۔ بلکه الله تعالیٰ په خپلو سازشونو کښ راګیر کړل۔

وَعِنْدَ اللّٰهِ مَكْرُهُمْ : انسان چه څه مکر کوی نو الله تعالیٰ په هغې باندې احاطه کړې وی، د الله تعالیٰ په اختیار کښې وی۔
وَإِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ : اِنْ وصلیه دے۔ یعنی اګرکه دومره لوی لوی مکرونه او سازشونه ئې کړی وو چه غرونه به ئې راویستل او زائل کول به ئې او هغه به ئې خکته پورته کول۔
د اسلام مثال د غرونو په شان دے، یعنی د دوی سازشونه دومره قوی وو چه نزدې وه چه اسلام د هغې په وجه زائل شوې وے لیکن دغه مکرونه د الله په اختیار کښې وو، الله تعالیٰ به د خپل دین اسلام حفاظت کولو او د هغوی چلونه به شنډ پاتې کیدل۔
۲- یا اِنْ مخفف من المثقل دے۔ اَیْ اِنَّهٗ كَانَ مَكْرُهُمْ - یعنی یقیناً د دوی سازشونو سره غرونه زائله کیدل۔ دومره غټ غټ مکرونه او سازشونه ئې د اسلام په خلاف کړی وو۔
۳- ځینې وائی : اِنْ نافیه دے۔ یعنی د الله تعالیٰ په مقابله کښې دغه مکرونه دومره غټ نهٔ وو چه غرونه پرې وخوزیږی۔
لیکن دا تفسیر غوره نهٔ دے۔ ځکه چه الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَمَكَرُوْا مَكْرًا كُبَّارًا﴾ کافرانو لوی لوی مکرونه جوړ کړی وو۔
نو پدې کښې رد دے د مکے په مشرکانو چه د دوی سازشونه به هم کامیاب نشی۔

فَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ مُخْلِفَ وَعْدِهٖ رُسُلَهٗ، إِنَّ
نو ګمان مهٔ کوه په الله تعالیٰ خلاف کونکے د وعدې خپلې د رسولانو خپلو سره، یقیناً
اللّٰهَ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿۴۷﴾ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ
الله غالبه بدله اخستونکے دے۔ په هغه ورځ چه بدل به کړے شی زمکه په بله زمکه
وَالسَّمٰوٰتُ وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿۴۸﴾ وَتَرَى
او آسمانونه (هم) او راښکاره به شی دوی الله ته چه یو دے، زورور دے۔ او وینې به ته
الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِيْنَ فِي الْأَصْفَادِ ﴿۴۹﴾ سَرَابِيْلُهُمْ
مجرمانو لره په دغه ورځ تړلے شوی په زنځیرونو کښې۔ قمیصونه د دوی به
مِّنْ قَطِرَانٍ وَّتَغْشٰى وُجُوْهَهُمُ النَّارُ ﴿۵۰﴾ لِيَجْزِيَ اللّٰهُ
د رنړړونه وی او پټوی به مخونو د دوی لره اُور۔ دے دپاره چه بدله ورکړی الله تعالیٰ

كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ إِنَّ اللّٰهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٥١﴾

هر نفس ته د هغے عمل چه کړے ئے دے یقیناً الله تعالیٰ زر حساب کونکے دے۔

تفسیر : پدے کښې د دین اسلام او د نبی کریم ﷺ د حمایت او حفاظت وعده په ډاګه کوی، او پدے کښې تسلی ده رسول الله ﷺ ته او دهمکی ده مشرکانو ته چه الله تعالیٰ به خپل نبی ته ښکاره مدد ورکوی۔ قرآن کریم کښې ددے ښکاره بیان په ډیرو ځایونو کښې راغلے دے۔ په سورة غافر آیت (٥١) کښې دی : ﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا﴾ چه (مونږ به د خپلو رسولانو ضرور مدد کوو)۔

په سورة المجادله آیت (٢١) کښې الله فرمایلی دی : ﴿كَتَبَ اللّٰهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي﴾

یعنی الله تعالیٰ دا خبره لیکلے ده چه زهٔ او زما انبیاء به ضرور غالب وی)۔

او سورة النور آیت (٥٥) کښې ئے فرمایلی دی :

﴿وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ﴾ چه (الله ستاسو نه د ایمان او عمل صالح والو سره وعده کړیده چه دوی به د زمکے وارثان جوړوی)۔

او وعده کښې خلاف کول عیب دے، او الله تعالیٰ د عیب کار نهٔ کوی۔

يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ : دا متعلق دے د پټ (أُذْكُرْ یا اِرْتَقِبْ) پورے۔

یعنی رایاده کړه هغه ورځ یا انتظار کوه د هغه ورځے۔ یا د (انتقام) پورے متعلق دے۔ یعنی بدله به اخلی په هغه ورځ۔ د ترهیب دپاره د قیامت د ورځے حالات ذکر کیږی چه په هغه ورځ به د زمکے او آسمان نقشه بدله وی، غرونه به د مالوچو په شان الوزی، د دریاب اوبه به راخلاصے شی، او زمکه به هموراه شی۔ د آسمان ستوری به ودوریږی او نمر او سپوږمئ به بے نوره شی۔ او خلق به د خپلو قبرونو نه راوځی او د الله تعالیٰ مخے ته به حاضریدو دپاره منډے وهی، دے دپاره چه هغه دوی ته د دوی د عملونو بدله ورکړی۔

تُبَدَّلُ الْأَرْضُ : تبدیل دوه قسمه دے۔ (١) تبدیل ذاتی لکه دَرَاهم په دنانیرو سره بدل شی۔ (٢) تبدیل وصفی چه صفت ئے بدل شی، نهٔ ذات لکه د بنګړی نه ګوتمه جوړه شی۔ د جهمیه ؤ عقیده دا وه چه قیامت فناء محض ته وائی چه آسمان او زمکه به بیخی ختم شی، او انسانان به بیخی ختم (معدوم محض) به وګرځی، بیا به د عدم نه الله تعالیٰ دوی دوباره دا خیزونه راپیدا کړی، او دا عقیده د قرآن او د حدیث نهٔ وه، پدے وجه کله چه به دوی دا عقیده فلاسفه ؤ ته پیش کوله نو هغوی به ورسره نهٔ منله چه معدوم محض نه

څنګه دوباره پیدائش وشی څکه چه دا خو بیا همغه شے پیدا نشو بلکه بل شے شو۔
صحیح خبره دا ده چه دلته تبدیل وصفی مراد دے، او قیامت د عالَم تغیر او تبدیل ته وائی او عدم محض ته نهٔ وائی، آسمان او زمکه به وی، خو الله تعالیٰ به پکښې تبدیل پیدا کړی او د انسانانو ارواح به وی او د هغوی د بدنونو نه به ((لکه لمے)) موجود وی، او بعض انسانان به روغ په قبرونو کښې پراتهٔ وی، ددے نه به ئے راژوندی کړی۔ لکه الله تعالیٰ ئے داسے تصویر پیش کریدے۔ ﴿ وَاِذَا الْاَرْضُ مُدَّتْ وَاَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ﴾۔ (انشقاق: ۳)
(او کله چه زمکه اُوږده کړے شی او راګوزار کړی هغه څیزونه چه پدے کښې دی او خالی کړے شی۔ ﴿ لَا تَرٰى فِيهَا عِوَجًا وَّلَا اَمْتًا﴾۔ (طه: ۱۰۷)
(نهٔ به وینے په هغے کښې کوږ والے او نهٔ ډیره کیٔ) ﴿ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا﴾۔ (زلزال: ٤)
(په کومه ورځ چه بیانوی به زمکه خبرونه خپل) همدا زمکه به خبرونه بیانوی۔ نو همدا زمکه به وی، غرونه به ئے الله تعالیٰ کندو ته ګوزار کړی هوارے به راولی، او دریابونه به اُوچ کړی او جهنم کښې به ئے واچوی نو هوار میدان به جوړ شی۔
غَيْرَ الْاَرْضِ: اُوس زمکه مملوکه ده، بیا به د چا مملوکه نهٔ وی۔ غرونه به پکښې نهٔ وی، دریابونه به پکښې نهٔ وی، لوړے او ژورے به پکښې نهٔ وی۔
وَالسَّمَاوَاتُ: آسمانونه به خکته راودوړیږی او غارے او اطراف به ئے باقی وی ﴿وَالْمَلَكُ عَلٰى اَرْجَائِهَا﴾۔ (الحاقه: ۱۷) (او ملائك به د هغے په غاړو کښې وی)۔
بیا به ئے الله تعالیٰ مضبوط کړی نو دآخرت آسمانونه به ترے جوړ کړی۔
الْمُجْرِمِيْنَ: ډیر لوی مجرمان به په زنځیرونو تړلے کیږی لکه دنیا کښې هم دغه شان کیږی۔ نو په قیامت کښې به د مجرمانو حالت دا وی چه د دوی نه به هر یو قسم مجرمان جدا جدا جمع کړے شی او د دوی په لاسونو او خپو کښې به بیړیٔ اچولے شی او د دوی څټونو پورے به تړلے شی۔
مِنْ قَطِرَانٍ: قطران رنړړو ته وئیلے شی۔
او څینی وائی: اَلنُّحَاسُ الْمُذَابُ۔ ویلی کړے شوے تانبه۔ (عمر الفاروق وابن عباس رضی الله عنهم)
دا یو چیز دے چه د ابهل ونے نه راوځی او بیا پوخ شی او په هغے باندے اُوبنان غوړولے شی دے دپاره چه د هغے په تیز والی سره ئے خارښت بنه شی۔ څینی وائی: دا د اَبهل، عرعر، او توت ونے تیل دی لکه د تارکولو په شان چه اُوبنان پرے غوړولے شی۔(فتح)
یعنی د دوی لباس به د ګند هلك (رنړړو) نه وی، او د دوی مخونه به اُور سیزی۔ الله تعالیٰ

د جهنمیانو د شکل او صورت بدی او د دوی بدترین حالت بیانولو دپاره د دوی تشبیه د هغه خاربنتی اُوښ سره ورکړه چه د هغهٔ د جسم نه پیپ روان وی او بد بوئی ترے څی او د علاج دپاره د هغهٔ په ټول بدن باندے ګند هلك راخکلے شوی وی، چه د هغے بد بوئی ډیره سخته او د هغے منظر ډیر قبیح وی۔

زمخشری لیکلی دی چه د جهنمیانو په جسمونو به ګند هلك اچولے شی چه د قمیص په شان به دوی پټ کړی چه په هغے باندے به څلور قسمه آثار مرتب کیږی :

١-د ګند هلك چیچل، او د هغے سوزش۔

٢- او اُور به په تیزیٔ سره د دوی جسمونه سوزوی لکه رنزړه اُور زر اخلی۔

٣-او د دوی رنګ به یرونکے وی،

٤- او تیزه بدبوئی به د دوی د جسمونو نه راپورته کیږی۔ او ددنیا رنزړه او د جهنم په رنزړو کښ به هغه فرق وی کوم چه د دواړو څایونو په اُور کښ فرق دے۔

وَتَغْشٰی : اَیْ تَعْلُوْ وَتُغَطِّیْ وَتَضْرِبُهَا وَتُخَلِّلُهَا۔

یعنی دپاسه به پرے راځی او پټوی به او وهی به ئے او ورداخلیږی به د دوی په مخونو کښ اُور، او دغه شان په زړونو کښ هم۔ مخونه ئے ذکر کړل څکه چه دا اشرف بدن دے او بل پدے کښ د اِدراك حواس موجود دی، او بل ددے سوزش ډیر زیات دے۔

لِیَجْزِیَ : اَیْ یَفْعَلُ ذٰلِكَ بِهِمْ لِیَجْزِیَ ۔ دا کار به د دوی سره ددے دپاره کوی چه دوی ته د دوی د بدو عملونو سزا ورکړی۔

سَرِیْعُ الْحِسَابِ : حساب ئے په جلتیٔ راځی او په جلتیٔ سره به ئے وکړی چه د ټول مخلوق حساب به د دنیا د نیمائی ورځے په اندازه وکړے شی۔

هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوْا بِهٖ
دا (قرآن) رَسول دی (تبلیغ دے) خلقو ته، او دے دپاره چه اُویرولے شی پدے سره
وَلِيَعْلَمُوْا اَنَّمَا هُوَ اِلٰـهٌ وَّاحِدٌ
او دے دپاره چه پوهه شی دوی چه یقیناً الله تعالیٰ لائق د عبادت دے، یو دے
وَلِيَذَّكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿٥٢﴾
او دے دپاره چه نصیحت واخلی غوره عقلونو والا۔

تفسیر: آخر د سورت د اول سره یو کوی، ځکه چه په اول کښ هم ترغیب وو قرآن کریم ته، اُوس هم ترغیب ورکوی چه دا سورت نصیحت او نیغې لارې طرف ته د لارخودنې دپاره کافی دې. او څوك چه پدې کښ په ذکر شوو احکامو او نصیحتونو باندې عمل کوی هغه ته به د دنیا او د آخرت نیکبختی حاصلیږی.
او د الله تعالیٰ په وحدانیت باندې دلالت کونکی کوم دلائل چه پدې کښ بیان شویدی، په هغې کښ سوچ او فکر کولو سره به هغه ته یقین وشی چه الله تعالیٰ یو دې، د هغهٔ هیڅ شریك نشته دې.
هٰذَا: یعنی دا سورت. او بعض وائی چه اشاره ده قرآن کریم ته، او پدې کښ مقصد د قرآن کریم ذکر دې ځکه ټول قرآن کریم د هدایت او لارخودنې چینه ده. او د الله تعالیٰ په وحدانیت باندې د دلالت کونکو دلائلو او براهینو نه پوره دې.
ددې دویم قول تائید ددې سورت د اولنی آیت نه هم کیږی چه په هغې کښ الله تعالیٰ فرمایلی دی: ﴿ الر كِتَابٌ اَنْزَلْنَاهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَى النُّوْرِ ﴾
یعنی دا قرآن یو داسې کتاب دې چه مونږ په تا باندې نازل کړیدې دې دپاره چه ته خلق د دوی د رب په حکم سره د تیارو نه راوباسې او رڼا طرف ته ئې بوځې.
بَلَاغٌ: ١- اَیْ تَبْلِيْغٌ وَكِفَايَةٌ فِي الْمَوْعِظَةِ . دا سورت او دا قرآن د نصیحت دپاره پوره دې. او پدې سره پوره تبلیغ وشو. دلیل دې چه څوك په قرآن باندې وعظ او نصیحت وکړی او دا خلکو ته ورسوی نو ددهٔ پوره تبلیغ وشو.
نو کوم خلك چه د قرآن تبلیغ ناقص ګڼړی او خپل تاویلی ما ویلی کافی ګڼړی، په لوی نقصان کښ اخته دی.
٢- یا بلاغ مصدر په معنی د مُبَلِّغ او مُوصِل سره دې. یعنی دا کتاب خلکو لره رسونکې دې مراتبو د سعادت (نیك بختیٔ) ته. ددې رجوع اولې معنیٰ ته کیږی.
٣- یا دا قرآن د رسولو کتاب دې. چه پدې سره خلکو ته تبلیغ وکړې شی.
نو چا چه قرآن بیان کړو ګویا که ټول دین ئې ورسولو ځکه چه نصاب تبلیغ ئې بیان کړو.
وَلِيَعْلَمُوْا: د قرآن نه روستو چه څوك بیا هم شرك کوی او د الله تعالیٰ په توحید پو هه نشو نو ددهٔ قرآن نهٔ دې لوستلې او د قرآن په غرض او مقصد نهٔ دې پو هه شوې.
وَلِيَذَّكَّرَ: یعنی عقلمند خلك به فکر وکړی چه داسې عذابونه راروان دی او مجرمان به

الله تعالیٰ داسے راګیروی نو راځئ چه د ځان غم وکړو نو د الله تعالیٰ په طاعت کښې به کوشش کوی۔ وبالله التوفیق۔

امتیازات د سورت رعد

۱- پدے سورت کښې دوه خبرے زیاتے وے یو شکر النعم۔ (د نعمتونو شکر کول) او بل نعمة الرسالة۔
۲- عمومی درے اعتراضات په پیغمبرانو باندے پدے سورت کښې ذکر شویدی۔
۳- د شیطان مناظره د خپلو تابعدارو سره په قیامت کښې ددے سورت خصوصیت دے۔
٤- د کلمه طیبه او کلمه خبیثه مثالونه۔
٥- د ابراهیم علیه السلام واقعه پکښې ذکر ده۔

ختم شو تفسیر د سورة ابراهیم بحمد الله وحسن توفیقه په سخته بارانی ورځ (یوم الاحد) کښې، تاریخ : ۱۸ جمادی الاولیٰ ۱٤۳٦ ھ الموافق : 2015 /3/ 9ء
وکتبه ابوزهیر سیف الله بشاوری الشیخ آبادی۔

بسم الله الرحمن الرحيم

رکوعاتها (٦)	(١٥) سورة الحجر مكية (٥٤)	آياتها (٩٩)

سورة الحجر مکي دے، پدے کښې نهه نوي آيتونه او شپږ رکوع دي۔

تفسير سورة الحجر:

نوم: په دے سورت کښې په (٨٠) آيت کښې د اصحابِ حِجر (يعنې قوم صالح) د کفر او عناد او بيا د دوی بد انجام بيان شويدے چه د هغے نه ډير عبرت اخستے کيږي نو ځکه دا نوم ورکړے شويدے۔

د نزول زمانه: قرطبيؒ د تفسير د امامانو نه پدے باندے اتفاق نقل کړيدے چه دا سورت مکي دے۔ او په مضامينو کښې د سوچ کولو نه دا معلوميږي چه دا به د سورة ابراهيم نه روستو نازل شوے وي، کله چه د رسول الله ﷺ مکے والو ته د خپل دعوت پيش کولو ډير کلونه تير شوي وو۔

مناسبت

١- مخکښې سورت کښې شکر ته ترغيب وو نو پدے سورت کښې په ناشکره خلکو باندے د عذاب نازلولو تذکره کوي۔

٢- مخکښې سورت کښې ترغيب وو شکر ته دلته موضوع د خوف او رجاء بيانيږي چه دا دواړه د ايمان شعبې دي۔

موضوع ددے سورت

١- زمونږ مشائخؒ وائي چه پدے سورت کښې اِنْزَالُ الْعَذَابِ عَلَى الْاَقْوَامِ الْمُكَذِّبَةِ الْمُنْكِرِيْنَ لِلتَّوْحِيْدِ ذکر دے۔ يعنې په پخوانو کافرانو باندے عذاب نازل شوے وو کوم چه د توحيد نه منکر وو، يعنې تخويف دنيوی په عذاب سره بيانوي۔ لکه په پخوانو چه څنګه نازل شوے وو په موجوده ؤ به هم نازليږي۔

٢- دويمه موضوع: ظاهر دا معلوميږي چه پدے سورت کښې د خوف او رجاء موضوع ده، يعنې اے خلکو! د الله تعالىٰ د عذابونو نه يره وکړئ او دا يره پدے ورکوي چه شرك مهٔ

کوه، او ددے رسول پسے استهزاء مهٔ کوه، ورسره په نافرمانئ باندے تخویف ذکر کوی۔ بیا خوف پدے سورت کښ زیات راغلے دے۔ لکه ﴿ ذَرْهُمْ يَأْكُلُوْا وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ﴾ ﴿ وَمَا اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ﴾ ﴿ مَا نُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ اِلَّا بِالْحَقِّ﴾ ﴿ وَقَدْ خَلَتْ سُنَّتُ الْاَوَّلِيْنَ ﴾ ﴿وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ اَجْمَعِيْنَ لَهَا سَبْعَةُ اَبْوَابٍ﴾ دلته ئے اُوه دروازے د جهنم هم د زیات ترهیب دپاره ذکر کړیدی، او د واقعے د لوط ﷺ ترتیب ئے هم بدل کړیدے، د تخویف تکی ئے ترے رامخکښ کړیدی لکه (٦١) آیت کښ وګوره۔ او دغه شان ﴿ دَابِرَ هٰؤُلَاءِ مَقْطُوْعٌ﴾ ئے رامخکښ کړیدے او ﴿ وَجَاءَ اَهْلُ الْمَدِيْنَةِ ﴾ په ترتیب کښ مقدم دے۔

﴿ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِيْنَ﴾ او بیا پدے سورت کښ سخت وعید والا لفظ ﴿ فَوَرَبِّكَ لَنَسْئَلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ بیا وائی : ﴿ اِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِيْنَ﴾ ټول وعیدونه دی۔ په آخر کښ هم وائی ﴿ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ﴾۔

مفسرین لیکی : په اول کښ هم تهدید او په آخر کښ هم فَكَيْفَ يَهْنَأُ الْعَيْشُ بَيْنَ تَهْدِيْدَيْنِ۔ د دوو دهمکیانو ترمینځ به ژوند څنګه مزیدار او په آرام شی۔ (فتح البیان) مؤمن سړے ددے نه ډیره یره کوی۔

ورسره د قرآن عادت دا دے چه د یرے سره رجاء (امید) هم یو ځای کوی دے دپاره چه په یره سره بنده نا امیدئ ته ونهٔ رسی، نو فرمائی چه الله ارحم الراحمین هم دے۔ هغه داسے ذات دے چه د هغهٔ سره رحمتونه او مهربانیانی دی، د هغے نه مهٔ نا امیده کیږئ لکه وګوره ﴿اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ الخ﴾ بیا فرمائی : ﴿ نَبِّئْ عِبَادِيْ اَنِّيْ اَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ وَاَنَّ عَذَابِيْ هُوَ الْعَذَابُ الْاَلِيْمُ﴾ پدے کښ ګویا که موضوع ذکر ده۔

بیا په واقعه د ابراهیم ﷺ کښ وائی : ﴿ وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ اِبْرَاهِيْمَ﴾ دا ئے لنډه واقعه راوړیده د هغے مقصد هم دا دے چه د الله تعالیٰ د رحمتونو نه نا امیدی نهٔ ده پکار۔

او په هغے کښ ډیر فوائد دی چه هغه اول کښ ویریدو نو الله تعالیٰ ورله یره په امن بدله کړه نو دغه شان نیکانو باندے ته به الله تعالیٰ سلامتیا ورکوی۔ ﴿ نُبَشِّرُكَ﴾ ﴿ فَبِمَ تُبَشِّرُوْنَ﴾ ﴿بَشَّرْنَاكَ﴾ ددے الفاظو تکرار هم اشاره ورکوی چه الله تعالیٰ بندګانو ته زیری او خوشحالیانے ورکوی۔ او بندګانو له پکار دی چه دومره یره پیدا نکړی چه د الله تعالیٰ د رحمت نه نا امیده شی۔ او دومره باغی کیږه مهٔ چه داسے ووائے چه ما باندے الله تعالیٰ رحم نهٔ کوی۔ ﴿ وَمَنْ يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖ اِلَّا الضَّالُّوْنَ﴾ د الله تعالیٰ د رحمتونو نه نا امیده کیدل خو د ګمراهانو کار دے۔

طریقه د رحمت حاصلولو دا ده چه توبه وباسئ او نیك اعمال شروع کړئ، د الله تعالیٰ د رحمت نه نا امیدی ولې ګمراهی ده؟

وجه دا ده چه نا امیده انسان الله تعالیٰ نۀ پیژني او نۀ د هغۀ قدرت پیژني نو ګمراه شو.

او ځوك چه د الله شان او قدر او مهربانی پیژني نو هغه نۀ نا امیده کیږي.

نو سورت کښې ډیر ښائسته دعوت دے چه د الله تعالیٰ نه امید ساته او تۀ چه دا بغاوتونه کوے نو ددے وجه دا ده چه ستا د الله تعالیٰ نه د خیرونو امید نشته، که ستا د الله تعالیٰ د رحمتونو امید پیدا شو نو بیا به الله تعالیٰ ته تسلیم شے او د هغه نه به بغاوتونه نکوے.

او دا بیانوی چه چا کښې خوف پیدا شو نو کفر او شرك او عصیان به ئے ختم شي او که چا کښې امید پیدا شو نو نیك عملونه به پکښې پیدا شي نو ددے وجه نه دا سورت به دغه نیك عملونه هم بیانوی ﴿ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ﴾ عبادت، صبر، قرآن لوستل او اسلام راوړل او تقویٰ پیدا کول دا عملونه به د رجاء پیدا کولو دپاره ذکر کوی. امید د هغه چا وی چه عملونه کوی.

بیا په دویمه او دریمه رکوع کښې یو د الله د تعالیٰ قدرت او د بل د الله تعالیٰ د علم بیان دے. دلته دا دلائل عقلیه د رسالت د رشتینوالی او د رسول الله ﷺ د عظمت دپاره بیان شویدی اګرکه د الله تعالیٰ معرفت هم پکښې ذکر دے، وجه دا ده چه مشرکانو د رسول الله ﷺ پورے استهزاء او توقے کولے چه هغه الله تعالیٰ دلته ذکر کړیدی، هغه نه ئے د عذابونو او ملائکو راوستو مطالبے کولے. نو مقصد به دا وی چه دغه لوی الله تعالیٰ دا رسول رالیږلے دے. دۀ ته وحی شیطان نۀ ده راوړے ﴿ وَحَفِظْنَاهَا مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ﴾. (آسمان مونږ د هر شیطان نه محفوظ کړیدے)

او واقعه د آدم علیه السلام هم ددے مقصد دپاره راوړی چه ځوك د الله تعالیٰ د انبیاؤ پورے توقے کوی د هغه به ځومره بد انجام وی. او مشرکان د ابلیس سره په استهزاء کښې مشابه دی.

او دغه شان د نورو انبیاؤ په واقعاتو کښې به هم دا مقاصد وی چه ددے انبیاؤ تکذیب او استهزاء کونکی الله تعالیٰ څنګه هلاك کړیدی. ګویا که دا دریمه موضوع د سورت ده چه هغے ته "شان د رسول الله ﷺ او د هغۀ عظمت" وائی.

خلاصه د سورت

اول کښې ترغیب الی القرآن دے، بیا د کافرانو په اسلام پسے ارمان ذکر دے، بیا د دنیا

تخویف دے، بیا د کافرانو په پیغمبر پسے استهزاګانے دی، دا تر رکوع پورے بیانیږی بیا په یوه رکوع کښې عقلی دلائل دی چه دا ئے د ډیرو فائدو دپاره راوړیدی. بیا ئے واقعات راوړیدی اول د آدم علیه السلام بیا ئے په هغے باندے تفریعات ذکر کړیدی، بیا د ابراهیم علیه السلام بیا د لوط علیه السلام واقعه ده بیا د شعیب علیه السلام او بیا د صالح علیه السلام د قوم (اصحاب حجر) بیا په آخر د سورت کښې تفریعات دی، لکه د نورو مکی سورتونو په شان په آخر کښې آداب ذکر دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓر تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ وَقُرْآنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱﴾
ددے حروفو په مراد الله پوهه دے دا آیتونه د کتاب او د قرآن ښکاره دی.

تفسیر : پدے آیت کښې د قرآن کریم عظمت ذکر دے.

الٓر ، دا حروف مقطعات دی، ددے معنیٰ الله تعالیٰ ته معلومه ده. ((تلك)) سره اشاره ددے سورت آیتونو یا د ټول قرآن آیتونو ته ده .

د الکتاب نه مراد قرآن کریم دے، او قرآن مبین د هغے عطف تفسیر دے، او مقصد پدے کښې د قرآن دپاره دوه صفتونه ثابتول دی، یو دا چه دا داسے کتاب دے چه پخوا نه الله تعالیٰ په لوح محفوظ کښې لیکلے دے، او بیا ئے چه کله نازل کړونو وے لیکلو او بیا به تر قیامته پورے لیکلے کیږی. او دا کمال بل کتاب له نۀ دے ورکړے شوے.

او دا کتاب قرآن هم دے، یعنی د لوستلو کتاب دے، بعض کتابونه لوستلے کیږی لیکن څوك ئے نۀ لیکی او بعض لیکلے کیږی لیکن بیا په یو ګوټ کښې پراتۀ وی او په قرآن کښې دا دواړه صفتونه شته.

او قرآن ته د نازلیدو نه مخکښې هم کتاب وویل شو، پدے کښې اشاره ده چه دا کتاب لائق دے چه کتاب ترے جوړ شی او ولیکلے شی. (ابن عاشورؒ).

او قرآن مبین ئے عطف تفسیر پدے وجه راوړو چه د کتاب اطلاق کله په تورات او انجیل هم کیږی نو هغه ترے دلته وباسی.

او کتاب ئے په قرآن مقدم کړو ځکه چه سیاق د کلام کافرانو ته زورنه ورکول دی او هغوی د کتاب عنوان د مخکښې نه پیژندو لکه (اهل کتاب) لیکن د قرآن عنوان ئے نۀ پیژندو چه دا د مسلمانانو کتاب دے، نو پدے وجه ورته وویل شو چه د مسلمانانو دا کتاب

دے او دا قرآن دے چه مسلمانان به ئے لولی، او دا وجه ده چه په سورة النمل کښې ئے د (قرآن) عنوان مخکښې ذکر کړیدے. (ابن عاشورؒ)

ددے نه معلومه شوه چه دا تفسیر ډیر بعید دے چه څوك وائی : د ((الکتاب)) نه مراد تورات او انجیل او پخوانی کتابونه دی.

مُّبِيْنٍ: د حق او د باطل، د رشتیا او د دروغو، د دوست او د دشمن وضاحت ئے کړیدے. یا ښکاره قرآن دے چه اعجاز ئے دلالت کوی پدے خبره چه دا د الله تعالیٰ د طرفنه راغلے دے. او پدے کښې اشاره ده چه د داسے ښکاره کتاب نه انکار ډیره لویه بی وقوفی ده. (ابن عاشورؒ)

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ﴿٢﴾
ډیر کرت خوښوی به کافران ارمان دے چه دوی مسلمانان وے (توحید ئے قبول کړے وے)
ذَرْهُمْ يَأْكُلُوْا وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ
پریده دوی لره چه خوراك اُوکړی او مزے واخلی (د دنیا) او غافل کړیدی دوی لره
الْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿٣﴾ وَمَا
امیدونو (د ایمان او طاعت نه) نو زر دے چه دوی به پو هه شی. او نۀ دے
أَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿٤﴾ مَّا تَسْبِقُ
هلاك کړے مونږ یو کلے مگر د هغے دپاره لیکل دی مقرر. نۀ شی مخکښې کیدے
مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَأْخِرُوْنَ ﴿٥﴾
یو امت د خپلے نیتے او نۀ شی روستو کیدے.

تفسیر : د قرآن صفت ئے وکړو دے دپاره چه د خلکو ورسره مینه پیدا شی نو اُوس مقصد ته راځی.

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ: پدے کښې ډیر تفسیرونه دی (۱) یو دا چه علامه قاسمیؒ فرمائی : پدے آیتِ کریمه کښې نبی کریم ﷺ ته زیرے دے چه ستا دین به غالبیږی او یوه ورځ به داسے راځی چه کافران به تمنا کوی چه آرمان دوی د مخکښې نه مسلمانان شوی وے نو دوی به هم نن هغه مقام حاصل کړے وے کوم چه دے مشرانو صحابه ؓ ته حاصل دے، کومو چه په ابتداء کښې د اسلام په دعوت باندے لبیك ووئیلو. الله تعالیٰ د سابقین اولین دے مقام

طرف ته اشاره کولو سره په سورة الحدید آیت (۱۰) کښ فرمایلی دی:
﴿ لَايَسْتَوِىْ مِنْكُمْ مَنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ اُولٰئِكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً ﴾
چه چا د مکے د فتح نه مخکښ د الله په لاره کښ خرچ کړے او جهاد ئے کړے د هغوی مقام ډیر اُوچت دے، نور خلق د هغوی برابریدے نشی)۔
ددے زیری په ضمن کښ د نبی کریم ﷺ د همت پورته کول هم دی چه ته د دعوت په کار کښ د صبر او استقامت نه کار واخله ځکه چه آخری انجام کښ به غلبه تا ته حاصلیږی۔ علامه قاسمیؒ په محاسن التاویل کښ همدا تفسیر بیان کړیدے۔
(۲) لیکن حافظ ابن کثیرؒ او شوکانیؒ وغیرهما لیکلی دی چه کافران به دا تمنا یا خو د مرګ په وخت کوی، یا به د قیامت په ورځ۔ کله چه حقیقت راښکاره شی او دوی ته د خپل دین او عقیدے د باطل کیدو یقین وشی نو بیا به تمنا کوی۔
(۳) د ابن عباس او انس رضی الله عنهم نه روایت شویدے چه الله تعالیٰ چه کله مشرکان او ګناهګار مسلمانان جهنم کښ راجمع کړی نو مشرکان به مسلمانانو ته وائی چه ستاسو توحید (یعنی یواځے د الله بندګی) ستاسو په کار رانغله، نو الله تعالیٰ به غضب کښ راشی او په خپل رحمت او فضل سره به مسلمانان د جهنم نه رابهر کړی۔ نو په دغه وخت کښ به مشرکان داسے ارمان وکړی چه مونږ کښ هم اسلام وے، مونږ به هم د جهنم نه وتلی وے۔ (الطبریؒ وابن کثیرؒ وفتح البیان) (الترمذی: ۲۶۳۸ باسناد حسن وظلال الجنة: ۸٤۳ حدیث صحیح) واخرجه البیهقی فی البعث وابن المبارك فی الزهد)
(٤) عِنْدَ الشَّفَاعَةِ: کله چه ملائك او انبیاء علیهم السلام د ګناهګارو مؤمنانو سفارش کوی نو الله تعالیٰ به ئے په شفاعت سره معاف کوی، نو دغه وخت به کافران د اسلام پسے ارمان کوی۔ (صحیح ابن حبان: ۷٤۳۲ حدیث صحیح)
دا ټول تفسیرونه صحیح دی۔ په دے ټولو ځایونو کښ د کافرانو ارمان واقع دے۔
رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ: ربما د تقلیل دپاره وضع شویده او بیا په تکثیر کښ استعمالیږی یعنی په ډیرو اوقاتو کښ به کافران د اسلام پسے ارمان کوی۔ یا دلته هم د تقلیل دپاره استعمال ده۔ او مطلب دا دے چه کافران به اکثر اوقاتو کښ په عذاب مشغول وی، یا د قیامت اهوالو به په دهشت کښ اچولی وی نو نه به بیداریږی تردے چه دا ارمان به په کمو اوقاتو کښ کوی۔ (فتح البیان)
لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ: یعنی ارمان چه دوی هم مُنقاد وے د الله تعالیٰ د حکم او ضد ئے نهٔ

کولے۔
ذَرْهُمْ : پدے کښ کافرانو ته زجر دے په محبت د دنیا چه هغه خوراکونه او د دنیا نورے مزے دی چه ددے په وجه د توحید او د الله تعالیٰ د طاعت او اسلام نه غافل شویدی۔
فرمائی: دوی دِے د څاروو په شان خوراکونه څکاکونه کوی او ښے مزے دِے واخلی، خپل شهوتونه دِے پوره کړی، او د دوی د دروغو امید چه د دوی انجام به په خیر سره وی دوی لره د توبے او استغفار او د الله تعالیٰ د ذکر نه غافله کړیدی۔ دوی به زردے چه د قیامت په ورځ خپل بد انجام ته ورسی، او جهنم به د دوی ځای وی۔ یعنیٰ اُوس خو دوی ستا د تابعدارئ نه دے خواهشاتو او د دنیا مزو منع کړیدی لیکن قیامت کښ به ئے پکار رانشی۔
وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ : یعنی مشغوله کړیدی دوی لره اُوږدو امیدونو او عمر او حاجتونو پوره کیدو، او روغ والی د حالت او صحت، او مالدارئ د ایمان راوړو نه او د الله تعالیٰ د طاعتونو نه۔
فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ: اَیْ عَاقِبَةَ اَمْرِهِمْ وَسُوْءَ صَنِيْعِهِمْ۔ زر دے چه دوی به پوهه شی په بد انجام د کار خپل۔
بعض اهل علمو وئیلی دی چه (ذَرْهُمْ) یوه دهمکی ده او (فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ) بله نو بیائے وئیلی دی: [كَيْفَ يَهْنَأُ الْعَيْشُ بَيْنَ تَهْدِيْدَيْنِ] ۔ د دوو دهمکیانو ترمینځ ژوند به څه مزیدار شی۔ سیدنا علی بن ابی طالب ﷺ فرمائی : [اِنَّمَا اَخْشٰى عَلَيْكُمُ اثْنَتَيْنِ طُوْلَ الْاَمَلِ وَاتِّبَاعَ الْهَوٰى فَاِنَّ الْاَوَّلَ يُنْسِى الآخِرَةَ وَالثَّانِىَ يَصُدُّ عَنِ الْحَقِّ] (شرح السنة للبغوی۴۰۹۳)۔
زۀ په تاسو باندے د دوه څیزونو نه یریږم، یو د اُوږدو امیدونو نه او بل د خواهشاتو د تابعدارئ نه ځکه چه اول آخرت هیروی او دویم د حق نه منع کوی۔ (فتح البیان)
دلته تفسیر مدارك او صاحب د فتح البیان وغیره لیکلی دی :
[تَنْبِيْهٌ عَلٰى اَنَّ اِيْثَارَ التَّلَذُّذِ وَالتَّنَعُّمِ وَمَا يُؤَدِّيْ اِلَيْهِ طُوْلُ الْاَمَلِ لَيْسَ مِنْ اَخْلَاقِ الْمُؤْمِنِيْنَ]۔
پدے کښ خبردارے دے پدے خبره چه (د آخرت د کارونو په مقابله کښ) د دنیا خوندونه او مزے حاصلول او اُوږده امیدونه کول د مؤمنانو اخلاق نهٔ دی۔
وَمَا اَهْلَكْنَا : سوال پیدا شو چه دا خلك به کله هلاکیږی؟ نو الله فرمائی چه کله مونږ یو کلے د گناهونو په همیشوالی سره هلاك کول غواړو نو د هغے یو وخت مقرره وو، دے دپاره چه ددے نه مخکښ دے کلی والو ته د هلاکت په اسبابو کښ د ښه سوچ او فکر کولو موقعه ملاؤ شی، کیدے شی چه د خپلو حرکتونو نه منع شی۔ هیڅ یو ظالم قوم د

هغه مقرر وخت نه مخکښې نهٔ هلاکیږي۔ او کله چه هغه وخت راشي نو یوه لمحه تاخیر هم نهٔ کیږي ځکه چه حجت پوره شوے وي او د هغوی معذور ګنړلو هیڅ سبب باقي نهٔ وي پاتے شوے۔

كِتَابٌ مَّعْلُومٌ : اَیْ اَجَلٌ مَكْتُوْبٌ مَعْلُوْمٌ ۔ یعنی نیته وي چه لیکلے شوی وي او معلومه وي۔

مَّا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ : (مِنْ اُمَّةٍ) فاعل د (تَسْبِقُ) دے۔

وَقَالُوْا يَا أَيُّهَا الَّذِىْ نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ إِنَّكَ
او وائي دوی اے هغه سړیه چه نازل شویدے په هغه باندے وحي یقیناً ته
لَمَجْنُوْنٌ ﴿٦﴾ لَوْ مَا تَأْتِيْنَا بِالْمَلٰٓئِكَةِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِيْنَ ﴿٧﴾ مَا نُنَزِّلُ
خامخا لیونے ئے۔ ولے نهٔ راولے مونږ ته ملائك که ئے ته د رشتینو نه۔ نهٔ رالیږو مونږ
الْمَلَائِكَةَ إِلَّا بِالْحَقِّ وَمَا كَانُوْا إِذًا مُّنْظَرِيْنَ ﴿٨﴾
ملائك مګر په عذاب سره او نهٔ به وي دوی په دغه وخت کښې مهلت ورکړے شوی۔

تفسیر : دا د دوی د (وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ) بیان دے چه په پیغمبر باندے اعتراض کوی۔ نو پدے کښې د مکے د کافرانو انتهائی درجه استکبار او عناد بیانیږي چه دوی په نبی کریم ﷺ پورے توقے کولے او وئیل به ئے چه اے ددے خبرے دعویٰ کونکیه ! چه په تا باندے قرآن نازلیږي ! ته خو پاګل او لیونے ئے چه مونږ باندے خپل ځان رسول منے او دعویٰ کوے چه د آسمان نه په تا باندے وحي نازلیږي۔

نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ: یعنی ستا د ګمان مطابق چه په تا باندے وحي نازلیږي۔

لَوْ مَا تَأْتِيْنَا بِالْمَلٰٓئِكَةِ : د مکے کافران د رسول الله ﷺ سره په کبر او عناد کښې راغلل وے وئیل چه که ته رشتینے ئے نو د آسمان نه ملائك ولے نهٔ رالیږے چه ستا د رشتینوالی ګواهي ورکړي، او د تبلیغ او دعوت په کار کښې ستا مدد وکړي۔ قرآن کریم د دوی دا خبره پدے طریقه هم بیان کړیده چه ﴿لَوْلَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُوْنَ مَعَهٗ نَذِيْرًا﴾ یعنی (ددهٔ دپاره یو ملائك ولے نهٔ رالیږلے شی چه ددهٔ سره په تبلیغ او انذار کښې کار وکړي)۔ (الفرقان : ۷)

او فرعون د موسیٰ علیه السلام په باره کښې وئیلي وو : ﴿ فَلَوْلَآ اُلْقِيَ عَلَيْهِ اَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ اَوْ جَآءَ مَعَهُ

الْمَلَائِكَةُ مُقْتَرِنِيْنَ﴾ چه (دهٔ دپاره د سروزرو بنګړي ولې نهٔ شي نازليدې، يا ددهٔ سره صف ترونكي ملائك ولې نهٔ راځي). (الزخرف: ٥٣).

مَا نُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ : پدې کښې ورته جواب ورکوی او د دوی کبر او عناد رد کوی چه ملائك د تبليغ او دعوت دپاره خو نهٔ راځي، البته په ګناهګار قومونو باندې د الله تعالیٰ د عذاب نازلولو دپاره راځي. او په هغه وخت به هغوی ته مهلت نهٔ ورکړې کيږي. لکه چه الله تعالیٰ په سورة الفرقان آيت (٢٢) کښې فرمايلي دی: ﴿يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلَائِكَةَ لَا بُشْرٰى يَوْمَئِذٍ لِلْمُجْرِمِيْنَ وَيَقُوْلُوْنَ حِجْرًا مَحْجُوْرًا﴾ چه (په کومه ورځ چه دا خلق ملائك اُووينی په هغه ورځ به دې ګناهګارو له څه خوشحالي نهٔ وی، او ملائك به دوی ته وائی چه نن جنت او د هغې نعمتونه په تاسو حرام کړې شويدی).

نو د حق نه مراد عذاب دې. (قاله مجاهدٌ) مطلب دا چه ملائك چه راشي او بيا انسانان خبره ونهٔ مني نو سمدست پرې عذاب راځي بيا ورته مهلت نهٔ ورکړې کيږي. ځکه چه بيا به دوی ته غيبي مخلوق ښکاره شي، او د مشاهدې نه په انکار سره سمدستي عذاب راځي. او که د خپل ځان په شان بشر رسول نه انکار وکړي نو الله تعالیٰ ورته مهلت ورکوی، او په آخر کښې پرې عذاب راولي.

٢- يا د حق نه مراد وحی ده يعنی ملائك خو صرف وحی راوړي هغه انسانانو ته پيغمبران نشي جوړيدې.

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُوْنَ ﴿٩﴾
يقيناً مونږ نازل کړيده وحی او يقيناً مونږه دې لره حفاظت کونکي يو.

تفسير: پدې آيتِ کريمه کښې د ﴿إِنَّكَ لَمَجْنُوْنٌ﴾ جواب دې او د هغوی د استهزاء رد دې او هغوی ته زجر او دهمکي ده. يعني که د مکې کافران ددې قرآن نه انکار کوی او ددې په وجه تا ليونې ګنړي نو د چا نقصان به وکړي، ددې په خلاف به د دوی هيڅ سازش فائده نهٔ ورکوی، ځکه چه دا د الله تعالیٰ کلام دې، هغه په خپل رسول ﷺ باندې نازل کړيدې او هغه ددې حفاظت کوی. پدې کښې نبي کريم ﷺ دپاره تسلي هم ده او د ټولو مسلمانانو دپاره ډير لوئی زيرې دې چه دا د هدايت مشعل به هيڅوك نشي مړ کولې، ددهٔ عالمي نُور به تر قيامته پورې انسانانو ته لاره ښائي. تيارې به ختميږي، طوفان به راپورته کيږي،

لوئی لوئی سازشونه به کیږی، لیکن ترقیامت راتللو پورې به دا قرآن بغیر د څه ادنیٰ تحریف او تغیر نه باقی پاتې وی. مفسرینو لیکلی دی چه په آیت کښې دویمه جمله ﴿وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ دلالت کوی چه الله تعالیٰ به ددې قرآن تر قیامته پورې حفاظت کوی.

الذِّكْرَ: ذکر نه مراد قرآن کریم دې. او مطلب دا دې چه عذابونه څه له غواړئ، قرآن الله تعالیٰ د نصیحت کتاب رالیږلې دې راشئ ددې نه فائده واخلئ، او ددې ختمول څوك نشی کولې او نۀ ئې مقابله کولې شی ځکه چه الله تعالیٰ ئې حفاظت کوی.

لَحَافِظُونَ : ۱- دا حفاظت د تحریف او تبدیل نه دې. او دا دلیل دې چه دا د الله تعالیٰ کتاب دې ځکه که د انسان کتاب وې نو ضرور به پکښې زیادت او نقصان راتللې شوې لکه د عامو انسانانو په کلام کښې داسې کار کیږی. ۲- یا د شیطانانو نه محفوظ دې.
۳- یا تر قیامته پورې به باقی معجزه وی
٤- یا د مقابلې نه محفوظ دې چه هیڅوك د انسانانو او پیریانو نه ددې په مقابله قادر نۀ دې. اګر که په یو آیت سره وی. (فتح البیان).

امام مسلمؒ د عیاض ﷺ نه روایت کړیدې چه رسول الله ﷺ د الله تعالیٰ دا ارشاد ذکر کړو (یعنی حدیث قدسی دې) [نَزَّلْتُ عَلَيْكَ قُرْآنًا لَا يَغْسِلُهُ الْمَاءُ] . ما په تا باندې داسې قرآن نازل کړو چه اُوبه ئې نشی وینځلې). (مسلم رقم الحدیث : ٦٣)

.یعنی څوك ئې نشی منسوخ کولې او نۀ پکښې تحریف لفظی کولې شی. الله تعالیٰ ددې د حفاظت دپاره په امت کښې راسخین علماء مقرر کړل چه دا یادوی او ددې حفاظت کوی او ددې نه به تر قیامته پورې مدافعت کوی.

د عبرت قصه

یحیی بن اکثمؒ وائی : د مامون الرشید د حکومت په زمانه کښې به هر کال د علماؤ د تبادلۀ خیال یو مجلس لګیدو نو په نورو خلکو کښې یو یهودی په ښائسته جامو او مزیدارې خوشبوئی لګولو سره راننوتو نو ډیرې ښائسته خبرې ئې وکړې، کله چه مجلس ختم شو نو مامون ورته وویل چه اسلام راوړه او د ډیرو تحفو وعده ئې ورسره وکړه لیکن هغه انکار وکړو چه زۀ د خپل پلار نیکه په دین باندې یم، یو کال روستو مسلمان شو او دغه مجلس ته حاضر شو نو مامون ورته وویل چه ستا د اسلام څه سبب وو؟

هغه وویل چه ما وویل چه زۀ په دینونو باندې امتحان کوم چه کوم دین محفوظ او حق دې؟ نو ما په ښائسته خطونو سره درې درې نسخې د تورات او انجیل او قرآن نه تیارې

کړې، او هر یو کښې مې تبدیل او تغییر وکړو، کله چه مې تورات او انجیل یهود او نصاراؤ ته ویړرو نو هغوی ډیر په شوق واخستو چه ډیر مزیدار لیکلې شویدې، او قرآن مې د مسلمانانو مدرسې ته یوړرو نو هغوی واړرو راواړرو چه لیکل خو ډیر ښائسته شویدی لیکن پدې کښې خو د تبدیلۍ شویده نو وې ویل چه سړې ونیسئ نو ما ورته وویل چه ما په دینونو امتحان کولو مګر ما ته پته ولګیده چه اسلام حق دین او قرآن د الله حق کتاب دې۔ نو دا زما سبب د اسلام راوړو شو۔

یحیی بن اکثمؒ وائی چه ما په دغه کال حج کولو نو د سفیان بن عیینهؒ سره ملاؤ شوم او دا قصه مې ورته ذکر کړه نو هغه وویل چه ددې قصې مصداق د الله په کتاب کښې موجود دې، ما وویل کوم ځای؟ نو هغه وویل چه یهود او نصاراؤ ته د خپلو کتابونو د حفاظت ذمه واری سپارلې شوې وه نو هغوی ضائع کړو ﴿بِمَا اسْتُحْفِظُوْا مِنْ کِتَابِ اللّٰهِ﴾ او د قرآن ذمه واری الله تعالیٰ واخسته (وَاِنَّا لَهٗ لَحَافِظُوْنَ) نو دا محفوظ پاتې شو۔

(تفسیر القرطبی ۱۰/۶)

او لکه څنګه چه الله تعالیٰ د قرآن کریم د حفاظت ذمه واری اخستې ده نو دغه شان ئې د احادیثو د نبی کریم ﷺ د حفاظت ذمه واری هم اخستې ده ځکه چه ذکر لفظ دواړو ته شامل دې، پدې وجه الله تعالیٰ داسې علماء په امت کښې پیدا کړل چه د رسول الله ﷺ احادیث ئې چانړ کړل او په هغې کښې ئې د صحیح احادیثو نه ضعیف او موضوع روایات داسې جدا کړل لکه څنګه چه د وړو نه ویښته جدا کولې شي۔ او دا ښکاره رد دې په شیعه ګانو باندې هم چه هغوی دا قرآن مُحرّف (تبدیل شده) کتاب ګڼړی لکه چه د هغوی کتابونه پدې باندې ګواه دی۔

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِيْ شِيَعِ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۰﴾ وَمَا
او یقیناً لیږلي دي مونږ (پیغمبران) مخکښې ستا نه په ډلو مخکنو کښې او نهٔ
يَاْتِيْهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱۱﴾ كَذٰلِكَ
به راتلو دوی ته یو رسول مګر وو به دوی چه په هغه پورې به ئې توقې کولې۔ دغسې
نَسْلُكُهٗ فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۲﴾ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَقَدْ
داخلوو مونږ دا په زړونو د مجرمانو کښې۔ ایمان نهٔ راوړي پدې باندې او یقیناً

خَلَتْ سُنَّةُ الْأَوَّلِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَوْ فَتَحْنَا
تیره شویده طریقه د پخوانو خلقو (په عذاب د الله کښې)۔ او که چرے راکولاؤه کړو مونږ
عَلَيْهِمْ بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ فَظَلُّوْا فِيْهِ يَعْرُجُوْنَ ﴿۱۴﴾
په دوی باندے دروازه د آسمان نه او اُوګرځی دوی په هغے کښې چه اُوخیژی
لَقَالُوْا إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ
خامخا وائی به دوی یقیناً بند کړے شویدی نظرونه زمونږ بلکه مونږ
قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ ﴿۱۵﴾
داسے قوم یو چه جادو راباندے کړے شویدے۔

تفسیر : پدے کښې تسلی ده نبی کریم ﷺ ته سره د عذاب ذکر کولو نه منکرینو ته، چه که د قریش کافران ستا تکذیب کوی او په تا پورے توقے کوی نو پدے سره تا لره خفه کیدل نۀ دی پکار۔ دا خو همیشه د قومونو عادت راروان دے چه کله هم یو رسول یو قوم ته راغلے دے نو هغوی د هغه پورے توقے کړیدی۔

د **اُرْسَلْنَا**: مفعول پټ دے۔ اَیْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا۔ مونږ لیږلی دی ډیر پیغمبران۔

شِيَعِ : جمع د شیعة ده، اتباع او انصارو (مددګارو) ته وائی۔ او هر قوم چه په یو کار راجمع شی هغوی ته شیعه وائی، بیا دا د یو خاص ډلے نوم ګرځیدلے دے۔

كَذٰلِكَ نَسْلُكُهٗ : (۱) (ه) ضمیر استهزاء او ضلال د خلکو ته راجع دے۔ یعنی لکه څنګه چه مونږ ددے تیر شوی مجرمانو په زړونو کښې ګمراهی داخله کړے وه، دغه شان د مکے کافرانو په زړونو کښې به هم کفر او ګمراهی داخلوو۔ بیا به دوی پدے قرآن ایمان نۀ راوړی۔ او همیشه نه د الله تعالیٰ همدا سنت او طریقه جاری ده چه هغه دغه شان قومونه هلاکوی او خپل رسولان او په هغوی باندے ایمان راوړنکی غالبه کوی۔

(۲) (ه) ضمیر قرآن ته راجع دے (لکه دا سورة شعراء کښې هم راغلے دے) یعنی مونږ دا قرآن په زړونو د مجرمانو کښې ننباسو۔

د قرآن په زړۀ کښې ننباسل دوه قسمه دی (۱) یو دا چه قرآن زړه ته ننوزی پداسے حال کښې چه په هغے باندے زړه تکذیب کوی او نفرت ترے کوی چه دا څنګه خبرے دی۔ (۲)

دویم داخلول په داسې حال کښې چه په هغې باندې تصدیق کوی نو د مؤمنانو په زړونو کښې قرآن د تصدیق په حالت کښې داخلوی او د کافرانو په زړه کښې ترې نفرت پیدا کوی۔ نو معنیٰ دا ده چه دغه شان مونږ داخلوو دا قرآن په زړونو د مجرمانو کښې پداسې حال کښې چه ایمان به پرې نهٔ راوړی یعنی تکذیب به ئې کوی۔ لکه دا طریقه د الله تعالیٰ د پخوانو کفارو سره هم تیره شویده۔ یعنی الله تعالیٰ دا کافران په قرآن کریم باندې ښهٔ پوهه کړی دې دپاره چه د دوی هیڅ حجت باقی پاتې نشی او الله تعالیٰ دوی ته دا خودل غواړی چه دوی ښه په قصد سره په معاندانه توګه سره د قرآن نه انکار کړیدې۔

وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ : پدې آیت کښې زجر دې په انکار د معجزاتو سره او د کافرانو سخت ضد او عناد بیانوی۔ پدې کښې دوه تفسیره دی :

(۱) ظَلُّوا کښې ضمیر ملائکو ته راجع دې، یعنی که د رسول الله ﷺ معجزه دا جوړه شی چه دې معاندینو کافرانو ته ملائك ښکاره د آسمان نه راکوز شی او دوی ئې وینی او بیا دغه ملائك بیرته د آسمان دروازې ته وخیژی نو بیا هم دا مشرکان منونکی نهٔ دی بلکه دا به وائی چه زمونږ نظر بندی شویده او په مونږ باندې جادو شویدې او په حقیقت کښې دا هیڅ نشته۔

(۲) یا د ظَلُّوا ضمیر مشرکانو ته راجع دې یعنی که مونږ مشرکانو ته د آسمان نه یوه دروازه راکولاوه کړو نو دوی پکښې په رڼرا ورځ بره وخیژی او هلته عجائبات او غرائب وینی چه د هغې دا نتیجه کیدل پکار دی چه دوی فوراً ایمان راوړی لیکن بیا به هم دوی وائی چه محمد (ﷺ) په مونږ باندې جادو کړیدې پدې وجه مونږ ته حقائق بدل ښکاره کیږی۔ او دا تفسیر غوره دې ځکه چه پدې کښې د دوی کبر او کفر او ضد او د معجزاتو نه د زیات انکار بیان دې۔

سُكِّرَتْ أَبْصَارُنَا : یعنی یا خو ورو کې جادو شویدې چه مونږ بره نهٔ یو راخیژولې شوی، صرف نظر بندی شویده چه مونږ ته داسې ښکاری چه بره راختلی یو۔ یا لوی جادو شویدې چه بره راخیژولې شوی یو لیکن د جادو په زور سره۔ یعنی په هر حال کښې دوی انکار کوی۔

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَآءِ بُرُوجًا وَزَيَّنَّاهَا
او یقیناً مونږه پیدا کړیدی په آسمان کښې غټ ستوری او ښائسته کړیدې مونږ

لِلنَّاظِرِيْنَ ﴿١٦﴾ وَحَفِظْنَاهَا مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ رَّجِيْمٍ ﴿١٧﴾ إِلَّا مَنِ
دپاره د کتونکو۔ او ساتلے دے موږ دا د هر شیطان رټلے شوی نه۔ مګر هغه څوك
اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٨﴾ وَالْأَرْضَ
چه په غلا باندے غوږ کیدی نو وروسے شی د هغه پسے شغله ښکاره۔ او زمکه
مَدَدْنَاهَا وَأَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَأَنْبَتْنَا
خوره کړیده موږ او اچولی دی موږ پدے کښې کلك غرونه او راز رغون کړیدی موږ
فِيْهَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُوْنٍ ﴿١٩﴾ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ
پدے کښې هر شے وزن (اندازه) کړے شوے۔ او ګرځولی موږ تاسو لره پدے کښې اسباب د ژوند
وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ بِرَازِقِيْنَ ﴿٢٠﴾ وَإِنْ مِّنْ شَيْءٍ إِلَّا عِنْدَنَا
او هغه څوك چه نۀ یئ تاسو هغۀ ته روزی ورکونکی۔ او نشته یو شے مګر موږ سره
خَزَائِنُهٗ وَمَا نُنَزِّلُهٗ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿٢١﴾
خزانے د هغے دی او نۀ راليږو موږ هغے لره مګر په اندازه معلومه۔

تفسير : پدے رکوع کښې لس عقلی دلیلونه ذکر کیږی چه پدے دلیلونو کښې د الله تعالیٰ د قدرت او د هغۀ د علم اتلس صفتونه ذکر شویدی۔ ددے عقلی دلیلونو ذکر کولو دلته یو څو فائدے دیٔ ❁ یو بیان د معرفت د الله تعالیٰ او د عظمت د هغۀ دے۔

❁ او بل د رسول الله ﷺ شان بیانول دی چه دا رسول یو داسے عظیم ذات رالیږلے دے چه د هغۀ دا دا صفتونه دی۔ نو د لوی ذات د رسول پسے استهزاء کول ډیر لوی جرم دے۔

❁ دارنګه پدے آیتونو کښې د قرآن کریم عظمت هم دے چه دا رشتینی کتاب دے، او شیطانانو دا نۀ دے راوړے بلکه الله تعالیٰ د شیطانانو نه محفوظ ساتلے دے نو دا به د (إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ) سره لګیږی چه ددے کتاب نه فائده واخلئ دا رشتینی کتاب دے۔

❁ او بله عجیبه فائده پکښې دا ده چه مشرکانو ددے پیغمبر نه تکبر کړے وو چه موږ به آیا ددے کمزوری انسان خبره وومنو؟ نو الله تعالیٰ د خپل عظمت آیتونه راولیږل چه لوی والے د الله تعالیٰ د شان سره لائق دے۔

❁ صاحب د فتح البيان او قرطبيؒ وائي : مخکنو آيتونو کښې الله تعالیٰ د کفارو کفر او د هغوی کمزور والے او د هغوی د بتانو عجز بيان کړو نو اُوس د خپل قدرت عجائب او د پيدائش ناشنا کارونه بيانوی او پدے سره د خپل وحدانيت دپاره دليل نيسي۔ نو دا د توحيد دليلونه هم دي۔

دلته د ((بروج)) نه مراد نمر او سپوږمۍ او د اُوه حرکت کونکو ستورو هغه منازل دي چه د هغې شمار د تجربے مطابق دولس دي۔

د عربو په نيز د پخوا زمانے نه د ستورو د منازلو علم ډير مفيد ګڼلے کيدو۔د هغې په ذريعه لارے، وختونه او زرخيزي او قحط سالي وغيره معلومول۔ ددے علم والو دا خيال دے چه د آسمان دولس برجونه دي، د هغې نه هر درے برجونه د عناصر اربعه (اُور، اُوبه، خاوره، هوا) نه د يو د مزاج مطابق واقع شويدے۔

دا هم وائي چه دا دولس برجونه په اته ويشت (۲۸) منزلونو کښې تقسيم شويدي۔ د هر برج دوه منزله او دريمه حصه منزل دے۔ او د آسمان همدغه دولس برجونه د اُوه متحرك ستورو منازل دي۔ ددے ستورو او د دوی په منازلو کښې د دوی په ګردش سره موسمي تبديلي، يخني، ګرمي، منے، سپرلے، او ډير مفيد معلومات حاصليږي۔ نمر او سپوږمۍ د آسمان ډول هم دے۔ او د فکر والو دپاره د فکر او نظر سامان هم تياروی۔

حسنؒ او قتادهؒ فرمائي: د بروج نه مراد لوی ستوری دي او دے ته بروج ځکه وائي چه بروج په معنیٰ د ظهور سره دے، او دا هم ښکاره دي او پورته دي۔

او مجاهدؒ وائي چه د بروج نه مراد ټول ستوری دي۔

او ددے برجونو نومونه دا دي : حمل، ثور، جوزاء، سرطان، اسد، سنبله، ميزان، عقرب، قوس، جدی، دلو، حوت۔ او ددے برجونو دپاره (۳۶۰) شپيته درجے دي، د هر برج ديرش درجے دي چه نمرئے په کال کښې يو ځل قطع کوی او پدے سره د آسمان دوره (ګردش) پوره کيږي، او سپوږمۍ ئے په (۲۸) ورځو کښې قطع کوی۔ (القرطبی وفتح البيان)

لِلنَّاظِرِيْنَ: ۱-يعني څوك چه آسمان ته ګوري۔

۲- يا نظر په معنیٰ د استدلال سره دے يعني لِلْمُسْتَدِلِّيْنَ بِهَا عَلٰى تَوْحِيْدِ خَالِقِهَا ۔ يعني څوك چه ددے په عجائباتو کښې فکر کوی او پدے سره د توحيد د خالق دپاره دليل نيسي۔

اهل علم وائي : که د آسمان رنګ ددے نه بدل وے نو انسان به د هغې لاندے تنګيدلے خو الله تعالیٰ داسے رنګ ورکړو چه د هر چا د مزاج موافق دے۔

وَحَفِظْنَاهَا : الله تعالىٰ آسمان لره د مردود شیطان د رسیدلو نه محفوظ ساتلے دے دے دپاره چه ملأ اعلىٰ (د اُوچت جماعت د ملائکو) خبرے وانهٔ وری، او که د دوی نه کوم یو تمرد (سرکشی) اختیاروی او مخکښ تلو سره د غوږ کیخودو کوشش کوی نو د اُور انګار (شعله) د هغه پسے راخوشے کیږی او هغه ختموی۔

❁ د حسن بصریؒ وغیره همدا رائے ده چه مخکښ ددے نه چه دوی د ملأ اعلىٰ نه کومه آوریدلے شوے خبره خپل روستو پیری ته ووائی نو بَله لمبه هغه لره وژنی، یعنی پیرے خپل ملګری ته د آسمان هیڅ خبره نشی رسولے بلکه هغه پدے کار سره د خبرے رسولو نه مخکښ مخکښ وژلے کیږی۔

❁ لیکن په صحیح بخاری کتاب التوحید باب : ۳۲) کښ د ابو هریره ﷺ نه د نقل شوی حدیث نه ثابتیږی چه کله خو هغه خپل روستو پیری ته آوریدلے شوے خبره ورسوی، بیا بله لمبه د هغه پسے راخوشے شی او هغه قتل کړی، او کله د خبرے د وئیلو نه مخکښ هغه لره بَله لمبه قتل کړی۔ (صحیح بخاری : ٤٧٠١ بترقیم فتح الباری)

امام شوکانیؒ د حسن بصریؒ قول ته ترجیح ورکړیده چه همدا وجه ده چه د آسمان خبرونه د انبیاؤ او رسولانو نه غیر نورو ته نهٔ حاصلیږی، او پدے وجه د کهانت هیڅ حقیقت نشته دے۔

لیکن صحیح خبره هغه ده چه کوم په حدیث کښ راغلے ده، او دا کار د رسول الله ﷺ په زمانه کښ زیات کیدو لیکن الله تعالىٰ به شیطانان آسمان ته نهٔ پریخوستل دے دپاره چه د رسول الله ﷺ د وحی او د کهانت او جادو فرق وشی، پدے وجه پیریان ګرځیدل چه دا څه شویدی چه مونږ د آسمان نه بند کړے شوی یو لکه هغه واقعات زمونږ په کتاب ((سیرت الرسول)) کښ تفصیلًا وګورئ۔

پدے آیت کښ هم اشارات دی چه دا رسول د الله تعالىٰ حق رسول دے، دهٔ ته وحی د بَره نه راغلے ده او شیطانانو دا خبرے نهٔ دی راوړی، ﴿وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيَاطِينُ﴾ ځکه چه شیطانان بره آسمان ته نشی ختلے که وخیژی نو بره ملائك ئے د اُور په شعلو باندے ولی۔ نو پدے کښ هم د هغوی د استهزاء رد دے۔

مَّوْزُوْنٍ: ۱- اَیْ مُقَدَّرٌ مَعْلُوْمٌ۔ یعنی په اندازه معلومه۔

۲- مَوْزُوْنٌ بِمِيْزَانِ الْحِكْمَةِ وَمُقَدَّرٌ بِقَدْرِ الْحَاجَةِ۔

د حکمة سره مناسب او د حاجت په اندازه۔

۳- اَلْمَحْکُوْمُ بِحُسْنِهٖ۔ چه د هغې په حسن او ښائست باندې فیصله شوې وي۔ (فتح البیان)
یعني پدې کښې څوك نۀ کمې راوستې شي او نۀ زیاتې، او په کوم هیئت او کیفیت چه هغه پیداکړیدی، د هغې نه غوره هیڅ کیفیت نشي کیدې۔
مَعَایِشَ: یعني اسباب د ژوند، یعني د خوراك او څکاك سامان۔
وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ بِرٰزِقِیْنَ: ❁ دا عطف دې په (مَعَایِشَ) باندې یعني الله تاسو لره هغه څوك هم پیدا کړیدي چه تاسو ورته روزي نۀ ورکوئ بلکه الله تعالیٰ ئې رازق دې چه هغه غلامان، خادمان، څاروي او اولاد دي۔ فائدې ترې تاسو اخلئ او رزق ورته الله ورکوي
❁ یا دا عطف دې د (لَکُمْ) په ضمیر باندې، تقدیر داسې دې: (وَجَعَلْنَا لِمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ بِرٰزِقِیْنَ فِیْهَا مَعَایِشَ)۔ او مونږ په زمکه کښې هغه چا له هم اسباب د ژوند جوړ کړیدي چه تاسو هغوي ته رزق نۀ ورکوئ چه هغه حیوانات او خادمان او غلامان او اولاد دي بلکه الله تعالیٰ هغوي ته رزق ورکوي لکه څنګه ئې چه تاسو ته درکوي۔
وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا عِنْدَنَا خَزَآئِنُهٗ : دا بل دلیل د قدرت دې چه د الله تعالیٰ سره د هر شي خزانه ده، هغه چه څه غواړي او څومره غواړي ښکاره کوي، لیکن هغه د آسمان نه زمکې ته د خپلو بندګانو دپاره دومره نازلوي چه د هغه مشیت ئې تقاضا کوي۔
الله تعالیٰ په سورة الشوریٰ (۲۷) آیت کښې فرمایلي دي:
﴿وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهٖ لَبَغَوْا فِی الْاَرْضِ وَلٰکِنْ یُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا یَشَآءُ﴾
چه که الله تعالیٰ د خپلو بندګانو دپاره رزق ښه فراخولې نو دوي به په زمکه کښې سرکشي کولې، لیکن د خپل مشیت مطابق چه څومره غواړي هغومره ورکوي۔
دا آیت دلیل دې چه څوك دا عقیده لري چه د الله تعالیٰ د خزانو اختیار یو نبي یا ولي له ورکړې شویدې نو هغه مشرك دې لکه جاهلان خلك په لاهور کښې علي هجویري ته داتا ګنج بخش وائي۔ (یعني خزانې ورکونکې)

وَاَرْسَلْنَا الرِّیٰحَ لَوَاقِحَ فَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً
او لیږلي دي مونږ هواګانې پورته کونکې وریځو لره نو رالیږو د آسمان نه اُوبه
فَاَسْقَیْنٰکُمُوْهُ وَمَآ اَنْتُمْ لَهٗ بِخٰزِنِیْنَ ﴿۲۲﴾ وَاِنَّا لَنَحْنُ
پس څکوو تاسو ته هغه او نۀ یئ تاسو هغې لره جمع کونکي۔ او یقیناً خامخا مونږ

نُحْيِ وَنُمِيتُ وَنَحْنُ الْوَارِثُونَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدْ عَلِمْنَا

ژوندي کول کوو او مړۀ کول کوو او مونږ آخري مالکان یو۔ او یقیناً معلوم دي مونږ ته

الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَأْخِرِينَ ﴿٢٤﴾

مخکښ کیدونکي ستاسو نه او یقیناً معلوم دي مونږ ته روستو کیدونکي

وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥﴾

او یقیناً رب ستا هغه به راجمع کړي دوی لره، یقیناً هغه حکمتونو والا پوهه دے۔

تفسیر: لَوَاقِحَ : جمع د لَاقِحَةٌ او لَاقِحٌ ده، په معنیٰ د مُلْقِحَةٌ سره ده، یعني بلاربه ونکے۔ او پورته کونکے۔ ځکه چه لاقح خپله حاملې ته وائي، او دلته ئے دا معنیٰ نۀ صحیح کیږي۔

مطلب دا چه الله تعالیٰ په وریځه پسے چه خالصه هوا وی یخه هوا راولیږي نو په هغے کښې یخوالے زیات کړي، هغه بلاربه شي، حامله شي نو هغه په باران سره بدله شي او د هغے نه اُوبه راروانے شي بیا هغه په زمکه راوروی چه په هغے سره انسان خپله هم خړوبه کیږي او خپلے زمکے او څاروي هم خړوبه کوي۔

وَمَا أَنتُمْ لَهُ بِخَازِنِينَ : یعني د باران د نازلیدو نه روستو تاسو دا په کندو او غرونو او چینو او کوهیانو کښې د آینده دپاره د محفوظ ساتلو قدرت نۀ لرئ، دا خو صرف الله تعالیٰ دے چه پدے تمامو کارونو قادر دے۔ که الله داسے کار کړے وے چه اُوبه ئے په یو ځل انسانانو ته ورکړے وے چه دا ځانله د میاشت یا د کال دپاره وساتئ نو انسانانو به دا کوم ځای ساتلے، دا به ترے سخا کیدے، یا به ګرمیدے، او تول عمر به ئے ددے په حفاظت کښې تیرولے، دغه شان روتيؤ واخله۔ دا ډیر عجیب نعمت دے۔

وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِ : هغه ژوندي کول کوي او هغه مړۀ کول کوي، او د تمامو مخلوقاتو د هلاکت نه روستو صرف د هغه ذات به باقي پاتے وي۔

الْوَارِثُونَ نه معلومه وه چه میراث د زمکے صرف الله تعالیٰ ته پاتے دے۔ وارث آخري مالك ته وائي۔ نو کوم خلك چه دا وائي چه ((الله نبي وارث)) نو دا شرکي کلمه ده۔

وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِينَ : ١- مستقدمین مخکنی امتونه او مستأخرین روستني امتونه۔ یعني امة محمد ﷺ ٢- په صحیح حدیث کښې دي : چه د رسول الله ﷺ پسے

به يوے ښائسته زنانه مونځ كولو نو صحابه كرامؓ به مخكنو صفتونو ته تلل دے دپاره چه پدے زنانه ئے نظر ونۀ لګی او منافقان به روستو روستو صفونو كښں ودريدل دے دپاره چه د ركوع په حالت كښں دے زنانه ته وګوری نو الله تعالىٰ دا آيت نازل كړو. (النسائی : ۸۷۰، والترمذی (۳۱۲۲) حديث صحيح- البانی) . دا آيت اګركه مكه كښں نازل دے ليكن د مدينے ددے عمل سره موافق شو. نو دائے هم مصداق ګرځی.

۳- اَلْمُسْتَقْدِمِيْنَ : مَنْ يُّقَدِّمُ الصَّلَاةَ وَمَنْ يُّؤَخِّرُ الصَّلَاةَ) څوك چه مونځ مخكښں كوی او څوك ئے روستو كوی. ٤- اَلْمُسْتَقْدِمِيْنَ فِی الطَّاعَةِ وَالْمُسْتَأْخِرِيْنَ فِیْ مَعْصِيَةِ اللّٰهِ)

څوك طاعت او د الله بندګئ ته او د الله په انبياؤ باندے ايمان راوړو ته مخكښں كيږی او څوك د الله تعالىٰ په نافرمانئ كښں روستو كيږی.

۵- مخكښی صفونه د جهاد او روستنی صفونه.

٦- مخكښی مړۀ او اُوس ژوندی.

٧- هغه څوك چه مخكښں تير شويدی او هغه چه روستو دی يعنی پيدا شوی نۀ دی. دا ټول مصداقات په كښں داخل دی. دا دليل دے چه د الله تعالىٰ د علم نه هيڅ شے بهر نۀ دے. نو مخكښں آيت كښں د الله تعالىٰ قدرت او طاقت ذكر شو او دلته د الله تعالىٰ علم ذكر دے.

وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ : او د قيامت په ورځ به الله تعالىٰ اول او آخر ټول انسانان د دوی د ډير والی باوجود د محشر په ميدان كښں راجمع كوی، او د خپل علم او حكمت مطابق به د دوی سره معامله كوی، په كوم سړی كښں چه څومره بد صفات پټ دی د هغۀ نه هيڅ هم پټ نۀ دی، ټولو ته به د هغوی د عملونو مطابق بدله وركوی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٢٦﴾ وَالْجَآنَّ
او يقيناً پيدا كړيدے مونږ انسان لره د كړنګيدونكے د ختے زړے شوے نه او پلار د پيريانو
خَلَقْنَاهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ ﴿٢٧﴾
پيدا كړيدے مونږ مخكښں (د آدم عليه السلام نه) د اُور ګرم لوګی والا نه.

تفسير: پدے آيت كښں د آدم عليه السلام او د ابليس واقعه راوړی او پدے كښں ۱- يو مقصد : مَآلُ مَنِ اسْتَكْبَرَ اَلتَّمَنِّیْ وَالْحَسْرَةُ بيانوی. يعنی چا چه تكبر كړيدے د هغه انجام حسرت او افسوس جوړ شويدے لكه ابليس ته وګورئ. انجام ئے خراب شو. نو پدے كښں منع ده د

تکبر نه چه انجام به مو خراب شی۔ ۲- پدے کښې تَشَبُّهُ الْمُشْرِكِيْنَ بِاِبْلِيْسَ فِي الْاِسْتِهْزَاءِ بِالرَّسُوْلِ دے یعنی مشرکان د ابلیس سره مشابه دی په استهزاء د انبیاؤ کښې۔ ابلیس د آدم عليه السلام پسے استهزاء او مسخرے وکړے او دا مشرکان د رسول الله ﷺ پسے استهزاء کوی۔

دارنګه ابلیس پریشانه شویدے او الله تعالیٰ پرے لعنت کړیدے نو دغه شان په مستهزئینو د رسول الله ﷺ باندے به لعنت کیږی ﴿وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ اَجْمَعِيْنَ﴾

دارنګه پدے کښې تشبیه پدے طریقه ده: لکه څنګه چه ابلیس د ملائکو د جماعت نه جدا شوے وو نو دغه شان مشرکان د مسلمانانو د جماعت نه جدا شو ﴿رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ﴾۔ لکه پدے باندے دا الفاظ دلالت کوی ﴿اَبٰى اَنْ يَّكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ﴾ هر لفظ د موضوع د سورت سره برابر وی۔

مفسر ابوالسعودؒ وائی: پدے دواړو آیتونو کښې هم الله تعالیٰ په خپل کمالِ قدرت باندے دلیل نیولے دے، او د بعث بعد الموت عقیده باندے ئے عقلی دلیل قائم کړیدے چه کومے اغړلے شوے خټے چه د آدم عليه السلام د پیدائش په وخت تکوینی عمل او روح قبول کړو هغه یقیناً د الله په حکم سره دویم ځلی به هغه خبرے قبلوی او ژوندی کیدو سره به د حشر میدان ته رامنډے وهی۔ (محاسن التاویل للقاسمیؒ)

((صلصال)) هغه خټے ته وائی چه داسے اُوچه شوی وی چه په لړ وهلو سره په هغے کښې د کړنګ آواز پیدا شی۔ ابوعبیدهؒ وائی: دا هغه خټه ده چه شړه ورسره یو ځای شوی وی او په حرکت سره په هغے کښې د کړنګ آواز پیدا کیږی، او کله چه په اُور باندے پخه شی نو دے ته فخار وائی او دا قول د اکثرو مفسرینو دے۔ او کسائیؒ وائی چه دا بد بویه خټے ته وائی۔ او ((حَمَأٌ)) چه بدبویه توره شوی وی۔ او ((مسنون)) د حَمَأٌ صفت دے، چه ددے لغوی معنیٰ ده: بدله شوے، او خرابه شوے او بدبویه شوے۔ یا مَضَتْ عَلَيْهِ السِّنُوْنَ ته وائی۔ یعنی چه په هغے باندے ډیره موده او کلونه تیر شوی وو۔

د آدم عليه السلام په خټه ډیر دَورونه تیر شویدی، اول کښې الله تعالیٰ د مختلفو ځایونو نه خاوره راجمع کړه، بیا ئے پکښې اُوبه واچولے خټه ئے ترے جوړه کړه، بیا دا خټه ډیره اُوږدے مودے پورے پرته وه تردے چه بدبویه او توره شوه چه دے ته حمأ مسنون وائی او کړنګارے ئے کولو نو صلصال ترے جوړ شو۔ او آواز ئے مشابه وو د ټکری سره نو (كَالْفَخَّارِ) شو۔

پدے سره د ټولو آیتونو جمع والے راځی چه کله ورته ﴿خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ﴾ وائی (ال عمران: ۵۹) او کله وائی (بَشَرًا مِّنْ طِيْنٍ) (ص: ۷۱) وائی او کله ورته حمأ مسنون او کله صلصال

وائی۔ بیا الله تعالیٰ د آدم علیه السلام کالبوت جوړ کړو چه دا په جنت کښې ډیره موده پروت وو نو بیا پکښې الله تعالیٰ روح واچولو۔

فائده : دلته الله تعالیٰ د انسان د پیدائش په بیان کښې صَلْصَال او حَمَأ مَّسْنُوْن الفاظ ذکر کړل او د نورو آیتونو په شان (مِنْ تُرَاب) یا (مِنْ طِيْن) ئې ونهٔ وئیل بلکه درې ځله ئې دا لفظ ذکر کړو دے کښې حکمة دا ښکاره کیږی (والله اعلم) چه دلته الله تعالیٰ د انسان تحقیر او سپکوالے بیانوی چه اے انسانه ! تهٔ خپل اصل ته وګوره، تهٔ څومره حقیر وے، په تا باندے څومره دَورونه تیر شویدی او تهٔ بیا رالګیږے او د خپل رب د توحید نه انکار کوے او په هغهٔ باندے تکبر کوے۔ ابلیس د آدم علیه السلام د تحقیر دپاره دا لفظ استعمال کړیدے او الله تعالیٰ د عام انسان د تحقیر دپاره استعمال کړیدے۔

او ددے مناسبت د موضوع د سورت سره هم دے چه انسان الله تعالیٰ ته ډیر محتاج دے نو د هغه نه ورله یره او د هغه نه ورله امید پکار دے۔

وَالْجَآنَّ : پدے کښې دوه قوله دی (۱) ځینی وائی چه دا ابو الجن (د جناتو پلار) دے، او دا د ابلیس نه مخکښې وو او ابلیس د شیطانانو پلار دے۔ (۲) او حسنؒ، عطاءؒ، قتادهؒ او مقاتلؒ وائی چه ددے نه مراد ابلیس دے چه د شیطانانو پلار دے، او دهٔ ته جان پدے وجه ووئیل شو چه دا د بنیادمانو د سترګو نه پټ دے ځکه چه د جن معنیٰ ده پټوالے۔ نو دا دوه نوعی دی، په جناتو کښې مسلمانان او کافران دواړه شته او دوی خوراك څکاك کوی، او مرګ او ژوند پرے راځی لکه د بنیادمانو په شان او هرچه شیطانان دی نو هغوی کښې مسلمانان نشته او نهٔ مری مګر که د دوی پلار ابلیس مړ شی نو دوی به هم مری۔ (ذکره الخازن)۔

السَّمُوْمِ : یعنی داسے سخت ګرم شوے چه د سختے ګرمئ په وجه سره په مساماتو (رګونو او پټو) کښې ننوزی۔ ابو صالحؒ وائی چه سموم هغه اُور دے چه لوګے نهٔ لری او ددے نه صواعق (تندرونه) راپیدا کیږی۔

نو جان د خالص ګرم اُور نه پیدا دے او جنات د مَارِجٍ مِنْ نَار (یعنی د هغه اُور نه پیدا دی چه د هغے سره لوګے یو ځای شوے وو) او ملائك د نور نه پیدا دی۔ (فتح البیان)

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِّنْ صَلْصَالٍ
او کله چه ووئیل رب ستا ملائکو ته یقیناً زهٔ پیدا کونکے یم د یو انسان د کړنګیدونکی

مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٢٨﴾ فَإِذَا سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ
د خیټې زړې شوې نه۔ نو کله چه برابر کړم زۀ هغه لره او پو کړم په هغه کښې د
رُّوْحِيْ فَقَعُوْا لَهٗ سَاجِدِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَسَجَدَ الْمَلآئِكَةُ كُلُّهُمْ
روح خپل نه نو پریوزئ هغه ته سجده کونکي۔ نو سجده اُوکړه ملائکو ټولو
أَجْمَعُوْنَ ﴿٣٠﴾ إِلاَّ إِبْلِيْسَ أَبٰى أَنْ يَّكُوْنَ مَعَ السَّاجِدِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَ
په یو ځائے مګر ابلیس، انکار ئے وکړو ددے نه چه شي د سجده کونکو سره۔ اُووئیل الله
يَا إِبْلِيْسُ مَا لَكَ أَلاَّ تَكُوْنَ مَعَ السَّاجِدِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمْ أَكُنْ
اے ابلیسه! څه وجه ده تا لره چه نۀ شوے تۀ د سجده کونکو سره۔ اُووئیل هغه نۀ یم زۀ
لِّأَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهٗ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٣٣﴾
چه سجده وکړم یو انسان ته چه پیدا کړیدے تا د ګړنګارے کونکے د خټے زړے نه۔
قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيْمٌ ﴿٣٤﴾ وَإِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ إِلٰى يَوْمِ
اُووئیل الله پس اُوځه ددے نه یقیناً تۀ رټلے شوے ئے۔ او یقیناً په تا باندے لعنت دے تر ورځے
الدِّيْنِ ﴿٣٥﴾ قَالَ رَبِّ فَأَنْظِرْنِيْ إِلٰى يَوْمِ
د جزا پورے۔ اُووئیل هغه اے ربه زما! نو مهلت راکړه ما ته تر هغه ورځے پورے
يُبْعَثُوْنَ ﴿٣٦﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿٣٧﴾
چه دوی به دوباره راپورته کولے شي۔ اُووئیل الله نو یقیناً تۀ د مهلت درکړے شوو نه ئے،
إِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ﴿٣٨﴾
تر ورځے د وخت معلوم پورے۔

تفسیر: اُوس تفصیل د واقعے ذکر کیږی۔ آدم ﷺ ته چه الله تعالیٰ د هغۀ د پیدائش په وخت کوم عزت ورکړے وو هغه دلته بیانیږی چه ملائکو ته حکم وشو چه هغه طرفته سجده وکړی، نو ټول د هغه د تعظیم دپاره په سجده پریوتل لیکن ابلیس د کفر او عناد او حسد او استکبار په وجه ددے حکم نه سر واړولو او الله ته ئے وویل چه زۀ آدم ته سجده نۀ

کوم چه دا تا د بدبویه اغږلې شوې خټې نه پیدا کړیدې، او زهٔ دې د اُور نه پیدا کړې یم چه هغه د خاورې نه اُوچت او غوره دې. مفسرین لیکي چه لفظ د ((صلصال)) بار بار ذکر کولو نه مقصد انسان ته ددهٔ اصل رایاد ساتل دي دې دپاره چه په کبر او لوئی کښې پریوتو سره د سرکشئ او نافرمانئ ژوند اختیار نکړي. (تیسیر الرحمن)

فَإِذَا سَوَّيْتُهُ: یعني کله چه زهٔ د هغهٔ پیدائش او د هغهٔ انساني صورت او د هغهٔ بشري اندامونه او اجزاء برابر او پوره کړم.

مِنْ رُّوحِي: دا اضافت د تشریف دپاره دې لکه د نَاقَةُ الله او بَيْتُ الله په شان.

فَقَعُوا: یعني واقع شئ/ پریوزئ. دا دلیل دې چه په حقیقي سجده باندې دوی ته حکم شوې وو چه هغه تندې په زمکه باندې کیخودل دي او نفس انحناء (سر ټیټول) نهٔ وو.

فَاخْرُجْ مِنْهَا: د ((مِنْهَا)) ضمیر نه مراد د معززو او مکرمو ملائکو جماعت دې. او د ((رجیم)) معنیٰ ده: د هر خیر او هر عزت او اکرام نه محروم کړې شوې.

مفسر ابو السعودؒ لیکي چه د الله تعالیٰ پدې جواب کښې د ابلیس د شبهې جواب هم دې چه څوك په قیاس سره د نص نه انکار کوي هغه به د الله تعالیٰ په نظر کښې مردود او ملعون وي. او پدې کښې اشاره ده چه څوك د الله تعالیٰ امر مات کړي او د رسول بیعزتي وکړي نو الله تعالیٰ به ئې تر قیامته پورې ملعون کوي نو د محمد رسول الله ﷺ خلاف مهٔ کوئ ورنه په دائمي او سخت مصیبت به واوړئ.

وَإِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ: اَیْ ثُمَّ تَزْدَادُ مَعَهَا عَذَابًا. یعني بیا به د هغې نه روستو د لعنت سره عذاب هم ملګرې کیږي. نو ددې نه مراد همیشه او نهٔ منقطع کیدونکې لعنت دې. او دا معنیٰ نهٔ ده چه صرف آخرت پورې لعنت او بیا خلاص.

قَالَ رَبِّ فَأَنْظِرْنِي: ابلیس چه کله د قیامت د ورځې پورې په خپل ځان باندې د لعنت خبره واوریده نو پوهه شو چه ددهٔ عذاب هغه وخت پورې روستو شویدې، پدې وجه دهٔ د الله تعالیٰ نه طلب وکړو چه دهٔ ته تر هغه ورځ پورې مرګ مهٔ راولې، ګویا که دهٔ دا طلب کړل چه دهٔ ته هیڅ کله مرګ مهٔ راولې، ځکه چه د قیامت د ورځې نه روستو هیچا ته مرګ نهٔ راځي، نو الله تعالیٰ هغه ته مهلت ورکړو. (یعني په ابلیس به مرګ نهٔ راځي او همداسې به قیامت ته پیش کیږي). مګر ځیني مفسرینو وئیلي دي چه په آیت (۳۸) کښې د ((وقت معلوم)) نه مراد د قیامت د راتلو نه مخکښې وخت دې. یعني د قیامت د راتلو نه روستو به ابلیس هم مړ کیږي او د نورو پیریانو او انسانانو په شان به دویم ځلې راژوندې کیږي.

(فتح البیان)

مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ : الله تعالیٰ ابلیس ته ولے مهلت ورکړو؟ لِزِيَادَةِ شَقَائِكَ وَبَلَائِكَ۔
یعنی دیے دپاره چه ستا بد بختی او عذاب او امتحان نور هم زیات شی۔ ځکه چه ډیر خلك به ګمراه کړی نو عذاب به ئے زیات شی، او بل پکښ په انسانانو باندے هم امتحان کول غرض دیے۔

او د مُنظرین نه مراد هغه خلك دی چه د اولے شپیلئ په وخت به ژوندی وی او بیا به روستو فناء شی نو معلومه شوه چه ابلیس به هم په دغه وخت فناء کیږی۔

قَالَ رَبِّ بِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ
اُووئیل دۀ اے ربه زما په دیے وجه چه تا زۀ ګمراه کړم خامخا ښائسته به ښکاره کوم
لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٣٩﴾ إِلَّا عِبَادَكَ
دوی ته په زمکه کښ (څیزونه) او خامخا ګمراه کوم به دوی لره ټول۔ مګر بندګان ستا
مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾ قَالَ هَذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ ﴿٤١﴾ إِنَّ عِبَادِي
د دوی نه چه بچ ساتلے شویدی۔ ووئیل الله دا لاره ده په ما باندے نیغه، یقیناً بندګان زما
لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغَاوِينَ ﴿٤٢﴾
نشته تا لره په دوی باندے زور مګر هغه څوك چه تابعداری کوی ستا د سرکشانو نه۔
وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٣﴾ لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ
او یقیناً جهنم خامخا ځائے د وعدیے ددوی دیے د ټولو۔ هغے لره اُووه دروازیے دی،
لِكُلِّ بَابٍ مِنْهُمْ جُزْءٌ مَقْسُومٌ ﴿٤٤﴾
د هریے دروازیے دپاره د دوی نه حصه ده تقسیم شویے۔

تفسیر : یعنی تا ما لره ګمراه کړو، نو زۀ قسم خوړلو سره وایم چه ترڅو پوریے د آدم اولاد په دنیا کښ وی، زۀ به دنیا هغوی ته ښائسته ښکاره کولو سره پیش کوم، او هغوی به په ګناهونو راپورته کوم، لیکن کوم چه ستا مخلص بندګان وی او خپل دین او اعمال د الله تعالیٰ دپاره خالص کوی په هغوی به زما داؤ نۀ چلیږی۔ ابلیس په ملائکو کښ وسیدو،

او الله تعالیٰ ملائکو ته د آدم ﷺ د پیدائش نه مخکښ د انسانانو حالات بیان کړی وو چه په دوی کښ به انبیاء علیهم السلام او نیکان خلك پیدا کیږی او څه به ګمراهان وی نو پدے وجه دلته ابلیس وائی چه ما نه به ستا مخلص بندګان بچ وی او نور به ګمراه کوم او ابلیس دا خبره په خپل ګمان کړے وه خو هغه رشتینی راوختنه لکه چه الله فرمائی:

﴿وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ فَاتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾۔ (سبا: ۲۰)

(او یقیناً رشتینی کړو په دوی باندے ابلیس ګمان خپل نو روان شو د هغه پسے (عام خلك) سویٰ د یو ے ډلے د مؤمنانو نه)

دلته جرم ابلیس وکړو او د ګمراه کولو نسبت الله تعالیٰ ته کوی، خپله پړه په الله تعالیٰ باندے اچوی دا ډیره لویه بی ادبی او د الله تعالیٰ شان نهٔ پیژندل دی۔

لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ: یعنی دنیا به ورته ښائسته ښکاره کوم او دا به ورته محبوبه جوړوم چه پدے سره به د الله تعالیٰ د حکمونو نه غافل وی۔ یا به ورته ګناهونه ښائسته ښکاره کوم۔

قَالَ هَذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ: الله تعالیٰ جواب ورکړو په طریقه د دهمکئ سره چه ستاسو د ټولو د راتیریدو لاره په ما باندے ده چا چه ستا تابعداری وکړه هغه ته به د هغه د عمل سزا ورکوو او چا چه ستا تابعداری ونکړه نو هغوی ته به د هغوی نیکه بدله ملاویږی۔

پدے کښ مفسرینو ډیر تفسیرونه ذکر کړیدی۔ (۱) هذا اشاره ده روستو (إِنَّ عِبَادِيْ) ته او عَلَيَّ کښ تقدیر دے۔ او حاصل دا دے: هٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ اَنْ اُرَاعِيَهٗ وَاَحْفَظَهٗ وَهُوَ اَنْ لَّا يَكُوْنَ لَكَ عَلٰى عِبَادِيْ سُلْطَانٌ) یعنی دا لاره ده، په ما باندے لازم دی چه زهٔ به ددے رعایت او حفاظت کوم، هغه لاره دا ده چه ستا به زما په مخلصو بندګانو هیڅ دلیل او زور نهٔ وی۔ یعنی زهٔ به مخلص بندګان ستا نه بچ ساتم۔ او دا تفسیر صاحب د مدارك او ایسر التفاسیر او فتح البیان وغیره ذکر کړیدے۔ مګر لږ په تاویل بناء دے۔

(۲) هذا اشاره ده حق ته یعنی په حق چه څوك روان شو نو سیده به الله تعالیٰ ته ورسیږی، اَلْحَقُّ يَرْجِعُ إِلَى اللّٰهِ وَعَلَيْهِ طَرِيْقُهٗ ۔ یعنی حق به الله تعالیٰ ته واپس کیږی او په الله باندے ئے لاره ده۔ او دا د مجاهدؒ تفسیر دے چه حافظ ابن القیمؒ په ((مدارج السالکین)) کښ غوره کړیدے۔ او امام بغویؒ ذکر کړیدے (معالم التنزیل ۳۸۲/٤)

(۳) يُنْمِ هذا اشاره ده یواځے بندګئ د الله تعالیٰ ته چه هغه په لفظ د (عبادك) کښ یا په (المخلَصین) کښ ذکر شوه یعنی دا اخلاص او دا یواځے بندګی لاره ده چه زما په ذمه

باندے ددے بیانول دی۔ نو (عَلَیَّ) سره تقدیر د عبارت داسے دے : (عَلَیَّ بَیَانُهٗ وَهِدَایَتُهٗ)۔ یعنی زما په ذمه دی بیانول د هغے او هدایت کول هغے ته۔

(٤) یا عَلیٰ په معنیٰ د (اِلیٰ) سره دے یعنی دا بندگی لاره ده ما طرفته یعنی زما کرامت او زما رضا ته نیغه رارسیدلے ده۔ (یعنی زما رضا او زما د طرفنه عزت صرف زما په یواځے بندگئ او اخلاص سره حاصلیږی)۔ (فتح البیان)

(٥) حافظ ابن کثیرؒ وائی چه هذا کښ اشاره ده (مَرْجِعَ اِلَی الآخِرَة) تـه یعنی آخرت ته راگرځیدل ستاسو لاره ده په ما باندے نیغه۔ هغه وائی چه دا د ﴿اِلَی اللهِ مَرْجِعُكُمْ﴾ او ﴿اِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ﴾ په شان دے۔ یعنی دا تهدید او زجر دے او معنیٰ دا ده : دا لاره ده چه ما ته به بندگان راواپس کیږی نو زۀ به هر یو ته د هغۀ د عمل بدله او سزا ورکوم۔

اِنَّ عِبَادِیْ لَیْسَ لَكَ عَلَیْهِمْ سُلْطَانٌ : یعنی خوك چه زما خالص بندگی کوی په هغوی باندے به ستا سازش کار نۀ ورکوی، او هغه به ستا په دام کښ نۀ راگیریږی، آؤ کوم خلك چه د حق د لارے نه اوړیدلی وی او گمراهی د هغوی دویم طبیعت جوړ شوے وی، هغوی به ستا د سازش ښکار کیږی، د داسے تولو خلکو ځای به جهنم وی چه د هغه به اُوه دروازے وی، د هرے دروازے نه به د جهنمیانو یو معین شمار د خپلو خپلو بدو اعمالو مطابق داخلیږی۔

د جهنم اُوه دروازے

د علی بن ابی طالب ﷺ او عکرمهؒ نه روایت شویدے چه اُوه دروازو نه مراد د جهنم اُوه طبقے دی۔ او د ابن عباسؓ د یو روایت مطابق د دوی او پدے کښ د داخلیدونکو خلقو نومونه لاندینی دی :

(١) جهنم چه د تولو نه پورته طبقه ده، د اهل توحید دپاره چه د خپلو گناهونو د سزا ځکلو نه روستو به د الله تعالیٰ په خاص رحمت سره جهنم نه وځی او جنت ته به لیږلے شی، (٢) لظیٰ د یهودو دپاره، (٣) حُطَمَه د نصرانیانو دپاره، (٤) سعیر د بے دینو دپاره، (صابئینو دپاره) (٥) سقر د مجوسیانو دپاره، (٦) جَحِیم د مشرکانو دپاره،

(٧) او هَاوِیَه د منافقانو دپاره چه دا د تولو نه لاندے طبقه ده۔ یعنی د ابلیس تابعدار به د هغوی د کفر او نافرمانئ د وجه نه په اُوه ډلو تقسیمیږی ځکه چه د کفر او گناهونو مرتبے مختلفے دی نو په اُور کښ ئے طبقے هم مختلفے شوے۔ (فتح البیان)

او دا اُوه واړه نومونه هریو د تول جهنم نوم هم دے لکه قرآن کریم کښې د جهنم دپاره کله یو ذکر کیږي او کله بل۔ لیکن چونکه اُوه طبقے ذکر دي، او په قرآن کریم کښې دغه اُوه نومونه هم ذکر دي نو دا نومونه د دغه طبقاتو سره برابر شو۔

فائده او حکمة : د جهنم اُوه دروازے او د جنت اته دروازے دي، پدے کښې اشاره ده چه د الله تعالیٰ رحمت د هغهٔ په غضب باندے مخکښې دے۔ دویم د اُوه دروازو څه حکمة دے؟ نو ددے پوره علم الله تعالیٰ دے، او ځینی علماؤ وئیلی دي چه په انسان کښې اُوه اندامونه مصدر السیئات دي، یعنی ددے نه گناهونه پیدا کیږي، ژبه او دماغ، سترگے، غوږونه، خوله، خیټه، فرج، لاسونه او خپے دي۔ دویمه وجه دا ده چه د انسانانو اُوه طبقے دي، لکه چه مخکښې ذکر شو۔

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِيْ جَنَّاتٍ وَعُيُوْنٍ ﴿٤٥﴾ ادْخُلُوْهَا بِسَلَامٍ
یقیناً متقیان به په جنتونو او چینو کښې وي۔ داخل شئ دے ته په سلامتیا سره
آمِنِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَنَزَعْنَا مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ
په امن سره به یئ۔ او وبه باسو هغه څه چه په سینو د دوی کښې دي د کینے نه
إِخْوَانًا عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقَابِلِيْنَ ﴿٤٧﴾ لَايَمَسُّهُمْ
ورونه به وي، په تختونو باندے به یو بل ته مخامخ وي۔نهٔ به رسي دوی ته
فِيْهَا نَصَبٌ وَمَا هُمْ مِّنْهَا بِمُخْرَجِيْنَ﴿٤٨﴾
په هغے کښې سترے والے او نهٔ به دوی د هغے نه ویستلے شي۔

تفسیر : قرآن کریم د خپلے معلومے طریقے مطابق، د جهنم او جهنمیانو د حال بیانولو نه روستو اُوس د جنتیانو حال بیانوي۔ د جمهورو صحابه کرامو او تابعینو عظامو په نیز دلته د متقین نه مراد هغه خلك دي چه الله تعالیٰ سره د شریکانو جوړولو نه ځان ساتي، او د یو قول مطابق د دوی نه مراد هغه خلق دي چه د تمامو گناهونو نه ځان ساتي۔ د الله تعالیٰ دا وعده ده چه ددے خبر پدے آیت کښې ورکړے شویدے۔ الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ دوی ته وائي چه تاسو په پوره سلامتیا او د تمامو آفاتو او مصیبتونو نه محفوظ او په امن کښې جنت ته داخل شئ۔

بِسَلَامٍ : اَیْ مِنْ جَمِیْعِ الْآفَاتِ۔ د ټولو مصیبتونو نه به بچ یئ۔
آمِنِیْنَ : اَیْ مِنْ جَمِیْعِ الْاَمْرَاضِ وَالْمَخَاوِفِ وَزَوَالِ النَّعِیْمِ ۔ د ټولو مرضونو او یرو نه به په امن یئ او دارنګه د نعمتونو د زائله کیدو نه۔ ۲- یا سلام د طرفه د الله نه، یا د ملائکو نه یا په یو بل باندے سلام اچول مراد دی۔ او آمِنِیْنَ : ضحاك وائی چه د مرګ، بوډا والی، بیماریٔ، بربنډ والی او لوږے نه به په امن یئ۔ (فتح البیان)
غِلٍّ : دا حِقد (کینه) دشمنیٔ، او بغض، خفګان وغیره ته وائی۔
اِخْوَانًا : دا حال مُقدره دے اَیْ اُدْخُلُوْهَا اِخْوَانًا ۔ داخل شیٔ پداسے حال کښې چه تاسو به ورونه ورونه یئ۔ یا حال مقارنه دے د ضمیر د صُدُوْرِهِمْ نه۔ یعنی په داسے حال کښې چه دوی په دین کښې په محبت او رحم او دوستیٔ کښې ورونه وو۔
او په حدیث د بخاری کښې دی چه مؤمنان به د جنت او د جهنم ترمینځ په یوه قنطره (پُل) باندے ایسار کړے شی تردے چه بعض د دوی د بعضو نه قصاص واخستے شی کوم چه د دوی ترمینځ په دنیا کښې وو نو کله چه پاك صفا کړے شی، بیا به ورته د جنت په داخلیدو اجازه وکړے شی۔ (بخاری : ۶۵۳۵)
عَلٰی سُرُرٍ : جمع د سَریر ده کټ او تخت ته وائی۔ مفسرین لیکی چه دا کټونه او تختونه به دومره اُوږده وی لکه د صنعاء الیمن نه تر جابیه پورے۔ (جابیه د دمشق د علاقو نه یوه علاقه ده (معجم البلدان یاقوت حمویؒ)
او څینی وائی چه سریر اُوچت مجلس ته وائی چه د خوشحالیٔ دپاره تیار شوے وی یعنی د خوشحالیٔ په مجلسونو کښې به وی۔ (فتح البیان)
مُتَقَابِلِیْنَ: یعنی یو بل ته به مَخامخ وی۔ مجاهدؒ وائی : لَایَرٰی بَعْضُهُمْ قَفَا بَعْضٍ ۔ بعضے به د بعضو شاټ نهٔ وینی۔ او کله چه دوی راجمع شی او د یو بل سره ملاقات وکړی او بیرته د واپسیٔ اراده وکړی نو د هر چا تخت او کټ به ګرځی پداسے شان سره چه سور انسان به ئے د خپل ملګری مخامخ راځی او شاټ به ئے شا ته پاتے کیږی او دا په انس او اکرام کښې ډیر کمال دے۔ (فتح) ددے مثال د سپرنګ والا تاویدونکے کرسیٔ دے۔
او دا ناسته د دوی به په هغه وخت وی چه کله د دوی اجتماع کیږی او د الله تعالیٰ ملاقات ته راوتلی وی او هرچه عام اوقات دی نو دوی به د خپلو ښځو سره په مزو کښې وی۔
نَصَبٌ: دا ستړی والے کله د ناستے په وجه وی او کله د یو کار کولو په وجه۔ نو هیڅ قسم ستړی والے به نهٔ وی۔

نَبِّئۡ عِبَادِیۡۤ اَنِّیۡۤ اَنَا الۡغَفُوۡرُ الرَّحِیۡمُ ﴿۴۹﴾ وَ اَنَّ عَذَابِیۡ هُوَ
خبر ورکړه بندګانو زما ته چه یقیناً زهٔ بخونکے رحم کونکے یم. او یقیناً عذاب زما همدا
الۡعَذَابُ الۡاَلِیۡمُ ﴿۵۰﴾ وَ نَبِّئۡهُمۡ عَنۡ ضَیۡفِ اِبۡرٰهِیۡمَ ﴿۵۱﴾ اِذۡ
عذاب دردناك دے. او خبر ورکړه دوی ته د میلمنو د ابراهیم علیه السلام نه، کله چه
دَخَلُوۡا عَلَیۡهِ فَقَالُوۡا سَلٰمًا ؕ قَالَ اِنَّا مِنۡكُمۡ
داخل شول دوی په هغه نو وے وئیل سلام دِے وی، ووئیل هغهٔ یقیناً مونږ تاسو نه
وَجِلُوۡنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوۡا لَا تَوۡجَلۡ اِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمٍ عَلِیۡمٍ ﴿۵۳﴾
یریدونکی یو. ووئیل دوی مهٔ یریږه، یقیناً مونږ زیرے درکوو تا ته په هلك پو هه سره.
قَالَ اَبَشَّرۡتُمُوۡنِیۡ عَلٰۤی اَنۡ مَّسَّنِیَ الۡكِبَرُ فَبِمَ
ووئیل هغه آیا زیرے راکوئ ما ته سره ددے نه چه رسیدلے دے ما ته بوډا والے نو په څه سره
تُبَشِّرُوۡنَ ﴿۵۴﴾ قَالُوۡا بَشَّرۡنٰكَ بِالۡحَقِّ فَلَا تَكُنۡ مِّنَ
زیرے راکوئ. اُووئیل دوی زیرے درکوو مونږ تا ته په حق سره نو مهٔ کیږه تهٔ د
الۡقٰنِطِیۡنَ ﴿۵۵﴾ قَالَ وَ مَنۡ یَّقۡنَطُ مِنۡ رَّحۡمَةِ رَبِّهٖۤ اِلَّا الضَّآلُّوۡنَ ﴿۵۶﴾
نا اُمیدی کونکو نه. ووئیل هغهٔ او نهٔ نا امیده کیږی د رحمت د رب خپل نه مګر ګمراهان.

تفسیر: دا آیت د مخکنی آیتونو تتمه ده په کوم کښې چه د جنت او د جهنم خبره راغلے ده. الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته خطاب کولو سره فرمائی، چه تهٔ زما بندګانو ته ددے خبرے خبر ورکړه چه څوك د خپلو ګناهونو نه توبه وباسی او د عمل صالح ژوند اختیار کړی، د هغهٔ ګناهونه به زهٔ معاف کوم او د هغهٔ په حال به رحم کوم، او څوك چه په خپل کفر او عصیان باندے کلك پاتے وی نو هغهٔ له پو هیدل پکار دی چه زما عذاب ډیر دردناك دے.

بیا دلته ئے د مغفرت او رحمت ذکر وکړو په درے تاکیداتو سره یو (اَنِّیۡ) کلمه د تاکید دپاره ده، او دویم ضمیر فصل (اَنَا) او دریم (الۡغَفُوۡرُ الرَّحِیۡمُ) ئے معرفه په الف لامو سره راوړیده، او دارنګه اسمونه ئے ذکر کړیدی چه دلالت کوی په دے خبره چه د الله تعالیٰ د رحمت او مغفرت جانب مقدم دے د عذاب په جانب باندے ځکه چه د عذاب په جانب کښې

ئے (اَنِّیۡ اَنَا الۡمُعَذِّبُ) ذکر نکړو (یعنی خپل ځان ئے په عذاب ورکولو سره متصف نکړو) بلکه صرف د عذاب اخبار ئے ورکړو چه زما عذاب سخت دے۔ دارنګه د مغفرت سره ئے دا خبره نزدے راوړه چه خپل رسول ته ئے حکم وکړو چه هغه د الله بندګانو ته دا مقصد ورسوی چه زۀ بخنه کونکے رحم کونکے یم او عذاب ئے روستو ذکر کړو۔ (فتح البیان)

نو پدے کښې اشاره ده هغه حدیث ته چه رسول الله ﷺ فرمائی :

((الله تعالیٰ چه کله د مخلوقاتو تقدیر وکړو نو هغه یو خط ولیکلو چه هغه د هغۀ سره د عرش دپاسه دے چه [سَبَقَتۡ رَحۡمَتِیۡ غَضَبِیۡ]

زما رحمت زما په غضب باندے مخکښې دے))۔ (بخاری : ۷۵۵۳) مسلم : (۷۱٤٦)

امام بخاریؒ د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه الله تعالیٰ چه کله (رحمت) پیدا کړو نو هغه ئے په سلو حصو کښې تقسیم کړو، نهه نوی (۹۹) حصے ئے د خپل ځان سره وساتلے او یوه حصه ئے په خپلو تمامو مخلوقاتو کښې تقسیم کړه۔

[فَلَوۡ یَعۡلَمُ الۡکَافِرُ کُلَّ الَّذِیۡ عِنۡدَ اللّٰهِ مِنۡ رَحۡمَتِهٖ لَمۡ یَیۡأَسۡ مِنَ الرَّحۡمَةِ وَلَوۡ یَعۡلَمُ الۡمُؤۡمِنُ بِکُلِّ الَّذِیۡ عِنۡدَ اللّٰهِ مِنَ الۡعَذَابِ لَمۡ یَأۡمَنۡ مِنَ النَّارِ] د الله سره چه د رحمت کومه خزانه ده که کافر د هغے نه خبر شی نو هیڅ کله به د الله د رحمت نه نا امیده نۀ شی۔ او د الله سره چه د عذاب کوم مقدار دے که مؤمن د هغے نه خبر شی نو د جهنم نه به هیڅ کله ځان په امن کښې ونۀ ګنړی۔ (بخاری : ٦٤٦٩ و مسلم فی التوبة حدیث : ١٤ - ١٦)

معلومه شوه چه مؤمن له د امید او نا امیدئ او د یرے او امید په مابین کښې چه کومه معتدله لاره ده هغه اختیارول پکار دی۔ نۀ به د الله په رحمت بهروسه کولو سره د ایمان او عمل صالح لاره پریدی، او نۀ به د هغۀ د رحمت نه نا امیده کیږی۔ او پدے آیت او حدیث کښې مونږ ته همدغه دعوت راکړے شویدے۔

وَنَبِّئۡهُمۡ عَنۡ ضَیۡفِ اِبۡرَاهِیۡمَ : ددے ځای نه روستو څلور قصے د انبیاء علیهم السلام بیانوی دا ددے دپاره چه ددے آوریدو سره انسان د الله تعالیٰ د بندګئ سره مینه وکړی چه د کامیابئ او نیك بختئ درجاتو ته ورسیږی، او د ګناهونو نه یره وکړی په کوم سره چه د بدبختانو درکات ملاویږی۔ او ددے قصے ربط هم ددے نه سویٰ بل څه نۀ دے چه بندګان د الله تعالیٰ د رحمتونو امید وکړی او د هغے نه نا امیدی ونکړی، او د الله تعالیٰ د عذابونو نه یره وکړی۔ لکه په قصه کښې دا لفظ راغلے دے ﴿وَمَنۡ یَّقۡنَطُ مِنۡ رَّحۡمَةِ رَبِّهٖۤ اِلَّا الضَّآلُّوۡنَ﴾ او دغه رب العالمین عذابونه راوستونکے دے لکه د لوط علیه السلام په قوم ئے کلے راپورته کړو۔ نو

گویا که واقعه د ابراهیم علیه السلام د (اَنِّیْ اَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ) بیان دے او واقعه د قوم لوط د (اَنَّ عَذَابِیْ هُوَ الْعَذَابُ الْاَلِیْمُ) بیان دے. نو پدے واقعاتو کښې خوف او رجاء ذکر ده.

عَنْ ضَیْفِ اِبْرَاهِیْمَ : کوم ملائك چه الله تعالیٰ د لوط علیه السلام د قوم د هلاکولو دپاره لیږلی وو هغوی اول ابراهیم علیه السلام ته تلی وو، او هغه ته ئے د اسحاق علیه السلام زیرے ورکولو، دا واقعه په پوره تفصیل سره په سورة هود کښې تیره شویده. ملائك ابراهیم علیه السلام ته د انسانانو په شکل کښې میلمانهٔ جوړ شوی راغلل او سلام ئے وکړو نو هغه ډیر خوشحاله شو، لیکن کله چه هغوی خوراك او غوښے ته لاس اُوږد نهٔ کړو نو ابراهیم علیه السلام ته د هغوی په باره کښې شك شو او ویریدو چه کیدے شی د دوی نیت ښه نهٔ وی.

نو ملائکو هغهٔ ته فوراً وویل چه مونږ د الله تعالیٰ ملائك یو، تهٔ یریږه مهٔ، او مونږ تا ته د یو داسے ځوی زیرے درکوو چه هغه به لوی عالِم وی. ابراهیم علیه السلام وویل چه تاسو ما ته د بوډاوالی باوجود داسے زیرے راکوئ دا څنګه عجیبه خبره ده ؟ ! او څنګه ددے زیرے راکوئ ؟! ملائکو د زیات تاکید په توګه ووئیل چه مونږ تا ته د یو داسے یقینی خبرے زیرے درکوو چه ددے د نهٔ کیدو سوال نهٔ پیدا کیږی، ځکه چه دا د الله تعالیٰ فیصله او د هغه وعده ده، او هغه په هر شی قادر دے، تهٔ مهٔ نا امیده کیږه.

نو ابراهیم علیه السلام جواب ورکړو چه زهٔ هیچرے نهٔ نا امیده کیږم، نا امیده کیدل خو د ګمراهانو طریقه ده، زهٔ خو ستاسو د زیری مطابق امید ساتم چه الله به ما ته ځوی راکړی. ما ته حیرانتیا صرف پدے وجه شویده چه په عامه توګه سره داسے نهٔ کیږی.

فَبِمَ تُبَشِّرُوْنَ : دا تعجب د ابراهیم علیه السلام پدے وجه وو چه دا کار د عادت خلاف وو او د الله تعالیٰ د قدرت نه ئے تعجب نهٔ کولو.

بَشَّرْنَاكَ بِالْحَقِّ : یعنی مونږ زیرے درکوو تا ته په رشتیا سره چه دا به خامخا کیږی. یا حق نه مراد یقین دے یعنی دا یقینی وعده ده چه پدے کښې به هیڅ مخالفت نهٔ کیږی.

وَمَنْ یَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖٓ اِلَّا الضَّآلُّوْنَ : د الله د رحمت نه نا امیده خلك ولے ګمراهان دی ؟ نو وجه دا ده چه دوی الله نهٔ پیژنی که څوك په صحیح معنو کښې الله تعالیٰ وپیژنی نو د هغه د رحمت طمع به کوی ځکه چه هغه د ټول مخلوق نه زیات مهربانه دے، نو نا امیدئ ته ضرورت څه دے ؟!. دویم دا چه نا امیده شخص د الله تعالیٰ د قدرت او علم نه منکر وی وائی چه الله په ما عالِم نهٔ دے او په ما قادر نهٔ دے دا کار نشی کولے. نو بد ګمانی ئے هم پیدا شی او توبه هم نهٔ وباسی، ځان هلاك کړی نو ځکه پدے عقیده سره ګمراه شو.

نو پدے کښې مونږ ته دا سبق پروت دے چه راشئ ایمان راوړئ او الله ته رجوع وکړئ، د الله تعالیٰ رحمتونه ډیر زیات دی هغه به دربانديے رحمتونه وکړی۔

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿٥٧﴾ قَالُوْا إِنَّا
اُووئیل هغهٔ نو څه دے لوی کار ستاسو اے رالیږلے شوو۔ اُووئیل دوی یقیناً مونږ
أُرْسِلْنَا إِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ﴿٥٨﴾ إِلَّا آلَ لُوْطٍ إِنَّا
رالیږلے شوی یو قوم مجرمانو ته۔ سویٰ د کورنئ د لوط نه، یقیناً مونږ
لَمُنَجُّوْهُمْ أَجْمَعِيْنَ ﴿٥٩﴾ إِلَّا امْرَأَتَهٗ قَدَّرْنَا إِنَّهَا
خامخا نجات ورکونکی یو دوی ټولو ته۔ مګر ښځه ددهٔ مقرر کړیده مونږه چه یقیناً دا به
لَمِنَ الْغَابِرِيْنَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا جَاءَ آلَ لُوْطِ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿٦١﴾
د پاتے خلقو نه وی (په عذاب کښې)۔ نو هرکله چه راغلل کورنئ د لوط ته رالیږلے شوی
قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ﴿٦٢﴾ قَالُوْا بَلْ جِئْنَاكَ
(استازی) اُووئیل دهٔ یقیناً تاسو یو قوم یئ ناشنا۔ اُووئیل دوی بلکه راوړیدے مونږ تا ته
بِمَا كَانُوْا فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ﴿٦٣﴾ وَأَتَيْنَاكَ بِالْحَقِّ
هغه شے چه دوی په هغے کښې شك کوی۔ او راوړیدے مونږ تا ته یقینی خبر (د عذاب)
وَإِنَّا لَصَادِقُوْنَ ﴿٦٤﴾
او یقیناً مونږ خامخا رشتینی یو۔

تفسیر : ابراهیم علیه السلام معلومه کړے وه چه ملائك صرف ددهٔ د خوی د زیری ورکولو دپاره د آسمان نه نهٔ دی راکوز شوی، ضرور څه خبره هم شته، ځکه چه زیرے خو په تن رالیږلو سره هم کیدو، پدے وجه هغهٔ تپوس وکړو چه ستاسو د راتلو بل مقصد څه دے؟ نو هغوی ووئیل چه مونږ د یو مجرم او ګناهګار قوم د هلاك کولو دپاره رالیږلے شوی یو، بیا ئے فوراً آل د لوط مستثنیٰ کړو چه هغه مجرمان نهٔ وو۔ او د تاکید په توګه ئے ووئیل چه مونږ به آل د لوط ته یقیناً نجات ورکوو۔ او د آل لوط نه مراد په هغوی باندے ایمان راوړونکی خلق وو۔ پدے وجه ئے د لوط علیه السلام د ښځے په باره کښې فوراً ووئیل چه هغه به د

كافرانو سره پاتے كيږي، او ضرور به هلاك كيږي، ځكه چه هغے ايمان نۀ وو راوړے۔
إِلَّا امْرَأَتَهُ: پدے كښې خو خوف ته اشاره ده چه يوه ضعيفه زنانه ده او د الله تعالىٰ د نبي ښځه ده، او د هغه بدن ورسره لګيدلے دے ليكن كله چه پكښې كفر او شرك موجود دے نو الله تعالىٰ ئے د لوط ؑ د خاطره هم نۀ پريدى۔
فائده : پدے كښې دوه استثناء ګانے دى، دويمه استثناء د اولے استثناء نه استثناء ده، او مطلب دا دے چه قوم مجرمان به هلاكيږي مګر آل لوط به بچ وى او آل لوط به ټول بچ وى مګر ښځه به ئے نۀ بچ كيږي۔ او په عربئ ژبه كښې د مستثنىٰ نه استثناء جائز ده ليكن د يوے مستثنىٰ منه نه دوه استثناء ګانے صحيح نۀ دى۔
إِنَّا لَمُنَجُّوهُمْ او «قَدَّرْنَا» دا كلام د الله تعالىٰ دے په ژبه د ملائكو، ځكه چه ملائك نجات چا ته نشي وركولے او نۀ تقدير د هغوى په اختيار كښې وى۔ نو د مشركانو دا شبهه خطاء ده چه ملائك خلكو ته نجات وركولے شي نو انبياء او اولياء ئے هم وركولے شي۔
فَلَمَّا جَاءَ : دلته الله تعالىٰ د واقعے آخر مخكښې بيان كړو او تفصيل د واقعے ئے روستو ذكر كړو پدے كښې اهتمام د جانب د خوف دے۔
كله چه ملائك د ښائسته ځوانانو په شكل كښې لوط ؑ ته راغلل، نو هغۀ ووئيل چه زۀ تاسو نۀ پيژنم، او نۀ ستاسو د راتلو غرض ما ته معلوم دے، چرته تاسو په كوم بد نيت سره خو نۀ يئ راغلى؟ نو ملائكو ووئيل چه مونږ هغه عذاب راوړيدے په كوم كښې به چه ستا د قوم خلقو شك كولو او ته به ئے دروغجن ګڼړلے مونږ هغه شے يقيناً راوړيدے چه په هغے كښې هيڅ د شك ګنجائش نشته دے، او كوم خبر چه مونږ تا ته دركوو پدے كښې مونږ بالكل رشتيني يو۔
وَأَتَيْنَاكَ بِالْحَقِّ : يعنى مونږ تا ته راغلى يو چه مشتمل يو په يقين سره چه هيڅ شك پكښې نشته۔ يا د حق نه مراد يقيني عذاب دے۔

فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ اللَّيْلِ وَاتَّبِعْ أَدْبَارَهُمْ
نو بوځه كورنئ خپله په يوه ټكړه د شپه كښې او روان شه روستو د دوى پسے
وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ وَامْضُوا حَيْثُ تُؤْمَرُونَ ﴿٦٥﴾
او نۀ دِے ګورى ستاسو نه يو تن او ځئ هغه ځائے ته چه تاسو ته حكم كيديشى۔

وَقَضَيْنَا إِلَيْهِ ذٰلِكَ الْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هٰؤُلَاءِ مَقْطُوعٌ
او فیصله اُولیږله مونږ دهٔ ته ددے خبرے چه یقیناً جرړے ددے کسانو پرے به کړے شی
مُّصْبِحِينَ ﴿٦٦﴾ وَجَآءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٦٧﴾ قَالَ
په وخت د صبا کښ۔ او راغلل ښار والا چه خوشحالي ئے کوله۔ اُووئیل هغهٔ یقیناً
إِنَّ هٰؤُلَآءِ ضَيْفِي فَلَا تَفْضَحُونِ ﴿٦٨﴾ وَاتَّقُوا اللهَ وَلَا
دا کسان میلمانهٔ زما دی نو مهٔ شرمویٔ ما لره او اُویریږئ د الله نه او مهٔ
تُخْزُونِ ﴿٦٩﴾ قَالُوا أَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعَالَمِينَ ﴿٧٠﴾ قَالَ
رسوا (ذلیله) کویٔ ما۔ اُووئیل دوی آیا نهٔ ئے منع کړے مونږ تهٔ د خلقو نه۔ اُووئیل هغهٔ
هٰؤُلَآءِ بَنَاتِي إِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِينَ ﴿٧١﴾
دا (ستاسو ښځے) لونړه زما دی که تاسو کونکی یئ (د حاجت پوره کول)۔

تفسیر : تهٔ د شپے په آخری حصه کښ خپل مسلمانان ملګری ځان سره واخله او ددے ځائے نه اُوځئ او تهٔ د دوی نه روستو روستو روان شه دے دپاره چه دوی په تیز تلو باندے راپورته کوے او خیال ساته چه څوك روستو پاتے نشی، او نهٔ څوك شاته مخ اړولو سره وګوری، ورنه عذاب به ورته ورسیږی، یا پدے وجه چه تهٔ مطمئن شے او پدے پوهه شے چه دوی ټول راخلاص شو۔ او د شام هغه علاقے ته لاړ شئ کوم ځای ته د تلو حکم چه تاسو ته شویدے چه هغه د ابراهیم ﷺ د ګاونډ ځای دے۔ بعض علماؤ وئیلی دی چه دا خلق مصر ته لاړل۔ او چا وئیلی دی چه د قوم لوط یو بل کلی طرف ته لاړل۔

وَقَضَيْنَا : قضاء دلته په معنیٰ د وحی سره دے۔ یعنی الله تعالیٰ لوط ﷺ ته د وحی په ذریعه ددے عذاب خبر د مخکښ نه ورکړے وو چه د صبا په وخت به تمام کافران هلاك کیږی، او ددوی نه به هیڅوك نهٔ بچ کیږی۔ کله چه (سدوم) ښار والو ته د ښائسته ځوانانو د راتلو اطلاع ملاؤ شوه نو خوشحاله شو او یو بل ته ئے زیری ورکول چه نن د لواطت کولو ډیره ښه موقعه په لاس راغلے ده۔

لوط ﷺ هغوی ته ووئیل چه دا زما میلمانهٔ دی، د الله دپاره د دوی سره په بدکاری کولو ما مهٔ شرمویٔ، ځکه چه د میلمه شرم د کور به شرم وی۔ او د دوی په باره کښ د الله نه

ویریږئ او ما ذلیل نهٔ کړئ، نو هغوی بد مستانو وویل چه آیا مونږ تا ته بار بار نهٔ دی وئیلی چه کله مونږ د چا سره بدکاری کول غواړو نو مونږ به نهٔ منع کوے۔
یو قول دا دے چه دوی لوط علیه السلام لره د مخکښ نه منع کړے وو چه دا به خلق نهٔ میلمانهٔ کوی۔ لوط علیه السلام وویل، که تاسو خپل خواهش پوره کوئ نو دا د کلی جینکئ زما لونړهٔ دی، ددے سره تاسو وادهٔ وکړئ۔
(د سورة هود په تفسیر کښ ددے په باره کښ تفصیل سره لیکل شویدی)۔
یَسْتَبْشِرُوْنَ: استبشار: اِظْهَارُ الْفَرَحِ وَالسُّرُوْر ته وئیلے شی یعنی خوشحالی ښکاره کول۔
فَلَا تَفْضَحُوْنِ: ۱- یعنی ما په خلکو کښ مهٔ شرموئ چه د میلمنو بی عزتی مے وکړئ خلك به وائی چه میلمانهٔ ئے ترے واخستل۔ ۲- عِنْدَ الضُّيُوْفِ) او دارنګه ما مهٔ شرموئ میلمنو ته چه هغوی به پوهه شی چه زهٔ د میلمنو د حفاظت نه عاجز یم۔
۳- یا لَا تَفْضَحُوْنِیْ بِفَضِيْحَةِ ضَيْفِیْ ۔ ما مهٔ شرموئ په شرم د میلمنو سره ځکه چه د میلمه شرم د کوربه شرم وی۔ (فتح)
وَلَا تُخْزُوْنِ: یعنی ما مهٔ ذلیله کوئ چه زما مخامخ زما د میلمنو بی عزتی کوئ او زهٔ درته څه نشم وئیلے۔
عَنِ الْعَالَمِيْنَ: ۱- اَیْ عَنْ ضِيَافَتِهِمْ ۔ یعنی تهٔ مونږ نهٔ ئے منع کړے چه خلکو ته به میلمستوب نهٔ ورکوے۔ ۲- عَنْ مَنْعِهِمْ مِنَّا ۔ دارنګه مونږ نه به خپل میلمانهٔ نهٔ منع کوے بلکه مونږ ته به ئے راپریدے۔
اِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِيْنَ: اَیْ مَا عَزَمْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ فِعْلِ الْفَاحِشَةِ بِضَيْفِیْ / أَوْ مَا آمُرُكُمْ بِهٖ)
۱- که تاسو کونکی یئ د هغه بی حیایئ چه تاسو ئے کلکه اراده کړیده۔
۲- یا که تاسو زما حکم منونکی یئ۔

لَعَمْرُكَ اِنَّهُمْ لَفِیْ سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۷۲﴾ فَاَخَذَتْهُمُ
قسم دے په ژوند ستا یقیناً دوی خامخا په نشه خپله کښ دی پریشانه۔ نو ونیول دوی لره
الصَّيْحَةُ مُشْرِقِيْنَ ﴿۷۳﴾ فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا
چغے په وخت د نمر خاتهٔ کښ۔ نو اوګرځوو مونږه بره طرف د دغه کلو لاندے طرف ته

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
او باران اُوکړو مونږ په دوی باندے د کانړو د پخو کانړو نه۔ یقیناً پدے واقعه کښې
لَآيَاتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ﴿٧٥﴾ وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ﴿٧٦﴾
خامخا ډیر عبرتونه دی دپاره د فکو کونکو۔ او یقیناً دا کلی په لاره نیغه (پراته) دی۔
إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾
یقیناً پدے کښې نخه ده دپاره د ایمان والو۔

تفسیر : الله تعالیٰ د نبی کریم ﷺ په باقی ژوند باندے قسم خوړلو سره وئیلی دی چه د سدوم کلی وسیدونکی بیشکه په خپلو گمراهیانو کښې حیران پراته وو۔

قاضی عیاضؒ د مفسرینو پدے باندے اتفاق نقل کړیدے چه دلته الله تعالیٰ د نبی کریم ﷺ په ژوند قسم کړیدے، لیکن ابن العربیؒ وائی چه ددے خبرے نه کوم شے مانع دے چه الله تعالیٰ د لوط علیه السلام په ژوند باندے قسم خوړلے وی۔ او کله چه الله د لوط علیه السلام په ژوند قسم خوړلے شی نو د نبی کریم ﷺ په ژوند باندے په درجه اولیٰ قسم خوړلے شی۔

قرطبیؒ هم د ابن عربیؒ د رائے تائید کړیدے، او وئیلی ئے دی چه د لوط علیه السلام د قصے په مابین کښې د نبی کریم ﷺ په ژوند باندے قسم خوړل به جمله معترضه جوړیږی۔ (فتح)

حافظ ابن القیم رحمه الله په خپل کتاب ((اقسام القرآن)) کښې د جمهورو مفسرینو د رائے تائید کړیدے، بلکه دلته ئے د لوط علیه السلام ژوند مراد اخستل باطل گرځولی دی۔

ابو الجوزاءؒ ددے آیت په تفسیر کښې د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه الله تعالیٰ د نبی کریم ﷺ د ژوند نه سویٰ هیڅکله د بل چا په ژوند قسم نۀ دے کړے۔

او ددے نه معلومیږی چه د رسول الله ﷺ ډیره پاکه زندگی وه، د شهواتو نه خالی وه۔

په غیر الله باندے قسم په احادیثو کښې حرام گرځول شویدے او دے ته ئے شرك وئیلے دے مگر الله تعالیٰ چه وغواړی په هر مخلوق باندے قسم کولے شی۔

او عُمُرْ او عَمْرْ یو شے دے لیکن د قسم په وخت کښې په عین باندے زور استعمالیږی ځکه چه قسم زیات استعمالیږی نو تخفیف ورسره مناسب دے۔

لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ : د اصحاب الشهوات بیان چه قرآن کریم کړیدے نو هغوی دپاره ئے سکره (نشه) عَمَه (د زړه ړندیدل) او طَمْسُ الْعُيُونَ۔ (د سترگو ړندیدل) ذکر

کړيدي، په ناجائز شهواتو کښې دا ټول مرضونه دي چه نظر او دماغ او زړه به ئے خرابېږي.
فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ : پـه قومِ لوط باندے د الله تعالىٰ عذاب د يوے سختے چغے په شکل کښې د صبا پـه وخت کښې نازل شو، دے نه روستو ملائکو ټول کلے اَپوټه کړو او په هغوی باندے ئے د کانړو باران وکړو. الله تعالىٰ فرمائي يقيناً پدے خبرو کښې د فکر کونکو دپاره لوئي نخے دي، او دا کلے د مدينے نه شام ته د تلونکو په لاره کښې واقع دے. ددے لارے هر مسافر د دوی باقي مانده آثار په سترګو ويني، يقيناً ايمان والو دپاره ددے نه لوئي عبرت او نصيحت حاصلول پکار دي.
مُشْرِقِيْنَ : اَیْ دَاخِلِیْنَ فِیْ وَقْتِ شُرُوْقِ الشَّمْسِ) چه داخليدونکي وو په وخت د نمرخاتۀ کښې. په سورة هود کښې ئے (مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ) وئيلي وو نو وجه دا ده چه د صبا په وخت د دوی عذاب شروع شو او د نمرخاته په وخت د دوی معامله ختمه شوه.
لِلْمُتَوَسِّمِيْنَ : [اَیْ لِلْمُتَفَكِّرِيْنَ النَّاظِرِيْنَ فِی الْاَمْرِ يَسْتَدِلُّوْنَ بِهَا وَالْمُعْتَبِرِيْنَ] هغه خلکو لره چه فکر کوی او د يو شي په انجام کښې ګوری او د هغے نه دليل نيسي او عبرت اخلي. توسم په اصل کښې تَثَبُّت او تفکر ته وائي. يعنی يو خبره مضبوطول او په هغے کښې فکر کول. او پوره تحقيق کونکي. دارنګه توسم يو شي ته د هغے په نښو سره نظر کول او په هغے کښې فکر کول دي، چه دے ته فِراست هم وائي.
حافظ سيوطیؒ په ((الاکليل)) کښې ليکلي دي چه دا آيتِ کريمه ((د عِلم فِراست)) دپاره دليل دے. ترمذیؒ د ابوسعيد خدری رضی الله عنه نه مرفوعاً روايت کړيدے چه ((د مؤمن د فراست نه اُويرېږه، ځکه چه هغه د الله په نور سره ليدل کوی، بيا هغوی دا آيت اُولوستلو)).
دا حديث د سند پـه لحاظ سره اګرچه شيخ البانی رحمه الله ضعيف ګرځولے دے. (الضعيفه/ ١٨٢١) ليکن ددے معنیٰ ډير حده پورے صحيح ده او د ډيرو آيتونو نه اشارةً معلومه ده.
علم فراست دا دے چه د انسانانو د هيئت، د هغوی د شکلونو، رنګونو او اقوالو نه د هغوی په اخلاقو او فضائلو او رذائلو باندے دليل ونيولے شي. الله تعالىٰ په سورة البقره آيت (٢٧٣) کښې د سوال نۀ کونکو غريبانو مسلمانانو په باره کښې نبی کريم ﷺ ته خطاب کولو سره فرمايلي دي : ﴿ تَعْرِفُهُمْ بِسِيْمَاهُمْ ﴾ چه تۀ به دوی په نخو سره پيژنے).
او په سورة محمد آيت (٣٠) کښې د منافقانو په باره کښې فرمايلي دي : ﴿ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِیْ لَحْنِ الْقَوْلِ ﴾ چه تۀ به دوی د دوی د چالاکئ د خبرونه پيژنے. معلومه شوه چه علم فراست يو

حقیقت دے چه ددے اقرار قرآن کوی، او د انسانانو د ظاهری احوالو په ذریعه د هغوی ډیر باطنی اخلاق او خصلتونه معلومیدے شی۔ (محاسن التاویل للقاسمیؒ)

لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ : یعنی دا کلی د قوم لوط په نیغه لاره کښې وو مکے والا چه به شام ته تلل نو پدے لاره به ورتیریدل۔

فِي ذَٰلِكَ : یعنی د دوی په هلاکت کښې۔ / یا په دغه مذکوره ښار او کلی کښې۔

وَإِن كَانَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ لَظَالِمِينَ ﴿٧٨﴾ فَانتَقَمْنَا مِنْهُمْ وَإِنَّهُمَا
او اګر که وو ښر والا خامخا ظلم کونکی۔ نو بدله واخسته مونږ د دوی نه او یقیناً دا دواړه
لَبِإِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿٧٩﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَابُ الْحِجْرِ
(کلی) په ښکاره (مشهور) لاره باندے دی۔ او یقیناً دروغجن کړی وو حجر والو
الْمُرْسَلِينَ ﴿٨٠﴾ وَآتَيْنَاهُمْ آيَاتِنَا فَكَانُوا عَنْهَا
پیغمبرانو لره۔ او ورکړے وو مونږ دوی ته معجزے خپلے نو وو دوی د هغے نه
مُعْرِضِينَ ﴿٨١﴾ وَكَانُوا يَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا آمِنِينَ ﴿٨٢﴾
مخ ګرځونکی۔ او وو دوی چه تراشل به ئے د غرونو نه کورونه، په امن اُوسیدونکی۔
فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِينَ ﴿٨٣﴾ فَمَا أَغْنَىٰ عَنْهُم
نو اُونیول دوی لره هیبتناک آواز په وخت د صبا کښې۔ نو وانۀ ړوو د دوی نه عذاب
مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٨٤﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا
هغه عملونو چه دوی کول۔ او نۀ دی پیدا کړی مونږ آسمانونه او زمکه او هغه څه
بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ وَإِنَّ السَّاعَةَ
چه په مینځ د دواړو کښې دی مګر دپاره د ښکاره کولو د حق او یقیناً قیامت
لَآتِيَةٌ فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيلَ ﴿٨٥﴾
خامخا راتلونکے دے نو مخ اُوګرځوه مخ ګرځول ښائسته۔ (په ښائسته طریقه سره)۔

تفسیر : اصحاب ایکه نه مراد د شعیب علیه السلام قوم دے، دا خلق په یوه داسے علاقه کښې

وسیدل چه هلته ونے ډیرے موجودے وے، د دوی ظلم دا وو چه دوی به د الله تعالیٰ سره شریکان جوړول، او په لاره تلونکی مسافر به ئے لوټ کول، او په ناپ تول کښې به ئے کمی کوله، نو الله تعالیٰ د دوی د هدایت دپاره شعیب علیه السلام ولیږلو لیکن دوی د هغه تکذیب وکړو نو الله تعالیٰ د دوی د هلاکولو دپاره داسے یوه وریځ راولیږله چه په هغے کښې اُور وو چه هغه دوی لره ایره کړل۔ د قوم لوط علیه السلام او قوم شعیب علیه السلام کلی په لویه لاره باندے یو بل ته نزدے وو۔

مفسرین لیکی چه مدین او اصحاب الایکه دوه امتونه وو، دواړو ته الله تعالیٰ شعیب علیه السلام پیغمبر رالیږلے وو۔ ایکه : هغه ځای ته وائی چه په هغے کښې ګڼړے ونے او ګڼړ باغ وی۔ یعنی (بنړ)

فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ : مونږ په عذاب سره هلاك کړل۔

وَإِنَّهُمَا : یعنی کلے د قوم لوط علیه السلام او مکان د اصحاب الایکه۔

لَبِإِمَامٍ مُّبِينٍ : یعنی په لاره واضحه ښکاره باندے دی (ابن عباسؓ) لارے ته امام ځکه وائی چه ددے اقتداء کیدے شی او پدے باندے روانیدل کیدے شی۔

وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَابُ الْحِجْرِ : د اصحابِ حجر نه مراد د ثمودیانو قوم دے۔ ((حِجر)) د مدینے منورے او د شام ترمینځ یو مشهور میدان دے (د تبوك په لاره دے) چه هلته به دا خلق وسیدل، د شام نه چه کوم حاجیان راځی نو پدے میدان راتیریږی، (دے ته ((دیار ثمود)) او ((مدائن صالح)) هم وائی) د دوی د هدایت دپاره الله تعالیٰ صالح علیه السلام رالیږلے وو، چه دوی د هغه تکذیب وکړو۔ او مُرْسَلِیْن ئے د جمع صیغه پدے وجه راوړیده چه څوك د یو نبی تکذیب کوی نو ګویا که هغه د ټولو نبیانو تکذیب کوی۔

دوی د صالح علیه السلام نه مطالبه وکړه چه که ته نبی ئے نو د غر نه اُوښه راوباسه او مونږ ته ئے اُوښایه۔ صالح علیه السلام دعا وکړه او د الله په حکم سره د غر نه اُوښه راوتله، لیکن د چا په زړونو چه الله تعالیٰ د کفر مهر ولګوی نو هغوی ته کله هدایت حاصلیدے شی، هغوی هغه اُوښه هلاکه کړه او ایمان ئے رانهٔ وړو، نو الله تعالیٰ دوی ته درے ورځو پورے مهلت ورکړو او دے نه روستو ئے دوی په یو انتهائی سختے او خطرناکے چغے سره هلاك کړل چه په سهار کښې پرے راغله۔ او د دوی دولت او غرونو او کنستے شوی مکاناتو دوی لره د الله سبحانه د عذاب نه بچ نکړل۔

آيَاتِنَا : آیات معجزاتو او نخو ته وائی او دا ئے جمع راوړه ځکه چه صالح علیه السلام ته ډیر

معجزات ورکړے شوی وو چه یو په کښې دغه اُوښه وه او بیا پدے اُوښه کښې دننه ډیرے نخے وے چه د هغے د کانړی نه پیدا کیدل، د هغے نه زر بچے پیدا کیدل، د هغے غټ والے او ډیر پیئ ورکول چه ټول کلی ته به رسیدل۔

فَكَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ : اَیْ غَیْرَ مُعْتَبِرِیْنَ بِهَا وَلَامُلْتَفِتِیْنَ اِلَیْهَا ۔ یعنی هیڅ عبرت ئے د دغه نخو نه وانخستو او نۀ ئے ورته څه توجه ورکړه۔ کرخیؒ وائی چه دا آیت دلیل دے چه نظر (سوچ نه کار اخستل) او استدلال (مسئله باندے دلیل نیول) واجب کار دے او تقلید مذموم دے۔ (فتح البیان)

وَكَانُوا يَنْحِتُوْنَ : د دوی یو صفت دا هم وو چه د کبر او غرور په وجه به ئے د خپل طاقت د ښکاره کولو دپاره بغیر د ضرورت نه غرونه پریکول او کورونه به ئے جوړول۔

بخاریؒ او مسلمؒ د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ چه کله تبوک ته تلو نو هلته چه تیریدو نو خپل سرئے خکته کړو او په تیزئ سره د تیریدو دپاره ئے سورلی تیزه کړه او صحابه کرامو ته ئے وویل چه د عذاب ورکړے شوو قومونو کورونو کښې په ژړا سره داخل شئ، او که ژړا نۀ درځی نو د ژړا شکل جوړ کړئ، ددے نه یره ده چه چرته تاسو ته هم د هغوی په شان عذاب ونۀ رسی۔ (بخاری: ٤٣٢) مسلم (٧٦٥٥)

آمِنِيْن: یعنی ځانله ئے امن طلب کولو لیکن کله چه د الله تعالیٰ عذاب راغلو نو دغه پخو کورونو ورته هیڅ امن ورنکړو۔

مَّا كَانُوا يَكْسِبُوْنَ : (١) مِنْ نَحْتِ الْجِبَالِ ۔ دوی چه څه کول چه غرونه تراشل دی هغے ورله فائده ورنکړه۔ (٢) مِنَ الشِّرْكِ ۔ یعنی دوی چه کوم شرکونه کول او باباگان ئے نیولی وو او شرکی اعمال به ئے کول نو هغوی هم ورته فائده ورنکړه لکه سورة هود کښې ذکر شوی وو ﴿فَمَا اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِیْ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ ۔ (هود: ١٠١)

وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ : په مکی سورتونو کښې د سورت په آخر کښې ښکلی آداب ذکر کوی چه هغه د فرض په درجه کښې وی او په مخکنو خبرو باندے تفریعات کوی، دلته نه د تبلیغ لس آداب راوړی، او پدے آیت کښې د مخکنو قومونو د عذاب دپاره علت ذکر کوی چه الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه د عدل دپاره پیدا کړیدی او د عدل تقاضا دا ده چه مجرمانو ته عذاب ورکړے شی۔

بِالْحَقِّ: د حق ١- یوه معنیٰ د عدل ده، ٢- بل اظهار د حق دے۔ ٣- ښه معنیٰ ئے حافظ ابن القیمؒ ذکر کړیده اَیْ لِلْحِکْمَةِ وَهِیَ مَعْرِفَةُ اللّٰهِ وَتَوْحِیْدُهٗ وَعِبَادَتُهٗ وَاتِّبَاعُ رُسُلِهٖ وَشَرْعِهٖ اِلٰی

آخِرِهِ) يعنى الله تعالىٰ آسمانونه او زمكه د يو حكمة دپاره پيدا كړيدي چه هغه د الله تعالىٰ پيژندل او د هغهٔ يوائے بندگي كول او د هغهٔ د رسولانو تابعداري كول او د هغهٔ شرع منل دي۔ نو د كائناتو د پيدائش مقصد د الله تعالىٰ بندگي ده۔ دے ته په كتو سره بنده خپل خالق راياد كړي او د هغهٔ شكر ادا كړي۔ او كه څوك د هغهٔ ناشكري كوي او د كفر لاره اختياروي نو هغوي الله تعالىٰ هلاكوي لكه چه مخكني قومونه ئے هلاك كړل او بيا قيامت راروان دے په هغے كښ به ورته د عملونو بدلے وركړي۔

فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ : ددے تفريع مطلب دا دے چه هركله دوي ته د دوي په اعمالو باندے جزاء وركول الله تعالىٰ ته سپارل شويدي او هغه به ئے ورته په قيامت كښ وركوي، نو اے زما نبي! تهٔ دوي ته د تكليف وركولو نه، او دارنگه دوي چه ستا دعوت په ښهٔ شان سره نهٔ اخلي ددے نه ورله مخ واړوه۔ او د دوي دپاره په جلتئ سره عذاب مهٔ غواړه۔
(الطاهر ابن عاشورؒ)

نو دا اول ادب دے رسول الله ﷺ او داعي ته چه د دعوت كار به جاري ساتي او كه په باب د دعوت كښ كوم تكليفونه راځي نو په هغے به صبر كوي۔ صفح معافي كولو ته وئيلے شي او دا دلته په لازم معنىٰ كښ استعمال دے چه هغه د دين د دشمنانو په كارونو باندے نهٔ غمجن كيدل او نهٔ غصه كيدل دي چه د هغے په وجه خپل كار پريدي۔ (ابن عاشورؒ)

صفح جميل څه شے دے؟

١- الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ : اِظْهَارُ خُلُقٍ حَسَنٍ ته وائي۔ يعني د ښائسته اخلاقو مظاهره كول، او د دوي سره د معافئ معامله كول دي، او د دوي نه مخ اړول دي په غير د جزع فزع نه او بغير د يرے نه۔

٢- سيدنا علي ﷺ فرمائي : اَلرِّضَا بِغَيْرِ عِتَابٍ۔ د ملامتيا وئيلو نه بغير راضي كيدل۔ او دا ورته څكه وائي چه پدے سورت كښ استهزاء د مشركانو ذكر شوه، نو الله تعالىٰ خپل نبي ته وائي چه راضي وسيږه او هيڅ ملامتيا په دوي مهٔ وايه، معامله ئے الله ته وسپاره۔

٣- يعنى مخ واړوه د دوي نه ښائسته مخ اړول او دوي باندے په انتقام اخستو كښ جلتي مهٔ كوه او د دوي سره د صبرناك شخص په شان معامله وكړه۔ (فتح البيان)

٤- علامه سعديؒ وائي : ما ته پدے مقام كښ يو بله معنىٰ ښكاره شويده، هغه دا چه دلته مامور بِهٖ ښائسته اعراض كول ذكر شويدي يعني هغه اعراض چه د كينے او قولي او

فعلي ضرر نه بچ وي، نهٔ هغه صفح (اعراض) چه ښائسته نهٔ وي چه هغه معافي کول دي په غير د خپل محل کښې نو کوم مقام چه د سزا ورکولو تقاضا کوي، هلته به صفح او اعراض نکوي لکه ظالمان او معتدينو ته سزا ورکول شو چه دوي ته صرف سزا ورکول فائده ورکوي۔ (نهٔ معافي) (السعديؒ) يعني د الله د حکم مطابق به مخ اړوه۔

۵- الصَّفْحَ الْجَمِيْل دا هم دے چه صرف د الله تعالىٰ د رضا دپاره مخ وګرځولے شي او د دوي نه براءت وکړے شي بغير د دنيا د مقصدونو نه۔ لکه داسے خبره په سورة مزمل (۱۰) آيت کښې هم ده: ﴿ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيْلًا ﴾۔ (يعني پريږده دوي لره په پريخودو ښائسته سره) او مراد ددے نه په خپلو حقوقو او ضررونو کښې معافي کول دي نهٔ د الله په حقوقو کښې، لهذا دا په آيت د قتال سره منسوخ نهٔ دے بلکه دے ته اخلاق وائي۔

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيْمُ ﴿۸۶﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا
يقيناً رب ستا ډير پيدا کونکے پوهه دے۔ او يقيناً مونږ درکړی دي تا ته اُووه آيتونه
مِّنَ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْآنَ الْعَظِيْمَ ﴿۸۷﴾ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا
چه بار بار لوستلے کيږي او قرآن لوئي شان والا۔ مهٔ اُوږدوه سترګے خپلے هغه څه
مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ
چه مزے ورکړيدي مونږ په هغے سره مختلف قسمه کافرانو ته د دوي نه
وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۸﴾
او مهٔ غمجن کيږه په دوي باندے او خکته کړه وزر خپل مؤمنانو ته۔

تفسير: مخکښې چه د قيامت د راتلو کومه خبره شويده، د هغے د زيات مضبوطيا په توګه وئيلے شويدي چه رب العالمين د هر شي پيدا کونکے دے، هيڅ شے هغه له نشي عاجز کولے، نو د قيامت په راوستو قادر دے، هغه د ټولو هغه اجسامو نه خبردار دے کوم چه مړهٔ شوي او خاورو سره هوار شوي او ذره ذره ختم شويدي۔

سورة يس آيت (۸۱) کښې الله تعالىٰ فرمايلي دي: ﴿ اَوَلَيْسَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ بَلٰى وَهُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴾ (چه چا آسمانونه او زمکے پيدا کړيدي، آيا هغه د دوي په شان په پيدا کولو قادر نهٔ دے، بيشکه قادر دے، او هغه ډير پيدا کونکے،

هرڅه باندې پوهيدونکې دې)۔
فائده :إِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلَّاقُ : علامه ابن عاشورؒ وائی چه دا جمله د فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيلَ دپاره علت واقع شويده، يعنی د دوی نه بنائسته مخ واړوه ځکه چه پدې مخ اړولو کښې ستا فائده هم شته او د دوی هم چه ستا رب په هغې باندې پوهيږی، نو د نبی کريم ﷺ فائده په صفح کښې د هغه کامل اخلاق رابنکاره کيدل دی، او د دوی فائده پکښې دا ده چه اميد دې چه دوی به ايمان راوړی ځکه چه الله خلاق (پيدا کونکې) ستاسو هم دې، او د دوی هم، او ستا د نفس دپاره هم او د دوی د نفسونو دپاره هم۔ او هغه عليم (پوهه) دې په هغه عمل چه ستاسو نه هر يو ورته راتلل کوی۔
او ددې جملې مناسبت د ﴿وَاَنَّ السَّاعَةَ لَآتِيَةٌ﴾ سره بنکاره دې۔
او په (خلاق او عليم) صفتونو راوړو کښې اشاره ده زيری د رسول الله ﷺ ته چه الله تعالیٰ به ددې خلکو نه هغه څوك راپيدا کړی چه هغوی به د نبی کريم ﷺ اولياء (دوستان) وی، او دا هغه خلك وو چه ددې آيت د نازليدو نه روستو ئې ايمان راوړو او يا روستو راپيدا شوی وو لکه رسول الله ﷺ هم فرمائيلی وو (چه کيدې شی چه الله تعالیٰ به د دوی د شاګانو نه داسې خلك پيدا کړی چه دِ الله بندګی به کوی)
(التحرير والتنوير۱۳/۶۳)
وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا: دا علت دې دپاره د مخکښې (فَاصْفَحْ) او دارنګه د روستو (لَاتَمُدَّنَّ) دپاره يعنی تسلی ساته۔ او پدې کښې اشاره ده چه قرآن والو له پکار دی چه د مشرکانو او دنيا والو هيڅ پرواه ونۀ ساتی۔ او حاصل ئې دا دې : چه نبی کريم ﷺ ته د قريشو کافرانو په تکليفونو باندې د صبر کولو تلقين کولو سره وئيلې شويدی چه تا ته خو الله تعالیٰ بيشماره لوئی نعمتونه درکړيدی چه په هغې کښې د ټولو نه لوئی نعمت سورة الفاتحه او ټول قرآن کريم دې، پدې وجه ته زړۀ مۀ ورکوټې کوه، او د پيغام رسولو په کار کښې لګيا اُوسه، ځکه چه بنده کله په خپل ځان باندې د الله تعالیٰ لوئی نعمتونه يادوی نو د دعوت په کار کښې مشکلات آسانيږی۔ (القاسمیؒ)
علامه ابن عاشورؒ وائی : دا جمله معترضه ده په مينځ د (فَاصْفَحْ) او د (لَا تَمُدَّنَّ) کښې۔ نو مخکښې تسلی ورکړې شوه نو اُوس الله تعالیٰ خپل نبی ته وعده د احسان راياد وی دې دپاره چه هغه ته لوی نعمت راياد کړی دې دپاره چه د هغۀ زړه مطمئن شی چه لکه څنګه الله تعالیٰ هغه سره په دغه موجوده نعمتونو سره احسان کړيدې نو دغه شان به ورسره

نورے وعدے هم رشتینی کوی۔ او پدے احسان رایادولو کښې تعریض دے رد د منکرینو ته چه هغوی وئیلی وو ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِىْ نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ﴾ ۔ يعنی دے لیونے نۀ دے بلکه الله تعالیٰ پرے عظیم احسانات کړیدی۔ او پدے آیت کښې د قرآن کریم عظمتِ شان او د مشرکانو سپك ژوند ته اشاره ده۔ (التحریر والتنویر)

سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ : ددے دوه تفسیرونه دی (۱) جمهور مفسرین وائی چه ددے نه سورتِ فاتحه مراد ده چه دا اُوه آیتونه او بار بار په مونځونو وغیره کښې تکراریږی۔ نو ځکه ورته مثانی وائی۔ او دارنگه مضامین ئے مکرر دی او اضداد پکښې ذکر دی، لکه دنیا او آخرت، خالق او مخلوق، منعم علیهم او مغضوب علیهم۔ نو (وَالْقُرْآنَ الْعَظِيْمَ) عطف د عام دے په خاص باندے۔ یا قرآن به په معنیٰ د مَقْرُوْء سره وی۔ یعنی هغه سورتِ فاتحه چه بار بار لوستلے شی او لوی شان والا دے۔

(۲) علامه قاسمیؒ او سعدیؒ دے ته ترجیح ورکړیده چه د سبع مثانی نه اَلسَّبْعُ الطِّوَال (اوه اُوږده) سورتونه مراد دی چه هغه بقره، آل عمران، نساء، مائده، انعام، اعراف او اوم انفال او توبه دی، او دا د ابن عباس رضی الله عنه نه هم مروی دی۔ (فتح البیان)

او دا ځکه چه روستو (وَالْقُرْآنَ الْعَظِيْمَ) نه مراد سورتِ فاتحه ده۔ لکه د بخاریؒ په روایت کښې رسول الله ﷺ سورتِ فاتحے ته (اَلْقُرْآنُ الْعَظِيْم) وئیلے دے۔

(هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْآنُ الْعَظِيْمُ الَّذِىْ أُوْتِيْتُهُ) (بخاری: ٤٤٧٤)

لیکن دا مطلب نۀ دے چه صرف همدغه مراد دی ځکه چه دا سورت مکی دے او دغه اُوه سورتونه مدنی دی۔ بلکه مطلب دا دے چه د قرآن دا الفاظ دغه سورتونو ته هم شاملیږی۔ (القاسمیؒ)

او سورتِ فاتحه ته قرآن عظیم پدے وجه وائی چه دا سورت مشتمل دے په لویو مضامینو د قرآن باندے گویا که دا د ټول قرآن اجمالی خلاصه ده، او د ټول قرآن اصول پکښې ذکر دی۔

لَا تَمُدَّنَّ : پدے آیت کښې داعی ته نور درے آداب ذکر کیږی۔ یعنی د سورة الفاتحه او قرآن کریم په شان نعمتونو په مقابله کښې د دنیا هر شے حقیر او معمولی دے، پدے وجه پدے لوئی نعمت باندے د الله تعالیٰ شکر ادا کوه، او دنیا والو ته چه مونږ کوم عارضی نعمتونه ورکړیدی د هغے خواهش مۀ کوه، هغه نعمتونه مونږ ددے دپاره ورکړیدی چه مونږ په دوی ازمینت وکړو او څوك چه په ازمینت کښې کامیاب نۀ شی د هغه دپاره دا

نعمتونه وبال او تاوان ګرځي۔

لَا تَمُدَّنَّ : سترګې اُوږدول کنايه وي د پسخيدو نه۔ واحديؒ وائي : يو شي ته سترګې اُوږدول دا دي چه هغې ته هميشه ګورې او هميشه کتل دلالت کوي د هغه شي په ښه ګڼړلو او د هغې د تمنا کولو۔

فائده : دلته ئې حرف عاطف (واو) رانهٔ وړو او په سورة طه کښې ئې (وَلَا تَمُدَّنَّ) وئيلې دے، ځکه چه هلته مخکښې امرونه ذکر شويدي نو بيا ورپسے دغه نهي راغلې ده۔ او دلته دا جمله تمهيد دے د مخکښې جملې دپاره نو ځکه عطف ونشو۔ او که عطف شوے وے نو دا مطلب به نهٔ معلوميدے۔ (ابن عاشورؒ)

مَتَّعْنَا : تعبيرئې په متاع سره وکړو اشاره ده ددے زر زائله کيدو ته۔

أَزْوَاجًا: جمع د زوج ده، يو شخص مثل د بل وي په مالدارئ کښې۔

۱- نو مجاهدؒ وائي چه ددے نه مراد اَلْاَغْنِيَاءُ وَالْاَمْثَالُ وَالْاَشْبَاه دي۔ يعني مالداره او يو بل سره (په مالدارئ کښې) مشابه او برابر خلك۔

۲- يا ازواج اصناف (قسما قسم څيزونو) ته وائي۔ (ابن قتيبهؒ)

عبد الله بن عباس ﷺ فرمائي : پدے آيت کښې سړے ددے نه منع شو چه د خپل ملګري د مال ارمان وکړي۔

سفيان بن عيينهؒ وائي : چا ته چه قرآن ورکړے شو او هغه سترګې يو داسے شي ته اُوږدے کړے چه هغه قرآن سپك ګڼړلو نو دهٔ هغه شے لوي وګڼړو چه قرآن ئې سپك ګڼړي۔ او بل روايت د هغه نه داسے دے : [مَنْ أُعْطِيَ الْقُرْآنَ فَمَدَّ عَيْنَيْهِ اِلٰى شَيْءٍ مِنَ الدُّنْيَا فَقَدْ صَغَّرَ الْقُرْآنَ]

چا ته چه الله تعالىٰ قرآن ورکړو بيا د دنيا يو شي ته مائل شو نو هغه د قرآن کريم سپکاوے وکړو۔ (ابن المنذرؒ والدر المنثور)

وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ : دويم ادب : ۱- وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ حَيْثُ لَمْ يُؤْمِنُوا وَعَانَدُوا۔

يعني قريش کافران که ايمان نهٔ راوړي او عناد کوي نو غم مهٔ کوه۔ مخکښې منع وه د هغوي مالونو او سامانونو ته د کتلو نه اُوس ئې منع کړو د هغوي د پرواه ساتلو نه۔

۲- عَلٰى مَا فَاتَكَ مِنْ مُشَارَكَتِهِمْ فِي الدُّنْيَا)

يعني پدے مهٔ خفه کيږه چه تهٔ د دنيا والو سره په دنيا کښې شريك نهٔ ئې، چه هغوي سره مالونه دي او تا سره نشته۔ اول مطلب غوره دے۔ (فتح البيان)

وَاخْفِضْ: يعني کوم غريبان او کمزوري مسلمانان چه تا سره دي د هغوي سره تواضع

اختیار کړه، دوی خپل ځان ته نزدې کړه لکه څنګه چه مرغئ وزرې وغوړوی او خپل بچي د وزرو د لاندې پټ کړي. نو پدې کښې ډير شفقت او تواضع ته اشاره ده ځکه چه مارغه ډير نرم زړه والا وي. نو اشاره ده چه خپل تابعدار د خپلو بچو په شان وګڼړه.

وَقُلْ إِنِّيْ أَنَا النَّذِيْرُ الْمُبِيْنُ ﴿٨٩﴾ كَمَا أَنْزَلْنَا
او اُووايه يقيناً زۀ يره دركونكے ښكاره يم. لكه څنګه چه (عذاب) نازل كړو مونږ
عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ ﴿٩٠﴾ الَّذِيْنَ جَعَلُوا الْقُرْآنَ عِضِيْنَ ﴿٩١﴾
په تقسيم كونكو باندې. هغه كسان دي چه ګرځولے ئے دے قرآن لره ټوټې ټوټې.
فَوَرَبِّكَ لَنَسْأَلَنَّهُمْ أَجْمَعِيْنَ ﴿٩٢﴾
پس قسم دے په رب ستا خامخا تپوس به كوو د دوى ټولو نه.
عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾
په باره د هغې عملونو كښې چه دوى ئے كوى.

تفسير : دا بل ادب دے. يعنى قريشو كافرانو ته اُووايه چه زۀ د الله تعالىٰ د طرف نه خلقو لره د داسې دردناك عذاب نه يرونكے يم، لكه څنګه عذاب چه الله تعالى د قوم صالح په هغه كافرانو نازل كړے وو چه هغوى د هغۀ مخالفت او تكذيب كړے وو، او د هغۀ د قتلولو ئے په خپل مينځ كښې قسم خوړلے وو. په سورة النمل آيت (٤٩) كښې الله تعالىٰ د هغه كافرانو په باره كښې فرمايلى دى : ﴿ قَالُوْا تَقَاسَمُوْا بِاللهِ لَنُبَيِّتَنَّهٗ وَاَهْلَهٗ ثُمَّ لَنَقُوْلَنَّ لِوَلِيِّهٖ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ اَهْلِهٖ وَاِنَّا لَصَادِقُوْنَ ﴾ (دوى خپل مينځ كښې لوئى قسمونو خوړلو سره لوظ وكړو چه د شپې به په صالح او د هغۀ په كورو الو باندې حمله وكړو او د هغۀ وارثانو ته به صفا وايو چه مونږ د هغۀ د اهل د هلاكت په وخت موجود نۀ وو او مونږ بالكل رشتينى يو). بناء پدې به د قرآن نه مراد آسمانى كتاب وى چه د هغې د اتباع حكم قوم صالح ته شوے وو. لكه روستو نور اقوال راځى.

كَمَا أَنْزَلْنَا : دا كاف د تشبيه دپاره دے، نو مشبه يا خو انذار دے چه معلوميږى د (النذير المبين) نه. اَىْ اَنَا النَّذِيْرُ الْمُبِيْنُ اِنْذَارًا مِثْلَ مَا اَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ) يعنى زۀ تاسو ته ښكاره يره دركوم په شان د هغه عذاب چه مونږ په مقتسمينو نازل كړے وو. (ابن عاشورؒ)

يا تعبير داسے دے : (اَنَا النَّذِيُرُ لَكُمُ مِنُ عَذَابِ مِثُلِ عَذَابِ الُمُقُتَسِمِيُنَ)
زۀ تاسو ته يره درکونکے يم د عذاب نه په شان د عذاب د مقتسمينو۔ (فتح البيان)

مقتسمين څوك دي؟

پدے کښں د مفسرينو ډير اقوال دي (۱) مرجوح قول دا دے چه ددے نه مراد اهل کتاب دی او د قرآن نه مراد د لوستلو کتاب دے چه هغه تورات دے نو دوی د الله په کتاب کښں تقسيم کړے وو او هغه ئے ټوټے ټوټے کړے وو چه بعض ئے پټ کړے وو او بعض ئے ښکاره کړے وو۔ نو په يهودو او نصاراؤ باندے الله تعالیٰ قسماقسم عذابونه راوستی دی نو دغه شان پدے موجوده کفارو به ئے هم راولی۔

نو دوی دِے د يهودو او نصاراؤ نه عبرت واخلی چه هغوی هم د الله د کتاب پسے ټوقے کړے وے او دوی هم وکړے۔ دا تفسير جائز دے ليکن مرجوح دے۔

(۲) ظاهر د قرآن او غوره تفسير دا دے (او هغه فراء رحمه الله غوره کړيدے) چه د ((مقتسمين)) نه مراد هغه شپاړس قريش کافران دی کوم چه وليد بن مغيره مکے ته د داخليدو په لارو کښں متعين کړی وو دے دپاره چه دوی هر راتلونکے د اسلام او د رسول الله ﷺ نه واړوی۔ (چه د هغوی نومونه ابن عاشورؒ ذکر کړيدی) دوی وئيلی وو چه د حج ورځے رانزدے شويدی او بهر دنيا نه خلك راځی هسے نۀ چه پدے شخص (محمد ﷺ) باندے ايمان راوړی۔ نو راځئ چه ددۀ دپاره يو پروګرام جوړ کړو، وليد راجمع کړل چه ددۀ په باره کښں به خلکو ته څه وايو؟ نو چا ووېل چه شاعر دے، بيا ئے ووېل چه شاعر خو نۀ دے، چا ووېل کاهن به ورته وايو، ليکن هغه خبره ئے هم رد کړه، او چا ووېل چه ليونے به ورته وايو۔ چا ووېل چه ساحر به ورته وايو ؟ دا ئے هم رد کړه چه سِحر خو مونږ پيژنو ددۀ په کلام کښں نشته۔ بيا ئے خپله ووېل چه ما ته دا ښکاره کيږی چه ددۀ کلام د سحر په شان دے ځکه چه خلکو کښں جدائی راولی لکه څنګه چه سحر جدائی راولی۔

وليد ئے مشر وو نو دوی شپاړس کسان مقرر کړل او د مکے په کنډه وونو او لارو باندے ئے تقسيم کړل او هلته ئے کينول چه خلکو ته به ووايئ چه دلته يو ساحر پيدا شويدے خواله ورنشئ۔ کله چه به يو تن حج يا عمرے ته راتللو نو دوی به ورپسے ورغلل او دغه خبره به ئے ورته وکړه، په زوره باندے ئے د رسول الله ﷺ نه خلك خبرول، په غير شعوری طور سره ئے د رسول الله ﷺ دعوت خورولو۔ (لکه دا په هره زمانه کښں د مشرکانو او مبتدعينو

طریقه ده چه د حق پرست دپاره دعوت کوی او د هغهٔ نه خلك خبروی چه دلته یو تن پیدا شویدے، کـه داعـی د حـق دا خـلـك خبره ولے نو ډیره موده به تیره شوے وے خو الله تعالیٰ ورله د باطل پرست خوله د دعوت ذریعه وګرځوی)

او دے کسانو ولید د مسجد حرام په دروازه کښ د محاکمے دپاره کینولے وو چه کوم حاجی به راغلو نو د ولید نه به ئے تپوس وکړو چه بهر څه کسانو داسے خبره وکړه آیا دا رشتینی ده؟ نو هغه به وویل (صَدَقُوْا) آؤ دے کسانو رشتیا ویلی دی۔ نو پدے طریقه به ئے خلك د الله تعالیٰ د لارے او د رسول الله ﷺ نه اړول۔ لیکن الله تعالیٰ به بیا هم حق ته خلك راوستل، د خلکو به شك شو چه ورشو دا څنګه شخص دے؟ او څوك دے؟

نو الله تعالیٰ په دغه کسانو باندے ناشنا عذابونه راوستل او زر تر زره ئے هلاك کړل، دانے ئے پرے راوخیژولے، او د چا په خیټو کښ دردونه راوستل او په لړو ورځو کښ ټول مردار شو نو دلته الله تعالیٰ دغه کسان په مثال کښ ذکر کوی۔

(۳) یو دریم قول دا دے چه ددے نه مراد د قریش کافرانو هغه خلق دی چه د قرآن کریم پورے د ټوقو کولو دپاره ئے ددے سورتونه خپل مینځ کښ تقسیمول او وئیل به ئے چه دا سورت زما دے او دا ستا۔

(٤) څلورم قول دا دے چه د دوی نه د قریشو هغه خلق مراد دی چه قرآن کریم به ئے تقسیمولو او وئیل به ئے چه ددے بعض حصه شعر، بعض جادو او بعض د تیر شوی قومونو واقعات دی۔

(٥) پنځم قول دا دے چه ددے نه مراد یهود او نصاریٰ دی چه هغوی د قرآن کریم د بعض حصے تصدیق کړے او بعضے نه ئے انکار کړے۔

(محاسن التاویل والطبری والبغوی والقرطبی وفتح البیان)

عِضِيْنَ: جمع د عِضَةٌ ده اوپه اصل کښ عِضْوَةٌ دے په وزن د فِعْلَةٌ۔ اندامونه اندامونه کول او د یو شی نه ډیرے حصے جوړول یعنی پوټی پوټی او ټوکړے ټوکړے کول۔ (فتح البیان) یا جمع د عُضْوٌ ده۔ او ددے هم دغه معنیٰ ده۔ او د قرآن ټوکړے کول دا دی چه په هغے ایمان لری کوم چه د دوی د خواهش او تقاضا موافق وی او د باقی نه انکار کوی۔ یا ئے د قرآن په باره کښ مختلفے فتوے کولے، کله به ئے ویل چه دا دروغ دی، کله به ئے وئیل چه دا سحر دے او کله به ئے ویل چه دا شعر دے او کله به ئے ویل چه دا کهانت دے۔ او په لغت د قریشو کښ عَضْه سحر ته وائی۔ (الدر المنثور والطبری)

یا عضین د عَضَةٌ نه دے، (اَلْبَهْتُ وَالرَّمْیُ بِالْبَاطِلِ مِنَ الْقَوْلِ)۔
بهتان او په باطلو خبرو سره تهمت لګولو ته وئیلے شی۔ (الطبریٰ)
فَوَرَبِّكَ لَنَسْأَلَنَّهُمْ : (۱) هُم ضمیر کافرانو ته راجع دے، یعنی الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ د تمامو کافرانو د عملونو حساب کوی کوم چه به دوی په دنیا کښ کول۔
(۲) یو دویم قول دا دے چه دلته مؤمن او کافر ټول انسانان مراد دی۔ لکه د قرآن کریم د نورو آیتونو نه معلومیږی چه د ټولو انسانانو نه به د هغوی د عملونو په باره کښ تپوس کیږی۔ صاحب د ((محاسن التنزیل)) رائے ده چه د ﴿ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ نه مراد د قریش کافرانو د قرآن کریم په باره کښ د تقسیم عمل دے چه ددے بعض شعر، بعض جادو او بعض د تیر شوی قومونو واقعات دی، دے کافرانو ته په دے آیت کښ د دهمکی ورکړے شویده۔ الله تعالیٰ د خپل کتاب په مخالفت باندے ډیر ناراضه کیږی پدے وجه ئے په خپل ځان قسم کړیدے چه ددے کسانو سره به ضرور حساب کوی۔

فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ
نو صفا بیان کړه هغه وحی چه حکم کیدے شی تاته (د هغے د بیان) او مخ واړوه د
الْمُشْرِكِينَ ﴿۹۴﴾ إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ ﴿۹۵﴾ الَّذِينَ يَجْعَلُونَ
مشرکانو نه۔ یقیناً مونږ کافی یو تا لره د ټوقو کونکو نه۔ هغه کسان چه جوړوی
مَعَ اللهِ إِلٰهًا آخَرَ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿۹۶﴾ وَلَقَدْ نَعْلَمُ
د الله سره مددګار بل نو زر دے چه دوی به پو هه شی۔ او یقیناً پو هیږو مونږ چه یقیناً
أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ﴿۹۷﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ
تنګیږی سینه ستا په هغه خبرو چه دوی ئے وائی۔ نو پاکی بیان کړه سره د ستائینے د
رَبِّكَ وَكُنْ مِنَ السَّاجِدِينَ ﴿۹۸﴾ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى
رب خپل نه او شه د سجده کونکو نه۔ او بندګی کوه د رب خپل تر هغے پورے
يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ ﴿۹۹﴾
چه راشی تا ته مرګ۔ (چه یقینی شے دے)

تفسیر : پدے آیت کښې نور دوه ادبه ذکر کوی۔ اول (فَاصْدَعْ) او دویم (وَاَعْرِضْ) د اول مطلب دا دے چه ښکاره بیان کړه هغه مسئلې د کومے چه تا ته د بیانولو حکم شویدے۔ فَاصْدَعْ د صَدْعٌ نه دے، چولو او څیرولو ته وئیلے شی، یعنی داسے صفا بیان وکړه چه د مشرکانو سینے پرے وچوی، پریږده چه دوی پرے خفه شی۔

او دا ددے کلمے پدے مقام کښې ډیر بلاغت دے۔ او فراء وائی : فَاصْدَعْ بِالْاَمْرِ اَیْ اَظْهِرْ دِیْنَكَ۔ یعنی دین خپل راښکاره۔ او دا غوره معنیٰ ده۔

او څینی وائی معنیٰ دا ده : چه د دوی ډله او دین تس نس (جدا) کړه پدے طریقه چه دوی توحید ته راوویله نو دوی به د یو بل نه جدا شی۔ (فتح)

واحدیؒ وغیره مفسرینو د عبد الله بن مسعود ﷛ قول نقل کړیدے چه ددے آیت د نزول نه مخکښې نبی کریم ﷺ به خلق اسلام طرف ته په پټه رابلل۔ کله چه پدے آیت کښې هغه ته حکم وکړے شو چه هغه صفا د خلقو مخامخ راشی او د اسلام دعوت پیش کړی او د مشرکانو پرواه ونکړی، نو نبی ﷺ د صحابه کرامؓ سره بهر را ووتو او خلقو ته ئے د اسلام طرف ته ښکاره دعوت ورکړو۔

وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ : اَیْ لَاتَلْتَفِتْ اِلَيْهِمْ وَلَا تُبَالِ بِلَوْمِهِمْ۔ یعنی د هغوی خبرو ته توجه مهٔ ورکوه او د هغوی په ملامتیا هیڅ پرواه مهٔ کوه چه وائی دا څنګه خبرے ئے شروع کړے، د پلار نیکه لاره ئے پریخوده۔ او ددے جملے په فائده به تهٔ هله پوهه شے چه کله تهٔ حق بیانوے او خلك درپسے خبرے شروع کړی، چه د اعراض معنیٰ دا ده چه خلك به هر څه وائی او زهٔ به پرے غوږونه کانړه کړم لګیا به وی، زما ذمه واری حق بیانول دی۔

قصه

ددے آیت ډیر لوی بلاغت دے چه عرب ددے په کمال پوهیدل۔ یو اعرابی چه قرآن ئے نهٔ وو وئیلے، او څینی وائی چه لا ایمان ئے هم نهٔ وو راوړے په لاره روان وو د یو قاری نه ئے دا آیت واوریدو نو د اُوښے نه راکوز شو او سجده ئے وکړه۔ هغه ته وویل شو چه آیا تهٔ پدے وخت کښې سجده کوے؟ (یعنی دا ناځاپی شان سجده دِے څنګه وکړه؟) هغهٔ وویل : لِعَظَمَةِ قَائِلِهَا۔ دا خبره چه چا کړیده د هغه عظمت ته مے سجده وکړه چه دومره لوی بلاغت والا ذات دے چه په کلام کښې ئے ډیر لوی کمال راجمع کړیدے۔

اِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِيْنَ : پدے آیت کښې الله تعالیٰ رسول الله ﷺ ته تسلی ورکوی او

دا د تخویف دنیـوی نمونـه ده. الله تعالیٰ خپل نبی ته ضمانت ورکړو چه د قریشو کوم سرداران چه تا پورې توقې کوی مونږ به د دوی سره مقابله کوو، دوی تا ته هیڅ ضرر نشی رسولی. مونږ ستا دپاره د دوی نه کافی یو.

ابن اسحاقؒ د عروه بن زبیر رحمه الله نه روایت کړیدے چه د نبی ﷺ پورې توقې کونکی کافرانو کښې پنځه ډیر مشهور وو: ولید بن مغیره، عاص بن وائل، اسود بن مطلب بن حارث بن زمعه، اسود بن عبد یغوث او حارث بن طلاطله. (قرطبیؒ) الله تعالیٰ دا ټول په یوه ورځ هلاک کړل.

د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د یو روایت نه معلومیږی چه هغه امام بخاری رحمه الله په کتاب الوضوء کښې روایت کړیدے چه هغه قریش کافران: ابو جهل، عتبه، شیبه، ولید بن عتبه، امیه بن خلف او عقبه بن ابی معیط وو کوم چه د بدر په میدان کښې په بده طریقه قتل کړې شو، او د نورو مقتولینو سره په یو کوهی کښې گوزار کړې شو. دا خلق د نورو څه کافرانو سره یوځای شو او د رسول الله ﷺ په اُوګه باندې ئې د کعبې مخې ته د مونځ کولو په حالت کښې د اُوښ پریوانونه (گندونه) ارتولی وو، نو نبی ﷺ دوی ته ښیرې کړې وې چه اے الله! ته قریش او د دوی بد معاشان راونیسه.

الْمُسْتَهْزِئِينَ: دا آیت دلیل دے چه د محمد رسول الله ﷺ یا د هغهٔ د سنتو پورې توقې کول سبب د هلاکت دے.

او پدے کښې یوه اشاره ده او هغه دا چه یو تن کافروی نو الله ورته صبر کوی او چه کله د رسول الله ﷺ یا د هغهٔ د سنتو پسې توقې شروع کړی نو الله ئې زر راګیروی، په هغه زمانه کښې استهزاء کونکی د نورو کافرانو په موجودګئ کښې زر هلاك شو.

او زمونږ په زمانه کښې چه څوك د سنتو پورې توقې کوی نو الله تعالیٰ یا په ښځو یا په لواطت شرمولی دی، یا ئې پرې ګاړې اړولې دې، اُوړئ اخستې دې، یا مقتدیانو وهلی او په شرم ئې شړلی دی، الله تعالیٰ ذلیله کړیدی او پدے باندې ډیر د هر مسلمان تجربه ګواه ده.

الَّذِينَ يَجْعَلُونَ: پدے کښې یو قسم تسلی هم ده چه اے زما نبی! مهٔ خفه کیږه څکه چه دے مجرمانو زما بی ادبی هم کړیده ما سره ئې شریکان جوړ کړیدی، زهٔ به ورسره ګورم.

وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ: الله تعالیٰ نبی ﷺ ته خبر ورکړیدے چه د قریش کافرانو د استهزاء (توقو والا) خبرو سره چه تا ته کوم تکلیف رسیږی ددے نه مونږ خبر یو.

رسول الله ﷺ اګر که ټول کارونه الله ته سپارل مګر بیا هم د هغهٔ د خلکو په خبرو زړه

تنګیدو ځکه چه دا د انساني فطرت تقاضا ده۔ لیکن ته د صبر نه کار واخله، او د الله تعالیٰ په پاکۍ او حمدونو بیانولو کښې مشغول شه او مونځونه کوه، نو ستا غم به آسانیږي، او ذهني تکلیف به کمیږي۔ دارنګه د الله مدد به راځي۔

او بله دا چه همدا د آخرت دپاره تیارے دے۔ الله تعالیٰ په سورة البقره آیت (٤٥) کښې فرمایلي دي: ﴿وَاسْتَعِينُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ﴾ چه ته د صبر او مانځه په ذریعه د الله نه مدد وغواړه)۔

او سورة الرعد آیت (٢٨) کښې فرمایلي دي: ﴿اَلَا بِذِكْرِ اللهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ﴾ چه (خبر شه چه د الله په یاد سره زړونو ته اطمینان رسیږي)۔

دا آیت دلیل دے چه د مجرمانو د خبرو علاج په عبادت کښې دے۔ پدے عباداتو کښې د دعوت فائده هم ده او د انسان خپله فائده هم۔

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ: په قرآن کښې ددے دوه مصداقه وي۔

(١) یو ترے مونځ مراد وي۔ (وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا)۔ (طه: ١٣٠)

(٢) دویم ترے اذکار شرعیه مراد دي۔ دلته دواړه مراد دي۔ او د سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ نه دعوت نهٔ وي مراد۔

وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَأْتِيَكَ الْيَقِيْنُ: د یقین نه مراد مرګ دے ځکه چه ددے په راتللو سره هر شك زائل کیږي۔ / او د مرګ راتلل یقیني دي۔

او د عبادت وخت ئے تر مرګه پورے وخودلو۔ ابو حیانؒ او حافظ ابن کثیرؒ وائي چه دا آیت کریمه پدے خبره باندے دلیل دے چه مونځ او نور عبادتونه په انسان باندے تر هغه وخت پورے واجب دي ترڅو پورے چه د هغهٔ عقل کار کوي۔

او پدے سره د ملحدینو ددے رائے رد هم کیږي چه د یقین نه مراد معرفت دے، دوي وائي کله چه یو بنده د معرفت مقام ته ورسیږي نو تمام عبادات او اعمال د هغه نه ساقطیږي۔ دا کفر او ضلالت او جهالت دے۔ ځکه چه انبیاء کرام (علیهم السلام) او د هغوي صحابه کرامؓ د الله تعالیٰ مقام د ټولو انسانانو نه زیات پیژندلو، او د هغهٔ د حقوقو او صفاتو معرفت د تمامو خلقو په نسبت دوي ته زیات حاصل وو، ددے سره سره دوي د تمامو خلقو نه زیات د الله تعالیٰ عبادت کولو، او د ژوند د آخري وختونو پورے به ئے د نیکو کارونو پابندي کوله۔

حَتّٰى يَأْتِيَكَ الْيَقِيْنُ: پدے کښې اشاره ده چه عبادتونه به په ټول ژوند کښې کولے شي او د

ژوند هیڅ وخت به د عبادت نه نهٔ خالي کوے۔ پدے وجه امام زجاجؔ معنیٰ کوی : عبادت کوه د خپل رب همیشه دپاره ځکه که دلته ئے صرف (وَاعۡبُدۡ رَبَّكَ) وئیلے بغیر د روستو جملے نه نو بیا که یو انسان یو کرت عبادت کړے وے نو هغه به پدے حکم باندے عمل کونکے وے۔ خو کله ئے چه (حَتّٰی یَاۡتِیَكَ الۡیَقِیۡنُ) وویل نو بنده ته ئے حکم وکړو چه په عبادت باندے همیشه دپاره وسیره تر څو پورے چه ژوندے ئے۔ لکه سورة مریم کښې د عیسیٰ ؑ په بیان کښې فرمائی ﴿وَاَوۡصَانِیۡ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّکٰوةِ مَا دُمۡتُ حَیًّا﴾۔ (مریم : ۳۱)

(او ماته ئے وصیت (حکم) کړیدے په مانځه کولو او زکاة ورکولو ترڅو چه زهٔ ژوندے یم)

والله تعالیٰ اعلم وعلمه احکم۔ اَللّٰهُمَّ وَفِّقۡنَا لِحُسۡنِ عِبَادَتِكَ فِیۡ حَیَاتِنَا وَتَقَبَّلۡهَا مِنَّا وَآتِنَا بِهَا الدَّرَجَاتِ الۡعُلٰی وَالنَّعِیۡمَ الۡمُقِیۡمَ غَیۡرَ خَزَایَا وَلَا مَفۡتُوۡنِیۡنَ۔

امتیازات د سورت حجر

۱- د خوف او رجاء مسئله په کښې وه۔
۲- واقعه د آدم ؑ په بل طرز بیان شویده چه درے کرته پکښې صلصال لفظ ذکر دے۔
۳- د ملائکو آسمان ته ختل پکښې ښکاره ذکر دی۔
٤- د قرآن د حفاظت وعده پکښې ذکر ده۔
۵- د جهنم اُوه دروازے ذکر دی۔
٦- سورتِ فاتحے ته پکښې اَلسَّبۡعُ الۡمَثَانِیۡ وئیل شویدے۔

ختم شو تفسیر د سورت حجر، د الله تعالیٰ په ښائسته توفیق سره۔ تاریخ :
1436/جمادی الاولی 27۔ الموافق : 2015-3-18۔

بسم الله الرحمن الرحیم

آیاتها (۱۲۸)	(۱٦) **سورة النحل مکیة** (۷۰)	رکوعاتها (۱٦)

سورة النحل مکی دے، پدے کښې یوسل اته ویشت آیتونه او شپاړس رکوع دی۔

تفسیر سورة النحل :

نوم : ۱- ددے نوم د آیت (٦٨) نه اخستے شویدے چه د شاتو مچئ ذکر پکښې راغلے دے چه د الله تعالیٰ په عجیب قدرت او د بندګانو په نعمت باندے دلالت کوی۔

۲- د علی بن زید (تابعیؒ) نه نقل دی چه ددے سورت بل نوم دے : سُوْرَةُ النِّعَمِ۔ (یعنی د نعمتونو سورت) ځکه چه د الله تعالیٰ د زیات نعمتونو تذکره پکښې راغلے ده۔

(زاد المسیر ٤/٤٢٥)

او پدے نعمتونو ذکر کولو کښې الله تعالیٰ د بندګانو نه د اسلام مطالبه کوی چه د الله تعالیٰ حکمونو ته تسلیم شی او د هغه حکمونو ته تیار شی۔ دا وجه ده چه پدے سورت کښې د اسلام لفظ ډیر تکرار پری الله فرمائی : ﴿لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ﴾ (٨١ آیت) دا نعمتونه مے دربانديے ددے دپاره وکړل چه تاسو اسلام راوړئ۔ او اسلام په دوه قسمه دے، اختیاری او بل اضطراری۔ نو په اختیار اسلام راوړل قابل قبول دی، او اضطراری اسلام قبول نۀ دے او هغه په دوه وختونو کښې خلك راوړی، یو چه کله د مرګ وخت راشی ﴿اَلَّذِيْنَ تَتَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ فَاَلْقَوُا السَّلَمَ﴾ (٢٨ آیت) دویم په (٨٧) آیت کښې دی چه د قیامت په ورځ به دا مجرمان بندګان الله تعالیٰ ته غاړه کیږدی۔ ﴿وَاَلْقَوْا اِلَى اللّٰهِ يَوْمَئِذِ السَّلَمَ﴾

لیکن ددے دواړو وختونو اسلام راوړل د الله خوښ نۀ دی۔ او په خپل اختیار باندے اسلام راوړونکو دپاره الله تعالیٰ دا کتاب هم رالیږلے دے لکه روستو به وائی ﴿لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ﴾۔ (آیت : ۱۰۲)

او دلته د اسلام نه مراد د ایمان نه لاندے مرتبه نۀ ده بلکه مطلق غاړه کیخودل مراد دی۔ دا وجه ده چه دلته ئے (وَبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ) وئیلے دے۔ او په سورة البقره کښې ئے ﴿وَبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ﴾ وئیلے دے۔ او سورة البقره کښې ایمان ته دعوت دے او د ایمان فوائد او د هغے د پریخودو ضررونه بیانیږی نو د هر سورت د موضوع سره مناسب لفظ ذکر کیږی۔

د نزول زمانه : د حسنؒ، عکرمهؒ، عطاءؒ او جابر بن عبد الله ﷺ په نیز ټول سورت مکی دے۔ د ابن عباسؓ او ابو الزبیرؓ په نیز دریے آیتونو نه سوئ ټول سورت مکی دے۔ هغه آیتونه دا دی : آیت (۹۵) ﴿ وَلَا تَشْتَرُوْا بِعَهْدِ اللهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا ﴾ نه تر ﴿ يَعْمَلُوْنَ ﴾ پورے۔

د قتادهؒ په نیز پنځه آیتونو (۱۱۰/۱۲٦/۱۲۷/۱۲۸/٤۱) نه سِوئ ټول سورت مکی دے۔ اول قول غوره دے۔

فضیلت د سورت

سیدنا عمر فاروق ﷺ به پدے سورت سره د جُمعے خطبے کولے، ځکه چه پدے سورت کښې د الله تعالیٰ د نعمتونو ذکر دے او د شرك رد دے پکښې۔

ﷺ ددے سورت د فضائلو او کمالاتو نه دا ده چه څوك دا سورت په تدبر سره ووائی نو یقین ئے مضبوطیږی او د دهریت او د کمیونستئ د عقیدے نه بچ کیږی ځکه چه سورت کښې داسے زور عقلی خبرے او دلیلونه او نعمتونه دی چه انسان ته الله تعالیٰ مخامخ ورښائی۔

مناسبت

۱- مخکښې د عذاب نازلیدل ذکر شو نو دلته د عذاب د دفع کولو اسباب بیانیږی چه توحید قبول کړئ او شرك مهٔ کوئ۔

۲- مخکښې بیان د عذاب وو او دا چه د رسول پورے استهزاء مهٔ کوئ نو دلته د توحید متعلق خبره کوی۔ او قرآن کښې ډیر کرته رسالت او توحید شریك بیانیږی۔

۳- مخکښې ئے د توحید منکرینو ته یره ورکړه نو پدے سورت کښې ردے په باطل عذر د مشرکانو۔

٤- مخکښې سورت کښې په عذاب سره تخویف ذکر وو نو اُوس د هغه عذاب سبب ذکر کوی چه هغه شرك دے۔

موضوع د سورت

دا سورت په دوه موضوع ګانو او د هغے په متعلقاتو روان دے (۱) اَلرَّدُّ عَلَى الشِّرْكِ بِجَمِيْعِ اَنْوَاعِهٖ۔ د شرك په ټولو اقسامو باندے رد کول دی لکه د سورة انعام په شان۔

لکه اول آیت کښې دی ﴿ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴾ پدے وجه به د مشرکانو عقیدے رانقل کوی او رد به پرے کوی۔

بیا فرمائی : ﴿ اِلٰـهُكُمْ اِلٰـهٌ وَّاحِدٌ ﴾ (۲۲) آیت، بیا په (۲۷) آیت کښې فرمائی چه مشرکانو نه به الله تعالیٰ د قیامت په ورځ تپوس کوی چه زما شریکان اُوس چرته دی؟۔
په (۳٤) آیت کښې د مشرکانو دلیل ذکر کوی چه شرك مونږ د الله تعالیٰ په اجازه سره کوو۔ الله تعالیٰ پرې رد کوی، بیا په (۵۱) آیت کښې فرمائی : ﴿ لَا تَتَّخِذُوْٓا اِلٰـهَيْنِ اثْنَيْنِ ﴾ بیا په شرك د مشرکانو رد دے په (۵٤) آیت کښې چه نعمت الله ورکړی او بیا د الله سره شرك کوی۔ بیا په (۵٦/ ۵۷) ﴿ وَيَجْعَلُوْنَ لِمَا لَا يَعْلَمُوْنَ نَصِيْبًا ﴾ کښې فرمائی چه رزقونه الله ورکړیدی او دوی پکښې د غیر الله دپاره برخه جوړه کړیده۔ بیا په (٦۲) آیت کښې په شرك رد دے۔ بیا ئے د شرك د رد دپاره درے مثالونه راوړیدی په (۷٤/۷۳/۷۱) آیتونو کښې۔ بیا په (۸۲) آیت کښې په قیامت کښې د مشرکانو د خپلو معبودانو سره جګړه بیانوی۔
بیا ددے موضوع د متعلقاتو نه دا خبره کوی چه په شرك باندے د خلکو د ډیر والی نه مهٔ متأثره کیږه بلکه توحید چه ډے قبول کړو او د الله سره ډے وعده وکړه نو مضبوط شه لکه په (۹۱) آیت کښې ئے تشریح راځی ان شاء الله تعالیٰ۔
او په آخر د سورت کښې ﴿ فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ ﴾ بیانوی چه د ځان نه تحریمات مهٔ جوړوئ۔
او په (۱۲۰) آیت کښې فرمائی : ﴿وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ﴾۔
بیا ئے (۱۲۵) کښې د شرك علاج ذکر کړیدے چه هغه په حکمة او وعظ سره دعوت کول دی۔
بیا په رد د شرك کښې ئے دوه طریقے اختیار کړیدی یو (بَيَانُ مَعْرِفَةِ اللّٰهِ وَعَظْمَتِهٖ) د الله تعالیٰ د پیژندګلیٔ او د هغه د عظمت دلیلونه ئے بیان کړیدی ځکه چه څوك الله تعالیٰ لره وپیژنی بیا ورسره شرك نهٔ کوی۔ او پنځه ویشت قسمه دلیلونه ئے بیان کړیدی د الله د عظمت او د شرك د رد دپاره۔
دویم : بَيَانُ ضُعْفِ الْمَعْبُوْدِيْنَ ۔ د مشرکانو د باطلو معبودانو ضعف او کمزورتیا به بیانوی چه (عَبْدًا مَّمْلُوْكًا) دا خو هسے غلامان دی چه په هیڅ قادر نهٔ دی۔
او دا د شرك د رد دپاره ډیره ښه طریقه ده چه د الله عظمت د بندګانو په زړونو کښې کینوه او بیا د باطلو معبودانو عجز بیان کړه۔
(۲) موضوع : بَيَانُ اِثْبَاتِ الْآخِرَةِ : د آخرت اثبات بیانول لکه په اول کښې دا دواړه موضوع ګانے ذکر دی۔ (اَتٰى اَمْرُ اللّٰهِ) : یعنی یوه درنه ورځ راروانه ده چه په هغه ورځ به د بندګانو سره حسابونه کیږی، نو غټ تباه مشرك دے، ځکه چه د شرك او د قیامت

مناسبت دے لکه روستو (۲۲) آیت کښې به راشي ﴿ فَالَّذِيْنَ لَايُؤْمِنُوْنَ بِالْآخِرَةِ قُلُوْبُهُمْ مُنْكِرَةٌ ﴾ ځوك چه آخرت نهٔ مني د هغوی زړونه انکار کوي د توحید د الله تعالیٰ نه او ضد کوي. نو پدے سورت کښې به په اول او په مینځ او په آخر کښې د قیامت تذکرے هم کوي.

او داسے هم وئیلے شي چه رد د شرك ئے په بله طریقه داسے کړیدے چه د آخرت د ورځے په راتللو سره ئے مشرکان یرولي دي چه د دوی به په هغے کښې ډیر بد حال وي، او د دوی سره به په شرك باندے سخت حساب کیږي.

اجمالي خلاصه

اول کښې دواړه موضوع گانے ذکر دي، بیا د قرآن تذکره ده، بیا ئے ډیر عقلي دلیلونه ذکر کړیدي چه دا نعمتونه دي په بندگانو باندے. او د الله تعالیٰ د عظمت او د هغه د توحید دلیلونه هم دي تر (۱٦) آیت پورے، بیا ئے په شرك رد کړیدے بیا ئے د الله د علم تذکره کړیده بیا په شرك رد دے، بیا د شرك وجه ئے بیان کړیده چه مشرك آخرت نهٔ مني ځکه شرك کوي. بیا د مشرکانو نظریات رانقل کوي او په هغے ردونه کوي په ﴿ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ ﴾ کښې.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَتٰى اَمْرُ اللهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ سُبْحَانَهٗ
راغے حکم د الله تعالیٰ نو جلتي پرے مهٔ کوئ، پاك دے الله تعالیٰ
وَتَعَالٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۱﴾
او اُوچت دے د هغے نه چه دوی ورسره شریکان جوړوي.

تفسیر: د مکے مشرکانو به د نبي کریم ﷺ نه د قیامت په راتللو یا د دوی په هلاك کولو ډیره جلتي کوله او پدے سره ئے مقصد د هغه پورے توقے کول او د قیامت تکذیب کول وو لکه چه الله تعالیٰ په سورة الانفال آیت (۳۲) کښې د نضر بن حارث قول نقل کړیدے: ﴿ اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝ ﴾ نو دیو څو کلونو روستو دوی د بدر په میدان کښې قتل شو او جهنم ته اُورسیدل. پدے آیتِ کریمه کښې داسے کافرانو ته وئیل شویدي چه تاسو سره د کوم قیامت وعده شویده د هغے واقع کیدل یو یقیني کار دے چه گویا که هغه راغلے دے، پدے وجه تاسو له د هغے د جلت راتلو تمنا کول نهٔ دي پکار. کله چه به هغه راشي نو د الله دردناك

عذاب به تاسو په خپله ګیره کښې واخلي او تاسو به هیچرې ددې نه ځان نشئ خلاصولے۔
أَتٰى : قرآن کریم کښې د قیامت متعلق غالباً د مضارع په ځای ماضی استعمالیږی پدے کښې یقیني واقع کیدو ته اشاره ده۔ لکه یو شے چه یقیني راروان وی د هغے په باره کښې خلك داسے وائی چه دا فلانے شے راغلے دے، راغلے ئے واخله۔
نو د قیامت راتلل هم یقیني دی ځکه چه عقلي او نقلي دلیلونه پرے موجود دی۔
د أَمْرُ اللّٰهِ نه مراد یا خو قیامت دے۔ یا ترے دنیاوی عذاب دے۔
پدے کښې داسے تفسیر کول چه د امر الله نه مراد مسئله د توحید ده او د فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ معنیٰ دا چه ددے په انکار باندے جلتي مهٔ کویٔ دا قرآن کریم د خپل ظاهر نه اَړول دی۔
او هرکله چه دا آیت نازل شو نو رسول الله ﷺ وفرمایل :
[بُعِثْتُ اَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ وَيُشِيْرُ بِاِصْبَعَيْهِ يَمُدُّهُمَا] زهٔ او قیامت داسے رالیږلے شوی یو لکه دا دواړه ګوتے، او دواړو ګوتو ته ئے د هغے په اُوږدوالي اشاره وکړه۔
(بخاری فی الرقاق باب : ۳۹ والطلاق باب ۲۵، ومسلم فی الحمعة حدیث : ۴۳)۔
سُبْحَانَهٗ : مشرکان د خپلو باطلو معبودانو په محبت کښې پریوتي وو، او هغه به ئے د الله تعالیٰ سره شریکان جوړول او د هغے په وجه به ئے په قیامت کښې د الله تعالیٰ مخے ته د حاضریدو نه انکار کولو نو الله تعالیٰ د هغوی نه پدے جمله کښې خپله بیزاری او استغناء اعلان کړه۔ او ددے جملے ربط د مخکښې سره دا هم دے چه مشرکان خو قیامت نهٔ مني او دنیا کښې مشغول دی لیکن قیامت راروان دے د دوی سره به سخت حساب کیږی ځکه چه دوی د الله تعالیٰ حقوق برباد کړیدی۔ دارنګه قیامت راغلو نو قیامت کښې به کوم خلك نجات والا وی؟ نو الله فرمائی : چه مشرکان خو د الله د عذاب نه نشي خلاصیدے۔

يُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ بِالرُّوْحِ مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ

نازلوی ملائك په وحی سره د حکم خپل نه په هغه چا چه اُوغواړی د بندګانو خپلو نه

اَنْ اَنْذِرُوْٓا اَنَّهٗ لَآ اِلٰـهَ اِلَّآ اَنَا فَاتَّقُوْنِ ﴿۲﴾

چه یره ورکړئ پدے خبره چه نشته حقدار د بندګئ سویٰ زما نه نو اُویریږئ ما نه۔

تفسیر : مشرکانو به د رسول الله ﷺ نبوت ناشنا ګنړلو نو د هغے د تردید دپاره دا آیت نازل شو، او پدے کښې د وحی عظمت او مقصد ذکر دے۔

یعنی الله تعالیٰ جبریل علیه السلام ته وحی ورکوی او په چا چه د خپلو بندګانو نه غواړی هغه ته ئے ورلیږی ددے مقصد دپاره چه انسانان ویروی او هغوی ته ووائی چه د الله تعالیٰ نه سویٰ هیڅوك لائق د عبادت نشته او صرف د هغه نه یره وکړئ۔

ربط ددے د ماقبل سره دا دے چه هرکله رسول الله ﷺ دوی ته د الله د طرفنه خبر ورکړو چه د هغه امر (قیامت) راغے، او په هغے باندے د جلتی کولو نه ئے منع کړو، نو د دوی شك پیدا شو چه دے شخص ته به په کومه طریقه دا خبره معلومه شوی وی، نو دا شك ئے زائله کړو چه دا په وحی سره معلوم شو۔ او دغه شان وحی الله تعالیٰ بعض بندګانو (انبیاء علیهم السلام) ته کوی۔ (فتح البیان)

اَلْمَلٰٓئِكَةَ : د ملائکة نه مراد جبریل علیه السلام دے او هغه دپاره ئے د جمع لفظ ذکر کړو دپاره د تعظیم د هغهٔ۔

بِالرُّوْحِ : عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی : د روح نه مراد وحی ده، او دا داسے دے لکه (یُلْقِی الرُّوْحَ مِنْ اَمْرِهٖ) (حم المؤمن : ۱۵) په شان۔ او وحی ته روح ځکه وائی چه پدے سره د مؤمنانو زړونه ژوندی کیږی، او د دغه وحی نه قرآن کریم هم دے، او دا په دین کښ داسے دے لکه روح په بدن کښ۔ (قاله الحسنؒ)

نو په روح سره ئے د وحی نه تعبیر وکړو ځکه چه په روح سره بدن ژوندے کیږی، او په وحی سره زړونه د جهالتونو نه ژوندی کیږی۔

ځینی وائی : د روح نه مراد هدایت دے چه پدے سره زړونه ژوندی کیږی لکه بدنونه په روحونو سره۔ ابوعبیدهؒ وائی : روح نه مراد جبریل علیه السلام دے او باء په معنیٰ د مَعَ سره دے۔ یعنی ملائك د جبریل علیه السلام سره یوځای رالیږی۔

مِنْ اَمْرِهٖ : مِنْ بیانیه دے یعنی نَاشِئًا وَمُبْتَدِئًا مِنْ اَمْرِهٖ ۔ یعنی دا وحی د الله د امر نه راپیدا شویده۔ یا صفت د روح دے۔ یا متعلق دے د (یُنَزِّلُ) پورے۔

عَلٰی مَنْ یَّشَآءُ : یعنی په هغه چا چه د نبوت او رسالت دپاره ئے غوره کوی۔

اَنْ اَنْذِرُوْا : دا مقصد د رالیږلو د وحی دے۔ انذار دلته په معنیٰ د اعلام سره دے۔ یعنی خبر ورکړئ۔ اَنْ تفسیریه دے یا اَنْ مصدریه دے۔

لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنَا : یعنی دوی ته زما په توحید باندے حکم وکړئ او خبر ورکړئ سره د یرولو د دوی نه ځکه چه په انذار کښ اعلام مع التخویف (خبردارے سره د یرے نه) وی۔

فَاتَّقُوْنِ : لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنَا کښ توحید ذکر شو او په (فَاتَّقُوْنِ) کښ احکام دی، او په وحی کښ

دا دواړه خبرے ذکر کیږی۔ نو په توحید باندے دلیل وحی بیان شو چه ټول کُتُب مُنَزَّلَه د توحید دپاره راغلی دی۔ اُوس عقلی دلیلونه شروع کوی۔

خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ تَعَالٰى عَمَّا

پیدا کړی ئے دی آسمانونه او زمکه د حق ښکاره کولو دپاره، اُوچت دے د هغے نه

يُشْرِكُوْنَ ﴿٣﴾ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ

چه دوی ورسره شریك جوړوی۔ پیدا کړے ئے دے انسان د نطفے نه نو نا څاپه دا

خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ﴿٤﴾ وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيْهَا

جګړه کونکے ښکاره دے۔ او چارپیان پیدا کړیدی الله تعالیٰ، تاسو لره پدے کښ

دِفْءٌ وَّمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُوْنَ ﴿٥﴾ وَلَكُمْ فِيْهَا جَمَالٌ

سامان د ګرمیدو دے او بعض ددے نه تاسو خورئ۔ او تاسو لره پدے کښ ښائست دے

حِيْنَ تُرِيْحُوْنَ وَحِيْنَ تَسْرَحُوْنَ ﴿٦﴾

کله ئے چه ماښام کښ راولئ او کله ئے چه صبا وخت کښ صحرا ته بوځئ۔

وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلٰى بَلَدٍ لَّمْ تَكُوْنُوْا بَالِغِيْهِ إِلَّا

او پورته کوی بوجونه ستاسو داسے ښار ته چه نۀ ئے تاسو رسیدونکی هغے ته مګر

بِشِقِّ الْأَنْفُسِ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَؤُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿٧﴾

په مشقت د نفسونو سره یقیناً رب ستاسو خامخا شفقت کونکے رحم کونکے دے۔

وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيْرَ لِتَرْكَبُوْهَا

(او پیدا کړی ئے دی) آسونه او قچرے او خرۀ دے دپاره چه سورلی اُوکړئ په هغے باندے

وَزِيْنَةً ۚ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٨﴾

او دپاره د ډول او پیدا کوی هغه څه چه تاسو ئے نۀ پیژنئ۔

تفسیر: هر کله ئے چه توحید ذکر کړو نو اُوس په توحید باندے دلیلونه بیانوی چه دا نعمتونه هم دی، دا ددے دپاره بیانیږی چه بندګان د الله تعالیٰ په وحدانیت اقرار وکړی او

بیا د هغه په بندګۍ کښې مصروف شي او د دغه نعمتونو شکریه ادا کړي. ځکه چه دا ځیزونه د الله تعالیٰ نه سِویٰ بل هیچا نهٔ دي پیدا کړي نو یقیناً د هغهٔ هیڅوك شریك نشته او عبادت هم صرف د هغهٔ پکار دے.

خَلَقَ الْإِنْسَانَ : هغه آسمانونه او زمکه او اشرف المخلوقات انسان د یو سپکے قطرے نه ددے دپاره پیدا کړیدے چه دا ټول د هغهٔ په قدرت او وحدانیت باندے دلالت وکړي، لیکن دا انسان د غټیدو نه روستو د خپل پیداکونکی په مخالفت باندے راپورته کیږي او د هغهٔ د وحدانیت نه انکار کوي، او د هغهٔ د رسولانو مقابله کښې لګیا وي، حال دا چه هغه دا ددے دپاره پیدا کړے وو چه د هغهٔ مخلص او مطیع بنده جوړ شي.

الله تعالیٰ د انسانانو د فائدے دپاره څاروی پیدا کړیدي چه د هغې د ویښتو او وړیٔ نه بنده کپړه تیاروي او د یخنئ نه پرے بچ کیږي، د هغوی نه پیٔ څکي، په هغې باندے سورلي کوي، د هغې غوښه خوري، او د خپل فطرت مطابق دا څاروی په خپل ملکیت کښې کتلو سره خوشحالیږي چه ددهٔ سره دا مال هم شته.

خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ : جګړه ئے دا ده چه مخلوق د الله تعالیٰ سره شریکان جوړوي او د قیامت د راتللو نه انکار کوي، او د هغهٔ رسولان نهٔ مني.

وَالْأَنْعَامَ : مخکښې د انسان او د هغه دپاره د ځای پیدائش ذکر شو نو اُوس هغه ځیزونه ذکر کوي چه انسان ورته په ژوند تیرولو کښې محتاج دے. او دا دریم عقلي دلیل دے.

دِفْءٌ : ۱- سامان د ګرمائش لکه وړیٔ، ویښته، څرمنے وغیره.

۲- دِفْءُ الثِّيَابِ. ګرمے جامے، څادرونه. (ابن عباسؓ) (فتح)

وَمَنَافِعُ : یعنی فائدے د خوراکونو او څکاکونو لکه پیٔ شو، او سورلي او بچي راوړل او کرونده پرے کول وغیره.

وَلَكُمْ فِيْهَا جَمَالٌ: دا څلورم عقلي دلیل دے. یعنی تاسو چه کله څاروی صحراء ته بوځئ او بیرته ئے ماښام کښې راولئ نو ښائسته ښکاره کیږي چه ددے په خوند باندے شپونکیان پوهیږي، او ماښام کښې چه څاروی کورته راوستلے شي نو ماړه شوی وي په خوراك او څکاك سره نو خائست په کښې زیات وي نو ددے وجه نه ئے (تُرِيْحُوْنَ) مخکښې ذکر کړیدے.

تُرِيْحُوْنَ : اَیْ تَرُدُّوْنَهَا فِي الرَّوَاحِ. یعنی ماښام کښې ئے واپس راولئ.

تَسْرَحُوْنَ : یعنی سهار وخت کښې ئے د څرولو دپاره بوځئ.

وَتَحۡمِلُ أَثۡقَالَكُمۡ : دا پنځم عقلي دليل دے۔ يعني په اُوښانو باندے بوجونه او بارونه باروئ او داسے ښارونو ته ئے منتقل کوئ چه د هغے نه بغير خپل سامان نشي منتقل کولے، خپل ځان انسان هغے ته نشي بوتللے مګر په ډير تکليف او مشقت سره پاتے لا چه سامان ورسره وی۔

بِشِقِّ الۡأَنفُسِ : شق په معنیٰ د مشقت سره دے۔ او شق کله په معنیٰ د نصف (نیمائی) سره استعماليږی۔ نو معنیٰ به دا وی چه تاسو هغے ښارونو ته نشئ رسيدلے مګر په ختميدو د نيمائي نفسونو ستاسو د سترې والي د وجه نه ۓ (معنیٰ دا ده : په نيمائي کيدو د نفسونو ستاسو)

لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ : يعني داسے حيوانات د بار وړلو دپاره پيدا کول د الله تعالیٰ شفقت او رحمت دے په بندګانو باندے۔

وَالۡخَيۡلَ وَالۡبِغَالَ : دا شپږم دليل دے او په دے کښې ئے د درے قسمه حيواناتو دوه فائدے ذکر کړيدی۔ يعني الله اَسونه، قچرے او خرۂ پيدا کړيدی چه دا انسان د سورلئ په توګه استعمالوی، او ددے حيواناتو په موجودګئ سره د انسان په دنياوی زينت او ښائست کښې هم اضافه کيږی۔ دا سبب د زينت دے لکه څوك چه په اس، قچر باندے سور وی ښائسته ښکاره کيږی۔ او دا دليل دے چه په دنيا څيزونو سره زينت حاصلول کله چه د شرعي حدودو د لاندے وی جائز دی۔ او دلته ئے خوراك نۀ دے ذکر کړے ځکه چه د خر او قچر خوړل بالاتفاق حرام دی۔

آيا اسونه حلال دی؟

او هرچه اسونه دی نو په هغے کښې اختلاف دے (۱) مالك، ابوحنيفهؒ او ددے دواړو اصحابو او اوزاعیؒ او مجاهدؒ وغيره ددے آيت نه دليل نيولو سره وئيلی دی چه د قچر او خرو په شان د اسونو غوښه هم حرام ده ځکه چه الله تعالیٰ ددے درے واړو څيزونو منفعت صرف سورلی کول خودلی دی، او په دے وجه هم چه ددے ذکرئے د حلال حيواناتو نه جدا کړيدے۔ که ددے غوښه خوړل جائز وے نو د نورو چارپيانو نه به ددے ذکر نۀ جدا کيدے،

(۲) ليکن د جمهورو محدثينو او فقهاؤ په نيز د اس غوښه حلاله ده، دوی وائی چه په دے آيت کښې ددے منافعو نه د سورلئ ذکر کول ددے د غوښے د حلت منافی نۀ دی۔ او دلته ئے اکثری فائده ددے حيواناتو ذکر کړيده، نو د اَسونو نه زياته فائده د سورلئ اخستے کيږی،

خوراك ئے كم وو پدے وجه ئے د هغے خوراك ذكر نكړو، او بل پدے وجه هم چه د خرو او قچرو ذكر ورسره نزدے شويدے۔ او د صحيح احاديثو نه ددے حلت ثابت دے، بخاري او مسلم د اسماء رضى الله عنها نه روايت كړيدے چه [نَحَرْنَا عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَرَسًا فَأَكَلْنَاهُ] مونږ د رسول الله ﷺ په زمانه كښ يو آس ذبح كړو او د هغے غوښه مو وخوړله)۔
(بخارى فى الذبائح باب ٢٧، رقم (٥٥١٠) ومسلم فى الصيد حديث ٣٨ باب فى اكل لحوم الخيل ٦)

او ترمذيؒ او نسائيؒ وغيره د جابر ﷺ نه روايت كړيدے
[أَطْعَمَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لُحُوْمَ الْخَيْلِ وَنَهَانَا عَنْ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ] چه رسول الله ﷺ په مونږ باندے د اس غوښه وخوړله او د كورنو خرو د غوښے نه ئے منع كړو۔
(بخاري (٥٥٢٠) ترمذى فى الصيد باب ٩، ابوداود فى الاطعمه باب ٢٥)

او بخاريؒ او مسلمؒ د جابر ﷺ نه روايت كړيدے [نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُوْمِ الْحَمِيْرِ الْأَهْلِيَّةِ وَأَذِنَ فِيْ لُحُوْمِ الْخَيْلِ] چه رسول الله ﷺ مونږ د كورنو خرو د غوښے نه منع كړو او د اس د غوښے اجازت ئے راكړو۔ ۔
(بخارى الذبائح باب ٢٨، (٥٥٢٠) ومسلم فى الصيد حديث ٣٧،٣٦)

دارنګه كه پدے آيت سره د اسونو د غوښے حراموالے ثابتيږى نو بيا به د كورنى خرو حراموالے هم ثابتيږى، نو بيا د خيبر د غزا په موقعه رسول الله ﷺ ولے ددے نوے حراموالے بيان كړو۔ او حال دا چه دا سورت خو مكى دے۔

بله دا چه كله يوه مسئله په صحيح حديث كښ ثابته شى نو د هغے په خلاف مجمل استدلال كول صحيح نه وى۔

وَزِيْنَةً : دا په محل د (لِتَرْكَبُوْهَا) باندے عطف دے او د هغے محل نصب دے ځكه چه هغه د (خَلَقَهَا) دپاره علت دے او دلته ئے (لِتَتَزَيَّنُوْا بِهَا) ونه ويل چه د (لِتَرْكَبُوْهَا) سره موافق شوے وے ؟ وجه دا ده چه سورلى كار د مخاطبينو دے او زينت فعل د الله تعالىٰ دے چه پدے كښ ئے زينت اچولے دے۔ يا وجه دا ده چه ركوب (سورلى) اصلى مقصود دے، او زينت دومره اهم نه دے د اُوچتو همتونو والو په نيز باندے ځكه چه دا عُجب (خود پسندي) پيدا كوى۔ (فتح البيان)

وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ : پدے كښ جديد سائنسى آلاتو پيدا كولو ته اشاره ده، جهازونه، ريل ګاړى، موټرے، كمپيوټرے، موبائلے او نور به هم ډير څه پيدا شى۔

دارنګه پدے كښ د حشراتو او حيواناتو اقسامو ته اشاره ده چه په لاندے زمكه كښ وى

یا په دریابونو کښې وی چه انسانانو نهٔ هغه لیدلی دی او نهٔ ئے آوریدلی دی۔

وَعَلَى اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِيْلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ وَلَوْ
او خاص په الله باندے بیانول د نیغے لارې دی او بعض ددے لارو نه کږے دی او که
شَآءَ لَهَدٰكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۹﴾ هُوَ الَّذِیْ
الله غوختلے خامخا هدایت به ئے کړے وے تاسو ټولو ته۔ الله هغه ذات دے
اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً لَّكُمْ مِّنْهُ شَرَابٌ وَّمِنْهُ شَجَرٌ
چه نازل کړی ئے دی د آسمان نه اوبه تاسو لره، د هغے نه څکل دی او د هغے نه ونے (پیدا
فِيْهِ تُسِيْمُوْنَ ﴿۱۰﴾ يُنْۢبِتُ لَكُمْ بِهِ
کیږی) چه په هغے کښې تاسو څرویٔ (څاروو لره)۔ رازرغونوی تاسو لره په هغے سره
الزَّرْعَ وَالزَّيْتُوْنَ وَالنَّخِيْلَ وَالْاَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ
فصلونه او ښونه او کجورے او انګور او د هر قسم میوو نه یقیناً پدے کښې
لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۱۱﴾
خامخا دلیل شته دپاره د قوم چه فکر کوی۔

تفسیر : د الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندے د ذکر شوی تمام احساناتو نه لوئی احسان دا دے چه هغه نیغه لاره (یعنی دین اسلام) د دوی دپاره بیان کړیده چه په هغے باندے روانیدو سره د هغه رضا حاصلولے شی، او د هغه د عذاب او سزا نه بچ کیدے شی۔

دے نه سویٔ چه څو مره هم دینونه او مذهبونه دی اګرکه هغه یهودیت وی یا نصرانیت، یا مجوسیت وی یا هندوازم، ټول په ټوله د نیغے لارے نه اوړیدلی دی، په هغے باندے تللو سره د الله رضا نشی حاصلیدے۔

په آیت کښې ﴿وَمِنْهَا جَآئِرٌ﴾ نه همدا باطل مذاهب مراد دی۔

وَعَلَى اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِيْلِ : پدے آیت کښې ډیر تفسیرونه دی (۱) غوره تفسیر په کښې د مجاهدؒ دے چه قصد په معنیٰ د برابر سره دے او اضافت د صفت دے موصوف ته۔ (اَیْ طَرِيْقُ الْحَقِّ عَلَى اللّٰهِ] (یعنی د حق لاره په الله باندے ده)

مطلب دا دے چه څوك په حقه لاره روان شي نو سیده به الله تعالیٰ ته ورسیږي، او دا داسے دے لکه چه مخکښ سورت کښ ذکر شو ﴿هٰذَا صِرَاطٌ عَلَیَّ مُسْتَقِیْمٌ﴾۔ (ابن کثیرؒ)
(۲) یا مضاف حذف دے۔ [اَیْ وَعَلَی اللّٰهِ بَیَانُ السَّبِیْلِ الْمُقْتَصِدِ] یعنی په الله باندے لازم دی چه بندګانو ته به نیغه او درمیانه لاره بیانوی۔ نیغه لاره هغے ته وائی چه مقصد ته رسیدونکی وی او هغه د اسلام لاره ده۔ او د هغے بیان د رسولانو په رالیږلو او د کتابونو په نازلولو او د حجتونو او دلیلونو په قائمولو سره شویدے۔ (القرطبی وفتح والدر المنثور)
وَمِنْهَا جَآئِرٌ : یعنی بعض لارے کږے دی چه الله تعالیٰ ته رسیدو والا نهٔ دی چه هغه د کفر او شرك لارے دی۔
وَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ أَجْمَعِيْنَ : پدے کښ الله تعالیٰ خپل مشیئت او قدرت بیانوی یعنی که الله تعالیٰ غوختلے نو ټول انسانان به ئے په نیغه لاره روان کړی وے، د هغهٔ د قدرت نه دا خبره وړاندے نهٔ وه، لیکن هغه داسے ونهٔ غوختل بلکه د خیر او شر دواړه لارے ئے بیان کړے او انسان ته ئے اختیار ورکړو چه څوك په نیغه لاره روانیږی هغهٔ ته به هغه هدایت کوی او چه څوك ګمراه کیدل غواړی نو هغه به ئے په خپل حال پریدی۔ او پدے کښ امتحان دے۔
هُوَ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ : دا اُوم دلیل دے۔ چه پدے کښ د نباتاتو په ناشنا احوالو باندے دلیل نیولے شویدے۔ یعنی په بندګانو باندے د الله تعالیٰ د قسما قسم احساناتو نه دا هم دے چه هغه د آسمان نه باران نازلوی چه هغه انسان څکی، د هغے په ذریعه پاکی حاصلوی، او د هغے په ذریعه الله تعالیٰ قسم قسم ونے او بوټی زرغونوی، هغه ګیاه ګانے او بوټی د حیواناتو دپاره چراګاه (د څر ځای) ګرځی۔ او د هغے په ذریعه الله تعالیٰ فصلونه او زیتون او کجوراو انګور او قسم قسم میوے او سبزیانے راززرغونوی۔
فِیْهِ تُسِیْمُوْنَ : اَیْ فِی الشَّجَرِ تَرْعَوْنَ مَوَاشِیَکُمْ۔ په ونو کښ تاسو خپل څاروی څره وئ۔
او شجر هر هغه بوټی او ونے ته وائی چه په زمکه راززرغونیږی۔
او ځینی وائی چه شجر هغه دے چه ستهه لری۔
اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ : یعنی د باران پدے طریقه د آسمان نه نازلیدل او د هغے په ذریعه ددے تمامو فوائدو او منافعو حاصلیدل کوم چه مخکښ ذکر شو یقیناً د الله تعالیٰ د وجود او د هغهٔ د قدرت اود هغهٔ د علم او د هغهٔ د حکمت او د هغهٔ د رحمت او د آخرت د اثبات ښکاره دلائل دی۔ او ددے خبرے تقاضا کوی چه صرف د هغهٔ عبادت وکړے شی، لیکن دا تمام دلائل او براهین هغه چا ته فائده ورکوی چه د سوچ اوفکر نه کار اخلی او عبرت

حاصل کړي. کوم خلق چه د چارپيانو په شان ژوند تيروي او د خير او شر ترمينځ د تميز صلاحيت ئے ختم شوے وي هغوی ته پدے دلائلو سره هيڅ فائده نۀ رسيږي.

وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومُ مُسَخَّرَاتٌ
او تابع کړے ئے ده تاسو لره شپه او ورځ او نمر او سپوږمۍ، او ستوري تابع کړے شويدي
بِأَمْرِهِ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿١٢﴾
د حکم د هغۀ، يقيناً پدے کښې خامخا دليلونه شته دپاره د هغه قوم چه عقل لري.
وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُخْتَلِفًا
او (پيدا کړے ئے دي) هغه څه چه خوارۀ کړي ئے دي تاسو لره په زمکه کښې چه مختلف دي
أَلْوَانُهُ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣﴾
رنګونه د هغے يقيناً پدے کښې خامخا دليل شته دپاره د قوم چه نصيحت اخلي.

تفسير : د الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندے دا احسان هم دے چه هغه شپه د آرام او راحت حاصلولو دپاره او ورځ د کوشش او عمل او د معاش طلب کولو دپاره د يو مسلسل او منظم حرکت پابند کړيدي، کله هم د هغے خلاف ورزی نۀ کوی. او نمر او سپوږمۍ هم د هغه د خوښے تابع دي. د نمر نه رنړا او ګرمائش حاصليږي او د سپوږمۍ د رنړا نه د ورځو، مياشتو او کلونو حساب معلوميږي. او ستوري هم د هغه د حکم او ارادے پابند دي، دے دپاره چه ددے په ذريعه په درياب او اُوچه کښې لارے معلومے کړے شي او دا ستوري آسمان د دنيا ته زينت هم ورکوی. د شپے او ورځ او نمر او سپوږمۍ او ستورو تابع کول د الله تعالی د خالقيت او صرف د هغۀ د لائق د عبادت کيدو ښکاره دلائل دي، ليکن دا دلائل هغه چا ته فائده ورکوی چه د خپلو عقلونو نه کار اخلي، او ددے مخلوقاتو په اسرارو (رازونو) او حقائقو کښې سوچ او فکر کوی او د دے خالق ته رسيدو کښې کوشش کوی. کوم خلق چه د چارپيانو په شان دی، يا د ليونو په شان چه خپل عقلونه ئے زائل کړي وي نو هغوی ته پدے دلائلو سره هيڅ فائده نۀ رسيږي.

لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ: هر کله چه دا څيزونه جدا جدا وو نو دے سره ئے آيات جمع ذکر کړه او هر کله چه ددے څيزونو فائدے په عقل سره معلوميږي او ژور فکر ته حاجت نۀ لري نو

پدے وجه ئے دلته يَعْقِلُوْنَ لفظ ذکر کړو۔

وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ : او د الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندے دا احسان هم دے چه هغهٔ په زمکه باندے د دوی د فائدے دپاره ډیر حیوانات او قسم قسم او رنګارنګ بوټی، جمادات او معدنیات پیدا کړیدی چه په هغے کښ قسم قسم منافع او خاصیتونه وی۔ دا عجائب او غرائب د کائناتو په خالق باندے صفا او ښکاره دلائل دی، او د انسانانو نه مطالبه کوی چه هغوی صرف د هغهٔ عبادت وکړی، لیکن دا دلیلونه هغه چا ته فائده ورکوی چه نصیحت حاصل کړی او د خپل رب په نیغه لاره باندے روان شی، د هغه د احکامو پابندی وکړی، او د بدیو او ګناهونو نه ځان بچ کړی، او د هغهٔ د اطاعت او بندګئ په نتیجه کښ د دنیا او د آخرت سعادت او نیکبختی حاصله کړی۔

ذَرَأَ : په معنیٰ د پیدا کولو او خوره ولو سره دے۔ او دا د (سَخَّرَ لَكُمْ) یا د (خَلَقَ) دپاره مفعول دے۔

وَهُوَ الَّذِي سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا مِنْهُ
او الله هغه ذات دے چه تابع کړے ئے دے دریاب دے دپاره چه اُوخورئ تاسو د هغے نه
لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا وَتَرَى الْفُلْكَ
غوښه تازهٔ او راوباسئ د هغے نه ګاڼړهٔ چه اغوندئ تاسو هغه او وینے به ته کشتئ
مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ
اُوبه شلونکی په هغے کښ او دے دپاره چه طلب کړئ تاسو د فضل د الله تعالیٰ نه
وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٤﴾ وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ
او دے دپاره چه تاسو شکر اُوکړئ۔ او اچولی ئے دی په زمکه کښ کلك غرونه
أَنْ تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَارًا وَسُبُلًا لَعَلَّكُمْ
دے دپاره چه ونهٔ خوزیږی په تاسو او نهرونه او لارے ددے دپاره چه تاسو
تَهْتَدُونَ ﴿١٥﴾ وَعَلَامَاتٍ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ﴿١٦﴾
هدایت موندهٔ کړئ۔ او (پیدا کړے ئے دی) نخے او په (قطب) ستوری سره دوی لاره مومی

تفسیر : د اُوچے د نعمتونو نه روستو اُوس د دریاب نعمتونه ذکر کیږی۔ الله تعالیٰ

دریاب داسې مسخر کړې چه پدې کښې ئے غوپه وهل آسان جوړ کړیدی، خلك پرې دپاسه سورلی کولې شي، او ددې نه ښکار او ملغلرې راوباسي۔
او پدې کښې کشتیانې په پوره آسانتیا سره منډې وهي، او انسانان او د هغوی د ژوند ضروریات د یو ځای نه بل ځای ته منتقل کوي۔

لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا : دا دریابونه الله تعالیٰ ددې دپاره تابع کړي چه خلق مختلف ذرائع استعمالولو سره د مهیانو ښکار وکړي او ددې تازه غوښه وخوري۔ بعض مفسرینو لیکلی دي چه ((تازه غوښه)) پدې وجه وئیل شویده چه ماهي کله تازه وي په همغه وخت هغه خوړلې شي ځکه چه هغه زر خرابیږي او د وخت تیریدو نه روستو نقصان ده وي۔

وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَةً : او دا دریابونه ئے پدې وجه هم تابع کړي چه پدې کښې د غوپې په وهلو سره ملغلرې او نور قیمتي جواهرات لعلونه راوباسي چه د دوی دپاره او د دوی د ښځو دپاره د زیوراتو او کالو کار ورکوي، او د دریاب د تابع کولو یوه فائده دا هم ده چه پدې کښې کشتیانې روانې وي چه د هغې په ذریعه انسان بغیر د یرې او خطرې نه ګنړ تجارتي سامان او د رزق اسباب اخستو سره د لرې مودې پورې دیو ښار نه بل ښار ته او د یو ملك نه بل ملك ته ځي او روزي حاصلوي۔ دا ټول د الله فضل او کرم دې، بندګانو له پکار دي چه د الله تعالیٰ دا احسانات رایاد کړي او د هغهٔ شکرګذار بندګان جوړ شي۔

حِلْيَةً : ګانړه لکه ملغلرې، مرجان، کنجکې، صدفونه چه د هغې نه امیلونه وغیره جوړیږي۔

مَوَاخِرَ : جمع د مُوْخِرَةٌ ده، اُوبو لره څیرونکی، شرپ ونکی۔

وَأَلْقَى فِي الْأَرْضِ : دا بل دلیل دې۔ یعنی د الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندې دا احسان هم دې چه هغهٔ په زمکه باندې لوی لوی غرونه خوارهٔ کړیدی، دې دپاره چه په زمکه کښې حرکت پیدا نهٔ شي ځکه که زمکه خوزیږي نو پدې باندې د انسان ژوند مشکل کیږي، او په زمکه باندې الله تعالیٰ نهرونه روان کړي چه د مختلفو زمکو نه تیریږي او هغه خړوبه کوي او د انسانو د رزق سبب جوړیږي۔
او زمکه باندې ئے مختلفې لارې جوړې کړي چه په هغې باندې تللو سره انسان د یو ښار نه بل ښار ته ځي او د خپل ژوند ضروریات حاصلوي، او په زمکه کښې الله تعالیٰ داسې نخې ایخودی دي چه د هغې په ذریعه خلق په سفر کښې خپلې لارې پیژني، او خپل منزل طرف ته روان وي، او په دریاب او اُوچه کښې د شپې په تیارو کښې د ستورو په مدد سره خلق

صحیح سمت او طرف ته روانیږي. د کشتیانو او د جهازونو د لارخودنے دپاره چه نن صبا کوم آلات استعمالیږي د هغے په جوړخت کښ د ستورو د رنړا نه مدد اخستے کیږي.

وَسُبُلًا : اَیْ وَجَعَلَ فِیْهَا سُبُلًا. یعنی ګرځولے ئے دي په دے کښ لارے، او دا د الله تعالیٰ لوی نعمت دے ځکه چه کله یو ځای ته لاره نۀ وي نو لنډ ځای هم انسان نه لرے کیږي.

لَعَلَّکُمْ تَهْتَدُوْنَ : یعنی ددے لارو په وجه خپلو مقاصدو ته ورسیږئ / یا دے دپاره چه د خپل رب توحید قبول کړئ او په هدایت شئ.

وَعَلَامَاتٍ : اَیْ وَجَعَلَ فِیْهَا عَلَامَاتٍ. او الله تعالیٰ په زمکه کښ ناشنا نخے جوړے کړیدی.

سُدِّيٌ وائی : د ورځے علامات غرونه دي او د شپے علامات ستوري دي.

وَبِالنَّجْمِ : دا د قطب ستورے دے چه مکے والو ډیر ښۀ پیژندو چه په هغے سره به ئے په سفرونو کښ خپلے لارے او سمتونه پیژندل. او دے ته د جدي او فرقدان ستورے وائی چه ددے سمت به هر چا ته ښکاره وو او په خپل مکان کښ مضبوط وو، دا په قطب باندے همیشه ګرځي نو د خلکو نه په سفر او دریابونو کښ نۀ غائبیږي. (القرطبیؒ)

أَفَمَنْ يَّخْلُقُ كَمَنْ لَّا يَخْلُقُ
آیا پس هغه څوک چه پیدائش کوي په شان د هغه چا کیدے شي چه پیدائش نشي کولے،
أَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَإِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللهِ
آیا نو نصیحت نۀ اخلئ تاسو. او که تاسو شمار شروع کړئ د نعمتونو د الله تعالیٰ
لَا تُحْصُوْهَا إِنَّ اللهَ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۸﴾
نو نشئ راګیرولے هغه په شمار کښ، یقیناً الله بخنه کونکے رحم کونکے دے.
وَاللهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَالَّذِيْنَ
او الله پو هیږي په هغه څه چه پټوئ ئے تاسو او په هغے چه ښکاره کوئ. او هغه کسان
يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ لَا يَخْلُقُوْنَ شَيْئًا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿۲۰﴾
چه دوی ئے رابلي سویٰ د الله نه نشي پیدا کولے هیڅ شے او دوی خپله پیدا کړے شویدي
أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَآءٍ وَّمَا يَشْعُرُوْنَ أَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿۲۱﴾
مړۀ دي، نۀ دي ژوندي (په دنیوی ژوند سره) او نۀ پو هیږي چه کله به راپورته کولے شي.

اِلٰـهُكُمۡ اِلٰـهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَالَّذِيۡنَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ
(دوباره)۔ حقدار دبندګئ ستاسو اِلٰـه یو دے، پس هغه کسان چه ایمان نهٔ لری په آخرت
قُلُوۡبُهُمۡ مُّنۡكِرَةٌ وَّهُمۡ مُّسۡتَكۡبِرُوۡنَ ﴿۲۲﴾ لَا جَرَمَ اَنَّ
زړونه ددوی انکار کونکی دی (د توحید نه) او دوی لوئی کونکی دی۔ خامخا یقیناً
اللّٰهَ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّوۡنَ وَمَا يُعۡلِنُوۡنَ
الله تعالیٰ پو هیږی په هغې چه دوی ئے پټوی او په هغې چه دوی ئے ښکاره کوی
اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الۡمُسۡتَكۡبِرِيۡنَ ﴿۲۳﴾
یقیناً الله تعالیٰ نهٔ خوښوی تکبر کونکی۔

تفسیر : په مخکنو دلیلونو باندے تفریع بیانوی او مشرکانو ته زجر دے چه دوی خالق د مخلوق په شان په بندګئ کښې ګرځولے دے۔ فرمائی : آیا هغه ذات چه داسے ناشنا قسمه څیزونه پیدا کولے شی په شان د هغه چا کیدے شی چه هغه هیڅ شے نشی پیدا کولے او ددے په موجودولو باندے هیڅ قدرت نهٔ لری لکه بتان او قبرونو والا۔

وَإِنۡ تَعُدُّوۡا نِعۡمَةَ اللّٰهِ : د دریاب او د اُوچے قسم قسم نعمتونو ذکر کولو نه روستو الله تعالیٰ وفرمایل چه د هغهٔ نعمتونه بیشماره دی، او د هغهٔ احسانات ډیر ډی، که انسان هغه په ټول ژوند کښې شماری نو هغه نشی شمارلے، او کله چه دا نشی شمارلے نو د هغې شکر به څنګه ادا کړے شی۔ پدے وجه الله تعالیٰ د آیت په آخر کښې فرمایلی دی چه هغه ډیره معافی کونکے دے، که د بنده نه د شکر په ادا کولو کښې تقصیر او کوتاهی کیږی نو خپل بخشش او کرم نهٔ بندوی، بلکه معافی کوی او د توبے مهلت ورکوی۔ اشاره ده چه تاسو ددے نعمتونو باوجود نافرمانی او شرك کولو سره د عذاب مستحق یئ که د الله تعالیٰ بخنه او رحمت نهٔ وے۔ نو د الله د مغفرت او رحمت نه غلطه فائده مهٔ اخلئ۔

إِنَّ اللّٰهَ : سورة ابراهیم آیت (۳٤) کښې ئے ﴿ إِنَّ الۡإِنۡسَانَ لَظَلُوۡمٌ كَفَّارٌ ﴾ وئیلے دے څکه چه هلته د انسان د ناشکرئ بیان دے نو د هغهٔ صفت ئے ذکر کړو، او دلته د مُنعم بیان دے چه الله تعالیٰ دے نو څکه ئے د الله صفت راوړو۔

وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ مَا تُسِرُّوۡنَ : پدے سورت کښې د الله تعالیٰ د قدرت او د هغهٔ د علم او حکمت

او د هغهٔ د نعمتونو د مظاهرو آخری کړئ دا آیتِ کریمه دے چه هغه د دوی په تمامو ښکاره او پټو خبرو او د دوی په حاجتونو او ضرورتونو پوهه دے، پدے وجه دوی له هغهٔ ته سرخکته کول پکار دی، او د هغهٔ عبادت کول پکار دی، دے دپاره چه هغه د دوی ضرورتونه پوره کړی، او د هغهٔ د نعمتونو تسلسل باقی پاتے شی۔

دارنګه چونکه سیاق د کلام د مکے د مشرکانو سره متعلق دے پدے وجه پدے آیت کښ هغوی ته دهمکی هم ورکړے شویده چه د رسول الله ﷺ خلاف د دوی سازشونه د الله تعالیٰ نه پټ نهٔ دی، یوه ورځ به دا سازشونه د دوی په غاړه کښ واچولے شی، او د غاړے غُوَر به ئے جوړ شی۔ او زجر او تنبیه ده پدے خبره چه اِلٰه (معبود) خو هغه وی چه په پټ او ښکاره باندے پوهه وی، او دا بتان خو جمادات دی چه هیڅ شعور نهٔ لری په ښکاره څیزونو نهٔ پوهیږی نو په پټو به څه پوهه شی نو تاسو ئے څنګه عبادتونه کوئ؟!۔

وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَايَخْلُقُوْنَ:

د قریش کافرانو په باره کښ وئیلے کیږی چه کوم بتان دوی د الله تعالیٰ نه سِویٰ رابلی نو هغوی خو هیڅ هم نشی پیدا کولے بلکه عبادت کونکوئے په خپلو لاسونو سره جوړ کړیدی، ګویا که د خپلو عبادت کونکو نه هم زیات کمزوری او عاجز دی، لکه ابراهیم علیه السلام خپل قوم ته وئیلی وو: ﴿ اَتَعْبُدُوْنَ مَا تَنْحِتُوْنَ ﴾ چه آیا تاسو د هغه کاڼړو عبادت کوئ چه تاسوئے په خپلو لاسونو تراشئ؟)۔ (الصافات: ۹۵)

دے نه روستو الله تعالیٰ د زیات تاکید په توګه وفرمایل چه دوی خو مړهٔ دی، نهٔ کله ژوندی وو او نهٔ به په مستقبل کښ دوی ته ژوند ورکړے شی، او دوی ته شعور (علم) هم نشته چه دوی به کله راپورته کولے شی، نو بیا دوی د الله نه سِویٰ معبودان څنګه کیدے شی؟!۔

اَمْوَاتٌ: یعنی دوی خو مړهٔ دی، او مړے علم او تصرف نهٔ لری، نو بیا ولے دوی د هغوی نه مدد غواړی۔

تنبیه: دا آیت د بتانو پورے خاص نهٔ دے ځکه چه الفاظ ددے آیت عام دی بلکه دا شپږ صفتونه چه ۱- پیدائش نشی کولے۔ ۲- مخلوق دی۔ ۳- مړهٔ دی۔ ۴- ژوند ترے زائل شویدے۔ ۵- شعور نهٔ لری۔ ٦- بعث بعد الموت ئے شته)۔ دا صفات حقیقةً د ذوی العقولو دپاره دی، او بتانو ته مجازاً شاملیږی او کله چه حقیقت موجود وی نو مجاز ته ضرورت نشته، او ددے وجه نه تفسیر روح المعانی ذکر کړیدی چه دا آیت شامل دے

ملائکو، انبياء عليهم السلام او اولياءِ کرامو ته. او د (اَمْوَاتٌ) معنىٰ دا ده چه مرګ پرې راتلې شي او د (غَيْرُ اَحْيَآءٍ) معنىٰ دا ده چه همیشه به ژوندی نهٔ وی نو عیسیٰ ﷺ او ملائك پدے معنىٰ سره په اموات کښې داخل دی. (احسن الكلام)

او که بتان مراد کړے شي نو د بتانو دپاره هم بعث شته چه الله تعالىٰ به ئے راپورته کړی، او په هغے کښې به روحونه واچوی چه شیطانان به ورسره وی، نو دا ټول به اُور ته ګوزار کړے شي لکه پدے باندے دلیل دا وینا د الله تعالىٰ ده :

﴿ اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ﴾ (انبياء : ۹۸)

(يقيناً تاسو او تاسو چه د کومو بتانو عبادت کوئ سوئ د الله تعالىٰ نه خشاك د جهنم دی)

اِلٰـهُكُمْ اِلٰـهٌ وَّاحِدٌ : الله تعالىٰ په خپل وحدانیت باندے د ګنړو دلائلو د پیش کولو نه روستو اُوس نتیجه بیان کړه او د حقیقي مقصد ښکاره والے ئے وکړو چه اے انسانانو ! ستاسو معبود صرف یو الله دے، چه هغه خالق دے، رازق دے، د آسمانونو او د زمکے د کارونو مُدبر (پروګرام چلونکے) دے، ژوندے کونکے او مړ کونکے دے، او ټول اسماءِ حسنىٰ (ښائسته نومونه) او صفات علیا (اُوچت صفات) هغهٔ دپاره دی.

فَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ : الله تعالىٰ د کافرانو کفر او عناد او د هغوی د استکبار (تکبر) او په شرك باندے د همیشوالی علت او سبب بیان کړو چه دوی د ورځے د آخرت په راتللو ایمان نهٔ لری، که دوی د جزا او سزا په ورځ ایمان لرلے نو په نیغه لاره به روان شوی وے، او د الله د وحدانیت اقرار به ئے کړے وے. ځکه چه دا قانون دے چه د آخرت ورځ منل په انسان کښې ښکلے صفات پیدا کوی، د قرآن منل، توحید منل، رسولان منل او نیك نیك اعمال کول دا ټول د آخرت د عقیدے نه پیدا کیږی، ددے وجه نه قرآن او پیغمبرانو آخرت ته ډیر دعوت ورکړیدے. د لا اله الا الله غم د هغه چا سره وی چه د آخرت غم ورسره وی.

مُّنْكِرَةٌ : اَىْ جَاحِدَةٌ لِلْوَحْدَانِيَّةِ. انکار کونکی دی د الله تعالىٰ د وحدانیت نه.

مُّسْتَكْبِرُوْنَ : عَنْ قَبُوْلِ الْحَقِّ. د حق د قبلولو نه ځان لوی ګنړی.

لَا جَرَمَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ : د قیامت د منکرینو او د الله تعالىٰ د وحدانیت انکار کونکو ته دهمکی ورکړے شویده چه الله تعالىٰ د دوی تمام پټ او ښکاره اعمال په ښهٔ شان سره پیژنی، او هغه د دوی په شان تکبر کونکی بالکل نهٔ خوښوی. د دوی ځای به جهنم وی. لکه چه الله تعالىٰ په سورة غافر آیت (٦٠) کښې فرمایلی دی : ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ

عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِيْنَ ﴾ چه کوم خلق د کبر په وجه زما د عبادت نه مخ اړوی، دوی به د ذلت او رسوائی سره جهنم ته داخلیږی۔

الْمُسْتَكْبِرِيْنَ : علماء فرمائی : هره ګناه ممکن ده چه پټه کړے شی سِویٰ د تکبر نه چه دا داسے جرم او فسق دے چه دا بغیر د ښکاره والی نه نهٔ کیږی، او دا د ټولو نافرمانیانو جرړه ده۔

امام ترمذیؒ او احمدؒ صحیح حدیث نقل کړیدے چه رسول الله ﷺ فرمائی :

[يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُوْنَ اَمْثَالَ الذَّرِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيْ صُوَرِ الرِّجَالِ يَغْشَاهُمُ الذُّلُّ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ]

متکبران بـه د قیامت په ورځ د سرو میږانو په شان راجمع کړے شی چه شکلونه به ئے د سړو وی د هر طرفـنـه بـه د دوی دپاسه ذلت او رسوائی راځی، نو دوی به په جهنم کښ یو جیل ته ولیږلے شی چه هغے ته (بولس) وائی، د ټولو نه سخت اُور به د دوی دپاسه بلیږی، د جهنمیانو د ګندونو نچوړ به په دوی باندے څکولے شی چه هغه خټه د فساد ده۔

(الترمذی۲٤۹۲) احمد (٦٦٧٧) واسناده حسن- البانی وشعیب)

وَإِذَا قِيْلَ لَهُمْ مَّاذَا أَنْزَلَ رَبُّكُمْ قَالُوْا أَسَاطِيْرُ
او کله چه اُوئیلے شی دوی ته څه نازل کړیدی رب ستاسو، وائی دوی دروغ قیصے دی
الْأَوَّلِيْنَ ﴿٢٤﴾ لِيَحْمِلُوْا أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَّوْمَ الْقِيَامَةِ وَمِنْ أَوْزَارِ
د پخوانو۔ دے دپاره چه بار کوی به دوی بوجونه خپل پوره په ورځ د قیامت او د بوجونو
الَّذِيْنَ يُضِلُّوْنَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ أَلَا سَآءَ
د هغه کسانو نه چه ګمراه کوی دوی هغوی لره په غیر د دلیل نه، خبردار بد دے
مَا يَزِرُوْنَ ﴿٢٥﴾ قَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ
هغه شے چه بار کوی ئے دوی۔ یقیناً مکرونه کړیدی هغه کسانو چه مخکښ وو د دوی نه
فَأَتَى اللّٰهُ بُنْيَانَهُمْ مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ
نو راغے الله تعالی آبادیٔ د دوی ته د بنیادونو نه نو راپریوتو په دوی باندے
السَّقْفُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ
چهت دپاسه د دوی نه او راغے دوی ته عذاب د هغه ځائے نه چه نهٔ پو هیدل دوی۔ بیا به

يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُخْزِيهِمْ وَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآئِيَ
په ورځ د قيامت شرموی دوی لره او وائي به چه کوم ځائے دی برخه داران زما
الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تُشَاقُّوْنَ فِيْهِمْ قَالَ
هغه کسان چه تاسو به چاودلئ (جګړے به مو کولے) د دوی په باره کښ، وبه وائی
الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ إِنَّ الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوْءَ عَلَى الْكَافِرِيْنَ ﴿٢٧﴾
هغه کسان چه ورکړے شویدے ورته علم یقیناً شرمندګی نن ورځ او بدی په کافرانو ده۔

تفسیر: مفسرينو ليکلی دی چه ددے ویونکے نضر بن حارث وو چه د قرآن کریم پورے د تهوقو کولو دپاره به ئے مسلمانانو ته داسے خبرے کولے۔ دويم قول دا دے چه ددے ویونکی د مکے هغه مشرکان دی چه د بهر نه د اسلام حقیقت معلومولو دپاره راتلونکو ته به ئے وئیل چه دا قرآن د تیرے شوے زمانے د واقعاتو مجموعه ده۔

او دريم قول دا دے چه مسلمانانو چه به کله د قرآن کریم په باره کښ د مکے د مشرکانو رائے معلومولہ نو هغوی به ورته وئیل چه دا خو د تیر شوی قومونو د قصو مجموعه ده۔

الله تعالیٰ د داسے تمامو خلقو انجام دا بیان کړو چه دوی به د قیامت په ورځ په خپلو اُوږو بانـدے خپل تول ګناهونه پورته کړی وی او د هغه خلقو ګناهونه به ئے هم پورته کړی وی کوم چه به دوی د خپل جهالت او ناپوهئ په وجه ګمراه کول، یا کوم چه به د دوی د جهالت او ګمراهئ په وجه ګمراه کیدل، کوم ګناهونه چه دوی په سر کړی وی نو دا به ډیر بد شے وی چه دوی به جهنم ته رسوی۔ الله تعالیٰ په خپل کتاب باندے ډیر غیرت کوی۔ دے ته په غلطو نسبتونو سره بنده ته سزا ورکوی۔

أَسَاطِيْرُ الْأَوَّلِيْنَ: دا مرفوع دے۔ اَیْ مَا تَدْعُوْنَ اَیُّهَا الْمُسْلِمُوْنَ اَسَاطِیْرُ الْاَوَّلِیْنَ وَاَحَادِیْثُهُمْ) یعنی اے مسلمانانو! تاسو چه کوم شی ته دعوت ورکوئ نو دا خو د پخوانو خلکو قصے او خبرے دی۔ او دا منزل کتاب نۀ دے۔

یا تقدیر داسے دے: (اَلْمُنَزَّلُ عَلَیْکُمْ اَسَاطِیْرُهُمْ] یعنی مشرکانو به په طریقه د مسخرے سره وویل چه دا په تاسو چه کوم شے نازل شویدے دا د پخوانو قصے دی۔ نو دوی دوه جرمونه وکړل یو ئے قرآن غیر منزل وګڼړلو او بل ئے د پخوانو دروغجنے قصے وګرځولے۔

لِيَحْمِلُوْا: یعنی د دوی ددے خبرے انجام به دا شی چه دوی به بوجونه او پنډونه د

گناهونو بار کړی۔
يُضِلُّونَهُمْ : يعني يو خو دوی تکذيب وکړو بل د دوی تابعدارو د دوی د تقليد په وجه تکذيب وکړو او گمراه شول نو ځکه به دوه پيټی بار کوی لکه داسے په سورة عنکبوت (۱۳) آيت کښ ذکر دی۔
كَامِلَةً : د کافرانو چونکه اسلام نشته پدے وجه د دوی هيڅ گناه نۀ معاف کيږی
قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ : پدے آيت کښ دنياوی تخويف دے، او بيا د آخرت تخويف ذکر دے۔
پدے آيت کښ دوه تفسيرونه دی (۱) ځينی علماء وائی چه دا آيت کنايه ده ددے نه چه د کافرانو مکرونه به ضائع کيږی۔يعنی لکه څنگه چه يوه جوړه آبادی وی او ناڅاپی د هغے چهتونه راپريوزی او بنيادونه ئے وران شی، نو دغه شان به د مشرکانو او کافرانو د حق په مقابله کښ مکرونه او مضبوط تدبيرونه او پروگرامونه بربادېږی او ضائع کيږی به۔ او دا په هره زمانه کښ به دغه شان کيږی۔
(۲) او امام شوکانیؒ او صاحب د «فتح البيان» د اکثرو مفسرينو رائے نقل کړيده چه پدے آيت کښ د مکر کونکو نه مراد نمرود بن کنعان دے چه دۀ په بابل کښ يو ډير اُوږد آبادے جوړ کړے وو او آسمان ته ئے ختل غوختل دے دپاره چه د آسمان والو سره جنگ وکړی، ليکن الله تعالیٰ د يوے سختے هوا په ذريعه هغه راگوزار کړو چه د هغے نه لاندے نمرود او د هغه تابعدار راگير شو او هلاك شو۔ همدے نمرود ابراهيم عليه السلام لره اُور ته گوزار کړے وو، او هغه د خپلے زمانے د ټولو نه غټ ظالم او جابر او متکبر انسان وو۔
ليکن د مفسرينو د قاعدے مطابق د آيت دا حکم د هرے زمانے باطل پرستو او د الله د دين خلاف سازش کونکو ته عام او شامل کړيدے۔
پدے وجه پدے آيتِ کريمه کښ د مکے هغه مشرکانو ته دهمکی ده چه هغوی د هجرت نه مخکښ د رسول الله ﷺ ژوند تنگ کړے وو۔ د انبياؤ عليهم السلام په خلاف سازش کونکو نه الله تعالیٰ هميشه داسے سخت انتقام او بدله اخستے ده چه هغوی ئے د بيخ نه ختم کړی، او په هغوی باندے ئے دغسے ناڅاپی عذاب مسلط کړے چه هغوی ته د سوچ کولو موقعه هم نۀ ده ملاؤ شوے۔
ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ : دا خو د دوی په دنيا کښ حال شو او د قيامت په ورځ به الله تعالیٰ دوی نور هم ذليله او رسوا کوی او وائی به چه وښايئ چه چرته دی زما هغه شريکان چه د هغوی د معبود ثابتولو دپاره به تاسو د مؤمنانو سره جگړے کولے۔ نو هغوی به هيڅ هم

نشي وئيلے، د هغوی ژبے به گونگے شی، لیکن انبیاء او هغه علماء چه د هغوی سره مشرکانو جگړے کولے، هغوی به وائی چه نن ورځ ذلت او رسوائی او دردناك عذاب د هغه کافرانو دپاره دے چه د الله تعالیٰ سره ئے غیر شریکان جوړول۔

تُشَاقُّوْنَ : أَيْ تُخَاصِمُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِيْهِمْ ۔ یعنی تاسو به د ایمان والو سره د هغوی په باره کښې جگړے کولے چه دوی د الله نازولی دی، او الله ورله برخه ورکړیده۔

تُشَاقُّوْنَ خپله معنیٰ ده چه تاسو به چاودلئ د هغوی په باره کښې۔ مشرك د باباگانو په باره کښې ډیر خفه کیږی کله چه د هغوی په باره کښې مؤمن څه خبره وکړی، او که څوك د الله او د رسول پورے خبرے کوی نو دومره پرواه ئے نۀ وی۔

اُوْتُوا الْعِلْمَ : ددے نه مراد ملائك او پیغمبران او علماء دی۔ او د علم نه مراد علم بالله دے یعنی هغه خلك چه د الله شان او قدر پیژنی۔

الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ
دا هغه کسان دی چه وفات کوی دوی لره ملائك پداسے حال کښې چه ظلم کونکی وی
اَنْفُسِهِمْ فَاَلْقَوُا السَّلَمَ
په نفسونو خپلو (په شرك کولو سره) نو کیبه دی (گوزار به کړی) غاړه کیخودل (وائی به)
مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِنْ سُوْٓءٍ بَلٰٓى اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٨﴾
مونږ هیڅ بد عمل نۀ کولو، ولے نۀ، یقیناً الله پوهه دے په هغے عملونو چه تاسو ئے کوئ۔
فَادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٢٩﴾
نو داخل شئ دروازو د جهنم ته همیشه به یئ په هغے کښې نو بد ځائے دے د لوئی کونکو۔

تفسیر : یعنی دا کافران هغه خلك دی چه ملائك کله د دوی نه ساه اخلی په داسے حال کښې چه دوی په شرك او گناهونو سره په خپلو ځانونو باندے ظلم کونکی وو او په دغه وخت کښې به دوی الله تعالیٰ ته خپله غاړه کیږدی او عاجزی او انکساری به راښکاره کړی او د الله د ربوبیت او د بندگئ اقرار به وکړی او د یرے په وجه به د شرك نه انکار کوی او وائی به چه مونږ خو شرك نۀ وو کړے نو ملائك به د دوی خبره رد کولو سره وائی چه آؤ، تاسو شرك کړے وو، او الله ستاسو په عملونو ښه پوهه دے، پدے وجه په دروغ وئیلو او انکار

کولو سره تاسو ځان نشئ خلاصولے۔ اُوس تاسو د خپلو خپلو ګناهونو او شرکی عملونو مطابق د جهنم مختلف طبقاتو کښ د هغے د دروازو نه داخل شئ او همیشه دپاره هلته سوزئ، چه د الله د عبادت نه مخ اړونکو دپاره بد ترین ځای د اُوسیدو دے۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه د کافرانو روحونه د مرګ نه روستو جهنم ته داخلیږی او په قبر کښ د جهنم د اُور سوزش د هغوی جسمونو ته رسیږی۔ د قیامت په ورځ به د دوی روحونه د دوی بدنونو ته دویم ځلی داخل کړے شی، او دوی به همیشه دپاره جهنم ته اُولیږلے شی۔ امام قرطبیؒ لیکی: هیڅ کافر او منافق د دنیا نه نهٔ وځی تردے چه منقاد او تابعدار جوړیږی او غاړه ایږدی، او عاجزی او ذلت راښکاره کوی او په دغه وخت کښ دوی ته نهٔ توبه فائده ورکوی او نهٔ ایمان راوړل۔ لکه الله فرمائی :

﴿فَلَمْ يَكُ يَنفَعُهُمْ إِيمَانُهُمْ لَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا﴾ (حم المؤمن : ۸۵)

(نو دوی ته د ایمان راوړو فائده ورنکړه کله ئے ولیدو عذاب زمونږ)۔

السَّلَمَ : د سلم نه مراد استسلام یعنی غاړه ایخودل او انقیاد دے۔ یعنی د مرګ په وخت به ورته حقائق راښکاره شی خو وخت به تیروی۔ د مرګ په وخت کښ توبه او اسلام قبلول فائده نهٔ ورکوی۔

مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِن سُوءٍ : د سوء نه مراد شرك دے۔ او دا خبره به دوی په طریقه د انکار او دروغو سره کوی۔ یا به یره پرے ډیره سخته وی۔ او ځینی وائی چه دا خبره د خپلے عقیدے مطابق کوی یعنی د دوی د ګمان مطابق خو دوی شرك نهٔ وو کړے بلکه دا ئے نیك عمل ګنړلو چه د اولیاؤ تعظیم وکړے شی هغوی ته سجده وکړے شی، او د هغوی په نوم نذر او منښته وکړے شی لکه مشرك دے ته شرك نهٔ وائی بلکه دا بزرګی ګنړی۔

فَادْخُلُوا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ : یعنی دوی ته به دا خبره د مرګ په وخت کښ کیږی چه د جهنم دروازو ته داخل شئ۔ او بعض وائی چه دا دوی دپاره د قبر په عذاب باندے زیرے ورکول دی ځکه چه قبر هم د کافرانو دپاره د جهنم د دروازو نه یوه دروازه ده۔

او ځینی وائی چه د دویمے طبقے جهنمیان هغے ته نشی رسیدلے مګر دا چه اوله طبقه باندے ننوزی او دغه شان دویمه او دریمه واخله۔

یا دا چه هرے طبقے ته بیله بیله دروازه ووئیلے شوه۔ نو ځینی جهنمیان به په یوه دروازه یعنی طبقه کښ ننوزی او ځینی په بله دروازه۔ (قرطبیؒ)

وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا مَاذَا أَنْزَلَ رَبُّكُمْ
او چه اُووئیلے شي هغه کسانو ته چه تقوىٰ ئے کړیده څه نازل کړیدی رب ستاسو
قَالُوا خَيْرًا ط لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا
وائی دوی (نازل کړے ئے دے) خیر لره، دپاره د هغه کسانو چه ښائسته عمل ئے کړیدے
فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَّلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ وَّلَنِعْمَ
پدے دنیا کښې ښائسته ژوند دے او خامخا کور د آخرت ډیر غوره دے (دوی لره) او ښه دے
دَارُ الْمُتَّقِينَ ﴿٣٠﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا تَجْرِي
کور د متقیانو۔ چه هغه جنتونه د همیشوالی دی، داخلیږی به هغے ته، بهیږی به
مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُوْنَ كَذٰلِكَ
لاندے د هغے نه ولے، د دوی دپاره په هغے کښې هغه څه دی چه غواړی ئے دوی، دغه شان
يَجْزِي اللّٰهُ الْمُتَّقِينَ ﴿٣١﴾ الَّذِينَ تَتَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ
بدله ورکوی الله تعالىٰ متقیانو ته۔ (دا) هغه کسان دی چه وفات کوی دوی لره ملائك
طَيِّبِينَ يَقُولُوْنَ سَلٰمٌ عَلَيْكُمُ
پداسے حال کښې چه پاك وی، وائی به دوی ته سلامتیا دِے وی په تاسو باندے
ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٣٢﴾
داخل شئ جنت ته په سبب د هغے عملونو چه تاسو به کول۔

تفسیر : مشرکان خو د قرآن کریم په باره کښې دا وائی چه دا قصے د پخوانو دی، د دوی په خلاف د متقیانو مسلمانانو نه چه کله تپوس کیږی چه ستاسو رب څه نازل کړیدی؟ نو دوی وائی چه زمونږ رب قرآن کریم د خیر او برکت نه ډك کتاب نازل کړیدے۔

لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا : دا یا کلام د الله تعالىٰ دے چه پدے کښې صفت د متقیانو ذکر کوی او خپله هغه وعده ئے ذکر کړیده چه هغه د خپلو بندگانو سره کړیده کوم چه په دنیا کښې نیك عمل کوی، چه هغه به دوی ته په دنیا کښې ښه بدله ورکوی او په آخرت کښې چه دوی ته څه ملاویږی نو هغه به د الله ډیر لوی نعمت (جنت) وی چه د متقیانو دپاره به ډیر

بنهٔ کور وی۔ الله تعالیٰ پدے سورت (۹۷) آیت کښې فرمایلی دی : ﴿مَنۡ عَمِلَ صَالِحًا مِنۡ ذَكَرٍ اَوۡ اُنۡثٰى وَهُوَ مُؤۡمِنٌ فَلَنُحۡيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ اَجۡرَهُمۡ بِاَحۡسَنِ مَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ﴾ چه څوك نيك عمل وکړی، سړے وی که ښځه، ليکن ايمان والا وی نو هغه ته به يقيناً انتهائی ښه ژوند ورکوو او د هغوی د نيك اعمالو بدله به هم دوی ته ضرور ورکوو)۔

يا لِلَّذِيۡنَ اَحۡسَنُوۡا د دغه متقيانو کلام دے نو دا به بدل وی د (خيرًا) نه۔ (زمخشری)

يعنی متقيان د خير خبره کوی او هغه خير خبره دا ده چه په دنيا کښې نيکی کونکی ته به ښائسته بدله او ښائسته ژوند او جنت ملاويږی۔

اَحۡسَنُوۡا : اَیۡ اَحۡسَنُوۡا اَعۡمَالَهُمۡ بِالۡاِيۡمَانِ فِی الدُّنۡيَا مَثُوۡبَةٌ حَسَنَةٌ ۔ دپاره د هغه کسانو چه هغوی په ايمان سره خپل عملونه ښائسته کړيدی په دنيا کښې د هغوی دپاره ښائسته بدله ده۔ قتادهٔ وائی : يعنی ايمان ئے راوړے وی په الله او په کتابونو او رسولانو د هغهٔ او د الله تعالیٰ په طاعت ئے حکم کړے وی او د الله بندګانو ته ئے په خير (نيکئ) باندے تيزی ورکړی وی او هغے ته ئے رابللی وی۔

د حسنة نه مراد نصرت او فتح هم ده۔ (ضحاكؒ) مجاهدؒ وائی رزق حسن ترے مراد دے۔

ځينی وائی : حياة طيبه مراد دے چه هغه د مدح او ثناء مستحق وی۔ (فتح البيان)

اَلَّذِيۡنَ تَتَوَفّٰهُمُ الۡمَلٰٓئِكَةُ : يعنی ددے تقویٰ والو چه په خپلو ځانونو ئے د کفر او ګناهونو په وجه ظلم نهٔ وی کړے، د مرګ په وخت کښې به د دوی حال دا وی چه کله دوی ته ملائك راشی نو د دوی د احترام او محبت دپاره به دوی ته سلام کوی او زيری ورکولو سره به ورته وائی چه تاسو د خپلو نيك عملونو په بدله کښې هميشه دپاره جنت ته داخل شئ۔ سورة فصلت آيت (۳۰) کښې الله تعالیٰ فرمايلی دی : ﴿اِنَّ الَّذِيۡنَ قَالُوۡا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسۡتَقَامُوۡا تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ الۡمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوۡا وَلَا تَحۡزَنُوۡا وَاَبۡشِرُوۡا بِالۡجَنَّةِ الَّتِىۡ كُنۡتُمۡ تُوۡعَدُوۡنَ﴾

(بيشکه کومو خلقو چه ووئيل چه زمونږ رب الله دے، بيا پدے باندے مضبوط پاتے شو، دوی ته به ملائك ددے وينا سره راځی چه تاسو هيڅ خطره او غم مهٔ کوئ، بلکه د هغه جنت زيرے واورئ چه د هغے وعده تاسو سره شويده)۔

تَتَوَفّٰهُمُ : نه معلوميږی چه تقویٰ او نيك عملی د يو خت شے نهٔ دے بلکه دا به تر مرګه پورے کولے شی۔

طَيِّبِيۡنَ : ۱- طَاهِرِيۡنَ مِنۡ دَنَسِ الشِّرۡكِ وَالۡكُفۡرِ وَالنِّفَاقِ ۔ يعنی د شرك، کفر او نفاق د خِيرو نه پاك وی۔ ۲- صَالِحِيۡنَ۔ نيکی کونکی وی۔ ۳- زَاكِيَةً اَفۡعَالُهُمۡ وَاَقۡوَالُهُمۡ ۔ چه د هغوی

عملونه او اقوال پاك وی۔ (مجاهدؒ - بغویؒ) لکه سورة الحج (۲٤) آیت کښی دی:
﴿ وَهُدُوْا اِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ وَهُدُوْا اِلٰى صِرَاطِ الْحَمِيْدِ ﴾ ۔ او ﴿ اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ ﴾ ۔ (فاطر:۱۰) ﴿ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا ﴾ (الشمس:۹)
٤- مَنْ ظَلَمَ اَنْفُسَهُمْ بِالْمَعَاصِیْ۔ پاك وی د ظلم د نفسونو نه په گناهونو سره۔ (بیضاویؒ)
٥- اَیْ طَيِّبِيْنَ الْوَفَاة ۔ یعنی د دوی وفات به مزیدار وی یعنی دا به پرے آسان وی چه هیڅ تکلیف به پرے نهٔ وی، او په حالت د وفات کښی به زیری ورکولے شی۔
٦- فَرِحِيْنَ بِبِشَارَةِ الْمَلَائِكَةِ۔ خوشحاله به وی د ملائکو په زیری سره۔ (فتح البیان)
سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ: یعنی ددے نه روستو به په تاسو باندے سلامتیا وی، تاسو ته به هیڅ قسم خفه کونکے مصیبت نهٔ رسیږی۔
اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ: دا په برزخ کښی جنت دے ځکه چه د دوی روحونه جنت ته ځی او چه پدے وخت کښی انسان ته د جنت زیرے ورکړے شی نو خومره به خوشحاله وی چه د دنیا د هیڅ شی پسے به خفگان نهٔ کوی۔
ابوحیانؒ وائی: ظاهر دا ده چه سلام او دخول الجنة په آخرت کښی مراد دے او زیرے ورله مخکښی نه ورکړے شو۔

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ اَمْرُ رَبِّكَ
انتظار نهٔ کوی دوی مگر ددے خبرے چه راشی دوی ته ملائك یا راشی حکم د رب ستا،
كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَمَا ظَلَمَهُمُ
دغه شان کار کړے وو هغه چا چه مخکښی وو د دوی نه، او ظلم نهٔ دے کړے په دوی باندے
اللّٰهُ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۳۳﴾ فَاَصَابَهُمْ
الله تعالیٰ لیکن دوی په خپلو ځانونو باندے ظلم کولو۔ نو اُورسیدلے دوی ته
سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا
بدے سزاگانے د هغے عملونو چه دوی کړی وو او راگیر به کړی دوی لره هغه څه
كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳٤﴾
چه دوی په هغے پورے توقے کولے۔

تفسیر : بیا کافرانو ته تخویف دنیوی ورکوی او هغوی ته دا خبرداری ورکول دی چه د دنیا د ژوند په دهوکه کښې پرېے نهٔ وځی او په خپل کفر او عناد کښې مخکښې لاړ نهٔ شی. که نهٔ وی د بد انجام دپاره دِےے تیار وسیږی.

د آیت مطلب دا دےے چه دا خلك د قرآن پورےے توقےے کوی او ایمان نهٔ راوړی، دوی د څه خبرےے په انتظار کښې ناست دی؟ آیا دوی ددےے خبرےے په انتظار کښې دی چه ملائك راشی او د دوی روحونه قبض کړی، یا بل داسےے عذاب پرےے راشی چه د دوی وجود ختم کړی، یا قیامت راشی او دوی خپل هلاکت په خپلو سترګو وینی، یعنی دوی د هغه چا په شان کارونه وکړل چه په هغه باندےے عذاب ثابت شوےے وی او هغه ئے په انتظار کښې ناست وی. یعنی دا خلك به هله ایمان راوړی چه الله تعالیٰ ورله عذاب ورکړی یا پرےے قیامت راولی نو بیا به دوی ایمان راوړی لیکن دغه ایمان به دوی ته هیڅ فائده ورنکړی.

هَلْ يَنظُرُونَ : دا په تشبیه باندےے حمل دےے یعنی تر مرګ او عذاب وخت پورےے ایمان نهٔ راوړل داسےے دی لکه چه یو انسان د عذاب په انتظار کښې ناست وی، ورنه کافرانو د عذاب انتظار نهٔ کولو ځکه چه هغوی خو د عذاب راتلل نهٔ منل او هیڅ خیال ئے ددےے په باره کښې نهٔ کولو.

أَوْ يَأْتِيَ : (اَوْ) کلمه د مانعة الخلو دپاره ده. یعنی هر یو د مرګ او عذاب په دوی راتللے شی اګر که وخت به ئے مختلف وی او په (اَوْ) سره ئے تعبیر وکړو اشاره ده چه هر یو د دوی د عذاب دپاره کافی شے دےے. (ابو السعودؒ).

أَمْرُ رَبِّكَ: ددےے نه استیصالی (بیخ ویستونکے) عذاب مراد دےے.

كَذَٰلِكَ فَعَلَ الَّذِينَ : یعنی دغه شان پخوانو قومونو هم انتظار کولو او ایمان ئے نهٔ راوړو نو الله تعالیٰ پرےے عذاب راوستو او هلاك ئے کړل نو دغه شان به دا موجوده کافران هم هلاك کړی. او د رسولانو پورےے چه به ئے کومےے توقےے کولے د هغےے سزاګانےے ورته ورسیدےے.

سَيِّئَاتُ مَا عَمِلُوا : ١- عُقُوبَاتُ مَا عَمِلُوا. یعنی سزاګانےے د هغه عملونو چه دوی به کول. ٢- ظاهر دا ده چه سیئات ګناهونو ته وائی. یعنی خپل بد عملونه ورته ورسیدل لکه دا په محاوره کښې ذکر کیږی چه ((فلانی ته خپل بد عمل ورسیدو)).

تر دےے ځای پورےے د مشرکانو شو بد صفات دا بیان شو چه د قرآن کریم پورےے توقےے کوی، تکبر کوی، د الله تعالیٰ سره برخه داران جوړوی، روستو به د مشرکانو دلیل راوړی بیا به د دوی انکار د آخرت بیانوی بیا به د شرك فعلی تذکره کوی، بیا د لونړو په باره کښې د دوی

بد عمل ذکر کیږی۔

وَقَالَ الَّذِيْنَ أَشْرَكُوْا لَوْ شَآءَ اللهُ مَا عَبَدْنَا

او وائی هغه کسان چه شرك ئے کړیدے که غوختلے الله بندګی به نهٔ وے کړے مونږ

مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ نَّحْنُ وَلَا آبَاؤُنَا وَلَاحَرَّمْنَا

سوئ د هغهٔ نه د هیڅ شی مونږه او نهٔ پلارانو زمونږ او نهٔ به حرام کړے وے مونږ

مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

سوئ (د اذن) د الله تعالیٰ هیڅ شے، دغه شان کار کړے وو هغه کسانو چه مخکی وو د دوی نه

فَهَلْ عَلَى الرُّسُلِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِيْنُ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ

نو نشته په رسولانو باندے مګر رسول ښکاره دی۔ او یقیناً لیږلے دے مونږ په هر

أُمَّةٍ رَّسُوْلًا أَنِ اعْبُدُوا اللهَ وَاجْتَنِبُوا

امت کښ رسول لره (پدے خبره) چه بندګی خاص کړئ د الله تعالیٰ او ځان ساتئ

الطَّاغُوْتَ فَمِنْهُمْ مَّنْ هَدَى اللهُ

د بندګئ د غیر الله نه، نو بعض د دوی نه هغه خوك دی چه هدایت اُوکړو هغه ته الله

وَمِنْهُمْ مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ فَسِيْرُوْا

او بعض د دوی نه هغه خوك دی چه ثابته شوه په هغه باندے ګمراهی نو اُوګرځئ

فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٣٦﴾

په زمکه کښ نو اُوګورئ چه څنګه شو انجام د دروغجن ګنړونکو۔

تفسیر : پدے کښ رد دے د مشرکانو په دلیل باندے۔ د مکے مشرکانو به د خپل کفر او شرك د جواز دپاره د الله تعالیٰ په تقدیر دلیل نیولو او وئیل به ئے چه که مونږ د الله تعالیٰ نه سوئ د غیر عبادت کوو او د خپل طرف نه څه حیواناتو ته حرام وایو، او زمونږ پلارانو نیکونو به هم داسے کول نو پدے کښ زمونږ او د هغوی هیڅ قصور نشته دے، دا خو د الله د مشیت او ارادے مطابق دی، که د هغه خوښه نهٔ وے لکه څنګه چه د محمد (ﷺ) ګمان

دے نو مونږ به داسے نۀ کولے، الله تعالیٰ به زمونږ سترګے ړندے کړے وے او لاسونه به ئے راله بند کړی وے او خپے به ئے راله ماتے کړے وے نو ګویا که زمونږ د هغه د خوښے مطابق داسے کار کول ددے خبرے دلیل دے چه محمد (ﷺ) دروغجن دے او الله طرف ته غلطه خبره منسوب کوی۔ (والعیاذ بالله)

او دا دلیل په سورة انعام (۱٤۸) آیت کښ هم ذکر شویدے او روستو په سورة الزخرف (۲۰) آیت کښ بیا راځی ځکه چه دوی به دا خبره بار بار کوله۔

ددے خلکو پدے خبره ذهن نۀ وو کولاؤ چه په دنیا کښ الله تعالیٰ په انسانانو باندے زور نکوی، او دوی به ویل چه الله تعالیٰ خو طاقت والا دے چه په یو شی باندے ناراضه دے نو بیا ئے ولے نۀ ختموی؟ معلومیږی چه الله تعالیٰ پدے کار ناراضه نۀ دے۔

نو د هغے جواب دا دے چه یو د الله تعالیٰ مشیئت دے او بل ئے رضا ده، کائناتو کښ چه څه کارونه کیږی کفر او شرك او ایمان او نیکی، نو دا د الله تعالیٰ په مشیت باندے کیږی لیکن په بعضے کارونو باندے راضی وی په کوم باندے ئے چه امر کړے وی لکه د دین په خبروئے امر کړیدے، پدے راضی دے، او د څه نه ئے چه منع کړیده نو په هغے ناراضه کیږی نو غلا او زنا او شرك او کفر چه کیږی نو دا د الله په اراده سره کیږی لیکن الله تعالیٰ پرے راضی نۀ دے۔ که تۀ ووائے چه الله تعالیٰ کوم ځای منع کړیده نو روستو فرمائی چه ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا﴾ الله تعالیٰ پیغمبران رالیږلی دی او هغوی ته ئے دا خبره ورکړے وه چه ﴿اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ﴾ نو دا ښکاره دلیل دے چه الله تعالیٰ په شرك رضا نۀ دے، ځکه که په شرك راضی وے نو بیا ئے پیغمبران د هغے د رد دپاره ولے رالیږل۔

دویمه نښه د الله تعالیٰ د نا رضا والی دا ده چه پخوانی مشرکان الله تعالیٰ په انجام کښ هلاك کړل، اول کښ ئے ورته د امتحان په طور څه نۀ ویل، لیکن روستو زمانه کښ ئے هلاك کړل۔ که الله تعالیٰ په شرك راضی وے نو بیا ئے ولے دغه بندګان هلاکول۔

حاصل دا شو چه د پیغمبرانو راتګ او د اقوام مکذبهٔ هلاکت دلیل دے چه الله تعالیٰ په شرك سخت نا راضه دے۔ نو پدے وجه د الله د ارادے او رضا ترمینځ فرق پیژندل ډیر ضروری دی، دا فرق قدریه او جبریهٔ نۀ وو پیژندلے نو پدے وجه په عقیدو کښ خطاء شو۔

قدریه وائی چه انسان د خپلو کارونو خپله پیدا کونکے دے، ولے که مونږ ووایو چه د بندګانو د کارونو خالق الله تعالیٰ دے نو ددے معنیٰ به دا جوړه شی چه دا ګناه چه مونږ کوو نو دا رابانده الله کوی۔ او جبریه وائی چه انسان بیخی مجبور محض دے، ددۀ په

نیکئ او بدئ کولو کښې هیڅ اختیار نشته دا هر څه پرې الله تعالیٰ کوی۔ او اهل السنت وائی چه د هر شی خالق الله تعالیٰ دے او کاسب ئے بندګان دی۔ او حساب په کسب دے نهٔ په خلق باندے۔ لکه ددے تفصیل په خپل ځای کښې راځی۔

مضمون : بیا روستو (۳۷) آیت کښې خپل نبی ته تسلی ورکوی چه په هغے کښې ډیر عنوانات راتلے شی لکه تسلی، او تصرف د رب په هدایت او ګمراه کولو د خلکو کښې۔ او بیان د علم د الله تعالیٰ په ګمراه کولو د خلکو کښې۔

بیا پنځمه خبره د مشرکانو په ﴿وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ﴾ کښې چه په تاکید سره د آخرت نه انکار کوی، نو د اثبات د آخرت دپاره یو حکمة او څه دلائل بیانوی، قیامت به ولے راځی، یوه وجه دا ده چه الله تعالیٰ ئے وعده کړیده او الله تعالیٰ د وعدے خلاف نکوی،

دویمه وجه: دنیا کښې اختلاف روان دے څوك د الله د رضا کارونه کوی او څوك ئے د دشمنئ کوی نو دوی ددے د اختلاف په مینځ کښې د فیصلے دپاره یوه ورځ پکار ده۔ که قیامت رانشی نو بیا خو به د انسانانو معاملات ګډوډ پاتی شی او الله داسے نهٔ کوی۔

دریمه وجه دا ده چه الله تعالیٰ د کافرانو دروغ راښکاره کوی چه دوی وائی قیامت به نهٔ راځی۔ په (٤٠) آیت کښې وائی چه قیامت راتلل الله تعالیٰ ته څه ګران دی؟، هغه الله تعالیٰ په کن فیکون طریقے سره راوستے شی۔ پداسے آیتونو کښې په کافرانو رد وی او د مؤمنانو رابیدارول وی چه هرکله داسے ورځ راتللو والا ده نو هغے له تیارے وکړئ۔

وَلَا حَرَّمْنَا : ددے مثال داسے دے لکه یو تن زنا کوی او بیا وائی چه الله تعالیٰ راته څه نهٔ وائی عذاب نهٔ راولی بس الله پدے کار راضی دے، او دے ته نهٔ ګوری چه په دین کښې الله تعالیٰ ددے نه منع کړیده۔ او دا تا ته چه څه نهٔ وائی نو دا د الله تعالیٰ بل قانون دے چه دنیا کښې بعض ګناهګارو فاسقانو ته الله تعالیٰ څه نهٔ وائی، مهلت ورکوی، او په آخر کښې به سزا ورکوی۔ نو صبر د الله تعالیٰ دلیل د هغه په رضا نهٔ دے۔ بلکه په هغے کښې نور ډیر حکمتونه دی، ځکه که الله تعالیٰ په هره ګناه سمدست رانیول کولے نو بیا خو به الله تعالیٰ دا ټول انسانان ختم کړی وے۔ نو نظام به درهم برهم شوے وے۔ نو الله تعالیٰ ددے دپاره د قیامت ورځ تیاره کړیده۔

كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ : دلته وقف دے۔ اَىْ فَعُذِّبُوْا بِذٰلِكَ ۔ یعنی هغوی ته عذاب ورکړے شو په دغه شرك باندے۔

فَهَلْ عَلَى الرُّسُلِ : که څوك ووائی چه مونږ الله تعالیٰ د شرك نه نهٔ یو منع کړی نو الله

فرمائي چه پيغمبرانو د رد د شرك تبليغ كړيدي، او هغوی عملًا په چا باندې زور نكوی چه لاسونه ورله ونيسي، دا د هغوی ذمه واری نۀ ده۔

وَلَقَدْ بَعَثْنَا : پيغمبرانو څنگه منع كړيده او څه مقصد دپاره دنيا ته راغلي دي؟ نو اُوس اجمالًا د ټولو پيغمبرانو پدې مسئله باندې راټگ او د هغوی د دعوت خلاصه بيانوی۔

يعني د آدم عليه السلام د زمانې نه واخله تر د نبی كريم ﷺ پورې د تمامو انبياء كرامو يو دعوت وو چه د الله تعالىٰ نه سوىٰ هيڅوك معبود نشته دې، صرف هغه د عبادت لائق دې، لكه څنگه چه الله تعالىٰ دلته آيت (۳۶) كښ بيان كړيدی چه مونږ د هر قوم دپاره يو رسول راليږلې چه هغه دوی ته ددې خبرې تعليم وركړې چه د الله تعالىٰ عبادت كوئ او د شيطان او د بتانو د عبادت نه جدا اُوسيږئ۔

الطَّاغُوْتَ: گمراه يا د گمراهئ سبب۔ او باقي تشريح ئې په سورة البقره او آل عمران كښ ذكر شويده۔

فَمِنْهُمْ مَّنْ هَدَى اللهُ : د خير او شر د وضاحت او صراحت نه روستو الله تعالىٰ د خپل علم غيب او تكويني مشيت مطابق چا له چه غوختل هغه ته ئې توفيق وركړو او چا له ئې چه غوختل په گمراهئ كښ ئې پريخودل او سبب په هغې كښ د هغوی عناد او ضد وو۔

دلته الله تعالىٰ د هدايت نسبت ځان ته وكړو، او د گمراهئ نسبت بندگانو ته۔ وجه دا ده چه پدې كښ ښائسته رعايت د ادب دې چه د شرونو نسبت الله تعالىٰ ته ډائرك نۀ كيږی۔

دويمه وجه دا ده چه هدايت خالص د الله تعالىٰ په فضل او احسان سره وی او گمراهی د انسان په كسب سره وی۔

فَسِيْرُوْا : يعني اول كښ به پيغمبرانو دعوت وكړو، څه كسانو به مخالفت وكړو نو الله به ورته انتظار وكړو د خپل حكمة مطابق، په آخر كښ به ئې هلاك كړل نو تاسو لاړ شئ د دغه مكذبينو انجام وگورئ۔

إِنْ تَحْرِصْ عَلٰى هُدَاهُمْ فَإِنَّ اللهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ
كه تۀ حرص كوې په هدايت د دوی باندې نو يقيناً الله هدايت نكوی هغه چا ته
يُّضِلُّ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نَّاصِرِيْنَ ﴿۳۷﴾ وَأَقْسَمُوْا بِاللهِ
چه گمراه كوی ئې او نشته دوی لره څوك مددگاران۔ او قسمونه كوی دوی په الله باندې

جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللَّهُ مَنْ يَّمُوتُ بَلَىٰ
مضبوط قسمونه خپل چه نۀ به راپورته کوی الله تعالیٰ هغه څوك چه مری، ولے نۀ،
وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۳۸﴾ لِيُبَيِّنَ
دا وعده ده په الله باندے یقینی۔ لیکن زیات خلق نۀ پو هیږی۔ دے پاره چه بیان کړی
لَهُمُ الَّذِي يَخْتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعْلَمَ
دوی ته هغه څه چه اختلاف کوی دوی په هغے کښ او دے دپاره چه معلومه شی
الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّهُمْ كَانُوا كَاذِبِينَ ﴿۳۹﴾ إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَا
کافرانو ته چه بیشکه دوی دروغجن وو۔ یقیناً وینا زمونږ د یو شی په باره کښ کله چه
أَرَدْنَاهُ أَنْ نَّقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ﴿۴۰﴾
اراده اُوکړو مونږ د هغے، دا ده چه اُووایو هغۀ ته وشه نو هغه اُوشی۔

تفسیر : پدے کښ رسول الله ﷺ ته تسلی ده، هغه د خلکو په هدایت باندے ډیر کوشش کولو چه ټول هدایت ته راشی او د اُور نه بچ شی ځکه چه شفقت ئے ډیر وو۔ او ډیر زور کول ددے نه نقصانات پیدا کیږی ځکه چه په الله باندے د بنده بد گمانی پیدا شی، بل ځان بی ځایه په تکلیف کښ اچول دی ځکه چه الله تعالیٰ یو تن په تقدیر کښ گمراه لیکلے دے او انسان زور کوی چه زۀ ئے هدایت والا جوړوم نو دا د تقدیر بدلول دی، او مخلوق تقدیر نشی بدلولے۔ نو پدے کښ د الله تعالیٰ د حکم تابعداری ضروری ده او هغه دا چه دعوت کوه او شفقت په خلکو کوه او نور ئے الله ته سپاره چه که الله تعالیٰ ورته هدایت غوښتل وبه ئے کړی او که نۀ وی نو نۀ۔ یعنی ځان ورته ډیر مۀ ذلیله کوه چه سوال او زاری ورته کوے او بیخی ځان دِے پریشانه کړے وی او خپل ژوند دِے تنگ کړے وی۔ نو دلته الله خپل مشیئت او خپله استغناء بیانوی چه که الله تعالیٰ څوك په گمراهۍ باندے د خپل مشیئت او حکمة مطابق پریدی نو نبی کریم ﷺ که ډیر کوشش وکړی نو هغه په نیغه لاره نشی راوستلے او نۀ د الله عذاب د هغه نه روستو کولے شی۔

دا حقیقت الله تعالیٰ د قرآن کریم په گڼرو آیتونو کښ بیان کړیدے۔ سورة یونس آیتونو (۹۶/۹۷) کښ فرمائیلی دی : ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۞ وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ

آيَةٍ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴾ يقيناً د كومو خلقو په باره كښې چه ستا د رب خبره ثابته شويده هغوى ايمان نۀ راوړى اگركه دوى ته ټول دلائل راشى تردے پورے چه دردناك عذاب ووينى)۔

نو پدے آيت كښې د رسول الله ﷺ طمع قطع كول دى د هدايت د بعض كافرانو نه۔

وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ : دا پنځمه نظريه د مشركانو ده۔ د قريش كافرانو د كفر او كبر او عناد يوه نتيجه دا وه چه دوى به د قيامت د ورځے نه انكار كولو او د مرگ نه روستو دويم ځلى ژوندى كيدل به ئے يو مستحيل (ناممكن) كار گڼړلو او قسمونه به ئے خوړل، وئيل به ئے چه دا هيڅ ممكن نۀ ده چه څوك مړ شى او الله تعالىٰ هغه لره دويم ځلى راژوندے كړى۔

مشركانو چه د بعث بعد الموت نه انكار كولو نو هغوى په ذهن كښې دوه خبرے نيولے وے، يو دا چه پدے كښې هيڅ فائده نشته، ولے الله تعالىٰ دا نظام وران كړى او دا خلك مړه كړى او بيرته ئے راژوندى كړى؟۔ دويم دا چه پدے باندے ئے ذهن كار نۀ كولو چه الله تعالىٰ پدے قادر دے چه يو تن ذره ذره شى او دا ذرات بيرته راجمع كړے شى، اگركه په عام اوقاتو كښې ئے دا اقرار كولو چه الله تعالىٰ په هر كار قادر دے۔ پدے وجه ورته الله تعالىٰ د آسمانونو او د زمكے او د كائناتو پيدائش په دليل كښې پيش كوى۔

د قيامت په عقيده باندے قرآن زور ځكه لگوى چه كه دا ثابت نشى نو د ټولو كائناتو پيدائش عبث كيږى، او د انسانانو پيدائش او پدے كښې پيغمبران او كتابونه راليږل او ايمان او كفر او نيك او بد عمل، د نكاح او د زنا فرق بے فائدے كيږى۔ او دا فرق خو ددے دپاره كيږى چه صبا له قيامت راروان دے او پدے عملونو حساب كتاب دے۔ نو د قيامت نۀ منونكو ته الله تعالىٰ ناپوهه وئيلى دى۔ ځكه چه پدے كښې د الله تعالىٰ د صفاتو نه انكار راځى چه هغه په بدئ باندے ناراضه نۀ دے او په نيكئ باندے راضى نۀ دے۔ نو محبت او كراهت صفت نه انكار لازميږى۔

حَقًّا : يعنى دغه وعده ئے مضبوطه كړيده په ژبه د پيغمبرانو سره او په كتابونو كښې۔

لِيُبَيِّنَ لَهُمُ : دا متعلق دے د (يَبْعَثُ) پورے۔ يعنى الله تعالىٰ به انسانان راپورته كوى دے دپاره چه خلكو ته د هغوى اختلاف بيان كړى او هغه ورله فيصله كړى۔ په دنيا كښې چه اختلاف روان دے څوك نيك عمل كوى، د الله تعالىٰ رضا لټوى، د شپے راپاځيږى، روژے نيسى، جهادونه كوى او نور كسان د الله تعالىٰ سره شريكان جوړوى، ټول عمر ئے په غفلت كښې تيريږى او په جرمونو كښې مشغول وى، نو دے دواړو ډلو ته الله تعالىٰ بيان كوى چه

تـهٔ په حقه او دا په باطله دے، ستا ځای جنت او ددهٔ ځای جهنم دے۔ که دا فرق الله ونکړی نو بیا د عبث نسبت ورته راځی۔ (تَعَالَى اللهُ عَنْ ذٰلِكَ عُلُوًّا كَبِيرًا)

وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا : یعنی د کافرانو د دروغو ثابتولو دپاره او د هغوی د ضد نه به الله تعالیٰ قیامت راولی۔ هغوی وائی نهٔ به راځی نو الله تعالیٰ ئے د هغوی د قصد نه راولی۔

إِنَّمَا قَوْلُنَا : یعنی د انسانانو دویم ځلی ژوندی کول الله تعالیٰ ته انتهائی آسان دی۔ هغه چه کله د یو شی اراده کوی نو ((شه)) ورتـه وائی نـو هغه شے موجود شی۔ دا ممکن نهٔ ده چه یو شے د الله ددے وینا نه روستو موجود نهٔ شی۔

وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللهِ مِنْ بَعْدِ مَا
او هغه کسان چه هجرت ئے کړیدے دپاره د الله تعالیٰ روستو د هغے نه
ظُلِمُوا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً
چه ظلم کړے شویدے په هغوی خامخا ځائے به ورکړو دوی ته په دنیا کښې ښائسته،
وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾ الَّذِينَ صَبَرُوا
او خامخا اجر د آخرت ډیر لوئی دے کچرے دوی پو هیږی۔ دا هغه کسان دی چه صبر ئے کړیدے
وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٤٢﴾ وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا
او په خپل رب باندے توکل کوی۔ او نهٔ دی لیږلی مونږ مخکښې ستا نه مګر سړی
نُوحِي إِلَيْهِمْ فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٤٣﴾
چه وحی به کوله مونږ دوی ته نو تپوس اُوکړه د ذکر (علم) والو نه که تاسو نهٔ پو هیږئ۔
بِالْبَيِّنَاتِ وَالزُّبُرِ وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ
په ښکاره معجزو او کتابونو سره، او رالیږلے مونږ تا ته قرآن دے دپاره چه تهٔ بیان کړے
لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾
خلکو ته هغه کتاب چه نازل شویدے دوی ته او دے دپاره چه دوی پکښې فکر وکړی۔

تفسیر : پدے آیتِ کریمه کښې د الله په لاره کښې د هجرت کونکو دنیاوی او اُخروی اجر بیان شویدے، او مهاجرینو ته ترغیب دے۔

ربط

۱- مضمونی ربط: هرکله چه الله تعالیٰ په شرك باندے رد وکړو او د مشرکانو دلیلونه ئے رد کړل نو دوی په مسلمانانو باندے تکلیف زیات کړو چه تاسو ولے زمونږ د آلهو بدی بیانوئ نو وهل ټکول ئے زیات کړل نو الله تعالیٰ ورته هجرت طرفته اشاره ورکړه۔
۲- نزدے سره ئے مناسبت دا دے چه اَلْبَعْثُ لِاِيْفَاءِ الْوَعْدِ۔ الله تعالیٰ به قیامت څکه راولی چه الله تعالیٰ مهاجرینو سره وعده د جنت کړیده نو که قیامت رانشی نو بیا به دا وعده څنگه پوره شی۔ ۳- (يَخْتَلِفُوْنَ) سره متعلق دے چه دا اختلاف د انسانانو دومره سخت دے چه مؤمنان ئے په هجرت مجبوره کړیدی نو ددے فیصلے دپاره هم یوه ورځ پکار ده۔

شان نزول

ددے آیت د شان نزول په باره کښ دوه اقوال دی: ❁ یوقول خودا دے چه په آیت کښ ذکر شوی مهاجرینو نه مراد د مکے هغه مسلمانان دی چه د خپل قوم د ضرر ورکولونه عاجز راغلل او د خپل ایمان د حفاظت دپاره د نبی کریم ﷺ په حکم سره حبشو ته ئے هجرت وکړو۔ د هغوی شمار د ورو ماشومانو نه سوئ درے اتیا (۸۳) وو۔ د اسلام راوړو نه روستو د الله په لاره کښ د مسلمانانو دا اولنے هجرت وو۔ ددے قول تائید ددے نه کیږی چه دا سورت مکی دے۔ ❁ دویم قول دا دے چه ددے نه د مدینے مهاجرین مراد دی، چه دوی ته الله تعالیٰ د هجرت نه مخکښ د لوئی اجر زیرے ورکړے وو۔ بعض مفسرینو وئیلی دی چه دا آیت مدنی دے چه دے ته په مکی سورت کښ ځای ورکړے شویدے۔ (فتح البیان)
او ابن عاشورؒ وائی چه دواړو احتمالینو سره دا سورت مکی دے او یواځے د مدینے مهاجرینو پورے دا وعده خاص نهٔ ده بلکه دا ئے هم مصداق گرځیدے شی۔

(التحریر والتنویر ۱۲۷/۱۳)

فِی اللهِ: اَیْ فِیْ شَانِ اللّٰهِ وَفِیْ رِضَاهُ۔ یعنی د الله په باره کښ او د هغه د رضا په باره کښ ئے هجرت وکړو۔ او پدے لفظ کښ زیاته مبالغه ده د (فِیْ سَبِیْلِ اللهِ) نه۔
ظُلِمُوْا: اَیْ عُذِّبُوْا وَاُهِیْنُوْا۔ یعنی دوی ته عذابونه او تکلیفونه ورکړے شو او سپکاوے ئے وکړے شو۔ په زوره خلکو ویستلی دی۔
لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِی الدُّنْيَا حَسَنَةً: دا دلیل دے چه د نیك اعمالو بدله په دنیا کښ هم شته لکه مخکښ هم ذکر شو ﴿لِلَّذِیْنَ اَحْسَنُوْا فِیْ هٰذِهِ الدُّنْیَا حَسَنَةٌ﴾ څکه چه دا د الله تعالیٰ قانون

دے چه (مَنْ تَرَكَ شَيْئًا لِلّٰهِ عَوَّضَهُ اللّٰهُ خَيْرًا مِنْهُ]۔ چا چه یو شے د الله دپاره پریخودو، الله تعالیٰ به د هغے نه غوره ورکړی۔ (احمد: ۲۰۷٦۵ باسناد صحیح) بلفظ: اِنَّكَ لَنْ تَدَعَ شَيْئًا اِتِّقَاءَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ اِلَّا آتَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا مِنْهُ۔ (ته یو شے د الله د یرے د وجه نه نهٔ پریدے مگر الله تعالیٰ به تا ته د هغے نه غوره درکوی۔

فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً: الله تعالیٰ دے مهاجرینو ته په دنیا کښې د عزت او مرتبے او د غوره رزق او فتح او مدد زیرے ورکړیدے، او دے نه روستو ئے وئیلی دی چه په آخرت کښې چه دوی ته کوم اجر ملاویږی نو ډیر غټ به وی چه د هغے تصور هم انسان پدے دنیا کښې نشی کولے۔

لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ: لَمَا تَأَخَّرُوْا عَنِ الْهِجْرَةِ۔ یعنی دوی به د هجرت کولو نه نهٔ روستو کیدلے۔ پدے کښې به ئے ډیرے فائدے لیدلے۔

پدے آیت کښې د مکے هغه مسلمانانو ته د هجرت ترغیب هم ورکړے شویدے چه په یو دنیاوی وجه سره ئے د هجرت په کولو کښې تاخیر کولو۔ او کوم اجر چه مخکښې ذکر شو هغه به مهاجرینو ته پدے وجه ملاویږی چه دوی د مکے د مشرکانو په ضرر رسولو صبر کړے، او په الله ئے بهروسه کړے وه او کورونه ئے پریخودل او هجرت ئے وکړو۔

د عمر بن خطاب ﷺ نه روایت شویدے چه کله به هغه یو مهاجر مسلمان ته د هغه حصه ورکوله نو ورته وئیل به ئے، خپله حصه واخله، الله تعالیٰ دِے په دے کښې تاله برکت واچوی، دا هغه مال دے چه الله تعالیٰ ئے تا سره په دنیا کښې وعده کړے وه۔ او د قیامت په ورځ چه تاسو ته څه ملاویږی نو هغه خو به ددے نه زیات ښه وی۔

(ابن کثیرؒ والقرطبیؒ والبغویؒ وابن عاشورؒ)

۲- یا ضمیر مشرکانو ته راجع دے که دوی پو هیدے، نو دوی به مؤمنان په هجرت باندے نهٔ مجبوره کولے۔

اَلَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ: یعنی د هجرت دپاره دوه پائے او دوه اهم صفات پکار دی، یو صبر او بل توکل کول چه الله به رزق راکوی نو بیا به ورته هجرت آسانیږی۔

دارنګه دا د هر داعی الی الله دپاره صفات دی چه ددے نه بغیر په خپل مشن کښې کامیابیدے نشی۔ سورة العنکبوت آیت (٦٠) کښې هم د هجرت په موقعه کښې دا دوه صفتونه راوړیدی۔

وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا: پدے دوه آیتونو کښې د رسول الله ﷺ د رشتینوالی بیان دے، او رد دے په بله (شپږمه) عقیده د مشرکانو باندے۔ د مکے مشرکانو به تعجب

کـولـو چـه الله تـعـالیٰ یـو انسان (سړے) څنګه خپل نبی جوړ کړو ؟ د دوی ددے شبهے د رد کـولـو دپاره الله تعالیٰ خپل نبی کریم ﷺ مخاطب کړو ورته ئے وویل چه ستا نه مخکښ څومره انبیاء چه مونږ رالیږلی تول انسانان سړی وو، یو نبی هم ملائك نهٔ وو، او د مکے مشرکانو ته ئے وویل چه ددے خبرے د تصدیق دپاره د یهودو او نصاراؤ نه تپوس وکړئ کوم چه تاسو هم علم او پوهے والا ګنړئ، هغوی به هم تاسو ته د خپلو کتابونو په حواله سره دا وائی چه انبیاء کرام همیشه انسانان سړی راغلی دی چه هغوی ته الله تعالیٰ د هغوی د رشتینوالی دپاره ښکاره دلائل ورکړی او د انسانانو د هدایت دپاره د کتابونو ورکولو سره ئے رالیږلی۔

او پدے آیت کښ یوه بله ذهن سازی هم کیږی، رسول الله ﷺ په مکه کښ په تکلیف کښ وو او ملګری ئے هم په تکلیف کښ وو نو دا وَهم کیدو چه دا څنګه د الله رسول دے چه دومره په تکلیف کښ دے؟ نو الله تعالیٰ فرمائی چه دا رسول یو سړے دے د انسانانو نه دے، او په انسانانو باندے تکالیف راځی څه ملائك نهٔ دے چه تکلیف به پرے نهٔ راځی، خو آخر کښ ئے غالبه کوی۔

رِجَالًا : نهٔ ملائك وو او نهٔ زنانه وے۔

اَهْلَ الذِّكْرِ: د اهل الذکر نه مراد اهل کتاب دی، او کتاب ته ذکر ځکه وائی چه دا انسان ته فائده منے خبرے رایادوی۔ او همدا ئے ظاهر معنیٰ ده۔

د تقلید شخصی قائلینو ددے نه دلیل نیولے دے او وئیلی ئے دی چه پدے کښ الله تعالیٰ د چا سره چه علم نهٔ وی هغوی ته حکم کړیدے چه دوی د اهل علمو نه تپوس وکړی، نو ددے جواب دا دے چه د آیت سیاق او سباق دلالت کوی چه دا آیت د یو خاص موضوع په باره کښ د تپوس کولو سره متعلق دے چه د هغے د تقلید شخصی سره لرے تعلق هم نشته دے۔ د ابن جریرؒ، بغویؒ او اکثر مفسرینو همدا رائے ده۔ سیوطیؒ په خپل ((درمنثور)) کښ دا په تفصیل سره بیان کړیدے۔

او که فرض کړے شی چه د آیتِ کریمه نه مراد عام سوال دے۔ نو د ((اهل ذکر)) نه د سوال کولو حکم شویدے او د ((ذکر)) نه مراد صرف د الله کتاب او د هغه د رسول سنت دی۔ یعنی د هغه خلقو نه دِے تپوس وکړے شی چه د قرآن او سنت والا وی۔ او په جواب کښ وحی ذکر کوی او د چا نه چه تپوس وکړے شی نو هغه به په جواب کښ د الله وینا یا د رسول الله ﷺ وینا بیانوی، او تپوس کونکے به په هغے باندے عمل کوی۔ پدے صورت

کښې دا آیت د مقلدینو په خلاف حجت جوړ شو، ځکه چه د دوی دعویٰ دا ده چه د خلقو اقوال (خبرے) بغیر د دلیل غوختلو نه قبول کړے شی، حال دا چه دا آیت پدے خبره دلالت کوی چه د قرآن او سنت علم لرونکی به سوال کونکو ته د قرآن آیت یا د رسول الله ﷺ حدیث بیانوی۔ نو تپوس کونکے به د دلیل تابعدار جوړ شی او دے ته تقلید نشی وئیلے۔ او که یو مقلد د خپل امام مذهب نهٔ بلکه د قرآن او سنت سوال کوی نو هغه مقلد نهٔ پاتے کیږی بلکه هغه د قرآن او سنت متبع کیږی۔

معلومه شوه چه دا آیت د تقلید شخصی نهٔ بلکه د قرآن او سنت د اتباع دلیل دے، او د تقلید شخصی د قائلینو په خلاف دلیل او حجت دے۔ وبالله التوفیق۔ (فتح البیان وغیره)

دارنگه دلته اهل الذکر اسم جنس دے عام دے او حنفی مقلد خو د شافعی عالِم نه تپوس نکوی بلکه د هغه پسے مونځ هم جائز نهٔ گڼړی۔ او حنفی خو په ټولو مسئلو کښې صرف د یو امام تقلید کوی بل مذهب ته اوریدلو باندے ئے اتیا دُرے مقرر کړیدی۔

بیا بعض مفسرینو لکه تفسیر قرطبیؒ دلته ویلی دی چه پدے کښې اثبات د تقلید دے او حال دا چه هغه خپله په اول جلد کښې د تقلید سخت رد کړیدے او دا ئے ویلی دی چه تقلید جهالت دے او دا علم ته رسیدونکے لاره نهٔ ده۔ او فرمائی: [وَفِیْ هٰذَا دَلِیْلٌ عَلَى الْاَمْرِ بِاسْتِعْمَالِ حُجَجِ الْعُقُوْلِ وَاِبْطَالِ التَّقْلِیْدِ] (تفسیر سورة البقره آیت: ۲۳) یعنی تقلید باطل شے دے۔ [وَقُوَّةُ اَلْفَاظِ هٰذِهِ الْاٰیَةِ تُعْطِیْ اِبْطَالَ التَّقْلِیْدِ] (تحت آیة البقره: ۱۷۰) یعنی ددے الفاظو قوت تقلید باطل گرځوی۔ [وَفِیْهِ دَلِیْلٌ عَلَى الْاَمْرِ بِالنَّظَرِ وَالْاِسْتِدْلَالِ وَاِبْطَالِ التَّقْلِیْدِ] (تحت آیة النساء: ۸۲) [وَدَلَّتْ اَیْضًا عَلٰى مَنْعِ التَّقْلِیْدِ لِعَالِمٍ اِلَّا بِحُجَّةٍ یُبَیِّنُهَا] (تحت آیة الاعراف: ۱۷۶) دا آیت دلیل دے چه تقلید د یو عالِم منع دے مگر په دلیل سره چه هغه ئے بیان کړی۔ (وَكَانَ فِیْ هٰذَا زَجْرٌ عَنِ التَّقْلِیْدِ) (تحت آیة الاحزاب: ۶۷) یعنی پدے کښې د تقلید نه منع ده۔ وتفسیر سورة الزخرف آیة: ۲٤)

نو دے کښې وجه دا ده چه د بعض علماؤ اصطلاح دا ده چه هغوی سؤال اهل الذکر ته هم تقلید وائی یعنی د علماؤ نه تپوس کولو ته هم تقلید وائی حال دا چه دا مشهور اصطلاحی تقلید نهٔ دے ځکه چه تقلید اصطلاحی [قَبُوْلُ قَوْلِ الْغَیْرِ (اَوْ اَخْذُ قَوْلِ الْغَیْرِ) مِنْ غَیْرِ حُجَّةٍ] دے۔ یعنی د یو چا خبره منل (یا د یو چا خبره اخستل) بغیر د دلیل نه۔ او په خارج کښې تقلید دے ته وائی چه په خپله غاړه کښې پړے اچول او بل له لاس کښې ورکول چه ما راکاږه زهٔ به ستا د خطا او رسا تابعدار یم او قرآن او حدیث چه ستا د قول په خلاف

راشي د هغې تاويل ته به تيار يم۔ او دا په واقع كښې همداسې ده، نن صبا اكثر مقلدين همداسې تقليد كوي چه آيت او حديث چه د دوی د خپلې خوښې مذهب خلاف راشي نو په هغې كښې تاويلات شروع كړي او خپل مذهب ته ئې راتاووي نو دا سو چه گمراهي ده چه د انسان ايمان بربادوي۔ نو (سؤال اهل الذكر) د قرآن اصطلاح ده، دې ته تقليد نهٔ وئيل كيږي ځكه چه (سؤال اهل الذكر) وئيلې شي : مَعْرِفَةُ حُكْمِ اللّٰهِ فِي الْمَسْئَلَةِ ۔ په يوه مسئله كښې د الله تعالىٰ حكم پيژندل۔ او دا خو مامور بهٖ دې او تقليد خو غير مامور بهٖ دې، بلكه منهي عنه دې۔ ﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ﴾ (اسراء: ٣٦) د هغه څه پسې مهٔ روانيږه چه ستا په هغې باندې علم نهٔ وي۔

﴿وَلَا يُشْرِكُ فِيْ حُكْمِهٖ اَحَدًا﴾ (كهف: ٢٦) (الله تعالىٰ د خپل ځان سره په حكم (فيصله) كښې هيڅوك نهٔ شريكوي)۔ او كله چه انسان د الله تعالىٰ حكم معلوموي نو عالم له به ورشي او هغهٔ ته به ووائي چه د الله د نبي پدې كښې څه طريقه وه؟ نو هغه به ورته حديث بيان كړي نو دا سائل به د دغه حديث پسې روان شي نو دا د كوم ځاى نه تقليد شو؟ عالم صرف ددهٔ دپاره د رڼا ذريعه شوه، د هغه شكريه پكار ده او مقصد خو د الله او د رسول خبره ده۔

دارنگه تپوس خو صرف د ژوندو علماؤ نه كيږي، نهٔ د مړو نه۔ لكه شامي وائي : ((هرچه امي دې نو د هغه هيڅ مذهب نشته بلكه د هغه مذهب د هغه د مفتي مذهب دې))۔ (حاشية رد المحتار ٦٩/٢)

او مفتي به ورته د قرآن او حديث نه فتوىٰ وركوي نهٔ د يو عالم د رائې۔ نو امت د رائې پسې روانول ښه دي او كه د قرآن او حديث پسې۔

دارنگه سؤال اهل الذكر خو صحابه كرامو هم كړيدې چه د رسول الله ﷺ نه به ئې تپوس كولو نو آيا هغوى هم مقلدين شو؟۔ لكه بعض جاهلان هغوى ته هم مقلدين وائي۔ د تقليد مسئلې تول وهمي دي، او ځان په زوره گمراه كول دي او سره د علم نه ځان بي علمۍ ته گوزارل دي، آيا په تول دين باندې په امت كښې صرف امام ابو حنيفهؒ پو هيدو، او امام شافعي او مالك او احمد سره د اسلام هيڅ برخه نهٔ وه؟ او آيا د هغوى تول مذهبونه خطاء دي؟ نو بيا دا څنگه امامان د دين شو؟۔ او آيا هغویٔ سره چه كوم حديثونه دي نو هغه تول غلط دي؟!۔

بِالْبَيِّنَاتِ: دا متعلق دې په رِجَالًا پورې اَیْ رِجَالًا مُتَلَبِّسِيْنَ بِالْبَيِّنَاتِ ۔ يعني داسې سړي چه

مشتمل وو په بیناتو۔ (وهو وجه حسن ذکره الزمخشری)۔
(۲) یا متعلق دے په (اَرْسَلْنَا) پورے۔ ما رالیږلی دی سرې په بیناتو سره۔ (ابن عطیة)
(۳) یا متعلق دے په (نُوْحِيْ) پورے۔
د بینات نه مراد معجزات، او عقلي دلیلونه دی، او زبر جمع د زبور ده وحیي دلیلونه۔ او زبر هغے ته هم وائي چه په هغے کښې وعظي (د نصیحت) خبرے وي۔ نو په بیناتو سره موضوع ثابتیږي، او په زبر سره خلکو ته وعظ او نصیحت کیږي چه زړه نرمونکي خبرے وي او په عمل باندے ئے آماده کوي۔
وَاَنْزَلْنَا اِلَيْكَ الذِّكْرَ : نو ما هم تا ته (د پخوانو پیغمبرانو په شان) قرآن نازل کړو چه دا داسے کتاب دے چه خلکو ته هیرے شوے خبرے رایادوي او دوی د غفلت د خوب نه رابیداروي او دے دپاره مے نازل کړو چه ته قرآن خلکو ته ښکاره بیان کړے او (وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ) او دے دپاره چه دوی هم پکښې فکر وکړي، او د هغے نه رازونه راوباسي۔
نو ددے نه دا قانون راووتو چه د رسول الله ﷺ صحیح احادیث د قرآن کریم تشریح او بیان دے، او قرآن به په احادیثو سره واضح کیږي، ددے وجه نه اهل علم لیکي چه کله د قرآن کریم او د صحیح حدیث ترمینځ په ظاهر کښې تعارض راشي نو حدیث به مقدم کولے شي په قرآن باندے ځکه چه قرآن کریم به په دغه مقام کښې اجمال کړے وي او حدیث به د هغے تشریح وي لکه دا آیت پرے دلیل دے او دا قانون دے چه مبیّن مقدم وي په مُجمل باندے۔ (فتح البیان)
او رسول الله ﷺ چه د قرآن کوم بیان کړیدے هغه هم ورته الله تعالیٰ خودلی دی نو دا دلیل دے چه کتاب او سنت دواړه حجت دی، او سنت شارح د کتاب الله دے او بیان کونکے دے د مجمل د قرآن کریم دپاره۔ نو دا هم ثابته شوه چه بنده له دا جائز نهٔ دی چه حدیث د قرآن په خلاف کښې پیش کړي، یا قرآن د صحیح احادیثو نه مخالف وګڼړي۔
او څوک چه دا وائي چه قرآن کافي دے او احادیثو ته ضرورت نشته، دا هم د قرآن ددے آیت خلاف خبره ده۔ آؤ، قرآن کافي کتاب دے خو په شرح د رسول الله ﷺ سره، یو اُمي سړے دِے قرآن راواخلي په هیڅ به پو هه نشي بلکه کله ئے چه ورته عالِم بیان کړي نو بیا به پرے پو هه شي۔ نو ټول امت د رسول الله ﷺ شرح ته محتاج دے۔ نو کتاب او سنت د اسلام دوه پائے دی۔
ځینې اهل علم وائي چه (لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ) کښې د رسول الله ﷺ ذمه واري ذکر ده او په (وَلَعَلَّهُمْ

يَتَفَكَّرُونَ) کښې د امت ذمه واري ده چه د قرآن په آیتونو کښې به فکر او سوچ کولو سره د هدایت په لاره روانیږي او د دواړو کورونو کامیابي به حاصلوي.

وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ : دے نه دا معلومیږي چه د احادیثو نه علاوه په قرآن کریم کښې خپل فکر کول هم شته چه الله تعالیٰ ورته پدے آیت کښې دعوت ورکړیدے. بیا به د څه خبرے فکر کوي؟ نو ډیر آیتونه دي چه رسول الله ﷺ د هغے بیان نۀ دے کړے ځکه چه هغه انسان په خپل عقل سره هم پیژندلے شي لکه پدے سورت کښې د ذکر شوو عقلي دلیلونو تشریح خو رسول الله ﷺ نۀ ده کړے، لیکن عقلمند خلك ددے د ترجمے نه ددے مطلب حاصلولے شي. او دا تدبر په ډیرو طریقو سره کیږي چه د هغے تفصیل مونږ په تفسیر د سورة النساء آیت (۸۲) کښې ذکر کړیدے هغے ته به دوباره رجوع بنۀ وي.

أَفَأَمِنَ الَّذِينَ مَكَرُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ يَّخْسِفَ اللهُ
آیا نو په امن دي هغه کسان چه مکرونه کوي د بدوکارونو چه خخ به کړي الله تعالیٰ
بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٤٥﴾
دوي لره په زمکه کښې یا به راشي دوي ته عذاب د داسے ځائے نه چه دوي به نۀ پوهیږي.
أَوْ يَأْخُذَهُمْ فِي تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُمْ
یا به اُونیسي دوي لره په اوړیدو راوړیدو کښې (بستره، یا سفر) نو نۀ دي دوي
بِمُعْجِزِينَ ﴿٤٦﴾ أَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلَىٰ تَخَوُّفٍ
عاجز کونکي (الله لره). یا به اُونیسي دوي لره په ویره سره
فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَؤُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٤٧﴾
یقیناً رب ستا ضرور شفقت کونکے رحم کونکے دے.

تفسیر : پدے درے آیتونو کښې سخت تخویف دے هغه کسانو ته چه شرك کوي او د نبي کریم ﷺ د نبوت نه او د قیامت د ورځے د جزا او سزا نه انکار کوي (کوم چه په مخکښې آیتونو کښې ذکر شول) او ایمان نۀ راوړي او بیا پکښې تول مجرمان داخلیږي.

مناسبت دا دے چه الله تعالیٰ رسول الله ﷺ ددے دپاره راولیږلو چه د هغه طاعت وکړے شي، اُوس یو تن رالګیږي د هغه مخالفت کوي او سیئات (ګناهونه) کوي نو د هغوي

دپاره سزا بیانیږي۔
او په دې کښې اوّلاً د مکې مشرکان یرولې شي دې دپاره چه د شرك نه توبه کړي، او د نبي کریم ﷺ په نبوت، په ورځ د قیامت او په جزا او سزا باندې ایمان راوړي۔
مَكَرُوا السَّيِّئَاتِ: د مکر لفظ ئې استعمال کړو ځکه چه دا د کافرو طریقه وه چه د اسلام د ختمولو دپاره ئې پټ پټ تدبیرونه جوړول۔
۱- معنیٰ دا ده [عَمِلُوا اَوْ فَعَلُوا السَّيِّئَاتِ] چه کوي بدو عملونو لره۔ ۲- او زمخشري معنیٰ کوي: [مَكَرُوا الْمَكْرَاتِ السَّيِّئَاتِ) چه مکرونه کوي مکرونه بد بد۔
۳- یا معنیٰ دا ده: [اَفَأَمِنَ الْمَاكِرُوْنَ لِلْعُقُوْبَاتِ السَّيِّئَاتِ] آیا په امن کښې دي د بدو سزاګانو نه هغه کسان چه مکرونه جوړوي۔
٤- [اَوْ مَكَرُوْا بِالسَّيِّئَاتِ] یا مکرونه جوړوي د ناکاره کارونو۔ (فتح البیان)
د ((سیئات)) نه مراد هغه ټول ګناهونه دي چه د هغې به مکې والو ارتکاب کولو۔ په دې کښې د ټولو نه اول د نبي کریم ﷺ د قتل سازش، کمزورو مسلمانانو لره د ایمان نه اړولو دپاره روح اخستونکې سزاګانې ورکول، او د اسلام د بیخ ګندی دپاره سازشونه کول وو، د رسول الله ﷺ غیبتونه او سپکاوې کول، خلك کفر او شرك ته دعوت کول۔
حاصل مطلب د آیت دا دې: الله تعالیٰ فرمائي چه دا د مکې مشرکان چه شرك کوي او د نبي کریم ﷺ د نبوت او د قیامت د ورځې نه انکار کوي او د اسلام او د رسول الله ﷺ په خلاف غلط سازشونه کوي، آیا دوي ددې خبرې نه نهٔ یریږي چه الله تعالیٰ به دوي په زمکه داخل کړي، یا به ناڅاپي دوي په عذاب کښې اخته کړي، یا به کوم طوفان راشي، یا کومه وباء او قحط سالي چه دوي به محتاج او فقیران کړي، یا چه کله د تجارت دپاره د یو ښار نه بل ښار ته ځي نو ناڅاپه به الله تعالیٰ دوي هلاك کړي؟ او د داسې کولو نه به دوي الله تعالیٰ نشي بندولې، یا به دوي یو بل نه روستو هلاك کړي تردې پورې چه د دوي یو فرد به هم باقي پاتې نهٔ شي، لیکن الله تعالیٰ په خپلو بندګانو ډیر شفقت او رحم کونکې دې، په دې وجه هغه د مکې والو سره داسې سلوك ونکړو بلکه دوي ته ئې د توبې ویستلو او د حق طرف ته د رجوع کولو مهلت ورکړو۔
فِيْ تَقَلُّبِهِمْ: ۱- فِيْ حَالِ تَقَلُّبِهِمْ فِي اللَّيْلِ عَلٰى فُرُشِهِمْ ۔ یعني په حال د اوړیدو راوړیدو د دوي کښې د شپې په بسترو باندې۔ ۲- (فِيْ اَسْفَارِهِمْ وَمَتَاجِرِهِمْ)یعني په سفرونو کښې او په ځایونو د تجارتونو کښې۔ (فتح البیان)

۳- [فِیُ حَالِ تَقَلُّبِهِمُ فِیُ قَضَاءِ اَوُطَارِهِمُ بِوُجُوُهِ الُحِیَلِ فَیَحُوُلُ اللّٰهُ بَیُنَهُمُ وَبَیُنَ مَقَاصِدِهِمُ وَحِیَلِهِمُ] یعنی په حالت د گرځیدو د دوی کښې په حاجتونو خپلو پسې په قسماقسم حیلو سره نو الله تعالیٰ به د دوی او د دوی د مقاصدو او حیلو ترمینځ حائل واقع شي۔

عَلٰی تَخَوُّفٍ: ۱- په یرې سره۔ یعنی همیشه به د مصیبتونو نه په یره کښې وی۔

۲- تخوف کله په معنیٰ د تَنَقُّصُ (کموالی) سره راځی یعنی په مالونو او نفسونو او میوه جاتو کښې به ئے نقصان پیدا کړی او نفری به ورله کمه کړی، وخت په وخت به ئے د یو طرف او بل طرف نه وژنی تردې چه ټول به ختم شي۔ او عرب تخوف لفظ د تنقص دپاره استعمالوی، لکه هُوَ یَتَخَوَّفُ الُمَالَ اَیُ یَتَنَقَّصُهٗ وَیَأۡخُذُ مِنُ اَطُرَافِهٖ ۔ فلانے مال کموی او د هغے اطراف نیسی۔ تَخَوَّفَتِ السُّفُنُ) یعنی کشتئ کمے شوے۔

عمر فاروق ﷺ یوه ورځ یو باندې چی ته وویل چه تاسو تخوف لفظ په معنیٰ د تنقص استعمالوئ آیا دا چرته په اشعارو د عربو کښې شته ؟ نو هغه ورته شعر وویلو :

تَخَوَّفَ الرَّحۡلُ مِنۡهَا تَامِکًا قِرۡدًا	❁	کَمَا تَخَوَّفَ عُوۡدَ النَّبۡعَةِ السُّفُنُ

(یعنی د اوښے پالان د اوښے اوچت قوب کم کړو۔ لکه چه سوان د نبعه ونے لرګے کموی)۔

نو عمر فاروق ﷺ وفرمایل : [عَلَیۡکُمۡ بِدِیۡوَانِکُمۡ لَاتَضِلُّوۡا] تاسو خپل دیوان (یعنی د جاهلیت د زمانے شعرونه) راونیسئ چه گمراه نهٔ شئ ځکه چه پدې کښې ستاسو د کتاب تفسیر دے او ستاسو د کلام معانی دی۔ (فتح البیان)

اَوَ لَمۡ یَرَوۡا اِلٰی مَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنۡ شَیۡءٍ یَّتَفَیَّأُ
آیا نهٔ گوری دوی هغه څه ته چه پیدا کړیدی الله تعالیٰ د هریو څیز نه اوړی راوړی
ظِلٰلُهٗ عَنِ الۡیَمِیۡنِ وَالشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِلّٰهِ وَهُمۡ
سوری د هغے د ښی طرف نه او د گس طرفونو نه سجده کونکی الله تعالیٰ ته او دوی
دَاخِرُوۡنَ ﴿۴۸﴾ وَلِلّٰهِ یَسۡجُدُ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی
عاجز وی۔ او خاص الله لره سجده کوی هغه څه چه په آسمانونو کښې دی او هغه چه په
الۡاَرۡضِ مِنۡ دَآبَّةٍ وَّالۡمَلٰٓئِکَةُ وَهُمۡ لَا یَسۡتَکۡبِرُوۡنَ ﴿۴۹﴾ یَخَافُوۡنَ
زمکه کښې دی د زنده سر نه او ملائك هم او دوی لوئی نهٔ کوی۔ یریږی دوی

رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ (س)

د رب خپل نه چه پورته دے د دوی نه او کوئی دوی هغه چه دوی ته ئے حکم کیدے شی۔

تفسیر : اُوس بیرته د اول د سورت په شان د الله د معرفت دلیلونه بیانیږی، دلیل وحی او دلیل نقلی بیانوی او بیا روستو په شرك باندے رد کوی۔

ربط

۱- مخکښ د مکے مشرکانو ته دهمکی ورکړے شویده نو دلته د هغے د زیات تاکید دپاره الله تعالیٰ خپل عظمت او جلال او کبریاء بیان کړیده چه دا خبره تاسو ته هغه الله کوی چه د هغه په دربار کښ پیریان، انسانان، حیوانات او جمادات او ملائك ټول په سجده پریوزی تردے چه د هر شی سورے هم صبا او بیګا په انتهائی عاجزئ او خشوع سره هغهٔ ته سجده کوی او د هغهٔ د خوښے نه نهٔ اوړی۔ ۲- وګورئ الله تعالیٰ څومره ډیر مخلوقات پیدا کړیدی نو الله تعالیٰ ستاسو په رانیولو هم قادر دے۔

أَوَلَمْ يَرَوْا : یعنی دے کښ دوی فکر نهٔ کوی چه بیا هم د الله سره برخه داران جوړوی۔

يَتَفَيَّأُ : أَيْ تَمِيْلُ وَتَدُوْرُ وَتَنْتَقِلُ مِنْ جَانِبٍ إِلٰى جَانِبٍ) یعنی مائله کیږی او ګرځی او د یو ځای نه بل ځای ته نقل کیږی۔ سهار کښ سوری په یو حال وی بیا راغونډ شی او په آخر د ورځ کښ په بل حالت وی۔

وَالشَّمَآئِلِ : شمائل ئے جمع او یمین ئے مفرد راوړو؟

۱- پدے کښ یوه نکته دا ده چه عرب کله دوه څیزونه ذکر کوی نو یو لفظ پکښ مفرد راوړی د اختصار دپاره لکه ﴿وَيُوَلُّوْنَ الدُّبُرَ﴾ (القمر : ٤٥) (زمخشری)

۲- دویم دا چه د سوری شروع کیدل د یو ځای نه وی چه هغے ته نقطة الشمس وائی او هغه یوه ده او بیا شمال طرفته لږ لږ ګرځی په مختلفو حالاتو کښ۔ یعنی کله چه په زمکه واقع شی نو خواره شی نو ډیر شی۔

فائده : کله چه نمر د مشرق نه راخیژی او ته قبلے ته متوجه ئے نو ستا سورے به ښی طرفته وی او کله چه نمر مینځ د آسمان ته راشی نو ستا سورے به شا ته وی او کله چه نمر پریوتو طرفته مائل شی نو ستا سورے به ګس طرفته وی۔ (فتح البیان)

سُجَّدًا : یعنی دغه څیزونه او دغه سوری الله تعالیٰ ته سجده کونکی دی۔

زجاج وائي : يعني دا څيزونه په طاعت باندے پيدا کړے شوي. (د الله د حکم نه هيڅ کله نافرماني نهٔ کوي)

❁ ظاهر دا ده چه د هر شي خپله سجده ده نو سوري هم سجده کوي.

دَاخِرُوْنَ: ټول مخلوقات خپل الله تعالیٰ پیژني صرف يو انسان او پيريے دي چه د خپل رب نه نافرمانه دے. نو پدے کښ رد د شرك هم دے چه هر شے الله ته سجدے لګوي تردے چه ستاسو معبودان هم الله تعالیٰ ته سجدے لګوي نو بيا تاسو څنګه دغه عاجز مخلوق د الله سره شريك کوئ.

وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ: يعني په آسمانونو کښ وسيدونکي ملائك او په زمکه کښ ګرځيدونکي چارپيان ټول د الله مخے ته د تابعدارئ سر خکته کوي، ټول د هغه د خوښے او ارادے پابند دي. په ژوند او مرګ او صحت او بيمارئ هر شي کښ د هغه د فيصلے پابند دي. خاصکر ملائك د هغهٔ د عبادت او د هغهٔ مخکښ د سجدے کولو نه هيڅ کله هم انکار نهٔ کوي، او د خپل رب نه په يره وسيږي چه ډ پوره عظمت او کبرياء والا دے، او تمام مخلوق د هغهٔ نه لاندے دے. او د الله د طرف نه چه کوم احکام او اوامر د دوی دپاره صادريږي هغه د بندګئ په پوره جذبه سره عملي کوي.

يَسْجُدُ : ملائك او انسانان خو حقيقةً سجده کوي او باقي حيوانات الله تعالیٰ ته عاجزي کوي او د هغهٔ حکم ته غاړه ايخودونکي دي.

وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ : پدے کښ په مشرکانو رد دے چه ملائك سره د لوی والي د جسم او مرتبے نه د الله تعالیٰ د حکم نه تکبر نهٔ کوي او الله تعالیٰ نه يره کوي او هغهٔ ته عاجزي کوي او تاسو استکبار کوئ. (قُلُوْبُهُمْ مُنْكِرَةٌ وَهُمْ مُسْتَكْبِرُوْنَ)

نو پدے کښ دعوت دے تَشَبُّه بِالْمَلَائِكَة ته هم چه اے مؤمنانو ! تاسو د ملائکو سره ځانونه مشابه کړئ پدے اعمالو او صفاتو کښ.

مِّنْ فَوْقِهِمْ : ددے نه سلفو علماؤ د الله تعالیٰ دپاره د فوقيت او علو (پورته والي) صفت ثابت کړيدے چه ددے کيفيت معلوم نهٔ دے او د بندګانو د صفت (فوقيت او علو) مشابه نهٔ دے. (مِنْ) چه کله په (فَوْق) لفظ داخل شي نو دا د فوقيت ذاتي دپاره استعماليږي. او چه (مِنْ) پرے داخل نهٔ وي نو کله د فوقيت ذاتي او کله د فوقيت رتبي او کله فوقيت قهري دپاره هم استعماليږي. دلته اشاعره او ماتريديه باطل تاويلات کوي چه کله وائي دلته مضاف پټ دے، او کله وائي چه الله پورته دے په اعتبار د مرتبے او قهر سره، او ذاتي پورته

والے ئے نۀ مني۔ دا باطله عقيده ده۔
دلته سجده كول ضروري دي لكه په حديث كښې راغلے ده۔ او دارنګه د مستكبرينو د صفت نه ځان ساتل لازم دي نو چه د هغوي سره تشبه رانشي، سجده پكار ده۔

وَقَالَ اللّٰهُ لَا تَتَّخِذُوْا إِلٰـهَيْنِ اثْنَيْنِ إِنَّمَا هُوَ إِلٰـهٌ وَّاحِدٌ
او فرمايلي دي الله تعالىٰ مۀ نيسئ حقدار د بندګئ دوه يقيناً هغه حقدار د بندګئ يو دے
فَإِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ﴿٥١﴾ وَلَهٗ مَا فِي السَّمَاوَاتِ
نو خاص ما نه يره اُوكړئ۔ او د الله په اختيار كښې دي هغه څه چه په آسمانونو
وَالْأَرْضِ وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا أَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ ﴿٥٢﴾
او زمكه كښې دي او خاص هغه لره بندګي ده لازمه آيا نو سوئ د الله تعالىٰ نه يريږئ تاسو۔
وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ
او هغه چه په تاسو باندے څه نعمت دے نو د طرف د الله نه دے بيا كله چه اُورسي تاسو ته
الضُّرُّ فَإِلَيْهِ تَجْئَرُوْنَ ﴿٥٣﴾ ثُمَّ إِذَا كَشَفَ الضُّرَّ عَنْكُمْ إِذَا فَرِيْقٌ
تكليف نو خاص هغۀ ته چغے وهئ۔ بيا كله چه لرے كړي تكليف ستاسو نه ناڅاپه يوه ډله
مِّنْكُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿٥٤﴾ لِيَكْفُرُوْا
ستاسو نه د خپل رب سره برخه داران جوړوي۔ (انجام دا دے) چه ناشكري وكړي دوی
بِمَا آتَيْنَاهُمْ فَتَمَتَّعُوْا فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿٥٥﴾
د هغے څه چه وركړيدي مونږ دوي ته نو مزے واخلئ نو زر دے چه پو هه به شئ تاسو۔

تفسير: پدے آيت كښې وحيي دليل دے په رد د شرك باندے۔
يعني كله چه د آسمان او زمكے تمام مخلوقات الله ته سرخكته كوي او پدے خبره اقرار كوي چه صرف هغه ذات لائق د عبادت دے، د هغۀ نه سوئ هيڅوك حقدار د بندګئ نشته دے، نو په پيريانو او انسانانو هم لازم دي چه دوي هم په عملي توګه ددے ثبوت وركړي، او د يو الله نه سوئ د دوه يا زياتو معبودانو نه انكار اُوكړي۔ پدے وجه الله تعالىٰ دوي ته پدے آيت كښې حكم كړيدے چه دوي د خپل ځان دپاره دوه دروغجن معبودان جوړ

نهٔ کړي، ځکه حقيقي معبود صرف يو دے، هغه د عبادت لائق دے. او صرف د هغهٔ نه يريدل پکار دي. د هغهٔ نه سوئ د هيڅوا نه يره نهٔ ده پکار. ځکه چه هرڅه د هغهٔ په اختيارکښ دي. د بل چا په اختيار کښ هيڅ هم نشته دے، هغه مړ کونکے، ژوندے کونکے او نفع او نقصان رسونکے دے. د هغه نه سوئ ټول بالکل عاجز دي، او هيڅ قدرت نهٔ لري.

اثْنَيْنِ : دا ئے يا د تاکيد دپاره ذکر کړو چه پدے کښ زيات نفرت ورکول دي د شريکانو جوړولو نه. يائے اثنين ورسره ددے دپاره ذکر کړو چه دا معلومه شي چه نهي راجع ده تعدد د آلهو ته نهٔ جنسيت ته. يعنی اصلي الوهيت خو شته او هغه الله لره ثابت دے. او (اله واحد) کښ ئے واحد زيات کړو دپاره د دفع د گمان چه دلته به مقصد الوهيت ثابتول وي نهٔ يو والے، (ځکه چه اله کښ کله د جنس معني وي نهٔ د وحدت) سره ددے نه چه د الله دپاره الوهيت خو مشرکانو هم منلو خو خلاف د مشرکانو په يو والی کښ وو.

فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ: هرکله چه مشرکان په اکثرو اوقاتو کښ د يرے په وخت کښ خپلو باطلو معبودانو ته سجدے کوی نو ددے وجه نه ئے وفرمايل : چه خاص زما نه ويريږئ. يعنی اِيَّايَ ئے مقدم کړو دپاره د تخصيص، پدے کښ رد دے په هغه خلکو چه هغوی د شر په وخت کښ د بل چا نه مدد غواړي. نو دلته مقصد دا شو چه پوره يره به د الله نه کولے شي او د شرونو په دفع کولو کښ به د بل چا په قدرت اعتماد نهٔ کوئ. (ابن عاشور)

رهبة: خَوْفٌ مَعَ حُزْنٍ وَاضْطِرَابٍ. دا هغه يره ده چه د غم او پريشانئ سره وي.

او دارنگه رهبة خَوْفٌ مَعَ هَرَبٍ. هغه يره چه د تيښتے سره وي يعنی چه بنده د الله تعالیٰ د يرے نه د گناه د ځای نه تيښته کوی لکه څنگه چه راهب په يو گوټ کښ ناست وي چه گناه کښ واقع نشي.

وَلَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ : دا د مخکښي مضمون تاکيد دے چه الله تعالیٰ د آسمان او زمکے د هر شي مالك دے، او په هر حال کښ او هر وخت کښ د هغهٔ اطاعت او بندگي واجب ده، نو د هغهٔ نه سوئ د بل چا نه يريدل د هغهٔ په وحدانيت، خالقيت او رازقيت باندے د ايمان راوړو منافي دي. نو دا دليل د مخکښ (فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ) دپاره شو.

وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا : يعني د الله دپاره طاعة دے هميشه. دا د الله کمال دے چه د هغه طاعت هميشه کيږي ځکه چه الله تعالیٰ هميشه ذات دے په خلاف د نورو معبودانو چه د هغوی طاعت هميشه نهٔ وي ځکه چه هغوی هميشه نهٔ وي، مرگ پرے راځي.

(ابن قتيبة)

اَلدِّيْنُ : نه مراد طاعت (عبادت) او اخلاص دے۔

وَاصِبًا : اَیْ ثَابِتًا، وَاجِبًا، دَائِمًا لَایَزُوْلُ) يعني ثابت، لازم، هميشه چه نهٔ زائل كيږي۔

أَفَغَيْرَ اللهِ تَتَّقُوْنَ : يعني هركله چه طاعت او عبادت خاص د الله دپاره كيږي نو يره هم خاص د هغه نه پكار ده، او مينه هم د هغه سره پكار ده۔ (تقوی) دلته په لغوی معنیٰ سره ده۔ يعني يره۔

وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللهِ : يعني تاسو د الله نه سویٰ د بل چا نه يره مهٔ كوئ او بندگی د هغهٔ وكړئ ځكه چه تاسو سره چه كوم نعمتونه دی هغه ټول په ټوله الله دركړيدی او كله چه تاسو ته څه تكليف اُورسي نو د هغهٔ په دربار كښ عاجزی او ژړا كوئ، ځكه چه تاسو پوهيږئ چه د هغهٔ نه سویٰ هيڅوك دا نشي لرے كولے۔او ستاسو په حال باندے رحم كولو سره چه كله هغه دا تكليف لرے كوی، نو تاسو نه څه خلق د هغه سره شريكان جوړوی، او وائي چه دا زمونږ د معبودانو كرامت دے، د دوی په وجه زمونږ دا تكليف لرے شويدے۔ او پدے طريقه دوی د الله د نعمتونو نه انكار وكړی، او په كفر او عناد كښ اخته شي۔ داسے خلقو ته الله تعالیٰ دهمكی وركړے او وئيلی ئے دی چه څه ورځو دپاره مزے واخلئ، نزدے د قيامت په ورځ به تاسو ته خپل انجام او خپل ځای معلوم شي۔ ځكه چه نعمتونه هغهٔ دركړيدی او مصيبتونه هغه لری كوی او بندگی د بل چا كوئ دا څومره لوی ظلم دے۔

ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ : يعني تاسو ته چه كله مصيبت ورسيږی ستاسو د گناهونو په وجه۔

تَجْئَرُوْنَ : دا جُؤَارُ الْكَلْب نه دے، د يخنئ د وجه نه د سپي كړونجيدو ته وائي۔ او انسان چه كله په عاجزئ سره د چا د رابللو دپاره آواز پورته كړی، دے ته جؤار وائي۔ دلته ئے معنیٰ ده : (تَتَضَرَّعُوْنَ وَتَسْتَغِيْثُوْنَ وَتَضُجُّوْنَ) تاسو هغه ته عاجزی كوئ او د هغه نه فرياد طلب كوئ او هغه ته چغے وهئ۔

بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ : يعني د الله سره بت او بابا او قبر والا شريك كړی، مشركان وائي چه په ما باندے د فلانی بابا نظر وو او د هغه بركت وو ځكه چه ما د هغه دپاره نذر منلے وو۔ او فلانے بابا سمدستي د تكليف په وخت رارسيږی۔ نو نعمت پرے الله كوی او دوی ئے نسبت غير الله ته كوی۔ عبد الله بن عباس ﷺ فرمائي : پدے كښ دا هم داخل دی چه يو تن په

کشتئ کښې سور وی او تکلیف راشی او بیا ختم شی نو وائی چه [کَانَ الْمَلَّاحُ حَاذِقًا] کشتیبان ډیر هوښیار وو هغه راخلاص کړو. یا ووائی :
[لَوْلَا الْبَطَّةُ فِي الدَّارِ لَاَتَانَا اللُّصُوْصُ] (که په کور کښې بطه نۀ وے نو غلۀ به راغلی وے).
ځکه چه دے کښې هم ذهن د الله نه بل طرفته متوجه کیږی. کله ډرائیور ځان د الله سره شریکوی چه که زۀ نۀ وے نو ټول خلك به هلاك شوی وے، ما رابچ کړل. او خلك هم دغه شان خبره کوی. البته که دیو مؤمن عقیده برابره وی او الله ته ئے توجه وی او یو شی ته نسبت وکړی نو هغه به گناهګار نۀ وی لکه حدیث کښې هم هغه نسبت شویدے،
(اِنَّ مِمَّا يُنْبِتُ الرَّبِيْعُ مَا يَقْتُلُ حَبَطًا) (یعنی سپرلے بعض هغه ګیاه رازرغونوی چه هغه حیوان وژنی) (بخاری: ٢٨٤٢) البته عقیدةً به دا نسبت صحیح نۀ وی، او چه کله ئے د الله نه ذهن اوړی او په مخلوق باندے جوړیږی نو بیا به صحیح نۀ وی.
لِيَكْفُرُوْا : ١- لام د عاقبت دے یعنی ددے نعمت عاقبت دا شو چه دوی کفر وکړو یعنی ددے نعمت انجام خو دا کیدل پکار وو چه خلکو د الله احسان منلے وے او د هغهٔ بندګی ئے شروع کړے وے نو دوی د نعمت انجام دا جوړ کړو چه ناشکری ئے شروع کړه، بل ته ئے نسبت وکړو. ٢- یا لام په معنیٰ د (کَیْ) سره. یعنی دا شرك دوی ددے دپاره کوی چه ناشکری د دغه نعمت وکړی. یعنی شرك د ناشکرئ دپاره کوی. یعنی ددے خلکو غرض زما ناشکری کول دی. اول قول غوره معلومیږی.
دا د مشرکانو اُومه غلطه خبره او عقیده وه چه نعمت الله تعالیٰ ورکړے وی او نسبت ئے بل ته کوی.

وَيَجْعَلُوْنَ لِمَا لَا يَعْلَمُوْنَ نَصِيْبًا مِّمَّا رَزَقْنَاهُمْ
او مقرروی دوی هغه چا لره چه نۀ پوهیږی برخه د هغه مال نه چه ورکړیدے مونږ دوی ته،
تَاللّٰهِ لَتُسْأَلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَفْتَرُوْنَ ﴿٥٦﴾
قسم په الله خامخا تپوس به اُوکړے شی ستاسو نه د هغے چه تاسو دروغ جوړوئ.
وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ الْبَنَاتِ سُبْحَانَهٗ وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿٥٧﴾
او مقرروی دوی الله لره لونړه، پاك دے هغه او دوی لره به هغه څه وی چه دوی ئے غواړی.

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ
او کله چه زیرے ورکړے شي یو تن د دوی ته په لور سره اُوګرځي مخ ددهٔ تور او هغه
كَظِيمٌ ﴿٥٨﴾ يَتَوَارَىٰ مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوءِ مَا بُشِّرَ
د غم نه ډك وي- ځان پټوي د خلقو نه د وجے د بد هغے نه چه زیرے ورکړے شویدے دهٔ ته
بِهِ أَيُمْسِكُهُ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ
په هغے سره (سوچ کوي چه) آیا اُوساتي هغه (لور) په ذلت سره یا خخه ئے کړي
فِي التُّرَابِ أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٥٩﴾
په خاورو کښې، خبردار بده ده هغه فیصله چه دوی ئے کوي-

تفسیر : او دا د مشرکانو اتمه عقیده ده- او پدے کښې رد د شرك فی التحلیل والتحریم دے- یعني د مکے د مشرکانو یو بل عیب او د هغوی باطل پرستي دا هم ده چه د کومو جماداتو او شیطانانو په باره کښې چه دوی د هیڅ نه خبر نهٔ دي هغه ئے خپل معبودان جوړ کړیدي، او د هغوی د تقرب حاصلولو دپاره د الله د ورکړي رزق یوه حصه خرچ کوي، په هغوی باندے شالونه او کپړے خوروي، د هغوی په نوم نذرونه مني، او حیوانات د هغوی په نوم ذبح کوي- الله تعالیٰ په سورة الانعام آیت (۱۳٦) کښې فرمایلي دي :
﴿وَجَعَلُوا لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْأَنْعَامِ نَصِيبًا﴾ الآیة چه الله چه کوم فصلونه او حیوانات پیدا کړیدي د هغے یوه حصه دوی د الله دپاره مقرر کړے، او په خپل ګمان وائي چه دا خو د الله ده او دا زمونږ د معبودانو ده)-
الله تعالیٰ په خپل ذات باندے قسم کولو سره دوی ته ووئیل چه د قیامت په ورځ به د دوی نه ددے افتراء اتو او دروغ جوړولو په باره کښې تپوس کیږي-
لَا يَعْلَمُونَ : دا ضمیر یا (مَا) لفظ ته راجع دے یعني دا بتان او قبرونو والا چه د هیڅ نه خبر نهٔ دي، د مشرکانو د نذرونو علم نهٔ لري-
(۲) یا ضمیر مشرکانو ته راجع دے یعني دوی د خپلو مغبودانو د حال نه خبر نهٔ دي چه هغوی خو عاجز دي، نهٔ څه آوري او نهٔ څه ویني او نهٔ چا سره مدد کولے شي-
نَصِيبًا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ : ددے تشریح په سورة الانعام آیت (۱۳٦) کښې ذکر شویده-

رَزَقْنَاهُمْ : ددے نه مراد د خوراك او څکاك څيزونه، څاروی، غلے او کپړے وغيره د غير الله په نوم نذر کول دی۔
تَفْتَرُوْنَ : يعنی تاسو چه په الله باندے کوم دروغ جوړول په دنيا کښ۔
وَيَجْعَلُوْنَ : نهمه عقيده د مشرکانو رد کيږی۔ د دوی د شرکی جرمونو نه يو جرم دا دے چه دوی ملائکو ته د الله لونړه وائی حال دا چه د هغهٔ نه نهٔ څوك پيدا شويدی او نهٔ هغه د چا نه پيدا شويدے، هغه خو د تمامو عيبونو او نقائصو نه بيخی پاك دے،
او د دوی د رذالت او خسيس والی انتهاء دا ده چه په سورة النجم آيتونو (۲۱/۲۲) کښ الله فرمايلی دی : ﴿ اَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْاُنْثٰى، تِلْكَ اِذًا قِسْمَةٌ ضِيْزٰى ○﴾
(آيا ستاسو دپاره هلکان او د الله دپاره جينکئ دی، دا خو ډير د بے انصافئ تقسيم دے)۔
او په سورة الصافات آيت (۱۵۳/۱۵٤) کښ فرمايلی دی :
﴿ اَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِيْنَ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ○﴾ (آيا الله تعالىٰ خپل ځان دپاره جينکئ په هلکانو غوره کړيدی، تاسو له څه شويدی، څنگه فيصلے کوئ ؟!)۔
الْبَنَاتِ : مشرکانو به ورسره دا عقيده هم جوړه کړے وه چه مونږ د ملائکو ځکه تعظيم او عبادت کوو چه پلار د لور په تعظيم او اکرام باندے خوشحاليږی، او دارنگه دا به ئے هم وئيل چه د دوی ميندے سَرَواتُ الجن دی يعنی د پيريانو سردارانے۔ لکه سورة الصافات کښ د هغے تفصيل راځی۔
وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ: پدے کښ او روستو آيت کښ د دوی نهم مرض ذکر کيږی چه دوی د ځانونو دپاره زامن وائی او لونړه بدے گنړی نو دلته دوه مرضه شو خپل ځان له لونړه بدے گنړی، او دويم : د الله دپاره لونړه گنړی، نو دوی د خپلو ځانونو جانب غوره کړو په جانب د الله باندے، ځانونه ئے په الله غوره کړل۔ چه ځان له اعلىٰ شے خوښوی او الله دپاره ادنىٰ۔
او پدے جمله کښ طريقه د جواب تسليمی اختيار شويده يعنی اول خو هيڅ اولاد نشته او که بالفرض تاسو ورله اولاد ثابتوئ بيا د لونړو په ځای ورله زامن ولے نهٔ وايئ نو د ادنىٰ شی نسبت ورته څنگه کوئ دا خو ډير قبيح کار دے۔
وَاِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ : د عربو مشرکانو ددے خبرے زيات قباحت او شناعت ښکاره کولو دپاره الله تعالىٰ فرمائی چه خپله د دوی حال دا دے چه که د دوی نه د چا جينئ پيدا شی نو د شرم او خجالت په وجه د هغهٔ مخ توريږی او د غم او د ستومانئ نه د هغهٔ حالت بدليږی چه اُوس به دا خلقو سره څنگه ملاويږی، د دوه حالتونو ترمينځ حيران او پريشان وی چه دا

د خپل ځان سره وساتي او ذلت او رسوائي برداشت كړي او كه ژوندئ ئې په خاورو كښې خخه كړي.

بِالْأُنْثٰى: د عربو د جاهلانو طريقه دا وه چه د جينئ په پيدائش به خفه كيدل او ددے دوه وجے وے، يو دا چه دے ته به رزق خوك وركوى، بل به ورته شرم ښكاره كيدو، او دا خبره د دوى د عقل او نقل دواړو نه خلاف وه ځكه چه لونړه خو الله تعالىٰ وركوى نو د انسان پكښې څه واك دے، او بل دا چه تهٔ هم د جينئ نه پيدا شوے ئې، كه جينئ نهٔ وى نو بيا د انسانانو پيدائش څنګه كيږى او تاسو چه د خپلو ښځو نه فائدے اخلئ دے ته نهٔ ګورئ. او دا مرض لكه څنګه چه پخوا وو اُوس هم په ډيرو خلكو كښې موجود دے چه ځان ته به ډير نيكان هم وائي. خپلو ښځو ته بد بخته وائي چه ډيرے لونړه راوړى. بعض خلك د لور په پيدائش وهل تكول كوى، او كله ښځه طلاقوى، او كله دغه لور له «بله نشته» نوم اږدى او د جينكو په نومونو كښې (بسمينه، بسئ، بله نشته، واحده وغيره) كيخودل هم د مشركانو ددے عقيدے نه راپيدا شويدى چه بله جينئ پيدا نشى.

ظَلَّ : يعنى د ورځے ئے مخ داسے تور شى لكه چه شپه ده.

أَيُمْسِكُهُ: (ه) ضمير (مَا بُشِّرَ) ته راجع دے يعنى دغه بد خبر چه لور ده ځان سره وساتى.

او ددے نه مخكښې فعل پټ دے (اَىْ يَتَفَكَّرُ) دے خان سره فكر كوى چه څه پرے وكړى.

عَلٰى هُوْنٍ: هُوْن او هَوَان په لغت د قريشو ذلت ته وائي.

او كسائیؒ وائى چه هون بلاء (مصيبت) او مشقت ته وائى.

يَدُسُّهُ : دس يو شے په بل شى كښې پټولو ته وئيلے شى.

الله تعالىٰ فرمائى چه د دوى دا فيصله څومره خرابه ده چه كومه جينئ د خپل ځان دپاره شرم او عار ګڼرى، هغه د الله تعالىٰ دپاره ثابتوى، او خپل ځان دپاره ددے نه غوره يعنى هلك خوښوى.

لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْآخِرَةِ مَثَلُ السَّوْءِ وَ لِلّٰهِ الْمَثَلُ الْأَعْلٰى
دپاره د هغه كسانو چه ايمان لرى په آخرت حالت ناكاره دے او الله لره صفت اُوچت دے
وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٦٠﴾ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ
او هغه غالبه حكمتونو والا دے. او كه رانيولے الله تعالىٰ خلقو لره په ظلم د دوى

مَّا تَرَكَ عَلَيۡهَا مِن دَآبَّةٍ وَّلٰكِن يُؤَخِّرُهُمۡ
(نو) نهٔ به ئې وې پرېخوستې پدې زمکه کښې هيڅ حيوان ليکن روستو کوي دوی لره
إِلٰىٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ لَا يَسۡتَأۡخِرُونَ سَاعَةً
يو ې نيټې مقررې ته نو کله چه راشي نيټه د دوی نهٔ به روستو کيدې شي يو ساعت
وَّلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ ﴿٦١﴾ وَيَجۡعَلُونَ لِلّٰهِ مَا يَكۡرَهُونَ
او نهٔ به مخکښې کيدې شي۔ او مقرروي دوی الله لره هغه څه چه بد ګڼړي ئې دوی (ځان له
وَتَصِفُ أَلۡسِنَتُهُمُ الۡكَذِبَ أَنَّ لَهُمُ الۡحُسۡنٰى لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ النَّارَ
او بيانوي ژبې د دوی دروغ چه دوی لره ښه حالت دې خامخا دوی لره اُور دې
وَأَنَّهُم مُّفۡرَطُونَ ﴿٦٢﴾
او يقيناً دوی به په ډيکو سره اُوغورځولې شي (اُور ته)۔

تفسير: پدې آيت کښې دويمه موضوع د سورت ذکر ده چه هغه اثبات د آخرت دې۔
او مقصد د آيت دا دې چه په عربو مشرکانو کښې دا بد بد صفات کوم چه مخکښې ذکر شو پدې وجه راپيدا شوي وو چه دوی په آخرت ايمان نهٔ لرلو۔
مَثَلُ السَّوۡءِ: مثل حالت او صفت ته وائي۔ يعنې د دغه مشرکانو دپاره چه په آخرت ايمان نهٔ لري صفت د بدئ دې چه هغه جهالت او کفر بالله دې۔ ❁ يا بد صفت د دوی دا دې چه دوی الله تعالىٰ دپاره ښځه او اولاد وائي۔ ❁ يا بد حالت د دوی دا دې چه دوی بچي ته محتاج دي چه ددوی په ځای قائم شي، ❁ دارنګه لونړه خخول د شرم نه د ځان بچ کولو دپاره او د فقر د يرې په وجه۔ ❁ يا بد حالت نه مراد عذاب او اُور دې۔ (فتح البيان)
❁ يا معنىٰ دا ده چه څوك آخرت نهٔ مني نو د هغهٔ حال بد دې۔ځکه چه د آخرت نهٔ منل په انسان کښې ډير بد صفات پيدا کوي لکه شرك، وَأۡدُ الۡبَنَات (لونړه ژوندئ خخول)، ظلم کول، بد اخلاقي، صلح رحمي قطع کول، زنا، غلا وغيره د آخرت نه د نهٔ يريدو په وجه پيدا کيږي۔ دارنګه کله چه يو پريشاني راشي نو څوك چه آخرت نهٔ مني هغه ډير پريشانه وي او بد حالت ئې وي چه دا ولې راغله۔ او چه څوك آخرت مني نو هغه (إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيۡهِ رَاجِعُونَ) ووائي او د آخرت د اجر طمعدار شي نو دومره پريشانه نهٔ وي۔ د آخرت په

منلو سره د انسان احوال جوړيږي. او د آخرت نهٔ منلو سره انسان په عذاب او په ضلال بعيد كښې اخته كيږي لكه الله فرمائي : ﴿ بَلِ الَّذِيْنَ لَايُؤْمِنُوْنَ بِالآخِرَةِ فِي الْعَذَابِ وَالضَّلَالِ الْبَعِيْدِ﴾ (سبا : ٨)

وَلِلّٰهِ الْمَثَلُ الْأَعْلٰى : او د الله دپاره خو تمام اعلىٰ ترين صفات ثابت دى، هغه د تمامو عيبونو او نقائصو نه پاك دے، هغه د ټول جهان پالونكے او د ټولو مالك دے، ټول خيرونه د هغهٔ په لاس كښې دى، او هغه په هر شي قادر دے. د هغهٔ څوك شريك نشته، نهٔ د هغه څوك مقابل شته او نهٔ د هغهٔ كوم اولاد شته. او هغه ډير زورور او لوى حكمتونو والا دے.

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ : پدے كښې تخويف دنيوى دے او دا جواب د سوال دے چه هركله چه مشركان دومره ظالمان دى نو الله ئے هلاكوى ولے نهٔ؟ نو جواب كوى چه الله تعالىٰ دوى ته مهلت وركړيدے دپاره د امتحان، ځكه كه هر ګناهګار ته سمدست سزا وركړے شى نو بيا نظام خرابيږى، آؤ، په خپل وخت به پرے راځى.

ربط

د انسانانو د شرك او كفر او ګناهونو بيانولو نه روستو، دلته الله تعالىٰ خپل انتهائى كرم، معافى او حلم او صبر بيان كړيدے، چه كه الله تعالىٰ خلق د هغوى په ګناهونو رانيولے نو بارانونه او بوټى به ئے بند كړى وے (سعيد بن جبيرؒ)

نو په زمكه به ئے هيڅ ذى روح باقى نهٔ پريخودلے، ليكن په دوى باندے رحم كولو سره دوى ته د مرګه پورے مهلت وركوى، دے دپاره چه څوك بخنه طلب كړى هغه معاف كړى او چه څوك په ګناهونو باندے هميشوالے كوى د هغه په عذاب كښې زياتے وكړى. او د چا مقرر وخت چه راشى نو هغه ته به يو ساعت هم مهلت نهٔ وركړے كيږى او نهٔ به د مقرر وخت نه هغهٔ ته مخكښې مرګ راځى.

مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِنْ دَآبَّةٍ : ولے به ئے حيوان نهٔ پريخودے.

١- ځكه چه الله تعالىٰ حيوانات د انسانانو دپاره پيدا كړيدى نو چه انسانان هلاك شى حيوانات به هم هلاكيږى.

٢- ابو هريره ﷺ د يو تن نه واوريدل چه وے وئيل : [اِنَّ الظَّالِمَ لَايَضُرُّ اِلَّا نَفْسَهٗ] ظالم سړے خپل ځان ته ضرر وركوى. نو هغه ورته وفرمايل : [بَلٰى وَاللّٰهِ اِنَّ الْحُبَارٰى لَتَمُوْتُ هُزَالًا فِيْ وَكْرِهَا مِنْ ظُلْمِ الظَّالِمِ]. (شعب الايمان للبيهقى وعبد بن حميد وابن جريرؒ)

داسے نۀ ده، قسم په الله! زانړے (مرغئ) په خوار والی سره په خپله ژاله کښې د ظالم د ظلم په وجه مری. (فتح البیان)

❁ عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی: [كَادَ الْجُعَلُ اَنْ يَّهْلِكَ فِىْ جُحْرِهٖ بِخَطِيْئَةِ ابْنِ آدَمَ]

(شعب الایمان وابن ابی شیبة وابن المنذر)

نزدے ده چه ګونګټ په خپله سوړه کښې د انسان په ګناه سره هلاك شی.

وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ مَا يَكْرَهُوْنَ: پدے کښې لسم بد صفت د مشرکانو ذکر کیږی چه دوی د الله دپاره هغه څیزونه ګنړی چه خپله ئے بد ګنړی لکه شراکت او لونړه، دوی دا نۀ برداشت کوی چه څوك د دوی په مال او جائیداد کښې د دوی شریك شی، په تول څیزونو کښې ځان دپاره یواځے والے غواړی، او د الله سره نورو لره شریکان کوی، او د کومو جینکو نسبت چه خپل ځان طرف ته کول د ځان دپاره عیب ګنړی د هغے نسبت الله طرف ته کوی. او دا د مشرکانو همیشه عادت دے چه په هر څه کښې خپل ځان په الله تعالیٰ باندے وچتوی. که څوك ددۀ بی ادبی کوی یا ئے نافرمانی کوی په هغے خفه کیږی، او د الله بی ادبی او نافرمانی کوی او هیڅ پرواه ئے نشته.

وَتَصِفُ اَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ: یعنی الله تعالیٰ باندے افتراء کوی وائی چه که بالفرض قیامت راشی نو زمونږ انجام به ښۀ وی او الله به جنت راکوی نو د حسنیٰ نه مراد (جنت) هم دے. لکه چه الله تعالیٰ په سورة فصلت آیت (۵۰) کښې د قیامت د منکرینو وینا نقل کړیده: ﴿وَلَئِنْ رُّجِعْتُ اِلٰى رَبِّىْٓ اِنَّ لِىْ عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰى﴾ چه که زۀ خپل رب طرف ته واپس کړے شم نو یقیناً ما دپاره به د هغۀ د طرف نه ښۀ انجام ملاویږی. او سورة الکهف آیت (۳۶) کښې فرمایلی دی: ﴿وَمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً وَّلَئِنْ رُّدِدْتُّ اِلٰى رَبِّىْ لَاَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنْقَلَبًا﴾ یعنی زۀ ګمان نۀ کوم چه قیامت به راشی او که زۀ رب ته واپس شم نو ددے (دنیاوی باغ) نه به غوره انجام هلته ملاویږی). یعنی بد عملی کوی او الله نه د ناممکنے نتیجے تمنا کوی. او دارنګه دا وائی چه مونږ چه دا کوم شرك کوو مونږ ته پدے باندے ښۀ حالت ملاویږی.

اَنَّ لَهُمُ الْحُسْنٰى: ❁ اَيِ الْعِيْشَةَ الْحُسْنٰى اَوِ الْحَالَةَ الْحُسْنٰى - یعنی زمونږ دپاره به ښۀ ژوند او ښۀ حالت وی. ❁ بله دا چه پدے سره الله تعالیٰ ته نزدے کیږو لکه دوی به ویل:

﴿مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى﴾. (الزمر:۳)

(مونږ د دوی بندګی نۀ کوو مګر ددے دپاره چه مونږ الله ته په مرتبه کښې نزدے کړی).

❁ او حسنیٰ دا هم ده چه دوی به ویل چه دا بتان او باباگان به زمونږ دپاره د الله په دربار کښې سفارش کوی۔ ﴿هٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللهِ﴾۔ (یونس: ١٨)

لَاجَرَمَ اَنَّ لَهُمُ النَّارَ: الله تعالیٰ د دوی په دے باطل گمان او دروغجنه تمنا باندے رد کړے فرمائی چه د دوی ځای د اُوسیدو به د جهنم نه سویٰ بل څه نهٔ وی، او هغے ته به دوی ډیر زر وارتولے شی۔

مُّفْرَطُوْنَ: ١ – مَتْرُوْكُوْنَ مَنْسِيُّوْنَ فِي النَّارِ۔ (ابن الاعرابیؒ وابوعبیدهؒ ومجاهدؒ) یعنی دوی به په اُور کښې پریخودے شی همیشه دپاره۔ لکه هیر شوے شے۔

٢ – یا د فرط نه دے مخکښې لیږلے شوی۔ مُعَجَّلُوْنَ اِلَيْهَا مُقَدَّمُوْنَ فِيْ دُخُوْلِهَا)۔ یعنی دوی به په جلتئ سره هغے ته وروستے شی او مخکښې به پکښې داخل کړے شی۔

فارط هغه شخص ته وائی چه د گیاه او د اُوبو د طلب کولو دپاره مخکښې ځی۔ لکه حدیث کښې دی: (اَنَا فَرَطُكُمْ عَلَى الْحَوْضِ)۔ زهٔ به ستاسو نه مخکښې حوض کوثر ته تلونکے یم۔ (بخاری: ٦٥٧٥)

تَاللهِ لَقَدْ اَرْسَلْنَا اِلٰى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَزَيَّنَ
قسم په الله یقیناً لیږلی دی مونږ امتونو ته مخکښې ستا نه (رسولان) نو ښائسته کړل
لَهُمُ الشَّيْطَانُ اَعْمَالَهُمْ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ وَلَهُمْ عَذَابٌ
دوی ته شیطان عملونه د دوی نو هغه دوست د دوی دے نن ورځ او دوی لره عذاب
اَلِيْمٌ ﴿٦٣﴾ وَمَا اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ اِلَّا
دردناك دے۔ او نهٔ دے رالیږلے مونږ په تا باندے دا کتاب مگر
لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِى اخْتَلَفُوْا فِيْهِ
دے دپاره چه بیان کړے تهٔ دوی ته هغه خبرے چه دوی اختلاف کړیدے په هغے کښې
وَهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٦٤﴾
او هدایت او رحمت دے دپاره د هغه قوم چه ایمان لری۔

تفسیر: پدے آیت کښې رسول الله ﷺ ته تسلی ده او مشرکانو ته زجر او رټنه ده او د

دوي د ګمراهۍ سبب ذکر دے چه دے خلکو سره دليل نشته خو دوي د پخوانو مشرکانو په شان دي چه د شيطان خبره مني، او هغه ورته شرك او بدعات ښائسته کړيدي چه دا کارونه کوئ او پدے کښ ثوابونه دي، او دوي ورپسے روان شويدي، او هغه ئے ليډر دے او دوي ئے تابعداري کړيده۔ نو الله تعالیٰ د تير شوي انبياء کرامو مثال ورکوي چه ستا نه مخکښ تير شوي امتونو ته هم انبياء عليهم السلام ليږلے شويدي او شيطان د هغوي کفر او شرك او ګناهونه د هغوي په سترګو کښ ښائسته ښکاره کول او د هغوي د دوستۍ دعوے به ئے کولے نو هغه خو به نن خپل ځان د دوي دوست ښکاره کړي او دوي به ښه ګمراه کړي او مشرکان به د دوي نن بندګي وکړي، ليکن د قيامت په ورځ دردناك عذاب د دوي انتظار کوي، چه د هغے نه به دوي ځان نشي خلاصولے۔

نو د اليوم نه مراد دنيا ده۔ (۲) يا که د «اليوم» نه مراد د قيامت ورځ واخستے شي، نو د آيت مطلب به دا وي چه شيطان د دوي دوست دے نن ورځ نو چرته دے د دوي هغه دوست! نن دِ د دوي د دوستۍ ثبوت ورکړي او د دوي مدد دِے وکړي؟!۔ يعني هيڅ مدد ئے نشي کولے۔ دا نفي د نصرت د شيطان ده په کامله طريقه سره۔

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيم : يعني دا خلك ځان ديندراه ګڼړي او حال دا چه د صحيح دين دشمنان دي۔ نو ځکه ورله عذاب اليم ذکر شو۔

عَذَابٌ أَلِيمٌ : اَیْ فِی الآخِرَةِ۔ يعني په آخرت کښ به د دوي دپاره دردناك عذاب وي۔

وَمَا أَنْزَلْنَا : پدے آيت کښ الله تعالیٰ د قرآن د راليږلو مقصد بيانوي چه دا خو الله تعالیٰ د شرك د رد دپاره راليږلے دے، دا خو ددے مقصد دپاره نۀ دے راغلے چه خلك د شيطان پسے روان شي۔

ربط

مخکښ رسول الله ﷺ ته تسلي ورکړے شوه نو پدے آيت کښ رسول الله ﷺ ته د قرآن کريم په تبليغ باندے تيزي ورکوي۔

مقصد د آيت دا دے : مونږ په تا باندے قرآن کريم ددے دپاره نازل کړيدے چه تۀ د توحيد او شرك او هدايت او ګمراهۍ او د آخرت او د احوالو د بعث په شان مسائل ښکاره بيان کړے چه په هغے کښ خلق په خپل مينځ کښ اختلاف کوي۔ او د حق نه اوړي ليکن بيا هم دا خلك راولګيدل او حق او توحيد ئے پريخوستو او د شيطان پسے روان شو او هغه سره ئے دوستي جوړه کړه۔

او دا لوی کتاب د هدایت چینه او د الله تعالیٰ د رحمت چینه ده. پدے کښې صحیح عقیده، د عبادت طریقے، اسلامی آداب او اخلاق او د انسانی ژوند تمام ضروری څیزونه بیان شویدی. او د هدایت او رحمت د خزانو نه هغه خلق فائده اخستے شی چه په الله تعالیٰ باندے ایمان راوړی. غیر مؤمنین به ددے نه محروم پاتے کیږی.

لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي : پدے کښې دا دعوت دے چه قرآن کریم د اختلاف د ختمولو کتاب دے او د اختلاف د راپیدا کولو کتاب نهٔ دے چه خلك ددے سره اختلاف شروع کړی او د حق نه انکار وکړی.

وَاللّٰهُ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ
او الله تعالیٰ نازل کړیدی د آسمان نه اُوبه نو تازه کړے ئے ده په هغے سره ځمکه روستو
مَوْتِهَا إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿٦٥﴾ وَإِنَّ لَكُمْ فِي
د اُوچ والی نه، یقیناً پدے کښې دلیل دے دپاره د هغه قوم چه آوری. او یقیناً تاسو لره په
الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُّسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِيْ بُطُوْنِهٖ
چارپیانو کښې خامخا عبرت دے، څکوو مونږ په تاسو د هغے نه چه په خیټو ددے کښې دی
مِنْ بَيْنِ فَرْثٍ وَّدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿٦٦﴾
د مینځ د خوشایانو او د وینے نه پئ صفا آسان تیریدونکی دپاره د څکونکو.
وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيْلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرًا
او (پیدا کړی ئے دی) د میوو د کجورو او انګورو نه، چه جوړوئ تاسو د هغے نه سرکه
وَّرِزْقًا حَسَنًا إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿٦٧﴾
او خوراك ښائسته، یقیناً په دے کښې لوئی دلیل دے دپاره د قوم چه عقل نه کار اخلی.

تفسیر : ددے نه روستو بیا عقلی دلیلونه بیانیږی پدے کښې اشاره ده چه د شرك د رد دپاره دوه قسمه دلائل دی، نقلی دلیلونه چه هغه کتاب الله دے او بل عقلی دلیلونه دی. چه پدے کښې نعمتونه هم دی او د شرك رد هم، او د الله تعالیٰ تعارف هم دے.

وَاللّٰهُ أَنْزَلَ : لکه څنګه چه الله تعالیٰ د وحی او د رسالت په ذریعه د شرك او کفر د

بیماریٔ نه مرهٔ زړونو ژوندي کولو باندے قادر دے، دغه شان هغه د خپل عظیم قدرت په ذریعه د آسمان نه باران نازلوي او مړے زمکے ته ژوند وربخي، او مختلف قسم ګیاهګانے رازرغونیږي۔

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً : یقیناً دا خبرے دلیل دے چه الله تعالیٰ یو دے او د مړو په دویم ځلی راژوندي کولو قادر دے، او نخه ده په معرفت د الله تعالیٰ او نخه ده ددے خبرے چه شرك نهٔ دے پکار ځکه چه ټول کارونه الله کوي نو برخه دارانو ته ضرورت څه دے؟!

لِقَوْمٍ يَسْمَعُونَ : لیکن ددے دلائلو نه هغه خلقو ته فائده رسیږي چه د آسمانونو او د زمکے په پیدائش او د قرآن کریم په آیتونو کښ سوچ او فکر کوي، او پدے کښ د موجود عبرتونو او نصیحتونو نه فائده اخلي۔ نو دلته سماع د قلوبو مراد ده نهٔ سماع د آذانو۔ یعني د زړه په غوږونو آوریدل مراد دي نهٔ د ظاهري غوږونو آوریدل۔

وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ : او هغه ذات باري تعالیٰ د خپل عظیم قدرت په ذریعه اوښان، غواګانے، چیلۍ او ګډان پیدا کړي۔ د دوی د پیدائش نه یو لوی عبرت دا حاصلیږي چه الله تعالیٰ د دوی د خیټو نه، د خوشیانو او وینے د مینځ نه د هغوی د تیونو نه پیٔ جاري کوي چه د وینے د سوروالي او د خوشیانو د ګندګئ او بد بوئی نه بیخي پاك صفا وي۔ حال دا چه درے واړه په یو لوښي کښ جمع کیږي۔ چارپایه چه کله چاره (خوراك) خوري نو د هغے یوه حصه معدے ته ځي چه هغے ته خوشیان وائي او یوے حصے نه وینه جوړیږي او په رګونو کښ چلیږي۔ د دواړو د مینځنئ حصے نه پیٔ جوړیږي او تیونو ته رسیږي، چه فائده مند او خوارهٔ وي او د سکونکي په مرئ کښ نهٔ انخلي۔

حق خو دا ده چه انسان ته ددے نه لوی نصیحت حاصلیږي، او د الله داسے معرفت حاصلیږي چه بنده د هغه سره په بے حده محبت کولو او د هغه په اطاعت او بندګئ باندے خپل ځان مجبوره موندهٔ کوي۔

مِّمَّا فِي بُطُونِهِ : دلته ئے (بُطُونِهٖ) ضمیر د مذکر راجع کړو انعام ته او سورة المؤمنون آیت (۲۱) کښ ئے (مِمَّا فِيْ بُطُوْنِهَا) مؤنث ضمیر راجع کړے دے؟ ددے وجه دا ده چه زجاجؒ او فراءؒ وائي چه انعام لفظ د جمع دے چه مذکر او مؤنث دواړه استعمالیږي، نو دواړه قسمه ضمیرونه ورته راجع کول صحیح دي۔ او دا خبره ابن العربيؒ راجح کړیده او وئیلے ئے دي چه مذکر ضمیر ورته پدے وجه راجع دے چه دا په تاویل د جمع سره دے او مؤنث والے په اعتبار د معنیٰ د جماعة سره دے۔ کسائيؒ او مبردؒ وائي چه (بُطُوْنِهٖ) کښ ضمیر

(مذكور) شي ته راجع دے۔ (فتح)

او حكمة ددے فرق دا ښكاره كيږي (والله اعلم) چه دلته صرف يوه فائده د څاروي ذكر شويده نو ځكه ئے په ضمير د مفرد سره اكتفاء كړيده او په سورة المؤمنون كښ د كثرت د فائدو د وجه نه لحاظ د جمع شويدے۔ (احسن الكلام)

لَّبَنًا خَالِصًا: پئ ډير فائده مند شے دے چه بدن په هغے سره ښه ترقي كوي۔

سَآئِغًا : علماء وائي چه پيو كښ دا كمال دے چه هيڅكله د چا نۀ دي انبنتي، او بل دا چه آواز صفا كوي، او د پيوو نه نور ډير څيزونه پيدا كيږي لكه ماسته، شوملے، غوړي، قُرط وغيره۔

حكمة : پدے كښ د رد د شرك دپاره يو مثال ته هم اشاره ده چه اے انسانه ! لكه تۀ چه خالص پئ ځكے، كه چا پكښ درته اُوبه واچولے هم هغه نۀ خوښوے او نۀ هغه د دكاندار نه اخلے او بيا چه كله درته پكښ خوشيان واچولے شي نو هغه نۀ قبلوے نو دغه شان الله تعالیٰ هم ستاسو د اعمالو نه نۀ قبلوي مگر هغه چه د هغه دپاره خالص وي د شرك او د رياء او د مخالفة الرسول ﷺ په شان تولو مرضونو نه۔ او دارنگه عمل به د عادت او د رواج په بناء باندے هم نۀ وي۔

وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ : او الله تعالیٰ په خپل عظيم قدرت سره د كجورو او د انگورو ميوه پيدا كړيده، چه ددے د رس نه شراب او د خوراك نور غوره څيزونه جوړيږي مثلًا ميوه، د كجورو رس، كشمش (وچكے) او سركه وغيره۔

تَتَّخِذُوْنَ : ابن جرير وائي : تقدير د عبارت داسے دے : (وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ مَا تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرًا) ۔ نو دلته ما كلمه پټه ده۔ دليل پرے (منه) كلمه ده۔ (يعني د ميوے د كجورے نه بعض هغه څه دي چه تاسو ترے سركه جوړه وئ)

يا تقدير داسے دے : (وَاِنَّ لَكُمْ مِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْاَعْنَابِ لَعِبْرَةً) ۔ (يعني ستاسو دپاره د ميوو د كجورو او انگورو نه عبرت شته)۔ زمخشري وائي : دلته نُسْقِيْكُمْ پټ دے، تقدير داسے دے [وَنُسْقِيْكُمْ مِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ] ۔ مونږ څكوو په تاسو باندے د ميوو د كجورو نه الخ۔ بناء پدے به روستو (تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرًا) بيان ددے څكولو وي۔

(مِنْهُ) ضميرئے مفرد راوړو دا په تاويل د مذكور سره دے۔

سَكَرًا : د جمهورو مفسرينو په نيز دلته د ((سكر)) نه مراد مُسكر (نشه آور) شراب دي، او دا آيت د شرابو د حراميدو نه مخكښ نازل شوے وو۔ او دا قول د ابن عباس، ابن عمر، او

ابن مسعود رضی الله عنهم دے۔ یو دویم قول دا دے چه د سکر نه مراد خوږ او حلال رس دے چه هغه که پریخودے شی نو نشه آور جوړیدو سره حرامیږی۔ پدے وجه ئے ورته سکر وئیلی دے۔ دریم قول دا دے چه سکر نه مراد سرکه ده۔ په لغت د حبشو کښې۔

وَّرِزْقًا حَسَنًا : د کجورو او انګورو نه قسماقسم ترکاریانے او حلال رزقونه جوړیږی، عربو ته ئے ډیر چلونه زده وو۔

لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ : یقیناً په هغه خبرو کښې د عقل والو دپاره لویه نخه ده، د الله تعالیٰ په قدرت، د هغهٔ په علم او د هغهٔ په رحم او کرم باندے دلالت کوی، او انسان ته دعوت ورکوی چه هغه صرف د یو رب عبادت وکړی۔

وَأَوْحٰى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِيْ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا وَّمِنَ الشَّجَرِ
او په زړهٔ کښې واچوله رب ستا مچئ ته چه جوړوه د غرونو نه کورونه او د ونو نه
وَمِمَّا يَعْرِشُوْنَ ﴿٦٨﴾ ثُمَّ كُلِيْ مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِيْ سُبُلَ
او د هغے نه چه دوی څپرونه جوړوی۔ بیا خوره د هر قسم میوو نه او روانه شه په لارو
رَبِّكِ ذُلُلًا يَخْرُجُ مِنْ بُطُوْنِهَا شَرَابٌ
د رب ستا چه تابع دی تا ته، (یا چه تهٔ تابع ئے) راوځی د خیټو د هغے نه د څکلو شے
مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهٗ فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ إِنَّ
چه مختلف دی رنګونه د هغے، په هغے کښې شفاء (علاج) دے دپاره د خلقو یقیناً
فِيْ ذٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٦٩﴾
پدے کښې خامخا دلیل (د قدرت د الله) دے دپاره د هغه قوم چه فکر کوی۔

تفسیر : او د الله تعالیٰ د عظیم قدرت او د انسانانو سره د احسان یوه نخه د شهدو مچئ هم ده، چه ددے تفصیل پدے آیتِ کریمه کښې بیان شویدے چه الله تعالیٰ د شهدو د مچئ په دماغو کښې دا خبره اچولے ده چه هغه خپل عجیب او ناشنا کور چه په متساوی اضلاعو باندے منقسم وی، په غرونو او ونو او د خلقو په کورونو کښې جوړ کړی۔ او د هغے په دماغو کښې ئے دا خبره هم اچولے ده چه په چراګاهونو کښې ګرځی او خپله غذا

حاصلولو سره اول خپل کور جوړ کړي. پدے وجه د شهدو مچۍ اول خپل کور جوړوي بیا د روزۍ په تلاش کښې اوځي، او قسم قسم میوو نه رس سکي او بیرته خپل کور طرف ته راواپس کیږي، او د الله تعالیٰ د خودلے طریقو مطابق هغه رسونو نه شهد جوړوي.

وَاَوْحٰى : وحی په ډیرو معانو سره استعمالیږي، پیغمبرانو ته هم وحی کیږي او وحی کله الهام ته وائي یعني هغه شے چه الله تعالیٰ ئے په زړه کښې ابتداءً بغیر د ظاهري سبب نه پیدا کړي لکه ﴿فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا﴾ (الشمس : ٨/٧)

او وحی کله تعلیم فطري ته وئیلے شي یعني چه الله تعالیٰ ورله فطرت په داسے طریقه جوړ کړے چه فائده مند کارونه کوي او د ضرر کارونو نه ځان ساتي.

النَّحْلِ: اسم جنس دے، مفرد ئے نَحْلَةٌ دے، چه په اصل کښې عطیه او تحفے ته وائي او دے ته نحل ځکه وائي چه الله تعالیٰ دے ته شات په تحفه کښې ورکړیدي کوم چه ددے نه راوځي. او ددے مشر د یَعْسُوب په نوم باندے یادیږي.

الله تعالیٰ د شاتو مچۍ ته ډیر زیات شعور ورکړیدے چه داسے کارونه کوي چه د انسانانو دپاره پکښې ډیر زیات عبرت پروت دے، هغه اول خپل کور جوړوي چه مسدس شکل ورله ورکوي او بیا د کور په خوله کښې بعض د حفاظت دپاره ودروي چه نور حشرات او میږان دا شهد ونۀ خوري، یا بله مچۍ دے پیتۍ ته رانشي، که هغه راځي نو دے ئے وژني، او دارنګه په پیتۍ باندے ئے خپل مشر مقرر کړے وي چه که ددے پیتۍ کومه مچۍ ځان سره ګند یا بد بویه بوټے راوړے وي نو هغه هم وژني. او ددے د مشر دپاره دوی غذاءِ ملکه ساتلي وي هغه ورکوي چه دا تیز شهد دي چه د هغے په وجه بچي زیات راوړي او ددے ملکه په جسم کښې د نورو مچو نه لویه وي، او دا ټول ددے مشرے تابع وي، لکه د امیر او مامور په شان، او ددے ملکے کار صرف نګراني کول دي، دا خپله شات نۀ اچوي.

علامه ابن عاشورؒ لیکي : د شاتو مچۍ درے قسمه دي (١) مذکر (٢) مؤنث. (٣) خنثیٰ. مذکر پکښې خپل کورونه ساتي پدے وجه دوی همیشه د کوټو مخو ته الوزي او د کوټے مخے ته بنګار کوي او دا پکښې مؤنثات حاملے کوي چه د هغے په وجه دغه مؤنثات نور مؤنثات زیږوي. او مؤنثاتو ته ئے یعاسیب وئیلے شي چه دا پکښې د مذکر نه په جثه کښې غټه وي او په هره کوټه کښې دغه مؤنثه یوه وي. (یعني ملکه) او دا کله اولاد راوړي بغیر د نزدیکت د مذکر نه. لیکن په دغه وخت کښې صرف مذکر بچي راوړي نو ددے په بچو کښې د نورو بچو راوړونکو میندو دپاره هیڅ فائده نشته. (یعني ددے د بچو نه نور

بچی نۀ پیدا کیږی ځکه چه اولاد خو مؤنثات راوړی)

او هرچه خنثیٰ دے نو هغه ګبین جدا جدا کوی، او دا د مذکرو نه په جثه کښې وړوکے وی او په کوتو کښې زیات وسیدونکی هم دوی وی. آه. (التحریر والتنویر۱۳/۱۶۵)

په ﴿فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا﴾ کښې د ((سُبُل)) نه مراد د شهدو جوړولو طریقے دی. یا ددے نه مراد لارے دی، یعنی الله تعالیٰ د شهدو په مچۍ کښې دا خبره ایخے ده چه د میوو د رس راخکلو دپاره که هرڅو مره لرے لاړه شی لیکن بیا په آسانۍ سره خپل کورته واپس راځی او لاره نۀ خطا کوی.

ذُلُلًا : جمع د ذَلُوْل ده. تابع او مُذَلَّل ته وئیلے شی. ۱- دا یا حال دے د (النحل) نه. یعنی مذلل او تابعدار وی د تسخیر دپاره او د ګبین د راویستو دپاره د خیټو ددے نه. (ابن قتیبهؒ)

۲- ظاهر دا ده چه دا حال دے د (سُبُلَ) نه یعنی دا لارے به تا ته آسانی وی او سختے به نۀ وی. (اختاره الزجاج وابن جریرؒ).

يَخْرُجُ مِنْ بُطُونِهَا شَرَابٌ : دا جملهٔ ئے مستقله راوړه دپاره د شمارلو د نعمت او هر سامع ته د تعجب ورکولو او ددے وړوکی حیوان نه عبرت اخستو دپاره.

یعنی ددے مچیو د خیټو نه د څکلو یو شے راوځی چه هغے ته شهد وئیلے شی، او د غذا د رنګ او د هغے د مزاج د اختلاف نه ددے بعض قسم سپین او بعض زیړ او بعض سرۀ وی. الله تعالیٰ دا د ډیرو مرضونو دپاره شفا جوړ کړیدی، د څه خلقو وینا ده چه دا د تمامو مرضونو دپاره شافی دی، او د څه نورو خلقو رائے ده چه دا د بعض مرضونو دپاره شافی دی، او ددے دلیل دا دے چه شفاء نکره ده چه دلته په عموم باندے دلالت نۀ کوی.

امام مجاهدؒ لیکی : په دوه څیزونو کښې شفاء ده یو په ګبین کښې او بل په قرآن کریم کښې. عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : په ګبین کښې د هر مرض شفاء ده او په قرآن کریم کښې شفاء ده د هغه مرضونو چه په سینو کښې دی. (فتح البیان)

امام شوکانیؒ لیکلی دی : د علم طب د قوانینو او تجربو نه معلومیږی چه شهد که مفرد استعمال کړے شی نو د بعض مرضونو دپاره شافی کیږی، او د نورو دوائیانو سره د ملاویدو نه روستو د ډیرو مرضونو دپاره مفید ثابتیږی، بهر حال شهد یو داسے شے دے چه غذا او دواء دواړو اعتبارونو سره ډیرو لویو فائدو والا دے. او دا دواړه خبرے د شهدو نه سویٰ په بل شی کښې کم موجودیږی.

د شهدو د افادیت اندازه د ابوسعید خدری ﷺ د روایت نه کیدے شی چه بخاری او مسلم

روایت کریدے چه یو سړی ته د اسهال (دستونو) شکایت وو، د الله رسول د هغه ورور ته وویل چه دهٔ باندے شهد اُوڅکوی، هغه شهد اُوڅکول او د هغه اسهال نور هم زیات شو، او په هر ځل به نبی ﷺ وئیل چه الله رشتینی دے او ستا د ورور خیټه دروغجنه ده، لاړ شه په هغه باندے شهد اُوسکوه۔ نو د دریم ځل نه روستو د هغه اسهال اُودریدو او هغه شفاء والا شو۔ (فتح القدیر)

ابن کثیرؒ لیکلی دی چه کله د هغه د خیټے نه تول فاسده ماده اُووتله نو د هغه بیماری ختمه شوه۔ (ځکه چه په شاتو کښ یو اسهال او تلطیف صفت دے چه ماده اُوباسی او بل پکښ د قبض صفت دے نو هرکله چه گنده ماده ووتله نو بیا ئے خیټه رانبنده کړه)۔

نو دا حدیث دلیل دے چه شهد د هر مرض شفاء ده ځکه که صرف د بعضو امراضو علاج وے نو دے شخص ته به ئے بار بار امر په څکولو باندے نهٔ کولے۔ عبد الله بن عمر ﷺ به په هر درد او دانه کښ شهد مږل تردے چه دانه به پرے رانبنکاره شوه نو شهد به ئے پرے رانښکل۔ ابو وجزهٔ به شهد د رانجو په ځای استعمالول او دا به ئے په پوزه کښ رانبنکل او پدے سره به ئے دوائی کوله۔ (ذکره القرطبی وفتح البیان)

او بیضاویؒ وائی : په شاتو کښ د خلکو شفاء ده یا په خپله لکه په بلغمی امراضو کښ یا چه د بلے دوائی سره ملاؤ شی لکه په باقی امراضو کښ ددے وجه نه (مَا مِنْ مَعْجُوْنٍ اِلَّا وَالْعَسَلُ جُزْءٌ مِنْهُ) داسے معجون نشته مگر کبین به د هغے نه یو جزء وی۔

او دا آیت دلیل دے چه د مرضونو دپاره علاج کول جائز دی او دا د توکل خلاف نهٔ دی۔

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ: بیشکه پدے تولو تفاصیلو کښ د فکر او نظر کونکو دپاره د الله تعالیٰ د وحدانیت او د هغه د عظیم قدرت او علم دلیل موجود دے۔

وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفّٰكُمْ وَمِنْكُمْ
او الله تعالیٰ پیدا کړی یئ تاسو بیا به وفات کوی تاسو او بعض ستاسو نه هغه څوك دی
مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ
چه واپس کړے شی ذلیل عمر ته (عاقبت دا شی) چه نهٔ پوهیږی روستو د پوهے نه
شَيْـًٔا اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ﴿٧٠﴾ وَاللّٰهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ
په هیڅ باندے، یقیناً الله پوهه دے قدرت والا دے۔ او الله غوره کړیدی بعض ستاسو نه

عَلٰى بَعۡضٍ فِي الرِّزۡقِ فَمَا الَّذِيۡنَ فُضِّلُوۡا
په بعضو باندے په رزق کښې، پس نۀ دی هغه کسان چه غوره کړے شویدی (په رزق کښې)
بِرَآدِّيۡ رِزۡقِهِمۡ عَلٰى مَا مَلَكَتۡ اَيۡمَانُهُمۡ
ورکونکی د رزق خپل هغه چا ته چه مالکان دی ښی لاسونه د دوی (غلامان خپل)
فَهُمۡ فِيۡهِ سَوَآءٌ اَفَبِنِعۡمَةِ اللّٰهِ يَجۡحَدُوۡنَ ﴿۷۱﴾
چه دوی په هغے کښې برابر شی (په اختیار کښې)، آیا د نعمت د الله تعالیٰ نه دوی انکار کوی۔

تفسیر: مفسر ابوالسعودؒ او نیسابوریؒ لیکلی دی چه الله تعالیٰ په تیر شوی آیتونو کښې اُوبه، بوټی او چارپیان او د شهدو مچیو کښې موجود عجیبه او ناشنا څیزونو بیانولو نه روستو، پدے آیت کښې الله تعالیٰ د انسان د پیدائش متعلق عجائب بیان کړیدی چه دا د ابتداء د پیدائش نه تر آخری عمر پورے دِ څلورو مراحلو نه تیریږی۔ اوله مرحله د نشوونما (وړوکوالی) وی، او دا تر (۳۳) کالو پورے وی چه دا آخری عمر د ځوانئ دے۔ اودویمه مرحله د سِنُّ الۡوُقُوۡف ده۔ یعنی د ځوانئ ودریدل او دا د (۳۳) نه تر (۴۰) کالو پورے وی چه پدے کښې آخری درجه قوت او کامل عقل وی۔ او دریمه د کهولت (پوخ عمر) زمانه ده چه دا د (۴۰) نه تر (۶۰) پورے وی او پدے مرحله کښې انسان نقصان او زوال طرفته روان شی لیکن نقصان ئے پټ شان وی۔ او څلورمه مرحله د شیخوخة (بوډا والی) او انحطاط (خکته والی) ده او دا د شپیتو نه اخوا تر آخر د عمر پورے وی پدے کښې د بدن کمزورتیا او بے طاقتی د انسان سره لازمه شی او څومره چه ددۀ عمر زیاتیږی د هغه تمام جسمانی صلاحیتونه کمزوری کیږی، او یو وخت داسے راځی چه بالکل د ماشوم په شان شی، د هغه عقل لاړ شی، لکه چه الله تعالیٰ په سورة التین آیت (۵/۴) کښې فرمایلی دی:

﴿لَقَدۡ خَلَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ فِيۡۤ اَحۡسَنِ تَقۡوِيۡمٍ۝ ثُمَّ رَدَدۡنٰهُ اَسۡفَلَ سٰفِلِيۡنَ۝﴾

یقیناً مونږ انسان په ډیر غوره صفت پیدا کړے، بیا مو دۀ لره د لاندو نه لاندے کړے)۔

اَرۡذَلِ الۡعُمُرِ: علی ﷺ فرمائی: دا د پنځه اویا (۷۵) کالو عمر دے۔ ځینی وائی د (۸۰) کالو۔ او قتادةؒ وائی چه (۹۰) کالو عمر دے۔ ظاهر دا ده چه دا هغه عمر دے چه انسان پکښې د طاقت نه پریوزی نۀ په خبره پوهیږی او نۀ خپل قضاء حاجت ځای ته رسولے شی، او علم او پوهه ترے زائله شی، بل چا ته محتاج شی۔ او دے ته هَرَم هم وائی۔ رسول الله

ﷺ به د ارذل العمر نه پناهی غوښته. (وَاَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَرَدَّ اِلٰی اَرْذَلِ الْعُمُرِ) (بخاری فی الجهاد باب ۲۵، ومسلم فی الذکر حدیث : ۵۲)
اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَتَأَسّٰی بِسُنَّةِ نَبِیِّكَ فَاَقُوْلُ : ((اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَرَدَّ اِلٰی اَرْذَلِ الْعُمُرِ)) آمین یا رب العالمین.
عکرمهٌ وائی : [مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ لَمْ یُرَدَّ اِلٰی اَرْذَلِ الْعُمُرِ]
چا چه قرآن کریم لوستلے وی هغه به ارذل العمر ته واپس نکړے شی.
او طاووسٌ وائی : [اَلْعَالِمُ لَایَخْرِفُ] عالم د خرف (بے عقلئ) زمانے ته نهٔ رسیږی.
ابن ابی شیبهٌ د عبد الملك بن عُمیرٌ نه نقل کړیدی : [كَانَ يُقَالُ اِنَّ اَبْقَی النَّاسِ عُقُوْلًا قُرَّاءُ الْقُرْآنِ] دا خبره وئیلے شویده چه په آخری عمر کښ د نورو خلکو په نسبت د قرآن د قاریانو عقلونه باقی پاتے کیږی. (یعنی په بوډاوالی کښ د دوی عقلونه نهٔ ختمیږی) (الدر المنثور)

لِكَیْ لَا یَعْلَمَ : لام د تعلیل دپاره دے او کَیْ حرف مصدر او ناصبه دے او (لا) نافیه دے.
ځینی وائی : لام د صیرورت او عاقبت دپاره دے. یعنی انجام دا شی چه بیا په هیڅ خبره نهٔ پو هیږی.
زجاجٌ وائی چه پدے کښ د اثبات د بعث بعد الموت دلیل هم دے چه دے انسان باندے څو مره احوال متغیر شو، دا انسان مخکښ عالِم وو بیا جهالت ته نقل شو نو دغه شان الله تعالیٰ قادر دے چه دا د ژوند نه مرګ ته او د مرګ نه بیرته ژوند ته نقل کړی، نو دلیل دے چه بعث بعد الموت حق دے. (فتح البیان)
لکه دا خبره په سورة یس (۶۸) آیت کښ راغلے ده ﴿وَمَنْ نُعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِی الْخَلْقِ اَفَلَا یَعْقِلُوْنَ﴾. (او هغه څوك چه مونږ ورته عمر ورکړو نو هغه کمزورے کړو په اندامونو کښ آیا نو دوی عقل نه کار نهٔ اخلی)

وَاللّٰهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ : ددے ځای نه بیا په شرك باندے رد ذکر کیږی سره د عقلی دلیلونو نه. او دا رد د شرك په طریقه د مثالونو سره دے. پدے رکوع کښ درے مثالونه د رد د شرك دپاره ذکر شویدی او دلیلونه ئے هم ذکر کړیدی.
الله تعالیٰ فرمائی چه هغهٔ په رزق کښ بعضو ته په بعضو باندے غوره والے ورکړیدے، څوك فقیر وی او څوك مالدار، څوك آقا وی او څوك غلام. دغه شان الله تعالیٰ د انسانانو ترمینځ د عقل او علم او فهم او پوهے او اخلاق او قوت او طاقت او صحت او بیمارئ په اعتبار سره فرق ایخودے دے. او د الله تعالیٰ پدے کښ حکمت دے چه ټول انسانان ئے یو

شان نۀ کړل۔
فَمَا الَّذِيْنَ : او د چا په رزق کښې چه الله تعالیٰ فراخي پیدا کړیده هغه خپل دولت خپلو غلامانو ته نۀ ورکوی دے دپاره چه دوی د هغۀ سره برابر شی۔ نو کله چه تاسو د خپل ځان په شان انسانان غلامان د خپل ځان برابر لیدل نۀ برداشت کوئ نو د الله غلامان د هغه څنګه برابروئ ؟ او د هغوی عبادت ولے کوئ ؟
الله تعالیٰ په سورة الروم آیت (۲۸) کښې دا حقیقت بیان کړیدے : ﴿ ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِنْ اَنْفُسِكُمْ هَلْ لَّكُمْ مِنْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِنْ شُرَكَاءَ فِيْ مَا رَزَقْنَاكُمْ فَاَنْتُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ ○ ﴾
(الله تعالیٰ ستاسو دپاره يو مثال خپله ستاسو نه بیان کړیدے، چه مونږ تاسو ته څه درکړیدی، آیا پدے کښې تاسو د غلامانو نه هم څوك ستاسو شریك شته چه تاسو او هغوی په دے کښې برابرے درجے والا شئ)۔
بِرَآدِّيْ : اَیْ مُعْطِيْ۔ یعنی ورکونکی۔
فَهُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ : اَیْ فِی الْاِخْتِیَارِ۔سوال پیدا شو چه ډیر کرته مالکان خپلو غلامانو ته مالونه ورکوی ؟ نو جواب کوی چه داسے طریقے سره مال ورکول چه دواړه په اختیار کښې برابر شی۔ نو داسے انسانان نۀ کوی نو بیا د الله سره څنګه بل یو کمزورے مخلوق شریکوی۔
اَفَبِنِعْمَةِ اللهِ يَجْحَدُوْنَ : آیا د الله تعالیٰ د نعمتونو نه دوی انکار کوی چه د هغۀ سره د بل چا بندګی کوی او شرکونه کوی۔ نعمتونه خو ټول د الله تعالیٰ دی او دوی پکښې غیر الله دپاره برخه ورکړه او کله نسبت د نعمتونو غیر الله ته کوی چه دا نعمت فلانی بابا راکړو۔

وَاللهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا وَّجَعَلَ لَكُمْ
او الله تعالیٰ ګرځولی دی تاسو لره د نفسونو ستاسو نه ښځے او ګرځولی ئے دی تاسو لره
مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ بَنِيْنَ وَحَفَدَةً وَّرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبَاتِ
د ښځو ستاسو نه ځامن او نوسی او خوراك ئے درکړیدے تاسو ته د پاکو څیزونو نه
اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَتِ اللهِ هُمْ يَكْفُرُوْنَ ﴿۷۲﴾
آیا نو په باطل (معبود) باندے دوی ایمان لری او د نعمت د الله تعالیٰ نه دوی انکار کوی۔

وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا
او بندگي كوي دوى سوئ د الله تعالىٰ نه د هغه چا چه اختيار نهٔ لري دوى لره د خوراك
مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ شَيْئًا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿٧٣﴾ فَلَا تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الْأَمْثَالَ
د آسمانونو او د زمكے نه د هيڅ شي او نهٔ طاقت لري۔ نو مهٔ بيانوئ الله لره مثالونه،
إِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٧٤﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوْكًا
يقيناً الله پوهيږي او تاسو نهٔ پوهيږئ۔ بيان كړيدے الله تعالىٰ مثال د بنده مريي،
لَّا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ وَّمَنْ رَّزَقْنَاهُ
چه قادر نهٔ وي په هيڅ شي باندے او هغه څوك چه رزق وركړيدے مونږ هغه ته
مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَّجَهْرًا هَلْ
د خپل طرف نه رزق ښائسته نو دا خرچ كوي د هغے نه په پټه او په ښكاره، آيا
يَسْتَوٗنَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٥﴾
برابر دي دوى، ټول صفتونه د كمال خاص الله لره دي بلكه اكثر خلق نهٔ پوهيږي۔

تفسير : پدے كښې الله تعالىٰ بل عقلي دليل او نعمت د بيبيانو او اولادو ذكر كړيدے او پدے سره ئے د شرك او د غير الله د عبادت نه انكار كړيدے، چه الله د دوى د جنس نه او د دوى په شكل او صورت د دوى ښځے پيدا كړيدي دے دپاره چه د دوى ترمينځ اُنس او محبت پيدا شي، ځكه كه دا پيرئ يا بل حيوان وے نو د انسان به ورسره وخت نهٔ تيريدلے او انس به پوره نهٔ پيدا كيدلے۔ (عجيب نعمت دے) او بيا دے ښځو نه ئے هلكان او جينكئ او نمسي او كړوسي پيدا كړي چه د هغوى د ستركو نُور او د زړونو سُرور (خوشحالي) وي، او د هغوى د خدمت دپاره هر وخت د هغوى د اشارے منتظر وي۔

بَنِيْنَ : زامن ئے ذكر كړل ځكه چه عام خلك ورته ډير خوشحاليږي، پدے وجه ئے جينكئ ذكر نكړے، او د زامنو پيدا كيدو كښې ډير نعمتونه دي چه د كور ټول كار به هغوى كوي، انسان بيغمه شي، د كور زينت دے، او خدمتونه هم پرے وراچولے شي۔ او كه مړهٔ شول نو د انسان دپاره د شفاعت او د جنت ذريعه ده۔ او كه ستا د مرګ نه روستو پاتے شو نو تا دپاره

به دعاګانې کوي. نو په هر حال کښې اولاد فائده ده کله ئې چه صحيح تربيت وکړے شي.
وَحَفَدَةً : دا جمع د حافِد ده لکه د كَمَلَةٌ او كَامِلٌ په شان. په اصل کښې اَلْمُسْرِعُ فِي الْخِدْمَة ته وئيلے شي يعنې هغه چه په خدمت کښې جلتي کوي. نو نمسي هم د نيکۀ خدمت کښې جلتي کوي او دا انسان ته ډير ګران وي. او په دے طريقه باندے الله تعالىٰ د انسان سلسله د نسب روانه کړې. او دا نعمت صرف انسانانو ته حاصل دے، حيوانات خپل نمسي نۀ پيژني. او مؤنث حيوانات صرف د رضاعت د مودے پورے خپل بچے پيژني او کله چه غټ شي بيا ئے نۀ پيژني. (ابن عاشورؒ)
او حفده لفظ مذکر او مؤنث دواړو نمسو ته شامل دے.

د حفده مصداق

د حفده په مصداق کښې بيا ډير څيزونه داخل دي. ١- نمسي. ٢- اَلْخَدَمُ. (خادمان)
٣- اَلْاَعْوَانُ. مددګاران. (حسنؒ، عکرمهؒ، ضحاكؒ) ٤- اَلْاَصْهَار. سخرګنئ.
٥- اَلْاَخْتَانُ. (يعني زومان) (ابن مسعودؓ، عقلمهؒ). ٦- اَلرَّبَائِب. (پرکټئ).
٧- اَلْبَنَاتُ الْخَادِمَاتُ لِاَبِيْهِنَّ. هغه لونړه چه د پلار خدمتونه کوي. په لغت کښې د حفده اطلاق په دے ټولو باندے کيږي، او دا لفظ دے ټولو کښې مشترك دے، او دا ټول د الله تعالىٰ نعمتونه دي. او دلته د سياق د وجه نه غوره مراد ئے نمسي دي.
وَّرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبَاتِ : او په دے باندے زيات دا چه الله تعالىٰ د دوي د خوراك او څكاك دپاره غوره رزق ورکړيدے. په ټول مخلوقات کښې الله تعالىٰ انسانانو ته مزيدار خوراکونه ورکړيدي، د ټولو څيزونو خلاصه دوي خوري.
اَفَبِالْبَاطِلِ : ١- استفهام انکاري دے د توبيخ دپاره. د باطل نه مراد باطل معبود دے، يعني د مشرکانو د ناشکرئ حال دا دے چه په باطلو معبودانو باندے يقين کوي او د دے ټولو نعمتونو نسبت بتانو او قبرونو والو ته کوي.
٢- ابن قُتيبهؒ وائي : [اَفَبِشَفَاعَةِ الآلِهَةِ يُؤْمِنُوْنَ] آيا دوي په شفاعت د باطلو آلهو باندے ايمان راوړي او د الله په احسان ناشکري کوي، چه نعمتونه الله تعالىٰ ورکړيدي او دوي وائي چه زمونږ معبودان شته چه هغوي به زمونږ دپاره د الله په دربار کښې سفارش کوي. اوله معنىٰ ظاهره ده.
وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ : يعني د مشرکانو د ناشکرئ بل حال دا دے چه دوي د الله نه

سوی د هغه معبودانو عبادت کوی چه د دوی د رزق مالکان نهٔ دی۔
رِزۡقًا: رزق ئے ذکر کړو؟ ځکه دا لفظ يو خو ښځه او اولاد او خوراك تول ځيزونو ته شامل دے، رزق په معنیٰ د مرزوق سره دے يعنی هر هغه شے چه انسان ته ورکولے شی۔
دويمه وجه: رزق ته د انسانانو د هر شی نه حاجت زيات دے، انسانان د رزق په باره کښ ډير پريشانه وی نو الله فرمائی چه ستاسو دا باطل معبودان ستاسو د رزق مالکان هم نهٔ دی، نهٔ د آسمان نه باران کولے شی او نهٔ د زمکے نه ګياه راتوکولے شی۔ بلکه (شَيۡئًا) يعنی د هيڅ شی مالکان نهٔ دی۔
شَيۡئًا: دا مفعول مطلق دے په اعتبار د موصوف محذوف سره اَیۡ مِلۡكًا شَيۡئًا۔ يعنی هيڅ قِسمه ملکيت ئے نشته۔
فَلَا تَضۡرِبُوۡا: چونکه ددے نه لوی بل احسان هيرول نشی کيدے چه بنده خوری د يو او صفت د بل کوی، پدے وجه الله تعالیٰ فرمائی چه اے د آدم بچو! هيڅوك د الله شريکان مهٔ جوړوئ، او د هغه دپاره مثالونه مهٔ بيانوئ چه لکه څنګه وزير د امير په دربار کښ د خلقو سفارش کوی، دغه شان ستاسو دا د دروغو معبودان به د الله په دربار کښ ستاسو سفارش کوی۔ ستاسو دا شرکی اعمال څومره قبيح او بد دی ددے علم صرف الله ته دے، تاسو ته هيڅ هم معلوم نهٔ دی۔ که تاسو ته ددے صحيح اندازه کيدے نو ددے د کولو جرأت به مو نهٔ کولے۔
او دا جمله جواب د سوال دے چه مونږ چه ددے معبودانو بندګی کوو نو مونږ پدے سره الله تعالیٰ ته ځان نزدے کوو او ددے مثال دا دے لکه يو بادشاه ته په واسطو سره رسيدل کيږی، کوهی نه چه اُوبه راوباسے نو بوکه او پړے به واسطه کوے، او کوټے سر ته چه خيژے نو پوړئ (پارسنګ) به واسطه کوے۔ نو الله تعالیٰ ددے رد وکړو چه د الله تعالیٰ او د مخلوق ترمينځ فرق دے، نو د هغهٔ دپاره د مثالونو بيانولو هيڅ ضرورت نشته ځکه چه مخلوق ته خو واسطه پدے وجه کتلے شی چه هغه زمونږ د حال نه خبر نهٔ دے نو په واسطه سره خبرولے شی او الله تعالیٰ خو د بندګانو د هر حال نه په هر وخت کښ خبردار دے او په هر څه قادر دے۔ مشرکانو الله تعالیٰ د خپل ځان نه ډير وړاندے ګڼړلو او دا به ئے ويل چه د عالَم اِلٰه ددے نه ډير اُوچت دے چه زمونږ په شان کمزوری خلك د هغه عبادت وکړی نو دوی ورله وسيلے نيول شروع کړل په بتانو او ستورو او په ملائکو سره۔
فَلَا تَضۡرِبُوۡا لِلّٰهِ الۡاَمۡثَالَ : ١- اَیۡ لَاتُشَبِّهُوۡا اللّٰهَ بِخَلۡقِهٖ۔ يعنی الله تعالیٰ د مخلوق سره

مۀ مشابه کوئ. هغه دپاره مثالونه مۀ بيانوئ. ځکه چه مثال بيانونکے يو حال د بل حال سره او يوه قصه د بلې قصې سره مشابه کوی.

۲- ابن عباس ﷺ ئې داسې تفسير کوی : اَیْ لَاتَجْعَلُوا لِلّٰهِ الْاَکْفَاءَ.

د الله دپاره مثل (همزولی) مۀ مقرروئ ځکه چه څوك د غير الله بندگی کوی نو هغۀ د الله دپاره مثل مقرر کړو. او حال دا چه الله تعالیٰ واحد دے هيڅ مثيل (مثل) نۀ لری.

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا : پدے کښې الله تعالیٰ رد کوی په مشرکانو او اشاره ورکوی چه تاسو الله تعالیٰ لره مثالونه مۀ پيش کوئ بلکه د الله تعالیٰ مثال بيانولو ته غوږ کيږدئ.

ددے مثال په باره کښې دوه رائے دی (۱) عوفیؒ د ابن عباس ﷺ نه روايت کړيدے چه دا د کافر او مؤمن مثال دے، يعنی د دواړو ترمينځ موازنه کولو سره د مؤمن فضيلت ښکاره کول مقصود دی. کافر ته الله تعالیٰ مال ورکړيدے ليکن هيڅ خيرئے پکښې ونکړو او بل مؤمن دے الله تعالیٰ ورله مال ورکړو نو هغه پکښې د الله طاعت وکړو او مال ئے د الله په رضا کښې ولگولو په ښکاره او په پټه نو الله ورله په بدله کښې جنت ورکړو، دواړه برابر نۀ دی. (البغویؒ) ليکن دا د سياق سره ډير ښه نۀ لگيږی.

(۲) غوره دا ده چه دا او روستو مثال دواړه د معبود باطل (بتانو وغيره) او معبود حق (يعنی الله تعالیٰ) ترمينځ د فرق دپاره بيان شويدی او پدے دواړو کښې رد د شرك مقصود دے. او همدا رايه د مجاهدؒ ده چه شوکانیؒ، صاحب د فتح البيان او جمال الدين قاسمیؒ وغيره غوره کړيده. امام ابن القيمؒ هم په ((اعلام الموقعين)) کښې ددے تائيد کړيدے.

حاصل د مثال دا دے چه يو غلام دے چه د هغۀ سره هيڅ مال نشته او د خپل مالك په مال کښې د هغۀ د اجازت نه بغير تصرف کولو نه بالکل عاجز وی، او بل شخص آزاد انسان دے چه هغۀ ته الله تعالیٰ ښه مال او دولت ورکړيدے او په پوره آزادئ او فراخئ سره ورځ او شپه خرچ کوی، نو دا دواړه برابر نۀ دی اگرکه دواړه مخلوق دے، او دواړه انسانان دی ليکن د دواړو حالتونه برابر نۀ دی، نو دغه شان هغه الله تعالیٰ چه د ټول جهان پالونکے دے، د هغه بتانو او باطلو معبودانو سره برابر نۀ دے چه د کانړو نه تراشلے شوی وی يا د نطفے نه يا د نُور يا د اُور نه پيدا وی. دواړه برابر څنگه کيدےشی؟ - (القاسمیؒ)

عَبْدًا مَّمْلُوْکًا : مملوك ورسره ځکه وائی چه د عبد اطلاق په ټولو انسانانو کيږی اگرکه غلامان نۀ وی. نو دلته وائی چه د عبد نه مراد هغه غلام دے چه د انسان په ملکيت کښې وی.

لَّا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ : ځکه چه دغه غلام د مولیٰ (مالك) د اجازت نه بغیر هیڅ تصرف نشی کولے، که نکاح ئے وکړه نو هغه نکاح به ماتولے شی۔ او په حدیث کښې دی چه که د مالك د اجازت نه بغیر ئے نکاح وکړه نو دا زنا کار دے۔ (ابوداود : ۲۰۷۸) والترمذی (۱۱۱۲) واسنادهما حسن) او که بیع شراء ئے وکړه هغه باطله ده۔

رَّزَقْنٰهُ : ځان ته ئے نسبت وکړو، اشاره ده چه دۀ ته چه څه ورکړے شویدی نو دا صرف د الله تعالیٰ مهربانی ده او د هغه رزق دے۔ او اشاره ده چه دا انسان به ئے ځکه خرچ کوی چه دا ورته الله تعالیٰ ورکړیدے۔

رِزْقًا حَسَنًا : رزق حسن حلال او کثیر (ډیر) دواړو ته وائی۔ او بل ورسره جود او سخاء هم کوی۔

هَلْ يَسْتَوٗنَ : آیا دواړه (یعنی غلام او آزاد) چه دغه صفات لری برابر دی ؟۔ يَسْتَوٗنَ ئے صیغه د جمع راوړه په اعتبار د (مَنْ) سره ځکه چه (مَنْ) لفظ ته د واحد او تثنیه او جمع، مذکر او مؤنث ټول ضمیرونه راجع کول صحیح دی۔ یا ددے نه مراد جنس غلام او جنس حُر دے۔ ځکه چه داسے مولاګان او مریان په دنیا کښې ډیر دی نو نورئے ورسره هم ملګری کړل۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ : حقیقت دا دے چه ټول د کمال صفتونه صرف الله دپاره دی، ځکه چه تمام نعمتونه هغه ورکړیدی۔ د کانړو نه جوړ شوی بتان څنګه د حمد او ثناء مستحق کیدے شی، لیکن اکثر خلق (چه شرك کوی) پدے خبره نۀ پو هیږی۔ د مشرکانو همتونه کمزوری دی چه د کمزوری مخلوق نه مددونه غواړی او لوی قادر الله پریدی۔ د مخلوق او د خالق مرتبه نۀ پیژنی۔

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ اَحَدُهُمَا اَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ
او بیان کړیدے الله تعالیٰ مثال د دوه سړو چه یو د دوی نه چاړا دے چه قدرت نۀ لری
عَلٰى شَيْءٍ وَّهُوَ كَلٌّ عَلٰى مَوْلٰهُ اَيْنَمَا يُوَجِّهْهُّ
په هیڅ شی باندے او دا بوج دے په خپل مالك باندے، کوم طرف ته ئے چه اُولیږی
لَا يَاْتِ بِخَيْرٍ هَلْ يَسْتَوِيْ هُوَ وَمَنْ يَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَهُوَ
نۀ شی راوړے هیڅ خیر آیا برابر دے دا او هغه څوك چه حکم کوی په انصاف او هغه

عَلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٧٦﴾ وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا
په لاره نیغه دے۔ او خاص الله لره (علم) د پټو څیزونو د آسمانونو او د زمکے دے او نهٔ دے
أَمْرُ السَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ
کار د قیامت مګر په شان د رپ د سترګے دے بلکه ددے نه هم ډیر نزدے دے۔
إِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٧٧﴾ وَاللّٰهُ أَخْرَجَكُمْ مِّنْ بُطُوْنِ
یقیناً الله تعالیٰ په هر شی باندے قدرت لری۔ او الله تعالیٰ راویستلی یئ تاسو د خیټو
أُمَّهٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْئًا وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ
د میندو ستاسو نه نهٔ پو هیدئ په هیڅ شی او ګرځولی ئے دی تاسو لره غوږونه
وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٨﴾
او سترګے او زړونه دے دپاره چه تاسو شکر وکړئ۔

تفسیر : ددے دویم مثال په ذریعه هم د بتانو او د الله تعالیٰ ترمینځ فرق ښکاره شویدے چه یو سړے ګونګا او ړوند دے، د خپل ما فی الضمیر (زړهٔ مقصد) نهٔ شی ادا کولے، او نهٔ د کوم فائده منے خبرے او عمل قدرت لری، او په خپل رشته دار باندے تول بوج شوے وی، په هیڅ وجه سره نهٔ خپل کار کولے شی، او نهٔ د بل چا۔ دا سے سړے د هغه شخص برابر کیدے شی چه د خبرو کولو پوره قدرت لری، د هوش او عقل مالك وی، خلقو ته د ښو خبرو حکم کوی هغوی ته فائده رسوی، او ښائسته اخلاقو والا او دیندار دے او خپل مقصد د آسانو او نیغو لارو نه حاصلوی؟ لکه څنګه چه دا دواړه برابر نشی کیدے نو دغه شان الله تعالیٰ چه د کائناتو خالق دے د هغهٔ برابر به هغه د کانړو بتان څنګه شی چه هغه بت پرست د یو ځای نه بل ځای ته ګرځوی، او هغه د هغه دپاره بوج جوړ شوے وی، نهٔ هغه ته فائده رسولے شی او نهٔ نقصان ؟!۔

دا مثال هم ځینی مفسرینو د ابوجهل بن هشام او د ابوبکر صدیق ﷺ سره لګولے دے۔ (عطاءؒ) او چا د عثمان بن عفان ﷺ او د هغه د یو کافر غلام سره۔ خو دا تفسیر ضعیف دے، او دلته نهٔ لګیږی۔

فوائد الالفاظ :

رَّجُلَيْنِ : د رجلین نه مراد یو الله تعالیٰ او بل بتان دی۔ او په مثال کښې د الله دپاره د (رَجُل) لفظ استعمالول جائز دی لکه په حدیث کښې هم د الله دپاره ذکر شویدے (رَجُلٌ بَنٰی دَارًا) (صحیح بخاری : ۷۲۸۱)

اَبْكَمُ : بت چاړا دے۔ لَا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ : په هیڅ شی قادر نۀ دے یعنی لاس او خپه ئے خوزیږی نۀ۔

كَلٌّ عَلٰى مَوْلَاهُ: خوك چه د بت سره دوستی کوی په هغه باندے بوج وی، هر سهارئے پاکوی او غوړه یې، او چه مات شی نو مرمت به ئے کولے شی۔ او چه یو ځای نه ئے بل ځای ته وړے نو په شا باندے به ئے گرځوے۔ لکه د عربو عادت وو چه په سفرونو کښې به ئے ځان سره د خپلو سامانو سره بت هم راپه شا کړے وو، دا پرے بل مصیبت وو۔ نو باطل اِلٰه ورته مصیبت جوړ شوے وو۔

أَيْنَمَا يُوَجِّهْهُ : یعنی کوم طرفته ئے چه متوجه کړی د یو کار او حاجت پسے، یعنی د هغه نه دعا وغواړی او د یو کار پسے ئے متوجه کړی چه اے بت! ما ته فلانے شے راکړه۔

لَا يَأْتِ بِخَيْرٍ: هیڅ حاجت نشی پوره کولے۔

وَمَنْ : ددے نه مراد الله تعالیٰ دے۔

يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ : پدے مختصره جمله کښې ډیرو صفاتو ته اشاره ده، الله تعالیٰ هغه ذات دے چه موجود دے، بیا هغه د آمر په درجه کښې دے، ټول مخلوق ئے مامور دی او آمر مشر وی، د ټولو دپاسه وی، او قادر وی، او امر چه د چا وی نو هغه خبرے هم کولے شی، نو دا د (اَبْكَمُ) په خلاف شو۔ بیا خبرے دوه قسمه وی، که آمران ظالمان وی د ظلم خبرے کوی نو دلته وائی چه نۀ بلکه دا آمر د عدل خبرے کوی او خلکو ته د خیر خودنه کوی۔ وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ اَیْ فِیْ اَفْعَالِهٖ۔ یعنی خپله چه کوم کار کوی نو هغه هم صحیح دے، ځکه کله نا کله یو تن خبرے صحیح کوی لیکن خپله ئے عمل گډوډ (خراب) وی۔ نو خبرے ئے هم د انصاف او کارونه ئے هم د حکمتونو نه ډك دی۔ نو چرته داسے الله تعالیٰ او چرته یو چاړا بت برابر کیدے شی۔

نو هرکله چه دواړه برابر نۀ دی نو بس د دغه یو الله بندگی پکار ده، د هغۀ سره محبت ساتل او د هغه د عدل نه فائده اخستل او د هغه حقوق ادا کول پکار دی۔ او بتان پریده ځکه چه هغه خو ټول مصیبت دے۔

او دا آیت د قبر پرستو سره هم لگی چه د قبرونو والو عبادت کوی، یعنی مړے اَبْكَمُ دے،

د خبرو قدرت نهٔ لری او په هیڅ شي باندے قادر نهٔ دے تردے چه خپله غسل هم نشی کولے، نهٔ ځان ته کفن اچولے شي او نهٔ ځان خخولے شي، او مړے بوج وی په خپل کور والو باندے چه کله خخ شي نو خلك په راحت کښ شي، بیا که دا مړے یو حاجت ته متوجه کوے او دعاګانے ترے غواړے نو هیڅ فائده نشي راوړلے، کوم ولی او بزرګ دے چه پس د مرګ نه ئے د چا حاجت پوره کړے وی، مشرکان هسے د وَهم پسے روان دی.

نو آیا دغه قبر والا او یو همیشه ژوندے ذات دواړه برابر دی؟ هیڅکله نهٔ. نو ددے وجه نه مشرك لوی ظالم او لوی جاهل او ضعیف الْهِمَّة دے. مؤمن الله پیژندلے دے، د حاجتونو پوره کولو مرکز ئے پیژندلے دے، همت ئے اُوچت دے. مؤمن کښ طاقت وی ځکه چه طاقتور ذات پسے انختے وی. او مشرك کمزورے دے ځکه چه معبود ئے ضعیف دے.

نو د اول او د دویم مثال ترمینځ فرق دا شو چه په اول مثال کښ د باطل معبود نه نفی د تصرف وه. او په دویم مثال کښ نفی د کلام او د علم او د سمع دے سره د نفی د قدرت نه.

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ : دا د اول د سورت (اَتٰی اَمْرُ اللهِ) سره متعلق دے. یعنی قیامت به راځی ځکه چه الله تعالیٰ عالم او طاقت والا دے، د هغهٔ طاقت ته وګوره.

نو پدے کښ الله تعالیٰ د خپل کامل علم او قدرت بیان کړیدے. او کله چه یو ذات کښ علم او قدرت وی نو قیامت راوستل هغه ته هیڅ ګران نهٔ وی. یا پدے آیتِ کریمه کښ د مکے مشرکانو ته جواب ورکړے شویدے چه هغوی د قیامت د راتلو په باره کښ ډیره جلتی کوله، او په دواړو صورتونو کښ دے خبرے ته اشاره ده چه د مشرکانو دروغجن معبودانو ته د غیبو هیڅ علم نشته او قیامت به کله او څنګه راځی ؟ ددے علم هم ورته نشته. نو هرکله چه الله تعالیٰ علیم او قدیر دے نو بس عبادت هم ددهٔ پکار دے، نهٔ د جاهل عاجز چه هیڅ قسم علم نهٔ لری.

د آیت مطلب دا دے چه په آسمانونو او زمکه کښ چه د بندګانو متعلق څومره خبرے، فیصلے او احکام پټ دی د هغوی ټولو علم صرف الله ته دے. پدے ضمن کښ د قیامت علم هم دے. او کله چه د هغے وخت راشي نو د سترګے په رپ به راځی، یا ددے نه به هم تیزئ سره واقع کیږی، ځکه چه الله په هر شي قادر دے.

اَمْرُ السَّاعَةِ : قیامت د الله په امر راځی نو ځکه ورته امر وائی. یعنی کار د قیامت.

او د ساعة نه مراد هغه وخت دے چه په هغے کښ به ټول خلك د شپیلئ په وهلو سره فناء شي، یا ژوندی مړه کول په اوله شپیلئ سره او مړی راژوندی کول په دویمه شپیلئ

سره، او د ټولو کائناتو شکلونه بدلول۔

كَلَمْحِ الْبَصَرِ: (رپ د سترګې)۔ دا کنایه ده د سرعت او سهولت نه۔ یعني په جلتۍ او په آسانۍ سره راځي۔

وَاللّٰهُ أَخْرَجَكُمْ : دا بل دلیل عقلي دے او پدے کښې ذکر د انعام دے په پیدائش د انسان او د هغه درے قوتونه ئے ذکر کړیدی چه هغه درے واړه اسباب د علم او د شکر دی۔ او دا امتنان الله تعالیٰ په څلورو سورتونو کښې ذکر کړیدے، دلته، بیا په سورة المؤمنون، بیا سورة الم السجده بیا ئے په سورة الملك کښې راوړیدے او ځای په ځای ئے یره ورکړیده چه څوك ددے څیزونو نه فائده نهٔ اخلي الله به ئے ترے واخلي۔

غوږ، سترګه او زړه د علم اسباب دی او انسان پدے سره ژوندے کیږي، که غوږ نهٔ وی نو انسان د هیڅ نه خبر نهٔ وی او که سترګه ئے نهٔ وه نو نیم مړ وی او که زړه او عقل ئے نهٔ وی نو انسان به ختم وی یا به لیونے وی۔

وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ : واو د جمع دپاره دے د ترتیب دپاره نهٔ دے، او د پیدائش نه روستو ئے دا څیزونه ذکر کړل څکه چه ددے څیزونو نه فائده اخستل دنیا ته د راتللو نه پس کیږي۔ د مور په خیټه کښې دا طاقتونه کار نکوی۔

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ : یعنی الله تعالیٰ د وړوکوالي نه واخله تر بوډا والي پورے دا قوتونه زیاتوی دے دپاره چه تاسو دا نعمتونه رایاد کړئ او د الله شکر ادا کړئ، د هغه د وحدانیت اقرار وکړئ، او د هغهٔ عبادت وکړئ، څکه چه الله تعالیٰ تاسو ته دا نعمتونه دے دپاره درکړیدی چه ددے په مدد سره د الله مخے ته په ټول ژوند کښې تابع شئ۔

أَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرَاتٍ فِيْ جَوِّ السَّمَآءِ
آیا نهٔ ګوری دوی مارغانو ته چه تابع کړے شویدی په فضا د آسمان کښې،
مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا اللّٰهُ إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَآيَاتٍ
بند نهٔ ساتي دوی لره (د پریوتو نه) مګر الله تعالیٰ یقیناً په دے کښې خامخا نخے دی
لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٧٩﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ بُيُوْتِكُمْ
دپاره د هغه قوم چه ایمان لري۔ او الله تعالیٰ پیدا کړیدی تاسو لره د کوټو ستاسو نه

سَكَنًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنۡ جُلُودِ الۡأَنۡعَامِ بُيُوتًا
ځائے د آرم او گرځولی ئے دی تاسو لره د څرمنو د چارپیانو نه کوټے
تَسۡتَخِفُّونَهَا يَوۡمَ ظَعۡنِكُمۡ وَيَوۡمَ إِقَامَتِكُمۡ
چه سپک گنړئ تاسو هغے لره په ورځ د سفر ستاسو کښې او په ورځ د دیره کیدو ستاسو
وَمِنۡ أَصۡوَافِهَا وَأَوۡبَارِهَا وَأَشۡعَارِهَا
او د وړئ د هغے نه (د گډو نه) او د پشمونو د هغے نه (د اُوښانو نه) او د ویښتو د هغے
أَثَاثًا وَّمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿٨٠﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ
نه (د بزو نه) سامان د کور او د فائدے څیزونه تر یو وخته پورے۔ او الله گرځولی دی
لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَالًا وَّجَعَلَ لَكُم مِّنَ الۡجِبَالِ
تاسو لره د هغے نه چه پیدا کړی ئے دی سوری او گرځولی ئے دی تاسو لره د غرونو نه
أَكۡنَانًا وَجَعَلَ لَكُمۡ سَرَابِيلَ
ځایونه د پټیدو (غارونه، سورنگان) او گرځولی ئے دی تاسو لره قمیصونه
تَقِيكُمُ الۡحَرَّ وَسَرَابِيلَ تَقِيكُم بَأۡسَكُمۡ
چه ساتی تاسو لره د گرمئ نه او نور قمیصونه چه ساتی تاسو د جنگ ستاسو نه
كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعۡمَتَهُ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ
(یعنی زغرے) دغسے پوره کوی الله تعالیٰ نعمت خپل په تاسو دے دپاره چه تاسو
تُسۡلِمُونَ ﴿٨١﴾ فَإِن تَوَلَّوۡا فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ الۡبَلَاغُ الۡمُبِينُ ﴿٨٢﴾
د الله حکمونه ومنئ۔ نو که واوړیدل دوی نو یقیناً په تا باندے رسول دی ښکاره۔
يَعۡرِفُونَ نِعۡمَتَ اللّٰهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا وَأَكۡثَرُهُمُ الۡكَافِرُونَ ﴿٨٣﴾
پیژنی دوی نعمتونه د الله تعالیٰ بیا انکار کوی د هغے نه او زیات د دوی نه کفر کوی۔

تفسیر : د الله تعالیٰ د عظیم قدرت یو بل دلیل د مارغانو پیدائش هم دے، او دا نعمت هم دے، چه په فضاء کښې بغیر د کوم مادی مدد نه په اطمینان سره څلورو طرفونو ته

الـوزی۔ دا صـرف یـو د الله ذات دے چـه پـه دے کـښې ئے دا قدرت ایخودے دے او هغه ئے په فـضـاء کـښې بـنـد ساتی۔ د مارغانو دپاره د هغوی د کارونو لائق وزرے ورکول او هغوی ته د هغـے کـولاوول او بـنـدول ورخودل لکه څوك چه په اُوبو کښې لامبو وهی او د فضاء او هواء پدے طریقه تابع کولو کښې یقیناً د ایمان والو دپاره ډیرے نخے دی، دپاره د توحید د الله تعالیٰ او د هغهٔ د قدرت او د هغهٔ د علم، چه پدے کښې سوچ او فکر کولو سره دوی د خپل خالق د عظمت اقرار کوی او صرف د هغهٔ عبادت کوی۔

حکمة : داسے آیت سورة الملك (۱۹) کـښې هـم راغلے دے چه په هغے ﴿مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا الرَّحْمٰنُ﴾ لـفـظ ذکـر دے ځکه چه هلته مسئله د برکت ورکولو ده نو رحمٰن صفت ورسره مـنـاسـب دے او دلـتـه مسئله د توحید او اُلو هیت شروع ده نو دلـتـه (اِلَّا اللهُ) لفظ مناسب دے چـه دا کـارونـه چـه چا کـړیـدی هـغـه معبود دے، بندگی صرف د هغه پکار ده، او شریکان ورسره جوړول نهٔ دی پکار۔

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ : دلـتـه نـه هغه نعمتونه ذکر کیږی چه الله تعالیٰ انسان ته ورکړیدی دے دپاره چـه پـدے کـښې سـوچ او فـکـر کـولـو سـره د هـغـه د وحدانیت اقرار وکړی۔ الله تعالیٰ انسـانـانـو تـه د کانړو، ویښتو او نورو څیزونو په ذریعه جوړ شوی کورونه ورکړی، دے دپاره چه پدے کښې سکون او راحت حاصل کړی۔ دا د الله نعمت دے۔

کـه الله غـوختـلے نـو دوی بـه ئے د آسـمـانـی ستورو په شان هر وخت په حرکت کولو یا د زمـکـے پـه شـان سـاکـن او بـے حـرکـتـه گرزولی وے۔ او دا څومره لوی نعمت دے چه که یو انسان همیشه بهر وے نو د خلکو د آوازونو او گډون نه به پریشانه وے، خو کوټے ته ننوزی سکون ورته حاصل شی۔

وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ جُلُوْدِ الْاَنْعَامِ : د هـغـه چارپیـانـو د څرمـنـے نه جوړ شوی کورونه ئے درکـړیـدی چـه هغه تاسو په سفر او حضر کښې ځان سره گرځوئ، یعنی خیمے۔ د خختو او خټو نـه کـوټـه جـوړولـو کـښې وخـت لگی او خرچه کیږی او په سفر کښې ورته د انسان ډیر وخت دپاره ضرورت نهٔ وی نو الله تعالیٰ خیمے ورکړے۔

وَمِنْ اَصْوَافِهَا : او د هـغـه چارپیانو د ویښتو او د هغے نه جوړ شوی سامان او بسترے او قالینونه او کمبلے وغیره ئے ورکړی چه د هغے نه خلق تر یوے مودے پورے فائدے اخلی۔

اَصْـوَاف جـمـع د صوف ده د گډانو وړئ او اَوْبَار جمع د وَبَرٌ ده د اُوښانـو ویښتـه، او اشعار جمع د شعر ده د چیلو ویښته۔

إِلَىٰ حِينٍ: یعنی تر هغه وخت پورے چه تاسو ترے حاجتونه پوره کړئ۔ یا ترډے چه زاړهٔ شي او ختم شي۔ یا تر مرګه پورے۔ یا تر قیامته پورے۔

وَاللهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ : دغه شان الله تعالیٰ د سوري حاصلولو نور ډیر ذرائع پیدا کړیدي دے دپاره چه که چا سره څه خیمه او کور نهٔ وي، یا په حالت د سفر کښې وي نو هغه ذرائع استعمال کړي لکه ونه، دیوال یا چترئ سره سورے حاصل کړي۔

وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ الْجِبَالِ : او الله تعالی په غرونو کښې غارونه جوړ کړي چه هغه انسان په ډیرو موقعو کښې د انتهائي مفیدو اغراضو دپاره استعمالوي مثلاً سفر کونکے انسان کله پدے کښې د خپل دشمن، باران، د یخنئ او ګرمئ نه پناه اخلي۔

پدے زمانه کښې په غرونو کښې سُرنګان ویستلو سره د فوج او هوائي جهازونو او وسلو دپاره محفوظ ځایونه جوړیږي۔

اکنان جمع د کِنٌّ ده، د پټیدو ځایونه د باران او د یخنئ او ګرمئ نه۔ دلته ترے مراد غارونه او سُرنګان دي۔

وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ : دغه شان الله تعالیٰ د وړئ، مالوچو او کتان وغیره نه جوړ شوے لباس تیار کړیدے دے دپاره چه ددے په ذریعه د یخنئ او ګرمئ نه بچ شئ، او د وسپنے نه جوړے شوے زغرے، خُود او بکتر بند او پروف ګاړي او د وسپنے نور آلات او سامانونه ئے درکړي دي، دے دپاره انسان دا په جنګ کښې استعمالولو سره د تورو، نیزو، توپونو، راکټونو او میزائلو نه خپل ځان بچ کړئ۔ الله تعالیٰ دا تمام نعمتونه او ددے په شان نور ډیر داسے دیني او دنیاوي نعمتونه انسانانو ته ورکړیدي چه په هغے کښې انسان که سوچ وکړي نو دین اسلام به قبول کړي او د الله مخے ته به تسلیم شي۔

سَرَابِيلَ : جمع د سِرْبَالٌ ده قمیص ته وائي او هغه جامے چه د وړئ او مالوچو او کتان وغیره نه جوړے شوي وي۔ زجاجؒ وائي : هر شے چه تهٔ اغوندے هغے ته سربال وائي۔

تَقِيكُمُ الْحَرَّ : دلته یا بل طرف (وَالْقَرَّ) پټ دے۔ (یعني تاسو ساتي د ګرمئ او یخنئ نه) خو یخني ئے ورسره ځکه ذکر نکړه چه دا سورت مکي دے او په مکه کښې یخني دومره نهٔ وي اکثره زمانه ګرمي وي۔ او یو شے انسان ته نعمت نهٔ ښکاري کله چه د هغے زمانه نهٔ وي راغلي نو ځکه ئے د هغوي د حال مطابق صرف ګرمي ذکر کړه۔

یا ئے دا بل جانب پدے وجه نهٔ دے ذکر کړے چه کوم شے د ګرمئ نه ساتل کوي نو په هغے سره في الجمله په هواء کښې یخوالے هم حاصلیږي نو د ګرمئ نه ساتل د یخنئ د

حاصلولو دپاره کیږی او دا ډیره عجیبه باریکه اشاره ده. یا دا چه د یخنۍ نه د بچاؤ سامان الله تعالیٰ مخکښې په (لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ) کښې ذکر کړیدے نو دلته ئے صرف د ګرمۍ جانب ذکر کړو. (فتح البيان).

نِعْمَتَهٗ : ددے نه مراد ټول نعمتونه دی. اضافت د استغراق دپاره دے.

لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ : د نعمت مقابله کښې اسلام راوړل دی، اَیْ لَعَلَّكُمْ تُخْلِصُوْنَ الْوَحْدَانِيَّةَ وَالرُّبُوْبِيَّةَ وَالْعِبَادَةَ وَالطَّاعَةَ لِلّٰهِ. یعنی دے دپاره چه تاسو د الله وحدانیت او ربوبیت او عبادت هغۀ لره خالص کړئ. لفظي معنیٰ ئے ده : دے دپاره چه تاسو مُنقاد شئ د حکمونو د الله تعالیٰ.

فَإِنْ تَوَلَّوْا : یعنی که ددے تمامو نعمتونو د شمارلو نه او د حق ددے ښکاره بیانولو نه پس دوی د اسلام نه مخ اړوی نو تا خپله ذمه واری پوره کړه، او اُوس د دوی سره هیڅ عذر باقي پاتے نۀ دے. الله به ورسره حساب کوی.

يَعْرِفُوْنَ نِعْمَتَ اللّٰهِ : یعنی د مکے مشرکان پوهیږی چه د ذکر شوی ټولو نعمتونو خالق الله دے، لیکن وائی چه مونږ ته زمونږ د معبودانو په سفارشاتو سره ملاؤ شویدی نو نسبت غیر الله ته کوی، او پدے طریقه د دوی نه اکثر خلق د الله د نعمتونو نه انکار کوی او کفر کوی. د بعض مفسرینو رائے ده چه دلته د نعمت نه مراد د نبی کریم ﷺ نبوت دے. د مکے کافران پوهیدل چه نبی ﷺ د الله نبی دے، لیکن د کبر او عناد په وجه ئے انکار کولو. یا د نعمت ناشکری دا ده چه دا نعمتونه د الله تعالیٰ په رضا کښې نۀ استعمالوی کوم دپاره چه الله تعالیٰ دا نعمتونه ورکړیدی. او د انکار یو صورت غفلت هم دے چه هیڅ نه خبر نۀ وی چه دا نعمتونه چا راکړل.

وَأَكْثَرُهُمُ الْكَافِرُوْنَ : (۱) ضمیر د اَكْثَرُهُمْ راجع دے عامو انسانانو ته. یعنی پدے طریقه د عامو انسانان عادت دا دے چه دوی کفر کوی او د الله د نعمتونه انکار کوی لکه څنګه چه د مکے مشرکانو دغه شان انکار وکړو. پدے معنیٰ باندے هیڅ اشکال نشته.

(۲) او که دا ضمیرونه د مکے مشرکانو ته راجع کړے شی، نو اشکال دا دے چه اول کښې وائی نعمت پیژنی بیا ترے انکار کوی نو هرکله چه دوی د نعمتونو نه انکار وکړو نو دوی خو ټول کافران شو نو بیا (اَكْثَرُهُمْ) څنګه ذکر کوی؟.

❁ نو بیا ځینی مفسرین وائی چه اکثر په معنیٰ د کل سره دے.

❁ او ځینی وائی چه انکار نعمتونو ته راجع دے او کفر معنیٰ دا ده چه په الله تعالیٰ باندے

کفر کوی۔

❁ یا د مکے کفار انکار په ژبه سره کوی او اکثر د دوی نه کفر او انکار په زړه سره کوی۔

❁ یا انکار په ژبه سره کوی او کفر په عمل سره کوی۔

❁ یا اکثر ئے پدے وجه وئیلے دے چه ددے نه عُقَلاء مراد دی نۀ ماشومان او د هغوی په شان خلك۔

❁ یا د کفر نه مراد کفر الجحود دے او د ټولو کفر د جحود نۀ وو بلکه د بعضو کفر د جهالت او د بعضو په تکذیب د رسول سره وو چه الله تعالیٰ او د هغه ربوبیت ئے منلو۔ (فتح البیان)

❁ ابن عاشورؒ وائی : مشرکانو کښې دوه قسمه خلك وو، مشران۔ نو دوی دا نعمتونه پیژندلی وو او ددے اقرار به ئے هم کولو او د قرآن په دلائلو هم پوهه شوی وو نو په خپل شرکښې دین کښې ئے شك پیدا شوے وو لیکن د مشرئ او د ریاست د محبت په وجه په شرك باندے همیشه پاتے شو، ددے وجه نه ئے ددے نه په انکار سره تعبیر وکړو کوم چه د اقرار مقابل دے او هر چه ﴿ اَكْثَرُهُمُ الْكَافِرُوْنَ﴾ جمله ده نو د دوی نه مراد عام مشرکان دی چه دوی اکثر وو چه عقل او سوچ به ئے نۀ کولو، د الله تعالیٰ په نعمتونو نۀ پوهیدل، غافلان وو، ددے وجه نه ئے ددے نعمت تقاضا نۀ پوره کوله ځکه چه نعمت ددے تقاضا کوی چه انسان د الله یواځے بندگی وکړی نو د دوی شرك ډیر مضبوط وو نو ځکه ئے دوی ته (اَلْكَافِرُوْنَ) وویل۔ (التحریر والتنویر ۱۳/۱۹۵)

وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيْدًا
او په کومه ورځ چه راپورته به کړو مونږ د هر امت نه گواه (بیان کونکے)
ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا
بیا به اجازه نشي ورکیدے هغه کسانو ته چه کفر ئے کړیدے (د عذر کولو)
وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿٨٤﴾
او نۀ به دوی نه طلب د توبے کیدے شي۔

تفسیر : اُوس تفصیلی تخویف اُخروی بیانوی۔ د کافرانو او مشرکانو به د قیامت په

ورځ څه حال وي؟ هغه دلته بيانيږي چه په هغه ورځ به الله تعالیٰ د هر قوم نبي د هغوی مخې ته راولي چه د هغوی په حق کښ به یا خو د ایمان او یقین ګواهي ورکوي، یا به د هغوی په خلاف د کفر او عناد ګواهي ورکوي.

یا به دا ګواهي د نبي په خپل تبلیغ سره وي چه نبي دوی ته تبلیغ کړیدے.

وَيَوْمَ : اَیْ وَاذْكُرْ يَوْمَ. رایاده کړه هغه ورځ.

لَا يُؤْذَنُ : دلته ئې مَاذُوْن فِيْهِ شے نهٔ دے ذکر کړے دپاره د عموم ۱- لَايُؤْذَنُ لَهُمْ فِي الْإِعْتِذَارِ. (يعني دوی ته به اجازه نهٔ ورکړے کيږي دپاره د عذر پیش کولو. ځکه چه دوی سره به څه دلیل او عذر نهٔ وي لکه الله فرمائي : ﴿ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُوْنَ ﴾ (المرسلات : ٣٦)

(يعني دوی ته به اجازه نهٔ ورکړے کيږي چه عذر پیش کړي)

٢- لَا يُؤْذَنُ فِي الرُّجُوْعِ إِلَى الدُّنْيَا) دوی ته به اجازه نهٔ ورکړے کيږي چه دوی دنيا ته واپس کړے شي. ٣- لَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فِي الْكَلَامِ. د خبرو اجازه به ورته نهٔ ملاويږي.

٤- لَا يُؤْذَنُ فِي التَّوْبَةِ) د توبے اجازه به ورته نهٔ ملاويږي.

٥- فِيْ مُعَارَضَةِ الشُّهُوْدِ) دا اجازه به ورته نهٔ ملاويږي چه دویٰ د ګواهانو سره مقابله وکړي، او د هغوی په خلاف خبره وکړي بلکه د هغوی په خبره به اقرار کوي. لکه دنيا کښ يو مجرم راګير کړے شي نو هغه ته ووېل شے چه عذر پیش کړه پريدم دِے. او دے مجرمانو ته به دا موقعه هم نهٔ ورکړے کيږي ځکه چه الله تعالیٰ ته معلومه ده چه د دوی عذر غلط دے نو ځکه ورته اجازه نهٔ ورکوي.

(ثُمَّ) كلمه ئې راوړه پدے کښ اشاره ده چه دوی د عذر پیش کولو نه منع کول کوم چه په کلي توګه نا امیدئ ته اشاره ورکوي دا به په دوی باندے د اِنبياؤ عليهم السلام د شهادت نه هم زیات سخت وي.

وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ : د مجرم د خلاصولو دويمه طريقه دا وي چه بنه راته معلومه ده چه جرم دِے کړیدے خو اُوس مے رضا کړه او توبه راته وباسه. نو الله به دوی ته دا خبره هم نهٔ کوي.

يُسْتَعْتَبُوْنَ : ❁ دا د عتبیٰ نه دے، يعني رجوع کول او توبه کول. يعني دوی نه به دا طلب هم نهٔ کيږي چه دوی واپس شي هغه عبادتونو ته چه الله تعالی پرے راضي کيږي.

❁ يا د عتاب نه دے په معنیٰ د ملامتیا سره او بيا پدے کښ معنیٰ د عتاب زائل کولو ده يعني رضا كول ځکه چه څوك د خپل ځان نه عتاب زائل کړي نو هغه نه مالك راضي

کیږي۔
حاصل معنیٰ ئې ده : وَلَا هُمْ يُسْتَرْضَوْنَ/ وَلَاهُمْ يُسْتَتَابُوْنَ۔
یعنی د دوی نه به طلب د رضا کولو د الله تعالیٰ نهٔ کیږي، چه د الله ناراضګی د خپل ځان نه لرې کړي۔ / یا : نهٔ به دوی نه طلب د توبې کیدې شي۔

وَإِذَا رَأَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ
او کله چه اُووینې هغه کسان چه ظلم ئې کړیدې عذاب لره نو نهٔ به شي سپك کیدې
عَنْهُمْ وَلَاهُمْ يُنظَرُوْنَ ﴿٨٥﴾ وَإِذَا رَأَى الَّذِيْنَ أَشْرَكُوْا شُرَكَاءَ هُمْ
د دوی نه او نهٔ به دوی ته مهلت ورکیدې شي۔ او کله چه وینی مشرکان خپل معبودان
قَالُوْا رَبَّنَا هٰؤُلَاءِ شُرَكَآؤُنَا الَّذِيْنَ كُنَّا نَدْعُوْ مِنْ دُوْنِكَ
وائي به اې ربه زمونږ ! دا معبودان زمونږ دي هغه کسان چه مونږ به رابلل سوا ستا نه
فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَاذِبُوْنَ ﴿٨٦﴾ وَأَلْقَوْا
نو هغوی به ګوزار کړي دوی ته خبره چه بیشکه تاسو دروغجن يئ۔ او وابه چوی دوی
إِلَى اللهِ يَوْمَئِذِ السَّلَمَ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا
الله ته په دغه ورځ د صلحې خبرې (غاړه کیخودل) او ورك به شي د دوی نه هغه دروغ
كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٨٧﴾ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللهِ
چه دوی به جوړول۔ هغه کسان چه کفرئې کړیدې او منع کوی (خلق) د لارې د الله نه،
زِدْنَاهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوْا يُفْسِدُوْنَ ﴿٨٨﴾
زیات به کړو مونږ دوی لره عذاب دپاسه د عذاب نه په دې وجه چه دوی فسادونه کول۔

تفسیر : اُوس دا بیانوی چه دغه ظالمان څوك دي؟ نو دغه لوی ظالمان مشرکان دي۔
یعنی کله چه مشرکان د جهنم عذاب په خپلو سترګو ووینی نو دوی به ډیر ارمانونه کوی چه څنګه دا عذاب د دوی نه واړولې شي لیکن اوریدل خو لرې خبره ده په هغې کښې به کمې هم نهٔ کیږي او نهٔ به دوی ته د توبې مهلت ورکولې شي۔
وَإِذَا رَأَى الَّذِيْنَ أَشْرَكُوْا: سوال پیدا شو چه مشرکانو خو معبودان نیولی دی هغه به

ئے خلاص کړی ؟ نو جواب کوی۔ یعنی کله چه مشرکان خپل معبودان ووینی کوم چه به دوی په دنیا کښې د الله شریکان جوړول

(او د بخاری او مسلم متفق علیه حدیث دے چه د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ د مشرکانو سره د هغوی بتان هم راژوندی کړی او مشرکانو ته به وئیلے کیږی چه هر شخص دې د خپل معبود پسے روان شی لِيَتَّبِعْ كُلُّ اُمَّةٍ مَا كَانَتْ تَعْبُدُ (بخاری : ٤٥٨١) ومسلم : ٤٧٢)

نو دوی به آوازونه وکړی چه اے زمونږ ربه ! دا هغه معبودان دی چه مونږ به ستا نه سوئ د دوی عبادت کولو۔ او دوی ته به مو آوازونه کول او رامدد شه به مو وئیله۔ او مقصد ئے پدے اقرار کښې دا دے چه مونږ نه ورانے او زیاتے شویدے، مونږ معاف کړه۔

ابو مسلم اصفهانی وائی چه مشرکان به دا خبره پدے امید سره وائی چه کیدے شی پدے طریقه د دوی نه عذاب روستو شی، یا کم نه کم سپك شی۔

فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ : یعنی الله تعالیٰ به د مشرکانو د ذلیله کولو او رسواکولو دپاره په هغه ورځ بتانو ته ژبه ورکړی چه د دوی تکذیب به کوی او وائی به چه مونږ خو تاسو ته نهٔ وو وئیلی چه زمونږ عبادت وکړئ۔ لکه الله تعالیٰ په سورة الاحقاف آیت (٦) کښې فرمایلی دی :﴿ وَإِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوا لَهُمْ أَعْدَاءً وَكَانُوا بِعِبَادَتِهِمْ كَافِرِينَ ○﴾

چه (په کومه ورځ خلق په میدان محشر کښې جمع وی نو بتان به د دوی دشمنان جوړیږی او د دوی د عبادت نه به انکار کوی)۔

وَأَلْقَوْا: یعنی راپیش به کړی او د خبرے گوزار به پرے وکړی۔

إِنَّكُمْ لَكَاذِبُونَ : یعنی تاسو زمونږ عبادت نهٔ دے کړے۔ سوال دا دے چه مشرکانو خو رشتیا وئیلی وو چه مونږ دا معبودان د الله سره شریك کړیدی نو خپل معبودان ورته څنګه وائی چه تاسو دروغجن یئ؟

نو ددے جواب په سورة یونس آیت (٢٨/٢٩) کښې ذکر شویدے ﴿ فَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ إِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغَافِلِينَ﴾ یعنی الله گواه دے چه مونږ ستاسو د عبادت نه غافل وو)

٢- لَكَاذِبُونَ فِي تَسْمِيَتِنَا آلِهَةً وَشُرَكَاءَ اللَّهِ۔

یعنی تاسو پدے کښې دروغجن یئ چه مونږ ته آلهه (معبودان) وایئ، د الله تعالیٰ نه سوئ بل اِله هیڅوك نشی کیدے، د هغه سره شریکان نشی کیدے۔

٣- لَكَاذِبُونَ وَمَا دَعَوْنَاكُمْ إِلَىٰ عِبَادَتِنَا بَلْ عَبَدْتُمْ أَهْوَاءَكُمْ۔

یعنی تاسو دروغجن یئ ځکه چه مونږ تاسو ته د خپل عبادت دعوت نهٔ دے درکړے

بلکه تاسو د خپل خواهش عبادت کړیدے۔

وَأَلْقَوْا إِلَى اللَّهِ يَوْمَئِذٍ السَّلَمَ : یعنی هرکله چه دا مشرکان پرۀ شول، الله تعالیٰ ته هم ملامته او خپلو معبودانو ته هم خړ سترګی شو، نو دے وخت کښ به مشرکان د الله د عذاب مخے ته تسلیمی ګوزار کړی او د عاجزئ او انکسارئ مجسمه به جوړ شی۔ او په دنیا کښ ئے چه کوم د الله شریکان جوړول هغوی ټولو نه به د یو یو نه جدا کیږی۔ لیکن دا بیزاری او عاجزی د قیامت په ورځ په کار نۀ راځی دا په دنیا کښ خوند کوی۔

السلم نه مراد انقیاد او خضوع او تابعداری ده۔

وَضَلَّ عَنْهُمْ : هغه باطل دلیلونه چه دوی به په دنیا کښ بیانول ټول به ترے هیر شی۔ یا ورك به شی د دوی نه شفاعت د معبودانو د دوی، او دغه معبودان به ترے غائب شی۔

الَّذِينَ كَفَرُوا : پدے آیت کښ تخویف اُخروی دے هغه کافرانو ته چه نور خلك ګمراه کوی۔ او مخکښ د عامو مشرکانو حال وو۔ یعنی کوم خلق چه پدے دنیا کښ د کفر لاره اختیاروی او نور خلق هم د حق د لارے نه منع کوی نو الله تعالیٰ به دوی ته د قیامت په ورځ دوه ځله عذاب ورکوی یو خو د دوی د کفر په وجه، او دویم پدے وجه چه دوی د الله بندګان ګمراه کړی وو۔ په سورة الانعام آیت (۲۶) کښ الله تعالیٰ فرمائیلی دی : ﴿ وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْأَوْنَ عَنْهُ ﴾ او دوی دده نه نور خلق هم بندوی او خپله هم د هغه نه وړاندے کیږی)۔

دا آیت دلیل دے چه په جهنم کښ به د کافرانو د عذاب درجات وی لکه څنګه چه په جنت کښ د مؤمنانو درجات او مقامات وی۔

زِدْنَاهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ : ۱- یو په شرك او کفر باندے جهنم او بل په صد عن سبیل الله باندے ماران او لړمانان دی چه د بُختی اُوښانو او قچرو په شان به وی او دوی له به تك ورکوی چه څلویښتو کالو پورے به دغه زهر د دوی په بدن کښ وی او د هغے دردونه به مونده کوی۔ (سعید بن جبیرؒ)

عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : لړمانان به وی په جهنم کښ چه د هغوی به د اُوږدو کجوروونو په شان دارے وی۔

(ابن ابی حاتم، الطبرانی، الحاکم وصححه والبیهقی فی البعث والنشور- الدر المنثور)

وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِمْ
او په کومه ورځ چه راپورته به کړو مونږ په هر امت کښ ګواه (بیان کونکے) په دوی باندے

مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيْدًا عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ ۚ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ

د نفسونو د دوی نه او رابه ولو تا گواه په دوی باندے او نازل کړیدے مونږ په تا باندے

الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴿۸۹﴾

کتاب وضاحت کونکے د هر شی او هدایت او رحمت دے او زیرے دے دپاره د منونکو۔

تفسیر : پدے آیت کښ تخویف اُخروی دے په ذکر کولو د گواهئ د انبیاء علیهم السلام او د حق پرستو علماؤ په هر امت باندے۔ او دا گواهی به په تبلیغ او دعوت د حق باندے وی۔ او مخکښ (۸٤) آیت کښ هم گواهی ذکر شوه ❁ نو یا خو پدے کښ زیات تاکید او د همکی ده چه بندگانو باندے به گواهان پیش کیږی، د دوی په شکر او ناشکرئ باندے او بیا به ورسره حساب کیږی۔ ❁ ځینی وائی : مخکښ گواهی د اندامونو نه وه او دلته عامه ده۔ ❁ یا هلته صرف د انبیاء علیهم السلام گواهی ده په خپلو قومونو او دلته د انبیاء علیهم السلام او حق پرستو علماؤ گواهی ده نو دا ذکر د عام دے پس د خاص نه۔ ددے وجه نه ئے ورسره د رسول الله ﷺ تذکره هم کړیده چه دا به په موجوده امت باندے گواه وی۔

او پدے جمله کښ ئے ورسره (مِنْ اَنْفُسِهِمْ) لفظ زیات کړو پدے کښ زیات تذکیر او عبرت دے امتونو ته چه رسولان چه په امتونو گواهی ورکوی نو امتونه به په هغے باندے هیڅ اعتراض نۀ لری ځکه چه دا رسولان د دوی د قوم خلك وو او د دوی احوال ئے لیدل نو پدے کښ د دوی عذر ختم دے او په دوی باندے حجت پوره شویدے۔ (ابن عاشورؒ وفتح البیان)

او ددے شهادت تذکره په سورة البقره (۱٤۳) او سورة النساء (٤۱) آیت کښ تفصیلًا ذکر شویده هغے ته رجوع کول به ښۀ وی۔

هٰٓؤُلَآءِ : ددے نه مراد موجوده مشرکان دی چه د هغوی په باره کښ دا خبرے اترے روانی دی۔ اگرکه گواهی د رسول الله ﷺ په ټول امت باندے ده، لیکن بحث د هغوی سره شروع دے۔ او رسول الله ﷺ فرمائی : چه زۀ به داسے گواهی ورکوم لکه څنگه چه عیسیٰ علیه السلام وئیلی وو : چه زۀ په دوی باندے گواه وم ترڅو چه زۀ په دوی کښ موجود وم او هرکله چه تا زۀ وفات کړم نو تۀ د هغوی په حال باندے عالِم وے۔

وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ : ربط ددے جملے د مخکښ سره (۱) یو دا دے چه مخکښ د قیامت د ورځے حال بیان شو نو اُوس وائی چه د هغه ورځے د عذابونو نه د

بچ کیدو دپاره ذریعه دا قرآن دے چه څلور صفاته لری. (احسن الکلام).
(۲) ابن عاشورؒ وائی : دا جمله عطف ده په (وَجِئْنَا بِكَ شَهِيْدًا) باندے، او مطلب دا دے چه مونږ تۀ په مشرکانو باندے گواه رالیږلے ئے او دا کتاب مو په تا باندے ددے دپاره نازل کړے چه مسلمانان ددے نه فائده واخلی نو رسول الله ﷺ په مکذبینو باندے گواه دے، او د مؤمنانو دپاره مُرشِد (لار خودونکے) دے.
(۳) یا دا جمله مستأنفه ده، جواب د سؤال دے چه رسول الله ﷺ خو په ټول امت کښ خپله نۀ دے گرځیدلے چه هغوی ته ئے دین بیان کړے وی نو هغه به په نور امت څنگه گواه جوړ شی؟ نو الله فرمائی چه دا قرآن مونږ وضاحت د هر شی دپاره رالیږلے دے نو چا ته چه دا قرآن ورسیدو نو رسول الله ﷺ هغه ته بیان وکړو، نو ځکه به پرے گواهی کوی چه ما دوی ته دین رسولے دے. لکه سورة الانعام آیت (۱۹) کښ ذکر شویدی : ﴿لِأُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ﴾ (زۀ تاسو پدے قرآن یروم او هر هغه څوك هم چه دا قرآن ورته ورسیدو)
(٤) په کافرانو چه گواه پیش شی نو د هغوی به هیڅ حجت او عذر پاتے نۀ شی ځکه چه مونږ په تا باندے قرآن نازل کړیدے چه پدے کښ هره خبره ښکاره بیان شویده.
(الرازیؒ- القاسمیؒ)
(٥) ابن کثیرؒ وائی : مقصد دا دے چه کوم ذات په تا باندے د قرآن کریم تبلیغ فرض کړیدے کوم چه ئے تا ته نازل کړیدے نو هغه به تا نه د قیامت په ورځ ددے په باره کښ تپوس کوی لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿فَلَنَسْـَٔلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ﴾
یعنی خامخا د قومونو نه به تپوس کوو او د پیغمبرانو نه هم.) (اعراف : ٦)
❁ ﴿فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ قسم دے ستا په رب چه خامخا به د دوی ټولو نه د دوی د عملونو په باره کښ پوښتنه کوم).(الحجر :۹۲/۹۳)
حافظ ابن کثیرؒ وائی : دا غوره وجه ده. (تفسیر ابن کثیرؒ)
ابن عاشورؒ وائی چه ددے نه روستو نعمتونه په مؤمنانو باندے شمارلے کیږی چه د هغوی رهنمائی کوی، او د دوی دپاره په طاعت باندے بدلے بیانوی او ددے کتاب برکات بیانوی. (التحریر)
تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ : تبیان د مصدر صیغه ده. یعنی زیات بیانونکے. زیادت د حروفو دلالت کوی په زیادت د معنیٰ.

قرآن څنګه تبیان د هر شی دے؟

نو دے کښې دوه تفسیره دی : ١- كُلَّ شَيْءٍ مِنْ اُمُوْرِ الضَّرُوْرَةِ الَّتِيْ يَحْتَاجُهَا الْمُكَلَّفُ) يعنى مكلف بنده چه څه ته محتاج دے هغه ټول ضروری امور پکښې ذکر دی، لکه ایمان، عمل، حلال او حرام او نکاح او طلاق ته. او دا عموم دے چه مراد ترے خصوص وی او د کل نه مراد کل عرفی ده. لکه ﴿وَاُوْتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ﴾ - (بغویؒ)

٢- دويم كه يواځے د مُكلف اُمور ترے وانخلے او عموم پکښې واخستے شی لکه څنګه چه د سورة الانعام په آیت (٣٨) کښې دی : ﴿مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ﴾ مونږ پدے کتاب کښې هیڅ شی په باره کښې کوتاهی نۀ ده کړے).

او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : [اُنْزِلَ فِيْ هٰذَا الْقُرْآنِ كُلُّ عِلْمٍ وَكُلُّ شَيْءٍ بُيِّنَ لَنَا فِي الْقُرْآنِ ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ] (الطبری). په قرآن کریم کښې هر علم او هر شے بیان شویدے.

د هغۀ په یو بل روایت کښې دی : [قَالَ: تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ وَلٰكِنْ عِلْمُنَا يَقْصُرُ عَمَّا بُيِّنَ لَنَا فِي الْقُرْآنِ] - په قرآن کریم کښې بیان د هر شی دے لیکن زمونږ علم کوتاه دے د هغه څیز نه چه په قرآن کښې مونږ ته بیان شویدی).

نو که عموم واخستے شی بیا هم صحیح ده او هغه په دوه طریقو یو اجمالًا طریقے سره (١) لکه یو د خالق او مخلوق ذکر پکښې موجود دے، آسمان او زمکه، دنیا او آخرت، جنت او جهنم، سړے او ښځه، حیوان او جماد، نیکی او بدی، ایمان او کفر او داسے نور واخله نو عالَم کښې چه څه دی د هغے ټولو ذکر پکښې شته.

او په هغے کښې به بیا د څه نه عبرت اخستل دی او څه نه خوند اخستل دی، او څه خوړل او څه ځکل دی. او په څه باندے عمل کول دی او څه نه ځان ساتل دی.

(٢) دويم : قرآن کریم کښې هر شے بیان شویدے خو په بیان د رسول الله ﷺ لکه امام اوزاعیؒ فرمائی : ﴿تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ﴾ اَيْ بِالسُّنَّةِ. (ابن ابی حاتمؒ وابن کثیرؒ) یعنی په قرآن کښې په سنت سره بیان د هر شی شویدے. نو دا جواب دے منکرینو د حدیثو ته چه هغوی وائی احادیثو ته ضرورت نشته ځکه چه قرآن کښې د هر شی بیان موجود دے.

جواب دا دے چه قرآن بیان د هر شی کړیدے خو چه د رسول الله ﷺ بیان او تشریح ورسره واخلے. لکه (لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ) کښې ذکر شو. لکه ددے مثال داسے دے چه قرآن کښې د مانځه حکم شته خو امی سړے پرے نۀ پو هیږی نو عالم به ئے ورته بیان کړی

نو هغه دپاره قرآن بیانونکے شو خو په بیان د عالِم سره او بیا علماء د قرآن نه احکام نشی راوستے مگر په بیان د رسول الله ﷺ نو ددے وجه نه د رسول الله ﷺ عام احادیث د قرآن کریم نه ماخوذ دی۔

امام شافعیؒ فرمائی : [وَمَا حَكَمَ بِهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَهُوَ مِمَّا فَهِمَهٗ مِنَ الْقُرْآنِ] رسول الله ﷺ چه کومے فیصلے کریدی او کوم حکمونه ئے امت ته بیان کریدی نو دائے د قرآن کریم نه فهم کریدی)۔ نو قرآن بیان کونکے د هر شی دے څکه چه پدے کښ ډیر احکام خپله بیان شویدی او په باقی احکامو کښ ئے حواله په سنت د رسول الله ﷺ باندے ورکړیده او د رسول الله ﷺ په اتباع باندے ئے حکم کړیدے په هغه احکامو کښ چه رسول الله ﷺ امت ته راوړیدی لکه په نورو قرآنی آیتونو کښ راغلی دی۔

او د رسول الله ﷺ نه په صحیح حدیث کښ ثابت دی چه [أَلَا إِنِّيْ أُوْتِيْتُ الْقُرْآنَ وَمِثْلَهٗ مَعَهٗ] ما ته قرآن کریم او ددے سره ددے په شان بل شے راکړے شویدے (یعنی احادیثِ نبویه)
(مسند احمد : ١٧٣١٣/ ٤/ ١٣٠) وابوداود (٤٦٠٤) والترمذی (٢٦٦٤) وسنده صحیح)

او ابن عاشورؒ لیکی : (کُلِّ شَیْءٍ) کښ عموم عرفی دے چه عرف کښ دینونه او شریعتونه د کوم مقاصدو دپاره راځی، هغه ټول په قرآن کریم کښ موجود دی چه اصلاح د نفوسو، تکمیل د اخلاقو، او مجتمع مدنی (سوسائټی) برابرول، حقوق بیانول، د الله په وحدانیت باندے دلیلونه پیش کول، د رسول الله ﷺ رشتینوالے بیانول، او ددے په مینځ کښ چه کوم حقائق علمیه او دقائق کونیه راځی، د امتونو حالات، د هغوی د کامیابئ او ناکامئ اسباب، د هغوی د آثارو نه په تاریخی شواهدو سره نصیحت اخستل، او د دوی په مینځ کښ چه د دوی کوم قوانین او حضارات او صنائع دی۔

او پدے ټولو کښ اسرار او نکتے دی چه هغه اصول د علومو او معارفو دی چه هغه ددے قابل دی چه که په هغے کښ تفصیل وکړے شی نو د هر شی دپاره بیان گرځی په طریقه د عموم حقیقی سره، او بیا چه په هغے کښ د رسول الله ﷺ د تشریح نه رڼړا واخستے شی، او د هغه نه روستو د هغهٔ په تابعدارئ کښ د صحابه کرامو او د هغهٔ د امت علماؤ نه۔

بیا پدے کښ هغه څیزونه ذکر دی چه ترغیب او ترهیب ته راواپس کیږی یعنی فرمانبردارو له الله تعالیٰ څه تیار کړیدی او نافرمانو او اعراض کونکو له ئے څه، او عالم الغیب او د آخرت زندگی ئے بیان کړیده نو پدے ټولو کښ د هر شی بیان دے نو خبره د عموم عرفی نه عموم حقیقی ته نقل کړیدی په طریقه ضمنی او لوازمو سره۔ او دا ډیر

بدیع اعجاز دے۔ (التحریر والتنویر ۲۰٤/۱۳)

وَهُدًى وَّرَحْمَةً وَبُشْرٰى : دا درے څیزونه ئے خاص ذکر کړل ځکه چه دا ډیر اَهم دی، په هدایت کښې اشاره ده د عقیدو برابرولو، او ذهنو سازولو ته، او د ګمراهئ نه خلاصولو ته۔ او په رحمة کښې سعادت د دنیا او د آخرت ته۔ او بشرئ کښې اشاره ده هغه بنائسته وعدے ته چه دنیا او آخرت پرے بنۀ کیږی۔ (ابن عاشورؒ)

یا درے واړه خاص دی د مؤمنانو پورے ځکه چه د قرآن نه فائده اخستونکی همدوی دی۔ (فتح البیان)

لِلْمُسْلِمِيْنَ : اسلام ئے ذکر کړو اشاره ده چه دا احکام او دا نعمتونه د منلو دپاره راغلی دی چه بنده دے ته غاړه کیږدی۔ او سورة البقره کښې ئے (وَبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ) وئیلے او دلته مسلمین۔ وجه دا ده چه هلته موضوع د ایمان ده او دلته انعامات ذکر دی او د انعام په مقابله کښې انقیاد ذکر کیږی چه دا د اسلام معنیٰ ده۔ لکه تفصیل ئے ابتداء د سورت کښې وشو۔

إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيْتَاءِ
یقیناً الله تعالیٰ حکم کوی په انصاف سره او په احسان کولو سره او په ورکولو (د حقونو)
ذِي الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ
خپلوانو ته او منع کوی د بے حیایئ نه او د ناروا کارونو نه او د ظلم نه،
يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۹۰﴾
نصیحت کوی تاسو ته دے دپاره چه تاسو نصیحت واخلئ۔

تفسیر : مخکښې آیت کښې ووئیل شو چه الله تعالیٰ قرآن کریم نازل کړے چه پدے کښې هره خبره ښکاره بیان شویده نو اُوس خلاصه د دغه (کُلِّ شَيْءٍ) راوړی، یعنی پدے کښې د اسلام مطابق د ژوند تیرولو دپاره هر ضروری او بنیادی خبره بیان شویده۔ یو آیت دے خو عام دین ئے راګیر کړیدے۔

او ربط ئے د مخکښې (وَمَنْ يَّأْمُرُ بِالْعَدْلِ) سره دے چه امر په عدل باندے الله تعالیٰ کوی۔ نو دا د هغے بیان دے۔ او دا مقدمه ده د یوے خبرے او قانون دپاره چه روستو ذکر کیږی۔

د آیت فضائل

عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی : [اَجۡمَعُ آیَةٍ فِی الۡقُرۡآنِ لِمَکَارِمِ الۡاَخۡلَاقِ (وَفِیۡ رِوَایَةٍ : لِلۡخَیۡرِ وَالشَّرِّ)] دا آیت په قرآن کریم کښې ډیر جامع آیت دے چه نیك اخلاق- یا خیر او شرئے راجمع کړیدي)۔ او همدا خبره د عبد الله بن مسعود ﷺ نه حاکمؒ په مستدرك رقم (۳۳۵۸) کښې نقل کړیده باسناد صحیح۔

❁ پدے وجه عمر بن عبد العزیزؒ به خپلو والیانو ته ویل چه تاسو د جمعے په خطبه کښې دا آیت وایئ دے دپاره چه خلکو ته د ټول دین دعوت په یو ځل کیږي۔

❁ عکرمهؒ وائی : نبی کریم ﷺ دا آیت په ولید بن مغیره باندے ولوستو نو هغه وویل : [یَا ابۡنَ اَخِیۡ اَعِدۡ عَلَیَّ] اے ورارہ ! دا ما ته دوباره ولوله۔ نو نبی کریم ﷺ بیا ولوستلو، نو ولید وویل : [اِنَّ لَهٗ لَحَلَاوَةً وَاِنَّ عَلَیۡهِ لَطَلَاوَةً وَاِنَّ اَعۡلَاهُ لَمُثۡمِرٌ، وَاِنَّ اَسۡفَلَهٗ لَمُغۡدِقٌ، وَمَا هُوَ بِقَوۡلِ الۡبَشَرِ] ۔ (البیهقی فی الشعب والحاکم فی المستدرك وصححه ووافقه الذهبی وقال الالبانی فی صحیح السیرة النبویة ص (۱۵۷) وهو کما قالا)۔

دا خو ډیر خوندور کتاب دے او پدے باندے خو چمك دے او ددے په ظاهر کښې هم میوه ده، او ددے په جرړو کښې (معنیٰ کښې ئے) کُچ پراته دی (یعنی لفظ او معنیٰ دواړو کښې ئے کمال دے) او دا خو د انسان خبره نهٔ ده۔ (لیکن بیا ئے هم ایمان رانهٔ وړو)

❁ عبد الملك بن عمیرؒ وائی : هرکله چه دا آیت اکثم بن صیفی چه دا د عربو حکیم وو ورسیدو نو هغه وویل : [اِنِّیۡ اَرَاهُ یَاۡمُرُ بِمَکَارِمِ الۡاَخۡلَاقِ وَیَنۡهٰی عَنۡ مَلَائِمِهَا] ۔ زهٔ محمد وینم چه په نیکو اخلاقو حکم کوی او د بدو اخلاقو نه منع کوی۔ بیائے خپل قوم ته وویل : [کُوۡنُوۡا فِیۡ هٰذَا الۡاَمۡرِ رُؤُسَاءَ وَلَا تَکُوۡنُوۡا اَذۡنَابًا وَکُوۡنُوۡا فِیۡهِ اَوَّلًا وَلَا تَکُوۡنُوۡا آخِرًا]۔

تاسو پدے دین منلو کښې مشران شئ او لکئ مهٔ جوړیږئ او دے ته مخکښې والے وکړئ او روستو مهٔ پاتے کیږئ۔ (معرفة الصحابة لابی نعیمؒ وابن السکنؒ) (الدر المنثور وفتح البیان)۔

❁ او ددے آیت په وجه عثمان بن مظعون ﷺ ایمان راوړیدے۔ فرمائی : کله چه دا آیت نازلیدو نو زهٔ د رسول الله ﷺ خوا ته ناست وم، هغه ما ته ولوستلو نو زما په زړه کښې ایمان مضبوط کیناستو او د رسول الله ﷺ سره مے محبت پیدا شو۔ (احمد رقم (۲۹۲) والبخاری فی الادب المفرد (وابن ابی حاتم والطبرانی وفی اسناده شهر بن حوشب ضعیف)

پدے آیت کښې الله تعالیٰ درے اوامر او درے نواهی ذکر کړیدی، ډیر جامع آیت دے۔

قتادةؒ وائي چه د جاهليت د دور په خلقو كښ چه د ښو اخلاقو كومه خبره هم موجود وه، د هغې الله تعالىٰ پدې آيت كښ حكم وركړيدے، او د بدو اخلاقو چه د كومو خبرو به ئې يو بل ته شرم او پيغور وركولو د هغه تولو نه ئې پدې كښ منع كړيده، او الله تعالىٰ د هر رذيل او بد اخلاقو نه منع كړيده۔

د عدل مصداقات

١ – اَلتَّوْحِيْد۔ لكه دا په آل عمران (قَائِمًا بِالْقِسْطِ) آيت (١٨) كښ ذكر شويدى۔

٢ – اَلْاِنْصَاف۔ د خلكو سره انصاف كول۔ (په چا ظلم ونكړے شي) او انصاف په خبرو كښ هم وى او په زوجاتو، اولادو او رعيت ترمينځ او په هر شي كښ لازم دے۔

علامه شوكانيؒ وائي د تولو نه ددے همدا لغوى معنىٰ غوره ده، يعنى د افراط او تفريط په مابين كښ لاره۔ يعنى په دينى كارونو كښ نۀ غلو كول پكار دى او نۀ كمے كول۔

٣ – سفيان بن عُيينةؒ وائي : (اِسْتِوَاءُ السَّرِيْرَةِ مَعَ الْعَلَانِيَةِ) ښكاره او پټ دواړه حالتونه برابرول۔ داسے نۀ چه د خلكو مخامخ ښه وى او په پټه گناهونه كوى۔ دا هم عدل نۀ دے۔

د احسان مصداقات

١ – د احسان د تولو نه غوره ددے لغوى معنىٰ ده، يعنى هغه عمل صالح چه واجب نۀ وى لكه نفلي صدقه او عبادت چه په بندگانو باندے واجب نۀ دى۔

٢ – اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ ۔ د الله سره احسان دا دے چه تۀ د الله تعالىٰ داسے بندگى وكړے لكه چه تۀ الله ته گورے۔ دا ئې شرعي معنىٰ ده۔

٣ – العفو۔ (معافي كول)۔ ٤ – وركړه كول۔ كه دينى وى او كه دنيوى څه شے وى۔ چا ته دين خودل، د چا خدمت كول، مدد كول۔

٥ – اَنْ تَكُوْنَ السَّرِيْرَةُ اَفْضَلَ مِنَ الْعَلَانِيَةِ۔ د انسان پټ حالت د ښكاره حالت نه ډير ښه وى۔

وَإِيْتَاءِ ذِى الْقُرْبٰى : يعنى خپلوانو سره د هغوى د ضروورياتو مطابق احسان كول ځكه چه د صله رحمئ همدا تقاضا ده۔ حديث كښ دى : (بُلُّوا اَرْحَامَكُمْ وَلَوْ بِالسَّلَامِ)۔

صله رحمى وپالئ اگركه په سلام كولو سره وى۔

(صحيح ابن حبان، حسن لشواهده، الصحيحة (١٧٧٧) وصحيح الجامع (٢٨٣٨)

وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ : (بى حيائى او لوى گناهونه) فحشاء ئې د نورو مقابله كښ ځكه راوړه چه دا د تولو گناهونو نه زياته ده۔ د فحشاء نه مراد هره ډيره قبيح وينا او ډير قبيح كار

دے۔ یا د فحشاء نه مراد زنا / یا بخل دے۔
وَالْمُنْكَرِ : كُلُّ مَا خَالَفَ الشَّرْعَ۔ هر هغه شے چه د شریعت خلاف وی۔ فحشاء او منکر په حقوق الله کښې راځی۔
وَالْبَغْيِ : (خلکو باندے ظلم او زیاتے کول) دا په حقوق العباد کښې دی۔ اګرکه بغی په منکر کښې داخل ده۔ او د بغی نه مراد کبر هم دے۔
يَعِظُكُمْ : یعنی پدے خبرو الله تعالیٰ تاسو ته نصیحت کوی دے دپاره چه خبره رایاده کړئ او نصیحت واخلئ ځکه چه دا پوره نصیحتونه دی۔

وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللهِ إِذَا عَاهَدْتُمْ وَلَا تَنْقُضُوا الْأَيْمَانَ بَعْدَ
او پوره کوئ لوظ د الله تعالیٰ کله چه لوظ کړیدے تاسو او مهٔ ماتوئ قسمونه روستو
تَوْكِيدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلًا
د مضبوطوالی د هغے نه او یقیناً ګرځولے دے تاسو الله تعالیٰ په خپل ځان ذمه وار
إِنَّ اللهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٩١﴾ وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ
یقیناً الله پوهیږی په هغے چه کوئ تاسو۔ او مهٔ کیږئ په شان د هغے زنانه چه سپړدلے ئے
غَزْلَهَا مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ أَنْكَاثًا ط تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ
سپنړسی خپل روستو د مضبوطوالی نه ټکړے ټکړے، نیسئ تاسو قسمونه خپل
دَخَلًا بَيْنَكُمْ أَنْ تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ
بیکاره په مینځ خپل کښې ددے وجه نه چه ده یوه ډله ډیره د بلے ډلے نه
إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ اللهُ بِهِ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ
یقیناً امتحان کوی په تاسو الله تعالیٰ پدے سره، او خامخا بیان به کړی تاسو ته
يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾
په ورځ د قیامت هغه څه چه تاسو په کښې اختلاف کوئ۔

تفسیر : دا هم مقدمه ده د یو حالت دپاره۔ پدے آیتونو باندے د بنهٔ پوهیدو دپاره د سیرت دا حالت یاد کړه۔ د عربو عادت دا وو چه په هغوی کښې مختلف قومونه وو، هغوی

به عقدِ حلف کولو، کله به یو قوم کمزورے شو نو یو تن به لاړو هغه به د بل قوم سره لوظ وکړو چه زهٔ به ستاسو ملګرے یم، نو هغوی به ورله حفاظت هم کولو او ددهٔ هرڅه به د هغوی وو۔ کله چه به هغه قوم کمزورے شو او بل قوم به ورته قوی ښکاره شو نو د هغه قوم سره به ئے وعده ماته کړه او بل قوم ته به لاړو، د یوے ډلے نه به بلے ډلے ته د خپلو مفادو د خاطره اوړیدو (لکه پدے زمانه کښ هم د ووټونو د خاطره کله د یو سره ملګرتیا اعلانوی او کله د بل سره) او دا د اسلام په لحاظ غلط کار دے او وعده خلافی ده۔

دا خبره خو صرف وعده خلافی وه، مګر دلته بعض کسانو ایمان راوړو د نبی کریم ﷺ ملګری شو نو وے کتل چه د قریشو ډله غټه وه، مالداره او مخوریز خلك په هغوی کښ وو، او دے خوا غریبانان (بلال، صهیب او عمار رضی الله عنهم) دی، نو دوی ته د جاهلیت رواج رایاد شو نو هغوی ته به واوړیدل او د رسول الله ﷺ ملګرتیا به ئے پریخودله (لکه ډیر خلك په مکه کښ پدے طریقه مرتد شوی وو) پدے وجه پدے آیتونو کښ په ارتداد باندے هم رد کیږی، چه دا کار مهٔ کوئ ګنے غرق او تباه به شئ او په هجرت باندے ځان مجبوره کړه مګر د ارتداد نه ځان وساته۔ نو ځکه ورته الله تعالیٰ پدے مخکنو آیتونو کښ مقدمه کیخوسته چه د عدل او احسان نه کار واخله او فحشاء او منکراتو او بغی نه ځان وساته او د وعدے پابند شه (چه کلمه دِے ووئیله د الله سره دِے وعده وکړه نو دا څنګه ماتوے)

او د چا ډیروالی ته مهٔ ګوره دا امتحان دے، او دا د هرے زمانے سره لګیږی۔

او روستو ترغیب ورکوی چه په ایمان او عمل صالح کښ حیاة طیبه (مزیدار ژوند) دے۔ قرآن سره تعلق وساته او په قرآن باندے د خلکو د اعتراض جواب به ذکر کوی، بیا مسئله د اکراه او هجرت او تخویف د آخرت او بیا مثال د مکے والو ذکر کوی او په آخره کښ د شرك فعلی رد دے۔

وَاَوۡفُوۡا بِعَهۡدِ اللّٰهِ : نو پدے آیتِ کریمه کښ الله تعالیٰ د لوظ پوره کولو او قسمونو نهٔ ماتولو نصیحت کړیدے۔ بعض خلقو ددے لوظ نه د اسلام د قبلولو دپاره د نبی کریم ﷺ په لاس باندے کړے شوے بیعت مراد کړیدے، لیکن د عهد اضافت الله طرف ته کیدو نه معلومیږی چه ددے نه مراد هر هغه لوظ دے چه انسان ئے د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول او د نورو انسانانو سره کوی، او د الله تعالیٰ په نوم چه کوم قَسم وکړے شی نو د هغے ماتول ممنوع دی۔ البته په کومو قَسمونو کښ چه تاکید پیدا شوے وی، د هغے ماتول زیاته

لويه گناه وي. ليکن د صحيح احاديثو نه معلوميږي چه که قَسم کولو نه روستو انسان ته پته ولگي چه پدے باندے مضبوط پاتے کيدل په ديني اعتبار سره غوره نهٔ دي نو بيا به قَسم مات کړي او هغه کار به وکړي کوم چه غوره وي، او د قسم کفاره به ادا کړي.

د صحيحينو روايت دے چه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي :

((قَسم په الله ! که الله غواړي نو زهٔ چه هر يو قسم وکړم او بيا د هغے په ځائے بله خبره غوره اُوګنړم نو زهٔ غوره کار کوم او د خپل قسم کفاره ورکوم)). (بخاري : ۳۱۳۳) مسلم (۴۳۵۲)

وَلَا تَنقُضُوا الْأَيْمَانَ : د عربو عادت دا وو چه په لوظ کښ به ئے قسم هم کولو.

بَعْدَ تَوْكِيدِهَا : د قسم مضبوطوالے دا دے چه ډير اسماء او صفات د الله تعالیٰ پکښ ذکر کړي. يا په يو شي باندے بار بار قسم کولو ته وئيلے شي.

عبد الله بن عمر ﷺ فرمائي : مضبوط قسم دا دے چه دوه کرته قسم وکړي که يو ځل ئے وکړي نو په هغه باندے کفاره نشته. (يعني يو کرت به د هغوی عادتي قسم وو خو چه کله به ئے دوه کرته وکړو نو دا به مضبوط قسم وو) (قرطبيؒ)

وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللَّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلًا : هغوی به د قسم په وخت کښ الله تعالیٰ ذمه وار ګرځولو نو هغه حالت ورته دلته يادوي. د کفيل نه مراد ګواه دے. يا نګهبان. يا ضامن (ذمه وار) دے.

وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي : پدے آيت کښ تشبيه ورکوي د هغه انسان چه د ايمان نه اوړي او د الله سره د کړي لوظ نه اَوړي او د کافرو ملګرے کيږي د يوے کم عقلے زنانه سره.

ربط

ددے آيت تعلق د تير شوی آيت سره دے. يعني د الله په نوم باندے کړے شوے وعدے پوره کړئ، او خپل قَسمونه مهٔ ماتوئ، ځکه که تاسو داسے وکړل نو ستاسو مثال به د هغه کم عقلے او ليونئ ښځے په شان شي چه مضبوط او کلک تارونه جوړوي او بيا هغه سپړي او ټکړے ټکړے کوی ئے. بعض اهل علم وائي چه په مکه کښ رِيطَه بنت عَمرو نومے يوه ښځه وه چه هغے به داسے کول، مالداره او کم عقله وه، نو هغے به خپلو غلامانو ته وويل چه د وړئ نه څرخه کښ (سوتلئ، سپنړسی) جوړ کړئ، او د ماسپښين نه روستو به ئے ورته حکم وکړو چه دا بيرته وسپړئ. هره ورځ به ئے پرے دا کار کولو. نو خپله خواري به ئے ضائع کړه. (هيڅ فائده به ئے ترے وانخسته) او په سيند به ئے لاهو کړه. نو تا

چه ایمان راوړو او دین کښې داخل شوے خواری دِے وکړه نو اُوس په ارتداد سره هغه خواری په سیند مهٔ لاهو کوه۔

نو پدے مثال کښې دے طرف ته اشاره ده چه عقل او هوش والا انسان خپل قسمونه نهٔ ماتوی او کوم خلق چه داسے کوی هغه به د اَحمقو او ناپوهه ښځو په ډله کښې داخلیږی۔

یو انسان پنځوس کاله کلمه وئیلی وی او عبادتونه ئے کړی وی بیا کافر راشی او د کافرو سره ملګرے شی د دنیا د یو څو روپو دپاره، خپله ټوله خواری سیند ته ګوزار کړی دا څومره لویه بی عقلی او تاوان دے۔

ځینی مفسرین وائی چه دا مثال دے اګرکه دغه زنانه دِے په واقع کښې موجوده نهٔ وی۔

نَقَضَتْ غَزْلَهَا : غزل اُودلے شوی تارونه دی او نقض د هغے سپړدلو ته وئیلے شی۔

أَنْكَاثًا : جمع د نِکث ده، مات رامات، ټکړے ټکړے، انکاث هغه شی ته وئیلے شی چه د هغے اُودل مات کړی دے دپاره چه دوباره ئے جوړ کړی۔ نو انکاث په معنی د منکوث (سپړدل شوی) سره دے۔ او دا (اَنْكَاثًا) د (نَقَضَتْ) دپاره مفعول مطلق دے من غیر لفظهٖ۔

یعنی ماتولو به ئے ټوټے ټوټے۔

تَتَّخِذُوْنَ أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا : اَیْ خَدِیْعَةً وَّفَسَادًا وَّخِیَانَةً۔ یعنی دهوکه، فساد او خیانت۔ نو پدے سره ایمان والا ددے خبرے نه منع کوی چه دوی خپل قَسمونه د دهوکے او په زمکه کښې د فساد خورولو ذریعه جوړه کړی۔

تَتَّخِذُوْنَ: پدے کښې همزه د اِستفهام د زجر دپاره پټه ده۔

أَنْ تَكُوْنَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبٰى مِنْ أُمَّةٍ : تکون فعل تام دے، یعنی موجوده ده۔ د امة نه مراد امت د مشرکانو دے او اَرْبٰی نه مراد (اَكْثَر) ده او بل امة نه مراد مؤمنان دی، یعنی تاسو پدے وجه خپل قسمونه ماتوئ او دهوکه کوئ او پدے طریقے سره فساد خورئ چه د مشرکانو ډله درته د مؤمنانو د ډلے نه زیاته ښکاره شویده، داسے حالات الله تعالیٰ ددے دپاره راولی چه په تاسو امتحان کوی۔ روستو زمانه کښې به دجال راشی، هغه به د عامے دنیا بادشاه وی او د هغه ډله به په ظاهره کښې ډیره او زوره وره وی او مؤمنان به کمزوری وی نو آیا تهٔ به د دجال ملګرتیا کوے۔ (او پدے امتحان کښې په هره زمانه کښې خلك اخته کیږی او ډیرِ برائے نام مسلمانان د کفارو سره ملګرتیا کوی)

دَخَلًا : ابوعبیدهؒ وائی : هر هغه کار چه صحیح نهٔ وی هغے ته دخل وائی۔

ځینی وائی : دخل هغه شے دے چه په بل شی کښې ددے دپاره راداخل شی چه هغه فاسد

کړي۔ او دے کار ته ئے فساد ځکه ووئیلو چه ددے په ذریعه نور مؤمنان کمزوري کیږي او د خلکو په زړونو کښ وسوسے پیدا کیږي۔

يَبْلُوكُمُ اللّٰهُ بِهٖ: (بـه) ضمیر راجع دے د یوے ډلے ډیرولو او د بلے ډلے کمولو ته۔ نو که الله تعالیٰ مؤمنان ډیر کړي وے، بیا به د دوی سره ډیر خلك بغیر د بصیرت نه ملګري کیدلے او الله تعالیٰ د بصیرت والا ایمان قبلوی۔ دارنګه داسے حالاتو پیدا کولو سره الله تعالیٰ په تاسو ازمینښت کول غواړي چه تاسو په خپل لوظ باندے باقي پاتے کیږئ او که دنیا ته په آخرت باندے ترجیح ورکولو سره لوظ ماتوئ۔

وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: یعنی الله تعالیٰ به حق او حق پرست ښکاره کړي او د هغوی درجات به پورته کړي او باطل او باطل پرست به ښکاره کړي نو خپل عذاب ته به ئے ورسوی۔ نو پدے کښ یره ده چه د حق مخالفت ونکړئ او باطل طرفته مائله نشئ۔

(فتح البیان)۔

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ يُّضِلُّ مَنْ
او که غوختلے الله تعالیٰ خامخا ګرځولی به ئے وے تاسو یوه ډله لیکن ګمراه کوی چا له
يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ وَلَتُسْأَلُنَّ
چه وغواړي او هدایت کوی چا له چه وغواړي او خامخا تپوس به کیدے شی تاسو نه
عَمَّا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾ وَلَا تَتَّخِذُوْا أَيْمَانَكُمْ
د هغے عملونو چه تاسو ئے کوئ۔ او مهٔ ګرځوئ قسمونه خپل بیکاره په مینځ خپل کښ
دَخَلًا بَيْنَكُمْ فَتَزِلَّ قَدَمٌ بَعْدَ ثُبُوْتِهَا وَتَذُوْقُوا
نو ویه خوئیږي خپه ستاسو روستو د مضبوطوالی د هغے نه او ویه څکئ
السُّوْٓءَ بِمَا صَدَدْتُّمْ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٩٤﴾
عذاب پدے وجه چه تاسو خلق واړول د لارے د الله نه او تاسو دپاره عذاب لوئی دے۔

تفسیر: پدے آیت کښ د امتحان فائده بیانوی چه که الله تعالیٰ غوختلے نو مؤمن او کافر ټول خلق به ئے په دین باندے جمع کړي وے لیکن د هغهٔ د حکمت تقاضا دا وه چه خوك د حق تالاش کوی او د هغے په قبلولو کښ خومره مینه کوی هغه ته هدایت کوی او

څوك چه ګمراه کیدل خوښوی او په ګمراهۍ باندے همیشه پاتے کیږی هغه پ ګمراهۍ کښې پریدی۔ او په دنیا کښې انسان چه څه کوی ددے په باره کښې به ددهٔ نه د قیامت په ورځ ضرور تپوس کیږی۔ او ددے تپوس نه به مقصد رټنه او زورنه وی، نهٔ استفسار او معلومات کول۔ ځکه چه الله تعالیٰ خو په هرڅه پوهه دے، د هغه نه هیڅ پټ نهٔ دی۔

وَلَا تَتَّخِذُوٓا أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلًا : مخکښې په ضمنی توګه د قسم د ماتولو نه منع شوے وه، نو دلته د هغے نه په ښکاره توګه سره منع کوی چه مسلمانانو دپاره دا جائز نهٔ دی چه د الله په نوم قَسم پدے وجه کوی چه چا ته دهوکه ورکړی او یو دنیاوی مقصد حاصل کړی، ځکه چه دا په حق او رشتینوالی باندے د ثابت قدمۍ خلاف دی۔

او څوك چه داسے کوی هغوی ته به د الله تعالیٰ د طرف نه په دنیا کښې ددے بد انجام رسیږی ځکه داسے کولو سره اسلامی دعوت ته نقصان رسی، او کومو خلقو سره چه داسے معامله کیږی هغوی به د مسلمانانو بے لوظۍ او بے وفائی کتو سره د اسلام نه اوړی۔ او نور خلق به هم د هغوی تابعداری کوی او اسلام به نهٔ قبلوی۔

داسے خلقو ته الله تعالیٰ په آخرت کښې هم د لوئی عذاب دهمکی ورکړیده۔

أَيۡمَٰنَكُمۡ : او دا قسمونه په بیع شراء او په مالی حقوقو کښې تولو ته شاملیږی۔

دَخَلًا: یعنی برباد او ضائع۔

فَتَزِلَّ قَدَمُۢ بَعۡدَ ثُبُوتِهَا : ۱- د قدم نه مراد قدم د ناقض (یعنی ماتونکی) دے یعنی ستا قسم به وخوئیږی پس د هغے نه چه مضبوط شوے وے، یعنی اے انسانه! ته چه نن د الله یو حکم ماتوے او صبا له بل نو بله ورځ به دِے قدم وخوئیږی او کافر به شے، نو د کافرو لړ لړ ملګرتوب سره انسان پوره کافر کیږی۔ (وَلَا تَرۡكَنُوٓا إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ)

۲- یا قدم نه مراد قَدَمُ الۡاَتۡبَاعِ دے۔ یعنی ستا د تابعدارو قدمونه به وخوئیږی، هغوی به وائی چه زمونږ مشر لاړو نو مونږ هم وریسے ورځو۔ ځکه چه مشر کله خراب شی نو ډیر تابعدار ورسره خرابیږی والعیاذ بالله۔ لکه دا خبره په مشاهده او تجربه کښې راغلے ده۔

قدم ئے مفرد راوړو پدے کښې اشاره ده چه د یو قدم خوئیدلو کښې دومره ډیر شر دے نو په ډیرو قدمونو کښې به خامخا زیات شر وی۔ او قدم خوئیدل کنایه ده د د خیر د حال نه د شر حال ته نقل کیدو نه۔ او دارنګه په یو کار کښې د خطاء کیدو نه۔

وَتَذُوقُوا ٱلسُّوٓءَ : یعنی بد عذاب به وڅکۍ په دنیا او آخرت کښې پدے وجه چه تاسو ډیر خلك د الله تعالیٰ د لارے (اسلام) نه واړول یا تاسو خپله واوړیدئ۔ دارنګه یو تن د

سنت طريقو نه بدعاتو ته نقل شي د هغه به هم دا حال وي۔

وَلَا تَشْتَرُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا إِنَّمَا عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرٌ

او مهٔ اخلئ په لوظ د الله باندے قيمت لږ يقيناً هغه شے چه د الله سره دے هغه ډير غوره دے

لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٩٥﴾ مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ

تاسو لره که تاسو پوهيږئ۔ هغه څه چه تاسو سره دي ختميږي او هغه څه چه د الله سره دي

بَاقٍ وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِيْنَ صَبَرُوْا أَجْرَهُمْ

باقي دي، او خامخا بدله به ورکړو هغه کسانو ته چه صبر ئے کړيدے اجر د هغوی

بِأَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٦﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ

په بدله د ښائسته هغه عملونو چه دوی کول۔ چا چه عمل وکړو نيك نارينه وی

أَوْ أُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيَاةً طَيِّبَةً

او که زنانه او هغه مؤمن وی نو خامخا ژوند به ورکړو دهٔ ته ژوند مزيدار

وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٧﴾

او خامخا بدله به ورکړو دوی ته د اجر د دوی په ښائسته هغه عملونو چه دوی کول۔

فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ ﴿٩٨﴾

نو کله چه تهٔ لولے قرآن نو پناهي وغواړه په الله د شيطان رټلے شوی نه۔

إِنَّهٗ لَيْسَ لَهٗ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَلٰى

يقيناً نشته دهٔ لره قدرت (په گمراه کولو) په هغه کسانو چه ايمان ئے راوړيدے او په

رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٩٩﴾ إِنَّمَا سُلْطَانُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ

رب خپل ځانونه سپاري۔ يقيناً زور ددهٔ (چليږي) په هغه کسانو باندے

يَتَوَلَّوْنَهٗ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِهٖ مُشْرِكُوْنَ ﴿١٠٠﴾

چه دوستي کوي د هغه سره او هغه کسان چه دوی په سبب د شيطان مشرکان دي۔

تفسير : پدے آيت كښې د ارتداد او كفارو ته د اَوريدو وجه بيانوى چه هغه د دنيا مال متاع او عهده ده۔ د قريشو خلقو به كمزورى مسلمانانو ته لالچ وركولو چه كه دوى اسلام پريدى نو هغوى به دوى ته مال او متاع وركړى۔ نو الله تعالىٰ داسے مسلمانانو ته خطاب كولو سره ووئيل چه د الله تعالىٰ سره كړى لوظ او د رسول الله ﷺ په لاس باندے د كړى بيعت په بدله كښې تاسو د دنيا سپك او معمولى سامان قبول نهٔ كړئ۔

بِعَهْدِ اللّٰهِ : نه مراد اسلام او د اسلام كارونه دى۔

إِنَّمَا عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرٌ : يعنى نصرت او فتح، د غنيمت مال او ډير رزق او په آخرت كښې د جنت په شان نهٔ زائله كيدونكے نعمت ددے عارضى سامان نه ډير غوره دے د كوم چه قريش لالچ وركوى۔

مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ : پدے كښې د زيات تاكيد په توگه ئے ووئيل چه تاسو سره چه د دنيا هر يو نعمت دے دا ختميږى، او د الله جنت به هميشه باقى پاتے وى۔

وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِيْنَ صَبَرُوْا : اَىْ صَبَرُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ وَدِيْنِهٖ ۔ يعنى كوم خلك چه د الله تعالىٰ په لوظ او د هغهٔ په دين باندے صبر كوى او د مشركانو په تكليفونو صبر كوى او په اسلام باندے د مضبوط پاتے كيدو دپاره تكليفونه برداشت كوى، نو الله تعالىٰ به د دوى د صبر او د استقامت په ډيرو چندونو ښائسته بدله وركوى۔

مفسرينو ليكلى دى چه د الله تعالىٰ دا وعده د هر هغه مسلمان دپاره ده چه په هره زمانه كښې په خپل ايمان او اسلام باندے مضبوط پاتے كيږى او د دنيا د معمولى فائدو د خاطره خپل دين نهٔ بربادوى۔ او اوله درجه كښې په كښې د مكے دور مسلمانان داخل دى۔

بِأَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ : احسن ئے ذكر كړو ځكه چه حَسَن مباح ته وئيلے شى او په مباح عمل كولو سره اجر نهٔ ملاويږى او احسن كښې سنت، او واجب او فرض داخل دى۔ (الرازيؒ والقرطبيؒ) ❁ يا د احسن اضافت (مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ) ته اضافت بيانيه دے، يعنى بدله بهٔ وركرم په ډير ښائسته شى سره چه هغه د دوى عملونه دى۔ (احسن الكلام)

❁ يا احسن صفت د جزاء دے اَىْ بِجَزَاءٍ اَحْسَنَ مِنْ اَعْمَالِهِمْ ۔ يعنى ډيره ښائسته بدله به وركړم د دوى د عملونو نه۔ (چه عمل به ئے لږ وى او اجر به ئے زيات وى) (القاسميؒ)

❁ يا احسن په معنىٰ د نفس حسن سره دے۔

❁ ابن عاشورؒ وائى چه باء سببيه ده اَىْ بِسَبَبِ عَمَلِهِمِ الْبَالِغِ فِى الْحُسْنِ وَهُوَ عَمَلُ الدَّوَامِ عَلَى الْاِسْلَامِ ۔ يعنى په سبب د عمل د دوى چه هغه په حسن كښې اعلىٰ درجے ته رسيدلے

دے چه هغه په اسلام باندے همیشه عمل کول دی سره د برداشت کولو د تکلیفونو د مشرکانو نه. (التحریر)

او په احسن کښې اشاره ده چه د صبر په مینځ کښې چه د دوی نه څه جزع فزع شوی وی هغه به هم ورته معاف کوی. (فتح البیان)

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا : پدے کښې الله تعالیٰ قانون بیانوی چه په ایمان او عمل صالح کښې دومره عجیبه فائده ده چه دا په هیڅ شی کښې نشته. که د یو مرتد انسان ټوله دنیا شوه خو د پریشانئ ژوند به ئے وی، او چا کښې چه دا راتلونکی صفات پیدا شو نو الله تعالیٰ به دنیا او آخرت دواړه ورکړی او د سکون زندګی او راحت او حلال رزق به ورکړی. او په آخرت کښې به په ډیرو چندونو غوره بدله ورکوی.

د حیات طیبه اسباب

حَيَاةً طَيِّبَةً : هر انسان د خپل ژوند د ښه کولو طلبګار دے څوک ئے په پیسو کښې، څوک ئے په ښځو، څوک ئے په بادشاهئ کښې ګوری، تردے چه لیونی هم د حیاة طیبه کوشش کوی، نو ددے دپاره دوه قسمه اسباب دی، انسانی او شرعی. عام انسانان د حیاة طیبه دپاره دغه مخکنئ لارے اختیاروی یعنی مال، ښځه، ګاړی موټرے، جائیدادونه وغیره. حال دا چه دا ئے اصلی سبب نهٔ دے، دغه صرف یوه نشه پیدا کوی لیکن اصلی سکون پکښې نشته، نو ددے دپاره شرعی اسباب کتل پکار دی، نو ددے څه اجمالی اسباب دی او بل تفصیلی، اجمالی اسباب ئے یو ایمان او بل عمل صالح دے.

او تفصیلی اسباب ئے ډیر دی چه ددے آیتونو نه معلومیږی. ایمان، دویم القرآن. (د قرآن سره تعلق) لکه روستو آیت کښې دی. دریم اَلتَّوَكُّلُ عَلَى الرَّحْمٰنِ. په رحمن ذات باندے توکل کول. دا ناشنا حیاة طیبه دے چه انسان ته نصیب شی. او د احادیثو او د نورو آیتونه معلومیږی چه بل سبب الجهاد فی سبیل الله دے. (بَابٌ مِنْ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ يُذْهِبُ اللّٰهُ بِهِ الْهَمَّ) (مسند احمد : رقم : ۲۲۷۷۱) باسناد حسن)

(جهاد د جنت داسے دروازه ده چه غمونه ورسره ختمیږی)، (مُلُوكًا عَلَى الْاَسِرَّةِ) (بخاری : ۲۷۸۸) انسان به د بادشاه په شان جوړیږی.

او بل سبب ذکر الله دے. (اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ) (ابراهیم : ۲۸) دے کښې ټول عبادات داخل دی.

د حیاة طیبه مصداقات او مطلبونه

١- حسن بصریؒ وائی : په دنیا کښې حیاة طیبه نشته بلکه ددې نه مراد جنت دے۔
٢- اَلْقَنَاعَةُ۔ (الله به قناعت ورنصیب کړی) او دا هم ډیر مزیدار ژوند دے، عام انسانان سره د ډیروالی د مالونو نه د مالونو پسے پریشانه سرګردانه ګرځی۔
(علیؓ بن ابی طالب، وابن عباسؓ والحسن وزید بن وَهبؒ ووهب بن منبهؒ)
٣- اَلرِّضَا بِالْقَضَاءِ ۔ د الله په تقدیر راضی کیدل۔ ﴿وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ﴾ (التغابن :١١) (څوك چه په الله ایمان راوړی الله به ددهٔ زړه ته هدایت وکړی)۔
٤- حَلَاوَةُ الطَّاعَةِ- (د عبادت خوند) (ابوبکر الوراقؒ)
٥- وَتَوْفِيْقُ الطَّاعَات۔ (د طاعت توفیق) (ضحاكؒ)
٥- اَلرِّزْقُ الْحَلَال۔ (حلال رزق)۔
٦- اَلْإِسْتِغْنَاءُ عَنِ الْخَلْقِ وَالْإِفْتِقَارُ إِلَى الْحَقِّ۔ د مخلوق نه بے حاجته کیدل او الله ته محتاج کیدل۔ دا ډیر مزیدار ژوند دے چه مالدارو ته محتاج نهٔ وی بلکه مستغنی وی۔
٧- اَلْإِسْتِرَاحَةُ فِي الْقَبْرِ۔ په قبر کښې په راحت کښې کیدل۔ (سدیؒ)
لکه حدیث کښې دی : (مُسْتَرِيْحٌ اَوْ مُسْتَرَاحٌ مِنْهُ) (بخاری : ٦٥١٢) ومسلم (٢٢٤٥)
مؤمن په قبر کښې د دنیا د مصیبتونو نه په راحت کښې شی۔
لیکن پدے کښې حقه خبره دا ده چه دا ټول مصداقات صحیح دی۔
فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ : پدے آیت کښې ترغیب دے قرآن کریم ته سره د ادب ذکر کولو نه۔
چونکه قرآن کریم د الله حق کتاب دے او په پیرانو او انسانانو کښې د شیطانانو نه د حق یو دشمن او مخالف ضرور وی چه د هغے په خلاف د خلقو په زړونو کښې شبهات پیدا کوی، پدے وجه الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم وکړو چه کله تهٔ د قرآن تلاوت کوے نو په الله سره د رټلے شوی شیطان د وسوسو نه پناه غواړه۔
شوکانیؒ وائی چه هرکله د قرآن کریم د تلاوت نه مخکښې د شیطان د شر نه پناه غوختل ضروری شو نو د نورو نیکو اعمالو کولو نه مخکښې ددهٔ د شر نه پناه غوختل به په درجه اولیٰ ضروری وی۔

ربط او مناسبت

ددے آیت ربط په ډیرو طریقو سره بیان شوید ے۔

١- مخکښې ذکر شو چه د الله په عهدونو پابندي وکړئ نو اُوس د قرآن فضیلت راوړی ځکه چه پدے کښې د عهدُ الله تذکیر دے۔

٢- امام رازیؒ وائی: مخکښې احسن عمل ذکر شو نو اُوس وائی چه بعض د احسن عمل نه قراءت د قرآن کریم او تعوذ دے۔ چه پدے سره اعمال د وسوسے نه بچ کیږی۔ (فتح البیان) دا مناسبتونه بعید دی۔

٣- ابن عاشورؒ لیکی: دا متعلق دے د مخکښې ﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ﴾ (٨٩) آیت سره، یعنی هرکله چه الله تعالیٰ احسان ذکر کړو په نبی کریم کریم په نازلولو د داسے کتاب چه صفات کمالیو لره جامع دے او تبیان د هر شی دے او د هغے بیان ئے په یوه جامعه کلمه سره وکړو چه هغه (ان الله یأمر بالعدل) دے،

او بیا ئے په هغے باندے (وَاَوْفُوْا بِعَهْدِ الله) عطف کړو او دا خبره ئے مضبوطه کړه نو اُوس ددے نه روستو ئے وفرمایل: چه کله چه ددے جامع او شریف کتاب په قرائت کښې شروع کوے نو تا سره به پدے کښې شیطان مقابله کوی نو په الله پورے پناه طلب کړه او مقصد پدے حکم کښې امت دے۔ دا ربط ګوزاره کوی۔

٤- مګر غوره دا ده چه دا د حیاة طیبه سره لګی او دا د قرآن کریم اصول دی چه کله یو لفظ ذکر کړی چه هغه ډیر مُهم وی یا ډیر سخت وی، نو بیا روستو د هغے تشریح کوی، نو دلته سوال پیدا شو چه دا حیاة طیبه به څه شے وی؟ نو پدے دوه آیتونو کښې د هغے بیان کوی چه هغه تعلق دے د الله د کتاب سره، او توکل کول دی په الله تعالیٰ، او ایمانی کیفیت دے۔ ددے تائید د سورة طه آیت (١٢٤) دے ﴿وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِىْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا﴾۔ د قرآن کریم نه اعراض سبب د تنګ ژوند دے۔

د قرآن کریم سره تعلق یو په ایمان سره دے، نو د مؤمن حال د کافر نه غوره دے، بیا په قرآن باندے عمل کونکے مؤمن غوره دے د فاسق نه، بیا کوم مؤمن چه قرآن لولی غوره دے د هغه مؤمن نه چه کالبیت الخرب (لکه د وران او شاړ کور په شان) وی۔ بیا چه څوك په قرآن کښې تدبر کوی، او ددے په الفاظو او سیاق او سباق او رازونو کښې تدبر او فکر کوی نو په انسان باندے عجیب حکمتونه راکولاویږی چه دا ډیر مزیدار ژوند دے۔

په توکل کښې ولے حیاة طیبه دے؟ وجه دا ده چه شیطان انسان لره ډیر پریشانه کوی، او دهٔ د زړه په خوا کښې ناست وی، هر قسم وسوسے اچوی، او چه کله یو توکل والا مؤمن وی، نو د شیطان وسوسے ئے نهٔ پریشانه کوی او چه ضعیف مؤمن وی هغه ته هم وسوسے

اچوی چه فقیر به شے، مال به ډِے هلاك شي، ملازمت او تنخواه به ډِے ختمه شي بیا به څه خورے نو د پریشانئ نه مخکښ به ډِے پریشانه کړي نو ددے علاج توکل دے چه دا عقیده به وساتے چه زما رب موجود دے هغه به زما د کارونو پروګرام کوی، او ما نه به دشمن اړوی، شیطانه! ما مهٔ پریشانه کوه. او په توکل سره د مؤمن زړه کښ ډیره فراخي پیدا کیږي، پریشاني ئے ختمیږي.

إِنَّمَا سُلْطَانُهُ عَلَى الَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُ: یعنی د شیطان زور او اثر په هغه خلکو چلیږي چه د شیطان سره دوستي کوی، او د هغه تابعداري کوی او د الله تعالیٰ سره شریکان جوړوی او د شیطان عبادت کوی.

بِهٖ مُشْرِكُوْنَ: اَیْ بِسَبَبِ اِغْوَائِهٖ مُشْرِكُوْنَ. یعني په سبب د شیطان سره مشرکان شویدی، د الله تعالیٰ سره ئے د هغه په وسوسه شریکان جوړ کړیدی، مشرك همیشه د شیطان په وسوسو کښ راګیر وی، او همیشه په یره کښ وی چه فلانے بابا راباندے کټ وانهٔ ړوی او مال کښ مے بی برکتي رانشي. د مشرکانو کافرانو ډیره بده زندګی ده چه د نشے ګولئ د استعمال نه بغیر ورله خوب نهٔ ورځي.

یا د (بِهٖ) ضمیر الله ته راجع دے یعنی هغه کسان چه دوی د الله سره شرك کونکی دی.

وَإِذَا بَدَّلْنَا آيَةً مَّكَانَ آيَةٍ وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَا
او کله چه بدل کښ راوړو مونږ یو آیت لره په ځائے د بل آیت او الله ښه پوهه دے په هغے
يُنَزِّلُ قَالُوْا إِنَّمَا أَنْتَ مُفْتَرٍ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا
چه نازلوی ئے، وائي دوی یقیناً ته د ځان نه جوړونکے ئے، بلکه زیات د خلقو نه نهٔ
يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۱﴾ قُلْ نَزَّلَهُ رُوْحُ الْقُدُسِ مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ
پو هیږي. اُووایه نازل کړیدے دا (قرآن) پاك روح (جبریل) د رب ستا نه په رشتیا سره
لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۰۲﴾
دے دپاره چه مضبوط کړي هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او هدایت او زیرے دے دپاره د منونکو.

تفسیر: پدے آیت کښ د مکے د مشرکانو د قرآن کریم متعلق یوه شبهه بیان کړے

شویده او ددے رد شویدے۔
په قرآن کریم کښې په بعض ځایونو کښې داسے شویدي چه الله تعالیٰ یو آیت نازل کړے، بیا د مخلوق د مصلحت په وجه هغه آیت ئے منسوخ کړے او د هغے په ځای ئے بل حکم رالیږلے دے۔ مشرکانو به د خپلے کم عقلئ او بی ایمانئ په وجه وئیل چه محمد ﷺ دروغجن دے، هره ورځ د خپل طرف نه یوه نوے خبره پیدا کوی، او وائي چه دا تبدیلی د الله د طرف نه ده۔ د سورة البقره آیت (۱۰۶) ﴿مَا نَنسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا﴾ په تفسیر کښې ددے په باره کښې پوره تفصیل سره لیکل شویدی۔
هلته دا وئیل شویدی چه د قرآن په باره کښې دا شبهه یهودیانو خوره کړے وه، او دلته مفسرینو لیکلی دی چه دا شبهه د مکے مشرکانو خوره وله۔ معلومیږی چه د ټولو کافرانو دا عادت وو، او نن هم د ملحدینو او د اسلام دشمنانو همدا طریقه ده۔
ددے ټولو دا شبهه دلته زائله شویده او وئیل شویدی چه الله تعالیٰ کله د خپلو بندګانو د مصلحت د خاطره یو آیت نازلوی، بیا د حکمت د تقاضے مطابق هغه منسوخ کوی او د هغے په ځای بل حکم راولی۔ محمد ﷺ د خپل طرف نه هیڅ خبره نکوی بلکه جبریل علیه السلام د خپل رب په حکم سره په حق سره او په رشتیا سره او دپاره د راښکاره کولو د حق او د توحید، دا تاسو ته رالیږلے دے، دے دپاره چه د مؤمنانو زړونه مضبوط کړی او د هغوی په ایمان او یقین کښې زیادت وشی۔ لکه د باران اُوبه کله چه په زمکه پریوزی نو هغه ژوندئ کوی، دغه شان د قرآن کریم په نازلیدو د مؤمنانو زړونو ته ژوند ملاویږی۔ قرآن د هدایت چینه ده او مسلمانانو ته د دوارو جهانو زیرے ورکوی۔
أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ : یعنی په هیڅ شی نۀ پوهیږی۔ یا په حقیقت د قرآن نۀ پوهیږی ځکه ئے انکار کوی۔ یا د نسخ په حکمة نۀ پوهیږی چه دے کښې څومره مصلحت دے۔ او دا خبره خو ښکاره ده چه د جاهل سړی عیب لګولو لره هیڅ اعتبار نۀ وی۔
(السعدیؒ وفتح البیان)
بِالْحَقِّ : هرکله چه قرآن په حق باندے مشتمل دے او نزول ئے په حق سره شویدے نو هیچا لره پدے باندے عیب لګول صحیح نۀ دی۔ ځکه چه په حق باندے عیب لګول باطل دی۔ (سعدیؒ)
لِيُثَبِّتَ الَّذِينَ آمَنُوا : مؤمن د قرآن په وجه په عقیده، عمل او دلیل کښې ډیر مضبوط وی، ځکه چه ددۀ عقیده او عمل او دلیل د قرآن په رڼا باندے روښانه وی۔

وَهُدًى : یعنی دوی ته د خیزونو حقائق بیانوی۔ او د گمراهئ نه ئے بچ کوی۔
﴿وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ﴾ کښې دے طرف ته اشاره ده چه دا قرآن د مسلمانانو په خلاف د اسلام د دشمنانو کفر نور هم زیاتوی او د هغوی په غم کښې زیاتے پیدا کوی۔
فائده : ځینی مفسرین وائی چه دلته د تبدیل الآیة نه مراد د پخوانو معجزات بدلول دی چه هغوی ته به معجزات کونیه آفاقیه ورکړے کیدل او دے نبی ته یو کتاب ورکړے شو چه هغه هدایت او رحمة او بشارت دے او د علومو چینه ده چه داسے اُمی نبی ته ورکړے شو چه نهٔ ئے لوستل کړی وو او نهٔ لیکل، نو دا ددے وخت سره مناسب وو۔
او پدے باندے دلیل دا پیش کوی چه دا سورت مکی دے او په مکی دور کښې هغه شان منسوخ آیتونه نهٔ وو کوم چه ددے خلکو مقصد وو۔ (القاسمیؒ فی محاسن التاویل)
مگر ظاهر دا ده چه دواړه مطلبونه صحیح دی۔

وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُ بَشَرٌ لِسَانُ الَّذِي
او یقیناً پوهیږو مونږ چه بیشکه دوی وائی یقیناً خودنه کوی دهٔ ته یو انسان، ژبه د هغه کس
يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ أَعْجَمِيٌّ وَّهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِينٌ ﴿١٠٣﴾
چه غلط نسبت کوی دوی هغه ته عجمی (چاړئ) ده او دا قرآن ژبه عربی ده واضحه۔
إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ لَا يَهْدِيهِمُ اللَّهُ
یقیناً هغه کسان چه ایمان نهٔ راوړی په آیتونو د الله، هدایت نهٔ کوی دوی ته الله تعالیٰ
وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾ إِنَّمَا يَفْتَرِي الْكَذِبَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ
او دوی لره عذاب دردناك دے۔ یقیناً جوړوی دروغ هغه کسان چه ایمان نهٔ راوړی
بِآيَاتِ اللَّهِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَاذِبُونَ ﴿١٠٥﴾
په آیتونو د الله تعالیٰ او دا کسان هم دوی دروغجن دی۔

تفسیر : د مکے مشرکانو به وئیل چه دا قرآن د الله تعالیٰ د طرف نه نازل کړے شوے نهٔ دے، بلکه محمد (ﷺ) د یو سړی نه زدهٔ کړے چه هغه زمونږ د دین (یعنی شرك) نه مخالف دے او بیا ئے بیانوی، او دعویٰ کوی چه په دهٔ باندے د الله د طرف نه وحی نازلیږی۔
مفسرینو ددے سړی ډیر نومونه خودلی دی۔ زیات مشهور دا دے چه ددهٔ نوم (جَبْر) وو

چه د روم نصراني وو او هغه اسلام قبول کړے وو۔ ځيني وائي چه نوم ئے عَايش يا يَعِيش وو چه د عامر بن الحضرمي غلام وو او عجمي کتابونه به ئے لوستل۔
او بعض وائي چه د بني عامر بن لُؤَيُ غلام وو۔ يا بل نصراني وو چه بلعام ئے نوم وو او تورات به ئے لوستو۔ ځيني عداس يادوي، او ځيني نور دوه کسان (جبر او يسار) يادوي چه دے دواړو به په مکه کښ تورے تيرے کولے، او نبي کريم ﷺ به د دوي خوا ته ورتللو ځکه چه اسلام ئے راوړے وو۔ نو دوي پرے دغه اعتراض وکړو۔
امام نحاسؒ وائي چه ددے اقوال ترمينځ هيڅ تعارض نشته، کيدے شي چه دوي ددے ټولو په باره کښ دا وئيلي وي چه دوي ورته تعليم ورکوي۔
لِسَانُ الَّذِىُ : د لسان نه مراد دلته لغت او کلام دے۔
يُلْحِدُوْنَ اِلَيْه: الحاد په معنیٰ د ميلان سره دے يعني چه دوي ورته نسبت کوي او هغه ته ئے ورکړوي۔
اَعْجَمِيٌّ: هر هغه شخص ته وائي چه عربي ورله نهٔ ورځي او خبرے پرے نشي کولے۔او وضاحت سره خبره نشي کولے برابره ده چه عربي وي او که غير عربي۔ عُجمه معنیٰ ده پټوالے او چاړا والے۔
او فراءٔ وائي چه اعجمي هغه شخص ته وائي چه اصل ئے د عجمو نه وي۔
حاصل د جواب دا دے چه د کوم سړي په باره کښ چه دا مشرکان وائي چه ددهٔ نه نبي کريم ﷺ زدهٔ کړه کوي هغه خو عجمي دے، او قرآن فصيح او بليغ عربي ژبه کښ دے۔ دا څنګه ممکن ده چه يو عجمي سړے په اعلیٰ عربي ژبه کښ داسے د حکمت خبرے وکړي او محمد ﷺ ته تعليم ورکړي او نور عرب - چه ځان ته فُصَحاء بُلَغَاء وائي- هغه د مقابلے نه عاجز کړي۔ دا خو تاسو په خپل ځان رد کوئ چه مونږ دومره جاهلان يو چه داسے کتاب نشو جوړولے او يو عجمي سړے ئے جوړه ولے شي، او دا د عقل نه پريوتے خبرے دي۔
اِنَّ الَّذِيْنَ لَايُؤْمِنُوْنَ : اُوس الله فرمائي چه هرکله تاسو د قرآن خلاف کوئ او دهٔ ته بد بد نسبتونه کوئ، او دا دروغجن ګڼړئ، نو زهٔ به مو د هدايت نه محرومه کړم، د چا ضرر به وکړئ، د خپل ځانونو ضرر به وکړئ۔ الله تعالیٰ خو غني ذات دے۔
يعني کوم خلق چه د الله د آيتونو تصديق نهٔ کوي، الله تعالیٰ حق طرف ته د هغوی لارخودنه نهٔ کوي کوم چه لاره د نجات ده، او الله ته نيغه رسيدلے ده، ځکه چه الله تعالیٰ ته

د دوی بد بختی د مخکښې نه معلومه ده. او په آخرت کښې به دوی ته دردناك عذاب ملاویږی. ځکه چه د حق داعی ته ئې درد رسولے دے.

او دا داسے آیت دے لکه د ﴿خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ﴾ په شان ځکه چه د دوی کور ته هدایت راغلے وو او دوی ورله لته ورکړه نو ځکه ترے محروم شو.

إِنَّمَا يَفْتَرِى الْكَذِبَ: دا جواب دے ددے وینا د مشرکانو ﴿إِنَّمَا أَنْتَ مُفْتَرٍ﴾ چه دوی رسول الله ﷺ ته ویل: ته دا قرآن د ځان نه جوړوے او دا دروغ دی.

فرمائی چه دروغ خو هغه خلك جوړوی چه دروغ د هغه صفت وی او د الله نه نهٔ یریږی، او د الله د قدرت نخے او د هغه وجود نهٔ منی او د هغه په شرع او آیتونو ایمان نهٔ لری. نو دا رسول به څنګه دروغ ووائی چه دا د مؤمنانو سردار دے او ایمان ته دعوت ورکونکے دے، او د ټولو نه زیات رشتینی، د ټولو نه ډیر نیك او د ایمان او د عمل په اعتبار سره د ټولو نه ښهٔ انسان دے نو هغه څنګه دروغ وئیلے شی او ستاسو په ژبه هم صادق او امین دے، او دا قانون دے چه یو تن په انسانانو باندے دروغ نهٔ وائی نو په الله به څنګه دروغ ووائی لکه دا خبره هرقل ابوسفیان ته ذکر کړے وه. خو اصل کښې خبره دا ده چه دروغ وئیل د کافرانو لازمی صفت دے او د دوی عادت دے. (اَلْمَرْءُ يَقِيْسُ عَلٰى نَفْسِهٖ) (سړے په ځان باندے نور خلك قیاس کوی) او ددے نه لوی کوم دروغ کیدے شی چه دوی د الله تعالیٰ د آیتونو تکذیب کوی.

يَفْتَرِى الْكَذِبَ: اَىْ عَلَى اللّٰهِ. یعنی دروغ جوړوی په الله باندے هغه خلك چه ایمان نهٔ لری. او هسے دروغ کله نا کله د مؤمن نه وئیلے کیږی لیکن زر توبه وباسی.

زجاجؒ وائی: معنیٰ دا ده چه دروغ هغه خلك جوړوی چه کله دوی هغه نخے (معجزے) وینی چه په هغے باندے صرف الله قادر وی نو دوی د دغه نخو پورے سخت دروغ جوړ کړی. (فتح البیان)

مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْ بَعْدِ إِيْمَانِهٖ إِلَّا مَنْ
چا چه کفر وکړو په الله تعالیٰ روستو د ایمان راوړو نه سویٰ د هغه چا نه
أُكْرِهَ وَقَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيْمَانِ وَلٰكِنْ مَّنْ
چه زور پرے وکړے شو او زړهٔ د هغه مضبوط وو په ایمان باندے لیکن چا چه

شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللّٰهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ
کولاوه کړه کفر ته سینه خپله نو په دوی باندے غضب د الله دے او دوی دپاره عذاب
عَظِيْمٌ ﴿١٠٦﴾ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا عَلَى الْآخِرَةِ
لوئي دے۔ دا ددے وجے ونه چه دوی خوښ کړیدے ژوند دنیوی په آخرت باندے
وَأَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِيْنَ ﴿١٠٧﴾ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ
او یقیناً الله هدایت نهٔ کوی قوم کافرانو ته۔ دا هغه کسان دی چه مهر وهلے دے الله تعالیٰ
عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَأَبْصَارِهِمْ وَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْغَافِلُوْنَ ﴿١٠٨﴾
په زړونو د دوی او په غوږونو د دوی او په سترګو د دوی او دا کسان دوی بے پرواه دی۔
لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْخَاسِرُوْنَ ﴿١٠٩﴾
خامخا دوی به په آخرت کښ تاوان والا وی۔

تفسیر: ربط او خلاصه د آیتونو

مخکښ آیت کښ په اسلام باندے د ثابت قدم کیدو حکم وشو او د لوظ ماتولو نه منع وشوه، نو اُوس هغه خلکو ته سخت وعید بیانیږی چه د اسلام د قبلولو نه روستو د یو عارضی تکلیف او مصیبت د وجه نه دویم ځلی کفر طرف ته واپس کیږی۔

ددے حکم نه ئے هغه خلق مستثنیٰ کړیدی کوم چه د ظلم او زیاتی نه تنګ شی او د ځان بچ کولو دپاره د کفر یوه کلمه په خپله ژبه راولی، لیکن د زړهٔ نه کفر نهٔ قبلوی۔

کوم خلق چه د زړهٔ نه دویم ځلی کفر قبلوی، الله تعالیٰ د هغوی په باره کښ فرمائی چه په دوی باندے به د الله غضب وی، او د قیامت په ورځ به په لوی عذاب کښ اخته کیږی، ځکه چه دوی د دنیا ژوند په آخرت باندے غوره کړو۔ او د کفر لاره اختیارولو په وجه الله تعالیٰ دوی ته هدایت هم نهٔ کوی، او د دوی په زړونو او غوږونو او سترګو باندے مهر لګوی، او دوی په غفلت کښ اخته کوی، او په دوی باندے د خیر او صلاح ټولے دروازے بندوی، او معلومه ده چه په دنیا کښ د مؤمن حیثیت د تاجر دے چه د خپلو نیکیو په ذریعه د آخرت سعادت اخلی، لیکن کله چه په یو انسان کښ د محرومتیا پورته ذکر شوی ټول اسباب جمع شی نو هغه ته به د تاوان نه سویٰ هیڅ نهٔ ملاویږی۔

ابن عاشورؒ فرمائی : دلته څکه سخت وعید بیان شو چه په مکی دور کښې مشرکانو دا کلکه اراده کړے وه چه کوم خلك په اسلام قبلولو کښې مینه لری او یا چا چه اسلام راوړے چه دوی په فتنه کښې اخته کړی او د اسلام نه ئې بیرته راوګرځوی لکه هغه شخص چه دوی د هغه په باره کښې وئیلی وو چه محمد (ﷺ) د هغه نه قرآن زده کوی چه د هغه جَبر نوم وو، د عامر بن الحَضرمی غلام وو، هغه ته مشرکانو سزاګانې ورکړے نو هغه بیرته مرتد شو او دوی د نورو مسلمانانو نه د ارتداد مطالبه کړے وه لکه بلال، خباب بن الارت، یاسر، سمیه رضی الله عنهم خو دوی په اسلام کلك پاتے شو او بعض نورو کسانو ته ئې سزا ورکړه نو هغوی ئې هم کافر شو لکه د هغوی نه حارث بن ربیعه بن الاسود، ابو قیس بن الولید بن المغیره، علی بن امیه بن خلف، العاصی بن منبه بن الحجاج دی۔ او زما ګمان دے چه د دوی په باره کښې دا آیت نازل شویدے : ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُولُ آمَنَّا بِاللّٰهِ فَإِذَا اُوْذِيَ فِي اللّٰهِ جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللّٰهِ﴾ (العنکبوت : ۱۰)۔

(یعنی بعض د خلکو نه هغه دی چه وائی مونږ په الله ایمان راوړے خو کله چه د الله په باره کښې تکلیف ورکړے شی نو د خلکو سزا د الله د عذاب په شان وګنړی) التحریر والتنویر (۱۳/۲۳۶)

شان نزول

د حدیث په ګڼرو کتابونو کښې د ابن عباس ﷺ نه روایت دے چه دا آیت د عمار بن یاسر ﷺ په باره کښې نازل شوے وو۔ کله چه د مکے مشرکانو دهٔ لره په عذاب ورکولو سره مجبوره کړے وو چه هغه نبی کریم ﷺ ته بد رد ووائی او د دوی د معبودانو صفت وکړی۔ (په یو روایت کښې دی چه چا رسول الله ﷺ ته خبر ورکړو چه عمّار کفر وکړو، نو رسول الله ﷺ د هغه غائبانه ګواهی وکړه وے فرمایل : (مُلِئَ عَمَّارٌ اِيمَانًا اِلَى مُشَاشِهٖ) عمار د ایمان نه تر د هډوکو پورے ډك شویدے، هغه نهٔ کافر کیږی) (نسائی : ۵۰۰۷ باسناد صحیح)

بیا روستو عمار راغلو او ژړه ئې چه ما خو د کفر کلمه وئیلے ده نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : [كَيْفَ تَجِدُ قَلْبَكَ] چه تهٔ خپل زړهٔ څنګه مونده کوے؟ هغه وویل چه زهٔ په خپل ایمان باندے په پوره توګه مطمئن یم، نو نبی ﷺ وفرمایل (فَإِنْ عَادُوْا فَعُدْ) چه که دوی دویم ځلی تاسره داسے سلوك وکړی نو تهٔ دویم ځلی دغسے کلمات استعمال کړه۔

(الدر المنثور، تفسیر عبد الرزاق وابن ابی حاتم والطبری)

پدے وجه قرطبیؒ لیکلی دی چه د مفسرینو او اهل علمو اتفاق دے چه څوك د خپل ځان

د بچ کولو دپاره د کفر کلمه په ژبه راولی په هغه به هیڅ گناه نهٔ وی.
(او دا د الله تعالیٰ ډیر رحم دے په خپلو مؤمنانو بندگانو چه په کفر کښې ئے هم ورله د استثناء صورت بیان کړو).
او ابن کثیرؒ لیکلی دی چه څوك په کفر کولو مجبوره شی، هغه دپاره به په ظاهری توگه د کفر کلمه ښکاره کول جائز وی. او دا به هم جائز وی چه انکار وکړی. لکه څنگه چه بلال ﷺ کړی وو چه هر تکلیف ئے برداشت کولو، او اَحَد اَحَد نعرے به ئے وهلے. بلال وائی چه که ما ته بله کومه کلمه معلومه وے چه هغه کافران زیات غصه کوی نو هغه به ما ضرور وئیلے. آه.
دارنگه د عمار بن یاسر مور (سُمیه رضی الله عنها) د ابوجهل د ضررونو په وجه شهیده شوه لیکن هیڅ کلمه د کفر ئے ونهٔ وئیله، هغے په عزیمت باندے عمل وکړو.
ځینی اهل علمو وئیلی دی چه دا رخصت صرف د کفر د کلمے په وئیلو کښې دے، او هرچه کفری عمل کول دی، نو هغه په اکراه کښې نهٔ داخلیږی لکه بت ته د قتل په یره سجده کول وغیره، او دا قول د حسن بصریؒ، اوزاعیؒ، شافعیؒ او سحنونؒ دے لیکن دا د آیت د ظاهر نه خلاف دے ځکه چه په آیت کښې فرق د قول او فعل نشته. (فتح البیان)
إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ: دا استثناء ده د (مَنْ كَفَرَ) نه. او د اِکراه نه مراد دا دے چه په انسان باندے داسے د مجبورتیا حالت راشی چه کافر ئے وژنی، یا ورته د قتل دهمکی ورکړی او هغه قادر وی ددهٔ په وژلو نو په داسے وخت کښې کلمه د کفر په ژبه وئیل جائز دی چه زړه به ئے په ایمان پوخ وی.
مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ: یعنی زړه کښې ئے ایمان پروت وو، عقیده ئے نهٔ وه بدله شوے.
وَلَٰكِنْ مَنْ شَرَحَ: یعنی که چا کلمه د کفر ووئیله او د هغه په زړهٔ کښې هم کفر راغلو او کفر ئے ښه وگنړلو، سینه ئے ورته کولاوه کړه، نو دا به هم د الله په غضب کښې راگیر وی.
ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ: یعنی د کفر وجه دا ده چه خلك دنیا په آخرت باندے غوره کړی، د دنیا معمولی مال په کفر باندے آماده کړل.
لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ: یعنی داسے قسم ضدی کافر ته الله تعالیٰ هدایت نهٔ کوی ځکه چه دهٔ ته حق دین ښکاره شوے وو او بیا ئے د دنیا د وجه نه پریخے دے، دا قسم خلك اکثر د دنیا نه بی دینه ځی او الله تعالیٰ ورته د توبی توفیق هم نهٔ ورکوی.
طَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ: الله تعالیٰ ورله زړهٔ داسے بند کړی چه بیا د الله تعالیٰ او د ایمان او

د آخرت او د کامیابۍ هیڅ فکرئے نهٔ وی، په هلاکت باندے ور روان وی او دے غافله گرځی راگرځی۔

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ هَاجَرُوْا مِنْ بَعْدِ مَا
بیا یقیناً رب ستا دپاره د هغه کسانو چه هجرت ئے کړیدے روستو د هغے نه
فُتِنُوْا ثُمَّ جَاهَدُوْا وَصَبَرُوْا إِنَّ رَبَّكَ
چه تکلیفونه ورکړے شویدی بیا ئے جهاد کړیدے او صبر ئے کړیدے یقیناً رب ستا
مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٠﴾ يَوْمَ تَأْتِيْ
روستو ددے (کارونو) نه خامخا بخنه کونکے رحم کونکے دے۔ په هغه ورځ چه رابه شی
كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَنْ نَّفْسِهَا وَتُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ
هر نفس چه بحث به کوی د طرفه د نفس خپل نه او پوره به ورکړے شی هر نفس ته
مَّا عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿١١١﴾
هغه عمل چه کړے ئے دے او دوی باندے به ظلم نشی کیدے۔

تفسیر : په مکه کښې داسے کمزوری مسلمانان وو چه د نبی کریم ﷺ سره ئے هجرت نشو کولے۔ او کله ئے چه هجرت کول غوختل نو قریشو هغوی منع کړل او په ژبه سره ئے د کفر په کلمه وئیلو مجبوره کړل، لیکن د زړهٔ نه ئے کفر یو سیکنډ دپاره هم نهٔ دے قبول کړے۔ او څه ورځے روستو دوی ته د هجرت موقعه ملاؤ شوه نو مدینے ته اُورسیدل او رسول الله ﷺ سره ئے جهاد وکړو او د صبر او استقامت ثبوت ئے ورکړو۔ الله تعالیٰ ددے مسلمانانو په باره کښې فرمائی چه الله تعالیٰ به دوی د قیامت په ورځ معاف کړی او د دوی په حال به رحم وکړی۔

ثُمَّ جَاهَدُوْا : دا آیتونه مکی دی او په مکه کښې جهاد په معنیٰ د قتال سره نهٔ وو نو د جهاد نه مراد مقاومت کول دی په دفاع د مشرکانو کښې چه چرته ئے د اسلام نه وانهٔړوی۔ (ابن عاشورؒ)

مگر غوره خبره دا ده چه په مکه کښې هم د قتال دپاره ذهن سازی وه اگر که شروع شوے لا نهٔ وو لکه سورة المزمل مکی دے او په هغے کښې ﴿وَآخَرُوْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ ذکر دے۔

نو رسول الله ﷺ به د ملګرو ذهن جوړولو چه داسے وخت به راځی چه مونږ به قتال شروع کوو۔

وَصَبَرُوْا: یعنی مشقتونه ئے برداشت کړیدی د کفارو نه۔

مِنْ بَعْدِهَا : اَیْ بَعْدَ الْمُهَاجَرَةِ۔ یعنی پس د هجرت نه۔

لَغَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ : اَیْ لِمَعَاصِیْهِمْ وَمَا صَدَرَ مِنْهُمْ مِنْ کَلِمَةِ الْکُفْرِ تَقِیَّةً۔ یعنی ددوی ګناهونه به معاف کړی، او هم هغه کلمه د کفر چه د دوی نه د ځان د بچاؤ په طریقه صادره شوے وه۔

یَوْمَ تَاْتِیْ : ١- دا متعلق دے د غفور رحیم سره۔ یعنی الله به دوی ته بخنه وکړی او رحم به پرے وکړی په هغه ورځ چه د هر سړی سره به صرف د خپل ځان فکر وی، او په کوشش کښ به لګیا وی چه دے د اُور د عذاب نه نجات موندۀ کړی۔

او په دنیا کښ چه هر سړی کوم خیر او شر کړے وی د هغے به ورته پوره پوره بدله ورکولے شی او په دوی به ذره برابر هم ظلم نۀ کیږی۔

٢- یا دا مستقل کلام دے او (اُذْکُرْ) امر پټ دے یعنی رایاده کړه دغه ورځ۔ او پدے کښ بیا وعید دے دغه یره ولے شوو خلکو دپاره او وعده ده د هغه کسانو دپاره چه هغوی ته زیرمے ورکړے شو۔ (ابن عاشورؒ)

کُلُّ نَفْسٍ : نه مراد شخص دے او روستو نفس نه مراد ذات دے یعنی هر شخص به د خپل ذات د طرف نه جګړه کوی۔

تُجَادِلُ : د مجادلے نه مراد (اَلسَّعْیُ لِیْ الْخَلَاص) دے، یعنی هر کوشش کول په خلاصی کښ، څوک به سفارشیان ګوری چه ما له سفارش وکړی، څوک به انکار کوی، څوک به اقرار کوی چه خیر دے معاف مے کړه۔ څوک به دعاګانے او عاجزیانے کوی، او څوک به یو خوا او څوک به بل خوا منډے تړے وهی۔

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَّأْتِيْهَا
او بیان کړیدے الله تعالیٰ مثال د یو کلی چه وو امن والا، په اطمینان سره، راتلۀ به هغوی ته
رِزْقُهَا رَغَدًا مِّنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللّٰهِ فَأَذَاقَهَا
رزقونه فراخه د هر ځائے نه نو کفرئے اُوکړو په نعمتونو د الله تعالیٰ نو اُوڅکوو هغے ته
اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿١١٢﴾ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ

الله جامه د لوږې او د ډيرې په سبب د هغې كارونو چه دوى كول. او يقيناً راغلے وو دوى ته
رَسُوْلٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوْهُ فَأَخَذَهُمُ
رسول د دوى د جنس نه نو دروغجن اُووئيلو دوى هغهٔ ته نو رانيول دوى لره
الْعَذَابُ وَهُمْ ظَالِمُوْنَ ﴿١١٣﴾ فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا
عذاب او دوى ظالمان وو. نو خورئ د هغې نه چه دركړيدې تاسو ته الله تعالىٰ حلال پاك
وَاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿١١٤﴾
او شكر كوئ د نعمت د الله تعالىٰ كه يئ تاسو خاص هغه لره بندګي كوئ.

تفسير : پدے آيت كښ الله تعالىٰ تخويف دنيوى بيان كړيدے او مكے والو ته ئے د هغوى د كلى مثال وركړيدے. او بيا دا حكم عام دے. د مثال حاصل دا دے چه مكے والو ته الله تعالىٰ د سكون او د امن ژوند وركړے وو، او د څلور واړو طرفونو نه به ورته د الله رزق رارسيدو ليكن كله چه دوى د الله ناشكرى وكړه.

او ناشكرى د دوى يوه دا وه چه په رسول الله ﷺ باندے د ايمان راوړو نه ئے انكار وكړو، بل ئے د الله بندګى پريخوده، او بل ئے حلال او حرام د ځان نه جوړ كړل، او د الله سره ئے شريكان جوړ كړل. نو الله تعالىٰ د دوى دواړه حالتونه بدل كړل. او نبى كريم ﷺ دوى ته ښيرے وكړے [اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا عَلَيْهِمْ سِنِيْنَ كَسِنِيْ يُوْسُفَ] (بخارى : ٦٢٠٠) ومسلم (١٥٧٤)

چه اے الله ! دوى د يوسف (الطَّيِّلا) د زمانے د قحط په شان قحط كښ اخته كړه. نو همدغه شان وشوه، په مكه كښ داسے قحط راغلو چه هر شے ختم شو او د مردارے د خوړلو نمبر راغلو، او بيا چه كله د دوى نه نبى كريم ﷺ او صحابه كرامؓ مدينے ته هجرت وكړو نو دوى وخت په وخت كميدل او د دوى په زړونو او دماغو باندے د اسلامى لښكر داسے رعب مسلط شو چه د دوى امن او سكون واخستے شو، تردے پورے چه مكه فتح شوه او هرڅه د دوى د لاسونو نه ووتل.

مفسرين وائى چه كه د ((قرية)) نه مراد مكه واخستے شى بيا هم ددے آيت حكم هر هغه قوم ته شامل دے چه هغوى ته الله تعالىٰ نعمتونه وركړى او د زمانے په تيريدو سره د نعمت په نشه كښ داسے مست شى چه د الله تعالىٰ نافرمانى وكړى او سركشى د هغوى فطرت جوړ شى، نو الله تعالىٰ په دوى باندے خپل عذاب مسلط كوى.

نو پدې آیت کښې الله تعالیٰ ترغیب ورکوی شکر ته، او زورنه ورکوی په ناشکرئ چه ناشکری مهٔ کوئ ورنه داسې کار به درسره وشی لکه چه مکې والو سره وشو سره ددې نه چه دا خلك د بیت الله په گاونډ کښې وسیدل نو نور خلك به څنگه د عذاب نه بچ شی۔ او مکې والو ته هم تنبیه ورکوی چه راشئ ایمان راوړئ، په تاسو دا عذابونه ولې راځی؟، دې ته خو لږ فکر وکړئ، ددې وجه ستاسو ناشکرئ او ددې نبی نه انکار دې۔

آمِنَةً : اَیْ مِنَ الْعَدُوِّ۔ د دشمن نه په امن کښې وو۔ چا به پدې ځای حملې نشوې کولې۔

مُّطْمَئِنَّةً : اَیْ مِنَ الْجُوْعِ۔ د لوږې نه په اطمینان کښې وو۔

یَأْتِیْهَا رِزْقُهَا رَغَدًا: سورة القصص آیت (۵۷) کښې دی : ﴿ یُجْبٰی اِلَیْهِ ثَمَرَاتُ کُلِّ شَیْءٍ مِنْ لَّدُنَّا﴾۔ (مکې ته راوړې شی میوې د هر شی زمونږ د طرفنه)۔

فَأَذَاقَهَا اللهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ : ابن راوندی یو کافر وو په قرآن ئې اعتراض وکړو چه د لوږې لباس خو څکلې کیږی نهٔ ؟ نو ابن الاعرابی امام اللغة والادب ورته جواب ورکړو (اَیُّهَا النَّسْنَاسُ) اې جاهله ! آیا محمد ﷺ عربی نهٔ وو څه۔ ذوق په لغت د عربئ کښې د مباشرت او مماست دپاره استعمالیږی (ذُوْقُوْا مَا کُنْتُمْ تَکْنِزُوْنَ) او دلته ئې لباس لفظ ځکه استعمال کړیدې چه لوږه دوه قسمه ده، یوه لږه لوږه چه دا صرف په فَمِ مِعْدَه باندې درد راولی او کله چه لوږه زیاته شی نو ټول بدن باندې د هغې اثر وشی او ټول بدن باندې راتاؤ شی، او بدن تپ او خوار شی نو داسې شی لکه چه څادر او جامه د لوږې ورته اچولې شویده۔ نو پدې کښې کاملې لوږې او خوف ته اشاره ده۔ او دا د قرآن کمال دې۔

فَأَذَاقَهَا : ذوق (څکل) لفظ ئې ورله استعمال کړو اشاره ده چه د دنیا عذاب د آخرت د عذاب په نسبت لږ وی، هسې څکه وی۔

وَلَقَدْ جَاءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْهُمْ : دا د مخکنی مثال تکمیل (پوره والې) دې چه د مکې مشرکانو د هدایت دپاره د دوی نه یو رسول راغلو چه د هغهٔ حسب او نسب دوی پیژندلو، هغه رسول دوی ته د نیکئ حکم وکړو او د بدئ نه ئې منع کړل نو دوی د هغه تکذیب وکړو او وې وئیل چه تهٔ رسول نهٔ ئې، نو د الله عذاب دوی لره راونیول او دوی لوی ظالمان وو چه د خپل ځان دپاره د همیشه عذاب سبب جوړ شو او نور خلق ئې هم د حقې لارې نه منع کړل۔

فَکَذَّبُوْهُ : دا د (فَکَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللهِ) تفسیر دې او (فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ) تفسیر دې د (فَاَذَاقَهَا اللهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ) دپاره۔ یا د عذاب نه مراد په بدر کښې د هغوی وهل او قید کیدل دی۔ مگر

اول غوره دے۔

فَكُلُوا مِمَّا : مضمون : ددے آیت نه روستو د مشرکانو د ځان نه په حلال حرامو جوړولو باندے رد ذکر کیږی او بیا څلور څیزونه ذکرکوی چه دا اتفاقی حرام دی، دا به حلال نهٔ گنړئ، نو دا څیزونه حرام دی او دوی ئے حلال گنړی او بحیرے او سائبے الله تعالیٰ حلالے کړیدی او دوی ورته مردار او حرام وائی، دا د دوی ناشکری او په الله باندے دروغ جوړول شو، بیا سوال پیدا شو چه په یهودیانو باندے بعض حیوانات حرام وو په تورات کښ؟ نو جواب به وشی چه په یهودیانو دا څیزونه په تورات کښ د هغوی د ظلم په وجه حرام شوی وو۔ یعنی تورات به په دلیل کښ نهٔ پیش کوئ ځکه چه دغه تحریم د هغوی د خصوصیاتو نه وو۔ بیا مختصره واقعه د ابراهیم علیه السلام راوړی چه د هغه پکښ پنځه صفات او پنځه انعامات ذکر دی او مقصد پکښ دعوت دے د هغه اِتِباع ته په شکر کولو د نعمتونو کښ لکه (شَاكِرًا لِّاَنْعُمِهٖ) کښ ورته اشاره ده۔ او هغه شرك كونكے نهٔ وو۔

بیا سوال پیدا شو چه د ابراهیم علیه السلام په دین کښ خو د خالی ورځے تعظیم لازم وو او کاروبار پکښ حرام وو او د رسول الله ﷺ په دین کښ خو ددے تعظیم نشته ؟ نو جواب کوی چه دا حکم صرف په یهودیانو پورے خاص وو او دا د ابراهیم علیه السلام په دین کښ نهٔ وو۔ بلکه د جُمعے د ورځے تعظیم وو چه هغه الله تعالیٰ دے امت ته هم ورکړیدے۔ او په آخر د سورت کښ به د دعوت آداب بیانوی په درے طریقو سره، بیا د انسانانو تقسیم او نور آداب : مُعَاقبه، صبر، تقویٰ او احسان ئے ذکر کړیدی چه پدے سره کامیابی ملاویږی۔

فَكُلُوا : فاء ئے راوړه ځکه چه دا په مخکښ باندے تفریع ده، اَیْ اِذَا كَانَ الْاَمْرُ كَذٰلِكَ ۔ یعنی کله چه خبره داسے شوه چه الله تعالیٰ تاسو ته په ناشکرئ عذابونه درکوی نو ناشکری مهٔ کوئ او د الله حلال حلال وگنړئ۔

یا دا خطاب مسلمانانو ته دے نو معنیٰ دا ده : [اِنَّكُمْ لَمَّا آمَنْتُمْ وَتَرَكْتُمُ الْكُفْرَ فَكُلُوا الْحَلَالَ الطَّيِّبَ] تاسو چه کله ایمان راوړو او کفر مو پریخودو نو د الله په لاره کښ د جهاد کولو په وجه چه کوم د غنیمت مال ستاسو لاس ته راشی نو هغه خورئ، هغه ستاسو دپاره حلال دے او خبائث یعنی مرداره او وینه وغیره خوړل پریدئ او که واقعی تاسو صرف د الله عبادت کوئ نو د الله د نعمتونو شکر ادا کړئ او د هغه حق ویپژنئ۔

فَكُلُوا : یعنی حلال ئے وگنړئ۔ او د ځان نه ئے د باباگانو او بتانو په نوم مهٔ حراموئ۔

اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ: اشاره ده چه شکر د عبادت نه دے او عبادت، عین شکر دے۔

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ
یقیناً الله حرام کړیده په تاسو مرداره او وینه او غوښه د خنزیر او هغهٔ چه آواز پورته کړے شی
لِغَيْرِ اللهِ بِهٖ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ
د نذر د غیر الله دپاره په هغے سره نو څوك چه مجبوره شو چه نهٔ دے طلب کونکے د مزے
وَّلَا عَادٍ فَإِنَّ اللهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٥﴾ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَا
او نهٔ دے زیاتے کونکے نو یقیناً بخونکے رحم کونکے دے۔ او مهٔ وایئ هغه شی ته
تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هٰذَا حَلَالٌ وَّهٰذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوْا
چه بیانوی ژبے ستاسو دروغ چه دا شے حلال دے او دا حرام دے، دے دپاره چه جوړ کړئ تاسو
عَلَى اللهِ الْكَذِبَ إِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُوْنَ ﴿١١٦﴾
په الله باندے دروغ، یقیناً هغه کسان چه جوړوی په الله باندے دروغ نشی بچ کیدے (د
مَتَاعٌ قَلِيْلٌ وَّلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ ﴿١١٧﴾
عذاب نه)۔ (دوی لره) مزه ده لږه او دوی لره عذاب دردناك دے۔

تفسیر : دا د مخکښ آیت تتمه ده دے دپاره چه د طیب او خبیث ترمینځ تمیز وشی۔ یعنی د الله حرامو ته حرام وواییئ او د الله حلال خورئ۔ دا محرمات په سورة البقره، مائده او انعام کښ ذکر شویدی، بار بار بیانولو نه مقصد د مسلمانانو په ذهن کښ ددے د حرمت سختوالے کینول دی ځکه چه مشرکانو به دا څیزونه بنهٔ په شوق سره استعمالول۔

إِنَّمَا حَرَّمَ : د حصر معنیٰ دا ده چه [مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ تِلْكَ الْأَشْيَاءَ الَّتِىْ تُحَرِّمُوْنَهَا بَلْ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ هٰذِهِ الْأَشْيَاءَ] په تاسو دغه څیزونه نهٔ دی حرام کوم چه تاسو د ځان نه حرام ګنړئ بلکه دا څلور څیزونه ئے حرام کړیدی، دلته او بقره کښ ئے څلور او په انعام کښ ئے لس محرمات بیان کړیدی ځکه چه هلته کښ (مُنْخَنِقَه، مَوْقُوْذَه، مُتَرَدِّيَه، نَطِيْحَه او مَا اَكَلَ السَّبُعُ) ئے په میته کښ داخل کړیدی۔

فَمَنِ اضْطُرَّ : که یو شخص ته د سختے لوږے په وجه د مرګ خطره راشی، نو د هغهٔ دپاره د ضرورت په اندازه ددے محرماتو نه خوړل د خپل ځان بچ کولو دپاره جائز دی۔ الله

تعالیٰ به دا معاف کوی۔
غَيْرَ بَاغٍ : چه نهٔ دے طلبگار د لذت (خوند)۔
او وَلَا عَادٍ : نهٔ دے تجاوز کونکے د حدودو نه په خوراك کښې۔
او هدایت د آیت دا دے چه په دین کښې محرمات ډیر کم دی او بیا ددے کمو نه هم استثناء موجوده ده چه په وخت د اضطرار کښې دا هم استعمالولے شی نو د ځان نه حرام جوړولو ته هیڅ ضرورت نشته، دا د الله مقابله ده۔ او ډیر انسانان د ځان نه حلال څیزونه او خوراکونه حراموی دا لوی مجرمان دی۔
وَلَا تَقُولُوا لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ: لام اجلیه او ما مصدریه دے اَیْ لِاَجْلِ وَصْفِ اَلْسِنَتِكُمُ الْكَذِبَ ۔ مهٔ وایئ په وجه د بیانولو د ژبو ستاسو دروغو لره۔ یعنی ستاسو ژبے په دروغو بیانولو عادت دی نو داسے مهٔ وایئ چه دا حلال دی او دا حرام، او مطلب دا دے چه هیڅ انسان ته دا اختیار نشته چه هغه د خپل طرف نه یو شے حلال او یو شے حرام کړی، دا ټول مخلوق د الله تعالیٰ دے۔ هغه چه کوم شے حلال غوختلو هغه ئے حلال کړو او کوم ئے چه حرام غوختو هغه ئے حرام کړو لیکن د عربو د مشرکانو دا دستور وو چه دوی بعض حیوانات د خپل طرف نه حرام ګرځولی وو۔ لکه بحیره، سائبه، وصیله او حام وغیره حیوانات۔ دوی به دا د خپلو بتانو په نوم پریخودل او د دوی غوښه خوړل به ئے حرام ګڼړل۔
لِتَفْتَرُوا عَلَى اللهِ الْكَذِبَ : سوال پیدا شو چه مونږ خو دا وایو چه دا شے حلال او دا حرام او دا جائز دے او دا ناجائز، نو آیا دا خبره هم ګناه ده؟
جواب دا دے چه دا خبره په هغه وخت کښې ناروا ده چه تاسو په الله باندے دروغ جوړوئ او چه کله یو تن په قرآن او په حدیث حواله ورکوی نو بیا خو دهٔ د ځان نه حرام او حلال جوړ نکړل۔
مَتَاعٌ قَلِيلٌ : أَیْ لَهُمْ مَتَاعٌ : د دوی دپاره فائدے دی لږے په دنیا کښې یعنی که داسے خلق په دنیا کښې څه خوراك څکاك وکړی او په ظاهری توګه باندے مزے وکړی نو پدے سره ډیر خوك نهٔ دهوکه کیږی چه ګنے دوی ډیر کامیاب دی۔ دا خو د دنیا بالکل عارضی شے دے۔ د مرګ نه روستو دردناك عذاب د دوی انتظار کوی۔
ابن ابی حاتمؒ د ابو نضرةؒ وینا نقل کړیده چه ما د کله نه د سورة النحل دا آیت لوستلے دے نو د فتوے ورکولو نه یریږم۔
صاحب د «فتح البیان» د دوی ددے وینا نقل کولو نه روستو وئیلی دی چه دوی رشتیا

وئیلی دی، الله دِے پرِے رحم وکړی۔ ځکه چه دا آیتِ کریمه هر هغه مفتی ته شامل دے چه د الله د کتاب یا د رسول الله ﷺ د سنت خلاف فتویٰ ورکوی، لکه چه ډیر خلق داسے کوی چه د یو امام رائے ته د رسول الله ﷺ په حدیث باندے ترجیح ورکوی، یا هغه خلق چه د قرآن او سنت د علم نه بے برخے وی۔

وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا مَا
او په هغه کسانو باندے چه یهودیان دی حرام کړیدی مونږ هغه څه
قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ وَلٰكِنْ
چه بیان کړیدی مونږ تا ته مخکښ ددینه او ظلم نهٔ دے کړے مونږ په دوی باندے لیکن
كَانُوْا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ عَمِلُوا السُّوْءَ
دوی د نفسونو خپلو سره ظلم کولو۔ بیا یقیناً رب ستا هغه کسانو لره چه کړے ده بدی
بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوْا مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ وَأَصْلَحُوْا
په ناپوهئ سره بیا ئے توبه ویستلے ده روستو ددے نه او عمل ئے برابر کړے
إِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۹﴾
یقیناً رب ستا روستو ددے نه خامخا بخونکے رحم کونکے دے۔

تفسیر : جواب د سوال دے چه ته وائے ددے څلورو څیزونو نه علاوه نور څیزونه حلال دی نو په تورات کښ چه راغلی دی چه د اُوښانو غوښه حرامه ده او هغه هم د الله کتاب دے او تهٔ ورته حلاله وائے ؟ جواب : دا خاص په یهودیانو باندے د هغوی د ظلم او ګناهونو د وجه نه حرام شوی وو، الله په هغوی ظلم نهٔ وو کړے، او دغه محرمات په هر چا باندے حرام نهٔ دی۔ دغه تحریم د څه وخت پورے وو روستو د عیسیٰ علیه السلام او د محمد رسول الله ﷺ په دین کښ حلال کړے شو۔

په بل تعبیر سره داسے هم وئیلے شی چه مخکښ هغه محرمات بیان شو چه په شریعت اسلامیه کښ حرام وی، نو اُوس هغه محرماتو ته اشاره کوی چه د یهودو په شریعت کښ حرام وو، او په دے کښ مقصد دا بیانول دی چه عربو مشرکانو چه کوم حیوانات د خپل طرف نه حرام کړیدی، ددے حرمت په آسمانی دین کښ ثابت نهٔ دے۔ دا خالص د دوی

افتراء او دروغ وئيل دي۔

قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ : دا حواله ده په سورة الانعام آيت (١٤٦) او سورة النساء آيت (١٦٠) باندے۔

وَمَا ظَلَمۡنَاهُمۡ : سوال پيدا شو چه دا پرے ولے حرام شوی وو؟ نو الله فرمائی : دا تحريم په دوی باندے په سبب د ظلم او گناهونو د هغوی سره وو چه هغوی ددے اسباب اختيار کړل، د پيغمبرانو نافرمانی به ئے هميشه کوله او هغوی به ئے وژل۔ نو مونږ پرے د سزا په طريقه حرام کړل او پدے کښں مونږ په دوی باندے ظلم نۀ دے کړے۔

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ : که څوك ووائی چه مونږ خو تر اُوسه پورے حرام او حلال د ځان نه جوړ کړيدی او په الله باندے مو افتراء کړيده او د هغه د حکمونو خلاف مو کړيدے؟ نو الله دعوت ورکوی چه تر څو پورے تۀ ژوندے ئے ستا علاج کيږی، هغه دا چه توبه وباسه او خپل عمل آينده دپاره برابر کړه بخنه به درته وشي۔

نو دا سورت په آخر کښں دعوت ورکوی هغه خلکو ته چه شرك او د نبی کريم ﷺ مخالفت ئے کړيدے او د دوباره ژوند نه ئے انکار کړے او د الله ناشکری ئے کړيده چه راشئ اُوس توبه وباسئ، د الله تعالیٰ په وحدانيت او د رسول الله ﷺ په رسالت او دوباره ژوندی کيدو باندے ايمان راوړئ او د خپل نيت او خپلو اعمالو او احوالو اصلاح وکړئ نو الله به درباندے رحم وکړی او گناهونه به مو معاف کړی گويا که دا د قرآن په ژبه د کافرانو دپاره ډير د خوشحالئ خبر دے۔

السُّوٓءَ : دا هر قبيح فعل ته وئيلے شي نو ددے لاندے کفر او ټول گناهونه داخليږی۔

بِجَهَالَةٍ : يعنی د الله نه او د هغه د عقاب (سزا) نه نا خبره وو او په انجام کښں ئے هيڅ سوچ او فکر نۀ کولو، شهواتو پرے غلبه کړے وه۔

بعض سلف وائی : هر هغه څوك چه د الله نافرماني کوی هغه جاهل دے۔

بَعۡدِ ذٰلِكَ: يعنی پس د بد عمل نه۔

مِنۡ بَعۡدِهَا : يعنی روستو د توبے نه۔

إِنَّ إِبۡرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِلّٰهِ حَنِيفًا وَلَمۡ يَكُ مِنَ
يقيناً ابراهيم (عليه السلام) وو امت (پيشوا) تابعدار د الله تعالیٰ، کلك موحد وو او نۀ وو د

الْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٠﴾ شَاكِرًا لِأَنْعُمِهِ اجْتَبَاهُ
مشرکانو نه۔ شکر کونکے وو د نعمتونو د الله تعالیٰ، غوره کړے ئے وو هغهٔ لره
وَهَدَاهُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٢١﴾ وَآتَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا
او هدایت ئے ورته کړے وو لارے نیغے ته۔ او ورکړے وو مونږ هغهٔ ته په دنیا کښ
حَسَنَةً وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿١٢٢﴾ ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ
ښائسته ژوند او یقیناً هغه به په آخرت کښ د نیکانو نه وی۔ بیا وحی وکړه مونږ تا ته
أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَّمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٣﴾
چه روان شه د دین د ابراهیم پسے چه کللك موحد وو او نهٔ وو د مشرکانو نه۔

تفسیر : د ابراهیم علیه السلام واقعه د درے غرضونو دپاره راوړی ۱- يَذْكُرُ شُكْرَهُ رَدًّا عَلَى كُفْرِهِمْ۔ د ابراهیم علیه السلام شکر گزاری بیانوی دپاره د رد په کفر او ناشکریٔ د مشرکانو۔ وَاقْتِدَاءُ إِبْرَاهِيمَ فِي الشُّكْرِ۔ اے مشرکانو ! ابراهیم علیه السلام خپل مشر گنړیٔ نو د هغه تابعداری وکړیٔ په شکر کښ۔ مشرکان په مکه کښ د بیت الله په خوا کښ وسیدل او د بیت الله د برکاتونه به ئے فائدے اخستلے او حال دا چه د الله بندګی ئے نهٔ کوله بلکه بتانو دپاره به ئے کوله۔ (۲) دویم ددے مناسبت د مخکښ محرماتو سره دے۔ یعنی دغه ذکر شوی محرمات په دین د ابراهیم علیه السلام کښ حرام وو او تاسو ئے جائز ګنړیٔ او تاسو چه کوم څیزونه حراموئ دا په دین ابراهیمی کښ حرام نهٔ وو لکه بحیره سائبه، وصیله او حام۔ یا اُوښان وغیره۔ نو تاسو د هغه خلاف ولے کویٔ او د ځان نه ئے حراموئ۔
(۳) دارنګه بل غرض پدے واقعه کښ د مکے مشرکان، یهود او نصاریٰ په خپله دعوىٰ کښ دروغجن کول دی۔ ځکه چه د مکے مشرکانو به وئیل چه مونږ د خپل نیکهٔ ابراهیم علیه السلام په دین بانـدے یو، چه هغه د الله کور جوړ کړے وو، د حج اعمال ئے بیان کړی وو او د خانه کعبے نه ګیر چاپیر علاقے ئے حرم ګرځولی وو، او یهودو او نصاراو به هم د هغهٔ د دین د تابعداریٔ دعوے کولے او حال دا چه ټولو د اسلام نه انکار کولو کوم چه په حقیقت کښ د ابراهیم علیه السلام راوړے دین وو۔ نو پدے وجه دلته الله تعالیٰ د ابراهیم علیه السلام روحانی او دینی ژوند بیانوی او مشرکانو او یهود او نصاراؤ ته آئینه (شیشه) ورښائی، دے دپاره چه د دوی

نه هره یوه ډله خپله خپله خیره پکښې وینی او وپیژنی چه آیا دوی واقعی په دین ابراهیمی ولاړ دی؟!۔

بیا پدے آیتونو کښې پنځه خصال (صفتونه) د ابراهیم علیه السلام او بیا په هغے باندے پنځه انعامات بیانیږی۔

أُمَّةً: ۱- مجاهدؒ وائی: مُؤْمِنًا وَحْدَهٗ۔ یواځے مؤمن وو۔

۲- غوره دا ده چه: قَائِمًا مَقَامَ أُمَّةٍ ۔ داسے کمالات او غوره اخلاق او خیرونه پکښې الله اچولی وو چه د لوی امت په ځای ئے کار ورکولو۔ یو تن وو ډیر کارئے کولو، خیر ترے ډیر خوریدو۔ ددے نه بل تعبیر قرطبیؒ په (جَامِعًا لِلْخَیْرِ) سره کړیدے۔ یعنی د خیر صفتونو لره راجمع کونکے وو۔

۳- مُعَلِّمًا لِلْخَیْرِ۔ (ابن مسعودؓ) د خیر تعلیم ورکونکے وو۔

٤- مقتدیٰ: اَلَّذِیْ یُؤْتَمُّ بِهٖ۔ چه د هغه اقتداء او تابعداری کیږی۔ (اِنِّیْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا) مُعَلِّم د خیر او مقتدیٰ یو شے دے ځکه چه څوك د خیر تعلیم ورکوی د هغه په وجه پوره امت جوړیږی، حلال حرام، جائز ناجائز، ایمان توحید، عقائد نظریات او تربیت کول دا صفت د علماؤ دے۔ عبد الله بن مسعود رضی الله عنه یوه ورځ وویل: اِنَّ مُعَاذًا کَانَ اُمَّةً۔ معاذ بن جبل رضی الله عنه (د ابراهیم علیه السلام په شان) معلم د خیر وو۔

قَانِتًا: ۱- مُطِیْعًا لِلّٰهِ۔ د الله طاعت والا۔

۲- قَائِمًا بِاَمْرِ اللّٰهِ۔ د الله په حکم باندے مضبوط ولاړ۔ عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی: [کَانَ عَلَی الْاِسْلَامِ وَلَمْ یَکُنْ فِیْ زَمَانِهٖ مِنْ قَوْمِهٖ اَحَدٌ عَلَی الْاِسْلَامِ غَیْرَهٗ] په اسلام باندے ولاړ وو او دهٔ په زمانه کښې دهٔ د قوم نه هیڅوك په اسلام نهٔ وو نو ځکه الله (اُمَّةً قَانِتًا لِلّٰهِ) وویل۔

د قنوت معنیٰ په سورة البقره آیت (۲۳۸) کښې تفصیلًا ذکر شویده۔

او پدے آیتونو کښې مونږ ته دعوتونه دی چه دغه صفات تاسو ځان کښې پیدا کړئ۔

حَنِیْفًا: یعنی مائل وو د باطلو دینونو نه حق دین ته۔ یا کلك ولاړ وو په دین اسلام باندے۔

وَلَمْ یَكُ مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ: دے کښې ډیره مبالغه ده په نسبت ددے چه (لَمْ یَکُنْ مُشْرِکًا) (هغه مشرك نهٔ وو) یعنی شرك څه چه د مشرکانو په ډله کښې ئے هم ځان نهٔ شمارلو پاتے لا شرك کول۔

اِجْتَبَاهُ: ددے ځای نه اُوس د ابراهیم علیه السلام انعامات بیانیږی۔ یعنی الله تعالیٰ غوره کړے

وو د اُوچتو کارونو دپاره چه هغه نبوت دے او خپل طاعت دے۔
وَهَدَاهُ : یعنی الله مقصد ته رسولے وو۔

حسنه څه شے دے؟

فِي الدُّنيَا حَسَنَةً : ١- تَوْفِيْقُ الْحَسَنَات۔ (د نیکیانو توفیق) ٢- اَلرِّسَالَة۔ (پیغمبری)
٣- لِسَانُ صِدْقٍ۔ (ښائسته شهرت)
٤- اَلثَّنَاءُ الْحَسَنِ۔ (ښه صفتونه به ئے خلکو کول)۔
٥- اَلْقَبُوْلُ الْعَامُّ۔ (ټولو دینونو والا ته مقبول وو)۔
٦- اَوْلَادٌ اَبْرَار۔ (نیکان اولاد الله تعالیٰ ورکړی وو) او دا ټول ابراهیم علیه السلام ته حاصل وو ځکه چه دا د الله تعالیٰ اصول دی چه څوك نیك عمل کوی نو الله ورله دنیا هم ښه کوی لکه دے سورت کښې درے کرته دا خبره راغله۔ ﴿لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ﴾ (٣٠آیت) ﴿فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيَاةً طَيِّبَةً﴾ (٩٧ آیت) ﴿لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً﴾ (٤١ آیت) ۔
نو په دین کښې یواځے آخرت نهٔ دے۔
ثُمَّ اَوْحَيْنَا : دا پنځم انعام دے په ابراهیم علیه السلام۔ هغه دا چه د غوره نبی محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره مقتدیٰ وګرځولے شو۔ او د ابراهیم علیه السلام په تابعداریٔ ورته حکم وشو۔
بیا د ابراهیم علیه السلام تابعداری په کومو خبرو کښې وه؟۔
ځینی مفسرین وائی چه دا په توحید او دعوت د توحید کښې وه۔
ابن جریرؒ وائی چه د بتانو نه په بیزاریٔ کښې او په دین اسلام باندے عمل کولو کښې۔
او ځینی وائی چه په کارونو د حج کښې تابعداری وه۔
بعض وائی چه په اصولو کښې وه نهٔ په فروعو کښې۔ ابوالسعودؒ وائی چه په اصول او عقائدو او اکثرو فروعو کښې وه نهٔ په بعض هغه احکامو کښې چه د زمانو په بدلون سره په هغے کښې تبدیلی راځی۔ ظاهر دا ده چه په ټولو احکامو کښې د تابعداریٔ حکم وو سویٰ د هغے نه چه کوم منسوخ شوی وو۔ (فتح البیان وابن جریر وابوالسعود)۔

د ملة او د دین فرق

ملة نوم دے د هغه شریعت چه الله تعالیٰ د بندګانو دپاره په ژبه د یو نبی باندے بیان کړے وی۔او دے ته دین هم وائی لیکن په اعتبار د طاعت سره۔ ١- یعنی څوك چه ئے د الله د

طرفـه بنـدګانو ته بیانوی ملة ورته وائی او چه ثوك ئے قائموی او عمل پرے کوی نو بیا ورتـه دیـن وائـی۔ ۲- د مـلة اضـافت نبـی ته کیږی، نهٔ الله ته او نه نورو خلکو ته۔ او د دین اضـافت الله ته هم کیږی۔ ۳- د ملة په مکمل شریعت باندے اطلاق کیږی او د شریعت په انفرادی احکامو ئے اطلاق نهٔ کیږی۔ (راغب)

إِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ عَلَى الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا
یقیناً مقرر کړے شوے وو (تعظیم) د خالی په هغه کسانو چه اختلاف ئے کړے وو
فِيْهِ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ
په هغے کښې او یقیناً رب ستا به خامخا فیصله کوی په مینځ د دوی کښې په ورځ
الْقِيَامَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ اُدْعُ إِلٰى سَبِيْلِ
د قیامت په هغه څه کښې چه دوی په هغے کښې اختلاف کوی۔ دعوت ورکوه لارے
رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ
د رب ستا ته په حکمت سره او نصیحت ښائسته سره او جګړه کوه (بحث کوه) د دوی سره
بِالَّتِيْ هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ
په هغه طریقه چه ښائسته ده یقیناً رب ستا ښهٔ پوهه دے په هغه چا چه ګمراه کیږی
عَنْ سَبِيْلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۲۵﴾
د لارے د هغهٔ نه او هغه ښهٔ پوهه دے په هدایت والو باندے۔

تفسیر : سوال پیدا شو چه د ابراهیم علیه السلام په دین کښې خو تعظیم د خالی د ورځے وو او دا رسول ئے نهٔ کوی نو دا څنګه د هغه په دین روان دے؟ نو دلته مشرکانو ته جواب کوی په داسے جامعے طریقے سره چه په یهودو باندے پکښې رد هم وشی۔ او په یهودو باندے رد څکه کوی چه هغوی دا اعتراض په رسول الله ﷺ باندے کړے وو چه تهٔ د خالی د ورځے تعظیم نهٔ کوے نو تهٔ د ابراهیم علیه السلام په دین باندے نهٔ ئے۔

حاصل د جواب دا دے چه تعظیم د خالی نهٔ د ابراهیم علیه السلام د دین حصه وه، نهٔ د بل کوم نبی د دین۔ بلکه دا الله تعالیٰ په هغه یهودیانو باندے فرض کړے وو چه هغوی پدے کښې

اختلاف کړے وو۔ ددے اختلاف تفصیل دا دے چه موسیٰ علیه السلام دوی ته وویل چه یوه ورځ د الله د بندگئ دپاره خاص کړئ او هغه درته زهٔ ښایم چه د جُمعے ورځ غوره ده، نو دوی په عناد کښ راغلل وے وئیل چه د خالی ورځ غوره ده۔ (ځکه چه پدے ورځ باندے الله تعالیٰ مخلوقات نهٔ دی پیدا کړی نو مونږ تشبه بِالْاِلٰه کوو –پدے وجه دے ورځے ته په پښتو کښ هم خالی وائی) نو دوی د موسیٰ علیه السلام سره اختلاف وکړو۔ خپله رایه ئے په لوی پیغمبر اُوچته کړه۔ (الله پرے عذاب ورنکړو ځکه چه دوی ته پدے کار کښ اختیار ورکړے شوے وو) الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته ووئیل چه دوی په خپل حال پریده۔

دویم د اختلاف صورت دا وو چه د خالی ورځ په دوی مقرر شوه نو بیا دوی په کښ په روستو زمانه کښ هیڅ تعظیم ونکړو، ښکارونه ئے پکښ شروع کړل، او د دنیا کارونه به ئے پکښ کول، نو دا اختلاف دے په ترك د تعظیم (تعظیم پریخودو) سره۔ او پدے باندے به دوی ته سزا ملاویږی۔

دریم صورت دا هم دے چه الله تعالیٰ یهود او نصاراؤ ته حکم وکړو چه دوی په هفته کښ د یوے ورځے تعظیم وکړی۔ نو دوی په خپل مینځ کښ اختلاف اوکړو، یهودیانو د خالی ورځ غوره کړه، ځکه الله تعالیٰ په همدے ورځ د تمامو مخلوقاتو د پیدائش نه فارغ شوے وو۔ او نصاراؤ د اتوار ورځ غوره کړه ځکه چه الله تعالیٰ په همدے ورځ تمام مخلوقات پیدا کول شروع کړی وو۔ نو الله تعالیٰ د دواړو دپاره د دوی د خوښ کړے شوے ورځے تعظیم په دوی لازم کړو۔ او ددے امت دپاره هغه په خپل فضل او کرم سره د جُمعے ورځ خوښه کړه، چه د دوی دپاره په هره طریقه د برکت والا ورځ ثابته شوه۔ لکه دا خبره په حدیث د صحیحینو کښ راغلے ده۔

اخْتَلَفُوا فِيهِ: ١– بِتَفْضِيلِ السَّبْتِ عَلَى الْجُمُعَةِ۔ چه د خالی ورځ ئے په جمعه باندے غوره کړه۔ ٢– بِتَرْكِ تَعْظِيمِهٖ۔ د خالی د ورځے د تعظیم لحاظ ئے ونهٔ ساتلو۔

٣– اِخْتَلَفُوْا فِيْمَا بَيْنَهُمْ ۔ د یهودو او نصاراؤ ددے په مینځ کښ اختلاف شو چه یهودو د خالی ورځے تعظیم قبول کړو او نصاراؤ روستو زمانه کښ د اتوار ورځ واخسته۔

وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ: دا د دویم صورت سره ښه لگی چه دوی یو ځل د خالی تعظیم قبول کړو بیا ئے پکښ مخالفتونه شروع کړل نو الله به ورته سزا ورکوی۔

كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ: په دین کښ په اختلاف کولو، او په زمکه کښ په فساد خورولو او

د حقے لارے نه د اَوړيدو بدله ضرور ورکوی۔

اُدْعُ إِلٰى سَبِيلِ رَبِّكَ : پدے آیتِ کریمه کښې تیزی ورکوی په دعوت باندے او تر آخرد سورت پورے د هغے آداب او طریقے بیانیږی۔

مناسبت

هرکله چه دا خلك (یهود، نصاریٰ او مشرکان) په گډوډو روان دی، نو د دوی علاج دعوت دے۔ د شرك او د بدعت علاج دعوت الی الله دے۔

ځینی مفسرینو وئیلی دی چه دا آیت منسوخ دے ځکه چه مشرکانو او یهودو ته اُوس دعوت نشته بلکه هغوی سره قتال دے، دا خبره خطاء ده ځکه چه د جهاد خاص موقعے وی، او دعوت اُوس هم شته او دا آیت د عُصَاةُ الْمُوَحِّدِيْن (گناهگارو موحدینو) په باره کښې هم دے۔

پدے آیتونو کښې د دعوت دوه آدابه بیان شویدی چه تقویٰ او احسان ځان کښې پیدا کړئ او پنځه طریقے د دعوت دی۔ اول حکمة سره دعوت، دویم موعظے سره، او دریم مجادلے سره او څلورم معاقبے سره او پنځم صبر کول۔

إِلٰى سَبِيلِ رَبِّكَ : د الله لاره اسلام، التوحید، القرآن، اتباع الرسول ﷺ دے۔

بِالْحِكْمَةِ: په پوهے سره۔

حکمة څه شے دے ؟

ددے جامع تعریف دا دے ۱- وَضْعُ الْاَشْيَاءِ فِيْ مَوَاضِعِهَا اللَّائِقَةِ بِهَا ۔ څیزونه په خپلو لائقو ځایونو کښې کیخودل حکمة دے۔ حکیم انسان هغه دے چه یو شے په خپل ځای کښې استعمالوی، او دا حاصلیږی په درے خبرو (۱) مَعْرِفَةُ حَالِ الْمَدْعُوِّ اِلَيْهِ ۔(چا ته چه دعوت کیدے شی د هغه حالت پیژندل) یعنی شخص شناسی۔ (۲) موقعه شناسی۔

۳- کلام شناسی۔ یعنی شخص او موقعه او خبره پیژندل۔ تفصیل ئے دا دے چه یو امی شخص ته به دعوت په ډیر ساده الفاظو ورکولے شی، او کومه خبره ددهٔ سره مناسبه ده، ددهٔ حال څه دے؟ مثلاً یو شخص بیلمازه دے نو هغه ته به د انس بالله او د هغے نکتے او باریکات نهٔ بیانوی، د بی موقعے خبرے کولو نه ډیر فساد پیدا کیږی۔ او د کلام ترتیب هم پیژندل پکار دی ځکه چه بی ترتیبه خبره کول اثر نهٔ لری۔ مثلاً کله به د شکایت شکل وی د هغه نه، کله به د ترغیب شکل ورکوی، او کله د افسوس او کله د قصے په شکل لکه

دا د نبي كريم ﷺ طريقه وه. كله به ئې د يو تن صفت وكړو، كله به ئې زجر او رټنه ورکړه او كـلـه بـه ئې منع وكړه. او كله به ئې د آخرت عذاب بيان كړو. او چا كښې چه اخلاص وى نو الله تعالىٰ ئې هغه ته په خپله موقعه كښې ورنصيب كوى.

٢- ابـن جريرؒ وائي چه د ((حكمة)) نـه مـراد قـرآن او سـنـت دى. يعنى د دعوت طريقه به ددے دواړو په رڼا كښې متعين كړى. ددے رجوع هم مخكښې كلام شناسى ته كيږى.

٣- صاحب د ((فتح البيان)) وائي چه د ((حكمت)) نه مراد داسے صحيح او ښكاره خبره ده چه حق په ډاګه كړى او هر شك او شبهه زائله كړى. ددے رجوع مخكښې ته كيږى.

ځينى خلك مداهنت (حق نۀ بيانولو) ته حكمة وائى. دا غلط تطبيق دے.

٤- حكمة هغه دلائلو ته هم وائي چه يقيني وى. (فتح البيان)

٥- ابـن عاشورؒ وائي : حكمة : مُحكم معرفت (يعنى مضبوطے پوهے) ته وئيلے شى چه حق تـه رسيدونكى وى او د خطائى او جهالت نه خالى وى په تعليم او تهذيب د خلكو كښې. نو په جهالت سره خلكو ته دعوت كول جائز نۀ دى. (التحرير والتنوير)

او د ((موعظه)) نه مراد داسے ښائسته خبرے اترے دى چه هغے لره آوريدونكے خوښ كړى او د هغے نه فائده واخلى. او ددے نه تخويف او بشارت مراد دے. يعنى هغوى ته د يرے او د زيرى خبرے وكړه. ابـن عاشورؒ وائي : دا هغه خبرے دى چه چا ته وئيلے كيږى نو د هغه زړه د نيك عمل دپاره نرموى.

حكمة : د مـوعـظـه سره ئې (حسنه) لفظ راوړو نۀ د حكمة سره. ددے حكمة دا دے چه موعظه كښې مقصد د خلكو د بدو اعمالو نه منع كول وو نو ګمان كيدے شو چه د واعظ د طرفـنـه پـدے كښې سختى وكړے شى او د خلكو په زړونو كښې ماتوالے او خفګان راشى نو پـدے وجـه ئې دا ادب وخودلو چه موعظه به په ښائسته طريقه سره وى. يعنى په نرمه وينا سره او پـه ترغيب الى الخير سره. او هرچه حكمة دے نو دا د هغه مُعلم د طرفنه وى چه د طلابـو د تـعـلـيـم اهـتـمـام كـوى كـوم چه د كمال طلب كونكى وى نو دا خپله په ښائسته حالت كښې وى نو حسنه ذكر كولو ته ئې ضرورت نشته، آه. (ابن عاشورؒ)

وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ أَحْسَنُ : (مجادله) يـعـنـى په اخلاقى انداز كښې دوى سره بحث كـول او مـجادله ذِكْرُ الْاَدِلَةِ الْاِلْزَامِيَّة تـه وئيلے شى، يـعـنـى الزامى دليلونـه ذكر كول، او مـناظرانه اسلوب (طرز) اختيارول، دا په هغه وخت كښې چه د داعى واسطه د سخت جګړه مار مخالف سره راشى. يعنى په نرمئ سره داسے مُدَلَّله خبره وكړى چه د هغه شر لرے شى

او حق قبلولو ته تیار شی۔

بِالَّتِیْ هِیَ أَحْسَنُ کښې دا سبق پروت دے چه د جانب مقابل سره به هم بد اخلاقی او بد او فاحش الفاظ نۀ استعمالوی۔ نو په درے طریقو سره دعوت شو یو په علم سره او بل په ترغیب او ترهیب سره او دریم په دلیلونو سره۔

ځینی علماء فرمائی: چه درے طریقے ځکه ذکر شویدی چه انسانان درے قسمه دی، علماؤ ته به حکمة بیانوی، او عوامو ته به موعظه حسنه او معاندینو (ضدیانو) سره به مجادله کوی۔ او دا درے واړه یو شخص ته په یو ځای جمع کول هم منافات نۀ لری۔ او دا هم ضروری نۀ ده چه یو کلام به په درے واړو خبرو مشتمل وی۔

او قرآن کریم چه کوم دعوت پیش کړیدے نو پدے درے واړو طریقو باندے مشتمل دے۔ او دارنګه رسول الله ﷺ چه کله خلکو ته په غیر د قرآن نه په خطبو او تقریرونو او ارشاداتو سره خلکو ته کوم دعوت کړیدے هغه هم پدے درے طریقو مشتمل دے د احوالو مطابق۔ (ابن عاشورؒ)

ابن عاشورؒ دا هم وائی چه پدے آیت کښې د استدلال عقلی اُصول ثلاثه -- چه برهان، خطابة، او جدل دی -- ذکر دی چه دے ته په علم المنطق کښې مقبول صناعات وائی۔ او هرچه سَفُسَطَه او شعر دے نو هغے نه رشتینی حُکماء اعراض کوی پاتے لا انبیاء او مرسلین۔ آه۔ د شعر نه مراد هغه کلام دے چه د خیالاتو او وهمیاتو نه جوړ وی۔

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ: یعنی که یو شخص د حق دعوت نۀ قبلوی نو تۀ مۀ پریشانه کیږه، ځکه هدایت ورکول ستا کار نۀ دے۔ الله ښه پو هیږی چه په ګمراهئ باندے څوك باقی پاتے کیږی او څوك هدایت قبلوی، او هغه به د قیامت په ورځ هر یو ته د هغۀ د هدایت یا ګمراهئ مطابق بدله ورکوی۔ تا ته د دعوت کولو حکم ددے دپاره درکړے شویدے چه حجت پوره شی او د کافرانو دپاره څه عذر باقی پاتے نۀ شی۔

وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا عُوْقِبْتُمْ
او که بدله اخلئ تاسو نو بدله واخلئ په مثل د هغے تکلیف چه درکړے شوے وی تاسو ته
بِهٖ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّابِرِيْنَ ﴿١٢٦﴾
هغه او که صبر کوئ تاسو نو خامخا دا ډیر غوره دے صبر کونکو لره۔

تفسیر : کله د دعوت په باب کښ دا کار هم کیږی چه جانب مقابل په جوش او غصه کښ راشی او کنځلے شروع کړی او وهل ټکول وکړی نو الله تعالیٰ دلته اجازه ورکوی چه د داعی دپاره دهغے بدله اخستل جائز دی خو زیاتے به پکښ نهٔ کوی۔

ځینی مفسرینو دا آیت مدنی گرځولے دے او د اُحد د غزا سره ئے لګولے دے چه کله مشرکانو حمزه ﷺ مُثله کړو (یعنی شکل او صورت ئے ورله خراب کړو) نو رسول الله ﷺ ووئیل چه زهٔ به د مشرکانو اویا کسان مُثله کوم نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو چه صرف یو تن مُثله کړئ او زیادت جائز نهٔ دے۔

او د اُبی بن کعبؓ نه روایت دے چه په جنګِ اُحد کښ څلور شپیته انصار او شپږ مهاجرین شهیدان شول، په هغوی کښ حمزه ﷺ هم وو۔ کافرانو ددے مقتول صحابه کرامو مُثله وکړه۔ انصارو ووئیل چه په کومه ورځ چه مونږ ته موقعه ملاؤ شی نو د دوی سره به دغسے کوو۔ کله چه مکه فتح شوه نو دا آیت نازل شو۔ نو نبی ﷺ وفرمایل مونږ به صبر کوو او انتقام به نهٔ اخلو۔ او صحابه کرامو ته ئے ووئیل چه تاسو د څلورو سړو نه سِویٰ بل چا ته تعرض مهٔ کوئ (ترمذی، زوائد مسند احمد، والحاکم وصححه ووافقه الذهبی وقال الالبانی وهو کما قالا، الضعیفة رقم : (550) ۔ محدث البانیؒ دے ته صحیح وئیلے)۔

دا قول ظاهر نهٔ دے اګرکه په عموم د الفاظو کښ دغه قصه هم داخلیږی۔ مګر ظاهر دا ده چه دا آیت مکی دے او دا خبره د دعوت په باره کښ ده چه د هرے زمانے سره تعلق لری مثلاً یو تن به تا ته په موبائل کښ کنځل وکړی، یا به درته مخامخ کنځل وکړی نو تهٔ به کنټرول کوے او زیادت به نهٔ کوے۔ حافظ ابن جریرؒ وائی چه دا آیت پدے باره کښ نازل شویدے چه که یو مظلوم ظالم موندهٔ کړی او د هغهٔ د بدلے په اخستو قادر شی نو په بدله اخستو کښ دِے زیاتے نهٔ کوی۔

لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّابِرِيْنَ : په صبر کښ ۱- یو خیر دا دے چه اجر به دِے وشی۔

۲- دویم دا چه دشمن به مانوس شی چه زهٔ کنځل کوم او هغه نرمی کوی نو حق ته به مائل شی۔

۳- دعوت به مخکښ روان وی او چه بدله واخستے شی نو جګړه جوړیدو سره د دعوت مخه بندیږی۔

او کوم علماء چه دا وائی چه دا آیت په هغه آیتونو سره منسوخ شویدے چه په هغے کښ د کافرانو سره د قتال کولو حکم ورکړے شویدے۔ نو شوکانیؒ وائی چه ددے قول

دلیل نشته دے۔

وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللهِ وَلَا تَحْزَنْ
او صبر کوه او نهٔ دے صبر ستا مگر په مدد د الله تعالیٰ سره دے او مهٔ غمجن کیږه
عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ مِّمَّا
په دوی باندے او مهٔ کیږه په تنګسیا کښې د هغے نه
يَمْكُرُوْنَ ﴿١٢٧﴾ إِنَّ اللهَ مَعَ الَّذِيْنَ
چه دوی ئه مکرونه (چلونه) جوړوی۔ یقیناً الله تعالیٰ ملګرے دے د هغه کسانو سره
اتَّقَوْا وَّالَّذِيْنَ هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ﴿١٢٨﴾
چه تقویٰ کوی او هغه کسان چه دوی ښائسته عملونه کوی۔

تفسیر : ځینی اهل علمو پدے آیت کښې دا اشکال کړیدے چه مخکښې وائی چه داعی صبر وکړی نو په هغے کښې خیر دے او صبر کول مستحب دی، او دلته وائی چه صبر به خامخا کوے؟ نو بیائے فرق داسے کړیدے چه مخکښے خطاب عوامو داعیانو ته دے او دا د ﴿وَاصْبِرْ﴾ خطاب رسول الله ﷺ او امیرانو ته دے، په عوامو صبر واجب نهٔ دے بدله اخستل جائز دی او په رسول الله ﷺ او په امیر باندے صبر واجب دے۔ دا فرق د اصولو د اسلام مطابق نهٔ دے ځکه چه په اصولو د اسلام کښې د رسول الله ﷺ دپاره هم بدله اخستل جائز وو او عوام الناس دپاره هم او دا پابندی په رسول الله ﷺ او امیر باندے نهٔ ده راغلے چه هغه به بدله نهٔ اخلی او صبر به کوی، بلکه رسول الله ﷺ د نور امت سره په عامو احکامو کښې شریك دے، سویٰ د یو څو کارونو نه، او په هغے کښې دا نشته۔

نو ظاهر مطلب د آیت دا دے چه دلته ئے (وَاصْبِرْ) حکم د روستو (وَمَا صَبْرُكَ) د وجه نه راواپس کړیدے۔ نو دلته د داعی ذهن سازی کوی چه تا له بدله اخستل جائز دی مگر که تهٔ صبر وکړے درله غوره ده او کله چه صبر کوے نو بیا ګمان ونکړے چه زهٔ ډیر اُوچت انسان یم چه په باب د دعوت کښې مے ډیر صبرونه کړیدی او ډیر تکلیفونه مے برداشت کړیدی بلکه ستا صبر د الله په توفیق او د الله په مدد سره حاصلیږی، زړه کښې لوئی رانهٔ ولے، بلکه الله ته متوجه شه چه هغه تا ته توفیق درکړو۔

د ځينې مفسرينو د كلام نه تطبيق داسې معلوميږي چه مخكښې صبر په باره د انتقام اخستو كښې وو، او دلته الله تعالىٰ خپل رسول ته تسلي وركوي او حكم كوي په صبر كولو باندې په دعوت كولو سره. نو مطلب دا دې چه كه د مكې مشركان اسلام نۀ قبلوي نو تۀ غم مۀ كوه او د دوی د سازشونو په سوچ سوچ سره زړۀ مه تنګوه. الله ستا دپاره كافي او ستا حمايت كونكې او مددګار دې، ځكه چه هغه هميشه د خپلو بندګانو مُعِين او مددګار وي كوم چه د خير په لاره روانيږي د هغوی حفاظت كوي، او هغوی ته په دشمنانو غلبه وركوي.

وَمَا صَبۡرُكَ إِلَّا بِاللّٰهِ : اَیۡ بِنُصۡرَةِ اللّٰهِ لَا بِقُوَّتِكَ. يعني ستا صبر كول د الله په مدد سره دي نۀ ستا په قوت سره.

وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ : اَیۡ عَلٰى اِعۡرَاضِهِمۡ وَاسۡتِحۡقَاقِهِمۡ لِلۡعَذَابِ الدَّائِمِ . د دوی په اعراض (او ايمان نۀ راوړو) باندې خفګان مۀ كوه، او مۀ د دوی په هميشه عذاب باندې. (فتح البيان)

وَلَا تَكُ فِيۡ ضَيۡقٍ : اَیۡ لَايَكُنِ الضِّيۡقُ فِيۡكَ. يعني په تا كښې دِې تنګوالې رانشي. خو عكس وشو پدې كښې مبالغه ده چه دا تنګوالې دِې دومره ډير نشي چه تۀ پكښې دننه ننوزې. يعني ددې خلكو په چلونو او پلانونو زړه مۀ تنګوه او ټول كارونه الله ته وسپاره، الله ستا مددګار دې. (فتح) او ددې ضيق نه مراد د خلكو د چلونو او فريبونو نه تنګ راتلل دي چه بيا بيان پريدی او مخكښې خفګان د هغوی په ايمان نۀ راوړو وو.

ضَيۡقٍ: په زور د ضاد سره هغه ځيز ته وائي چه د هغې نه سينه تنګيږي او په زير د ضاد سره هغه تنګي ته وائي چه په فراخه ځيز كښې راځي لكه كور يا جامه. (فراء)

نكته :

(لَا تَكُ) كښې ئې دلته نون حذف كړو او په سورة النمل آيت (٧٠) كښې ئې ذكر كړيدې ځكه چه دلته خلاف القياس كار وشو دپاره د مبالغه په تسلئ كښې، يا دا چه دلته حزن زيات وو او هلته حزن دومره نۀ وو.

إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيۡنَ اتَّقَوۡا : پدې كښې زيرې دې داعي ته چه تا ته به غلبه او مدد ملاويږي پدې شرط چه تقوىٰ او احسان دركښې راشي.

مُحۡسِنُوۡنَ : ١ - مُحۡسِنُوۡنَ بِالۡعَفۡوِ. (خلكو ته معافي كوي).

٢ - اَلدَّاعُوۡنَ اِلَى اللّٰهِ بِالطَّرِيۡقَةِ الۡحَسَنَةِ. (په ښائسته طريقې سره الله ته دعوت وركوي).

۳- اَلَّذِیْنَ یَعْبُدُوْنَ اللّٰهَ كَاَنَّهُمْ یَرَوْنَهٗ ـ د الله تعالیٰ پداسے طریقه بندگی کوی لکه چه الله ته گوری۔

د تقویٰ او د احسان فرق

❁ تقویٰ کښ تعظیم د امر الله دے او په محسنون کښ اشاره ده شفقت علی عباد الله ته۔ یعنی دوی د الله د امر تعظیم کوی او د الله په بندگانو شفقت کوی۔

❁ یا تقویٰ د الله په حکمونو عمل کول دی او احسان هغه په ښائسته طریقه سره ادا کول دی۔ ❁ یا تقویٰ د حرامو نه ده او احسان په فرائضو عمل کول دی (حسن بصریؒ) لیکن عموم غوره دے۔

فائده: هرم بن حیانؒ ته د هغه د وفات په وخت وویل شو چه ته څه وصیت وکړه نو هغه وویل چه وصیت د مال وی، او ما سره مال نشته، البته زهٔ تاسو ته د سورة النحل د آخری آیتونو په یاد ساتلو سره نصیحت کوم۔ وبالله التوفیق۔

امتیازات او خصوصیات

۱- پدے سورت کښ كَثْرَةُ الْاَدِلَّةِ الْعَقْلِيَّه زیات بیان شویدی په اول او په مینځ او په آخر کښ۔ ۲- عقائد المشرکین په کښ زیات بیان شویدی چه هغه دولس دی۔

۳- او کثرة الامثله لرد الشرك۔ (د شرك د رد دپاره زیات مثالونه)

٤- او (اِنَّ اللّٰهَ یَاْمُرُ بِالْعَدْلِ) والا جامع آیت پکښ ذکر دے۔

۵- فَضِيْلَةُ الْهِجْرَةِ وَالرَّدِّ عَلَى الْاِرْتِدَادِ وَالْمُرْتَدِّيْنَ ـ (د هجرت فضیلت او په ارتداد او مرتدینو رد)

٦- د شکر بیان او د دعوت الله الی طریقه په حکمة او موعظه حسنه سره۔

ختم شو تفسیر د سورة النحل په مدد او خصوصی رحم د رب العالمین صباح یوم الجمعة ٤٠ : ٦ بجے، تاریخ : 6 جمادی الثانیة سنه 1436 هـ الموافق : 26/3/2015 ء شیخ آباد پشاور۔ وکتبه ابوزهیر سیف الله غفر له۔

بسم الله الرحمن الرحيم

ركوعاتها (١٢)	(١٧) سورة بني اسرائيل مكية (٥٠)	آياتها (١١١)

سورة بني اسرائيل مكي ده، پدے كښ يوسل يولس آيتونه او دولس ركوع دي۔

تفسير سوره بنى اسرائيل

نوم : ددے نوم (بني اسرائيل) ددے آيت (٤) ﴿ وَقَضَيْنَا اِلٰى بَنِىٓ اِسْرَآئِيْلَ فِى الْكِتَابِ لَتُفْسِدُنَّ فِى الْاَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيْرًا ﴾ نه اخستے شويدے۔ دے ته سورة ((اسراء)) او ((سورة سبحان)) هم وائي۔

فضائل

عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي : [بَنِىٓ اِسْرَائِيْلَ وَالْكَهْفُ وَمَرْيَمُ اِنَّهُنَّ مِنَ الْعِتَاقِ الْاَوَّلِ وَهُنَّ مِنْ تِلَادِىْ] (بخارى : ٤٧٠٨) باب (١٨٧) بترقيم فتح البارى) بني اسرائيل، كهف او مريم غوره پخوانى سورتونه دي (چه په مكه كښ نازل شوى) او دا زما زوړ مال دے۔

❁ او نبى كريم ﷺ فرمائي : دا سورتونه ما ته د انجيل په مقابله كښ راكړے شويدى چه دے ته مئين وائي۔ (مسند احمد : ١٧٠٢٣ باسناد حسن)

❁ او په يو صحيح حديث كښ دا هم راغلى دى [وَكَانَ يَقْرَأُ كُلَّ لَيْلَةٍ بَنِىٓ اِسْرَائِيْلَ وَالزُّمَرَ) چه رسول الله ﷺ به هره شپه سورة بني اسرائيل او سورة الزمر لوستلو۔

(صحيح ابن خزيمة رقم : ١١٦٣) واحمد (٢٤٩٥٢) وابن نصر (٦٩) وابن السنى (٢١٨) واسناده صحيح (البانى) وحسنه شعيب الارنووط)

مناسبت

١- مخكښ رد د شرك وو نو اُوس د رسول الله ﷺ شان بيانوى۔

٢- مخكښ ترغيب وو هجرت ته نو دلته د رسول الله ﷺ مدينے ته هجرت او د هغے مقدمات بيانوى چه دا نبى به هم خلك تنگوى او دے به هم هجرت كوى۔

٣- هلته د الله تعالىٰ د معرفت او د مشركينو د غلطو نظرياتو د رد عقلى دليلونه زيات وو نو دلته د بني اسرائيلو نه نقلى دليل بيانوى۔

٤- مخکښې سورت کښې شفاء په عسل سره ذکر وو نو دلته شفاء په قرآن سره ذکر کوی.
٥- مخکښې سورت کښې دعوت کښې حکمة ذکر شو نو پدې سورت کښې (٢٥) احکام د حکمة راوړی چه دا تفسیر د حکمة دے. ﴿ ذٰلِكَ مِمَّا اَوْحٰی اِلَیْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ﴾ (٣٩) آیت.

د نزول زمانه : د ابن عباس ﷺ په نیز دا ټول سورت مکی دے. د ابن الزبیرؓ هم دغه قول دے، لیکن هغه درے آیتونو ته مدنی وئیلی دی یعنی ﴿اِنَّ رَبَّكَ اَحَاطَ بِالنَّاسِ ﴾ (الاسراء: ٨٠) او ﴿ وَاِنْ كَادُوْا لَیَسْتَفِزُّوْنَكَ ﴾ (الاسراء: ٧٦) او ﴿ وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِیْ مُدْخَلَ صِدْقٍ ﴾ (الاسراء: ٨٠). او مقاتلؒ آیت (١٠٧) ﴿ اُوْتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهٖ ﴾ ته هم مدنی وئیلے دے.
ددے اولنے آیت وائی چه دا سورت د معراج د واقعے نه روستو نازل شوے وو. او د صحیح احادیثو نه دا خبره ثابته ده چه ((معراج)) د نبی کریم ﷺ د مدینے د هجرت نه صرف یو کال مخکښې واقع شوے وو گویا که دا سورت د مکی دور په آخر کښې نازل شوے وو.

موضوع او دعویٰ د سورت

١- زمونږ ځینی مشائخ وائی چه ددے سورت کښې څلور مقاصد بیانیږی چه په دے سره سورت څلورو حصو کښې تقسیمیږی (١) اول د توحید نه انکار سبب د عذاب دے او دا بیانیږی تر (٥٨) آیت پورے.
(٢) انکار د معجزاتو نه سبب د عذاب دے. لکه ﴿ وَمَا مَنَعَنَا اَنْ نُّرْسِلَ بِالْآیَاتِ کښې بیانیږی.
(٣) اِخْرَاجُ الرُّسُلِ ـ رسولان د کلو نه وستل او شړل سبب د عذاب دے، په (٧٦) آیت کښې.
(٤) او د سلم آیت نه روستو بیانیږی چه استهزاء بِالرُّسُل (د پیغمبرانو پسے توقے کول سبب د عذاب دے.
٢- لیکن د تدبر نه روستو دا خبره ښکاره کیږی چه پدے سورت کښې په عمومی توگه عِظْمَةُ شَانِ الرَّسُوْلِ فِی الدُّنْیَا وَالْآخِرَةِ بیانیږی، یعنی د رسول الله ﷺ قدر او مرتبه په دنیا او په آخرت کښې. او د هغه کمالات او د هغه په اتباع کښې خیرونه او په هغه باندے په اعتراضاتو او استهزاء کښې شرونه او عذابونه دی. په دنیا کښې ئے شان دا دے چه الله تعالیٰ آسمانونو ته پورته کړو او په آخرت کښې ئے شان دا دے چه ﴿اَنْ یَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا﴾ دۀ ته به مقام محمود ورکوی.

او ورسره به دا خبرے ملګرے کوی چه اَلشُّکْرُ عَلٰی هٰذِهِ النِّعْمَةِ ۔ پدے نعمت (د رسالت) باندے شکر پکار دے چه تاسو ته ئے رسول راولیږلو۔ ﴿ اِنَّهٗ کَانَ عَبْدًا شَکُوْرًا﴾ ﴿ فَاَبٰی اَکْثَرُ النَّاسِ اِلَّا کُفُوْرًا ﴾ او ددے سره بیا ډیرے خبرے ملګری دی۔

چه ددے نعمت انکار او پدے پورے استهزاء کول جائز نهٔ دی بلکه څوك چه انکار او استهزاء کوی نو هغوی ته به الله دنیا او آخرت کښې عذابونه ورکوی۔

بیا د قرآن طریقه دا ده چه د رسول د عظمت سره د رسول راوړے شوے خبرے عظمت هم بیانوی لکه رسول الله ﷺ امت ته د الله تعارف پیش کړیدے نو ددے وجه نه کوم خلك چه د الله سره برخه داران جوړوی، نو هغویٰ د نبی د دعوت نه انکار کوی نو د هغوی هلاکت به هم بیانیږی۔ لکه د بنی اسرائیلو حال ته وګورئ۔

او کوم خلك چه ددے نعمت قدر نهٔ پیژنی او د هغه نه انکار کوی او تکبر کوی نو دوی د ابلیس مشابه دی لکه روستو به د مشرکانو مشابهت د ابلیس سره ورکړی۔ دارنګه مشرکان د فرعون سره مشابه دی چه فرعون موسیٰ علیه السلام ته وئیلی وو چه په تا جادو شویدے نو دغه شان مشرکانو هم وئیلی وو۔ ﴿اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا﴾۔

فرعون اراده کړے وه چه بنی اسرائیل د زمکے نه وشړی ﴿ فَاَرَادَ اَنْ یَّسْتَفِزَّهُمْ﴾ نو دغه شان مشرکانو د رسول الله ﷺ د شړلو اراده کړے وه ﴿ وَاِنْ کَادُوْا لَیَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ﴾ فرعون الله غرق کړو نو دغه شان به د مشرکانو حال وی۔

او ورسره ورسره به الله تعالیٰ خپل رسول ته د ترقئ دپاره څه عملونه او آداب ورښائی لکه ﴿ اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ﴾ او تهجد او دعاګانے غواړه او دعوت ورکوه۔

او د نبی کریم ﷺ دعوت ئے ذکر کړیدے د ﴿ وَقَضٰی رَبُّكَ اَنْ لَّا تَعْبُدُوْا اِلَّا اِیَّاهُ﴾ نه۔

لنډه دا چه پدے سورت کښې د یوے یوے خبرے نه د رسول الله ﷺ شان راواخله۔

خلاصه د یومے رکوع

د اول نه ئے شان د رسول الله ﷺ داسے شروع کړیدے چه دا داسے لوی قدر والا نبی دے چه الله تعالیٰ آسمانونو ته خیژولے دے، او دا بعیده مهٔ ګڼړئ ځکه چه موسیٰ علیه السلام باندے هم الله تعالیٰ داسے کار کړے وو نو د هغه کتاب په طریقه د دلیل نقلی پیش کوی او په ﴿ذُرِّیَّةَ مَنْ حَمَلْنَا﴾ کښې شکر ته ترغیب دے۔ بیا په ﴿ وَقَضَیْنَا اِلٰی بَنِیْ اِسْرَآئِیْلَ﴾ کښې درے عذابونه د بنی اسرائیلو ذکر دی چه دوه پرے راغلی دی او د یو ئے ورسره وعده کړیده۔ روستو پرے

هغه هم نازل شویدي او دا په دوی باندې په سبب د مخالفت د رسولانو راغلی وو. (نو ددې نبی خلاف کښې مهٔ ودریږئ غرق به شئ) بیا ئې ترغیب قرآن کریم ته ورکړیدې چه دې نبی ته ورکړې شویدې. تر رکوع پورې بیا د رکوع نه روستو نور عنوانات راځي.

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

سُبۡحَانَ الَّذِیۡ أَسۡرٰی بِعَبۡدِهٖ لَيۡلًا مِّنَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ
پاکی ده الله تعالیٰ لره هغه ذات دې چه بوئې تلو بنده خپل د شپې د مسجد حرام نه
إِلَی الۡمَسۡجِدِ الۡأَقۡصَی الَّذِیۡ بَارَكۡنَا حَوۡلَهٗ
مسجد اقصیٰ پورې هغه چه برکت اچولې دې مونږ ګیر چاپیره د هغې نه
لِنُرِيَهٗ مِنۡ آيَاتِنَا إِنَّهٗ هُوَ السَّمِيۡعُ الۡبَصِيۡرُ ﴿۱﴾
دې دپاره چه اُوښایو دهٔ ته د نخود قدرت خپل نه یقیناً الله آوریدونکې، لیدونکې دې.

تفسیر :په عربی ژبه کښې (سبحان) د سَبَّحَ يُسَبِّحُ مصدر دې چه ددې معنیٰ ده التنزیه الکامل. پوره پاکی بیانول او ددې وجه نه دا صرف د الله دپاره استعمالیږی، کوم شاعر چه "سُبۡحَانَ مِنۡ عَلۡقَمَةِ الۡفَاخِرِ" وئیلی دی نو هغه ئې بې ځای استعمال کړیدې. په قرآن کریم کښې دا لفظ ډیر زیات د الله تعالیٰ د لوئی، او د تمامو عیبونو نه د هغه د پاکی بیانولو دپاره استعمال شویدې. دلته دا لفظ د الله تعالیٰ د عظمت او د هغه د کبریاء بیانولو دپاره راغلې دې چه هغه ذات په داسې خیزونو قادر دې چه په هغې بل څوك قادر نهٔ دې.

او ددې مظهر د اسراء او معراج واقعه ده چه هغه خپل بنده لره صرف په یو ساعت کښې د مسجد حرام نه مسجد اقصیٰ ته بوتلو چه دا مسافت په عامو حالاتو کښې یو مسافر په څلویښتو شپو کښې کوی.

أَسۡرٰی : إِسۡراء : د شپې بوتللو ته وئیلې شی. او روستو ئې وریسې (لَيۡلًا) وویلو پدې کښې اشاره ده تقلیل ته، یعنی توله شپه نهٔ وه بلکه د شپې څه حصه وه.

بِعَبۡدِهٖ: په اتفاق د مفسرینو د ((عبد)) نه مراد رسول الله ﷺ دې. اهل علم وائی چه که د نبی ﷺ دپاره د عبد یعنی بنده نه غوره کوم نوم د الله په نیز وې نو پدې آیت کښې به ئې ضرور هغه یاد کړې وې ځکه چه دا مقام د هغهٔ د عظمت بیانولو دې، نو پدې کښې اشاره شوه چه د انسان د مراتبو نه اشرفه مرتبه د هغهٔ عبودیت (بندګی) ده، ځکه چه د الله او د

بنده تعلق پدے سره قائميږي.

مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ : دلتـه وائي چه رسول الله ﷺ د معراج په شپه د مسجد حرام نه بـوتـلـلے شـو. او پـه احاديثو كښې دي چه نبي كريم ﷺ د ام هاني رضى الله عنها د كـور نه بـوتـلـلے شـوے وو او د سـحـر مانځه نه مخكښې واپس راغلے وو. پدے وجه ډيرو مفسرينو ليـكلي دي چه نبي ﷺ د ام هانيءؓ د كـور نـه د خانه كعبے خوا ته بوتللے شو. هلته د نبي ﷺ زړهٔ د زمزم پـه اوبـو سره ووينځلے شو، او هغه د ايمان او د حكمت نه ډك كړے شو، او بيا د هغه ځاى نه مسجد اقصىٰ ته بوتلے شو.

او ظا هر دا ده چه ددے ترمينځ هيڅ منافات نشته ځكه چه په قرآن كريم كښې د مسجد حـرام اطـلاق پـه ټـول حـرم باندے هم كيږي چه دا تقريباً ټولو طرفونو ته (۳۵) ميله علاقه ده.

الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى : ددے نه مراد بيت المقدس دے، او دے ته اقصىٰ ولے وائي؟ (۱) نو دا لـرے دے پـه اعتبار د مرتبے سره يعني اُوچت مسجد. (۲) يعني بعيد دے د مسجد حرام نه ځـكه چه دا د څلويښتو شپو د مسافت په اندازه د مسجد حرام نه وړاندے دے. او د رسول الله ﷺ دويمه قبله ده او بهترين مسجد دے.

﴿ الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ ﴾ ظاهري او باطني بركات. يعني لرے هغه مسجد چه د هغه نه گير چاپيره الله تـعـالـىٰ د ديـن او د دنيا بيشماره بركتونه ايخودي دي، چه هلته لوى لوى اولو العزم انبياء عليهم السلام راغـلـي دي، او د بيشماره اولياؤ او صالحينو مسكن پاتے شويدے او په هغے كښې قسم قسم ميوے او خوراكي څيزونه او صحتمنده آب و هواء پيدا كيږي.

دارنگه زمونږ د نبي قبله ده، او عام انسانان به د قيامت په ورځ هغے ته راجمع كيږي.

(فتح البيان)

لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا : ۱- الْحِسِّيَّة ۲- وَالْعَقْلِيَّة. چه ظاهري نخے هم ويني او عقلي هم. لكه د سورة النجم په (۱۸) آيت كښې دي : ﴿ لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَىٰ ﴾ (د خپل رب لوى لوى نخے ئے وليدلے)

ددے (اسراء او معراج) مـقـصـد دا بيان شو چه الله تعالىٰ خپل بنده ته د خپلو عظيمونو آيتـونـو او نـخـو مشاهده كول غواړي، چه هغه نبي كريم ﷺ د شپے صرف په يو ساعت كـښې د څـلـويښتو شپو مسافت وهل، د بيت المقدس مشاهده، انبياء كرام د هغه مخے ته راتـلـل، او هـغـوى تـه امـامـت كـول او د انبيـاء كرامو اُوچت او اعلىٰ مقامات ليدل، او بيا د

آسمانونو دروازے کو لاویدل او د جنت او جهنم وغیره لیدل کول۔
مِنْ آيَاتِنَا کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ ئے نهٔ دے لیدلے، بلکه د هغه د قدرت نخے ئے لیدلی دی، البته الله تعالیٰ ئے لیدلے خو په زړه سره نهٔ په ظاهری سترګو سره۔
دا آیات ئے ورته ولے خودل دے کښې څه راز وو؟ ❁ نو وجه دا ده چه ابراهیم علیه السلام ته الله تعالیٰ دغسے خودلی وو ﴿ وَكَذٰلِكَ نُرِيْ إِبْرَاهِيْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ﴾ (انعام: ۷۵) الله ورته د آسمانونو او د زمکے بادشاهی او عجائب د قدرت خودلی وو دے دپاره چه یقین ئے ډیر شی)۔ نو دغسے الله خپل نبی له هم یقین مضبوطولو۔
بیا یقین ورله ولے مضبوطوی ؟ د هغے وجه دا ده چه رسول الله ﷺ د امت داعی دے او د داعی یقین چه کمزورے وی نو مخاطبین ئے هم کمزوری وی، او چه یقین مضبوط وی نو په خبره کښې ئے اثر زیات وی لکه د رسول الله ﷺ خبرے څومره مخکښې زمانه کښې شویدی او تر اُوسه بلکه تر قیامته پورے په کښې اثر موجود دے۔ ځکه چه کله ایمان بالغیب په ایمان بالشهادة بدل شی نو بیا به څومره قوی خبره کوی
❁ او بله دا چه په دهٔ باندے به د قوم د طرفنه سختے راځی نو دے به فکر کوی چه هغه الله چه زهٔ ئے بره بوتلے وم د هغه دپاره دا مصیبتونه برداشت کوم نو خبره به ورته آسانیږی۔
بعض علماؤ لکه تفتازانی لیکلی دی چه قرآن کریم کښې اسراء ذکر ده (چه دا تر بیت المقدس پورے ده) او معراج په کښې نهٔ دے ذکر (کوم چه آسمانونو ته شویدے) او هغه په احادیثو کښې راغلے دے۔ بیا ئے وئیلی دی چه که څوک د اسراء نه انکار وکړو نو کافر دے او که د معراج نه انکار وکړی نو کافر نهٔ دے (ځکه چه احادیث ظنی ګڼړی) لیکن مونږ وایو چه دواړه خبرے قرآن کریم کښې ذکر دی، اسراء پدے آیت کښې راغله او معراج په سورة النجم (۱۳) آیت کښې ذکر دے ﴿ وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى﴾ لیکن هغه ته دا مسئله نهٔ وه ښکاره شوے۔ بله دا چه دا په متواترو احادیثو سره ثابت دے او د ټولو مسلمانانو پدے اجماع ده لکه تفسیر قرطبیؒ هغه تواتر نقل کړیدے۔ او د تواتر نه انکار بالاتفاق کفر دے۔

د معراج واقعه بدنی وه او که صرف د خوب؟

مسئله: البته پدے کښې لږ شان اختلاف وو چه آیا رسول الله ﷺ په خوب کښې بره آسمانونو ته تلے وو او که په ویښه؟ د بعض احادیثو نه داسے معلومیږی چه [بَيْنَا اَنَا نَائِمٌ] چه کله دا واقعه راپیښه شوه نو زهٔ اُوده وم۔ یا د قرآن کریم د آیت ﴿ وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَا الَّتِيْ

اَرَيْنَاكَ ﴾ (الاسراء : ٦٠) نه ئے دليل نيولے دے چه دے ته رؤيا (خوب) وئيلے شويدے۔
او ابن اسحاقؒ د عائشه او معاويه رضى الله عنهما نه نقل كړيدى چه د رسول الله ﷺ جسم مبارك د خپل ځاى نه ورك شوے نۀ وو۔
ليكن دا رايه مرجوحه ده، وجه دا ده چه په خوب كښې خو هر شخص آسمانونو او جنت او جهنم ته تللے شي نو بيا زمونږ او د هغۀ فرق په څه شو۔ په خوب كښې تلل خو دومره كمال نۀ دے۔ ❁ دويمه وجه مشركانو پدے كار باندے شور ولے جوړولو او چغه ئے خلكو ته ولے كوله څكه چه هغوى هم دا وئيلے شو چه په خوب كښې مونږ هم تللے شو، دا خو سبب د انكار نۀ ګرځي، هغوى ته اشكال پدے راغلے وو چه په ويښه باندے انسان څنګه آسمانونو ته په دومره لږ وخت كښې وخيژي او بيرته راكوز شي۔ او عبد الله بن عباس ﷺ په دغه آيت (الرُّؤْيَا) كښې وئيلى دى چه [رُؤْيَا عَيْنٍ اُرِيَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مِنَ الْعَجَائِبِ] دا د ستركو ليدل وو چه رسول الله ﷺ ته دغه عجائبات خودلے شوى وو۔ او بل قرآن كريم پرے دليل دے ﴿مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى﴾ (النجم : ١٧) رسول الله چه څه په ستركو كتل نو د هغے نه ئے نظر كوږ شوے نۀ وو او نۀ ترے اخوا اوړيدلے وو)
د سلفو او خلفو د اكثرو علماؤ هم دا رائے ده چه نبى كريم ﷺ د جسم او روح دواړو سره بيت المقدس او بيا آسمانونو ته تشريف وړے وو۔ د ابن عباس، جابر، انس، حذيفه، عمر، ابو هريره، مالك بن صعصعه، ابو حبه البدرى، ابن مسعود (ﷺ)، د ضحاك، سعيد بن جبير، قتاده، سعيد بن المسيب، ابن شهاب، ابن زيد، حسن، مسروق، مجاهد، عكرمه او ابن جريج (رحمهم الله) همدا قول دے۔ د طبرىؒ، احمد بن حنبلؒ او اكثرو متأخرينو فقهاءِ او محدثينو او متكلمين مفسرينو هم دا قول دے۔
قاضى عياضؒ په خپل كتاب «الشفاء» كښې ليكلى دى چه حق او صحيح ان شاء الله دا ده چه د معراج واقعه د نبى ﷺ د جسم او روح دواړو سره راپيښه شوے وه۔ د آيت كريمه او صحيح احاديث او د سوچ او فكر نه همدا خبره ثابتيږى۔ او ظاهرى معنىٰ پريخودلو سره د تاويل لاره په هغه وخت اختياريږى كله چه ظاهرى معنىٰ مراد كول ممكن نۀ وى۔ او د جسم سره په حالت د بيدارئ كښې د معراج واقع كيدل د الله د قدرت نه وړاندے نۀ دى۔ كه روحانى سفر وے نو الله تعالىٰ به د «بِعَبْدِهٖ» په ځاى «بِرُوْحِ عَبْدِهٖ» وئيلے، او كه د خوب سفر وے نو پدے كښې نۀ نخه كيده او نۀ څه معجزه، او نۀ به كافرانو دا د عقل نه بعيده خبره ګڼړلے او نۀ به ئے ددے انكار كولے، او نۀ به پدے سره ضعيف مسلمانان مرتد كيدلے او په

فتنه کښې واقع کیدلے۔ ځکه چه د داسے خوبونو نه خو انکار نشي کیدے۔ بلکه دا چه که دا د خوب واقعه وے نو د هغے دپاره ((اَسْرٰی)) لفظ نۀ استعمالیږی۔ آه۔

(القاسمیؒ فی محاسن التاویل)

ځینی علماؤ وئیلی دی چه د رسول الله ﷺ معراج په ویښه یو کرت شویدے او په خوب کښې بار بار شویدے۔

د معراج واقعه کله راپیښه شوه؟

پدے کښې اختلاف د علماؤ دے؟ مګر د اکثرو مفسرینو رائے ده چه د معراج واقعه د هجرت نه یو کال مخکښې واقع شوے وه۔ د زهریؒ او ابن سعدؒ وغیره هم دا قول دے۔ د امام نوویؒ په نیز هم دا صحیح ده۔ امام ابن حزمؒ خو د مبالغے نه کار اخستے دے او پدے باندے ئے اجماع نقل کړیده، او وئیلی ئے دی چه معراج په رجب میاشت سنه (۱۲ ھ) نبوی کښې واقع شوے وو۔ حافظ عبد الغنی مقدسیؒ اووه ویشتم (۲۷) تاریخ د رجب ته ترجیح ورکړیده او وئیلی ئے دی چه د خلقو په همدے عمل دے۔

بیا په حدیث د معراج کښې دی چه نبی ﷺ انبیاء کرامو (علیهم السلام) ته په بیت المقدس کښې مونځ وکړو۔ آه۔ هلته ورته الله تعالیٰ یو لاکھ څلیریشت زره انبیاء علیهم السلام راجمع کړی وو، دا جماعت کول یا په واپسئ کښې وو یا ددے طرف نه وو، ظاهر دا ده چه ددے طرف نه وو، بیا د هغے نه روستو بره آسمانونو ته د جبریل علیه السلام په بُراق وختلو او هلته ئے د انبیاء علیهم السلام په ترتیب د حروفو د (اَعْیَا هُمَا) سره ملاقات وکړو یعنی (آدم، عیسی، یوسف ویحیٰی، ادریس، هارون، موسیٰ او ابراهیم علیهم السلام)

بیا به پدے باندے خپل عقل نۀ چلوے چه بیت المقدس کښې یو لاکه څلیریشت زره پیغمبران څنګه راجمع شی، هغه خو ددے نه وړوکے دے، یا دغه علاقه کښې خو یهود او نصاریٰ هم موجود وو، هغوی څنګه نۀ لیدل۔ نو دا معجزه ده پدے باندے قیاسونه نشی کیدے۔ او داسے وینا به غلطه وی چه وګوره مړی دی او په دنیا کښې ګرځی راګرځی، خلکو سره مددونه کولے شی دا شرك ته لاره کولاوه ول دی۔

بیا رسول الله ﷺ د اُووه آسمانونو نه بره شو نو دغه ځای کښې ترے جبریل علیه السلام پاتے شو تردے چه رسول الله ﷺ داسے علاقے ته ورغلو فرمائی چه (مُسْتَوًی اَسْمَعُ فِيْهِ صَرِيْفَ الْأَقْلَامِ) هواره علاقه وه چه ما په هغے کښې د قلمونو کشاریے آوریدو۔ الله تعالیٰ سره براهِ

راست مخامخ ملاقات ونشو ځکه چه دا د الله تعالیٰ د کبریاء تقاضا ده او په دنیا کښې بنده ته الله تعالیٰ دا طاقت نهٔ دے ورکړے چه الله په خپلو سترګو سره وینی۔ خو په زړه باندے ئے ولیدو او الله تعالیٰ ورسره خبرے وکړے او جنت او جهنم او اشخاص ئے پرے ولیدل او دغسے نور ډیر عجائبات ئے پرے ولیدل او په واپسئ کښې ورته الله تعالیٰ درے خبرے ورکړے پنځوس مونځونه، خواتیم د سورة البقره او (وَغَفَرَ لِأُمَّتِهِ الْمُقْحِمَاتِ) او د هغه امت ته ئے کبیره ګناهونه معاف کړل۔ دا درے واړه انتهائی قیمتی خبرے دی چه هر مؤمن له پدے باندے واه واه وئیل پکار دی او الله ته سجده د شکر پکار ده۔

رسول الله ﷺ په واپسئ کښې په موسیٰ علیه السلام باندے راتیر شو، هغه ترے تپوس وکړو: [مَا فَرَضَ اللّٰهُ عَلٰی اُمَّتِكَ] ستا په امت باندے الله تعالیٰ څو مونځونه فرض کړل، وے ویل پنځوس۔ ورته ئے وفرمایل: ستا امت ددے طاقت نهٔ لری، هغه لاړو پنځه ئے کم کړل بیا لاړو پنځه ئے کم کړل بیا لاړو آخر دا چه پنځه پاتے شو، بیا ئے ولیږلو چه دا هم پرے کم کړه ځکه چه زما په امت باندے د پنځو مونځونو نه کم فرض وو (څلور مونځونه وو) نو ستا امت به ئے څه وکړی؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: [اَرْضٰی وَاُسَلِّمُ] زهٔ پدے راضی یم او الله ته تسلیم یم۔ نو الله وفرمایل: [اَمْضَیْتُ فَرِیْضَتِیْ وَخَفَّفْتُ عَنْ عِبَادِیْ]

ما خپله فریضه نافذه کړه او په خپلو بندګانو مے آسانی راوسته، او تاسو ته به په بدله د پنځو مونځونو کښې د پنځوس مونځونو ثواب درکوم۔ بیا صبا له وریسے جبریل علیه السلام راغلو او د مونځونو اوقات ئے ورته وخودل۔ په اوله ورځ ئے ورته اول وخت او په دویمه ورځ ئے ورته آخر وخت د مونځونو وخودلو۔ دا وه مختصره واقعه د معراج چه تفصیل ئے زمونږ په کتاب ((سیرت الرسول - ﷺ)) کښې کتلے شئ۔

بیا دلته عجیبه خبره دا ده چه الله تعالیٰ رسول الله ﷺ ته حکم وکړو چه دا واقعه چه په تیره شوه دا به مشرکانو ته بیانوے، او دا ډیر لوی امتحان دے چه په هغه زمانه کښې جدید آلات نهٔ وو موجود، په هوا باندے الوتلو سره هیڅوك مانوس نهٔ وو، او مخاطبین مشرکان دی چه ایمان هم پکښې نشته او کافر ته داسے وائی چه ما داسے کار کړیدے نو دا خو د هغه په زوره ګمراه کول دی۔

نو په روایت د مسند احمد کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ سهار په مسجد حرام کښې ناست وو نو ابو جهل پرے اول راتیر شو، ورته ئے وویل چه اے وراره! څنګه خفه ناست ئے، بیا درته څه وحی شویده او که څنګه؟ توقے ئے ورپورے وکړے۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل

: آؤ، زۀ خو بیګاه بیت المقدس ته تلے وم او د هغه ځای نه آسمانونو ته ختلے او بیرته واپس راغلے یم، هغه ووئیل : دا ټول په یوه شپه کښې؟ هغه ووئیل : آؤ په یوه شپه کښې۔ نو ابوجهل سمدست تکذیب ونکړو بلکه رسول الله ﷺ ئے پدے خبره مضبوطولو (د هغه نور خلك ګمراه کول مقصد وو) آیا ته دا خبره بل چا ته هم کولے شے ؟ نو هغه ووئیل : آؤ، نو ابوجهل خلکو ته آواز وکړو چه محمد (ﷺ) تاسو ته یوه ناشنا خبره کوی۔
بیا ئے هغه ته ووئیل چه ما ته دِے کومه خبره وکړه دا دوی ته وکړه۔ نبی کریم ﷺ ورته دغه واقعه بیانه کړه۔ (مسند احمد: ۲۸۲۰)
نو پدے وخت کښې بعض ضعیف مسلمانان بی ایمانه شو، دے ته امتحان وائی، د دوی په زړونو کښې دا خبره راغله چه دے محمد (ﷺ) به اُوسه پورے داسے خبرے کولے چه عقل به منلے اُوس داسے خبرے کوی چه عقل ئے نۀ منی، نو دا صحیح نۀ ښکاره کیږی لکه چه الله تعالیٰ روستو فرمایلی دی : ﴿ وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَا الَّتِيْ اَرَيْنَاكَ اِلَّا فِتْنَةً لِلنَّاسِ﴾ دا فتنه شوه۔
مشرکانو خنداګانے شروع کړے چه مونږ به ویل چه دماغ ئے خراب دی دا خو رشتیا ده۔
ابوجهل روان شو دے دپاره چه ابوبکر صدیق ﷺ ترے واړوی، (داعی د ګمراهۍ وو) ابوبکر ﷺ سره ملاؤ شو (ابوبکر ﷺ لا ددے واقعے نه خبر نۀ دے) ورته ئے ووئیل چه آیا تا ته پته شته چه ستا یار څه وئیلی دی ؟ څه ئے ویلی دی ؟ وے ویل چه دا وائی چه زۀ بیت المقدس ته بیا آسمانونو ته په یوه شپه کښې تلے راغلے یم۔ نو ابوبکر صدیق ﷺ وفرمایل: (اِنِّىْ لَاُصَدِّقُهٗ فِيْ اَسْرَعَ مِنْ ذٰلِكَ) زۀ ددۀ تصدیق کوم په زیات تیزئ سره ددے نه هم۔ هغه حیران شو او د ابوجهل خبره ئے په خوله کښې اُوچه کړه۔ دے ته صدیق اکبر ﷺ وائی۔
پدے وخت کښې مشرکانو اعتراضونه شروع کړل، اول اعتراض چه که تۀ پدے خبره کښې رشتینے ئے نو دا راته وښایه چه د بیت المقدس څو دروازے او څو کړکئ او څو ستنے دی؟ دا بی ځایه اعتراضونه دی، د هدایت اراده ئے نشته صرف د حق داعی تنګول او د هغۀ خبره خامخا دروغجنه ګڼل۔ رسول الله ﷺ فرمائی : زۀ پدے وخت کښې ډیر پریشانه شوم (ځکه چه زۀ خو بیت المقدس ته ددے شمار دپاره نۀ وم تلے) او مشرکانو ته دا د مخکښې نه معلومه وه چه رسول الله ﷺ بیت المقدس مخکښې نۀ دے لیدلے، نو الله تعالیٰ ما ته بیت المقدس راپورته کړو او زۀ په حطیم کښې ولاړ وم او ما هغے ته کتل او د مشرکانو جوابونه به مے ورکول (دا بله معجزه شوه) نو ټول لاجوابه خړ شو لیکن بیا ئے هم انکار کولو۔
بله معجزه مے دا بیانه کړه چه ستاسو یوه قافله ده چه په فلانی علاقه کښې روانه ده او

په فلانئ ورځ به رارسیږي او د هغوی په قافله زۀ د شپې راتیر شوم او د هغوی په لوښي کښې اُوبه پرتې وې چه سر پرې پروت وو، ما ترې دغه اُوبه وڅکلې او لوښې مې همغه شان کیخودو، کله چه قافله راغله نو په همغه ورځ راورسیده په کومه ورځ چه رسول الله ﷺ خودلې وه نو هغوی نه ئې دغه شان تپوس وکړو، هغوی ددې اقرار وکړو چه آؤ دغه لوښې خالي شوې وو بغیر د اوریدو نه.

لیکن ددې معجزې د لیدو سره هم ددې ضدیانو کفر نور مضبوطیدو.

د معراج په واقعه کښې ډیر فوائد دی، زمونږ د رسول الله ﷺ عزت دې، د مانځه فضیلت دې، د رسول الله ﷺ د یقین مضبوطول دی، هغه په خپلو سترګو جنت او جهنم ولیدل او هغه رشتینی دې، مونږ ته ئې حال وویلو، خبره حقه شوه نو امت له پکار ده چه پدې خبره یقین وکړي، پدې واقعه کښې د الله د قدرت نخې او د دعوت طریقه هم خودلې شویده. او په حق کښې هر قسم مشکلات راتللې شي.

وَآتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَجَعَلْنَاهُ هُدًى لِبَنِي إِسْرَائِيلَ
او ورکړې وو مونږ موسیٰ ته کتاب او ګرځولې وو مونږ هغه هدایت دپاره د بنی اسرائیلو
أَلَّا تَتَّخِذُوا مِنْ دُونِي وَكِيلًا ﴿٢﴾ ذُرِّيَّةَ مَنْ
(پدې خبره) چه مۀ نیسئ سوی زما نه کارساز. اې اولاد د هغه چا
حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ إِنَّهُ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا ﴿٣﴾
چه مونږ سواره کړي وو د نوح (علیه السلام) سره یقیناً هغه وو بنده شکر ګذار.

تفسیر : د نبی کریم ﷺ او د معراج ذکر کولو نه روستو د موسیٰ کلیم الله علیه السلام او د هغۀ کتاب تورات ذکر کوی. نو دا ګویا که دلیل نقلی دې د موسیٰ علیه السلام نه چه الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام لره طور ته راغوختې وو او دا د هغۀ معراج وو او کتاب ئې ورته ورکړې وو نو دغه شان ئې خپل نبی باندې معراج وکړو او کتاب ئې هم ورته ورکړو د دواړو کتابونو مقصد د راتللو د توحید دپاره دی او خلاصه ئې دا ده چه د الله نه سوئ هیڅ کار ساز او ذمه وار او معبود مۀ جوړوئ.

هُدًى: یعني تورات هدایت وو نو نهم آیت کښې وائي ﴿ إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ

اَقْوَمُ﴾ دا قرآن هم هدایت دے۔
وَكِيْلًا: ۱- اَىْ مُتَوَكِّلِينَ عَلَيْهِ فِىْ اُمُوْرِهِمْ۔ چه په خپلو کارونو کښې په هغه توکل کوئ او هغه ته کارونه سپارئ پدے نیت چه دا ستاسو کار ساز دے۔
۲- كَفِيْلًا بِاُمُوْرِهِمْ۔ ذمه وار د هغوی د کارونو۔ (فراءؒ)
۳- شریك۔ (قرطبیؒ وفتح البیان)
ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا : پدے کښې شکر ته ترغیب ورکوی۔ ذُرِّيَّةَ منصوب دے حرف منادیٰ پټه ده (يَا ذُرِّيَّةَ) او په آخر کښې (اُشْكُرُوْا) لفظ پټ دے۔ او په ذُرِّيَّةَ لفظ ذکر کولو کښې د انعام احساس ورکوی چه ستاسو مخکښے نیکه ئے په دریاب کښې د ډوبیدو نه بچ کړے وو، که هغه نهٔ وے نو تاسو به هم اوس نهٔ وے نو دا ستاسو سره احسان شو نو ستاسو نیکه (نوح عليه السلام) خو شکر گزار بنده وو نو تاسو به هم شکر کوئ۔ نو مونږ له په دوه څیزونو شکر پکار دے یو دا چه مونږ ته الله تعالیٰ محمد رسول الله ﷺ راولیږلو او قرآن ئے راکړو او دویم په وجود باندے چه مونږ نشت وو او بیا ئے دنیا ته راوستو۔
ابن مردویهؒ د عبد الله بن زید الانصاری رضي الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ دا آیت ولوستلو او بیا ئے وفرمایل : د نوح عليه السلام صرف څلور اولاد وو، حام، سام، یافث او کوش نو دغه اولادو نه روستنی انسانان پیدا شو)) (فتح البیان)
عَبْدًا شَكُوْرًا : ابن ابی الدنیاؒ په ((کتاب الشکر)) کښې ذکر کړیدی : [كَانَ اِذَا اَكَلَ قَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَاِذَا شَرِبَ وَاِذَا رَكِبَ قَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ] ۔ چه کله به ئے خوراك څکاك او سوریدل کول نو الحمد به ئے وئیله۔ یعنی هر حالت کښې۔

وَقَضَيْنَا اِلٰى بَنِىْ اِسْرَائِيْلَ فِى الْكِتَابِ لَتُفْسِدُنَّ فِى
او فیصله آورولے وه مونږ بنی اسرائیلو ته په کتاب کښې خامخا فساد به کوئ په
الْاَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيْرًا ﴿٤﴾ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ
زمکه کښې دوه کرته او لوئی به کوئ تاسو په لوئی غټیے سره۔ نو هرکله چه راغله وعده
اُوْلٰهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَا
اولنئ زمونږ (د فساد د دوی) نو راولیږل مونږ په تاسو باندے بندګان زمونږ

أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ فَجَاسُوا خِلَالَ الدِّيَارِ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا ﴿٥﴾

چه ډير سخت جنګ والا وو نو ننوتل دوی مينځ د کورونو ته او وه دا وعده پوره کړے شوے۔

ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَأَمْدَدْنَاكُم بِأَمْوَالٍ

بيا راواپس کړه مونږ تاسو ته غلبه په دوی باندے او زيات کړل مونږ ستاسو مالونه

وَبَنِينَ وَجَعَلْنَاكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ﴿٦﴾ إِنْ أَحْسَنتُمْ أَحْسَنتُمْ

او ځامن او وګرځول مونږ تاسو ډيرے ډلے والا۔ که نيکي کوئ تاسو نو نيکي کوئ تاسو

لِأَنفُسِكُمْ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا فَإِذَا

د خپلو نفسونو د فائدے دپاره او که تاسو بدي کوئ نو ضرر به ئے په هغے وی نو هرکله

جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ لِيَسُوءُوا

چه راغله وعده روستنئ (نو راوليږل مونږ په تاسو ظالمان) دے دپاره چه بد کړي (خفه

وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ

کړي) مخونه ستاسو او دے دپاره چه داخل شي مسجد ته لکه چه داخل شوی وو اول

مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا مَا عَلَوْا تَتْبِيرًا ﴿٧﴾

ځل او دے دپاره چه هلاك کړي هغه شے چه د دوی پرے وس بر شي په هلاکولو سره۔

عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يَرْحَمَكُمْ وَإِنْ عُدتُّمْ

نزدے ده چه رب ستاسو به رحم وکړي په تاسو او که تاسو راواپس شوئ (فساد ته)

عُدْنَا وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ حَصِيرًا ﴿٨﴾

مونږ به راواپس شو (ستاسو سزا ته) او ګرځولے دے مونږ جهنم کافرانو لره جيل خانه۔

تفسير: دا تخويف دے په ذکر د قصه د بني اسرائيلو سره، چه بني اسرائيلو د پيغمبرانو دشمني کريده نو الله څنګه ذليله کريدی نو که تاسو د محمد ﷺ په مقابله کښې ودريدئ نو دغه شان به ذليله کيږئ۔ او دغه شان وشوه چه صحابه کرامؓ د هغوی کورونو ته سيده ورننوتل او هغوی خږ سترګي شو لکه چه يهودو سره دغه شان کار شوے وو۔

وَقَضَيۡنَا : (اَیُ اَخۡبَرۡنَا) یعنی مونږ خبر ورکړے وو۔ او خبر ته ئے قضاء (فیصله) لفظ استعمال کړو ځکه چه دا یواځې خبر نۀ وو بلکه ددے فیصله شوے وه۔ یعنی الله تعالیٰ په تورات کښې د بنی اسرائیلو په باره کښې دا خبر ورکړے وو چه دا خلق به ګناهونه کوی او په زمکه کښې به فساد خوروی، د الله د قوانینو نافرمانی به کوی، او په خلقو به ظلمونه کوی۔ نو دوی همدغسے وکړل او زمکه ئے د ظلم او فساد نه ډکه کړه، نو الله تعالیٰ په دوی باندے داسے خلق مسلط کړل چه ډیر زیات طاقتور او ظلم او زیاتی والا وو۔ دوی د هغوی کورونو ته ننوتل او بنه قتل او لوټ مارئے وکړو او هغوی ئے غلامان جوړ کړل۔ کله چه دوی د خپلو ګناهونو نه توبه وویستله نو الله تعالیٰ دوی ته دویم ځلی اولاد او مال او دولت ورکړو او د دوی په اولادو کښې ئے بنه برکت واچولو تردے چه د دوی شمار ډیر زیات شو۔

لَتُفۡسِدُنَّ : دا دوه مرضه (العلو والفساد) په فرعون کښې هم وو لکه په سورة القصص کښې به راشی ان شاء الله۔ او دا په یهودیانو کښې هم وو او د مکے په مشرکانو کښې هم وو او دا زمونږ د زمانے په مشرکانو او اهل بدعو کښې هم موجود دی۔

د فساد او علو مصداقات

فساد : ۱ – حقوق الله بربادول دی او علو حقوق العباد بربادول دی۔

۲ – فساد صد عن سبیل الله ته وائی او علو خپله حق نۀ منل او حق له دیکه ورکول۔

بیا دلته د فساد نه مراد څه شے دے؟ : اَیُ لَتُخَالِفُنَّ شَرِیۡعَتَیۡنِ ۔ د دوه شریعتونو مخالفت به کوئ یو د موسیٰ علیه السلام شریعت او بل د عیسیٰ علیه السلام شریعت۔

او دا فساد په کفر او ګناهونو سره وو۔ (قاسمیؒ)

فِی الۡاَرۡضِ: د زمکے نه مراد زمکه د فلسطین بیت المقدس ده چه هغه مبارکه ده۔

مَرَّتَیۡنِ: یعنی تاسو به د پیغمبرانو په خلاف کښې دوه ځله ودریږئ نو الله به په تاسو دوه عذابونه راولی۔ نو پدے کښې اشاره ده چه د نبی خلاف دومره بد شے دے چه عذابونه پرے راځی۔

د بنی اسرائیلو د حالاتو بعض تفصیلی

د قرآن کریم غرض مقصد ته اشارات ورکول دی، تفصیل د قصے نۀ کوی، نو ددے اجمال د زیاتے پوهے دپاره معمولی شان تفصیل ضروری دے۔ وائی چه د عیسیٰ علیه السلام نه تقریباً څه دپاسه نهه سوه کاله مخکښې د سلیمان علیه السلام د مرګ نه روستو د هغه ځوی د حکومت

واګے سنبال کړے چه هغه د خپل قوم دپاره د بتانو عبادت جائز وګرځولو۔ نو د هغه د پنځه کاله حکومت کولو نه روستو د مصر بادشاه په بیت المقدس باندے حمله وکړه او هیکل سلیماني یعني د مسجد اقصی خزانے ئے لوټ کړے۔ او حالت دے ته اُورسیدو چه ملك دوه ټکړے شو۔ دیو نوم مملکت د یهوذا شو چه هغه د یهوذا او د بنیامین په اولادو مشتمل وو۔ او د دویم نوم مملکت د اسرائیلو شو چه د یعقوب علیه السلام د نورو لسو اولاود نه جوړ وو۔ د مملکتِ اسرائیل اولنے بادشاه یربعام شو چه هغه د سرو زرو دوه سخی جوړ کړل او خپل رعیت ته ئے د هغے د عبادت کولو حکم وکړو دے دپاره چه د دوی بیت المقدس ته تلل رانهٔ شي۔ ځکه چه هغه یریدو چه هلته په تلو سره د یهوذا د مملکت بادشاه (یعني د سلیمان ځوی) تائید ونهٔ کړي۔ دے خلقو دوه نیم سوه کالو پورے حکومت وکړو۔ پدۓ مینځ کښې د دوی بعض بادشاهانو د بت پرستۍ ختمولو کوشش وکړو لیکن بیرته اولنے حالت راواَپس شوے وو۔

کله چه د دوی ګناه نوره زیاته شوه نو الله تعالیٰ په دوی باندے د آشور بادشاه مسلط کړو چه د هغه په لاسونو د مملکتِ اسرائیل خاتمه اُوشوه۔ دے نه روستو د یهوذا مملکت د شلو کالو نه زیاتو ورځو پورے باقي پاتے وو۔ آخر د دوی بادشاه یو لوئي خبیث او مشرك سړے شو چه د هغه د ګناهونو په وجه الله تعالیٰ په دوی باندے د بابل بادشاه بخت نصر مسلط کړو چه هغه ډ دوی نه ډیر کسان غلامان کړل۔ دا د دوی اولنے ذلت او رسوائي وه چه دے ته قرآن اشاره کړیده۔

دے نه روستو ددهٔ ځوی بادشاه جوړ شو چه د خپل پلار په شان شري وو۔ دهٔ ته د بابل حکومت راواپس کړے شو او فلسطین ئے آزاد کړو لیکن د اته کالو نه روستو دوباره بخت نصر بیا په دوی باندے حمله وکړه او ښه لوټ مار ئے وکړو او ډیر ئے غلامان کړل۔ دا د دوی دویم ځلي ذلت او رسوائي وه۔

د دوی آخري بادشاه د ټولو مخکنو بادشاهانو نه زیات خراب وو، پدے وجه الله تعالیٰ دریم ځلي د بابل بادشاه د دوی په خلاف په فوج لیږلو راپورته کړو، هغه د بیت المقدس محاصره وکړه، بادشاه ئے په زنځیرونو کښې وتړلو، ښار او هیکل سلیماني ئے وسیزلو، او د څه مسکینانو نه سوئ ټول یهوذا قوم ئے غلامان کړل، او دوی ئے د حیواناتو په شان راخکل او بابل ته ئے بوتلل او د یهوذا د مملکت خاتمه وشوه۔

دا د دوی دریم ځلي ذلت او رسوائي وه۔

اويا (٧٠) كاله روستو چه كله د غلامئ نه آزاد شول نو دويم ځلى فلسطين ته را غلل او هلته آباد شول او بيت المقدس ئے دوباره تعمير كړو او هيكل ئے ودرولو.

ليكن دے نه روستو هميشه د يو نه يو اثر لاندے وسيدلى دى.

د فارس او يونان او د روم بادشاهانو دوى كله هم چين او سكون ته نهٔ دى پريخى، تردے پورے چه عمر بن خطاب رضي الله عنه بيت المقدس فتح كړو او د صخرے نه قبلے طرف ته ئے مسجد تعمير كړو (چه دا د قسطنطين بادشاه د مور هيلانه په حكم سره د گندونو ډيران جوړ شوے وو. عمر فاروق رضي الله عنه دغه گندونه صفا كړل او قبلے طرفته ئے پريے مسجد جوړ كړو چه هغه دويم ځلى وليد بن عبد الملك په زوره بنياد جوړ كړو او قبة الصخره ئے هم جوړه كړه او تر اُوسه پورے باقى دے. (محاسن التاويل للقاسمىؒ)

دا وو هغه تفصيل چه قرآن كريم ورته په جامعو الفاظو كښ اشاره كړے وه.

فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ أُولَاهُمَا : عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمائى : اول فساد د دوى قتل د زكريا عليه السلام وو نو الله په دوى باندے د نبطو بادشاه راوليږلو. بيا بنى اسرائيلو تيارے وكړو او د نبطيانو سره ئے جنگ وكړو نو هغوى ته ئے ماتے وركړه لكه الله تعالىٰ په ﴿ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ﴾ كښ ذكر كړيدى.

عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمائى په اول ځل په دوى باندے جالوت راغلے دے (د كوم واقعه چه په سورة البقره كښ ذكر شويده) او په دويم ځل باندے په دوى باندے بختنصر راوليږلو نو بيا الله تعالىٰ په هغوى باندے ددے امت مؤمنان مسلط كړل. (فتح البيان ١٠٥/٤)

او بعض وائى چه دا دويم ځلى حمله آور قُسْطُنْطِيْنُ الْمَلِكُ دے چه دا اول يهودى وو مور ئے نصرانيه شوه نو دا هم نصرانيت ته راواوړيدو نو بيا ئے يهوديانو ته سختے سزاگانے وركړے او دين ئے هم ورله برباد كړو بيا ئے د نصاراؤ دين هم خراب كړو.

عِبَادًا لَّنَا : دا ضرورى نهٔ ده چه دا به نيكان بندگان وى يعنى د الله غلامان دى.

أُولِىْ بَأْسٍ شَدِيْدٍ : مفسرين دلته مختلف قسمه خلك ذكر كوى څوك بختنصر او د هغه لښكر، او څوك جالوت او څوك د فارس والو لښكر، او څوك د بابل والو او څوك سنحاريب د نينوىٰ علاقے، نو دے خلكو د بنى اسرائيلو علماء قتل كړل او تورات ئے وسيزلو او مسجد اقصىٰ ئے وران كړو او د دوى نه ئے اويا زره كسان قيديان كړل.

(فتح البيان)

فَجَاسُوْا خِلَالَ الدِّيَارِ : جاس گدوډ گرځيدو ته وائى. او زجاجؒ وائى چه جَوْس طَلَب

الشَّیْءِ بِاسْتِقْصَائِهِ تـه وائـی : یـعنی یو شے په پوره طریقے سره طلب کول۔ اَیْ طَافُوْا هَلْ بَقِیَ اَحَدٌ لَمْ یَقْتُلُوْهُ۔ یعنی وگرځیدل ددے دپاره چه آیا څوك به پاتے وی چه دوی نهٔ وی وژلے۔

او دا ډیر سخت عذاب دے چه ستا په مخامخ ستا دشمن ستا کور ته بیغمه راننوزی او ستا او ستا د کور بیعزتی کوی۔

وَعْدًا مَّفْعُوْلًا: یعنی دا وعده د الله په تقدیر کښې پوره کړے شویده۔

رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ: اَیْ فِیْ زَمَنِ طَالُوْتَ۔ د طالوت په زمانه کښې الله تعالیٰ بنی اسرائیلو ته غلبه ورکړه او جالوت ئے د داود علیه السلام په لاس قتل کړو۔

الْكَرَّةَ: اَلدَّوْلَةَ وَالْغَلَبَةَ وَالرَّجْعَةَ۔ (حکومة، غلبه، واپسی)۔

أَكْثَرَ نَفِيْرًا: په جهادونو کښې دا برکت وی چه څومره شهادتونه زیاتیږی هغومره نفری د مؤمنانو زیاتیږی۔

إِنْ أَحْسَنْتُمْ: ۱- یعنی مونږ هغوی ته وئیلی وو چه که تاسو نیکی وکړه۔

۲- اَیْ اَفْعَالَكُمْ وَاَقْوَالَكُمْ۔ یعنی که تاسو خپل عملونه او خبرے نیکے کړے۔

لِأَنْفُسِكُمْ : دا د قرآن کریم عام قانون دے چه د هر سړی نیکی خپل ځان دپاره فائده ده۔ ﴿ وَمَنْ يَّشْكُرْ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ﴾ (النمل : ٤٠) ﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ وَمَنْ اَسَاءَ فَعَلَيْهَا ﴾ (فصلت : ٤٦). ﴿ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ﴾ (البقره : ١٣٤)

او دا علت دے دپاره د مخکنۍ خبرے یعنی الله تعالیٰ داسے پدے وجه وکړل چه بنی اسرائیلو ته معلومه شی چه که دوی توبه وباسی او د خپلو عملونو اصلاح وکړی نو ددے نتیجه به ښه راوځی او که په خپلو گناهونو باندے همیشوالے وکړی نو دوی ته به بد انجام رسیږی، لکه چه دوی کله ښه وو نو الله دوی ته نعمتونه ورکول او کله چه سرکشه شو نو بیا ئے پرے طاقتور بندگان مسلط کړل او نعمتونه ئے ترے واخستل۔

لِيَسُوْؤُا : دے دپاره چه بد کړی/ خفه کړی مخونه ستاسو۔ یعنی داسے کارونه دربانـدے وکړی چه ستاسو مخونه خفه کړی چه د هغے آثار ستاسو په مخونو کښې راښکاره شی۔ حاصل معنیٰ ئے ده : بی عزته کړی ستاسو عزتمند خلك۔ نو د وجوه نه مراد به سرداران شی۔

الْمَسْجِدَ : ددے نه مراد بیت المقدس دے چه دے ته داخل شی د خرابوالی دپاره۔

كَمَا دَخَلُوْهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ: لکه چه د اول فساد په وخت دوی ورته داخل شوی وو او هغه ئے خراب کړے وو۔ اول کښې جالوتیانو او بیا روستو بختنصر او قسطنطین ونیولو۔

وَّلِيُتَبِّرُوْا : چه هلاك كړي،/ اوتس نس كړي۔

مَا عَلَوْا: يعني په څه باندې ئې چه وس بر شي/ په څه باندې چه غالبه شي۔

عَسٰى رَبُّكُمْ : پدې آيت كښې اشاره شويده چه د دوى سره چه څه وشو نو د دوى د بدو عملونو نتيجه وه، او ددې دپاره وشو چه دوى دويم ځلي الله طرف ته رجوع وكړي، د خپلو گناهونو نه توبه وباسي، او د تورات مطابق خپل ژوند تير كړي۔ ځكه چه اُوس خو دوى ته معلومه شوه چه د الله تعالىٰ عذاب د گناهونو په وجه سره راځي، او نجات د توبې په ذريعه ملاويږي۔ خو تاريخ گواه دې چه بني اسرائيل په خپله توبه باندې پاتې نهٔ شو او دريم ځل ئې د تمرد او سركشئ ژوند اختيار كړو، په محمد ﷺ ئې هم تكذيب وكړو او په تورات او انجيل كښې د هغه ذكر شوي صفات ئې پټ كړل، نو الله تعالىٰ دريم ځلي په دوى باندې عرب مسلط كړل، نو بنو قريظه او نضير او بنو قينقاع او خيبر والو ته ئې د رسول الله ﷺ او د صحابه كرامؓ په لاس سزا وركړه او په دوى باندې ئې جزيه مقرر كړه او د ذلت اورسوائي سره مخامخ شو۔

عُدْتُّمْ : اَىْ اِلَى الْمَعْصِيَةِ ثَالِثًا۔ يعني كه تاسو دريم ځلي نافرمانئ ته راواپس شوئ۔

عُدْنَا: اِلٰى عُقُوْبَتِكُمْ۔ مونږ به ستاسو سزا ته بيا راواپس شو۔

وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ: يعني دا خو د دنيا سزا او په آخرت كښې خو جهنم د دوى دپاره پوره جيل خانه ده۔

إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِىْ لِلَّتِيْ هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِيْنَ
يقيناً دا قرآن خودنه كوي هغې لارې ته چه ډيره برابره ده او زيرې وركوي مؤمنانو ته
الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيْرًا ﴿٩﴾ وأَنَّ الَّذِيْنَ
هغه كسان چه عملونه كوي نيك يقيناً دوى لره اجر دې لوئې۔ او يقيناً هغه كسان
لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْآخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيْمًا ﴿١٠﴾
چه ايمان نهٔ لري په آخرت. تيار كړيدې مونږ دوى لره عذاب دردناك۔

تفسير : د قرآن كريم فضيلت راوړي۔

ددې يو مناسبت د دويم آيت سره دې، يعني د كتاب د موسىٰ عليه السلام سره يعني هغه له مې

تورات ورکړے وو نو تا له مے قرآن درکړو۔ دویم پدے کښې په امت باندے امتنان (احسان ذکر کول) دی په قرآن سره او مخکښې په رسول رالیږلو سره وو۔ او دریم ددے مخکښې واقعے سره ئے هم تعلق دے چه دا واقعه چه بیانه شوه نو دا قرآن بیانه کړیده او قرآن هدایت کوی نو په دغه واقعه کښې هم هدایت پروت دے۔

دارنګه ترغیب دے قرآن ته دپاره د بچ کیدو د ذلت او د عذاب نه او دعوت دے بنی اسرائیلو ته چه تاسو د عذابونو او ذلتونو نه به هله بچ کیږئ چه اُوس ددے قرآن تابعداری شروع کړئ۔

لِلَّتِیْ هِیَ اَقْوَمُ : دلته ئے موصوف رانهٔ وړو چه (طریقه یا کلمه ده) دپاره د تعمیم پیدا کولو هر موصوف ته چه هغه لاره، کلمه، ملت، اخلاق، عقائد او نظریات او حالات وغیره دی۔ یعنی دا قرآن د ټولو نه غوره حالت یا د ټولو نه غوره ملت یا غوره لارے او عقیدے او نظریاتو طرف ته لارخودنه کوی، او هغه د دین اسلام لاره ده چه د هغے په اتباع کښې د انسانانو دپاره د دنیا او د آخرت هر خیر دے۔

وَیُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِیْنَ: او دا قرآن هغه خلکو ته د جنت زیرے ورکوی چه څوك په خپل ایمان کښې مخلص وی او عمل صالح کوی او د ګناهونو نه پرهیز کوی، او کوم خلق چه په بعث بعد الموت او په آخرت کښې په جزا او سزا باندے ایمان نهٔ لری، هغوی ته ددے خبرے خبر ورکوی چه الله د دوی دپاره د اُور عذاب تیار کړیدے۔

وأَنَّ الَّذِیْنَ : دا عطف دے په (اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا) باندے۔ او ددے نه مخکښې (یُنْذِرُ) یا (یُخْبِرُ) پټ دے۔ او دا دواړه حکمتونه تفصیلا د سورة الکهف په اول کښې ذکر شویدی۔ دلته هم قرآن او آمرت یوځای ذکر کړے شویدی۔

وَیَدْعُ الْاِنْسَانُ بِالشَّرِّ دُعَاءَهٗ بِالْخَیْرِ وَکَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا ﴿۱۱﴾
او غواړی انسان بدئ (عذاب) لره پشان د غوختلو ددهٔ خیر لره او دے انسان تلوار ګرن
وَجَعَلْنَا الَّیْلَ وَالنَّهَارَ آیَتَیْنِ
(جلتی کونکے)۔ او ګرځولی دی مونږ شپه او ورځ دوه نخے (د قدرت)
فَمَحَوْنَا آیَةَ الَّیْلِ وَجَعَلْنَا آیَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً
نو محوه کړیده مونږ نخه د شپے او ګرځولے ده مونږ نخه د ورځے رڼرا والا

لِتَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوْا
دپاره ددے چه طلب کړئ فضل د طرف د رب ستاسو نه او دے دپاره چه پو هه شئ
عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنٰهُ تَفْصِيْلًا ﴿۱۲﴾
په شمار د کلونو او په حساب او هر يو شے بيان کړيدے مونږ په واضح بيانولو سره۔

تفسیر : زجر دے انسان ته په استعجال (جلتئ سره غوختو) د عذاب سره۔ يعنی څوك چه عذابونه په جلتئ سره غواړی هغوی ته زورنه ورکوی او مطلب دا دے چه د قرآن نه هدايت اخستل پکار دی، او ددے نعمت شکر پکار دے ليکن مشرکان د هغے په مقابله کښ شر (عذاب) غواړی لکه په سورة الانفال (۲۲) آيت کښ راغلی دی۔ ﴿اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً﴾۔ (اے الله ! که دا قرآن حق وی ستا د طرف نه نو په مونږ باندے د کاڼرو باران وکړه)۔

مناسبت

۱- مشرکانو وئيلی وو چه تهٔ عذابونه يادوے نو مونږ باندے ئے راوله۔

۲- دارنګه دا د مخکښ سره لګی اَیْ وَيَدْعُ الْاِنْسَانُ بِالْاَعْمَالِ السَّيِّئَةِ يعنی انسان بد عملونه کوی نو دے غواړی چه په دهٔ عذاب راشی۔

۳- مفسر ابو السعودؒ ليکلی دی چه قرآن چه هادی (لاره خودونکے) دے، ددے د حال بيانولو نه روستو، اُوس د انسان چه مهتدی (لاره موندونکے) دے د هغه حال بيانيږی۔ او ددے دواړو ترمينځ چه کوم تباين او منافات موجود دے هغه ئے راښکاره کړيدے۔

روستو آيت کښ الله تعالیٰ د خپل قدرت دليل بيانوی چه الله تعالیٰ ستا په عذاب قادر دے اے انسانه !، بيا کله به راځی نو الله فرمائی : ﴿وَكُلَّ اِنْسَانٍ﴾ يعنی د هر انسان دپاره خپل خپل قسمت او خپل وخت ليکلے شويدے او د حساب ورځ شته۔

بيا قانون بيانوی چه الله تعالیٰ د رسول د راليږلو نه مخکښ چا ته عذاب نهٔ ورکوی، بيا تخويف دے او د دنيا تزهيد دے او د آخرت عظمت ئے بيان کړيدے بيا روستو احکام د حکمة ذکر کيږی چه مناسبت به ئے په خپل ځای کښ راشی۔

اَلْاِنْسَانُ : نه مراد جنس انسان دے چه د هغهٔ د بعضو افرادو حال دلته بيان شويدے، يا د بعض احوالو حال ئے بيان شويدے۔ او ظاهر دا ده چه دلته دا آيت په رد د مشرکانو کښ

دے۔
دے کښې بیا درے تفسیره دی (۱) د شر نه مراد عذاب دے او د دعاء نه مراد په جلتئ سره غوښتل دی یعنی دا مشرکان د نبی کریم ﷺ نه او دارنګه د حق داعی نه په جلتئ سره عذاب غواړی چه عذاب دِے راوله لکه څنګه چه د خپل رب نه د ځان او د بچو دپاره خیر په جلتئ سره غواړی۔ لیکن دا انسان تلوارګرن ، جلدباز دے، بی فکره دے، دا سوچ نکوی چه که عذاب راشی ما سره د هغے د دفع کولو څه اسباب دی۔
(۲) دا تفسیر هم جائز دے۔ وَيَدْعُ الْإِنْسَانُ بِالْاَعْمَالِ السَّيِّئَةِ
یعنی انسان په بدو اعمالو سره عذاب غواړی یعنی ددهٔ بد اعمال سبب د عذاب راتللو دے لکه څنګه چه دے په خوله سره خیر غواړی د الله نه۔
(۳) پدے کښې دا هم داخلیږی چه انسان خپل ځان او خپل اولاد ته ښیرے کوی چه اے الله ! ما یا زما بچی هلاك کړے او لعنت پرے وکړے۔ لیکن که الله ورله دعا قبوله کړی، هلاك به شی مګر الله تعالیٰ ورله ښیرے زر نهٔ قبلوی، دا د هغهٔ احسان او رحم دے لکه څنګه چه ورله زر دعا قبلوی دا هم د الله رحم دے۔ دا هم پدے آیت کښې داخلیږی لیکن اصل مقصد د آیت په مشرکانو رد کول دی لکه چه مخکښې بیان شو۔
عَجُوْلًا : اَیْ مَطْبُوْعًا عَلَى الْعَجَلَةِ۔ پیدا کړے شوے په جلتئ دے، هرڅه چه ددهٔ په زړه کښې تیریږی هغے ته جلتی کوی او د هغے عاقبت ته نهٔ ګوری او د هغه د جلتئ نه دا ده چه د خیر په شان شر هم په جلتئ سره غواړی۔ ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : [ضَجِرًا لَا صَبْرَ لَهٗ عَلٰى سَرَّاءَ وَلَاضَرَّاءَ] انسان زړه تنګے دے چه په خوشحالئ او په تکلیف کښې بی صبره کیږی۔ (فتح البیان) او د حالاتو د بدلیدو انتظار نهٔ کوی۔
وَجَعَلْنَا الَّيْلَ : پدے آیت کښې بیان د قدرت د الله تعالیٰ دے۔

مناسبت

۱- هٰذَا مِنْ بَعْضِ وُجُوْهِ هِدَايَةِ الْقُرْاٰنِ ۔ دا د قرآن کریم بعض طریقے د هدایت دی یعنی قرآن انسان ته څنګه هدایت کوی؟ نو هغه داسے چه د الله تعالیٰ د توحید او د قدرت دلائل ورته ښائی چه انسان پدے مجبوره کوی چه دا قرآن حق دے او د هغهٔ رسول حق دے۔
۲- ظاهر دا ده چه پدے کښې الله تعالیٰ اظهار د خپل قدرت کوی په رانیولو د دشمنانو ځکه چه الله تعالیٰ داسے قدرتونو والا دے۔ لکه دا د قرآن طریقه ده چه مخکښې عذاب ذکر

شي نو روستو الله تعالیٰ خپل قدرت ذکر کوی۔
آيَتَيْنِ : يعني دا دواړه نخے د قدرت د الله تعالیٰ دی، او په وجود د خپل خالق باندے دلالت کوی او پدے چه دا دواړه د الله په حکم چليږی، په يو ترتيب سره روان وی۔ او پدے دواړو کښ چه کوم عجائب د قدرت د الله تعالیٰ دی چه عقلونه ورته حيرانيږی۔
دغه شان الله تعالیٰ د شپے دپاره سپوږمۍ مقرر کړيده چه د هغے په رڼړا کښ په قلاروالے وی او د ورځے دپاره ئے نمر مقرر کړيدے چه د هغه په رڼړا کښ تيزی وی، دے دپاره چه انسان د معاش په تلاش کښ په آسانۍ سره حرکت وکړی۔ او ددے دواړو لويه فائده دا هم ده چه ددے په راتلو او ورکوالی او غتوالی کښ او د مسلسل حرکت په ذريعه د ورځے او شپے ګينتهو، اوقاتو، هفتو او مياشتو او کلونو حساب معلوميږی۔ که الله دا نۀ وے پيدا کړے نو دا حسابونه به نۀ معلوميدے او د خلقو معاملات به تپ کيدلے۔
(۱) پدے کښ ظاهر تفسير دا دے چه آيتين نه مراد خپله شپه او ورځ دی او د (مَحَوْنَا) نه مراد تيارۀ کول دی۔ يعني د شپے نخه دا ده چه دا مونږ تيارۀ والا ګرځولے ده او ددے رڼړا مو ختمه کړيده او د آية النهار نه مراد رڼړا د ورځ ده يعني ورځ مو رڼړا والا وګرځوله چه خلك پکښ کتل کولے شي۔
(۲) مطلب دا دے چه مونږ د شپے او د ورځے دپاره دوه نخے ګرځولی دی د شپے نخه سپوږمۍ ده او د ورځے نخه نمر دے او د محو نه مراد رڼړا کمول دی نۀ بيخي ختمول ځکه چه په سپوږمۍ کښ الله تعالیٰ لږ توروالے هم اچولے دے۔ دا تاويلی تفسير دے۔
وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنَاهُ تَفْصِيلًا : الله تعالیٰ د قرآن کريم عظمت په ذهنونو کښ زيات کينولو دپاره فرمائی چه مونږ په قرآن کښ هر هغه خبره بيان کړيده چه د هغے انسان ته د دين او دنيا په برابرولو کښ ضرورت راتلے شي۔ لکه چه الله تعالیٰ سورة النحل آيت (۸۹) کښ فرمايلی دی : ﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ﴾ چه مونږ په تا باندے قرآن نازل کړيدے چه په دے کښ د هر شي تفصيل موجود دے۔ او باقي تفصيل د سورة النحل د دغه آيت لاندے وګوره۔

وَكُلَّ إِنسَانٍ أَلْزَمْنَاهُ طَآئِرَهُ فِي عُنُقِهِ
او هر انسان سره لازم کړيدے مونږ عملنامه (يا نصيب) ددۀ په څټ ددۀ کښ

وَنُخۡرِجُ لَهٗ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ كِتٰبًا يَّلۡقٰهُ مَنۡشُوۡرًا ﴿۱۳﴾
او راوبه باسو دهٔ لره په ورځ د قیامت کښې عملنامه چه مخامخ به شي ورسره خوره وره به وي
اِقۡرَاۡ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى بِنَفۡسِكَ الۡيَوۡمَ عَلَيۡكَ حَسِيۡبًا ﴿۱۴﴾ مَنِ
اُولوله عملنامه خپله کافي دے نفس ستا نن ورځ په تا باندے حساب کونکے۔ چا چه
اهۡتَدٰى فَاِنَّمَا يَهۡتَدِىۡ لِنَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ ضَلَّ
هدایت اُموندلو نو یقیناً هدایت ئے اُموندو دپاره د ځان خپل او څوك چه گمراه شو
فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَا ؕ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ
نو یقیناً گمراه کیږی چه وبال به ئے په ده باندے وی او نهٔ پورته کوی یو پورته کونکے
وِّزۡرَ اُخۡرٰى ؕ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيۡنَ حَتّٰى نَبۡعَثَ رَسُوۡلًا ﴿۱۵﴾
بوج د بل چا او نهٔ یو مونږ عذاب ورکونکی تردے چه اُولیږو رسول۔

تفسیر : اُوس سوال پیدا شو چه الله تعالیٰ په دغه عذاب راوستو قادر دے نو دا به کله راځي؟ نو الله فرمائي چه د هر شي وخت مقرر دے او د حساب ورځ حقه ده۔

وَكُلَّ اِنۡسَانٍ اَلۡزَمۡنٰهُ طٰٓئِرَهٗ : د طائر (مارغه) نه مراد بخت او قسمت دے او عرب د قسمت نه په طائر سره تعبیر کوی ځکه چه د هغوی عادت دا وو چه کله به ئے قسمت او نصیب معلومولو نو مارغه به ئے پاځولو، که ښی طرفته به لاړو نو وئیل به ئے چه کار کیږی۔

(۱) بیا د قسمت نه مراد عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی : مَا قُدِّرَ لَهٗ مِنَ الشَّقَاوَةِ وَالسَّعَادَةِ بِعَمَلِهٖ) دے، یعنی دهٔ له چه ددهٔ په عمل سره کومه بد بختی او نیك بختی لیکلے شویده دا به ورسره لازمه وی، ددے نه به نشی جدا کیدے۔ مثلاً الله تعالیٰ په تقدیر کښې دا لیکلی دی چه فلانے شخص به په فلانئ ورځ داسے بد عمل کوی یا به کفر کوی نو عذاب به پرے راولم، او فلانے به دا نیك عمل کوی نو نیك بخته به وی۔ نو الله فرمائی چه دغه عمل به ددے انسان نه ضرور کیږی او د هغے مطابق به دهٔ ته سزا او جزا ملاویږی۔

نو دا قسمت به دے انسان ته ضرور رسیږی د هغے نه خلاصیدے نشی نو معلومه شوه چه د عذابونو، دارنگه د نعمتونو اوقات مقرر دی۔

(۲) یا د طائر نه مراد عمل د انسان دے۔ یعنی هر سړے چه په خپله خوښه او اختیار سره هر نیك یا بد عمل کوی د هغے نه به هغه نشی خلاصیدے، د هغه سره به عمل داسے لګیدلے وی لکه څنګه چه د څټ سره طوق لګیدلے وی۔ د هغه نه به په هیڅ حال کښ نهٔ جدا کیږی۔ او د هغه عمل مطابق به سعادت او نیك بختی یا شقاوت او بد بختی د هغه سره لګیدلی وی۔ د هغے نه هغه خلاصے نشی موندلے۔ که بدبخته وی نو جهنم او که نیك بخته وی نو جنت به د هغه ځای وی۔ او د قیامت په ورځ به هر سړے خپله عملنامه خپلے مخے ته خوره وره مونده کوی، او دهٔ ته به وئیلے کیږی چه خپله عملنامه لوله چه پدے کښ ستا واړه او غټ تول اعمال درج دی۔ او نن به ته خپله د خپلو عملونو حساب کوے او ګواه به جوړیږے چه تا دا عملونه کړی وو۔

فِيْ عُنُقِهٖ : دا کنایه ده د لزوم نه اَیْ لَایُفَارِقُهٗ۔ چه دا قسمت به ددهٔ نه نهٔ جدا کیږی۔

كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ : انسان چه کله خپله عملنامه خرابه وګوری نو ځان به ملامته کړی او خپله به الله ته ووائی چه زهٔ د جهنم مستحق یم ما جهنم ته بوځه۔

حَسِيْبًا: اَیْ حَاسِبًا اَوْ کَافِیًا۔ حساب کونکے یا کافی۔

حسن بصریؒ فرمایلی دی : [لَقَدْ عَدَلَ عَلَیْكَ مَنْ جَعَلَكَ حَسِیْبَ نَفْسِكَ] هغه ذات خو ډیر عدل وکړو چه ته ئے د خپل ځان حساب کونکے وګرځولے۔

مَنِ اهْتَدٰى : ربط

۱- ددے تعلق د مخکښ ﴿اِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِىْ﴾ سره دے، قرآن هدایت کوی نو چا چه ترے هدایت واخستو نو د ځان فائده ئے وکړه۔ ۲- دویم متعلق دے د ﴿وَجَعَلْنَا الَّيْلَ وَالنَّهَارَ﴾ سره چه د لیل او نهار نه چه چا عبرت او هدایت واخستو الخ۔

۳-دریم د (اِقْرَاْ) سره متعلق دے چه دغه عملنامه لوستونکی به دوه قسمه خلك وی، هدایت والا یا ګمراهان۔

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى : یعنی په قیامت کښ به هیڅوك د بل څا بوج نهٔ پورته کوی، هر څا باندے به خپل بوج بار وی، هیڅوك به د بل په ګناه نهٔ رانیولے کیږی۔ او همدا معنیٰ د ﴿وَكُلَّ اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ طٰٓئِرَهٗ فِىْ عُنُقِهٖ﴾ ده،

او کوم آیت کښ چه راغلی دی ﴿لِيَحْمِلُوْٓا اَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ وَمِنْ اَوْزَارِ الَّذِيْنَ يُضِلُّوْنَهُمْ﴾ (النحل : ۲۵) نو د هغے مطلب دا دے چه بل ئے ګمراه کړے وی نو دا هم ددهٔ عمل دے چه د هغے بوج به هم په دهٔ باندے وی۔

او دا رد دے په هغه چا چه عمل کوي او وائي چه ما ته فلاني وئيلي وو نو آزار او گناه به ئے په هغه باندے وي۔

وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا : پدے جمله کښ الله تعالیٰ د انسانانو دپاره خپل فضل او کرم او د دوي سره عدل او انصاف بيان کړيدے چه هغه هيڅ کله يو قوم ته د رسول ليږلو نه مخکښ عذاب نۀ ورکوي، کله چه خپل رسول ليږلو سره حق او باطل هغوي ته ښکاره کړي او حُجت پرے قائم شي، او بيا هم ايمان رانۀ وړي نو په هغوي باندے عذاب نازلوي۔ لکه چه الله تعالیٰ په سورة طه آيت (١٣٤) کښ فرمايلي دي :

﴿وَلَوْ اَنَّا اَهْلَكْنَاهُمْ بِعَذَابٍ مِنْ قَبْلِهٖ لَقَالُوْا رَبَّنَا لَوْلَا اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ آيَاتِكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ نَذِلَّ وَنَخْزٰى﴾ چه (که مونږ ددے نه مخکښ دوي په عذاب سره هلاك کړي وے نو يقيناً دا به ئے وئيلے چه اے زمونږه ربه ! تا مونږ ته رسول ولے نۀ راليږلو چه مونږ ستا د آيتونو تابعداري کړے وے ددے نه مخکښ چه مونږ ذليل او خوار شو)۔

ددے نه سِوئ هم په قرآن کريم کښ ډير آيتونه دي چه پدے خبره باندے دلالت کوي چه الله تعالیٰ چه ترڅو پورے رسول ليږلو سره حجت تمام نۀ کړي، نۀ په دنيا کښ کوم قوم هلاکوي او نۀ په آخرت کښ چا ته عذاب ورکوي۔

اشاعره او ماتريديه ؤ دا آيت د دنيا د عذاب پورے خاص کړيدے، او وائي چه د آخرت عذاب په عقل سره دے چه که چا کښ عقل وي او توحيد ئے نۀ وي منلے (يعني دعوت نۀ وي ورسيدلے) نو هغه باندے به په آخرت کښ عذاب وي ځکه چه توحيد په عقل باندے پيژندل واجب دي، اگرکه شريعت ئے بيان ونکړي۔ ليکن حقه دا ده چه دلته عموم مراد دے، الله تعالیٰ پکښ هيڅ قيد نۀ دے لګولے۔ نو که يو تن داسے ځاي کښ وسيږي چه هلته نبي نۀ وي ورغلے، نۀ کوم عالِم ورغلے وي او نۀ هغه د انسانانو خواله راغلے وي چه هلته دين معلوم کړي، او دے راولګي کفر او شرك وکړي نو دوي ته به نۀ د دنيا عذاب ملاويږي او نۀ د آخرت. دے خلکو ته اصحاب الفترة وائي۔

يو حديث کښ دي چه قيامت کښ به ليونے، ماشوم، گونګ او جاهل، الله تعالیٰ ته وائي چه مونږ جنت ته ولے نۀ بوځے مونږ خو معذوره وو؟ نو الله به پرے د قيامت په ورځ امتحان وکړي چه نبي به ورته راوليږي چه دا جهنم دے دے ته داخل شئ، که هلته څوك ورداخل شي نو هغه به پرے يخ او سلامتيا والا وګرځي او که نۀ وي نو الله به ئے په امتحان کښ ناکام کړي بيا به ئے حقيقةً جهنم ته داخل کړي۔

(صحیح ابن حبان :۷۳۵۷ والطبرانی فی الکبیر (۸٤۱) وصحیح الجامع (۸۸۱)۔

وَإِذَا أَرَدْنَا أَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا
او کله چه اراده اُوکړو مونږ چه هلاك کړو یو کلي نو حکم اُوکړو مونږ
مُتْرَفِيْهَا فَفَسَقُوْا فِيْهَا فَحَقَّ
مستانو (مشرانو) د هغې ته (په طاعت) نو نافرمانی اُوکړی په هغې کښې نو ثابته شي
عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِيْرًا ﴿۱٦﴾
په هغې باندې وينا (د عذاب) نو هلاك کړو مونږ هغې لره په هلاکولو۔

تفسیر : پدې آیت کښې تخویف دنیوی دے او دا تفصیل دے د مخکنی آیت۔ او د مخکني عذاب سبب بیانیږی۔

أَمَرْنَا مُتْرَفِيْهَا : (۱) د آیت یوه معنیٰ دا ده [اَیْ أَمَرْنَا مُتْرَفِیْهَا بِالتَّوْحِیْدِ وَالطَّاعَةِ] چه کله مونږ یو قوم د عذاب په ذریعه هلاك کول غواړو نو د هغې عیش پرست او په ناز او نعمتونو کښې ډوبو خلقو ته د خپل رسول په ژبه په توحید سره د اطاعت او بندګئ حکم وکړو۔ لیکن هغه خلق زمونږ د حکم مخالفت وکړی او سرکشی او تمرد د هغوی خوئی جوړ شی، نو په دوی باندې عذاب نازلیدل ثابت شی، بیا مونږ دوی په یوځل تباه او برباد کړو، لکه څنګه چه د بیت المقدس والو سره وشو چه کله یهودیانو د الله دین خپل شا ته ګوزار کړو نو د دوی دشمنان ئې په دوی مسلط کړل۔

او پدې کښې یره ده مکې والو ته چه تاسو ته هم رسول راغلو او د طاعت حکم ئې درته وکړو نو اُوس ئې که نهٔ منئ نو د عذاب حقدار شوئ۔

مفسرین لیکی چه اګرکه د الله حکم تمامو خلقو ته شاملیږی لیکن دلته د عیش پرستو ذکر ئې پدې وجه کړیدې چه په دنیا کښې شر او فساد خوروونکی په حقیقت کښې همدا خلق وی، بیا نور خلق د دوی تابعداری کوی۔ او دا دلیل دې چه کله مشران خراب شی نو عمومی عذابونه راځی۔ او دا تفسیر ابن جریر الطبریؒ راجح ګرځولے دے۔

مګر دا تفسیر حافظ ابن القیمؒ په ډیرو وجوهو سره ضعیف ګرځولے دے، او دا ئې وئیلی دی چه کله لفظ د امر نه روستو فاء راشی نو دا روستو شے په مخکښې امر باندې مرتب

وی۔ لکه (اَمَرْتُهٗ فَرَكِبَ) یعنی ما ورته حکم وکړو نو هغه سور شو۔ یعنی ما ورته د سوریدو حکم وکړو نو هغه سور شو۔ (لیکن بعض اهل علمو وئیلی دی چه (اَمَرْتُهٗ فَعَصَانِیْ) سره دا خبره معارض ده۔ څکه چه معصیت د امر بالمعصیة منافی دے)۔

دویم دا چه د طاعت امر خو الله تعالیٰ یواځے مترفینو ته نهٔ کوی بلکه ټولو خلکو ته ئے کوی نو ددے تخصیص څه فائده ده؟!

(۲) نو غوره دا ده چه دلته امر کونی / تکوینی مراد دے۔ اَیْ اَمَرْنَاهُمْ اَمْرًا قَدَرِیًّا (ابن کثیرؒ) یعنی دوی ته تقدیری حکم وکړو۔ / تقدیری فیصله پرے وکړو۔ یعنی په تقدیر کښ داسے لیکل چه دا فلانے به داسے کار کوی لکه د لوی کافرانو د لاسونو نه الله تعالیٰ ظلمونه او فسقونه صادروی دا د هغه د هلاکت دپاره تقدیری فیصله وی۔ نو معنیٰ د آیت دا ده: چه کله مونږ یو قوم د عذاب په ذریعه هلاك کول غواړو نو هغوی کښ مشران او جابره خلکو ته د فسق حکم وکړو په امر تکوینی قدری سره (د هغوی د فسق د وجه نه چه الله ته د مخکښ نه معلوم وی) نو هغوی د فسق کارونه شروع کړی نو الله تعالیٰ پرے عذاب نازل کړی۔ دا تفسیر زمخشری په کشاف کښ په تفصیل سره ذکر کړیدے۔

(۳) دریم تفسیر دا دے چه امر لفظ کله په عربئ ژبه کښ د ډیروالی دپاره راځی لکه امام بخاریؒ وئیلی دی: د (اَمِرَ بَنُوْ فُلَانٍ) معنیٰ ده: د فلانی ځامن زیات شو۔ نو معنیٰ دا ده: اَیْ اَکْثَرْنَا فُسَّاقَهَا۔ مونږ د دغه کلی فاسقان او فاجران خلك زیات کړو (یعنی مالونه او اولاد ورله په طریقه د استدراج سره زیات کړو) نو هغوی فسقونه شروع کړی۔ او دا تفسیر د ابوالدرداء ﷺ او قتادهؒ نه نقل دے۔ (ابن ابی حاتمؒ والدر المنثور) او ابن جریرؒ د ابن عباسؓ، عکرمهؒ او حسن بصریؒ نه نقل کړیدے۔

فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ : اَیْ ثَبَتَ عَلَیْهِمْ قَوْلُ الْعَذَابِ ۔ په دوی باندے ثابته (موجوده) شی فیصله د عذاب۔

فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِیْرًا : تدمیر، هغه هلاکت ته وائی چه عذاب په یو قوم باندے په یو ځای راشی۔ او تتبیر عام دے که لږ لږ عذاب وی او که په یو ځای وی۔

وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْۢ بَعْدِ نُوْحٍ وَكَفٰى بِرَبِّكَ

او ډیر هلاك کړیدی مونږ د پیړو نه روستو د نوح (علیه السلام) نه او کافی دے رب ستا

بِذُنُوبِ عِبَادِهِ خَبِيرًا بَصِيرًا ﴿١٧﴾ مَّنْ كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ
په گناهونو د بندگانو خپلو خبردار لیدونکے۔ څوك چه اراده لری د دنیا
عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُّرِيدُ
نو په جلتئ به ورکړو دهٔ لره په دے کښ څومره چه اوغواړو مونږ د چا دپاره چه اوغواړو،
ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ يَصْلَاهَا مَذْمُومًا
بیا گرځوو مونږ هغه لره جهنم چه داخلیږی به هغے ته بد وئیلے شوے (بد حالے)
مَّدْحُورًا ﴿١٨﴾ وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا
رټلے شوے۔ او څوك چه اراده لری د آخرت او کوشش کوی هغے دپاره
سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَٰئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُورًا ﴿١٩﴾
کوشش د هغے مناسب او دے مؤمن وی نو دا کسان دے کوشش د دوی قبول کړے شوے۔
كُلًّا نُّمِدُّ هَٰؤُلَاءِ وَهَٰؤُلَاءِ مِنْ عَطَاءِ رَبِّكَ
هر یو ته ورکوو مونږ ددے دنیا والو ته او ددے نیکانو ته د بخشش (ورکړے) د رب ستا نه۔
وَمَا كَانَ عَطَاءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا ﴿٢٠﴾ انظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا
او نهٔ دے بخشش د رب ستا منع کړے شوے۔ اوګوره چه څنګه غوره والے ورکړیدے مونږ
بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ وَلَلْآخِرَةُ أَكْبَرُ دَرَجَاتٍ وَأَكْبَرُ
بعضو د دوی ته په بعضو او خامخا آخرت ډیرو لویو درجو والا دے او ډیر لوئی
تَفْضِيلًا ﴿٢١﴾ لَا تَجْعَلْ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُومًا مَّخْذُولًا ﴿٢٢﴾
فضیلت والا دے۔ مهٔ ګرځوه د الله سره حقدار د بندګئ بل نو کیبه نے بد وئیلے شوے شرمولے شوے۔

تفسیر: دا تخویف دنیوی دے، پدے کښ د پخوانو اقوامو نمونه د عذاب ذکر کوی او خپل عادت ذکر کوی د پخوانو اقوامو سره۔ نو موجوده کفار یروی چه په تاسو باندے به هم د پخوانو په شان عذاب راولی ځکه چه تاسو کښ هم گناهونه او د رسولانو

مخالفتونه موجود دي۔
وَكَفٰى بِرَبِّكَ بِذُنُوْبِ : يعني ستا رب د خپلو بندګانو د ګناهونو نه ښهٔ خبردار دے، پدے وجه دوی له يريدل پكار دي چه چرته د دوی ګناه د دوی د هلاكت سبب جوړ نهٔ شي، ځكه چه د قومونو د هلاكت خبرے ذكر كولو نه روستو د ګناهونو ذكر كول دے خبرے ته اشاره ده چه يو قوم د هغوی د ګناهونو په وجه هلاك كيږي۔
مَّنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ : پدے آيت كښ د دنيا بې رغبتي او د آخرت يره بيانوی۔
ربط :
۱- تعلق ئے د نزدے آيت سره دے چه ګناهونه بندګان ولے كوی؟ نو سبب د هغه ګناهونو د دنيا محبت دے۔ ۲- قاسميؒ ليكي چه دا د (كُلَّ اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ) سره هم متعلق كيدے شي يعني د كوم سړي د ژوند مقصد چه دنيا طلبي وی نو هغه ګويا كه خپل ځان دپاره د قسمت شومتيا ته دعوت وركوی، او د چا مقصد چه د آخرت ژوند دپاره تياری وی نو هغه د خپل ځان دپاره سعادت او نيك بختي اختياروی۔
(۱) ددے يو تفسير دا دے : چا چه دنيا نصب العين ګرځولی وی او ټول عملونه ئے صرف د دنيا د خاطره وی چه دنيا ورته ملاؤ شي او پدے كښ مزے وكړي نو الله به ئے ورته وركړي مګر بيا هم د الله تعالىٰ خوښه ده، چه څومره وركوی او چا ته ئے وركوی۔ خو غالباً د الله قانون دا دے چه الله تعالىٰ د چا خواری نهٔ ضائع كوی۔
(۲) تفسير : يا څوك چه په نيك عمل سره او د آخرت په عمل سره دنيا طلب كوی، او دے ته ئے عاجله پدے وجه وويله چه د آخرت په اعتبار سره دنيا په جلتئ سره ختميږي۔ نو مونږ به ورته په دنيا كښ اجرونه وركړو ليكن په آخرت كښ به برباد وی او جهنم ته به داخليږي۔
ځيني مفسرين وائي چه دا آيت د هغه منافقانو په باره كښ نازل وو چه مسلمانانو سره به غزا ته تلل، غرض ئے يو رياكاري وه او بل غنيمتونه طلب كول۔ (فتح البيان)
عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ : يوه معنىٰ مخكښ ذكر شوه چه د دنيا فائدے به ورته وركړو۔ او دويم مطلب دا دے چه په جلتئ سره به وركړو دهٔ ته عذاب څومره چه زمونږ خوښه وی او چا ته چه مو خوښوی يعني پدے كښ به ځيني خلك په دنيا كښ فوراً هلاك كړم، او ځيني به امتحاناً پريدم چه د دنيا نه مزے واخلي بيا به جهنم ته داخليږي۔

مَذْمُوْمًا: ١- بد حالے۔ ٢- مَلُوْمًا مِنَ الْخَلْقِ ۔ د مخلوق دطرفنه بد وئيلے شوے/ ملامته کړے شوے۔

مَّدْحُوْرًا: اَىْ مَطْرُوْدًا مِنْ رَحْمَةِ اللّٰهِ مُبْعَدًا عَنْهَا) د الله د رحمت نه شړلے شوے/ لرے کړے شوے۔

وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ : دا د مخکښ جانب مقابل شخص دپاره زيرے ورکوى په درے شرطونو سره۔

سَعْيُهُمْ: يعنى داسے کوشش چه لائق وى د آخرت سره۔ او آخرت پرے گټلے کيږى، داسے نۀ چه يو شخص چکرے وهى او هسے مزے کوى او دا هم د آخرت کوشش گنړى۔

مَّشْكُوْرًا: د عمل د قبوليت دپاره (١) اول شرط اراده د آخرت ده په خپل عمل سره، هر عمل به پدے نيت کوى چه زما آخرت برابر شى۔

(٢) اَلسَّعْيُ الْمُوَافِقُ لِلشَّرْعِ ۔ د شريعت مطابق سعى چه هغه عبادات کول دى په طريقه د رسول الله ﷺ باندے۔ (٣) الايمان۔ چه ايمان به پکښ وى، که يو شے پدے کښ نۀ وى نو عمل قبول نۀ دے۔ (٤) او څلورم شرط هم پکښ ضمناً ذکر دے هغه دا چه صرف عمل نۀ بلکه سعى به کوى، خپل عمل کښ به کوشش کوى او د عمل اهتمام به کوى، يعنى عادتى نيك عمل به نۀ وى۔

كُلًّا نُمِدُّ هٰؤُلَاءِ : يعنى هرچه دنياوى ژوند دے، نو د الله تعالىٰ رحمت او مهربانى د هغه ټولو بندگانو ته شامل ده، برابره ده مؤمن وى او که کافر۔ هغه دواړه قسمه خلقوته د ژوند آخرى لمحو پورے رزق رسوى۔ البته د مرگ نه روستو د دواړو احوال به مختلف وى۔ د چا د ژوند مقصد چه صرف دنيا طلبى وى، هغه به جهنم طرف ته راخکلے شى او څوك چه د آخرت طلبگار وى هغه ته به په جنت کښ ځاى ملاويږى۔ په دنيا کښ د يو کافر کفر او د يو نافرمان نافرمانى د الله د رزق نه په کلى توگه د محرومئ سبب نۀ جوړيږى۔ (اگرکه بى برکتى به ضرور وى)۔

كُلًّا : اَىْ كُلَّ وَاحِدٍ مِنَ الْفَرِيْقَيْنِ۔ هر يو د دواړو ډلو نه۔ يعنى د دنيا والو او آخرت والو نه۔

نُمِدُّ : اَىْ نَزِيْدُهٗ مِنْ عَطَائِنَا عَلٰى تَلَاحُقٍ مِنْ غَيْرِ انْقِطَاعٍ) يعنى هر ته مونږ زيات متواتر بغير د قطع کيدو نه رزق ورکوو۔ سعدى شيرازیؒ فرمائى :

اے کریمے کہ از خزانۂ غیب	گبر و ترسا وظیفہ خور دارے

دوستان	راکجا	کنی	محروم	❁	تو	کہ	با	دشمنان	نظر	دارے	

هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ: دا بدل دے د مفعول نه چه هغه (كُلًّا) دے۔

مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ : دا متعلق دے د (نُمِدُّ) پورے او پدے کښې اشاره ده چه دا خالص د الله احسان دے۔

مَحْظُوْرًا: [اَیْ مَمْنُوْعًا عَنْ اَحَدٍ] (ضحاك) یعنی د هیچا نه منع نهٔ ده۔

د آیت مقصد دا دے چه دواړو ډلو ته رزق ورکوم۔ ولے ؟ [لِئَلَّا يَحْتَجَّ الْكَافِرُ بِعَدَمِ الرِّزْقِ عَلٰى عَدَمِ الْعَمَلِ] ۔ دے دپاره چه کافر د رزق نشتوالے په نهٔ عمل باندے دلیل جوړ نکړی۔ الله ته به وائی چه اے الله ! مونږ ستا دپاره عمل ځکه نهٔ دے کړے چه تا مونږ له رزق نهٔ وو راکړے نو مونږ خپل سیر وړو پسے ورك وو۔ نوځنګه مو ایمان راوړے او عبادت مو کړے وے۔ نو الله مؤمن ته هم رزق ورکړو او کافر ته هم بنه فراخه چه څوك بهانه ونکړی۔ د الله ذمه واری فارغه، اُوس به تاسو خپله ذمه واری ادا کوئ۔

او پدے کښې رد د شرك هم دے چه کافر ته هم الله رزق ورکوی او حاجتونه ئے پوره کوی، بیا ئے دوی د غیر الله نه غواړی او غلط اسباب لټوی۔

او د وَمَا كَانَ عَطَاءُ رَبِّكَ مَحْظُوْرًا بل مطلب دا هم دے چه د آخرت عطیه په چا باندے بنده نهٔ ده بلکه هر څوك ئے ګټلے شی که څوك د هغے دپاره تیارے کوی۔ بلکه الله تعالیٰ ټولو ته د آخرت د تیاری دعوت ورکړیدے۔ اول مطلب ئے ښکاره دے چه دا د دنیا سره لګی۔

اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ : په دے آیت کښې نبی کریم ﷺ مخاطب کوی او بیا ټولو انسانانو ته وئیلے کیږی چه الله تعالیٰ د دنیا د نعمتونو په تقسیم کښې د خپل حکمت په بنیاد باندے یو لره په بل باندے فوقیت ورکوی، چا ته زیات ورکوی او چا ته کم، څوك قوی وی او څوك کمزورے، څوك صحت مند وی او څوك بیمار۔ لیکن په آخرت کښې د درجاتو کمے زیاتے او په یو بل باندے پورته والے به زیات ښکاره وی، خاصکر د مؤمن او د کافر ترمینځ دا تفریق به زیات ښکاره مخے ته راځی چه مؤمن به د الله تعالیٰ په فضل او کرم سره جنت ته داخلیږی او کافر به جهنم ته دیکه کولے شی۔

او پدے آیت کښې صراحةً رد دے په اشتراکی نظام او په مساوات والو باندے چه دنیا کښې الله تعالیٰ د انسانانو په رزقونو مالداریٔ او غریبیٔ کښې فرق کړیدے نهٔ مساوات، او پدے کښې بیشماره حکمتونه دی۔

وَلَلآخِرَةُ أَكْبَرُ : ددې جملې فائده دا ده چه دنیا کښې خو په مالونو او رزقونو کښې د انسانانو تفاوت او فرق شته خو دومره زیات نهٔ دې، خو په آخرت کښې چه الله تعالیٰ یو تن غریب کړي او بل مالداره کړي نو دې کښې ډیر زیات فرق دې، نو د هغې غم پکار دې۔

په دنیا کښې ئې دومره اثر نهٔ ښکاره کیږي ځکه چه مالداره هم یو قطره روټئ خوري او غریب هم، خو صرف یو به ئې غوړه خوري او بل به ئې سپوره، او دا دومره فرق نهٔ دې۔ بلکه ډیرکرته په دنیا کښې غریبانان د مالدارو نه په بعض نعمتونو استعمالولو کښې غوره وي۔ او په آخرت کښې فرق زیات دې، د آخرت مالداره به جنت کښې وي او غریب به ئې په جهنم کښې نو څومره فرق شو؟!۔ (فتح البیان)

دارنګه څوك چه په جنت کښې لاندې درجو والا وي او څوك پورته درجو والا نو د دوی ترمینځ به هم ډیر فرق وي، لکه په حدیث د صحیحینو کښې دي :

[إِنَّ اَهْلَ الدَّرَجَاتِ الْعُلٰى لَيَرَوْنَ اَهْلَ عِلِّيِّيْنَ كَمَا تَرَوْنَ الْكَوْكَبَ الْغَابِرَ فِيْ اُفُقِ السَّمَاءِ]

(بخاری بدء الخلق باب : ۸) ومسلم فی الجنة حدیث ۱۱)

یقیناً اُوچتو درجو والا به علیین والا (یعنی ډیر اُوچتو درجو والا) داسې پورته وینی لکه څنګه چه تاسو د آسمان لرې ستوري ته ګورئ۔

نو دې آیت کښې دعوت دې چه په خپلو نیکو اعمالو باندې آخرت وګټئ۔

لَا تَجْعَلْ مَعَ اللهِ إِلٰـهًا : ربط او مناسبت

۱- مخکښې درجات ذکر شو نو اُوس هغه اسباب ذکرکوی چه په هغې سره دغه درجات په آخرت کښې حاصلیږی، نو د هغې نه ئې یو سبب پدې آیت کښې ذکر کړیدې چه هغه د الله توحید قبلول او د شرك نه بچ کیدل دی۔ ۲- دا د (سَعْيَهَا) سره متعلق دې۔ دغه لفظ مُهم وو چه د آخرت دپاره څنګه خواری وکړو او د آخرت به لائق کوشش څنګه وی؟ نو دلته فرمائی چه راشئ دا روستو کارونه وکړئ دا د آخرت لائق کوشش دې۔ یعنی شرك مهٔ کوه، د الله بندګی کوه، د مور پلار سره احسان کوه۔ خپلوانو سره احسان کوه، اسراف مهٔ کوه، مسکینانو سره احسان وکړه، د قتل نه ځان وساته، د زنا نه، د یتیمانانو مال مهٔ خوره، وفاداری کوه، تول اوناپ کښې نقصان مهٔ پیدا کوه۔ غلطې خبرې په خوله مه راوله۔ تکبر مهٔ کوه جنت پدې باندې حاصلیږی۔ دا پنځه ویشت احکام دی څه اصلی او څه فرعی، او دې ته احکام الحکمة وائی۔ او دا د ﴿إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِيْ لِلَّتِيْ هِيَ اَقْوَمُ﴾

(۱۰ آیت) تشریح هم ده۔ دا د قرآن کریم هدایتونه دی۔
فَتَقْعُدَ : دلتـه تَـقْـعُـدَ په معنیٰ د تَصِيرُ سره دے۔ یعنی وبه گرځے لکه عرب وائی : شَحَذَ الشَّفْرَةَ حَتّٰى قَعَدَتْ كَاَنَّهَا حَرْبَةٌ۔ چاړه ئے تیره کړه تردے چه وگرځیده لکه چه نیزه ده۔
او بعض وائی چه دا کنایه ده د نۀ قدرت نه په حاصلولو د خیرونو۔ یعنی داسے به شے لکه چه یو تن شل دے او څه خیرونه نشی حاصلولے۔
مَذْمُوْمًا: بد وئیلے شوے د مخلوق د طرفنه۔ او مَخْذُوْلًا: شرمولے شے د طرف د الله نه۔
او مـخـذول هـغـه چا تـه وائی چـه پـه وخت د ضرورت کښې هغه خپل دوست او مددگار پریخودلے وی۔ نو دغه شان الله تعالیٰ به د مشرك نه خپل تائید او نصرت راکاږی۔

وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ
او فیصله کړیده رب ستا چه بندگی مۀ کوئ سویٰ د الله تعالیٰ نه او د مور او پلار سره
اِحْسَانًا اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ
احسان کوئ، کچرے اُورسی تا سره بوډاوالي ته یو ددے دواړو نه یا دواړهٔ نو مهٔ وایه
لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا ﴿۲۳﴾ وَاخْفِضْ
دواړو ته اُف قدرے او مۀ رټه دوی لره او وایه دوی ته وینا عزتمنه۔ (ادبناکه)۔ او خکته کړه
لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا
دواړو ته وزر د عاجزئ د وجے د رحم (شفقت) نه، او وایه اے ربه زما ! رحم اُوکړه په دوی
كَمَا رَبَّيٰنِيْ صَغِيْرًا ﴿۲۴﴾
لکه څنگه چه تربیت کړیدے دواړو زما په وړوکوالی کښې۔

تفسیر : د شرك نـه د مـنـع نـه روستـو دلتـه الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته خطاب وکړو او ښکاره ئے د توحید حکم ورته وکړو۔
وَقَضٰى : دلته په معنیٰ د (اَمَرَ وَاَوْجَبَ وَوَصّٰى وَاَوْحٰى) سره دے۔ یعنی الله حکم کړیدے، او دا خبره ئے لازمه کړیده، او پدے خبره ئے وصیت کړیدے او ددے خبرے وحی ئے کړیده چه بندگي به صرف د یو الله تعالیٰ کوئ۔ (مجاهدؒ وغیره)
وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا: د والدینو سره ئے احسان باندے حکم وکړو پدے کښې اشاره ده چه د

الله تعالىٰ د توحيد او د هغه د حقوقو د ادائيگئ نه روستو په دنيا كښ د والدينو د حقوقو نه لوئى حق بل نشته. او ددے وجه غالباً دا ده چه الله تعالىٰ د انسان خالق او موجِد دے، پدے وجه د هغهٔ عبادت ضروري شو، او د مور په رَحِم كښ د پلار د نطفے ځاى نيولو نه روستو مور د هغه بوج نهه مياشتو پورے په ډيرو تكليفونو برداشت كولو. او كله چه د الله په قدرت سره د مور د خيټے نه بچے پيدا كيږى نو هغه بالكل عاجز او كمزورے وى، په هغه كښ د حركت كولو هم صلاحيت نهٔ وى.

د هغه وخت نه مور او پلار د الله نه روستو د هغه مددگار جوړيږى، د هغهٔ د حفاظت دپاره د ورځے آرام او د شپے سكون دلاسه وركړى او په هره طريقه د هغهٔ خيال ساتى، هغه د خپل شفقت د سترگو د سورى لاندے پالى. نو گويا كه د هغهٔ د وجود او بقاء دپاره د الله د قدرت او رُبوبيت نه روستو ددے دواړو شفقت او محبت كار كوى. د مور او پلار سره د احسان كولو ښه طريقه دا ده چه انسان د خپلو والدينو اكرام او تعظيم وكړى او د هغوى په خدمت كښ هيڅ كوتاهى ونكړى، او كله چه دواړه يا د دوى نه يو بوډا شى نو په هغه باندے د شفقت او محبت نظر واچوى، د هغوى په خدمت كښ قلبى راحت محسوس كړى، او د دوى په خدمت كښ كه كوم تكليف اُورسى نو اُف پورے دِے ورته نهٔ وائى. په سخته لهجه كښ دِے ورته خبره نهٔ كوى، آواز دِے اُوچت نهٔ كړى.

الْكِبَرَ : بوډا والے ئے ذكر كړو ځكه چه بچے د مور او پلار په بوډا والى كښ سپكاوے كوى. نور د مور او پلار مخالفت او سپكاوے په هيڅ وخت كښ جائز نهٔ دے.

فَلَا تَقُلْ لَّهُمَا أُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا: د اف او انتهار فرق

۱- اف ادنىٰ درجه ده او نهر سخته درجه ده. دا ترقى د ادنىٰ نه اعلىٰ ته شويده.

۲- اف اِظْهَارُ التَّضَجُّرُ ته وائى يعنى چه انسان ځان تنگ وكړى د هغوى د عمل نه او داسے لفظ د خولے نه وباسى چه اُف دا كار ولے وشو ؟! اگركه هغوى ته څه بده خبره نهٔ وائى. او انتهار د هغوى مخالفت كول او په هغوى باندے رد كول دى.

د حسين بن علىؓ نه مرفوعا نقل دى چه كه الله تعالىٰ ته د مور او پلار د نافرمانئ نه د اف نه علاوه بل ادنىٰ شے معلوم وے نو هغه به ئے هم حرام كړے وے.

(فتح البيان ۱۱۹/٤) والفردوس بمأثور الخطاب لابى شجاع الديلمى الهمذانى رقم الحديث : ٥٠٦٣)

ابن كثيرؒ ليكى چه ددے نه مراد لاسو پورته كول دى په هغوىَ باندے په غصے سره او

هغوی ته بدے خبرے کول او د زورنے کلمات وئیل دی۔
مجاهدؒ وائی چه کله د هغوی نه کومه گندگی لرے کوے نو هغه وخت کښ ورته اُف هم مهٔ وایه لکه څنګه چه دے دواړو به ستا نه د ګندګی دلرے کولو په وخت زړه نهٔ تنګولو۔ اصمعیؒ وائی : اُف د غوږ خیری ته وائی۔
ابو عمرو بن العلاءؒ وائی : اُف د نوکونو ترمینځ خیرو ته وئیلے شی۔ یعنی د هغوی نه د یوے داسے خبرے موندلو په وخت چه د انسان زړه تنګوی اُف ویل هم حرام دی۔ نو وهل او کنځل کول او د هغوی سپکاوے خو په طریق اولیٰ حرام دے۔
قفالؒ د ﴿وَاخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ﴾ لاندے لیکلی دی چه لکه څنګه چه مارغه د انتهائی حفاظت په وجه خپلو بچو ته خپلے وزرے خوروی او کله چه د پرواز نه فارغ شی په زمکه باندے کوزیدل غواړی نو خپل وزر راغونډ کړی، دغه شان هلك چه کله ځوان شی او والدین بوډاګان شی نو هر وخت دِے د هغوی حفاظت کوی او د هغوی مخے ته دِے په انتهائی عاجزئ او خشوع سره وسیږی۔ پدے کښ تواضع او انکسارئ طرف ته یوه بلیغه اشاره ده۔ سعید بن جبیرؒ ددے تفسیر دا بیان کړیدے چه اے انسانه! تهٔ د خپلو والدینو دپاره داسے تواضع او انکساری ښکاره کړه لکه څنګه چه غلام د خپل سخت مزاج او سخت راګیرونکی آقا مخے ته کوی۔ (فتح البیان)
مِنَ الرَّحۡمَةِ: دا ورسره څکه وائی چه مخلوق ته عاجزی او ځان ذلیله کول حرام دی نو دلته وائی چه دا عاجزی به په هغوی باندے د رحم او شفقت کولو دپاره وی څکه چه بوډاګان دی، او په هغوی باندے به تکبر او لوئی نهٔ کوی۔
نو عاجزی دوه قسمه شوه (ذُلُّ الۡعُبُوۡدِيَّة) د بندګئ عاجزی،
او بل (ذُلّ الرَّحۡمَة) دے۔ دا په ماشومانو او بوډاګانو او کمزورو باندے کیږی۔
وَقُلۡ رَّبِّ ارۡحَمۡهُمَا : دا دعائے ددے دپاره راوړه چه اے الله! د دوی په ما دومره ډیر حق دے چه زهٔ ئے پوره نشم ادا کولے نو بس ته ئے ورله ادا کړه۔ او پدے کښ اشاره ده چه بندګان د مور او پلار حق نشی پوره کولے نو دا دعاء به د هغے په ځای قائم شی۔
كَمَا رَبَّيَانِيۡ: ربیانی په اصل کښ رَبَّبَانِيۡ وو د تخفیف دپاره یوه باء په یاء سره بدله شوه۔
یعنی دے دواړو زما تربیت کړے وو په وړوکوالی کښ چه زهٔ د ځای نه هم نشوم خوزیدلے او زما ډیر ګندونه ئے په شفقت او محبت سره پاك کړیدی۔
اهل علم وائی چه بچے هیڅکله د مور او پلار حق نشی ادا کولے څکه چه مور او پلار د

بچې په مصيبت باندې خفګان كښې وو او د هغه د صحت او عافيت دعا به ئې كوله او كله چه مور او پلار بيماران شي نو بچې پرې تنګ وي او د هغوى د وفات كيدو جلتي كوي. تردې ځاى پورې پنځه خبرې د مور او پلار په حقوقو كښې بيان شوې.

رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ إِنْ تَكُونُوا
رب ستاسو ښهٔ پوهه دې په هغه څه چه په زړونو ستاسو كښې دى كه يئ تاسو
صَالِحِينَ فَإِنَّهُ كَانَ لِلْأَوَّابِينَ غَفُورًا ﴿٢٥﴾
نيك عمله نو يقيناً الله دې دپاره د هغه چا چه راګرځيدونكى دى (الله ته) بخنه كونكې.

تفسير : پدې كښې د مور او پلار په احسان كښې د نيت صحيح كولو ته اشاره ده. الله تعالىٰ ستاسو د زړونو په خبرو ښه پوهه دې. كوم شخص چه د والدينو دپاره نيك جذبات لري نو الله هغه ښه پيژني او كه كوم شخص چه د هغوى نه د نفرت جذبه لري او هغوى بوج ګڼړي نو هغه هم الله تعالىٰ ته ښهٔ معلوم دې. او دواړو سره به د هغوى د نيت مطابق معامله كوي.

تَكُونُوا صَالِحِينَ: اَیْ فَاَنْتُمْ اَوَّابُوْنَ. يعنى كه تاسو نيكان شوئ نو تاسو به اوابون (الله ته راګرځيدونكى) شئ او الله تعالىٰ اوابينو ته بخنه كوي.

اوّاب چاته وائى؟

لِلْأَوَّابِينَ: اوابين جمع د اوّاب ده. ١- اَلَّذِیْ يُذْنِبُ ثُمَّ يَتُوْبُ ثُمَّ يُذْنِبُ ثُمَّ يَتُوْبُ) (سعيد بن المسيب) هغه شخص چه ګناه وكړي بيا توبه وباسي بيا ګناه وكړي بيا توبه وباسي. زر زر الله ته راګرځي. ٢- اَلرَّجَّاعُ اِلَى اللّٰهِ فِيْمَا يُحْزِنُهٗ وَيَنُوْبُهٗ) الله تعالىٰ ته په هغه مصيبتونو كښې راواپس كيږي چه دې غمجن كوي او دهٔ باندې راځي.

٣- اَیِ الرَّجَّاعِيْنَ عَنِ الذُّنُوْبِ اِلَى التَّوْبَةِ وَمِنَ السَّيِّئَاتِ اِلَى الْحَسَنَاتِ وَمِنَ الْعُقُوْقِ اِلَى الْبِرِّ وَمِنْ عَدَمِ الْاِخْلَاصِ اِلٰى مَحْضِ الْاِخْلَاصِ. هغه كسان چه د ګناهونو نه توبې ته او د بدو نه نيكيانو ته او د نافرمانئ نه نيكئ او احسان ته او د بې اخلاصئ نه اخلاص ته راواپس كيږي. ٤- ابن عباس ﷺ فرمائي: اَلْاَوَّابِيْنَ : اَلْمُطِيْعِيْنَ الْمُحْسِنِيْنَ التَّوَّابِيْنَ)

اوابين : تابعدارو، احسان كونكو او توبه ويستونكو ته وئيلې شي. (فتح البيان)

او په صحیح حدیث کښې دي چه صلاة الاوابین په هغه وخت کښې دي چه زمکه په نمر باندې داسې ګرمه شي چه د اوبنانو د بچو خپې سوزوي (مسلم: ۱۷۸۰)
او هغه وخت د ضحیٰ (څاښت) دې. (یعنې دا د اوابینو لمونځ شوه چه دې وخت کښې به مونځ کوي) نو دا خبره چه په عوامو کښې مشهوره ده چه صلاة الاوابین د ماښام نه روستو نفل کول دي، غلطه ده.
د سعید بن جبیرؒ نه نقل دي چه په آیت کښې دې ته هم اشاره ده چه ښۀ نیت او په عام حالاتو کښې د والدینو سره ښه سلوك کولو سره که کله یو تقصیر وشي او په هغې باندې انسان پښیمانه وي نو الله تعالیٰ د هغه ګناه معاف کوي او عذاب نۀ ورکوي.

وَآتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ وَلَا تُبَذِّرْ
او ورکړه خپلوان ته حق د هغه او مسکین ته او مسافر ته او مۀ خرچ کوه مال
تَبْذِيْرًا ﴿۲۶﴾ إِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْا إِخْوَانَ الشَّيَاطِيْنِ وَكَانَ
په بې ځایه خرچ کولو سره. یقیناً بې ځایه خرچ کونکي دي ورونه د شیطانانو او دې
الشَّيْطَانُ لِرَبِّهٖ كَفُوْرًا ﴿۲۷﴾ وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَآءَ رَحْمَةٍ
شیطان د رب خپل نه ناشکره. او که تۀ مخ اړوې د دوی نه دپاره د طلب کولو د رحمت
مِّنْ رَّبِّكَ تَرْجُوْهَا فَقُلْ لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُوْرًا ﴿۲۸﴾ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُوْلَةً
د رب ستا چه امید ئې لرې تۀ نو وایه دوی ته وینا نرمه. او مۀ ګرځوه لاس خپل تړلې شوې
إِلٰى عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُوْمًا مَّحْسُوْرًا ﴿۲۹﴾
څټ سره او مۀ کولاوه دا په پوره کولاوولو سره نو کېښې به ملامته کړې شوې ستومانه شوې

تفسیر : د والدینو نه روستو د خپلوانو او فقیرانو او د مسافرو د حقوقو خیال ساتلو حکم شوېدې. مفسرینو لیکلي دي چه دلته ئې د قریب په ځای «ذو القربیٰ» لفظ وویلو پدې کښې دې طرفته اشاره مقصود ده چه که د چا سره ادنیٰ قرابت او خپلولي هم وي، نو د هغه خیال ساتل پکار دي. او د صحیح حدیث نه ثابته ده چه خپلوانو ته په صدقه ورکولو کښې دوه اجره دي یو د صله رحمۍ او بل د صدقې اجر ملاویږي.
(صحیح بخاری: ۱٤٦٦)

وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا : پدے کښ د فضول خرچئ نه منع شويده، تبذير دے ته وائی (اِنْفَاقُ الْمَالِ فِيْ غَيْرِ حَقِّهٖ) (ابن عباسؓ وابن مسعود ﷺ) يعنی يو سړے خپل مال په ناجائز کارونو کښ خرچ کړی، (لکه په نذر د غير الله کښ خرچ کول او په بدعاتو او رسمونو کښ خرچ کول) يا په هغه خلقو باندے خرچ کړی چه د شرعی اصولو مطابق مستحق نهٔ وی۔

دارنګه تبذير دے ته هم وائی چه انسان په غير ضروری څيزونو کښ مال خرچ کړی۔

که يو انسان خپل ټول مال په حق کښ ولګوی نو هغه تبذير نهٔ دے، او که يوه روپئ په باطل کښ خرچ کړی نو دا تبذير دے۔

او څينی اهل علم وائی چه تبذير: (اِنْفَاقُ الْمَالِ فِي الْعِمَارَةِ عَلٰى وَجْهِ السَّرَفِ) مال په آبادئ کښ خرچ کول په طريقه د اسراف (زيادت) سره۔ او دا مرض پدے زمانه کښ څومره زيات دے چه خلك په بيت الخلاء باندے څومره فضول مالونه لګوی، ددے نه اندازه کيږی چه ددے خلکو مالونه اکثر د حرامو وی څکه ئے ترے الله تعالٰی پداسے ګنده ځايونو کښ لګوی۔

ابو اسحاق السبيعی رحمه الله يو کور وليدو (بُنِيَتْ بِالْجَصِّ) په چونے سره ښائسته جوړ شوے وو نو هغه وفرمايل : (هٰذَا مِنَ التَّبْذِيرِ) دا هم په تبذير (فضول خرچئ) کښ داخل دے۔

څينی نيکانو په خير کښ ډير مال خرچ کړو نو ملګرے ورته وويل چه (لَا خَيْرَ فِي السَّرَفِ) په اسراف کښ خير نهٔ وی۔ نو هغه ورته جواب ورکړو: (لَاسَرَفَ فِي الْخَيْرِ) په خير کښ استعمال د مال اسراف نهٔ دے۔ او آيت دے ټولو ته شامل دے۔

زمخشری په «کشاف» کښ ليکلی دی چه د جاهليت په دور کښ به خلقو اُوښان ذبح کول او د خپلے مالدارئ خودنه به ئے کوله، او د فخر او يارکارئ په نورو کارونو کښ به ئے مال خرچ کولو، او په خپلو اشعارو کښ به ئے هغه ذکر کول۔

پدے آيت کښ الله تعالٰی دوی ته حکم وکړو چه دوی خپل مال په داسے کارونو کښ خرچ کړی چه دوی الله تعالٰی ته نزدے کړی۔

اِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْا اِخْوَانَ الشَّيٰطِيْنِ : دا د مخکښ نهی د تبذير دپاره علت دے،

❁ يعنی مُبذرين د شيطانانو سره په ناشکرئ کښ پوره مشابه دی، او د شيطان د مشابهت نه ځان ساتل واجب دی۔ او دا ډيره سخته بدی ده څکه چه د شيطان نه بل شری نشته۔ په اسلام کښ د مال ډير قدر دے، ددے په باره کښ به الله تعالٰی تپوس کوی۔

❁ یا مطلب دا دے چه فضول خرچ کونکی خلق به په جهنم کښې د شیطان ملګری وی۔
وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهٖ كَفُوْرًا : پدے کښې د تیر شوی علت تکمیل دے چه شیطان نه لوئی د الله بل ناشکره بنده نشته دے، ځکه چه الله تعالیٰ دهٔ ته ځو مره صلاحیتونه ورکړیدی هغه ټول هغه په ګناهونو، زمکه کښې په فساد خورولو او د خلقو په ګمراه کولو او کفر طرف ته رابللو کښې لګولی دی۔ دغه شان که یو سړے د الله ورکړی نعمتونه د الله د بندګئ په ځای په ناجائزو کارونو کښې خرچ کوی نو ګویا که هغه د شیطان په شان دے۔
كَفُوْرًا : دا قیاسی شکل دے (اَلْمُبَذِّرُوْنَ اِخْوَانُ الشَّيَاطِيْنِ وَالشَّيْطَانُ لِرَبِّهٖ كَفُوْرٌ فَالْمُبَذِّرُ كَفُوْرٌ)۔ (یعنی مبذرین د شیطان ورونه دی او شیطان خو د خپل رب ناشکره دے نو مبذر هم ناشکره دے)۔
وَاِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَآءَ رَحْمَةٍ : دا متعلق دے د (وَآتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ) سره۔ او پدے آیت کښې دوه تفسیره دی (۱) یعنی کوم خلق چه مخکښې ذکر شو که د دوی نه څوك ستا مخے ته خپل ضرورت پیش کړی او تا سره د هغه د ورکولو دپاره مال نهٔ وی، نو تا له پکار دی چه هغه غوختونکے مایوس نهٔ کړے، د هغه سره په سخته لهجه کښې خبره ونکړے او ددے وعدے سره هغه واپس کړے چه که الله تعالیٰ وسع راکړو نو ستا مدد به وکړم۔
یا ورته په ښه شان سره عذر وکړه او دعاء ورته وکړه چه الله دِے مونږ او تا ته د خپلے مهربانئ نه حلال مال راکړی۔ نو د (اِبْتِغَاءَ رَحْمَةٍ) نه مراد مال راتلل دی یعنی که روستو مال راغلو بیا به ئے درکړم۔ نو د اعراض نه مراد د مخ اړول نهٔ دی۔ په ښائسته شان سره سائل واپس کول هم نیکی ده۔
(۲) تفسیر : بعض خپلوان مفسدان وی، مال په فساد کښې لګوی، تی وی پرے اخلی، زنا باندے ئے لګوی، چرس پرے څکی نو هغوی ته به مال د الله د رضا د وجه نه نهٔ ورکوے ځکه چه د مجرمانو سره بائیکاټ ضروری دے، نو بیا به هغه په نرمه وینا سره رخصت کړے چه زهٔ ددے طاقت نهٔ لرم۔ خو مال ورله مهٔ ورکوه۔ اوله معنیٰ ظاهره ده او دویمه معنیٰ د نورو دلائلو نه معلومیږی۔
وَلَا تَجْعَلْ : مخکښې د تبذیر نه منع وشوه نو اُوس د انفاق ادب بیانوی۔
مَغْلُوْلَةً اِلٰى عُنُقِكَ : دا کنایه وی د بخل نه۔ نو دلته د بخیل د هغهٔ سړی سره تشبیه ورکړے شویده چه د هغهٔ دواړه لاسونه د هغهٔ د څټ پورے تړلے شوی وی چه په هغه لاسونو سره دا نهٔ څوك نیولے شی او نهٔ د هغے په ذریعه چا له څه شے ورکولے شی۔ او دا

ډیره مبالغه ده. او دا خطاب نبی کریم ﷺ ته اول دے او مقصد پکښې مؤمنانو ته نصیحت کول دی، او هرچه رسول الله ﷺ وو نو (كَانَ اَجْوَدَ النَّاسِ بِالْخَيْرِ). هغه د ټولو خلکو نه زیات سخي وو. (بخاري رقم: ٦)

كُلَّ الْبَسْطِ : ١- یو په تبذیر سره لاس پوره فراخه کول مراد دی. چه بې ځایه ډیر لګوی. ٢- ظاهر دا ده چه پدیے کښې صدقه هم مراد ده چه انسان د وس نه بهر صدقے کوی، یا ټول مال لګوی دا هم د عامو مؤمنانو دپاره صحیح نهٔ ده ځکه چه بیا بنده بل ته محتاج کیږی، او د بال بچ حق ضائع کیږی. كعب بن مالك ﷺ وفرمایل: زهٔ ټول مال خیرات کوم. رسول الله ﷺ وفرمایل: (اَمْسِكْ عَلَيْكَ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ) بعض مال ځان سره وساته، دا ستا دپاره غوره ده. هغه وویل: (فَاِنِّیْ اُمْسِكُ سَهْمِیَ الَّذِیْ بِخَيْبَرَ) زهٔ به خپله هغه برخه چه په خیبر کښې ده وساتم). (بخاري ١٤٢٥ ومسلم: ٧١٩٢)

فَتَقْعُدَ مَلُوْمًا مَّحْسُوْرًا: مَلُوْمًا بِالْبُخْلِ. مَحْسُوْرًا بِالتَّبْذِيْرِ وَالْبَسْطِ.

د بخل په صورت کښې به دِے خلك ملامته کوی چه مال درسره شته او نهٔ ئے لګوی، او د فضول خرچئ په وجه سره به ټول مال ضائع شي نو بیا به ستومانه ئے او افسوسونه به کوے او د بل لاس ته به ګورے. دا د الله تعالیٰ ډیر د عقل او حکمة خبرے دی، درمیانه خرچه وکړه. د دنیا او د آخرت دواړو خیال ساته.

فَتَقْعُدَ کښې اشاره ده چه د داسے انسان حالت به د هغه اُوښ وی چه په لاره باندے تلو سره ستړے شي او هار اُوبیلے کینی، مخکښې نشي تلے، نو د هغه مالك هغه هملته پریدی او ترے لاړ شي.

إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ إِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ
یقیناً رب ستا فراخوی رزق چا لره چه وغواړی او کموی ئے یقیناً الله دے په بندګانو خپلو
خَبِيْرًۢا بَصِيْرًا ﴿٣٠﴾ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ اِمْلَاقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ
خبردار، لیدونکے. او مهٔ وژنئ اولاد خپل د یرے د لوږے (فقر) نه مونږ رزق ورکوو دوی ته
وَاِيَّاكُمْ اِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْـًٔا كَبِيْرًا ﴿٣١﴾ وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰٓى اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً
او تاسو ته یقیناً وژل د دوی ګناه ده لویه. او مهٔ نزدے کیږئ زنا ته یقیناً دا بے حیائی ده

وَّسَآءَ سَبِيۡلًا ﴿۳۲﴾ وَلَا تَقۡتُلُوا النَّفۡسَ الَّتِىۡ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالۡحَقِّ

او بده لاره ده۔ او مهٔ وژنئ نفس هغه چه حرام کړیدے الله (وژل د هغهٔ) مګر په حق سره

وَمَنۡ قُتِلَ مَظۡلُوۡمًا فَقَدۡ جَعَلۡنَا لِوَلِيِّهٖ

او څوك چه اُووژلے شو په ظلم سره نو يقيناً ګرځولے دے مونږ د وارث د هغهٔ دپاره

سُلۡطٰنًا فَلَا يُسۡرِفۡ فِّى الۡقَتۡلِؕ اِنَّهٗ كَانَ مَنۡصُوۡرًا ﴿۳۳﴾

طاقت نو زياتے دِے نهٔ کوی په وژلو کښې يقيناً دهٔ سره مدد کړے شويدے۔

تفسیر : پدے کښې رسول الله ﷺ او مؤمنانو ته تسلی ورکوی چه دوی باندے ئے چه کومه پابندی ولګوله په زيات مال خرچ کولو کښې نو هغه پدے وجه نهٔ ده چه ګنے د الله په خزانو کښې به کمے راشی بلکه پدے کښې د الله تعالیٰ حکمت دے او د انسانانو فائده ده۔

﴿وَلَوۡ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزۡقَ لِعِبَادِهٖ لَبَغَوۡا فِى الۡاَرۡضِ﴾ (فتح البيان والدر المنثور)

يعنی د بندګانو په رزق کښې فراخی او تنګی د الله د تعالیٰ د مشيت تابع ده۔ هغه د انسانانو په ظاهر او باطن ښه پوهيږی او د خپل حکمت د تقاضا مطابق چه چا له غواړی رزق فراخوی او چه چا له غواړی کموی، نو د چا رزق چه ئے فراخه کړو دا دليل نهٔ دے چه ګنے دے د الله په نيز عزتمند دے او په چا چه ئے تنګوی راوسته چه ګنے دے د الله په نيز سپك دے۔ ❁ او پدے کښې دا مطلب هم دے چه فراخی او تنګی ورکول د الله په امر دی او د هغهٔ خزانے نهٔ ختميږی او هرچه بندګان دی نو هغوی باندے لازم ده چه اقتصاد (درميانه روي) وکړی۔

اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيۡرًا بَصِيۡرًا : حسن بصریؒ فرمائی : الله تعالیٰ ګوری، چا له چه مالداری غوره وی نو مالداره ئے ګرځوی او که فقر ورله غوره وی نو فقير ئے جوړوی۔

❁ حسنؒ دا هم وئيلی دی : [يَبۡسُطُ لِهٰذَا مَكۡرًا بِهٖ وَيَقۡدِرُ لِهٰذَا نَظَرًا لَّهٗ] د يو تن مال فراخه کوی، د هغهٔ استدراج (په دمه دمه رانيول مقصد) وی او د بل مال تنګوی د هغه (د ايمان) خيال ساتی۔ که مالداره شی سرکشه کيږی۔ (ابن ابی حاتمؒ والدر المنثور)

او الله تعالیٰ د انسانانو مزاجونه پيژنی، د چا د ايمان حفاظت په مال سره کوی او د چا په غريبئ سره، که غريب مالداره شی خرابيږی، او سرکشه کيږی، او که مالداره غريب شی نو بيا ئے په الله باندے بدګمانی پيدا کيږی۔ او دا د الله تعالیٰ عجيب حکمة دے۔

وَلَا تَقْتُلُوْا أَوْلَادَكُمْ :

ربط :

۱- د مخکښې آيت نه معلومه شوه چه الله تعالىٰ روزي رسان دے، هغه د هر چا د رزق ذمه واري اخستے ده، نو پدے وجه ئے دلته اولادو لره د فقر او محتاجئ په يره سره د وژلو نه منع وکړه۔

۲- مخکښې حفاظت وو د ارواحو د مساکینو نو اُوس بیانوي حفاظت د ارواحو د اولادو۔

حکمة

وَلَا تَقْتُلُوْا : دا خطاب دے مالدارو ته پدے وجه ئے دلته (خَشْيَةَ) وويلو يعني آينده دپاره يريږے چه دوي ته به رزق څوك ورکوي۔ او په سورة الانعام آيت (۱۵۱) کښې خطاب وو غريبانو ته چه هغوي في الحال وږل پدے وجه ئے هلته (مِنْ إِمْلَاقٍ) لفظ ووئيلو۔ او پدے وجه ئے دلته (نَرْزُقُهُمْ) په (وَإِيَّاكُمْ) مخکښې کړو۔ څکه چه مالدارو سره د اولادو فکر وو۔ او په انعام کښې ئے (نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ) ووئيلو څکه چه غريبانو سره خپل فکر وو۔ فتدبر۔

د جاهليت په دور کښې به بعض قبيلو خپل اولاد د محتاجئ په يره قتل کول۔ الله وائي چه دوي او تاسو ټولو ته مونږ روزي درکوو، پدے وجه د لوږے او محتاجئ په يره سره دوي قتل نهٔ کړئ۔ داسے کار کول لويه ګناه ده، څکه چه دا د انساني نسل د ختميدلو سبب جوړيدے شي۔ او د قتل الاولاد پوره تشريح په تفسير د سورة الانعام کښې ذکر شويده هغے ته به رجوع بنه وي۔

خِطْئًا كَبِيْرًا : دا دليل دے چه د خطاء اطلاق کله په ګناه کبيره هم کيږي۔

وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰى: دا د خپل او د بل د عزت د حفاظت دپاره حکم دے۔ څکه چه زنا د نسب د ګډوډ کيدو او په آخر کښې د انساني نسل د تباهئ سبب جوړيږي۔

زنا هغه بد فعل دے چه د سليم فطرت او د عقل او د شريعت په هر اعتبار سره لويه ګناه ده، او په معاشره د مسلمانانو باندے ددے نهايت خطرناك او بد اثرات مرتب کيږي۔ د مسلمانانو سرو او ښځو عزت محفوظ نهٔ پاتے کيږي، د دوي نسب او د دوي نسل په خطره کښې پريوزي، او پاکه او صفا معاشره د اخلاقي اُور ښکار کيږي، او څوك چه دا کار کوي نو د الله تعالىٰ د فرمان مطابق په آخرت کښې به ددهٔ ځاى جهنم وي۔

وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ: پدے آيت کښې دبې ګناه انسان د قتل نه منع شويده۔

إِلَّا بِالْحَقِّ : یعنی سوئ د هغه شخص نه چه د هغهٔ په شرعی توګه سره قتل کول ضروری شی لکه هغه په حدیث کښې راغلی دی چه یو د درے کارونو په وجه۔ (اِلَّا بِاِحْدٰی ثَلَاثٍ) لکه یو تن مرتد شی، یا د واده کولو نه روستو زنا وکړی، یا بل سړے په ناحقه قتل کړی (نو قصاصاً به وژلے شی) (بخاری : ٦٨٧٨) مسلم (٤٤٦٨)

وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُوْمًا : یعنی که یو تن بل شخص لره په قصد او په ناحقه سره قتل کړو نو د هغهٔ ولی ته پوره اختیار دے، که غواړی نو قاتل نه به د وخت د حاکم په ذریعه د قصاص مطالبه وکړی، یا به دیت واخلی، یا که غواړی نو د الله دپاره دِے معاف کړی، او په قصاص اخستو کښې به د حد نه تجاوز نهٔ کوی، د قاتل نه سوئ بل څوك به نهٔ قتلوی، که قاتل یو وی نو دوه یا زیات د دوو نه به نهٔ قتلوی، لکه څنګه چه به د جاهلیت په زمانه کښې کیدل چه د یو په بدله کښې به ئے ډیر قتلول۔ پدے وجه الله تعالیٰ قصاص واجب کړو او د مقتول د اولیاؤ مدد ئے وکړو۔ او کومه مناسبه بدله چه کیدل پکار وو هغه ئے مقرر کړه، پدے وجه د الله د حکم نه تجاوز کول نهٔ دی پکار۔

لِوَلِيِّهٖ سُلْطَانًا : یعنی د وارث د مقتول دپاره مونږ قدرت او قوت او ولایت د قصاص ګرځولے دے په سبب د بادشاه سره چه هغه به ورسره مدد کوی او قاتل به ورته حاضره وی، بیا ددے اولیاؤ خوښه ده په دغه درے خبرو کښې چه کومه اختیاروی۔

فَلَا يُسْرِفْ فِّي الْقَتْلِ : یعنی ولی د مقتول به اسراف نهٔ کوی په قتل کښې د حدودو د قصاص نه۔ چه مُثله وکړی یا زیات قتل کړی، یا د قاتل ورور یا پلار وغیره قتل کړی۔

كَانَ مَنْصُوْرًا: یعنی دے ولی د مقتول سره به مدد کولے شی د طرف د مؤمنانو نه۔

د ضحاكؒ نه نقل دی چه دا آیت په مکه کښې نازل شوے وو په کوم وخت کښې چه د الله نبی په مکه کښې وو او دا د قتل په باره کښې اولنے آیت دے۔ د مکے مشرکانو به د رسول الله ﷺ په ملګرو باندے پټے حملے کولے نو الله وفرمایل چه که مشرکانو تاسو نه څوك قتل کړی نو ددے قتل په بدله کښې د هغه پلار یا ورور یا بل یو تن د هغه د قبیلے نه مهٔ وژنئ اګرکه هغوی مشرکان دی بلکه صرف قاتل قتل کړئ۔ او دا په هغه وخت کښې وو چه کله سورة براء ة نازل شوے نهٔ وو او د مشرکانو په قتال باندے حکم نهٔ وو شوے۔ (فتح البیان)

وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ حَتّٰى
او مهٔ نزدے کیږئ مال د یتیم ته مګر په هغه طریقه چه هغه ښائسته ده تردے

يَبْلُغَ أَشُدَّهُ وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْؤُولًا ﴿٣٤﴾

چه اُورسيږي ځوانئ ته، او پوره والے اُوکړئ په لوظ يقيناً د لوظ تپوس به کيدے شي۔

وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ

او پوره کوئ پيمانه کله چه پيمانه کوئ، او تول کوئ په تله برابره سره

ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٣٥﴾

دا ډير غوره کار دے او ښائسته انجام والا دے۔

تفسير : د نفس د حفاظت حکم کولو نه روستو اُوس د مال د حفاظت حکم کيږي او چونکه د يتيم د الله تعالىٰ نه سوئ بل کوم مضبوط مددګار نۀ وي، پدے وجه د هغۀ په مال باندے د بدنيته خلقو نظر هميشه لګی۔ پدے وجه د تولو نه اول د هغۀ د مال د حفاظت حکم وکړے شو، او پدے باره کښ د انتهائي احتياط تعليم ورکولو دپاره الله تعالىٰ وفرمايل چه د يتيم مال ته نزدے هم مۀ ورځئ، آؤ، که نيت دا وي چه د هغۀ خدمت وکړے شي، په تجارت کولو سره هغے ته ترقي ورکړے شي، نو بيا پدے کښ تصرف کول جائز دي، تردے پورے چه يتيم بالغ شي او په عقلي توګه باندے په خپل مال کښ د صحيح تصرف کولو قابل شي۔ او همدا معنىٰ د (اِلَّا بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ) ده۔

وَاَوْفُوْا بِالْعَهْدِ : يعني د خلقو سره چه ستاسو کوم عقود او معاهدے وي، د هغے پابندي کوئ او دهوکه مۀ کوئ، ځکه چه د قيامت په ورځ به د بندګانو نه د لوظونو او عهودو په باره کښ هم تپوس کيږي او که چا په غير د سبب نه لوظ مات کړو نو په هغه ورځ به د هغے سزا برداشت کوي۔

كَانَ مَسْؤُوْلًا: اَیْ عَنْهُ۔ يعني ددے په باره کښ به تپوس کيږي۔

وَاَوْفُوا الْكَيْلَ : مسلمانانو ته حکم کيږي چه په ناپ او تول کښ کمي ونکړي، کله چه د چا دپاره تول او وزن کوي نو پوره دِے تلي او وزن دِے صحيح کړي، نو صحيح تلے سره دِے وزن کوي، ډنډے دِے نۀ وهي، او دهوکه دِے نۀ کوي، پدے کښ هر خير دے او د انجام په اعتبار سره همدا بهتره ده، ځکه چه په معاملاتو کښ د رشتينوالي په وجه سره الله تعالىٰ د هغه په روزي کښ برکت اچوي، او د قيامت په ورځ به يو مظلوم ددۀ نه د خپل حق مطالبه نۀ کوي۔

بِالْقِسْطَاسِ : زجاج وائی : مِيْزَانُ الْعَدْلِ۔ يعنی د انصاف تله، وړه وی او که غټه، د دَرَاهِمُو وی او که د بل څه۔ او په لغت د رومیٔ کښې قسطاس عدل ته وئیلے شی، او دا عربی لفظ دے لیکن په عربیٔ کښې مشهور نهٔ وو او د رومیانو لفظ د عربیٔ سره موافق شو۔
او داسے نهٔ ده چه دا لغت د رومیانو نه اخستے شویدے ځکه چه قرآن خالص عربی کتاب دے، پدے کښې عجمی الفاظ نشته، او کومو ته عجمی وئیلے کیږی هغه په دغه معنیٰ چه موافقت د لغاتو راغلے وی۔
ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّأَحْسَنُ تَأْوِيْلًا : دا په دنیا کښې غوره دے ځکه چه حلال مال دِے وګټلو او عبادات به دِے قبلیږی، او انجام ئے هم ښه دے، ځکه چه الله تعالیٰ به درسره حساب نهٔ کوی۔ مال به دِے په خیر او دین باندے لګیږی، اولاد به دِے نیکان کیږی۔

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ
او مهٔ روانیږه د هغے پسے چه نهٔ وی تا سره په هغے باندے علم (دلیل) یقیناً غوږ او سترګه
وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُوْلًا ﴿٣٦﴾ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ
او زړه، ددے ټولو په باره کښې به تپوس کیدے شی۔ او مهٔ ګرځه په زمکه کښې
مَرَحًا إِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُوْلًا ﴿٣٧﴾ كُلُّ ذٰلِكَ
په تکبر یقیناً تهٔ نشی شلولے زمکه او نشی رسیدلے غرونو ته په اُوږدوالی۔ دا ټول
كَانَ سَيِّئُهٗ عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوْهًا ﴿٣٨﴾ ذٰلِكَ مِمَّا
پدے کښې بد کارونه په نیز د رب ستا ناروا دی۔ دا چه ذکر شول د هغے نه دی
أَوْحٰٓى إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ إِلٰهًا آخَرَ
چه وحی کړیده تا ته رب ستا د حکمت د خبرونه، او مهٔ ګرځوه د الله سره معبود بل
فَتُلْقٰى فِيْ جَهَنَّمَ مَلُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿٣٩﴾
نو ګوزار به شے په جهنم کښې ملامته کړے شوے رټلے شوے۔

تفسير : پدے آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ سړی لره د داسے خبرے کولو او د داسے خبرے پسے د روانیدو نه منع کړیدے چه هغه سره د هغے علم نهٔ وی۔ که چا پدے یو آیت عمل

وكړونو متقي به شي او ډيره زياته اصلاح به ئے وشي.
وَلَا تَقْفُ : دا د قفا نه مأخوذ دے د چا د شا پسے ورتللو او روانيدو ته وئيلے شي نو د لاتقف معنیٰ ده (لَاتَتَّبِعْ) مهٔ روانيږه د هغه كار او هغه خبره پسے چه ستا پرے علم نهٔ وي مطلب ئے دا دے چه هغه بيانوه هم مهٔ او كوه ئے هم.

ددے ډير مصداقات او مطلبونه دي

۱- قتادهؒ وائي : [لَاتَقُلْ رَأَيْتُ وَلَمْ تَرَ، وَسَمِعْتُ وَلَمْ تَسْمَعْ، وَعَلِمْتُ وَلَمْ تَعْلَمْ]. داسے مهٔ وايه چه ما ليدلي دي او حال دا چه تا نهٔ وي ليدلي، ما آوريدلي او تا نهٔ وي آوريدلي او زهٔ پوهه يم او تهٔ پرے پوهه نهٔ ئے.
۲- مجاهدؒ وائي : دا د بهتان معنیٰ ورکوی : [لَا تَرْمِ اَحَدًا بِمَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ].
چا باندے تهمت مهٔ لګوه چه ستا پرے علم نهٔ وي. (چا ته غل، ډاكو، جاسوس وئيل بغير د ثبوت او دليل نه جائز نهٔ دي). (او دا خبره د ابن عباسؓ نه ابن جريرؒ نقل كړيده).
۳- [اَلْقَوْلُ فِي الْاَسْمَاءِ وَالصِّفَاتِ] د الله په اسماء او صفاتو كښ د ځان نه خبرے كول، يد، استواء على العرش وغيره صفاتو نه انكار كول.
٤- [لَاتَتَكَلَّمْ بِالظَّنِّ وَالْحَدْسِ]. خبره په ظن (ګمان) او حدس سره مهٔ كوه.
٥- قاسميؒ وائي : [وَيَدْخُلُ فِيْ ذٰلِكَ الْكَذِبُ] پدے كښ دروغ هم داخليږي.
شوكانيؒ وائي چه دا آيت قاعده كليه ده چه ددے په ضمن كښ هغه تمام اقوال او افعال داخل دي چه د هغے د رشتينوالي او حقانيت انسان ته علم نهٔ وي. مثلاً د دروغو ګواهي وركول، بغير د ثبوت نه د چا بدي بيانول، پاكدامنو سړو او ښځو باندے بهتان تړل، بغير د شرعي دليل نه يو شے حلالول او يو شے حرامول. (دارنګه شرك كول)
علامه قاسميؒ او زمخشري وئيلي دي : [وَيَدْخُلُ فِيْهِ النَّهْيُ عَنِ التَّقْلِيْدِ دُخُوْلًا ظَاهِرًا، لِاَنَّهٗ اِتِّبَاعٌ لِمَا لَايَعْلَمُ صِحَّتَهٗ مِنْ فَسَادِهٖ، انتهى].
او پدے نهي كښ تقليد هم داخل دے په ښكاره طريقے سره ځكه چه تقليد كښ هم مقلد روانيږي د هغه وينا او عمل پسے چه د هغے صحت او فساد ورته معلوم نهٔ دے.
(مقلد ته د خپل امام او عالم د خبرے دليل نهٔ وي معلوم، او هسے ورپسے روان وي او په ګمان لګيا وي چه كيدے شي چه هغهٔ سره به دليل وي نو د همدغه كار نه د قرآن دا آيت منع كوي كه څوك ضد نكوي نو د قرآن دا يو آيت هم د هغه دپاره د تقليد په پريخودو

کښې کافي دليل دے).
آيت او حديث ښکاره موجود دے او دے د وهمي خبره پسے روانيږي دا کوم عقل دے، دا تول د کيدے شي پسے روان وي او په ډيرو مسائلو کښې ظاهري نصوص پريدي.
شوکانيؒ دا هم وائي: کله چه د کتاب يا د سنت دليل موجود وي او يو انسان په رأى د يو عالِم باندے عمل کوي، نو دا پدے نهي کښې په اوله درجه کښې داخل دے. بيا وائي: ددے نه ښکاره معلوميږي چه دا کوم آراء چه په کتابونو د فرعو کښې ليکلے شويدي نو دا د شريعت نه په هيڅ برخه کښې نۀ دي او پدے باندے عمل کونکے (او آيت او حديث پريخودونکے) د هلاکت په کنده باندے ولاړ دے. او کوم خلك چه دا وائي چه دا آيت خاص دے په عقائدو پورے نو د هغه سره هيڅ دليل نشته. انتهىٰ.
(فتح البيان وفتح القدير والقاسمي والبيضاوى والمنار ۱۱/ ۲۰۳)
إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ: ددے ممانعت علت ئے دا بيان کړو چه د قيامت په ورځ به د انسان نه د هغۀ د غوږ او د سترگے او د زړۀ د تولو اعمالو په باره کښې تپوس کيږي. او دے سره به حساب کيږي او سخته سزا به ورکوي.
ددے يو بل مطلب دا هم بيان شويدے چه الله تعالىٰ به دے اندامونو ته د خبرو کولو طاقت ورکوي، او ددے نه به تپوس کوي چه ددے په ذريعه کوم کوم گناهونو کړے شوي وو.
وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا : الله تعالىٰ انسان ته نصيحت کړيدے چه په زمکه باندے د کبر او غرور سره په تکبر نۀ گرځي، ځکه داسے کولو سره دا نۀ شي پورته کيدے، لکه څنگه چه مخکښې وو همغه شان به پاتے وي، پدے وجه الله تعالىٰ دے نه روستو وفرمايل چه د کبر او غرور په وجه په زمکه گرځيدو سره هغه په زمکه کښې سورے نشي کولے، او نۀ په تکبر گرځيدو سره د غر په شان پورته کيدے شي. پدے وجه انسان له پکار دي چه تواضع او انکساري اختيار کړي، ځکه کبر او غرور د حماقت او کم عقلئ نخه ده.
مَرَحًا : ۱- دا شِدَّةُ الْفَرَح ته وئيلے شي يعني سخته خوشحالي کول چه د هغے په وجه انسان په تکبر او غرور کښې راشي او نور خلك سپك گنړي.
۲- ځيني وائي: دا په مزل کښې تکبر کول دي.
۳- او بعض وائي: (تَجَاوُزُ الْإِنْسَانِ قَدْرَهُ) د انسان د خپلے اندازے او مرتبے نه بهر کيدل دي. دلته ترے مراد تکبر دے او دا د مصدر صيغه ده، اصل کښې داسے ده (ذَا مَرَحٍ او مَارِحًا)

(تکبر والا) لیکن د زیات تاکید په طور مصدر په ځای د صفت واقع شویدے۔
قرطبیؒ لیکی چه پدے کښ د ډمو ګډا وغیره داخله ده۔ دنیا کښ دومره خوشحالی نۀ ده پکار چه روستو درپسے قبر او حشر راروان دے۔
علماء لیکی چه د سختے خوشحالئ د وجه نه درے مرضونه پیدا کیږی۔
(۱) تکبر کول۔ (۲) تَحۡقِيۡرُ الۡمُسۡلِمِيۡنَ۔ (د مسلمانانو سپك ګڼړل)۔
(۳) اَلۡغَفۡلَةُ۔ (غافله کیدل)۔ پدے وجه ترے شریعت منع کړیده۔
إِنَّكَ لَنۡ تَخۡرِقَ الۡأَرۡضَ : ددے یو مطلب دا هم دے چه [اِنَّكَ مُحَاطٌ بِالتُّرَابِ وَالۡأَحۡجَارِ] ستا نه خاوره او کانړی راتاؤ دی او تۀ د دوی ترمینځ راګیر ئے بلکه ضعیف انسان ئے د نور مخلوق په شان، بلکه د هغوی نه هم کمزورے ئے، نو ستا سره کبر څنګه لائق دے؟!۔
كَانَ سَيِّئُهُ : یعنی پدے مذکوره کارونو کښ چه کوم بد بد کارونه دی هغه ستا د رب په نیز باندے حرام دی۔
مَكۡرُوۡهًا : مکروه د کراهت نه دے بد ګڼړلو ته وائی۔ مکروه په قرآن او حدیث کښ په معنیٰ د حرام سره استعمالیږی۔ او مکروه لفظ ئے ذکر کړو سره ددے نه چه په دغه منهیاتو کښ کبیره ګناهونه ذکر دی، اشاره ده دے ته چه نفس بد ګڼړل د الله تعالیٰ دا سبب ددے دے چه انسان ترے منع او جدا شی۔ او مکروه د فقهاؤ په نیز کله په معنیٰ د حرامو وی او کله تنزیهی وی۔ او (مَا ثَبَتَ بِدَلِيۡلٍ فِيۡهِ شُبۡهَةٌ) ته وئیلے شی یعنی یو شے په دلیل سره ثابت شی چه په هغه دلیل کښ شبهه وی۔
ذٰلِكَ مِمَّا أَوۡحٰى إِلَيۡكَ : په دے آیت کښ نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی، فرمائی چه په تیر شوی آیتونو کښ چه د کومو ښائسته اخلاقو حکم شویدے او د کومو بدو صفاتونه چه منع شویده د حکمت دا ټولے خبرے الله تا ته په ذریعه د وحی خودلی دی۔
الۡحِكۡمَةِ : مخکښ سورت کښ چه کوم حکمة ذکر شو هغه دا کارونه دی۔
حکمة : اَلۡعِلۡمُ الۡمُحۡكَمُ۔ (مضبوط علم) او په سورت بقره کښ د حکمة تعریف مونږ د ابن دریدؒ نه نقل کړیدے هغه دلته مراد دے۔ هر هغه کلمه چه تا ته وعظ وکړی، یا ډیے یو نیك خصلت ته راوبلی یا ډیے د یو بد کار نه منع کړی نو دغه حکمة دے۔
وَلَا تَجۡعَلۡ : ددے احکامو ابتداء ئے هم د توحید نه وکړه او اختتام ئے هم په توحید سره۔ پدے کښ بندګانو ته دا احساس ورکوی چه د تمامو حکمتونو اصل او بنیاد د الله تعالیٰ

توحید دے، دا وجه ده چه مشرك به پرمخے جهنم ته گوزارلے شی، په هغه وخت به خپل ځان ملامته کوی، او د الله تعالیٰ تمام مخلوقات به ئے هم ملامته کوی۔ او د الله تعالیٰ د رحمت نه به همیشه دپاره لرے کولے شی۔ دارنگه مخکښې ئے وویل چه شرك په دنیا کښې هم بد شے دے او دلته وائی چه شرك په آخرت کښې د جهنم سبب دے۔

أَفَأَصْفَاكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِينَ وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ
آیا نو غوره کړی یئ تاسو رب ستاسو په ځامنو او نیولی ئے دی (ځان له) د ملائکو نه
إِنَاثًا إِنَّكُمْ لَتَقُولُونَ قَوْلًا عَظِيمًا ﴿٤٠﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هٰذَا الْقُرْآنِ
لونړه، یقیناً تاسو خامخا وایئ وینا لویه۔ او یقیناً بیان کړیدی مونږ پدے قرآن کښې
لِيَذَّكَّرُوا وَمَا يَزِيدُهُمْ
(قسماقسم مثالونه او عبرتونه) دے دپاره چه دوی نصیحت واخلی او نهٔ زیاتوی دا قرآن دوی لره
إِلَّا نُفُورًا ﴿٤١﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ مَعَهٗٓ آلِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذًا
مگر نفرت۔ اُووایه که وے د الله سره معبودان لکه چه وائی دوی، په دغه وخت به
لَّابْتَغَوْا إِلٰى ذِي الْعَرْشِ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى عَمَّا
خامخا دوی طلب کړے وے خاوند د عرش ته لاره۔ پاك دے الله او اُوچت دے د هغے نه
يَقُولُونَ عُلُوًّا كَبِيرًا ﴿٤٣﴾ تُسَبِّحُ لَهُ السَّمَاوَاتُ السَّبْعُ وَالْأَرْضُ
چه وائی دوی په اُوچتوالی ډیر سره۔ پاکی وائی هغه لره آسمانونه اُووه او زمکه
وَمَنْ فِيهِنَّ وَإِنْ مِّنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ
او هغه څوك چه پدے کښې دی او نشته هیڅ شے مگر پاکی وائی سره د صفتونو د هغهٔ نه
وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ إِنَّهٗ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤٤﴾
لیکن تاسو نهٔ پو هیږئ په تسبیح د دوی، یقیناً الله تعالیٰ صبرناك دے، بخونکے دے۔

تفسیر: پدے آیت کریمه کښې د هغه عربو مشرکانو رد دے چه ملائك به ئے د الله لونړهٔ گنړلے او د هغوی عبادت به ئے کولو حال دا چه هغه خو د الله بندگان دی، چه هغه الله د

خپلې تسبيح او تحميد او نورو كارونو د عالَم دپاره پيدا كړيدى.
الله فرمائى چه آيا هغه ستاسو دپاره د تولو نه غوره اولاد يعنى هلك خوښ كړيدے او خپل ځان دپاره ئے خكته اولاد يعنى لونړهٔ خوښے كړيدى، چه هغه تاسو د خپل ځان دپاره نهٔ برداشت كوئ بلكه ژوندئ ئے په خاورو كښ خخوئ؟
دا ځومره د عقل او حكمت نه خلاف خبره ده چه مالك خپلو غلامانو ته د تولو نه غوره شے وركړى او ځان له ناقص شے خوښ كړى. حقيقت دا دے چه د بندګانو د ځُلو نه د خپل خالق او مالك په باره كښ دا خبره ډيره بده ده، چه يو خو د الله دپاره اولاد ثابتوى، او هغه هم داسے اولاد چه دوى خپل ځان دپاره نهٔ خوښوى.
او د ملائكو په باره كښ ئے دا غلطه عقيده وه چه دا زنانه دى او بيا د الله لونړه دى، او بيا ئے دا وئيل چه زمونږ دپاره لونړه ښے نهٔ دى او زمونږ دپاره بد شے دے.
قَوْلًا عَظِيْمًا: اَىْ بِاِعْتِبَارِ الْقُبْحِ. يعنى د قباحت او بدئ په اعتبار سره ډيره لويه خبره ده.
وَلَقَدْ صَرَّفْنَا : الله تعالىٰ قرآن كريم ته ترغيب او معرضينو د قرآن ته زجر وركوى بيا رد كوى په شرك باندے، بيا معرضين د قرآن او د هغوى د آخرت نه انكار بيانيږى.
د (صَرَّفْنَا) دپاره ئے مفعول نهٔ دے ذكر كړے (اَىِ الْعِبَرَ وَالْاَمْثَالَ وَالْحُجَجَ)
يعنى مونږ په قرآن كريم كښ عبرتونه او مثالونه او ډير دليلونه د حق د اثبات دپاره بيان كړيدى دا ددے دپاره چه خلق نصيحت حاصل كړى، الله طرف ته رجوع وكړى، او د شرك د تمامو اقسامو نه د پاك كيدو عقيده وساتى ليكن د كافرانو حال دا دے چه دوى قرآن آورى نو خفه كيږى او د حق نه اعراض كوى.
تصريف: بيانولو او بار بار ذكر كولو ته وئيلے شى. يعنى په قرآن كريم كښ قسماقسم طريقو سره بيان د عبرتونو او حكمونو او دليلونو او قصو او اخبارونو او اوامرو او نواهيو شويدے.
لِيَذَّكَّرُوْا: ځكه چه ځوك د وعيد نه عبرت اخلى او ځوك د وعد نه، او ځوك د قصے نه او ځوك د امر او نهى نه، او ځوك د اخلاقو او آدابو نه.
نُفُوْرًا: (اَىْ نُفُوْرًا عَنْ تَوْحِيْدِ اللّٰهِ) د الله تعالىٰ د توحيد نه ئے نفرت زياتوى. (وَتَبَاعُدًا عَنِ الْحَقِّ وَغَفْلَةً عَنِ النَّظَرِ فِى الصَّوَابِ) يعنى وړاندے والے د حق نه او غفلت كول د فكر كولو نه په حق كښ. ځكه چه د دوى عقيده ده چه قرآن جادو او كهانت او شعر دے. (القرطبىؒ)
سفيان ثورىؒ چه به كله دا آيت لوستلو نو روستو به ئے ورسره داسے وئيل : (زَادَنِىْ لَكَ

خُضُوْعًا مَا زَادَ اَعْدَاءَ كَ نُفُوْرًا) ما ته ستا هغه کتاب ستا دپاره عاجزی زیاتوی کوم چه ستا دشمنانو لره نفرت زیاتوی)۔ (فتح البیان)

قُلْ لَّوْ كَانَ : ربط :

دا د مخکښ نفرت بیان دے چه په قرآن سره د دوی نفرت د توحید نه زیاتیږی نو دلته د هغے تردید بیانوی په ذکر کولو د عاجز والی د باطلو معبودانو۔

لَّابْتَغَوْا اِلٰى ذِى الْعَرْشِ سَبِيْلًا : دے کښ دوه مصداقه دی۔ (۱) سَبِيْلَ الْجِدَالِ۔ یعنی که د دوی د معبودانو د الله تعالیٰ سره په الوهیت کښ څه برخه وے نو دوی به د الله تعالیٰ نه چه خاوند د عرش دے د خپلے برخے مطالبه کولے او پدے سره به ضرور د دوی جدال (جګړه) پیدا کیدلے لکه په سورة المؤمنون (۹۱) آیت کښ دی ﴿ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ﴾ بعض به په بعضو باندے غالبه کیدلے۔ دا تفسیر هلته ښه لګی ځکه چه هلته جدا مثال دے۔

ابن عباس ﷺ ددے نه داسے تعبیر کړیدے : [لَطَلَبُوْا مَعَ اللّٰهِ مُنَازَعَةً وَقِتَالًا كَمَا تَفْعَلُ مُلُوْكُ الْاَرْضِ بَعْضُهُمْ بِبَعْضٍ] (القرطبی) یعنی خامخا دوی به د الله سره جګړه طلب کړے وے لکه څنګه چه د دنیا بادشاهان په یو بل باندے حمله کوی۔

(۲) حافظ ابن القیمؒ په ((بدائع التفسیر)) کښ دا غوره کړیده چه دلته د سبیل نه مراد (سَبِيْلُ الْقُرْبَةِ وَالزُّلْفٰى) دے۔ او دا تفسیر د قتادهؒ دے، کما قال القرطبیؒ۔ یعنی مشرکانو به دا وئیل چه مونږ ددے معبودانو عبادت ددے دپاره کوو چه الله تعالیٰ ته پرے ځان نزدے کوو او دوی به زمونږ سفارش کوی او سفارش والا الله ته نزدے وی (لکه دوی به دا عقیده ساتله چه د دوی بتان الله ته محتاج دی) نو الله فرمائی هرکله چه ستاسو آلهه هم الله تعالیٰ ته ځان نزدے کوی نو تاسو له هم پکار ده چه راشئ او الله ته ځان نزدے کړئ په توحید او عبادت سره۔ او هرکله چه څوک نزدیکت طلب کونکے وی نو هغه خو عاجز وی نو اِلٰه نشی کیدے۔ او ددے توجیه غوره والے د روستو (۵۷) آیت نه هم معلومیږی چه په هغے کښ د مشرکانو د نیکانو معبودانو ذکر دے۔ او بل لفظ د (كَمَا يَقُوْلُوْنَ) هم پرے دلیل دے۔

او ددے توجیه مطلب دا دے چه اول خو د الله تعالیٰ سره بل اِلٰه نشته او که بالفرض راشی بیا به هم الله ته عاجزی کوی نو اِلٰه به پاتے نشی۔ نو په هر حال کښ شریك د باری تعالیٰ ممتنع دے۔ او په آسمان او زمکه کښ د هغه نه سویٰ هیڅ معبود نشته چه د هغهٔ بندګی وکړے شی او د الله تعالیٰ او د بندګانو ترمینځ واسطه جوړه شی۔

صاحب د فتح البیان اول تفسیر غوره کړیدے۔

سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی: یعنی هرکله چه د الله سره نور آلهه نشته او دا نسبت کول هغه ته عیب دے او هغه د تمامو عیبونو او نقصانونو نه پاك دے، او مشرکان چه ورپسے څه وائی د هغې نه ډیر اُوچت دے۔

تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ: دا د الله د لوی والی دلیل دے۔ یعنی ټول آسمانونه او زمکے او په هغے کښې موجوده مخلوقات د الله پاکی بیانوی او د هغه ټولو عیبونو او نقصانونو نه هغه پورته او اُوچت ګنړی کوم چه مشرکان هغهٔ طرف ته منسوب کوی، او ټول په ټوله ددے خبرے ګواهی ورکوی چه په صفت د ربوبیت او اُلوهیت کښې د هغهٔ شریك نهٔ دی۔

ابن جریرؒ دلته لیکلی دی: (وَاَنْتُمْ تَفْتَرُوْنَ عَلَیْهِ اَیُّهَا الْمُشْرِكُوْنَ) کائنات د الله تسبیحات بیانوی او تاسو پرے دروغ جوړه ویٔ اے مشرکانو!۔

د هر شی تسبیح څنګه ده؟

وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ: د زیات تاکید په توګه فرمائی چه هر شے د الله تسبیح بیانوی، حیوانات، بوټی او جمادات ټول د هغهٔ تسبیح بیانوی، لیکن خلق د هغوی په تسبیحاتو نهٔ پوهیږی۔ حافظ ابن کثیرؒ په خپل تفسیر کښې او راغب اصفهانیؒ په خپل کتاب ((المفردات)) کښې همدے رائے ته ترجیح ورکړیده۔

دے کښې بعض مفسرین دا وائی چه دا په حقیقةً تسبیح باندے حمل نهٔ دے بلکه مقصد دا دے چه آسمان او زمکه او ټول کائنات د الله په تسبیح ګواه دی یعنی تسبیح حالی ده نهٔ تسبیح مقالی۔ دا معنیٰ به هله صحیح وی چه تسبیح قولی هم ورسره ومنلے شی۔ ټول مخلوق کښې الله تعالیٰ د خپل ذکر شعور اچولے دے، رسول الله ﷺ به د کاڼړو ذکر آوریدو او صحابه کرامؓ د کاسے نه او نوړیٔ نه تسبیحات آوریدلی دی، او د ونے ژړا ئے آوریدلے ده۔ الله تعالیٰ په هر شی قادر دے۔ په جبل اُحد کښې الله تعالیٰ دا شعور اچولے وو چه رسول الله ﷺ فرمائی: دا غر مونږ سره مینه کوی او مونږ د هغه سره مینه کوو۔ (صحیح بخاری: ۱٤۸۲) او د یو حدیث نه معلومیږی چه یو غر په بل غر باندے فخر کوی چه کله پرے کوم ذاکر تیر شی۔ (وفی سنده مقال) او دا خبره علاء الدین الخازنؒ په خپل ((تفسیر الخازن)) کښې په ګڼړو احادیثو سره ثابته کړیده چه دا تسبیح په خپل عموم او حقیقت باندے بناء ده۔ او دلیل پرے ﴿وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِیْحَهُمْ﴾ هم دے څکه چه په تسبیح الدلالة خو هر

څوك پو هيږي۔ يعنى دا علم خو عامو مؤمنانو شته چه دا تول څيزونه د الله په تسبيح او پاكئ باندے دلالت كوى۔ او د قرآن نور آيتونه هم دليل دے ﴿إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ﴾ (ص : ٣٨) (مونږ د داود عليه السلام سره غرونه تابع كړى وو چه بيگا او صبا به ئے تسبيحات ونيل) (فتح البيان)

وَلَـٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ : دا وړسے څكه ذكر كوى چه پدے كښ د مشركانو توبيخ او رټنے ته اشاره كوى چه دوى د الله د شريكانو پسے روان دى حال دا چه دغه شريكان هم د الله تسبيح وائى نو اے مشركانو ! ستا معبودان هم د الله تسبيح وائى، الله ته محتاج دى نو څنگه به د الله سره شريكان جوړ شى، حقيقت دا دے چه تاسو لوى بى وقوفه يئ۔

إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا : دا وړسے څكه وائى چه ستاسو د كفر او سركشئ تقاضا دا ده چه په تاسو باندے په جلتئ عذاب نازل شى ليكن الله تعالىٰ ډير حليم (صبرناك) ذات دے، امتحاناً ئے درته صبر كړيدے۔ او غفور دے چه كه څوك د هغهٔ په دربار كښ عاجزى كوى او د خپلو گناهونو معافى غواړى نو هغهٔ ئے معاف كوى۔ پدے كښ هم دوى ته دعوت دے۔

وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِينَ
او كله چه لولے تهٔ قرآن لره گرځوو مونږ په مينځ ستا او په مينځ د هغه كسانو كښ
لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُورًا ﴿٤٥﴾ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً
چه ايمان نهٔ لرى په آخرت پرده پټه۔او گرځولى دى مونږ په زړونو د دوى پردے
أَن يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ
چه پو هه نشى په قرآن، او په غوږونو د دوى كښ بوج لره او كله چه ياد كړے تهٔ رب خپل
فِي الْقُرْآنِ وَحْدَهُ وَلَّوْا عَلَىٰ أَدْبَارِهِمْ نُفُورًا ﴿٤٦﴾
په قرآن كښ په يو والى سره نو واوړى دوى په شاگانو خپلو نفرت كونكى۔

تفسير : دا په مخكښ آيت كښ د ذكر شوى نفرت بيان دے۔

پدے آيت كريمه كښ الله تعالىٰ خبر وركړيدے چه نبى كريم ﷺ كله د قرآن كريم تلاوت كوى نو كوم مشركان چه په ورځ د قيامت ايمان نهٔ لرى هغوى ددے نه هيڅ فائده نهٔ حاصلوى۔ د دوى كفر او تمرّد او د قرآن نه د تغافل (ځان غافل كولو) په وجه الله تعالىٰ د

رسول الله ﷺ او د دوی ترمینځ یوه پرده حائل کوی چه د هغے په وجه دوی رسول الله ﷺ نهٔ وینی۔

شان نزول

حافظ سیوطیؒ لیکلی دی چه دا آیت د هغه مشرکانو په باره کښ نازل شوے وو چه د رسول الله ﷺ قتل کول ئے غوختلی وو لکه ابوجهل او د ابولهب ښځه ام جمیل وغیره۔

اَلْقُرْآنَ : او دلته د قرآن نه مراد یا خو مطلق دے، یا د سورة النحل، الکهف او الجاثیه مشهور درے آیتونه : ﴿ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ ﴾ (النحل :۱۰۸) ﴿ جَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ ﴾ (الکهف :۵۷) ﴿ اَفَرَاَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ ﴾ (الجاثیه : ۲۳) خطیبؒ لیکلی دی چه ددے آیتونو د برکته الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ لره د مشرکانو د سترګونه پټ کړے وو۔

قرطبیؒ ددے آیتونو سره د سورة یٰس ابتدائی آیتونه ﴿ فَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ﴾ پورے اضافه کړیده، ځکه چه د روایاتو نه ثابته ده چه د هجرت په شپه د خپل کور نه د وتلو په وخت نبی ﷺ ددے آیتونو تلاوت کولو او د دشمنانو په سرونو ئے خاورے اچولے او اُووتو او هیچا هغه لره ونهٔ لیدو۔ (فتح البیان)

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ : دا آیت دلیل دے چه د قرآن نه هغه څوك فائده نشی اخستے چه په آخرت باندے ایمان نهٔ لری، او د آخرت نه ئے یره نهٔ وی، الله به ئے ترے محرومه کوی۔ نو د مؤمنانو ایمان شته نو هغوی ترے فائده اخلی، څوك ډیر یریږی نو ډیره فائده اخلی او څوك لږ نو لږه۔

حِجَابًا مَّسْتُوْرًا : ۱- مستور په خپله معنیٰ دے اَىْ مَسْتُوْرًا عَنِ الْعِبَادِ ۔ د خلکو نه پټه کړے شوے پرده ده۔ یعنی د بی ایمانه انسان او د قرآن ترمینځ الله تعالیٰ لویه پرده اچولی وی چه هیڅ فائده د قرآن نه نشی اخستے۔ ۲- دا تاویل کول چه مستور په معنیٰ د ساتر (پټونکی) سره دے لکه اخفشؒ وئیلی دی چه فاعل کله د مفعول په لفظ سره راځی نو دا د قرآن کریم ظاهر پریخودل دی۔

او د حِجَابًا مَّسْتُوْرًا مطلب دا دے : يَحْجِبُ قُلُوْبَهُمْ عَنْ فَهْمِهٖ وَالْاِنْتِفَاعِ بِهٖ) (فتح البیان)

یعنی الله تعالیٰ د دوی زړونه د قرآن د پوهے نه او د هغے نه د فائدے اخستو نه اړوی۔

او څوك چه په آخرت ایمان لری نو الله تعالیٰ ورله په زړونو کښ استعداد اچوی نو د

هغې په وجه د قرآن رڼا پکښې پریوزي او پوهیږي او فائده ترې اخلي۔ او چه په آخرت ئې ایمان نهٔ وي نو زړهٔ خراب شي او استعداد ئې ختم شي۔

وَجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ : دا تشریح شوه د مخکښې (حِجَابًا مَّسْتُوْرًا) دپاره۔ یعنی الله تعالیٰ د کافرانو په زړونو باندې ډیره پیړه پرده اچوی دې دپاره چه دوی قرآن باندې پوهه نشي او د دوی غوږونه کڼروی بوج پکښې اچوی دې دپاره چه دوی قرآن وانهٔ وري۔ او دا ځکه چه دا خلك د ضد او عناد په وجه الله تعالیٰ نهٔ غواړي چه خپل پاك کلام باندې دوی پوهه کړي او د هغې نه فائده واخلي۔ دا د دوی د ضد سزا شوه لکه د خَتَمَ اللهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ په شان۔

اَنْ يَّفْقَهُوْهُ : اَيْ كَرَاهَةَ اَنْ يَّفْقَهُوْهُ/ لِئَلَّا يَفْقَهُوْهُ۔ دې دپاره چه پوهه نشي۔

وَاِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْاٰنِ : د کافرانو یو بد ترین خصلت دا هم وو چه دوی الله تعالیٰ سره د خپلو بتانو ذکر هم آوریدل خوښول، پدې وجه په کوم مجلس کښې چه به صرف د الله نوم یادیدو نو هغه به ئې نهٔ خوښولو او هلته نه به تلل۔ او دا د مخکښې (وَمَا يَزِيْدُهُمْ اِلَّا نُفُوْرًا) تشریح ده۔ په مشرکانو باندې په هره زمانه کښې توحید ډیر بد لګی او دې ته تنکیږي۔

ددې وجې نه ابوالجوزاءؒ ددې آیت لاندې وئیلی دی چه (اَلشَّيْطَانُ لَا يَفِرُّ مِنَ الْقَلْبِ اِلَّا بِلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ] شیطان د زړه نه په لا اله الا الله وئیلو سره تښتی ځکه چه هغه هم مشرك دې، د توحید سره ئې سخت ضد دې۔

نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُوْنَ بِهٖٓ اِذْ
مونږ ښهٔ پوهیږو په هغه نیت چه دوی غوږ ږدی په هغې سره کله چه
يَسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ وَاِذْ هُمْ نَجْوٰٓى اِذْ يَقُوْلُ الظّٰلِمُوْنَ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ
دوی غوږ ږدی تا ته او کله چه دوی جرګې کوی کله چه وائي ظالمان تابعداری نکوئ تاسو
اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ﴿٤٧﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوْا لَكَ
مګر د هغه سړي چه جادو پرې شویدې۔ اُوګوره چه څه رنګ بیانوی دوی ستا دپاره
الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ﴿٤٨﴾ وَقَالُوْٓا ءَاِذَا
مثالونه (بد) پس ګمراه شو نو طاقت نهٔ لري دوی د سمې لارې۔ او وائي دوی آیا کله چه

كُنَّا عِظَامًا وَرُفَاتًا ءَ إِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا ﴿٤٩﴾ قُلْ

شو مونږ هډوکي او ذره ذره، آیا مونږ به ژوندي کړے شو په پیدائش نوي سره۔ اُووایه

كُونُوا حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا ﴿٥٠﴾ أَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِي صُدُورِكُمْ

شئ کانړي یا اُوسپنه یا بل مخلوق د هغے نه چه لوئی ښکاره کیږی په سینو ستاسو کښ

فَسَيَقُولُونَ مَنْ يُّعِيدُنَا قُلِ الَّذِي

نو زردے چه وائی به دوی څوك دے چه دوباره به مونږ راژوندی کړی، ته اُووایه هغه ذات

فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ

چه پیدا کړی یئ تاسو اول ځل نو زردے چه وبه خوزوی دوی تا ته سرونه خپل او وائی به

مَتٰى هُوَ قُلْ عَسٰى أَنْ يَّكُونَ قَرِيبًا ﴿٥١﴾ يَوْمَ

چه کله به وی دا، ته اُووایه نزدے ده چه وی به دا نزدے۔ په کومه ورځ چه

يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهٖ

آواز به وکړی تاسو ته نو تاسو به قبول والے وکړئ (د هغه د حکم) سره د حمدو ثیلو د هغه نه،

وَتَظُنُّونَ إِنْ لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٥٢﴾

او گمان به کوئ تاسو چه نۀ وئ ایسار شوی تاسو مگر لږه موده۔

تفسیر : پدے آیت کښ زجر دے په انکار د رسول سره۔ مشرکان به کله نا کله راتلل د رسول الله ﷺ بیان به ئے آوریدو او د شپے د تهجدو په وخت کښ به پټ پټ راتلل چه دا څه وائی نو الله تعالیٰ هغه حالت بیانوی چه که مشرکان کله قرآن آوری هم نو خپل مینځ کښ په ناسته سره ددے پورے توقے کوی، یا چه به روستو د یو بل سره ملاؤ شو نو وئیل به ئے دا چه دا خو صحیح خبرے نۀ دی بلکه جادو دے۔ یعنی د دوی مقصد د علم او معرفت حاصلول او حق پیژندل نۀ وی۔

نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ : یعنی مونږ پو هیږو په هغه حال او هغه نیت چه دوی غوږ ږدی قرآن ته په هغے چه هغه حال او نیت د تکذیب، اعتراض او د لغو او سپکوالی او توقو دے په تا او په قرآن پورے۔ نو سخته سزا به ورکړم۔

وَإِذْ هُمْ نَجْوٰى : يعني دوى د رسول الله ﷺ پورے په مجلس كښې هم توقے كولے او بيا به روستو په خپل مينځ كښې كيناستل او دا توقے به ئے كولے او دا فتوىٰ به ئے لګوله چه دا خو جادو دے۔

إِنْ تَتَّبِعُوْنَ إِلَّا رَجُلًا : يعني يو بل ته وائي چه تاسو كه ددهٔ پسے روان شئ نو تاسو به د يو جادوګر پسے روان شئ۔ مقصد ئے منع كول وو چه د جادوګرو پسے خلك نهٔ روانيږي۔ او همدا صحيح مطلب دے۔ بعض وائي چه دا خطاب وو مؤمنانو ته چه تاسو خو د جادوګرو پسے روان يئ۔

مَّسْحُوْرًا : ۱- يعني جادو پرے شويدے چه د هغے په وجه سره په دهٔ باندے ليونتوب راغلے دے او عقل ئے خراب شويدے او ګډے وډے خبرے كوي۔ (العياذ بالله)

۲- ابن الاعرابيؒ وائي : مسحور ذَاهِبُ الْعَقْل ته وائي يعني چه عقل ئے خراب شوے وي۔

۳- مسحور كله په معنىٰ د مَخْدُوْع (دوكه كړے شوي) سره وي، ځكه چه جادو هم چل او دهوكه وي، لكه د دوي دا عقيده وه چه محمد (ﷺ) د بعض خلكو نه زده كړه كوي او هغوي دهٔ لره پدے تعليم سره دهوكه كوي۔

٤- ابوعبيدهؒ وائي : ذُوْ سُحْرِيَّةٍ ۔ هغه شخص چه پرپوس لري يعني خوراك څكاك كوي، مطلب ئے دا وو چه دے ستاسو په شان دے۔ (ابن قتيبهؒ پدے تاويل باندے رد كړيدے)

تنبيه او د اشكال جواب

دا آيت د بعض جاهلانو دپاره فتنه ګرځيدلے ده، په صحيح حديث د بخاري باب السحر (٥٠) رقم (٥٧٦٦) كښې راغلي دي چه په رسول الله ﷺ باندے جادو شوے وو، د دنياوي كارونو په باره كښې دومره اثر پرے شوے وو چه بيبيانو سره به ئے نزديكت كړے وو دا ګمان به ئے وو چه نهٔ ئے دے كړے۔ او بل طرفته صحيح احاديث موجود دي چه جادو اثر كوي۔

نو ځينې پكښې وائي چه په نبي كريم ﷺ جادو نهٔ وو شوے، او بعض پكښې وائي چه جادو د سَرَه اثر نكوي۔ دوي ته تعارض ښكاره كيږي چه كه مونږ ومنو چه په رسول الله ﷺ جادو شويدے بيا خو د كافرانو خبره صحيح كيږي چه په رسول الله ﷺ جادو شويدے او كه په نبي كريم ﷺ باندے جادو ونهٔ منو نو بيا به حديث رد كوے۔ نو ډير پكښې د حديث نه منكر شو۔ او پخواني مفسرين په آيت كښې دغه مخكني تاويلات كوي۔ ليكن حقه دا ده چه مسحور په خپله اوله معنىٰ باندے دے او د مشركانو مطلب

جدا دے او حديث كښې جدا سحر دے۔

د مشركانو مطلب دا وو چه دے شخص باندے چا جادو كړيدے چه د هغے په وجه ئے ورله دماغ خراب كړيدی، ليونے شويدے، عقل ئے كار نكوی ځكه په دعوت الی الله باندے شپه او ورځ لګيا دے، سترے كيږی نۀ، او نۀ خپل عزت ته ګوری او دا كار ورته د ليونو ښكاره كيدو۔ او دوی دا په مكه كښې وئيلی ووا په رسول الله ﷺ باندے جادو په مدينه كښې شوے وو۔ دويم دا چه په هغه جادو باندے د رسول الله ﷺ دماغ نۀ وو خراب شوی بلكه هرڅه ئے برابر وو صرف په ياداشت كښې ئے معمولی شان فرق راغلے وو او د خپلو بيبيانو نه ئے بند كړے وو، يعنی (سحر الربط) پرے شوے وو۔ يهودو پرے كړے وو ځكه چه هغوی له غصه ورتلله چه دا نبی څنګه ډير ودونه كوی، نو هغه جادو د يو بيمارئ په درجه كښې وو، او په دعوت د دين كښې ئے هيڅ نقصان نۀ وو راغلے، د جُمعے خطبه به ئے وركوله او صحابه كرامو ته به ئے مونځونه كول۔ نو د مشركانو مطلب دا وو چه دا ليونے دے او حديث كښې دا دی چه رسول الله ﷺ باندے د جادو په وجه يوه بيماری راغلے وه۔ او پدے دواړو خبرو كښې د زمكے او د آسمان فرق دے كه ځوك پو هيږی۔

اُنۡظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُوۡا لَكَ الۡاَمۡثَالَ: الله تعالیٰ د دوی پدے قول باندے د تعجب كولو په توګه ووئيل چه تۀ دے ظالمانو ته وګوره چه دوی ستا دپاره غلط مثالونه (يعنی صفتونه) بيانوي، تا ته شاعر، ساحر او مجنون وائی۔

فَضَلُّوۡا فَلَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ سَبِيۡلًا : نو دوی د حقے لارے نه بالكل اوړيدلی دی، او حق ته د رسيدلو هيڅ لاره نۀ مومی۔ ځكه چه د هدايت او حق لاره صرف د رسول الله ﷺ وه او په هغے چه چا اعتراض وكړو نو د هدايت لاره ئے بنده شوه، ځكه چه په نبی اعتراض وكړی نو هدايت به ورته د كوم ځای نه وشی؟۔

يا مطلب دا دے چه دا خلق په تا كښې داسے كوم عيب نشی راويستے چه دنيا ئے ومنی۔ يا لاره ترے وركه شويده ځكه مختلفے فتوے لګوی چه ساحر، كاهن، مجنون او شاعر دے۔

وَقَالُوۡا ءَ اِذَا كُنَّا عِظَامًا : ربط :

مخكښې د توحيد او د رسالت په باره كښې د مكے د مشركانو د شبهاتو رد وشو اُوس د بعث بعد الموت په باره كښې د هغوی شبهات رد كيږی۔ دوی به وئيل چه سړے كله مړ شی نو د هغه هډوكی ذره ذره شی دا خبره د عقل نه لرے ده چه د مخكنی جسم اجزاء

دوباره را جمع شي او په هغې کښې ژوند راواپس شي؟ الله تعالیٰ د دوی په جواب کښې وفرمايل چه مړ بدن دويم ځلې جوړول، پدې کښې ژوند راوستل زمونږ دپاره ډير آسان دی، اګرکه د هغه بدن نه د ژوند آثار د کاڼړي يا د اُوسپنې په شان ولې نۀ وی ختم شوی، يا د بل کوم شي په شان چه د هغې ژوندی کيدل ستاسو په نيز ممکن نۀ وی۔ الله تعالی چه کله غواړي نو هغه به ژوندې کوی او هيڅ شې به د هغۀ مخې ته مانع نۀ جوړيږي۔

وَرُفَاتًا : رفات هغه شي ته وائي چه زوړ شي او مات رامات (ذره ذره) شي۔ ابن عباسؓ فرمائي : رفات غبار ته وائي۔ بعض وائي خاورې ته۔ او ځيني وائي چه رفات هغه شي ته وئيلې شي چه د هغه په ټکولو او ذره ذره کولو کښې مبالغه شوی وی نو بيا دا نوم دې د هغه اجزاؤ ذره کړې شوو۔ (فتح البيان)

فَسَيَقُولُونَ مَنْ يُعِيدُنَا : مشرکانو پدې جواب باندې هيڅ اعتراض نشو کولې نو وې وئيل چه مونږ به څوك ژوندی کوی، د الله تعالیٰ قدرت ورته ناشنا ښکاره کيدو ؟! الله تعالیٰ نبی کريم ﷺ ته وفرمايل چه تۀ ووايه چه کوم ذات تاسو اول ځل پيدا کړی يئ نو هغه يقيناً ستاسو په دويم ځلې پيدا کولو قادر دې۔

إِلَيْكَ رُؤُوسَهُمْ : نو دوی به د حيرانتيا او تعجب او استهزاء نه ډك انداز کښې خپل سرونه وخوزوی چه دا به کله وی؟ يعنی ددې دليل مقابله ئې نشوه کولې نو بس صرف مطالبې وې۔ نو الله تعالیٰ جواب ورکړو چه هغه ورځ نزدې ده، کله چه به تاسو الله تعالیٰ راوبلی نو تاسو به فوراً د هغه جواب ورکړئ۔ يعنی د مړو په دويم ځلې راژوندی کولو کښې به د الله نه وخت نۀ لګيږي۔

يَوْمَ يَدْعُوكُمْ : اَیْ مِنْ قُبُوْرِكُمْ ۔ يعنی الله تعالیٰ به تاسو ته آواز وکړی او تاسو به د قبرونو نه راووبلی د جبريل ؑ او د اسرافيل ؑ په واسطه سره لکه په سورة ق آيت (٤١) کښې راغلی دی :﴿ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴾ چه په کومه ورځ به يو آواز کونکې د نزدې نه آواز وکړی۔ داسې آواز به کوی : [اَيَّتُهَا الْعِظَامُ الْبَالِيَةُ وَاللُّحُوْمُ الْمُتَمَزِّقَةُ هَلُمُّوْا اِلٰى عَرْضِ الرَّحْمٰنِ]۔ اې زړو هډوکو ! او ذره ذره شوو غوښو د الله پيشئ ته راشئ۔

فَتَسْتَجِيبُونَ : يعنی کله چه تاسو راژوندی کيږئ نو د الله پاکی او حمدونه به بيانوئ، دا به کافران هم بيانوی او مؤمنان هم۔

وَتَظُنُّونَ إِنْ لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا : يعنی تاسو به ګمان کوئ چه تاسو په دنيا کښې يا په قبر کښې ډير کم ژوند تير کړيدې۔ او دا ځکه چه کله دوی د قيامت هيبت او دهشت وينی نو

دنیا به دوی ته په سترګو سپکه او کمه ښکاره شي نو دغه وخت کښې به دا خبره وکړي۔
(قتادةؓ) (فتح)

وَقُلْ لِّعِبَادِيْ يَقُوْلُوا الَّتِيْ هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ الشَّيْطَانَ
او اُووايه بندګانو زما ته چه وائي دِے هغه خبره چه هغه ښائسته وي يقيناً شيطان
يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلْإِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿٥٣﴾
فساد (وسوسه) اچوي په مينځ د دوي کښې، يقيناً شيطان دے انسان دپاره دشمن ښکاره۔
رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ إِنْ يَّشَأْ يَرْحَمْكُمْ أَوْ إِنْ
رب ستاسو ښۀ پوهه دے په تاسو که اُوغواړي هغه رحم به وکړي په تاسو او که
يَّشَأْ يُعَذِّبْكُمْ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿٥٤﴾ وَرَبُّكَ
وغواړي عذاب به درکړي تاسو ته او نۀ ئے ليږلے مونږ ته په دوي باندے ذمه وار۔ او رب ستا
أَعْلَمُ بِمَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَقَدْ فَضَّلْنَا
ښۀ پوهه دے په هغه چا چه په آسمانونو او زمکه کښې دي او يقيناً غوره کړيدي مونږ
بَعْضَ النَّبِيِّيْنَ عَلٰى بَعْضٍ وَّآتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ﴿٥٥﴾
بعض پيغمبران په بعضو باندے او ورکړے وو مونږ داود (عليه السلام) ته زبور کتاب۔

تفسير : پدے کښې بيان د ادب دے دپاره د بيان کونکو، مخکښې د منکرينو سرکشي او نفرت ذکر شو نو دلته وائي چه دا خلك خو نفرت کوي خو تۀ ورسره اخلاق استعمال کړه۔ مفسرين ليکي چه د مسلمانانو به کله نا کله د مکے د مشرکانو سره په توحيد او شرك او رسالت او آخرت مسائلو باندے بحث کيدو نو مسلمانانو به کله سخت لفظ استعمالولو مثلًا د جهنم دهمکي به ئے ورکړه، پدے طرز د کلام سره به د کافرانو دشمني نوره هم زياته شوه۔ پدے وجه الله تعالیٰ نبي کريم ﷺ ته خطاب وکړو چه تۀ مسلمانانو ته نصيحت وکړه چه دوي کافرانو ته د اسلام د دعوت په وخت د خبرو انداز ښۀ وساتي او سخت کلام نه دِے پرهيز وکړي، ځکه چه شيطان خو په انتظار کښې ناست دے چه کله به دۀ ته د خلقو ترمينځ د شر پيدا کولو موقعه ملاويږي۔

او پدے آیت کښې قانون ذکر دے چه مؤمن به هر چا ته په نیکو اخلاقو راتلل کوی او کړے خبرے به نهٔ کوی ځکه چه ددے نه شر پیدا کیږی برابره ده چه د مشرکانو سره خبرے کوی او که د مؤمنانو سره نو پدے کښې اصلاح د خبرو ده۔ لکه د (وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا) (وینا کوه وینا برابره) (احزاب : ۷۰) په شان۔

۲- دے کښې دویم تفسیر دا دے چه د عبادی نه مراد مشرکان دی او (اَلَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ) نه مراد کلمه د توحید ده، یعنی مشرکانو ته دعوت ورکړه چه دوی دِے کلمه د توحید ووائی، ورنه شیطان ستاسو دشمن دے۔ اول تفسیر ظاهر دے۔

رَبُّكُمْ اَعْلَمُ : دا خطاب دے مشرکانو ته چه الله تعالیٰ ستاسو د حقائقو نه ښهٔ خبردار دے او ستاسو انجام هغهٔ ته معلوم دے، که هغه وغواړی نو په تاسو به رحم وکړی او اسلام ته به مو راداخل کړی او د جنت مستحق به جوړ شئ او که وغواړی نو تاسو به د ایمان د دولت نه محروم کړی، ستاسو مرگ به په شرك باندے وشی او تاسو به د قیامت په ورځ د عذاب مستحق شئ۔

۲- یا دا خطاب دے مؤمنانو ته او معنیٰ دا ده که الله تعالیٰ وغواړی نو رحم به درباندے وکړی، د کفارو نه به مو محفوظ کړی، یا به په توبه او ایمان باندے په تاسو رحم وکړی، یا که دعوت مو جاری ساتلو، او که وغواړی نو عذاب به درکړی چه کافران به درباندے مسلط کړی۔ یا که دعوت مو پریخودو سزا به درکړی او رسول الله ﷺ به تاسو نشی بچ کولے۔

۳- او ځینی وائی چه دا تفسیر د (اَلَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ) دے۔ یعنی هغه ښائسته خبره دا ده چه خلکو ته داسے ووایه۔ اول تفسیر ظاهر دے۔

وَمَا اَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا : یعنی مونږ تا لره د کافرانو د هدایت ذمه وار نهٔ دے لیږلے چه تهٔ به دوی خامخا په ایمان راوړو مجبوره کوے، تهٔ خو زما رسول ئے، پیغام رسولو نه روستو ستا ذمه واری پوره کیږی۔

وَرَبُّكَ اَعْلَمُ بِمَنْ فِی السَّمٰوَاتِ : دا تسلی ده مؤمنانو ته۔ ۱- یعنی په آسمانونو او زمکه کښې چه څومره څیزونه دی، الله تعالیٰ د دوی نه ښهٔ خبر دار دے، د دوی احوال او ضرورتونه په ښهٔ شان پیژنی۔ څوك نیك بخت دے او څوك بدبخت، څوك ایمان اختیاروی او څوك کفر۔ دا ټولے خبرے الله تعالیٰ ته بالکل ښکاره دی۔ پدے وجه اے زما رسوله ! او مسلمانانو بندگانو! تاسو د کافرانو د ایمان نهٔ راوړو غم مهٔ کوئ او څه شے چه

ستاسو په اختیار کښې نشته دے د هغې دپاره زړهٔ مهٔ خفه کوئ، د اسلام د دعوت په سلسله کښې په تاسو باندے چه کوم ذمه واری ده هغه پوره کړئ، او د هغې د قبلولو یا رد کولو خبره الله ته حواله کړئ۔

۲- یا پدے کښې رد دے په مشرکانو باندے چه هغوی وئیلی وو چه د ابو طالب یو یتیم څنګه نبی جوړ شی او وړی او بربنډ خلك څنګه د هغه ملګری جوړ شی؟ (بیضاویؒ)

نو الله تعالیٰ پرے رد وکړو چه ستا رب په تمام مخلوق باندے ښهٔ عالم دے د هغوی نه چه چا له غواړی نبی او نیك جوړوی په هغه باندے اعتراض نشته لکه داسے کار الله تعالیٰ په پخوانو انبیاؤ کښې هم کړیدے چه هغوی ته ئے مختلفے مرتبے ورکړے وے او د هغوی د غوره والی سبب نبوت او کتاب وو، نهٔ ظاهری دنیا او بادشاهی، پدے وجه ئے د داود ؑ په صفت کښې زبور کتاب ذکر کړو۔ اشاره ده چه هغه ته غوره والے د هغهٔ د کتاب په وجه ورکړے شوے وو نهٔ دا چه صرف بادشاه وو۔

او ددے ربط د مخکښې (اِنْ یَّشَاْ یَرْحَمْکُمْ) سره هم دے۔ یعنی الله تعالیٰ په بندګانو رحم کوی د هغوی دپاره انبیاء او رسولان (علیهم السلام) رالیږی، او ددے ذمه واریٔ دپاره چه څوك غواړی هغه غوره کوی، هغه خبردار دے چه د نبوت د مرتبے څوك اهل دے۔

او بیا هغه د انبیاؤ په مابین کښې په مراتبو کښې فرق کړیدے، موسیٰ ؑ ته ئے تورات ورکړے او خپل کلیم ئے جوړ کړے، او عیسیٰ ؑ ته ئے انجیل او داود ؑ ته ئے زبور ورکړے او په نورو انبیاؤ باندے ئے دوی غوره کړیدی، او نبی کریم ﷺ ته ئے د قرآن کریم په شان لوئی مرتبے والا کتاب ورکړے او ددے په وجه ئے دهٔ ته په ټولو انبیاؤ باندے فضیلت ورکړے۔

وَآتَیْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا : دا جمله ئے راوړه پدے کښې د رسول الله ﷺ د نبوت رشتینوالے ثابتوی چه مونږ خو پخوانو انبیاؤ ته کتابونه ورکړیدی او داود ؑ ته مے زبور کتاب ورکړے وو (فَلِمَ یُنْکِرُ الْمُشْرِکُوْنَ نُبُوَّتَكَ] نو بیا ولے مشرکان ستا د نبوت نه انکار کوی او دا ناشنا ګڼړی۔

او ((زبور)) ئے خاص پدے وجه هم ذکر کړو چه پدے کښې د نبی کریم ﷺ او د هغه د ملګرو صفات بیان شویدی، او پدے کښې دے ته هم اشاره ده چه لکه څنګه چه الله تعالیٰ داؤد ته زبور ورکړو او هغه ئے د هغه دور په تمامو انسانانو غوره کړو، دغه شان هغه د عربو نه محمد ﷺ د خپل آخری نبی په توګه غوره کړو چه په خپلے زمانے والو کښې د ټولو نه

زیات عقل او کمال والا وو، او د هغه د امانت او صدق چرچه په ټوله دنیا د عربو کښ وه۔
او دارنګه پدے کښ رد دے په ګمان د یهودیانو چه هغوی به وئیل چه د موسیٰ ﷺ نه روستو نبي نشته او د تورات نه روستو بل کتاب نشته نو الله پدے وینا سره دوی دروغجن ثابت کړل۔ (فتح البیان)

قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ
اُووایه را اُوبلئ هغه کسان چه ګمان کوئ تاسو (چه دا د الله شریکان دی) سویٰ د الله نه
فَلَا يَمْلِكُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيْلًا ﴿٥٦﴾ اُولٰٓئِكَ
نو اختیار نهٔ لري د لرے کولو د تکلیف ستاسو نه او نهٔ د اړولو (آسانولو)۔ دا
الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيْلَةَ اَيُّهُمْ
هغه کسان دی چه دعاګانے غواړي، لټوي رب خپل ته نزدے والے چه کوم یو به د دوی نه
اَقْرَبُ وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ وَيَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ
زیات نزدے وي او امید لري دوی د رحمت د هغهٔ او یره کوي د عذاب د هغهٔ نه،
اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوْرًا ﴿٥٧﴾
یقیناً عذاب د رب ستا د هغهٔ نه یره کیدے شي۔

تفسیر : ددے آیت تعلق د (۵۳) آیت سره دے یعنی توحید ومنئ ځکه چه شرك باطل شے دے۔

شان نزول

۱- مفسرین لیکي چه دا آیت په هغه وخت کښ نازل شوے وو چه په مشرکانو باندے قحط راغلے وو (لکه مخکښ په سورة النحل (۱۱۲) آیت کښ ذکر شو) نو دوی ته وویل شو چه اُوس خپلو بتانو او باطلو معبودانو ته آواز وکړئ، هغوی دے ستاسو نه دا تکلیف لرے کړي۔
۲- ❁ دارنګه بخاري وغیره کښ دی چه مشرکانو به د پیریانو عبادت کولو بیا هغه پیریانو ایمان راوړو لیکن دغه عابدان هغسے د هغوی په عبادت باندے کلك ولاړ وو

نـودوی تـه وویل شو چه تاسو د داسے مخلوق عبادت کوئ چه هغوی الله ته نزدیکت طلب کوی او ایمان راوړی۔ (صحیح بخاری: ٤٧٤١) مسلم: (٧٧٣٩)

❁ او نـورو مـفسـریـنـو ذکـر کړیدی چه دا آیتونه په رد د مشرکانو کښې نازل شوی وو چه دوی د ملائکو مجسمے جوړے کړے وے او د هغوی عبادت به ئے کولو۔

دارنګـه پـه اهـل کـتـابو هم رد شویدے چه هغوی په عزیر او عیسیٰ علیهما السلام او مریم علیها السلام باندے د معبود جوړیدو عقیده لرله۔

الله تعالیٰ خپل نبی کریم ﷺ ته خطاب وکړو چه ته دے تمامو مشرکانو او اهل کتابو ته ووایـه کوم چه د الله نه سوئ د نورو عبادت کوی چه تاسو باندے چه کله مصیبت راشی نو لږ شان خپـل معبودان خو راوبغئ چه آیا دوی ستاسو تکلیف لرے کوی یا ئے بل چا طرف تـه اړوی؟ جواب معلوم دے چه دوی یقیناً قدرت نهٔ لری، ځکه په نفع او نقصان باندے قادر خو صرف یو الله تعالیٰ دے۔

د کشف او تـحـویـل فـرق دا دے چـه کشف دے تـه وائـی چـه بیـخی تکلیف لرے کړی، او تـحـویـل دا دے چه ستا نه ئے واړوی او په بل چائے راولی۔ یا تحویل دا دے چه تکلیف د یو حال نه بل حال ته واړوی یعني تکلیف کم کړی۔

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ : پـدے کښې د مشرکانو د معبودانو د عجز درے طریقے بیانوی۔ یو محبت او بل د رحم امید ساتل، او دریم د عذاب نه یره۔

فرمائی چه عیسیٰ علیه السلام، عزیر علیه السلام ملائك او پیریان او نور صالحین کوم چه دا مشرکان ئے رابـلـی، دا ټـول خو د نیکو اعمالو په ذریعه الله تعالیٰ ته نزدیکت غواړی، د الله د رحمت امیـد لری او د هغه د عذاب نه یره کوی، ځکه چه د هغهٔ عذاب هغه عذاب دے چه د هغے نه ټول عقلمند او هوښیار خلق پناه غواړی، نو څوك چه خپله د خپل انجام نه خبر نهٔ دیٰ، او د خپـل رب د رضا پـه طلب کولو کښې مصروف دی هغه معبودان څنګه کیدے شی؟ د دوی عبادت څنګه کیدے شی؟۔

تـاسـو د هـغـه چا عبـادت کـوئ چه هغوی مؤمنان او موحدین دی، خپله الله ته محتاج دی، هغه ته نزدیکت په بندګئ سره طلب کوی۔ او پدے آیت کښې ټول اولیاء هم داخل دی چه څوك د هغوی بندګی کوی۔

عـلامـه ابـن عاشورؒ دا آیت د مخکښې ذکر شوی انبیاء علیهم السلام سره لګولے دے چه دغـه انبیاء عـلیهم السلام خـو د الله نـه دعـاګـانے غـواړی پـه دفـع کولو د ضررونو او فائدے

حاصلولو کښ، او هغه ته نزدیکت طلب کوي، په بندګیانو سره کوشش کوي چه کوم یو به د دوی نه الله ته زیات نزدې شي په عبادت سره۔ او د هغه د عذابونو نه یره کوي۔ نو آیا دا انبیاء علیهم السلام معبودان جوړیدې شي؟۔

او په ﴿ وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ وَيَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ ﴾ کښ دې طرف ته اشاره ده چه د عبادت د قبولیت دپاره ضروري ده چه په هغې کښ به د الله د رحمت او د هغه د عذاب نه یره وي۔ ځکه چه بنده کله د الله تعالیٰ نه ښهٔ امید لري نو ډیر اعمال کوي او کله چه د هغه د عذاب نه یریږي نو د ګناه نه پرهیز کوي۔

دا آیت اُلټه رد دې په باطلو وسیلو والو باندې چه دوی انبیاء او اولیاء الله تعالیٰ ته په وسیله پکښ پیش کوي حال دا چه انبیاء علیهم السلام او اولیاؤ به خپله الله تعالیٰ ته په طاعت او عبادت سره ځان نزدې کول غوښتل نو خپله الله تعالیٰ ته محتاج وو۔

او دلته الله تعالیٰ د دوی عجز د اقتداء دپاره ذکر کړو چه تاسو هم دغه الله تعالیٰ ته نزدیکت په عبادت او بندګیٔ سره طلب کړئ، د دغه انبیاء او اولیاؤ تابعداري وکړئ، لیکن مشرکانو خبره اُلټه کړه او دغه اولیاء او انبیاء ئې معبودان جوړ کړل، هم دوی ته توجه کوي او د دوی نه ئې غواړي۔

وَإِنْ مِّنْ قَرْيَةٍ إِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ
او نشته یو کلې مګر مونږ هلاکوونکي یو هغې لره مخکښ د ورځې د قیامت نه
أَوْ مُعَذِّبُوْهَا عَذَابًا شَدِيْدًا كَانَ ذٰلِكَ فِي الْكِتَابِ
یا عذاب ورکوونکي یو هغې ته عذاب سخت، دې دا کار په لوح محفوظ کښ
مَسْطُوْرًا ﴿٥٨﴾ وَمَا مَنَعَنَا أَنْ نُّرْسِلَ بِالْآيَاتِ
لیکلې شوې۔ او نهٔ یو منع کړي مونږ لره ددې نه چه راولیږلو معجزاتو لره (کوم چه
إِلَّا أَنْ كَذَّبَ بِهَا الْأَوَّلُوْنَ
غوختلې شویوي) مګر دې چه دروغجن ګڼړلي وو هغې لره پخوانو خلقو
وَآتَيْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوْا بِهَا
او ورکړې وو مونږ ثمودیانو ته اُوښه ښکاره معجزه نو دوی ظلم وکړو په هغې سره

وَمَا نُرْسِلُ بِالْآيَاتِ إِلَّا تَخْوِيفًا ﴿٥٩﴾
او نۀ لیږو مونږ معجزاتو لره مګر د یرولو دپاره۔

تفسیر : پدے آیتِ کریمه کښې دوه تفسیره دی (۱) یو دا چه د قریة نه مراد د مشرکانو کلي دی نو پدے آیت کښې دوی ته د عذاب دهمکۍ ده او د دوی د کلو انجام خودلے شویدے چه الله تعالیٰ په لوح محفوظ کښې لیکلي دی چه د قیامت د ورځے نه مخکښې مخکښې به د مشرکانو کلي یا خو په استیصالي عذاب هلاکیږی او یا به پرے بل عذاب راځي چه ژوند به ئے خراب کړی۔ نو تاسو له پکار ده چه خپل رب ته رجوع وکړئ او شرك پریدئ ورنه د عذابونو سره به مخامخ کیږئ۔

هلاك دے ته وائی چه مړه او قتل شی، او مُعَذِّبُوْهَا دا دے چه مرګ پرے رانشي خو بل قسم سخت عذاب پرے راشي، کلي ئے خراب شی، قحطونه او سیلابونه او بې برکتي پرے راشي او ژوند ئے تنګ شی۔

فِي الْكِتَابِ: د کتاب نه مراد کتاب د تقدیر یعني لوح محفوظ دے۔

(۲) تفسیر : د قریة نه مراد هر کلے دے او پدے کښې بیان د اِنْتِهَاءُ الْبَشَرِيَّةِ كُلِّهَا دے۔ یعني ټول انسانان به ختمیږی او هلاك په معنیٰ د موت (مرګ) دے یعني د قیامت نه مخکښې به ټول کلي مری او ختمیږی به په خپل مرګ۔ یا به چا ته پکښې عذاب ورکوو لکه مجرمان او ظالمان، او دا خبره الله تعالیٰ په تقدیر کښې لیکلے ده۔

او ددے خبر ورکولو فائده به دا وی چه [فَلْيُبَادِرِ الْمُشْرِكُوْنَ وَالْعُصَاةُ إِلَى اللّٰهِ] یعني هرکله چه د انسانانو ختمیدل شته نو بیا خو مشرکانو او نافرمانو له پکار دی چه الله تعالیٰ ته د جرمونو نه په جلتۍ راوګرځي او توبه وباسی ورنه الله به ورسره سخت حساب وکړی۔ اوله معنیٰ زیاته ظاهره ده۔

وَمَا مَنَعَنَا أَنْ نُرْسِلَ بِالْآيَاتِ : زمونږ د مشائخو په نیز ددے ځای نه روستو د عذاب د نازلیدو دویم سبب بیانیږی چه هغه د الله تعالیٰ د آیتونو نه انکار کول دی۔ او دا دویمه موضوع د سورت ده۔ او پدے کښې آیت جواب د سوال د مشرکانو دے۔

شان نزول

امام احمدؒ او نسائيؒ د ابن عباس ﷺ نه روایت کړیدے چه مکے والو د نبی کریم ﷺ نه

مطالبه وکړه چه د صفا غونډئ په سرو زرو بدله کړی او د مکے غرونه ددوی د ځایونو نه وارووی دے دپاره چه فصل وکړی نو نبی ﷺ ته (د جبریل علیه السلام په ذریعه) ووئیل شو چه که ته غواړے نو لږ نور انتظار وکړه او که غواړے نو د دوی مطالبه به پوره شی، لیکن ددے نه روستو که دا خلق په کفر باقی پاتے شی، نو د تیر شوی قومونو په شان به دوی هم هلاك کړے شی۔ نبی ﷺ وفرمایل چه زهٔ انتظار کوم۔ (او د مشرکانو نور مطالبات روستو آیتونو کښې راروان دی) نو دا آیت کریمه پدے باره کښې نازل شو۔

او جواب ورکړے شو چه د قریشو مطلوبه نخے مونږ پدے وجه نهٔ لیږو چه دوی به هم د تیر شوی قومونو په شان دا نخے دروغجنے کړی لکه څنګه چه پخوانو خلکو دروغجنے کړے وے او مثال ئے د ثمودیانو اُوښه طلب کول دی نو هغوی په نهٔ منلو الله تعالیٰ هلاك کړل نو که دا موجوده خلك ئے ونهٔ منی نو دوی به هم هلاك شی۔ او الله تعالیٰ د دوی د هلاکت اراده فی الحال نهٔ ده کړے کیدے شی چه دوی به ایمان راوړی، یا به د دوی په نسلونو کښې داسے خلك پیدا شی چه هغوی به ایمان راوړی۔ او بیا فرمائی چه ما یوه معجزه دوی ته ورکړه چه نبی علیه السلام مے معراج ته وخیژولو هغه د دوی دپاره د امتحان ذریعه وګرځیده او شجره ملعونه د دوی دپاره امتحان جوړ شو۔ نو که الله نور ناشنا معجزات راولی نو د دوی انکار به نور زیاتیږی او هغه به څهٔ ومنی؟۔

دا دلیل دے چه الله تعالیٰ بعض روستو راتلونکی واقعات په خپل کتاب کښې ذکر نکړل دے دپاره چه د هغے د واقع کیدو نه مخکښې د خلکو عقلونه د هغے نه انکار ونکړی خاصکر کله ئے چه د هغے څه مثال نهٔ وی لیدلے او دا د الله تعالیٰ رحم دے۔ (السعدیؒ)

أَنْ كَذَّبَ بِهَا الْأَوَّلُونَ : دلته وقف دے۔ (فَعَذِّبُوْا بِذٰلِكَ) او هغوی ته پدے تکذیب سره عذاب ورکړے شو۔ نو که دوی ئے ونهٔ منی نو دوی دپاره به هم عذاب جوړ شی۔

فَظَلَمُوْا بِهَا : یعنی د صالح علیه السلام قوم ثمودیانو اُوښه وغوښته او چه کله راولیستلے شوه نو هغوی هلاکه کړه او ظلم ئے ورسره وکړو نو د الله د سنت مطابق دوی بیخی ختم کړے شو۔

وَمَا نُرْسِلُ بِالْآيَاتِ إِلَّا تَخْوِيفًا : یعنی مونږ دا نخے د خلقو دیرولو دپاره لیږو چه هر څوك داسے وکړی نو د هغه انجام به هلاکت او بربادی وی۔

دارنګه[مَا مِنْ آيَةٍ إِلَّا وَتَتَضَمَّنُ التَّخْوِيفَ عِنْدَ التَّكْذِيبِ بِهَا] هره معجزه چه راشی او څوك ئے ونهٔ منی نو دغه معجزه عذاب ګرځی۔

وَإِذْ قُلْنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِالنَّاسِ
او کله چه اُووئیل مونږ تا ته یقیناً رب ستا راګیر کړیدی خلقو لره
وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَا الَّتِيْ أَرَيْنَاكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ
او نۀ دی ګرځولی مونږ لیدل هغه چه خودلی دی مونږ تا ته مګر امتحان دپاره د خلقو
وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ فِي الْقُرْآنِ وَنُخَوِّفُهُمْ
او ونه هغه چه بدی ئے وئیلے شویده په قرآن کښې، او یره ورکوو دوی ته
فَمَا يَزِيْدُهُمْ إِلَّا طُغْيَانًا كَبِيْرًا ﴿٦٠﴾
نو نۀ زیاتوی دوی لره مګر سرکشي لویه.

تفسیر : اُوس ددے مخکښې دوه مثالونه راوړی.

١- نبی کریم ﷺ ته خطاب کولو سره فرمائی چه مونږ تا ته د وحی په ذریعه وئیلی دی چه ستا د رب نه د خلقو هیڅ خبره پټه نۀ ده، د دوی کفر او عناد او د دوی تکذیب ټول د هغۀ په علم کښې دی. ٢- دویم مطلب دا دے چه [عَصَمَكَ مِنْ اَنْ يَّقْتُلُوْكَ فَامْضِ لِاَمْرِ اللّٰهِ وَلَا تَهَبْهُمْ] الله تعالیٰ تۀ محفوظ کړے ئے ددے نه چه دا خلك تا قتل کړی نو تۀ د الله حکم (دعوت) جاری ساته او د خلکو نه یره مۀ کوه. (ابن کثیرؒ والبغویؒ وفتح البیان)

(نو هرکله چه رسول الله ﷺ ته دا خبر ورکړے شو نو د هغه زړه قوی شو ځکه چه د مدد وعده ورسره وشوه نو هغه د معراج واقعه قریشو ته بیانه کړه -فتح البیان).

وَمَا جَعَلْنَا : او ورسره دا خبره هم بیانه کړه چه زۀ آسمان ته ختلے وم، نو اُوس د مشرکانو حال بیانوی. نبی کریم ﷺ چه کله دوی ته خبر ورکړو چه زۀ آسمان ته ختلے وم او په جهنم کښې د پیدا کیدونکی زقوم ونے خبرئے ورکړو نو دوی د نبی ﷺ پورے توقے وکړے او هغه ته ئے دروغجن ووئیلو او د مخلصو مسلمانانو ایمان نور هم قوی شو نو دا خبره د خلقو دپاره یو لوئی ازمیښت وو.

الرُّؤْيَا : (١) ❁ د ابن عباس ؓ نه روایت دے چه (رُؤْيَا عَيْنٍ اُرِيَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيْلَةَ الْمِعْرَاجِ] دا د سترګو لیدل وو چه رسول الله ﷺ ته دغه نخے د قدرت د الله تعالیٰ د معراج په شپه خودلے شوے وے. (صحیح بخاری) او دے ته ئے (رؤیا) ووئیلو ځکه چه دا

واقعه د شپې راپيښه شوې وه، يا كافرانو وئيلي وو چه كيدې شي چه په خوب كښې آسمانونو ته تلې وي. مگر دې ته تاويلاتو ته ضرورت نشته ځكه چه رؤيا نه مراد د سترګو ليدل دي او د رؤيا اطلاق په سترګو ليدلو سره هم كيږي. لكه د ابن عباسؓ نه نقل دي.

فِتۡنَةً لِّلنَّاسِ : ابن جرير طبريؒ د حسن بصري رحمه الله نه ددې آيت په تفسير كښې روايت راوړيدې چه رسول الله ﷺ د ماسخوتن په وخت كښې د بيت الحرام نه بيت المقدس پورې بوتللې شو، چه هلته دوی مونځ وكړو، دې نه روستو الله ورته خپلې نخې وخودلې. بيا د صبا په وخت مكې ته راغلو او خلقو ته ئې د معراج خبر وركړو، نو كافرانو اُووئيل چه اې محمده ! آيا ته ماښام كښې په بيت المقدس كښې وې او سحر زمونږ خوا ته راغلې ئې ؟ پدې خبرې سره دوی ته دومره حيرانتيا اُوشوه چه د دوی د خبرو نه متأثر كيدو سره څه ضعيف ايمان والا مسلمانان مرتد شو. (الطبريؒ) وفتح البيان١٤٦/٤)

(۲) ❁ د بعض مفسرينو رائې ده چه د ((رؤيا)) نه مراد د نبي كريم ﷺ دا خوب دې چه هغه به مكې ته د فاتح په حيثيت داخليږي. نو د صلح حديبيه په كال نبي ﷺ صحابه كرام ځان سره واخستل او مكې طرف ته روان شو، ليكن چونكه لا تر اُوسه د مكې د فتح كولو وخت نۀ وو راغلې پدې وجه نبي ﷺ ته واپس راتلل راپيښ شو.

نو بعض خلقو اُووئيل چه مونږ ته ئې خو وئيلي وو چه مكې ته به داخليږو نو بيا ولې داخل نۀ شو. دا واقعه د دوی دپاره ازميښت جوړ شو. كله چه په دويم كال مكه فتح شوه نو الله تعالىٰ ﴿لَقَدۡ صَدَقَ اللّٰهُ رَسُولَهُ الرُّؤۡيَا بِالۡحَقِّ﴾ (الفتح:۲۷) نازل كړو. (چه الله د خپل رسول خوب رشتينى كړو)

ددې قول مطابق به دا آيت مدنى وي. كوم چه په مكي سورت كښې داخل كړې شويدې. پدې باندې دا اشكال شويدې چه دا آيت مكي دې او دغه خوب په مدينه كښې ليدلې شوې وو نو بيا ئې جواب وركړيدې چه څه لرې نۀ ده چه رسول الله ﷺ دا خوب په مكه كښې ليدلې وي بيا ئې حقيقت په مدينه كښې ښكاره شوې وي.

ليكن دې كښې تكلف دې.

(۳) ❁ او ځينى وائي چه رسول الله ﷺ ته په خوب كښې وخودلې شو چه قريش به په فلاني فلاني ځاى كښې هلاكيږي، تردې چه رسول الله ﷺ وفرمايل : گويا كه زۀ ددې خلكو د قتل ځايونه په خپلو سترګو وينم او هغه زمكې ته اشاره كوله او دا به ئې وئيل چه دا د فلاني د قتل ځاى دې. (مسلم في الجهاد حديث ٨٣)

نو کله چه قریش مشرکانو دا خبره واوریده نو ددے نه ئے مسخره جوړه کړه۔ پدے کښې اول قول غوره دے۔

وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ فِي الْقُرْآنِ : دا عطف دے په (الرُّؤْيَا) باندے یعنی دا شجره ملعونه هم د خلکو دپاره فتنه او ازمیښت وګرځیدو۔

د جمهورو مفسرینو په نیز د ((شجره ملعونه)) نه مراد د زقوم ونه ده چه هغه په سورة الصافات (٦٢/٦٣/٦٤) آیتونو کښې راغلې ده : ﴿ اَذٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا اَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ ۝ اِنَّا جَعَلْنٰهَا فِتْنَةً لِّلظّٰلِمِيْنَ ۝، اِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِيْۤ اَصْلِ الْجَحِيْمِ ۝﴾ (آیا دا میلمستیا ښه ده او که د زقوم ونه چه مونږه د ظالمانو دپاره سخته سزا مقرر کړیده چه د جهنم په بیخ کښې راوځی)۔

او الله فرمائی: ﴿ اِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ طَعَامُ الْاَثِيْمِ﴾ (الدخان : ٤٣، ٤٤) (یقیناً د زقوم ونه خوراك د ډیر ګناهګار دے)۔

شان نزول

طبریؒ، ابن اسحاقؒ او ابن ابی حاتمؒ وغیره د ابن عباس ﷠ نه روایت کړیدے چه کله رسول الله ﷺ د کافرانو د یرولو دپاره د زقوم ونه ذکر کړه نو ابوجهل ووئیل، اے قریشو! هغه د زقوم ونه چه تاسو پرے محمد یروی، پو هیږئ هغه څه دی؟ خلقو ووئیل، نهٔ، نو هغه ووئیل چه دا د یثرب عجوه کجوره ده چه د مکهن (کُچ) سره خوړلے کیږی۔ قسم په الله ! که مونږ ته دا ملاؤ شی نو ښه به ئے وخورو۔ نو الله دا آیت نازل کړو۔

او په یو روایت کښې دی چه کله دا آیت نازل شو نو ابوجهل د توقو په طریقه خپلے وینځے ته ووئیل : کجوره او کچ راوړه، بیا ئے خپلو ملګروته ووئیل : (تَزَقَّمُوْا) دا زقوم وخورئ۔ (یعنی دا څومره مزیدار خوراك دے چه تاسو پرے محمد یروی)۔

او ابن الزبعریٰ ووئیل چه الله دِے ستاسو په کورونو کښې زقوم زیات کړی ځکه چه زقوم خو کجورے او کُچ ته وائی په لغت د یمن کښې۔ (البغویؒ وفتح البیان)

او دارنګه ابوجهل وغیره دا هم ووئیل : چه ستاسو دا صاحب وائی چه د جهنم اُور کاڼړی سیزی او بیا وائی چه پدے کښې ونے راخیژی نو الله تعالیٰ ﴿ وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ﴾ آیت نازل کړو۔ (فتح البیان) مقصد ئے دا وو چه د محمد (ﷺ) په کلام کښې تضاد دے۔

ددے جواب دا دے چه دا خو د آخرت اُمور دی دا په دنیاوی امورو باندے قیاس نهٔ دی بلکه په دنیا کښې هم ددے مثالونه شته لکه چه مفسرینو ذکر کړیدی چه د یو حیوان چه

(سمندر) نوم ئې دے په ترکی ښارونو کښې موجود دے د هغهٔ د وړئ (پشم) نه داسې رومال جوړیږی چه کله خیرن شی نو هغه اُور ته گوزار کړی نو خیرے ترے لاړ شی او رومال همغه شان روغ وی اُور پکښې هیڅ اثر نهٔ وی کړے۔ دارنګه شتر مرغ سکروټه تیره کړی او هیڅ ضرر ورته ورنکړی، او الله تعالیٰ په هره ونه کښې اُور پیدا کړیدے، او هغه نهٔ سیزی نو دا هم جائز ده چه په اُور کښې داسې ونه پیدا شی چه هغه نهٔ سوزوی بلکه یو د دنیا ونه ده او بل د جهنم نو دا به د جهنم د جنس نه وی۔ (فتح البیان وغیره)

((الملعونة)) د ونے صفت راغلے دے، لیکن ددے نه مراد د هغے خوړونکے دے۔ (یعنی هغه ونه چه بد ئې وئیلے شوی یعنی د خوړونکی) لکه چه مخکښې آیت د سورة الدخان کښې طعام الاثیم ذکر شو۔ او زجاج وائی چه عرب هر طعام ته چه مکروه (بد گنړلے شوے) وی ملعون وائی۔ (القرطبیؒ)

بله دا چه لعنت معنیٰ ده د رحمت نه جدائی او دا ونه هم د جهنم په مینځ کښې راختلے ده چه دا د الله د رحمت نه ډیر جدا ځای دے۔ (فتح البیان)

وَنُخَوِّفُهُمْ : یعنی مونږ د قریش کافران پدے خبرو او ددے په شان نورو خبرو سره یرول غواړو دے دپاره چه ایمان راوړی، لیکن نتیجه اُلټه کیږی او د دوی سرکشی نوره هم زیاتیږی۔ څوك چه نا اهله شی نو چه څومره بیانونه ورته کیږی هغومره به سرکشه کیږی او د اهل خلکو دپاره یوه خبره هم کافی کیږی۔

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا
او کله چه اُووئیل مونږ ملائکو ته سجده اُوکړئ آدم (علیه السلام) ته نو سجده اُوکړه دوی
إِلَّآ إِبْلِيْسَ قَالَ ءَ أَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ
سوئ د ابلیس نه، اُووئیل هغهٔ آیا سجده به کوم زهٔ هغه چا ته چه پیدا کړیدے تا
طِيْنًا ﴿٦١﴾ قَالَ أَرَأَيْتَكَ هٰذَا الَّذِىْ كَرَّمْتَ
د خټے نه۔ اُووئیل هغهٔ خبر راکړه چه دا هغه سړے دے چه تا عزت ورکړیدے دهٔ ته
عَلَىَّ لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ
په ما باندے که چرے روستو کړم تا زهٔ (مهلت ډے راکړو) تر ورځ د قیامت پورے

لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٢﴾ قَالَ اذْهَبْ فَمَنْ
نو خامخا بيخكندي به وكړم د اولاد ددۀ سوئ د لږو كسانو نه. اُووئيل الله لاړه شه پس چا
تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُورًا ﴿٦٣﴾ وَاسْتَفْزِزْ
چه تابعداري وكړه ستا د دوي نه نو يقيناً جهنم بدله ده ستاسو بدله پوره. او اُوخويه وه
مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِمْ
(د دهوكه كړه) هغه څوك چه طاقت لرے تۀ د دوي نه په آواز خپل سره او راوله په دوي
بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ
باندے سوارۀ خپل او پياده خپل او شريك شه د دوي سره په مالونو او اولادو كښې
وَعِدْهُمْ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا ﴿٦٤﴾ إِنَّ
او وعدے كوه د دوي سره او وعده نۀ كوي ددوي سره شيطان مگر د دهوكے. يقيناً
عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ وَكِيلًا ﴿٦٥﴾
بندگان زما نشته تا لره په هغوي باندے قدرت د گمراه كولو، او پوره دے ستا رب ذمه وار.

تفسير : مضمون : واقعه د آدم عليه السلام او ابليس راوړي، مقصد پكښې (۱) (مَآلُ مَنْ أَنْكَرَ) بيانول دي، يعني د هغه چا انجام بيانوي چه د معجزاتو نه انكار وكړي، ثموديانو او عاديانو كړے وو نو الله هلاك كړل نو دغه شان ابليس د آدم عليه السلام د معجزے نه انكار وكړو نو الله هلاك كړو. د انبياء عليهم السلام معجزات مۀ رد كوئ.

(۲) تَشَبُّهُ الْمُشْرِكِيْنَ بِإِبْلِيْسَ فِي الْاِسْتِهْزَاءِ بِالرَّسُوْلِ)

مشركان د ابليس سره مشابه دي چه دواړو د رسول پورے توقے كړيدي او د ابليس ځاي خو جهنم دے نو دغه شان دوي هم جهنم ته روان دي. د ابليس د گمراهۍ ډير اسباب دي نو دغه شان د دوي د گمراهۍ هم ډير اسباب دي.

بيا روستو پدے واقعه باندے تفريعات ذكر كوي چه د الله تعالىٰ احسانات او د مشركينو ناشكري بيانيږي چه دوي د رسول د انكار سره سره توحيد د الله تعالىٰ هم نۀ مني تر (۷۰) آيت پورے، بيا احوال د مشركانو بيانيږي په آخرت كښې، بيا بيان د تثبت على الحق دے

چه په حق کلك شه او ددے خلکو خبره مهٔ منه، بيا دا بيانوى چه اخراج الرسل (د رسولانو ويستل) سبب د عذاب دے۔ بيا په يوه رکوع کښې د اعمالو تذکره کيږي چه پدے سره د الله تعالیٰ مدد راځي۔ بيا امتنان على الرسول بانزال القرآن بيانوى۔ يعني په رسول باندے احسان ذکر کوی په نازلولو د قرآن کريم۔ چه دا الله تعالیٰ بيرته اخستے هم شي نو شکرئے وکړه، بيا د هغوی ډير اعتراضات په رسالت باندے بيانوی بيا مختصر جواب۔

بيا دوی وائي چه د بشريت او رسالت منافات دے، نو الله جواب کوی چه په زمکه کښې خو ملائك نهٔ وسيږی، تاسو وسيږئ نو نبي به هم ستاسو د جنس نه راځي۔

بيا تخويف د آخرت دے تفصيلًا او په آخری رکوع کښې الله تعالیٰ استهزاء بالرسول سبب د عذاب ذکر کړيدے لکه فرعون ته وګوره چه موسیٰ ﷺ پورے ئے ټوقے وکړے نو الله هلاك کړو، په آخر کښې بيا ترغيب دے قرآن کريم ته او الله تعالیٰ خپله استغناء بيانوی چه که مشرکان ايمان راوړی او که نهٔ خو د الله نيکان بندګان شته۔ او په آخر کښې آداب بيانيږي۔

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ : اَیْ وَاذْکُرْ۔ رایاده کړه دغه واقعه د آدم ﷺ الخ۔

دلته دا واقعه په پنځو آيتونو کښې ذکر شويده۔ چه ددے خلاصه دا ده چه اے زما نبي! تهٔ هغه وخت ياد کړه چه کله مونږ ملائکو ته اُووئيل چه تاسو د آدم په اکرام او احترام کښې هغه ته سجده وکړئ، نو د ابليس نه سوئ ټولو سجده اُوکړه۔ دهٔ د کفر او سرکشئ لاره اختياره کړه، وے وئيل چه آيا زهٔ سجده اُوکړم هغه چا ته چه تا د خاورے نه پيدا کړيدے۔ تا چه دهٔ ته په ما باندے فضيلت او غوره والے ورکړو او ما ته دِے ددهٔ د سجدے حکم وکړو نو داسے دِے ولے وکړل ؟ که تا ما ته د قيامت د ورځے پورے مهلت راکړو نو سویٰ د يو څو مخلصو مسلمانانو نه به زهٔ ټول ګمراه او هلاك کړم يا چرته چه زهٔ غواړم نو ګمراه کولو سره به ئے ځان سره بوځم۔

خَلَقْتَ طِينًا: منصوب بنزع الخافض دے اَیْ مِنْ طِيْنٍ۔ يعني د خټے نه۔

أَرَءَيْتَكَ : دا په معنیٰ د اَخْبِرْنِیْ سره دے (يعنی ما ته خبر راکړه داسے دِے ولے وکړل؟) الله تعالیٰ ورته ددے سوال جواب ورنکړو دپاره د سپکوالی د هغهٔ ځکه چه په خپل لوی مولیٰ ئے اعتراض وکړو۔

(او دا خبره بعينه د مشرکانو او د يهودو هم وه چه ولے ددے نبي اکرام وشو چه زمونږ ترمينځ صرف وحي په دهٔ نازله شوه۔ دا اصل کښې په الله تعالیٰ اعتراض دے)۔

لَئِنْ أَخَّرْتَنِ : دا د ابلیس ضد او فساد دے۔
لَأَحْتَنِكَنَّ : ۱- اَیْ لَأُغْوِيَنَّهُمْ۔ یعنی گمراه به ئے کړم او اصل کښې په معنیٰ د بیخ گندی کول او جرړه ویستل دی، بیا د غلبے کولو او د یو شی پوره رانیولو دپاره استعمالیږی۔
۲- لَاَسُوْقَنَّهُمْ وَاَقُوْدَنَّهُمْ حَيْثُ اَرَدْتُّ ۔ زۀ به دوی راکاږم او روان به ئے کړم چرته چه زما خوښه وی۔ اوله معنیٰ ددے مقام سره زیاته مناسبه ده۔
اذْهَبْ: ۱- یعنی د جنت نه لاړ شه ووځه۔
۲- یا په خپله طریقه روان شه کوم چه تا د خپل ځان دپاره غوره کړه۔
۳- یا معنیٰ ده لاړه شه گرځه تا لره د اولے شپیلۍ پورے مهلت دے۔
دلته الله تعالیٰ پنځه امرونه ابلیس ته وکړل پدے کښې مقصود هغه ته دهمکی ورکول او د هغۀ استدراج دے او بندگان یرول دی چه ابلیس تاسو پدے طریقو سره گمراه کوی ځان ترے وساتئ۔
جَزَآءً مَّوْفُوْرًا: یعنی جهنم ستاسو د کفر او شرك او جرمونو پوره سزا ده۔
وَاسْتَفْزِزْ : دوباره ئے ورته د مهلت ورکولو حکم وکړو۔ ۱- اَیْ اِسْتَزِلَّ وَاَخْدِعْ ۔ یعنی وښویوه او دهوکه کړه۔
بِصَوْتِكَ : یعنی تۀ چه د دوی نه چا ته آواز وکړے او په خپله تابعداریٔ باندے ئے راتیزوے نو تیز ئے کړه او دهوکه ورکړه۔

د شیطان آواز څه شے دے؟

۱- عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : د شیطان آواز تهنگ تکور او موسیقی (گانے بجانے) دی) ۲- لهو او لعب۔ ۳- وسوسه۔
٤- كُلُّ دَاعٍ يَدْعُوْ اِلٰی مَعْصِيَةِ اللّٰهِ فَهُوَ مِنْ صَوْتِ الشَّيْطَانِ ۔ هر داعی چه د الله نافرمانئ ته دعوت ورکوی نو دغه د شیطان آواز دے۔ که په هر شکل کښې وی۔
وَاَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ : یعنی راکاږه په دوی باندے خپل اسونو والا او پیاده خلك۔ حاصل معنیٰ ئے ده حمله وکړه په دوی باندے۔ یعنی د دوی د خپل ځان د تابع کولو دپاره تمامے حربے او تمام ذرائع استعمال کړه، د مکر او چلونو چه څومره صورتونه کیدے شی ټول اختیار کړه۔
خیل نه مراد دلته شا هسواران دی۔ یعنی سوارۀ خلك د لښکر ستا۔

وَرَجِلِكَ: دا مفرد دے په معنیٰ د جمع سره. ابوزیدؒ وائی : رَجْلٌ او رَجِلٌ په معنیٰ د رَاجِلٌ دے، پیاده تلونکے.

اهل علم لیکی : [فَكُلُّ مَنْ رَكِبَ اَوْ مَشٰى فِيْ مَعْصِيَةِ اللّٰهِ فَهُوَ مِنْ جُنْدِ اِبْلِيْسَ] هر هغه ځوك چه سور شو یا پیاده روان شو د الله په نافرمانئ کښې نو هغه د ابلیس د لښکر نه دے.

(فتح البیان)

وَشَارِكْهُمْ فِى الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ :

د شیطان د انسانانو سره په مال او اولاد کښې شرکت

۱- یو په طریقه د نذر د غیر الله سره دے. لکه دوی د غیر الله دپاره په فصلونو او چارپیانو کښې برخه مقرر کړے وه. ۲- اِنْفَاقُ الْمَالِ فِى التَّبْذِيْرِ. په فضول کښې مال لګول.

۳- كَسْبُ الْحَرَامِ وَجَمْعُهٗ. د حرام مال کمائی او راجمع کول. یعنی په حرامو سره مال او دولت حاصل کړی، غصب، غلا، سود خوری وکړی او په حرامو کارونو کښې ئے خرچ کړی.

په اولادو کښې د ابلیس شرکت

۱- اَلنَّذْرُ لِغَيْرِ اللّٰهِ. بچی د غیر الله دپاره نذر کول. ۲- اولاد د لوږے د یرے د وجه نه وژل او لونړه د شرم د وجه نه خخول. ۳- تَرْكُ التَّسْمِيَةِ عِنْدَ الْوِقَاعِ . د کوروالی په وخت کښې بسم الله پریخودو سره شیطان شرکت کوی، نو بچے چه پیدا شی نو نیم انسان وی او نیم شیطان. پدے وجه په احادیثو کښې پدے مقام کښې دعاګانے راغلی دی چه بچے د شیطان نه محفوظ کیږی.

٤- اِسْتِعْمَالُ الْاَوْلَادِ فِىْ مَعْصِيَةِ اللّٰهِ . بچی په داسے ځای کښې استعمالول چه هلته د الله نافرمانی کیږی. د ګناه کارونه پرے کول، یا ئے په باطل باندے کلکول.

٥- په ناجائزو طریقو سره اولاد حاصلول لکه په زنا وغیره سره.

٦- هغوی ته شرکی نومونه کیخودل لکه عبد اللّات او عبد الْعُزّٰى او عبد الرسول او عبد النبی او ګنج بخش او پیر بخش وغیره.

۷- د صلاح او تقوىٰ مطابق د دوی تربیت ونکړی او دوی ملحد او زندیق او کافر جوړ کړی.

وَعِدْهُمْ : یعنی دوی سره نورے وعدے هم وکړه ❁ هغه دا چه دویم ځلی به نهٔ ژوندی

کیږي، (زجاج) ❁ یا دا چه د دوی انجام به همیشه بنهٔ وي، او هر ځل به غلبه همدوی ته حاصلیږي. ❁ او د دوی معبودان به دوی له سفارش کوي.

❁ او د اُوچتو نسبونو په وجه به دوی په الله باندې عزتمند وي، ❁ او د الله په کرامة باندې تکیه لګول. چه الله غفور رحیم دې. ❁ توبه روستو کول په اُوږد امید سره.

❁ نقد شی په نسیه باندې غوره کول. یعني دنیا ورته ښائسته کول په مقابله د آخرت کښې. (فتح البیان)

❁ (سَتَطُوْلُ عَلٰی اَقْرَانِكَ) په خپلو همزولو به پورته شې. ❁ وَتَنَالُ لَذَّتَكَ) د دنیا مزې به واخلې، کور به دِې وي کاروبار، بچې او ګاړي به دِې وي، نو د اعمالو نه ئې پدې وسوسو سره پاتې کوي او د هغې دپاره کوشش کوي.

إِنَّ عِبَادِیْ : دلته الله تعالیٰ د عامو انسانانو نه صرف خاص بندګان مؤمنان مستثنیٰ کړل چه په دوی باندې به د شیطان چل او زور نهٔ چلیږي. یعني ته به هغوی ګمراه کولې نهٔ شې، ستا رب به د هغوی حامي او مددګار وي، هغوی به په خپل رب باندې بهروسه کوي او په ټولو کارونو کښې به په الله پورې پناه اخلي، او هغه به د دوی دپاره کافي وي.

وَکِیْلًا : اَیْ لَهُمْ. یعني ستا رب د هغوی دپاره پوره ذمه وار دې او ستا نه به ئې ساتي.

رَبُّكُمُ الَّذِیْ یُزْجِیْ لَكُمُ الْفُلْكَ فِی الْبَحْرِ لِتَبْتَغُوْا
رب ستاسو هغه ذات دې روانوي تاسو لره کشتئ په دریاب کښې دې دپاره چه طلب کړئ
مِنْ فَضْلِهٖ اِنَّهٗ كَانَ بِكُمْ رَحِیْمًا ﴿۶۶﴾ وَاِذَا مَسَّكُمُ
فضل د الله تعالیٰ، یقیناً هغه دې په تاسو باندې رحم کونکې. او کله چه اُورسي تاسو ته
الضُّرُّ فِی الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُوْنَ اِلَّاۤ اِیَّاهُ
تکلیف په دریاب کښې ورك شي تاسو نه هغه څوك چه رابلئ ئې تاسو سوئ د الله نه.
فَلَمَّا نَجّٰىكُمْ اِلَى الْبَرِّ اَعْرَضْتُمْ وَكَانَ الْاِنْسَانُ كَفُوْرًا ﴿۶۷﴾
نو هرکله چه بچ کړي تاسو اُوچې ته نو مخ ګرځوئ تاسو او دې انسان ناشکره.
اَفَاَمِنْتُمْ اَنْ یَّخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ الْبَرِّ اَوْ یُرْسِلَ
آیا نو په امن یئ تاسو ددې نه چه ننباسي تاسو لره په طرف د اُوچه باندې یا به راولیږي

عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوا لَكُمْ وَكِيلًا ﴿٦٨﴾
په تاسو باندے باران د کانړو بیا به ونهٔ مومئ تاسو د خپل ځان دپاره ذمه وار۔
أَمْ أَمِنْتُمْ أَنْ يُعِيدَكُمْ فِيهِ تَارَةً أُخْرَىٰ
آیا یے غمه یئ تاسو ددے نه چه واپس به کړی تاسو پدے دریاب کښ بل کرت
فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِنَ الرِّيحِ فَيُغْرِقَكُمْ بِمَا كَفَرْتُمْ
نو راوبه لیږی په تاسو ماتونکے هوا نو غرق به کړی تاسو په سبب د هغے چه کفر کړے وو تاسو
ثُمَّ لَا تَجِدُوا لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِ تَبِيعًا ﴿٦٩﴾
بیا به نهٔ مومندهٔ کوئ د خپل ځان دپاره په مونږ باندے پدے (غرق کولو) سره بدله اخستونکے
وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ
او یقیناً مونږ عزت ورکړے بنیادمو ته او پورته کړیدی مونږ دوی لره په اُوچه
وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ
او دریاب کښ او رزق ورکړیدے مونږ دوی ته د پاکو رزقونو نه او غوره کړیدی مونږ دوی
عَلَىٰ كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴿٧٠﴾
په ډیرو د هغه چا نه چه پیدا کړیدی مونږ په ډیر غور کولو سره۔

تفسیر: ربط

پدے آیتونو کښ اِسْتِحْوَاذُ الشَّيْطَانِ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ فِيْ نِسْيَانِ الرَّبِّ بیانیږی یعنی د شیطان زور او غلبه په مشرکانو باندے بیانیږی چه شیطان مشرکانو لره څنګه گمراه کړو هغه دا چه مصیبت کله راشی نو یواځے الله یادوی او چه کله راحت راشی نو بیا ترے الله هیر شی۔ او ددے مثال راوړی۔

او تر (۷۰) آیت پورے الله تعالیٰ د خپل وحدانیت او الوهیت یو څو نخے بیان کړیدی، او دا د الله تعالیٰ تعارف هم دے او د هغهٔ احسانات هم دی۔ فرمائی: ستاسو رب هغه دے چه کشتیانے په سمندر کښ د هواګانو په مدد سره چلوی دے دپاره چه تاسو د خپلے خوښے مطابق چرته چه غواړئ د تجارت په غرض لاړ شئ او د الله پیدا کړی روزی حاصله کړئ،

يقيناً هغه په تاسو ډير مهربان دے چه سمندر ئے هم تاسو له مسخر کړے، دے دپاره چه تاسو دا د خپل سفر او تجارت دپاره په آسانئ سره استعمال کړئ۔

مِنْ فَضْلِهٖ : د فضل اطلاق غالباً په مال باندے کیږی او دا دینی او دنیاوی دواړو څیزونو ته شاملیږی۔

وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ : اُوس د انسان ناشکری او بی وفائی بیانیږی۔ یعنی کله چه تاسو په کشتئ کښ سوارهٔ شئ او د سمندر په مینځ کښ تاسو ته کومه بیماری یا پریشانی اُورسی، یا لاره درنه ورکه شی، یا کومه چپه کښ داخل شئ او کشتئ په ډوبیدو شی نو تاسو نه خپل معبودان ټول هیر شی، او د فطرت د تقاضے مطابق صرف یو الله ته آواز شروع کړئ، د کوم مطابق چه الله انسانان پیدا کړیدی، لیکن کله چه هغه تاسو په خیر سره غاړے ته اُورسوی نو د هغه د یاد نه غافله شئ، او بیا خپلو دروغجنو معبودانو ته آوازونه کوئ، ځکه چه انسان په طبعی توګه ډیر احسان هیرونکے پیدا شویدے۔

ضَلَّ مَنْ تَدْعُوْنَ : ددے اصل وجه دا ده چه د انسان فطرت غافله وی خو چه کله مصیبت راشی نو فطرت ئے راویښ شی نو ځکه ئے الله ته توجه پیدا شی۔

أَعْرَضْتُمْ : اَیْ عَنِ الْاِخْلَاصِ لِلّٰهِ وَتَوْحِیْدِهٖ وَرَجَعْتُمْ اِلٰی دُعَاءِ اَصْنَامِکُمْ وَالْاِسْتِغَاثَةِ بِهَا)

تاسو د الله تعالیٰ د یواځے رابللو او د هغه د توحید نه مخ واړوئ او د خپلو بتانو د رابللو او د هغوئ نه مدد غوښتو ته واپس شئ۔ (فتح) لکه مخکښ سورت النحل آیت (٥٥) کښ تیر شو ﴿لِیَکْفُرُوْا بِمَا آتَیْنَاهُمْ﴾ چه د الله نه مخ اړول (غافله کیدل) او د غیر الله عبادت کول دا د مشرکانو مرضونه دی۔

أَفَأَمِنْتُمْ : اُوس الله تعالیٰ د مشرکانو په ناشکرئ باندے دهمکی ورکوی چه تاسو خو په سمندر کښ یواځے الله ته آواز وکړو نو آیا الله دا نشی کولے چه په وچه کښ درباندے عذاب راولی چه دلته تریے غفلت کوے، دارنګه الله تعالیٰ خو دا هم کولے شی چه بیرته ستاسو حاجت پیدا کړی او دریاب ته مو واپس کړی او عذاب درباندے راولی۔

فرمائی : آیا تاسو نهٔ یریږئ چه د سمندر نه اُوځئ او د زمکے په یوه حصه باندے کوز شئ نو الله تعالیٰ هغه په تاسو باندے په زمکه ننباسی او تاسو په زمکه کښ داخل کړی، لکه قارون او قوم لوط سره ئے داسے وکړل، یا به سخته هوا راوالوزوی چه په تاسو باندے د کانړو باران وکړی، او تاسو هلاك کړی، او هیڅوك به ستاسو مدد له رانشی۔ لکه د قوم لوط سره ئے داسے وکړل۔

حَاصِبًا : دا سختـه هوا ده چـه ځان سره واړه واړه کانړي رالوزوي. زجاجؒ وائي حاصب هغـه خاورے ته وائي چه په هغے کښ واړه واړه کانړي وي. نو د حاصب نه مرد ذُوْ الْحَصْبَاء دے لکه د تَامِرٌ او لَابِنٌ په شان. قتادةؒ وائي چه حاصب د آسمان نه راتلونکو کانړو ته وائي. او ځيني وائي چه دا هغه وريځ ده چه ګلئ راګوزاري.

أَنْ يُّعِيْدَكُمْ فِيْهِ : يا تاسو ددے خبرے نه نۀ يريږئ چه هغه به تاسو دويم ځلې سمندر ته واپس کړي او بيا به مو د سختے هوا په مينځ کښ راګير کړي، او د کفر او د سرکشئ په وجه به مو د فرعونيانو په شان غرق کړي، او ستاسو هيڅوك مددګار به نۀ وي چه ستاسو تپوس وکړي چه مونږ تاسو ته عذاب ولے درکړو ؟!.

قَاصِفًا : دا تيزے هوا ته وائي چه په تيزئ سره څيزونه ماتوي. قصف په اصل کښ کَسر (ماتولو) ته وئيلے شي. يا قاصف هغه تيزه سيلئ ده چه د هغے دپاره تيز آواز وي. لکه رَعْدٌ قَاصِفٌ. يعنی ګړه زارے تيز آواز والا.

تَبِيْعًا : ١- ثَائِرًا. (بخاریؒ) هغه څوك چه د خپل دشمن نه بدله اخلي.

٢- مددګار. (ابن عباسؓ)

٣- تبيع هغـه شخص دے چـه زمونـږ پسے راروان شي چـه تـا ولے پـه دوی دا عذاب راوستـو. (زجاجؒ) څوك چه قصاص وغيره طلب کوي هغه ته تبيع او تابع وائي. (نحاسؒ) يعنی دعوه کونکے. (ابن کثيرؒ والبغویؒ والقرطبیؒ وفتح البيان)

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ : اُوس پـدے آيت کـښ الله تعالیٰ په انسان باندے خپل احسانات بيانوي نو ددے په مقابله کښ خو انسان له د الله شکر پکار دے، نۀ ناشکري.

پکار ده چه صرف په هغۀ باندے د زړۀ نه ايمان راوړي او د دروغو معبودان پريدي او د الله د بنـدګئ لوظ وکړي. مقصد د آيت دا دے چه مونږ د آدم اولادو ته د خبرو قوت او عقل او هوښيارتيا او علم او معـرفـت، ښـۀ شـکـل او صـورت او په زمکه کښ د موجودو تولو څيـزونـو نـه د فـائدے حاصلولو قوت ورکړے، نو پدے سره مو دوی ته ډير عزت ورکړيدے، مـونـږ د دوی دپاره پـه اُوچـه او اوبو کښ د سفر کولو ټول ذرائع آسان کړيدي، او قسم قسم روزي مـو ورکـړيـده، او دوی له مو په جناتو او ټولو حيواناتو غوره والے ورکړيدے، او د دوی خاص افرادو له مو په ملائکو هم فضيلت ورکړيدے.

ليکن انسان چه کله د کفر لاره اختياره کړي، په عبادت کښ د الله سره نور خلق شريکوي او هغـه پـريـدي او نـورو سره مـحبت کوي، نو هغه به د الله بد ترين مخلوق جوړيږي. الله

تعالىٰ په سورة البينه آيت (٦) كښې فرمايلي دي : ﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِيْنَ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِيْنَ فِيْهَا اُولٰئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ﴾ بيشكه كوم خلق چه د اهل كتابونه كافران شو او د مشركانو نه، نو د جهنم په اُور كښې به اچولے شي چه په هغے كښې به هميشه وي همدا خلق (د الله) بد ترين مخلوق دے۔ ﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ثُمَّ رَدَدْنَاهُ اَسْفَلَ سَافِلِيْنَ ﴾ (التين : ٤/٥) ما انسان په ډير ښائسته شكل پيدا كړيدے، بيا مے (چه كله كفر كوي) د ټولو خلكو نه لاندے كرځولے دے۔

د تكريم او تفضيل فرق

د كرامت او تفضيل فرق دا دے چه كرامة بِالْاُمُوْرِ الْخَلْقِيَّةِ الذَّاتِيَّةِ دے يعني انسان ته عزت وركړے شويدے په هغه كارونو چه ددۀ د بدن سره تعلق لري او تفضيل په امور دينيه ؤ دے لكه عقائد او اخلاق او نظريات، نور مخلوق داسے عقائد او اخلاق نۀ لري لكه انسان۔ (فتح البيان)

كَرَّمْنَا بَنِيْ آدَمَ : د انسان كرامت په ډيرو څيزونو سره دے (١) (بِالْعَقْلِ) (په عقل سره) (٢) بِحُسْنِ الصُّوْرَةِ (په ښائسته شكل او صورت سره) (٣) بِالْقَامَةِ (په نيغ او اُوږد قامت سره) (٤) بِالنُّطْقِ (په خبرو كولو سره چه خپل مقصد پرے زر حاصلوي)۔

(٥) بِالْكِتَابَةِ (په خط او ليكلو سره چه خپله خبره د دنيا هغه سر ته رسولے شي او روستو ټولو نسلونو ته ئے پريخودے شي۔

(٦) بِالرُّكُوْبِ (په سورلئ سره چه دا په حيواناتو او نور مخلوق سورلي كوي، نور حيوانات پياده او په څلورى روان وي)

(٧) اَلْاَكْلُ بِالْيَدِ (په لاس باندے خوراك كوي) امام ابويوسف په لاس خوراك كولو، هارون رشيد ورته ووېل چه كاشوغه واخله نو هغه ووېل : (هٰذِهٖ هِيَ الْكَرَامَةُ) همدا د عزت سبب دے۔ (٨) بِحُسْنِ تَدْبِيْرِهِمْ فِيْ اَمْرِ الْمَعَاشِ وَالْمَعَادِ) : د دنيا او د آخرت د كارونو په باره كښې ښائسته تدبير كوي۔

(٩) بِاَنَّ مِنْهُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ) صرف په انسانانو كښې داسے خلك شته چه دوى نورو خلكو ته په امر بالمعروف او نهي عن المنكر سره فائده وركوي۔

(١٠) (اِنَّهٗ خُلِقَ بِيَدِ اللّٰهِ) لوى فضيلت ئے دا دے چه دا الله تعالىٰ په خپل لاسونو سره پيدا كړيدے۔ (١١) تَسْخِيْرُ الْخَلَائِقِ لَهٗ (نور مخلوقات الله تعالىٰ د انسان تابع كرځولي دي)۔

(۱۲) (اِنَّہٗ رُوۡحُ الۡعَالَمِ) دا د عالم روح دے که انسان وو نو عالَم به وی او که انسان نهٔ وو نو بیا الله تعالیٰ عالَم ختموی۔

(۱۳) او نور فضیلتونه ئے دا روستو ذکر دی چه دوی ته الله تعالیٰ د ټولو خوراکونو نه پاك او مزیدار ورکړیدی، دوی خلاصه د هر شی خوری او نور حیوانات ئے بوس او پوك وغیره خوری، او دا لا څه چه دوی ډیر حیوانات هم خوری۔

عَلٰی کَثِیۡرٍ : ددے نه معلومیږی چه انسان په ټول مخلوق باندے غوره نهٔ دے، بعض مخلوق د انسان نه غوره دی۔

تَفۡضِیۡلاً: دا ئے د تاکید دپاره راوړو اشاره ده چه دا غوره والے ډیر لوی شان لری۔ نو انسانانو لره پکار دی چه ددے نعمتونو شکر وکړی او ددے د ناشکرئ نه ویریږی۔

یَوۡمَ نَدۡعُوۡ کُلَّ اُنَاسٍ بِاِمَامِهِمۡ فَمَنۡ
په کومه ورځ چه راوبه بلو ټول خلق سره د پیشوا (یا کتاب) خپل نه پس چا ته
اُوۡتِیَ کِتَابَهٗ بِیَمِیۡنِهٖ فَاُولٰٓئِكَ یَقۡرَءُوۡنَ کِتَابَهُمۡ
چه ورکړے شوه عملنامه خپله په ښی لاس نو دا کسان به لولی عملنامه خپله
وَلَا یُظۡلَمُوۡنَ فَتِیۡلًا ﴿۷۱﴾
او ظلم به نهٔ شی کیدے په دوی باندے په اندازه د تار د هډوکے د کجورے۔

تفسیر : ربط

(۱) ددے آیت تعلق یو د نزدے آیت سره دے۔ په دنیا کښې ئے خو دغه حال بیان شو چه خوراکونه کوی او سورلی کوی خو په آخرت کښې به ئے حال دا وی۔

(۲) او د مضمون د سورت سره ئے تعلق دا دے چه د قیامت په ورځ به هر انسان د خپل امام او مقتدیٰ په تابعداریٔ کښې راپاڅیږیٔ نو د داسے امام تابعداری وکړیٔ چه هغه تاسو ته پکار راشی او هغه رسول الله ﷺ دے۔ که څوك ددے نبی پسے روان نشو نو هغه به بیا روند راپاڅیږی۔

نو مخکښې د رسول الله ﷺ شان بیان شو اُوس د هغه اتباع او طاعت ته ترغیب ورکوی۔ او پدے کښې کښې هم د دوباره ژوندی کولو او د جزا او د سزا عقیده د انسانانو په ذهن کښې

کینول مقصود دی دپاره د رد په مشرکانو او منکرینو د آخرت۔
یَوۡمَ نَدۡعُوۡ : الله خپل نبی ته فرمائی: تهٔ هغه ورځ رایاده کړه چه کله به ټول خلق د هغوی د امامانو په نوم سره رابللے کیږی۔

د امام مصداقات او معانی

مفسرینو د امام ډیرے معانی بیان کړیدی: (۱) بعضو ددے نه مراد د هر قوم نبی اخستے دے۔ (مجاهدؒ وقتادهؒ) (۲) بعضو هر هغه الهٰی کتاب چه د هر قوم دپاره نازل شوے وو۔ لکه یا اهل التوراة یا اهل الانجیل یا اهل القرآن به وئیلے شی۔ (ابن زیدؒ)
(۳) حسنؒ، ابو هریره ﷺ او ابو العالیهؒ فرمائی: د امام نه مراد د دوی عملونه دی لکه داسے به وئیلے شی اَیۡنَ الۡمُجَاهِدُوۡنَ، اَیۡنَ الصَّابِرُوۡنَ اَیۡنَ الصَّائِمُوۡنَ، اَیۡنَ الۡمُصَلُّوۡنَ۔ (مجاهدین چرته دی؟، صابرین چرته دی؟ الخ۔
(٤) بعضو ددے نه دین مراد کړیدے۔
(٥) ابن عباس ﷺ، حسنؒ، قتادهؒ او ضحاكؒ وغیره ددے نه مراد د هر سړی عملنامه اخستے ده۔ حافظ ابن کثیرؒ همدے ته ترجیح ورکړیده او وئیلی ئے دی چه ددے تائید د سورة الانشقاق په آیت (۷) سره کیږی۔ الله تعالیٰ فرمایلی دی: ﴿فَاَمَّا مَنۡ اُوۡتِیَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيۡنِهٖ﴾ او سورة یس آیت (۱۲) کښِ فرمایلی دی: ﴿وَكُلَّ شَیۡءٍ اَحۡصَيۡنٰهُ فِیۡۤ اِمَامٍ مُّبِيۡنٍ ۝﴾
او په سورة الجاثیه آیت (۲۸) کښِ ئے فرمایلی دی: ﴿كُلُّ اُمَّةٍ تُدۡعٰۤی اِلٰی كِتٰبِهَا﴾ هر امت به د هغه د عملنامے طرف ته رابللے شی۔
(٦) پدے کښِ محمد بن کعب القُرَظیؒ وئیلی دی چه د امام نه مراد امهات (یعنی میندے) دی نو دا جمع اُمٌّ ده لکه خِفَافٌ جمع د خُفٌّ ده۔ او دا ددے دپاره د میندو په نومونو راپاڅولے شی چه د قیامت په ورځ د خلکو په خپلو پلارانو فخرونه ختم شی۔ او اولاد الزنا ونهٔ شرمیږی۔ لیکن دا قول ډیر بعید دے د لغت هم خلاف دے، او د صحیح حدیث هم۔ لکه سیدنا ابن عمر ﷺ د رسول الله ﷺ نه روایت کوی
[اِذَا جَمَعَ اللّٰهُ الۡاَوَّلِيۡنَ وَالآخِرِيۡنَ يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ رُفِعَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ، فَيُقَالُ هٰذِهٖ غَدۡرَةُ فُلَانِ بۡنِ فُلَانٍ] (بخاری فی الجزیة باب ۲۲، والادب باب (۹۹) ومسلم فی الجهاد باب (٤۲)
(کله چه الله تعالیٰ د قیامت په ورځ مخکنی او روستنی خلك راجمع کړی نو د هر خیانتګر خوا ته به یوه جنډه راپورته کړے شی او وبه وئیلے شی چه دا د فلانی ځوی د

فلانی خیانتگری ده)۔ او دے تفسیر ته صاحب د فتح البیان مِنْ بِدَعِ التَّفْسِیْر یعنی بدعی تفسیر وئیلے دے۔

(۷) بعضو د هرے زمانے مقتدیٰ او پیشوا مراد کړیدے (سیدنا علی بن ابی طالب ﷛)

نو که د چا مقتدیٰ ابوجهل وو نو هغه به مخکښ وی او دے به ورپسے وی او عملنامے ته به رابللے شی او پرمخے به پراتۀ وی لکه ددے تشریح په سورة الجاثیه آیت (۲۸) کښ راغلے ده۔ ﴿ کُلُّ اُمَّةٍ تُدْعٰی اِلٰی کِتَابِهَا ﴾ او همدا پکښ راجح قول دے۔

نو که د چا لیډر غلط انسان وی نو دوی به تور مخونه نیولی وی، او ډیر بد حالت کښ به وی۔ نو اُوس دے هر سړے خپل ځان دپاره صحیح مقتدیٰ ونیسی چه د هغه ځای معلوم وی او جنتی کیدل ئے معلوم وی او هغه محمد رسول الله ﷺ دے۔

ددے وجه نه صاحب د محاسن التنزیل او حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه پدے آیت کریمه کښ د «اصحاب الحدیث، اهل الحدیث» دپاره لوئی شرافت بیان شویدے چه د قیامت په ورځ چه کله ټول انسانان د خپلو خپلو امامانو او پیشوایانو په نومونو سره رابللے شی نو اهل حدیث به د نبی کریم ﷺ په نوم سره رابللے شی ځکه چه د دوی امام او پیشوا همدغه دے۔

فَمَنْ اُوْتِیَ کِتَابَهٗ : یعنی چا ته چه عملنامه په ښی لاس کښ ورکړے شی نو هغه به ئے لولی، او په هغے کښ به خپل نیك عملونو ته په کتلو سره خوشحالیږی۔

او دا دلیل دے چه د دوی دا لوستل د عملنامو به په طریقه د اجتماع سره وی نۀ یواځے یواځے، دے دپاره چه زیاته خوشحالی ورته حاصله شی، دا به داسے وی لکه امتحان کښ چه انسان پاس شی او د خلکو مخامخ ورته انعام ورکړے شی۔ او پدے باندے دلیل جمع راوړل د ﴿ اُولٰٓئِكَ یَقْرَءُوْنَ ﴾ دی۔

او د دوی په اجر او ثواب کښ به ذره برابر هم کمی نۀ کیږی، دا د الله تعالیٰ وعده ده لکه چه سورة مریم آیت (۶۰) کښ راغلی دی : ﴿ وَلَا یُظْلَمُوْنَ شَیْئًا ﴾ چه د عدل او انصاف والا د طرف نه به په دوی هیڅ ظلم نۀ کیږی۔

وَمَنْ کَانَ فِیْ هٰذِهٖٓ اَعْمٰی فَهُوَ فِی الْاٰخِرَةِ اَعْمٰی
او هغه څوك چه وی پدے دنیا کښ ړوند (بے دلیله) نو هغه به په آخرت کښ هم ړوند وی

وَأَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿٧٢﴾ وَإِنْ كَادُوْا لَيَفْتِنُوْنَكَ عَنِ
او ډېرگمراه به وي په اعتبار د لارې. او يقيناً نزدې دي دا مشركان چه واړوي تا لره د
الَّذِيْ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا
هغې خبرې نه چه وحي كړېده مونږ تا ته دې دپاره چه ته دروغ جوړ كړې په مونږ باندې
غَيْرَهُ وَإِذًا لَّاتَّخَذُوْكَ خَلِيْلًا ﴿٧٣﴾ وَلَوْلَا
غير ددې نه (بل څه) او په دغه وخت به خامخا اُونيسي دوي تا لره دوست. او كه نهٔ وې
أَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيْلًا ﴿٧٤﴾
مضبوط كړې مونږ تا لره يقيناً نزدې وې ته چه مائل شوې به وې دوي ته لږ غوندې.

تفسير : دا دويم طرف بيانوي چه هغه كس لاس والا دى، خو په طريقه د صفت سره ئې ذكر كړو اشاره ده دوى بد حال ته. او بل اشاره ده علت او سبب ته. يعني كوم بد نصيبه انسان چه په دې دنيا كښې د بصيرت نه محروم شي او حق قبول نهٔ كړي او په نيغه لاره روان نهٔ شي هغه به په آخرت كښې هم د نجات لاره نهٔ مومي، او الله تعالىٰ به ئې ړوند راپاڅوي او په راخكلو راخكلو به جهنم ته گوزار كړې شي. نو د دوى د جنت نه د محرومه كيدو سبب په دنيا كښې د حق نه ځان ړندول وو.

أعْمٰى : نه مراد د زړهٔ په سترگو باندې ړوند انسان دې چه ديته اعمى البصيرة وائي. يعني د بصيرت په اعتبار سره ړوند. د دلائل شرعيه ؤ نه ړوند وي چه نهٔ قرآن ته گوري او نهٔ معجزاتو ته اونهٔ كائناتو ته. لكه دا خبره په سورة طه (١٢٤) آيت كښې بيا راغلې ده. ﴿كَذٰلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيْتَهَا﴾. (يعني دغسې تا ته زما آيتونه راغلي وو نو تا هغه هير كړي وو)

(٢) ابن عباس ﷺ فرمائي : څوك چه په دنيا كښې زما د ښكاره قدرتونو د ليدو نه ړوند وي يعني آسمان، زمكه، غرونه، درياب‌ونه، اُور او حيوانات وغيره نو هغه به خامخا د هغه دلائلو نه زيات ړوند وي كوم چه ورته ما د آخرت په باره كښې بيان كړيدي او دهٔ نهٔ دي ليدلي. (فتح البيان)

سوال وجواب :

كله وائي چه ﴿فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ﴾ (ق : ٢٢) (ستا نظر به نن ورځ ډير تيز وي). او په

سورة الزمر آيت (٦٨) کښې وائي : ﴿فَإِذَا هُمۡ قِيَامٌ يَنظُرُونَ﴾ (دوى به ولاړ وى چه يو بل ته به گوري)- او دلته وائي چه ړوند به راپاڅيږي؟

جواب دادے چه د قيامت په ورځ دوه حشره دي :

(١) يو حشر د قبرونو نه دے نو پدے وخت کښې به ئے سترگے کار کوى، او هر څه به ورته ښکاري، قيامت به ورته يقيني ښکاره شي۔

(٢) حشر اِلَى النَّار۔ اُوړ ته د حشر په وخت کښې به تړے الله تعالىٰ نظرونه واخلي لکه روستو (٩٧) آيت کښې راځي ﴿وَنَحۡشُرُهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ عَلٰى وُجُوهِهِمۡ عُمۡيًا وَبُكۡمًا وَصُمًّا﴾ نو دواړو خبرو کښې منافات نشته۔

وَإِنۡ كَادُوا لَيَفۡتِنُونَكَ : ربط

مخکښې آيت کښې په بنيادمانو باندے اقسام د نعمتونو ذکر شو نو اُوس يره ورکوى د دهوکه کيدو نه په وسوسو د بدبختانو۔

مشرکانو د رسول الله ﷺ د حقے لارونه اړولو کښې هر قسم کوشش کولو کښې هيڅ کمے نۀ دے کړے، دوى به کله هغه ته تکليفونه ورکول، او کله به ئے د ظلم او تشدد لاره اختياره کړه، دے دپاره چه رسول الله ﷺ د توحيد د بيان نه بند شي، او د شرك بدى بيان نکړى، او هغوى هم د رسول الله ﷺ د بيانونو نه ډير تنگ راغلي وو نو پدے وجه دے ته هم تيار شوى وو چه د رسول الله ﷺ سره سمجهوته او صلح وکړى او اختلاف ختم کړى، نو رسول الله ﷺ ته وفد ورغلو او دا دعوت ئے ورکړو چه قرآن بيانوه خو د توحيد خبرے پکښې مۀ کوه، او زمونږ د آلهه ؤ بدى پکښې مۀ بيانوه، کله به ئے ويل چه (هَلُمَّ أَعۡبُدُ آلِهَتَنَا سَنَةً وَنَعۡبُدُ اِلٰهَكَ سَنَةً) راځه تۀ زمونږ د آلهه ؤ يو کال عبادت وکړه او مونږ به ستا د يو الله عبادت يو کال وکړو۔ کله به ئے صرف دا ويل چه زمونږ د آلهه ؤ نومونه په عزت سره واخله، او دا ووايه چه زمونږ آلهه هم سفارش کولے شي، او داسے خبره داعي ډيره خوښوى چه يوه خبره د مخالفينو وومنى او په هغے سره تکليفونه کم شي، گوزاره به وکړو۔ لکه ډير کرت داعي په يو سنت طريقه باندے عمل نشي کولے د خلکو نه يريږى چه لانجه به راته جوړه شي، خپل حالت ته سوچ وکړه نو په آيت به پوهه شے۔ دا کار د داعي د مزاج مطابق وى، نو دلته الله تعالىٰ په خپل نبى باندے امتنان (احسان) بيانوى چه تۀ ما کلك کړے ئے گنے نزدے وه چه دے مشرکانو تۀ اړولے وے۔

وَإِنۡ كَادُوا: دا (اِنۡ) مُخَفَّفۡ مِنَ الۡمُثَقَّل دے۔ (اَىۡ وَاِنَّهٗ) يقيناً شان دا دے۔

لَيَفْتِنُوْنَكَ: فتنه په اصل كښ امتحان ته وائي، بيا استعماليږي ددے دپاره چه يو شے د خپل طرف نه واړولے شي۔ يعني نزدے ده چه دوی تا واړوی۔

الَّذِىْ اَوْحَيْنَا: يعني د قرآن نه ډيرے اړوی دے دپاره چه په مونږ باندے د قرآن نه غير بل كتاب جوړ كړے لكه دوی رسول الله ﷺ ته وئيلي وو (اِئْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هٰذَا اَوْ بَدِّلْهُ) بل قرآن راوړه، يا پدے كښ تبديلي وكړه۔

غَيْرَهٗ: يعني غير ددے كتاب نه چه په هغے كښ توحيد نۀ وی۔

لَّاتَّخَذُوْكَ خَلِيْلًا: يعني د دوی د آلهه ؤ لره صفت وكړه نو دوی به ډيرے خپل دوست جوړ كړی، او صفا مينه به درسره وكړی ځكه دوی سخت تنگ شوی وو۔ يا دا د دوی په سازش باندے حمل دے يعني كه نبي ﷺ داسے كولے نو مشركانو به په ظاهره كښ خپل دوست نيولے او خلقو ته به ئے وئيلے چه محمد زمونږ د كفر تائيد كړيدے، او زمونږ په شرك راضي دے۔ ليكن الله تعالىٰ د نبي ﷺ حفاظت وكړو او د مشركانو د سازش سره سره نبي ﷺ خالص د الله په تائيد سره په حق باندے كلك پاتے شو، او هغوی طرف ته وركوږ نشو۔

لَقَدْ كِدْتَّ تَرْكَنُ اِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيْلًا: شوكانيؒ ليكلي دی چه پدے كښ دليل دے چه د نبي كريم ﷺ په زړۀ كښ كافرانو طرف ته د ميلان شائبه هم پيدا شوے نۀ وه۔

قتادهؒ وائي چه كله دا آيت نازل شو نو نبي كريم ﷺ وفرمايل: [اَللّٰهُمَّ لَا تَكِلْنِىْ اِلٰى نَفْسِىْ طَرْفَةَ عَيْنٍ] اے الله! ما خپل ځان ته د سترگے د رپ په اندازه مۀ سپاره۔

دا آيت دليل دے چه كافرانو ته به په هيڅ مسئله كښ نۀ مائل كيږی چه حق ورته پريدی او هغوی كفر قبول كړی۔

اِذًا لَّاَذَقْنٰكَ ضِعْفَ الْحَيٰوةِ وَضِعْفَ
دغه وخت به خامخا څكولے وے مونږ تا ته دوچند عذاب په ژوند د دنيا كښ او دوچنده عذاب
الْمَمَاتِ ثُمَّ لَاتَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيْرًا ﴿٧٥﴾ وَاِنْ
پس د مرگ نه بيا به اُونۀ مومے تۀ ځان دپاره په مونږ باندے مددگار۔ او يقيناً
كَادُوْا لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ لِيُخْرِجُوْكَ مِنْهَا
نزدې كافران چه اُوخويوی تا لره د زمكے نه دے دپاره چه اُوباسی تا لره ددے نه

وَإِذًا لَّا يَلْبَثُونَ خِلَافَكَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٧٦﴾ سُنَّةَ
او دغه وخت به ایسار نشي روستو ستا نه مگر لږه موده۔ په شان د طریقې (زما)
مَنْ قَدْ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنْ رُّسُلِنَا وَلَا تَجِدُ
دَ هغه چا سره چه لیږلي دي مونږ مخکښ ستا نه د رسولانو زما نه او اُویه نهٔ مومې تهٔ
لِسُنَّتِنَا تَحْوِيلًا ﴿٧٧﴾ أَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلٰى
زمونږ د طریقې دپاره بدلیدل۔ کوه مونځ د وخت د زائله کیدو د نمر نه تر
غَسَقِ اللَّيْلِ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا ﴿٧٨﴾
تیارې د شپې پورې او مونځ د صبا، یقیناً مونځ د صبا ته حاضري کیدې شي (د ملائکو)

تفسیر : پدې آیت کریمه کښ ډیره لویه دهمکی ورکړې شویده چه که تهٔ هغوی ته مائل شوې وې نو خامخا مونږ به تا ته په دنیا او په آخرت کښ دوچنده عذاب درکړې وې او ستا به هیڅوك مددگار نهٔ وې چه مونږ نه ئې خلاص کړې وې۔ ځکه چه تهٔ الله تعالیٰ د حق او هدایت داعی مقرر کړې ئې او داعی چه کله گمراه شي او گناهونه کوي نو هغه ته الله تعالیٰ لویه سزا ورکوي۔

دلته الله تعالیٰ خطاب رسول الله ﷺ ته کوي او مقصد پکښ نور امت دې، معلومیږي چه توحید د الله تعالیٰ او دین د هغهٔ هغهٔ ته ډیر قیمتي دې تردې چه انبیاء علیهم السلام هم الله تعالیٰ ددې نه قربان کړیدي۔

ضِعْفَ الْحَيَاةِ : اَیْ عَذَابًا ضِعْفًا فِي الْحَيٰوةِ الخ یعني دوچنده عذاب په دنیا کښ او دوچنده عذاب پس د مرگ نه۔

وَإِنْ كَادُوا لَيَسْتَفِزُّونَكَ : پدې آیت کښ دریمه موضوع د سورت بیان شویده چه (إِخْرَاجُ الرُّسُلِ سَبَبٌ لِلْعَذَابِ)۔ یعني د رسولانو ویستل سبب د عذاب دې۔

هرکله چه د مشرکانو د رسول الله ﷺ د توحید د دعوت نه د منع کولو ټول شیطاني چلونه ناکام شو نو د نبي ﷺ پریشانه کول ئې شروع کړل، دې دپاره چه هغه تنگ شي او د مکې نه بهر لاړ شي۔ دې طرف ته پدې آیت کریمه کښ اشاره ده چه که مشرکان تا لره وباسي نو ستا نه روستو به دوی څه ورځو پورې په مکه کښ ژوندي وي ځکه چه د الله

سنت همدا پاتے شويدى چه كله هم يو قوم خپل نبي د كلي نه شړلے دے، نو الله هغوى لره هلاك كړى، يا كله هم چه الله يو قوم هلاكول غوختلي نو اول ئے خپل نبي ته د هغه ځاى نه د وتلو حكم كړے دے، ليكن دا كار د دوى نه واقع نشو بلكه الله تعالىٰ د هغه نه منع كړل ترديے چه هغه د خپل رب په امر سره مدينے ته هجرت وكړو پس د هغے نه چه دوى د هغه د ويستلو كلكه اراده كړے وه۔ (فتح البيان)

سوال وجواب

وَإِنْ كَادُوا : **سوال** دا دے چه كاد خو د نزدے والي معنىٰ وركوى او لا كار شوے نهٔ وى او حال دا چه نبي كريم ﷺ خو دوى د مكے نه مدينے ته ويستلے وو ؟

(۱) يو جواب چا دا وركړيدے چه دا آيت مدني دے او په مكي سورت كښ شامل شويدے۔ او د (اَرض) (زمكے) نه مراد مدينه ده، او دا كار يهودو كړے وو چه رسول الله ﷺ ته ئے وئيلي وو چه د انبياء عليهم السلام زمكه خو شام ده نو تهٔ په مدينه كښ څه كوے او كه ته شام ته لاړے نو مونږ به پوهه شو چه تهٔ د الله نبي ئے نو مونږ به دربانديے ايمان راوړو مقصد د هغوى دا وو چه د مدينے نه ووځى او مدينه دوى ته فارغه شي، نو رسول الله ﷺ اراده وكړه چه شام ته لاړ شي نو دا آيت نازل شو۔ (سعيد بن جبيرؒ)

مگر دا تفسير دومره ظاهر نهٔ دے۔ دا خو د الله تعالىٰ حكم وو رسول الله ﷺ ته چه تهٔ مدينے ته لاړ شه هلته وسيږه، د يهوديانو خبرے په هغه باندے څرته اثر كولو او نهٔ د يهوديانو سره دومره طاقت وو چه هغه ئے په زوره ويستلے وے۔

(۲) جواب : تفسير معالم كښ ليكلي دى چه د (الارض) نه مراد توله زمكه د عربو ده لكه مكے والو چه رسول الله ﷺ مدينے ته وويستلو نو بيا ئے كوشش كولو چه د مدينے نه هم ووځى هلته ئے هم نهٔ پريخودو۔

(۳) ظاهر جواب دا دے چه دا مكي آيت دے او زمكه عامه ده مكه او مدينه تولو ته شامله ده او آيت په خپل ظاهر بناء دے، او مطلب دا دے چه دا خلك نزدے دى چه تا وباسى خو لا تر دے آيت نازليدو پورے ئے رسول الله ﷺ نهٔ وو ويستلے او روستو ئے بيا ويستلو، نو الله تعالىٰ دوى په بدر كښ هلاك كړل او د هغه نه روستو ئے وخت تير نكړو مگر لږه موده لكه چه همدا سنت د الله تعالىٰ دى په باره د رسولانو كښ چه كله قومونو ورسره داسے كړى وى۔ (قتادةؒ) (فتح البيان)

خو مخکښې نه ئې خپل رسول ته خبر ورکړو چه دا خلك لګيا دي ستا دپاره مکرونه او چلونه جوړوي ځکه چه د کاد په معنیٰ کښې کيد (مکر) پروت دے۔
(٤) جواب مخکښې خلاصه کښې ذکر شو۔ چه هغه د الله په امر وتلے وو او صرف مشرکانو تنګ کړے وو دے دپاره چه وځي۔
لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ : استفزاز په چل ول او مکرونو سره خوځيول او ويستل تنګول دي۔ يعنی خويه کوي او تنګوي دِے۔
خِلَافَكَ : دا په معنیٰ د خلف (روستو) سره دے لکه په بل قراءت کښې (خَلْفَكَ) راغلے دے۔ او خلاف لفظ ئې ځکه استعمال کړو چه پاتے کيدل دوه قسمه دي، يو بغير د دشمن نه او بل ستا په مخالفت او دشمنیٔ کښې چه روستو پاتے شو نو دوی به هلاکيږي۔ لکه په بدر او نورو غزواتو کښې دوی دغه شان هلاك شو، او د الله تعالیٰ دا وعده رشتينی ثابته شوه۔ په اته کاله کښې دننه مکه هم فتح شوه او دغه ټول مشرکان تباه شو۔
سُنَّةَ مَنْ قَدْ : اَیْ سَنَّ سُنَّةً۔ يعنی الله طريقه ايخودے ده طريقه په هغه پيغمبرانو کښې چه ستا نه مخکښې تير شويدی۔ يعنی دا د الله تعالیٰ طريقه ده په پخوانو قومونو کښې چه کوم قوم به خپل نبی د کلی نه ويستلو نو الله به دغه قوم د هغوی نه روستو هلاك کولو۔
﴿تَمَتَّعُوْا فِيْ دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ﴾ نبی ترے ووتو په قوم باندے درے ورځے روستو عذاب راغلو۔
يا فعل داسے پټ دے (يُعَذَّبُوْنَ كَسُنَّةٍ) ۔ دوی ته به عذاب ورکولے شی په شان د طريقے د پخوانو پيغمبرانو چه قوم ئې تکذيب وکړو نو الله عذاب ورکړو۔
وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا : د الله طريقه نۀ بدليږي ځکه چه الله تعالیٰ کښې تغير او تبدل نۀ پيدا کيږي، مخکښې چه د الله ذات څنګه وو اُوس هم هغه شان دے، مخکښې به ئې چه د نبی او د مؤمن کوم عزت کولو نو اُوس ئې هم کوی۔ صحابه کرامؓ سره ئې چه کوم مددونه کړيدی نو هغه به مونږ سره هم کوی که مونږ د هغوی طريقه اختيار کړو۔
اَقِمِ الصَّلَاةَ : پدے رکوع کښې بيان د اعمالو دے، پنځه مونځونه، تهجد، دعا، دعوت، قرآن لوستل۔ مناسبت ئې دا دے چه نيك اعمال سبب دے د ثبات علی الدين دے (يعنی چه انسان په دين باندے سره مضبوطيږي) دويم پدے اعمالو سره به د الله مدد حاصليږي او دشمن به هلاکيږي۔ دريم دا د آخرت دپاره ذخيره جَمعه کول دي۔
لِدُلُوْكِ : ١- دلوك زوال د نمر ته وئيلے شي او لام په معنیٰ د بَعْد سره دے يعنی پس د زوال د نمر نه۔ د مفسرينو اجماع ده چه ددے نه مراد پنځه وخته مونځ دے چه د هغے ادا

كول په خپلو محدودو اوقاتو كښ فرض دي.

د شيخ الاسلام ابن تيميهٔ او اكثرو مفسرينو رائے ده چه د ﴿ دُلُوْكِ الشَّمْسِ ﴾ معنىٰ د نمر زوال دے، چه د ماسپښين او مازيګر مونځ باندے دلالت كوي. او د ﴿ غَسَقِ الَّيْلِ ﴾ نه مراد د شپے تيارهٔ ده چه د ماښام او ماسخوتن ترمينځ مشترك دے. او د ﴿ قُرْآنَ الْفَجْرِ ﴾ نه مراد د سحر مونځ دے.

حافظ ابن كثيرؒ وائي چه د نبي كريم ﷺ په متواتر قولي او فعلي سنتونو سره ددے اوقاتو تفصيلي بيان شويدے، او د اسلام د ابتداء نه تر نن پورے امت پدے باندے عمل كوي.

او دويم دلوك په معنىٰ د غروب (نمر پريوتو) سره هم استعماليږي، او حافظ ابن القيمؒ وائي چه لفظ د دلوك دواړو ته شامل دے. ځكه چه دلوك په اصل كښ ميلان ته وئيلے شي، او نمر د زوال او د غروب دواړه وختونو كښ مائله كيږي. مګر اوله معنىٰ ئے غوره ده دے دپاره چه پدے كښ ټول مونځونه داخل شي.

غَسَقِ : تيارهٔ راجمعه كيدو ته وئيلے شي. (ابن عباسؓ) ❁ يا تياره رامخامخ كيدو ته. (فراءَ، زجاجؒ) ❁ يا شفق غائبيدو ته وائي. ❁ ابن شُميلؒ وائي چه غسق د شپے د اولے حصے داخليدو ته وئيلے شي. (فتح البيان والقرطبي)

﴿ اِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ﴾ قرآن نه مراد قراءت دے او د قراءت نه مراد ټول مونځ دے ځكه چه په مونځ كښ قرآن لوستل اصلي ركن دے، او بل پدے كښ اشاره ده چه سهار مونځ به د قراءت په اعتبار سره دومره اوږد كولے شي ګويا كه دا ټول قراءت دے.

چونكه په سهار كښ ركعتونه كم دي، نو قرائت به پكښ اوږد كولے شي چه دا قائمقام د ركعتونو وګرځي او دويمه وجه دا ده چه :

كَانَ مَشْهُوْدًا : يعني دے ته حاضري د ملائكو كيږي، يعني په هغے كښ د شپے او د ورځے ملائك جمع كيږي. د صحيح بخاري د ابو هريره ؓ نه روايت شوي حديث نه همدا ثابت دي، او د جمهورو مفسرينو همدا رائے ده. او حافظ ابن القيمؒ په ((طريق الهجرتين)) كښ ليكلي دي چه د مشهود معنىٰ دا هم صحيح ده چه الله ورته حاضريږي او دا معلوميږي د هغه حديث نه چه الله تعالىٰ آسمان د دنيا ته په آخري شپه كښ راكوزيږي (حَتّٰى يَنْفَجِرَ الْفَجْرُ) ترديے چه د صبا رڼا خوره شي. (مسلم : ۱۸۱۳)

بيا ئے وئيلي دي چه د الله تعالىٰ رانزدے كيدل بندګانو ته خاص تاثير لري په صبا مانځه

کښې لکه څنګه چه اول صف کښې ودریدل خاص اثر لري. (طریق الهجرتین ۱/۳۲۹)

وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ عَسٰى
او بعض د شپې نه تهجد کوه په قرآن دا زیاتي (عمل) دے ستا دپاره نزدے ده
اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ﴿۷۹﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِىْ
چه وبه لیږی رب ستا ځائے ستائیلے شوی ته. او وایه اے ربه زما ! داخل کړه ما
مُدْخَلَ صِدْقٍ وَّاَخْرِجْنِىْ مُخْرَجَ صِدْقٍ وَّاجْعَلْ لِّىْ
ځائے د داخلیدو رشتینی ته او اُوباسے ما د ځائے د وتلو د رشتیاؤ نه او اُوګرځوه ما لره
مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطَانًا نَّصِيْرًا ﴿۸۰﴾ وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ
د طرف ستا نه غلبه چه مددګار شوے وی. او اُووایه ! راغے حق او ختم شو باطل
اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا ﴿۸۱﴾
یقیناً باطل دے ختمیدونکے.

تفسیر : د پنځو مونځونو نه روستو پدے آیت کریمه کښې نبی کریم ﷺ ته د تهجدو مونځ حکم شویدے. ددے دپاره چه د هغه درجات پورته شی، ورنه هغه ته خو مخکنی روستنی ټول ګناهونه معاف کړے شوی وو. ظاهر دا ده چه په رسول الله ﷺ باندے دا مونځ فرض نهٔ وو بلکه مستحب وو لکه څنګه چه د نورو مسلمانانو دپاره دا مونځ مستحب دے. د پنځه مونځونو او نوافلو په ادا کولو باندے الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ سره دا وعده کړیده چه د دوی رب به دهٔ لره د مقام محمود یعنی شفاعت کبریٰ (لوئی سفارش) اجازت ورکوی، چه د هغے په وجه به نبی ﷺ د قیامت په ورځ د مخلوق دپاره د الله په حضور کښې سفارش کوی، دے دپاره چه د دوی په باره کښې الله تعالیٰ خپله فیصله صادره کړی، جنتیان جنت ته او جهنمیان جهنم ته ولیږلے شی او مخلوق ته د میدان محشر د اُوږدو ودریدو او د هغے د سختیانو نه نجات ملاؤ شی. د صحیح احادیثو نه د مقام محمود همدا معنیٰ ثابته ده. د ابن جریرؒ او اکثرو مفسرینو همدا رائے ده.

فوائد الآية

وَمِنَ اللَّيْلِ : مِنْ د تبعيض دپاره دے يعني په بعض حصه د شپه کښې تهجد کوه، اول د شپے وی او که مینځ او که آخر وی خو آخر د شپه کښې بهتر دی۔ او دا دليل دے چه ټوله شپه عبادت کول د رسول الله ﷺ نه هميشه دپاره ثابت نهٔ دی، البته کله نا کله رسول الله ﷺ ټوله شپه مونځ کړيدے مګر په عامو اوقاتو کښې داسے کول خلافِ سنت دی۔

فَتَهَجَّدْ بِهٖ : تهجد ترك النوم (خوب پريخودو) ته وئيلے شی، د شپے په مونځ کښې بهتره طريقه دا ده چه انسان اول اُوده شی بيا راپاځيږی، ليکن مونږ ته شريعت دا اجازه راکړيده چه که د شپے په راپاځيدو کښې تکليف وی، نشئ راپاځيدے نو ماسخوتن کښې ئے وکړه لکه تراويح اَهم عبادت دے نو ماسخوتن کښې کيږی ځکه کيدے شی چه انسان ورته د شپے راپانهٔ څيږی۔ او ټول کال هم دغه شان ماسخوتن کښې تهجد کول جائز دی۔

(بِهٖ) ضمير قرآن ته راجع دے۔ او ددے نه معلومه شوه چه ځان بی خوبه کول په قرآن پکار دی که يو تن راپاځيدو او اودس ئے وکړو بيا ذکر ته کيناستو نو دهٔ ته د تهجدو ثواب نهٔ ملاويږی، ځکه چه دهٔ په قرآن باندے ځان بی خوبه نکړو۔ نو د شپے په مانځه کښې د قرآن لوستل مقصود دی۔

نَافِلَةً لَّكَ : دے ته ئے زياتی مونځ ووئيلو ځکه چه يو عبادات د رسول الله ﷺ دی او يو زمونږ دی، زمونږ عبادات زياتی نهٔ دی بلکه په هغے باندے ګنا هونه رژيږی او د رسول الله ﷺ خو ګناهونه نهٔ وو چه هغه پدے عباداتو ورژيږی نو ځکه دا د هغه دپاره زياتی عبادت وو نو ددے وجه نه ددے حاصل معنیٰ دا ده : (كَرَامَةً لَّكَ) دا ستا دپاره د کرامت او عزت زياتيدو سبب دے د الله په نيز۔ يا سبب د زياتوالی د درجاتو دے۔

عَسٰى أَنْ يَّبْعَثَكَ : دا د تهجدو فائده ده چه څوك تهجد کوی نو الله تعالیٰ به ئے مقام محمود ته رسوی، اُوچتے مرتبے به ورکوی۔ لکه رسول الله ﷺ دے ته په يو حديث کښې اشاره کړيده [شَرَفُ الْمُؤْمِنِ قِيَامُهٗ بِاللَّيْلِ وَعِزُّهٗ اسْتِغْنَاؤُهٗ عَنِ النَّاسِ] د مؤمن شرافت دا دے چه د شپے تهجد وکړی او عزت ئے دا دے چه د خلکو نه مستغنی (بی پرواه) شی۔ (اخرجه الطبراني فی الاوسط واسناده حسن- (مجمع الزوائد ١١/٣/١٠٣) وصححه الحاكم ووافقه الذهبی وفی اسناده زافر بن سليمان، والصواب انه حسن بمجموع الطرق- البانی فی الصحيحة : (٢/٨٤١/٥٠٥)

نو شپے مونځ ته رسول الله ﷺ د شرافت نوم کيخودو۔

عَسٰی : عسیٰ د الله تعالیٰ د طرفنه ایجاب وی لیکن د بنده په نسبت اُمید وی۔ یعنی تهٔ امید وساته۔

مقام محمود څه شے دے؟

۱- اَلشَّفَاعَةُ الْکُبْرٰی ۔ د قیامت په ورځ به انسانان ټول پریشانه وی، په ګرمئ او سختو کښې به وی تردے چه مؤمنان به هم پریشانه وی نو دوی به راجمع شی چه الله ته څوك سفارش کونکے وګورو نو انبیاء علیهم السلام ته به راشی هغوی ټول به انکار کوی چه زمونږ رب نن ډیر په غضب دے چه هیڅکله داسے نهٔ دے په غضب شوے، نو آخر کښې به رسول الله ﷺ ته راشی هغه به وفرمائی : (اَنَا لَهَا) زهٔ ددے لائق یم۔ رسول الله ﷺ فرمائی : زهٔ به الله ته په سجده پریوزم او داسے صفتونه به وکړم چه الله به ئے ما ته رازده کړی چه اُوس راته نهٔ دی یاد، او بیا به سفارش کوم نو دغه مقام محمود دے چه اولنی او روستنی ټول انسانان به ئے صفت کوی۔ (صحیح بخاری : ۷۵۱۰) مسلم (۵۰۰)

(نو پدے کښې د رسول الله ﷺ شان ذکر دے او رد دے په مشرکانو چه تاسو خو اُوس ددے نبی پورے توقے کوئ لیکن د قیامت په ورځ ټول عالَم دهٔ ته محتاج دے)۔

او دارنګه پدے کښې رد دے په هغه خلکو چه هغوی د رسول الله ﷺ په خلاف کښې نور خلك خپل مشران نیولی دی۔ او رد دے په مبتدعینو چه هغوی رسول الله ﷺ ښکته کوی او علماء پرے اُوچتوی۔

۲- دے کښې ابن جریرؒ د مجاهدؒ نه دا هم نقل کړیدی چه مقام محمود دا دے چه الله تعالیٰ به محمد ﷺ د خپل ځان سره په کرسی باندے کینوی۔ ابن عبد البرؒ وائی : مجاهدؒ اګرکه د تفسیر لوی امام دے لیکن د اهل علمو په نیز د هغهٔ دوه قولونه پریخودے شویدی یو دا قول۔ او دویم په تاویل د ﴿وُجُوْهٌ یَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ اِلٰی رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ (القیامة :۲۲،۲۳) کښې چه د هغے معنیٰ کوی : انتظار د ثواب به کوی۔ (فتح البیان)

شیخ البانیؒ وائی چه دا روایت دیلمیؒ په مسند الفردوس (۳/۵۱/۱) کښې ذکر کړیدے او دا باطل او منکر روایت دے، ابراهیم بن عبد الرزاق پکښې مجهول راوی دے او د یوسف بن الفضل الصیدنانی ترجمه نهٔ ده موجوده۔ او دا روایت د صحیح احادیثو مخالف دے۔ او وثیلی ئے دی چه پدے باندے ډیر علماء دهوکه شویدی او غلطو خلکو ددے نه غلطه فائده اخستے ده چه په اهل السنة باندے ئے طعن لګولے دے چه دوی مجسمه دی، د الله دپاره

جسم ثابتوی۔ تفصیل دپاره رجوع وکړه سلسلة الاحادیث الضعیفة (۱۰٤٥/۱۳) رقم (٦٤٦٥) و (٨٦٦)

وَقُل رَّبِّ أَدْخِلْنِي: پدے آیت کښ الله تعالىٰ خپل نبی ته دعاء ورښائی او دا هم د هجرت متعلق ده، ځکه چه مشرکانو د هغهٔ د مکے نه د ویستلو اراده کړے وه، نو الله ورته فرمائی چه نزدے ده چه تا ویاسی نو داسے دعاء غواړه او (وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ) دا په هغه وخت کښ وایه چه مکے ته فاتح داخلیږے۔ نو د وتلو او ننوتو دواړو وخت کښ دعاګانے ئے ورته وخودلے۔

شان نزول

امام احمدؒ او ترمذیؒ د ابن عباس ﷺ نه روایت کړیدے چه دا آیت د مکے نه مدینے طرف ته د هجرت حکم راتلو نه مخکښ نازل شوے وو۔

(واسناده ضعیف فیه قابوس بن ابی ظبیان وفیه لین)

پدے کښ نبی ﷺ ته تعلیم ورکړے شو چه په مانځه او غیر مانځه کښ دا دعا کوه۔ ګویا که دا زیرے وو چه نزدے ده چه د هجرت حکم صادریدونکے دے۔

د مدخل صدق واخرجنی مخرج صدق څه مطلب؟

۱- صدق صفت د مکان هم او د دخول هم دے۔ یو مصداق ئے مکه او مدینه ده، یعنی ما رشتینی ځای ته داخل کړه چه مدینه ده او ما ویاسه د رشتینی ځای نه۔ رشتینی ځای هغے ته وائی چه په هغے کښ الله تعالىٰ برکتونه واچوی۔ یعنی د خیر ځای نه مے خیر ځای ته بوځه۔ یا مطلب دا چه ما ته په مدینه کښ هیڅ تکلیف مهٔ راکوه او ما د مکے نه پداسے طریقه ویاسه چه زما په زړه کښ دے ته د راواپس کیدو جذبه باقی پاتے نشی۔

۲- مدخل صدق قبر دے او مخرج صدق دنیا ده یعنی چه د دنیا نه زهٔ ځم او قبر ته داخلیږم پداسے حال کښ چه ما دنیا کښ ستا ذمه واریانے سنبال کړی وی او ستا دین مے پوره بیان کړے وی۔ او قبر مے روښانه کړه۔

۳- زیات غوره دا ده چه دا دخول او خروج په طاعاتو کښ مراد دے یعنی د یوے نیکۍ نه مے ویاسه او په بله کښ مے ورننباسه یعنی د دعوت نه روستو عبادت، د جهاد نه روستو د مخلوق خدمت۔ نو د نیکیو د ډیروالی دپاره دا ډیره ښه دعاء ده۔

٤- ځینی وائی چه دا آیت عام دے ټولو څیزونو ته شامل دے یعنی هر کار ته چه زهٔ

داخلیږم نو هغه راله برابر کړه او د کوم کار نه چه راواپس کیږم هغه هم راله برابر کړه. او ددې نور مصداقات په تفسیر «فتح البیان ٤/١٦٦» کښې وګوره.

سُلْطَانًا نَّصِيرًا: ١- سلطان معنیٰ ده غلبه، او غلبه کله داسې وی چه انسان باندې دوباره دشمن راشی او علاقه ترې ونیسی، فتح په شکست بدله شی نو (نَصِيرًا) داسې غلبه چه مدد والا وی، ما سره مددګاره وی. ٢- یا سلطان ښکاره او مضبوط دلیل ته وائی چه ما سره مدد وکړی زما د مخالفینو په مقابله کښې.

٣- یا سلطان نه مراد طاقت او بادشاهی ده چه زهٔ د هغې په وجه ستا دین قائم کړم، ځکه چه په صحیح طریقه دین قائمولو دپاره سلطان ضروری دې، او دا قول د حسنؒ او قتادهؒ دې او ابن جریرؒ او ابن کثیرؒ غوره کړیدې.

وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ : پدې آیت کریمه کښې نبی ﷺ ته زیرې ورکړې شویدې چه مکه به فتح کیږی، او تهٔ به دې ته د فاتح په حیثیت داخلیږې، د کعبې نه ګیرچاپیره درې سوه شپیته بتان به ماتوې، او په خپله ژبه مبارکه سره به وائې چه اُوس حق راغلو او د باطل ملا ماته شوه او د حق د جذبې او جوش مخې ته باطل کله ټینګیدې شی.

بخاریؒ، مسلمؒ، حافظ ابو یعلیٰؒ او احمدؒ او نورو محدثینو د ابن مسعود ﷛ نه روایت کړیدې چه کله نبی کریم ﷺ مکې ته داخل شو نو په خانه کعبه کښې ګیر چاپیره درې سوه شپیته بتان وو. نبی ﷺ به هغه په لرګی سره وهل او خکته به ئې راګوزارل او ﴿جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ، اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا﴾ ئې لوستلو. (بخاری: ٤٧٢٠) ومسلم (٤٧٢٥)

دارنګه د هجرت په وخت کښې داسې وایه چه حق راغې او باطل ختم شو. ځکه چه د هجرت او د جهاد په وجه داسې کار کیږی، رسول الله ﷺ چه کله هجرت کولو نو دا نخه وه چه باطل ختم شو لکه سورة التوبه آیت (٤٠) کښې تیر شویدی ﴿وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِيْنَ كَفَرُوا السُّفْلٰى﴾ الله تعالیٰ د کافرانو کلمه (دین) ښکته کړو.

ځکه چه کله یو نبی هجرت کوی نو د هغه دین غالبه کوی او کافران مغلوبه کوی او دویم په جهاد سره. او خاصکر د فتح د مکه په موقع کښې ئې دا آیتونه لوستل.

كَانَ زَهُوْقًا : یعنی په مقابله د حق کښې باطل ختمیدونکې وی، خو دا په هغه وخت کښې چه په یوه علاقه کښې حق بیانیږی او که حق نهٔ بیانیږی نو بیا باطل نهٔ ختمیږی. او لفظ د حق هر حکم شرعی ته شامل دې چه شرعی حکم راشی نو باطل، شرك، کفر او بدعت وغیره به ختمیږی.

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ
او نازلوو مونږ د قرآن نه هغه شے چه هغه شفاء او رحمت دے دپاره د مؤمنانو
وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴿٨٢﴾ وَإِذَا أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنْسَانِ
او نۀ زیاتوی ظالمانو لره مګر تاوان. او کله چه انعام اُوکړو مونږ په انسان باندے
أَعْرَضَ وَنَأَىٰ بِجَانِبِهِ وَإِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ يَئُوسًا ﴿٨٣﴾
مخ واړوی او وړاندے کړی اړخ خپل او کله چه اُورسی دۀ ته تکلیف نو وی دے نا اُمیده.

تفسیر : قرآن ته ترغیب ورکوی. او اشاره ده چه مهاجر لره قرآن ډیر لوستل پکار دی، او اشاره ده چه د قرآن نه د فائدے اخستو دپاره ایمان ضروری دے ځکه چه کله په بنده کښ ضد او عناد موجود وی، نو د قرآن په سبب سره د هغۀ نقصان نور هم زیاتیږی.

مَا هُوَ شِفَآءٌ : پدے آیت کریمه کښ الله تعالیٰ قرآن کریم ته د مؤمنانو دپاره شفاء او رحمت وئیلے دے. ددے په ذریعه مؤمنانو ته روحانی او جسمانی دواړه قسمه شفاء ملاویږی. د قرآن کریم په تلاوت کولو او ددے په تعلیماتو باندے عمل کولو سره د ګمراهۍ او د شکونو او شبهاتو او شیطانی وسوسو او تولو بدو اخلاقو او عاداتو نه نجات ملاویږی، او ددے په لوستلو او دم اچولو سره د جسمانی امراضو نه هم شفاء ملاویږی لکه امام بخاری رحمه الله د ابوسعید خدری ﷺ نه په روایت کړی حدیث کښ ثابت دی چه سورة الفاتحه اُوه کرته لوستلو او دم کولو سره د مار زهر راووتل، او ددے په عوض کښ صحابه کرامو ته دیرش چیلۍ ملاؤ شوے. (بخاری:۵۰۰۷) مسلم:(۵۸۶۳)

او رحمة دے مؤمنانو دپاره ځکه چه مؤمنانو ته پدے کښ تسلی راځی، هغوی ته ددے په لوستلو اجر ملاویږی بیا پرے جنت ملاویږی.

بیا ئے دلته (مِنْ) لفظ راوړو؟ بعض وائی چه دا مِنْ بیانیه دے او دا بیان دے د (مَا هُوَ شِفَاءٌ) دپاره. بیا ئے داسے ولے نۀ وئیل چه (وَنُنَزِّلُ الْقُرْآنَ مَا هُوَ شِفَاءٌ) ددے حکمة او راز دا دے چه بعض قرآن نۀ بلکه ټول قرآن شفاء ده او (مِنْ) کښ اشاره ده چه قرآن ټول هم شفاء ده او هر یو آیت ئے جدا جدا شفاء ده، او دا د دوائی د معجونو په شان نۀ دے چه ټول اجزاء په یو ځای جمع شی نو تاثیر کوی، او یواځے یواځے ئے دومره تاثیر نۀ وی. نو مِنْ دلته د جنس دپاره

دے، نۀ د تبعیض دپاره۔
امام ابن القیم رحمه الله په ((زاد المعاد)) کښې د اَدْوِیه او اَغْذِیه په ضمن کښې لیکلی دی چه د قرآن په ذریعه تمام قلبی او بدنی بیماریانو نه مکمل شفا ملاویږی او د دنیا او د آخرت د ټولو بیماریانو نه هم شفاء ملاویږی، لیکن هر سړے ددے نه د فائده اخستو او ددے په ذریعه د شفاء حاصلولو صلاحیت نۀ لری۔
وَإِذَا أَنْعَمْنَا : اُوس د ظالمانو تشریح بیانوی او پدے کښې د عام انسان مزاج بیانیږی بیا خاصکر دا د کافر صفت او حالت وی چه دے د ایمان د رڼا نه محرومیږی او د دنیا محبت ئے د آخرت په فکر باندے غالب کیږی۔
یعنی کله چه الله تعالیٰ دے انسان ته دنیاوی نعمتونه ورکړی لکه صحت، مال، دولت، اولاد، حکومت او مشری نو دے د الله نه مخ واړوی، الله تعالی ته ئے فکر هم نۀ وی او غافل وی، او ددے دپاسه لا دا چه تکبر هم شروع کړی بیا خلك سپك ګڼړی او حق له دیکه ورکوی، او دا معنیٰ د (وَنَاٰیٰ بِجَانِبِه) ده۔ یعنی دے غافل هم دے او متکبر هم دے۔
او ددے په خلاف د مؤمن حال دے چه په هغه باندے کله الله تعالیٰ یو نعمت وکړی نو د الله شکر کوی او الله یادوی، او چه کله مصیبت ورسیږی نو بیا صبر کوی لکه په سورة هود (۹/۱۰/۱۱) آیتونو کښې الله تعالیٰ همدا حقیقت بیان فرمائیلے دے، او دا صفتَ د انسان د حم السجده په آخر کښې په پنځو طریقو سره ذکر شویدے چه تشریح ته ئے انتظار کوه ان شاء الله تعالیٰ چه زر به راشی۔
یَؤُوسًا : دریم بد صفت ئے دا دے چه د مصیبت په وخت کښې د الله تعالیٰ نه نا امیده وی، او دا ګمان نۀ کوی چه دا نعمت به ورته الله تعالیٰ بیرته ورکړی خو هغه ته متوجه کیدل پکار دی۔ نو ددۀ په الله باندے بدګمانی وی او هغه ته د ظلم نسبت کوی او بیرته ترے امید نۀ ساتی۔

قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ فَرَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَنْ
اُووایه ! هر یو تن عمل کوی په خپله طریقه نو رب ستاسو بنۀ پوهه دے په هغه چا
هُوَ أَهْدٰى سَبِيلًا ﴿۸۴﴾ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ قُلِ الرُّوْحُ
چه روان دے په سمه لار۔ او تپوس کوی دوی ستا نه په باره د روح کښې اُووایه ! روح

مِنْ اَمْرِ رَبِّیْ وَمَا اُوْتِیْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۸۵﴾

د حکم د رب زما نه دے او نۀ دے درکړے شوے تاسو ته د پوهے نه مګر لږه۔

تفسیر : پدے آیت کریمه کښ د مؤمن صفت او د کافر بدی بیان شویده په طریقه د قانون سره او پدے کښ تسلی ده رسول الله ﷺ ته۔

عَلٰی شَاکِلَتِهٖ : عَلٰی مَذْهَبِهٖ وَطَرِیْقَتِهِ الَّتِیْ تُشَاکِلُ حَالَهٗ۔ یعنی په دنیا کښ هر انسان د خپل مذهب او طریقے او اخلاق او کردار مطابق عمل کوی۔ یعنی که یو انسان کښ خباثت وی نو د هغه لاره به هم د خباثت وی او که دۀ کښ هدایت او طیبت وی نو لاره ئے هم د هدایت او مزیداره وی، او دا داسے آیت دے لکه د عربو مقوله ده [کُلُّ اِنَاءٍ یَنْضِحُ بِمَا فِیْهِ] هر لوښے هغه شے راګوزاری چه په هغے کښ پراته وی۔ او که د یو انسان په زړه کښ د الله محبت نشته بلکه د دنیا یا د زنانو یا د عهدو سره مینه لری، یا په کښ شرك او تکبر دے، نو د هغه د خولے نه به د هغے مطابق خبرے راوځی او که زړه کښ ئے د الله محبت دے نو د هغے مطابق به خبرے کوی۔

نو دا د مخکښ جملے سره ولګیدو چه دے ظالمانو ولے د قرآن او د الله نه اعراض وکړو؟ وجه دا ده چه دا دننه خبیثان دی او د دوی په ختھه کښ فساد اغړلے شویدے۔

فَرَبُّکُمْ اَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ اَهْدٰی سَبِیْلًا : نو دنیا کښ خو ټول خلك دا دعویٰ کوی چه زۀ په حق او هدایت روان یم اګرکه په باطله روان وی خو الله تعالیٰ ته هدایت والا معلوم دی نو هغوی به هدایت ته راولی او څوك چه فساد والا دی هغوی به د هدایت نه محروم کوی۔ او د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ هر یو ته د هغه د عمل او کردار مطابق بدله ورکوی۔

وَیَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ : پدے آیت کښ زجر دے په عنادی او تعنتی سوال کولو سره چه مقصد پکښ د داعی چپ کول وی، نۀ هدایت او علم حاصلول۔

ربط

مخکښ د معرضینو حال ذکر شو په (اَعْرَضَ وَنَاٰیٰ بِجَانِبِهٖ) سره نو دلته د دغه معرضینو تپوس بیانوی چه دا تپوس د ضد نه ډك وو۔

شان نزول

دا سوال مشرکانو کړے وو په واسطه د یهودیانو سره (چه د یهودو نه ئے درے سوالونه زده

کړي وو او بيا ئے په رسول الله ﷺ باندے وکړل لکه په ابتداء د سورة الکهف کښې راځي ان شاء الله تعالىٰ) يو په هغے کښې د روح په باره کښې تپوس وو۔ نو سورة الکهف د هغے په جواب کښې راغے او دا آيت چونکه ددے ځاى سره مناسب وو نو دلته ولګولے شو۔

دويم قول دا دے چه دا تپوس يهودو په مدينه کښې کړيدے او دا آيت مدني دے۔

ظاهر دا ده چه دواړو ځايونو کښې دا تپوس شويدے۔ بخاريؒ، مسلمؒ او امام احمدؒ وغيره د ابن مسعود ﷺ نه روايت کړيدے چه زۀ د رسول الله ﷺ سره په مدينه کښې روان وم او رسول الله ﷺ په يو چوکه باندے تکيه لګولو سره د يهودو په يوه ډله ورتير شو، نو دوى يو بل ته وويل چه ددے سړى نه د روح په باره کښې تپوس وکړئ، نو بعضو وويل چه تپوس ترے مۀ کوئ (لِئَلَّا يَأْتِيَكُم بِشَيْءٍ تَكْرَهُونَهُ) کيدے شي چه داسے جواب به درکړي چه تاسو به ئے بد ګڼړئ۔ نو يو پکښې وويل چه زۀ ئے خامخا کوم، نو وے ويل چه اے محمده! (مَا الرُّوحُ؟) روح څه شے دے؟ نو رسول الله ﷺ په دغه چوکه باندے همغه شان تکيه لګولے وو (غلے شو)، ما ګمان وکړو چه اُوس ورته وحي کيږي، نو بيا دا آيت نازل شو او رسول الله ﷺ ولوستلو۔ (بخاري باب الاعتصام باب ۸۰۳) ومسلم في المنافقين حديث ۳۲)۔

يهودو مشرکانو ته وئيلي وو چه که دے رسول د روح په باره کښې پوره معلومات درکړل دا به د الله رسول نۀ وي او که هيڅ ئے ونۀ وئيل نو هم رسول به نۀ وي او که اجمالي معلومات ئے درکړل نو دا به د الله رسول وي۔ نو ځکه الله تعالىٰ د هغے په باره کښې معمولي علم ورکړو۔

روح څه شے دے؟

ددے په تعيين کښې درے اقوال دي (۱) روح يو لوى ملائک دے چه په طاقت کښې د ټولو ملائکو مقابله کولے شي، او دا په هغه آيت (يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفًّا) کښې هم مراد دے۔ او حافظ ابن القيمؒ په ((بدائع التفسير)) کښې دا غوره کړيدے، او دا ئے وئيلي دي چه په قرآن کښې د معلوم روح دپاره (نفس، انفس) لفظ استعماليږي۔ ﴿اَخْرِجُوْا اَنْفُسَكُمْ﴾ ﴿اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ﴾ او په قرآن کښې د روح اطلاق يا په قرآن شويدے يا په دغه ملائک۔

(۲) يا د روح نه مراد قرآن کريم دے لکه آيت کښې دي ﴿وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَا اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا﴾ ﴿يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوْحِ مِنْ اَمْرِهٖ﴾ (النحل:۲) معنىٰ دا ده چه قرآن زما د رب په حکم سره راغلے دے۔ ليکن محققينو مفسرينو دا دواړه تفسيرونه ضعيف ګڼړلي دي۔ او دا

خبره ئے کړیده چه دا څه لازمه نۀ ده چه روح دِ ے همیشه په دغه معانو وی. بلکه ددے اطلاق په ډیرو څیزونو کیږی.

(۳) نو صحیح خبره دا ده چه روح نه مراد هغه روح دے چه په بدن د انسان کښې وی، او دا د شان نزول او تپوس نه او ددے سیاق نه معلومیږی.

عَنِ الرُّوحِ : د دوی د سوال مقصد دا وو چه دا راته بیان کړه چه روح څه شے دے، د څه شی نه جوړ دے او په بدن کښې ناست دے که ولاړ، او څه حقیقت لری؟ ددے تفصیل مونږ ته بیان کړه؟ جواب وشو : (مِنْ اَمْرِ رَبِّیْ) یعنی دا د عالَم الغیب نه دے او د الله په حکم پیدا دے. یا امر په معنیٰ د شان دے. یعنی دا د هغه څیزونو نه دے چه الله تعالیٰ د هغے علم ځان پورے خاص کړیدے او بندګان ئے پرے نۀ دی خبر کړی.

وَمَا اُوْتِيْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًا: او تاسو ته د روح په باره کښې علم ډیر لږ درکړے شویدے او هغه دا چه روح یو پټ شے دے چه په ټول انسانی جسم کښې خور وی، او چه د هغے په سبب د انسان جسم ژوندے وی، خوراك څکاك او لیدل کتل کوی، او چه کله د بدن نه وځی نو هیڅ تصرفات نشی کولے، او روح یو پاك شے دے چه کله په بدن کښې وی نو بدن بوئی نۀ کوی، خرابیږی نۀ، او چه کله د بدن نه وځی نو یوه ورځ پس بدن بوئی شروع کړی.

بیا روح د الله تعالیٰ د معرفت عجیب مثال دے، او دا په ډیرو طریقو سره، یو دا چه روح په انسان کښې دننه موجود دے او انسان ئے نۀ وینی او نۀ ګوتے وروړے شی حال دا چه دا یو مخلوق دے، نو دغه شان خالق مدبر د عالَم موجود دے او مونږ ته نۀ ښکاره کیږی لکه څنګه چه روح مدبر د بدن دے. اګرکه روح په بدن کښې دننه وی، او الله تعالیٰ د کائناتو نه بهر په عرش باندے دے.

دویمه طریقه : روح د انسان په خپل بدن کښې دے او دے ئے کیفیت نشی بیانولے چه په څه طریقه دے، ناست دے که ولاړ او که پروت؟ او شکل هم ورله نشی بیانولے نو دغه شان الله تعالیٰ یو ذات دے چه انسان د هغه د تللو راتللو کیناستو کیفیت نشی بیانولے. اګرکه د الله تعالیٰ صفات په قرآن او حدیث کښې موجود دی خو پوره کیفیت سره ئے بندګان نشی پیژندلے.

دلته امام رازیؒ یویشت تعریفونه د روح ذکر کړیدی او بعض محققینو د روح په حقیقت معلومولو کښې د علماؤ اتلس سوه (۱۸۰۰) قولونه ذکر کړیدی لیکن هسے ئے ځانونه

ستړي كړيدي چه هيڅ فائده پكښ نشته او خبره همغه شان پاتے ده څنګه چه د روح حقيقت علم د الله نه سوئ هيچا ته نشته، او ددے آيت خلاف كښ واقع شويدے۔

(فتح البيان)

بيا په تورات كښ هم د روح په باره كښ دغه شان اجمالي بيان وو پدے وجه يهودو ته پته ولګيده چه دا د الله تعالیٰ حق رسول او حق كتاب دے، ليكن ايمان ئے نهٔ راوړو۔

وَمَا أُوتِيتُم مِّنَ الْعِلْمِ : دے كښ بله فائده دا ده چه د علم نه مراد عام علمونه دي نو معنیٰ دا ده چه تاسو ته د الله په نسبت ډير لږ علمونه دركړے شويدي، او خپله بعض انسانانو ته لكه انبياء عليهم السلام ته الله تعالیٰ د عامو انسانانو په نسبت ډير علمونه وركړيدي ليكن د الله په نسبت بيخي كم دي۔ او دا آيت دليل دے چه د الله تعالیٰ علم محيط او علم كلي دے نو د هغه سره پدے كښ هيڅوك شريك نشي كيدے۔

وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ ثُمَّ
او كه اُوغواړو مونږ خامخا بوبه څو (ستا نه) هغه شے چه وحي كړيده مونږ تا ته بيا به
لَا تَجِدُ لَكَ بِهِ عَلَيْنَا وَكِيلًا ﴿٨٦﴾ إِلَّا
ونهٔ مومے د خپل ځان دپاره په هغے سره په مونږ باندے ذمه وار۔ مګر (نهٔ ئے بوځو)
رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ إِنَّ فَضْلَهُ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا ﴿٨٧﴾
د وجے د رحمت د رب ستا نه، يقيناً فضل د الله دے په تا باندے لوئي۔

تفسير : ربط :

مخكښ الله تعالیٰ وفرمايل چه انسانانو ته د الله د طرفنه ډير كم علم وركړے شويدے نو دلته بيانوي چه كه الله وغواړي نو د دوی نه به دا لږ علم هم واخلي كوم چه ئے د قرآن په ذريعه وركړيدے۔ او پدے كښ رسول الله ﷺ ته تسلي هم ده۔

او دا مقدمه ده د روستو اعتراضاتو د مشركانو دپاره۔ چه مشركان خو په تا باندے اعتراضونه كوي، او قرآن كريم د الله تعالیٰ نعمت نهٔ ګڼړي نو كيدے شي چه زهٔ ئے د دوی نه واخلم ليكن په تا باندے د الله تعالیٰ د رحم كولو د وجه نه ئے وانخستو نو صبر كوه او د دوی د اعتراضونو پرواه مهٔ كوه۔

مقصد د آیت دا دے چه الله تعالیٰ په خپل نبی (ﷺ) باندے د قرآن کریم په شان د لوئی نعمت احسان کړیدے چه د مومنانو د هر درد دپاره پتهئ او مجسم رحمت دے۔ که هغه غوختلے نو هغه به ئے ستا د سینے نه او د کاغذ د صفحے نه وران کړے وے، او یو آیت به هم باقی پاتے نهٔ وے، او هیڅ یو شخص به داسے نهٔ وے چه الله تعالیٰ ددے کار نه منع کړی۔ لیکن دا د هغهٔ فضل او کرم دے چه هغهٔ داسے نهٔ دی کړی بلکه هغه به قیامت ته نزدے پورے ددے حفاظت کوی، او د نبی ﷺ د نبوت په رشتینوالی به دلیل او حجت جوړولو سره هغه باقی پریدی۔ (فتح)

إِلَّا رَحْمَةً : دا استثناء منقطع ده (لٰكِنْ اَبْقَيْنَاهُ رَحْمَةً مِنْ رَبِّكَ) لیکن مونږ باقی پریخودو دپاره د رحم د طرف د رب ستا نه۔

قتادهؒ به پدے آیت کښ بنهٔ خبره کوله : (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَمْ يَذْهَبْ بِهٰذَا الْكِتَابِ حِيْنَ رَدَّهُ الْاَوَائِلُ) الله لره حمد دے چه دا کتاب ئے وانخستو کله چه اولنو خلکو رد کړو۔ که الله په غضب شوے وے چه زهٔ درته داسے بنائسته کتاب درکوم او تاسو ئے رد کوئ نو څئ دربانده نهٔ ئے نازلوم نو مونږ به څه کولے۔ او دغه شان به په جهالت کښ پراتهٔ وے۔ لکه انسانان داسے کوی چه د لږو د وجه نه ډیرو باندے نعمت بندوی او د وچو د وجه نه لامده هم سیزی۔

إِنَّ فَضْلَهٗ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيْرًا : په نبی ﷺ باندے د الله صرف دا فضل او کرم نهٔ دے بلکه په هغه باندے د الله احسانات بیشماره دی۔ الله تعالیٰ هغه لره خاتم الانبیاء گرځولے، د آسمان زیارت او ملاقات ئے پرے کړے، د معراج په شپه ئے په بیت المقدس کښ په هغه باندے ټولو انبیاؤ ته امامت کړے، او د قیامت په ورځ به الله هغه ته د شفاعتِ عظمیٰ (لوئی سفارش) اجازت ورکوی۔

او دا آیت دلیل دے چه رسول الله ﷺ وحی د ځان نه نشی جوړولے۔

قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ
اُووایه ! که راجمع شی انسانان او پیریان پدے چه راوړی په مثل ددے قرآن
لَا يَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيْرًا ﴿۸۸﴾
نو نشی راوړے ددے په مثل اګرکه شی بعض د دوی د بعضو دپاره مددګار۔

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْآنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ
او یقیناً بیان کړیدی مونږ خلقو لره په دے قرآن کښې د هر قسم بیان نه
فَأَبٰى أَكْثَرُ النَّاسِ إِلَّا كُفُوْرًا ﴿٨٩﴾
نو پریخوستو ډیرو خلقو (هرڅه) سوئ د انکار (ناشکرئ) نه۔

تفسیر: ربط :

داسے قیمتی کتاب تاسو رد کوئ حال دا چه ددے په شان کتاب راوړو نه خو ټول انسانان او پیریان عاجز دی۔ او پدے آیت کښې د قرآن کریم رشتینوالے او فضیلت او عظمت ذکر دے په طریقه د تحدی او مقابلے سره۔

شان نزول

ابن اسحاق، ابن جریرؒ او ابن ابی حاتمؒ وغیره د ابن عباس ﷺ نه روایت کړیدے چه قریش کافرانو رسول الله ﷺ ته ونیلی وو چه که مونږ غواړو نو ستا د قرآن په شان کلام راوړے شو، او په هغه وخت به ستا دا دعوئ باطله شی چه دا د الله کلام دے، او ستا د نبوت د رشتینوالی دلیل دے۔ نو الله تعالیٰ نبی ﷺ ته حکم وکړو چه تهٔ دوی ته ووایه چه که ټول انسانان او پیریان راجمع شی او کوشش وکړی چه ددے قرآن په شان کلام راوړی نو دوی داسے نشی کولے، ځکه چه دا د الله کلام دے چه د وحی په ذریعه ئے په خپل بنده او رسول محمد ﷺ باندے نازل کړے۔ او زمانه گواه ده چه څوارلس سوه صدئ تیرے شوے او هیڅ شخص د قرآن په شان کلام رانهٔ وړے شو۔

او په یو بل روایت د ابن عباس ﷺ کښې دی چه رسول الله ﷺ ته محمد بن شحان او نعیمان بن آصی او بحری بن عمرو او سلام بن مِشکم راغلو ورته ئے وویل : اے محمده ! مونږ ته خبر راکړه پدے کتاب چه تا راوړیدے آیا دا د الله د طرفنه دے، ځکه چه مونږ خو دا وینو چه غیر مرتب دے لکه څنگه چه تورات مرتب وو نو رسول الله ﷺ دوی ته وویل : قسم په الله تاسو ته یقینی معلومه ده چه دا د الله د طرفنه دے۔ نو هغوی وویل : مونږ به تا ته ددے په شان کتاب راوړو۔ نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو۔ (فتح البیان)

حافظ ابن کثیرؒ وائی چه پدے روایت کښې نظر دے ځکه چه دا سورت مکی دے او دغه واقعه په مدینه کښې راغلے ده،آه۔ کیدے شی چه په مدینه کښې هم دغسے واقع شوی وی۔

بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ ظَهِيرًا : يعنى كه شريك يو ځاى كښې راجمع شى او يو بل له لقمه (فتح) وركوى چه داسے داسے عبارت جوړ كړئ هم نۀ ئے شى جوړولے ځكه چه د انسانانو سره هغه علمونه او رازونه نشته كوم چه الله تعالىٰ په خپل كتاب كښې ايخى دى نو جاهل به د عالم څه مقابله وكړى؟!۔

صَرَّفۡنَا لِلنَّاسِ فِي هٰذَا الۡقُرۡاٰنِ: اُوس وجه بيانوى چه خلك د قرآن مثل ځكه نشى راوړے چه قرآن كريم كښې هر قسم بيان موجود دے، او هغه د بل چا په كلام كښې نشى كيدے۔ قرآن كښې بيا ډير كمال دے، اميانه كتاب هم دے چه سيده ساده خبره پيش كوى چه دا عقيده وساته او دا مۀ، او دا عمل وكړه او دا مۀ، او دننه پكښې بيا علمونه او رازونه هم دى چه انسانان ئے حيران كړيدى۔

مِنۡ كُلِّ مَثَلٍ : اَىۡ مِنۡ كُلِّ نَوۡعٍ مِنۡ اَنۡوَاعِ الۡبَيَانِ۔ مثل هر نوع بيان ته وائى لكه حقيقت او مجاز، صنعتونه او د بيان طريقے او استعارات او قصے او مثالونه او وعد او وعيد، عقائد او احكام، حكمتونه او عبرتونه، دعوے او دليلونه، دے دپاره چه د انسان په زړه باندے اثر وكړى ځكه چه الله تعالىٰ ته د انسانانو د زړونو حالات معلوم دى چه دا خبرے او طريقے پرے اثر كوى چه هغه انسان ته پوره طريقے سره نشى معلوميدے۔

فَاَبٰٓى اَكۡثَرُ النَّاسِ : دا عربئ كښې يو مثال دے چه خلك هر شى پريدى خو انكار او كفر پرينږدى يعنى دا ئے ځان سره لازم كړيدے چه ددے په خلاف هر شى پريخودو ته تيار دے۔

وَقَالُوۡا لَنۡ نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتّٰى تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ الۡاَرۡضِ
او وائى دوى هيچرے ايمان نۀ راوړو په تا تردے چه روانے كړے تۀ مونږ لره د زمكے نه
يَنۡبُوۡعًا ﴿۹۰﴾ اَوۡ تَكُوۡنَ لَكَ جَنَّةٌ مِّنۡ نَّخِيۡلٍ وَّعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الۡاَنۡهٰرَ خِلٰلَهَا
چينے۔ يا شى تا لره باغ د كجورو او انگورو نه نو روان كړے تۀ نهرونه په مينځ ددے كښې
تَفۡجِيۡرًا ﴿۹۱﴾ اَوۡ تُسۡقِطَ السَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ
په ډير روانولو سره۔ يا گوزار كړے تۀ آسمان لكه څرنگ چه گمان كوے تۀ
عَلَيۡنَا كِسَفًا اَوۡ تَاۡتِىَ بِاللّٰهِ وَالۡمَلٰٓئِكَةِ قَبِيۡلًا ﴿۹۲﴾ اَوۡ يَكُوۡنَ لَكَ بَيۡتٌ
په مونږ باندے ټكړے، يا راولے تۀ الله تعالىٰ او ملائكو لره مخامخ۔ يا شى تا لره كور

مِنۡ زُخۡرُفٍ اَوۡ تَرۡقٰى فِى السَّمَآءِ ؕ وَلَنۡ نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتّٰى
د سرو زرونه یا اُوخیژے تهٔ آسمان ته او هیچرے مونږ نهٔ منو ختل ستا تردے
تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا كِتٰبًا نَّقۡرَؤُهٗ ؕ قُلۡ
چه نازل کړے تهٔ په مونږ باندے کتاب چه اُولولو مونږه هغه، تهٔ اُووایه
سُبۡحَانَ رَبِّىۡ هَلۡ كُنۡتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوۡلًا ﴿۹۳﴾
پاکی ده رب زما لره، نهٔ یم زهٔ مګر انسان رسول یم۔

تفسیر : ربط : دا د مشرکانو د ناشکریٔ بیان دے۔

شان نزول

ابن جریرؒ د ابن عباس ﷺ نه روایت راوړیدے چه یوه ورځ مشرکان (عتبه، شیبه، ابوسفیان بن حرب، ابو البختری، اسود بن المطلب، زمعه بن الاسود، ولید بن مغیره، ابوجهل بن هشام، عبد الله بن ابی امیه، امیه بن خلف، العاص بن وائل، نبیه بن الحجاج او منبه بن الحجاج) د کعبے په خوا کښ د نمر پریوتو نه روستو راجمع شو نو خپل مینځ کښ ئے وویل چه مونږ خو ددے سړی نه ډیر تنګ راغلو، دهٔ پسے ځوك ولیږئ چه خبره ورسره وکړو، (څه مطالبے ترے کوو که دائے پوره کړے خو صحیح ده ایمان به راوړو، او که نهٔ وی نو جدائی به ترے وکړو۔) نو د رسول الله ﷺ پسے ئے جواب ولیږلو، رسول الله ﷺ په جلتیٔ ورغلو دا حرص ئے کولو چه کیدے شی چه دے خلکو زما په باره کښ د منلو فیصله کړی وی، او هدایت ته راشی ځکه چه د خپل قوم په ایمان باندے ډیر حرص کونکے وو) نو مشرکانو پرے طعنونه شروع کړل چه ګوره ستا په وجه په مونږ کښ اختلافات پیدا شو او تا زمونږ مشرانو ته بد رد وویل او زمونږ دین باندے ډِے عیبونه ولګول۔ بیا ئے هغه باندے اعتراضونه شروع کړل او وے ویل چه مونږ ستا په دعوت د توحید باندے تر هغه وخت پورے ایمان نهٔ راوړو او د قیامت د ورځے او ستا د نبوت تر هغه وخته پورے تصدیق نهٔ کوو، ترڅو چه تهٔ کومه نخه پیش نکړے۔

نو داسے وکړه چه زمونږ دا علاقے ډیرے تنګے دی او مالونه مو کم او ژوند مو سخت دے نو د خپل رب نه وغواړه کوم چه تهٔ رالیږلے ئے چه دا غرونه دلته نه روان کړی چه زمونږ

کلے فراخه شی، او پدے کښې دِے د شام او د عراق په شان نهرونه روان شی (ځکه چه مونږ د زمزم د اُوبو نه بوقو راویستلو او د لرے ځایونو نه اُوبو راوړلو سترې کړی یو)
او بـل پـکـښې وویل چه پکار ده چه ستا دپاره د کجورو او انګورو یو باغ موجود شی چه د هغے په مینځ کښې نهرونه روان کړے، یا ستا د ګمان مطابق آسمان د عذاب په توګه زمونږ په سرونـو راګـوزار کړه ، یا الله او د هغه ملائك زمونږ مخے ته راوله چه ستا د رشتینوالی ګـواهی ورکړی، یـا ستـا دپاره د سرو یو کور ناځاپی راوځی، یا پورې لګولو سره آسمان ته وخیـژه. او ګـوره، ستـا صـرف په آسمان ته ختلو سره مونږ ایمان نۀ راوړو بلکه ضروری ده چـه هلتـه نـه بـه یـو کتـاب ځـان سره راوړے چـه مونږ ته په کښې حکم شوے وی چه په تا باندے ایمان راوړو، او ستا تابعداری وکړو.
نبی کریم ﷺ د دوی نه په خفګان کښې پاڅیدو نو الله تعالیٰ دا آیتونه راولیږل پدے کښې ئے د دوی اعتـراضـونـه نـقـل کـړل، او دوی تـه ئـے زورنـه ورکـړه چه دوی ته الله تعالیٰ قرآن راولیـږلـو او دوی ورلـه لتـه ورکـوی، لوی ناشکره دی او خپل نبی ته ئے وفرمایل چه تۀ دے کافرانو ته ووایه چه زۀ خو یو انسان یم چه الله خپل رسول جوړ کړے یم، یو مامور بنده کله په دے خبـرو قادریږی کوم چه تاسو ذکر کړے، دا ټولے خبرے خو صرف د الله په اختیار کښې دی. (دے خلکو د رسول او د اِلـه په مابین کښې فرق نۀ دے پیژندلے).
يَنْبُوْعًا: یعنی چینه ډیره بهیدونکے. مجاهدؒ ئے په جَمعے سره معنیٰ کړیده یعنی چینے.
سدیؒ وائی : ینبوع هغه نهر ته وئیلے شی چه د چینے نه رابهیږی.
خِلَالَهَا: یعنی په مینځ د دغه باغ کښې.
تُسْقِطَ السَّمَآءَ : یعنی ته هر وخت وائے چه آسمان به راغورزیږی او قیامت به راځی نو دغه آسمان په مونږ باندے راګوزار کړه ټوټے ټوټے.
كِسَفًا : دا جمع د كِسْفَةٌ ده د یو شی ټکړے ته وئیلے شی.
قَبِيْلًا : ١- مُعَايَنِيْنَ. (قتـادةؒ، وابـن جـريـجؒ) یـعـنـی مخامخ چه مونږه ئے په خپلو سترګو وینـو. دا د دوی ډیره لویه بی ادبی وه او لوی تـکبر. او قبیل مصدر صیغه ده لکه د نکیر او نذیر په شان.
٢- قبیل کله (فَوْجًا بَعْدَ فَوْجٍ) ته وئیلے شی. یعنی ډله ډله.
لِرُقِيِّكَ: صیغه د مصدر ده لکه د مُضِيٌّ او هُوِيٌّ په شان. ختلو ته وئیلے شی. یعنی مونږ ستا په ختو باور نۀ کوو. او لام په معنیٰ د باء سره دے. او د رقی معنیٰ په وروکښې کتاب او

صحیفې سره خطاء ده، په لغت کښې نهٔ ده راغلې۔
كِتَابًا نَّقْرَؤُهُ: یعنی مونږ هر یو ئې ولولو۔ یا مطلب دا چه هر یو ته د هغه په نوم سره د الله د طرفنه خپل خپل کتاب راشی۔ لکه ﴿بَلْ يُرِيدُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ أَنْ يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً﴾ (المدثر : ۵۲)۔ بلکه غواړی هر یو د دوی نه چه ورکړے شی صحیفې خورې ورې)
بَشَرًا رَّسُولًا: یعنی زهٔ خو صرف پیغام رسونکے یم، دغه کارونه زما په اختیار کښې نهٔ دی۔

وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَنْ يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَىٰ إِلَّا أَنْ
او نهٔ دی منع کړی خلقو لره د ایمان راوړو نه کله چه راغے دوی ته هدایت مګر دے خبرے
قَالُوا أَبَعَثَ اللَّهُ بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٤﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ
چه وائی دوی آیا رالیږلے دے الله تعالیٰ انسان لره رسول۔ اُووایه ! که چرے وے
فِي الْأَرْضِ مَلَائِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا
په زمکه کښې ملائک چه ګرځیدلے په اطمینان سره خامخا نازل کړے به وے مونږ
عَلَيْهِم مِّنَ السَّمَاءِ مَلَكًا رَّسُولًا ﴿٩٥﴾
په دوی باندے د آسمان نه ملائک رسول۔

تفسیر: پدے آیت کریمه کښې الله تعالیٰ د قریش کافرانو یوه شبهه بیان کړیده چه هغه ئې په قرآن کریم کښې بار بار مکرر کړیده۔ هغوی ددے خبرے منلو ته تیار نهٔ وو چه الله تعالیٰ یو انسان خپل رسول جوړولے شی، او د دوی همدا شبهه په رسول الله ﷺ باندے د ایمان راوړو نه مانع وه۔ سورة یونس آیت (۲) کښې الله تعالیٰ فرمایلی دی:
﴿أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَا إِلَىٰ رَجُلٍ مِّنْهُمْ أَنْ أَنذِرِ النَّاسَ﴾
(آیا خلقو ته پدے خبره تعجب دے چه مونږ د دوی نه په یو سړی باندے وحی نازله کړیده، او هغه ته مو حکم وکړو چه تهٔ خلق د الله نه ویروه)۔ او دا ډیره عجیبه شبهه وه چه دوی خو د رسالت او د بشریت ترمینځ منافات ګنړلو لیکن د دوی په عقیده کښې الوهیت او حجریت (کاڼړے) دواړه جمع کیدل ناشنا نهٔ وو۔ دا ددوی افراط تفریط وو۔
وَمَا مَنَعَ: غلطے عقیدے او رواجونه همیشه دپاره د ایمان نه د محروم کیدو ذریعه وی۔

څوك چه د الله او د رسول او د آخرت په باره کښې غلط تصور لري اکثر ددے نه منکر شي. يوه غلطه عقيده انسان بلے غلطے عقيدے ته راكاږي.

اَلْهُدٰى : اَيِ الرَّسُوْلُ وَالْكِتَابُ. يعني رسول او كتاب ورته راغلو.

قُلْ لَّوْ كَانَ فِي الْاَرْضِ : ددے شبهے د رد كولو دپاره الله تعالىٰ وفرمايل چه دا خو د الله فضل او كرم دے چه د بندګانو د لارخودنے دپاره ئے د دوی په شان رسول راوليږلو دے دپاره چه د هغهٔ په خبره باندے پوهه شي، او د هغهٔ ژوند د دوی دپاره د لارے مشعل جوړ شي. كه په زمكه باندے اوسيدونكي ملائك وے نو د حكمت تقاضا دا وه چه مونږ د دوی د لارخودنے دپاره د دوی په شان يو ملائك رسول راليږلے، دے دپاره چه دوی د هغه په خبره پوهه شوی وے او د هغهٔ ژوند د دوی دپاره د لارے مشعل جوړيدلے. پدے وجه اے د مكے كافرانو! د نبي كريم ﷺ د نبوت نه انكار د عقل او قياس نه وړاندے خبره ده.

او د انسانانو د جنس نه رسول راتلل خو الله تعالىٰ په سورة البقره آيت (١٥١) كښې احسان شمارلے دے: ﴿ كَمَا اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْ عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ۝﴾ (يعني لكه څنګه چه مونږ ستاسو د لارخودنے دپاره ستاسو نه يو رسول راليږلے چه زمونږ آيتونه په تاسو لولي، او تاسو پاكوي، او د قرآن او سنت تعليم دركوي او تاسو ته هغه شے يادوي چه تاسو پرے نهٔ پوهيدلئ).

نو دا خو د حكمة خلاف ده چه انسان ته ملائك راوليږي. او سورة الانعام آيت (٩) كښې ذكر شوی وو چه كه ملائك راغلے وے نو د دوی دپاره به د ډير ګډ وډوالي سبب وے.

كه ملائك رسول راشي نو بيا به دوی وائي چه دا خو خوراك څكاك نهٔ كوي، او نهٔ ستړے كيږي او مونږ ته خو بال بچ راپه غاړه دے او ستړی كيږو نو ددهٔ تابعداري مونږ څنګه وكړو.

مُطْمَئِنِّيْنَ : مُسْتَقِرِّيْنَ فِيْهَا/ سَاكِنِيْنَ فِيْهَا. وسيدونكي په زمكه كښې. ملائك خو زمكے ته راكوزيږي ليكن د لږ وخت دپاره، او هميشه دپاره د انسانانو په شان په زمكه كښې نهٔ وسيږي چه بيا بيرته آسمان ته نهٔ خيژي.

قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ اِنَّهٗ كَانَ
اُووايه كافي دے الله تعالىٰ ګواه په مينځ زما او په مينځ ستاسو كښې يقيناً هغه دے

بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًا بَصِيْرًا ﴿٩٦﴾ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ

په بندګانو خپلو خبردار ليدونکے۔ او هغه څوك چه هدايت اُوکړي الله تعالىٰ هغۀ ته

فَهُوَ الْمُهْتَدِ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَنْ

نو هغه هدايت موندونکے دے، او هغه څوك چه هغه ئے بے لارے کړي نو هيچرے به

تَجِدَ لَهُمْ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِهٖ وَنَحْشُرُهُمْ

موندۀ نکړے تۀ هغوی لره دوستان (مددګار) سویٰ د الله نه او راجمع به کړو دوی لره

يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا ؕ مَّاْوٰهُمْ جَهَنَّمُ

په ورځ د قيامت په مخونو د هغوی ړاندۀ او چاړا ګان او کاڼړۀ، ځائے د دوی جهنم دے،

كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنٰهُمْ سَعِيْرًا ﴿٩٧﴾ ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ

هرکله چه لمبے ئے کمے شي نو زيات به کړو دوی لره لمبے د اُور۔ دا سزا د دوی ده

بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا

پدے وجه چه دوی کفر کړيدے په آيتونو زمونږه، او وائي دوی آيا کله چه شو مونږ

عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ﴿٩٨﴾

هډوکي او ذره ذره آيا مونږ به دوباره راپورته کولے شو په پيدائش نوی سره۔

تفسير : پدے آيت کريمه کښې د مکے کافرانو ته يو قِسم دهمکي ده۔ او شان د رسول الله ﷺ ذکر دے، چه الله تعالىٰ زما په رشتينوالي او امانت باندے خپله ګواه دے چه زۀ ئے تاسو ته رسول راليږلے يم، او د الله ګواهي مخکښې ذکر شويده چه معجزات ئے د هغۀ په لاس ښکاره کړيدي، وخت په وخت ورسره مددونه کوي او غلبه او فتح ورکوي۔

اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًا بَصِيْرًا : يعنی الله تعالىٰ د خپلو بندګانو د ټولو احوالو نه خبردار دے، او دوی وينی، او ما هم وينی که ما پرے دروغ جوړ کړی وے نو زۀ به ئے هلاك کړے وے۔ او د قيامت په ورځ به هر يو ته د خپل عدل او انصاف سره د هغه د عملونو بدله ورکوی۔ پدے وجه اے د مکے کافرانو ! ستاسو دپاره خير په همدے کښې دے چه زما په نبوت باندے ايمان راوړئ او دين اسلام قبول کړئ۔

وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ : ❁ پدے آیت کښې الله تعالىٰ خپل تصرف او د آخرت تخويف بيانوي۔
❁ او دارنګه پدے آیت کښې د اثبات د رسالت نه روستو د دوه ډلو بیان دے چه څوك به دا رسول مني او څوك به ئے نهٔ مني، دا هر څه د الله په اختيار کښې دي۔
❁ او دارنګه چا کښې چه څه نا څه خير وي نو هغه ته الله تعالىٰ هدايت كوي نو هغه به هدايت والا وي، څوك ئے بيا نشي ګمراه کولے، او چا کښې چه ضد وي او په خپله خوښه سره غلطه لاره اختياروي نو هغه الله تعالىٰ ګمراه كوي نو هغه هيڅوك په نيغه لاره نشي راوستے او نهٔ د الله د غضب او قهر نه بچ کيدے شي۔
❁ او دارنګه دا جواب د سوال هم دے چه کله دا رسول په حقه باندے وے نو پکار ده چه ټولو خلکو هدايت موندلے وے؟
حاصل دَ جواب دا دے چه هدايت او ګمراه كول د الله تعالىٰ په اختيار کښې دي۔
أَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِهٖ : اَیْ يَهْدُوْنَهُمْ۔ يعنې داسے دوستان ئے نشته چه دوی ته هدايت وکړي۔
په داسے جمله کښې غرض دبندګانو الله تعالىٰ ته متوجه کول وی چه هدايت او ګمراهي د الله تعالىٰ په لاس کښې ده نو هغه ته متوجه شئ او هدايت ترے وغواړئ او ضدونه مهٔ کوئ۔
❁ او پدے کښې رسول الله ﷺ ته تسلي هم پرته ده چه هدايت او ګمراهي د الله په لاس کښې ده که ته هر څومره کوشش وکړے نو دے خلکو ته هدايت نشې ورکولے۔
فائده : په آيت کريمه کښې د هدايت موندونکو دپاره د مفرد ضمير استعمال شويدے ﴿فَهُوَ الْمُهْتَدِ﴾ او د ګمراهانو دپاره د جمع ضمير ﴿فَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ﴾ ۔ مفسرينو ليکلي دي چه پدے کښې دے طرف ته اشاره ده چه د حق لاره يوه ده او ددے اختيارونکي کم وي او د کفر او ضلالت لارے ګڼړے دي او د ګمراهانو شمار زيات وي۔ (القاسمیؒ)
وَنَحْشُرُهُمْ : ددے حشر په باره کښې د مفسرينو دوه قوله دي، (۱) يو دا چه دا کنايه ده د جلتئ سره جهنم ته بوتللو نه۔
(۲) دويم دا چه دوی به د قيامت په ورځ حقيقةً په مخونو راخکلے شي، لکه دنيا کښې چه څوك چا ته سزا ورکوي يا ئے سپکاوے كوي۔ انس بن مالك ﷺ فرمائي : يو سړي ووئيل : اے د الله رسوله ! کافر به د قيامت په ورځ په خپل مخ څنګه راجمع کولے شي؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل : [اَلَيْسَ الَّذِیْ اَمْشَاهُ عَلٰی رِجْلَيْهِ فِی الدُّنْيَا قَادِرًا عَلٰی اَنْ يُّمْشِيَهٗ عَلٰی وَجْهِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ] ۔ آيا هغه ذات چه دے ئے په خپو باندے په دنيا کښې روان کړيدے پدے

قادر نهٔ دے چه دے په مخ باندے روان کړي؟ ولے نهٔ)۔ (صحیح بخاری : ۶۵۲۳ فی تفسیر سورة ۲۵، باب ۱ ومسلم (۷۲۶۵) فی المنافقین حدیث : ۵٤)

او په روایت د احمدؒ، ابوداودؒ او ترمذیؒ او بیهقیؒ کښ راغلی دی چه دوی به په خپلو مخونو سره د هرے لوړے او ازغو نه ځان بچ کوی۔ (مسند احمد : ۸۶۳۲) وسنده حسن لغیره)

او دا به ځومره بد شکل او ناکاره منظر وی۔

زمخشری لیکلی دی چه چونکه دوی د بعث بعد الموت انکار کړے وو پدے وجه الله تعالیٰ د قیامت په ورځ د دوی په بدنونو باندے اُور مسلط کوی چه دوی به خوری نو الله به دوی دویم ځلی جوړوی او دغه د فناء کیدو او بیرته جوړولو عمل به جاری وی دے دپاره چه په دنیا کښ د بعث بعد الموت د انکار په وجه په هغه ورځ د دوی په افسوس کښ نور زیاتے وشی۔ (القاسمیؒ)

عَلٰى وُجُوْهِهِمْ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا : یعنی د قیامت په ورځ به کافران مونږ پرمخے په مخونو راخکاږو لکه چه الله تعالیٰ په سورة القمر آیت (٤٨) کښ فرمایلی دی : ﴿ يَوْمَ يُسْحَبُوْنَ فِي النَّارِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ ﴾ (په کومه ورځ چه کافران به په جهنم کښ په خپلو مخونو راخکلے شی)۔ او چونکه دوی په دنیا کښ په خپلو سترګو سره د حق لاره نهٔ لیدله، په خپلو ژبو سره ئے د حق کلمه نهٔ وئیله، او په غوږونو سره ئے د حق خبرے آوریدو برداشت نهٔ کولو، پدے وجه د قیامت په ورځ به دوی ړاندهٔ، ګونګیان او کاڼهٔ راپورته کولے شی، د دوی ځای به جهنم وی چه ددے براس او لمبه کله هم کمیږی نو الله به هغه نوره هم زیاتوی۔

قاشانیؒ وائی : دوی به په دنیا کښ خکته زور کولو نو په آخرت کښ هم دغه شان جزا ورکړے شوه چه سرونه به ئے په زمکه خکته وی۔ (قاسمیؒ)

سوال : دلته الله تعالیٰ د دوی دپاره د نظر نهٔ لګیدل او خبرے نهٔ کول او نهٔ آوریدل ثابت کړل او په نورو ځایونو کښ ئے ورله لیدل، خبرے کول او آوریدل ثابت کړیدی لکه آیت : ﴿ وَرَاَى الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ ﴾ (الکهف : ۵۳) (او وبه وینی مجرمان اُور لره) او ﴿ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُوْرًا ﴾ (الفرقان :۱۳) (رابلی به دغه ځای کښ هلاکتونه)۔ او ﴿ سَمِعُوْا لَهَا تَغَيُّظًا وَّزَفِيْرًا ﴾ (الفرقان :۱۲) (آوری به د جهنم غصه کیدل او هنړیدل) ددے څه وجه ده ؟

(۱) **جواب** : دلته معنیٰ دا ده چه دوی به ړاندهٔ وی هغه څه به نهٔ وینی چه دوی خوشحاله کړی، ګونګیان به وی چه د خپل نجات دپاره خبرے وکړی، کاڼهٔ به وی چه د خوند او د مزے خبرے نهٔ آوری۔

(۲) یا اول کښې به دغه شان راپورته کولے شي بیا به دوی ته دغه څیزونه راواپس کړے شي او جهنم ته به بوتللے شي۔ (فتح البیان)

خَبَتْ : په آرام شي، او لمبه ئے خکته شي۔ یعني دا اُور به په دوی باندے همیشه بَل وي خو کله چه لمبه ئے خکته شي، نو بیا به پکښې زیادت وشي۔

ذٰلِكَ جَزَاءُ هُمْ: پدے آیت کښې د مخکښې عذاب دپاره سبب بیانوي چه دوی سره به دا کار او سلوك پدے وجه کیږي چه دوی د الله د آیتونو نه انکار کړے وو، او وئیل به ئے چه مونږ کله مړهٔ شو او صرف هډوکي او ایره او ذره ذره شو نو آیا مونږ به په نوي پیدائش سره راپورته کولے شو؟!۔

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللّٰهَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ قَادِرٌ
آیا نهٔ ګوري دوی چه بیشکه هغه الله چه پیدا کړي ئے دي آسمانونه او زمکه قادر دے
عَلٰى أَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ وَجَعَلَ لَهُمْ أَجَلًا لَّا رَيْبَ
په دے چه پیدا کړي په شان د دوی او ګرځولے ئے ده دوی لره نیټه چه هیڅ شك نشته
فِيْهِ فَأَبَى الظَّالِمُوْنَ إِلَّا كُفُوْرًا ﴿۹۹﴾ قُلْ لَّوْ أَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ
په هغې کښې، نو پریخودو ظالمانو (هر شے) مګر کفر۔ اُووایه که چرته تاسو اختیار لرلے
خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّیْ إِذًا لَّأَمْسَكْتُمْ
د خزانو د رحمت د رب زما په دغه وخت به خامخا تاسو بند کړي وے (هغه)
خَشْيَةَ الْإِنْفَاقِ وَكَانَ الْإِنْسَانُ قَتُوْرًا ﴿۱۰۰﴾
د وجے د یرے د لګولو نه (د ختمیدونه)، او دے انسان بخیل۔ (یا تنګ زړے)۔

تفسیر : په اثبات د بعث باندے دلیل ذکر کوي او د کافرانو د پورته ذکر شوے شبهے رد کوي چه دوی آخر په بعث بعد الموت باندے ولے حیران دي، آیا هغه الله چه آسمانونه او زمکه ئے پیدا کړي، پدے خبره قادر نهٔ دے چه د قیامت په ورځ د دوی په شان انسان بیرته پیدا کړي؟ دا دلیل الله تعالیٰ د قرآن کریم په ګڼرو آیتونو کښې بیان کړیدے۔

په سورة یس آیت (۸۱) کښې ئے فرمایلي دي : ﴿ أَوَلَيْسَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ

عَلٰى اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ بَلٰى وَهُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ۝﴾ چه (کوم ذات آسمانونه او زمکه پیدا کړيده آيا هغه د دوی په شان بدنونو پیدا کولو باندے قادر نۀ دے؟ بیشکه قادر دے، او هغه ډیر پیدا کونکے او لوئی علم والا دے)۔

مِثْلَهُمْ : ۱- ددے نه مراد عین هم دوی دی. ۲- مِثْلَ اَنْفُسِ النَّاسِ۔

یعنی د خلکو په شان نورِ انسانان پیدا کولے شی چه هغوی د عدم نه وجود ته راوباسی، نو ستاسو پیدائشِ ورته څه گران نۀ دے چه د قبرونو نه مو راپاڅوی۔

وَجَعَلَ لَهُمْ اَجَلًا : سوال پیدا شو چه دا به کله کیږی؟ نو الله فرمائی : الله تعالیٰ دوی لره بیرته د قبرونو نه د راپورته کولو او د ژوندی کولو یوه موده مقرر کړیده چه په هغے کښې هیڅ شك او شبهه نشته دے ۔ او کله چه هغه وخت راشی نو ټول خلق به ژوندی کیدو سره د محشر میدان ته راجمع کیږی۔

لیکن کوم خلق چه په خپل ځان باندے ظلم کونکی وی نو د هغوی عادت کفر وی، هغوی د تمامو ښکاره او روښانه نخو سره هم ایمان نۀ راوړی۔

اَجَلًا : ددے اجل نه مراد نیټه د مرگ هم ده او نیټه د قیامت هم۔ دواړه مراد دی۔

كُفُوْرًا: ۱- کفر ۲- او ناشکری نۀ پریدی۔

قُلْ لَّوْ اَنْتُمْ : پدے آیت کښې الله تعالیٰ د خپل قدرت دلیل بیانوی لکه مخکښې ئے هم د قدرت دلیل ذکر کړو، نو دلته د مخلوقاتو عجز او ضعف ذکر کوی چه دوی د خزانو مالکان نۀ دی۔ نو دا دلیل دے د اثبات د توحید دپاره۔ چه ستاسو معبودان د الله تعالیٰ د هیڅ خزانے مالکان نۀ دی، او که بالفرض دوی مالکان شوی وے نو دوی کښې به بخل وے، پریدلے به چه دا خزانے په خرچ کولو سره خلاصے نشی، او الله تعالیٰ سره داسے خزانے دی چه هغه نۀ ختمیدونکی دی۔

❁ او دا دلیل دے د اثبات د بعث دپاره پدے طریقه چه د الله تعالیٰ سره د هر شی خزانے دی، نو هغه سره د اَرواحو خزانے هم شته او د اَبدانو هم نو د خزانو مالك کولے شی چه دغه روحونه په بدنونو کښې واچوی او بیرته ئے خپلے مخے ته ودروی۔ دا هیڅ بعیده خبره نۀ ده۔

❁ دریم : دا آیت لگیږی د رسول الله ﷺ د رسالت سره چه دوی وئیلی وو چه څنگه الله تعالیٰ پدے سړی باندے فضل وکړو چه وحی ئے ورته وکړه او مونږ باندے نۀ کیږی، او آیا پدے ټولو خلکو کښې الله تعالیٰ صرف همدا غوره کړو لکه د ابلیس په واقعه کښې ذکر شو

﴿هٰذَا الَّذِيْ كَرَّمْتَ عَلَيَّ﴾ ـ نو الله جواب كوي چه د خزانو مالك الله تعالىٰ دے، او يوه خزانه د هغه د نبوت ده، د هغه خوښه ده چه چا ته ئے وركوي، پدے كښ د هيڅ مخلوق واك نشته، او نۀ ورله د اعتراض حق شته.

خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّيْ : د رحمت د خزانو نه مراد هدايت، نبوت او عافيت دے. او زجاجؒ وائي چه خزانے د رزقونو او نعمتونو مراد دي.

لَّأَمْسَكْتُمْ : اَيْ لَبَخِلْتُمْ وَحَبَسْتُمْ فِيْ دَارِ الدُّنْيَا ـ خامخا به تاسو بخل وكړئ او لاس به بند كړئ په دنيا كښ د بخل او شومتيا په وجه. (فتح)

خَشْيَةَ الْإِنْفَاقِ : د وجه د يرے د ختميدو نه. (انفاق) نه مراد (إِنْفَاد) دے. يعنى ختميدل.

قَتُوْرًا: ١-كمے كونكے په خلكو په نفقه او خرچه كښ. ٢- بخيل.

مفسرينو ليكلي دي چه ددے آيت كريمه نه ثابتيږي چه د رزق د خزانو مالك صرف الله تعالىٰ دے او هغه ډير جود او سخا والا دے. هغه چه كله نه آسمانونه او زمكے پيدا كړيدي خرچ كوي او د هغه په ښي لاس كښ چه څه دي هغه ختم شوي نۀ دي، لكه چه د بخاري او مسلم روايت نه ثابت دي. (بخاري: ٤٦٨٤) مسلم (٢٣٥٦)

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ فَاسْأَلْ
او يقيناً وركړي وو مونږ موسىٰ (عليه السلام) ته نهه معجزات ښكاره نو تپوس اُوكړه
بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ إِذْ جَاءَ هُمْ فَقَالَ لَهٗ فِرْعَوْنُ
د بني اسرائيلو نه كله چه راغے دوي ته نو اُووئيل هغۀ ته فرعون
إِنِّيْ لَأَظُنُّكَ يَا مُوْسٰى مَسْحُوْرًا ﴿١٠١﴾
يقيناً زۀ گمان كوم په تا اے موسىٰ جادو كړے شوے.

تفسير : پدے آيتونو كښ واقعه د موسىٰ (عليه السلام) او د فرعون راوړي چه مقصد پكښ دا دے چه پيغمبرانو پورے توقے د دنيا او د آخرت د عذابونو سبب دے. دويم تَشْبُهُ الْمُشْرِكِيْنَ بِفِرْعَوْنَ دے. مشركين مكه د فرعونيانو سره مشابه دي، نو د هغوي په شان به هلاكيږي هم.

ربط او مناسبت

(۱) دا د (۹۰) آيت پورے متعلق دے۔ د قريش كافرانو چه كله د رسول الله ﷺ نه ددے شپږو نخو مطالبه وكړه كوم چه اُوس په آيت (۹۰) نه تر (۹۳) كښې تير شو نو الله تعالىٰ دا آيت نازل كړو چه پدے سره مقصد دا بيانول دي چه موسىٰ عليه السلام ته كومے نهه نخے وركړے شوے وے، هغه ددے مطلوبه نخو برابرے وے، ليكن بيا هم فرعون او د هغه تابعدارو ايمان رانهٔ وړو نو الله تعالىٰ دوى لره هلاك كړل۔ د مكے والو د مطالبے مطابق نخے پدے وجه نهٔ راليږلے كيږى چه كه ددے د راتللو نه روستو هم دوى ايمان رانهٔ وړى نو دوى به هلاك كيږى او الله د دوى په يوځل ختمول نهٔ غواړى۔ (فتح البيان)

(۲) او دا متعلق دے د مخكښې اعتراض د دوى سره هم چه دے نبى ته ولے وحى وركړے شوه؟ نو الله فرمائى چه دغسے مونږ موسىٰ عليه السلام ته هم وحى او معجزات وركړے شوى وو۔

(۳) دارنګه د مخكښې آيت سره متعلق دے چه كه يو انسان ته ډيرے خزانے وركړے شوى وى لكه د فرعون په شان، خو كله چه د نبى د دعوت نه انكار كوى او هغه پورے توقے كوى نو دا خزانے به ئے د الله تعالىٰ د عذاب نه بچ نكړے شى۔

تِسۡعَ آيَاتٍۢ بَيِّنَاتٍ : د اكثرو مفسرينو په نيز موسىٰ عليه السلام ته وركړے شوے نهه نخے په لاندے ډول دى چه زياتے په سورة الاعراف (۱۳۰/۱۳۳) كښې ذكر دى :

❁ يد بيضاء (سپين لاس)، ❁ د موسىٰ امسا، ❁ وينه، ❁ د درياب اُوبه دوه حصے كيدل، ❁ د آل فرعون د مال او دولت بربادى، ❁ طوفان، ❁ ملخان، ❁ سپږے، ❁ چندخان۔ او دے ته ئے بينات ووئيلے ځكه چه دا د هغه په نبوت باندے ښكاره نخے وے۔

فَاسۡأَلۡ بَنِيٓ إِسۡرَآئِيلَ : يعنى د مؤمنانو بنى اسرائيلو نه تپوس وكړه لكه د عبد الله بن سلام رضي الله عنه او د هغه د ملګرو نه۔ او دا سوال د استشهاد دے دپاره د زيات اطمينان او يقين پيدا كولو۔ او په سوال ئے ورته ځكه حكم وكړو چه كله دليلونه زيات شى نو دا اطمينان ډير پيدا كوى۔ (فتح البيان)

مَسۡحُورًا : يعنى چا دربانده جادو كړيدے او دماغ ئے درله خراب كړيدى ځكه داسے د ګمراهئ خبرے كوے۔ حق ته ئے جادو وئيلو۔ په سورة النمل آيت (۱۳/۱۴) كښې الله تعالىٰ دا واقعه داسے بيان كړيده : ﴿ فَلَمَّا جَآءَتۡهُمۡ آيَاتُنَا مُبۡصِرَةً قَالُوا هَٰذَا سِحۡرٌ مُّبِينٌ ۝ وَجَحَدُوا بِهَا وَاسۡتَيۡقَنَتۡهَآ أَنفُسُهُمۡ ظُلۡمًا وَعُلُوًّا فَانظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الۡمُفۡسِدِينَ ۝ ﴾.

(پس کله چه سترګے کولاوونکے زمونږ معجزے دوی ته راغلے نو دوی اُووئیل چه دا خو ښکاره جادو دے، او دوی ترے انکار وکړو حال دا چه د دوی زړهٔ په هغے یقین کړے وو، صرف د ظلم او تکبر په بناء، پس ته اُوګوره چه د فساد راپورته کونکو څنګه انجام شو)۔

قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا أَنْزَلَ هٰؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ السَّمَاوَاتِ
اُووئیل هغه یقیناً پوهه ئے ته چه نهٔ دی نازل کړی دا معجزات مګر رب د آسمانونو
وَالْأَرْضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّىْ لَأَظُنُّكَ يَا فِرْعَوْنُ مَثْبُوْرًا ﴿۱۰۲﴾
او د زمکے د عقل خبرے، او یقیناً زهٔ ګمان کوم چه تا اے فرعونه ! هلاك کړے شوے۔
فَأَرَادَ أَنْ يَّسْتَفِزَّهُمْ مِّنَ الْأَرْضِ فَأَغْرَقْنَاهُ
پس اراده اُوکړه فرعون چه اُویاسی دوی لره د زمکے (د مصر) نه نو غرق کړل مونږ هغه
وَمَنْ مَّعَهٗ جَمِيْعًا ﴿۱۰۳﴾ وَقُلْنَا مِنْ بَعْدِهٖ لِبَنِىْ إِسْرَائِيْلَ
او هغه څوك چه د هغهٔ سره وو ټول۔ او اُووئیل مونږ روستو د هغه نه بنی اسرائیلو ته
اسْكُنُوا الْأَرْضَ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيْفًا ﴿۱۰۴﴾
چه وسیږئ په زمکه کښې نو کله چه راشي وعده د آخرت رابه ولو تاسو لره یوځائے۔ (راجمعه)۔

تفسیر : موسیٰ علیه السلام د فرعون د خبرے جواب ورکړو وے وئیل چه تا ته معلومه ده چه دا نخے هغه الله نازل کړیدی چه د آسمانونو او زمکے رب دے، او د صفا زړونو سره د الله د هدایت طلب کونکو دپاره پدے کښې ډیر عبرتونه دی، لیکن تهٔ د خپل تکبر او عناد په وجه ددے نه انکار کوے او دے ته د جادو اثر وائے۔ اے فرعونه ! زما خیال دے چه تهٔ د الله د رحمت نه لرے کړے شوے ئے، او آخر به تهٔ هلاك کړے شے۔

لَقَدْ عَلِمْتَ نه معلومه شوه چه فرعونیانو د موسیٰ علیه السلام په نبوت باندے پوره یقین وو او دا د ابوجهل او نورو قریشو هم یقین وو چه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله حق رسول دے لیکن تکبر او ظلم په انکار باندے مجبوره کړی وو۔

بَصَآئِرَ : یعنی د عقل خبرے دی دپاره د خلکو۔ بصائر جمع د بَصِيْرَةٌ ده، هغه شی ته وائی چه د انسان زړه پرے روښانه کیږی، او د زړه سترګے پرے بناء کیږی ګویا که دا خپله

روښانـه دي. (التـحـريـر) نـو پـه معجزاتو د پيغمبرانو او د قرآن په آيتونو سره د سړي زړه روښانه کيږي، ځکه چه دا صفا د فطرت سره برابرے خبرې وي.

لَأَظُنُّكَ : ظن دلته معنى د يقين سره دے۔

مَثْبُوْرًا: هلاك کړے شوے۔ ۲- ملعون۔

۳- نَاقِصُ الْعَقْلِ۔ (بی عقله) (نقله الراغبؒ عن ابن عباسؓ)

٤- اَلْمَمْنُوْعُ الْمَصْرُوْفُ مِنَ الْخَيْرِ ۔ د خير نـه منـع کـړے شوے اړولے شوے۔ (يعنى بے فائدے)۔ ثبور هلاکت او تاوان او منع کيدو ته وئيلے شي۔

پدے کښ قريشو کافرانو ته دهمکی ده چه د محمد رسول الله ﷺ په خلاف کښ مۀ ودريږئ گنے هلاك به شئ او د ځان تاوان به وکړئ۔

سوال وجواب

الله تـعالىٰ موسىٰ عليه السلام ته وئيلی وو ﴿فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَّيِّنًا﴾ فـرعـون ته نرمے خبرے وکړئ۔ (طه : ٤٤) نو دلته ئے ورسره څنگه سخته خبره وکړه؟

(۱) جـواب دادے چه دا سخـتـی ئے ورسـره پـه هغه وخت کښ کړيده چه فرعون عناد او ضد شروع کړو۔ او په اول کښ ئے ورسره نرمے خبرے کولے، او د الله نعمتونه ئے ورته يادول۔ دا جـواب دومره غوره نۀ دے ځکه چه الله تعالىٰ ورته د اول او د آخر څه خبره نۀ وه کړے چه اول کښ نرمی کوئ او بيا سختی۔

ابـن عـاشورؒ وائی چه فرعون سختی وکړه موسىٰ عليه السلام تـه ئے جادوگر ووئيلو نو هغه ورته تنبيه ورکړه چه زۀ ستا نه نۀ يريږم نو هغه هم ورسره سختی وکړه ځکه چه دا قانون دے ﴿فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ﴾ (البقره : ۱۹٤)

څوك چه په تاسو زياتے وکړی نو تاسو د هغے په مثل سره زياتے وکړئ)۔ (التحرير والتنوير)

يعنی بدله اخستل جائز دی۔ او دا د نرمو اخلاقو منافی نۀ دی۔

(۲) بـنـه جـواب دا دے چه پدے خبره کښ هيڅ سختی نشته، بلکه هغه يرول دی چه تۀ دا انـکـار کـوے نـو هلاکت طرفته روان ئے، د خپل ځان غم وکړه۔ نو يو تن ته د چا هلاکت خودل او هغه منع کول د نرمو اخلاقو خلاف نۀ دی۔

دا بـه هـلـه د سختئ الـفـاظ وی چه د مثبور معنىٰ د هلاك شده نه علاوه نورے وکړے، لکه هغه مخکښ ذکر شوے۔ بيا به مخکنے جواب مراد وی۔

فَأَرَادَ أَنْ يَّسْتَفِزَّهُمْ : خویه ئے کړی د زمکے د مصر نه۔ یعنی په هجرت ئے مجبوره کړل۔ استفزاز وړاندے کول او تنګول او خویه کول دی۔ یا ددے نه مراد قتلول او بیخګندی کول دی۔

مطلب دا چه فرعون چه کله خپل ځان د الله تعالیٰ د نازل کړے شوی نخو مخے ته مجبور وموندو نو د موسیٰ علیه السلام او د بنی اسرائیلو په خلاف د خپل مادی طاقت په استعمالولو باندے اخته شو او د دوی د مصر د زمکے نه د جلا وطن کولو فیصله ئے وکړه، یا د ټولو د قتلولو اراده ئے وکړه۔ لیکن الله تعالیٰ باندے څوك غالب راتلے شی؟

نو الله فرعون او د هغه لښکر غرق کړل، او بنی اسرائیلو ته ئے د موسیٰ علیه السلام په ژبه حکم وکړو چه دوی د شام او فلسطین په زمکه کښ وسیږی۔

او د زمانے په تیریدو سره یو وخت داسے راغلو چه د بنی اسرائیلو خلقو د فرعون د زمکے، او د هغه د مال او دولت او د زمکو او جائیداد مالکان جوړ شو۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه پدے آیت کریمه کښ چه د مکے مکرمے د هجرت نه مخکښ نازل شوے وو، نبی کریم ﷺ ته د مکے د فتح زیرے ورکړے شویدے چه الله تعالیٰ لکه څنګه چه بنی اسرائیل په آخر کښ د مصر د زمکے مالکان کړل نو دغه شان اګرکه نن تهٔ په مکه کښ کمزورے ئے، او دلته ته نه تهٔ ویستلے کیږے، لیکن یو وخت به راشی چه تهٔ به دلته د فاتح په حیثیت سره داخلیږے۔

نو همدغسے اُوشوه چه نبی کریم ﷺ په مکه کښ د کافرانو د ظلم او زیاتی نه تنګ راغلو او ووتو، لیکن څو کاله روستو هغه هلته د فاتح په حیثیت سره داخل شو او مکے والا د هغهٔ په قبضه کښ راغلل، او بیا نبی کریم ﷺ ورته خپل حِلم او کرم ښکاره کړو او هغوی ئے همداسے پریخودل۔

اسْكُنُوا الْأَرْضَ : ددے زمکے نه مراد د شام او د مصر زمکه ده کوم نه چه دوی ویستلے شوی وو۔

فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ : یعنی د آخرت ورځ راروانه ده هلته به ټول پیش کیږئ او ستاسو عملونه به ګوری او نیکانو او بدانو ټولو ته به د هغوی د عملونو جزاء او سزا ورکوی۔

لَفِيْفًا : د لَفٌّ نه دے راټاوولو ته وئیلے شی۔ یعنی ګډوډ د هر ځای نه به مو د قبرونو نه راولم۔

وَبِالْحَقِّ أَنْزَلْنَاهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ
او په حق سره نازل کړیدے مونږ دا قرآن او په حق سره نازل شویدے او نۀ ئے رالیږلے مونږ تۀ
إِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيرًا ﴿١٠٥﴾ وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ
مګر زیرے ورکونکے او یره ورکونکے۔ او قرآن مونږ جدا جدا نازل کړیدے
لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ وَّنَزَّلْنَاهُ تَنْزِيْلًا ﴿١٠٦﴾
دے دپاره چه تۀ ئے ولولے په خلقو په آرام سره، او نازل کړیدے مونږ دۀ لره په لږ لږ نازلولو۔
قُلْ آمِنُوْا بِهٖ أَوْ لَا تُؤْمِنُوْا إِنَّ الَّذِيْنَ أُوْتُوا
اُووایه ایمان راوړئ پدے یا ایمان مۀ راوړئ یقیناً هغه کسان چه ورکړے شویدے ورته
الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهٖ إِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ يَخِرُّوْنَ لِلْأَذْقَانِ سُجَّدًا ﴿١٠٧﴾
علم مخکښ ددے نه کله چه لوستلے شي په دوی پریوزی په زنو باندے سجده کونکی۔
وَيَقُوْلُوْنَ سُبْحَانَ رَبِّنَا إِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُوْلًا ﴿١٠٨﴾
او وائي دوی پاکی ده رب زمونږ لره، یقیناً ده وعده د رب زمونږ خامخا پوره کړے شوے۔
وَيَخِرُّوْنَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُوْنَ وَيَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا ﴿١٠٩﴾ (س)
او پریوزی په زنو باندے ژاړی دوی او زیاتوی قرآن دوی لره عاجزی۔

تفسیر : پدے آیتونو کښ قرآن کریم ته ترغیب ورکوی او ددے عظمت شان او د رسول الله ﷺ رشتینوالے بیانوی۔ یعنی نزول د قرآن په حق سره شروع شویدے او په حق سره زمکے ته رارسیدلے دے، یعنی په مینځ کښ هیڅ تبدیلی نۀ ده راغلے۔

وَبِالْحَقِّ : ١- باء سببیه ده یعنی په سبب د اظهار د حق مونږ دا قرآن راولیږلو او بیا په همدغه حق سره راورسیدو۔ اَیْ نَزَلَ مَحْفُوْظًا مَحْرُوْسًا ۔ دا کتاب راورسیدو رسول الله ﷺ ته چه محفوظ او ساتلے شوے وو د هر قسم تبدیلی نه۔ (ابن کثیرؒ)

کله یوه خبره حقه وی لیکن چا له ئے چه ورکړی نو هغه پکښ په لاره کښ تبدیلی وکړی نو قرآن داسے نۀ دے۔ او د حق نه مراد د الله تعالیٰ طاعت او بندګی کول دی چه دا مقصد د قرآن د نازلیدو دے۔ یعنی اول هم پکښ حق وو او اُوس هم پکښ حق موجود دے۔

۲- بل مطلب دا دے چه د اول حق نه مراد حکمت د نزول د قرآن دے، او د دویم حق نه مراد هغه حقے عقیدے او احکام دی چه قرآن کښې ذکر دی. یعنی په حکمةِ الٰهیه سره د قرآن نازلیدل شروع شو او بیا په هغه حق سره چه عقائد او احکام دی انسانانو ته راورسیدو. یعنی د قرآن په رالیږلو کښې د الله تعالیٰ حکمة دے او بیا په قرآن کښې حقے مسئلے موجودی دی. (الکشاف وفتح البیان)

۳- او ځینی وائی چه باء په معنیٰ د (مَعَ) سره دے. او معنیٰ دا ده: مَعَ الْحَقِّ اَنْزَلْنَاهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ علی مُحَمَّدٍ ﷺ) یعنی د حق سره مونږ دا نازل کړو او بیا په محمد ﷺ هم په حق سره نازل شو. یعنی په ابتداء کښې هم ددے سره حق وو، باطل ورسره نۀ وو، او بیا په رسول الله ﷺ چه کله نازل شو نو هم په رشتیاؤ مشتمل وو.

وَمَا اَرْسَلْنَاكَ: یعنی مونږ تا ته دا قدرت نۀ دے درکړے او پدے مو نۀ ئے رالیږلے چه تۀ به د خلقو په زړونو کښې ایمان پیدا کوے، ستا کار خو صرف دعوت او تبلیغ دے، د الله اطاعت کونکو ته به د جنت زیرے ورکوے، او نافرمانی کونکو ته به د جهنم یره ورکوے.

وَقُرْآنًا: ددے نه مخکښې فعل پټ دے اَیْ وَاَنْزَلْنَا عَلَیْكَ قُرْآنًا. او مونږ نازل کړیدے دا قرآن په تا باندے.

فَرَقْنَاهُ: ۱-(فَرَقْنَاهُ فِی التَّنْزِیْلِ لِیَفْهَمَهُ النَّاسُ) (زجاج) مونږ قرآن کریم په درویشت کالو کښې د یو حکمت د تقاضے مطابق نازل کړیدے، او ددے دپاره مو داسے کړیدی چه تۀ په تدریج سره ددے صحابه کرامو ته تعلیم ورکړے او هغوی پرے پو هه شی، او د خلقو د احوالو او مصالحو مطابق په تدریج سره احکام الٰهیه نازل شی، او د دوی په زړونو او دماغو کښې مضبوط شی.

بناء پدے به روستو (وَنَزَّلْنَاهُ تَنْزِیْلًا) تشریح د فَرَقْنَاهُ وی. او دا مطلب د روستو ﴿لِتَقْرَأَهُ عَلَی النَّاسِ عَلٰی مُکْثٍ﴾ سره ښه لګی.

۲- اَیْ بَیَّنَّاهُ وَفَصَّلْنَاهُ. یعنی دا قرآن مونږ جدا جدا بیان کړے، او تقسیم کړے مو دے په سورتونو او آیتونو سره. یا امرونه او نواهی او احکام او مواعظ او امثال او قصص او اخبار ماضیه او مستقبله پکښې تفصیلًا او جدا جدا بیان شویدی دے دپاره چه خلك ترے ښه عبرت واخلی، او د هر آیت نه جدا جدا فائده واخستے شی.

او دا جواب د سوال د منکرینو دے چه هغوی وویل چه قرآن په یو ځل باندے ولے نۀ نازلیږی.

۳- ابن كثيرؒ وائي : (فَرَقْنَاهُ اَىْ فَصَّلْنَاهُ مِنَ اللَّوْحِ الْمَحْفُوْظِ اِلٰى بَيْتِ الْعِزَّةِ) يعني جدا كړيدے مونږ د لوح محفوظ نه بيت العزة ته او بيا د هغے نه مو لږ لږ دنيا ته راليږلے دے۔

فَرَقْنَاهُ: كښې يو قراءت تخفيف دے او بل د تشديد او دلته د تخفيف قراءت معنىٰ هم د تشديد ده۔

بعض علماؤ د دواړو لفظونو د فرق دپاره داسے وئيلي دي چه (فرقنا) معنىٰ ده : (فَرَقْنَا بِهٖ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ) - يعني مونږ فرق كړيدے پدے سره په ما بين د حق او باطل كښې او (نزلناه) يعني بيا مو لږ لږ راليږلے دے۔ (معالم التنزيل)

ليكن دا معنىٰ د (لِتَقْرَءَهٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ) سره ښه نۀ لګي۔

عَلٰى مُكْثٍ : د قرآن كريم په لږ لږ نازليدو كښې حكمة دا دے چه دا په پوهه او يادولو كښې آسان وي۔ نو ددے نه معلومه شوه چه قرآن كريم د جلتئ كتاب نۀ دے، زر زر تلاوتونه كول او درس او تدريس ئے په جلتئ كول په بغير د حكمتونو او رازونو راويستلو نه غوره طريقه نۀ ده، ځكه بيا پدے باندے په ښه شان نۀ پوهيږي۔

قُلْ آمِنُوْا بِهٖ : پدے آيت كښې د قرآن كريم رشتينوالے بيانيږي، او منكرينو د قرآن ته رټنه وركول دي۔ نبي كريم ﷺ ته حكم شويدے چه كافرانو ته احساس وركړي چه د الله او د رسول په نظر كښې د دوي هيڅ حيثيت نشته دے، نۀ د دوي ايمان راوړل كومه لويه خبره ده، او نۀ د دوي كفر او عناد سره بل چا ته نقصان رسيږي۔

كه دوي په الله باندے ايمان نۀ راوړي او قرآن كريم د هغۀ كتاب تسليم نۀ كړي نو څه به وشي، دا د قرآن كريم هيڅ شان او فضيلت نشي كمولے۔ او كه ايمان راوړي د قرآن په فضيلت كښې زيادت نشي كولے۔ د دوي نه ډير ښه خلقو يعني د اهل كتابو نيكان علماء لكه عبد الله بن سلام، سلمان فارسي او نجاشي او زيد بن عمرو بن نفيل او ورقه بن نوفل وغيره ﷺ دا د الله كتاب او نبي كريم ﷺ ئے هغه رسول منلے دے د كوم زيرے چه په تورات او انجيل كښې وركړے شويدے۔

نو پدے كښې په درے طريقو سره په مشركانو رد شو :

(۱) يو دا چه تاسو ته د الله او د هغه د كتاب ضرورت نشته، قرآن ستاسو نه غني دے۔

(۲) ددے كتاب منونكي علماء خلك دي او څوك چه ئے نۀ مني نو هغه جاهلان دي، د هغوي نۀ منلو له هيڅ اعتبار نشته۔ نو خپل نبي ته تسلي وركوي چه په دوي باندے هيڅ باك مۀ كوه۔

(۳) دریم دا چه دا دومره صادق او لوی فضیلت والا کتاب دے چه په پخوانو کتابونو کښې ددے تذکره شویده۔ او علماء د اهل کتابو ددے قرآن په نازلیدو باندے خوشحالي کوی او وائی چه ښه دے چه دا کتاب راغلو د کوم چه زمونږ په کتابونو کښې تذکره شویده، او مونږ ددے کتاب زمانه راالاندے کړه، نو پدے کښې عظمتِ شان د قرآن شو۔ او پدے کښې سخت وعید دے څکه چه الله تعالیٰ خپل نبی ته وفرمایل چه د دوی نه اعراض وکړه او د دوی سپکوالے ئے راښکاره کړو۔ (فتح البیان)

وَيَخِرُّوْنَ لِلْأَذْقَانِ: اُوس د اهل کتابو نیکانو علماؤ صفات راوړی دپاره د اقتداء کولو د هغوی او دپاره د رد د مشرکانو۔ یعنی ددے نیکانو علماؤ حال دا دے چه کله د دوی مخے ته د قرآن تلاوت کیږی، نو د الله د شکر ادا کولو دپاره په خپلو زنو او سرونو سره په سجده پریوزی چه هغه په دوی باندے دا احسان وکړو چه دوی د نبی کریم ﷺ زمانه مونده کړه او په هغه باندے او په قرآن کریم باندے ئے ایمان راوړو، او د هغه عظمت او پاکی بیانوی چه هغه خپله وعده پوره وخودله او نبی کریم ﷺ ئے د دنیا والو د هدایت او لارخودنے دپاره پیغمبر راولیږلو، او دوی وائی چه زمونږ د رب وعده به خامخا پوره کیږی۔

او په قرآن کریم کښې د ذکر شوی وعظ او نصیحت په آوریدو سره د سخت تاثیر په وجه دوی په خپلو زنو باندے سجدے ته پریوزی او ژاړی او د الله دپاره د دوی په عاجزئ او خشوع کښې زیاتے کیږی۔

وَيَخِرُّوْنَ لِلْأَذْقَانِ : دا محاوره د عربو ده چه په زنه پریوتو، دا کنایه وی د سجدے او عاجزی کولو نه څکه چه زمکے ته په خکته کیدو کښې د انسان زنه د زمکے سره اول برابریږی۔

دلته هم الله تعالیٰ د قرآن سره سجده او خشوع یو ځای کړه څکه چه قرآن کریم د خشوع کتاب دے، او دغه شان په سورة مریم آیت (۵۸) کښې هم سجده او قرآن یو ځای ذکر شویدی ﴿ اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّبُكِيًّا ﴾

د سورة النجم په آخری (۶۲) آیت کښې دی : ﴿اَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ تَعْجَبُوْنَ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ وَاَنْتُمْ سَامِدُوْنَ فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا﴾ او سورة الانشقاق آیت (۲۱) کښې دی : ﴿ فَمَا لَهُمْ لَايُؤْمِنُوْنَ وَاِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَايَسْجُدُوْنَ ﴾۔

اِنْ كَانَ: دا اِنْ مُخَفَّفُ مِنَ الْمُثَقَّل دے۔ (اَیْ اِنَّهٗ كَانَ) ۔ یقیناً شان دا دے چه دهٔ وعده د رب زمونږ الخ۔

وَيَخِرُّوْنَ لِلْأَذْقَانِ: مخکنئ سجده د تلاوت په وخت کښې مراد ده، او دلته عامه سجده او عبادات مراد دي چه قرآن په دوی کښې عبادات راپیدا کوي او قرآن کریم بار بار لولي.
وَيَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا: ځکه چه قرآن د آخرت او د الله خبرے کوي چه خشوع ورسره زیاتیږي.
او پدے صفت ذکر کولو کښې اشاره ده چه د قرآن کریم علماؤ لره هم داسے کیفیت جوړول پکار دي. امام دارميؒ د عبد الاعلیٰ التیميؒ نه نقل کړیدي: [مَنْ أُوْتِيَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَايُبْكِيْهِ لَخَلِيْقٌ اَنْ لَّايَكُوْنَ اُوْتِيَ عِلْمًا يَّنْفَعُهُ] چا ته چه علم ورکړے شي او بیا هغه ونهٔ ژړوي نو دا لائق دے چه دهٔ ته به علم نافع نهٔ وي ورکړے شوے ځکه چه الله تعالیٰ خو د علماؤ صفت (يَبْكُوْنَ) ذکر کړیدے. (چه دوی به ژاړي)

(سنن الدارمي رقم ۲۹۱ واسناده جيد- قاله حسين سليم اسد)

قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ أَيًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْأَسْمَآءُ
اُووایه را اُوبلئ الله یا را اُوبلئ رحمٰن لره هریو چه بلئ تاسو نو هغه لره نومونه دي
الْحُسْنٰى وَلَاتَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ
ښائسته او جهر مهٔ کوه په دعا خپله او پټوالے مهٔ کوه په هغے سره او طلب کړه
بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ﴿۱۱۰﴾ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ
په مینځ ددے کښې لاره. او اُووایه ټول صفتونه د اُلوهیت خاص الله لره دي هغه ذات
لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهُ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُ
چه نهٔ ئے دے نیولے ځوي او نشته هغه لره برخه دار په بادشاهئ کښې او نشته هغه لره
وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا ﴿۱۱۱﴾
مددګار د وجے د کمزورتیا د هغهٔ نه او لوئي ئے وایه په لوئي وئیلو سره.

تفسیر: د مکي سورتونو په آخر کښې آداب بیانیږي نو دلته هم بعض آداب بیانوي.

مناسبتونه

۱- دلته یو کیفیة الخشوع بیانول مقصود دي، چه قرآن خشوع پدے طریقه زیاتوي چه

انسان ته عبادات وربنائی لکه دعاء وغیره، پدے سره خشوع زیاتیږی۔

۲- معنوی ربط : مشرکانو په رسول الله ﷺ باندے ډیر اعتراضونه کړی وو، نو دا آیت هم جواب د هغوی د یو سوال دے چه هغوی ویلی وو چه تهٔ مونږ د شرك نه منع کوے او حال دا چه خپله الله ته هم آواز کوے او رحمٰن ته هم۔ لکه ابن جریر طبریؒ روایت راوړیدے چه یوه ورځ رسول الله ﷺ مونځ کولو او په سجده کښې ئے داسے وفرمایل : (يَا اَللهُ يَا رَحْمٰنُ) نو مشرکینو واوریدو او دغه اعتراض ئے وکړو چه تهٔ مونږ ته د یو اِلٰه دعوت راکوے اوخپله د دوو نه دعا غواړے۔ نو الله دا آیت نازل کړو۔ چه د الله تعالیٰ ډیر نومونه دی او ډیر نومونه او صفات دلالت په تعدد د ذات باندے نهٔ کوی۔ او ګڼړ صفات او نومونه د الله تعالیٰ کمال دے۔

او دا بعینهٖ رد دے په هغه متکلمینو چه هغوی وائی کثرت د صفاتو منافی د توحید دے۔ نو ځکه د الله شپږ یا اوه صفات منی یا ئے بیخی نهٔ منی لکه جُهمیه وغیره شو۔

دارنګه مشرکانو کښې د یمامه یو شخص (مسیلمة الکذاب) په رحمٰن باندے مشهور وو نو کله چه رسول الله ﷺ رحمٰن ته آواز کولو نو دوی کښې یو تن واوریدو او خپلو ملګرو ته ئے وویل چه وګورئ ابن ابی کبشه ته چه هغه رحمٰن ته آواز کوی چه په یمامه کښې دے۔ (یعنی مونږ د شرك نه منع کوی او خپله شرك کوی) نو دا آیت نازل شو۔ (ابن جریر الطبری ۱۵/۱۲٤)

۳- دے کښې دا احتمال هم شته چه مشرکانو وویل چه دا شخص کتاب والا دے او یهودیانو کښې د رحمٰن نوم زیات وو نو هغوی یریدل چه دے سړی چرته د یهودو سره سمجهوته نهٔ وی کړی او د هغوی دین په مونږ باندے نافذ نکړی او زمونږ شرك ختم نکړی نو الله دا آیت نازل کړو چه رحمٰن خو د الله تعالیٰ نوم دے۔ (لیکن دا هسے وهمی احتمال دے صاحب د تدبر قرآن ذکر کړیدے)۔

قُلِ ادْعُوا اللهَ : ۱- یعنی راوبلئ الله لره د خپل حاجت دپاره یا رحمٰن لره۔ ۲- دعاء په معنیٰ د عبادت هم صحیح ده۔ یعنی که د الله یا د رحمٰن عبادت کوے نو صحیح ده۔

ددے نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ به د الله صفاتو ته دعوت ورکولو۔

اَيًّا مَّا تَدْعُوْا : اَیْ فَهُوَ الْحَقُّ ۔ هر یونوم ته چه آواز کوئ نو صحیح ده ځکه چه د هغه دپاره ډیر ښائسته نومونه نور هم شته۔

وَلَاتَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ : ددے هم درے مطلبه دی (۱) د صلاة نه مراد قراءت دے لکه

بخاریؒ او مسلمؒ د ابن عباس ﷺ نه روایت کړیدے چه ﴿وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ﴾ په هغه وخت نازل شو چه کله رسول الله ﷺ په مکه کښې په پټه عبادت کولو، او کله چه به ئې د صحابه کرامو سره مونځ کولو نو په اُوچت آواز سره به ئې د قرآن کریم تلاوت کولو. مشرکانو به د قرآن په آوریدو سره قرآن او ددے نازلونکی ته ګنځلے کولے. نو نبی ﷺ ته حکم وشو چه خپل آواز زیات پورته کوه مهٔ، دے دپاره چه مشرکان ئې وانهٔ وری، او مهٔ دومره خکته آواز سره تلاوت کوه چه صحابه کرامؓ ئې وانهٔ وری. دا حکم د اسلام په ابتداء کښې وو، روستو دا سنت مقرر شو چه د سحر او ماښام او ماسخوتن په اولنی دوه رکعتونو کښې په اُوچت آواز سره د قرآن تلاوت وکړے شی. (بخاری: ٤٧٢٢) ومسلم(١٠٢٩)

(٢) صلاة دعاء ته وائی. بخاریؒ د عائشه رضی الله عنها نه نقل کړیدی چه دا آیت د دعاء په باره کښې نازل شویدے. (بخاری: ٦٣٢٧)

او دا د مخکښې آیت سره هم لګی چه دعاء درمیانه انداز کښې کوه، په زړه کښې ئې هم مهٔ کوه ځکه چه اثرئې کم وی او چغې هم پرے مهٔ کوه بلکه په خوله پرے تلفظ کوه په درمیانه انداز.

(٣) دریم مصداق دا دے چه صلاة په معنیٰ د مانځه سره دے. یعنی هر مونځ جهری مهٔ کوه او هر مونځ خفیه هم مهٔ کوه، نو د شپے مونځونه جهری دی او د ورځے خفیه. او پدے کښې د الله تعالیٰ حکمتونه دی.

او دا د تهجدو سره هم لګی چه په هغے کښې به هم درمیانه آواز سره قراءت کولے شی لکه د ابوبکر صدیق ﷺ او عمر فاروق ﷺ مشهوره واقعه پرے دلیل ده چه رسول الله ﷺ ابوبکر صدیق ﷺ ته وفرمایل چه تهٔ لږ شان آواز پورته کړه او عمر فاروق ﷺ ته ئې وفرمایل : تهٔ لږ شان آواز خکته کړه.

وَقُلِ الْحَمْدُ : دے ته د مفسرینو په اصطلاح کښې آيَةُ الْعِزِّ (د عزت آیت) وائی. او په ضعیفو روایاتو کښې ئې فضیلتونه هم راغلی دی.

پدے آخری آیت کښې الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم کړیدے چه د الله لوئی والی بیانولو سره ووائی چه هغه یو ذات د هر حمد او ثناء مستحق دے چه د هغه نهٔ کوم اولاد شته لکه څنګه چه بعض عربو به ملائك د الله تعالیٰ لونړه ګنړلے او یهودیانو عزیر علیه السلام او نصاراؤ عیسیٰ علیه السلام د الله ځوی ګنړلو.

لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا : د قرآن طریقه دا ده چه په دعاء کښې هم رد کوی په مشرکانو باندے او یو

قسم دعوت وی۔
وَلَمْ يَكُنْ لَّهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ: نهٔ د دوارو جهانو په بادشاهئ کښې د الله تعالیٰ سره څوك شريك شته، لكه څنگه چه عربو مشركانو به په حج كښې تلبيه باندے آواز كولو سره وئيل چه [لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ اِلَّا شَرِيْكًا هُوَ لَكَ] چه (اے الله! ستا هيڅوك شريك نشته دے، مگر هغه شريك چه ستا شريك دے، تهٔ د هغهٔ مالك ئے)۔
وَلَمْ يَكُنْ لَّهُ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ: ولی ناصر ته او ذُل كمزورتيا ته وئيلے شي۔
يعني نهٔ په الله كښې د ذلت او عاجزی او كمزورئ موجوديدو په وجه د هغه څوك مددگار شته لكه څنگه چه بې دينه او مجوسيانو به وئيل [لَوْلَا اَوْلِيَاوُهٗ لَذَلَّ]
كه د الله تعالیٰ اولياء نهٔ وے نو الله به كمزورے شوے وے۔ (العياذ بالله)۔
وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا: يعنى ځان سره هم د الله تعالیٰ لوى والے بيان كړه، تكبيرات وايه، او خلكو ته ئے هم بيان كړه، او د خلكو په زړونو كښې ئے كينوه۔ يعنى تهٔ دا بيان كړه چه زما رب ددے نه ډير پورته دے چه هغه ته كوم نقصان او عيب او محتاجى يا عاجزى پيوسته شي۔
پدے آيت كښې د الله تعالیٰ صفات سلبى او ثبوتى دواړه قسمه ذكر دى۔ ﴿لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا﴾ ﴿لَمْ يَكُنْ لَّهُ شَرِيْكٌ﴾ دا عدمى او سلبى او (وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا) دا وجودى او ثبوتى صفت دے۔
او پدے دواړو كښې د الله تعالیٰ تعارف او تعظيم دے او په مشركانو رد دے۔
دا آيت مونږ ته دعوت راكوى چه علماؤ لره پكار دى چه د هغوى د بيانونو موضوع د الله تعالیٰ د لوئى والى بيان هم وى۔
فائده: پدے آيت كښې درے قسمه شريكان الله تعالیٰ نفى كړيدى، ادنیٰ شريك په (وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا) سره او مساوى شريك په (وَلَمْ يَكُنْ لَّهُ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ) سره او اعلیٰ شريك په (وَلَمْ يَكُنْ لَّهُ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ) سره۔

امتيازات د سورت

١ – واقعه د اسراء په بل طرز پكښې ذكرده۔
٢ – د بنى اسرائيلو سره دوه وعدے۔

۳- د شجره ملعونه فتنه ګرځیدو تذکره وشوه۔
٤- پنځه مونځونه پکښ ذکر دی۔
٥- د مشرکانو ډیر اعتراضات الله تعالیٰ په یو ځای دلته راجمع کړیدی۔
٦- او ځلور ځیزونو نه انکار سبب د عذاب د الله تعالیٰ دے کوم چه په موضوع کښ بیان شویدی۔
۷- د روح تذکره پکښ شویده۔

ختم شو تفسیر د سورة الاسراء په نصرت د الله تعالیٰ سره تاریخ : 13جمادی الثانیه 1436 هـ الموافق : 2015=4=2 لیلة السبت : بجه : 40-11 الحمد لله الذی بنعمته تتم الصالحات وبالله التوفیق۔

او ختمه شوه دوباره تصحیح په تاریخ : 2015 /10 /8 جمعرات ورځ۔ بجه : 00=3 ذی الحجه ۲۹۔

بسم الله الرحمن الرحيم

آیاتها (١١٠)	(١٨) سورة الكهف مكية (٦٩)	رکوعاتها (١٢)

سورة الکهف مکي دے، پدے کښ یو سل لس آیتونه او دولس رکوع دي۔

تفسیر د سورة الکهف

نوم : ددے یو نوم الکهف دے، او ددے وجه دا ده چه د اصحاب کهف په قصه کښ په الله تعالیٰ باندے د ایمان راوړو او په دے باندے د ثابت قدم پاتے کیدو ډیر فوائد بیان شویدی۔ دویم نوم ئے الحائله دے۔ (یعنی پرده واقع کیدونکے د دجال او د بنده ترمینځ)

د نزول زمانه : قرطبیؒ لیکلی دی چه دا سورت د ټولو مفسرینو په نیز مکي دے۔ د ابن عباسؓ همدا وینا ده۔ او د آیتونو د تلاش نه معلومیږی چه دا سورت په هغه وخت نازل شویدے چه کله په مسلمانانو باندے د مکے والو ظلم او ستم انتهاء ته رسیدلے وو، دے دپاره چه د اصحاب کهف د واقعے په بیانولو سره د مسلمانانو همت زیات او پورته شي، او دوی ته دا ووئیلے شي چه د دوی نه مخکښ په مسلمانانو باندے ددے نه زیات ظلم شوے وو، لیکن د هغوی د استقامت په خپو کښ تزلزل (حرکت) نهٔ وو راغلے۔

بعض خلقو وئیلی دی چه ددے ابتدائی آیتونه (اول نه تر اتو آیتونو پورے) او آیت (٢٨) او آیت (١٠٧) نه تر (١١٠) پورے مدني دي۔

فضیلت

امام احمدؒ، ابوداودؒ، ترمذیؒ او نسائیؒ وغیره د ابودرداء ﷺ نه روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل : ((چا چه د سورة الکهف ابتدائی لس آیتونه حفظ کړل هغه به د دجال د فتنے نه محفوظ شي))۔ (صحيح الجامع : ٦٢٠١)

او په یو بل روایت کښ دي [فَمَنْ أَدْرَكَهُ مِنْكُمْ فَلْيَقْرَأْ عَلَيْهِ فَوَاتِحَ سُورَةِ الْكَهْفِ] چا چه ستاسو نه دجال ومونده نو په هغه دِے ابتدائی آیتونه د سورة الکهف ولولی (نو د هغه د فتنے نه به محفوظ شي) (صحيح مسلم : ٧٥٦٠) ابوداود : ٤٣٢٣)

او حاکمؒ د ابوسعید خدری ﷺ نه روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل :

[مَنْ قَرَأَ سُوْرَةَ الْكَهْفِ كَانَتْ لَهٗ نُوْرًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ مَقَامِهٖ اِلٰى مَكَّةَ]

((څوك چه د جُمعې په ورځ سورة الكهف تلاوت كړي، د هغه دپاره به د قيامت په ورځ ددهٔ د ځاى نه تر مكې پورې رڼرا روښانه شي))۔ (صححه الالبانى فى الصحيحه ٦/٣١٢) رقم (٢٦٥١) په توله ورځ كښې ئې كه په هر وخت كښې ووئيلو۔

مناسبتونه

١- مخكښې سورت په سبحان شروع شوې وو او دا سورت په الحمد باندې او تسبيح مقدم وى په تحميد۔ ځكه چه په تسبيح كښې نفي د بدو صفاتو ده او په حمد كښې د الله دپاره صفات كماليه ثابتول دى

❁ او دلته كتاب نازلول ذكر دى په هغې باندې شكر پكار دې نو حمد ورسره مناسب دې، او هلته د مشركانو د شركونو رد وو نو سبحان مناسب شو۔

٢- مخكښې سورت كښې د رسول الله ﷺ هجرت ذكر شو چه دا خلك تا مجبوره كوى په هجرت، نو په هغه وخت كښې داسې دعاء كوه (وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِيْ) نو دې سورت كښې ئې د حفاظت د دين دپاره هجرت ته ترغيب وركړيدې۔ او درې قسمه هجرتونه ئې ذكر كړيدى۔

٣- هلته اختتام د سورت په حمد وو دلته ئې ابتداء په حمد وكړه۔

٤- موضوعاتى مناسبت دا دې چه مخكښې سورت كښې شان الرسول ﷺ ذكر شو۔ پدې سورت كښې ددې رسول اتباع بيانوى په ذكر كولو د عمل صالح سره۔ چه ددهٔ په اتباع كښې كاميابى او په نهٔ كولو ئې هلاكت دې۔

٥- مخكښې په شرك فى الالوهية باندې رد وشو (وَقَضٰى رَبُّكَ اَنْ لَّا تَعْبُدُوْا) (قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ) دلته په يو خاص شرك باندې رد دې چه هغه د اتخاذ الولد او د علم غيب عقيده ده۔

❁ دارنګه هلته په شرك رد وو او دلته په توحيد باندې د شبهاتو جوابات دى۔

(احسن الكلام)

٦- مخكښې شان الرسول ﷺ وو نو دلته وائى چه هغه په غيبو نهٔ پو هيږى۔

٧- مخكښې شان الرسول ﷺ وو نو دلته د دفع د اعتراضاتو ده د هغه نه۔

موضوع او دعوىٰ د سورت

١- زمونږ بعض مشائخ وائى: چه په سورة الكهف كښې نفي د علم الغيب ده د غير الله

نه، یعنی رد دے په عقیده د علم غیب د غیر الله دپاره. او هرکله چه ددے عقیدے رد وشی نو بیا به څوك غیر الله ته د رامدد شه آواز نکوی.

دارنګه پدے کښ د مشرکانو د شبهاتو دفع کول دی چه هغوی دلیل نیسی په امور خارقه (ناشنا کارونو) د انبیاؤ علیهم السلام او اولیاؤ سره. ماخذ د دعوے ﴿وَلَمْ يَجْعَل لَّهُ عِوَجًا﴾ آیت (۱) دے. ﴿قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ﴾ آیت (۱۹)، او بل (۲۶) آیت ﴿لَهُ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ﴾. موسیٰ علیه السلام په غیبو نهٔ وو پوهه، ماهی ترے هیر شو.

او ذوالقرنین د یو قوم په خبره نهٔ پوهیدو. لیکن دا موضوع په سورت کښ جزئی طریقے سره ذکر ده، تول سورت سره پوره نهٔ لګی.

۲- بعض مفسرین لکه صاحب د «في ظلال القرآن» وائی: ددے سورت موضوع ده رد د اتخاذ الولد. (وَيُنذِرَ الَّذِينَ قَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا) دا هم جزئی موضوع ده.

۳- بعضو وئیلی دی چه پدے کښ ترغیب دے هجرت ته. لیکن دا په سورت کښ صرف اشاره ده او موضوع نهٔ ده.

٤- ظاهر دا ده چه ددے سورت موضوع ده [اَلْبِشَارَةُ بِالْعَمَلِ الصَّالِحِ الْمَشْرُوْطِ بِالشُّرُوْطِ] په شرطونو سره د عمل صالح کولو په بدله کښ ناشنا زیری ورکول. اول شرط ایمان دے چه شرك ورسره نهٔ وی او اخلاص پکښ وی. او دویم شرط اتباع د رسول الله ﷺ ده. ﴿لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾.

دریم شرط: د آخرت په یره سره به عمل کوی. لکه دا خبره په واقعه د اصحاب الکهف کښ هم ده، او په آخر د سورت کښ راغلے ده ﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ﴾ آیت (۱۰۵)

څلورم شرط: تَأَثُّرٌ بِآيَاتِ اللهِ. عمل کښ به د الله او د رسول نه متأثر وی هله به قبلیږی.

پدے سورت کښ به د ایمان او عمل خبره زیاته ذکر کیږی لکه ﴿وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ﴾ آیت (۲) ﴿أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾ آیت (۷) ﴿إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ﴾ آیت (۱۳) ﴿وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ﴾ آیت (۱۶) ﴿وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ﴾ آیت (۲۸) ﴿فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن﴾ آیت (۲۹) او په (۳۰) آیت کښ دی ﴿لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا﴾ بیا په واقعه د باغ والو کښ هم اشارةً ذکر دے. ﴿وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ﴾ آیت (٤٦)

بیا وائی چه په اعمالو به حساب کیږی ﴿وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا﴾ آیت (٤٩)

بیا د آدم علیه السلام په واقعه کښ دی ﴿فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِ﴾ آیت (۵۰) ابلیس د الله د طاعت نه

وتلے وو۔ او په واقعه د موسیٰ علیه السلام کښ ډیر کرته تکرار شویده ﴿ فَكَانَ اَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِيْنَا اَنْ يُّرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا ﴾ آیت (۸۰) ﴿ وَكَانَ اَبُوْهُمَا صَالِحًا ﴾ آیت (۸۲)۔

د ذو القرنین په واقعه کښ هم ذکر ده ﴿ وَاَمَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهٗ جَزَاءً الْحُسْنٰى ﴾ آیت (۸۸) آخری رکوع کښ دی ﴿ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا ﴾ آیت (۱۰۳) ﴿ فَحَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ﴾ آیت (۱۰۵) ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ ﴾ آیت (۱۰۷)

په آخری آیت کښ دی ﴿ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَاءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا ﴾ آیت (۱۱۰)۔

پدے سورت کښ د عمل صالح د متعلقاتو نه الله تعالیٰ د دنیا زهد هم بیان کړیدے ځکه چه عمل صالح ته د دنیا محبت نقصان ورکوی۔ او دا سورت به دا خبره کوی چه اعمالو لره اعتبار دے، اموالو لره نشته، بعض خلك د دنیا د اموالو په وجه په تکبر کښ راشی، نو د چا ایمان او عمل صالح لره هیڅ اعتبار نهٔ ورکوی لکه په ﴿ وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ ﴾ آیت (۲۸) کښ او په واقعه د باغ والو کښ ذکر ده۔

دارنګه پدے سورت کښ فوائد د عمل صالح ذکر دی لکه په واقعه د باغ والو او اصحاب الکهف او ﴿ وَكَانَ اَبُوْهُمَا صَالِحًا ﴾ آیت (۸۲) کښ ذکر دی، سوچ پکښ وکړه۔ او دا خبره ذکر ده چه د ایمان او عمل صالح د حفاظت دپاره به خپل کور پریدے او هجرت به کوے۔

دارنګه تقسیم د عمل دوه قسمونو ته مقبول او مردود او د چا عمل قبلیږی او د چا نهٔ قبلیږی۔ دائے په آخر د سورت کښ بیان کړیده۔

بیا د قرآن کریم د طریقے مطابق د موضوع ډیر اطراف او متعلقات بیانوی د ډیرو فوائدو دپاره۔

د سورت شان نزول

ابن اسحاقؒ، ابن جریرؒ، ابن المنذرؒ او ابو نعیمؒ او بیهقیؒ په ((دلائل النبوة)) کښ د ابن عباس رضی الله عنه روایت راوړیدے چه مشرکانو وویل چه مونږ ناپوهه یو، مونږ سره د پخوانو انبیاؤ علم نشته، راځئ چه د پخوانو کتابونو د علماؤ نه تپوس وکړو، ددے رسول په باره کښ به مونږ ته څه ووائی۔ دوه کسان نضر بن الحارث او عقبه بن ابی معیط ئے روان کړل او مدینے ته لاړل، هلته ئے د یهودو نه تپوس وکړو چه زمونږ په علاقه کښ یو سړے پیدا شویدے د نبوت دعوه کوی او دا دائے صفات دی، ستاسو په پخوانو کتابونو کښ د آخری نبی څه صفات دی؟ که دا سړے نبی وی چه مونږه ئے ومنو او که نهٔ وی بله خبره راوښایئ۔

هغوی ورته وویل چه د درے خبرو تپوس ترے وکړئ که جواب ئے درکړو نو دا به حق نبی وی، او که جواب ئے درنکړو نو نبی به نۀ وی، بیا مو چه ورسره څه خوښه وی وکړئ۔ اول تپوس :[فِتۡيَةٌ ذَهَبُوا فِي الدَّهۡرِ الۡاَوَّلِ مَا كَانَ اَمۡرُهُمۡ ؟ فَاِنَّهُ قَدۡ كَانَ لَهُمۡ حَدِيۡثٌ عَجِيۡبٌ]
په پخوا زمانه کښ څه ځوانان ورك شویدی او د هغوی ناشنا قصه ده، هغه راته بیان کړه۔ (ځکه چه عربو ته دا واقعه نۀ وه معلومه) او دویم د روح په باره کښ او دریم د یو سړی په باره کښ (رَجُلٌ طَوَّافٌ بَلَغَ الۡمَشَارِقَ وَالۡمَغَارِبَ) چه مشرقونو او مغربونو ته رسیدلے دے۔ مشرکانو دا سوالونه راواخستل او د نبی کریم ﷺ خوا ته راغلل نو رسول الله ﷺ نه ان شاء الله یره شوه او دا ئے وویل چه زۀ به تاسو ته صبا له خبر درکړم۔ پنځلسو ورځو پورے وحی بنده وه (او بعض روایاتو کښ څلویښت ورځے ذکر دی)
پدے کښ رسول الله ﷺ د قریشو په خبرو ډیر غمجن شو، هغوی وویل چه ځان ته نبی وائی او جواب نشی ورکولے۔ (او دا په هره زمانه کښ داسے کیږی چه باطل پرست په حق پرست سوال وکړی او هغه ورته جواب ورنکړی نو هغه په باطله ګڼړی) نو الله تعالیٰ دا سورت نازل کړو۔ آه۔ (الدر المنثور وابن کثیر وفی اسناده شیخ من اهل مصر لم یسم)
نو دلته الله تعالیٰ د دوی جواب کوی چه که دے نبی تاسو ته ددے خبرے جواب درنکړو نو دا خبره خو څه لازمه نۀ ده چه ستاسو د هر سوال جواب به درکوی، رسول الله ﷺ ته الله تعالیٰ نور ډیر د هدایت والا واقعات ورکړیدی لکه (لِاَقۡرَبَ مِنۡ هٰذَا رَشَدًا) سره هغے ته اشاره ده۔ بیا ئے ورته تحقیقی جواب ورکړو چه دا هم پکښ واوریٔ او خپل نبی نه ئے ان شاء الله هیره کړه دے دپاره چه مشرکانو باندے امتحان شی، او رسول الله ﷺ او د هغه امت ته سبق ورکړی چه ان شاء الله مۀ هیره وئ،
نو پدے کښ ډیر فوائد وو، د الله توحید او د الله استغناء او د ان شاء الله فائده او مشرکانو باندے امتحان، او هغوی ته دوه قسمه جوابونه۔
او دا خبره هم د هغوی په دماغو کښ کینول شوه چه ستاسو د هرے خبرے جواب خو ضروری نۀ دے لکه پدے زمانه کښ هم باطل پرست یو امی سړے یا طالب العلم راګیر کړی چه فلانے شے راته په قرآن او حدیث کښ وښایه، نۀ ئے شے خودلے نو بس قرآن او حدیث نیمګړے دے، او راځه زمونږ د خلاصه کیدانی، قدوری او شرح وقایه پسے روان شه دا د دوی د دعوت خلاصه ده۔
ددے جواب دا دے چه دا ضروری نۀ ده چه تاسو ته به د هرے خبرے جواب ملاویږی، یا به

مـا تـه نـهٔ وی مـعـلـوم او کـتـاب او سـنـت کښې بـه موجود وی نو دا خو د قرآن او حدیث نیمگړتیا نشوه۔

د آیتونو حاصل

د اول نـه تـر اتـم آیـت پـورې مـقـدمـه دسـورت ده، او بیا ئې واقعات راوړیدی اوله واقعه د اصـحـاب الـکهف ده، د واقعې په اختتام کښې په یوه رکوع کښې رسول الله ﷺ او مؤمنانو ته آداب ذکر شویدی، یو د ان شاء الله ادب او بل د غفلت نه روستو الله تعالیٰ ډیر یادول۔
﴿ عَسٰٓی اَنۡ یَّهۡدِیَنِ رَبِّیۡ ﴾ بـل ادب، د قـرآن لوستـل ﴿ وَاتۡلُ مَاۤ اُوۡحِیَ ﴾ او بل ادب ﴿ وَاصۡبِرۡ نَفۡسَكَ ﴾ د مـؤمـنـانو غریبانو سره کیناستل او د متکبرانو لحاظ نهٔ ساتل۔ او ﴿ وَلَا تُطِعۡ مَنۡ اَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهٗ ﴾ او خلکو تـه د ایمان دعوت ورکول ﴿ فَمَنۡ شَآءَ فَلۡیُؤۡمِنۡ ﴾ او بیا ترغیب دے ایمان او عمل صالح ته سره د بشارت نه په قبلولو د عمل او بیا جنتونه ورکول۔
بیـا دویمه واقعه د باغ والا ذکر ده، چه یو مالدار وو فخرونه ئې کول، او بل غریب وو لیکن مؤمن او عمل صالح والا وو۔ نو الله مؤمن کامیاب کړو او د کافر نه ئې مالونه هلاك کړل۔
بیـا پـه یوه رکوع کښې ئې د دنیا سپکوالے او زر فناء ذکر کړیده او عمل صالح ته ئې ترغیب ورکړیدے او د آخرت عظمت ئې د دغه مقصد دپاره بیان کړیدے۔
بیا ئې واقعه د آدم علیه السلام راوړے چه کوم خلك دنیا غوره کوی نو دا د ابلیس تابعدار دی چه هغه هم نافرمانی شروع کړه۔ او دوی هم د الله سره شریکان جوړ کړل۔
بیـا پـه یـوه رکـوع کښې زواجـر دی پـه بعض کارونو چه هلته به ئې تفصیل راشی۔ لکه د قرآن او هدایت نه اعراض، او د انبیاء علیهم السلام مقابلے کول، او په گناهونو هیرولو، بیا ئې تخویف ورکړیدے چه د دوی دپاره وخت مقرر دے۔
بیـا ئې واقعه د موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام راوړیـده د ډیـرو مـقـاصدو دپاره۔ چه یو مقصد پکښې طلب د علم او آداب د طلب د علم دی، دپاره د عمل صالح کولو۔ بیا ئې د ذو القرنین واقعه راوړیده د مختلفو مقاصدو دپاره چه یو پکښې مشرکینو ته جواب ورکول دی، او بل پـه واقـعـه کښې دنـنـه عـمـل صـالـح تـه ترغیب دے او د مشرکانو په نظریاتو رد دے چه ذو القرنین په آخرت ایمان لرلو او منکرینو دآخرت ته ئې سزا ورکوله۔
بیا پـه آخری رکـوع کښې تـخـویـف دے هـغـه چا ته چه په دنیا کښې اعمال کوی بغیر د اخـلاص او اتباع او د آخـرت د یـرے نـه۔ او ددے بـربـادی ئې ذکـر کـړیده، بیا په آخر کښې ئې

بشارت او ترغيب وركړيدے په جنت سره په ايمان او عمل صالح باندے. بيا بيان د علم د الله تعالىٰ چه هغه محيط دے. چه هلته به ئے مناسبتونه راشي. بيا ئے په آخر كښ همدغه موضوع ته دعوت وركړيدے.

د مقدمے حاصل

اول كښ ترغيب دے قرآن كريم ته او د قرآن د راليږلو دوه فائدے ذكر دي چه هغه بشارت او انذار دے. انذار د مشركانو دپاره دے، او بشارت د مؤمنانو دپاره دے، او په شرك به ورله رد وكړي، بيا رسول الله ﷺ ته تسلي ده په (٦) آيت كښ.

بيا په (٨/٧) آيت كښ بيان د حكمة د پيدائش د انسان چه هغه عمل صالح دے. او د عمل صالح څه فائده ده؟ هغه دا چه ﴿وَإِنَّا لَجَاعِلُونَ﴾ قيامت راروان دے په عمل به الله تعالىٰ حساب كوي. د هغے نه روستو واقعه د اصحاب الكهف ده.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَنْزَلَ
ټول صفتونه د اُلوهيت خاص الله تعالىٰ لره دي هغه ذات دے چه نازل كړے ئے دے
عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا ﴿١﴾ قَيِّمًا
په بنده خپل كتاب او نۀ ئے دے ګرځولے دۀ لره كږليچ. مضبوط كتاب دے،
لِّيُنْذِرَ بَأْسًا شَدِيْدًا مِنْ لَّدُنْهُ وَيُبَشِّرَ
دے دپاره چه يره وركړي د عذاب سخت نه د طرف د هغۀ نه او زيرے وركړي
الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا حَسَنًا ﴿٢﴾
مؤمنانو ته هغه كسان چه عملونه كوي نيك چه بيشكه دوي لره اجر ښائسته دے.
مَاكِثِيْنَ فِيْهِ أَبَدًا ﴿٣﴾ وَيُنْذِرَ الَّذِيْنَ قَالُوا اتَّخَذَ
اُوسيږي به په هغے كښ هميشه. او يره وركړي هغه كسانو ته چه وائي نيولے دے
اللّٰهُ وَلَدًا ﴿٤﴾ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ وَّلَا لِآبَائِهِمْ
الله تعالىٰ ولد (بچے). نشته دوي لره پدے خبره هيڅ علم او نۀ پلارانو د دوي لره،

كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ إِنْ يَقُوْلُوْنَ إِلَّا كَذِبًا ﴿٥﴾

ډیره لویه خبره ده چه راوځی د خُلُو د دوی نه، نهٔ وائی دوی مگر دروغ۔

تفسير : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ : دا جمله خبريه ده، الله تعالىٰ د خپل ځان صفت بيانوى يعنى الله تعالىٰ د حمدونو لائق دے پدے وجه چه په خپل بنده ئے داسے عظيم الشان كتاب راوليږلو۔ او دا معنیً جمله انشائيه هم ده، يعنى پدے كښ مقصود امر كول دى بندگانو ته چه تاسو د الله تعالىٰ حمد ووايئ چه داسے ښكلے كتاب ئے راوليږلو۔

او پدے كښ دے ته هم اشاره ده چه بندگانو له پكار دى چه د هر مهتم بالشان (اَهم) شى ابتداء او انتهاء د الله په حمد او ثناء سره كيدل پكار دى۔

عَلٰى عَبْدِهٖ : نبى كريم ﷺ ئے د عبديت په صفت سره پدے وجه ذكر كړو چه د هغهٔ او د قرآن كريم عظمت ښكاره شى، او دا هم ښكاره شى چه نبى ﷺ د الله بنده دے او همدا د هغهٔ اعلىٰ مقام دے، نهٔ دا چه دهٔ ته د الله ځوى ووئيلے شى لكه څنگه چه نصارىٰ د عيسىٰ عليه السلام په باره كښ گمان لرى چه هغه د الله ځوى دے۔

امام شوكانیؒ وائی چه الله تعالىٰ بندگانو ته د هغهٔ په نعمتونو باندے د حمد وئيلو تعليم وركړيدے۔ او قرآن نازلول په رسول الله ﷺ باندے پدے وجه لوى نعمت دے چه رسول الله ﷺ د قرآن په واسطه سره د توحيد رازونه او د ملائكو او د انبياء عليهم السلام احوال او طريقے د احكام شرعيه ؤ وپيژندلے كوم باندے چه هغه او د هغهٔ امت د الله تعالىٰ بندگى كوى۔ او دغه شان دا كتاب په امت د رسول الله ﷺ هم په دغه طريقه نعمت دے۔

(فتح القدير)

وَلَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا : لام په معنىٰ د فِىْ دے۔ يعنى نهٔ ئے دے گرځولے په قرآن كښ هيڅ قسم كوږوالے۔ د عوج ډيرے معانى او مصداقات دى۔

١- خلل په لفظ او معنىٰ كښ۔ ٢- اَلشُّبُهَات۔ (شبهه پكښ نشته)

٣- اَلْإِخْتِلَافُ وَالتَّنَاقُضُ۔ اختلاف او تناقض ئے په معانيو كښ نشته۔ (زجاجؒ)

٤- مقصد ئے نيغ دے يعنى خلقو لره د حق او رشتيا طرف ته د رابللو نه سوىٰ ددهٔ بل كوم پيغام نشته۔ او پدے معنىٰ به روستو قَيِّمًا ددے دپاره تاكيد وى۔

قَيِّمًا : ١- مستقيم (برابر) كتاب دے۔ يعنى دا قرآن نهايت معتدل كتاب دے، د هر افراط او تفريط نه پاك دے۔ ٢- اَلْقَيِّمُ عَلٰى مَا قَبْلَهٗ مِنَ الْكُتُبِ السَّمَاوِيَّةِ مُهَيْمِنًا عَلَيْهَا يَشْهَدُ

بِصِحَّتِهَا) په تمامو مخکنو آسمانی کتابونو باندے غالب دے، او په هغے باندے نگرانی کوی او د هغے په صحت باندے گواهی کوی۔ یعنی کومے خبرے ته چه دا حقه وائی هغه به حقه وی او کومه خبره چه باطله گرځوی نو هغه باطله ده۔

۳- (اَلْقَيِّمُ بِمَصَالِحِ الْعِبَادِ الدِّيْنِيَّةِ وَالدُّنْيَوِيَّةِ) د بندگانو د دینی او دنیاوی مصلحتونو او فائدو پروگرام کونکے دے۔ (فتح البیان)

٤- قَيِّمًا بِالْحُجَجِ ۔ دا مضبوط کتاب دے په دلیلونو سره، الله تعالیٰ پکښ د دعوے سره دلیلونه هم پیش کړیدی۔ ځکه چه هسے دعوه بغیر د دلیل نه مضبوطه نۀ وی۔

لِّيُنْذِرَ بَاْسًا : د قرآن کریم مشن دا دے چه دا مشرکان او گناهگاران د الله د دنیاوی او اُخروی سخت عذاب نه یروی، او مومنانو صالحینو ته د جنت زیرے ورکوی چه د هغے نه لاندے به نهرونه روان وی او په هغے کښ به دوی همیشه وسیږی۔

دلته ئے اول کښ مُنْذِرِين (یره ولے شوی خلك) نۀ دی ذکر کړی هغه روستو راځی ځکه چه پدے سورت کښ ایمان او عمل صالح ته ترغیب زیات مقصود دے، نو ځکه ئے په مؤمنانو تصریح وکړه او کافران ئے روستو ذکر کړل۔ او بیا ئے انذار مخکښ راوړو د بشارت نه ځکه چه دوی مخالفین د قرآن دی او د قرآن د مقصد نه نا خبره دی نو د هغوی زجر د زیات اهتمام دپاره مخکښ ذکر شو۔

فِيْهِ: ضمیر اجر حسن ته راجع دے چه مراد ترے جنت دے۔

وَيُنْذِرَ الَّذِيْنَ : دوباره ئے راوړو، ځکه چه مخکښ د عامو کافرانو یرول وو او دلته د دغه کافرانو نه د یو خاصے عقیدے والا کافران یرول مقصد دی، پدے کښ خبردارے ورکوی چه دا پکښ ډیر لوی جرم دے چه دوی الله تعالیٰ ته د اولادو نسبت کوی۔

كَبُرَتْ كَلِمَةً : یعنی لویه ده دغه خبره په اعتبار د خبرے سره۔ یعنی په خبرو کښ دا ډیره لویه خبره ده۔ او پدے کښ مقصد ددے د لوی والی نه تعجب کول دی۔

وَلَا لِآبَائِهِمْ : پدے کښ اشاره ده چه دا خبره یوه داسے دروغجنه خبره ده چه ددے بنیاد په جهالت او تو هم پرستئ او د پلار نیکه په ړوند تقلید باندے دے، نو د دوی د پلارانو سره هم هیڅ دلیل نۀ وو او د دوی سره هم نشته۔

تَخْرُجُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ : خبره خو د خولے نه وځی نو بیا ئے دا صفت ولے ذکر کړو؟ وجه دا ده چه پدے کښ د دوی لویه زړه ورتیا بیانیږی په دے خبره کولو باندے چه وړه خوله ده او لویه خبره پرے کوی چه د حقیقت او واقع سره ئے ذره برابر هم تعلق نشته۔

فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلٰى آثَارِهِمْ إِنْ لَّمْ يُؤْمِنُوْا بِهٰذَا الْحَدِيْثِ
پس شاید چه هلاکوے تهٔ نفس خپل په دوی پسے که ایمان نهٔ راوړی دوی په دے خبره
أَسَفًا ﴿٦﴾ إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِيْنَةً لَّهَا
د وجے د غم نه. یقیناً مونږ گرځولی دی هغه څه چه په زمکه کښې دی ډول ددے
لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴿٧﴾
دے دپاره چه امتحان وکړو په دوی چه کوم یو د دوی نه ښائسته عمل والا دے.
وَإِنَّا لَجَاعِلُوْنَ مَا عَلَيْهَا صَعِيْدًا جُرُزًا ﴿٨﴾
او یقیناً مونږ گرځونکی یو هغه څه چه پدے باندے دی میدان صفا خوَیه.

تفسیر : پدے آیت کریمه کښې نبی ﷺ ته تسلی ورکړے شویده او نصیحت شویدے چه که د مکے مشرکان په تا او په قرآن باندے ایمان نهٔ راوړی نو تا له پدے باندے دومره غمجن کیدل نهٔ دی پکار چه خپل ځان په هلاکت کښې واچوے، تا له د صبر نه کار اخستل پکار دی، او د الله تعالیٰ په فیصلو باندے راضی کیدل پکار دی چه هغه چا ته[1] غواړی هدایت ورکوی، او چه چا ته غواړی گمراه کوی ئے. د هغه په فیصلو کښې هیڅوك مداخلت نشی کولے.

او پدے آیت کښې د الله تعالیٰ او د هغهٔ د کتاب استغناء ذکر ده چه الله غنی ذات دے دوی ته ئے هیڅ ضرورت نشته نو ته ئے هم دومره پرواه مهٔ کوه.

فَلَعَلَّكَ : لعل کښې معنیٰ د تبعید (وړاندے والی) ده. اَیْ بَعِّدْ نَفْسَكَ عَنِ الْبَخْعِ. ځان د هلاکولو نه جدا کړه. یا استفهام انکاری دے. ځینی وائی چه لعل په خپله معنیٰ دے او پدے کښې مقصد په نبی باندے شفقت کول دی.

بَاخِعٌ : بخع کوشش او کړاؤ ته وئیلے شی. (اخفشؒ والفراءؒ)

عرب وائی : بَخَعَ الرَّجُلُ نَفْسَهٗ اِذَا اَنْهَكَهَا. سړی خپل ځان خوار او کمزورے کړو.

رسول الله ﷺ به د قریشو د مشرانو د ایمان په راوړو کښې ځان ډیر په عذاب کولو نو الله تعالیٰ منع کړو.

عَلٰى آثَارِهِمْ : یعنی د دوی د قدمونو پسے ورمنډے وهے او دوی راضی کول غواړے دے

دپاره چه په قرآن ایمان راوړی۔
آثَارِهِمْ : آثار کښې اشاره ده چه دوی ستا نه جدا کیږی او شا راړوی او اعراض کوی۔ یا د آثارِهِمْ نه مراد د دوی هلاکت دے۔ (فتح البیان)
الْحَدِيثِ : نه مراد قرآن دے۔ اَسَفًا : ۱- اَیْ غَیْظًا وَحُزْنًا۔ د غصے او خفګان نه۔ (قتادہؒ)
۲- جَزَعًا۔ د وجه د بې صبرئ نه۔ (مجاهدؒ) او دا متعلق دے د (باخع) پورے۔ اَیْ بَاخِعٌ نَفْسَكَ اَسَفًا عَلَیْهِمْ) ځان د غم په وجه په دوی پسے هلاکوے۔
إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ : دا دنیا دار الامتحان (د امتحان کور) دے، دار القرار (د همیشه وسیدو کور) نۀ دے۔ پدے وجه الله تعالیٰ په زمکه باندے مختلف قسم حیوانات پیدا کړی، او دے ته ئے په ونو، نهرونو او ګلانو او پانړو سره ډول ورکړے، او د قسم قسم نعمتونو نه ئے دا ډکه کړیده دے دپاره چه وګوری چه څوك پدے خواهشاتو کښې پاتے پریوزی، او څوك پدے خواهشاتو او شهوتونو باندے غالب راتلو سره د الله اطاعت او بندګئ ته ترجیح ورکوی۔ او یوه ورځ به داسے راځی چه زمکه او پدے باندے موجوده څیزونه به په یو ځل ختم شی، او زمکه به بے اُوبو او بے ګیاه میدان جوړ شی۔
مفسرینو لیکلی دی چه پدے دواړو آیتونو کښې هم نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکړے شویده چه تۀ پریشانه کیږه مۀ، او غم مۀ کوه، ځکه چه د کومے دنیا او ددے د لذتونو او شهوتونو د خاطره چه تاسره کافران دشمنی کوی، دا به په هر حال کښې ختمیږی، او ټول به ما ته راواپس کیږی، دے دپاره چه دوی ته د دوی د عملونو بدله ورکړے شی۔ او دنیا کښې ابتلاء ده پدے وجه زور ته ضرورت نشته۔
أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا : او ددے سره دا مراد دے (وَاَيُّهُمْ اَرْغَبُ فِي الدُّنْيَا) او څوك د دنیا سره مینه کونکے دے۔
د احسن عمل تشریح مخکښې بار بار ذکر شوه چه اخلاص پکښې وی او د رسول الله ﷺ اتباع سره وشي۔
وَإِنَّا لَجَاعِلُونَ : مقصد دا چه د عملونو د نتیجو دپاره یوه ورځ راروانه ده چه احسن عمل والا ته به نیکه بدله او بد عمل والا ته به بده بدله ورکولے شی۔
صَعِيدًا جُرُزًا : میدان صفا۔ اَیْ لِلْحِسَابِ ۔ د حساب دپاره به داسے کیږی۔ کوم انسان چه پدے خبره پوهه شی چه زۀ امتحان له پیدا یم نو په هیڅ ځای کښې به نیك عمل نۀ پریدی۔ خو ډیر کرت مونږ انسانان ددے مقصد نه غافله کیږو۔

جُرُزًا : هغه زمکے ته وئیلے شی چه گیاه پکښې نهٔ وی۔ (فراءَ)
۲- یَابِسًا : وچه۔ (چه گیاه او اُوبه پکښې نهٔ وی)۔

أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيمِ كَانُوا مِنْ آيَاتِنَا عَجَبًا ﴿٩﴾
آیا تهٔ گمان کوے چه بیشکه غار والا او رقیم والا وو دوی د نخو د قدرت زمونږ نه ناشنا۔
إِذْ أَوَى الْفِتْيَةُ إِلَى الْكَهْفِ فَقَالُوا رَبَّنَا آتِنَا
کله چه پناهي واخسته ځوانانو غار ته نو ووئیل دوی اے ربه زمونږ! راکړه مونږ ته
مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا ﴿١٠﴾
د خپل طرف نه رحمت او آسان کړه مونږ ته د کار زمونږ نه کامیابی۔
فَضَرَبْنَا عَلَىٰ آذَانِهِمْ فِي الْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا ﴿١١﴾
نو اُووهل (اُوتپول) مونږ په غوږونو د دوی په غار کښې څو کلونه د شمار۔
ثُمَّ بَعَثْنَاهُمْ لِنَعْلَمَ أَيُّ الْحِزْبَيْنِ
بیا راپورته کړل مونږ دوی لره دے دپاره چه ښکاره کړو چه کوم یو د دواړو ډلو نه
أَحْصَىٰ لِمَا لَبِثُوا أَمَدًا ﴿١٢﴾
ښه حساب والا دے د هغے چه دوی درنگ تیر کړے وو د مودے۔

تفسیر : اُوس واقعه د اصحاب الکهف شروع کوی چه پدے کښې ډیر فوائد دی :
(۱) نفی د علم الغیب ده چه اصحاب کهف راپاڅیدل او د خپل ژوند نه خبر نهٔ وو۔
(۲) مقصد : رد د شرك دے چه اے مشرکانو! تاسو د اصحاب الکهف په باره کښې تپوس کوئ او ددے مقصد نه هم ځان خبر کړئ چه هغوی ولے د بادشاه نه وتښتیدل؟ وجه دا وه چه شرك ئے بد گنړلو نو دا واقعه په مشرکانو رد دے۔
(۳) د اصحاب الکهف واقعه د اثبات د آخرت دپاره لوی دلیل دے چه درے سوه نهه کاله روستو الله تعالیٰ راپورته کړل، نو دغه شان به الله تعالیٰ مړی په قیامت کښې راژوندی کوی۔ او پدے کښې هم په مشرکانو ضمنی رد دے چه تاسو د چا په باره کښې تپوس کوئ د هغوی عقیده خو ستاسو د عقیدے خلاف ده۔

(٤) اَلْهِجْرَةُ لِحِفْظِ الدِّيْنِ - د خپل دین (ایمان او عمل صالح) د حفاظت دپاره به خپل کلے او کورونه پریدے ځکه چه دا ضروری څیزونه دی۔

او روستو هجرت د تعلم (زدهٔ کړے) د دین دپاره ذکر دے لکه موسیٰ علیه السلام خضر خوا ته هجرت کړے وو۔ او دریم هجرت د نشر (عام کولو) د دین لکه هجرت د ذو القرنین شو۔

(٥) په «الرحیق المختوم» کښې ددے بله فائده دا ذکر شویده چه پدے واقعه کښې د مکے مؤمنانو ته د هجرت دعوت وو چه هغوی د مشرکانو نه تنګ راغلي وو لکه د اصحاب الکهف په شان۔

(٦) د الله اولیاء هغهٔ ته په هر څه کښې محتاج دی نو دوی د چا حاجتونه نشي پوره کولے۔

(٧) کرامات د اولیاؤ حق دی۔ خو د هغوی نه به آلهه نهٔ شي جوړولے۔

(٨) اَلتَّوَكُّلُ عَلَى اللّٰهِ - د الله په ذات توکل کول پکار دی او ځان سره توښه ورل د توکل منافي نهٔ دی۔ لکه اصحاب الکهف ځان سره اخستے وه۔ دا جزئي فوائد دی چه د آیتونو مینځ مینځ کښې به راځي۔

واقعه د اصحاب الکهف

د اصحاب الکهف واقعه چه قرآن څومره ذکر کړیده هغه کافي ده، خو بعض مفسرینو ورسره بعض خبرے زیاتي ذکر کړیدی، کیدے شي چه دائے د یهودو نه اخستي وي، خو قرآن کریم کښې الله منع کړیده چه د یهودو نه د دوی په باره کښې تپوس مهٔ کوه مګر د سیاق نه معلومیږی چه دا واقعه د عیسیٰ علیه السلام د زمانے نه روستو راغلے ده، د حوارینو د لاس نه دا اصحاب الکهف پیدا شویدی، دِقیانوس د روم بادشاه وو، بت پرست وو، د ډیرو آلهه ؤ عبادت ئے کولو او ذبح لِلطَّوَاغِيْت (بتانو دپاره به ئے) ذبح کوله، (خاص ورځ به ئے مناووله چه د باباګانو دپاره به ئے ذبحے کولے)۔ دا بادشاه په سنه (٢٣٧ء) کښې تیر شویدے۔

(ابن عاشورؒ)

پدے کښې څه کسان چه د وزیرانو اولاد وو۔ روستو د قرآن د اشارے نه معلومیږی چه د سرو او سپینو زرو بنګړی ئے هم په لاسونو کښې وو۔ دوی د بادشاه او د هغوی د قوم پدے شرکي کارونو خفه وو، دوی ته الله تعالیٰ دا خبره په زړهٔ کښې واچوله چه دا کار خو شرك دے او د الله تعالیٰ حق بربادول دي، او دا خبره هغوی د عیسیٰ علیه السلام د حوارینو نه زده کړے وه، دوی د قوم نه یو یو جدا کیدو سره یو ځای کښې راجمع شو۔

پدے کښې خلك پرے خبر شو چه څه کسان دی د بادشاه دین بد ګڼړی۔
دوی بادشاه راوغوختل چه تاسو واړه هلکان یئ او د خپل پلار او نیکهٔ خلاف کوئ، نو زهٔ چه څه کوم هغه به کوئ، او تاسو ته څور ورځے مهلت دے که زمونږ دین ته راواپس نهٔ شوئ بیا به ستاسو قتل وی، نو دوی چه کله د هغوی نه راجدا شو نو خپل مینځ کښې ئے مشوره وکړه چه دا خلك مو نهٔ پریدی مگر دا چه د دوی سره په شرك کښې شریك شو، نو یو پکښې وویل چه ما ته یو غار معلوم دے راځئ چه هلته به لاړ شو او د دوی نه به پټ شو او ځان سره به توښه واخلو او الله به مو حفاظت وکړی۔
روان شو چه شپږ کسان وو په لاره کښې ورسره یو راعی (شپونکے) ملګرے شو چه هغه سره سپے هم وو۔ دوی دوه فرسخه (یعنی ٦ میله) مزل کولو نه روستو یو کلی ته راغلل چه هغے ته (بنجلوس) وائی په هغے کښې غر وو او په غر کښې یو غار وو هغے ته ننوتل سپے ورته په دُرشل کښې څملاستو، په دوی باندے الله تعالیٰ خوب راوستو، قوم ورپسے ډیرے منډے وو هلے لیکن پیدا ئے نکړل۔
څوك وائی چه غار پورے راغلل لیکن الله تعالیٰ ترے ورك کړل صرف هلته ئے یو تاریخ ولیکلو چه دلته څه کسان راپټ شویدی کیدے شی چه پدے علاقو کښې وی او د هغوی نومونه ئے هم ولیکل چه بعض مفسرینو ذکر کړیدی۔ تردے چه دغه بادشاهی الله تعالیٰ ختمه کړه دوی درے سوه نهه کاله روستو راپاڅیدل۔
بعض مفسرین لیکی چه په دغه زمانه کښې بادشاه مسلمان وو د آخرت منونکے وو، او عوامو کښې د آخرت نه انکار وو، بادشاه به دعوت ورکولو چه آخرت وومنئ، هغوی به نهٔ منلو، نو الله تعالیٰ اصحاب الکهف د دوی په زمانه کښې راپاڅول دے دپاره چه دوی ته وښائی چه دآخرت ورځ حقه ده۔ دوی یو تن کلی ته د طعام راوړو دپاره ولیږلو او سپین زر ورسره وو او دا وصیت ئے ورته وکړو چه پټ لاړ شه او چا سره چیړ چاړ مهٔ کوه چه څوك دربانده خبر نشی، او حلال طعام راوړه۔ د دوی دا ګمان وو چه دا اُوس هم هغه زمانه ده۔ دکاندار ته چه ورغلو او دغه پسے ئے ورته مخے ته کړے نو هغه ورته وویل چه دا پیسے نهٔ چلیږی، دا پخوانئ پیسے دی، تا چرته خزانه موندلے ده؟۔ هغه وویل چه خزانه نشته خو طعام راکړه، توقے مهٔ کوه، نو آخر دا چه هغوی پرے خبر شو چه سړے هم ناشنا او پیسے ئے هم ناشنا دی، نو حکومت ته ئے پرے خبر ورکړو۔ نو معلومه شوه چه دا هغه کسان دی چه پخوا زمانه کښې ورك شوی وو اُوس راپیدا شو او ډیر سخت پرے خوشحاله شو۔

(ځکه چه دا خو ډیره ناشنا نښه ده چه دوی باندے درے سوه کاله تیر شو او اُوس راژوندی شو داسے دی لکه چه مړی راژوندی شوی وی او دا خو د قیامت دپاره ډیره لویه نښه ده دارنګه د هغهٔ د قدرت هم.

او دارنګه الله تعالیٰ د خپلو دوستانو داسے حفاظت هم کوی په دے کښې صحابه کرامو ته اشاره ده چه اے عمل صالح والو! مهٔ یریږئ ستاسو به هم داسے حفاظت وشی)

په دے کښې د علاقے مشران د دغه سړی سره غار پورے لاړل، د اصحاب الکهف سره ئے ملاقات وشو او خبرے اترے ئے وکړے او د هغے نه روستو په هغوی باندے الله تعالیٰ زر مرګ راوستو. بیا دغه بادشاهانو هلته خخ کړل او د غار مخے ته ئے جمات جوړ کړو.

بِدے ځوانانو په باره کښې وئیلے کیږی چه دوی د عیسیٰ علیه السلام په دین باندے ولاړ وو.

لیکن حافظ ابن کثیرؒ او ابن عاشورؒ ددے رد کړیدے، او ددے وجه ئے دا خودلے ده چه که دا خلق نصرانیان وے، نو د مدینے یهودیانو به د دوی د خبرونو سره دلچسپی او شوق نهٔ لرلے.

او د مکے کافرانو ته به ئے نهٔ خودلے چه هغوی د دوی په باره کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړی. معلومیږی چه دا واقعه د اهل کتابو په کتابونو کښې د عیسیٰ علیه السلام د بعثت نه مخکښې موجوده وه.

او ابن عاشورؒ وائی چه ممکن ده چه بعض یهودیان د بادشاهانو د ظلمونو نه غارونو کښې پټ شوی وو لکه د تونس په اطرافو کښې جوړ شوی غارونه موجود دی چه ما ته بعض علماء الآثار د راهبانو نصرانیانو نه دا خبر راکړیدے چه یهودیان به په دے غارونو کښې د رومیانو قرطاجنیینو د ظلمونو نه پټیدل. او دا هم جائز ده چه د دواړو دینونو والو نیکان خلك دِے په غارونو کښې پټ شوی وی. او ددے وجه نه په تاریخ کښې د دغه غارونو د ښارونو نومونه مختلف راغلی دی.

فوائد الآیة:

أَمْ حَسِبْتَ : ام منقطعه دے په معنیٰ د بل سره او دا راځی دپاره د انتقال د یوے خبرے نه بلے خبرے ته. یعنی هرکله چه مشرکانو د اصحاب الکهف د قصے نه تعجب کولو او ددے په باره کښې ئے د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په طریقه د امتحان تپوس کولو نو الله وفرمایل: بلکه آیا ته ګمان کوے اے زما رسوله! چه دوی زما د نښو نه یو واځے ناشنا نښه ده، دا ګمان مهٔ کوه ځکه چه زمونږ ډیرے نښے شته چه ددے نه ډیرے ناشنا دی، ځکه چه الله تعالیٰ ډیر قومونه راژوندی کړیدی او مړی ئے راژوندی کړیدی دا خوٚ د اوږد خوب نه پس رابیداروِل

دی دا دومره ناشنا ده۔ الله تعالیٰ ددے نه په ډیرو ناشنا کارونو قادر دے۔
زجاجؒ وائی چه آسمانونه او زمکه او د دوی په مینځ کښې د اصحاب الکهف د قصے نه ډیر ناشنا والے دے۔ ابن عباسؓ فرمائی : ما چه تا ته کوم علم د کتاب او سنت درکړیدے هغه د اصحاب الکهف د قصے نه ډیر غوره دے۔ (فتح البیان)
الْكَهْفِ : کهف په غر کښې دننه ځای ته وائی چه مینځ ئے کولاؤ وی، او که کولاؤ نۀ وی هغے ته غار وائی۔
وَالرَّقِيمِ : ١- د امام بخاریؒ د طرز نه معلومیږی چه رقیم والا هغه درے کسان غار والا وو چه په بنی اسرائیلو کښې تیر شوی وو لکه هغه قصه په بخاری او مسلم وغیره کښې تفصیلاً نقل ده۔ دا تفسیر دومره ظاهر نۀ دے۔
ظاهر دا دے چه اصحاب الکهف والرقیم یو شے دے۔
٢- مجاهدؒ او سعید بن جبیرؒ وائی چه دا د کانړی هغه تخته وه چه په هغے باندے د دوی نومونه لیکلے شوی وو او د غار په دروازه کښې کیخودے شوے وو۔
٣- ځینی وائی چه دا د هغه کلی نوم دے، د کوم نه چه دوی راوتلی وو۔
٤- بعض وائی چه دا د هغه وادی (میدان، کندے) نوم دے په کوم کښې چه دوی وو۔
٥- بعض وائی د هغه غر نوم دے په کوم کښې چه دا غار وو۔
إِذْ أَوَى الْفِتْيَةُ : دا اُوس اجمال د قصے دے۔ **أَوَى** : یعنی پناهی ونیوله۔
الْفِتْيَةُ: همیشه د دین خدمت ځوانانو کړیدے۔ حافظ ابن کثیرؒ د ﴿ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ ﴾ نه دلیل نیولے چه د بوډاګانو په مقابله کښې ځوانان حق زر قبلوی۔ همدا وجه ده چه د قریشو اکثر بوډاګان په خپل کفر باندے مضبوط پاتی شو او د دوی نه ډیرو کمو خلقو اسلام قبول کړو۔
فَقَالُوا رَبَّنَا: مهاجر بنده ته ددے تعلیم ورکړے شویدے چه هغه له پکار دی چه داسے دعا د خپل رب نه وغواړی۔ او پدے کښې اشاره ده چه دوی په هر حال کښې خپل رب ته محتاج دی، خپل تصرف ئے نشته، په غیبو نۀ پوهیږی۔
مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً: د رحمة نه مراد ١- خپل معرفت. ٢- صبر، ٣- رزق. ٤- امن د دشمنانو نه. ٥- او په آخرت کښې بخنه ده۔ نور هم پکښې داخلیږی۔
وَهَيِّئْ لَنَا : ١- اَیْ اَعْطِنَا لِاَجْلِ اَمْرِنَا (وَهُوَ الْهِجْرَةُ) هِدَایَةً) راکړه مونږ ته هدایت د وجه د کار زمونږ نه چه هجرت دے) ٢- آسان کړه مونږ ته د وجه د کار زمونږ نه چه هجرت دے

هدایت۔ یعنی په آسانئ سره راته هدایت وکړه، ځکه چه هجرت ګران کار دے۔
نو الله ورله دا دعاء قبوله کړه او د خلکو نه ئے محفوظ کړل او بدنونه ئے پداسے طریقه بچ وساتل چه د خرابیدو نه محفوظ شو۔ او کافران ئے نا امیده کړل۔
فَضَرَبْنَا عَلٰى آذَانِهِمْ : دا د الله تعالىٰ د رحم الفاظ دی۔ یعنی لکه څنګه چه مور د یو بچی د اُوده کولو دپاره د هغهٔ غوږ تپوی نو دغه شان الله تعالىٰ په آرام آرام او سکون سره اُوده کړل۔
او د غوږونو وهلو نه مراد دا دے چه مونږ د دوی غوږونه په سخت خوب سره بند کړل چه د خلکو آوازونه ئے نهٔ آوریدل۔ [اَیْ ضَرَبْنَا عَلٰى آذَانِهِمِ الْحِجَابَ] مونږ د دوی په غوږونو باندے پرده ووهله۔
سِنِيْنَ : کلونه۔ عَدَدًا : د شمار چه هغه درے سوه نهه دی۔
ثُمَّ بَعَثْنَاهُمْ : دلته د خوب دپاره بعث لفظ استعمال شو ځکه چه خوب د مرګ ورور دے۔
لِنَعْلَمَ : اَیْ لِنُظْهِرَ لِلْعِبَادِ۔ دے دپاره چه راښکاره کړو خلکو ته۔
الْحِزْبَيْنِ : ١- د دواړو ډلو نه مراد د رسول الله ﷺ په زمانه کښں کافران او مؤمنان دی چه هغوی د دوی د مودے په باره کښں مختلف وو، په خپل ګمان به ئے غلط تاریخ بیانولو۔ دا رایه دومره ظاهره نهٔ ده ځکه چه دومره فائده ئے نشته۔
٢- بعض وائی چه د اصحاب الکهف او د هغه کلی والو په خپل مینځ کښں اختلاف وو چه دوی څومره موده تیره کړیده۔ ٣- ظاهر دا ده چه د دوی نه مراد خپله اصحاب الکهف دی چه دوی کښں دوه ډلے جوړے شوے لکه روستو راځی څه کسانو وویل چه مونږ یوه ورځ تیره کړه او چا وویل چه څه حصه د ورځے مو تیره کړه۔
نو فائده دا شوه چه دا دواړه ډلے په خطاء وے، دواړه په غیبو نهٔ پوهیدل، نو مونږ دا خبره خلکو ته راښکاره کول غوښتل چه دوی په غیبو نهٔ پوهیدل۔
بله فائده پکښں دا ده چه پدے کښں اثبات د آخرت دے چه دا دواړه ډلے په خپله موده د اُوده کیدو خبر نهٔ وو نو اُوده انسان په څه نهٔ وی خبر، او بیا ئے الله تعالىٰ رابیداروی۔ نو دارنګه چه کله انسان مړ شی نو په څه به نهٔ پوهیږی او الله تعالىٰ به ئے په آخرت کښں راپاڅوی او دوی ته به پته نهٔ وی، څوک به وائی چه لس ورځے مو تیرے کړے او څوک به وائی یوه یوه ورځ (سورة طه : ١٠٣/ ١٠٤) او څوک به (عَشِيَّةً اَوْ ضُحَاهَا) ذکر کوی۔ او مؤمنان به ورته وائی

چه ﴿لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِيْ كِتَابِ اللهِ إِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ﴾ (الروم:٥٦)
(تاسو د الله په علم کښې تر دوباره راپورته کیدو پورې ډیره موده تیره کړیده)

٤ - ابن عاشورؒ پدې باندې رد کړیدې چه دا قول مناسب نۀ دې، ځکه چه د حزب لفظ نه خلاف دې ځکه چه اصحاب الکهف کښې یو تن قائل وو او نور شکیان وو ځکه ئې یوما او بعض یوم ذکر کړو۔ ﴿قَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ﴾ نو دوی کښې خو دوه ډلې نۀ وې۔ بله دا چه دا د (احصی) لفظ نه هم بعید دې، احصاء د اُوږدې زمانې شمارلو ته وئیلې شي او دلته خو دوی په خپله زمانه باندې د معمولی مودې (ورځ یا نیمه ورځ) گمان کړې وو۔ نو صحیح دا ده چه ددې نه مراد د دغه کلی د خلکو دوه ډلې وې چه د اصحاب الکهف په باره کښې ئې اختلاف وو چه دوی څومره موده تیره کړه، چه یوه ډله په حق وه او بله په خطاء وه او ته حق والا د خطاء والا نه معلوم وو۔

اُحْصٰی : زمخشری وائی چه دا ماضی صیغه ده۔ مګر ابن عاشورؒ پرې رد کړیدې چه اسم تفضیل د غیر ثلاثی نه راتلل هم په کلام فصیح او قرآن کښې زیات موجود دی۔

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُمْ بِالْحَقِّ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ
مونږ بیانوو په تا باندې خبر د دوی په حق سره یقیناً دوی ځوانان وو
آمَنُوْا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى ﴿١٣﴾
چه ایمان ئې راوړې وو په رب خپل او زیاتی کړې وو مونږ دوی لره هدایت۔
وَرَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ إِذْ قَامُوْا فَقَالُوْا رَبُّنَا
او مضبوطوالې راوستو مونږ په زړونو د دوی کله چه اُودریدل نو اُووئیل دوی رب زمونږ
رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَنْ نَّدْعُوَ مِنْ دُوْنِهٖ إِلٰـهًا
رب د آسمانونو او د زمکې دې، هیچرې نۀ رابلو مونږ سوئ د هغۀ نه بل مددګار،
لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا ﴿١٤﴾ هٰؤُلَاءِ
یقیناً وئیلی به وی مونږ په دغه وخت کښې د حد نه تیره شوې خبره۔ دا کسان
قَوْمُنَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖ آلِهَةً لَوْلَا يَأْتُوْنَ عَلَيْهِمْ
قوم زمونږ دې نیولی ئې دی سوئ د الله نه نور مددګاران، ولې نۀ راوړی په هغوی باندې

بِسُلْطَانٍ بَيِّنٍ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ﴿۱۵﴾

دلیل ښکاره، نو څوك دے لوئی ظالم د هغه چا نه چه جوړوی په الله باندے دروغ۔

تفسیر : د اصحاب کهف د واقعے اُوس تفصیل بیانیږی۔ دے ځوانانو د خپل مشرك قوم په خلاف د الله تعالیٰ په وحدانیت باندے ایمان راوړے وو، او الله تعالیٰ دوی ته په خپله عقیده کښں داسے پوخ والے ورکړے وو، چه دوی د خپل دین د حفاظت دپاره خپل کور کلے پریخودو، او د هجرت لاره ئے اختیاره کړه، او د تمامو دنیاوی آرام او دولو نه ئے مخ واړولو او غار کښں وسیدو ته ئے غاړه کیخوسته۔

او ﴿ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى ﴾ نه او ددے په معنیٰ نورو قرآنی آیتونو نه امام بخاریؒ او نورو امامانو دلیل نیولے دے چه ایمان کښں کمے او زیاتے کیږی۔

إِذْ قَامُوْا : دے کښں دوه تفسیره دی : ۱- دوی ودریدل هجرت ته، نو اُوس خپل ځان دپاره نیت صفا کوی چه مونږ هجرت ځکه کوو چه زمونږ رب، د آسمانونو او د زمکے رب دے او د هغه ذات عبادت کوو، او د هغهٔ نه سویٰ بل معبود ته آواز نهٔ کوو که مونږ د غیر الله عبادت وکړو، نو دا به لوی ظلم وی او مونږ ددے ظلم نه تښتو۔

۲- اِذْ قَامُوْا بَيْنَ يَدَيِ الْمَلِكِ۔ کله چه دوی د بادشاه مخے ته ودریدل نو الله تعالیٰ د دوی زړونه مضبوط کړل، او هغه ته ئے جوابونه ورکړل۔

• بادشاه وویل چه تاسو ولے د پلار نیکه خلاف کوئ او ستاسو څه عقیده ده؟ هغوی وویل : ﴿ رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ ﴾ بادشاه وویل چه دا خو زمونږ عقیده هم ده؟۔

دوی وویل : ﴿ لَنْ نَدْعُوَا ﴾ مونږ سویٰ د الله نه بل اِلٰه نهٔ منو۔ او تاسو خو نور آلهه نیولی دی۔ بادشاه وویل : که څوك ئے ومنی نو څه چل به وشی؟ دوی وویل : ﴿ لَقَدْ قُلْنَا اِذًا شَطَطًا ﴾ مونږ به په دغه وخت کښں د حق نه زیاته خبره کړی وی۔ او دا ظلم دے۔

بادشاه وویل : تاسو ښهٔ پو هیږئ او که ستاسو قوم او پلار نیکهٔ ؟ هغوی وویل : ﴿ هٰؤُلَاءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوْا ﴾ دوی اګرکه مشران دی خو دلیل ورسره نشته۔ سوال پیدا شو چه دلیل ورسره نشته خو موافقت پکار دے نو دوی وویل چه ﴿ فَمَنْ اَظْلَمُ ﴾ دا خو په الله باندے دروغ جوړول دی، او په الله باندے د روغ جوړونکی نه لوی ظالم بل نشته۔ پدے معنیٰ به ﴿ وَاِذِ اعْتَزَلْتُمُوْهُمْ ﴾ د اصحاب کهف خپل مینځ کښں خبره وی۔

هٰؤُلَاءِ قَوْمُنَا : (وَاِنْ كَانُوْا اَسَنَّ مِنَّا) (السراج المنیر) اګرکه دوی زمونږ نه مشران دی

لیکن مرض پکښې موجود دے چه (اتخذوا)۔
شَطَطًا : د حد نه تجاوز کول دی۔ باطل او دروغ ته هم شطط وائی۔
بَيِّنٍ : ښکاره دلیل۔ دا ځکه وائی چه هسے د دروغو دلیلونه خو د مشرکانو سره هم شته۔ او دا دلیل دے چه د مشرانو نه هم دلیل طلب کول پکار دی۔
او د بعض مقلدینو دا خبره غلطه ده چه (لَايُسْئَلُ الْمُجْتَهِدُ عَنِ الدَّلِيْلِ) د مجتهد نه به د دلیل تپوس نهٔ کیږی۔ دا ډیر خلك بی ادبی ګنړی چه استاذ نه د دلیل تپوس وکړی۔

وَإِذِ اعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا اللهَ
او کله چه جدا شوئ تاسو د دوی نه او د هغه چا نه چه دوی ئے بندګی کوی سویٰ د الله نه
فَأْوُوا إِلَى الْكَهْفِ يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ رَّحْمَتِهٖ
نو پناهی واخلئ غار ته، ډیر فراخه به درکړی تاسو ته رب ستاسو د رحمت خپل نه
وَيُهَيِّئْ لَكُم مِّنْ أَمْرِكُمْ مِّرْفَقًا ﴿١٦﴾ وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَتْ
او آسان به کړی تاسو ته د کار ستاسو نه فائدے۔ او وینے به تهٔ نمر کله چه راخیژی،
تَّزَاوَرُ عَنْ كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِيْنِ وَإِذَا غَرَبَتْ تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ
نو اَوړی به د غار د دوی نه ښی طرف ته او کله چه ډوبیږی نو پریږدی دوی لره ګس طرف ته
وَهُمْ فِيْ فَجْوَةٍ مِّنْهُ ذٰلِكَ مِنْ آيَاتِ اللهِ مَنْ
او دوی په کولاؤ ځائے کښې وو ددے نه، دا د نخو د قدرت د الله نه دی، هغه څوك
يَّهْدِ اللهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ وَمَنْ
چه هدایت ورته اُوکړی الله تعالیٰ نو دا هدایت والا دے او هغه څوك
يُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ وَلِيًّا مُّرْشِدًا ﴿١٧﴾
چه الله تعالیٰ ئے ګمراه کړی نو هیچرے به مونده نکړے هغه لره دوست لار خودونکے۔

تفسير : **وَمَا يَعْبُدُوْنَ** : یعنی د دوی نه هم جدا شئ او د دوی د معبودانو نه هم۔ ما موصوله ده۔ بعض وائی دا قول د الله تعالیٰ دے د جملے معترضے په طریقه او ما نافیه ده یعنی اصحاب الکهف د قوم نه ولے جدا شو ځکه چه دوی بندګی نهٔ کوله سویٰ د الله

تعالیٰ نه. اول قول غوره دے چه دا د اصحاب الکهف په وینا کښې داخل دے.

اَلْكَهْفِ: دا غار دوی ته معلوم وو ځکه ئے پکښې الف لام راوړل.

يَنْشُرْ لَكُمْ : اَیْ یَبْسُطْ وَیُوَسِّعْ. (فراخه به کړی) دا د دوی امید دے د الله تعالیٰ نه، او توکل دے په هغه باندے.

مِّنْ رَّحْمَتِهٖ : د رحمت نه مراد د دشمنانو نه بچ ساتل دی. او دارنګه د آخرت رحمت هم.

وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِّنْ اَمْرِكُمْ مِّرْفَقًا : ۱- او آسان به کړی تاسو ته د کار ستاسو نه ځای د آرام. ۲- آسان به کړی تاسو ته فائدے. ۳- دربه کړی تاسو ته فائدے.

فَجْوَةٍ: اَیِ الْمَكَانُ الْمُتَّسِعُ. فراخه ځای کښې دی د غار نه.

۱- مفسرین وائی چه ددے کهف وضع (جوړخت) دغه شان وو چه سهار کښې به نمر راختو نو د غار په ښی طرف به لګیدو او چه ماښام کښې به پریوتو نو د غار په ګس طرف به لګیدو. ۲- زجاجؒ وائی : [هٰذَا بِمَنْعِ اللهِ مِنْهُمْ وَهٰذَا كَرَامَةٌ لَّهُمْ]

غار نمر طرفته وو لیکن الله تعالیٰ د دوی نه منع کړے وو او دا د دوی کرامت وو، او د الله تعالیٰ د قدرت نښه وه ځکه ئے دے ته (ذٰلِكَ مِنْ آيَاتِ اللهِ) وئیلے دے. او نمر ترے الله تعالیٰ پدے طریقه اړولو چه د دوی بدنونه خراب نکړی، یا په ګرمئ او یخنئ سره تکلیف مونده نکړی، درمیانه حالت کښې وی.

ذٰلِكَ : یعنی دغه نمر اړول د دوی نه سره ددے نه چه دغه غار متوجه دے نمر ته. یقیناً د دے نیکانو دا حال د الله تعالیٰ یوه لویه نخه ده. لیکن دا او ددے په شان نورو نخو نه هغه خوك هدایت حاصلوی چه الله ورته توفیق ورکړی، او چا له چه الله ګمراه کول غواړی د هغه به هیڅ یار او مددګار نهٔ وی چه هغه په نیغه لاره روان کړی.

فائده : بعض خلقو د اصحاب کهفو په غار کښې د پټیدو نه د عبادت دپاره په جدا کیدو دلیل نیولے دے، مګر دا صحیح نهٔ دے. ددے نه خو صرف دومره خبره ثابتیږی چه کله د یو انسان دین او ایمان ته د یو ظالم د طرف نه خطره پیوسته شی، نو هغه ځای پریخودو سره بل ځای ته منتقل کیدل پکار دی، دے دپاره چه هلته د سکون سره د الله عبادت وکړی او ددهٔ دین د خطرے نه محفوظ شی.

امام غزالیؒ هم د داسے خلقو رد کړے لیکلی ئے دی چه اصحاب کهف د یو بل نه جدا شوی نهٔ وو بلکه د کافرانو د ظلم او زیاتی نه ئے د تیختے لاره اختیاره کړے وه.

حافظ ابن کثیرؒ هم ددے رائے رد کړیدے او لیکلی ئے دی چه عزلت او د خلقو نه جدائی به

صرف په هغه صورت کښې جائز وی چه د انسان دین او ایمان ته خطره پیوسته شی۔

وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا وَّهُمْ رُقُوْدٌ وَنُقَلِّبُهُمْ

او گمان به کوے تهٔ په دوی باندے ویښې او دوی اُوده دی، او اړو راړو مونږ دوی لره

ذَاتَ الْيَمِيْنِ وَذَاتَ الشِّمَالِ وَكَلْبُهُم بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيْدِ

ښی طرف او گس طرف ته او سپے د دوی خورونکے دے دواړو لیچو خپلو لره په درشل باندے،

لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَّلَمُلِئْتَ

که چرته ورښکاره شے تهٔ په دوی خامخا وابه وړے د دوی نه په تیختنه او خامخا ډك به شے

مِنْهُمْ رُعْبًا ﴿١٨﴾ وَكَذٰلِكَ بَعَثْنَاهُمْ لِيَتَسَاءَلُوْا

د دوی نه په رعب (یره) سره۔ او دغه شان راپورته کړل مونږ دے دپاره چه تپوس نه وکړی

بَيْنَهُمْ قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ

په مینځ خپل کښې، اُووئیل یو ویونکی د دوی نه څومره وخت تیر کړو تاسو

قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ قَالُوْا رَبُّكُمْ

اُووئیل هغوی وخت تیر کړے مونږ یوه ورځ یا حصه د ورځے اُووئیل هغوی رب ستاسو

أَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ فَابْعَثُوْا أَحَدَكُمْ

ښه پو هه دے په هغه وخت چه تیر کړیدے تاسو، نو اُولیږئ یو تن ستاسو نه

بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖ إِلَى الْمَدِيْنَةِ فَلْيَنْظُرْ أَيُّهَا أَزْكٰى طَعَامًا

په پیسو ستاسو سره چه دا دی ښار ته نو اُودِے گوری چه کوم یو د دوی نه پاك طعام والا دے۔

فَلْيَأْتِكُم بِرِزْقٍ مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ

نو راډِے وړی تاسو ته خوراك د هغه نه او نرمی دِے کوی او خبر دِے نکړی په تاسو باندے

أَحَدًا ﴿١٩﴾ إِنَّهُمْ إِنْ يَظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوْكُمْ أَوْ

هیڅوك۔ یقیناً دوی که خبر شی په تاسو نو په کاڼړو به مو اُوولی یا به مو

يُعِيدُوكُمْ فِي مِلَّتِهِمْ وَلَنْ تُفْلِحُوا إِذًا أَبَدًا ﴿٢٠﴾

واپس کړي په دين خپل کښې او هيچرې به کامياب نشئ په دغه وخت کښې هيڅ کله.

تفسير: پدې آيت کريمه کښې ددې صالحينو يو بل عجيب کيفيت بيان شويدې چه اګرکه الله تعالىٰ په دوی باندې ژوره خوب راوستې وو ليکن د دوی سترګې داسې کولاوې وې چه که چا به دوی ته کتل، نو دوی به ئې بيدار ګنړل. او د الله تعالىٰ په حکم سره د دوی بدنونه به بنـي او کس طرف ته اوړيدل راوړيدل دې دپاره چه زمکه دوی ته نقصان ونۀ رسوی، بدن خاورې نشي. او د دوی سپې د غار په درشل باندې خپلې متې خورې کړې ناست وو. د دوی ددې تمامو احوالو او کيفياتو نه يو داسې کيفيت پيدا شوې وو چه که يو قوی همت والا سړی هم دوی ته کتلې، نو په هغۀ به رعب راتلې او په يره سره به تختيدلې.

حافظ ابن کثيرؒ ليکلي دي چه الله تعالىٰ د دوی داسې کيفيت پدې وجه جوړ کړې وو دې دپاره چه د دوی خوا ته څوك نزدې لاړ نشي، او نۀ څوك دوی له ګوتې يوسي. تردې پورې چه د الله د علم مطابق د دوی د خوب موده پوره شي.

وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا: ١- لِكَثْرَةِ تَقَلُّبِهِمْ. ځکه چه ډير اوړيدل راوړيدل.

٢- يا پدې وجه چه سترګې ئې کولاوې وې. ٣- دارنګه خوبي انسان زيړ پيړ وی لکه د مړ په شان او دوی تازه پراته وو لکه د ويښ انسان په شان.

٤- دارنګه دوی صحيح ترتيب سره پراته وو او خوبي وران ويجاړ پروت وی.

ايقاظ جمع د يَقِظٌ ده.

وَنُقَلِّبُهُمْ: دې کښې د الله قدرت ته وګوره چه درې سوه نهه کاله کښې دوی نۀ وږي کيږی او نۀ تږي کيږی، او نۀ ئې صحت خرابيږی، او نۀ کوم انسان يا حيوان ورځي.

وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ: سپې ځکه مقرر شو چه انسانان او حيوانات خوا له رانشي، د سپي نه به يريږی. او په دغه مقام کښې الله تعالىٰ رعب هم واچولو.

وَلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا: خلك چه به پدې ځای تيريدل نو رعب به پرې راتللو او منډه به ئې وهله او نيکانو ته الله تعالىٰ دغه شان رعب ورکوی.

وَكَذٰلِكَ بَعَثْنَاهُمْ: اَیْ کَمَا اَنَمْنَاهُمْ کَذٰلِكَ بَعَثْنَاهُمْ). لکه څنګه چه ما اُوده کړی وو نو دغه شان مې راپاڅول. دلته وقف دې (وَكِلَاهُمَا آيَةٌ دَالَّةٌ) او دا دواړه (اُوده کول او راپاڅول) د الله تعالىٰ د قدرت نښه ده.

لِيَتَسَاءَلُوْا بَيْنَهُمْ : او پدے تپوس کښې فائده دا ده : ۱- لِتَعْلَمُوْا اَنَّهُمْ لَمْ يَعْلَمُوا الْغَيْبَ۔ دے دپاره چه تاسو ته پته ولګی چه اصحاب الکهف په غیبو نۀ پو هیدل۔

۲- لِيَعْلَمُوْا عَظِيْمَ قُدْرَةِ اللّٰهِ وَ كَرَمِهٖ) دے دپاره چه دوی د الله تعالیٰ لوی قدرت او کرامت وپیژنی په خپلو ځانونو کښې۔ چه د دین دپاره مو لړه سختنه برداشت کړه الله تعالیٰ څومره عزت راکړو۔دے دپاره چه ایمان ئے زیات شی او د هغه شکر ادا کړی۔

لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ : حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه غالباً دا خلق غار ته د صبا په وخت داخل شوی وو، او کله چه راپورته شو نو د ورځے آخری حصه وه۔ پدے وجه دوی وویل چه کیدے شی مونږه د ورځے څه حصه اُوده پاتی شوی یو۔ انتهیٰ۔

قَالُوْا رَبُّكُمْ اَعْلَمُ : هرکله چه دوی په خپل ځان کښې د رنګونو زیږوالے او د نوکونو غټ والے ولیدو، نو بیا ئے وویل چه الله تعالیٰ ښۀ پو هیږی۔ او د نیکانو خلکو طریقه دا ده چه په یوه خبره نۀ پو هیږی یا پکښې فائده نۀ وی نو په هغے کښې جګړے نۀ کوی۔

فَابْعَثُوْا : اُوس وړی شو۔ وے وئیل چه مونږ نه ډیے یو تن زمونږ سره د موجوده چاندی سکه اخستو سره ښار ته لاړ شی، او غوره او حلال خوراك ډیے اخستو سره راوړی، او ښۀ په احتیاط ډیے وسیږی او خلکو سره ډیے نرمی وکړی دے دپاره چه په خپل کوم عمل سره خلك په ځان راخبر نکړی ځکه چه که مشرکانو ته زمونږ خبر وشی نو مونږ به سنګسار کولو سره هلاك کړی، یا به په خپل شرکی دین قبلولو باندے مونږ مجبور کړی۔ او بیا به د اُور د عذاب نه هیڅ کله هم نجات ونۀ مومو۔ او کله به هم د الله تعالیٰ جنت ته داخل نۀ شو۔

اِلَى الْمَدِيْنَةِ : ددے نه مراد اَبْسُوس ښار دے چه په روم کښې دے، او مسلمانانو دے ته په اسلام کښې طرسوس ووئیلو۔ (واحدیؒ والنیسابوریؒ)

بِوَرِقِكُمْ : معلو میږی چه متقیان متوکلین خپل ځان سره توښه راخلی۔ وَرِق د سپینو زرو روپۍ دی، تاپه شوی وی او که نۀ۔

اَزْكٰى طَعَامًا: متقیان خلك د خپل خوراك د حلالوالی غم کوی۔

بِرِزْقٍ مِّنْهُ : مِنْ په معنیٰ د بدل سره دے۔ یعنی په بدل د روپو کښې ډیے خوراك راوړی۔

وَكَذٰلِكَ اَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوْا اَنَّ
او دغه شان (خلق) خبر کړل مونږ په دوی باندے دے دپاره چه دوی پو هه شی چه بیشکه

وَعْدَ اللهِ حَقٌّ وَأَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيهَا إِذْ
وعده د الله تعالیٰ حقه ده او یقیناً قیامت نشته هیڅ شك په هغې کښې، کله چه
يَتَنَازَعُونَ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ فَقَالُوا ابْنُوا
خلقو جګړه کوله په مینځ خپل کښې په کار د دوی کښې نو اُووئیل دوی جوړ کړئ
عَلَيْهِم بُنْيَانًا رَّبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ قَالَ الَّذِينَ
په دوی باندې آبادې، رب د دوی ښۀ پوهه دې په دوی باندې، اُووئیل هغه کسانو
غَلَبُوا عَلَىٰ أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا ﴿٢١﴾
چه زورَور وو په کار د دوی خامخا مونږ به جوړه وو په دوی باندې مسجد۔

تفسير: کله چه د ښار خلقو ته د دوی تفصیلات معلوم شو، دوی ته پته اُولګیده چه دا خلق خو د درې سوه نهه کالو پورې اُوده پاتې کیدو نه روستو رابیدار شویدی۔ او د دوی بدنونه د مخکښې په شان دی۔ په دوی کښې هیڅ فرق نۀ دې راغلې۔ ددې نه دوی ته معلومه شوه چه د الله تعالیٰ وعده حقه ده چه هغه به ټول انسانان د قیامت د راوستو نه روستو دوباره ژوندی کوی، او دا چه د قیامت په راتلو کښې هیڅ شك نشته دې، ځکه چه د حکمت تقاضا همدا ده چه هر انسان ته د هغه د عملونو بدله ورکړې شي۔

إِذْ يَتَنَازَعُونَ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ : يعنې دا واقعه پدې وجه راپيښه شوې وه چه د هغه دَور د خلقو په ذهنونو کښې د بعث بعد الموت او د قيامت په ورځ کښې شك پيدا شوې وو۔ او د هغه زمانې خلق چه د کوم بعث بعد الموت نه منکر وو په هغې باندې چه کله د الله تعالیٰ د جانب نه دليل قائم شو نو دې ځوانانو ته مرګ راغلو۔

د دوی د مرګ نه روستو خلکو خپل مینځ کښې د اصحاب کهفو په باره کښې اختلاف وکړو نو عوامو مشوره ورکړه چه دوی په خپل حال پريخودې شي، او د غار دروازه دې پرېبنده کړې شي او دوی باندې يو آبادې د يادګار دپاره جوړ کړې شي۔ د ښار د اثر او غلبې والو خلقو ووئيل چه مونږ د دوی د يادګار په توګه د دوی په قبرونو باندې مسجد جوړه وو۔ دا خلك واکدار وو ځکه ئې ځان ته نسبت وکړو (لَنَتَّخِذَنَّ) او مخکښو مشوره ورکړه۔

عَلَىٰ أَمْرِهِمْ : يعنې په کار د اصحاب کهفو غالبه وو يعنې مشران حُکام وو۔

او ددے نه معلومیږی چه دا خلك مسلمانان نصاریٰ وو، عبادتونه به ئے کول نو دا مسجد جوړول به د الله تعالیٰ دپاره وو چه خلك به ددے اصحاب کهف د غار ملاقات ته راځی، نو دلته به مونځ کوی لکه یو تن د مقبرے په خوا کښې مسجد جوړ کړی چه دلته خلك مونځونه وکړی، او پدے کښې مقصد شرك او تبرکات حاصلول نهٔ وی، نو دا بیا ناروا نهٔ دے خو شرط دا دے چه مینځ کښې به ئے حائل وی او جدا به وی۔

او که دا مسجد د قبرونو په احاطه او د هغے دپاسه جوړ شوے وی، نو بیا ئے دا ناروا کار کړیدے، او دا معلومیږی چه په نصاراؤ کښې دا مرض روستو زمانه کښې پیدا شوے وو او دا هغه بدعت وو چه دوی د ځان نه ایجاد کړو، او د حُکامو طریقه هم دا وی چه اول په صحیح دین پو هیږی نهٔ او په کوم دین باندے چه عمل کوی هغه هم د شرك دین وی، زیارتونه به جوړوی، او قبرونه به په پیو باندے وینځی او د مزاراتو عرسونه به کوی، او گنبدونه جوړول او هلته میلے تیلے کول د دوی دینداری وی، نو په نصاراؤ کښې هم دا بدعت پیدا شوے وو۔ پدے وجه رسول الله په سختئ سره ددے رد کړے او وئیلی ئے دی چه په یهود او نصاراؤ باندے دِے د الله لعنت وی چه دوی د خپلو انبیاؤ او صالحینو په قبرونو باندے مسجدونه جوړ کړی۔ (بخاری : ۱۳۳۰) مسلم : (۱۲۱۲)

او دا ئے هم فرمائیلی دی چه کله به د دوی یو نیك سړے مړ شو نو دوی به د هغه په قبر باندے مسجد جوړولو، او بیا به ئے په هغے کښې د هغوی تصویرونه آویزان کول۔ همدا خلق به د قیامت په ورځ بدترین مخلوق وی۔ (بخاری : ۴۲۷) مسلم :۱۲۰۹)۔

نو ددے نه اُوس څوك دا استدلال نشی کولے چه مونږ به هم د اولیاؤ په قبرونو باندے مسجدونه جوړه وو ځکه چه د اصحاب کهفو په قبرونو باندے جوړ شوے وو او دا شرع د مَنْ قَبْلَنَا نهٔ وه بلکه هغوی بدعت پیدا کړے وو، او که بالفرض د هغوی په دین کښې جائز هم شی، نو زمونږ په دین کښې ترے منع راغلے ده، ځکه چه لعنت پړے وئیل شویدے۔ او د دغه حدیث نه معلومیږی چه د هغوی په دین کښې هم په قبرونو باندے مسجدونه جوړول نهٔ وو بلکه هغوی کښې دا بدعت پیدا شوے وو۔

دلته تفسیر قرطبیؒ هم لیکلی دی : [فَاتِّخَاذُ الْمَسَاجِدِ عَلَى الْقُبُورِ وَالصَّلَاةُ فِيهَا وَالْبِنَاءُ عَلَيْهَا إِلَى غَيْرِ ذٰلِكَ مِمَّا تَضَمَّنَتْ .. سُنَّةٌ مِنَ النَّهْيِ عَنْهُ مَمْنُوعٌ لَا يَجُوزُ]

ددے وجه نه په قبرونو مساجد جوړول او په هغے کښې مونځونه کول او په هغے باندے آبادے جوړول کوم ته چه حدیث د نهی شاملیږی دا منع دی، بیخی جائز نهٔ دی۔

دغه شان تفسیر روح المعانی لیکی چه څوك ددے نه د صالحینو په قبرونو باندے د مسجد جوړولو او په هغے کښ د مونځونو کولو دپاره دلیل نیسی نو (هُوَ قَوْلٌ بَاطِلٌ عَاطِلٌ فَاسِدٌ كَاسِدٌ) دا بیخی باطل، بیکاره، خراب او کوته قول دے) بیا ئے احادیث ذکر کړیدی۔

(روح المعانی ۲۲۵/۸)

او ((الزواجر)) کښ هیثمیؒ لیکلی دی چه دا کار په کبائرو ګناهونو کښ شمار دے۔
نو کومو مساجدو کښ چه خلك قبرونه راولی، دا د احادیثو څه چه د حنفی مذهب هم خلاف دی لیکن د احنافو په مساجدو کښ دا کارونه ځای په ځای موجود دی۔ والله المستعان ولا حول ولا قوة الا بالله۔ او امام محمدؒ خو دا هم وئیلی دی چه د قبر په خوا کښ به هم مسجد نۀ جوړوی ددے نه شرك پیدا کیږی۔

سَيَقُولُونَ ثَلَاثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ
زردے چه وائی دوی درے دی څلورم د دوی سپے د دوی دے او وائی دوی پنځه دی
سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًا بِالْغَيْبِ وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ
شپږم د دوی سپے د دوی دے، دا په اټکل (بے دلیله) خبرے دی او وائی دوی اُووه دی
وَثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ قُلْ رَّبِّيْ أَعْلَمُ بِعِدَّتِهِمْ
او اتم د دوی سپے د دوی دے اُووایه رب زما ښۀ پو هه دے په شمار د دوی،
مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا
نۀ پو هیږی په دوی باندے مګر لږ کسان، نو بحث مۀ کوه د دوی په باره کښ مګر
مِرَآءً ظَاهِرًا وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِمْ مِّنْهُمْ
بحث کول ظاهری (موافق د ظاهر د قرآن) او تپوس مۀ کوه د دوی په باره کښ د خلقو نه
أَحَدًا ﴿۲۲﴾ وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا ﴿۲۳﴾
د هیڅ یو تن نه۔ او مۀ وایه د یو کار په باره کښ چه زۀ کونکے یم دا کار صبا له۔
إِلَّا أَن يَشَآءَ اللهُ وَاذْكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ وَقُلْ
مګر (داسے وایه) که اُوغواړی الله۔ او یادوه رب خپل کله چه ته هیر کړے او وایه

عَسٰۤی اَنْ یَّهْدِیَنِ رَبِّیْ لِاَقْرَبَ مِنْ هٰذَا رَشَدًا ﴿۲۴﴾

نزدے ده چه ویه ښائی ما ته رب زما ډیر نزدے ددینه د هدایت په اعتبار سره۔

تفسیر: د نبی کریم ﷺ په زمانه کښ چه کوم اهل کتاب موجود وو او کومو چه مکے والا د نبی ﷺ نه د اصحاب کهف په باره کښ په تپوس کولو باندے راپورته کړی وو، دوی ته خو ددے علم وو چه په کومه زمانه کښ دا واقعه شوے وه، لیکن ددے ځوانانو صحیح شمار دوی ته معلوم نهٔ وو۔ څه خلقو به وئیل چه دوی درے کسان وو، او د دوی سره څلورم سپے وو۔ بعض کسانو به وئیل چه دوی پنځه کسان وو، او د دوی سره شپږم سپے وو۔ لیکن د هیڅ خبرے دوی ته یقین نهٔ وو، همداسے اټکل خبرے به ئے کولے۔ څه کسانو به وئیل چه د دوی شمار اُووه وو او د دوی سره اتم سپے وو۔

مفسرین وائی چه د قرآن د سیاق نه معلومیږی چه دا آخری رائے حقیقت ته زیاته نزدے ده۔

رَجْمًا بِالْغَیْبِ: یعنی دا د اټکل خبرے دی چه پوره یقین ئے نشته۔ ددے نه معلومیږی چه تاریخی خبرے اکثرے گمانی وی چه پوره یقین نهٔ پیدا کوی مگر هغه چه په صحیح سند سره ثابت شی۔

مَّا یَعْلَمُهُمْ اِلَّا قَلِیْلٌ: عبد الله بن عباس رضی الله عنه به فرمایل چه زهٔ پدے کمو خلقو کښ شمار یم، ما ته دا معلومه ده چه دا اُوه کسان وو اتم ئے سپے وو ځکه چه الله تعالیٰ په روستنئ خبره رد ونکړو او په اولنئ ئے وکړو۔ (سیوطیؒ وفتح البیان)

فائده: دے آیت نه مونږ ته په یوه مسئله کښ د تحقیق طریقه ښکاره کیږی هغه دا چه په یوه مسئله کښ مختلف اقوال نقل کول د بصیرت دپاره، بیا کوم چه غلط وی د هغے رد کول، او کوم چه صحیح وی هغے ته ترجیح ورکول، لکه دے آیت کښ هم دا کار شوے دے چه په اولنو خبروئے رد وکړو او روستنئ خبره صحیح ده د هغے اثبات ئے وکړو، او دا طریقه د اهل حدیثو او محدثینو ده۔ ولله الحمد۔

فَلَا تُمَارِ فِیْهِمْ: نبی ﷺ ته فرمائی چه د دوی په باره کښ د اهل کتابو سره جګړے مهٔ کوه، بلکه تا ته چه د وحی په ذریعه کومه خبره خودلے شویده، هغه د دوی په مخکښ پیش کړه او د دوی رائے مهٔ معلوموه ځکه چه دوی ته د حقیقت هیڅ علم نشته دے، صرف د خپل گمان مطابق خبرے کوی۔

إِلَّا مِرَآءً ظَاهِرًا : یعنی صرف سرسری جگړه کوه او هغه دا چه کوم په ظاهر د قرآن کښ تا ته راغلے ده، هغه بیانوه۔ او دا آیت دلیل دے چه قرآن کریم به په ظاهر باندے حمل کولے شي او همدا به حقیقت وي۔

وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِم مِّنْهُمْ أَحَدًا: نبی کریم ﷺ به کله نا کله د یهودو نه د بعض واقعاتو په باره کښ تپوس کولو نو دلته ورته وائی چه د اصحاب کهفو د واقعے په باره کښ ترے تپوس مهٔ کوه ځکه چه دوی سره ددے حقیقي علم نشته۔

ددے نه معلومیږی چه نورے خبرے ترے تپوسلے شے لکه حدیث کښ دی :[حَدِّثُوا عَنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ وَلَا حَرَجَ] (ابوداود : ٣٦٦٤) احمد (١٠١٣٤) صحیح لغیره)

تاسو د بنی اسرائیلو د طرفنه واقعات بیانولے شئ هیڅ گناه پکښ نشته)

مگر پدے شرط چه زمونږ د دین خلاف به نهٔ وي۔

او تپوس ته پدے وجه هم ضرورت نشته چه هغے کښ به فائده نهٔ وی ځکه ئے الله تعالیٰ پدے مقام کښ نهٔ ذکر کوی۔

وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ : مضمون

اُوس دلته رسول الله ﷺ ته آداب بیانیږی چه دا ډیر اَهم حکمونه دی د داعی دپاره۔ اول ادب دا دے چه هره خبره او هر کار کول چه غواړے نو ان شاء الله پکښ وایه۔ ځکه چه رسول الله ﷺ ان شاء الله نهٔ وه وئیلے پدے وجه وحی ترے ډیره موده بنده شوے وه۔

دویم ادب : ذکر بَعْدَ النِّسْيَان۔ چه غفلت او نسیان درباندے راغله نو الله ډیر یاده وه۔

دریم ادب او جواب دے مشرکانو ته۔ بیا په ﴿قُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ﴾ کښ د الله په علم باندے اعتماد ذکر دے، بیا په ﴿وَاتْلُ مَا اُوْحِيَ﴾ کښ امر دے په تلاوت د قرآن کریم، بیا بل ادب دے (وَاصْبِرْ) غریبانان مسلمانان ځان نه مهٔ شړه بلکه ددوی سره وسیږه۔ او داسے نور آداب دی۔

إِلَّا أَن يَشَآءَ اللّٰهُ: اَیْ اِلَّا اَنْ تَقُوْلَ مُتَلَبِّسًا بِقَوْلِ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ ۔ یعنی خبره مهٔ کوه مگر دا چه وینا کوے چه ورسره د الله تعالیٰ مشیئت او اراده ذکر کوے۔ همدا ظاهر تفسیر دے۔

بعضو بله معنیٰ کړیده چه هغه ظاهره نهٔ ده یعنی تهٔ خبره نشے کولے مگر دا چه الله تعالیٰ وغواړی نو ستا د خولے نه به خبره راوباسی۔ او تهٔ خپله په هغے باندے قادر نهٔ ئے۔

وَاذْكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ: ددے درے تفسیره دی۔

(١) رب ډیر یاده وه کله چه تهٔ هیر کړے الله۔ یعنی کله چه درباندے غفلت راغلو نو د هغے په عوض کښ ډیره بندگی وکړه۔ دا د ﴿وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ﴾ (الرعد : ٢٢) په

شان دے۔ یو وخت کښې دریاندے غفلت راغلو نو بیا وروستے زیاته بندګی وکړه۔
(۲) وَاذْكُرْ مَشِيْئَةَ رَبِّكَ اِذَا نَسِيْتَ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ) خپل رب رایاد کړه په ان شاء الله کله چه تا نه ان شاء الله هیره شي) یعنی که د خبرے نه روستو درته ان شاء الله رایاده شوه هم ووایه۔
(۳) وَاذْكُرْ عِقَابَ رَبِّكَ اِذَا نَسِيْتَ حُكْمًا مِنْ اَحْكَامِ اللّٰهِ۔ د خپل رب عذاب رایاد کړه چه کله تهٔ د الله تعالیٰ د احکامو نه یو حکم هیر کړے او پریدے۔ لیکن دا تاویل غوره نهٔ دے۔
وَقُلْ عَسٰى اَنْ يَّهْدِيَنِ رَبِّيْ لِاَقْرَبَ مِنْ هٰذَا رَشَدًا:
یعنی خلکو ته دا هم ووایه ! چه زما امید دے چه زما رب به ما ته د اصحاب الکهف د واقعے نه زیات هدایت والا او خیر او فائدے والا واقعه او خبرونه رااولیږی لکه آیة الکرسی واخله، په واقعه د نوح او ابراهیم او نورو انبیاء علیهم السلام کښې ډیر هدایتونه پراته دی۔
دلته تفسیر السراج المنیر لیکلی دی چه الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته دومره هدایتونه ورکړیدی چه دا ئے پخوانو امتونو ته نهٔ دی ورکړی، او د صحابه کرامؓ دومره ناشنا واقعات دی چه د اصحاب کهف نه زیات دی۔ بیا ئے بعض ذکر کړیدی۔
لنډ مطلب دا دے چه که مونږ دا واقعه د اصحاب کهفو بیان هم نکړو نو ددے نه ډیر د هدایت خبرے به الله تعالیٰ نازلے کړی، یواځے هدایت خو د اصحاب کهف په واقعه پورے بند نهٔ دے، چه تاسو وایئ واقعه ئے بیانه نکړه نو بس دا د الله نبی نهٔ دے۔ هدایت خو د رسول الله ﷺ په ټول شریعت کښې ددے نه زیات دے۔ (ابن عاشورؒ)
(۲) ځینی مفسرینو وئیلی دی چه کله درنه ان شاء الله هیره شوه نو دا دعاء وروستے وایه چه ﴿ عَسٰى اَنْ يَّهْدِيَنِيْ رَبِّيْ لِاَقْرَبَ مِنْ هٰذَا رَشَدًا﴾ لیکن دا رسول الله ﷺ د هیرے په دعاګانو کښې امت ته نهٔ دی خودلی۔ لهذا دا تفسیر ضعیف دے۔
او تهٔ خلقو ته دا هم اُووایه چه زما امید دے چه زما رب به زما د نبوت د رشتینی ثابتولو دپاره د اصحاب کهفو د خبر نه هم لوئی نخے او اهم دلائل پیش کړی۔ او د نبی کریم ﷺ دا امید پوره شو چه الله تعالیٰ هغه ته د وحی په ذریعه د تیر شوو انبیاء کرامو علیهم السلام او د هغوی د قومونو واقعاتو خبر ورکړو چه دا د نبی ﷺ د رشتینوالی ډیر ښکاره او واضح دلائل وو۔

وَلَبِثُوْا فِيْ كَهْفِهِمْ ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِيْنَ وَازْدَادُوْا تِسْعًا ﴿۲۵﴾ قُلِ
او دوی درنګ تیر کړو په غار خپل کښې درے سوه کاله او زیات ئے کړل نهه کاله۔ اُووایه

اللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا لَهُ غَيْبُ
الله ښهٔ پو هه دے په هغه موده چه تيره كړيده دوى، هغه لره پو هه د پټو څيزونو
السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَبْصِرْ بِهِ وَأَسْمِعْ مَا لَهُم
د آسمانونو او د زمكے ده، څه ښهٔ ليدونكے دے او څهِ ښهٔ آوريدونكے دے، نشته دوى لره
مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا ﴿٢٦﴾
سوىٰ د هغهٔ نه څوك دوست، او نهٔ شريكوى الله تعالىٰ په اختيار خپل كښې هيڅوك۔
وَاتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِن كِتَابِ رَبِّكَ لَا مُبَدِّلَ
او لوله هغه چه وحى كړے شويده تاسو ته د كتاب د رب ستا نه نشته بدلونكے
لِكَلِمَاتِهِ وَلَن تَجِدَ مِن دُونِهِ مُلْتَحَدًا ﴿٢٧﴾
د كلماتو د هغهٔ، او هيچرے به ونهٔ مومے سوىٰ د الله تعالىٰ نه ځائے د پناهئ۔

تفسير : حافظ ابن كثيرؒ وائى چه پدے آيتِ كريمه كښې الله تعالىٰ د هغه پوره مودے خبر وركړيدے چه په هغے كښې اصحاب كهف اُودهٔ پراته وو۔ هغه په شمسى حساب سره درے سوه او په قمرى حساب سره درے سوه نهه كاله موده وه۔ ځكه چه د هر شمسى سل كاله، د قمرى يو سل درے كالو برابر وى۔ دا د دوى د اُوده پاتے كيدو موده وه، ليكن د بيداريدو نه روستو د دوى د مرګ راتلو پورے، يا د قرآن د نازليدو پورے موده څومره وه ددے علم صرف الله تعالىٰ ته دے۔ ځكه چه د آسمانونو او د زمكے د غيبى خبرو علم صرف هغهٔ ته دے۔ هغه هر شے ښهٔ وينى او هر آواز ډير ښهٔ آورى، د هغهٔ نه سوىٰ د بندګانو هيڅ حقيقى يار او مددګار نشته۔ هغهٔ د ټول جهان په پيدائش او د هغے په تدبير كښې هيڅوك خپل شريك نهٔ دے جوړ كړے۔ نهٔ د هغهٔ څوك وزير شته او نهٔ كوم مشير۔ هغه د ټولو نقصانونو نه پورته او پاك دے۔

قُلِ اللّٰهُ أَعْلَمُ : يعنى الله ښهٔ پو هه دے د دوى په وخت تيرولو پدے وجه هغه دغه خبر وركړو چه درے سوه نهه كاله ئے تير كړل، د يهودو خبرو له اعتبار مهٔ وركوه۔

بعض وائى چه ﴿وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ﴾ د يهودو قول دے، يعنى دوى وائى چه اصحاب كهفو په غار كښې درے سوه نهه كاله تير كړل نو (قُلِ اللّٰهُ أَعْلَمُ) به هغوى ته جواب شى چه

الله پو هیږي چه دوی څو مره وخت تیر کړیدے نو دا به د (قُلْ رَّبِّیْٓ اَعْلَمُ بِعِدَّتِهِمْ) په شان شي۔ (ابن عاشورؒ) لیکن دا قول ظاهر نهٔ دے۔

اَبْصِرْ بِهٖ : دا دویمه صیغه د فعل تعجب ده [اَیْ مَا اَبْصَرَهٗ] څه ښهٔ لیدونکے دے هر شی لره۔ وَاَسْمِعْ پرے عطف دے اَیْ مَا اَسْمَعَهٗ۔ څه ښهٔ آوریدونکے دے۔

مَا لَهُمْ : ۱- دا ضمیر راجع دے اهل السموات والارض ته۔ (زبدة التفسیر)

مِنْ وَّلِیٍّ : یعني د آسمان او د زمکے وسیدونکو دپاره د الله نه سویٰ بل څوك واکدار نشته چه د دوی کارونه سنبال کړي، یا دوست ئے نشته چه مدد ورسره وکړي۔ معلومه شوه چه ټول مخلوقات د الله تعالیٰ د قدرت او قهر لاندے دے۔

وَلَا یُشْرِكُ فِیْ حُکْمِهٖٓ اَحَدًا : د حکم نه مراد تصرفات او اختیارات او فیصلے دي یعني الله تعالیٰ په خپلو تصرفاتو او اختیاراتو او فیصلو کښې هیڅوك ځان سره نهٔ شریکوي۔ دے ته شریك عطائي وائي یعني د الله تعالی شریك حقیقي هم نشته او شریك عطائي هم چه الله تعالیٰ بعض بندګانو ته اختیارات ورکړي چه دا کارونه پکښې ته کوه، د آسمان یا د زمکے یا د فلانئ علاقے نظام ته چلوه، او خلکو ته رزقونه ورکوه۔

نو کوم خلك چه د اولیاؤ دپاره تصرفات ثابتوي نو دا شرك دے او ددے آیت خلاف دے۔ لکه بعض وائي چه فلاني ولی د ځان نه خنزیر جوړ کړو بیا ئے بیرته د ځان نه انسان جوړ کړو، دا هسے ډکوسلے دي۔

او پدے کښې علم الغیب هم داخلیږي ځکه چه د الله تعالیٰ علم، د هغهٔ د فیصلو نه یوه فیصله ده پدے کښې ئے هم ځان سره څوك نهٔ دے شریك کړے۔ (فتح البیان)

دارنګه پدے کښې رد دے په تقلید باندے ځکه چه یو تن د عالِم اجتهادي مسئله د کتاب او سنت په خلاف ومني، نو دهٔ هم دا عالِم د الله سره په فیصله کښې شریك کړو، او د فیصلو اختیار ئے عالِم ته ورکړو۔ ﴿اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ دے ته شرك في الاطاعة وائي۔

وَاتْلُ مَآ اُوْحِیَ اِلَیْكَ: پدے آیت کریمه کښې ترغیب دے قرآن کریم ته او دا بل ادب دے۔ الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم کړیدے چه هغه د قرآن کریم تلاوت وکړي، ځکه چه د قرآن لوستل یو خو د اجر سبب دے ځکه چه تلاوت نیك عمل دے، دویم دا چه قرآن په تلاوت سره نیك عملونه پیدا کوي۔

وَاتْلُ: ۱- تَعْلِیْمًا وَتَذْکِیْرًا ۲- وَتَعَبُّدًا وَتَقَرُّبًا ۔ یعني تعلیم ئے ورکړه خلکو ته او پدے

باندے نصیحت وکړه خلکو ته او پدے سره عبادت د الله وکړه او هغه ته پرے ځان نزدے کړه۔ ❁ او اُتْلُ د تُلُوٌّ نه په معنیٰ د تابعدارئ سره هم راځی، یعنی پدے کښې په موجودو اوامرو او نواهیو باندے عمل وکړه۔ او پدے کښې د بیان شوی حلالو او حرامو پابند شه۔
ابن عاشورؒ وائی چه پدے کښې مقصود رد کول د مشرکانو دی چه هغوی به په دغه زمانه کښې کله چه به ورته څه بیان شو نو د هغے نه به ئے بل اعتراض ته دنګل او د نبی کریم ﷺ نه ئے مطالبه وکړه چه بعض قرآن کښې زمونږ د آلهو صفت هم وکړی،
نو الله خپل نبی ته فرمائی : که دوی ستا د قرآن بعض لوستل بد ګنړی نو هیڅ باك پرے مهٔ کوه بلکه ټول هغه څه ولوله چه تا ته ئے وحی کیږی ځکه چه ددے څوك بدلونکے نشته۔ او داسے ئے ولوله لکه څنګه چه تا ته نازل شویدے۔
(او ددے نه علاوه لوستل مهٔ کوه کوم چه تا ته نهٔ دے نازل شوے چه د مشرکانو د صفاتو په باره کښې ئے ولولی او د هغوی څه تائید وکړی) نو پدے کښې ئے د مشرکانو طمع ختمه کړه چه دا نبی به د دوی مطالبات ومنی۔ (التحریر والتنویر ۱۵/ ۵۲)
لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهٖ: یعنی هیڅوك قادر نهٔ دے چه د الله تعالیٰ وعدے بدلے کړی، الله چه د قیامت، او د رسول الله ﷺ سره د غلبے وعدے او په نیکو اعمالو وعدے کړیدی دا به یقینی راځی۔
وَلَنْ تَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا: ۱- اَیْ مُلْتَجأً (ځای د پناهئ)۔
۲- مَعْدَلًا) ځای د اوړیدو۔ هرکله چه د الله نه سوئ بل ځای د پناهئ نشته نو هغه ته ځان نزدے کول پکار دی۔
مُلْتَحَد د لَحْدٌ نه دے میلان ته وائی یعنی د الله نه څوك نشی اوړیدے چه ترے بل ځای پټ شی۔
مطلب دا چه که تهٔ د قرآن تابعداری ونکړے او دا ونهٔ لولے او ددے په احکامو عمل ونکړے نو د الله نه سوئ به بل داسے ځای پیدا نکړے چه هغے ته ورکوږ شے او ځان پکښې پټ کړے۔ د الله د فیصلے نه څوك نشی بچ کیدے۔

وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ
او بند کړه نفس خپل د هغه کسانو سره چه رابلی رب خپل صبا او بیګا، غواړی دوی

وَجْهَهٗ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيْدُ زِيْنَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا
مخ د هغهٔ، او واړِ نهٔ وړی سترګے ستا د دوی نه چه غواړے تهٔ ډول د ژوند دنیوی
وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا
او تابعداری مهٔ کوه د هغه چا چه غافل کړیدے مونږ زړهٔ د هغهٔ د ذکر خپل نه
وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ وَكَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا ﴿۲۸﴾
او روان شویدے د خواهش خپل پسے او دے کار د هغه د حد نه تیروتل۔

تفسیر : دا بـل ادب دے مشرکینو غټانو (د دقیانوس بادشاه مشابه خلکو) وویل چه تهٔ دا کمزوری ملګری ځان نه جدا کړه کیدے شی چه مونږ ستا خبره ومنو، نو رسول الله ﷺ به ډیر کرتـه اراده کـوله چه خپل ملګری به لږ وخت دپاره جدا کړو دے دپاره دا مشران الله تـعالیٰ توحید ته راولی۔ (صحیح ابن ماجه : ٤١١٧) نـو الله حـکـم وکړو چه لکه څنګه چه اصحاب کهف د مالدارو دنیا پرستو نه جدا شول، نو تهٔ هم ددے دنیا پرستو نه جدا شه، او د خپلو کمزورو مؤمنانو موحدینو سره کینه۔

او دا تـعـلـیـم الله تـعالیٰ په سورة الانعام آیت (٥٢) کښ او په سورة هود (٢٩) آیت کښ د نوح علیه السلام په بیان کښ هم ورکړو۔

يَدْعُوْنَ: دعـاء نـه مراد یا ذکر دے او د غداة او عشی نه مراد ټول اوقات دی، او خصوصاً دا دوه وختـونـه د ذکـر دپاره ډیر اَهم دی۔ یا دعاء په معنیٰ د عبادت او مونځونو کولو سره دے او د غداة او عشی نه مراد د سهار او مازیګر مونځونه دی ځکه چه په مکه مکرّمه کښ په ابتدائی اَوقاتو کښ دوه مونځونه فرض وو۔

يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ: یعنی دا خلك د مادیاتو پسے نهٔ دی روان بلکه صرف د الله تعالیٰ د رضا طلبګار دی۔

وَلَا تَـعْدُ عَيْـنَاكَ: عَيْـنَاكَ فـاعـل د تَـعْـدُ دے۔ یعنی واړِے نهٔ وړی ستا سترګے د دوی نه۔ حـاصـل مطلب دا چه سترګے د دوی نه مهٔ اړوه چه اعراض ترے وکړے او دوی سپك وګڼړے او د دوی پـه ځای دنیا والا غټان او مالداره غوره کړے، او د هغوی د زیب وزینت او اُوښانو او ګاړو او بنګلونه متـأثره شے۔

رسـول الله ﷺ بـه پدے امر باندے عمل کولو، یوه ورځ د صحابه کرامؓ مجلس ته راغلو

چه هغوی کښې بعض سرتور سر، څپې ایبله او زړو جامو والا ناست وو، نو د هغوی سره کیناستو او بیا ئے وفرمایل: [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ جَعَلَ مِنْ اُمَّتِیْ مَنْ اُمِرْتُ اَنْ اَصْبِرَ نَفْسِیْ مَعَهُمْ] الله لره شکر دے چه زما په امت کښې ئے داسے خلك پیدا کړل چه ما ته ئے حکم وکړو چه زهٔ د هغوی سره ځان صبر کړم۔ د هغوی سره به په یوه حلقه کښې کیناستو۔

(ابوداود: ۳٦٦٨) باسناد ضعیف فیه العلاء بن بشیر المزنی مجهول)

خباب بن الارت رضی الله عنه فرمائی: رسول الله صلی الله علیه وسلم به مونږ سره کیناستو نو کله چه به ئے غوښتل چه پاڅیږی نو پا به څیدو او مونږ به ئے پریخودو خو کله چه دا آیت ﴿وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِیْنَ﴾ نازل شو نو مونږ به د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره کیناستو نو کله چه به مونږ هغه وخت ته ورسیدو چه په هغې کښې به نبی کریم صلی الله علیه وسلم پاڅیدو نو مونږ به پاڅیدو او هغهٔ به مو پریخودو تردے چه بیا به هغه هم راپاڅیدو۔

(صحیح ابن ماجه: ٤١١٧) وسنده صحیح)

پدے حکم باندے داسے په کلکه عمل کولو۔

وَلَا تُطِعْ: پدے کښې منع ده د اعراض کولو د هغه چا نه چه درے صفات ئے وی۔

مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ: پدے کښې اشاره ده چه بعض زړونو باندے الله تعالیٰ خپل ذکر نهٔ راولی ځکه چه دغه زړه ګنده دے او ګنده ځای کښې د الله لوی والے نهٔ راځی۔

او دا داسے دے لکه (خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ) یعنی ما ورله د شرك په وجه زړهٔ غافل کړیدے۔ او مهر مے پرے وهلے دے۔

مفسرین لیکی چه ﴿وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ﴾ الآیة د اُمیه بن خلف جُمَحی په باره کښې نازل شوے وو چه د غریبانو مسلمانو لره د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مجلس نه په ویستلو تحریك کښې پیش پیش وو۔ امام مسلمؒ د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه مونږ شپږ کسان د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مجلس کښې ناست وو، نو مشرکانو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ووئیل چه تهٔ د خپل مجلس نه دوی اُوباسه دے دپاره چه دوی زمونږ په خلاف زړه وَر نشی۔

سعد وائی چه هغه شپږ کسان زهٔ، ابن مسعود، د هذیل قبیلے یو سړے، بلال او بل سړے وو چه د هغه نوم ما نه هیر شوے۔ نو د نبی صلی الله علیه وسلم په زړهٔ کښې دا خبره راغله نو الله تعالیٰ د سورة الانعام آیت (٥٢) ﴿وَلَا تَطْرُدِ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ﴾ نازل کړو (چه کوم خلق خپل رب رابلي هغوی ځان نه مهٔ شړه)۔ (مسلم: ٦٣٩٤)

وَاتَّبَعَ هَوٰهُ: یعنی خواهش ئے په حق باندے غوره کړیدے نو شرك ئے په توحید غوره

کړو۔

وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا: او دده هر کار د حد نه تیروتلے دے۔ اَیْ ضَائِعًا مُخَالِفًا لِلْحَقِّ۔ د هغه کار بیکاره او د حق مخالف وی۔ او دا د کافرانو طریقه ده چه توحید په چا کښې نۀ وی، هغه به د خواهشاتو تابع وی، زنا، غلا، دروغ، غیبت، وعده خلافی، حرام خوری او ظلم ټول بد صفات به پکښې موجود وی، او هرکار به ئے ګډوډ وی لکه د مشرکانو په حال سوچ وکړه او ددے په خلاف چا کښې چه ایمان وی نو هغه کښې به ښکلے صفات راجمع وی۔

وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ
او وایه، حق د طرف د رب ستاسو نه دے نو څوك چه غواړی نو ایمان دے راوړی
وَمَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْ إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا
او څوك چه غواړی نو کفر دے کوی، یقیناً تیار کړیدے مونږ ظالمانو لره اُور
أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا وَإِنْ يَّسْتَغِيْثُوْا
چه راګیر به کړی دوی لره دیوالونه د هغے او که دوی (د اُوبو) مدد غواړی
يُغَاثُوْا بِمَآءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِى الْوُجُوْهَ
نو مدد به ئے کولے شی په هغه اُوبو سره چه پشان د ګرمے تانبے دی، وریتوی به مخونه،
بِئْسَ الشَّرَابُ وَسَآءَتْ مُرْتَفَقًا ﴿۲۹﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ
ناکاره څکل دی او بد دے ځائے د فائدو اخستلو۔ (یا ځائے د آرام)۔ یقیناً هغه کسان
آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ إِنَّا لَا نُضِيْعُ أَجْرَ مَنْ
چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه کوی نیك یقیناً مونږ نۀ بربادوو اجر د هغه چا
أَحْسَنَ عَمَلًا ﴿۳۰﴾ أُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِىْ
چه ښائسته عمل ئے کړیدے۔ دا کسان دوی لره جنتونه د همیشوالی دی چه بهیږی به
مِنْ تَحْتِهِمُ الْأَنْهٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ
لاندے د دوی نه نهرونه، اچولے به شی دوی ته په هغے کښې بنګړی د سرو زرو نه

وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا مِّنْ سُندُسٍ وَّإِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِئِينَ
او اغوندی به جامې شنې د نرو وریښمو نه او د غټو وریښمونه تکیه وهونکي به وي
فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ نِعْمَ الثَّوَابُ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٣١﴾
په هغې کښې په پالنګونو باندې، ښه بدله ده او ښائسته دی په اعتبار د ځائې د آرام۔

تفسیر : پدې کښې بل ادب دې رسول الله ﷺ ته چه حق بیانول لازم دی لکه ځنګه چه اصحاب کهفو حق بیان کړو، او خلکو ته د ایمان دعوت ورکړی او بیا په هغې باندې زیرې او کافرانو ته تخویف ورکړی۔

الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ: ١- اَيِ الْحَقُّ جَاءَ مِنْ رَّبِّكُمْ ۔ حق ستاسو د رب د طرفنه راغلو۔ (نو اُوس ستاسو خپله خوښه ده)

٢- اَلَّذِیْ اُوْحِیَ اِلَیَّ وَاُمِرْتُ بِتِلَاوَتِهٖ هُوَ الْحَقُّ الْكَائِنُ مِنْ جِهَةِ اللّٰهِ لَا مِنْ جِهَةِ غَيْرِهٖ)

هغه وحی چه ما ته شویده او زهٔ د هغې په تلاوت مامور شوې یم، دا هغه حق دې چه د الله د طرفنه راغلې نهٔ د بل چا د طرفنه تردې چه زهٔ پکښې تغییر او تبدیل وکړم۔

٣- زجاجؒ وائی : ما چه تاسو ته کومه خبره راوړیده دا حق دې چه ستاسو د رب د طرفنه دې، ما د خپل ځان نه نهٔ دې راوړې۔ قتادهؒ وائی چه د حق نه مراد قرآن دې۔

٤- حق هغه دې چه ستاسو د رب د طرفنه راغلې وی۔

سُرَادِقُهَا : په حدیث د ترمذی کښې دی چه د جهنم څلور دیوالونه دی، غټوالې د هر دیوال په مزل د څلویښتو کالو دې۔ (ترمذی : فی جهنم باب ٤، رقم (٢٥٨٤) واحمد (١١٢٥٢) وفی سنده رشدین سعد وقد تکلم فیه من قبل حفظه)

ابن عباسؓ فرمائی : حَائِطٌ مِنْ نَارٍ ۔ د اُور دیوال به وی۔ (فتح البیان)

وَإِن يَسْتَغِيثُوا: یعنی که دوی الله ته فریاد کوی چه مونږ ډیر تږی یو نو د دوی فریادرسی به کیږی (مدد به ئې کیږی) په اُوبو باندې په شان د تانبې ویلی کړې شوې۔ حدیث کښې دی : کله ئې چه مخ ته رانزدې کړی۔ [سَقَطَتْ فَرْوَةُ وَجْهِهٖ] ۔ د مخ څرمنه به ئې پکښې پریوزی۔ (الترمذی بالاسناد السابق)۔

كَالْمُهْلِ: ١- دُرْدِیُّ الزَّيْتِ (تیلچټ، د تیلو خیرې)

٢- اَلنُّحَاسُ الْمُذَابُ۔ (ویلی کړې شوې تانبه)

۳- اَلْفِضَّةُ الْمُذَابَةُ۔ (ويلى كړے شوے چاندى) دا كرمه هم وى او درنه هم وى۔
مُرْتَفَقًا: مُتَّكَاً۔ يعنى ځاى د تكيه او آرام۔ ارتفاق په اصل كښ مِرفق (څنګله) د اننګى لاندے ودرولو ته وئيلے شى۔ ۲- اَلْمَجْلِسُ وَالْمَنْزِلُ۔ يعنى مجلس او كور۔
۳- اَلْمُجْتَمَع (مجاهدؒ) ځاى د راجمع كيدو۔ (فتح البيان)
مِنْ أَسَاوِرَ: د سرو زرو بنګړى په دنيا كښ د سړو دپاره حرام دى، او ښځو له جائز، او په جنت كښ به ئے سړى هم اچوى، او پخوانو بادشاهانو او شاهزادګانو به دا اچول، د ګينتے په شكل ډير ښائسته ښكاره كيږى۔
پدے مقام كښ ئے د (اَسَاوِر) لفظ ذكر كړو ددے حكمة يو دا دے چه د اصحاب كهفو نه بنګړى ويستلے شو او درے ورځے مهلت وركړے شو۔ نو الله اشاره كوى چه دے خلكو ته به الله تعالىٰ په جنت كښ ښكلے بنګړى اچوى۔
دويم دا چه د مكے مشركانو په خپلو سرو زرو باندے فخر كړےوو چه مونږ مالونو او سرو زرو والا يو او صحابه كرامؓ غريبانان دى، نو الله فرمائى چه همدا مؤمنان به په آخرت كښ مالداره وى او هغوى به تريے محرومه وى۔
سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ: سُندس نرى نرم وريښم دى چه دننه خرمنے سره لګيږى دے دپاره چه خرمن د سختوالى د استبرق (غټو وريښمو) نه بچ كړى۔ او استبرق هغه سختو وريښمو ته وائى چه د سرو زرو په تارونو اُودلے شوى وى او دا د جامو دپاسه اغوستلے شى۔ (ابن عاشورؒ) ددے دواړو مثال په دنيا كښ د زنانو شميس او قميص دے۔
عَلَى الْأَرَائِكِ: جمع د اَرِيكَةٌ ده، هغه پالنګ چه ناوے په هغے باندے آرام كوى۔
په لغت كښ اَلسُّرُرُ ذَوَاتُ الْحِجَالِ۔ته وائى يعنى هغه كټونه چه دپاسه پرے ډولۍ وهلے شوى وى۔ (قاله الزجاجؒ) نو پدے كښ ډيرو خبرو ته اشاره شوه، يو دا چه دا به عام كټ نهٔ وى بلكه د وادهٔ والا به وى، بل ارائك هغه كټ ته وائى چه ناوى پكښ فى الحال وى۔ نو دا به تش كټ نهٔ وى، نو د دوى ژوند به داسے وى لكه چه هره ورځ ئے وادهٔ وى۔
او مُتَّكِئِينَ كښ اشاره ده چه څه كارو كسب به ئے نهٔ وى بلكه تشے مزے به وى۔

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا رَّجُلَيْنِ جَعَلْنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ
او بيان كړه دوى ته مثال د دوه سړو چه ګرځولى وو مونږ يو د دوى له دوه باغونه

مِنْ أَعْنَابٍ وَّحَفَفْنَاهُمَا بِنَخْلٍ وَّجَعَلْنَا
د انګورو نه او راتاؤ کړی وو مونږ د هغې دواړو نه کجورې او ګرځولی وو مونږ
بَيْنَهُمَا زَرْعًا ﴿٣٢﴾ كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ آتَتْ أُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِمْ مِنْهُ
په مينځ د دواړو کښې فصل۔ دواړو باغونو ورکولې ميوې خپلې او نۀ ئې کمولو د هغې نه
شَيْئًا وَفَجَّرْنَا خِلَالَهُمَا نَهَرًا ﴿٣٣﴾ وَكَانَ لَهُ ثَمَرٌ
هيڅ شے او روان کړے وو مونږ په مينځ د دواړو کښې نهر۔ او وے هغۀ لره ميوې
فَقَالَ لِصَاحِبِهِ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَنَا أَكْثَرُ مِنْكَ
نو اُووئيل دۀ ملګرى خپل ته او دۀ خبرې کولې د هغۀ سره، زۀ زيات يم ستا نه
مَالًا وَّأَعَزُّ نَفَرًا ﴿٣٤﴾
په مال کښې او زورَور يم په ډله کښې۔

تفسير: پدې رکوع کښې د دنيا زهد (بې رغبتى) بيانيږى د وجه د مناسبت نه۔

مناسبت:

١- نزدې (وَاصْبِرْ) سره مناسبت دا دے چه مِثَالٌ لِمَنْ يَتَعَزَّزُ بِالدُّنْيَا وَيَسْتَنْكِفُ عَنْ مُجَالَسَةِ الْمُؤْمِنِيْنَ) (القرطبیؒ) د هغه چا مثال راوړى چه په دنيا باندې ځان عزتمند ګڼرى او د مؤمنانو د مجلس نه نفرت کوى۔ لکه چه دغه شان دوه کسان نور هم وو چه يو مؤمن وو او بل کافر وو کافر به په خپل باغ او مالونو باندې ځان عزتمند ګڼړلو نو الله هلاك کړو او مؤمن ته الله تعالیٰ کاميابى ورکړه نو دغه شان مشرکان به هلاك کړى او اصحاب د رسول الله ﷺ به کامياب شى او جنت به ورته ملاؤ شى۔

٢- مخکښې ئې ووئيل چه ايمان او عمل صالح د دنيا د محبت په وجه پاتې کيږى، نو دې رکوع کښې وائى چه محبت د دنيا سبب د عذاب دے په دنيا کښې۔ او په دويمه رکوع کښې وائى چه محبت د دنيا سبب د عذاب دے په آخرت کښې۔

او پدې آيتونو کښې د دنيا سپکوالے بيانيږى په درې طريقو سره چه دا د ايمان او عمل صالح په مقابله کښې ډيره سپکه ده، اصل کښې ګټه خو هغه خلکو وکړه چه ايمان او عمل

صالح پکښې وي۔
(۱) اوله طریقه دا ده چه محبت د دنیا سبب د شرك او د انکار د بعث بعد الموت دے او سبب د عذاب دنیوي دے او نیك عمل ولے خرابیږي؟ وجه ئے د دنیا محبت دے۔ مشرکان په دنیا فخر کوي راشئ وګورئ د دنیا محبت سبب د هلاکت دے په دنیا او په آخرت کښې۔ او ددے دپاره ئے دا واقعه ذکر کړیده۔ او دویمه طریقه په (آیت ٤٥) کښې او دریمه په (٤٧) آیت کښې ذکر ده۔

رَّجُلَيۡنِ: آیا دا واقعه د مثال په شکل ذکر شویده او که واقعي قصه ده؟

نو ځینو مفسرینو وئیلي دي (لکه ابن عطیهؒ او ابن عاشورؒ او ماورديؒ نقل کړیدي) چه پدے کښې وجود ضروري نهٔ دے چه دوه کسان دِے په خارج کښې موجود وي او دغسے واقعه دِے راغلې وي بلکه دا یو فرضي مثال دے۔ چه مِثلًا دوه کسان وي یو ته الله مال ورکړے وي، او بل غریب وي خو مؤمن وي نو الله عذاب راولې مؤمن ته نجات ورکړي او کافر هلاك شي نو پدے کښې کوم یو بنه شو ؟۔
(۲) ظاهر دا ده چه دا دوه کسان موجود وو چه د یو نوم فرطوس او د بل نوم یهوذا وو، دواړه د رَمُلَه (شام یوه علاقه) کښې وسیدل یو مؤمن او بل کافر وو۔ ځیني وائي چه دا دوه کسان ورونه وو او په بني اسرائیلو کښې وو د مؤمن نوم یهوذا وو په قول د ابن عباسؓ کښې یا تملیخا وو په قول د مقاتلؒ کښې۔ (البحر المحیط)
او د کافر نوم قیطوس (یا قرطوش) وو۔ (په قاف سره) دواړو ته د پلار نه میراث پاتے شو نو یو د الله په لاره کښې ولګولو غریب شو او بل کاروبار وکړو (زمکه ئے واخسته او په هغې کښې ئے دوه باغونه جوړ کړل) مالداره شو، او په دهٔ کښې درے مرضونه وو کافر او مشرك، د آخرت منکر او مسلمان سپك ګنړونکے وو۔ دا بعینهٖ د مکے د مشرکینو حال هم وو۔

حاصل د آیتونو :

الله تعالیٰ نبي کریم ﷺ ته حکم کړیدے چه د ذکر شوو تکبر او مستئ والا مکے مشرکانو ته د عبرت دپاره د بني اسرائیلو د دوه کسانو مثال بیان کړه چه د هغې نه یو کافر وو، د هغه سره د انګورو دوه باغونه وو، چه هغه د کجورو ونو د هر څلورو طرفونو نه راګیر کړے وو، او د دواړو باغونو په مینځ کښې فصل وو، الله هغه ته قِسم قسم میوے او د

خوراك ځیزونه ورکړی وو. دواړو باغونو کښې به هر کال ښې میوې کیدلې، هیڅ کله به ئې کمې نهٔ کیدو، او د دواړو په مینځ کښې ئې نهر هم روان کړے وو، او ددې کافر سره د دواړو باغونو نه سوئ نور مالونه هم وو. دهٔ مسلمان اسرائیلی ته د خبرو اترو په مینځ کښې ووئیل چه زهٔ ستا نه زیات مالداره یم، او مرتبه او خادمان او اولاد هم زما سره ستا نه زیات دی.

مفسرین لیکی چه دهٔ د مسلمان لاس اُونیولو او باغ ته داخل شو او د خپل کفر او تکبر ښکاره کولو سره وګرځیدو او د هغې خوبیانې او فضیلتونه ئې ورته بیان کړل او چونکه هغه د زمانې د ابدیت (همیشوالی) قائل وو پدې وجه وې وئیل چه زهٔ ګمان نهٔ کوم چه زما دا باغ به ختم شی او چونکه هغه د آخرت او هلته د حساب کتاب قائل نهٔ وو پدې وجه ئې ووئیل چه زهٔ ګمان نهٔ کوم چه کوم شی ته خلق قیامت وائی هغه به کله راشی.

او که بالفرض اُومنم چه قیامت به راځی نو هلته به ما ته ددې باغونو نه غوره ملاویږی، ځکه چه د الله په نظر کښې زما مقام اُوچت دے ځکه ئې ما ته په دنیا کښې هر څه راکړیدی. پدې وجه په هغه ژوند کښې به ما ته په درجه اولیٰ ددې نه ښهٔ نعمتونه راکړے کیږی. ددهٔ دا خبره چه مسلمان اسرائیلی واوریده نو هغهٔ ته ئې ووئیل چه آیا تهٔ د خپل خالق نه انکار کوې چه هغه ستا پلار (آدم علیه السلام) د خاورې نه او تهٔ ئې د نطفې نه پیدا کړے ئې، او د سړی په شکل کښې ئې تهٔ مکمل انسان جوړ کړے ئې ؟!.

تشریح الالفاظ

مَّثَلًا: دې ته ئې مثال ځکه ووئیلو چه دا قصه مشابه ده د حال د موجوده کافرو او مؤمنانو.

جَنَّتَيْنِ: دې ته ئې دوه باغونه ووئیل ځکه چه مینځ کښې ئې نهر وو. پدې وجه ئې دې ته روستو (جَنَّتَهٗ) (یو جنت) وئیلے دے ځکه چه د دواړو نه یو دیوال راتاؤ وو. (فتح البیان)

ظاهر دا ده چه دا دوه مستقل باغونه وو او روستو ئې چه ورته (جَنَّتَهٗ) وئیلے دے نو وجه دا ده چه هلته دیو باغ تذکره ده چه هغې ته داخل شوے وو ځکه چه دواړو ته په یو ځل داخلیدل نهٔ کیږی. او لَمْ تَظْلِمْ کښې چه ضمیر د مؤنث راجع کړیدے نو هغه په اعتبار د لفظ د (كِلْتَا) سره دے چه دا په لفظ کښې مفرد دے او معنیٰ ئې د تثنیه ده.

وَحَفَفْنَاهُمَا بِنَخْلٍ : حَفَّ راتاوولو او راګیرولو ته وئیلے شی. اَیْ جَعَلْنَا النَّخْلَ مُحِيطًا بِهِمَا) یعنی ما ددې نه ګیر چاپیره د کجورو ونې راتاوې کړے وې.

بَيْنَهُمَا زَرْعًا: په مينځ د دواړو باغونو کښې فصلونه به هم کيدل چه دهٔ به د هغې نه خوراکونه کول، دا ددې دپاره چه دواړه باغونه د غلو او ميوه جاتو نه پوره وي او دا ډير ښائسته شکل او ترتيب والا وي۔

لَمْ تَظْلِمْ : اَىْ لَمْ تَنْقُصْ ۔ يعني نهٔ ئې کمول د ميوو د هغې نه هيڅ شے يعني په هر حال کښې به ئې ښه پوره ميوې ورکولې۔

وَكَانَ لَهُ ثَمَرٌ: يعني ددهٔ نورې آمدنئ وې۔

لِصَاحِبِهٖ: (ملګرې) صاحب ئې ورته په اعتبار د مخکنئ زمانې سره وئيلې دې ځکه چه اوس ترې د ايمان په وجه جدا شويدې۔ يا صاحب په معنىٰ د خيرخواه سره دې۔

وَاَعَزُّ نَفَرًا : يعني زما مالونه او نفرې زياته ده۔ او همدا خبره بعينهٖ د مکې د مشرکانو هم وه۔ ﴿ وَقَالُوْا نَحْنُ اَكْثَرُ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ﴾ (سبا : ٣٥)

(او وائي دوی مونږ زياتو مالونو او اولاد والا يو)

وَدَخَلَ جَنَّتَهٗ وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ قَالَ
او داخل شو يو باغ خپل ته او دې ظلم کونکے وو په ځان خپل باندې نو وې وئيل،
مَا اَظُنُّ اَنْ تَبِيْدَ هٰذِهٖٓ اَبَدًا ﴿٣٥﴾ وَمَا اَظُنُّ السَّاعَةَ
زهٔ ګمان نهٔ کوم چه هلاك به شي دا هيڅ کله۔ او ګمان نهٔ کوم په قيامت باندې
قَآئِمَةً وَّلَئِنْ رُّدِدْتُّ اِلٰى رَبِّىْ
قائميدونکے او که (بالفرض) زهٔ واپس کړې شوم رب خپل ته (په قيامت کښې)
لَاَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنْقَلَبًا ﴿٣٦﴾ قَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ وَهُوَ
نو خامخا مونده به کړم غوره ددې نه ځائے د ورتللو۔ ووئيل دهٔ ته ملګرى خپل ته او هغهٔ
يُحَاوِرُهٗٓ اَكَفَرْتَ بِالَّذِىْ خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ
جواب ورکوو دهٔ ته آيا تا کفر وکړو په هغه الله چه پيدا کړې ئې ته د خاورې نه بيا د نطفې نه
ثُمَّ سَوّٰىكَ رَجُلًا ﴿٣٧﴾ لٰكِنَّا۠ هُوَ اللّٰهُ رَبِّىْ وَلَآ اُشْرِكُ
بيا ئې برابر کړې ئې ته سړې۔ ليکن (زهٔ وايم) چه الله رب زما دې، او زهٔ نهٔ شريك کوم

بِرَبِّيْ أَحَدًا ﴿٣٨﴾ وَلَوْلَا إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ
د رب خپل سره هيڅ يو تن۔ او ولې نۀ وه كله چه داخل شوې تۀ باغ خپل ته
قُلْتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ
چه وئيلى وې تا چه څه الله وغواړي (هغه كيږي) او نشته قوت مگر په مدد د الله دې،
إِنْ تَرَنِ أَنَا أَقَلَّ مِنْكَ مَالًا وَّوَلَدًا ﴿٣٩﴾ فَعَسٰى رَبِّيْ
كه چرې وينې تۀ ما لره چه زۀ كم يم ستا نه په مال او اولادو كښې۔ نو زردې چه رب زما به
أَنْ يُّؤْتِيَنِ خَيْرًا مِّنْ جَنَّتِكَ وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا حُسْبَانًا مِّنَ السَّمَآءِ
راكړي ما ته غوره د باغ ستا نه او رابه وليږي په هغې باندې عذاب د آسمان نه
فَتُصْبِحَ صَعِيْدًا زَلَقًا ﴿٤٠﴾ أَوْ يُصْبِحَ مَآؤُهَا غَوْرًا فَلَنْ تَسْتَطِيْعَ
نو وبه گرځي ميدان خويه۔ يا به وگرځي اُوبه د هغې اُوچې نو هيچرې طاقت به نۀ لرې تۀ
لَهٗ طَلَبًا ﴿٤١﴾ وَأُحِيْطَ بِثَمَرِهٖ فَأَصْبَحَ
هغې لره د طلب كولو۔ او راگير كړې شو آمدنئ ددۀ (په عذاب كښې) نو اُوگرځيدو
يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلٰى مَآ أَنْفَقَ فِيْهَا وَهِيَ
چه اړول راړول ئې ورغوى خپل په هغه څه خرچ كړي ئې وو په هغې كښې او هغه (باغونه)
خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا وَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ
راغورځيدلى وو په چتونو خپلو باندې او وئيل ئې اې افسوس دې
لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّيْ أَحَدًا ﴿٤٢﴾ وَلَمْ تَكُنْ لَّهٗ فِئَةٌ
چه شريك مې نۀ كړځولې د رب خپل سره هيڅوك۔ او نۀ وه دۀ لره هيڅ ډله
يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَمَا كَانَ مُنْتَصِرًا ﴿٤٣﴾
چه مدد ئې كړې وې ددۀ سره سوئ د الله تعالىٰ نه او نۀ وو دې بدله اخستونكې۔
هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا
په دغه وخت كښې واك اختيار د الله دپاره دې چه حق ذات دې، هغه غوره بدلې والا دې

وَخَيْرٌ عُقْبًا ﴿٤٤﴾
او غوره انجام والا دے۔

تفسیر: وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ: ددهٔ ظلم يو د آخرت نه انكار او بل شرك او بل گناهونه وو۔ (د دنیا محبت وغیره)

أَنْ تَبِيدَ : اَیْ تَفْنِیَ وَتَنْعَدِمَ۔ چه هلاك او ختم به شی۔

وَلَئِنْ رُّدِدْتُّ: اَیْ كَمَا تَزْعُمُ۔ یعنی لکه چه تهٔ گمان کوے۔

زجاج وائی دهٔ تـه مسلمان وروړ خبر ورکړے وو چه دنیا به ختمیږی او قیامت به راځی او مونږ بـه خپـل رب تـه پیش کیږو نو کافر ورته وویل چه که ستا د گمان مطابق زهٔ واپس شوم الخ۔

مُنقَلَبًا: (ځای د واپسئ)۔ دے تـه اغتـرار بالله وائی (یعنی په الله دهوکه کیدل او دے ته استدراج هم وائی چه کوی شرك او گناهونه او امید د کامیابئ لری)۔

لـکـه مشـرکـانـو بـه هم دا ویل چه مونږ ته الله تعالیٰ په دنیا کښ مالونه او اولاد راکړیدی ددے نه معلومیږی چه زمونږ عقیدے صحیح دی، او مونږ الله ته گران یو۔ که دا غلطه وے نو مونږ ته به ئے دومره مالونه نهٔ راکولے۔

او مشـرکانو به ویل [لَئِنْ دَخَلَ هٰؤُلَاءِ الْجَنَّةَ لَنَدْخُلَنَّ قَبْلَهُمْ) کـه دا خلك (بلال او صهیب وغیره ﷺ) جنت ته داخلیږی نو مونږ به د دوی نه مخکښ ځو۔ (فتح القدیر سورة المدثر)

دا د الله تـعـالیٰ د حـکـمتـونو نه ناخبری ده۔ د آخرت کامیابی او گټه خو په ایمان او عمل صالح کښ ده، آیا په تاسو کښ دغه شته که هسے تشے دعوے کوئ ؟!۔

يُحَاوِرُهٗ: اَیْ يُرَاجِعُهُ الْكَلَامَ وَيُحَاوِرُهٗ) یعنی جواب ئے ورکولو۔

أَكَفَرْتَ بِالَّذِیْ : مـخکښ ئے وویل (وَلَئِنْ رُّدِدْتُّ اِلٰی رَبِّیْ) چـه دهٔ خپـل رب منلو او دلته مـعـلـومیږی چه دهٔ کفر کړے۔ نو وجه دا ده چه هر هغه څوك چه د الله سره شرك وكړی او قیـامت نـهٔ مـنـی نـو هـغـه په خپل رب باندے کافر دے لکه سورة الرعد کښ تیر شویدی ﴿أُولٰئِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ﴾ (آیت : ٥)۔

د قیـامـت مـنکر د رب منکر دے۔ ځکه چه دا شك کوی په کمال قدرت د الله تعالیٰ کښ پدے وجه ئے ورته د خاورے نه د پیدائش دلیل ونیولو۔ (فتح البیان)

خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ: یـعنی ستا اصل ئے د خاورے نه جوړ کړو یا د هر انسان په نطفه کښ

خاوره اچولے كيږي لكه مخكښ تير شويدي- او د هر انسان خوراك د خاورو نه دے، او ددے نه ددهٔ ماده جوړيږي او بيا ترے انسانان پيدا كيږي-

سَوّٰكَ رَجُلًا: يعنى په تا د الله تعالىٰ څو مره احسانات دي چه روغ انسان ئے درنه جوړ كړو، بيا ئے درنه سړے جوړ كړو، دا بل نعمت، او تهٔ د الله تعالىٰ دغه شان ناشكري كوے-

دا هغه آيت دے چه ثابت بناني رحمه الله به كله لوستلو نو ډير سخت به ئے ژړل چه كوته به ئے په ژاړه راواخستله، د الله تعالىٰ د آيتونو نه به ئے اثر اخستو-

لٰكِنَّا هُوَ: اَیْ لٰكِنْ اَنَا اَقُوْلُ- ليكن زهٔ وايم- (هو) ضمير شان دے- يعنى شان دا دے-

وَلَا أُشْرِكُ بِرَبِّىٓ أَحَدًا: پدے كښ اشاره ده چه ددهٔ دا ملگرے مشرك هم وو-

وَلَوْلَا إِذْ دَخَلْتَ: دا لولا په روستو (قُلْتَ) باندے داخل دے- اُوس مسلمان دغه كافر ته توبيخ او زورنه وركوى چه كله تهٔ باغ ته داخل شوے او ددے حُسن او ښائست ډيے وكتلو او خوشحاله شوے نو ددے نعمتونو اقرار كولو سره تا ولے نهٔ وئيل چه دا باغ د الله په مشيت او د هغهٔ په فضل او كرم سره حاصل شويدے، كه هغه وغواړي نو دا به آباد وساتي او كه وغواړي نو په خرابتيا به ئے بدل كړي- الله نه بغير هيچا ته هيڅ قوت حاصل نهٔ دے- د هر قوت چينه صرف د الله ذات دے-

مَا شَآءَ اللّٰهُ: اَیْ هٰذَا مَا شَاءَ اللّٰه - دا هغه شے دے چه الله غوښتے دے، او ما له ئے راكړيدے-

۲- مَا شَاءَ اللّٰهُ يَفْعَلُ- الله چه څه وغواړي هغه كوى-

مَا شَاءَ اللّٰهُ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ چه څوك ووائى نو په هغه باندے په دغه نعمت كښ مصيبت نهٔ راځى لكه دا په روايت د بيهقى (شعب الايمان ٤/ ١٢٤ طبرانى صغير، ابويعلى، ابن مردويه) كښ په ضعيف سند راغلى دى-

(فى اسناده عيسى بن عون وهو ضعيف) (السلسلة الضعيفة رقم : ٢٠٢١)

او پدے آيت كښ هم دے ته اشاره ده- او (لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ) د جنت د خزانو نه يوه خزانه ده لكه په حديث د بخارى (٤٢٠٥) او مسلم باب الذكر رقم (٤٤) وغيره كښ راغلى دى-

إِن تَرَنِ أَنَا أَقَلَّ مِنكَ: ددے جزاء پټه ده- اَیْ فَلَا بَأْسَ- پدے هيڅ باك او پرواه نشته-

ځكه چه زمونږ د الله نه لوى لوى اميدونه دى- يعنى مسلمان كافر ته دا هم ووېل چه تهٔ ما ته د غربت او فقيرئ كوم پيغور راكوے نو هيڅ وړاندے نهٔ ده چه الله تعالىٰ به حالات بدل كړي او ما ته به ستا د باغ نه غوره راكړي په دُنيا او په آخرت كښ، او ستا په باغ باندے

بـه یـو آسـمـانـي آفت نازل کړي چه په یو ځل به ئې ختم کړي او دا سې صفا میدان به ترې جوړ کړي چه په هغې به قدم نهٔ ایساریږي، یا به ددې اُوبه په زمکه کښې ننباسي او په هیڅ طریقه به ددې بیرته حاصلول ممکن پاتې نهٔ شي۔

حُسْبَانًا: اَیْ عَذَابًا۔ (قتادةؒ) ددې مصداقات دا دي :

١- اَلصَّاعِقَةَ۔ (تندر) ٢- اَلرِّیْحُ الْحَارَةَ۔ (گرمه هواء) ٣- اَلْجَرَاد۔(ملخان)

٤- اُور۔ ٥- د کانړو باران۔ ٦- گلئ۔

او ځیني وائي چه د حُسبان نه مراد عذاب د حساب دې د هغه د عملونو۔

صاحب د فتح البیان وائي چه همدا ښه قول دې۔

نضربن شمیلؒ وائي چه حُسبان هغه غشو ته وئیلې شي چه په یوه دُرمه کښې واچولې شي او بیا د یوې لیندې نه په یو ځل سره شل غشي گوزار کړي۔

بیا دهٔ ځنگه ووېل چه زما گمان دې چه ستا په باغ به عذاب راځي؟

نو ددې وجه دا ده چه حدیث کښې دي چه بعض بندگان که په الله قسم وکړي نو الله ئې پوره کوي۔ (بخاري : ٢٧٠٣) نو دهٔ خپل گمان وکړو، الله په هغه رشتیا عذاب راوستو۔

بـل دا د دیـن د اصولو نه معلومیږي چه ځوك کفر او شرك او گناهونه کوي نو هغې سره الله تعالیٰ مصیبتونه لیکلي دي۔

غَوْرًا: وچې۔

فَلَنْ تَسْتَطِیْعَ لَهٗ طَلَبًا: فَضْلًا عَنِ الْوُجُوْدِ۔ د طلب طاقت به ئې نهٔ لرې، موجودول خو په ځای پریده۔

وَاُحِیْطَ بِثَمَرِهٖ: نـو همدغـه شان اُوشوه چه لکه ځنگه مسلمان اسرائیلي وئیلي وو۔ ناڅاپـه د کـافـر باغ او د هغهٔ نور مالونه آفت راونیول او په کتو کتو سره هرڅه تباه او برباد شو۔ نو د ډیر افسوس او نا امیدئ نه ئې د افسوس لاسونه مروړل چه هائې ارمان چه هر څه مې خرچ کړي وو هغه ټول هلاك شو، او د انگورو باغ په زمکه کښې انبار جوړ شو او بیا ئې د مسلمان اسرائیلي خبره رایاده کړه، وې وئیل چه ارمان دې ! چه ما د خپل رب سره هیڅوك نهٔ شریك کولې نونن به دا حالت ما نهٔ لیدلې۔ ددهٔ یقین راغلو چه دهٔ سره چه دا څه اُوشو نو ددهٔ د کفر او شرك او کبر او سرکشئ په وجه سره وشو۔

خَاوِیَةٌ عَلٰی عُرُوْشِهَا: یـعـنـي انگوروته ئې چه کوم څپرونه ورکړي وو هغه ټول خکته راپریوتل او وسوزیدل۔ یا دا چه د دغه باغ بعض حصه په بعضو راپریوته۔

يَا لَيْتَنِي لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّي : ١- نیشاپوریؒ لیکی : (نَدَامَةٌ عَلٰى فُقْدَانِ الْجَنَّاتِ لَا عَلٰى سَبِيْلِ التَّوْبَةِ) دا ددهٔ د باغ په ختميدو باندې پښيمانتيا وه او د شرك نه توبه ئې مقصد نهٔ وه۔
يعنې ارمان دې چه شرك مې نهٔ وې كړې نو باغ به مې نهٔ هلاك كيدې ليكن شرك مې كړې ځكه دا سزا راته ملاؤ شوه، د خپل ملګري نصيحت ورته راياد شو ليكن بيا هم همدغه شان په خپل شرك باقي پاتې شو او توبه ئې ونهٔ وېستله۔
او دا د غافلانو طريقه ده۔ او دغه حال د مکې د مشركانو هم وو۔ او دا تصريح ده چه دا مشرك هم وو۔ او متكبر هم او منكرد آخرت هم۔
او دې قول ته صاحب د ((فتح البيان)) اقرب وئيلې دې ځكه چه روستو (وَلَمْ تَكُنْ لَّهٗ) ئې تائيد كوي۔
٢- او ځينې مفسرين وائي چه دا ددهٔ توبه وه ځكه چه په داسې مقام كښې پښيمانتيا توبه وي۔ (ابن عاشورؒ) او دا په شرك باندې پښيمانتيا وه۔ اول قول غوره دې۔
وَلَمْ تَكُنْ لَّهٗ فِئَةٌ : په كومو خادمانو او اولادو چه ددهٔ فخر كولو نو هغوی د الله په مقابله كښې ددهٔ هيڅ مدد ونكړو، او نهٔ ددهٔ خپله د الله د انتقام نه خپل ځان بچ كړې شو۔ ځكه چه په چا باندې كله د الله عذاب نازليږي نو د هغه د ذات نه سوئ هيڅوك مددګار نهٔ وي۔
وَمَا كَانَ مُنْتَصِرًا : اَىْ بِنَفْسِهٖ ۔ (خپله هم بدله اخستونكې نهٔ وو) يعنې نهٔ ورسره د بل طاقت وو او نهٔ ئې خپل طاقت وو۔ كله چه يو تن باندې مصيبت راشي او دې بدله واخلي نو تكليف ورته آسان شي چه فلاني زما باغ وسيزو خو ما هم قتل كړو۔ زړه ئې خوشحاله وي۔ نو الله فرمائي چه دې زما نه بدله اخستونكې هم نهٔ وو۔
هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ : پدې جملې سره په خبره كښې تعميم پيدا كوي۔
١- اَىْ فِىْ مِثْلِ هٰذَا الْمَوْطِنِ يَتَوَلَّوْنَهٗ وَيَتَبَرَّءُوْنَ مِمَّا سِوَاهُ ۔ يعنې په داسې وخت كښې (چه الله په چا عذاب راولي) نو په دغه وخت كښې خلك دوستي الله سره كوي كوم چه حق ذات دې۔ ځكه چه پوهه شي چه نور آلهه هيڅ مدد نشي كولې۔ (ابن عاشورؒ)
لكه دا د مشركانو عادت دې چه د مصيبت په وخت كښې صرف الله يادوي۔
٢- كلبيؒ وائي : دا د قيامت سره لګي : يعنې په دغه وخت (قيامت) كښې به خلك مينه كوي د الله سره نو هيڅ مؤمن او كافر به پاتې نشي مګر مينه به كوي د الله سره، او د بتانو او د باطلو معبودانو حقيقت به ورته معلوم شي چه هيڅ فائده به ورنكړي۔
(النكت والعيون للماورديؒ)

۳- ولایة مدد ته هم وائی (یزیدیؒ -ماوردیؒ) یعنی په دغه ځای کښې خو مدد صرف د الله وی او هغه کافرانو ته حاصل نشو- او الله تعالیٰ د خپل مؤمن بنده سره مدد وکړو او د هغه سینه ئے پرے یخه کړه- لکه ددے تائید د روستو جملے نه کیږی چه الله خپلو مومنانو بندګانو ته نیکه بدله ورکوی، او د دوی انجام ښۀ کوی، په خلاف د کافر چه هغه نه د هغۀ دنیاوی شرافت او مرتبه د الله عذاب نشی روستو کولے- بلکه الله هغه ته عذاب ورکوی او مؤمن له په هغه باندے فوقیت او پورته والے ورکوی-

په بل قراءت کښې وِلَايَة په زیر د واو سره دے نو هغه تصرف او مِلْك ته وئیلے شی- یعنی په دغه وخت کښې واکداری او تصرف د الله وی-

الْحَقِّ : دا صفت ئے راوړو پدے کښې اشاره ده چه په دغه حال کښې دا خبره ښکاره شوه چه د غیر الله هیڅ حقیقت نشته او نۀ ورله دوام (همیشوالے) شته او الله تعالیٰ ثابت او موجود ذات دے- (ابن عاشورؒ)

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ أَنْزَلْنَاهُ
او بیان کړه دوی ته مثال د ژوند دنیوی په شان د اُوبو دے چه نازل ئے کړو مونږه
مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْأَرْضِ فَأَصْبَحَ
د آسمان نه نو ګډوډ (ډیرے) راوخیژی په هغے سره ګیاهګانے د زمکے نو اُوګرځی
هَشِيْمًا تَذْرُوْهُ الرِّيَاحُ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ مُّقْتَدِرًا ﴿۴۵﴾
مات رامات چه والوزوی هغے لره هواګانے او دے الله په هر شئ باندے ډیر قدرت لرونکے-
الْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ
مالونه او ځامن ډول د ژوند دنیوی دے او باقی پاتے کیدونکی نیک عملونه غوره دی
عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ أَمَلًا ﴿۴۶﴾
په نیز د رب ستا په بدله کښې او غوره دی په امید کښې-

تفسیر : پدے رکوع کښې د دنیا بې رغبتی په دویمه او دریمه طریقه بیانوی یعنی د دنیا سپکوالے او ددے په جلتئ سره ختمیدل بیانیږی په مثال سره- چه پدے باندے غرور نۀ دے پکار- ❁ او دا سبب د عذاب دے په آخرت کښې- ❁ او هیبت د آخرت بیانیږی-

حاصل د مثال دا دے چه د دنیا ژوند د یو فصل مثال دے چه شین شي، ګډے وډے ګیاه ګانے راوخیژي، بیا لږ وخت په هغے د خزان زمانه راشي، خلك ئے وریبي نو زر ختم شي نو انسانان هم دغه شان دي چه یو فصل یعني یوه پیړئ پیدا کیږي هغه ختم شي بیا بل فصل (پیړئ) پیدا شي۔ تول دنیا هم دغه شان ختمیدو والا ده۔ چه د چا په ګیره کښ سپین ولګیدل نو فصل ئے پوخ شو او زمانه د ریبلو ئے نزدے شوه۔

تفصیلي تطبیق :

لکه باران سره چه کنړ او مختلف بوټي راوخیژي او بیا څه وخت روستو اُوچ شي او ذرے ذرے شي، او په هواګانو سره والوځي نو تش میدان پاتے شي، نو دارنګه دنیا د اُوبو په شان ده لکه اُوبه چه په یو ځای نۀ تینګیږي او په یو حالت همیشه نۀ پاتے کیږي او څوك چه په اُوبو کښ داخل شي نو د لوندیدو نه بغیر نشي پاتے کیدے، او چه اُوبه برابرے وي نو فائده ورکوي او چه د حد نه تیرے شي نو تباهي کوي نو دا ټول حالتونه د دنیا صفتونه هم دي، دنیا هم په یو ځای نۀ ایساریږي، دارنګه دنیا د انسان سره په یو حال نۀ وي، حالات ئے بدلیږي۔ دارنګه څوك چه دنیا کښ ننوزي نو د هغے د فتنو نه نشي بچ کیدے۔

دارنګه دنیا داري چه د حد نه زیاته شي نو سبب د تباهئ ګرځي۔ او مختلف بوټي اشاره ده د دنیا مختلف مالونو ته او څنګه چه هغه بوټي اُوچ شي او والوځي نو دارنګه د دنیا مالونه ختمیږي او فناء کیږي۔ (احسن الکلام)

ابن عاشورؒ وائي : پدے کښ د دنیا تشبیه ده د حال د یوے باغیچے سره چه لږه زمانه تازه شنه وي، بیا د هغے ګیاه زر ختمه شي۔ او وجه د شبه د ښائسته حالت نه بد حالت ته نقل کیدل دي۔ دارنګه د دنیا د نعمتونو او مزو او تازه ګئ او ځواني او خوش عیشئ بیا د هغے ختمیدل او د هغے د فائدے د زائله کیدلو او هغه په مختلفو طریقو سره ختمیدو تشبیه ورکړے شویده د هغه باران سره چه اول کښ راشي نو تازګي پیدا کړي لیکن بیا زر ختم شي او ګډوډ والوځي۔ (التحریر والتنویر)

اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ : پدے کښ اُوس الله تعالیٰ مؤمنانو ته د عبرت دپاره دعوت ورکوي چه مشرکان چه په کومو نعمتونو د مالونو او زامنو باندے اخته دي، دا خو صرف د دنیا ډول دے چه ختمیدونکي دي، تاسو له پکار دي چه داسے نیك اعمال وکړئ چه د هغے بدله ډیره مزیداره ده۔ (ابن عاشورؒ)

وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ: باقی پاتے کیدونکی نیکیانی څه شے دے ؟

۱- په حدیث کښې دی: [خُذُوا جُنَّتَكُم مِنَ النَّارِ قُولُوا: سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ فَإِنَّهُنَّ يَأْتِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُقَدِّمَاتٍ وَمُعَقِّبَاتٍ وَمُجَنِّبَاتٍ وَهُنَّ الْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ] د اُور نه د ځان دپاره ډهال واخلئ، دا کلمات ووایئ ځکه چه دا به د قیامت په ورځ داسے حال کښې راشي چه د مخکښې او روستو او اړخونو نه به د انسان حفاظت کوي، او دا باقي پاتے کیدونکی نیکیانی دی. (حاکم، بیهقی فی شعب الایمان، عمل الیوم واللیلة للنسائی (٤٨٨/٨٤٨) صحیح الجامع الصغیر رقم: ٣٢١٤ باسناد صحیح)

۲- پنځه مونځونه. ۳- كُلُّ عَمَلٍ أُرِيدَ بِهِ وَجْهُ اللهِ فَهُوَ مِنْهَا. (قتادة)

هر هغه عمل چه د الله د مخ د خاطره وکړے شي نو دا د باقیات صالحات نه دے.

او دا جامع تعریف دے چه پدے کښې پنځه مونځونه، اعمال د حج او عمرے، روژے د رمضان او کلمات طیبات (مزیدارے پاکے خبرے) په اوله درجه کښې داخل دی.

باقیات کښې اشاره ده چه دا اعمال به هله فائده ورکوي چه کله د انسان دپاره باقي پاتے شي، او په ریاء او نورو مخالفتونو سره ضائع نشي.

او بشارت دے چه الله تعالیٰ به دا د ایمان والو دپاره همیشه باقي پریدی.

وَخَيْرٌ أَمَلًا: دا غوره دی په اعتبار د امید سره، یعني ددے امید کول پکار دی زیات د هغے نه چه مالداره ئے په دنیا کښې د مالونو او د اولادو نه کوي.

وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْأَرْضَ بَارِزَةً
او په کومه ورځ چه روان به کړو مونږ غرونه او وینے به ته زمکه ډاګه
وَحَشَرْنَاهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَدًا ﴿٤٧﴾ وَعُرِضُوا
او راجمع کړی به وی مونږ دوی لره نو پرے به نږدو د دوی نه هيڅ يو تن. او پيش به کړے شي دوی
عَلَىٰ رَبِّكَ صَفًّا لَّقَدْ جِئْتُمُونَا كَمَا
په رب ستا باندے صفونه (وبه وئیلے شي) یقیناً راغلئ تاسو مونږ ته لکه چه
خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ بَلْ زَعَمْتُمْ أَلَّن نَّجْعَلَ لَكُم
پیدا کړي وئ مونږ تاسو اول کرته بلکه ګمان کوو تاسو چه هیچرے به ونۀ ګرځوو تاسو لره

مَّوْعِدًا ﴿٤٨﴾ وَوُضِعَ الْكِتَابُ فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا
نیته. او کیبه خودیے شی کتاب (عملنامه) نو وینے به ته مجرمان یریدونکی د هغے نه
فِيهِ وَيَقُولُونَ يَا وَيْلَتَنَا مَالِ هَذَا الْكِتَابِ
چه پدیے کښی دی او وائی به دوی اے هلاکت دیے مونږ لره څه وجه ده دیے کتاب لره
لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَّلَا كَبِيرَةً إِلَّا أَحْصَاهَا وَوَجَدُوا
چه نۀ ئے دیے پریخے وړوکے گناه او نۀ غټه گناه مگر راگیره کړیے ئے ده او مونده به کړی دوی
مَا عَمِلُوا حَاضِرًا وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا ﴿٤٩﴾
هغه عملونه چه دوی کړیدی حاضر، او ظلم نۀ کوی رب ستا په هیچا باندیے.

تفسیر : د دنیا د بے ثباتئ او په قیامت کښی د نیکو اعمالو د اجر او ثواب بیانولو نه روستو د آخرت څه احوال بیانوی، پدیے کښی دریمه طریقه د بی رغبتئ د دنیا ده.

الله تعالیٰ فرمائی چه هغه ورځ را یاد کړه چه کله به مونږه غرونه د خپل ځایونو نه راویاسو او فضاء ته به ئے بوځو، یا به ئے گرد او غبار کړو او په فضاء کښی به ئے والوزوو. سورة النمل آیت (۸۸) کښی الله تعالیٰ فرمایلی دی : ﴿وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۝﴾ (او ته به په غرونو په خپل ځائے ولاړ گمان کوبے لیکن هغه به د وریځے په شان روان وی). او په سورة الواقعه (۵/٦) آیت کښی فرمایلی دی :

﴿وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنْبَثًّا ۝﴾ او غرونه به بالکل ذره ذره شی بیا به د پراگنده غبار په شان شی). او زمکه به هوار میدان شی، پدیے به نۀ کوم عمارت وی او نۀ به غر او نۀ ونه، او نۀ بل شے، او الله تعالیٰ به تمام پیریان او انسانان د محشر میدان ته راجمع کړی، یو فرد به هم نۀ شی پاتی کیدیے.

لکه چه الله تعالیٰ په سورة الواقعه آیت (۴۹/ ۵۰) کښی فرمایلی دی : ﴿قُلْ إِنَّ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ ۝ لَمَجْمُوعُونَ إِلَى مِيقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ۝﴾ (نۀ ووایه چه ټول مخکنی روستنی به ضرور راجمع کړیے شی یو یے مقرریے ورځے ته).

فائده : او ترتیب د قیامت

نُسَيِّرُ ئے مضارع او (وَحَشَرْنَا) ئے ماضی راوړه، ددیے فائده دا ده چه دا دلیل دیے چه حشر به

په غرونو روانولو باندے مقدم وی۔ ددے ترتیب داسے دے چه قیامت کښ دوه شپیلئ وهلے شی، اولے شپیلئ سره به ژوندے مخلوق مړ شی لکه ملائك او انسانان او پیریان او حیوانات، زړونه به ئے وچوی او آسمان او زمکه او غرونو کښ به څه تغیر نۀ پیدا کیږی، یو الله به باقی وی، او بل اسرافیل ﷺ نو الله تعالیٰ به هغه په خپل امر سره مړ کړی۔ پدے حال کښ به څلویښت کاله تیر شی، تول انسانان به مړۀ پراته وی نو بیا به الله تعالیٰ داسے تینګ باران وکړی لکه د سړو د منی (نطفے) په شان، او څلویښت ورځو پورے به وریږی

(دا به داسے وی لکه الله تعالیٰ چه انسانان د فصل په شان په دغه باران رازرغونوی)

نو پدے کښ به اول اسرافیل ﷺ راپورته کړی نو هغه له به شپیلئ ورکړی، هغه چه شپیلئ شروع کړی نو اول به انسانان او پیریان او نور حیوانات راژوندی کړی، نو پدے شپیلئ کښ به وخت په وخت تیزی پیدا کیږی تردے چه د هغے د وجه نه به غرونه هم ذره ذره کیدو ته روان شی او آسمانونه به دروازے دروازے شی، او ستوری به خکته راوه دوریږی او زمکه به ذره ذره شی۔ او انسان ورته څکه راژوندے کوی چه که انسان مړ وے او بیا دغه حالات راتللے نو انسان به د هیڅ نه خبر نۀ وے خو الله تعالیٰ به انسان ته دا تول حالات ورښائی او په دۀ باندے به دا سختیانے او هیبتونه تیریږی، انسانانو ته خپل قدرت ښائی۔

وَعُرِضُوا عَلٰى رَبِّكَ صَفًّا: د احادیثو نه معلومیږی چه الله تعالیٰ به په عرش باندے مخامخ وی او د هغه مخے ته به انسانان ودریږی او د هغوی نه ګیر چاپیره به د اول آسمان بیا د دویم او دریم او تر د اُوم آسمان ملائك تردے چه د عرش ملائك به ګیر چاپیره ودریږی او انسانان او پیریان به ئے په مینځ کښ ولاړ وی او د هغوی نه شاته به تول حیوانات وی چه انسانانو ته به ګوری او پدے حال کښ به الله تعالیٰ پنځوس زره کاله ودرولی وی، بیا به ورسره روستو حساب کتاب شروع کوی۔ والله المستعان۔

كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍۭ: یعنی د اول ځل په شان بیرته راغلئ خپے ابیله، ناسته او بربند۔

یعنی تول د محشر حاضرین به د الله مخے ته صف تړلی ولاړ وی، او الله تعالیٰ به دوی ته وائی چه لکه څنګه چه ما تاسو اول ځل پیدا کړی وئ، نن ورځ دویم ځلی ما راژوندی کړئ او خپلے مخے ته مے اُودرولئ، حال دا چه اے د بعث بعد الموت انکار کونکو! تاسو ګمان کولو چه مونږ به ستاسو د دویم ځلی ژوندی کولو دپاره او ستاسو د حساب او کتاب او جزا او سزا هیڅ وخت مقرر نۀ کړو پدے وجه په دنیا کښ مو خپله من مانی کوله او

زمونږ د اطاعت او بندګۍ نه غافل وئ۔

وَوُضِعَ الْكِتَابُ : کتاب جنس دے اَیْ صَحَائِفُ الْاَعْمَالِ ۔ یعنی د بندګانو د عملونو کتابونه (عملنامے) به د الله تعالیٰ مخے ته راوړے شي، او هر شخص ته به د هغهٔ عملنامه د هغهٔ په لاس کښې ورکړے شي، مؤمن ته به په ښي لاس او کافر ته به په ګس لاس کښې۔

په دنیا کښې د جرمونو او ګناهونو کونکي به په خپلو صحیفو کښې بد عملونه ووینی نو د یرے نه به ورپیرږي او وائي به چه اے زمونږ بد نصیبئ! دے صحیفے له څه شویدي چه دے وړه او غټه هیڅ ګناه هم نهٔ ده پریخے۔ هره ګناه پدے کښې درج ده۔

دوي چه په دنیا کښې هر څه کړي وي هغه به په پوره تفصیل سره خپلے مخے ته ومومي، او د دوي د عملونو مطابق به دوي ته بدله ورکړے شي۔ او الله تعالیٰ په هیچا باندے هم ظلم نهٔ کوي، نهٔ به د چا ګناه زیاته لیکي او نهٔ د چا نیکي ضائع کیږي او آخر کښې به جنتیان جنت ته او جهنمیان جهنم ته لیږلے شي۔

ددے کتاب نه بعض مفسرینو دا مراد اخستے دے چه یو غټ کتاب به راوړے شي چه په هغے کښې به د ټولو انسانانو عملونه لیکلے شوي وي چه هغه به د آسمانونو او د زمکے نه غټ وي (زاد المسیر)

لیکن ددے ثبوت په قرآن او حدیث کښې نشته لهذا دا تفسیر صحیح نهٔ ښکاري۔

يَا وَيْلَتَنَا : وَيْلَةٌ مؤنث د وَيْلٌ دے او ویل ته آواز کولو نه مقصد خپل درد ښکاره کول دي د هلاکت په وجه، نو ګویا که دغه هلاکت ته آواز کوي چه اے هلاکته راشه دا ډِے وخت دے۔ بیا استعمالیږي د غرض د نداء دپاره چه هغه توجع (درد ښکاره کول) دي۔

(ابن عاشورؒ) نود ډیرے یرے او نا امیدئ په وجه به خپل ځان ته ښیرے کوي او هلاکتونه به رابلي۔ (فتح البیان)

أَحْصَاهَا : راجمع کړے ئے دے او راګیر کړے ئے دے۔ او دا د هر انسان په باره کښې ده چه د هغه به هر عمل لیکلے شوے وي، بیا به مجرمان ډیر یریږي او مؤمنان به کم، ځکه چه دوي توبې ویاسي او استغفار کوي او نیک اعمال کوي نو الله به ترے ډیر ګناهونه وران کړي هم وي۔ او ځینی به بیخي معاف وي۔

حَاضِرًا : دا حساب او حالت چه انسان راياد کړي چه زما د ژوند هره لمحه لیکلے کیږي نو ژوند ئے ډیر په احتیاط کیږي۔

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِآدَمَ فَسَجَدُوْا
او کله چه اُووئیل مونږ ملائکو ته سجده وکړئ آدم (عليه السلام) ته نو سجده اُوکړه هغوی
إِلَّا إِبْلِيْسَ كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهٖ
سوئ د ابلیس نه، وو هغه د پیریانو نه نو نافرمانی ئے اُوکړه د حکم د رب خپل نه
أَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗٓ أَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِيْ وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ
آیا نو نیسئ تاسو دهٔ لره او اولاد ددهٔ دوستان سوئ زما نه او دوی تاسو لره دشمنان دی،
بِئْسَ لِلظّٰلِمِيْنَ بَدَلًا ﴿۵۰﴾
بد دے (ابلیس) ظالمانو لره په بدله (د الله تعالی) کښ۔

تفسیر : زمونږ مشائخ وائی چه واقعه د آدم (عليه السلام) ئے د جواب د یوے شبهے په طور راوړیده، مشرکان وائی چه تاسو وایئ چه صرف الله په غیبو پوهیږی ولے پیریان چه د غیبو خبرونه راوړی ؟ نو دلته جواب کوی چه هغوی هم په غیبو نهٔ پوهیږی، ابلیس ته خپله گمراهی نهٔ وه معلومه، نهٔ ورته د خپلو ملگرو گمراهی او نهٔ ورته د آسمان او د زمکے پیدائش معلوم وو۔

(۲) دویمه وجه دا ده چه پدے کښ نهی ده د مشابهت د ابلیس نه په فسق کښ۔ پدے وجه ئے دلته د (فَفَسَقَ) لفظ راوړیدے چه دا د موضوع د سورت سره مناسب دے، چه ابلیس ایمان او عمل صالح پریخے وو نو تاسو د ابلیس مشابهت مهٔ کوی او د هغهٔ تابعداری مهٔ کوئ چه د ایمان او صالح نه ووځئ۔

(۳) ابن عاشورؒ لیکی چه دا واقعه د مخکښ (وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ) سره متعلق ده یعنی دلته الله تعالیٰ مثال راوړیدے دپاره د هغه مشرکانو چه هغوی په خپلو مالونو او مرتبو باندے فخر وکړو او فقیران مسلمانان ئے سپك وگنړل او د حق کمال او د باطل غرور ترمینځ ئے هیڅ تمیز ونکړو لکه ابلیس چه آدم (عليه السلام) سپك وگنړلو او د هغه کمال ته ئے غاړه کینخوده بلکه خپلے باطلے عقیدے (چه زهٔ ددهٔ نه غوره یم) په غرور کښ راوستو۔

او دارنگه پدے کښ تذکیر دے پدے خبره چه شیطان جړه د گمراهئ ده، او کوم خلك چه په قیامت کښ تاوانیان کیږی نو هغه پدے وجه چه د شیطان او د هغهٔ د دوستانو په

قدمونو پسے روانیږی۔ پدے وجه ئے روستو (اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗ اَوْلِيَاءَ مِنْ دُوْنِىْ) لفظ ووئیلو۔ او دا واقعه تنظیر دے د حال د مشرکانو او د هغوی د انکار او توبیخ دپاره تو طئه ده۔
(ابن عاشورؒ)

كَانَ مِنَ الْجِنِّ: دا صریح دلیل دے چه ابلیس د جناتو نه دے او د ملائکو د جنس نه نهٔ وو، ځکه چه ملائك د نُور نه پیدا دی او ابلیس او جنات د اُور نه پیدا دی۔

فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ: اَیْ خَرَجَ عَنْ طَاعَةِ رَبِّهٖ۔ (ووتـو د طاعـت د رب خپل نه) فسق په اصل کښې وتو ته وائی، بیا کله استعمالیږی په لوی عصیان (نافرمانئ) کښې لکه په ﴿وَمَا يُضِلُّ بِهٖ اِلَّا الْفَاسِقِيْنَ﴾ (البقره : ٢٦) کښې ذکر شویدی۔

اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِىْ: د الله نه ماسوئ د شیطان تابعداری کول د شیطان سره دوستـی کـول دی۔ هر هغه حالت چه مشرکان په هغې کښې د خپلو معبودانو عبادت کوی نو دا هغوی لره د الله نه سوئ اولیاء (دوستان) نیول دی۔

اَوْلِيَآءَ: ددے نه مراد دوستان دی په طاعت کولو سره یا مددگاران او معبودان۔

بِئْسَ لِلظّٰلِمِيْنَ: اَیْ بِئْسَ الشَّيْطَانُ لِلظَّالِمِيْنَ فِىْ بَدَلِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ)۔

بـد دے شیطان د ظالمانو دپاره په بدل د الله تعالیٰ کښې۔ او پدے کښې التفات دے د خطاب نه غیبة ته، او دا دلیل وی د مقت (غضب) او تبعید (وړاندے والی)۔

او دوی ئے په لفظ د ظالمین سره ذکر کړل، پدے کښې د دوی بدئ ته اشاره ده چه دوی د الله تعالیٰ حق مخلوق ته ورکړو۔

او بـدلًا تـمییـز دے د اسـم د بـئـس نه تقدیر داسے دے : (بِـئْـسَ الْبَـدَلُ لِـلْمُشْرِكِيْنَ الشَّيْطَانُ وَذُرِّيَّتُهٗ) یعنی د مشرکانو دپاره شیطان او د هغه اولاد ډیره بده بدله ده۔

مَا اَشْهَدْتُّهُمْ خَلْقَ السَّمَاوَاتِ وَالْاَرْضِ وَلَا خَلْقَ
نهٔ دی حاضر کړی ما دوی پیدائش د آسمانونو او د زمکے ته او نهٔ پیدائش
اَنْفُسِهِمْ وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّيْنَ عَضُدًا﴿٥١﴾
د هَم جنسو د دوی ته او نهٔ یم زهٔ نیونکے گمراه کونکو خلقو لره مددگاران۔
وَيَوْمَ يَقُوْلُ نَادُوْا شُرَكَآئِىَ الَّذِيْنَ
او په کومه ورځ چه ویه وائی (الله) آواز وکړئ شریکانو زما ته هغه کسان

زَعَمۡتُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ
چه گمان کولو تاسو (چه دوی زما شریکان دی) نو آواز به وکړی دوی هغوی ته
فَلَمۡ یَسۡتَجِیۡبُوۡا لَهُمۡ وَجَعَلۡنَا بَیۡنَهُمۡ
نو هیڅ جواب به ورنکړی هغوی دوی ته او ویه گرځوو مونږ په مینځ د دوی کښ
مَّوۡبِقًا ﴿۵۲﴾ وَرَاَی الۡمُجۡرِمُوۡنَ النَّارَ فَظَنُّوۡٓا اَنَّهُمۡ
ځائے د هلاکت۔ او ویه وینی مجرمان اُور لره نو گمان به وکړی چه بیشکه دوی
مُّوَاقِعُوۡهَا وَلَمۡ یَجِدُوۡا عَنۡهَا مَصۡرِفًا ﴿۵۳﴾
پریوتونکی دی هغے ته او نۀ به مومی د هغے نه ځائے د اوړیدو۔

تفسیر : پدے آیت کریمه کښ د ابلیس او د شیطانانو کمزورتیا بیانیږی، او په هغه خلکو رد دے چه هغوی شیطانان او باطل معبودان د الله تعالیٰ سره شریك جوړوی۔

او دا علت دے د (اَفَتَتَّخِذُوۡنَهٗ وَذُرِّیَّتَهٗ) دپاره۔ یعنی تاسو دوی څنګه په دوستانے سره نیسئ حال دا چه ما خو دوی د آسمانونو او د زمکے د پیدائش په وخت نۀ دی حاضر کړی چه د هغوی نه مے پکښ مدد اخستے وی، او مشوره مے ورسره کړی وی چه دا څنګه پیدا کړم چه تاسو رالګیږئ هغه ما سره شریکان ګنړئ حال دا چه هیڅ قدرت او څه برخه د پیدائش ئے نشته، او نۀ مے چه کله د دوی هَمْ جنس خلك پیدا کول نو په دغه وخت کښ مے هم نۀ دی حاضر کړی چه څه مشوره او مدد مے ترے اخستے وی او نۀ الله د چا مدد ته محتاج دے نو بیا دوی ما سره څنګه شریکوئ ؟ او زما په خلاف د دوی تابعداریٔ څنګه کوئ؟۔ نو د دوی په شرکت باندے هیڅ دلیل نشته۔ یعنی هرکله چه دوی دومره عاجز دی نو بیا د الله سره څنګه شریکان جوړ شی۔

مَا اَشۡهَدۡتُّهُمۡ : اَیۡ لِلۡاِسۡتِمۡدَادِ وَلَا لِلۡمَشۡوَرَةِ) یعنی ما د مدد او مشورے اخستو دپاره دوی نۀ دی حاضر کړی۔ یا مطلب دا دے چه دا مشرکان خو د عالَم د پیدائش په وخت کښ نۀ وو حاضر شوی نو بیا دوی څنګه فیصله کوی چه د دوی حال به د الله په نیز باندے ښۀ وی۔ (فتح البیان)

عَضُدًا : مټ یعنی مددګار۔ یعنی څوك چه خلك ګمراه کوی نو هغوی زۀ د خپل ځان او

د دين دپاره مددگاران نۀ جوړوم۔

په سورة سبا (۲۲) آيت كښې الله تعالىٰ همدا دليل داسې بيان كړيدے :﴿ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَمَا لَهُ مِنْهُمْ مِنْ ظَهِيرٍ ۝﴾ (او نۀ (د زمكې او آسمان په پيدائش كښې) د دوى څه حصه شته او نۀ د دوى نه كوم د الله مددگار شته)۔

سوال وجواب

سوال دا دے چه رسول الله ﷺ فرمائي : اِنَّ اللّٰهَ لَيُؤَيِّدُ هٰذَا الدِّيْنَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ) كله الله تعالىٰ ددين تائيد په يو فاجر (گناهگار) سړى سره كوى۔ (بخارى : (۳۰٦٢) ومسلم : ۳۱۹)

او دلته وائى چه زۀ د گمراه كونكو نه مدد نۀ اخلم؟ (۱) جواب دا دے چه دلته مراد دا دے چه (مَا كُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّيْنَ عَضُدًا فِي الْخَلْقِ وَالْاَمْرِ) زۀ گمراه كونكى خپل مددگاران نۀ جوړوم په پيدائش او تصرفاتو كښې چه د دوى نه مشوره او مدد واخلم ځكه چه حاجت ئې ورته نشته۔ او دغه حديث په باره د شرعى امورو كښې دے چه په شريعت كښې كله نا كله الله تعالىٰ د فاجرانو نه هم كار اخلى۔ او دا امتحان وى (لكه دے حديث به په سلفو باندے ډير اثر كولو او وئيل به ئې چه هسے نه چه مونږ د الله په نيز فاجران يو او د دين كار كوو)

(۲) ډير غوره وجه دا ده چه يو فاجر دے او بل مُضِل۔ فاجر خپله گناهگار ته وائى، ددۀ نه د دين كار اخستے شى، كله كله ئې ددين دپاره استعمال كړى۔ او مُضل هغه دے چه د بل د گمراهئ كوشش كوى نو الله تعالىٰ د گمراه كونكى نه هيڅكله د دين خدمت نۀ اخلى، مشرك او بدعتى به چرته د خير لوى كار ونكړى چه دين ته پرے ترقى ملاؤ شى۔

وَيَوْمَ يَقُوْلُ: پدے آيت كريمه كښې د آخرت يره ده چه د مشركانو نه به خپل آلهه براءت كوى۔ او دا عطف دے په (مَا اَشْهَدْتُّهُمْ) باندے۔ يعنى دوى ته به د دوى شركاء د حشر په ورځ فائده ونكړى۔ (ابن عاشورؒ)۔

الله تعالىٰ نبى كريم ﷺ ته حكم كړيدے چه هغه مشركانو ته د هغه ورځے حال بيان كړى كله چه به الله تعالىٰ دوى له مخاطب كړى ورته وائى به چه كوم خلق تاسو په دنيا كښې زما سره په عبادت كښې شريكان گنړل، هغوى ته د خپل مدد دپاره آواز وكړئ، دے دپاره چه نن ورځ دوى تاسو د عذاب د اُور نه بچ كړى۔ او دا خبره به الله دوى ته د زجر او توبيخ په طريقه وائى، نو دوى به هغوى ته په نومونو اخستو سره آواز وكړى، ليكن هغه معبودان به د دوى د آواز جواب نۀ وركوى، ځكه چه په هغه ورځ به هيڅ شخص چه د چا

په دنيا کښې عبادت کړے شوے وي په خپله ژبه ددے خبرے د راوستلو جرأت نهٔ کوي۔
نَادُوْا: يعنې د مدد او سفارش دپاره ورته آواز وکړئ لکه څنګه چه به تاسو د دوي په باره کښې د سفارش او مدد عقيده ساتله۔
شُرَكَآئِيَ : ددے نه مراد نيکان او بدان دواړه قسمه خلك دي چه د هغوي عبادت شويدے۔
فَدَعَوْهُمْ : يعنې دوي به ورته آواز وکړي د الله د حکم مطابق، ليکن هغوي به ورله هيڅ جواب ورنکړي او نهٔ به ورسره مدد وکړي، دغه خلك به جواب ورکولے هم نشي او د يرے نه به هم جواب نهٔ ورکوي۔ پاتے لا دا چه د دوي د طرفنه مدافعت وکړي يا ورته څه فائده ورکړي۔ (ابن عاشورؒ وفتح البيان)
وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ مَّوْبِقًا : نو پدے وخت کښې به مونږ د مشرکانو او د هغوي د معبودانو دپاره يو مشترك ځاي د هلاکت جوړ کړو يعنې ټول به جهنم ته ديکه کړو۔ يا که د نيکانو خلکو عبادت شوے وي نو هغوي به ترے راجدا کړو او مشرکان به د هلاکت کندے ته ګوزار کړو۔ يا بَيْنَهُمْ ضمير مؤمنان او کافرانو ته راجع دے۔
مَّوْبِقًا: (۱) ځاي د هلاکت۔ چه ټول جهنم دے، يا ددے نه مراد خاص ژوره کنده ده په جهنم کښې چه د وينو او زوو نه ډکه ده۔ اول قول غوره دے۔
(۲) ابن الاعرابيؒ وائي : موبق د دوه څيزونو ترمينځ پرده او فاصله راوستونکے شے دے۔
(۳) قاسميؒ ليکي چه موبق نه مراد عداوت او دشمني ده چه دا به په سختوالي کښې داسے وي لکه عين هلاکت۔ يعنې الله تعالىٰ به د کافرانو او د هغوي د معبودانو ترمينځ داسے سخته دشمني پيدا کړي چه په ميدانِ محشر کښې به يو بل ته کتل او ملاويدل نهٔ برداشت کوي۔ او دا داسے دے لکه سورة مريم آيت (۸۱/۸۲) کښې الله تعالىٰ فرمايلي دي :
﴿وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللهِ آلِهَةً لِيَكُوْنُوْا لَهُمْ عِزًّا ○ كَلَّا سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا○﴾
يعنې (دوي د الله نه سوىٰ نور معبودان جوړ کړيدي، دے دپاره چه هغوي د دوي دپاره سبب د عزت جوړ شي، ليکن داسے هيچرے نهٔ کيږي هغوي خو به د دوي د عبادت نه منکر کيږي او د دوي په خلاف به دشمنان کيږي)۔
وَرَاَى الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ : دا د مخکښې ((موبق)) تشريح ده۔ يعنې د حشر په ميدان کښې چه کله ددے مجرمانو مخے ته جهنم راوستے شي نو د لرے نه ليدو سره به دوي يقين وکړي چه همدا د دوي ځاي د اُوسيدو دے، او ددے نه د تيختے هيڅ صورت نشته دے۔

مفسرین لیکی چہ جهنم ته د داخلیدو نه مخکښ چه جهنميانو ته کوم لوئی غم او پریشانی رسیږی هغې ته دلته اشاره ده۔ او که انسان ددے تصور وکړی نو دا ډیر لوی هیبت دے۔

فَظَنُّوا: ظن دلته په معنیٰ د یقین سره دے۔

مُّوَاقِعُوهَا: اَیْ وَاقِعُوْنَ فِیْهَا وَدَاخِلُوْنَ۔ یعنی دوی هغے کښ پریوتونکی او داخلیدونکی دی۔

مَصْرِفاً: ځای د واپس کیدو۔ / ځای د اوړیدو چه هغے ته واوړی۔

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِيْ هٰذَا الْقُرْآنِ لِلنَّاسِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ وَكَانَ الْإِنْسَانُ
او یقیناً بیان کړیدی مونږ پدے قرآن کښ خلقو ته د هر قسم بیان نه او دے انسان
أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا ﴿٥٤﴾ وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَنْ يُّؤْمِنُوْا
زیات د هر شی نه په جګړه کښ۔ او نۀ دے منع کړے خلقو لره د ایمان راوړو نه،
إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدٰى وَيَسْتَغْفِرُوْا رَبَّهُمْ إِلَّا
کله چه راغے دوی ته هدایت او د بخنے طلب کولو د رب خپل نه مګر
أَنْ تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْأَوَّلِيْنَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ
(انتظار) ددے خبرے چه راشی دوی ته طریقه د مخکنو خلقو یا راشی دوی ته عذاب
قُبُلًا ﴿٥٥﴾ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ إِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ وَيُجَادِلُ
مخامخ۔ او نۀ لیږو مونږ رسولان مګر زیرے ورکونکی او یره ورکونکی او جګړے کوی
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ وَاتَّخَذُوْا
کافران په باطل سره دے دپاره چه ختم کړی په دے سره حق لره او نیولی دی دوی
آيَاتِيْ وَمَا أُنْذِرُوْا هُزُوًا ﴿٥٦﴾
آیتونه زما او هغه څه چه یره ورکړے شویده دوی ته په هغے سره، توقے۔

تفسیر : **مضمون :**

پدے رکوع کښ ډیر زجرونه په بعض اعمالو بیانیږی۔ اول زجر دے په جدال کولو۔ دویم

زجر دے په انتظار د عذاب. بیا ئے د رسولانو د رالیږلو حکمة ذکر کړیدے، او زجرئے په جدال (جګړو) ورکړے دے. بیا زجر دے په اعراض د آیتونو د الله تعالیٰ نه. او په آخره کښې بیا د دنیا تخویف دے، او په (۵۹) آیت کښې د هغې مثال ذکر دے. د هغې نه روستو د موسیٰ علیه السلام واقعه راوړی.

پدے آیت کښې ترغیب دے قرآن کریم ته او زجر دے په جدال (جګړو) کولو سره.

مِنْ كُلِّ مَثَلٍ: (یعنی هر قسم بیان). الله تعالیٰ د انسانانو د هدایت دپاره په قرآن کریم کښې ډیر مثالونه، د تیر شوی قومونو واقعات، او د توحید د باری تعالیٰ دلائل بیان کړیدی. دارنګه بیشماره مقاماتو کښې د نیکانو خلقو دپاره زیرے او بدکارانو ته د جهنم دهمکی ورکړیده. او ددے تولو دعوتی طریقو مقصد دا دے چه انسان پدے کښې سوچ او فکر وکړی، او په الله باندے ایمان راوړی او نیغه لاره اختیار کړی، لیکن انسان ډیر جګړه مار دے، همیشه د باطلو دلائلو په ذریعه د حق نه د انکار کوشش کوی.

وَكَانَ الْإِنسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا: یعنی انسان د هر شی نه په جګړه کښې زیات دے، هیڅکله نور مخلوق د الله سره جګړے نکوی، نۀ د هغۀ د توحید په باره شك کوی، او نۀ شرك کوی، او هیڅکله ئے نۀ په الله او نۀ د هغۀ په کتاب اعتراض وکړو بلکه کوم کار دپاره چه پیدا دی هغه کوی.

د انسانان د جدال طریقے

د انسانانو جدال په ډیرو طریقو سره دے، الله وائی زما شریکان نشته، دوی ورله شریکان وائی، الله وائی قیامت به راولم، دوی وائی دا به څنګه وشی، الله وائی ما رسول راولیږلو، دوی وائی بشر خو رسول نشی کیدے. او دا لا څه چه په الله باندے پره وراچول هم په جدال کښې داخل دے لکه د حدیث نه معلومیږی:

رسول الله ﷺ یوه شپه د علی او فاطمه رضی الله عنهما خوا ته راغلو (چه وګوری چه د شپے مونځ کوی که نۀ، وے کتل چه دواړه پراته وو) نو وے فرمایل: (أَلَا تُصَلِّيَانِ؟) آیا تاسو دواړه مونځ ته نۀ پاځیږئ؟ نو سیدنا علی رضی الله عنه وویل:

يَارَسُولَ اللهِ إِنَّ أَنْفُسَنَا بِيَدِ اللهِ إِنْ شَاءَ أَنْ يَبْعَثَنَا بَعَثَنَا).

اے د الله رسوله! زمونږ نفسونه د الله په لاس کښې دی که د هغۀ خوښه وی چه مونږ راپاڅوی نو مونږ راپاځیږو. او که نۀ وی نو پاتے شو. نو رسول الله ﷺ د دوی نه روان شو

او هیڅ ئې ورته ونهٔ وئیل او خپل پتون مبارك ئې ټپولو (لکه د دوی په خبره ئې تعجب او خفګان کولو) او دا آیت ئې ولوستلو ﴿وَكَانَ الْإِنسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا﴾

(بخاري في التهجد باب ٥، ومسلم في المسافرين حديث : ٢٠٦)

د آیت د لوستلو مناسبت دا وو چه دلته رسول الله ﷺ د علي رضی الله عنه په جواب باندې خفه شو ځکه چه د هغه په خبره کښې په الله باندې پره اچول راتلل نو رسول الله ﷺ اشاره کوی چه ډیر اعلیٰ جواب دا وو چه تا داسې وئیلی وې چه کله د الله تعالیٰ فضل وشی نو مونږ راپاځوی او چه کله په مونږ باندې غفلت غالب شی نو بیا د تهجدو نه محرومیږو۔

ډیر انسانان شته چه هغوی د خپلو عیبونو نسبت الله تعالیٰ ته کوی، داسې نهٔ ده پکار۔

وَمَا مَنَعَ النَّاسَ : پدې آیت کریمه کښې الله تعالیٰ زجر ورکړیدې په ایمان نهٔ راوړو سره د عذاب په انتظار کولو باندې۔ یعنی د مکې مشرکانو او د هرې زمانې کافرانو حال دا دې چه دوی ته د حق او هدایت دلیلونه راغلل او دوی د سرکشیٔ لاره اختیاره کړه، او ایمان ئې رانهٔ وړو، او د الله نه ئې د ګناهونو بخنه ونهٔ غوښته بلکه دوی دا مطالبه وکړه چه د کوم عذاب دهمکی دوی ته ورکولې شی هغه دې راشی چه مونږه ئې په خپلو سترګو وینو۔

یعنی کافران په ایمان او استغفار باندې په هغه وخت آماده کیږی کله چه په دنیا کښې عذاب په خپلو سترګو سره وینی، یا کله چه آخرت کښې جهنم ووینی، او په دواړو حالتونو کښې د دوی ایمان او استغفار په کار نهٔ راځی۔

او په بل تعبیر سره : د ایمان او د استغفار نه بل مانع نشته مګر انتظار د عذاب دې۔

یعنی بنه د ایمان اسباب او دلائل موجود دی لیکن بیا هم ایمان نهٔ راوړی او دا وائی چه مونږ ته دې عذاب راکړې شی هله به ایمان راوړو یعنی د عذاب په انتظار کښې دی۔

نو الله فرمائی چه کله ئې په تا باندې عذاب راوستو نو بیا به دغه ایمان الله ته څه قبول شی؟ دا خو به ایمان بالشهادة شی او الله تعالیٰ ته ایمان بالغیب قبول دې۔ په ډانګی چه څوك مسلمان شی هغه به څه اسلام وی، اسلام خو هغه دې چه په خپله خوښه وی۔

تقدیر داسې دې : [وَمَا مَنَعَ النَّاسَ مِنَ الْإِيمَانِ وَالْاِسْتِغْفَارِ اِلَّا طَلَبُ اَوِ انْتِظَارُ اِتْيَانِ سُنَّةِ الْاَوَّلِيْنَ]۔ خلکو لره د ایمان او استغفار نه نهٔ دې منع کړې مګر طلب کولو یا انتظار کولو د راتللو د طریقې د پخوانو) (فتح البیان)

سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ: اَیْ سُنَّةُ اللّٰهِ فِي الْاَوَّلِيْنَ۔ طریقې د الله تعالیٰ په پخوانو خلکو کښې چه هغه زلزلې او طوفانونه او تندرونه راوستل دی۔ یا استیصالی عذاب دې چه ټول هلاك شی۔

الْعَذَابُ قُبُلًا: ددے نه مراد عذاب دے په بعض کسانو چه دوی یو بل ته گوری۔

❁ دویم فرق : یا د پخوانو خلکو په شان عذابونه، او یا نوے عذاب مراد دے۔

وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ: پدے آیت کښ اول د رسولانو د رالیږلو حکمة بیانوی، او بیا زجر دے په جدال او استهزاء سره یعنی رسولان الله تعالیٰ ددے دپاره رالیږی چه خلکو ته زیرے او یره ورکړی، دے دپاره چه هغوی ایمان راوړی او عمل صالح وکړی چه د الله د عذابونو نه بچ شی۔ (او دا وجه د ربط ده د ماقبل سره)

لیکن د کافرانو همیشه دا طریقه پاتے شویده چه دوی دے بنیاده دلائلو په ذریعه د حق انکار کړے او د الله د نخو او د هغه عذاب پورے ئے توقے کړی کوم باندے چه دوی یرولے شی۔

بِالْبَاطِلِ : ددے نه مراد شبهاتِ باطله او اعتراضونه دی۔

لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ: دحض دیکے ورکولو ته وئیلے شی۔ اشاره ده چه د دوی جګړه او باطل شبهات د حق د طلب دپاره نهٔ بلکه د حق د نړولو او د باطل د پورته کولو دپاره دی۔

وَمَا أُنْذِرُوْا هُزُوًا : (وَمَا أُنْذِرُوْا) نه مراد عذابونه دی یعنی د الله آیتونه چه ښه واضح دلیلونه دی هغه هم توقه گنړی، او هغه عذابونه چه دوی پرے یرولے شی هغه هم توقه گنړی، او هغے پورے مسخرے کوی چه عذاب څه ته وائی۔ دا د کافرو طریقه ده۔

اهل علم وائی چه څوك د قرآن او حدیث د مخالفت دپاره او د هغوی د خکته کولو او د یو عالِم قول اُوچتولو دپاره جګړه، بحث او مناظره کوی نو هغه له هم ددے آیت نه یره پکار ده۔

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ
او څوك دے لوئی ظالم د هغه چا نه چه بیان کړے شی هغهٔ ته آیتونه د رب د هغهٔ،
فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ
نو مخ واړوی د هغے نه او هیر کړی هغه عملونه چه مخکښ لیږلی وی لاسونو ددهٔ
إِنَّا جَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ أَكِنَّةً أَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْ
یقیناً مونږ گرځولی دی په زړونو د دوی باندے پردے چه پو هه نشی پدے او په

آذَانِهِمْ وَقْرًا وَإِنْ تَدْعُهُمْ إِلَى الْهُدٰى فَلَنْ يَّهْتَدُوْا
غوږونو د دوی کښې بوج لره او که ته را اوبلې دوی لره هدايت ته نو هيچرې هدايت نۀ قبلوی
إِذًا أَبَدًا ﴿٥٧﴾ وَرَبُّكَ الْغَفُوْرُ ذُو الرَّحْمَةِ
په دغه وخت کښې هيڅکله. او رب ستا بخنه کونکے دے خاوند د رحمت دے
لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ بِمَا كَسَبُوْا لَعَجَّلَ
که راونيسی خلقو لره په هغه عملونو چه دوی کړيدي نو خامخا په جلتئ سره به ئے ورکړے وے
لَهُمُ الْعَذَابَ بَلْ لَّهُم مَّوْعِدٌ لَّنْ يَّجِدُوْا
دوی ته عذاب بلکه دوی لره وخت مقرر دے، هيچرې به ونۀ مومي دوی
مِنْ دُوْنِهٖ مَوْئِلًا ﴿٥٨﴾ وَتِلْكَ الْقُرٰى أَهْلَكْنَاهُمْ
مخکښې د هغې نه ځائے د پناهئ. او دغه کلي دی چه هلاك کړيدی مونږ دوی لره
لَمَّا ظَلَمُوْا وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِمْ مَّوْعِدًا ﴿٥٩﴾
هركله چه ظلم اوکړو دوی، او گرځولے دے مونږ دپاره د هلاکت د دوی وخت مقرر.

تفسير : پدے آيت کښې زجر دے په اعراض د آيتونو د الله نه.

يعنی د هغه انسان نه بل څوك لوی ظالم کيدے شی چه هغه ته د الله آيتونه ولوستلے شي او هغۀ ته پرے نصيحت ورکړے شي او په مختلف قِسمه نخو سره حق طرفته د دوی رهنمائي کيدے شي او دے بيا د هغے نه مخ واړوی او توقے ورپورے شروع کړی.

فَأَعْرَضَ عَنْهَا: ١- توقے پورے وکړی.

٢- او ايمان پرے نۀ راوړی او عمل نۀ کوی.

٣- او د خپلو گناهونو نه توبه نۀ وباسی او کفر په ايمان باندے او گمراهي په هدايت باندے غوره کړی. نو الله تعالیٰ د دوی په زړونو باندے زرگونه پردے واچولے او په غوږونو ئے ميخونه ووهل دے دپاره چه د قرآن کريم په مقاصدو او معانيو پوهه نشی، او د حق خبرے د آوريدو نه محروم شي. پدے وجه کله چه تۀ دوی هدايت ته رابلے نو دوی هيڅکله حق نۀ قبلوی، ځکه چه سخت ضديان دی.

وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ: د قرآن نه د فائدے اخستو ذریعه دا ده چه یو خپل گناهونه رایادول او بیا د الله آیتونو ته متوجه کیدل، او په قرآن کښې تدبر کول دی۔
إِلَى الْهُدَىٰ: هدایت نه مراد اسلام، او قرآن دے۔
أَنْ يَفْقَهُوهُ: كَرَاهِيَةَ اَنْ يَّفْقَهُوْهُ۔ یا لِئَلَّا يَفْقَهُوْهُ۔ دے دپاره چه پو هه پرے نشی۔
وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا: اَيْ وَجَعَلْنَا فِيْ آذَانِهِمْ وَقْرًا: او مونږ گرځولے د دوی په غوږونو کښې بوج او درون والے او کونړ والے چه فائده من آوریدل نهٔ کوی۔
وَرَبُّكَ الْغَفُورُ ذُو الرَّحْمَةِ: ستا رب ډیره بخنه کونکے او انتهائی مهربان دے، پدے وجه د هغه د مغفرت او رحمت تقاضا دا ده چه کافرانو ته د هغوی په کفر او گناهونو باندے صبر کوی، او فی الحال ئے پرے نهٔ رانیسی، که نهٔ وی د دوی داسے جرمونه دی چه په دوی باندے په جلتئ سره عذاب راتلل پکار وو۔
او ددے عذاب روستو کولو په سبب د دوی نه بعضو ته الله تعالیٰ د اسلام توفیق ورکوی، او څوك چه په خپل حال باندے باقی پاتے شو نو د هغوی د کفر او د عناد مطابق سزا ورکولو یو وخت مقرر دے چه هیڅوك ئے نشی روستو کولے۔
بَل لَّهُم: دا جواب د سوال دے چه الله ئے فی الحال نهٔ رانیسی نو دا به دلیل وی چه د دوی دپاره به عذاب نهٔ وی؟ نو جواب کوی چه عذاب ئے خامخا شته خو په خپل وخت به راځی۔
مَّوْعِدٌ: مصدر دے یعنی وعده۔ یا ظرف مکان یا زمان دے۔ چه ددے نه مراد یا د آخرت ورځ ده یا په دنیا کښې د بدر او اُحد، او خندق وغیره ورځے دی چه پدے کښې ئے هلاك کړل۔
مَوْئِلًا: ۱- مَرْجِعًا۔ (ځای د اوریدو) (ابن عباسؓ)
۲- مَلْجأً۔ (ځای د پناهئ)۔ (ابوعبیدةؒ)
لِمَهْلِكِهِم: صیغه د مصدر ده یعنی د هلاکت د هغوی دپاره یو وخت معین وو۔ یا د وخت د هلاکت د هغوی دپاره وخت معین۔ (زجاجؒ)
مَّوْعِدًا: نه مراد معین وخت دے چه هغه په دنیا کښې یوه ورځ ده۔ او مطلب دا دے چه دغه کلی د عادیانو او ثمودیانو او قوم لوط وغیره ما هلاك کړل کله ئے چه شرك او گناهونه کول، او ما د هغوی د هلاکت دپاره یوه ورځ مقرر کړے وه چه د هغے نه روستو پاتے نشو۔ نو دغه شان په تاسو باندے به هم په یو معین وخت کښې عذاب راځی، جلتی پرے مهٔ کوئ، او د هغے د راتللو نه مخکښې انکار مهٔ کوئ۔

يا مطلب دا دے چه پخوانی مے په دنيا كښ هلاك كړل، او دا موجوده كافران كه د دوی نه څوك په دنيا كښ هلاك نشی، نو د دوی د هلاكت دپاره ما يو معين وخت چه قيامت دے مقرر كړيدے په هغے كښ به دوی هلاكيږی، نو په هيڅ شان سره د عذابونو نه نشی بچ كيدے ترڅو پورے ئے چه شرك او گناهونه پريښی نهٔ وی۔

وَإِذْ قَالَ مُوسٰى لِفَتَاهُ لَا أَبْرَحُ حَتّٰى أَبْلُغَ

او كله چه اُووئيل موسىٰ (عليه السلام) خادم خپل ته زهٔ به هميشه (روان) يم تردے چه اُورسيږم

مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا بَلَغَا

ځائے د جمع كيدلو د دوو دريابونو ته يا به ځم ډيره زمانه۔ نو هركله چه اُورسيدل دواړه

مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ

ځائے د يو ځائے كيدلو ددے دواړو ته نو هير كړو دواړو ماهی خپل نو ونيوله هغهٔ

سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ

لاره خپله په درياب كښ سورنگ۔ نو هركله چه تير شو دواړه اُووئيل دهٔ

لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَآءَ نَا لَقَدْ لَقِينَا

خدمتگار خپل ته راكړه مونږ ته ناشته (خوراك) زمونږ يقيناً ملاؤ شوی يو مونږ

مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾ قَالَ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا

ددے سفر زمونږ نه ستړی والی ته۔ اُووئيل هغهٔ، آيا تا اُوليدل كله چه ځائے ونيوو مونږ

إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ وَمَا أَنْسَانِيهُ إِلَّا الشَّيْطَانُ

گټ ته نو يقيناً هير كړو ما مهی لره او نهٔ دے هير كړے ما نه دا مگر شيطان

أَنْ أَذْكُرَهُ وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عَجَبًا ﴿٦٣﴾

چه ياد كړے مے وے هغه (تاته) او اُونيوله دهٔ لاره خپله په درياب كښ ناشنا۔

قَالَ ذٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ فَارْتَدَّا عَلٰى آثَارِهِمَا

ووئيل موسىٰ دا هغه ځائے دے چه مونږ طلب كولو، نو راواپس شو دواړه په نخو د قدمونو

قَصَصًا ﴿٦٤﴾ فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ

واپس تلونکي۔ نو ومونډلو دواړو يو بنده د بندګانو زما نه چه ورکړے وو مونږ هغۀ ته

رَحْمَةً مِنْ عِنْدِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِنْ لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿٦٥﴾

رحمت د طرف زمونږ نه او خودلے وو مونږ هغۀ ته د خپل طرف نه خاص علم۔

تفسیر : ددے ځای نه روستو د موسیٰ علیه السلام او د خضر علیه السلام واقعه بیانیږی چه مناسبت او فوائد ئے روستو ذکر کیږی۔

ددے واقعے تفصیل په حدیث د بخاری ومسلم کښې راغلے دے چه موسیٰ علیه السلام يوه ورځ په بنی اسرائیلو کښې ودریدو، ډیر ښائسته تقریرئے وکړو نو د بیان نه روستو ورته یو تن ووېل : [هَلْ تَعْلَمُ اَحَدًا اَعْلَمَ مِنْكَ ؟] آیا تا ته د خپل ځان نه بل لوی عالِم معلوم دے؟ (یعنی ستا نه لوی عالم بل شته؟) هغه ووېل : نۀ، (د هغۀ دا خبره په خپل اجتهاد صحیح وه لیکن د الله خوښه نۀ شوه) (فَعَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ اِذْ لَمْ يَرُدَّ الْعِلْمَ اِلَيْهِ) ۔ نو الله پرے ملامتیا ووېله ځکه چه هغۀ ته ئے علم ونۀ سپارلو۔ (دا خبره په ظاهره کښې روغه وه ځکه چه په انسانانو کښې د نبی نه بل لوی عالِم نۀ وی لیکن الله اُوچت بندګان په وړو خبرو باندے هم متوجه کوی)

نو الله ورته وفرمایل : [بَلٰى عَبْدُنَا خَضِرٌ اَعْلَمُ مِنْكَ] ۔ آؤ، زمونږ یو بنده چه خضرئے نوم دے هغه ستا نه په علم کښې زیات دے۔

(دا دلیل دے چه خضر علیه السلام د موسیٰ علیه السلام نه زیات علم لرلو، اګرکه موسیٰ علیه السلام د اُولو العزم پیغمبرانو نه دے او مرتبه ئے د خضر علیه السلام نه اُوچته ده)

بیا ورته الله تعالیٰ وفرمایل چه اُوس به تۀ د هغه شاګردی کوے؟ (پدے مکلف شو) نو دۀ ووېل چه اے الله! زما رسیدل به هغه ته څنګه کیږی؟ (الله ورته ځای هم ونۀ خودلو دے دپاره چه په سفر کښې تکلیف برداشت کړی) او صرف نښه ئے ورکړه چه روان شه او ماهی ځان سره واخله (پوخ شوے) دا چه کوم ځای ژوندے شو، او درنه ورك شو، نو دغه ځای کښې به خضر ملاویږی، نو دۀ ځان سره ملګرے یوشع علیه السلام (چه پدے وخت لا نبی شوے نۀ دے) واخستو او توښه هم ورسره وه، دواړه روان شو۔

مزل ئے کولو تردے چه یوه ورځ او یوه شپه مزل ئے وکړو او د هغه علاقے نه واوړیدل تردے چه لوړه پرے راغله، خپل ملګری ته ئے ووېل چه ماهی راواخله، هغه ووېل چه مونږ چه

مخکښې کوم ځای دمه کړے وه هلته ما ماهي وليدهٔ چه ژوندے شو او په درياب کښې ننوتو ليکن ما نه هير شو چه تا ته مے خبره ياده کړے وے (موسىٰ ﷺ ورته غصه ونکړه ځکه چه دا هيره د الله د طرفنه وه) نو دواړه بيرته هغه علاقے ته راروان شو چه هغے ته مجمع البحرين (د دوو دريابونو د راجمع کيدو ځای) وائي، وے کتل چه يو تن پروت دے او څادر ئے اغوستے دے، موسىٰ ﷺ پرے سلام واچولو نو هغه ناشنا وګڼړلو، وے ويل :
[اَنّٰي بِاَرْضِكَ السَّلَامُ] - پدے زمکه کښې خو څوك سلامونه نهٔ اچوی، تهٔ څوك ئے ؟ هغه ووېل: موسىٰ يم، هغه ووېل : موسىٰ د بني اسرائيلو؟ دهٔ ووېل : آؤ، څنګه راغلے؟ دهٔ ووېل : علم طلب کوم۔ هغه ورته ووېل : تا له الله ډير علم درکړے دغه بس دے، او ما ته ئے خپل علم راکړے۔ موسىٰ ﷺ ورته ووېل چه زهٔ خامخا شاګردی کوم، نو هغه پرے شرط ولګولو چه ښهٔ ده خو زهٔ چه څه کوم ما نه به د هغے په باره کښې تپوس نکوے چه دا ولے کوے؟ (مطلب دا دے چه د درس مينځ کښې به تپوس نکوے لکه دا د بعضو خلکو غلط عادت دے، پدے سره د درس وقعت خرابيږی) بيا دوی روان شو۔
درے کارونه خضر ﷺ وکړل او په درے واړو کښې پرے موسىٰ ﷺ اعتراض وکړو، نو هغه د ځان نه جدا کړو۔ نبی کريم ﷺ فرمائي: ارمان چه موسىٰ ﷺ صبر کړے وے (چه الله به دا قصه اُوږده بيان کړے وے) مونږ به ډيره فائده اخستے وے۔
پدے واقعه کښې ډيرے زياتے فائدے دی چه يوه مستقله رساله پرے ليکلے کيږی۔ او هغه تقريباً صاحب د محاسن التاويل (علامه قاسمیؒ) د واقعے په آخر کښې راجمع کړيدی او ډير ناشنا والے ئے کړيدے، د کتو لائق دی۔

ددے واقعے فوائد

۱ - دا واقعه د نفي د علم الغيب دپاره بيان شويده چه ټول عِلمونه د الله تعالىٰ سره دی، او مخلوق په غيبو نهٔ پوهيږی۔ ۲ - د ايمان او عمل صالح د فائدو راښکاره کولو دپاره ذکر شويده چه کشتئ والا، او دارنګه د هلك مور او پلار مؤمنان وو، او د خزانے والا يتيمانانو پلار نيك عمله وو۔
۳ - هجرة لِتَعَلُّمِ الدِّيْنِ۔ دين او علم دومره اَهم شے دے چه ددے دپاره به سفرے کولے شی او خپل کلے او کور به پريخودے شی، موسىٰ ﷺ وريسے د نبوت نه پس سفر کړيدے۔
٤ - پدے کښې د ټولو مؤمنانو دپاره دا سبق پروت دے چه [اَلْاُمُوْرُ قَدْ تَجْرِیْ عَلٰى غَيْرِ ظَوَاهِرِهَا] کله به کارونه د ظاهر نه خلاف روان وی، پدے کښې به فائده وی، يعنی کله به تا

تـه پـه ظاهره كښې د كافرانو غلبه ښكاري، دا به امتحان وي په مينځ كښې به حقيقت جدا وي چـه مسلمانان به الله غالبه كوي- موسىٰ ﷺ پـه ظاهره كښې كشتۍ خرابوي په مينځ كښې ئې فائده ده چه د بادشاه د بيګار نه وساتلې شي-

هـلـك وژنـي پـدے كښې د مور او پلار او د هغه دپاره فائده ده- د بخيلانو ديوال جوړوي په دے كښې فائده ده- نو صحابه كرامؓ ته اشاره ده چه اُوس به تاسو د كافرانو نه كمزوري يئ ليكن الله به تاسو ته غلبه دركوي-

٥- په دے كښې نادره فائده د اتباع الرسول ﷺ هم ده- هغه دا چه (إِنَّ الرَّسُوْلَ ﷺ قَدْ يَقُوْلُ لَـكُمْ شَيْئًا لَاتَبْلُغُهٗ عُقُوْلُكُمْ فَلَا بُدَّ مِنَ الْإِتِّبَاعِ)- رسـول الله ﷺ به كله تاسو ته يوه داسے خبره وكړي چه ستاسو عـقـلـونـه به نۀ ور رسيږي، نو په هغه به اعتراض نكوئ بلكه د هغۀ تابعداري به كوئ لكه خضر ﷺ تـه الله تـعـالىٰ ناشنا حكمونه كړي وو چه د موسىٰ ﷺ ذهن نـۀ ور رسيدو، نو دغه شان به رسول الله ﷺ ته الله تعالىٰ كله ناشنا حكمونه كوي دا بـه منئ- په خضر ﷺ اعتراضات كيـدل حال دا چه دا اعتراضونه صحيح نۀ وو نو دغه شان په رسول الله ﷺ به څوك اعتراضات كوي خو د هغه اعتراضونه به صحيح نۀ وي-

٦- او پدے كښې آداب د طلب العلم دي-

ابـن عاشورؒ وائي: او پدے كښې رد دے په يهودو باندے چه دوي له پكار دي چه دوي خلكو تـه د بني اسرائيلو د انبياء عليهم السلام واقـعـات بيان كړي او د علم او د حكمة د حاصلولو دپاره سفر وكړي نۀ د خپلو مالونو او بادشاهۍ د فراخولو دپاره- (ابن عاشورؒ)

مناسبتونه

١- دلتـه ئې دا قـصـه ذكر كړه پدے كښې يهوديانو ته دا تنبيه وركول دي چه تاسو زما ددے نبي نـه تپوسونه كوئ، كه دا خبر دركړي نو نبي به وي او كه درئې نكړي نو نبي به نۀ وي، دا خبره ستـاسـو خطاء ده څكه چه نبي كريم ﷺ دپاره دا ضروري نۀ ده چه په ټولو واقعاتو او قـصـو به پو هه وي لكه څنګه چه ستاسو نبي موسىٰ ﷺ د ډيرو خبرو نه خبر نۀ وو الله تعالىٰ ورته روستو خبر وركړو- (فتح البيان)

نو تـاسـو د اصـحـاب كهف پـه بـاره كـښې تپوس كړے وو نو واخلئ زۀ تاسو ته ددے نه هم زيات عـجـيـبـه او ناشنا واقـعـه بيـانـوم چـه د هـغـے خبـر ما خپل نبي ته د وحي په ذريعه وركړيدے-

۲- ابن عاشورؒ وائی : مخکښې د آدم علیه السلام او د ملائکو قصه بیان شوه او د شیطان کبر او فخر بیان شو او شیطان د آدم علیه السلام د فضیلت او کمالاتو اقرار ونکړو بلکه حسد ئې وکړو نو هغه مثال وو د ګمراهانو، خواهش پرستو، متکبرانو او حسد ګرو دپاره نو اُوس د موسیٰ علیه السلام قصه راوړی چه دا د هغې برعکس مثال دے، کمال والا خلك د بل کمال والا په کمال او فضیلت باندے اقرار کوی، او د هغوی نه فائده اخلی، او کوشش کوی چه څوك لوی کمال والا پیدا کړی چه هغه نه زیات کمال حاصل کړی، او دا د ایمان والو طریقه ده، نو پدے کښې د دواړو ډلو (کافرانو او مؤمنانو) ترمینځ مقابله په صفاتو کښې راغله۔

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ: ددے موسیٰ نه مراد مشهور پیغمبر موسیٰ بن عمران علیهما السلام دے او بخاری کښې چه راغلی دی چه نوف البکالی به وئیل چه دا بل موسیٰ بن میشی بن یوسف بن یعقوب دے، او دا د موسیٰ بن عمران (علیهما السلام) نه مخکښې پیغمبر وو نو هغه خبره صحیح نهٔ ده، په هغه باندے عبد الله بن عباس رضی الله عنه رد کړیدے۔

فائده : قصه ئې د موسیٰ علیه السلام د وینا نه شروع کړه، پدے کښې د هغهٔ کلکے ارادے ته اشاره ده، او بل پدے کښې اشاره ده چه ددهٔ خادم دا سفر ډیر لوی ګنړلے وو، او یریدو چه پدے کښې به مونږ ته مشقت راورسیږی چه د سفر نه به مو بند کړی یا دا چه د علم دپاره ئې دا سفر ډیر لرے ګنړلو نو موسیٰ علیه السلام ورته خپل همت او ددے کار اهمیت ښکاره کړو چه زهٔ به دا کار نهٔ پریدم او ضرور به خپل مطلب ته ځان رسوم۔ (ابن عاشورؒ بتصرف)

لِفَتَاهُ: د فتیٰ (هلك، ځوان) نه مراد د موسیٰ علیه السلام شاګرد او خادم دے چه نوم ئې یوشع بن نون بن افرائیم بن یوسف علیه السلام دے، د موسیٰ علیه السلام سره به ګرځیدو او د هغه خدمت به ئې کولو۔ او دا ئې غلام نهٔ وو بلکه دا د موسیٰ علیه السلام نه روستو الله تعالیٰ نبی جوړ کړیدے۔ لکه قصه ئې په سورة المائده کښې ذکر شویده۔ او پدے خبره باندے واحدیؒ اجماع د علماؤ نقل کړیده۔ او بعض وائی چه دا ئې خورئے وو۔

ددے نه د علم دا فائده راوځی چه په طلب د علم کښې ځان سره ملګرے اخستل پکار وی۔

لَا أَبْرَحُ: زهٔ به همیشه روان یم۔ ددے نه د علم ادب دا معلومیږی چه علم دپاره به کلك عزم کولے شی او په معمولی تکلیفونو به علم نهٔ پریدی۔

مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ: یعنی ځای د راجع کیدو د دوه دریابونو ته۔ پدے مجمع البحرین کښې د مفسرینو ډیر اقوال دی (۱) یو قول دا دے چه د طنجه علاقے په خوا کښې دوه دریابونه یو ځای شویدی چه یو دا مقام د اسبانیا او د مغرب (حکومت) په مینځ کښې دے، او د بحرین

نـه مراد بحر ابیض متوسط او بحر محیط اطلسي دے، او دغه ځای ته مُضَیّق هم وائي او د جبـل طارق سره نـزدے دے۔ (۲) دویم دا چه دا د بحیرهٔ روم او بحیرهٔ فارس د راجمعه کیدو ځای دے۔ اول قول د اکثرو مفسرینو دے۔

او مـجـمـع البحرین کښ اشاره ده چه موسیٰ ﷺ هـم د علم یو دریاب دے، او د بل دریاب (خضر ﷺ) سره یو ځای کیږی۔

أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا : حـقـب ډیرے زمانے ته وئیلے شي، او صحیح دا ده چه ددے اندازه نهٔ ده مـعـلـومـه۔ (نحاسؒ) او اشاره ده چه د علم دپاره سفر کول عبادت دے، پدے کښ چه څومره وخت ولګیږی دا ټول عبادت دے، او دا وخت ضائع کیدل نهٔ دی۔

امـام شـعـبيؒ وائي : که یو تن د شام نه یمن ته یو میاشت سفر د یو حدیث دپاره وکړی، نو زهٔ بـه دا ونـهٔ وایـم چه ددهٔ وخت ضائع شو۔ او اشاره ده چه علم په هره زمانه او هر عمر کښ او هـر لـوی شـخـص له طلب کول هم ضروری دی، داسے نهٔ چه یو څو کتابونه ووائي او بیا ځان لوی ګنړی، او د بل چا نه د علم طلب ورته عیب او د خپل شان کمے ښکاری۔

نَسِيَا حُوتَهُمَا : موسیٰ ﷺ چه کـلـه سفر ته روان شو نو د الله په حکم سره ئے یو ماهی په کسوره کښ کیخودو چه دوی به په لاره کښ د هغے نه د خپل حاجت مطابق خوراك هم کـولـو، او یوشع بـن نـون تـه ئے حوالـه کړو او وے وئیـل چه دا ګوره، او چرتـه چـه دا ددے کسـوړے نـه اُوځی او غائب شي نو ما ته خبر راکړه۔ ځکه چه الله تعالیٰ د خضر ﷺ سره د ملاقات ځای هغه خودلے وو چرته چه ماهی غائب شي۔ لیکن د الله کار داسے اُوشو چه کله دواړه د دریاب غاړے ته نزدے یوے ګټے ته ورسیدل هلته ئے تکیه ولګوله موسیٰ ﷺ اُودهٔ شو او یوشع ﷺ ویـښ نـاسـت وو نو ناڅاپه ماهی ژوندے شو او د کسوړے نه ئے ټوپ کړل او په دریاب کښ ورته د سورنګ په شان اُوبه وچے شوے او په هغے کښ ورك شو۔

(نَسِيَا حُوتَهُمَا) کـښ ئے نسبت د نسیان دواړو ته پدے وجه وکړو چه د یوشع نه هیر شو چه موسیٰ ﷺ تـه حال ووائي او د موسیٰ ﷺ نـه هیـر شـو چـه د یوشع نه ئے د ماهی په باره کښ تپوس کړے وے۔

دواړه ددے ځـای نـه دوباره په سفر روان شو۔ یو اُوږد مسافت مزل کولو نه روستو موسیٰ ﷺ ته لوږه اُورسیده او د خوراك دپاره ئے ماهی وغوختو، نو یوشع بن نون وویل چه ما نه خـو د مـاهـی خبره تـا تـه کول هیر شوی وو، مونږ له هغه ګټ خوا ته واپس تلل پکار دی، کوم ځای چه مونږ دمه کړے وه، هلته په ناشنا انداز کښ ماهی دریاب ته ننوتے وو۔

نو موسیٰ علیه السلام وویل چه مونږ له هغه ځای ته رسیدل دی کوم ځای چه ماهی غائب شویدے، هغه سړے چه مونږه ئے تلاش کوو هلته به ملاویږی۔

نو دواړه قدم په قدم په همغه لاره راواپس شو په کومه چه تلی وو دے دپاره چه مقصدی ځای ته راورسی۔ نو هلته د دوی ملاقات د خضر علیه السلام سره اُوشو چه هغه له الله تعالیٰ خپل فضل او کرم وركړے وو۔

مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا : مفسرین لیکی چه موسیٰ علیه السلام پدے سفر کښ ستړے شو ځکه چه دا سفر مخلوق ته وو او طور ته چه تللو نو هلته نهٔ وو ستړے شوے ځکه چه هغه سفر خالق ته وو۔ دا وجه ده چه د قرآن په لوستلو انسان دومره نهٔ ستړے کیږی او د بل کتاب په لوستلو انسان ډیر زر ستړے کیږی۔

او دلته پرے ستړی والے پدے وجه هم راغلے دے چه ددے ځتے نه اخوا سفر غیر مقصودی دے، او په غیر مقصودي سفر کښ انسان زر ستړے کیږی۔

وَمَا اَنْسَانِيْهُ اِلَّا الشَّيْطَانُ : شیطان د انسان نه خبره هیروی پدے طریقه چه زړهٔ په وسوسو مشغوله کړی، نو مُهمه خبره به درنه پاتے شی۔ پدے کښ هم اشاره وه چه د موسیٰ علیه السلام نه دلته د ماهی خبره هیره شوه، نو دغه شان د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ان شاء الله هیره شوه او د وحی په روستو والی په تکلیف شو نو دغه شان د انبیاء علیهم السلام نه هیره کیږی، دوی به پدے خبره نهٔ ملامته کیږی۔

فِي الْبَحْرِ عَجَبًا : ناشنا والے پکښ دا وو چه مړ ماهی راژوندے شو چه دوی د هغے نه یو طرف خوړلے هم وو او بیا ئے دریاب ته توپ کړل او په دریاب کښ د هغه د روانیدو لاره هم ښکاره کیده چه اُوبه ورته د سورنګ په شان ودریدے۔

فَارْتَدَّا عَلٰی آثَارِهِمَا قَصَصًا : (واپس شو په خپلو قدمونو پسے واپس راتلونکی) اَیْ يُقُصَّانِ اَثَرَهُمَا ۔ یعنی په خپلو منډونو ئے خپے کیخودے او راروان وو۔ دے دپاره چه لاره خطاء نکړی۔ قصص په لغت کښ اِتِّبَاعُ الْاَثَرِ۔ (یعنی د قدمونو د نشاناتو پسے روانیدلو) ته وئیلے شی۔ او دا مزل ئے یوه ورځ او یوه شپه کړے وو۔

فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَا : ددے نه مراد په نیز د عامو مفسرینو خضر علیه السلام دے چه نوم ئے بَلْیَا بن مَلْکان دے او په خضر باندے یادیږی ځکه چه په یو ځای کیناستو وچه ګیاه وه نو هغه ددهٔ د پاخیدو نه روستو شنه شو۔

خضر ﷺ څوك دے؟

ددۀ په باره کښې دوه اختلافه دی۔ (۱) آیا دا ملائك دے او که انسان ؟ مرجوح قول دا دے چه دا ملائك دے ځکه چه الله تعالیٰ ورله ډیر ژوند ورکړے او داسے کارونه ئے کړی لکه د ملائکو په شان، او نښه ئے دا ده چه د کشتئ نه ئے تخته ماته کړیده او خلك پرے نۀ دی پو هه شوی۔ لیکن دا رایه خطاء ده، ځکه چه په حدیث د بخاری کښې دی چه دوی دواړه چه کله کشتئ کښې کیناستل (فَعُرِفَ الْخَضِرُ فَحَمَلُوْهُمَا بِغَيْرِ نَوْلٍ) نو کشتئ والا خضر لره وپیژندو او دواړه ئے په غیر د کرایه نه سوارۀ کړل۔

(۲) دویم دا ولی دے او که نبی ؟ نو غوره دا ده چه دا نبی دے او عامو محدثینو په کتاب الانبیاء کښې راوړیدے او بل دلته (رحمةً) لفظ ورله استعمال شویدے، او ددے اطلاق اکثر په نبوت باندے کیږی، لکه دا خبره د ابن عباس ﷺ نه نقل ده لکه سورة هود آیت (٦٣) کښې تیر شو ﴿وَآتَانِيْ مِنْهُ رَحْمَةً﴾ بلـه دا چه د موسیٰ ﷺ په شان لوی پیغمبر د امتی څنگه شاګردی وکړی۔ دا د الله تعالیٰ د حکمة نه ډیره بعیده ده۔

(۳) دریم اختلاف دا دے چه دا مُعَمَّر دے او که نۀ ؟ د صوفیاؤ قول دا دے چه دا د آدم ﷺ د شا نه پیدا شوے څوی دے، او د هغه وخت نه ژوندے دے او په علاقو کښې ګرځی او بیا صوفیاء دعوے کوی چه مونږ سره خضر ملاؤ شو۔ او بعضو پکښې لا دا طریقه اختیار کړیده چه خلکو ته لاس ورکوی نو غتهٔ ګوته ورله نیسی، او وائی چه د خضر ﷺ په لاس کښې په غتهٔ ګوته کښې هډوکے نشته، په هر چا باندے د خضر ګمان کوی او دا خبرے تفسیر روح المعانی او قرطبی وغیره لیکلی دی۔

صحیح خبره داده چه دا د الله تعالیٰ نبی وو، د بنی اسرائیلو یو قوم ته رالیږلے شوے وو، او په هغه زمانه کښې وفات شویدے، او د وفات دلیل ئے دا دے چه د رسول الله ﷺ مدد ته نۀ دے راغلے۔ بلـه دا چه هرکله چه دا انسان دے بیا ئے ولے د وحوشو او د طیورو سره ژوند غوره کړیدے او د انسانانو خواله نۀ راځی، امت څومره تربیت ته محتاج دے او هغه نۀ راځی چه د امت مشری وکړی۔

او ددے ډیر دلائل دی چه په خپل ځای کښې بیانیږی، او بعضو ته په تفسیر د سورة آلعمران آیت (۸۱) کښې اشاره شویده۔ د عامو محدثینو او شیخ الاسلام ابن تیمیة وینا ده چه خضر ﷺ وفات شویدے، که ژوندے وے نو د نبی کریم ﷺ خوا ته به راغلے وے او په

هغهٔ باندے ایمان راوړل به واجب وے۔
الله تعالیٰ په سورة الانبیاء آیت (۳٤) کښې فرمائی : ﴿ وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ اَفَإِنْ مِتَّ فَهُمُ الْخَالِدُوْنَ ۝﴾ (ستا نه مخکښې مونږ هیڅ انسان ته همیشوالے نهٔ دے ورکړے، آیا که تهٔ مړ شے نو دوی به همیشه دپاره وَسیږی؟)۔
او دے نه روستو آیت کښې د زیات تاکید دپاره فرمائی : ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ﴾ الآیة۔ هر نفس والا مرګ څکونکے دے)۔ او نبی کریم ﷺ فرمائی : [اَرَاَيْتَكُمْ لَيْلَتَكُمْ هٰذِهٖ، فَاِنَّ عَلٰى رَأْسِ مِائَةِ سَنَةٍ مِنْهَا لَا يَبْقٰى مِمَّنْ هُوَ عَلٰى ظَهْرِ الْاَرْضِ اَحَدٌ] دا شپه یاد لرئ ځکه چه په زمکه نن چه څومره انسانان ژوندی دی، د دوی نه به هیڅوك هم د سلو کالونه روستو باقی پاتے نهٔ وی۔ (بخاری باب السمر فی العلم رقم ٤٢، رقم الحدیث : ١١٦ مسلم : ٦٦٤٢)
او د مسلمؒ په یو بل روایت کښې دی : [وَاُقْسِمُ بِاللّٰهِ ! مَا عَلَى الْاَرْضِ مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوْسَةٍ تَأْتِيْ عَلَيْهَا مِائَةُ سَنَةٍ] قسم په الله ! په زمکه چه څومره ساه والا دی په دوی باندے به سل کاله تیر نشی)۔ مسلم (٦٦٤٤)
د پورته ذکر شوی دلائلو نه ښکاره ثابتیږی چه خضر ؑ وفات شویدے۔
په صحیح بخاری کښې دی چه موسیٰ ؑ کله د هغه سره ملاؤ شو نو وے وئیل چه زهٔ ستا نه د علم حاصلولو دپاره راغلے یم نو خضر ووئیل چه ستا دپاره دا کافی نهٔ ده چه الله تعالیٰ تا ته تورات درکړیدے او په تا باندے وحی نازلیږی۔ ما سره چه کوم علم دے د هغے حاصلول ستا دپاره مناسب نهٔ دی او تا سره چه کوم علم دے د هغے حاصلول ما دپاره مناسب نهٔ دی۔ بیا یو چینچڼ په دریاب کښې مکوخه اُووهله نو خضر اُووئیل چه قسم په الله ! زما او ستا علم د الله د علم په مقابله کښې داسے دے لکه څنګه چه دے چینچڼ په دریاب کښې مکوخه وهلے ده۔ (صحیح بخاری : ١٢٢)
مِنْ لَّدُنَّا عِلْمًا : خضر ؑ سره چه کوم علم وو هغه د الله خاص عطیه وه، چه بعض انبیاء علیهم السلام ته څه خاص خبرے وښائی چه هغه ئے بل نبی ته نهٔ وی خودلی پدے وجه د بعض ګمراهانو خلقو دا خبره کول چه الله تعالیٰ د انبیاؤ نه سویٰ نورو خلقو ته علم لدُنی ورکوی کوم چه دظاهری شریعت نه مختلف وی، دا ګمراه کونکے رائے ده، او د شریعت نه د آزادی حاصلولو دپاره یوه بهانه ده۔
الله خضر ؑ ته د بعض غیبی کارونو علم ورکړے وو نو په قرآن کښې ئے د هغے صراحت وکړو۔ که یو بل شخص د خپل ځان نه د علم لدنی دعویٰ کوی نو د هغه به نهٔ منلے کیږی،

ځکه چه د هغهٔ سره د خضر عليه السلام په شان د قرآن نه دليل موجود نهٔ دے چه الله هغه ته يو خاص علم لدني ورکړيدے. که دا چرته وحي نهٔ وے نو په ظاهره کښې د موسیٰ عليه السلام اعتراضونه په خضر عليه السلام باندے صحيح وو ليکن چونکه خضر عليه السلام ته دغه کارونه په وحي سره خودلے شوي وو، پدے وجه پدے باندے به بل څوك نشي قياس کولے چه په ظاهره کښې د شريعت خلاف کوي، او بيا دا بهانه کوي چه مونږ سره باطني علم دے.

(مِنۡ لَدُنَّا عِلۡمًا) عِلۡمًا نکره ده په اثبات کښې راغلے ده، خصوص پيدا کوي، نو ددے نه مراد د بعض باطني امورو علم دے چه هغه په سبب د وحي سره معلوم وو. دليل دا دے چه د قصے په آخر کښې فرمائي: ﴿وَمَا فَعَلۡتُهٗ عَنۡ اَمۡرِيۡ﴾ ما دا کارونه په خپل حکم سره نهٔ دي کړي.

قَالَ لَهٗ مُوۡسٰى هَلۡ اَتَّبِعُكَ عَلٰٓى اَنۡ تُعَلِّمَنِ
اُووئيل دهٔ ته موسیٰ (عليه السلام) آيا روان شم زهٔ تا سره پدے شرط چه تعليم به راکوے ما ته
مِمَّا عُلِّمۡتَ رُشۡدًا ﴿٦٦﴾ قَالَ اِنَّكَ لَنۡ تَسۡتَطِيۡعَ مَعِيَ
د هغے نه چه خودلے شويدے تا ته هدايت. اُووئيل هغهٔ، يقيناً تهٔ طاقت نهٔ لرے ما سره
صَبۡرًا ﴿٦٧﴾ وَكَيۡفَ تَصۡبِرُ عَلٰى مَا لَمۡ تُحِطۡ بِهٖ
د صبر کولو. او څنګه به صبر اُوکړے تهٔ په هغه خبره چه نهٔ دے راګير کړے تا هغه
خُبۡرًا ﴿٦٨﴾ قَالَ سَتَجِدُنِيۡٓ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ صَابِرًا
په علم کښې. اُووئيل هغهٔ زردے چه مونده به کړے ما که الله وغواړي صبر کونکے
وَّلَآ اَعۡصِيۡ لَكَ اَمۡرًا ﴿٦٩﴾ قَالَ فَاِنِ اتَّبَعۡتَنِيۡ
او نافرماني به نهٔ کوم ستا د هيڅ حکم. ووئيل خضر (عليه السلام) نو که تهٔ زما تابعداري کوے
فَلَا تَسۡـَٔلۡنِيۡ عَنۡ شَيۡءٍ حَتّٰٓى اُحۡدِثَ لَكَ مِنۡهُ ذِكۡرًا ﴿٧٠﴾
نو تپوس مهٔ کوه زما نه د هيڅ شي په باره کښې تردے پورے چه بيان کړم تا ته د هغے نه ياداشت (خبر).

تفسير : موسیٰ عليه السلام په ډير ادب سره خضر عليه السلام ته ووېل چه آيا تهٔ ما ته اجازه راکوے

چه زهٔ تا سره وګرځم دے دپاره چه ما ته ستا د خودلے شوی هدایت نه علم راکړے.
پدے کښې د آدابو د طلب د علم نه دا ده چه شاګرد به د استاذ نه اجازه غواړی، او مدرسه کښې به داخله اخلی، بے اجازته به پردے لنګر نهٔ خوری، پدے به ګنهګاریږی. دویم : (رُشْدًا) نه معلومیږی چه په استاذ باندے لازم ده چه شاګرد ته به هغه خبرے وربنائی چه د هغه د ایمان، د عمل او د عقیدے فائده پکښې وی، هسے بکواسے او قصے بعض استاذان کوی او طالبان وخندوی، بی ادبه ئے اموخته کړی، او هیڅ دین ورته ونهٔ ښائی دا ظالم او خائن استاذ دے.
(عُلِّمْتَ) نه معلومیږی چه تا ته علم مفت خودلے شویدے نو ما نه به هم عوض نهٔ اخلے.
رُشْدًا: یعنی د هدایت او رنړا او د کامیابئ خبرے به راته ښائے. رُشْد او رَشَد په یو معنیٰ دے. هُوَ الْوُقُوْفُ عَلَى الْخَيْرِ وَإِصَابَةُ الصَّوَابِ. دا د خیر په خبرو خبریدو او حق ته رسیدو ته وئیلے شی. اَیْ عِلْمًا ذَا رُشْدٍ اَرْشُدُ بِهٖ. یعنی داسے علم چه د هدایت او فائدے والا وی چه زهٔ په هغے سره حق ته ورسیږم او فائده حاصله کړم.
شوکانیؒ لیکلی دی چه دا ددے خبرے دلیل نهٔ دے چه خضر علیه السلام د موسیٰ علیه السلام نه افضل وو، ځکه چه کله داسے هم کیږی چه لوئی علم او مرتبے والا د خپل ځان نه ورو کی نه یو خاص علم حاصلوی چه د هغه مشر سره نهٔ وی. موسیٰ علیه السلام ته الله تعالیٰ تورات ورکړے وو چه په هغے کښې د احکامو د شریعت سره نور ډیر علوم وو، او په هغه باندے وحی نازلیدله او خضر علیه السلام ته خو الله تعالیٰ صرف یو خاص قسم علم غیب ورکړے وو چه په هغے سره مقصود موسیٰ علیه السلام ته خبردارے ورکول وو چه د ټولو نه لوئی علم والا صرف الله دے، هغه چه کوم بنده ته غواړی د هغے نه د خپل حکمت مطابق ورکوی.
صاحب د «فتح البیان» لیکلی دی چه ډیرو ګمراهانو دا آیت بنیاد جوړ کړیدے چه ولی د نبی نه افضل وی، ځکه چه دلته الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته چه نبی وو حکم وکړو چه هغه د خضر علیه السلام نه علم حاصل کړی. دا ښکاره کفر دے، او ددے خبرے جواب هغه دے چه کوم امام شوکانیؒ لیکلے دے چه کله یو لوئی علم او حکمت والا انسان هم د ورو کی نه یو خاص علم حاصلوی.
اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا : استاذ له پکار دی چه د شاګرد نه د کلك عزم مطالبه وکړی. او د هغهٔ عزم معلوم کړی. او استاذ له پکار دی چه خپل شاګرد ته د مدرسے او د خپلو حالاتو اظهار وکړی چه دلته دا فلانی فلانی مشکلات دی آیا پدے باندے صبر

کولے شي؟۔

وَكَيْفَ تَصْبِرُ: دا علت او سبب د نۀ طاقت بیانوي۔ خضر علیه السلام ووئیل چه الله تعالیٰ ما ته چه کوم علم راکړیدے، کله چه زۀ د هغے عملي مظاهره وکړم نو تۀ ئے نشي برداشت کولے۔ او په ما باندے به اعتراض کوے، ځکه چه الله تعالیٰ ما ته د کوم بعض غیبي کارونو علم راکړیدے د هغے تائید به په هغه علم د وحي سره نۀ کیږي کوم چه الله تا ته درکړیدے۔ او چونکه تۀ د شریعت والا یو رسول ئے پدے وجه د داسے کار په لیدو سره به ستا دپاره سکوت (غلے پاتے کیدل) جائز نۀ وي کوم چه ستا د علم مطابق ناجائز او منکر وي۔

(فتح البيان)

خُبْرًا: علم ته وئیلے شي، / په یو شي باندے علم راوستل۔

قَالَ: موسیٰ علیه السلام چونکه د علم د طلب مضبوطه اراده کړے وه، پدے وجه ئے ووېل چه زۀ به ان شاء الله تا سره صبر کوم، او د خپلے رائے د خلاف کیدو سره به ستا د هیڅ فیصلے مخالفت نۀ کوم۔

سَتَجِدُنِي: طالب العلم لره پکار دي چه د خپل وس مطابق کلك عزم وکړي۔

إِنْ شَآءَ اللَّهُ: ئے راوړه اشاره ده نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته چه هر کار کښ ان شاء الله وایه، دا د انبیاء علیهم السلام طریقه ده۔

وَلَا أَعْصِي لَكَ أَمْرًا: دا دلیل دے چه شاګرد باندے د مدرسے او د استاذ د شرطونو پابندي لازم ده۔ بیا د مدرسے دوه قسمه قوانین وي یو هغه چه د شریعت خلاف وي نو ددے منل نشته۔ او دویم هغه چه د امور اداریه ؤ نه وي، د شریعت خلاف نۀ وي، د هغوی خاص ترتیب وي، نو د هغے پابندي لازم ده۔ د داخلے فارم کښ چه کوم شرائط وي په هغے پابندي پکار ده کله چه د شریعت خلاف نۀ وي۔ (اَلْمُسْلِمُوْنَ عَلٰى شُرُوْطِهِمْ) (ابوداود: ۳۵۹۶) والترمذي: ۱۳۵۲ وسنده صحيح) مسلمانان به په خپلو شرطونو کلك ولاړ وي۔

أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا: (نورے کرم زۀ تا ته د هغے نه بیان) ددے مطلب دا دے چه په مینځ د سبق کښ به تپوس نکوے بلکه چه کله خبره پوره شوه زۀ به ئے درته خپله بیانوم چه ددے دا فائده وه۔

فَانطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا رَكِبَا فِي السَّفِينَةِ خَرَقَهَا
نو روان شو دواړو تردے چه سوارۀ شو دواړه په کشتۍ کښ نو سورۍ ئے کړه هغه،

قَالَ أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا

اُووئیل موسیٰ (علیه السلام) آیا سوریٔ کړه تا دا، دے دپاره چه غرق کړے ته اهل ددے

لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا ﴿٧١﴾ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ

یقیناً تا راتلل وکړل یو کار ناشنا ته۔ اُووئیل خضر آیا نۀ دی وئیلی ما چه یقیناً ته

لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٢﴾ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا

طاقت نۀ لرے ما سره د صبر کولو۔ اُووئیل موسیٰ مۀ رانیسه ما په هغه څه

نَسِيتُ وَلَا تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا ﴿٧٣﴾ فَانْطَلَقَا حَتَّى

چه هیر کړۀ ما او مۀ اچوه په ما باندے د کار زما نه تنګسیا۔ نو روان شو دواړه تردے

إِذَا لَقِيَا غُلَامًا فَقَتَلَهُ قَالَ أَقَتَلْتَ

چه کله مخامخ شول یو هلك سره نو قتل ئے کړو هغه لره، اُووئیل موسیٰ آیا اُووژلو تا

نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُكْرًا ﴿٧٤﴾

یو نفس پاك بغیر د بدلے د نفس نه، یقیناً راتلل ډیے اُوکړل کار ډیر بد ته۔

تفسیر : د خضر علیه السلام طریقه دا وه چه په علاقو کښې به ګرځیدو ګویا که هغوی روان دعوت کولو او خضر علیه السلام الله تعالیٰ په څه کارونو مقرر کړے وو چه دا فلانے کار وکړه نو دعوت ئے هم کولو او ورسره ئے دغه کارونه هم کول۔ دلته ئے یوشع علیه السلام ذکر نکړو ځکه چه هغه خادم دے، یا ئے هغه د ځان نه واپس کړیدے۔

حَتَّى إِذَا رَكِبَا فِي السَّفِينَةِ : دوی ددے کلی نه اخوا په کشتیٔ کښې اُوریدل نو د کشتیٔ خواله چه راغلل، خلکو خضر علیه السلام وپیژندو چه دا خو هغه فلانے نیك عمله سړے دے نو هغه ئے بغیر د کرایه نه سور کړو۔ خضر علیه السلام چه کشتیٔ کښې کیناستو نو په خپل تبرګی سره ئے د کشتیٔ یوه تخته ماته کړه، موسیٰ علیه السلام ولیدو او نورو خلکو نۀ لیدو (دا معجزه وه) او سوریے وشو او اُوبه هم نۀ راننوتے۔

قَالَ أَخَرَقْتَهَا : موسیٰ علیه السلام وویل چه تا خو په کشتیٔ کښې سوری کولو سره د کشتیٔ والود ډوبولو اراده کړیده، تا خو ډیره غټه غلطی کړیده چه کشتیٔ ډے خرابه کړه، ډیرے

گناه خلق ډېر هلاك كول غوختي، او احسان ډېر هير كړيدې.
إِمْرًا: ۱- اَيِ الْعَظِيمُ الْمُفْظِعُ. يعنى لوى او گبراهټ والا (ناشنا) كار ته ډېر راتلل وكړل. او دې ته ئې منكر ونهٔ وئيلو ځكه چه في الحال خو كشتئ والا غرق شوى نهٔ وو بلكه ذريعه د غرقيدو وه. (ابن عاشورؒ)
۲- ابوعبيدهٔ وائى : اَلْاَمْرُ الدَّاهِيَةُ الْعَظِيمَةُ). دا لوى مصيبت ته وائى.
۳- عَجَبًا. ناشنا كار. (قتيبيؒ) (فتح البيان)
قَالَ اَلَمْ اَقُلْ : خضر عليه السلام موسىٰ عليه السلام ته خپل شرط رایاد كړو چه ما خو تا ته مخكښ وئيلي وو چه تهٔ به زما په هيڅ كار باندې اعتراض نهٔ كوې، ځكه چه تا ته د هغې سبب معلوم نهٔ دې. وارننگ ئې ورله وركړو. موسىٰ عليه السلام ووئيل چه ما نه هير شويدى. پدې وجه ما پدې باندې مهٔ رانيسه او دومره سختي راسره مهٔ كوه چه ما د خپل ځان سره په پريخودو باندې مجبور كړې بلكه زما د غلطئ نه نظر اخوا كړه. (دې نه معلومه شوه چه كه شاگرد نه يوه خطائى وشي نو په اول ځل به د مدرسې نه نشي جدا كولې).
دلته په ظاهره كښې دا كار د موسىٰ عليه السلام د شريعت خلاف وو نو ځكه پرې هغه انكار وكړو ليكن چونكه الله تعالىٰ موسىٰ عليه السلام ته وئيلي وو چه دا شخص ستا نه په بعض كارونو كښې ښهٔ پوهه دې، نو ځكه موسىٰ عليه السلام صبر كوى. او كه دا وحى نهٔ وې نو د موسىٰ عليه السلام اعتراض په خپل ځاى صحيح وو.
او پدې كښې اشاره ده دې ته چه پيغمبر به كله يو كار كوى، او ستاسو عقل به نهٔ ور رسيږى او په هغې كښې به ناشنا حكمتونه وى، نو هغه ته به تسليميږئ. او د علم فائده ترې دا راووتله چه كله به د مدرسې په يو كار كښې فائده وى چه په ظاهره كښې به يو طالب العلم ته هغې كښې فائده نهٔ ښكارى نو اعتراض به نهٔ كوى.
نَسِيْتُ: دا الفاظ پدې سورت كښې زيات راځي پدې كښې په مشركانو رد دې چه رسول الله ﷺ نه ان شاء الله هيره شوه او وحى روستو شوه، نو دوى دا د هغهٔ د نبوت نه د انكار سبب وگڼړلو، حال دا چه په انبياء عليهم السلام باندې هم هيره راځي.
بل پدې كښې رد د شرك دې چه انبياء عليهم السلام نه هم خبره كله نا كله هيريږى دليل دې چه دوى غيبدان نهٔ دى، او دوى بغير د اسبابو ظاهريه ؤ نه د چا حاجتونه نشي پوره كولې، خپله محتاج بندگان دى.
وَلَا تُرْهِقْنِيْ مِنْ اَمْرِيْ عُسْرًا : (مهٔ اچوه په ما باندې د خپل كار نه سختي) اَىْ لَاتُعَسِّرْ

عَلَىٰٓ مُتَابَعَتِكَ) یعنی په ما باندے خپله تابعداری مهٔ سختوه۔

فَانطَلَقَا : د کشتئ د سفر پوره کولو نه روستو دواړه په اُوچه لاره روان شو۔ یو ځای کښې څه هلکانو لوبے کولے۔ نو خضر ﷵ د هغوی نه یو هلك راونیولو (کوم چه د هغه د علم مطابق کافر وو) او په لاس سره ئے د هغهٔ نه سر جدا کړو (په لاس سره بغیر د چاړے نه سر نهٔ کټ کیږی لیکن دا معجزه وه)۔

نُكْرًا : اَیْ اَنْكَرَ مِنَ الْاَوَّلِ ۔ دا د اول کار نه زیات ناشنا وو ځکه چه په اول کښې خو خلك غرق شوی نهٔ وو۔ بله دا چه که اُوبه کشتئ ته راشی نو د خلکو په لامبو وهلو سره د بچ کیدو امکان شته۔ او کله چه د تن نه سر جدا شی نو بیرته راواپس کیدل ئے ممکن نهٔ وی او فی الحال انسان ختم شی۔ بله دا چه په ظاهره کښې دا بی ګناه شخص دے۔

بله دا چه ماشوم دے۔ ظاهره کښې هیڅ بد کار ئے نهٔ دے کړے چه د قتل مستحق شی۔ نو ځکه موسیٰ ﷵ په خضر ﷵ باندے پدے مقام کښې سخت رد وکړو۔

دارنګه اِمْر هغه کار ته وائی چه د هغے هیبت زیات وی او نُکر هغه دے چه د هغے فساد ښکاره شی۔

د خَضر ﷵ په لاس وژلے شوی هلك په باره کښې

پدے کښې اختلاف دے چه دا وژلے شوے هلك څنګه وو؟ (۱) بعض مشائخ وائی چه دا بالغ هلك وو او غټه ګیره ئے وه او مشرك او قطاع الطریق وو ۔ او دهٔ ته چه غلام وئیلے شویدے نو د غلام اطلاق کله نا کله په لوی سړی هم کیږی لکه په حدیث د معراج کښې دی موسیٰ ﷵ وویل : (بُعِثَ هٰذَا الْغُلَامُ بَعْدِیْ) (چه دا هلك زما نه روستو رالیږلے شویدے) چه پدے زمانه کښې رسول الله ﷺ د (۵۳) کالو په عمر وو۔

(۲) لیکن تحقیقی قول دا دے چه دا وروکے ماشوم وو۔ د دوه وجونه یو دا چه دلته ﴿اَقَتَلْتَ نَفْسًا زَکِیَّةً﴾ نفس زکیه، (پاك نفس) ته وئیلے شی او دا د ماشومانو نفس وی، د قطاع الطریق نفس پاك نهٔ وی۔ او بله دا چه که دا غټ سړے وے نو موسیٰ ﷵ ته څه معلومه وه چه دهٔ قتل نهٔ دے کړے، او قطاع طریقی ئے نهٔ ده کړے او دا پاك دے، دا پته خو په هغه وخت کښې لګیږی چه دا ماشوم وی او ماشومان قتل نشی کولے۔ او بل دلیل پرے حدیث دے :

مسلمؒ، ابوداودؒ او ترمذیؒ د ابی بن کعب ﷛ نه روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ فرمائی :

[اَلْغُلَامُ الَّذِیْ قَتَلَهُ الْخَضِرُ طُبِعَ یَوْمَ طُبِعَ کَافِرًا، وَلَوْ اَدْرَكَ (وَفِیْ رِوَایَةٍ : فَلَوْ عَاشَ) لَاَرْهَقَ اَبَوَیْهِ

طُغۡیَانًا وَ کُفۡرًا] (مسلم فی القدر حدیث : ۲۹ والفضائل حدیث : ۱۷۲ وابوداود فی السنة باب ۱۶) والترمذی فی التفسیر سورة (۱۸) باب ۲) واحمد فی المسند ۵/۱۱۹،۱۲۱)

((کوم هلك چه خضر قتل کړے وو هغه پیدائشی کافر وو، که بالغ شوے وے نو خپل والدین ئے په سرکشئ او کفر باندے مجبوره کول))۔

او د اول قول والا دا وینا چه (د نا بالغ ماشوم وژل نشته) ددے جواب دا دے چه د قتل دپاره ډیر اسباب کیدے شی، چه هغه الله تعالیٰ ته معلوم وی او یو نبی ته ئے وښائی، لکه دلته دا تول کارونه په وحی سره شوی وو۔

بلـه دا چه الله تعالیٰ ته دا معلومه وه چه دا انسان کافر دے، الله په تقدیر کښ لیکلی وو نو د هغې مطابق ئے حکم د هغه په قتل وکړو دے دپاره چه مور او پلار گمراه نکړی، او بیا دا د هغه حدیث خلاف نهٔ دے چه (کُلُّ مَوۡلُوۡدٍ یُوۡلَدُ عَلَی الۡفِطۡرَةِ) هر ماشوم په فطرتِ اسلامی باندے پیدا کیږی۔ ځکه چه دا هم په اسلام پیدا شوے وو لیکن الله ته معلومه وه چه دا روستو کفر کوی او د خلکو د گمراهئ ذریعه گرځی نو مخکښ نه ئے پرے فیصله وکړه۔

او دا کار اگرکه په شریعت محمدیه کښ جائز نهٔ دے چه یو تن نه لا گناه صادره شوے نهٔ ده او هغه پدے بهانه قتل کړے شی، لیکن په شریعت د خضر ﷺ کښ جائز وو نو هیڅ اشکال نشته۔ (فتح البیان والقاسمی)

بِغَیۡرِ نَفۡسٍ : ددے نه معلومه شوه چه د ماشومانو وژل جائز نهٔ دی لیکن دلته په وحی سره وژلے شویدے۔

مفسرین لیکی چه موسیٰ ﷺ نه د سخت تأثر په وجه سره دا سوچ کول هیر شو چه خضر په یو داسے سبب سره ددهٔ قتل کول حلال گنړلی دی چه دهٔ ته معلوم نهٔ دے۔

یا دا چه موسیٰ ﷺ دا اعتراض قصداً وکړو ځکه چه دخپل شریعت خلاف کار ئے ولیدو۔

قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِیعَ مَعِیَ صَبۡرًا ﴿۷۵﴾
ووئیل هغهٔ آیا نهٔ دی وئیلی ما تا ته چه یقیناً طاقت نهٔ لرے ما سره د صبر کولو۔
قَالَ إِن سَأَلۡتُكَ عَن شَیۡءٍ بَعۡدَهَا
اُووئیل موسیٰ که تپوس وکړو ما ستا نه په باره د یو شی کښ روستو ددے نه

فَلَا تُصَاحِبْنِيْ قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَّدُنِّيْ عُذْرًا ﴿۷۶﴾
نو مهٔ ملګرے کوه ما له ځان سره یقیناً تهٔ اُورسیدے زما د طرف نه عذر ته۔
فَانْطَلَقَا حَتّٰى إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةِ نِ اسْتَطْعَمَا
نو روان شو دواړه تردے چه کله راغلل دواړه یو کلی والو ته نو خوراك ئے طلب کړو
أَهْلَهَا فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوْهُمَا
د اُوسیدونکو د هغے نه نو انکار اُوکړو هغوی ددے نه چه میلمستیا ورکړی دواړو ته
فَوَجَدَا فِيْهَا جِدَارًا يُرِيْدُ أَنْ يَّنْقَضَّ فَأَقَامَهٗ
نو موندهٔ کړل دواړو په هغے کښې یو دیوال نزدے وو چه پریوتے وے نو نیغ ئے کړو هغه،
قَالَ لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ
اُووئیل موسیٰ (علیه السلام) که تا غوختے وے نو اخستے به دِے وے په دے باندے
أَجْرًا ﴿۷۷﴾ قَالَ هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ وَبَيْنِكَ
مزدوری۔ اُووئیل هغه دا وخت د جدائی دے په مینځ زما او په مینځ ستا کښې،
سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيْلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿۷۸﴾
زردے چه خبر به دِے کړم په حقیقت د هغے خبرو چه طاقت نهٔ لرلو تا په هغے د صبر کولو۔

تفسیر: دلته ئے ورسره (لَكَ) لفظ زیات کړو۔ سفیانؒ وئیلی دی چه پدے کښې د مخکښې په نسبت تاکید زیات دے۔ ځکه چه پدے کښې زیاته زورنه ورکول دی۔

او ددے نه معلومه شوه چه که طالب العلم دویم کرت نقصان وکړو نو سخته زورنه ورکول پکار دی۔

بَعْدَهَا : اَیْ بَعْدَ هٰذِهِ الْمَرَّةِ۔ دے ځل نه روستو۔

فَلَا تُصَاحِبْنِيْ : ای ما ځان سره مهٔ ملګرے کوه۔ او په یو قراءت کښې (فَلَا تَصْحَبْنِيْ) دے یعنی ما سره ملګرتیا مهٔ کوه۔ هرکله چه موسیٰ علیه السلام ولیدل چه زما په تپوسونو زما ملګری ته تکلیف رسیږی، نو زرئے عذر پیش کړو چه که دریم کرته ما دا کار وکړو نو ما د ځان نه جدا کړه چه تا ته تکلیف ونهٔ رسیږی اګرکهٔ د موسیٰ علیه السلام د علم زده کولو سره ډیر

حرص وو۔ (فتح البیان وابن عاشورؒ) رسول الله ﷺ فرمائی :

يَرْحَمُ اللّٰهُ مُوسىٰ لَوَدِدْنَا لَوْ صَبَرَ حَتّٰى يُقَصَّ عَلَيْنَا مِنْ اَمْرِهِمَا)

ارمان چه دۀ صبر کړے وے نو مونږ ته به الله ډیر عجائبات بیان کړی وے۔ (بخاری : ۱۲۲)

مِنْ لَّدُنِّيْ عُذْرًا: یعنی تۀ به معذوره ئے زما په جدا کولو کښ۔

دا کلام د هغه چا دے چه سخت پښیمانه وی او حال دے ته مجبوره کړے وی چه اقرار وکړی، او د انصاف په لاره روان شی۔

فَانْطَلَقَا : دواړه بیا مخکښ روان شو تردے پورے چه د شپے په وخت یو ښار ته اُورسیدل، هلته دواړو د کلی والو نه خوراك طلب کړو نو هیچا میلمستیا ورنکړه۔ په دغه کلی کښ یو دیوال وو چه پریوتونکے وو، خضر په هغے باندے لاس راخکلو او هغه نیغ شو۔ موسیٰ ؑ ووئیل چه تا له پدے کار اجرت اخستل پکار دی، ځکه چه مونږ ته د پیسو ضرورت دے او دے خلقو زمونږ میلمستیا هم ونکړه۔

اَهْلَ قَرْيَةٍ: ددے کلی نه مراد ځوك وائی چه (اَيْله) وه۔

او ځینی وائی چه دا د آذربیجان په خوا کښ یو کلے دے (باجروان) ورته وائی۔

او ځینی وائی چه دا په اندلس کښ یو کلے دے۔

او ما (ابوزهیر) ته د مغرب د علاقے یو شیخ (احمد الحفو) خبر راکړو چه زۀ خپله دغه کلی ته ورغلے یم، دا د طنجه په خوا کښ د دریاب په غاړه کلے دے (ځکه چه خضر ؑ دغه مخکښی کارونه په دریاب کښ او د دریاب په غاړه وکړل او بیا دغه کلی ته ورغلل لکه (فَانْطَلَقَا حَتّٰى اِذَا اَتَيَا اَهْلَ قَرْيَةٍ) الفاظو نه هم معلومیږی)۔ او دا ئے هم ووئیل چه په دغه کلی والو کښ (په اکثرو کښ) اُوس هم دغه مرض شته چه بل نه خو ښه میلمستیا غواړی مګر خپله چا ته میلمستیا نۀ ورکوی۔ والله اعلم۔

(وذلك فی الحرم المکی فی سنة ۲۰۰٤ء)

فَاَبَوْا اَنْ يُّضَيِّفُوْهُمَا : ددے نه معلومیږی چه میلمنو ته میلمستیا ورکول واجب دی او میلمستیا طلب کول په سوال کښ نۀ داخلیږی کوم چه حرام دے۔

يُرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ : اراده د هر شی جدا جدا وی نو د دیوال اراده میلان دے۔ او انقضاض په جلتئ سره یو شے راپریوتل دی۔ (یعنی دیوال مائل وو پریوتو ته)

فَاَقَامَهٗ: نو خضر ؑ پرے لاس راخکلو نو سم شو (دا هم معجزه وه)۔

قَالَ لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا: یعنی تا به د دوی نه ددے دیوال په برابرولو

مزدوری اخستے وے، یعنی دا خلك مونږ ته میلمستیا نۀ راکوی او تۀ ورله دیوالونه جوړوے (خیال ئے دا وو چه دا خو مشرکان او رذیل خلك دے او دیوال د هم دوی دے) بلکه د دوی نه د ضرورت په بناء مزدوری اخستل پکار وو۔

موسیٰ علیه السلام ته چا وویل چه کله تۀ د مصر نه مدین ته تللے نو هلته دے د چا نه سوال نۀ ووکړے بلکه (اِنِّیْ لِمَا اَنْزَلْتَ اِلَیَّ مِنْ خَیْرٍ فَقِیْرٌ) دِے وئیلے وو یعنی صرف الله ته دِے حاجت ښکاره کړے وو او دلته دِے د مخلوق نه سوال کړیدے؟ نو هغۀ وویل چه ما دا کار د ملګری د خاطره کړیدے، آه۔ او د ملګری د خاطره به کله نا کله مستحب هم پریخودے شي۔

او ددے نه دا خبره هم معلومه شوه چه د موسیٰ علیه السلام خبره په عدل بناء وه چه څوك درسره احسان نۀ کوی نو تۀ ئے هم ورسره مۀ کوه او د خضر علیه السلام عمل احسان دے۔ او احسان اعلیٰ وی د عدل نه۔

هٰذَا فِرَاقُ: ۱- دا وخت د جدائی دے زما او ستا ترمینځ۔

۲- هٰذَا الْاِعْتِرَاضُ مُفْرِقٌ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ) دا اعتراض زما او ستا جدائی راوستونکے دے۔

سَاُنَبِّئُكَ : خضر علیه السلام وویل چه تۀ د خپلے وعدے مطابق زما ملګرتیا پریده۔ او هرچه تیر شوی کارونه دی نو د هغے په حقیقت به دِے خبر کړم۔

أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَاكِينَ يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ فَأَرَدْتُّ
هرچه کشتئ وه نو وه د مسکینانو دپاره چه کارئے کولو په دریاب کښې نو اراده اُوکړه ما
أَنْ أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَآءَهُمْ مَّلِكٌ يَّأْخُذُ كُلَّ
چه عیبجنه کړم هغے لره ځکه چه وو اخوا د دوی نه یو بادشاه چه نیوله به ئے هره
سَفِينَةٍ غَصْبًا ﴿۷۹﴾ وَأَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ
(روغه) کشتئ په زور سره۔ او هرچه هلك وو نو وو مور او پلار د هغۀ مؤمنان
فَخَشِينَا أَنْ يُّرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَكُفْرًا ﴿۸۰﴾ فَأَرَدْنَا
نو اُویریدلو مونږ چه وابه چوی دے دواړه په سرکشئ او کفر کښې۔ نو اراده وکړه مونږ
أَنْ يُّبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَاةً وَّأَقْرَبَ
چه بدل به ورکړی دوی ته رب د دوی غوره ددۀ نه په پاکئ کښې او ډیر نزدے

رُحْمًا ﴿٨١﴾ وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ

په رحم کولو کښې. او هرچه دیوال وو نو وو دپاره د دوه هلکانو یتیمانانو په ښار کښې

وَكَانَ تَحْتَهُ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ

او وه لاندې د هغې نه خزانه ددې دواړو او وو پلار د دوی نیك سړې نو اُوغوختل رب ستا

أَن يَبْلُغَا أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ

چه اُورسی دوی ځوانئ خپلې ته او را اُوباسی خزانه خپله د وجې د رحمت د رب ستا نه

وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع

او نهٔ دې کړې ما دا کار په اختیار خپل سره دا حقیقت وو د هغې چه وَس طاقت نهٔ لرلو تا

عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٨٢﴾

په هغې باندې د صبر کولو.

تفسير :أَمَّا السَّفِينَةُ : خضر علیه السلام ووئیل چه هغه کشتئ چه په هغې کښې ما سورې کړې وو، او په کوم باندې چه تا زهٔ ملامته کړې وم، د لسو غریبانو سړو وه چه ددې په ذریعه به ئې خلق د دریاب د یوې غاړې نه بلې غاړې ته رسول او پدې سره به ئې خپله روزی گټله. یا به ئې پکښې ښکار کولو، ددې علاقې بادشاه یو ظالم سړې وو چه هره غوره او صحیح سالمه کشتئ به ئې په زوره بغیر د عوض ورکولو نه نیوله یعنی بیگار به ئې پرې کولو. ما دا عیبجنه کړه دې دپاره چه هغه دا وانخلی.

لکه دا د ظالمانو بادشاهانو کاروی چه د آبادئ وغیره دپاره د عوامو خلکو نه کار اخلی او د هغوی مالونه او گاړی وغیره پکښې استعمالوی، او هیڅ عوض نهٔ ورکوی لکه فرعونیانو به د اَهرامو په آبادولو کښې عوام استعمالول. البته که دا کار د عوامو د مصلحت دپاره وی نو د هر چا نه د هغه د وَس مطابق کار اخستل جائز دی. (ابن عاشورؒ)

مطلب دا شو چه زما پدې کار کښې خو ظاهر کښې لږ ضرر وو لیکن ډیره فائده پرې مرتب کیده او د دغه ضرر تدارك کیږی چه بیرته به ورته تخته ولگوی مگر د مزدورئ نه به وران نشی. او هرچه د خلکو غرقیدل دی نو هغه د الله په حکم سره نهٔ کیدل.

ددې نه دا فائده معلومه شوه چه د انبیاء علیهم السلام او صالحینو طریقه دا ده چه

هغوی د یتیمانانو او مسکینانو او د کمزورو خلکو د مالونو حفاظت کوی۔

❁ بله دا هم معلومه شوه چه د یو نبی نبوت د انسانانو دپاره صرف دینی او اُخروی فائده نهٔ ده بلکه پدے کښې دنیاوی فائدے هم شته۔

فَكَانَتْ لِمَسَاكِيْنَ: ددے نه معلومیږی چه مسکین هغے ته وائی چه د هغهٔ څه نا څه وی، خپله خوراک مزدوری کوی لیکن نصاب ورسره نهٔ وی چه زکاة پرے فرض شی۔

وَأَمَّا الْغُلَامُ: او هغه هلك چه ما قتل کړے وو، د هغهٔ والدین د ایمان والا وو، او هغه په پیدائشی توګه سره کافر وو، زهٔ یریدم چه غټ به شی او والدین به هم د کفر او سرکشئ په لاره روان کړی۔ پدے وجه ما اراده وکړه چه الله تعالیٰ به ددهٔ والدینو ته ددهٔ په بدله کښې یو داسے هلك ورکړی چه په نیکئ، صلاح او د ګناهونو نه په پاکئ کښې به ددهٔ نه غوره وی او د خپلو والدینو مطیع او منونکے به وی۔

پدے کښې د ایمان او عمل صالح فائده معلومه شوه چه دنیا کښې هم فائده ورکوی او په عمل صالح سره د یو سړی د ډیرو پشتونو او نسلونو حفاظت کیږی۔

زَكَاةً: اَیْ دِیْنًا وَصَلَاحًا وَتَقْوىً وَطَهَارَةً مِنَ الذُّنُوْبِ۔ یعنی په دینداریٔ او نیك عملیٔ او تقویٰ او د ګناهونو نه په پاکئ کښې۔

وَأَقْرَبَ رُحْمًا: ((او ډیر به نزدے وی په مهربانئ کښې په مور او پلار باندے))۔

ابن عباسؓ وائی چه د رحماً معنیٰ مَوَدَّةً ده۔ یعنی نزدے به وی په مینه کښې۔ نو ددے دواړو نه یوه جینئ پیدا شوه چه د هغے نه بیا نبی پیدا شو۔ (فتح البیان)

ددے نه دا فائده معلومه شوه چه بنده له پکار دی چه د الله تعالیٰ په تقدیر باندے راضی شی، ځکه چه ددے ماشوم مور او پلار ته دا پته نهٔ وه چه زمونږ ماشوم چا پدے نیت وژلے دے چه دا مونږ چرته ګمراه نکړی بلکه هغوی به پدے کار باندے څو مره خفګان کړے وی لیکن د هغوی دپاره په همدے کښې فائده وه چه د ایمان حفاظت ئے وشو۔ کله کله به تا ته یو مصیبت ورسیږی تا ته به هغه ډیر بدی ښکاری لیکن مینځ کښې به په هغے سره ستا د ایمان حفاظت کیږی۔ د الله تعالیٰ په خپل مخلوق کښې عجیب حکمتونه وی۔

وَأَمَّا الْجِدَارُ: او هغه دیوال چه هغه ما نیغ کړے وو، د ښار د دوه یتیمانو بچو وو چه د هغے نه لاندے د دوی خزانه ښخه وه، او د دوی پلار نیك سړے وو، پدے وجه ستا رب په دوی باندے فضل او کرم کول غوختل چه دیوال ولاړ پاتی شی دے دپاره چه دواړه په غټیدو سره هغه راوباسی او فائده ترے واخلی۔

ددے نه دا فائده معلومیږی چه د پلار نیکی د اولادو د نفس او د مال د حفاظت سبب جوړیږی۔ بعض وائی چه ددے دواړو یتیمانانو پلار هغه مال دفن کړے وو۔
ځینی علماء وائی چه د دوی اُوم یا لسم نیکه مال ښخ کړے وو۔ او دا ددے خبرے دلیل دے چه الله تعالیٰ د خپل نیك بندګانو ډیرو پشتونو پورے د اولادو حفاظت کوی۔ کوم عوام خلك چه د علماؤ عزت کوی الله تعالیٰ ئے په بچو کښں علماء پیدا کوی، او کوم خلك چه د علماؤ احترام نهٔ کوی الله تعالیٰ ئے په بچو کښں علماء نهٔ راولی۔
وَمَا فَعَلْتُهٗ عَنْ أَمْرِيْ : یعنی دا څه چه ما کړیدی د الله په حکم سره مے کړیدی، په خپلے رائے او خوښے سره مے نهٔ دی کړی، نو معلومه شوه چه پدے باندے بل څوك نشی قیاس کیدے چه څوك د ظاهر د شریعت خلاف وکړی پدے بهانه چه پدے کښں فائده ده۔
حکمة : اول کښں ئے (فَأَرَدْتُّ) ځان ته نسبت وکړو۔ ځکه چه هغه کار په ظاهره کښں خالص عیب وو نو ځان ته نسبت مناسب دے، او دویم کښں مِنْ وجه فائده ده او مِنْ وجه نقصان، پدے وجه ئے (فَأَرَدْنَا) دواړو ته نسبت وکړو۔ او د دیوال جوړول سراسر خیر دے نو دلته ئے الله ته نسبت وکړو (فَأَرَادَ رَبُّكَ)۔
ذٰلِكَ تَأْوِيْلُ : تا چه زما کومے خبرے نهٔ شوے برداشت کولے نو د هغے همدا تاویل (او حقیقت) دے۔
لَمْ تَسْطِعْ : پدے کښں ئے ادغام وکړو ځکه چه د خبرے په آخر کښں آسانی پکار ده، نهٔ تشدد، او په ادغام کښں هم آسانی وی۔

وَيَسْأَلُوْنَكَ عَنْ ذِي الْقَرْنَيْنِ قُلْ سَأَتْلُو
او تپوس کوی دوی ستا نه په باره د ذو القرنین کښں، اُووایه ! زر دے چه بیان به کړم
عَلَيْكُمْ مِّنْهُ ذِكْرًا ﴿۸۳﴾
په تاسو باندے د هغه نه څه خبر (د نصیحت)۔

تفسیر : پدے کښں د یهودیانو او د مشرکانو د دریم تپوس جواب ذکر کیږی چه هغه په باره د ذو القرنین کښں وو۔ او دا واقعه د ډیرو غرضونو دپاره ذکر کیږی
(۱) یو دا چه مشرانو له پکار دی چه د خپل رعیت خدمت وکړی مګر مشرکان راولګیدل خپل قوم ئے اُورته بوتلل، د هلاکت کندے ته ئے ګوزار کړل۔

(۲)- ذو القرنین خو د آخرت منونکے وو ﴿فَاِذَا جَاءَ وَعْدُ رَبِّیْ جَعَلَهٗ دَكَّآءَ﴾ او تاسو اے مشرکانو ! آخرت نۀ منئ۔ تپوس د هغه چا په باره کښ کوئ چه ستاسو نه په عقیده کښ خلاف دے۔

(۳) ذو القرنین د دین د نشر واشاعت او دعوت دپاره سفر او هجرت کړیدے۔ او پدے واقعه کښ د الله تعالیٰ ناشنا قدرتونه ښکاره کیږی۔

(٤) ایمان او عمل صالح سره دنیا او آخرت دواړه برابریږی او که چا کښ ایمان نۀ وی نو ذو القرنین ورته سزا ورکړیده۔

ذو القرنین څوك وو ؟

ددے په باره کښ د مفسرینو او مؤرخینو ډیر اقوال دی :

یو قول دا دے چه دا اسکندر بن فیلقوس یونانی وو چه دۀ ټوله دنیا فتح کړے وه او اسکندریه ښارئے آباد کړے وو۔ قرطبیؒ د سهیلیؒ نه نقل کړیدی چه د اسکندر په نوم دوه کسان تیر شویدی۔ یو د ابراهیم ؑ په زمانه کښ وو چه هغۀ د هغۀ سره د بیت الله طواف کړے وو، او دویم اسکندر مقدونی یونانی وو چه د هغه زمانه د عیسی ؑ نه درے سوه کاله مخکښ یادیږی۔

حافظ ابن کثیرؒ د ازرقیؒ وغیره قول نقل کړیدے چه په قرآن کریم کښ ذکر شوے ذو القرنین هغه دے چه د ابراهیم ؑ په زمانه کښ موجود وو۔ او ددۀ نوم په روایت د ابن عباس کښ عبد الله بن الضحاك دے۔ او بعض وائی چه مصعب بن عبد الله دے۔

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په خپل کتاب ((الرد علی المنطقیین)) کښ لیکلی دی چه اسکندر بن فیلبس یونانی هغه نۀ دے د کوم نوم چه په قرآن کریم کښ ذو القرنین ذکر شویدے، ځکه چه دا مشرك وو، او ددۀ وزیر ارسطو وو، او د هغه ټول قوم مشرکان وو۔

او ذو القرنین د الله نیك او مومن او موحد بنده وو، او د هغه زمانه ډیره مخکښ ده۔ (او ددۀ بادشاهی هم په عراق باندے وه بیا ئے ټوله دنیا لاندے کړے وه)

او دغه شان خبره حافظ ابن القیم رحمه الله په ((اغاثة اللهفان)) کښ هم ذکر کړیده او وئیلی ئے دی چه د دواړو ترمینځ د ډیرو صدو فرق دے، او د دواړو په دینونو کښ هم ډیر زیات تباین او جدائی وه۔ ذو القرنین د الله یو نیك صالح او موحد بنده وو او ټول ژوند ئے د بت پرستو په خلاف جنګ کولو، او ددے مقصد دپاره د زمکے د مشرق او مغرب کنارو ته

رسیدلے وو۔ دۀ د یاجوج او ماجوج د بندولو دپاره دیوال جوړ کړے وو۔
بعض خلقو دۀ ته نبی وئیلے دے۔ (لکه فخر الدین الرازیؒ او حافظ ابن حجرؒ وئیلی دی چه دا د عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ نه هم نقل شویدی (فتح الباری ۳۸۳/۶)
(لیکن صحیح دا ده چه نبی نهٔ دے لکه دا د علی بن ابی طالب ﷺ نه نقل شویدی) او اسکندر مَقْدُونی مشرك وو او د بتانو عبادت به ئے کولو او دهٔ د مملکت خلك هم مشرکان وو۔ آه۔
علامه ابن عاشورؒ په خپل تفسیر کښ دا ذکر کړیدی چه دا د چین د بادشاهانو نه یو بادشاه وو او د عیسیٰ علیه السلام د زمانے نه (۲٤۷) کاله مخکښ تیر شویدے او د اسکندر مقدونی نه یو صدیٔ روستو راغلے دے، او ددۀ نوم (تسینشی هوانفتی) یا (تُسِیُن شِی هُوَانَڨُ تِیُ) دے او په دغه مخکنو اقوال ئے رد کړیدے۔ او وئیلی ئے دی چه دۀ د مغول او د چین د خلکو ترمینځ دیوال وهلے دے لکه په کتابونو د جغرافیا او تاریخ کښ په لوی دیوال مشهور دے۔ آه۔ لیکن دا قول هم ضعیف دے۔

ذو القرنین ورته ولے وائی؟

دۀ ته ذو القرنین پدے وجه وئیلے شی چه دا د فارس او روم دواړو بادشاه وو، ❁ یا پدے وجه چه ددۀ د سر په ویښتو کښ دوه چوټے وے، ❁ یا پدے وجه چه دۀ په مشرق او مغرب باندے حکمرانی کړے وه۔ ❁ یا ددۀ په تاج کښ دوه خکرے وے۔ ❁ یا پدے وجه چه ددۀ په زمانه کښ د خلکو دوه پیړیٔ تیرے شوے او دے ژوندے وو۔ ❁ یا پدے وجه چه د نمر ځای د راختلو او ځای د ډوبیدو ته رسیدلے وو۔ ❁ یا پدے وجه چه دے د نسب په اعتبار سره د مور او پلار دواړو د طرف نه ډیر شرافت او اُوچت نسب والا وو۔ او داسے نور وجوهات تفسیر قرطبیؒ وغیره لیکلی دی۔
سَأَتۡلُواْ عَلَيۡكُم مِّنۡهُ ذِكۡرًا: یعنی زر دے چه زۀ به تاسو ته ولولم ددۀ نه څه خبر چه په هغے کښ نصیحت دے۔ (اَیۡ مَا بِهِ التَّذَكُّرُ) یعنی چه په هغے سره نصیحت حاصلیږی۔
ابن عاشورؒ وائی چه د ذو القرنین قصے ته ئے تلاوت او ذکر وویلو پدے کښ اشاره ده چه ددۀ د خبرونو نه هغه ذکر کیږی چه په هغے سره نصیحت حاصلیږی او هسے قصه نهٔ ده۔ او پدے کښ اشاره ده چه ددۀ احوال او اخبار ډیر دی خو دغه تپوس کونکو دپاره بعض احوال مفید دی چه هغوی پکښ فکر وکړی او نصیحت ترے واخلی۔ (التحریر والتنویر)

مِّنْهُ : (اَیْ مِنْ خَبَرِهٖ) یعنی د هغه د بعض خبرونو نه۔

۲- ذِكْرًا: (اَیْ خَبَرًا) څه بیان او خبر۔ (فتح البیان)

إِنَّا مَكَّنَّا لَهُ فِي الْأَرْضِ وَآتَيْنَاهُ مِنْ كُلِّ
یقیناً مونږ طاقت ورکړے وو هغهٔ ته په زمکه کښې او ورکړے وو مونږ هغهٔ ته د هر
شَيْءٍ سَبَبًا ﴿٨٤﴾ فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ
شي نه سامان د ضرورت۔ نو روان شو په لاره۔ تردے چه کله اُورسیدو ځائے د ډوبیدو
الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَوَجَدَ عِنْدَهَا
د نمر ته وے موندلو هغه چه ډوبیدو په دریاب تور کښې او وے موندو د هغے سره
قَوْمًا قُلْنَا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِمَّا أَنْ تُعَذِّبَ وَإِمَّا أَنْ تَتَّخِذَ
یو قوم لره، اُووئیل مونږ اے ذو القرنین ! یا عذاب ورکړه دوی ته او یا اُونیسه
فِيهِمْ حُسْنًا ﴿٨٦﴾ قَالَ أَمَّا مَنْ ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهُ
په دوی کښې ښه لاره۔ اُووئیل هغهٔ چا چه ظلم وکړو نو زردے چه عذب به ورکړو هغهٔ ته
ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِ فَيُعَذِّبُهُ
(په دنیا کښې) بیا به واپس کړے شي رب خپل ته نو عذاب به ورکړي هغهٔ ته
عَذَابًا نُكْرًا ﴿٨٧﴾ وَأَمَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا
عذاب ناشنا۔ او هرچه هغه څوك دی چه ایمان ئے راوړو او عمل ئے وکړو نیك
فَلَهُ جَزَاءً الْحُسْنَىٰ وَسَنَقُولُ لَهُ مِنْ أَمْرِنَا يُسْرًا ﴿٨٨﴾
نو هغه لره به په بدله کښې جنت وی او زردے چه وایو به هغهٔ ته د خپل کار نه آسانی۔

تفسیر : دلته نه د هغه خبرو بیان شروع دے چه الله د ذو القرنین په باره کښې رسول الله ﷺ ته د وحی په ذریعه خودلی وے۔ الله تعالیٰ هغهٔ ته فوجی طاقت، مال او دولت، فکر او نظر، او لوئی شهرت او دبدبه ورکړے وه، او د هر شی د حاصلولو ذریعه ئے ورکړے وه، یعنی علم، طاقت، آلات او اسلحه او نور ټول وسائل ئے هغه ته مهیا (آسان، تیار) کړی وو، او

ددې تمامو وسائلو او ذرائعو په استعمالولو سره د مشرق او مغرب انتهاء ته رسيدلے وو۔
مَكَّنَّا لَهٗ فِي الْأَرْضِ: مونږ طاقت ورکړے وو هغه ته۔
سَبَبًا: سبب په اصل کښ پړی ته وئيلے شی، دلته ترے (يو شی ته رسيدونکے وسيله) مراد ده۔ يعنی سامان۔ ددے يو مصداق دے، ۱ – تَعْلِيْمُ الْاَلْسِنَة۔ چه په مختلفو ژبو پوهه وو۔
۲ – [اَیْ عِلْمًا یَتَسَبَّبُ بِهٖ اِلٰی کُلِّ مَا یُرِیْدُ]۔ داسے علمونه وو چه د هغے په ذريعه به ئے خپل مقصد ته ځان رسولو۔
فَأَتْبَعَ سَبَبًا: ۱ – دلته د سبب نه مراد لاره ده، په طرف د مغرب۔
۲ – يا روان شو د خپل علم پسے۔ يعنی د خپل علم مطابق۔ او همدا ظاهره معنیٰ ده۔
اَتْبَعَ او د تَبِعَ فرق دا دے چه اتبع دے ته وائی چه يو شی پسے روان شی او ورپورے پيوسته شی۔ او تبع دے ته وائی چه ورپورے پيوسته نشی۔ (اصمعیؒ)
ليکن حق دا ده چه تَبِعَ، اِتَّبَعَ او اَتْبَعَ درے واړه لغات په يوه معنیٰ دی يعنی روانيدل۔
د مغرب په انتهاء کښ دوی اُوليدل چه نمر په يوه داسے چينه کښ پريوزی چه د هغے خټه توره او گرمه وه۔ مفسرينو ليکلی دی چه ددے چينے نه مراد بحر اټلانټك (بحر محيط) دے چه ذو القرنين ددے غاړے ته رسيدلے وو او هلته بند شوے وو او هلته د نمر د پريوتو په وخت داسے معلوميده چه دا په درياب کښ ډوبيږی ورنه نمر خو په څلورم آسمان کښ دے۔
شوكانیؒ ليکلی دی چه هيڅ وړاندے خبره نۀ ده چه ذو القرنين ددے درياب نه پورے وتلے وی، او د زمکے آخری سر ته رسيدلے وی چرته چه نمر ډوبيدو، هلته دۀ ته يو قوم ملاؤ شو چه په هغوی باندے الله تعالیٰ دا غالب او حاکم کړو، هغوی ته دۀ د دينِ ابراهيمی دعوت ورکړو، نو څه خلقو قبول کړو او څه خلقو انکار وکړو۔ الله اُووئيل چه اے ذو القرنين! ستا خوښه ده که غواړے چه انکار کونکو ته عذاب ورکړے او که غواړے نو د معافی نه کار واخله او حق طرف ته دوی رابله۔ او الله تعالیٰ دۀ ته دا خبره د الهام په ذريعه خودلے وه۔
فِیْ عَیْنٍ حَمِئَةٍ: ددے نه مراد د خټو والا توره چينه يعنی بحر اسود دے۔ او د نمر د غائبيدو معنیٰ دا نۀ ده چه نمر په چينه کښ پريوتو. ځکه چه نمر خو بره په آسمان کښ په خپل مدار کښ روان دے، لاندے نۀ راكوزيږی، خو الله تعالیٰ داسے تعبير وکړو (وَجَدَهَا تَغْرُبُ) يعنی ذو القرنين داسے ومونده او دۀ ته داسے ښكاره كيده چه نمر په يو چينه كښ ډوبيږی لکه د درياب غاړے له يو تن ورشی او د نمر پريوتو وخت وی نو هغۀ ته داسے

ښکاري چه نمر په درياب کښې ډوب شو۔ (بيضاویؒ)
ليکن امام کرخیؒ وئيلي دي چه الله تعالیٰ پدے قادر دے چه د نمر ککورے (جثه) وړه کړي او چينه فراخه کړي پداسے شان سره چه د نمر سترګه په چينه کښې ډوبه شي اګرکه زمونږ عقلونه به دے ته نهٔ وررسيږي۔ او دارنګه د انبياء عليهم السلام او د حکماؤ نه دا بعيده نهٔ ده چه د هغوی دپاره دا حالت واقع شي۔
زهٔ وايم چه همدا خبره صحيح معلوميږي ځکه چه که تاسو د انټرنيټ ويډيو وګورئ چه په هغے کښې نمر د ختمو په چينه کښې داسے ډوبيږي لکه چه د اُوچت ځای نه تيل خلك په يوه کنده کښې اچوي او د هغے نه براسونه پورته کيږي۔ او دا هغه حقائق دي چه قرآن بيان کړيدي او اُوس راښکاره کيږي۔ فاعتبروا يا اولي الابصار۔ و سبحان القادر العليم۔
حَمِئَةٍ: تورے ختے ته وائي۔
قُلْنَا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ: دا ورته په طريقه د الهام وئيل شويدي، يا د هغه وخت د نبي په واسطه سره ورسره خبرے شويدي۔
إِمَّا أَن تُعَذِّبَ: زمونږ په اسلام کښې هم د قيدي په باره کښې داسے اختيار دے چه وژني ئے اوکه همداسے ئے پريدي او که فديه ترے اخلي۔
تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا: ۱- حسنًا نه مراد احساني پريخودل، يا فديه اخستو سره پريخودل دي۔ ۲- يا ددے نه مراد دوی حق ته دعوت کول دي او د شريعت تعليم ورکول دي۔
أَمَّا مَن ظَلَمَ: أَيْ أَصَرَّ عَلٰى كُفْرِهٖ وَشِرْكِهٖ۔ چا چه ظلم وکړو يعني په خپل کفر او شرك ئے هميشوالے وکړو۔ او په دنيا کښې ئے فساد خورولو او خلکو ته ئے د ګمراهئ دعوت ورکولو نو هغهٔ ته به مونږ د قيد اوبند او د قتل سزا ورکوو۔ يعني په شرك سره به په دنيا کښې مونږ عذاب ورکوو او په آخرت کښې به الله تعالیٰ عذاب ورکوي۔
فَسَوْفَ نُعَذِّبُهٗ: کښې اشاره ده چه دهٔ به خلك ايمان ته رابلل نو که هغوی په کفر هميشوالے وکړي نو دے به ورته عذاب ورکوي۔
جَزَآءَ نِ الْحُسْنٰى: يعني بدله چه ښائسته ده چه هغه جنت دے۔ (جزاء) منصوب بنا بر تميز دے يعني ددهٔ دپاره به جنت وي په اعتبار د بدلے سره۔ (قاله الفراءؒ)۔
وَسَنَقُولُ لَهٗ مِنْ أَمْرِنَا يُسْرًا: يعني هغه ته به نن مونږ نهٔ سخته خبره کوو او نهٔ به ورته په يو داسے کار حکم کوو چه په هغه باندے ګران پريوزي۔ يعني ايمان او عمل صالح ګران کار نهٔ دے بلکه دين آسان دے۔

ثُمَّ أَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتّٰۤى إِذَا بَلَغَ مَطۡلِعَ ٱلشَّمۡسِ
بیا روان شو په لاره (د مشرق) تردے چه کله اُورسیدو ځائے د راختلو د نمر ته
وَجَدَهَا تَطۡلُعُ عَلٰى قَوۡمٍ لَّمۡ نَجۡعَل لَّهُم
(نو) وے موندلو هغه چه راختلو په داسے قوم چه نهٔ وه گرځولے مونږ هغوی لره
مِّن دُونِهَا سِتۡرًا ﴿٩٠﴾ كَذٰلِكَ وَقَدۡ أَحَطۡنَا
مخے د نمر ته څه پرده۔ دغسے (کارئے د دوی سره هم اُوکړو) او یقیناً راگیر کړی وو مونږ
بِمَا لَدَيۡهِ خُبۡرًا ﴿٩١﴾ ثُمَّ أَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾
هغه (سامانونه) چه ددهٔ سره وو په علم خپل کښ۔ بیا روان شو په لاره۔
حَتّٰۤى إِذَا بَلَغَ بَيۡنَ ٱلسَّدَّيۡنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا
تردے چه کله اُورسیدو مینځ د دوه غرونو ته وے موندلو اخوا د هغے نه
قَوۡمًا لَّا يَكَادُونَ يَفۡقَهُونَ قَوۡلًا ﴿٩٣﴾
داسے قوم چه نزدے نهٔ وو چه پو هه شوی وے په خبره۔

تفسیر : د مغرب انتهاء تـه د رسیدو نه روستو ذو القرنین مشرق طرف ته واپسی لاره اختیار کړه او پـه لاره کښ چه څومره قومونه راغلل هغوی ته ئے د دین ابراهیمی دعوت ورکړو، کومو خلقو چه د هغه دعوت قبول کړو هغوی ئے په خپل حال پریخودل،

او چا چه انکار وکړو نو هغه ئے د ذلت او رسوائی سره مخامخ کړل، د هغوی په مال او دولت ئے قبضه وکړه، او ددے قومونو نه ئے داسے خلق د ځان سره کړل چه د هغوی په ذریعه ئے په نورو قومونو باندے په غلبے حاصلولو کښ مدد واخستو تردے پورے چه د نمر راختلو ځای یعنی د مشرق انتهاء ته ورسیدو۔

هلته ئے یو داسے قوم مونده کړه چه د تمدن نه بالکل وړاندے برېند اُوسیدل، نهٔ د دوی کورونه وو او نهٔ هلته څه ونه وه چه دوی د نمر د گرمائش نه بچ کړی۔

سعید بن جبیرؒ وائی چه دا خلق سور رنگ والا، لنډی قدونو والا وو چه په غارونو کښ به وسیدل او مهیان به ئے خوړل۔

عَلٰى قَوۡمٍ: ځینی وائی دا زنج قوم وو. او بعض وائی چه دا د هود ﷺ د مؤمنانو نسل وو او د دوی د علاقے نوم (حاحیالق) یا (جابلق) وو چه په سریانیٔ ژبه کښ ورته (مرقسا) (یا مرقیسا) وائی او دوی یأجوج او مأجوج ته نزدے وو. (فتح البیان والقرطبی)

مِّنۡ دُوۡنِهَا سِتۡرًا: (د نمر مخے ته پرده) ځینی وائی چه د دوی کورونه ځکه نهٔ وو چه دوی په داسے زمکه وسیدل چه هلته آبادی نهٔ ټینګیږی ځکه چه نرمه زمکه وه. او مجاهدؒ وائی چه دوی جامے هم نهٔ اغوستے، او د وحشی ځناورو په شان ژوند به ئے تیرولو.

او ابوداود الطیالسیؒ د حسن بصریؒ نه نقل کړیدی چه دوی چه کله نمر راخیژی نو اُوبو ته ننوزی، کله چه نمر پریوزی نو راوځی او د ځاروو په شان څریږی.

قتادةؒ وائی: دوی په داسے زمکه کښ وسیږی چه هغه ونه نهٔ راتوکوی نو دوی چه کله نمر راخیژی په سورنګانو کښ داخل شی، او کله چه نمر د نیمائی آسمان نه زائل شی نو دوی خپلو فصلونو ته راوځی.

ابن جریرؒ وائی چه د دوی په زمکه کښ غرونه نشته نو سورنګانو ته ځکه داخلیږی.

علامه شعراویؒ په خپل ((تفسیر الشعراوی)) کښ لیکی چه دے خلکو ته الله تعالیٰ داسے کلکه څرمن ورکړیده چه د ګرمیٔ او د یخنیٔ دواړو برداشت کولے شی، د جامو او کپړو هیڅ پرواه د دوی سره نشته، لکه بعض حیواناتو ته الله تعالیٰ داسے څرمن ورکړی وی چه په منجمده واوره کښ ژوند تیروی، او د یخنیٔ سره هیڅ حساسیت نهٔ لری. او ځینی مفسرینو وئیلی دی چه ذو القرنین داسے ځای ته لاړو چه هلته یوه ورځ درے میاشتے وه، یا ورځ ئے شپږ میاشتے وه نو دے د نمر د موجودیدو په وخت کښ ورغلو او څو پورے چه دے هلته موجود وو نمر نهٔ وو پریوتے او داسے ښکاری چه دا (اقصی الشمال) آخری شمالی طرف وو. (تفسیر الشعراوی ۱/۵٤۷۳)

ابن عاشورؒ وائی چه ظاهر دا ده چه ذو القرنین د الیابان (جاپان) د دریاب غاړے ته ورسیدو چه دا په حدودو د منشوریا او مشرقی کوریا کښ واقع دے. (التحریر والتنویر)

كَذٰلِكَ: یعنی ۱- كَذٰلِكَ بَلَغَ. دغه شان ورسیدو مشرق ته هم.

۲- ظاهر دا ده چه تقدیر داسے دے: (كَذٰلِكَ حَكَمَ فِيهِمۡ) دغه شان فیصله ئے وکړه د دوی په باره کښ هم کومه ئے چه د مغرب والو په باره کښ کړے وه.

وَقَدۡ اَحَطۡنَا بِمَا لَدَيۡهِ خُبۡرًا: الله تعالیٰ ذو القرنین ته په دنیا کښ ډیر اُوچت مقام او ډیر لوئی سلطنت ورکړے وو چه د هغے څه حال مخکښ بیان شو، د هغهٔ قوت، د فوج د ډیر

والې او نور مادي او روحاني اسبابو او وسائلو صحيح اندازه صرف الله ته معلو مه ده.
خبر: په معنىٰ د علم سره دے. دلته الله تعالىٰ نور زياتي حالات بيان نکړل چه ذو القرنين د دوی سره څه وکړل، نو کيدے شي چه د مخکنو خلکو په شان دعوت ئے ورکړے وي او هغوی ته ئے د ترقي اسباب برابر کړی وي. (شعراويؒ)
ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا: د مشرق انتهاء ته رسيدلو نه روستو ذو القرنين د مشرق او مغرب ترمينځ د شمال مغرب لاره اختيار کړه، او په تلو سره په شمال مغرب کښ داسے ځای ته اُورسيدو چه هلته دوارو طرفونو ته دوه اُوږده او اُوچت غرونه وو، او د دوارو په مابين کښ يو ځای خالي وو. هلته د انسانانو يو داسے جماعت وسيدو چه په هيڅ خبره نهٔ پو هيدل څکه چه د دوی ژبه عجيبه او ناشنا وه او په هغوی کښ د پو هے صلاحيت هم کم وو.
السَّدَّيْنِ: دا دوه غرونه چرته دی؟
پدے په باره کښ د خلقو ډير اقوال دی:
(۱) چا وئيلی دی چه دا د ارمينيا او آذربيجان په علاقه کښ دوه غرونه دی. (ابن عباسؓ)
(۲) چا ليکلی دی چه دا د ترکی مشرقي علاقه ده کوم ځای چه د ترکی سرحد ختميږی.
(۳) امام ابن حزمؒ په خپل کتاب ((الملل والنحل)) کښ ليکلی دی چه دا ځای د شمال په آخر سر کښ د دنيا آخرے غاړه باندے دے. رازيؒ ليکلی دی چه په ظاهره کښ دا ځای په شمال کښ واقع دے. اسکندر د دوارو غرونو ترمينځ دغه کولاو ځای بند کړے وو چه د هغے اُوږدوالے سل فرسخه (درے سوه ميله) وو او دا به ياجوج او ماجوج آبادئ طرف ته د راتلو دپاره د لارے په توګه استعمالولو.
قرآن وائي چه دا خلق د دوارو غرونو نه اخوا اُوسيدل او د دوی زمکه ډيره فراخه ده او بحر اتلانتک (يعنی بحر محيط) پورے خوره شويده. (فتح البيان)
لَا يَكَادُونَ: دوی د ذو القرنين په خبره پوره نهٔ پو هيدل لکه د نورو خلکو په شان يا خو ئے ژبه ناشنا وه او بل د دوی پو هه هم کمه وه.

ياجوج ماجوج چرته دی؟

پدے وخت کښ خلك د ياجوج ماجوج په باره کښ اختلاف کوی چه دا کوم ځای کښ دی؟ بعض وائی پدے وخت کښ سائنس ډيره ترقي کړيده نو دوی چا څنګه نهٔ دی ليدلی؟
جواب دا دے چه دا په داسے ځای کښ وسيږی چه الله تعالىٰ خلکو ته د هغے نه علم نهٔ دے

ورکړے او اُوس نزدے زمانه کښ سائنسدانو لیکلی دی چه اتم بر اعظم اکتشاف شویدے۔ او دوی به قیامت ته نزدے راوځی۔ او ددے وجه نه هغه مفسرین خطاء شویدی چه هغوی وئیلی دی چه د دوی نه مراد تتاریان دی۔ او ابن عاشورؒ وئیلی دی چه د دوی نه مراد مغولیان او تتاریان دی چه دا ډیر مفسدان وو۔

او بعض خلك د یورپ کافر یادوی چه مفسدان دی، او بعض خلکو ددے نه مراد چینیان اخستی دی۔

ظاهر دا ده چه دا انسانان دی او په زمکه کښ دننه پټ دی او زمکه کُرَوی الشکل ده، مونږه ئے په یو طرف کښ یو او دوی په بل طرف کښ، دلیل پرے دادے چه ذو القرنین ورته یو دیوال وهلے دے نو که چرته نورے لارے دوی ته کولاوے وے او دوی په ظاهری زمکه وے نو په بل طرف به راتاؤ شوی وے۔ خلك په زرگونو میلونو مزلونه کولے شی۔ ددے نه معلومیږی چه صرف یوه سوره وه چه هغه ورله ذو القرنین په دیوال سره بنده کړه۔ او د روستو آیت ﴿ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ﴾ نه معلومیږی چه دوی الله تعالیٰ په زمکه کښ بند پریخی دی۔ او د یو اُوږد حدیث نه معلومیږی چه [اِنَّ يَاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ مُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ يَحْفِرُوْنَ السَّدَّ كُلَّ يَوْمٍ حَتّٰى اِذَا كَادُوْا يَرَوْنَ شُعَاعَ الشَّمْسِ قَالَ الَّذِیْ عَلَيْهِمْ اِرْجِعُوْا فَسَتَفْتَحُوْنَهٗ غَدًا فَيَعُوْدُوْنَ اِلَيْهِ اَشَدَّ مَا كَانَ حَتّٰى اِذَا بَلَغَتْ مُدَّتُهُمْ] یاجوج او ماجوج په زمکه کښ فساد کونکی دی، دوی هره ورځ دغه دیوال وکنی تردے چه کله نزدے شی نو د نمر شعلے وینی، نو کوم مشر چه پرے مقرر دے هغه وائی چه اُوس واپس شئ صبا له به ئے کولاؤ کړئ، نو دوی چه صبا له دیوال خواله راشی نو هغه د مخکښ نه هم زیات سخت شوے وی تردے چه کله د دوی موده پوره شی او الله وغواړی چه دوی په خلکو باندے راولیږی نو دوی به دیوال وکنی تردے چه کله نزدے شی چه د نمر شعلے وینی مشر به ورته وائی چه صبا له به ئے کولاؤ کړئ ان شاء الله۔ نو صبا له چه راشی په همغه حال به ئے کولاؤ وینی۔ الی آخر الحدیث۔ (احمد: (١٠٦٤٠)، ترمذی، ابن ماجه (٤٠٨٠)، ابن حبان حاکم او بیهقی فی البعث عن ابی هریرة ﷺ- السلسلة الصحیحة ٤/٣١٣ رقم: (١٧٣٥)

یعنی دوی نه اُوس ان شاء الله هیریږی او بیا به د ان شاء الله د وئیلو په برکت سره راکولاویږی۔ په دنیا کښ دجال موجود دے چائے اُوسه پورے ځای بالضبط نهٔ دے لیدلے، څوك وائی برمودا تکون کښ دے۔ مگر بالضبط معلومات نشته۔ نو دغه شان یاجوج ماجوج هم دی۔

قَالُوْا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوْجَ وَمَأْجُوْجَ مُفْسِدُوْنَ

اُووئیل دوی (په ذریعه د ترجمان) اے ذو القرنین ! یقیناً یاجوج او ماجوج فسادونه کوی

فِي الْأَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلٰى أَنْ تَجْعَلَ بَيْنَنَا

په دے زمکه کښې نو آیا اُوګرځوو مونږ تا له خرچه چه جوړ کړے ته په مینځ زمونږ

وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾ قَالَ مَا مَكَّنِّىْ

او په مینځ د دوی کښې یو دیوال۔ اُووئیل هغهٔ، هغه چه طاقت راکړیدے ما ته

فِيْهِ رَبِّىْ خَيْرٌ فَأَعِيْنُوْنِىْ بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ

په هغے کښې رب زما غوره دے، نو مدد اُوکړئ ما سره په طاقت (د سړو) چه اُوګرځوم

بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿٩٥﴾ آتُوْنِىْ زُبَرَ الْحَدِيْدِ حَتّٰى إِذَا

په مینځ ستاسو او په مینځ د دوی کښې دیوال۔ راوړئ ما ته ټوټے د اُوسپنے تردے چه کله

سَاوٰى بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ انْفُخُوْا حَتّٰى إِذَا

ئے برابر کړو په مینځ د سرونو د غرونو کښې، وے وئیل اُوپو کئ (دے ته بنئ) تردے چه کله

جَعَلَهٗ نَارًا قَالَ آتُوْنِىْ أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾

ئے اُوګرځولو اُور۔ وے وئیل راوړئ ما ته چه راواړوم په دے باندے تانبه (ویلی کړے

فَمَا اسْطَاعُوْا أَنْ يَّظْهَرُوْهُ وَمَا اسْتَطَاعُوْا لَهٗ

شوے)۔نو طاقت نهٔ لری دوی چه راوخیژی پدے باندے او طاقت نهٔ لری هغے له

نَقْبًا ﴿٩٧﴾ قَالَ هٰذَا رَحْمَةٌ مِّنْ رَّبِّىْ فَإِذَا

د سوری کولو۔ اُووئیل هغه دا خاص رحمت دے د طرف د رب زما نه پس هرکله چه

جَآءَ وَعْدُ رَبِّىْ جَعَلَهٗ دَكَّآءَ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّىْ حَقًّا ﴿٩٨﴾

راشي وعده د رب زما وبه ګرځوی دے لره ذره ذره او ده وعده د رب زما حقه (یقینی)۔

تفسیر : دے خلقو ذو القرنین ته ووئیل چه د دواړو غرونو نه اخوا د یاجوج ماجوج قوم

وسیېږي، دوی ته چه کله هم موقعه ملاوېږي، د دواړو غرونو په مینځنۍ لارې سره مونږ طرف ته راځي او قتل او لوټ مار کوي او د لوټ مار نه روستو واپس ځي. نو آیا تهٔ به زمونږ نه په عوض اخستو سره زمونږ او د دوی ترمینځ کوم مانع او رکاوټ جوړ کړې؟

ذو القرنین په اثبات کښې جواب ورکړو او وې وئیل چه ما ته ستاسو د هیڅ عوض ضرورت نشته دے. الله چه کوم مال او دولت او ملك او سلطنت ما ته راکړیدے هغه د هغه عوض نه ډیر غوره دے کوم چه تاسو ما ته راکول غواړئ. تاسو صرف په مزدورانو، صنعت کارو او ضروری آلاتو سره زما مدد وکړئ، دے دپاره چه زهٔ ستاسو او د دوی ترمینځ یو مضبوط دیوال ودروم، یعنی دا دَره بنده کړم په کوم طرف چه تاسو ته دا خلق راځي.

ما ته د اُوسپنے ټکړے راکړئ. کله ئے چه د دواړو غرونو په مینځنی ځای کښې د اُوسپنے د خختو نه دوه برابر دیوالونه جوړ کړل نو خلقو ته ئے ووېل چه اُوس د دواړو دیوالونو په مینځ کښې اُور اُوبکئ تردے پورے چه اُوسپنه دومره ګرمه شی چه اُور ترے جوړ شی.

کله چه اُوسپنے نه اُور جوړ شو نو ذو القرنین دوی ته ووئیل چه اُوس ما ته ویلی کړے شوے تانبه راکړئ دے دپاره چه دا په ګرمه اُوسپنه باندے واړوم او دا د اُوسپنے سره ونخلی.

دا رکاوټ دومره اُوږد او خوئے وو چه دے نه روستو د یاجوج ماجوج راتلل بند شو، او هغه دومره پیړ او سخت وو چه د دوی دپاره په هغے کښې سورے کول ممکن نهٔ شو.

ذو القرنین اووئیل چه دا دیوال ددے ځای اُوسیدونکو دپاره زما د رب رحمت دے چه اُوس به یاجوج ماجوج پدے لاره سره نهٔ راځي چه ظلم او زیاتے وکړي. لیکن کله چه قیامت ته نزدے د یاجوج او ماجوج د راوتلو وخت راشی نو الله تعالیٰ به دا دیوال ذره ذره کړي او زمکه به برابره شی، او د مخکښې په شان لاره به جوړه شی. د الله وعده حقه ده چه قیامت راتلونکے دے او انسانانو ته به د هغوی د اعمالو مطابق هغه جزا او سزا ورکوی.

یاجوج ماجوج څوك دی؟

اکثر مفسرین وائی چه دا عجمی نومونه دی ددے وجه نه دا غیر منصرف استعمالیږي، او بعض وائی چه دا عربی دی، جوړ دی د (اَجّ) نه او دا منډے وهلو ته وائی او تَأَجُّجُ د اُور لمبه کیدو ته وئیلے شی. یا دا د (اَوُجَةٌ) نه دی، اختلاط (ګډون) یا سختے ګرمئ ته وائی.

یا د (اَوُج) نه دی په معنیٰ د تیزے منډے سره. د دوی د نسب په باره کښې اختلاف دے څینی وائی چه دوی د یافث بن نوح علیه السلام اولاد دے، او ترکیان او صقالبه د دوی

نسبیان دی، او په دوی کښ چینیان هم داخل دی۔
بعض وائی چه یاجوج د ترکو نه او ماجوج د جِیل او دیلم نه دی۔ بعض خلقو د دوی لنډ قد او بعضو اُوږد قد وئیلے دے۔ بعض محققینو وئیلی دی چه په داغستان علاقه کښ (چه دا د روس تابع علاقه ده) د کوهِ قاف (قاف غر) نه شا ته دوه قبیلے اُوسیدلے چه د هغے نومونه ((آقوق)) او ((ماقوق)) وو۔ عربو چه عربئ کښ استعمال کړل نو یاجوج او ماجوج ئے ترے جوړ کړل۔ ډیرو نورو قبیلو به دوی لره پیژندل او د دوی ذکر د اهل کتابو په کتابونو کښ راغلے دے۔ ددے دواړو قبیلو د نسل د ډیر والی نه په شمال او مشرق کښ قومونه موجود شو او د روس او د ایشیا په ممالکو کښ خوارهٔ شو۔ (القاسمی وفتح البیان)
بهر حال یاجوج او ماجوج چه هر څوك وی، دومره خبره خو د صحیح احادیثونه ثابته شویده چه قیامت ته نزدے به د ذو القرنین جوړ شوے دیوال ذره ذره کړے شی، او د یاجوج او ماجوج فوج به راروان شی۔ امام احمدؒ، ترمذیؒ او حاکمؒ وغیره د ابو هریره ﷺ نه روایت کړیدے او محدث البانی رحمه الله ددے تصحیح کړیده چه دا خلق به د ټولو کوهیانو اُوبه اُوڅکی او خلق به د دوی د یرے نه په قلعه ګانو کښ بند شی۔ خپل غشی به آسمان طرف ته اُوولی نو هغه به د وینو نه ککړ دوی ته واپس راځی، نو دوی به وائی چه مونږ زمکے والا مغلوبه کړل او د آسمان والو نه زیات اُوچتے مرتبے والا شو۔ نو الله تعالیٰ به د دوی په ترخونو کښ یوه بیماری پیدا کړی چه د هغے په وجه به ټول په ټوله هلاك شی۔ رسول الله ﷺ فرمائی: ((قسم په الله! چه د هغه په لاس کښ د محمد ساه ده چه د زمکے چارپیان به ددوی غوښے اُوخوری او چاق به پریے شی او د الله شکر به ادا کوی))۔ (ترمذی فی التفسیر ۱۸، باب ۵، وابن ماجه فی الفتن باب ۳۳ واحمد ۲/ ۵۱۰،۵۱۱ واسناده صحیح- البانی)
او یاجوج ماجوج ټول کافران دی ځکه چه سول الله ﷺ د اسراء په شپه دوی ته د ایمان دعوت ورکړے وو لیکن دوی اجابت ونکړو۔ (فتح البیان)
بِقُوَّةٍ: د قوت نه مراد طاقت د سړو او د نفرئ دے۔ یا آلات د جوړولو یا مجموعه۔
رَدۡمًا: ردم هغه دیوال ته وائی چه د سد نه زیات مضبوط وی ځکه چه ردم په اصل کښ یو کاڼړے په بل کاڼړی جوخت کیخودل دی۔
الصَّدَفَيۡنِ: دا د غر دواړو طرفونو ته وئیلے شی۔ ابوعبیدهؒ وائی کله لوی او اُوچتے آبادئ ته هم صدف وئیلے شی۔
زُبَرَ: جمع د زُبۡرَةٌ ده لکه د غُرۡفَةٌ پشان، ټکړو ته وئیلے شی۔ مفسرین لیکی چه ددے دیوال

مینځ کښې ئې لرګي او سکاره بند کړل او دغه ټکړے د وسپنے پګښې کیخودے او بیا ئې ورته په بنځ سره پو کي وکړل نو اُور پکښې بل شو او ټول دیوال تلک سور انګار شو۔

دا دیوال چا دیوارِ چین (د چین دیوال) ګڼړلے دے چه ددے اُوږدوالے درے زره درے سوه (۳۳۰۰) کیلو میټره دے۔ او دا دیوال د بحر اصفر نه شروع دے چه د چین د بیکنګ (دار الخلافة) مشرقي ښار نه شروع دے او مخامخ په (مکدن) ښار ورغلے دے۔ او دا دیوال د کانړو او پخو خختو نه او بعض ځای کښې د خاورو نه جوړ دے۔ (ابن عاشورؒ)

لیکن پدے باندے د ذو القرنین د دیوال ټول صفات نۀ تطبیق کیږی۔ بعض وائی دا په روس علاقه کښې دے او هغه د اُوسپنے دے لیکن په هغے کښې هم دغه ټول صفات نۀ ښکاره کیږی کوم چه په آیت او حدیث کښې راغلی دی۔

أَفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا : قطر تانبے ته وائی۔ او دا د ذو القرنین کرامت دے ورنه داسے ګرم دیوال ته انسان په ډیرو میلونو خوا ته نشي ورتللے د وجه د سخت ګرمائش نه۔ یا به ورسره داسے اسباب او آلات وو چه په هغے سره به ئې دغه کارونه کول لکه چه مخکښې الله تعالیٰ د هغه دغه طاقتونه اجمالًا ذکر کړل۔

فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّىْ: اُوس ذو القرنین د خلکو ذهن جوړوی او د آخرت دعوت ورکوی او هغے ته ئې متوجه کوی چه داسے چرته فخر ونکړئ چه مونږ داسے دیوال جوړ کړو چه هیڅوک دا نشی ماتولے، ددے طاقت دپاسه د الله تعالیٰ طاقت دے چه هغے ته هیڅ طاقت نشي ټینګیدے۔ نو د دغه ورځے دپاره په ایمان او عمل صالح سره تیاری پکار ده۔

او ددے نه دا نۀ معلومیږی چه دا دیوال به د قیامت نه مخکښې نۀ ماتیږی، نو کیدے شی چه اُوس د زلزلو او براکینو په وجه ختم شوے وی بلکه مطلب دا دے چه دا ګمان ونکړئ چه دا به نۀ ماتیږی بلکه ماتیدل ئې شته که اُوس مات نشو نو قیامت راتلونکے دے د الله په حکم به هر شے او هر غر فناء کیږی نو دا دیوال به هم ذره ذره شي۔ (قاسمیؒ)

وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَّمُوْجُ فِيْ بَعْضٍ وَنُفِخَ
او پرے به ږدو بعض د دوی په دغه ورځ چه چپے به وهي په بعضو کښې او پو کے به وکړے شی
فِي الصُّوْرِ فَجَمَعْنَاهُمْ جَمْعًا ﴿۹۹﴾ وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ
په شپیلئ کښې نو راجمع به کړو دوی لره په راجمع کولو۔ او پیش به کړو جهنم

يَوْمَئِذٍ لِّلْكَافِرِينَ عَرْضًا ﴿١٠٠﴾ الَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ
په دغه ورځ په کافرانو باندې په پیش کولو سره۔ هغه کسان دي چه وې سترګې د دوی
فِي غِطَآءٍ عَن ذِكْرِي وَكَانُوا لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا ﴿١٠١﴾
په پرده کښې د یاداشت زما نه او وو دوی چه طاقت ئې نهٔ لرلو د اوریدو (د حق)۔

تفسیر: دا د الله تعالیٰ قول دے، یعنی د دجال د مرګ نه روستو چه کله یاجوج اوماجوج راوځی نو د سختې ګنړې په وجه به یو بل سره ملاویږي، او هر طرف تهٔ به منډې ترړې وهي او شوکې او ظلم او زیاتے به کوي۔ صاحب د ((فتح البیان)) لیکلی دي چه په هغه وخت کښې به عیسیٰ علیه السلام ځان سره مؤمنان واخلي او د طور غر طرف ته به منډه کړي، بیا به الله تعالیٰ د دوی په پوزو کښې یو چینجے پیدا کړي چه ټول په ټوله به مړهٔ شي، او مکې او مدینې او بیت المقدس ته به داخل نهٔ شي او نهٔ به هغه خلقو ته اُورسیږي کوم چه د الله په ذکر کښې مشغول وي۔ او دوی به چپے ځکه وهي چه دوی د نفرئ په اعتبار سره ډیر زیات دي۔ مفسرینو لیکلی دي چه د دوی د هر یو تن زر کسان اولاد پیدا کیږي۔ او دا یأجوج ماجوج راوتل د قیامت لویه نښه ده او متواترو صحیح احادیثو کښې راغلې ده۔

(۲) یا يَمُوجُ بَعْضُهُمْ نه مراد عام مخلوقات دي، او مطلب دادے چه د قیامت په ورځ به پیریان اوانسانان به په یو بل کښې ګډوډ شي۔

وَنُفِخَ فِي الصُّورِ: او اسرافیل علیه السلام به په صُور (شپیلئ) کښې پوکې ووهي۔ مفسرینو لیکلی دي چه دا به دویم صور وي چه ددې نه روستو به الله تعالیٰ تمام مخلوقات دوباره راژوندي کوي او میدان محشر ته به ئې د حساب او جزا دپاره راجمع کوي۔

وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكَافِرِينَ عَرْضًا: په هغه ورځ به الله تعالیٰ جهنم دکافرانو مخې ته راولي او دوی به ئې ویني او د هغه د غصې او قهر نه ډك آواز به واوري نو په سخت غم او ستومانئ کښې به واقع شي۔ حدیث کښې دي: چه جهنم د دریاب لاندې دے الله تعالیٰ به ورپسې ملائك ولیږي چه په جهنم کښې به ئې اویا زره زنځیرونه اچولي وي او د هر زنځیر سره به اویا زره ملائك وي ګویا که نهه څلویښت لاکه (۴۹۰۰۰۰۰) ملائك به ئې د قیامت میدان ته راکاږي او د کافرانو مخې ته به ئې کړي۔

(صحیح مسلم عن ابن مسعود رضي الله عنه رقم (۷۳۴۳)

اَلَّذِيْنَ كَانَتْ اَعْيُنُهُمْ: دا به هغه کافران وی چه په دنیا کښې ئے په سترګو باندې پرده پرته وه او د آوریدو قوت ئے بالکل ختم شوے وو، پدې وجه نهٔ پدې دلائلو او براهینو سره دوی ته څه فائده اُورسیده کوم چه د الله په وحدانیت باندې دلالت کوی، او نهٔ دوی ته د قرآن د تلاوت او د هغهٔ په آیتونو کښې د سوچ او فکر کولو توفیق ورکړے شو، او د دوی طاقت د آوریدو داسې ختم شوے وو چه د حق او د هدایت د خبرې د آوریدو نه بالکل محروم شوی وو۔

اَعْيُنُهُمْ: ۱-د سترګو نه مراد ظاهری سترګې دی، او پدې باندې هم د الله تعالیٰ ذکر کیږی چه آسمان او زمکې او کائناتو ته او خپل ځان ته فکر وکړی او بیا خپل رب یاد کړی۔

۲- د زړونو سترګې هم مراد کیدې شی۔

لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَمْعًا : ۱- لِشِدَّةِ الْعَدَاوَةِ ـ د آوریدو طاقت ئے نهٔ لرلو د وجه د سختې دشمنئ او ضد نه۔ ۲- اَوْ لِغَلَبَةِ الشَّقَاوَةِ عَلَيْهِمْ۔ یا په دوی باندې بد بختی غالبه شویده۔

اَفَحَسِبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اَنْ يَّتَّخِذُوْا عِبَادِيْ مِنْ دُوْنِيْ اَوْلِيَآءَ اِنَّا اَعْتَدْنَا
آیا ګمان کوی کافران چه اُونیسی بندګان زما سوا زما نه دوستان یقیناً مونږ تیار کړیدے
جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ نُزُلًا ﴿۱۰۲﴾ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ
جهنم کافرانو لره میلمستیا۔ اُووایه آیا خبر درکړو تاسو ته په هغه کسانو چه ډیر تاوانیان دی
اَعْمَالًا ﴿۱۰۳﴾ اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا
په اعتبار د عملونو سره۔ هغه کسان دی چه برباد دے کوشش د دوی په ژوند دنیوی کښې
وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا ﴿۱۰۴﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
او دوی ګمان کوی چه یقیناً دوی ښائسته کوی عمل لره۔ دا هغه کسان دی چه کفرئے کړیدے
بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَلِقَآئِهٖ فَحَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيْمُ
په آیتونو د رب د دوی او په ملاقات د هغهٔ نو برباد دی عملونه د دوی نو وبه نهٔ دروو
لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا ﴿۱۰۵﴾ ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ
د دوی دپاره په ورځ د قیامت هیڅ تول۔ دا (چه ذکر شو) بدله د دوی جهنم دے

﴿بِمَا كَفَرُوا وَاتَّخَذُوا آيَاتِي وَرُسُلِي هُزُوًا ﴿١٠٦﴾﴾

په سبب د هغې چه کفرئې کړيدے او نيولې ئې دي آيتونه زما او رسولان زما په توقو سره

تفسير: **مضمون:**

دا آيت متعلق دے د (٣) آيت سره ﴿وَيُنْذِرَ الَّذِينَ قَالُوا اتَّخَذَ اللهُ وَلَدًا﴾۔ يعنى قرآن كريم كومو خلكو ته يره وركوى؟ دا هغه خلك دي چه د الله سره شريكان جوړوى۔ داسے خلكو ته الله تعالىٰ پدے آيتونو كښ څلور كرته كافران وئيلى دى۔

دوېم دا چه د دوى اعمال برباد دى او سره د عملونو نه به ئې الله تعالىٰ اُور ته بوځى۔ او پدے آيتونو كښ الله تعالىٰ د عمل دوه قسمونه بيانوى، يو عمل مقبول او بل عمل مردود، او دے ته شرائط د عمل صالح هم وئيلے شى، او مردود اعمالو كښ رياء كارى، بدعت، دنيا طلبى، بل كفربآيات الله (يعنى د الله تعالىٰ د آيتونو نه تأثر نهٔ اخستل) او د آخرت د يرے د وجه نه عمل نهٔ كول، ترك الاتباع (د رسول الله ﷺ تابعدارى پريخودل)۔

عمل د هغه چا قبول دے چه نيك عمل كوى، په اخلاص ئې كوى، په اتباع د سنت ئې كوى۔ او په هغې كښ بدعت او رياء نهٔ وى، او د الله د يرے په بناء وى، او دنيا طلبى پكښ نهٔ وى۔ بيا فرمائى چه د چا عمل قبول شو جنت ئې ځاى دے، او د چا عمل چه مردود شو نو جهنم ئې ځاى دے۔ او په مينځ كښ د الله تعالىٰ د علم تذكره كوى د يو خاص مناسبت د وجه نه۔

نو پدے آيت كريمه كښ رد د شرك دے او مشركانو ته زجر او توبيخ دے۔ فرمائى: آيا د هغه خلكو دا گمان دے چه دوى زما نه سوئ نور بندگان دوستان او ارباب (آلهه) نيسى ددے دپاره ئې نيسى چه دوى ورسره مينه كوى، او د هغوى نه اميد لرى چه دوى به زمونږ حاجتونه پوره كړى۔ په سورة مريم آيت (٨١/٨٢) كښ همدا مضمون الله تعالىٰ داسے بيان كړيدے: ﴿وَاتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللهِ آلِهَةً لِيَكُونُوا لَهُمْ عِزًّا كَلَّا سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ○﴾ (دوى د الله نه سوئ نور خلق معبودان نيولى دى، دے دپاره چه هغوى د دوى دپاره د عزت باعث شى، ليكن داسے هيچرے نهٔ كيږى، هغوى خو به د دوى د عبادت نه منكر شى او اُلټه به د دوى دشمنان جوړ شى)۔

نو ددے جزاء پته ده: [اَفَظَنُّوا اَنَّ ذٰلِكَ يَنْفَعُهُمْ مَعَ اِعْرَاضِهِمْ عَنْ تَدَبُّرِ آيَاتِ اللّٰهِ وَتَمَرُّدِهِمْ عَنْ

قَبُوْلِ الْحَقِّ] آیا د دوی دا گمان دے چه گنے دا کار به دوی ته فائده ورکړی سره ددے نه چه دوی د الله د آیتونو نه مخ اړوی او د حق د قبلولو نه سرکشی کوی۔

یا جزاء داسے ده : (اَظَنُّوْا اَنَّ ذٰلِكَ الْاِتِّخَاذَ لَا یُغْضِبُنِیْ وَلَا اُعَاقِبُهُمْ عَلَیْهِ) ۔ آیا د دوی دا گمان دے چه پدے کار به زۂ په دوی غضب ونکرم او دوی ته به سزا ورنکرم۔ هیڅکله ډیے داسے گمان نکوی۔ یا جزاء داسے ده : (اِنَّهُمْ لَا یَكُوْنُوْنَ لَهُمْ اَوْلِیَاءَ) دا گمان ډیے نکوی چه دغه معبودان به د دوی دپاره دوستان شی او فائده به ورته وکړی۔

او ابن جریرؒ وغیره وئیلی دی چه د (عِبَادِیْ) نه مراد ملائك او عزیر او عیسیٰ علیهم السلام او د دوی په شان نور نیکان بندگان دی۔ نو پدے کارونو سره دغه خلك مشرکان شو۔

سوال دا دے چه ملائکو او پیغمبرانو او نیکانو سره دوستی کول خو جائز دی؟

جواب دا دے چه دلته د اولیاء نه مراد (وِلَایَةُ الْعُبُوْدِیَّة) دے یعنی داسے محبت ورسره کوی چه هغه ته عاجزی کوی، او د هغۂ بندگی شروع کړی او د الله حق ورته ورکړی، او بغیر د اسبابو نه د هغه نه امید او خوف لری، او دا حرام دے او هرچه دینی محبت دے نو هغه خو لازم دے۔

او دا آیت (عِبَادِیْ) ښکاره دلیل دے چه ډیرو مشرکانو د الله تعالیٰ سره بندگان شریکان جوړ کړیدی نو ځکه ورته الله تعالیٰ بار بار کافران وئیلی دی۔ نو شرك صرف دے ته نۂ وائی چه بت ته سجده وکړی۔

لِلْكَافِرِيْنَ: دلته ئے دے مشرکانو ته کافران وویل ځکه چه دوی د الله تعالیٰ د حقیقت نه منکر شو۔ دارنگه د الله تعالیٰ حق ئے بل چا ته ورکړو او د الله تعالیٰ د صفاتو نه منکر شو۔

قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ: پدے آیت کریمه کښ د دوی د عملونو بربادی ذکر ده چه د کافرانو نیك عملونه د آخرت په لحاظ سره برباد دی، الله ئے نۂ قبلوی ځکه چه په ایمان باندے نۂ دی، او د توحید په بنیاد نۂ دی بلکه شرك ئے ورسره یو ځای کړیدے۔ او بیا ئے د دوی دپاره بد انجام خودلے دے۔

أَعْمَالًا: عمل ئے په بربادئ کښ ذکر کړو ځکه چه که د یو انسان ښځه، بچی مړۂ شول یا ئے مال نقصانی شو نو دا دومره لویه خبره نۂ ده، دا امتحان خو په انبیاء علیهم السلام او صالحینو باندے هم راځی خو چه عمل برباد شی نو دا پوره برباد شو، سرمایه ترے لاړه، د کوم شی دپاره چه پیدا وو او دنیا او آخرت پرے ښۂ کیده، جنت پرے حاصلیدو هغه برباد شی نو دا لوی تاوان دے، پدے وجه الله تعالیٰ مشرکان د عمل په تاوان باندے یرولی دی۔

أُولَئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ : پدے کښې د دوی دوه نور صفتونه بيانيږی، او ددے نه د نيك عمل شرطونه دا حاصليږی چه نيك عمل به هله قبليږی چه بنده پکښې د الله نه او د هغه د دين نه متأثر شی چه دا د الله حکم دے، او د هغه په کتاب کښې او د هغه د رسول په احاديثو کښې راغلی دی پدے وجه ئے کوم، نو دے خلکو کښې تأثر بآيات الله نشته، نو که نيك عمل کوی څه به پرے وشی؟۔ په هر عمل کښې د الله او د رسول نه متأثره کيدل ضروری دی، که يو تن په دين باندے عمل کوی ليکن د يو مُلا او عالِم د وجه نه نو دا دين او نيك عمل نۀ دے بلکه د عملونو بربادی ده۔ ځکه چه دے پکښې د يو عالِم نه متأثره شو نۀ د الله نه۔ او پدے مرض کښې څومره خلك مبتلا دی۔ عقلمند دِے فکر وکړی!!۔

وَلِقَائِهِ : دا ددے خلکو دريم مرض دے چه دوی د الله تعالیٰ ملاقات نۀ منی يعنی بعث بعد الموت۔ او د الله د ديدار نه منکر دی۔ نو ددے خلکو د عملونو وزن ختم شو۔

بيا دا آيتونه اول کښې د مشرکينو په باره کښې دی، چه هغوی د الله سره شرك کولو او د قرآن کريم نه ئے انکار کولو، او د الله تعالیٰ د ملاقات نه هم منکر وو نو د دوی نيك عملونه هم برباد دی، د ابوجهل حجونه او نور نيك عملونه ټول ضائع وو۔ او بيا پدے کښې عموم او اشارات دی۔ صحابه کرامؓ دا آيتونه نورو خلکو ته هم شامل ګرځولی دی۔

سيدنا علی بن ابی طالب ﷺ فرمائی :

[هُمُ الرُّهْبَانُ وَالْقِسِّيْسُوْنَ حَبَسُوْا اَنْفُسَهُمْ فِي الصَّوَامِعِ] (تفسير الامام الطبرانیؒ)

ددے نه مرا هغه پيران او د نصاراؤ علماء دی چه ځانونه ئے په ګيرجو کښې رابند کړی وو) او بدعات ئے رائج کړی وو او په هغے به ئے عمل کولو او ګمان ئے دا وو چه مونږ ښه کار کوو۔

سعد بن ابی وقاص او عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی چه د دوی نه مراد يهود او نصاریٰ دی چه د دوی عقيدے خرابے وے او ګمان ئے ښۀ لرلو۔

او علی بن ابی طالب ﷺ دا هم فرمائی : چه ددے نه مراد حَرُوْرِيه ډله ده (يعنی خوارج) (بغویؒ وابن کثيرؒ)

ابن کثيرؒ وائی : [هٰذِهِ الآيَةُ عَامَّةٌ فِی کُلِّ مَنْ عَبَدَ اللّٰهَ عَلٰی غَيْرِ طَرِيْقَةٍ مَرْضِيَّةٍ يَحْسَبُ اَنَّهٗ مُصِيْبٌ فِيْهَا وَاَنَّ عَمَلَهٗ مَقْبُوْلٌ، وَهُوَ مُخْطِئٌ وَعَمَلُهٗ مَرْدُوْدٌ]۔

دا آيت عام دے هر هغه چا ته چه د الله تعالیٰ بندګی په هغه طريقه کوی چه هغه الله ته خوښه نۀ وی (يعنی دسنت خلاف وی) پدے ګمان چه دے پکښې حق والا دے او ددۀ عمل

مقبول دے، او حال دا چه هغه په خطاء وی او عمل ئے مردود وی)۔
خوارج هغه خلك وو چه په ظاهره کښ ئے خو ډیر عبادتونه کول لیکن عقیدے ئے خرابے شوے وے، د قبر عذاب ئے نهٔ منلو، حائضه ښځه باندے ئے د مانځه اعاده لازم ګرځولهٔ، مسئله د تحکیم کښ ئے عقیده خرابه وه، په مسئله د شفاعت کښ هم په خطاء وو۔ او په ګناهِ کبیره به ئے خلك کافر ګنړل۔ اګر که دوی الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول او قیامت منلو۔
او سلفوؒ وئیلی دی چه دا آیت ریاکارو ته هم شامل دے چه ډیره خواری وکړی لیکن ضائع دی ځکه چه اخلاص پکښ نهٔ وی۔ ځکه چه ریاء کار هم د الله د آیتونو نه متأثر نهٔ وی، او د مخلوق رعایت کوی په باره د عبادت کښ۔
دارنګه دا هغه چا ته هم شامل دی چه د دنیا طلبئ دپاره عبادتونه کوی، د دوی عقیده برابره وی، بندګی د الله دپاره کوی لیکن مقصد ئے دنیا حاصلول وی۔ ځکه چه پدے کښ هم تَاَثُّرُ بِآيَاتِ الله نشته۔

فوائد الآیة :

(۱) مشرك خپل عمل ته بد نهٔ وائی بلکه هغے ته ښهٔ وائی، نو معلومه شوه چه بد عمل یواځے هغه نهٔ دے چه خلك ورته بد وائی بلکه ډیر کرته به خلك ورته ښهٔ وائی لیکن د الله په نیز به بد وی۔ (۲) وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ : ډاکو خپلے ډاکے ته ښه نهٔ وائی مګر کار بد کوی لیکن لوی نقصانی هغه خوك دے چه کوی بد عمل او ګمان کوی چه زهٔ ښه سرے یم۔ پدے وجه بنده به په باب د عمل کښ ډیر احتیاط کوی۔
۳- مخکښ ئے (ضَلَّ سَعْيُهُمْ) ووئیل او بیا ئے دوباره (فَحَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ) ووئیل نو د دواړو فرق دا دے چه د (ضَلَّ سَعْيُهُمْ) نه مراد نیك عملونه دی، او (فَحَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ) نه دنیاوی عملونه مراد دی چه دا هم په آخرت کښ پکار نهٔ راځی۔ دا فرق دومره غوره نهٔ دے۔
❁ ښه وجه دا ده چه د اول سعی نه مراد دنیا کښ کوششونه بربادیدل دی، نو د دوی د نیك عمل په دنیا کښ هم فائده نشته۔ او (فَحَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ) نه د آخرت په اعتبار سره بربادیدل مراد دی۔ یا د مخکښ سعی نه مراد هغه کوششونه دی چه دین کښ ئے کړیدی او د روستو بطلان د عمل نه مراد هغه نیك عملونه دی چه د مخلوق سره ئے کړیدی لکه صلة الرحم، او احسان د خلکو سره۔ (طبرانیؒ)
❁ یا د تکرار وجه دا ده چه مخکښ ئے خبر ورکړو چه د دوی کوشش برباد دے او بیا ئے د

دغه بربادئ سبب بیان کړو چه کفر بآیات الله ویلقاء الله دے نو د زیات اهتمام دپاره روستو دوباره تصریح وکړه چه د عملونو بربادیدو وجه دغه کفر دے۔

وَزْنًا: وزن تول ته وائی، دا مطلب نهٔ دے چه د دوی عمل به نهٔ تللے کیږی، عمل د کافر هم تللے کیږی، بلکه مراد ترے ثقل (درووند والے) دے۔ یعنی په عمل کښ به ئے درووند والے نهٔ وی چه تول پرے درووند شی۔ او په محاوره کښ وزن کنایه وی د عزت او قدر نه، یعنی هیڅ قدر او عزت به ئے نهٔ وی، الله به پرے هیڅ باك نهٔ کوی۔

په قیامت کښ د هر انسان درے څیزونه تللے کیږی یو عملنامه، دویم اعمال، او دریم انسان خپله تللے کیږی۔ لکه چه تفصیل ئے په سورة الاعراف آیت (۸) کښ ذکر شویدے۔

ذٰلِكَ جَزَاؤُهُمْ : (ذلك) اشاره ده د عمل بربادئ او عدم وزن ته۔ او (جهنم) عطف بیان دے د (جزاء) دپاره۔ او مطلب دا دے چه دا عمل بربادیدل جزاء ده او دا بعینهٖ جهنم دے۔ یعنی داسے نهٔ ده چه د چا عمل برباد شو نو جنت ته به هم نهٔ ځی او جهنم ته هم نهٔ۔

بِمَا كَفَرُوا وَاتَّخَذُوا : یعنی ددے جهنم سبب دا دے چه دوی د کفر سره د الله آیتونه او د هغه رسولان په توقو نیولی دی۔

نو پدے کښ بل شرط ته اشاره ده چه د الله د آیتونو نه متأثر نهٔ دے۔ او بل د رسول الله ﷺ د اتباع په ځای د هغه نه مسخره جوړوی۔ نو نهٔ پکښ اتباع شته او نهٔ پکښ د قرآن نه تاثر شته، نو عمل به ئے په څه سره قبول شی؟۔

إِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ
یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه کوی نیك، وی به دوی لره جنتونه
الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴿۱۰۷﴾ خَالِدِيْنَ فِيْهَا لَا يَبْغُوْنَ عَنْهَا
د فردوس میلمستیا تیاره۔ همیشه به وی په هغے کښ نهٔ به طلب کوی د هغے نه
حِوَلًا ﴿۱۰۸﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمَاتِ رَبِّيْ
اوړیدل بل طرف ته۔ اُووایه که چرته شی دریاب سیاهی دپاره د خبرو د رب زما
لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَنْ تَنْفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّيْ وَلَوْ
خامخا ختم به شی دریاب مخکښ ددے نه چه ختم شی خبرے د رب زما او اګرکه

جِئْنَا بِمِثْلِهٖ مَدَدًا ﴿١٠٩﴾ قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ
راولو مونږ په شان د هغې په مدد کښې۔ اُووايه يقيناً زۀ انسان يم ستاسو په شان،
يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَّاحِدٌ
وحي کيدے شي ما ته ددے خبرے چه معبود ستاسو حقدار د بندګئ يو دے
فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا
نو څوك چه اُوميد لرى د ملاقات د رب خپل نو اُودِے کړی عمل نيك
وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖ أَحَدًا ﴿١١٠﴾
او نۀ دِے شريکوی په عبادت د رب خپل کښې هيڅوك۔

تفسیر : د کافرانو د انجام بيانولو نه روستو، اُوس د هغه خلقو انجام بيانيږى چه په دے دنيا کښې په الله او د هغۀ په رسول باندے ايمان راوړى، په نبى کريم ﷺ باندے د نازل شوى کتاب تصديق کوى، او په ژوند کښې نيك اعمال کوى چه الله تعالىٰ د دوى د ميلمستيا دپاره د فردوس باغونه تيار کړيدى چه هلته به هميشه دپاره وسيږى، او هيڅ کله او په هيڅ حال کښې به د هغه ځاى نه وتل نۀ خوښوى۔ د بخاري روايت دے چه نبى کريم ﷺ فرمايلي دى : ((تاسو چه کله د الله نه جنت غواړئ نو فردوس غواړئ کوم چه د جنت مرکزى او اعلىٰ مقام دے، د جنت ټول نهرونه د همدے نه راوځى))۔ (بخاري : ۲۷۹۰)

فردوس په لغت کښې هغه باغ دے چه په هغے کښې ګنړے ونے وى او انګور پکښې زيات وى، او جنت هغه دے چه په هغے کښې کجورے زياتے وى۔

حِوَلًا : (اَوړيدل)۔ ځکه چه په جنت کښې هر قسم آزادى ده، نو د انسان به بل ځاى ته زړۀ نۀ کيږى د هغے د خائست او مزيدار والى د وجه نه۔ بلکه دنيا به ورته د مور د خيټے په شان ښکارى او تعجب به کوى چه پدے کښې مونږ څنګه ژوند تيرولو۔

قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا : پدے کښې د الله تعالىٰ علم محيط ذکر کيږى۔

شان نزول

يهوديانو وئيلي وو چه مونږ ته الله تعالىٰ ډير علم راکړيدے ځکه چه په تورات کښې د الله تعالىٰ علم ذکر دے، نو ز مونږ دومره علم دے لکه د الله په شان۔ (ډير ے ادبه وو)

نو دا آیت د هغوی په رد کښې نازل شو چه په تورات کښې خو د الله تعالیٰ ډیر څو خبرو علم دے چه هغه د هغهٔ شریعت دے۔ د الله تعالیٰ علمونه نهٔ ختمیدونکی دی۔ پدے طریقه دا د مضمون د سورت سره مناسب شو۔ چه د یهودو د بل اعتراض جواب پکښې وشو۔

❁ دویم پدے کښې رد دے په شرك في العلم باندے چه علم محیط خو صرف د الله تعالیٰ دے، د نورو اولیاؤ نشته، نو هغوی څنګه په بندګئ تاسو نیسئ، ستاسو آلهه ستاسو د حال نه خبر نهٔ دی نو مستحق د عبادت هم نهٔ دی۔

❁ دریم: د الله تعالیٰ علم محیط ولے ذکر شویدے؟ نو دا د قرآن عادت دے چه کله په یو مقام کښې ایمان او اعمالو او قرآن ته ترغیب ورکړی نو هلته د الله علم بیانیږی پدے کښې ترغیب وی عمل صالح ته چه اے بنده! تهٔ چه هر ځای عمل وکړے نو هغه الله ته معلوم دے۔ لکه دا طریقه په سورة لقمان (۷) آیت کښې هم ذکر شویده۔ ځکه چه هلته د احسان موضوع ده۔

مطلب دا دے چه که د الله د علومو او حکمتونو د کلماتو لیکل شروع شی او د دریاب اُوبه د سیاهی په توګه استعمال کړے شی نو الهی کلمات به ختم نهٔ شی او د دریاب اُوبه به ختمے شی۔ او که ددے دریاب په شان بل دریاب هم د سیاهی په توګه استعمال کړے شی نو هم به ختم شی او د الله کلمات به نهٔ ختمیږی۔ او په سورة لقمان کښې دی چه اوه دریابونه ورسره نور ملاؤ شی هغه به هم ختم شی۔

كَلِمَاتُ رَبِّيْ: اکثر مفسرین وائی چه د کلماتو نه مراد د الله تعالیٰ علمونه دی، او هغے ته کلمات ځکه وائی چه د خبرو ډیر والے دا کمال دے، د چا چه خبرے زیاتے وی، نو د هغه علم ډیر وی او طاقت ئے زیات وی، او څومره چه خبرے کمے وی، نو طاقت او د علم کمی ته اشاره وی۔ د انسانانو علمونه کم دی، یو تن به یوه ګینټه خبره وکړی، که لږ ډیر پوهه وی نو دوه درے ګینټے به ئے وکړی، که نور زیات وی یوه ورځ به ئے وکړی او که علم ئے نور هم زیات وی نو د طاقت د کمی د وجه نه بیا هغه نشی کولے۔ نو دلته الله تعالیٰ درے قسمه صفات ثابت شو، قدرت، علم او د الله کلام (خبرے)۔ نو داسے علیم او طاقتور ذات سره تاسو شریکان جوړوئ۔ او آیا هغه ذات چه ستا په هر حال پوهه دے، تهٔ ورله بیا هم اخلاص نهٔ کوے او د هغه دپاره عملونه نهٔ کوے۔

قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ: پدے آیت کښې د رسول الله ﷺ صدق او د الله تعالیٰ د توحید بیان دے۔ الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته فرمائی چه تهٔ دے مشرکانو ته چه ستا د رسالت

تـكـذيب كوى ووايه ! چه زهٔ خو ستاسو په شان يو انسان يم، په ما او تاسو كښې فرق صرف دا دے چه الله تعالىٰ په ما باندے وحى نازلوى. قرآن هم ما ته الله تعالىٰ د وحى په ذريعه راكړيدے. دا زما كلام نهٔ دے. كه ستاسو نه يو شخص زما تكذيب كوى، نو هغه دِے د قرآن په شان كلام راوړى. ما چه تاسو ته د تيرے شوے زمانے كوم واقعات بيان كړيدى دا هم ما ته الله تعالىٰ د وحى په ذريعه خودلى دى، ما ته د غيبو هيڅ علم نشته دے.

أَنَّمَا إِلَـٰهُكُمْ إِلَـٰهٌ وَّاحِدٌ: يعنى زما د وحى خلاصه دا ده چه ستاسو د بندګئ لائق صرف يو ذات دے، د هغه هيڅوك شريك نشته دے.

فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا : هركله چه الله تعالىٰ يواځے د بندګئ لائق دے نو مونږ له څه پكار دى؟ نو فرمائى چه څوك ايمان لرى چه هغه به د الله تعالىٰ مخے له ورځى، نو هغه له د شريعت مطابق نيك عمل كول پكار دى، او پكار ده چه په هيڅ حال كښې هم د الله په عبادت كښې نور خلق شريكان نهٔ كړى.

نو پدے كښې لنډه دعوت دا دے چه كه آخرت منے نو هغے له تيارے په نيك عمل كوه خو چه رياء او شرك درنه ونشى.

حافظ ابن كثيرؒ ليكلى دى : دا آيت دليل دے چه د الله تعالىٰ په نيز د عمل د قبليدو دپاره دوه شرطونه دى. يو دا چه هغه به د شريعت مطابق وى، او دويم دا چه پدے سره به مقصود صرف د الله خوشحالى وى. شهرت، نوم، رياكارى، يا كوم بل دنياوى غرض به مقصد نهٔ وى.

لِقَاءَ رَبِّهٖ: د ملاقات نه مراد د الله تعالىٰ سره ملاويدل او د هغهٔ نه خيرونه حاصلول دى.

نو دا سوال نهٔ پيدا كيږى چه د آخرت د راتللو اميد كول خو غلط دى بلكه د آخرت په راتللو او د بعث بعد الموت په واقع كيدو خو يقين ضرورى دے.

جواب دا دے چه د (لِقَاءَ رَبِّهٖ) معنىٰ د آخرت د راتللو نهٔ ده، آخرت خو به خامخا راځى، كه څوك يے منى او كه نهٔ، بلكه د (لِقَاءَ رَبِّهٖ) معنىٰ ده، د الله سره ملاويدل او د هغهٔ نه خيرونه حاصلول دى، او دا په درجه د اميد كښې دى.

او دا بناء دے په يوه ښائسته محاوره باندے هغه دا چه يو بادشاه چه وركونكے وى، او څوك د هغه نه اميد لرى چه څه به راكړى نو هغه ځان سره تحفه او ډالئ وړى چه بادشاه ته پرے ځان نزدے كړى نو الله هم غنى او جواد بادشاه دے، كه څوك غواړى چه د الله نه خيرونه حاصل كړى چه هغه د الله ديدار، د عرش سورے، د جنت نعمتونه دى نو د هغے د

حاصلولو طریقه دا ده چه الله ته دِے ځان په نیك عمل او توحید باندے نزدے کړی۔
نو بناء پدے باندے دے خبرے ته ضرورت رانغلو چه یَرْجُوْ په معنیٰ د یَعْتَقِدُ (عقیده ساتی) سره واخلے، یا په معنیٰ د یَخَافُ (یریږی) سره واخلی ځکه هغه ےے ضرورته تاویل دے۔
الله تعالیٰ دِے مونږ تولو موحدینو او د کتاب او سنت تابعدارو ته خپل خیرونه راکړی۔
آمین یا رب العالمین۔
أَحَدًا: هیڅ یو تن۔ که نیك وی او که بد، حیوان وی او که جماد، مړے وی که ژوندے۔

څلور قسمه شرکونه

دلته څلور قسمه شرکونه رد شویدی (۱) شرك حقیقی چه انسان د غیر الله عبادت وکړی لکه نذر د غیر الله، سجده غیر الله ته وکړی۔ (۲) اَلشِّرْكُ الْاَصْغَرُ ۔ ریاء پکښی داخل دے چه پدے سره عمل بربادیږی۔
(۳) اَلْاُجْرَةُ بِالدِّيْنِ ۔ په دین باندے مزدوری اخستل دا هم د شرك یوه نوعه ده، چه صرف اُجرت مقصود شی یعنی تعلیم او تعلم او جهاد صرف د مال دپاره کوی، د الله رضا پکښی مقصد نهٔ وی۔
(٤) عبادت کول دی په طریقه د عادت باندے چه نهٔ ئے الله ته فکر وی او نهٔ غیر الله ته۔ بلکه عبادت به د الله تعالیٰ په محبت او د هغهٔ نه په یره سره کولے شی۔
صاحب د «فتح البیان» او ابن کثیرؒ وغیره پدے مقام کښی د شرك خفی متعلق ډیر روایات راجمع کړیدی هغے ته دِے رجوع وکړے شی۔ وبالله التوفیق۔

امتیازات او خصوصیات د سورت

۱- واقعه د اصحاب کهف۔
۲- د دوه سړو (باغ والا) واقعه۔
۳- د موسیٰ علیه السلام او د خضر علیه السلام د ملاقات واقعه۔
٤- د ذو القرنین واقعه۔
۵- او د عمل تقسیم، مقبول او مردود ته او د عمل شرطونه پکښی ذکر دی۔
ختم شو تفسیر د سورة الکهف په ډیر احسان د رب العالمین په شپه د جُمعے۔
جمادی الثانیه 20/ 1436 هـ الموافق : 9/4/2015ء بجه : 11:25 pm

بسم الله الرحمن الرحيم

آیاتها (۹۸)	(۱۹) سورة مريم مكية (٤٤)	ركوعاتها (٦)

سورة مریم مکی دے، پدے کښې اته نوی آیتونه او شپږ رکوع دی۔

تفسیر سورة مریم

نوم : ددے نوم سورة مریم دے۔ صاحب د «فتح البیان» لیکلی دی چه په ټول قرآن کښې د مریم علیها السلام د نوم نه سِوىٰ د بلے کومے ښځے نوم نهٔ دے راغلے۔ ددے نوم په قرآن کریم کښې دیرش کرته راغلے دے،آه۔ (بلکه زمونږ په شمار سره درے دیرش کرته دے)

مناسبت د سورت

۱- مخکښې نفی د علم الغیب وه د غیر الله نه، اُوس د هغوی تضرع او عاجزی بیانوی نو عبادت د هغه چا نهٔ دے پکار چه نهٔ په غیبو پو هیږی او محتاج وی۔

۲- مخکښې رد د عقیدے د اتخاذ الولد اجمالاً وو دلته ئے تفصیل ذکر کوی۔ او د اتخاذ الولد مثال راوړی په مریم علیها السلام او عیسیٰ ﷺ سره چه نصاراؤ د الله ځوی وګنړلو۔

۳- ظاهر مناسبت دا دے چه مخکښې ترغیب وو ایمان او عمل صالح ته نو دلته د بعض پیغمبرانو او صالحینو اعمال بیانوی دپاره د اقتداء کولو ددے خلکو۔

٤- عمل صالح سبب د رحمت د الله تعالیٰ دے چه په دغه خلکو ئے کړیدے۔

موضوع د سورت

۱- دے سورت کښې زمونږ مشائخ وائی چه تَضَرُّعُ الْمُسْتَجِيْبِيْن ذکر کیږی یعنی د نیکانو بندګانو عاجزی بیانیږی چه دوی لائق نهٔ دی چه د الله سره شریك کړے شی ځکه چه دوی خپله الله تعالیٰ ته محتاج دی، او د هغهٔ نه دعاګانے غواړی، نهٔ زکریا او نهٔ یحییٰ او نهٔ مریم او نهٔ عیسیٰ وغیره۔ (علیهم السلام)

۲- بعض نور مفسرین وائی چه موضوع ددے سورت رد د عقیدے د اتخاذ الولد دے چه هغه په واقعه د زکریا ﷺ او د مریم علیها السلام کښې واضحه ده او په آخر د سورت کښې

هم دی ﴿ اَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا﴾ آیت (۹۱)۔

۳- ظاهر دا ده چه دغه مخکنی څیزونه جانبی خبری دی، او اصلی موضوع ددے سورت ذِکْرُ عِبَادَاتِ الصَّالِحِیْنَ لِلْاِقْتِدَاءِ بِهِمْ۔

د نیکانو خلکو عبادتونه بیانوی دے دپاره چه خلك د هغے اقتداء وکړی۔

او ددے سره نزدے موضوع دا ذکر کیږی چه د الله رحمت په دغه خلکو شویدے نو دا په هغوی بانـدے وقف نهٔ دے بلکه د الله رحمت هر هغه چا ته فراخه دے چه څوك د هغے په اسبابو راتلل وکړی۔

په بل تعبیر سره پدے سورت کښں اسباب د رحمت د الله تعالیٰ ذکر کیږی چه هغه تقریباً شپیته اسباب دی۔ ددے وجه نه پدے سورت کښں به د رحمة لفظ زیات ذکر کیږی او د (رحمٰن) لفظ پکښں پنځلس کرته ذکر شویدے۔

خو د قرآن کمال دا دے چه اَضداد هم بیانوی، نو پدے سورت کښں به اسباب د غضب هم بیانیږی چه دے ته اسباب د حِرْمَانُ الرَّحْمَة هم وائی یعنی د رحمت نه د محروم کیدو اسباب۔ لکه څوك چه الله تعالیٰ دپاره اولاد وائی هغوی ته الله په غضب دے، او څوك چه کفر او شرك کوی، او اختلاف د پیغمبرانو سره کوی، او د آخرت منکر وی، او د عمل نه په غیر رحمت او جنت غواړی ﴿ اَفَرَاَیْتَ الَّذِیْ کَفَرَ بِآیَاتِنَا﴾۔ آیت (۷۷) او څوك چه په حق کښں جګړه ماران وی۔ ﴿ وَتُنْذِرَ بِهٖ قَوْمًا لُّدًّا ﴾ آیت (۹۷) دا خلك د رحمت لائق نهٔ دی۔

اول سبب د رحمت پدے سورت کښں ﴿ عَبْدَهٗ زَکَرِیَّا﴾ دے یعنی عبادت د رب العالمین۔ نِدَاءً خَفِیًّا (الله ته عاجزی کول او د هغه نه دعاګانے غوښتل)۔ (سَبِّحُوْهُ بُکْرَةً وَّعَشِیًّا) یعنی د الله تعالیٰ ذکر کول۔ حنانیت (وَحَنَانًا) الزکاة، التقویٰ، بِرُّ الْوَالِدَیْنِ، اَلْخَلْوَةُ بِاللهِ ۔ (د الله د بندګئ دپاره یواځے کیدل) تزکیة النفس وغیره۔ عبادت، اَلدَّعْوَةُ اِلَی اللهِ۔ اَلسُّجُوْدُ لِرَبِّ الْعَالَمِیْنَ۔ اَلْبُکَاءُ مِنْ خَشْیَةِ اللهِ۔ اَلْاِیْمَانُ وَالتَّوْبَةُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ۔ (سَیَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا)

خلاصه د سورت :

اول نه د انبیاء علیهم السلام واقعات دی، او بیا د واقعاتو نه روستو الله تعالیٰ د پیغمبرانو صفت راوړیدے ترغیباً دپاره د اقتداء، ﴿ اِذَا تُتْلٰی عَلَیْهِمْ آیَاتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّبُکِیًّا﴾ یعنی تاسو هم دغه شان صفت اختیار کړئ، او بیا د مجرمانو حال بیانوی، بیا د تائبینو حال بیانوی، بیا اقتداء بالملائکه بیانوی۔ یعنی د الله تعالیٰ د امر داسے تابعداری وکړئ

لکه څنګه ئې چه ملائك کوی۔ او په آخری دوه رکوع ګانو کښې تخویفات دی او اسباب د غضب دی، نو ګویا که په اول کښې رحمتونه ذکر کیږی،

او په آخر کښې غضب په کافرانو او مشرکینو دے۔ او د آخرت او د رسول منکرینو او مشرکانو ته ئې سخت تخویفات ورکړیدی۔ نو په سورت کښې د کفرونو او شرکونو رد هم دے، او د پیغمبرانو اتباع ته دعوت هم پکښې ذکر دے، او د الله تعالیٰ د رحمت اسباب هم پکښې ذکر دی، ډیر نرم سورت دے، او پدے کښې دعوت دے چه اے انسانانو ! داسے معاشره جوړه کړئ لکه څنګه چه د بنی اسرائیلو د نیکانو وه چه ټول د الله تعالیٰ اذکار، طاعتونه، دعاګانے، الله ته عاجزیانے، سجدے او ژړاګانے وے، او داسے معاشره د صحابه کرامؓ هم جوړه شوے وه د سورت مریم مطابق۔ او زمونږ معاشره د منافقت، سخت زړئ او کږو زړونو والو ده۔ که پدے صفاتو معاشره جوړه نۀ شوه او شخصی په انسان کښې راغلل نو هغه پرے جوړیږی او کامیابئ ته رسیږی۔ ولله الحمد۔

د نزول زمانه: دا سورت په مکه مکرمه کښې د مسلمانانو حبشو ته د هجرت کولو نه مخکښې نازل شوے وو۔ محمد بن اسحاقؒ په خپل کتاب ((السیرة)) کښې د ام سلمه رضی الله عنها نه او امام احمد بن حنبلؒ په مُسند کښې د ابن مسعود ؓ نه روایت کړیدے چه کله حبشو ته مهاجرین د نجاشی مخے ته پیش شو، او هغه د جعفر بن ابی طالب ؓ نه د قرآن د څه حصے بیانولو غوختنه وکړه نو هغه ددے سورت ابتدائی آیتونه ولوستل چه په هغے سره نجاشی متأثر شو او دومره ئې اوژړل چه د هغه ګیره په اوښکو سره لمده شوه۔ د هغه د دربار نورو نصاراؤ علماؤ هم اوژړل او نجاشی اووئیل چه دا کلام او عیسیٰ علیه السلام چه کوم کلام راوړے وو دواړه د یو مصدر نه راغلی دی۔

صاحب د ((تیسیر الرحمن)) لیکی : پدے سورت کښې د زکریا، یحیٰی، عیسیٰ، ابراهیم او نورو انبیاء علیهم السلام واقعات بیان شویدی او د مکے مشرکانو د معاشرے نه وتلو سره د مدینے یهودو او نصاراؤ ته د اسلام د دعوت پیش کولو دپاره زمکه هواره شویده، او هغوی ته دا یقین ورکړے شویدے چه نبی کریم ﷺ کوم نوے او پردے دین نۀ دے راوړے بلکه دا هغه دین دے چه ټولو تیر شوو انبیاء کرامو خپلو قومونو ته پیش کړے وو، او چه د هغے خلاصه او نچوړ دا دے چه دا زمکه د الله ده او هغه ټول انسانان صرف د خپل عبادت دپاره پیدا کړیدی۔ وبالله التوفیق۔

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

كٓهٰيٰعٓصٓ ﴿١﴾ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُ

الله پوهه دے په مطلب ددے حروفو۔ دا یاداشت د رحمت د رب ستا دے په بنده خپل

زَكَرِيَّا ﴿٢﴾ إِذْ نَادٰى رَبَّهُ نِدَآءً خَفِيًّا ﴿٣﴾

چه زکریا علیه السلام وو۔ کله چه آواز وکړو هغه رب خپل ته آواز پټ۔ (په عاجزئ)

قَالَ رَبِّ إِنِّيْ وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّيْ وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ

ووئیل هغه اے ربه زما یقیناً کمزوری شویدی هډوکی زما او تلک سپین شویدے سر زما

شَيْبًا وَلَمْ أَكُنْ بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا ﴿٤﴾ وَإِنِّيْ خِفْتُ

د بوډاوالی په وجه او نهٔ یم زهٔ په دعا ستا باندے اے ربه بد بخته۔ او یقیناً زهٔ یریږم

الْمَوَالِيَ مِنْ وَرَائِيْ وَكَانَتِ امْرَأَتِيْ عَاقِرًا فَهَبْ لِيْ

د تربورانو نه روستو زما نه (په دین باندے) او ده ښځه زما شنډه نو اُوبخه ما ته

مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ﴿٥﴾ يَرِثُنِيْ وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوْبَ

د خپل طرف نه وارث (د دین)۔ چه وارث شی زما او وارث شی د اولادو د یعقوب (عليه السلام)

وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ﴿٦﴾ يَا زَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ

او اُوګرځوه دهٔ لره اے ربه غوره کړے شوے۔ اے زکریا ! یقیناً مونږ زیرے درکوو تا ته

بِغُلَامِ اسْمُهُ يَحْيٰى لَمْ نَجْعَلْ لَّهُ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا ﴿٧﴾

په یو هلك چه نوم د هغه یحیٰی دے، نهٔ دے ګرځولے مونږ دهٔ لره مخکښ همنامے۔

تفسیر : کٓهٰیٰعٓصٓ: دا حروف مقطعات دی، ددے معنیٰ صرف الله ته معلومه ده۔ او د قرآن حقانیت ته پکښ اشاره ده۔ او ددے سورت ډیرو اسرارو (رازونو) ته اشاره ده۔ او په طریقه د تخمین باندے بعض علماؤ وئیلی دی چه پدے کښ اشارات دی د الله نومونو او صفتونو ته۔ ابن جریرؒ د ابن عباسؓ نه نقل کړیدی چه کاف کښ د الله کفایت ته او په هاء کښ هدایت ته، او په یاء کښ یَد (لاس) ته او په عین کښ عون الله (د الله مدد) ته (یا عالم ته) او په صاد کښ صادق الوعد ته اشاره ده۔ یعنی الله کافی دے، هادی دے، د الله لاس د

انبياؤ او صالحينو سره دے، او الله مدد كوى (او په هر څه عالِم دے) او هغه رشتينى وعدے والا دے۔

د ابن مسعود ﷺ وغيره نه نقل دى چه كاف د ملك نه او هاء د الله نه او ياء او عين د عزيز نه او صاد د مُصوّر نه راخستے شويدى يعنى الله مالك دے او الله دے (يعنى معبود دے) او هغه عزيز او مصور ذات دے۔ (فتح البيان)

ذِكْرُ: دا خبر د مبتداء (هٰذَا) دے۔ نو پدے آيت كريمه كښ الله تعالىٰ په خپل بنده زكريا عليه السلام باندے د خپل فضل او كرم او رحمت تاسو ته يادوى كوم چه د بنى اسرائيلو ډير لوئى مرتبے والا نبى وو، او د يحيىٰ عليه السلام پلار وو۔ يعنى ما په زكريا رحم كړے وو هغه واورئ، اشاره ده دے خبرے ته چه هغه باندے چه رحم شوے نو په څه صفاتو سره هغه ځان كښ راولئ نو په تاسو به هم رحم وكړم۔

په زكريا عليه السلام ډير رحمتونه شويدى خو دلته بعض راوړى چه په هغے سره د شرك رد وشى چه الله دپاره اولاد مۀ وايئ چه كه عيسىٰ عليه السلام بى پلاره پيدا دے، نو ولے زكريا عليه السلام ته ئے ګنے په بوډاوالى كښ بچے ورنكړو، او دا واقعه د اثبات د آخرت دپاره هم دليل دے چه بوډاوالى كښ اولاد وركولو باندے قادر دے نو دغه شان مړى هم راژوندى كولے شى۔

نو دارنګه الله هغه ذات دے چه كوم نيكان بندګان د هغۀ نه دعاګانے غواړى او هغه ته عاجزى كوى د هغه بندګيانے كوى، نو د هغوى حاجتونه قبلوى، او دنيا هم وركوى او آخرت هم۔

په صحيح مسلم رقم (٦٣١٢) كښ ابو هريره ﷺ د رسول الله ﷺ وينا نقل كوى چه زكريا عليه السلام د پيشے او كاروبار په اعتبار سره نجار (تركان) وو۔ آه۔

يعنى د خپل لاس د كسب نه به ئے خوراك كولو۔

نِدَآءً خَفِيًّا: دۀ د شپے په تيارۀ كښ كله چه دنيا اُوده وه د خپل رب نه په پټه دعا وكړه او وے وئيل چه اے ربه! زما هډوكى كمزورى شويدى او د سر ويښته مے بيخى سپين شويدى، او ددے نه مخكښ هيڅ كله هم داسے نۀ دى شوى چه تا زما دعا نۀ وى قبوله كړى۔

مفسرين ليكى چه دا د الله تعالىٰ په دربار كښ يو قسم توسل وو چه اے الله! زۀ بوډا شوے يم او زما حالت د رحم قابل شويدے، او ددے نه مخكښ به تا زما دعاګانے قبلولے، پدے وجه پدے ځل هم زما دعا قبوله كړه او ما مۀ نا اميده كوه۔

(خَفِيًّا) ئے ورسره ځکه ووئیلو چه نداء (آواز) ته وائی او آواز کښې خو ښکاره والے وی نو دلته وائی چه دا پټ آواز وو۔ بیا دا آواز ئے په پټه ولے کولو ؟

(۱) یوه وجه دا ده چه دا د ریاء نه لرے ده، او د زړه صفائی ته ډیر نزدے ده۔

(۲) لِئَلَّا يُلَامُ عَلٰى طَلَبِهٖ لِلْوَلَدِ فِيْ غَيْرِ وَقْتِهٖ)۔ دے دپاره چه څوك ئے ملامته نکړی چه بی وخته (په بوډاوالی کښې) څنګه ځوی غواړی۔

(۳) ظاهر دا ده چه اصل په دعاګانو کښې پټوالے دے، او دا افضل دے نو په افضلیت ئے عمل وکړو، او پټوالی کښې د الله په ذات یقین زیات وی چه الله زما د زړه آواز آوری، او ادب پکښې زیات وی۔

(رَبِّهٗ) نه معلومه شوه چه اولیاء او انبیاء علیهم السلام ئے الله ته نهٔ دی وسیله کړی چه د ابراهیم علیه السلام په وسیله ئے درنه غواړم۔

نو دلته درے وسیلے ذکر دی، یو رب لفظ، او دویم خپله کمزوری، او دریم (وَلَمْ اَكُنْ) یعنی د الله په صفاتو، یعني چه زهٔ ډیے په دعا قبلولو عادت کړے یم نو اُوس دا دعا هم قبوله کړه۔

وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا : یعنی لمبه شو سر زما په اعتبار د سپینوالی سره۔ یا تك سپین شو سر زما د وجه د بوډاوالی نه۔

وَاِنِّيْ خِفْتُ الْمَوَالِيَ : اُوس الله تعالیٰ ته د خپلے دعا غوښتو عذر پیش کوی چه اے الله ! د مال او د دنیا دپاره ئے نهٔ غواړم چه ماله به پیسے وګټی بلکه ښتا د دین غم راسره دے، او دے ته د نیت صفائی وائی۔ یعنی زما نه روستو زما د قوم د کارونو اختیار چه زما د کومو رشته دارانو (تربورانو) په لاس کښې ورځی هغه ددے لائق نهٔ دی چه په هغوی بهروسه وکړے شی، په هغوی کښې داسے څوك نشته چه د دعوت او تبلیغ کار جاری اُوساتی۔ زما یره ده چه دوی به زما د دعوت الی الله کار ته نقصان اُورسوی۔ او زما ښځه د ځوانئ زمانے نه شنډه ده، پدے وجه تهٔ خالص په خپل فضل او کرم سره ما ته یو هلك راکړه چه د علم او نبوت او دعوت او تبلیغ په کارونو کښې زما او د یعقوب (علیه السلام) د خاندان د نورو انبیاؤ (علیهم السلام) وارث شی۔ او اے زما ربه ! تهٔ دا اُوچت اخلاق او کردار والا جوړ کړه۔

خِفْتُ الْمَوَالِيَ : بعض مفسرینو وئیلی دی چه زکریا علیه السلام د خپلو تربورانو نه په څه کښې یریدو ؟ نو وجه ئے دا وئیلے ده چه یریدو چه ددهٔ د مال میراث به ویسی او دهٔ غوښتله چه ددهٔ بچے میراث خور شی، نو د الله نه ئے ځکه اولاد وغوښتل۔ نو دا خبره د دوی د اسلام د اصولو نه ډیر غفلت دے۔ د انبیاء علیهم السلام ترکه د ټولو مسلمانانو مشترکه صدقه

دہ، هغه میراث نۀ گرځی۔ نو صحیح دا ده چه دلته میراث د دین مراد دے ځکه چه د ابراهیم علیه السلام او د یعقوب علیه السلام د دین نه سوی کوم مال پاتے وو چه دے پرے یریدو۔

رَضِيًّا: ۱- اَیْ مَرْضِیًّا عِنْدَكَ۔ غوره کړے شوے ستا په نیز۔

۲- مَرْضِیًّا فِیْ اَخْلَاقِهٖ وَاَفْعَالِهٖ۔ یعنی غوره کړے شوے وی په اخلاقو او افعالو کښې۔

مخکښې سورۃ آل عمران (۳۸) آیت کښې ذکر شوی وو چه زکریا علیه السلام ته دا دعا په هغه وخت رایاده شوه چه د مریم علیها السلام سره ئے په محراب کښې ناشنا بے موسمه میوے ولیدے نو دۀ ته هم طمع او توجه پیدا شوه۔

مفسرین لیکی چه دیارلس کاله روستو دا دعا قبوله شوه۔ کله دعا دومره روستو هم قبلیږی، پدے کښې د الله تعالیٰ حکمتونه وی۔

یَا زَکَرِیَّا: سیوطیؒ په ((اتقان)) کښې لیکلی دی چه د بعض پیغمبرانو نومونه د بره آسمان نه راغلی دی چه هغه دا دی: اسماعیل، اسحاق، یحیی، عیسیٰ او محمد (علیهم السلام)۔

سَمِیًّا: همنامے (یو شان نوم والا) ۱- په انسانانو کښې دا نوم بل چا دۀ نه مخکښې نۀ وو ایخے۔ لکه په عربو کښې د حسن او حسین نوم چا نۀ وو ایښے، اول رسول الله ﷺ د خپلو نمسو دپاره کیخودو۔ ۲- یا سمی په معنیٰ د مثل او مشابه سره دے، (د مُسَامَاةٌ یا سُمُوٌّ نه دے) د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه شنړو ښځو ددے نه مخکښې دۀ په شان بچے نۀ وو زیږولے۔ او پدے کښې دۀ زیات فضیلت ته اشاره ده چه دۀ نوم آسمانی دے۔

او بله دا چه دۀ په شان نوم د بل چا نۀ وو نو دا هم دۀ تعظیم او تشریف ته اشاره ده۔

یحیی په عجمیٔ کښې نِعْمَةُ الرَّب ته وئیلے شی یعنی د الله نعمت او په عربیٔ کښې ئے معنیٰ د ژوند ده۔

قَالَ رَبِّ اَنّٰی یَکُوْنُ لِیْ غُلٰمٌ وَّکَانَتِ امْرَاَتِیْ عَاقِرًا وَقَدْ
اُووئیل هغه اے ربه! په کوم طریقه به وی ما لره هلك او ده ښځه زما شنډه شوے او یقیناً
بَلَغْتُ مِنَ الْکِبَرِ عِتِیًّا ﴿۸﴾ قَالَ کَذٰلِكَ قَالَ
رسیدلے یم زۀ د بوډاوالی د وجه نه آخری عمر ته۔ اُووئیل جبریل دغه شان وئیلی دی
رَبُّكَ هُوَ عَلَیَّ هَیِّنٌ وَّقَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ
رب ستا چه دا کار په ما باندے آسان دے او یقیناً ما پیدا کړے ئے تۀ مخکښې ددے نه او نۀ

تَكُ شَيْـًٔا ﴿٩﴾ قَالَ رَبِّ اجْعَل لِّيٓ اٰيَةً ؕ قَالَ اٰيَتُكَ

وې ته هیڅ شې۔ اُووئیل دهٔ اے ربه زما اُوګرځوه ما لره یوه نخه، اُووئیل الله نخه ستا دا ده

اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ﴿١٠﴾ فَخَرَجَ

چه خبرې به نشې کولے د خلقو سره درې شپې حال دا چه تهٔ به روغ یې۔ نو را اُووتو هغه

عَلٰى قَوْمِهٖ مِنَ الْمِحْرَابِ فَاَوْحٰىٓ اِلَيْهِمْ اَنْ سَبِّحُوْا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿١١﴾

په قوم خپل د عبادت خانے نه نو اشاره یې وکړه هغوی ته چه پاکي وایئ صبا او بیګا۔

تفسیر: زکریا علیه السلام چه دا زیرے وموندو نو د ظاهری حالاتو په وجه د الله په عظیم قدرت باندے یې حیرانتیا ښکاره کړه او وے وئیل چه زما ربه! زما به هلك څنګه وی، زما ښځه شنډه ده، او زهٔ د بوډاوالی داسے حالت ته رسیدلے یم چه ددے نه روستو څه تدبیر او کوم علاج فائده نهٔ ورکوی۔

یوه بله رائے دا ده چه دهٔ د زیری موندلو نه روستو د خپلے ښځے حالت ته نظر وکړو نو د بچی د پیدا کیدو کیفیت پیژندل یې غوختل۔ او دا تپوس د استبعاد او انکار دپاره نهٔ دے څکه چه بیا یې بچے ولے په داسے عمر کښ غوختلو۔

عِتِيًّا : ډیرے زمانے ته۔ دا د عُتُوٌّ نه دے تجاوز ته وئیلے شی۔ او دا کنایه ده د يُبْسُ الْمَفَاصِلِ نه یعنی د ډیر بوډاوالی په وجه د اندامونو د وچیدلو نه۔

قَالَ كَذٰلِكَ : جبریل علیه السلام ورته وویل۔ یا دا هم د الله تعالیٰ وینا ده : اَیْ اَنْتَ كَذٰلِكَ۔ ته به په همدے حالت کښ یې۔ یا اَلْاَمْرُ كَذٰلِكَ۔ خبره همدغه شان ده څنګه چه مخکښ ذکر شوه چه ستا به بچے ضرور پیدا کیږی۔

هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ : د هغهٔ د تعجب او حیرانتیا لرے کولو دپاره یې زیات وفرمایل چه ستا رب وائی چه داسے کول ما ته آسان دی چه د بوډا او شنډے ښځے نه بچے پیدا کړم۔ او زما د قدرتِ مطلقه په اعتبار سره پدے کښ ستا دپاره هیڅ حرانتیا نهٔ ده پکار څکه چه ما تهٔ پخپله ددے نه مخکښ د یوے سپکے نطفے په ذریعه د عدم (نشتوالی) نه وجود ته راوستے، او د مور او پلار په ذریعه پیدا کول خو زیات آسان دی۔

نو پدے کښ د اتخاذ الولد د عقیدے رد هم دے لکه دا د هغے دپاره مقدمه ده، او پدے آیتونو کښ د الله تعالیٰ د رحمت نه دا ذکر ده چه هغه بندګانو ته داسے زیری ورکوی او

هغه په هر شي قدرت لري، او بنده له د هغه د رحمتونو نه نا اميدي نهٔ ده پكار۔ او په الله بانديے دا ګمان مهٔ کوه چه هغه سره صرف وهل ټكول او جهنم او اُور او عذابونه دي بلكه هغه رحيم دے۔

قَالَ رَبِّ اجْعَل لِّيْ آيَةً : زكريا عليه السلام ووئيل، زما ربه ! ما ته كومه نخه راوخايه دے دپاره چه پو هه شم چه واقعي حمل ځاى نيولے دے، او زما زړهٔ ته زيات اطمينان حاصل شي۔

شوكانيؒ ليكي چه ددے سوال نه مقصد دا وو چه كله حمل راشي نو دهٔ ته معلومه شي، ځكه چه د زيري وركولو په وخت د هغهٔ يو مُعيَن وخت نهٔ وو خودلے شوے۔

ابن الانباريؒ وائي چه د زيري په آوريدو سره ددهٔ په زړهٔ كښ دا خواهش پيدا شو چه اُوس په جلتئ سره ددهٔ په كور كښ بچے پيدا شي۔ پدے وجه ويے غوختل چه د الله د طرف نه چه په دهٔ بانديے كوم احسان كيدونكے دے، د هغے سمدستي نخه اُوخودلے شي،آه۔

(فتح البيان)

قَالَ آيَتُكَ : الله تعالىٰ فرمائي چه ستا دپاره به نخه دا وي چه ستا ژبه او جسم به بالكل صحيح او سالم وي، او بيا به هم تهٔ درے ورځے او درے شپے هيچا سره خبرے نشے كولے۔

او د ژبے بنديدو حكمتونه سورة آل عمران كښ ذكر شويدي چه ذكر او عبادت په اخلاص سره وكړي، د دنيا خبرے بالكل ونكړي، او په ذكر سره په بدن كښ قوت پيدا كيږي۔

سَوِيًّا: دا يا صفت د لَيَالٍ دے په معنىٰ د مُتَسَاوِيَاتٍ سره، يعني درے شپے برابرے۔

ظاهر دا دے چه دا حال دے د (تُكَلِّمَ) د ضمير مخاطب نه۔ اَىْ حَالَ كَوْنِكَ سَوِيًّا۔ يعني په داسے حال كښ چه تهٔ به ښه روغ او برابر ئے او خبرے به نشے كولے۔ په سورة آل عمران (٤١) آيت كښ درے ورځے ذكر ويے او دلته درے شپے نو دواړه مراد دي۔

فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِ: د داعي سړي بغير د دعوت نه وخت نهٔ تيريږي، نو دهٔ پدے حالت كښ هم دعوت چلولو۔ كله چه د زكريا عليه السلام آواز بند شو نو د محراب نه را اُووتو او فورًا خپل قوم خوا ته راغلو او هغوى ته ئے د اشارے په ژبه كښ ووئيل چه تاسو صبا او بيګاه د الله په تسبيح او تحميد (حمدونو وئيلو) كښ مشغول شئ۔

دلته د ((اَوحىٰ)) معنىٰ اشاره ده، لكه په سورة آل عمران كښ (رمزاً) لفظ راغلے دے، چه د هغے معنىٰ اشاره كول دي۔ مجاهدؒ وائي چه دهٔ په زمكه كښ ليكلو سره خلقو سره خبرے كړے ويے۔ په عربي ژبه كښ (وحى) د ليكلو په معنىٰ كښ هم استعماليږي۔

سَبِّحُوا بُكْرَةً وَعَشِيًّا : ځينې وائي چه مراد ترے د سهار او مازيګر مونځ دے ليكن اول

قول غوره دے۔

يَا يَحْيَىٰ خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ
اے یحییٰ واخله کتاب په قوت سره او ورکړے وو مونږ هغه ته پو هه د دین
صَبِيًّا ﴿١٢﴾ وَحَنَانًا
په وړوکوالي کښې۔ او (ورکړے وو مو هغه ته) شفقت کول (په خلقو باندے)
مِّن لَّدُنَّا وَزَكَاةً وَكَانَ تَقِيًّا ﴿١٣﴾ وَبَرًّا بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُن
د خپل طرف نه او وو دے متقي۔ او نیکي کونکے د مور او پلار سره او نهٔ وو دے
جَبَّارًا عَصِيًّا ﴿١٤﴾ وَسَلَامٌ عَلَيْهِ يَوْمَ
سرکشه، نافرمان (د الله نه)۔ او سلامتیا ده (د الله د طرفنه) په دهٔ باندے په کومه ورځ
وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا ﴿١٥﴾
چه پیدا شو او په کومه ورځ چه مړ کیږي به او په کومه ورځ چه دوباره به ژوندے کیږي۔

تفسیر : دلته په خبره کښې اختصار شوید ے۔ د زکریا علیه السلام په کور کښې هغه هلك په طبعي طریقه پیدا شو، د هغه نوم خپله الله تعالیٰ یحییٰ کیخودو، او کله چه هغه عقل مند شو نو الله تعالیٰ هغهٔ ته د جبریل علیه السلام په واسطه ووئیل، اے یحییٰ ! د تورات علم ښه طریقے سره حاصل کړه، ځکه چه بني اسرائیلو به تورات لوستلو، او د موسیٰ علیه السلام نه روستو به د بني اسرائیلو تولو انبیاء کرامو او علماؤ او احبارو به د خلقو ترمینځ ددے د تعلیماتو مطابق فیصلے کولے۔ پدے وجه ضروري وه چه هغه تورات په ښهٔ شان ولولي، او پدے کښې د موجودو احکامو او شرائعو پو هه حاصله کړي۔

ځیني وائي چه ددے کتاب نه مراد د یحییٰ علیه السلام یو خاص کتاب وو اګرکه مونږ ته به هغه نهٔ وي معلوم۔ اول قول غوره دے۔

پدے آیت کښې د اسباب د رحم نه تسبیحات وئیل او د الله په کتاب باندے عمل کول او د هغې پو هه حاصلول ذکر دي۔

بِقُوَّةٍ : یعني په کوشش سره (مجاهدؒ) او عزیمت او همت سره۔ د الله په کتاب کښې به ډیر کوشش کولے شي۔

وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا : الله تعالىٰ يحيىٰ عليه السلام ته په وړوكوالي كښې علم او حكمت، د تورات د پوهې او د نيك اعمالو توفيق وركړے وو۔ حكم هوښيارتيا ته هم وائي۔ او دارنګه عقل ته هم۔ هغۀ به د حكمة او د رازونو او د عقلمندئ نه ډكې خبرې كولې۔ د هغۀ د حكمتونه يوه دا وه چه د الله تعالىٰ نه ډير يريدو، ډيره ژړا به ئې كوله۔ بل حكمة ئې دا وو چه ماشومانو ورته په وړوكوالي كښې وويل چه مونږ سره لوبې وكړه نو دۀ ورته وويل : [لَمْ نُخْلَقْ لِهٰذَا] مونږ دې دپاره نۀ يو پيدا كړې شوى، راځئ چه مونځ وكړو۔ (اخرجه الحاكم فى تاريخه) عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائي : أُعْطِيَ الْفَهْمَ وَالْعِبَادَةَ وَهُوَ ابْنُ سَبْعِ سِنِيْنَ) د اووه كالو په عمر ورته پوهه او عبادتونه وركړې شوى وو۔

او عبد الله بن عباس رضی الله عنه دا هم فرمائي : [مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ قَبْلَ اَنْ يَّحْتَلِمَ فَهُوَ مِمَّنْ اُوْتِيَ الْحُكْمَ صَبِيًّا] چا چه د بلوغ نه مخكښې قرآن ولوستو نو دا د هغه چا نه دے چه هغه ته حكمة (پوهه) د وړوكوالي په زمانه كښې وركړې شويدے۔

(البيهقى فى شعب الايمان رقم (١٧٩٨) وابن ابى حاتم وابن مردويه)۔

وَحَنَانًا : ١- شفقت، ٢- رحمت۔ ٣- محبت۔ ٤- نرمي۔ په هغه كښې د خپلو والدينو، خپلوانو، او پردو او د الله د ټولو مخلوقاتو دپاره د رحمت او شفقت او نرمئ يے حده جذبه موجوده وه۔ او دا يو صفت چه چا كښې موجود وى نو هغه به سيده جنت ته داخليږي۔

(٢) د ﴿ وَحَنَانًا مِنْ لَّدُنَّا ﴾ يو بل مطلب دا هم دے چه د الله شفقت او رحمت هميشه د هغوى شاملِ حال وو۔

وَزَكَاةً : يعني هغۀ ته ما د نفس پاكي وركړے وه۔ يعني هغه د ګناهونو نه بالكل پاك، او داسے نيك بنده وو چه د ګناه ئې هيڅ كله سوچ هم نۀ وو كړے۔

زكاة دلته معنىٰ ده تطهير او بركت او ترقي او نيكئ ده۔ اَىْ جَعَلْنَاهُ مُبَارَكًا لِلنَّاسِ يَهْدِيهِمْ اِلَى الْخَيْرِ)۔ يعني مونږ دۀ ته بركت او خير وركړے وو چه خلكو ته به ئې خير طرفته رهنمائي كوله۔

وَلَمْ يَكُنْ جَبَّارًا عَصِيًّا: او د خپل مور او پلار داسے تابعدار او فرمانبردار وو چه كله ئې هم د هغوى په هيڅ خبره ضد نۀ وو كړے، او نۀ ئې د هغوى نافرماني كړے۔

جَبَّارًا: سركش، متكبر، هغه شخص چه د خپل ځان دپاسه بل څوك نۀ مني۔

عَصِيًّا : (نافرمان)۔ يعني د خپل رب او د والدينو نافرمان نۀ وو۔ جباريت او عصيان د غضب اسباب دي۔

وَسَلامٌ عَلَيْهِ : الله تعالیٰ دهٔ ته د ټولو آفتونو او مصیبتونو نه د امن او سلامتیا خبر ورکړو، او په دهٔ باندې ئې سلام او تحیه ولیږله۔ په کومه ورځ چه هغه پیدا شو په هغه ورځ د شیطان د چونډارې لګولو نه په امن کښې شو، یا پرې الله تعالیٰ په دغه وخت کښې سلام ووئیلو۔ او کله چه وفات شو نو د قبر د فتنو نه محفوظ شو۔ او کله چه به دوباره پورته کړې شي نو دوی ته به هیڅ ګبراهټ نهٔ پیوسته کیږي۔

او د انسان دغه درې وختونه د پریشانئ دي پدې وجه ئې پدې درې واړو کښې د سلامتیا اعلان ورته وکړو۔ او دا د الله تعالیٰ په یحییٰ ﷺ خصوصي انعام او مهرباني وه۔ او د مرګ په وخت کښې انسان باندې سخته راځي لکه یحییٰ ﷺ شهید شویدے لیکن د الله د عذاب نه په سلامتیا کښې وو۔

او دلته ئې سلام نکره راوړه او روستو د عیسیٰ ﷺ په بیان کښې (وَالسَّلَامُ) معرفه؟ وجه دا ده چه دا د الله تعالیٰ د طرفنه سلام دے او د هغه د طرفنه لږ هم ډیر وی۔

او پدے کښې هر انسان ته دعوت دے چه که تا کښې دا صفات پیدا شو نو تا ته الله تعالیٰ سلامتیا درکوی۔

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ إِذِ انتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا
او یاد کړه پدے کتاب کښې مریم (او د هغې واقعات) کله چه په ډډه شوه د کور والو خپلو نه
مَكَانًا شَرْقِيًّا ﴿١٦﴾ فَاتَّخَذَتْ مِن دُونِهِمْ حِجَابًا فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا
یو ځائې نمر خاتهٔ طرف ته۔ نو وې نیوله اخوا د دوی نه پرده نو اُولیږلو مونږ هغې ته
رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴿١٧﴾ قَالَتْ إِنِّي
روح خپل (جبریل) نو شکل ئې جوړ کړو هغې ته انسان برابر۔ اُووئیل هغې یقیناً زهٔ
أَعُوذُ بِالرَّحْمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيًّا ﴿١٨﴾ قَالَ إِنَّمَا أَنَا
پناهي غواړم په رحمٰن سره ستا نه که یې تهٔ تقویٰ دار۔ اُووئیل هغه یقیناً زهٔ
رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَامًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾
رالیږلے شوے د رب ستا یم (هغه وائی) دے دپاره چه اُوبخم تا ته هلک پاک۔

تفسیر : اُوس ددے ځای نه تفصیلي واقعه د مریم علیها السلام او د عیسیٰ ﷺ بیانیږي۔

پدے کښې خو یو غرض جواب د شبهې د مشرکانو او نصاراؤ دے، چه دوی به وئیل چه د مریم او د عیسیٰ علیهما السلام نه عجیبه او ناشنا کارونه ښکاره شویدی، معلومیږی چه دوی متصرف او حاجت روا دی، او پدے وجه نصاراؤ مریم او عیسیٰ علیه السلام ته اِلٰه وئیلې دے او د مکے مشرکانو په خپلو بعضو بتانو کښې د مریم شکل جوړ کړے وو۔ نو دلته د دوی الله تعالیٰ ته عاجزی او د دوی د عبدیت دلائل بیانوی چه دوی خو په هر حالت کښې الله ته محتاج وو۔ نو پدے کښې رد د اتخاذ الولد هم دے۔

دویم غرض پدے کښې دعوت ورکول دی اسبابو د رحمت د الله تعالیٰ ته۔

چونکه د یحییٰ علیه السلام او عیسیٰ علیه السلام په پیدائش کښې یو قسم مشابهت دے چه الله تعالیٰ یحییٰ علیه السلام د انتهائی بوډا پلار او بالکل شنډے مور نه پیدا کړو، او عیسیٰ علیه السلام ئے بغیر د پلار نه پیدا کړو او د دواړو په پیدائش کښې د الله تعالیٰ د عظیم قدرت اظهار دے، پدے وجه په سورتِ آل عمران، پدے سورت او سورتِ انبیاء کښې د دواړو ذکر د یو بل نه روستو شویدے۔

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ: د کتاب نه مراد قرآن کریم دے۔ یعنی ته پدے قرآن کښې د مریم واقعه ولوله، او بیا ئے خلقو ته ئے ولوله۔ مریم بنت عمران علیها السلام د داؤد علیه السلام د نسل نه د بنی اسرائیلو د یو دیندارے او شریفے کورنۍ جینۍ وه۔ د دوی د ولادت قصه په سورة آل عمران کښې تیره شویده۔ د پیدا کیدو نه روستو دے د خپل ماما زکریا علیه السلام په کور کښې تربیت ومونډلو، او عقلمند کیدو نه روستو ډیره زاهده، عابده او شپه ژوندۍ کونکے شوه۔ کله چه الله تعالیٰ ددے د خیټے نه د عیسیٰ علیه السلام د پیدا کولو اراده وکړه، نو د مسجد اقصیٰ نه لرِ اخوا مشرق طرف ته لاړه۔ دا ولے تلے وه؟۔

چا وئیلی دی چه ماهواری پرے راغلے وه، نو د غسل دپاره لرے لاړه۔ دا قول بعید دے ځکه چه د خپل کور نه وتل او هسے یو جدا ځای کښې غسل کول مناسب نۀ ښکاری۔

صحیح وجه دا ده چه د عبادت دپاره لرے تلے وه، دے دپاره چه د خلکو د نظرونو او شور شرغب نه محفوظه شی او په بنی اسرائیلو کښې دا کار زیات وو چه د الله تعالیٰ دپاره به ئے خلوت کولو او دے ته بَدَاوَه هم وائی۔

نو د اسبابو د رحمت د الله تعالیٰ نه د الله سره خلوت کول دی۔

شَرْقِيًّا: د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه په اهل کتابو باندے هم کعبے طرف ته مخ اړولو سره مونځ کول واجب وو، لیکن د مریم علیها السلام ددے عمل په وجه سره دوی مشرقی جهت خپله (بِدَعِی) قبله جوړه کړه، او د نمر راختلو طرف ته ئے مخ کولو سره

مونځونه شروع کړل۔
فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُوْنِهِمْ حِجَابًا : یعنی د دغه ځای وسیدونکو خلکو مخې ته ئې د ځان دپاره پرده ووهله ځکه چه حیاء پکښې زیاته وَه چه څوك ئې د عبادت په حال کښې ونهٔ وینی۔
فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوْحَنَا : هلته جبریل ﷺ د الله په حکم سره ددے مخې ته د یو مکمل انسان په شکل کښې راغلو۔
دلته د مریم علیها السلام ډیر کرامتونه ښکاره شویدی، جبریل ﷺ ئې د سړی په شکل لیدلې دے، او هغه ورسره خبرے اترے کړیدی، او بچے ئې بغیر د خاوند نه پیدا شویدے، بل دا چه سمدست پیدا شویدے، بل دا چه د وچے کجورے نه ورته تازه کجورے راپریوتی دی، شپږم دا چه کجوره په خوزولو نهٔ خوزیږی، او دے خوزولے ده۔ اُوم دا چه عیسیٰ ﷺ په وړوکوالی کښې خبرے کړیدی او ددے براء ت ئې بیان کړیدے۔ په بنی اسرائیلو کښې دا کرامتونه زیات وو او ددے آیتونو نه معلومیږی چه کرامتونه د هغه چا ډیر وی چه عبادات ئې زیات وی۔
بَشَرًا سَوِيًّا : یعنی انسان وو چه هیڅ صفت د بنیادم پکښې ورك نهٔ وو۔ او الله تعالیٰ پیرانو او ملائکو ته دا قدرت ورکړیدے چه مختلف شکلونه اختیارولے شی۔ لکه کله به جبریل ﷺ رسول الله ﷺ ته د دِحیة بن خلیفه الکلبی ﷺ په شکل راتللو۔
قَالَتْ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِالرَّحْمٰنِ : کله چه مریم علیها السلام اُولیدل چه یو خاص نیك انسان ددے د پردے لحاظ کولو نه بغیر ددے مخې ته راروان دے، نو ددے په ذهن کښې شبهه پیدا شوه چه چرته دا سړے په کوم بد نیت سره خو نهٔ دے راغلے، پدے وجه ئې د خپلے ډیرے پاکئ او د عفت د اثر په وجه ووئیل چه اے انسانه ! که تهٔ د الله نه یریږے نو زهٔ دے حده مهربان ذات په ذریعه ستا نه پناه غواړم نو زما خوا ته مهٔ راځه۔ او د الله تعالیٰ ئې رحمٰن صفت ذکر کړو ځکه چه ددے اراده وه چه الله تعالیٰ به پدے رحم وکړی او د هغه چا نه به ئې محفوظه کړی چا چه ددے په گمان ددے د بدئ اراده کړیده۔ (ابن عاشورؒ)
په بنی اسرائیلو کښې د رحمٰن لفظ ډیر مشهور وو نو پدے کښې رد دے په مشرکانو چه تاسو رحمٰن نهٔ منئ او حال دا چه نیکانو صالحینو دا لفظ د الله تعالیٰ دپاره استعمال کړیدے۔ دارنگه اے مشرکانو ! تاسو مریم (علیها السلام) د الله تعالیٰ سره شریکوئ حال دا چه هغه د الله تعالیٰ پورے خپله پناه غواړی، الله تعالیٰ ته محتاجه ده۔ د غیبو علم هم ورسره نشته، جبریل نهٔ پیژنی بلکه د انسان گمان پرے کوی۔

إِنْ كُنْتَ تَقِيًّا : اَیْ اِنْ كَانَ يُرْجٰى مِنْكَ التَّقْوىٰ فَلَا تَأْتِنِیْ ۔ كه ستا نه د تقوىٰ امید كیدے شي نو زما خوا ته مهٔ راځه۔

امام بخاريؒ د ابو وائلؒ نه نقل كړيدي : (عَلِمَتْ اَنَّ التَّقِيَّ ذُوْ نُهْيَةٍ) (بخاري كتاب التفسير باب ۳۸) دیے ته دا معلومه وه چه متقي سړیے عقلمند وي، پردو ښځو خواله نهٔ ورځي، او دا ترغيبي جمله وي چه تقوىٰ ښه شے دیے ځان كښې ئے پیدا كړه نو زما خواله مهٔ راځه۔

لِأَهَبَ لَكِ: د اَستازي كلام په اصل كښې د مُرسِل (لیږونكي) وي يعني الله وائي چه زهٔ درته بخښم۔ پدیے طريقه چه زهٔ به ستا په گریوان كښې پوكے وكړم چه دا به د الله تعالىٰ د طرفنه د هلك دركولو سبب جوړ شي او داسے هلك به وي چه د گناهونو نه به پاك وي۔

لكه چه الله تعالىٰ په سورة التحريم آيت (۱۲) كښې فرمايلي دي :

﴿وَمَرْيَمَ ابْنَةَ عِمْرَانَ الَّتِيْ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيْهِ مِنْ رُوْحِنَا﴾

او سورة الانبياء آيت (۹۱) كښې ئے فرمايلي دي : ﴿وَالَّتِيْ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيْهَا مِنْ رُوْحِنَا﴾ په دواړو آيتونو كښې دا بيان شويدي چه الله هغے طرف ته د جبريل عليه السلام په ذريعه د هغے په رحِم كښې د عيسىٰ عليه السلام روح اُوپوكلو۔

يا مطلب دا دیے چه زهٔ تا ته زيريے دركوم په هلك سره چه ستا د خيټے نه به پيدا كيږي۔

په يو قراءت كښې ((لِيَهَبَ لَكِ)) راغلے دیے۔ يعني زهٔ ستا د رب پيغام راوړونكے يم، تا ته ددیے خبريے دپاره راغلے يم چه هغه به تا ته يو داسے هلك دركوي چه د گناهونو نه به پاك وي۔

قَالَتْ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلَامٌ وَّلَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ
اُووئيل هغے څنگه به وي زما دپاره هلك او نهٔ دیے لگولے لاس ما سره هيڅ بنده
وَلَمْ اَكُ بَغِيًّا ﴿۲۰﴾ قَالَ كَذٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ
او نهٔ يم زهٔ بدكاره۔ اُووئيل هغهٔ دغسے وئيلي دي رب ستا دا كار په ما باندیے آسان دیے
وَلِنَجْعَلَهٗ آيَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا
او دیے دپاره چه اُوگرځوو مونږ دهٔ لره نخه دپاره د خلقو او رحمت زمونږ د طرف نه
وَكَانَ اَمْرًا مَّقْضِيًّا ﴿۲۱﴾
او دیے دا كار فيصله كړیے شویے۔

تفسير: مريم عليها السلام ته ددے خبرے نه ډير زيات تعجب وشو او دا تعجب بناء دے په عادت باندے، او د الله د قدرت نه تعجب نۀ کوی، وے وئيل چه زما به هلك څنګه کيږی، نۀ زما کوم خاوند شته او نۀ زۀ بدکاره ښځه يم ؟! ځکه چه د اولاد د پيدا کيدو عادةً همدا دوه صورتونه دی۔ يا مطلب ئے دا وو چه ددے بچی د پيدا کيدو به کوم کيفيت وی؟، آيا زۀ به په آينده کښ کوم خاوند کوم او که الله تعالیٰ به ئے همداسے بغير د خاوند نه پيدا کوی؟۔ نو دا تپوس د کيفيت دے۔

د مس اطلاق اکثر په نکاح کيږی ددے وجه نه ئے دا په مقابله د (بَغِيًّا) کښ راوړو۔

بغی هغه زناکاره ده چه سړی لټوی۔ او دا صفت د زنانه دپاره زيات استعماليږی، نو پدے وجه تاء راوړو ته ضرورت نۀ وی، لکه د طالق او حائض په شان۔

او مبرّد وائی چه دا په اصل کښ بَغُوئٌ دے په وزن د فعول، او پدے کښ مذکر او مؤنث برابر وی کله چه په معنیٰ د فاعل وی۔

قَالَ كَذٰلِكِ: جبريل عليه السلام ووئيل، آؤ، تۀ به همداسے ئے، اګرکه ستا کوم خاوند نشته او تۀ څه بدکاره ښځه نۀ ئے ځکه چه ستا رب په هر شی باندے قادر دے، هغه وائی چه داسے کول ما ته ډير آسان دی۔ هغه آدم عليه السلام بغير د مور او پلار نه پيدا کړے، او حواء رضی الله عنها ئے صرف د سړی نه پيدا کړے، او باقی اولاد د آدم عليه السلام ئے د مور او پلار په ذريعه پيدا کړی، سویٰ د عيسیٰ عليه السلام نه چه هغه الله تعالیٰ په غير د پلار نه پيدا کړے۔

وَلِنَجْعَلَهٗٓ اٰيَةً: دا عطف دے په (نَخْلُقَهٗ) مقدر باندے۔ يعنی دے دپاره ئے پيدا کوو چه دا د الله تعالیٰ د عظيم قدرت نښه وګرځی۔ او دا نښه د الله د قدرت ده چه ددے په وجه خلکو ته هدايت وکړے شی۔ نو دارنګه د اثبات د آخرت دپاره نښه ده۔

وَرَحْمَةً مِّنَّا: او الله عيسیٰ عليه السلام لره د هغۀ د قوم دپاره رحمت جوړ کړے وو، لکه چه هر نبی د خپل قوم دپاره رحمت وی۔ نو هغۀ خپل قوم ته د الله تعالیٰ د توحيد او صرف د يو الله د عبادت تعليم ورکول شروع کړل، او د هغۀ په وجه انجيل نازل شو چه بنی اسرائيلو ته ډيره فائده ملاؤ شوه۔ دارنګه ددے امت دپاره هم رحمت دے چه په آخره زمانه کښ به راکوزيږی او لوی دجال به وژنی۔

وَكَانَ اَمْرًا مَّقْضِيًّا: يعنی ستا د بچی پيدا کيدل يو داسے کار دے چه د الله تعالیٰ په علم (تقدير) کښ فيصله کړے شويدے، اُوس به داسے نۀ وائے چه اے الله ! ما ته ئے مۀ راکوه۔

فَحَمَلَتْهُ فَانْتَبَذَتْ بِهِ

نو حامله شوه په هغه (یا پورته کړو دے په خیټه کښې هغه) نو جدا شوه په هغه سره

مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾ فَأَجَآءَهَا الْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ النَّخْلَةِ قَالَتْ

یو ځائے لرے ته۔ نو راوسته هغے لره درد د پیدائش ستے د کجورے ته اُووئیل هغے

يَا لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا ﴿٢٣﴾

اے افسوس دے چه مړه شوے وے مخکښې ددے نه او وے زهٔ هیره تیره۔

تفسیر : مفسرینو لیکلی دی چه کله جبریل علیه السلام هغے ته د الله فیصله واوروله نو د الله په فیصله باندے راضی شوه، او یو قسم اطمینان ئے محسوس کړو، نو جبریل علیه السلام د هغے خوا ته نزدے راغلو او د هغے په ګریوان کښې ئے پوکے وکړو لکه همدا خبره په حدیث د حاکم کښې راغلے ده وقال صحیح علی شرط مسلم۔ (فَنَفَخَ فِيْ جَيْبِ دِرْعِهَا) (د هغے د قمیص په ګریوان کښې ئے پوکے وکړو)۔ او قرآن کښې دی ﴿فَنَفَخْنَا فِيهِ﴾ اَیْ فِیْ جَیْبِ دِرْعِهَا)

یو قول دا دے چه د هغے په لمن کښې ئے پوکے وکړو، او یو دریم روایت دے چه د هغے په خوله کښې ئے پوکے وکړو، (لیکن دا قولونه ضعیف دی) بهر حال د پوکی اثر د هغے رحِم ته ورسیدو، او د الله په حکم سره حمل قرارے ونیولو۔ دے نه روستو هغه د خلقو د خبرو د یرے نه د خپل قوم نه لرے د غرشا ته یا یوے کندے ته لاړه۔

فَحَمَلَتْهُ : فاء ئے راوړه، یعنی سمدست حامله شوه په هغهٔ سره۔ او دا ځکه چه که پدے باندے نهه میاشتے تیریږی، نو خلك به پرے بدنامه لګوی چه دا حمل دِے د کوم ځای نه راوړو۔ نو ډیره به پریشانه وی او خطره وه چه څوك به ئے قتل کړی۔

او ددے د حمل د مودے په باره کښې مفسرینو نور اقوال هم لیکلی دی، یو قول دا دے چه د حمل موده نهه میاشتے وه۔ مګر ډیره غوره دا ده چه یوه ګینټه کښې حامله شوه او په بله ګینټه کښې د هغے حمل پیدا شو۔ د حمل دردونه چه پرے کله راغلل، نو د خلقو د خبر ونه دا ویریدله نو د بیت المقدس او د خپل قوم نه لرے بیت اللحم نومے کلی ته لاړه کوم چه د بیت المقدس نه صرف اته میله لری وو چه هلته دا د خلقو د سترګو نه غائبه شوه۔ دے دپاره چه د دوی طعنونو نه بچه شی۔

آخر د ولادت وخت رانزدے شو او د درد سختی زیاته شوه نو د کجورے یو وِنے خوا ته

لاړه دے دپاره چه د ولادت په وخت د هغې نه مدد واخستے شي، او کله چه دے ته د خلقو د شرم او پیغور خیال راغلو، نو د بشري تقاضې مطابق ئے ووئیل چه هائے ارمان! چه زۀ ددے نه مخکښې مړۀ شوے وے، ارمان! چه زۀ یوه هیره تیره قصه جوړه شوے وے۔

فَأَجَآءَهَا الْمَخَاضُ : یعنې محتاجه کړه دے لره درد د ولادت۔ پدے کښې هم رد دے په مشرکانو چه مریم د دردونو نۀ ده بچ شوے، دنیا دار الاسباب دے چه په نیکانو خلکو هم تکلیفونه راځي، نو دوی آلِهه نشي کیدے، هسے نۀ چه ددے نه څوك اِله جوړ کړي۔

إِلَىٰ جِذْعِ النَّخْلَةِ : د ونې سټې ته څکه راغله چه د ولادت په وخت کښې زنانه تکیه ته محتاج وي۔

مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا : سوال دا دے چه د مرګ تمنا کول خو منع دي، نو دے څنګه مرګ غوښتے دے؟ جواب دا دے چه د مرګ تمنا زمونږ په امت باندے منع ده او د هغوی دپاره منع نۀ وه۔ (۲) یا دا چه دا ئے د زیاتے حیاء د وجه نه وئیلي دے۔ او کله نا کله د دین د حفاظت د وجه نه د مرګ آرمان کولے شي۔ لکه دا مسئله په تفسیر د سورة البقره آیت (۹۴) کښې تفصیلي سره لیکلے شویده۔

نَسْيًا مَّنسِيًّا : دا په محاوره بناء دے چه یو شے د انسان نه هیر شي دا دوه قسمه دے یو دا چه شے هیر شي خو دا ورته یاد وي چه ما نه یو شے هیر شوے وو۔ او دویم هغه هیره ول دی چه بیا دا هم هیر شي چه ما نه یو شے هیر شوے وو۔ نو منسیا معنیٰ داده چه دا هیره هم هیره شوے وے۔

قرآء وائي چه ((نَسْي)) په حیض سره ککړه شوے کپړے ته وائي، یعنې هائے ارمان! چه زۀ د حیض هغه کپړه وے چه هغه ګوزار کړے شي۔

فَنَادَاهَا مِن تَحْتِهَا أَلَّا تَحْزَنِي قَدْ جَعَلَ
نو آواز اُوکړو دیته (هغه رسول) د لاندے ځائے ددے نه چه مۀ خفه کیږه یقیناً کړځولے ده
رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿٢٤﴾ وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ
رب ستا لاندے ستا نه روانه چینه۔ او خوزه وه ځان ته سټه د کجورے نو راغورځوی به
عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿٢٥﴾ فَكُلِي وَاشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًا فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا
تا ته کجورے تازه۔ نو خوره او څکه او یخوه سترګے نو که اُووینے تۀ د انسانانو نه یو تن

فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ صَوْمًا فَلَنْ
نو وايئ (هغه ته) يقيناً ما نذر كړيدے د رحمٰن دپاره د روژے (د چپوالي) نو هيچرے به
أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنْسِيًّا ﴿٢٦﴾ فَأَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا
خبرے نۀ كوم نن ورځ د هيڅ انسان سره۔ نو راغے ورو (بچے) قوم خپل ته
تَحْمِلُهٗ قَالُوْا يَا مَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا
چه پورته كړے ئے وو (په غيږ كښ) ووئيل دوى اے مريم! يقيناً تا راتلل وكړل يو شى
فَرِيًّا ﴿٢٧﴾ يَا أُخْتَ هَارُوْنَ مَا كَانَ أَبُوْكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَّمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾
ډير ناشنا ته۔ اے خورے د هارون، نۀ وو پلار ستا بد سړے او نۀ وه مور ستا بدكاره۔

تفسير: مريم عليها السلام په يوه ډيره كئ باندے وه او جبريل ﷺ د ډيرئ نه لاندے وو كله ئے چه د مريم د غم نه ډكه خبره واوريده نو هغے ته ئے آواز وركړو او رته ئے ووئيل چه اے مريم! غم مۀ كوه، الله تا ته يو داسے بچے دركړيدے چه د قوم سردار، او د عزت او شرافت او اُوچتے مرتبے والا به وى۔ يو بل قول دا دے چه (سَرِيَّ) د وړوكى نهر په معنىٰ كښ دے، يعنى الله ستا په قدمونو كښ د معجزے په توګه يو نهر جارى كړيدے۔ همدا قول ظاهر دے ځكه چه په حديث كښ راغلے دے امام بخارى د ابو اسحاق هغه د براء بن عازب نه موقوفاً نقل كړيدے: (سَرِيًّا: نَهَرٌ صَغِيرٌ بِالسُّرْيَانِيَّةِ) سرى په سريانئ ژبه كښ وړوكى نهر ته وئيلے شى۔ (صحيح بخارى: ٣٤٣٥) والصحيحة (١٨٨/٣)

او صحابى چه د قرآن تفسير وكړى دا په حكم د مرفوع كښ وى۔ او پدے باره كښ مرفوع روايت هم شته، طبرانىؒ په كبير (١/١٦٧/٣) كښ راوړيدے ليكن هغه ضعيف دے د ايوب بن نهيك متروك په وجه۔

بعض وائى چه عيسىٰ ﷺ ورسره خبرے وكړے، ليكن اوله خبره صحيح ده چه جبريل ﷺ ددے د ولادت په وخت كښ يو ځاى كښ ناست وو، ددے د خبرے نه روستو ئے ورته آواز وكړو۔

فائده: په يو چا باندے چه خفګان راځى د هغے دوه سببونه وى يو فقدان (ورك كيدل) د ظاهرى اسبابو۔ دويم اسباب باطنيه ختميدل لكه د شرم وغيره نه يره۔ نو الله دلته دواړه

ذکر کړل چه خوراك څکاك هم شته او چه څوك اعتراض کوی نو عیسیٰ علیه السلام به د هغے جواب ورکوی۔

وَهُزِّىٓ : د کجورے څانگه ونیسه او هغه وخوزوه ، ددے نه به تا ته تازه کجورے راغورزیږی۔ دا ددے کرامت دے چه تنه د کجورے ددے په خوزولو سره خوزیدلے ده۔

رُطَبًا جَنِيًّا: (کجورے تازه)۔

فَكُلِىْ وَاشْرَبِىْ وَقَرِّىْ عَيْنًا : کجورے خوره او د نهر تازه اُوبه څکه، او خپل څوی ته گوره او سترگے پرے یخوه، او غم مهٔ کوه، او کله چه تهٔ یو انسان وینے چه تا نه ستا د بچی په باره کښې تپوس وکړی، نو په اشارے سره هغه ته وایه چه ما د الله دپاره د غلی وسیدو نذر منلے دے، نن ورځ به زهٔ د هیڅ انسان سره خبرے نهٔ کوم۔ مفسرین لیکی چه دے ته دا حکم پدے وجه ورکړے شو چه د ناپوهو سره ددے د خبرو نمبر رانشی او د عیسیٰ علیه السلام خبرے د هغې د براءت او پاکدامنئ قطعی او یقینی دلیل جوړ شی چه تول خلق غلی کړی۔

فَقُولِىٓ إِنِّى نَذَرْتُ: یعنی دا یو قول (وینا) ورلره جائز وه چه ما نذر منلے دے۔ یا دا قول په اشاره سره دے څکه چه اشاره عالمی لغت دے۔

او د بنی اسرائیلو په دین کښې د خبرو بندولو روژه هم عبادت وو۔ او زمونږ په دین کښې دا منسوخ شویدی۔ رسول الله ﷺ یو تن ولیدو چه په نمر کښې ولاړ وو نو وے فرمایل : ددے سړی دپاره څه شویدی؟ خلکو ووېل : [نَذَرَ اَنْ يَقُوْمَ وَلَا يَقْعُدَ وَلَا يَسْتَظِلَّ وَلَا يَتَكَلَّمَ وَيَصُوْمَ] دهٔ دا نذر کړیدے چه دے به ولاړ وی، نهٔ به کینی او سوری ته به نهٔ کینی او خبرے به نهٔ کوی او روژه به ئے نیولی وی) رسول الله ﷺ وفرمایل : حکم ورته وکړئ چه خبرے وکړی، سوری ته شی، او کینی او خپله روژه دے پوره کړی۔ او دا سړے ابو اسرائیل وو۔

(بخاری: ٦٧٠٤)

لِلرَّحْمٰنِ: دا لفظ بیا راغلو اشاره ده چه د الله د رحمت بل سبب د الله دپاره روژے نیول دی۔

فَأَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا: (رائے وړو هغه لره خپل قوم ته) کله چه مریم علیها السلام د نفاس نه فارغه شوه، او د الله تعالیٰ د انعاماتو او اکراماتو په لیدلو سره یو قسم اطمینان ورته حاصل شو نو خپل بچے عیسیٰ علیه السلام ئے په غیږه کښې نیولے وو، خپل قوم خوا ته راغله۔ خلقو د هغې په غیږه کښې د بچی لیدلو سره د غم او حیرانتیا نه ډکه او سوے جذبه ښکاره کړه، څکه مریم د ډیرلوئی دینی خاندان لور وه۔ خلقو په هغې باندے انکار کولو سره ووئیل چه اے مریم ! تا خو ډیر بد کار کړیدے چه ناجائز بچے دے راروان کړے۔

د یوے پیغلے نه په داسے طریقه بچے پیدا کیدل خو واقعی چه د تعجب او ناشنا والی خبره ده، نو خلك پرے اعتراض کوی لیکن دے خلکو لړه بد اخلاقی کړیده ځکه چه د مریم تقوئ او بزرګی او پاکدامنئ ته هم کتل پکار دی، او پکار ده چه د هغے نه اول تحقیق وکړے شی، روستو پرے اعتراض وکړے شی که د اعتراض لائقه وی۔ خو دوی سمدست اعتراض شروع کړو۔

فَرِيًّا: ١- عَجِيْبًا نَادِرًا۔ (ابو عبیدهؒ) عجیبه ناشنا۔ ٢- اَلْعَظِيْمُ اَیْ مِنَ الْاَمْرِ۔ لوی کار۔ دا په خیر او شر دواړو کښ استعمالیږی۔ (مجاهدؒ)

يَا اُخْتَ هَارُوْنَ: د زیاتے زورنے ورکولو دپاره ئے ورته ووئیل، اے د هارون خورے! ستا پلار خو کوم بدکاره نهٔ وو او نهٔ ستا مور زناکاره ښځه وه۔ دا د خلکو عادت وی چه مور او پلار نیکان وی هغه ورته ذکر کوی۔

هَارُوْن: (١) ددے نه مراد د موسیٰ علیه السلام ورور هارون دے، ځکه چه مریم د هغے د نسل نه وه۔ یا پدے وجه چه خلقو به مریم د هارون علیه السلام په شان عابده او صالحه ګڼړله۔ پدے وجه ئے د هغه په نوم یادولو سره دے ته پیغور ورکړو۔

(٢) یو دویم قول دا دے چه پدے نوم سره ددے یو ورور وو چه په نیکئ او صلاح کښ مشهور وو۔ د صحیح حدیث نه ددے تائید کیږی۔ امام احمدؒ، مسلمؒ، ترمذیؒ او نسائیؒ وغیره د مغیره بن شعبه رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم زهٔ د نجران عیسایانو ته ولیږلم۔ نو هغوی ووئیل چه تاسو په خپل قرآن کښ د مریم په باره کښ ﴿يَا اُخْتَ هَارُوْنَ﴾ لولئ، حال دا چه موسیٰ علیه السلام خو د عیسیٰ علیه السلام نه په سلونو کلونو مخکښ تیر شویدے؟۔ (هغه وائی ما له جواب نهٔ راتللو) نو زهٔ چه راواپس شوم دا خبره مے رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ذکر کړه، هغه راته وفرمایل:

[اَلَّا اَخْبَرْتَهُمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا يُسَمُّوْنَ بِالْاَنْبِيَاءِ وَالصَّالِحِيْنَ قَبْلَهُمْ] (تا دوی ته ولے نهٔ وئیل چه دے خلقو به خپلو ماشومانو ته د انبیاء او صالحینو نومونه کیخودل)۔

(صحیح مسلم فی الادب حدیث ٩، والترمذی فی تفسیر سورة ١٩، باب ١ واحمد ٢٥٢/٤)

یعنی هارون د مریم د ورور نوم وو۔

(٣) یا هارون په دغه زمانه کښ یو نیك عمله سړے وو چه مریم د هغهٔ سره په نیکئ کښ مشابه وه۔ او دے قول ته ابن کثیرؒ ترجیح ورکړیده۔ مګر دویم قول ظاهر دے۔

فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ قَالُوْا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ
نو اشاره اُوکړه دے هغهٔ ته اُووئیل دوی څنګه به خبرے اُوکړو مونږ د هغه چا سره
كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿٢٩﴾ قَالَ إِنِّيْ عَبْدُ اللهِ آتَانِيَ
چه دے په غیږه کښ ماشوم۔ اُووئیل هغهٔ (بچی) یقیناً زهٔ بند د الله یم ، راکوی به ما ته
الْكِتَابَ وَجَعَلَنِيْ نَبِيًّا ﴿٣٠﴾ وَجَعَلَنِيْ مُبَارَكًا أَيْنَ مَا
کتاب او ګرځوی به ما پیغمبر۔ او ګرځوی به ما برکت والا (فائده مند) هر ځائے
كُنْتُ وَأَوْصَانِيْ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ
چه یم زهٔ، او وصیت به کوی ما ته د مانځه او د زکوٰة ترڅو پورے چه همیشه یم زهٔ
حَيًّا ﴿٣١﴾ وَبَرًّا بِوَالِدَتِيْ وَلَمْ يَجْعَلْنِيْ جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾
ژوندے۔ او نیکی کونکے د مور سره او نهٔ ئے دے ګرځولے ما لره سرکشه بد بخته۔
وَالسَّلَامُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُّ وَيَوْمَ
او سلامتیا ده په ما باندے په کومه ورځ چه پیدا کړے شوم زهٔ او په کومه ورځ
أَمُوْتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا ﴿٣٣﴾ ذٰلِكَ عِيْسَى ابْنُ
چه مړ کیږم به او په کومه ورځ به چه دوباره راپورته کولے شم ژوندے۔ دا عیسیٰ ځوی
مَرْيَمَ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِيْ فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ﴿٣٤﴾
د مریم دے، (وایم زهٔ) وینا حقه هغه چه په هغے کښ دوی شکونه کوی۔

تفسیر : مریم علیها السلام بچی طرف ته اشاره وکړه او خلقو ته ئے ووئیل چه ددهٔ نه تپوس وکړئ، نو خلقو ووئیل چه مونږه د غیږے بچی سره څنګه خبرے وکړو؟ عیسیٰ ﷺ د هغوی خبره واوریده نو خبرے ئے شروع کړے او وے وئیل چه زهٔ د الله بنده یم، هغه په ازل کښ فیصله کړیده چه هغه به ما ته انجیل راکوی، او ما به نبی ګرځوی، او زهٔ چه چرته هم یم نو هغه ما لره د خیر او برکت او د دعوت والا ګرځولے دے، زهٔ به د خپل رب پیغام خلقو ته رسوم۔

مفسرین لیکی چه کله عیسیٰ ﷺ اول ځل خبره وکړه نو خپل ځان ئے د الله بنده یاد کړو

او د هغه د خوی کیدو نه ئې انکار وکړو۔
وَجَعَلَنِيْ مُبَارَكًا: برکة یا د بُرُوْكُ الْبَعِيْر نه دے او معنیٰ ئې ده د اُوښ کیناستل۔
۱- نو معنیٰ دا ده: (جَعَلَنِيْ ثَابِتًا فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ) او زۀ ئې گرځولے یم مضبوط په دین د الله تعالیٰ۔
۲- یا برکت زیادت او علو (پورته والی) ته وائي۔ یعنی زۀ ئې په ټولو څیزونو کښې زیات او پورته گرځولے یم۔
۳- نَفَّاعًا لِّلْعِبَادِ۔ خلکو ته فائده ورکونکے۔ ځکه چه دۀ به مړی ژوندی کول او خلکو ته به ئې دین بیانولو۔
٤- مُعَلِّمًا لِّلْخَيْرِ۔ د خیر او دین تعلیم ورکونکے۔
٥- آمِرًا بِالْمَعْرُوْفِ نَاهِيًا عَنِ الْمُنْكَرِ۔ څوك چه د دعوت کار کوی هغه مُبارك دے۔ نو دا یواځې د عیسیٰ علیه السلام صفت نشو۔
مَا دُمْتُ حَيًّا: یعنی تر مرگه پورے به زۀ مونځ کوم او زکاة به ورکوم۔ دا په دوه خبرو دلیل دے، یو دا چه عبادتونه به تر مرگه پورے کولے شی، نو کوم صوفیاء چه ددے قائل دی چه کله نفس د قوتِ قدسیه سره پیوسته شی، بیا ورته عبادتونه معاف شی، دا سراسر خطاء ده، او د شریعت نه ځان راښکل دی۔
دویم دا معلومه شوه چه [اَلْاَمْوَاتُ لَا يُصَلُّوْنَ وَلَا يُزَكُّوْنَ]۔ مړی نۀ مونځونه کوی او نۀ زکاتونه ورکوی)۔
او کوم حدیث کښې چه راغلی دی چه ما په لیلة الاسراء کښې موسیٰ علیه السلام په قبر کښې ولیدو چه مونځ ئې کولو۔ (صحیح مسلم: ٦٣٠٦) نو هغه د برزخ امور دی، نۀ د دنیا، هغه د تلذذ په طریقه کول دی او په طریقه د تکلیف سره نۀ دی۔
وَبَرًّا بِوَالِدَتِيْ: مفسرینو لیکلی دی چه دا د عیسیٰ علیه السلام په ژبه سره اقرار او اعلان وو چه الله تعالیٰ هغه بغیر د پلار نه پیدا کړیدے۔ عیسیٰ علیه السلام دا هم ووئیل: او الله زۀ متکبر او گناهگار نۀ یم گرځولے، (اَلشَّقِيُّ هُوَ الَّذِيْ يُذْنِبُ وَلَا يَتُوْبُ)۔
شقي یعنی بد بخته هغه انسان دے چه گناهونه کوی او توبه ترے نۀ وباسی۔
(اَلْعَاقُّ)۔ شقي معنیٰ نافرمانه۔ یعنی زۀ به تواضع او عاجزئ والا یم۔ او د هغۀ د تواضع نه دا وه چه هغه به د ونو پاڼړے خوړلے او په خاورو به کیناستو، او ځان له ئې کور نۀ وو جوړ کړے۔ (فتح البيان)
وَالسَّلَامُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُّ: یعنی د الله د طرف نه امن او سلامتیا به ما سره شاملِ حال

ویَ، په هغه ورځ چه کله زهٔ پیدا شوم او په هغه ورځ به هم وی چه کله زهٔ مړ کیږم او کله چه زهٔ دویم ځلی ژوندے راپورته کولے شم۔ وئیلی کیږی چه ددے ښکاره کلام نه روستو بیا عیسیٰ علیه السلام تر څو پورے چه د خبرو عمر ته نهٔ وو رسیدلے هیڅ خبره ونکړه۔

ذٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ : دا د الله تعالیٰ قول دے چه تر اُوسه پورے چه څه د عیسیٰ علیه السلام په باره کښ بیان شواو څه چه هغهٔ په خپله ژبه سره د خپل ځان په باره کښ ووئیل، همدا د هغهٔ حقیقت دے، او همدا هغه حقه خبره ده چه پدے کښ خلق اختلاف کوی، عیسیٰ علیه السلام هغه نهٔ دے چه د هغهٔ په باره کښ یهودیان وائی چه دا جادوگر وو، او د یوسف نجار ځوی وو، او نهٔ هغه دے چه د هغهٔ په باره کښ د نصاراؤ یوه ډله وائی چه دا الله وو۔

او بله ډله وائی چه د الله ځوی وو۔ او دریمه ډله وائی چه د درے معبودانو نه یو وو۔ د دوی نه چه کومو خلقو ووئیل چه دا د الله تعالیٰ بنده او د هغهٔ رسول او د هغهٔ روح او د هغهٔ کلمه وه هغوی مسلمانان شو۔ (فتح)

قَوْلَ الْحَقِّ : ۱-منصوب بنا بر مدح دے (اَیْ اَمْدَحُ قَوْلَ الْحَقِّ) زهٔ صفت کوم د حقے وینا۔

۲- اَیْ اَقُوْلُ قَوْلَ الْحَقِّ۔ زهٔ وایم د عیسیٰ علیه السلام په باره کښ وینا د حقیقت مطابق۔

يَمْتَرُوْنَ: دا د مِراء نه دے جګړے کولو ته وئیلے شی۔ یا د مِرْيَةٌ نه دے شك کولو ته وائی۔

مَا كَانَ لِلّٰهِ أَنْ يَّتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ سُبْحَانَهٗ إِذَا قَضٰى
نهٔ دی مناسب الله تعالیٰ لره چه اُونیسی څه اولاد، پاك دے هغه، کله چه فیصله کوی
أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۳۵﴾ وَإِنَّ اللّٰهَ رَبِّیْ
د یو کار نو یقیناً وائی هغهٔ ته چه شه نو هغه اُوشی۔ او یقیناً الله تعالیٰ رب زما دے
وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿۳۶﴾ فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ
او رب ستاسو دے نو بندگی کوئ د هغه، دا لاره نیغه ده۔ نو اختلاف وکړو ډلو
مِنْ بَيْنِهِمْ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا
(ضدیانو) په مینځ خپل کښ نو هلاکت دے د هغه کسانو دپاره چه کفرئے کړیدے
مِنْ مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۳۷﴾ أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ
د حاضرئ د ورځے لوئی نه۔ څه ښه آوریدونکی به وی دوی او څه ښه لیدونکی به وی

يَوْمَ يَأْتُوْنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوْنَ الْيَوْمَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾

په کومه ورځ چه رابه شي مونږ ته لیکن ظالمان نن ورځ په ګمراهئ ښکاره کښې دي۔

تفسیر : الله تعالیٰ دپاره دا خبره په هیڅ طریقه صحیح نۀ ده چه هغه خپل ځان دپاره کوم اولاد ونیسی، هغه د جاهلانو او د ناپوهو ددے خبرے نه بالکل پاك دے، هغه خو چه کله د یو شی فیصله کوی، نو وائی چه شه نو هغه شے کیږی۔ او د کوم ذات باری تعالیٰ چه دا صفت دے د هغه اولاد څنګه کیدے شی۔

مَا كَانَ لِلّٰهِ: په معنیٰ د مَاصَحَّ سره دے۔ او مِنْ وَّلَدٍ کښې (مِنْ) زیات شو چه دا دلالت کوی په نفی د یو او د ډیرو۔

وَإِنَّ اللّٰهَ رَبِّىْ: دا د عیسیٰ ﷺ د کلام تتمه ده چه بیشکه الله زما او ستا رب دے، پدے وجه د هغۀ عبادت کوئ، همدا نیغه لاره ده، څوك چه پدے باندے روان شی هغه به رُشد او هدایت مونده کوی، او څوك چه ددے مخالفت کوی هغه به ګمراه کیږی۔ او دا قول ئے راجدا کړو ځکه چه دا د عیسیٰ ﷺ د نبوت نه روستو خبرے دی او هغه په وړوکوالے کښې وے۔

او دا آیت رد دے په مشرکانو چه عیسیٰ ﷺ خو خپل رب ته دعوت ورکولو او ځان ئے مربوب ګڼړلو نو هغه څنګه اِلٰه کیدے شی۔

فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِنْ بَيْنِهِمْ: اهل کتابو د عیسیٰ ﷺ د حقیقت په باره کښې د هر څه د ښکاره کیدو نه روستو اختلاف وکړو لکه چه مخکښې بیان شو چه یهودو هغه ته جادوګر او د هغه مور ته ئے زانیه (زناکاره) ووئیله (عِيَاذًا بالله) او نصاریٰ د هغۀ په باره کښې په دومره طبقو باندے تقسیم شو چه د هغوی هیڅ شمار نشی کیدے۔ او د هغه کفری عقیدو په وجه ټول د الله په نظر کښې کافران شو۔ پدے وجه الله تعالیٰ د همکی ورکړه او وے وئیل چه د قیامت په ورځ به کله چه هغوی د الله تعالیٰ مخے ته حاضر شی نو هلاکت او تباهی به د هغوی قسمت جوړیږی، او جهنم ته به دیکه کولے شی۔

بخاریؒ او مسلمؒ د عباده بن صامت ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ فرمائی: ((چا چه ګواهی ورکړه چه د الله تعالیٰ نه سویٰ هیڅوك حقدار د بندګئ نشته، د هغۀ هیڅ شریك نشته، او محمد (ﷺ) د هغۀ بنده او رسول دے، او عیسیٰ د الله بنده او د هغۀ رسول دے، او د هغۀ کلمه ده چه مریم ته ئے رااړتولے وه او د هغۀ د طرف نه یو روح دے او جنت حق دے، او جهنم حق دے نو الله تعالیٰ به ئے جنت ته داخل کړی اګرکه ددۀ عمل

هرڅنګه وي))۔ (بخاري:٣٤٣٥) مسلم: (١٤٩)

مَّشۡهَدِ یَوۡمٍ عَظِیۡمٍ: (١) دا صیغه د مصدر ده اَیۡ مِنۡ شُهُوۡدِ یَوۡمٍ۔ د حاضریدو د ورځې لوی نه۔ (٢) یا ظرف دے مَکَان الشُّهُوۡدِ فِیۡهِ۔ ځای د حاضریدو نه په دغه ورځ کښې۔

(٣) یا د ګواهۍ د دغه ورځې نه په دوی باندے۔

اَسۡمِعۡ بِهِمۡ وَاَبۡصِرۡ: د قیامت په ورځ چه د کافرانو کوم حال وی د هغې الله تعالیٰ خبر ورکوی چه کله خلق د حساب او جزا دپاره میدان محشر ته راشي نو د هغوی د آوریدو او لیدلو قوت به د حیرتناك حده پورے تیز وی، او په دنیا کښې د دوی حال دا وو چه نۀ دوی حقه خبره آوریدله، او نۀ د حق لاره دوی ته په نظر راتله، ځکه دوی په حق باندے د ځان پوهه کولو دپاره کله هم د الله په آیتونو او نخو کښې د سوچ او فکر کوشش نۀ دے کړے۔ الله تعالیٰ په سورة السجده آیت (١٢) کښې فرمایلي دي: ﴿وَلَوۡ تَرٰی اِذِ الۡمُجۡرِمُوۡنَ نَاکِسُوۡا رُءُوۡسِهِمۡ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ رَبَّنَاۤ اَبۡصَرۡنَا وَسَمِعۡنَا﴾ (مجرمان به خپل رب ته سر ټیټولو سره وائی، اے ربه زمونږ! مونږ په ښه شان ولیدل او وامو وریدل) لیکن په هغه ورځ لیدل او آوریدل به دوی ته فائده نۀ ورکوی۔ او پدے کښې تولے هغه باطل پرستے ډلے داخلیږی چه د عیسیٰ علیه السلام په باره کښې غلطه عقیده لري۔

وَاَنۡذِرۡهُمۡ یَوۡمَ الۡحَسۡرَةِ اِذۡ قُضِیَ الۡاَمۡرُ وَهُمۡ
او یره ورکړه دوی لره د ورځې د افسوس نه کله چه فیصله به اُوشی د کار (د دوی) او دوی
فِیۡ غَفۡلَةٍ وَهُمۡ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ ﴿٣٩﴾ اِنَّا نَحۡنُ نَرِثُ الۡاَرۡضَ
(اُوس) په غفلت کښې دي او دوی ایمان نۀ راوړی۔ یقیناً مونږ په میراث اخلو زمکه او
وَمَنۡ عَلَیۡهَا وَاِلَیۡنَا یُرۡجَعُوۡنَ ﴿٤٠﴾
او هغه څوك پدے باندے دي او خاص مونږ ته به دوی راګرځولے شي۔

تفسیر: اُوس نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی چه تۀ خلق د هغه ورځې نه اُویروه په کومه ورځ چه به ټول خلق افسوسونه کوی، ګناهګار به خپل ګناهونه رایاد کړی او نیك سړے به دا سوچ کوی چه دۀ ولے زیات نیك کارونه نۀ کول۔

یَوۡمَ الۡحَسۡرَةِ: ١- قیامت ته د حسرت (افسوس) ورځ وائی ځکه چه قیامت کښې د هر چا افسوس شته، هر څوك چه مړ شی هغه پښیمانه کیږی، نیکان به پښیمانه وی پدے

چه ولے ئے زیاته نیکی نۀ کوله او بدان به وائی چه مونږ ولے گناه نۀ پریخوده۔

۲- بِذَبۡحِ الۡمَوۡتِ۔ یعنی مرگ به د گډ په شکل راوستے شی او د جنتیانو او د جهنمیانو ترمینځ به ذبح شی چه اُوس د دواړو ډلو دپاره مرگ ختم۔ نو کافران به دغه وخت افسوس کوی۔ بیا رسول الله ﷺ دا آیت ولوستو (بخاري ومسلم)

او حدیث کښ دی چه (لَيۡسَ يَتَحَسَّرُ اَهۡلُ الۡجَنَّةِ اِلَّا عَلٰى سَاعَةٍ مَرَّتۡ بِهِمۡ مِنۡ غَيۡرِ ذِكۡرِ اللّٰهِ) جنتیان په هیڅ شی افسوس نۀ کوی مگر په هغه وخت باندے چه دوی نه په غیر د ذکر د الله تعالیٰ کښ تیر شویدے۔ (الطبرانی فی المعجم الکبیر (۱٦٦۰۸) و شعب الایمان (۵۰۹) ومسند الشامیین وسنده ضعیف یزید بن یحیی القرشی لیس بقوی قال الذهبی فی المیزان: لاَ یعرف، وقال ابوحاتم: لیس بالقوی) السلسلة الضعیفة (٤٩٨٦)

إِذۡ قُضِيَ الۡأَمۡرُ: په هغه ورځ به د ټولو کارونو فیصله کیږی، حساب به کیږی، عملنامے به راتاؤ کړے شی، او د هر چا مخے ته به کیخودے شی، جنتیان به جنت ته او جهنمیان به جهنم ته اُولیږلے شی، لیکن نن حال دا دے چه په خلقو باندے سخت غفلت طاری دے، په آخرت کښ به د دوی انجام څه وی، ددے هیڅ فکر نشته، بلکه اکثر خلق په آخرت باندے ایمان نۀ لری۔

إِنَّا نَحۡنُ نَرِثُ الۡأَرۡضَ: الله تعالیٰ خبر ورکړیدے چه یوه ورځ به داسے راځی چه په زمکه به موجود تمام مخلوقات فناء کیږی، هیڅوك به باقی پاتے نۀ وی، صرف د الله ذات به پاتی کیږی، هغه به د زمکے او د تمامو مخلوقاتو یواځے وراث وی۔ او بیا به ټول په ټوله دویم ځلی ژوندی کیدو سره د هغهٔ خوا ته راځی۔ او د هغهٔ په حضور کښ به ودریږی او د خپلو عملونو حساب به ورکوی او د نیکئ یا بدئ بدله به مونده کوی۔

دا آیت دلیل دے چه وارث صرف الله تعالیٰ دے او څوك چه دا وائی چه ((الله نبی وارث)) نو دا شرکی کلمه ده۔ لکه دا خبره بار بار تیره شوه۔

وَاذۡكُرۡ فِي الۡكِتَابِ إِبۡرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾ إِذۡ
او یاد کړه په کتاب کښ ابراهیم علیه السلام، یقیناً هغه وو ډیر رشتینے پیغمبر۔ کله چه
قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعۡبُدُ مَا لَا يَسۡمَعُ وَلَا يُبۡصِرُ
اُووئیل هغهٔ پلار خپل ته اے پلاره! ولے بندگی کوے د هغه چا چه نۀ آوری او نۀ وینی

وَلَا يُغْنِيْ عَنكَ شَيْئًا ﴿٤٢﴾ يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي
او نهٔ دفع کولے شي ستا نه څه تکلیف۔ اے پلاره زما یقیناً ما ته راغلے دے د
مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا
علم (پوهے) نه هغه چه نهٔ ده راغلے تا ته نو تابعداري اُوکړه زما، وبه ښایم تا ته لاره
سَوِيًّا ﴿٤٣﴾ يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾
برابره۔ اے پلاره زما بندګي مهٔ کوه د شیطان، یقیناً شیطان د رحمٰن نه نافرمان دے۔

تفسیر: دلته د ابراهیم علیه السلام او د هغهٔ د کافر پلار آزر واقعه بیانیږي۔

پدے واقعه کښې ډیر غرضونه دي (۱) پدے واقعه کښې اسباب د رحمت هم شته چه دعوت الی الله، صدیقیت، هجرت د الله دپاره۔ (۲) ظاهري مقصد پکښې رد د شرك دے چه الله دپاره اولاد مهٔ وایئ او هغه سره شریکان مهٔ جوړوئ۔ ابراهیم علیه السلام یو مشر پیغمبر دے، په بت پرستئ څومره رد کوی تردے چه د پلار نه پرے جدا کیږي۔

(۳) پدے کښې اقتداء د نیکانو هم ده۔ او ددهٔ واقعه ئے په مشرکانو باندے د رد پاره مخکښې راوړه۔

(٤) او پدے کښې رسول الله ﷺ ته تسلي ده چه د مکے د مشرکانو په تکلیفونو صبر کوه ځکه چه د دوی حال د ابراهیم علیه السلام د قوم سره مشابه دے۔ (ابن عاشورؒ)

الله تعالیٰ خپل نبي ته فرمائي: چه کوم خلق ځان ته د ابراهیم علیه السلام اولاد وائي او په هغه باندے فخر کوي، لږ هغوی ته پدے قرآن کریم کښې د هغهٔ واقعه بیان کړه چه د دوی د خپل پلار آزر سره راپیښه شوے وه چه د مکے د بت پرستو په شان بت پرست وو، او ابراهیم علیه السلام ډیر لوئی صدق او صفائي والا او د الله نبي وو۔

صِدِّيقًا نَّبِيًّا: صدیق دا مبالغه ده په صدق کښې ځکه چه ابراهیم علیه السلام د الله د اوامرو په عملي کولو کښې انتهائي رشتیني وو، په هیڅ شان ددے نه نهٔ منع کیدو۔

او هرکله چه هر نبي صدیق وي او هر صدیق کښې دا ضروري نهٔ ده چه هغه به نبي وي نو ددے وجه نه ئے د صدیق نه روستو نبي لفظ زیات کړو۔

يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ: ابراهیم علیه السلام خپل پلار ته د بت پرستئ نه د منع کولو دپاره په ډیر ښائسته ادب سره ووئیل، اے زما پلاره! تهٔ د داسے بتانو ولے عبادت کوے چه نهٔ آوري او نهٔ

وینی، او نهٔ تا ته د نفع او نقصان رسولو قدرت لری۔ یعنی عبادت خو ډیر لوئی تعظیم دے، دا بے ساه بتان خو ددے لائق هم نهٔ دی چه یو عقلمند انسان دے ته څه حیثیت ورکړی۔ بیا تهٔ ولے د دوی عبادت کوے ؟!۔ پدے آیت کښ او لاندینی درے آیتونو کښ دا خبره د فکر قابل ده چه ابراهیم علیه السلام خپل پلار ته د هر نصیحت پیش کولو نه مخکښ (اے زما پلاره ! بابا جی) وئیلی دی، پدے سره مقصد انتهائی درجه نرمی او د محبت ښکاره کول دی، دے دپاره چه د هغه زړهٔ خپل طرف ته رامائل کړی۔ او د الله په حکم باندے عمل کول وو چه ځوی له په هر حال کښ د خپل پلار احترام کول پکار دی۔

وَلَا يُغْنِيْ: نشی دفع کولے ستا نه۔ فائده نشی درکولے۔

يَا أَبَتِ : په اصل کښ يَا اَبِیْ دے، تاء عوض د یاء نه راغلے ده، دا وجه ده چه دواړه نهٔ جمع کیږی۔

يَا أَبَتِ إِنِّيْ قَدْ جَاءَ نِيْ: دوی دوباره په ډیره نرمیٔ او ادب سره خپل پلار لره حق طرف ته راوبللو او وے وئیل اے پلاره ! ما سره یو داسے علم دے چه تا سره نشته دے، پدے وجه ناراضه نهٔ شے او زما خبره اُومنه، دے دپاره چه زهٔ تا په هغه لاره روان کړم چه د اعتدال او انصاف لاره ده، نهٔ پدے کښ افراط شته چه څوك د عبادت مستحق نهٔ دے د هغهٔ عبادت وکړے شی، او نهٔ تفریط شته چه څوك د عبادت مستحق دے، د هغهٔ عبادت پریخودے شی۔ او همدا حال د اخلاقو او اعمالو په باب کښ هم دے چه دا لاره هر ښه اخلاقو او اعمالو طرف ته بوځی او بدو اخلاقو او اعمالو نه ئے لری ساتی۔

او دا هم ښائی چه اگرکه په عام عرف کښ ځوی د پلار تابعداری کوی لکن حقه دا ده چه د حق تابعداری وکړے شی او څوك چه د هدایت محتاج وی هغه د کامل انسان تابعداری وکړی۔ او کله چه کتاب او سنت د چا سره وی نو اگرکه هغه کشر وی د هغه تابعداری به کولے شی۔

مِنَ الْعِلْمِ: د علم نه مراد علم د وحی، علم د توحید او علم د آخرت دے۔ (ابوحیانؒ) او چا سره چه علم د وحی وی نو هغه خلکو ته نیغه لاره خودلے شی۔

فَاتَّبِعْنِيْ : اَیْ فِی الْاِیْمَانِ وَالتَّوْحِيْدِ۔ یعنی زما تابعداری وکړه په ایمان او توحید قبلولو کښ۔

يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ : دریم ځل هم دوی خپل پلار په نرمیٔ او ادب سره مخاطب کړو، لیکن په کومه بت پرستیٔ کښ چه هغه اخته وو د هغے بدی ئے ورته ښکاره بیان کړه

او د هغے نه د منع کولو کوشش ئے وکړو۔ وے وئیل اے پلاره ! تۀ د شیطان عبادت مۀ کوه، یعنی انسان د بت عبادت د شیطان په حکم سره کوی، او شیطان دا کار د هغۀ په نظر کښې ښائسته جوړولو سره پیش کوی، پدے وجه د بت عبادت په حقیقت کښې د شیطان عبادت وی۔ او پدے نهی او انکار کښې د تاکید پیدا کولو دپاره ابراهیم ؑ دا خبره زیاته کړه چه شیطان خو د الله تعالیٰ سرکش او نافرمان بنده دے، پدے وجه ددۀ تابعداری خو په هر حال کښې د الله تعالیٰ نافرمانی ده۔ او نافرمان لائق دے چه د هغۀ نه نعمتونه راښکلے شی او عذابونه پرے نازل شی۔ (فتح البیان)

يَا أَبَتِ إِنِّيۤ أَخَافُ أَنْ يَّمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ فَتَكُوْنَ
اے پلاره زما یقیناً زۀ یریږم ددے نه چه وبه رسی تا ته عذاب د رحمٰن نه نو شے به تۀ
لِلشَّيْطَانِ وَلِيًّا ﴿٤٥﴾ قَالَ أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِيْ يَا إِبْرَاهِيْمُ
د شیطان دوست۔ اُووئیل هغۀ آیا اعراض کوے تۀ د معبودانو زما نه اے ابراهیمه،
لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِيْ مَلِيًّا ﴿٤٦﴾
که منع نشوے (ددے خبرو نه) خامخا په کانړو به اُولم تا او پریده ما ډیره موده۔
قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ
اُووئیل ابراهیم (علیه السلام) سلام دے په تا باندے (لاړم) زردے چه بخښنه به غواړم تا لره
رَبِّيْ إِنَّهٗ كَانَ بِيْ حَفِيًّا ﴿٤٧﴾
د رب خپل نه یقیناً هغه دے په ما باندے ډیر مهربان۔

تفسیر : څلورم ځل هم دوی خپل پلار ته په ښائسته ادب سره آواز وکړو، او ددے نصیحتونو باعث ئے ورته بیان کړو او د بت پرستئ د بد انجام نه ئے ویرولو، او وے وئیل چه که هغۀ ددۀ خبره ونۀ منله نو یره ده چه د الله عذاب به په هغۀ باندے نازل شی ځکه چه خوك چه د الله نافرمانی کوی او د هغه دشمن خپل دوست جوړوی، هغه الله تعالیٰ د خپل رحمت نه لرے کوی لکه څنګه چه د شیطان سره شویدی، بیا به هغه په عذاب او لعنت کښې د شیطان ملګرے او د هغۀ شریك شی۔

إِنِّيۤ أَخَافُ : مفسرین لیکی چه تردے وخته پورے د ابراهیم ؑ یقین نۀ وو چه دے به

په کفر مرشی نو څکه ئے داسے الفاظ استعمال کړل چه زما یره ده چه تا ته به عذاب ورسیږی که توبه دِے ونهٔ ویستله۔

قَالَ اَرَاغِبٌ اَنْتَ : آزر ددے پیغمبری نصیحتونو نه هیڅ اثر قبول نکړو، او په نهایتِ سختئ سره ئے د توحید دعوت سره ډغره ووهله، او دهمکی ورکولو سره ئے ووئیل چه اے ابراهیمه ! آیا ستا زما د معبودانو نه نفرت دے چه ته د دوی عیبونه بیانوے؟! یاد ساته ! چه که ته ددے بدو خبرو نه منع نهٔ شوے، او خپل نصیحتونه دِے بند نکړل نو زهٔ به تا په کانړو سره وولم او هلاك به دِے کړم۔

د لَاَرْجُمَنَّكَ یو دویم مطلب دا هم بیان شویدے چه بیا به زهٔ هم په بدو او قبیحو الفاظو سره تا په تهول قوم کښې مشهور کړم، او گوره غوره دا ده چه ته ما نه لرے لاړ شے مخکښې ددے نه چه ستا صحیح سالم جسم او عزت ته زما د طرف نه نقصان ورسیږی۔ (فتح)

وَاهْجُرْنِیْ مَلِیًّا : دا په مخکښې جمله (لَاَرْجُمَنَّكَ) باندے عطف دے، او عطف د انشائیه په خبریه باندے د سیبویهٔ په نیز جائز دے۔ یا تقدیر داسے دے [لَاَرْجُمَنَّكَ فَاحْذَرْنِیْ وَاهْجُرْنِیْ] زهٔ به دِے په کانړو وولم نو زما نه ویریږه، او ما ډیره موده پریده)۔

اراغب : آزر د ابراهیم علیه السلام ادب لفظ (یَا اَبَتِ) په مقابله کښې (یَا بُنَیَّ) ونهٔ وئیل او د ابراهیم نوم ئے روستو راوړو او خبر ئے په مبتدا باندے مخکښې کړو او په اول کښې ئے ورله همزه د استفهام راوړه دپاره د رټنے او زورنے او تعجب ورکولو۔ دا ئے ډیره سخت زړی وه۔ او بل طرفته موحد د مشرك دپاره هم خیر خواه وی۔

مَلِیًّا: اَیْ زَمَانًا طَوِیْلًا۔ ډیره زمانه۔

ابن عباسؓ ئے معنی کوی : [اِجْتَنِبْنِیْ سَوِیًّا سَالِمًا] ۔ ما نه جدا شه روغ رمټ مخکښې ددے نه چه تا ته زما د طرفنه عذاب ورسیږی) وهو المنقول عن قتادةؒ والحسنؒ مثله۔

(فتح البیان)

قَالَ سَلٰمٌ عَلَیْكَ: ابراهیم علیه السلام د خپل کافر پلار انتهائی سخت جواب آوریدو سره هم په ډیر ادب سره ووتلو او د هغهٔ دپاره ئے د سلامتیا دعا وکړه۔ گویا که دا وئیل ئے غوختل چه اگر که ته ما ته د کانړو ویشتلو او سنگسارولو دهمکی راکوے لیکن زما نه به تا ته هیڅ تکلیف نهٔ رسیږی، زهٔ به د خپل رب نه ستا د بخښنے دعا غواړم، هغه په ما باندے ډیر کرم او رحمت کونکے دے، ما به نهٔ نا امیده کوی۔

مفسرینو لیکلی دی چه ابراهیم علیه السلام د بدئ جواب په نیکئ سره ورکړو لکه چه الله

تعالیٰ د مؤمنانو په صفت کښې بیان کړیدی په سورة الفرقان آیت (٦٣) کښې فرمائی :
﴿ وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا ○﴾ کله چه بی علمه خلق د دوی سره خبرے کوی نو دوی وائی چه سلام دِے وی. (یعنی زهٔ تا سره جګړه کول نهٔ غواړم).
سوال دا دے چه په مشرکانو باندے سلام اچول خو صحیح نهٔ دی نو ابراهیم ﷵ په خپل پلار باندے څنګه سلام اچوی؟
(۱) جواب دا دے چه د ابراهیم ﷵ دپاره به په هغه وخت کښې سلام اچول جائز وو.
(۲) بل جواب دا دے چه سلام په ډیرو معانو سره استعمالیږی، سلام کله په مړو وی هغے ته سلام الدعاء وائی او کله په ژوندو وی هغے ته سلام التحیه وائی، او کله سلام په معنیٰ د مرحبا او هرکلی وئیلو سره وی لکه په سورة الانعام آیت (٥٤) کښې ذکر شویدی ﴿ فَقُلْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ ﴾ . او کله سلام د متارکة (پریخودو) وی. لکه د سورة الزخرف په آخر آیت (۸۹) کښې دی ﴿ وَقُلْ سَلَامٌ﴾ او د سورة الفرقان آیت (٦٣) مخکښې ذکر شو. نو مطلب دا شو چه زما د طرفنه روغ جوړ پاتے شوے، زهٔ به تا ته څه نهٔ وایم.
سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي: مفسرینو دا هم لیکلی دی چه د ابراهیم ﷵ د خپل پلار سره دا وعده چه هغه به د الله نه ددهٔ دپاره بخنه طلب کوی، ددے توقع په بنیاد وه چه هغه به اسلام راوړی او په کفر به نهٔ مری، نو هغه د اُوږدے مودے پورے د هغه دپاره بخنه طلب کوله. شام ته د هجرت کولو، د مسجد حرام جوړولو او د اسحاق او اسماعیل علیهما السلام د پیدائش نه روستو ئے هم د هغه دپاره دعا کوله لکه چه الله تعالیٰ سورة ابراهیم آیت (٤١) کښې فرمائیلی دی : ﴿ رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ○ ﴾
(اے زمونږ ربه ! د قیامت په ورځ ما معاف کړه او زما مور او پلار او ټول مؤمنان هم).
لیکن کله چه هغهٔ ته یقین وشو چه دا د الله تعالیٰ دشمن دے نو د هغهٔ نه ئے خپله بیزاری اعلان کړه لکه الله تعالیٰ په سورة التوبه آیت (١١٤) کښې فرمایلی دی : ﴿ وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ ○﴾ (او د ابراهیم د خپل پلار دپاره د بخنے دعا غوختل صرف د هغه وعدے په سبب وو چه دوی د هغهٔ سره کړے وه، بیا کله چه هغهٔ ته دا خبره راښکاره شوه چه دا د الله دشمن دے نو دوی د هغه نه بیزاری ښکاره کړه، واقعی ابراهیم ډیر نرم زړے او بُردبار او صبرناك وو).
حَفِيًّا : حَفَاوَةٌ او حَفُوَةٌ شفقت او مهربانئ ته وئیلے شی.

وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ وَأَدْعُوْ

او په ډډه کيږم تاسو نه او د هغه چا نه چه رابلئ ئے تاسو سوئ د الله نه او دعا غواړم

رَبِّيْ عَسٰى أَلَّا أَكُوْنَ بِدُعَآءِ رَبِّيْ شَقِيًّا ﴿۴۸﴾

د رب خپل نه امید دے چه نۀ به یم زۀ په دعا د رب خپل بد بخته۔ (محرومه)۔

فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ

نو هرکله چه ډډه ئے اوکړه د دوی نه او د هغه چا نه چه دوی ئے بندګی کوله

مِنْ دُوْنِ اللهِ وَهَبْنَا لَهٗ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوْبَ وَكُلًّا جَعَلْنَا

سوئ د الله تعالیٰ نه، اوبخلو مونږ دۀ ته اسحاق او یعقوب او هریو ګرځولے وو مونږ

نَبِيًّا ﴿۴۹﴾ وَوَهَبْنَا لَهُمْ مِّنْ رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ

پیغمبر۔ او بخلی وو مونږ دوی ته د رحمتونو خپلو نه او ګرځولے وه مونږ دوی لره

لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴿۵۰﴾

ژبه د ثناء (یعنی ذکر نیك) اوچت۔

تفسیر : ابراهیم علیه السلام ووئیل : ستا دا کور او ښار پریدم او بل ځای ته به ځم، او د الله نه سوئ د کومو معبودانو چه تاسو عبادت کوئ زۀ د هغے نه د وړاندے کیدو اعلان کوم، او زۀ صرف د خپل رب عبادت کوم، زما امید دے چه زما رب به زما دعا نۀ ضائع کوی او ما ته به اهل وعیال راکوی چه په غربت کښ به زما د انس او سکون باعث ګرځی۔

بِدُعَآءِ رَبِّيْ شَقِيًّا : په دعاء باندے بدبخته کیدو مطلب دا چه الله تعالیٰ د هغۀ دعاء قبوله نکړی او رد شی، او ددے دعاء نه مراد بچی او اولاد غوښتل وو۔ نۀ د پلار دپاره دعا غوښتل۔

او پدے کښ اشاره ده چه ستاسو معبودان ستاسو دعاګانے نۀ قبلوی، او زما رب زما دعاء قبلوی۔ او دعاء په معنیٰ د عبادت سره هم استعمالیږی، نو زۀ د الله په عبادت باندے بد بخته نۀ یم ځکه چه د الله تعالیٰ په عبادت کښ هر خیر موجود دے، د زړۀ خوشحالی، عزت، دنیا، او جنت پرے ملاویږی۔ او د غیر الله عبادت ټوله بد بختی ده، سترے ستومانه

به وی، بابا ئے را په شا کرے وی په هر څه کښې په دهٔ بوج وی، او د ذرے هومره خیر ورله نشی ورکولے بلکه سبب د جهنم ئے جوړیږی۔

او عسیٰ ئے ووئیله پدے کښې تواضع او عاجزئ ته اشاره ده، او پدے خبره باندے تنبیه ده چه د الله تعالیٰ دعاء قبلول د هغه د طرفنه یو احسان دے، په هغه باندے واجب نهٔ ده۔

فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ : ابراهیم علیه السلام چه کله د الله تعالیٰ د خاطره خپل خاندان، کور او کلے پریخودو او بیت المقدس ته لاړو نو الله تعالیٰ هغهٔ ته د اسحاق په شان ځوی او د یعقوب په شان نمسے ورکړو، دواړه په روستو زمانه کښې نبیان شو، او د دوی په موندلو سره د هغهٔ یواځے والے لرے شو او د سترګو یخوالے ورته نصیب شو۔

او ددے ځای نه هغه حدیث معلومیږی : [اِنَّكَ لَاتَدَعُ شَيْئًا اتِّقَاءَ اللّٰهِ اِلَّا اَعْطَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا مِنْهُ] السنن الکبری للبیهقی (۱۱۸۱۰) وابن ابی شیبة (۹۹۵) بسند صحیح)

(تهٔ د الله د یرے د وجه نه یو شے نهٔ پریدے مګر الله به تا ته د هغے نه ضرور غوره درکوی)

نو مشرك پلار ئے پریخودو الله تعالیٰ ورته انبیاء بچی ورکړل۔

وَوَهَبْنَا لَهُمْ : اُوس الله تعالیٰ د هغه بچو فضیلتونه بیانوی، یعنی ټولو ته یعنی ابراهیم، اسحاق او یعقوب علیهم السلام ته الله د خپل فضل او کرم او د خپل رحمت پوره حصه ورکړه، نبوت ئے ورکړو، نیکان اولاد ئے ورکړل، رزق ئے ورکړو، او د بیت المقدس د زمکے مالکان ئے جوړ کړل، او د عالَم په قومونو کښې ئے دوی ته نیك نوم ورکړو، لهذا تمام ملتونو او دینونو والا د ابراهیم علیه السلام او د هغهٔ د اولادو تعریفونه او صفات کوی او هغوی ته خپل نسبت کوی۔ (القاسمیؒ)

مِنْ رَّحْمَتِنَا: د رحمة نور مصداقات (۱) په دین باندے استقامة (مضبوطوالے) (۲) اَلتَّعَلُّقُ بِاللّٰهِ۔ د الله سره تعلق ساتل۔ (۳) اَلْمَالُ وَسَعَةُ الرِّزْقِ۔ مالونه او فراخه رزقونه۔

او د نبوت نه روستو ئے رحمة ذکر کړو، اشاره کوی چه نبوت د الله یو رحمت دے چه چا ته ئے ورکړی۔

د بخاریؒ او مسلمؒ صحیح حدیث دے چه نبی کریم ﷺ نه تپوس وشو چه د ټولو نه ښه خلق کوم دی ؟ نو هغه وفرمایل : یوسف نبی الله بن یعقوب نبی الله بن اسحاق نبی الله بن ابراهیم خلیل الله۔ په یو بل روایت کښې دی : ((کریم (یعنی عزتمند) بن کریم بن کریم بن کریم یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم دے))۔ (بخاری : ٤٦٨٨)

لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا : ۱- حُسْنُ الشُّهْرَةِ ۔ ښائسته شهرت۔ ۲- اَلثَّنَاءُ الْجَمِيْلُ۔ ښائسته

صفتونه ئے تول خلك کوی۔ او صدق او عَلِیًّا صفتونو راوړو کښې اشاره ده چه د دوی کوم صفتونه کیږی نو دوی ددے مستحق دی، او د دوی مجاهدے د هیچا نه پټے نهٔ دی۔ (القاسمیؒ) او پس د مرګ نه ښائسته شهرت او صفتونه د الله تعالیٰ د طرفنه یو لوی فضیلت وی چه په خلکو کښې په ښهٔ صفاتو یادیږی۔

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مُوْسٰى إِنَّهُ كَانَ مُخْلَصًا وَّكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿٥١﴾
او یاد کړه پدے کتاب کښې موسیٰ علیه السلام یقیناً وو هغهٔ غوره کړے شوے او وو رسول نبی۔
وَنَادَيْنَاهُ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ الْأَيْمَنِ وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا ﴿٥٢﴾
او آواز کړے وو مونږ دهٔ ته د ښی طرف د طور غر نه او نزدے کړے وو مونږ دهٔ لره رازدار۔
وَوَهَبْنَا لَهُ مِنْ رَّحْمَتِنَا أَخَاهُ هَارُوْنَ نَبِيًّا ﴿٥٣﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ
او بخلے وو مونږ دهٔ ته د رحمت خپل نه ورور ددهٔ هارون نبی۔ او یاد کړه پدے کتاب کښې
إِسْمَاعِيْلَ إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿٥٤﴾ وَكَانَ يَأْمُرُ
اسماعیل (علیه السلام) یقیناً هغهٔ وو رشتینے وعدے والا او وو رسول نبی۔ او دهٔ به حکم کولو
أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا ﴿٥٥﴾
خپل اهل ته په مانځه او زکوٰة او وو دے په نیز د رب خپل غوره کړے شوے۔

تفسیر : د ابراهیم علیه السلام نه روستو اُوس د موسیٰ علیه السلام غوره تذکره کیږی۔ چه ددهٔ مرتبه او مقام هم د الله تعالیٰ په نظر کښې ډیر اُوچت وو۔ الله تعالیٰ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته فرمائی چه تهٔ په قرآن کریم کښې د موسیٰ بن عمران علیهما السلام متعلق آیتونه هم د خلقو مخے ته تلاوت کړه۔ ځکه چه مونږ دوی هم د پیغمبریٔ او د خپل کلام دپاره چانړ کړی وو، لکه چه الله تعالیٰ په سورة الاعراف آیت (١٤٤) کښې فرمایلی دی : ﴿ إِنِّي اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ ﴾ (ما تهٔ د خلقو په مقابله کښې چانړ کړے ئے)۔ الله تعالیٰ ورسره د ملائك رالیږلو نه مخکښې خپله خبرے کړے وے۔ (ابن عاشورؒ)

مُخْلَصًا : دا په یو قراءت کښې په زیر د لام سره هم لوستلے شویدے، نو مطلب به دا وی چه دوی هم خپل عبادت زمونږ دپاره خالص کړے وو۔ او هغه هم زمونږ رسول او نبی وو، مونږ په هغه کښې هم دواړه صفتونه جمع کړی وو۔ دا هم د پنځه لوئی اولوا العزم

رسولانو نه یو وو۔ رسول هغه وی چه هغه ته کتاب ورکړے شوے وی، او نبی هغه وی چه هغه باندے وحی نازلیږی او د الله د طرفنه خپل امت ته پیغام رسوی لیکن هغه ته کوم جدا کتاب نهٔ وی ورکړے شوے۔ (نیسابوریؒ)

الطُّوْرِ الْأَيْمَنِ: یعنی هغه طور د موسیٰ علیه السلام ښی طرفته وو۔ یعنی په لاره روان وو نو د ښی طرف نه ورته آواز وشو۔

وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا: موسیٰ علیه السلام د مدین نه په واپسئ کښې د طور غر په خوا کښې تیر شو، هلته دوی ته د اُور ضرورت راپیښ شو، وے لیدل چه غر طرف ته یوه ونه وه چه د هغے د مینځ نه آواز راغلو چه اے موسیٰ! زهٔ الله یم۔ نو الله تعالیٰ دے نزدے کړو او دهٔ سره ئے خبرے اترے وکړے او بغیر د واسطے د وحی نه الله تعالیٰ دهٔ ته خپلے خبرے آورولے، او دهٔ د الله خبرے آوریدلے، بل چا نهٔ آوریدے لکه ټیلیفون کښې چه خبرے کیږی بل څوك ئے نهٔ آوری۔

أَخَاهُ هَارُوْنَ نَبِيًّا: موسیٰ علیه السلام د خپل رب نه سوال کړے وو ﴿وَاجْعَلْ لِّيْ وَزِيْرًا مِّنْ اَهْلِيْ ۝ هَارُوْنَ اَخِيْ ۝﴾ (طه: ۲۹) چه ما ته زما ورور هارون خپل وزیر جوړ کړه نو الله تعالیٰ هغه هم د خپل رحمت نه نبی جوړ کړو۔ لکه الله ورته وفرمایل: ﴿قَالَ قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ يَا مُوْسٰى ۝﴾ (اے موسیٰ! ستا غوختنه پوره کړے شوه)۔ (طه: ۳۶)۔

پدے واقعه کښې هم ډیر فوائد دی (۱) الله تعالیٰ پیغمبران رالیږی نو دا نبی (محمد رسول الله ﷺ) څه نوے نبی نهٔ دے۔ (۲) الله تعالیٰ خبرے لری۔

(۳) بعض بندګان د هغوی د تقویٰ د وجه نه ځان ته زیات نزدے کوی۔

(٤) په عبادتونو کښې اخلاص ډیر اُوچت صفت دے۔

(٥) الله تعالیٰ رحم والا دے په هر چا باندے رحم کوی لکه څنګه ئے چه په دغه پیغمبرانو کړیدے۔ نو تهٔ هم دعا کوه الله تعالیٰ به دربانداے ناشنا رحمتونه کوی۔

(٦) پکار ده چه ورور د ورور دغه شان خیر خواهی وکړی۔

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ: بله واقعه د اسماعیل علیه السلام بیانیږی پدے کښې دعوت وی ددے انبیاؤ د صفتونو په شان صفتونو پیدا کولو طرفته، دے دپاره چه په بنده باندے د الله تعالیٰ خصوصی رحمتونه وشی۔

كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ: رشتینے وعدے والا هر نبی وی لیکن په اسماعیل علیه السلام کښې په خصوصی طور سره موجود وو۔ کله چه به ئے کوم انسان سره کومه وعده کوله نو په هر

حال کښې به ئې هغه پوره کوله. او د تولو نه لويه او خطرناکه وعده د خپل ځان د قرباني کولو متعلق ئې د خپل پلار ابراهيم ﷺ سره وکړه او ويې وئيل : ﴿سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ﴾ (ته به ما ان شاء الله د صبر کونکو نه مونده کړې). (الصافات:١٠٢).

او په يو روايت کښې دي چه اسماعيل ﷺ يو چا سره وعده کړې وه نو په هغه ځای کښې ئې ورته يوه مياشت (يا دوه ويشت ورځې) پورې انتظار کړې وو. او هغه شخص نه هير شوی وو بيا د هغې نه روستو راغې (الصمت لابن ابی الدنيا رقم ٤٥٨)

او په حديث د ابوداود کښې دی : عبد الله بن ابی الحمساء ﷺ وائی چه ما د رسول الله ﷺ سره د هغه د نبوت نه مخکښې څه بيعه وکړه او د هغه راباندې څه بقايا پاتې شوه ما ورسره وعده وکړه چه زۀ به ئې په فلانی مکان کښې تا ته راوړم نو ما نه هير شو بيا مې درې ورځې روستو راياد شو نو چه راغلم رسول الله ﷺ په همغه ځای کښې ناست دې، نو ما ته ئې ووېل :

(يَا فَتَى لَقَدْ شَقَقْتَ عَلَيَّ أَنَا هٰهُنَا مُنْذُ ثَلَاثٍ أَنْتَظِرُكَ) اې ځوانه ! تا خو په ما باندې ډير تکليف راوستو زۀ دلته د درې ورځو نه ستا انتظار کوم.

(سنن ابی داود : ٤٩٩٨ وسنده ضعيف لاجل عبد الکريم بن عبد الله بن شقيق وهو مجهول (البانی)

دا که مونږ وې نو مونږ به څومره بهانې کولې او دا به مو وئيلې چه زمونږ نه ئې ډير عبادتونه خراب کړل مگر د وعدې په پابندئ کښې که ستا نه نفلی عبادت هم خراب شي خير دې، فرضي مونځ له څه او بيرته خپل د وعدې ځای ته حاضری ورکوه.

رَسُولًا نَّبِيًّا: دۀ ته خو مستقل کتاب نۀ وو ورکړې شوې، ليکن بعض مفسرين وائی چه دۀ ته ئې رسول پدې وجه ووئيلو چه دا ابراهيم ﷺ د بنو جُرهم قبيلې دپاره راليږلې وو چه دوی ته به د دين دعوت کوی. چه دا د يمن د عربو قبيله وه او د اسماعيل ﷺ د مور په اجازه په مکه کښې پاتې شوی وو.

وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ : د اهل نه مراد دلته د هغه ټول امت وو، او اهل ئې ورته ځکه ووېل چه دوی وړوکې قوم وو لکه مور، ځامن او د بنو جُرهُم نه سخرانه ئې وه، بيا روستو د عربو امت د هغه په اولاد کښې راغلې دې نو هغه هم د هغه اهل دی، او د هغه په شريعت کښې مونځ او زکاة او نور د دين حنيف کارونه وو کوم چه ددۀ د پلار ابراهيم ﷺ ملت وو.

(ابن عاشورؒ)

عِندَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا : د الله په نيز غوره کړې شوې وو. ١- أَيْ زَاكِيًا صَالِحًا . يعنی پاك،

نیك عمله. ۲- قَائِمًا لِلّٰهِ بِطَاعَتِهٖ. د الله دپاره د هغه په طاعت مضبوط ولاړ وو.

۳- یا د نبوت او رسالت دپاره ئے غوره کړے وو. او دا انتهائی کامل صفت دے ځکه چه د الله په نیز غوره کړے شوے انسان هغه وی چه په هر طاعت باندے په اعلیٰ درجاتو سره کامیاب وی. (فتح البیان)

نو پدے واقعه کښې هم د الله تعالیٰ د رحمت د حاصلولو اسباب ذکر شو.

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴿٥٦﴾ وَرَفَعْنَاهُ
او یاد کړه پدے کتاب کښې ادریس، یقیناً وو دے رشتینے نبی. اوپورته کړے وو مونږ دهٔ لره
مَكَانًا عَلِيًّا ﴿٥٧﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ
مرتبے اُوچتے ته. دا هغه کسان دی چه احسان کړیدے الله تعالیٰ په دوی باندے د
النَّبِيِّينَ مِنْ ذُرِّيَّةِ آدَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ
پیغمبرانو نه د اولاود د آدم (علیه السلام) نه دی او د هغه چا نه چه سوارهٔ کړی وو مونږ د نوح سره
وَمِنْ ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْرَائِيلَ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا
او د اولادو د ابراهیم او د یعقوب نه وو او د هغه خلقو نه چه هدایت ورته کړے وو مونږ
وَاجْتَبَيْنَا إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ
او غوره کړی وو مونږ، هرکله چه به لوستلے شو په دوی باندے آیتونه د رحمٰن
خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا ﴿٥٨﴾ (س) فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ
نو پریوتل به سجده کونکی او ژړا کونکی. نو راغلل روستو د دوی نه ناکاره نائبان
أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿٥٩﴾
چه برباد ئے کړو مونځ او روان شو د خواهشاتو پسے نو زر دے چه ملاؤ به شی سزا د سرکشئ سره.

تفسیر: سیوطیؒ په ((التحبیر)) کښې لیکی چه دهٔ نسب داسے دے : ادریس بن شیث بن آدم (علیه السلام). دهٔ خپل نوم اخنوخ وو. او ځینی وائی چه دا د نوح (علیه السلام) د پلار نیکهٔ وو. ځکه د نوح (علیه السلام) نسب داسے دے : نوح بن لامك بن متوشلخ بن اخنوخ. (الثعلبی وغیره)

او امام بخاريؒ په خپل صحيح كښې په كتاب الانبياء كښې پدې خبره جزم كړيدے چه ادريس د نوح الطّيْلا نيكه يا د هغه د پلار نيكه وو۔ (ابن عاشورؒ وفتح البيان)

او بعض علماؤ وئيلي دي چه ادريس دا بعينهٖ الياس الطّيْلا دے، او دا د بني اسرائيلو پيغمبر دے۔ او دا خبره امام بخاريؒ د ابن مسعود او ابن عباس ﷺ نه نقل كړيده۔ (المنار)

او ابن جرير الطبريؒ وغيره دا خبره رد كړيده او د اولے خبرے تائيد ئے ذكر كړيدے

(المحرر الوجيز لا بن عطيةؒ)

او ځينې مفسرين وائي چه دا ادريس بن يرد بن مهلائيل بن قينان بن انوش بن شيث بن آدم عليه السلام دے۔ (الدر المنثور)

ابن عاشورؒ ليكي چه د يونان والو په نيز ددهٔ نوم (هرمس) دے، او د مصريانو په نيز (توت) يا (تحُوتي) يا (تهوتي) د لهجو په فرق سره۔

او ادريس اول هغه شخص دے چه د ښاريو د آبادئ بنياد، او د علم قواعد او د تربيت قواعد ئے وضع كړيدي۔ اول هغه شخص دے چه قلم باندے ئے ليكل كړيدي، او په نجوم باندے ئے حساب كړيدے، او د ستورو د گرځيدو قواعد ئے بيان كړيدي، او په اُور باندے ئے ځيزونه جوړ كړيدي، نو ددے وجه نه دهٔ ته د علم الكيمياء نسبت كيږي او اول ئے خلكو ته د كنډلو چل خودلے دے، او اول ئے وسله جوړه كړيده او د كفارو سره ئے جنگ كړيدے، پدے وجه دے د علومو، او د حضارت او د عقلي انتظامانو (پروگرامونو) اولنے باني دے۔

(ابن عاشور وفتح البيان) والله تعالىٰ اعلم۔

وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا : ددے اُوچت ځاى نه مراد (١) اُوچتوالے د مرتبے دے په نيز د الله تعالىٰ او د هغے اندازه الله تعالىٰ ته معلومه ده۔ او دهٔ ته ئے د نبوت شرافت وركړے او د خپلو مقربو بندگانو نه ئے گرځولے وو۔ (٢) يا ددے نه مراد ليدل د رسول الله ﷺ دي هغه لره په شپه د معراج كښې په څلورم آسمان كښې، چه هغے ته الله تعالىٰ د رسول الله ﷺ د ملاقات دپاره پورته كړے وو۔ او د مجاهدؒ نه نقل دي چه ادريس الطّيْلا د عيسىٰ الطّيْلا په شان ژوندے څلورم آسمان ته پورته كړے شويدے۔ (فتح البيان) اول قول غوره دے۔

او ددهٔ په باره كښې چه نورے كومے قصے مشهوري دي چه دهٔ د ملك الموت سره دوستي اچولے وه او هغه اول اُور ته ښكاره كړو او بيا ئے جنت ته بوتللو نو بيا د جنت نه نهٔ راوتلو او اُوس په جنت كښې د جنتيانو دپاره جامے گنډي۔

يا د كعب الاحبارؒ نه نقل دي چه يو ملائك ددهٔ ملاقات له راغلو نو دهٔ ورته ووېل چه ما د

ملك الموت نه خلاص کړه، هغه ووېل چه زۀ به ستا په باره کښې خبره وکړم، نو ملائك د دواړو وزرو په مینځ کښې کینولو او آسمان ته ئې پورته کړو ملك الموت ورته ووېل چه ما ته ستا حاجت معلوم دے، د ادريس خو وخت پوره دے، نو ملك الموت ترے په همغه ځای کښې د ملائك د وزرو په مینځ کښې ساه واخسته او وفات شو۔ (اخرجه ابن ابی حاتمؒ)

نو دا د بنی اسرائیلو قصے دی چه د انبیاء علیهم السلام بی ادبی ئې پکښې کړیده۔

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ: اُوس الله تعالىٰ پدے آیتونو کښې زمونږ د اقتداء دپاره ددے انبیاء کرامؑ صفات بیانوی۔ د زکریا علیه السلام نه واخله تر ادریس علیه السلام پورے چه کوم انبیاء کرام پدے سورت کښې ذکر شویدی، هغوی ته اشاره ده چه الله تعالىٰ هغوی ته ډیر دنیوی او دینی نعمتونه ورکړی وو۔ دا انبیاء کرام، د آدم، ابراهیم او یعقوب علیهم السلام د اولادو نه وو،

(دا قیدونه ورسره ځکه وائی چه اشاره کوی چه دا د نوے زمانے او زړے زمانے والا خلك وو او ټول یو شان انسانان وو او ټولو د الله تعالىٰ حقوق ادا کړی وو او د الله تعالىٰ بندګی ئې کړے وه نو اے موجوده امته! تاسو به هم د دوی په شان کار کوئ چه په تاسو رحم او نعمتونه وشی)۔

وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا: دے ټولو ته مونږ د حقے لارے هدایت کړے وو، او د نبوت په شان لوئی مقام او مرتبے دپاره مو چانړ کړی وو، او دے خلقو چه به کله د الله تعالىٰ کلام آوریدو چه په هغے کښې به د توحید دلائل او د نصیحت نورے خبرے وے، نو الله ته به په سجده پریوتل او د ډیرے خشوع او خضوع په وجه به ئې ژړل۔ او د الله تعالىٰ د کتاب نه به ئې فائده اخسته۔ حافظ ابن کثیرؒ وائی: د علماؤ اجماع ده چه ددے انبیاء کرامو په اتباع کښې ددے آیت د تلاوت نه روستو سجده کول مشروع او مستحب دی۔

فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ: تردے ځای پورے د انبیاء کرامو علیهم السلام فضائل او محاسن (ښائسته صفات) ذکر شو، دے دپاره چه خلق د دوی اتباع وکړی او د دوی لاره خپله کړی۔ اُوس هغه خلق ذکر کیږی چه د انبیاء کرامو نه روستو راغلل او د هغوی په نقش قدم باندے روان نشو، د هغوی دعوت ئې شاته ګوزار کړو، او مونځونه ئې ضائع کړل۔

أَضَاعُوا الصَّلَاةَ: (۱) د مونځ ضائع کول دا دی چه مونځونه بیخی پریدی۔ (۲) هغه د خپل وخت تیریدو نه روستو کوی۔ (۳) د جَمعے پریخودل۔ (٤) خشوع او ادب د مانځه پریخودل۔ (٥) یا د هغے ضروری ارکان او یا شرطونه پریخودل، او چا چه مونځ بالکل

پریخودو یا د هغے نه ئے انکار وکړونو هغه په درجه اولیٰ ددے آیت په حکم کښې داخل دی۔ د مفسرینو ترمینځ اختلاف دے چه پدے آیت کریمه کښې د مونځ ضائع کونکو نه کوم خلق مراد دی؟۔ چا وئیلی دی : یهودیان مراد دی۔ او چا وئیلی دی : نصاریٰ مراد دی۔ او مجاهدؒ وئیلی دی چه ددے نه مراد د امت محمدیه هغه خلق دی چه په آخری زمانه کښې به راځی، د حیواناتو په شان به په لارو کښې په یو بل باندے سورېږی، نۀ به د انسانانو نه شرمیږی، او نۀ به د الله نه یریږی۔ د خپل نفس د خواهشاتو تابعداری به کوی، په ګناهونو کښې به ډوب شوی وی، شراب به څکی، د دروغو ګواهی به ورکوی، حرام به خوری، په لهو ولعب کښې به مشغول وی او فسق او فجور به کوی۔ دا خلق به ډیر خراب او بد جانشین وی، د دوی انجام به ډیر خراب وی۔

وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ: د شهواتو اتباع څه شے ده ؟ نو علی بن ابی طالب ﷺ فرمائی : [مَنْ بَنَى الْمَشِيْدَ وَرَكِبَ الْمَنْظُوْرَ وَلَبِسَ الْمَشْهُوْرَ] لوی لوی آبادیانے کول او داسے اسونو او ګاړو باندے سوریدل چه هغے ته خلك په اُوچته سترګه ګوری، او داسے جامے اغوستل چه (ناشنا وی) خلك ئے صفت کوی۔ (یعنی لباس د شهرت) او پدے کښې نور شهوات هم داخل دی لکه زنا، غلا او ټول د دنیا څیزونه۔ (القرطبیؒ)

فائده : کوم انسان چه پوره بندګی کول غواړی نو هغه نه به ډیر شهوات پاتے کیږی لکه مثلًا چه یو انسان پنځه وخته پابندئ سره مونځ کوی نو هغه نه به ډیر شهوات پاتے وی، چرته به چکر نشی وهلے، د ښځے خواله به نشی ورتللے، د مونځونو په نزدے وختونو کښې به کوم کار ته نۀ وځی چه مونځ ترے خراب نشی، لنډه دا چه د شهواتو حاصلولو سره پوره عبادات نشی کیدے۔

يَلْقَوْنَ غَيًّا : د غی یوه معنیٰ د شر ده یعنی زر دے چه دوی به د شر سره ملاو شی۔ یعنی بد انجام سره۔ یا ((غی)) په جهنم کښې یو کوهے، یا یوه کنده ده یعنی د قیامت په ورځ به داسے خلق د جهنم دغه کوهی یا کندے ته ګوزارلے شی۔ یا غی ګمراهئ ته وائی۔ یا تاوان او نا امیدئ او هلاکت ته وائی۔

إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُوْنَ
مګر هغه څوك چه توبه ئے اُوویستله او عمل ئے وکړو نیك نو دغه کسان داخلیږی به

الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْئًا ﴿٦٠﴾ جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي
جنت ته او ظلم به نشی کیدے په دوی باندے هیڅ قسم۔ جنتونه د همیشه اُوسیدو هغه
وَعَدَ الرَّحْمٰنُ عِبَادَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّهُ كَانَ وَعْدُهُ
چه وعده ئے کړیده رحمٰن د بندګانو خپلو سره په غیب باندے یقیناً ده وعده د الله
مَأْتِيًّا ﴿٦١﴾ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا إِلَّا
راتلونکے۔(پوره کړے شوے)۔ نهٔ به آورئ په هغے کښې فضول خبرے لیکن آورئ به
سَلَامًا وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴿٦٢﴾ تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي
سلامونه او دوی لره به رزق د دوی وی په هغے کښې صبا او بیګاه۔ دا هغه جنت دے
نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴿٦٣﴾
چه په میراث کښې ئے ورکوو مونږ د بندګانو خپلو نه هغه چا ته چه تقویٰ دار وی۔

تفسیر : یعنی ددے بدو جانشینو نه چه کوم خلق توبه وباسی او د مونځونو حفاظت کوی، د خواهشاتو غلامی پریدی، او د عمل صالح ژوند اختیار کړی، الله تعالیٰ به دوی د خپلو سلفو صالحینو سره جنت ته داخلوی، او د دوی نیك اعمال به معمولی شان هم نهٔ ضائع کوی، ځکه توبه مخکنی ګناهونه ختموی، او هغه جنت چه هغے ته به دوی داخلیږی د هغے نوم (جنت عدن) دے چه د هغے وعده الله تعالیٰ د خپلو هغه بندګانو سره کړیده چه د هغهٔ په حق ذات باندے بغیر د لیدلو نه ایمان لری۔

جَنَّاتِ عَدْنٍ : دا بدل دے د (الْجَنَّة) نه ځکه چه (الجنة) د ټولو جنتونو نوم دے او د عدن جنت پکښې بعض حصه ده۔

إِنَّهُ كَانَ وَعْدُهُ مَأْتِيًّا : یعنی دا مهٔ وایه چه جنت یو غائب شے دے، ملاؤ به شی او که نهٔ، نو الله تعالیٰ د زیات تاکید دپاره فرمائی چه د الله تعالیٰ دا وعده به ضرور پوره کیږی، پدے کښې د شك کولو هیڅ ګنجائش نشته دے۔

(انه) دا ضمیر رحمٰن ته راجع دے۔ یا ضمیر شان دے۔ ځکه چه دا مقام د تعظیم او تفخیم دے۔

مأتی اسم مفعول دے یعنی داسے وعده ده چه دے ته راتلل کیدے شی یعنی الله به ورته

ضرور راتلل کوی او دا به پوره کوی۔

لَايَسْمَعُوْنَ : د جنتیانو نور صفات : یعنی جنتیان به هیڅ فضول او لغوه خبرے نهٔ آوری بلکه ملائك به دوی ته سلامونه کوی، یا خپل مینځ کښې به یو بل بانـدے سلام کوی۔ لکه چه الله تعالیٰ په سورة الواقعه آیت (۲۶/۲۵) کښې فرمایلی دی : ﴿ لَايَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّلَا تَأْثِيْمًا ○ اِلَّا قِيْلًا سَلَامًا سَلَامًا ○﴾ نهٔ به هلته بکواس آوری او نهٔ د گناه خبره، صرف سلام سلام آوازونه به وی)۔

اِلَّا سَلَامًا : یعنی دوی به همیشه په نعمتونو کښې وی او د سلامتیا خبرے به آوری او هیڅکله به د مصیبت او خفگان خبره وانهٔ وری، لکه دنیا کښې چه یو تن په نعمت کښې وی ناڅاپه د خفگان خبره واوری، نو هغه نعمت پرے گډوډ شی، جنتیان به داسے نهٔ وی۔

یا استثناء منقطع ده اَیْ لٰكِنْ سَلَامُ بَعْضِهِمْ عَلٰی بَعْضٍ ۔ یعنی لیکن سلام د بعضو به وی په بعضو بانـدے۔

وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيْهَا : یعنی هر وخت به دوی ته د دوی د خوښے مطابق خوراك ملاویږی۔ د صبا او بیگاه نه مراد هر وخت دے۔

تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ : الله تعالیٰ فرمائی چه دا به هغه جنت وی چه مونږ ئے خپل هغه بندگانو ته ورکوو چه تقویٰ والا وی، په خوشحالئ او په غم هر حال کښې زمونږ تابعدار وی، غصه خوری، او خلقو ته معافی کوی، لکه چه الله تعالیٰ په سورة المؤمنون ابتدائی آیتونو کښې د مؤمنانو صفاتو ذکر کولو سره فرمایلی دی : ﴿ قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴾ او په آخر کښې ئے فرمایلی دی : ﴿ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوَارِثُوْنَ الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيْهَا خَالِدُوْنَ ﴾ د کومو مؤمنانو چه په تیر شوی آیتونو کښې صفات بیان شویدی دا خلق به د فردوس وارثان جوړیږی چه په هغے کښې به همیشه وسیږی۔

بیا ادنیٰ درجه تقویٰ دا ده چه انسان د شرك او د کفر نه بچ شی۔ دا به هم په اتفاق د مسلمانانو سره جنت ته داخلیږی په یو وخت د اوقاتو کښې، کله چه الله تعالیٰ وغواړی۔ او اعلیٰ تقویٰ دا ده چه انسان د کفر، شرك او کبیره گناهونو نه ځان وساتی او په واجباتو او مستحباتو بانـدے راتلل کوی۔

وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ لَهٗ
او (ملائك وائی) نهٔ نازلیږو مونږ مگر په حکم د رب ستا، د هغه په اختیار کښې دی

مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا
هغه څه چه مخکښې دی زمونږ نه او هغه چه روستو دی زمونږ نه او هغه څه چه
بَيْنَ ذَٰلِكَ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا﴿٦٤﴾ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ
په مینځ ددے کښې دی او نۀ دے رب ستا هیره ونکے۔ رب د آسمانونو او د زمکے دے
وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ
او د هغے چه په مینځ د دواړو کښې دی نو بندګی خاص کړه هغه لره او صبر کوه
لِعِبَادَتِهِ هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا ﴿٦٥﴾
دپاره د بندګئ د هغه آیا پیژنے تۀ هغه لره همنامے (هَم صفتے)۔

تفسیر : (۱) په آیت کښې د ملائکو د عاجزئ بیان دے دپاره د رد د شرك في العبادة او رد د مشرکین بالملائکه والجن، چه ملائکو ته بغیر د اجازت نه چرته د تللو اختیار نشته نو نور اولیاء به د څه اختیار ولری۔ (۲) دویمه وجه د ربط دا ده چه دلته الله تعالیٰ د انبیاء علیهم السلام پسے د ملائکو تذکره ځکه وکړه چه دلته الله تعالیٰ مونږ ته دعوت راکوی چه تاسو تشبه بالملائکه وکړئ، یعنی د ځان نه داسے متقیان جوړ کړئ لکه د ملائکو په شان، دے دپاره چه جنت درکړی، د ملائکو کار څه دے؟ هغه د الله تعالیٰ د امر تابعداری ده، لکه مخکښې آیت کښې راغلل چه متقیانو ته به جنت ملاویږی او متقی هغه چا ته وائی چه د الله د امر تابعدار وی لکه د ملائکو په شان۔

شان نزول

ددے آیت شان نزول دا دے چه څه ورځو دپاره د وحی نازلیدل بند شو، نو رسول الله ﷺ پریشانه شو۔ دے نه روستو چه کله جبریل علیه السلام نبی ﷺ ته تشریف راوړو نو نبی ﷺ هغه ته ووئیل [مَا يَمْنَعُكَ اَنْ تَزُوْرَنَا اَكْثَرَ مِمَّا تَزُوْرُنَا] چه تۀ مونږ ته ډیر ولے نۀ راځے؟ (مونږ ستا د ملاقات زیات شوق لرو) نو دا آیت نازل شو۔ او الله تعالیٰ جواب وکړو د طرفه د ملائکو نه چه اے جبریله! تۀ داسے ووایه ﴿وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ﴾۔ امام احمدؒ، امام بخاریؒ او نورو محدثینو د ابن عباس رضی الله عنه نه همدا روایت کړیدے۔

(بخاری فی التفسیر سورة ۱۹، باب ۲ والتوحید باب ۲۸)

د آیت مطلب د جبریل ﷺ په ژبه دا دے چه اے محمده (ﷺ) ! مونږ ملائك زمکے ته یا د یو آسمان نه بل آسمان ته ستا د رب د حکم نه بغیر نهٔ راکوزیږو، الله تعالیٰ مونږ ته دا اختیار نهٔ دے راکړے چه هرچرته بغیر د اجازت نه لاړ شو لکه د انسان چه ډیر حده پورے دا اختیار شته۔ د هغهٔ علم هر شی لره راګیرونکے دے۔ هیڅ شے د هغهٔ نه پټ نهٔ دے، یوه ذره هم د هغهٔ د نظر نه غائبه نهٔ ده، مونږ هر کار د هغهٔ د اجازت نه روستو کوو۔

پدے وجه زما ستا خوا ته نهٔ راتلل، د هغهٔ د حکم نهٔ کیدو په وجه سره وو، ددے سبب دا نهٔ دے چه الله تعالیٰ تهٔ هیر کړے ئے، یا ئے تا له پریخے وو۔ لکه چه الله تعالیٰ په سورة الضحیٰ کښې فرمایلی دی :﴿مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ۝﴾ نهٔ تا لره رب پریخے دے او نهٔ ستا نه بیزاره شویدے۔

بِأَمْرِ رَبِّكَ: د امر نه حکم شرعی او حکم کونی دواړه مراد کیدے شی۔

مَا بَيْنَ أَيْدِينَا : ۱- ددے نه مراد د دنیا حالات دی او مَا خَلْفَنَا نه مراد د آخرت حالات دی۔ او مَا بَيْنَ ذٰلِكَ هغه ځلوېښت کاله دی چه د دوو شپیلو ترمینځ به راځی۔ (سعید بن جبیرؒ)

۲- یا مخکنی او روستنی ټول حالات او مکانات مراد دی، یا تیرے شوے زمانے او راتلونکے زمانے او ددے ترمینځ۔

۳- مَا بَيْنَ أَيْدِينَا آسمان دے او مَا خَلْفَنَا زمکه ده، او مَا بَيْنَ ذٰلِكَ ددے ترمینځ چه کومه فضاء ده، دا ټول د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی۔ دا ټول مطلبونه صحیح دی۔

وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا: سوال پیدا شو چه اے جبریله ! آیا پټ ترے نشے راتللے ؟ نو جواب کوی چه ستا رب نه هیڅ شے او خبره نهٔ هیریږی۔

ددے یو بل مطلب دا دے چه ستا رب اګرکه ستا نه وحی روستو کړی خو هغه تهٔ نهٔ ئے هیر کړے او نهٔ ئے تهٔ پریخے ئے۔

رَبُّ السَّمَاوَاتِ : ستا رب د آسمانونو او د زمکے رب دے، او ددے ترمینځ چه څومره مخلوقات دی، د هغوی ټولو رب دے، ددے ذات باری تعالیٰ په باره کښې دا څنګه تصور کیدے شی چه غفلت او هیره په هغه باندے راتلے شی۔ پدے وجه اے زما نبی ! تهٔ د هغه عبادت کوه او په ټول ژوند کښې پدے باندے ثابت قدم وسیږه۔ آیا ستا په علم کښې ستا د رب څوك شبیه (مشابه) او مَثیل، او څوك مد مقابل شته چه هغه طرف ته تهٔ التفات او توجه وکړے، دے دپاره چه هغه ستا حاجت پوره کړی؟!

کله چه داسے خبره نهٔ ده نو د هغهٔ نه سویٰ هیڅ چاره نشته چه د هغه مخے ته انسان

تسلیم شي، او سرخکته کړي، او د هغهٔ عبادت وکړے شي، او پدے لاره کښې په راتلونکی هر تکلیف باندے صبر وکړے شي۔

فَاعْبُدْهُ : دا خطاب اول نبي ته دے او بیا هر مؤمن ته۔ او معلومه شوه چه د رحمت د حاصلولو لویه ذریعه د الله تعالیٰ بندګی کول دي۔

وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ : په ټولو ځیزونو کښې ګران شے عبادت دے، یو تن به د دنیا دپاره ډیره سختــه برداشت کوي، ټوله ورځ به په تنګ دکان کښې ناست وي، نهٔ به تنګیږي، ښه پابندي او ډیوټي به ورکوي، لیکن کله چه د عبادت موقعه راشي نو بیا به ورته شل بهانے کوي۔ ددے وجه نه د الله تعالیٰ په عبادت سره د هغه محبت، جنت ملاویږي او د نفس تزکیه پرے زیاته کیږي، ددے وجه نه د بعض سلفو طریقه دا وه چه کله به ئے ځان ته سزا په عبادت سره ورکوله چه ما نه دا فلانے کار یا خبره غلطه شویده، نو زهٔ به دومره رکعاته نفل کوم۔ پدے وجه الله تعالیٰ د (وَاصْطَبِرْ) قید ولګولو چه ځان ډیر صبرناك کړه په بندګئ د الله تعالیٰ۔ او پدے باندے همیشه مضبوط وسیږه، د دنیا ځیزونه دِے د الله تعالیٰ د بندګئ نه غافل نکړي۔

لِعِبَادَتِهِ: لام په معنیٰ د عَلیٰ دے یا لام په خپله معنیٰ دے، یعنی د عبادت دپاره ځان کښې ډیر صبر پیدا کړه۔

هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا : یعنی د الله تعالیٰ بندګی ځکه پکار ده چه د هغه په شان همنامے او هَمْ صفتے څوك نشته چه هغه هم مستحق د عبادت وګرځي۔ یعنی د الله تعالیٰ سره په حقیقي نوم او صفت کښې څوك شریك نشي کیدے چه د الله په شان عالِم او قادر او رحم والا وي۔ عبد الله بن عباس ﷺ فرمائي چه د الله تعالیٰ نه سویٰ هیڅوك رحمٰن نشي کیدے۔ (ابن کثیرؒ)

او که په بعضو صفتونو کښې مشابهت لفظي راشي لکه بنده هم رحیم دے او الله تعالیٰ هم، مګر په حقیقي رحمت کښې دواړه هیڅکله نشي شریك کیدے، د الله تعالیٰ جدا رحمت دے او د بندګانو جدا۔ او سَمي کله شریك ته هم وائي، یعنی آیا تهٔ د الله تعالیٰ سره بل اِلـه او وَلَد پیژنے چه هغه ته هم اِلٰه وویل شي؟! هیڅکله نهٔ۔

وَيَقُولُ الْإِنسَانُ ءَإِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ أُخْرَجُ حَيًّا ﴿٦٦﴾
او وائي انسان آیا کله چه زهٔ مړ شم نو خامخا راویستلے کیږم به ژوندے۔

أَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنْسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ يَكُ
آیا نۀ دی یاد انسان ته چه بیشکه پیدا کړے وو مونږ دے مخکښ ددینه او نۀ وو دے
شَيْئًا ﴿٦٧﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيَاطِينَ
هیڅ شے۔ نو قسم دے په رب ستا خامخا راجمع به کړو دوی لره او شیطانانو لره
ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴿٦٨﴾
بیا به ضرور حاضر کړو دوی لره گیرچاپیره د جهنم نه په زنګنونو پراته۔

تفسیر : پدے آخری رکوع کښ عام تخویفات او اسباب د غضب د الله تعالیٰ ذکر کیږی دے دپاره چه بنده د هغے نه ځان وساتی او د الله تعالیٰ رحمت حاصل کړی۔ او د آخرت منکرینو مشرکانو او جګړه مارو ته او الله تعالیٰ ته د اولادو نسبت کونکو ته رټنے ورکوی۔

پدے آیتونو کښ رټنه ده په انکار د بعث بعد الموت، یعنی د دوباره ژوندی کیدو او د قیامت نه منکر انسان وائی چه آیا زۀ به د مړکیدو نه روستو دوباره ژوندے کولے شم ؟ ! نو دا استفهام انکاری دے۔ یعنی دا هیچرے نشی کیدے۔

او د انسان نه مراد هر کافر او منکر د آخرت دے، بعض مفسرین (ابن جریجؒ) وائی چه دا عاص بن وائل دے۔ او ځینی وائی : اُبی بن خَلَف یا ولید بن المغیره مراد دے چه ددۀ په باره کښ دا آیت نازل شوید ے۔

أَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنْسَانُ : نو الله تعالیٰ ددۀ ددے کفری عقیدے رد کوی فرمائی چه آیا دۀ دا حالت هیر کړیدے چه ما دا هرکله اول ځل پیدا کړو نو ددے نه مخکښ دا موجود نۀ وو۔ نو آیا زۀ ددۀ په دوباره پیدا کولو باندے قادر نۀ یم؟ یعنی چه د عدم (نشتوالی) نه مے موجود کړو نو آیا دا ګنے ډیره آسانه نۀ ده چه د قبر نه ئے راپاڅوی۔

فَوَرَبِّكَ : الله تعالیٰ په خپل ځان باندے قسم کوی چه اے زما نبی ! مونږ به دا ټول منکرین د قیامت او شیطانان د محشر په میدان کښ د جهنم نه ګیر چاپیره راجمع کوو، پداسے حال کښ چه یرے به وهلی وی، ذلیل او خوار په ګوډو باندے به پرمخے وی، او جهنم ته به ګوری، په دوی کښ به د اُودریدو طاقت نۀ وی۔

لکه چه الله تعالیٰ په سورة الجاثیه آیت (۲۸) کښ فرمایلی دی : ﴿ وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً ﴾ (او تۀ به وینے چه هر امت به په ګوډو باندے پریوتے وی)۔

مفسرینو لیکلی دی چه الله تعالیٰ د دوی حشر د خپل ذلیل ترین مخلوق شیطانانو سره د دوی د سپکاوی ښکاره کولو دپاره کوی۔

دارنګه دے ته هم اشاره مقصود ده چه د دوی شرك او کفر د شیطانانو د اتباع نتیجه وه، پدے وجه تابع او متبوع دواړه به جهنم ته راجمع کولے شی۔

جِثِيًّا: دا جمع د جَاثٍ ده د جَثَا عَلٰى رُكْبَتَيْهِ نه دے یعنی په خپلو ګوډو (زنګنانو) به پراتهٔ وی د وجه د سختے یرے نه۔ یا پدے وجه چه دوی به په دنیا کښ خپلو معبودانو ته دغسے پراتهٔ وو۔ یا جِثِيًّا په معنیٰ د جَمَاعَاتٍ (جماعتونو، ډلو) سره دے او په اصل کښ جمع د جُثْوَةٌ ده او جُثْوَةٌ د خاورو او کاڼړو مجموعے ته وائی۔ ابن عباس وائی: جِثِيًّا: اَىْ قُعُوْدًا: یعنی ناست به وی۔ (فتح البیان)

ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ
بیا به خامخا را اوباسو د هرے ډلے نه هر یو د دوی نه چه ډیر سخت وو په رحمٰن باندے
عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ بِالَّذِينَ هُمْ أَوْلٰى بِهَا
په نافرمانئ کښ۔ بیا مونږ ښهٔ پوهه یو په هغه کسانو چه هغوی ډیر لائق وی جهنم ته
صِلِيًّا ﴿٧٠﴾ وَإِنْ مِّنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ
په داخلیدو۔ او نشته ستاسو نه څوك مګر ورتلونکے به وی جهنم ته، دا ده
عَلٰى رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ
په رب ستا باندے ضروری فیصله کړے شوے۔ بیا به بچ کړو هغه کسان
اتَّقَوْا وَّنَذَرُ الظّٰلِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ﴿٧٢﴾
چه تقویٰ ئے کړیده او پریے به دو مونږ ظالمان په هغے کښ په زنګنونو پراتهٔ۔

تفسیر: بیا به ددے تولو ډلو نه الله تعالیٰ هغه خلق راجدا کړی چه په دنیا کښ زیات سرکش او متکبر وو، د خپل نفس د خواهشاتو تابعداری ئے کوله، او احکام الٰهیه ؤ ته ئے څه خاص اعتبار نهٔ ورکولو۔ الله تعالیٰ وائی، مونږ ته ښهٔ معلوم دی چه دوی په جهنم کښ د سوزیدلو زیات حقدار دی، نو دوی به اول جهنم ته ګوزار کړے شی، بیا به نور جهنمیان ګوزار کړے شی۔

مِنْ كُلِّ شِيْعَةٍ: یعنی د هر امت او هرې ډلې او هر دین والا کافرانو نه۔
شیعه هره هغه ډله ده چه د یو دین پسې روانه وی۔ او زمخشری وائی چه شیعه هغه ډلې ته وائی چه د سرکشانو (ګمراهانو) نه د یو سرکش (ګمراه) پسې روانه وی۔ ﴿إِنَّ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا﴾ (الانعام: ۱۵۹)۔ (یقیناً هغه خلك چه دین ئې تس نس کړو او شو دوی ډلې)
أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ عِتِيًّا: جُرْأَةً وَتَمَرُّدًا وَفُجُوْرًا ۔ یعنی په الله کوم یو سخت زړه ور او سرکشه او بدکاره زیات دے۔ او عتیا مخکښې تیر شو تجاوز ته وائی یعنی څوك په الله باندې تجاوز کونکے دے چه دا هر کافر او مشرك دے، او بیا فاسقان مجرمان دی۔
یا أَعْصٰى لِلّٰهِ وَأَعْتٰى۔ یعنی ډیر نافرمان او ډیر سرکشه دے۔ (فتح البیان)
بعض وائی: معنیٰ دا ده: مونږ به راوباسو د هر دین والو نه د هغوی قائدین او مشران په شر کښې۔ (قتادهؒ)
په أَشَدُّ لفظ کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ به ډیر ګناهګاران معاف کوی۔ او که ددے نه مراد صرف کافران واخستے شی، نو بیا معنیٰ دا ده چه د کافرانو نه کوم ډیر سرکشان وی هغه به ترے راجدا کړے شی، او ډلې ډلې به جوړے کړے شی او جهنم ته به په ترتیب سره ګوزار کړے شی۔ نَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الْخِذْلَانِ۔
وَإِنْ مِّنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا: پدے آیت کریمه کښې الله تعالیٰ خپله یوه حتمی فیصله آوروِلې ده چه مومن وی که کافر، د هر یو به ضرور د جهنم سره واسطه راځی، بیا به الله تعالیٰ په خپل فضل او کرم سره تقویٰ والو ته د هغې نه نجات ورکوی، او کومو خلقو چه په دنیا کښې د کفر او استکبار ژوند تیر کړے وی، او لوی لوی ګناهونه ئې کړی وی نو په جهنم کښې به د سخت عذاب تیرولو دپاره پریخودے شی۔
وَإِنْ مِّنْكُمْ: دا جمله په معنیٰ د قسم سره ده، یعنی قسم په الله چه هر انسان به جهنم ته داخلیږی او احادیثو کښې هم دے ته (إِلَّا تَحِلَّةَ الْقَسَمِ) وئیلے شویدے۔

د ورود نه څه مراد دے؟

د تفسیر علماؤ پدے باره کښې اختلاف دے چه په آیت کښې د ((ورود)) نه څه مراد دے؟۔
(۱) یوه رائے دا ده چه نیك او بد ټول به جهنم ته داخلیږی، لیکن نیکانو ته به یخیږی او بیا به ددے نه ویستلے کیږی او کوم خلق چه د جهنم د عذاب مستحق وی، هغوی به پکښې پریخودے شی، او اُور به نۀ مخکښې نه دوی دپاره یخیږی او نۀ پس د راتیریدو د

تقوىٰ والو نه. ددے رائے والو په نيز د ((ورود)) معنىٰ د دخول ده.
او د جابر بن عبد الله ﷺ د هغه حديث نه ئے دليل نيولے دے چه په هغے کښې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چه هر نيك او بد به جهنم ته داخليږي ليکن مؤمن دپاره به اُور يخ کړے شي او په سلامتيا سره به شي. (مسند احمد ١٤٥٦٠) واسناده ضعيف لجهالة ابى سمية).
او ورود په معنىٰ د دخول سره په ډيرو آيتونو کښې راغلے دے لکه ﴿ اَنْتُمْ لَهَا وَارِدُوْنَ﴾ (انبياء : ٩٨) (تاسو به هغے ته ننوتونکي يئ) ﴿ فَاَوْرَدَهُمُ النَّارَ﴾ (هود : ٩٨) (يعنى داخل به ئے کړي اُور ته) ﴿ لَوْ كَانَ هٰؤُلَاءِ آلِهَةً مَا وَرَدُوْهَا﴾ (انبياء : ٩٩) (که دوی چرته معبودان وے نو اُور ته به نهٔ داخليدے) او دارنګه په يو حديث کښې دي :
[لَا يَمُوْتُ لِمُسْلِمٍ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ فَيَلِجُ النَّارَ اِلَّا تَحِلَّةَ الْقَسَمِ] د مسلمان درے بچي نهٔ مره کيږي چه هغه اُور ته داخل شي مګر د قسم پوره کولو په وجه به داخليږي چه هغه (ورود) دے. (بخاري باب الايمان والنذور باب قول الله واقسموا بالله جهد ايمانهم (١١/٥٤١) رقم (١٢٥١) ومسلم فى البر والصلة والآداب رقم (٢٦٣٢) او د سلفو د اقوالو نه هم ددے تائيد کيږي.
سيدنا عبد الله بن رواحه ﷺ وژړل نو ښځه هم ورسره په ژړا شوه، دهٔ ترے تپوس وکړو ولے ژاړے ؟ هغے وويل : ستا د ژړا د وجه نه. نو هغے وويل تا ولے وژړل؟ : نو دهٔ ورته وويل : چه ما ته دا آيت راياد شو چه الله مونږ ته خبر راکړيدے چه تاسو کښې به هريو اُور ته داخليږئ او دا خبر ئے نهٔ دے راکړے چه تاسو به ترے بيرته ووځئ.
(مجمع الزوائد : ١٠٢٢٠) الرحيق المختوم ص : ٣٦١)
او حسن بصريؒ يو تن وليدو چه خندل ئے، نو ورته ئے وويل چه تا له دا خبر راغلے دے چه اُور ته به ځے ؟ هغه وويل : آؤ، آيا تا له دا خبر راغلے چه تهٔ به ترے بيرته وځې؟ نو هغه وويل : نهٔ، نو وے فرمايل : فَفِيْمَ الضِّحْكُ؟. نو بيا دا دومره خندا ولے کوے.
(الطبري : ٢٤٠٤٢) وابن کثير)
او د مؤمنانو اُور ته داخليدل چه کله په هغوی باندے عذاب نهٔ وی د ډيرو حکمتونو دپاره کيږي، يو دا چه پدے سره د دوی خوشحالي زياتيږي کله چه دوی پوهه شي چه دوی د اُور نه خلاصيږي. دويم پدے کښې په کافرانو باندے غم زياتول دي چه کله هغوی مؤمنانويني چه د اُور نه وځي او دوی پکښې باقي پاتے کيږي.
دريم دا چه کله دوی په کافرانو باندے عذاب ويني نو دا به سبب شي د زيات خوند حاصلولو د دوی په نعمتونو د جنت سره.

(۲) دویمه رائے دا ده چه د ((ورود)) نه مراد (مُرور) یعنی تیریدل دی، لکه ﴿ وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ﴾ القصص:۲۳) کښې راغلے دے۔ یعنی مؤمن او کافر، نیك او بد ټول به په هغه پُل صراط باندے ورتیریږی کوم چه په جهنم باندے کیخودے شی، نیکان خلق به د خپلو خپلو اعمالو مطابق تیز یا په آرام سره تیریږی، او څوك چه د جهنم د عذاب مستحق وی په هغے کښې به د الله په حکم سره غورزیږی۔

ددے تائید د سورة الانبياء آیت (۱۰۱) نه کیږی: ﴿إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِنَّا الْحُسْنَىٰ أُولَٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ۝﴾ (بیشکه کومو خلقو دپاره چه زمونږ د طرف نه د مخکښې نه نیکی ثابته شویده، هغوی ټول به د جهنم نه لرے ساتلے شی)۔

او امام احمدؒ، مسلمؒ، ترمذیؒ، حاکمؒ او بیهقیؒ وغیره ددے آیت په تفسیر کښې د ابن مسعود ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ فرمائی: ((ټول خلق به جهنم ته ورځی بیا به د خپلو خپلو اعمالو مطابق د هغے دپاسه تیریږی))۔ الحدیث۔ (مسلم: ۵۰۳)

او دا حدیث د جابر بن عبد الله والا حدیث په مقابله کښې صحیح دے۔ او مسلمؒ د ام مبشرؓ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: ((کوم کسان چه په بدر او حدیبیه کښې شریك شویدی د هغوی نه به هیڅوك جهنم ته نهٔ داخلیږی، حفصے ووئیل، آیا الله نهٔ دی وئیلی: ﴿وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا﴾ (ستاسو نه هر یو به هغے ته ورځی؟)۔ نو نبی ﷺ وفرمایل: آیا تا د هغه دا قول نهٔ دے آوریدلے: ﴿ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا﴾ بیا به مونږ تقویٰ والو ته نجات ورکړو)۔ مگر اول قول ډیر غوره ښکاره کیږی، دلائل ئے ډیر ښکاره دی۔

او د حدیث د ام مبشرؓ مطلب به دا وی چه مؤمنان به هم اُور ته داخلیږی لیکن الله تعالیٰ به ئے په اُور باندے نهٔ سیزی۔

كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا: یعنی دا کار ستا په رب باندے ضروری دے، او الله ئے فیصله کړیده، او پدے کښې د الله تعالیٰ ډیر زیات حکمتونه دی، او دا د انسانانو د یرولو او د هغوی د اصلاح دپاره ډیره ښه لاره ده، چه هر انسان جهنمی دے ځان به د اُور نه خلاصوی په دوه سببونو سره چه هغه ایمان او تقویٰ ده۔

ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا: ادنیٰ تقویٰ دا ده چه د شرك نه بچ شی، دا به هم الله تعالیٰ د اُور د همیشوالی نه بچ کوی په یو وخت د اوقاتو کښې به د اُور نه راوځی۔ او چه اعلیٰ متقی وی نو په اُور به ورتیر شی، او داسے په تیزئ به تیر شی لکه د سترگے د رپ په اندازه او په اُور باندے به ورزوان وی او اُور به نے نهٔ سیزی، او بل یو تن به د هواء په اندازه، او بل به د تیز

اس په اندازه، او بعض به د خپلے منډے په اندازه ورتیریږي۔ لکه دا خبره په صحیح احادیثو کښ ثابته ده۔ صحیح مسلم: (۵۰۳)

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ
او کله چه اُولوستلے شي په دوی باندے آیتونه زمونږ ښکاره، وائي هغه کسان
كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ
چه کافران دي هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړیدے کوم یو د دواړو ډلو نه غوره دے
مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم
په اعتبار د ځائے او ښائسته مجلس والا دے۔ او ډیر هلاك کړیدي مونږ مخکښ د دوی نه
مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا وَرِئْيًا ﴿٧٤﴾
قومونه چه هغوی ډیر ښائسته وو په اعتبار د سامان د کور او په اعتبار د شکل
قُلْ مَن كَانَ فِي الضَّلَالَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ
اُووایه څوك چه وی په گمراهئ کښ نو مهلت به ورکړي هغه ته
الرَّحْمَٰنُ مَدًّا حَتَّىٰ إِذَا رَأَوْا مَا
رحمٰن مهلت ورکول، تردے پورے چه کله اُووینی دوی هغه
يُوعَدُونَ إِمَّا الْعَذَابَ وَإِمَّا السَّاعَةَ فَسَيَعْلَمُونَ
چه دوی سره ئے وعده کیدے شي یا عذاب او یا قیامت نو زردے چه پوهه به شي دوی
مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضْعَفُ جُندًا ﴿٧٥﴾
چه څوك دے هغه ناکاره ځائے والا او ډیر ضعیف لښکر والا۔

تفسیر: د قریشو کافرانو حال بیانیږي چه کله د دوی مخے ته د قرآن هغه آیتونه لوستلے کیږي چه په هغے کښ توحید او رسالت او بعث بعد الموت او حساب او جزا ښکاره بیان شوے وي، او مؤمنانو دپاره د جنت وعدے او د کافرانو دپاره د جهنم وعید ذکر وي، نو دوی د خپل درد پتهولو دپاره وائي چه مونږ په دنیاوی اعتبار سره د محمد (ﷺ) د

تابعدارو نه په ښهٔ حالت كښې يو، زمونږ كورونه ښهٔ دي، زمونږ مجلسونه آباد دي، د خلقو گڼړه لګيدلې ده، ځوك راځي او ځوك ځي، نو دا څنګه كيدې شي چه مونږ دې ګمراه يو او كوم خلق چه په دارِ ارقم كښې پټ شويدي هغه دې هدايت يافته وي؟!

يا د دنياوي ډول او سينګار په وجه خپل ځان حق پرست ګڼړي، او تكبر كښې راځي او دغه خبره كوي. د كاميابۍ او ناكامۍ معيارئې د دنيا مالونه او فقيري او ښه مجلسونه او كمزوري خلك ګرځولي وو.

وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم : نو الله تعالىٰ دوى ته جواب وركړو چه دكوم دنياوي مال او متاع په وجه چه دا خلق په غرور كښې اخته دي، او فخرونه كوي هغه به باقي پاتې نهٔ شي، د دوى نه مخكښې هم ډير قومونه تير شويدي چه د مال او متاع او په ظاهري حسن او ښائست كښې د دوى نه زيات وو، ليكن د دوى د كفر په وجه سره مونږ دوى هلاك كړل.

أَثَٰثًا: ١- د كور سامانونه. ٢- يا ډير مالونه لكه اُوښان، ګډې بزې، غواګانې، غلامان او سامونه. ٣- يا لباسونه او نوې بسترې.

وَرِءۡيًا: يعنى حسن منظر، (ښائسته منظر) يعنى ښائسته شكلونو والا وو لكه عاديان او ثموديان او فرعونيان. او حسن منظر كله په ښائسته لباس سره وي او كله په ښائسته بدن او د هغې په نعمتونو سره وي. (فتح البيان)

جوهريّ وائي: رأيا: مَا رَأَتۡهُ الۡعَيۡنُ مِنۡ حَالٍ حَسَنَةٍ وَكِسۡوَةٍ ظَاهِرَةٍ) هغه شے چه سترګه ئې وينې د ښائسته حالت او ښكاره لباس نه.

قُلۡ مَن كَانَ فِي الضَّلَٰلَةِ: پدې آيت كريمه الله تعالىٰ د كافرانو د مالونو او هغوى ته د زينت وركولو علت ذكر كړيدې چه هغه كافرانو ته مهلت وركول دي. او دا جواب د سوال دې چه په كافرانو به عذاب كله راځي؟ نو دلته الله تعالىٰ د خپل سنت او عادت تذكره كوي چه د الله تعالىٰ طريقه دا ده چه كوم كافران چه په خپل مال متاع او جاه وجلال او غلامانو او خادمانو فخر كوي الله دوى ته رسئ او پرېے سستوى، او دوى په خپل حال باندې پريدى، ترڅو چه د دوى مهلت ختم شي، او د دوى دپاره هيڅ عذر باقي پاتې نشي، نو الله تعالىٰ ئې راونيسي، په دنيا كښې ورته د مؤمنانو په لاسونو عذاب وركړي، يا پرېے بل آفت راولي، او يا په همدې حال كښې دوى ته مرګ راولي، نو بيا د قيامت په ورځ د دوى ځاى جهنم وي، نو دوى ته به دواړو حالتونو كښې معلوميږي چه همدا خلك بد ځاى د اُوسيدو والا او نهايت ذليل او خوار خلك وو. حاصل دا شو چه كافرانو ته الله تعالىٰ ضرور

عـذاب ورکـوی یا بـه په دنیا کښې عذاب ورکړي، او که دنیا کښې نهٔ وی نو آخرت کښې خو خامخا عذاب شته نو دوی دې په خپلو مالونو دهوکه نشي۔

فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمٰنُ : ١- دا جـمـلـه انشائیه ده په معنیٰ د خبریه سره۔ یعنی الله دوی ته مهلت ورکوی۔ او دا ئې په صورت د امر کښې راوړو اشاره ده چه الله تعالیٰ داسې نافرمانو ته ضرور مهلت ورکوی۔ لکه د ﴿ اِنَّمَا نُمْلِیْ لَهُمْ لِیَزْدَادُوْا اِثْمًا﴾ په شان۔

٢- ظاهر دا ده چه دا جـمـلـه دعائیه ده او دا دوی ته ښیرې دی چه رحمٰن ذات دې دوی ته مهلت ورکړي دپاره د استدراج، او دې دپاره چه د دوی ګناهونه زیات شي نو بیا ئې عذاب ته هم سِویٰ شي۔

او د (الرحمٰن) لـفظ ئې راوړو پدې کښې اشاره ده چه دا مهلت ورکول هم د الله تعالیٰ دنیوی رحمت دې په دوی باندې چه دوی ئې سره د ګناهونو نه سمدست راونهٔ نیول، دې دپاره چه دوی تـه موقعه او فرصت ملاؤ شي او ښهٔ سوچ وکړي۔ او پدې کښې دوی ته دا دعوتِ فکر ورکـول دی چـه ستـاسـو د ګمراهئ او کفر سزا دا ده چه الله تعالیٰ تاسو ته مهلت درکوی او پدې خپل کفر او شرك باندې مو باقي پریدی نو سوچ وکړئ او هدایت ته راواپس شئ۔

اِمَّا الْعَذَابَ وَاِمَّا السَّاعَةَ : دا مـانـعـة الخلو ده، جمع والې ئې جائز دې چه دنیا کښې هم الله تعالیٰ عذاب ورکړي او آخرت کښې به ئې هم ورکوی۔

شَرٌّ مَّكَانًا: یعنی څوك دې ناکاره مرتبې والا۔

وَاَضْعَفُ جُنْدًا : دوی خو په دنیا کښې (اَحْسَنُ نَدِیًّا) (ښائسته مجلس والا) ځان ته ویل نو د عـذاب پـه وخـت بـه ورتـه پتـه ولګي چه زمونږ لښکر او نفری خو ډیره ضعیفه وه، او دغه مجلسیانو دوی ته هیڅ فائده ورنکړه۔

وَيَزِيْدُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًى
او زیاتوی الله تعالیٰ هغه کسانو لره چه هدایت ئې موندلې دې نورِ هدایت،
وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ
او باقي پاتې کیدونکی نیك عملونه غوره دی په نیز د رب ستا په بدله کښې او غوره دی
مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾ اَفَرَاَيْتَ الَّذِيْ كَفَرَ
په ځائې د ورګرځیدو کښې۔ آیا تا لیدلې دې هغه څوك چه کفرئې کړیدې

بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾ أَاطَّلَعَ
په آیتونو زمونږ او وائی چه خامخا به راکړے شي ما ته مال او اولاد۔ آیا دا خبر شویدے
الْغَيْبَ أَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾ كَلَّا
په غیبو باندے یا اخستے دے دۀ په نیز د رحمٰن لوظ (د نجات)۔ هیچرے داسے نۀ ده،
سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾
خامخا لیکو مونږ هغه خبرے چه وائی دے او زیات به کړو دۀ لره د عذاب نه زیاتول۔
وَنَرِثُهُ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا ﴿٨٠﴾
او وابه خلو دۀ نه هغه چه دائے وائی او رابه شي مونږ ته یواځے۔

تفسیر : اُوس د مخکنو ضدیانو په مقابله کښې د ایمان والو حال بیانوی۔ یعنی کوم خلق چه هدایت قبول کړی کله چه د دوی مخے ته د قرآن کریم آیتونه تلاوت کیږی نو د دوی ایمان زیاتیږی، او د هدایت په لاره نور هم په تیزئ سره قدمونه اخلی۔

امام بخاریؒ ددے آیت نه استدلال کړیدے چه هدایت دلته په معنیٰ د ایمان سره دے، او پدے کښې زیادت راځی۔ یعنی څوك چه حق او ایمان قبول کړی نو الله تعالیٰ به ئے وخت په وخت هدایت زیاتوی (ولله الحمد) وخت په وخت به ئے ذهن کولاویږی، دوست او دشمن او حق او باطل به جدا جدا پیژنی، او دا د الله تعالیٰ وعده ده او دا په څه وجه ډیریږی ؟ نو ددے وجه نیك اعمال دی چه د هغے په وجه او د هغے په برکت سره د دوی صفائی زیاتیږی نو څکه وړپسے وائی :

وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ : یعنی په نیکو اعمالو سره د انسان په ایمان کښې زیادت راځی۔ او دارنګه پدے کښې د کافرانو په مقابله کښې ایمان والو ته تسلی ورکړے شویده چه د کافرانو دنیاوی مال اومتاع خو بالکل عارضی شے دے، حقیقی متاع خو نیك اعمال دی چه د هغے په بدله کښې به الله تعالیٰ جنت ورکوی۔

خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا : د نیك عمل په دنیا کښې هم بدله شته او په آخرت کښې هم۔

مَرَدًّا: یعنی په اعتبار د واپسئ الله تعالیٰ ته۔ یعنی د مؤمنانو انجام ښه کیدو والا دے، او اے مشرکانو ! په تاسو باندے عذاب راروان دے ولے فخرونه کوئ۔ راشئ هدایت قبول کړئ

او نیك اعمال وکړئ چه الله مو انجام ښهٔ کړی او جنت درکړی۔
أَفَرَأَيْتَ الَّذِيْ: پدے آیت کریمه کښې زجر دے هغه چا ته چه خیر او عزت غواړی بغیر د نیك عمل کولو نه۔ او په سبب د شرك کولو سره د خیر طمع لری۔ حال دا چه دا غلط سوچ دے، د الله تعالیٰ رحمت او خیرونه او ترقی د دنیا او د آخرت خو په ایمان او نیك عمل سره حاصلیږی۔

شان نزول

بخاریؒ او مسلمؒ ددے آیت په شان نزول کښې د خباب بن ألارت رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه ما به د آهنګرئ کار کولو او د العاص بن وائل په ذمه زما قرض وو۔ ما مطالبه وکړه نو هغه ووئیل [وَاللّٰهِ لَا اَقْضِيْكَ حَتّٰی تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ (ﷺ)] چه قسم په الله ! ترڅو پورے چه ته د محمد (ﷺ) د نبوت نه انکار ونکړے نو ستا پیسے به نهٔ درکوم۔ نو ما ووئیل، [وَاللّٰهِ لَا اَكْفُرُ بِمُحَمَّدٍ حَتّٰی تَمُوْتَ ثُمَّ تُبْعَثُ] قسم په الله ! زهٔ تر هغه ورځے پورے د محمد (ﷺ) د نبوت نه انکار نهٔ کوم ترڅو چه ته مړ شے، او بیا دویم ځلی راپورته کړے شے۔ نو هغه ووئیل، (مسخرے ئے شروع کړے چه) زهٔ چه کله مړ شم او دوباره راپورته کړے شم نو ما سره به مال او اولاد وی نو هلته راشه ستا پیسے به ادا کړم۔ (یعنی لږ انتظار راته وکړه ستاسو په ګمان هلته به ئے درکړم) نو هغه وخت کښې دا آیت نازل شو۔ (بخاری فی البیوع باب ۲۹، والاجارة باب ۱۵، والخصومات باب ۱۰ ومسلم فی المنافقین حدیث : ۳٦ وغیره)

او الله وفرمایل : چه آیا دهٔ سره د غیبو خبر دے چه د قیامت په ورځ به ددهٔ سره مال او اولاد وی، یا دهٔ د الله تعالیٰ نه کوم عهد او لوظ اخستے دے ؟! هیچرے نهٔ، داسے هیڅ خبره نشته دے، مونږ ددهٔ غلطه ژبه استعمالول او دروغ بیانول لیکو، او د قیامت په ورځ به ددے په سبب ددهٔ په عذاب کښې زیادت کوو، او د مرګ په ذریعه به ددهٔ نه ټول دنیاوی مال او متاع او اولاد واخلو۔ او دا به د محشر میدان ته یواځے او خالی لاسونه راروان وی، هیڅ به ددهٔ سره نهٔ وی۔

او دا د ټولو مشرکانو طریقه وه چه د قیامت پورے به ئے توقے کولے نو بیا دا آیت عام دے كُلُّ مَنْ يَّطْلُبُ الرَّحْمَةَ وَالْخَيْرَ وَلَا يَعْمَلُ لِذٰلِكَ ۔ هر هغه څوك چه رحمت او خیر طلب کوی او ددے دپاره عمل نکوی۔ او تفسیر قرطبیؒ داسے طریقے سره لګولے دے چه دا د هر مشرك په باره کښې دے، مشرك وائی :[اِنْ قُمْتُ عَلٰی عِبَادَةِ الْاَوْثَانِ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّوَلَدًا لِاَنَّهَا تَشْفَعُ

لِيُ] كـه زهٔ د بتانو (او باباگانو) په عبادت مضبوط پاتے شم نو ما ته به مالونه او اولاد راكړے شي ځكه چه دا به زمونږ دپاره د الله تعالىٰ په دربار كښ سفارش كوى)

أَطَّلَعَ الْغَيْبَ: يعنى آيا دهٔ ته د غيبو خبر راغلے دے چه دے به جنت ته ځى.

أَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا : ١- عَهْدًا بِلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَبِالْعَمَلِ الصَّالِحِ - يعنى يا به دهٔ كلمه د توحيد وئيلى وى او نيك عمل به ئے كړے وى ځكه چه د توحيد او نيك عمل والو سره الله تعالىٰ وعده د جنت كړيده. نو هغه هم په دهٔ كښ نشته نو څنگه د جنت دعوے كوى. ٢- يا دا چه د عهد نه مراد قولى عهد دے چه الله ورسره داسے وعده كړى وى چه تهٔ (اے عاص بن وائل مشركه !) د جنت والو نه شوے. نو درے واړه كارونه درسره نشته، نهٔ علم غيب، نهٔ دِے كلمه وئيلے ده، او نهٔ درسره د الله تعالىٰ د طرفنه څه ثبوت شته، نو څنگه ځان ته نجات والا وائے.

كَلَّا : دا كلمه په قرآن كريم كښ (٣٣) كرته راغلے ده، او ټول په مكى سورتونو كښ ذكر ده، دا ئے اول كرت دے چه پدے سورت كښ راغله، او د سختوالى او د عمل د بد والى دپاره ذكر شويده. ١- دا حرف ردع ده. يعنى د رټلو او منع كولو دپاره راځى.

٢- او كله په معنىٰ د (حَقًّا) سره راځى يعنى يقينى ده دا خبره.

او نضر بن شُميل وائى چه دا حرف تصديق دے په معنىٰ د نَعَم (آؤ) سره. او پدے وخت كښ به ددے نه مخكښ يو شے لفظاً يا تقديرًا ذكر وى، او كله د قسم په ځاى كښ استعماليږى. (فتح البيان)

وَنَرِثُهٗ مَا يَقُوْلُ : يعنى دے چه د كوم مال او اولاد دعوے اُوس كوى نو دا به هم ما ته پاتے شى، دے لا د نورو مالونو او اولادو گمان لرى.

وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللهِ آلِهَةً لِّيَكُوْنُوْا لَهُمْ
او نيولى دى دوى سوىٰ د الله تعالىٰ نور مددگاران دے دپاره چه شى دوى هغوى لره
عِزًّا ﴿٨١﴾ كَلَّا سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُوْنُوْنَ
مددگاران. هيچرے داسے نهٔ ده زردے چه انكار به وكړى د بندگئ د دوى نه او شى به
عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿٨٢﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّا أَرْسَلْنَا الشَّيَاطِيْنَ
په دوى باندے دشمنان. آيا تهٔ نهٔ پوهيږے چه بيشكه مونږ ورخوشے كوو شيطانان

عَلَى الْكَافِرِيْنَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴿٨٣﴾
په کافرانو باندے چه خوتړ کوی دوی لره په خوتړ کولو سره۔ (تیزی ورکوی دوی لره په
فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ إِنَّمَا نَعُدُّ
تیزی ورکولو سره)۔ نو جلتی مهٔ کوه په (عذاب) دوی باندے یقیناً مونږ شمارو (ورځے)
لَهُمْ عَدًّا ﴿٨٤﴾ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ إِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ﴿٨٥﴾
دوی لره په شمارلو۔ او په کومه ورځ چه راجمع به کړو متقیان رحمٰن ته میلمانهٔ۔
وَنَسُوْقُ الْمُجْرِمِيْنَ إِلٰى جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿٨٦﴾ لَا يَمْلِكُوْنَ الشَّفَاعَةَ
او ویه شړو مجرمان جهنم ته تږی۔ اختیار به نهٔ لری د سفارش کولو
إِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿٨٧﴾
مگر هغه څوك چه اخستے ئے دے په نیز د رحمٰن لوظ۔

تفسیر : سوال پیدا شو چه مشرکان به وائی چه مونږ په دنیا کښې د ډیرو بتانو او باباگانو عبادتونه کړیدی هغوی به مو د الله تعالیٰ د عذابونو نه خلاص کړی او هغوی به مونږ ته عزتونه راکړی؟۔ نو الله په هغوی رد کوی او دا گمان ئے باطل گرځوی۔

فرمائی : مشرکانو د الله تعالیٰ نه سویٰ خپل ځان دپاره معبودان نیولی دی دے دپاره چه هغوی د الله په نیز سفارشیان شی او د دوی د عزت سبب جوړ شی، لیکن د قیامت د ورځے معامله به د دوی د خیال او گمان په خلاف وی، هغه دروغجن معبودان به د دوی د عبادت نه انکار کوی، او د دوی دشمنان به جوړ شی، لکه چه الله تعالیٰ په سورة الاحقاف آیت (٦) کښې فرمایلی دی : ﴿ وَإِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوْا لَهُمْ أَعْدَآءً وَّكَانُوْا بِعِبَادَتِهِمْ كَافِرِيْنَ۝ ﴾

(کله چه خلق د محشر میدان ته راجمع شی نو د دوی شریکان به د دوی دشمنان شی او د دوی د عبادت نه به انکار وکړی)۔

عِزًّا: اَیْ أَعْوَانًا (الهرویّ) وَشُفَعَاءَ (الفراءؔ) ۔ دے دپاره چه دا معبودان دوی لره مددگاران او سفارشیان شی، او د هغوی په وجه عزت حاصل کړی په دنیا کښې یا په آخرت کښې۔

كَلَّا : اَیْ لَا يَكُوْنُوْنَ لَهُمْ عِزًّا۔ یعنی د دوی دپاره مددگاران نشی جوړیدے۔

أَلَمْ تَرَ أَنَّا أَرْسَلْنَا الشَّيَاطِيْنَ: اُوس د مشرکانو د فساد وجه بیانوی چه مشرکان ولے

داسې ګډې وډې وائي؟ نو وجه دا ده چه په دوی باندې شیطانان مقرر شویدی۔ نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی چه آیا ته نهٔ ګورې، دا خبره خو ډیره ښکاره ده چه مونږ پیریان او د انسانانو شیطانان په کافرانو باندې مسلط کړیدی چه دوی د شهوتونو په غلامئ او د جرمونو او ګناهونو په کولو په سختئ سره راپاروی، پدې وجه خو دا خلق شر او فساد طرف ته په تیزئ سره ورمنډې وهی، لیکن ته ددې خبرې جلتی مهٔ کوه چه دوی په جلتئ سره هلاك کړې شی دې دپاره چه زمکه د دوی نه پاکه شی، مونږ د دوی اعمال څهٔ چه د دوی ساه ګانې هم شمارو، او کله چه مقرر وخت راشی نو د دوی د اعمالو بدله به دوی ته ورکوو۔

اَرْسَلْنَا: دا ارسال کَوْنِیُ (تقدیری) دې یعنی الله په تقدیر کښې داسې لیکلی دی چه شیطانان به په کافرانو مقرر وی۔

۱ – زجاج ددې یوه معنیٰ کوی: خَلَّيْنَا بَيْنَ الْكَافِرِيْنَ وَبَيْنَ الشَّيَاطِيْنِ فَلَمْ نَعْصِمْهُمْ مِنْهُمْ وَلَمْ نُعِذْهُمْ۔ یعنی مونږ کافران او شیطانان خپل مینځ کښې پریخی دی چه مونږ کافران د شیطانانو نه نهٔ ساتو او نهٔ ورته د دوی نه پناه ورکوو، په خلاف د مؤمنانو نه چه د هغوی په باره کښې الله فرمائیلی دی: ﴿اِنَّ عِبَادِيْ لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ﴾ (الحجر: ٤٢) یقیناً زما بندګان چه دی نشته ستا دپاره په هغوی باندې هیڅ غلبه او قدرت د ګمراه کولو)۔

۲ – دویمه معنیٰ دا ده: اِنَّهُمْ اُرْسِلُوْا عَلَيْهِمْ وَقُيِّضُوْا لَهُمْ بِكُفْرِهِمْ)

یعنی شیطانان په کافرانو باندې رالیږلې شوی او مقرر شویدی په سبب د کفر د دوی لکه الله فرمائی: ﴿وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطَانًا﴾ (الزخرف: ٣٦)

(او څوك چه د رحمٰن د ذکر نه ړوند شو، مونږه هغه لره شیطان مقرر کړو)

نو د ارسال معنیٰ ده مسلط کول۔ او دا داسې دې لکه ﴿وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ﴾ (الاسراء: ٦٤)

(او وخویوه هغه څوك چه ستا وس پرې بر شی د دوی نه په آواز خپل سره) (فتح البیان)

تَؤُزُّهُمْ اَزًّا: اَزٌّ او اَزِيْزٌ او هَزٌّ او هَزِيْزٌ او اِسْتِفْزَازٌ ټول په یوه معنیٰ دی یعنی خوزول، راپورته کول او مجبوره کول او تنګول۔ اَيْ تَحُثُّهُمْ وَتُحَرِّضُهُمْ عَلَى الْمَعَاصِيْ)

یعنی شیطانان کافرانو لره خوزوی او دوی په ګناهونو باندې راپورته کوی، او تیزی ورکوی پدې طریقه چه هغه ورته ښائسته ښکاره کوی، او شهوات ورته محبوب ګرځوی، او همدا په دوی باندې د شیطانانو تسلط دې۔

او پدې کښې اشاره ده چه کافران د حق په مقابله کښې کله چه رسول الله ﷺ او د حق داعي د توحید او د سنت خبره کوي نو دوی سخت غصه کوي او جګړو ته ئې راپورته کوي او په خپل باطل باندې ئې مضبوطوي، د خپلو باباګانو په عبادت ئې نور هم کلك کړي لکه دا تجربه ده چه د داعي په مقابله کښې دا خلك ډیر په جوش کښې راځي۔

فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ: سوال پیدا شو چه هرکله مشرکان دومره فسادونه کوي او د شیطانانو ملګري دي نو بیا الله تعالیٰ دوی لره ولې نهٔ هلاکوي؟ نو الله فرمائي: د دوی په هلاکولو باندې جلتي مهٔ کوه، او د هلاکولو دعاء ورله مهٔ غواړه، د دوی وخت رانزدې دې،

إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا: (اَیْ نَعُدُّ لَهُمُ الْاَیَّامَ وَالْاَنْفَاسَ) مونږ د دوی ورځې (عمرونه) هم شمارو او د دوی ساه ګانې هم شمارو، چه د ورځې څلیریشت زره کرته ساه اخلي، نو هرکله چه د دوی ورځې او ساه اخستل دومره معدود او محصور دي نو دا خو ډیر زر ختمیدونکې دي نو په دوی باندې ډیر زر عذاب راتلونکې دې۔ مامون بادشاه ته یو عالِم (ابن السماکؒ) نصیحت کولو کښې وفرمایل: [إِذَا كَانَتِ الْاَنْفَاسُ بِالْعَدَدِ وَلَمْ يَكُنْ لَهَا مَدَدٌ فَمَا اَسْرَعَ مَا تَنْفَدُ] کله چه ساه ګانې په شمار وي او ددې مدد نهٔ وي نو دا به څومره زر ختمیږي۔

تفسیر القرطبی (۱۱/۱۵۰)(مفتاح الافکار للتأهب لدار القرار لابی محمد عبد العزیز السلمان متوفی ۱۴۲۲ هـ) رقم: (۳۷۸)

او ددې سره دا هم مراد دې چه د دوی عملونه هم شمارم، حساب به ورسره کوم۔ (قرطبیؒ) لیکن اوله معنیٰ د مخکښې سره زیاته مناسبه ده۔

يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ: پدې آیت کښې بشارت او تخویف دواړه جمع دي۔ او دا (يَوْمَ) متعلق دې د (سَيَكْفُرُوْنَ) پورې۔ د قیامت په ورځ به تقویٰ والا خلق الله تعالیٰ ته د وفد اومیلمنو په شکل راځي۔

په عربي ژبه کښې د ((وفد)) معنیٰ بادشاهانو او د قوم مشرانو ته د انعاماتو او بدلې حاصلولو دپاره راتلل وي۔ ګویا که پدې آیت کریمه کښې اشاره ده چه د الله سبحانه وتعالیٰ دربار ته به تقویٰ والا بندګان معزز او مکرم راځي۔ د هغه د طرف نه به انعامات او بدلې مومي، او په ښائسته او مزیدارو اُوښانو به سوارهٔ وي، او د جنت دروازو ته به روان وي۔ او کوم خلق چه مجرمان وي نو هغوی به د انتهائي ذلت نه ډك د حیواناتو په شان تږي جهنم طرف ته راخکلې شي۔

امام بخاريؒ او مسلمؒ د ابو هریره ﷺ نه روایت راوړیدې چه رسول الله ﷺ وفرمایل: ((د

قیامت په ورځ بـه خلك په درې طریقو راجمع کړې شی، راغبین (مینه کونکی) راهبین (یره کـونـکی)، دوه کسان به په یو اُوښ وی، او درې کسان به په یو اُوښ، او څلور کسان په یو اُوښ، او لس کسان به په یو اُوښ وی او باقی کسانو لره به اُور راجمع کوی (چه دوی سره به هر وخت وی) کـوم ځای چـه دوی قیلوله کوی هلته به ورسره اُور وی او کوم ځای چه شپـه تیروی اُور بـه ورسره وی، او کوم ځای چه صبا کوی نو اُور به ورسره وی. او کوم ځای چه بیګاه کوی اُور به ورسره وی. (بخاری فی الرقاق باب ٤٥، ومسلم فی الجنة حدیث : ٥٩)

یا دا چه کله د قبرونو نه راوځی نو سمدست به په سورلو باندې سوارهٔ شی او همدا ظاهر د آیت دې. او بـعـض وائی چـه کـلـه د قیـامـت د میدان (موقف) نه واپس شی نو دوی به سوارهٔ وی تردې چه د جنت دروازه به تك تك کړی. (فتح البیان)

وِرْدًا: اَیْ مُشَاةً/ عِطَاشًا. پیاده/ یا تږی. اول قول د فراءؒ او ابن الاعرابیؒ دې.

او دویـم قـول د ابـن عبـاسؓ او ابو هریرهؓ او اخفشؒ دې. او از هریؒ وائی: دا پیاده تږی ته وائی لکه اُوښان چه اُوبو ته راځی. یعنی په یو ځای دواړه معانی مراد دی.

لَا یَـمْلِکُوْنَ الشَّفَاعَةَ: د لایمـلـکـون معنیٰ ده : (لا یستطیعون) یعنی طاقت به نهٔ لری ځکه چه ملك په عربی ژبه کښې په معنیٰ د قدرت او استطاعت باندې راځی. (ابن عاشور)

ابـن عـاشـورؒ وائـی : په لا یملکون کښې ضمیر مخکښې آلهه ؤ ته راجع دې، او معنیٰ دا ده چـه دا مـعـبـودان به دا طاقت نهٔ لری چه دوی خپلو عابدانو ته فائده ورکړی او دوی د عذاب نه خلاص کړی.

❁ یا ضمیر راجع دې دواړو ډلو ته ❁ یا صرف مجرمانو ته راجع دې. او مطلب دا دې (لَا یَمْلِکُوْنَ اَنْ یَّشْفَعُوْا لِغَیْرِهِمْ) چـه دوی بـه اختیار نهٔ لری چه د بل دپاره سفارش وکړی یا : (لَا یَـمْـلِكُ غَیْـرُهُمْ اَنْ یَّشْفَعَ لَهُمْ) بـل څـوك بـه دا اخـتیـار نـهٔ لری چـه دوی لـره سفارش وکړی صاحب د فتح البیان اول مطلب غوره ته غوره وښیلې دې.

اِلَّا مَـنِ اتَّـخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا :دې کـښې دوه تفسیره دی (١) اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ استثناء مـنـقـطـع ده یـعـنی مجرمان (کفار) به د شفاعت اختیار نهٔ لری، یعنی دا اختیار به ئې نهٔ وی چـه دوی د ځـان دپـاره شـفاعت طلب کړی، یا د دوی دپاره سفارش وکړې شی. (خپـل باطل معبودان به ترې ورك شی، د سفارش به ئې هم څوك نهٔ وی)

نـو سـوال پیـدا شـو چـه پـه آخـرت کښې به بیخی شفاعت نهٔ وی نو فرمائی چه ﴿اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا﴾ اَیْ فَیُشْفَعُ لَهٗ وَیَشْفَعُ لِغَیْرِهٖ) لیـکن هغه څوك چه د رحمن ذات سره

ئې لوظ په توحید نیولې وی نو هغه دپاره به سفارش کیدې شی۔ او هغه به د نورو گناهګارو مؤمنانو دپاره سفارش کولې شی چه هغه سفارش کونکی مؤمنان او انبیاء او ملائك علیهم السلام دی۔

حافظ ابن کثیرؒ وائی : نو د مجرمانو (یعنی کفارو او مشرکانو) اختیار نشته چه دوی له څوك سفارش وکړی او چا ته ووائی چه مونږ له سفارش وکړئ، او موحدین به اختیار لری چه انبیاء علیهم السلام او نورو نیکانو مؤمنانو ته ووائی چه مونږ له سفارش وکړئ ځکه چه دوی سره د الله توحید موجود دې مګر په نورو جرمونو کښې راګیر دی۔ نو دا د مخکښې آیت سره متعلق شو (ابن کثیرؒ)

(۲) یا استثناء متصل ده او په لَا يَمۡلِكُوۡنَ کښې ضمیر ټولو خلکو (مؤمنانو او کافرانو) ته راجع دې، یعنی هیڅوك به د هیچا دپاره اختیار د شفاعت نۀ لری چه د چا دپاره سفارش وکړی، (اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ) دا استثناء د شفیع ده۔ یعنی (مګر هغه شفیع (سفارش کونکې) به اختیار لری چه هغه کښې توحید او تقوىٰ وی نو هغه به د بل دپاره سفارش کولې شی) لکه انبیاء علیهم السلام به سفارش کوی، شهداء، علماء، حجاج او نور متقیان به د ګناهګارو دپاره سفارش کوی۔

د هر چا د تقوىٰ مطابق به څوك د یو تن سفارش کوی، او څوك د دوو، او څوك د لسو، او څوك د ډیرو۔

او په حدیث کښې دی چه زما په امت کښې به داسې خلك هم وی چه د یوې لوی قبیلې سفارش به کوی۔ او دا دویم تفسیر غوره دې۔ (فتح البیان)

بغویؒ داسې تعبیر کوی : لَايَمۡلِكُ الشَّافِعُوۡنَ اِلَّا لِمَنِ اتَّخَذَ عِنۡدَ الرَّحۡمٰنِ عَهۡدًا يَعۡنِيۡ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ) ۔ یعنی په قیامت کښې به هیڅوك سفارشیان نۀ وی مګر چا چه کلمه د توحید وئیلی وی او مؤمن وی نو هغه دپاره به سفارش کولې شی نو دا داسې دې لکه ﴿وَلَايَشۡفَعُوۡنَ اِلَّا لِمَنِ ارۡتَضٰى﴾ (انبیاء : ۲۸) په شان یعنی دوی به سفارش نۀ کوی نو مګر د هغه چا دپاره چه الله تعالىٰ ته خوښ وی چه هغه مؤمنان دی۔ نو پدې وخت کښې (مَنۡ) په محل د جر کښې وی۔

ابن عطیهؒ داسې تعبیر کوی : اَیۡ لَايَمۡلِكُ الۡمُجۡرِمُوۡنَ الشَّفَاعَةَ اِلَّا الۡعُصَاةُ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ فَاِنَّهُمۡ يُشَفَّعُ فِيۡهِمۡ) یعنی ټول مجرمان به د سفارش اختیار نۀ لری کفار وی که ګناهګار مؤمنان مګر ګناهګار مؤمنان به ئې لری چه د هغوی په حق کښې به سفارش کیدې شی۔ او پدې

وخت کښې به (مَنْ) په محل دِ رفع کښې وي۔

اتَّخَذَ عِندَ الرَّحْمٰنِ عَهْداً : ددې بـله معنیٰ دا ده چه الله ورته حکم وکړی چه تهٔ سفارش وکړه۔ ځکه چه عهد کله په معنیٰ د حکم سره استعمالیږی۔

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ﴿۸۸﴾ لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا إِدًّا ﴿۸۹﴾
او وائی دوی نیولے دے رحمٰن ځان لره بچے۔ یقیناً راتلل اُوکړو تاسو یوے خبرے درنے ته۔
تَكَادُ السَّمٰوَاتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ
(یو شی ناکاره ته) نزدے ده چه آسمانونه اُوچوی ددے وجه نه او اُوشلیږی زمکه
وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿۹۰﴾ أَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ
او راپریوزی غرونه توټے توټے (دړے وړے)۔ ددے وجه نه چه رابللی دوی رحمٰن ذات لره
وَلَدًا ﴿۹۱﴾ وَمَا يَنْبَغِي لِلرَّحْمٰنِ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا ﴿۹۲﴾ إِنْ كُلُّ مَنْ
اولاد۔ او نهٔ دی مناسب رحمٰن لره چه اُونیسی (ځان له) اولاد۔ نهٔ دی ټول هغه څوك
فِي السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ إِلَّا آتِي الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴿۹۳﴾
چه په آسمانونو او زمکه کښې دی مګر راځی به رحمٰن ته په بندګئ سره (په
لَقَدْ أَحْصَاهُمْ وَعَدَّهُمْ
تابعدارئ)۔ یقیناً الله راګیر کړیدی دوی (په علم او قدرت کښې) او شمارلی ئے دی
عَدًّا ﴿۹۴﴾ وَكُلُّهُمْ آتِيهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَرْدًا ﴿۹۵﴾
په شمارلو سره۔ او دا ټول به راځی الله ته په ورځ د قیامت یواځے۔

تفسیر : پـدے آیتِ کـریـمه کښې د یهودو او نصاراؤ او د بعض عربو قبیلو رد شویدے او هـغـوی تـه زجـر دے کـومـو خلقو چه د الله دپاره اولاد ثابتولو۔ یهودو عزیر علیه السلام او نصاراؤ عیسیٰ علیه السلام د الله ځوی او عربو به ملائك د الله لونړه ګنړلے۔

الله تـعـالـیٰ دوی مـخاطب کـړل ورتـه ئے وفرمایل چه تاسو یوه بدترینه ګناه کړیده چه د الله دپاره مـو اولاد ثـابـت کـړیدی، حقیقت دا دے چه الله تعالیٰ ته د اولادو نسبت کول داسے بده خبـره ده چـه د الله تـعـالـیٰ د مرتبے دپاره د سخت غیرت په سبب نزدے ده چه آسمان وچوی،

په زمکه کښې چاودونه راشي او غرونه ذره ذره شي، ځکه چه دا خبره په هيڅ شان مناسبه نۀ ده چه د الله تعالىٰ دپاره اولاد راشي، هغه خو د تمامو مخلوقاتو خالق او مُوجد دے، اولاد خو مخلوق وي۔

شَيْئًا إِدًّا : اَیْ عَظِیْمًا۔ یعنی لوی شے۔ /یا منکر شے۔ /یا ناشنا شے۔ اِدَّةٌ شدت (سختئ) ته وائي۔

هَدًّا: ذره ذره۔ مقصد دا چه که تاسو الله تعالىٰ ته د اولادو نسبت کوئ نو نزدے ده چه دا زمکه درباندے وچوم او غرونه درباندے درگوزار کړم۔

أَنْ دَعَوْا : دے کښې لام مقدر دے اَیْ لِاَنْ دَعَوْا : پدے وجه چه دوی نسبت کوی رحمٰن ذات ته د اولادو۔ یا دَعَوْا په معنیٰ د رابللو سره دے، او لِلرَّحْمٰنِ کښې لام په معنیٰ د مَعَ دے۔ یعنی د رحمٰن ذات سره بل چا ته رامدد شه وائي۔ اول قول غوره دے۔

بار بار د رحمن لفظ ذکر کولو کښې اشاره ده چه اے بندګانو ! پدے غلطو خبرو باندے د الله د رحمت نه ځان محروم نکړئ۔

وَمَا يَنْبَغِيْ لِلرَّحْمٰنِ أَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا: د الله تعالىٰ دپاره د اولادو کیدل د عقل خلاف دی، هغه خو د خپلو مخلوقاتو نه بی حاجته دے، اولاد خو د مخلوق وی چه خپل ځان له په دنیاوي ژوند کښې د یار او مددګار محتاج وی۔

إِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ: او کله چه قیامت شی نو په آسمان او زمکه کښې چه کوم حیوانات، ټول انسانان او پیریان او ملائك دی هغوی به د خپلے بندګانئ اظهار کوی او په نهایت خشوع او خضوع سره به د هغۀ په حضور کښې ولاړ وی۔

عَبْدًا: دلته د عبادت نه مراد عبادت ګوُنیُ دے یعنی غلامی او الله ته عاجز کیدل۔

لَقَدْ أَحْصَاهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا: یعنی په آسمانونو او زمکه کښې چه څومره مخلوقات موجود دی، دا ټول الله تعالىٰ په خپل علم او قدرت کښې راګیر کړیدی او یو یو ئے شمارلے دے، که په دوی کښې څوك معبود وے، یا د الله څوی وے نو هغه به یقیناً ددے نه خبر وے۔ او د قیامت په ورځ به ددے مخلوقاتو نه یو یو فرد د الله تعالىٰ حضور ته یواځے راروان وی۔ د دوی به نۀ کوم یار او مددګار وی او نۀ به څوك سفارشی۔

آتِيهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَرْدًا : پدے کښې په هغه کافرانو رد شویدے چه د خپل استکبار او تکبر په وجه به ئے وئیل چه که بالفرض قیامت راشي نو په هغه ورځ به هم زمونږ سره د غریبانو او بدحالو مسلمانانو نه زیات مال او اولاد وی۔ الله فرمائي : ما ته به یواځے راځئ،

مال او اولاد به درسره نهٔ وی۔

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ
یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه ئے کړیدی نیك
سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا ﴿٩٦﴾
زردے چه وبه گرځوی دوی لره رحمٰن مینه (په زړونو د خلقو کښ)۔
فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ
نو یقیناً آسان کړیدے مونږ دا قرآن په ژبه ستا دے دپاره چه تهٔ زیرے ورکړے په دے سره
الْمُتَّقِينَ وَتُنْذِرَ بِهِ قَوْمًا لُّدًّا ﴿٩٧﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا
متقیانو ته او یره ورکړے پدے سره قوم جګړه مارته۔ او ډیر هلاك کړیدی مونږ
قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُمْ مِّنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿٩٨﴾
د دوی نه مخکښ قومونه (پیړئ) آیا وینے تهٔ د دوی نه یو تن یا اَورے تهٔ دوی لره کشارے۔

تفسیر: د کفارو حال بیان شو او د هغوی دپاره عذابونه، نو مؤمنان ویریدل نو الله تعالیٰ د مؤمنانو حال بیانوی او زیرے ورکوی چه کوم خلق په الله تعالیٰ او د هغهٔ په رسول باندے ایمان راوړی او نیك عمل کوی، الله تعالیٰ به د دوی محبت د خپلو بندګانو په زړونو کښ کینوی۔

وُدًّا: ❁ اَیْ یُحِبُّهُمُ اللّٰهُ وَیُحَبِّبُهُمْ اِلَی النَّاسِ۔ (ابن عباسؓ ومجاهدؒ– الطبریؒ وابن کثیرؒ)

دوی سره به الله تعالیٰ هم محبت کوی او دوی به تولو خلکو ته محبوب کړی۔

امام هرم بن حیانؒ وئیلی دی: [مَا اَقْبَلَ عَبْدٌ بِقَلْبِهٖ اِلَی اللّٰهِ اِلَّا اَقْبَلَ اللّٰهُ قُلُوْبَ الْخَلَائِقِ اِلَیْهِ]

یو بنده چه په خپل زړهٔ سره الله ته متوجه شی نو خامخا به الله تعالیٰ د تمام مخلوق زړونه دهٔ طرفته راواړوی۔ (تهٔ د الله شه تول مخلوق به ستا شی تردے چه کافران به هم درسره مینه کوی، او زمکه او غرونه او تول څیزونه به درسره مینه کوی)۔

(اغاثة اللهفان لابن القیم ص (١٥٤)

بخاریؒ او مسلمؒ او نورو محدثینو د ابو هریره ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ فرمائی: ((الله تعالیٰ چه کله د یو بنده سره محبت کوی نو جبریل ته وائی چه زهٔ د فلانی

سره محبت كوم، تهٔ هم ددهٔ سره محبت كوه، نو جبريل د هغه سره محبت كوى، بيا په آسمان كښې اعلان كوى چه الله د فلانى سره محبت كوى، تاسو ټول هم د هغه سره محبت وكړئ، نو آسمان والا د هغه سره محبت شروع كړى، بيا د زمكے والو په زړونو كښې د هغه محبت وا چولے شى»۔ الحديث۔ (صحيح بخاري (٧٤٨٥) ومسلم (٦٨٧٣)

❁ دے كښې تاويلى معنىٰ دا ده چه وُد نه مراد (مَوْضِعُ الْوُدِّ (يعنى د محبت ځاى) دے چه هغه جنت دے۔

❁ صاحب د «محاسن التنزيل» د مفسر ابو مسلم نه نقل كړيدى چه د نيكانو بندګانو سره د الله تعالىٰ ددے وعدے تعلق د قيامت د ورځے سره دے، [اَىْ يَهَبُ لَهُمْ مَا يُحِبُّوْنَ]

يعنى په جنت كښې به الله تعالىٰ خپلو نيكانو بندګانو ته د دوى محبوب شے وركوى، يا په قيامت كښې به كله چه د دوى نيكيانے د ټولو خلكو مخامخ راپيش كړے شى نو د ټولو خلكو به ورسره مينه پيدا شى۔

او ددے توجيه ئے دا بيان كړيده چه په دنيا كښې خو نيك سړے د كافرانو او ډيرو مسلمانانو په نظر كښې مبغوض وى، دارنګه دنياوى محبت خو ډير كرته كفارو او فاسقانو ته زيات حاصل وى۔ نو غوره دا ده چه دلته اُخروى منافع ذكر كيږى۔ انتهىٰ۔

يا مطلب دا دے چه د عامو مؤمنانو به ورسره محبت پيدا شى۔

او ځينى مفسرين دا هم ذكر كړيدى چه عبد الرحمن بن عوف ﷺ چه كله هجرت وكړو نو په مكه كښې د بعض ملګرو (شيبه بن ربيعه، عتبه بن ربيعه او اميه بن خلف) په فِراق (جدائى) باندے خفه شو نو الله تعالىٰ دا آيت د هغه د تسلىٔ دپاره نازل كړو۔

(الدر المنثور والقرطبى)

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ: پدے آيت كښې قرآن كريم ته ترغيب دے دپاره د حاصلولو د محبت۔ او دا متعلق دے د ابتداء د سورت سره۔ صاحب د «كشاف» ليكلى دى چه د سورت په آخر كښې الله تعالىٰ ګويا كه داسے وئيلى دى چه اے زما نبى (عليه السلام)! تهٔ دا قرآن خلقو ته اُورسوه، يا دوى ته د قرآن آيتونه واوره، او د جنت زيرے وركړه او د جهنم نه ئے ويروه، ځكه چه مونږ دا ستا په ژبه نازل كړے او ددے قراءت او ددے تفهيم او توضيح مو آسان كړيدے، دے دپاره چه د الله د عذاب نه يريدونكو ته تهٔ د جنت زيرے وركړے او د قريش كافران چه كوم خراب جګړه مار دى، د اُور د عذاب نه ئے ويروے۔

بِلِسَانِكَ: ١- ددے نه مراد جارحه (ژبه) ده۔

۲- یا ددے نه مراد لغتِ عربیه دے چه دا مزیداره آسانه ژبه ده چه قرآن پکښ مزه کوی۔

لُدًّا: ۱- جمع د اَلَدُّ ده په معنیٰ د سخت جګړه مار سره۔

۲- ابو عبیدهؒ وائی : اَلْاَلَدُّ الَّذِیْ لَا یَقْبَلُ الْحَقَّ وَیَدَّعِی الْبَاطِلَ۔

الد هغه شخص دے چه حق نهٔ قبلوی او د باطل دعوے لری۔

۳- ابن عباسؓ وائی : لُدًّا نه مراد فجار (بد کاره او نافرمان) دی۔

٤- هغه خلك چه په لهو او لعب کښ مصروف وی۔ (ابن کثیرؒ) او دا ټول احوال د مشرکانو وو۔

وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ: پدے آخری آیت کښ د دنیا تخویف دے۔

الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی او پدے سره قریشو کافرانو ته نصیحت کوی چه مونږ د دوی نه مخکښ ډیر قومونه هلاك کړی چه هغوی به زما رسولان دروغجن کول، او زمونږ د دعوت خلاف به ئے سازشونه کول، اُوس د هغوی وجود باقی نهٔ دے، د هغوی نام ونشان داسے ختم شو چه هغوی هیر تیر شو۔ عادیان څومره لوی لوی وو چه د لرے نه به ښکاره کیدل، د ثمودیانو او فرعونیانو لښکرے څه شوے۔ نو ستا قوم د هغه خلقو د انجام نه عبرت ولے نهٔ حاصلوی او د الله تعالیٰ په دربار کښ د شرك او ګناهونو نه توبه ویستلو سره ولے ایمان نهٔ راوړی؟!۔ او که دوی هلاك شی نو دومره پرواه ئے مهٔ ساته۔ (فتح البیان)

هَلْ تُحِسُّ مِنْهُمْ مِّنْ اَحَدٍ: آیا تهٔ په حواسو سره د دوی یو تن معلومولے شے۔

رِكْزًا: (کشارے)۔ دا په اصل کښ (اَلصَّوْتُ الْخَفِیُّ) ته وئیلے شی یعنی پټ آواز۔ مطلب دا چه هرکله چه هغوی ته زمونږ عذاب راغلو نو هیڅ یو شخص ئے پاتے نشو چه ولیدلے شی، او نهٔ یو آواز وو چه واوریدے شی یعنی ټول په ټوله هلاك شو۔

امتیازات او خصوصیات د سورت

۱- اسباب د رحمت او اسباب د غضب ذکر شویدی۔ د شپیتو نه زیات عملونه د رحمة ذکر شویدی۔

۲- پدے کښ د پُل صراط تذکره خصوصی راغلے ده۔

۳- دا خبر ورکول چه انسانان به ټول اُور ته داخلیږی۔

٤- لفظ د كَلَّا اول پدے سورت کښې شروع شویدے۔
٥- او په شدید الفاظو باندے د اتخاذ الولد رد شویدے۔
٦- شپاړس کرته لفظ د رحمٰن او څلور کرته رحمة لفظ ذکر دے۔
٧- ډیر نرم او خوږو الفاظو والا سورت دے۔

ختم شو د الله په حمد او کرم او احسان او ښکلي توفيق سره اووم جلد
د تفسير **حكمة القرآن** او دے نه روستو به اتم جلد د سورتِ طه اول نه شروع وی۔
وسبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك
وصلى الله على نبينا محمد وعلى آله وصحبه اجمعين۔
رجب المرجب ١/1436 هـ الموافق :2015 -4-19 ليلة الاثنين (پیر)۔ بجه : 11:30

ختمه شوه تصحيح ۹اکتوبر د اتوار شپه د اسلامی کال آخری شپه د ذی الحجے۔
وکتبه ابوزهير سيف الله۔

اخراج الكتاب يوم الزلزال الشديد محرم ١٢/١٤٣٧ موافق 2015 /10 /26

فهرست تفسیر حکمة القرآن جلد (۷)

دفتر تمام گشت و بپایان رسید عمر   ما ہمچنان در اول وصف تو ماندہ ایم